## کابل پوهنتون

## د ژبو او ادبیاتو پوهنځی

## پښتو څانګه

# رحمان بابا متصوف شاعر و که د ټولنیزو افکارو خاوند؟

«د دکتورا ډیزرټېشن»

څېړونکی : پوهاند احمدشاه زغم

لارښــود : پوهندوی دکتور زرغونه رښتین زېور

او سرڅېړونکی دکتور سیدمحی‌الدین هاشمي

کال : ۱۴۰۰لمریز

بِسْــمِ اللهِ الرَّحْــمٰنِ الرَّحِــيْمِ

# لومړی خبرې

الهي دخپل حبيب له برکته

داساده انشأ رنګينه درحمن کړې

۱۳۹۹ هـ، ل کال (        ) میاشت وه، چې دلوړوزده کړو وزارت اوکابل پوهنتون له خوا دغه علمي آوازه خوره شوه، چې دکابل پوهنتون په څو پوهنځیو د هغو له جملې دژبو اوادبیاتو پوهنځی (پښتو اودري) څانګوکې باید (دګران هیواد په دننه کې) ددوکتورا دتدریس چارې پیل شي اودغه تدریسې اوعلمي کارونوته باید ددې پوهنتون اوعلوماکاډمۍ لوړرتبه استادان اوږه ورکړي؛ دوخت له تېریدوسره سم ددوکتورا پیل کېدوله پاره علمي تنده زیاتېدله اودغه علمي بهير زوراخيسته اوداالله ج په فضل ددغه علمي کارپه عملي بڼه پيل شو.

په حقه ویلای شم ددغه علمي بهیر دپیل کېدواصلي باني اولومړنی بنسټ ایښودونکی دپښتوژبې اوادب پیاوړی څېړونکی دعلوماکاډمۍ فعال غړی اوځلاند ستوری استادسرمحقق زلمی هیوادمل و،

نه یوازې ددغه علمي انقلاب طراح، باني اوفکرکوونکی پاتې شو، بلکې په علمي ډول یې په ـــــــــ کال دوخت له درانه علم پالونکی جمهور ریس جلالتماب حامدکرزی څخه دپېلیدو امرهم راواخیست اودچاخبره دغه علمي ویاړېې دلوړوزده کړو وزارت، کابل پوهنتون، دژبو اوادبیاتو پوهنځی پښتو اودري څانګودعلمي لوړتیاوو، ویاړونواوکامیابیوپه زرینووسرلوحوکې ثبت اوځلاوه.

وروسته یې له نورو درنو استادانوسره سم او اوږده په اوږه دتدریس چارې هم په غاړه واخیستې اوترنن ورځې اودامهال (۱۳۹۸هـ،ش) پورې په پوره متانت، پوهې، خوښۍ، ایماني لوړتیااوله حق الزحمې پرته دغه کارترسره کوي.

جودانې قدرې یولعل پکې پيداشي

نورهمه واړه دتوروکاڼوغرډی...

دپښتوڅانګې حقداراستادپوهاندمحمد صابرخان خویشکی، پوهندوی دوکتور زرغونه زیور، دعلوماکاډمۍ غړی سرمحقق ډاکتر... اونورله هغواستادانوڅخه ول، چې ددوکتوراپروګرام  پیل کې یې علمي اوعملي مرستې کړې، موادیې برابرکړي اوددوکتورامحصلين نازولي دي.

دماسترۍ دورې اودوکتورا (تیزس) لیکنه یو ډول بهیر اوپروسه نه ده. ماسترې پروګرام به اول پیلوي اوبیابه په

دریم سمسترکې دتیزس لیکنې فکرکوي اوله ذوق وپوهې سره جوخته به یوه موضوع یاتحقیق پیداکوي، بیابه یې له سلامشورو وروسته ټاکي؛ عنوان اوفهرست به ورته برابروي اودیولاربښوداستاد تررهنمایي لاندې به کارکوي.

ددوکتوراپروګرام پیل بل ډول بهیر دی. آزموینه به تیروي، دتحقیق اوڅېړنې وړموضوع به لټوي، پیداکوي اوبیابه یې له عنوان، قوي اوپوره فهرست سره ددوکتورا کمیټې ته وړاندې کوي، هغوی به ستاسو موضوع فهرست اوماخذونه اومدارک ګوري، دردولواویاڅېړنې کولوحکم به صادروي اوله هغه وروسته به محصل له نوموړی عنوان یادتحقیق وړ موضوع څخه دفاع کوي، که له موضوع څخه دفاع موبریالی وه، نولاربښوداستادبه درته ټاکل کېږی ددرسي چارو له بهیر سره سم به دلاربښوداستادترلارښوني لاندې دتحقیق اوریسرج کارونه ترسره کوي.

ماهم له دودسره برابردنوروهم صنفیانوپه څیر دوه موضوعګانې ولټولې، پیدامې کړې اوددوکتورااصلاحیت لرونکې کمیټې ته مې وړاندې کړې. لومړی موضوع د (عرفاني ادبیاتو دډکشنرۍ ژباړه) وه. دغه قاموس یاډکشنري دکمیټې دنوروغړو راته ووبل، چې داخوتحقیق نشي کیدلای، بلکې داژباړه ده.

که څه هم نوی کاردی، خوڅېړنه ده؛ ماهم ورسره ومنله اوداکارمې پریښود بیامې داوپتیله ، یوه نوې موضوع پیداکړم، چې د اکارونشو. (په پښتو ادب کې ترانه)، چې کله مې ددوکتورامحترمې کمیټې ته دتحقیق داموضوع له فهرست سره وړاندې کړه، موضوع نوې وه اودتحقیق موادیې ډیر درلودل؛ له څنډپرته ومنل شوه اولاربښوداستاد راته دافغانستان دعلوموداکاډمۍ غړی ښاغلی ډوکتور اورمړوټاکل شو. اورمړاستادکه څه هم دژبپوهنې دبرخې متخصص دی، خوبیایې هم دتائیدسر راسره وښوراوه،فهرست مې له نومړی ډاکتراوهیوادمل استادسره په واروار کره کره اودموضوعاتوپه راټولومې پیل وکړ.

دخدای (ج) کره دی، هرکاردبنده په زړه نه کیږي، خوزیاراوکوښښ غواړي. زمادکمزوروطالعوله وجهې ډاکتراورمړدسترګوعملیات لپاره هندوستان هیوادته لاړاوله ډیرې مودې وروسته هیواد ته راغي،له هغه وروسته یې ټول علمي کارونه بس کړل اوکابل پوهنتون دډوکتوراپروګرام درسونوته یې له (  ) کاله وروسته د رد ځواب ورکړ اوبیاپوهنتون ته له سره رانغی. ماخو وار ورسره تلیفوني تماس ونیوه، خوزوی یې ویل، چې استاد دسترګوډاکترانوله ټولوعلمي، تحقیقی اولیکنو کارونومنع کړی دی.

داوخت زمادبدشامت له وجهې زماناروغي (سکلیروډرما) هم ډیریدله اوزمالپاره یې دساحوي ریسرج (څېړنې) ساحې محدودولې.

کابودرسونه په نیمایې کې ول، چې زمااوداستادمحقق رفیق رفیق دپخوانیوموضوعاتولاربښوداستادلادرکه ،

مااوپوهانددوکتور رفیق دپوهاندصابرخان اوډاکترزرغونی زیورپه لارښونه بلې موضوع ته مخه کړه؛ له پوره لټولواوپلټنواومشورو ورسته مې نوې موضوعګانې وموندلې، خودتحقیق وړ یوه نوې موضوع مې دلارښود استادانو او درنو نامتو همصنفنیانو (پوهنوال دوکتور باجوړی، پوهاند دوکتور استاد محمدرفیق، پوهاند دوکتور لعل پاچا آزمون ...) په خوښه غوره کړه او ورباندې دعامو وکړه او دا خبره مو د دوکتورا له کمیتی سره شریکه کړه ، هغوی هم ومنله. لکه چې معلومه ده، تحقیق (څېړنه) نوې موضوع نه ده، بلکې په زړوموضوعاتوکې دنوی شي پلټل اودهغوتحلیل دی.

دڅېړنې دغه موضوع: (عبدالرحمن بابا عارف اومتصوف شاعردی، که دټولنیزوافکاروخاوند؟) هماغه وچې ددغې موضوع لپاره مې فهرست جوړکړموضوع موله درانه استادهیوادمل سره هم شریک کړ؛ نوموړی تائیدکړ.

له مودوورسته مې بیادموضوع فهرست له درنواستادانوآزمون، دوکتورباجوړي اودرانه استاددوکتوراجمل جان سره شریکه کړ، لړتعدیلاتوسره اجمل جان فهرست کړه اوټایپ یې کړه، ماهم له الله (ج) مرسته وغوښته په کارمې پیل وکړاوکارته مې په پوره مینه اوسړه سینه دوام ورکړ.

دعبدالرحمن باباشعرپه حق داخلاقي عذفان اوتصوف، پند نصیحت، مینې، محبت، انسانیت اوټولومعنوي ښکلااوواو...

یوه رنګین څپرکی، پیاوړی باب اودخبرواوښکلااوو نایابه اعجاز دی، ګڼ اوګوراړخونه لري، ماهم وغوښتل داروانښادعبدالرحمن بابادشعروفکریوباب پرانیزم؛ له مسلک سره سم مې داموضوع وټاکه چې رحمن باباډیرعارف، عابد، متصوف او... دی، که دټولنیزوافکاروواړاندې کوونکی خاوند... په هرډول هیڅوک به پیدانه شي، چې دباباد‌شعرپه اعجازمنکرشي.

چې منکرپرې اعتراض کولای نه شي

دادشعردی رحمانه که اعجاز

له ماسره ددغه تیزس دبشپړولوپه کارکې چې چامرسته کړې ده، لازمه ده ترې یادونه اومننه وکړم.

په لومړی سرکې له دافغانستان دعلوماکاډمی له درانه غړي سرمحقق استادزلمي هیوادمل څخه، چې ددوکتوراپروګرام پیل یې وکړاومونږته یې ددوکتوراپه څلوروکلنه دور کې په پوره پوهې، عالي فهم پوره درایت اوتوانمندی دډیرباازرښته اوغنیمتومضمونونوتدریسي چارې په عالي روحیه پرمخخ بوتلې.

په دویم قدم کې له درنو استادانو هر یو پوهاند محمد صابر خان خویشکی، دوکتور استاد زرغونې زیور، د علومو

اکاډمۍ غړي سرمحقق دوکتور استاد    اورمړاو...

همدارنګه دافغانستان دعلومواکاډمۍ له درانه غړي سرمحقق دوکتوراستادسیدمحی الدین هاشمي، چې له ماسره یې دنومړي تحقیق په پوره کولوکې هرډول مرستې کړې دي، ډیردرنښت وړاندې کوم، دډیرعمرغوښتنه ورته کوم.

دځانګې له ډیرودرنواوقلموالواستادانو، لیکوالو، ښاعرانو او د ادبیاتو او تخلیقی ادب او تحقیق په بهر کې نامتو استادانو پوهنوال دوکتور بریالی باجوړي او پوهاند دوکتور لعل پاچا آزمون، چې له ما سره یې د فهرست په برابرولو کې پوره مرستې کړې؛ ترې مننه وکړم.

پوهانددوکتوراستادمحمدرفیق رفیق، چې دموضوع په غوراوي اوثبت کې یې له ماسره مرسته کړې دشکرانوړ دی.

له ځوان استاداوګران داکترښاغلی اجمل چان ښکلی څخه ځانګړی مننه کوم چې دفهرست په سمون، ټایپ اوساحوي ریسرج کې یې له ماخپل نظراوعمل نه دی سپمولی، دپوره یادونې وړدی.

دځانګې له نورودرنواستادانو، دښوونې اوروزنې پوهنتون اونورودولتي پوهنتون له پوهو او فهیمو استادانو او د علومو اکاډمۍ له غړو او نور لرې او نږدې دوستانو، استادانو او... په تیره له درانه استادمحمدآصف صمیم څخه ډیره مننه وکړم، چې ماته یې دتحقیق په برخه کې خوراډیرکتابونه له خپل شخصي کتابتون (حمزه کتابتون) څخه په خپلومهربانه ګوتوراټول کړل اورایې کړل، دشکران اوپوره یادولووړدی. دځانګې له آمریت، دپوهنځی له مقاماتو او د کابل پوهنتون له درنو او صالحه مقامونو څخه پوره مننه وکړم، چې د دغو علمي پروګرامونو په جوړولو او پر مخ بیولو کې برخه اخلي.

درنښت

احمدشاه زغم

# نیولیک

**لنډیز** ........ ل

**سریزه** ........ ۱

دڅېړنې (تحقیق) موخه ........ ۷

دڅېړنې میتود ........ ۹

د څېړنې شالید ........ ۹

مننه او کورودانی ........ ۱۲

**۱- دعبدالرحمن بابا پېژندنه** ........ ١٤

۱ – ۱ درحمان بابادزیږیدو په باره کې پخواني روایتونه ........ ١٤

۱ – ۲ استوګنه، زده کړه او سفرونه ........ ٢٤

۱ – ۳ د اختلافونو دلیلونه ........ ٦٥

۱ - ۴ زوکړه او استوګنځی ........ ٦٧

۱ – ۵ د نظریاتو په رڼا کې د عبدالرحمان بابا د اصل و نصب دوام ........ ۷۲

۱ – ٦ د رحمان بابا نسب نامه، کلی او د زیږېدو زمانه ........ ۸۷

۱ – ۷ د رحمان بابا د استوګنې ځای ........ ۹۲

۱ – ۸ د عبدالرحمان بابا اولادونه ........ ۹۳

۱ -۹ د عبدالرحمان بابا مړینه او مزار ........ ۹٤

۱ – ۹ – ۱- د عبدالرحمان بابا قبر، مرقد، مزار ........ ۱۰۰

۱ – ۱۰ د عبدالرحمان بابا تاریخي څېره ........ ۱۰۰

۱ – ۱۰ – ۱ ټبر، کلی و زده کړه ........ ۱۰۰

١ – ١٠ – ٢ د عبدالرحمان بابا شجره ............ ١٠١
١ – ١٠ – ٣ د عبدالرحمان د استوګنې ځای............ ١٠٣
١ - ١١د عبدالرحمان بابا زده کړې ............ ١٠٤
١ – ١١- ١ د رحمان بابا شعور............ ١١٠
١ – ١١- ٢ تولأ ـ و شبراء............ ١١١
١ – ١٢- د عبدالرحمان بابا اولادونه خپلوان او مالي حالت ............ ١٢٠
١ – ١٣ د عبدالرحمان بابا مالي حالت............ ١٢٢
**٢ – عبدالرحمن بابا د ليکوالو او شاعرانو په اند** ............ ١٢٤
٢ – ١- ليکوال ............ ١٢٦
٢ – ٢ مشهور شاعران او د رحمان بابا شاعري ............ ٢٠٧
٢ – ٣ د حضرت عبدالرحمان بابا شاعري د څو مشهورو مستشرقينو په نظر ............ ٢٢١
٢ – ۴ رحمان بابا په خپل نظر............ ٢٢٥
٢ – ۴ – ١ د رحمان بابا شاعري د ده له خپل نظره............ ٢٢٦
٢ – ۴ – ١ د خوشحالا او دولتا............ ٢٢٩
٢ – ۵ رحمان بابا د معاصرو شاعرانو په هنداره کې ............ ٢٣٢
٢ – ٦ ساحوي ريسرچ ............ ٢٣٥
٢ – ٦ – ١ ساحوي پلټنه او څېړنه:............ ٢٣٥
٢ – ٦ -٢ کابل پوهنتون ............ ٢٣٦
٢- ٦ – ٢ د ښووني او روزنې پوهنتون ............ ٢٤٨
٢ – ٦ – ٣ ننګرهار پوهنتون ............ ٢٤٨
٢ – ٦ – ۴ د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو اکاډمۍ غړي............ ٢٤٩
**٣ - له عبدالرحمان بابا سره د نورو شاعرانو د افکارو پرتله** ............ ٢٥٣

۳- ۱ د شيخ سعدي او رحمان بابا د اخلاقي ايډيالونو پرتلنه........................................................ ۳۰۸

۳ – ۱- ۱ زماني واټن ........................................................................... ۳۰۹

۳ – ۱- ۲ ګډ ټکي ............................................................................... ۳۰۹

۳ – ۱- ۳ پوهه او شتمني د سعدي له نظره ........................................................... ۳۲۲

۳ – ۲ خواجه حافظ او عبدالرحمان بابا ............................................................ ۳٤۸

۳ - ۳ د حميدبابا ځواب رحمان بابا ته .............................................................. ۳۵۷

۳ – ۴ عبدالقادرخان قصيده............................................................................ ۳۵۸

۳ – ۵ د اخون ګدا حواله.............................................................................. ۳٦۰

۳ – ٦ رحمان بابا د خوشحال خان معاصر دی............................................................ ۳٦۲

۳ – ۷ هجري او بابا...................................................................................... ۳٦۳

۳ -۸ د رحمان بابا او خوشحال خان شاعرانه مقابلې ...................................................... ۳٦٤

۳ – ۹ د اشرف خان هجري او خوشحال خان اختلاف ...................................................... ۳٦۵

۳ – ۱۰ له رحمان بابا سره د قاديانيانو د اختلاف وجه ..................................................... ۳۹۸

۳ – ۱۱ په پټه خزانه د قاديانيانو د تنقيد وجه ............................................................ ٤۰۸

۳ – ۱۲ د بابا وفات........................................................................................ ٤۱٤

۳ – ۱۳ کاظم خان شيدا او بابا ......................................................................... ٤۱۵

۳ – ۱۴ په رحمان بابا د عبدالقادرخان خټک تنقيد.......................................................... ٤۱۹

۳- ۱۵ رحمان بابا او حافظ شيرازي........................................................................ ٤۲۲

۳ – ۱٦ اقبال او بابا ......................................................................................... ٤۲۷

۳ – ۱۷ بابا- نوي ديوانونه او تحريف ...................................................................... ٤۲۸

۳ – ۱۷ – ۱ د يو قادياني محقق اصلاح ....................................................................... ٤۳۰

۳ – ۱۸ سکندرخان او بابا ................................................................................. ٤۳۸

۳ – ۱۹ د رحمان بابا پر شاعرۍ د روښانیانو د شاعرۍ اغېز: ........ ٤٣٩
۳ – ۱۹ - ۱ میرزاخان او بابا ........ ٤٥٦
**۴ – عبدالرحمن بابا متصوف شاعر دی که د ټولنیزو افکارو خاوند؟** .. ٤٥٩
۴ - ۱عرفان ........ ٤٥٩
۴ – ۲- تصوف: ........ ٤٧٦
۴ – ۲ – ۱- تصوف او اسلام ........ ٤٧٩
۴ – ۳ د رحمن بابا دېوان کې عرفاني اصطلاحات ........ ٤٨٦
۴ – ۴ په عرفان او تصوف پورې تړلي اصطلاحات ........ ٤٨٩
۴ – ۵- په تصوف کې د نفس د تزکیې لارې چارې ........ ٤٩٥
۴- ٦ په تصوف کې د اخلاقي برترۍ تصور ........ ٤٩٦
۴ – ۷ - سماع، موسیقي او د مینې پړاوونه ........ ٤٩٨
۴ – ۸ رحمان بابا د روښان پیرو ........ ٥١٢
۴ – ۸ – ۱ رحمان بابا او پیر روښان ........ ٥٢٥
**۵ - د رحمان بابا د شعر د عاموالي لاملونه** ........ ٥٣٨
۵ – ۱ د رحمان بابا دېوان څه وخت ترتیب شوی؟ ........ ٥٥٥
۵ – ۲ د عبدالرحمن بابا د دیوان قلمي نسخې ........ ٥٦٢
**٦ – د رحمان بابا ادبي مکتب** ........ ٦١٩
٦ – ۱- د رحمان بابا د ادبي لارې مشهور لارویان ........ ٦١٩
٦ – ۱- ۱ - عبدالرحیم هوتک ، احمدشاه بابا او خوند گدا عبدالعظیم سواتی ........ ٦١٩
٦ – ۲ د عبدالرحمان بابا د ادبي لارې (مکتب) پیروان او شاگردان ........ ٦٢٠
٦ - ۳ - طبعي او مصنوعي هنر ........ ٦٢٢
٦ - ۴ عبدالقادرخان خټک ........ ٦٤٣

٦ – ۵ صديق خټک ........ ٦٤٧
٦-٦ علي خان محمدزی........ ٦٥٢
٦-٧ محمدي صاحبزاده ........ ٦٥٩
٦-٨ معزالله خان مومند ........ ٦٦٥
٦ – ٩- اخون ګدا ........ ٦٦٨
٦ – ١٠ حافظ الپوري ........ ٦٧٢
٦- ١١ يونس ........ ٦٧٦
٦ - ١٢ محمد محمک بنګښ........ ٦٧٨
٦-١٣ ميا نعيم متي زی ........ ٦٨٠
٦ – ١۴ مصري خان ګګياني........ ٦٨٣
٦ - ١۵ميرزاحنان بارکزی ........ ٦٨٥
٦ – ١٦ مهين خليل........ ٦٨٦
٦ – ١٧ نجيب ........ ٦٨٧
٦ – ١٨ عبدالعظيم رانيزی ........ ٦٨٩
٦– ١٩ قاسم علي افريدی ........ ٦٩٠
٦ -٢٠ پيرمحمد کاکړ ........ ٦٩٢
٦ –٢١ احمدشاه ابدالي ........ ٦٩٥
٦ – ٢٢ قنبرعلي خان ورکزی........ ٦٩٨
٦ – ٢٣ ابوالقاسم........ ٧٠٣
٦ – ٢۴ نواب محبت خان........ ٧٠٤
٦ – ٢۵ مير علي ميرا........ ٧٢٧
٦ – ٢٦ شاد محمدخان........ ٧٢٩

٦ – ٢٧ متفرق شاعران ........ ٧٣٩
٦ – ٢٧ - ١ – قادر داد: ........ ٧٣٩
٦ – ٢٧ - ٢ – رحمت داوي ........ ٧٤٠
٦ – ٢٧ – ٣ نواز ختک ........ ٧٤١
٦ – ٢٧ - ۴ – قاسم ........ ٧٤٢
٦ – ٢٧ – ۵ شهنواز ........ ٧٤٤
٦ – ٢٧ – ٦ میر عبدالله سواتي ........ ٧٤٦
٦ – ٢٧ -٧ سید طالب شاه ........ ٧٤٧
**٧ – د رحمان بابا په شاعرۍ کې تصوفي افکار** ........ ٧٥٣
٧ – ١ تصوف ........ ٧٥٣
٧ – ٢ رحمان بابا اوتصوف ........ ٧٦٨
٧ – ٢ – ١ رحمان بابا او د صوفیت مسلک ........ ٧٧١
٧ – ٢- ٢رحمان بابا وجودي صوفي و که شهودي؟ ........ ٧٧٨
٧ – ٢ - ٣ رحمان بابا عقلي صوفي ........ ٧٨١
٧ – ٣ رحمان بابا او عشق ........ ٧٨٩
٧ – ۴ د رحمان بابا د کلام او پیغام ځینې پټ اړخونه ........ ٧٩٣
٧ – ۵ د رحمان بابا په کلام کې د انسانیت ابلاغ ........ ٨٠١
٧ – ٦ د رحمان بابا ژور فن او عالمگیر پیغام ........ ٨٠٨
٧ – ٧ د عبدالرحمان بابا د شعر اروایي حالت ته یوه کتنه ........ ٨١١
**٨ – د رحمان بابا د شاعرۍ فورمونه** ........ ٨٢٣
**٩ – د رحمان بابا په اړه شوې څېړنې** ........ ٨٢٤
٩ – ١ حضرت عبدالرحمان بابا د پوهانو له نظره ........ ٨٢٨

۹ – ۲ د حضرت عبدالرحمان بابا په برخه کې د افغانستان د ځینو لیکوالو مقالې او نظرونه ................ ۸۲۹
۹ – ۲ – ۱ د حضرت عبدالرحمان بابا په برخه کې د سرمحقق محمد صدیق روهي نظر ...................... ۸۲۹
۹ – ۲ – ۲ کاندید اکاډمیسن پوهاند استاد محمد رحیم الهام (د رحمان بابا په شعر کې تخیل او تصویر) . ۸۳٦
۹ – ۲ – ۳ اکاډمیسن پوهاند دوکتور عبدالاحمد جاوید (رحمان بابا نخبه سخنور زبان پښتو).............. ۸٤۱
۹ - ۲ – ۴ - سخنی چند پیرامون زندگی نامه عبدالرحمان مومند ........................................ ۸٤٦
۹ – ۲ – ۵ پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار (د رحمان بابا لیکلار)............................................ ۸۵٦
۹ – ۲ – ٦ د عبدالرحمان بابا څخه د استاد دوکتور سید محی الدین هاشمی نظر........................... ۸٦۱
**۱۰ – د بابا د کلام مشهورې ژباړې** ............................................................ ۸٦۷
**پایله** ............................................................................................................ ۸۷۳
**مناقشه** ......................................................................................................... ۸۷۹
**وړاندیزونه** .................................................................................................... ۸۸۰
**ماخذونه** ......................................................................................................... ۸۸۱
**لغتونه اواصطلاحات** ........................................................................................ ۸۸٤

# لنډیز

## ۱ - د عبدالرحمن بابا پېژندنه

عبدالرحمان بابا د شعر او ادب په برخه کې یوه مهمه هستي ده.

محمدرسول هوتک (رح) په خپل بیاض کې کښلي دي چې عبدالرحمان بابا په قوم مومند و، چې په ابراهیم خېلو ورګډېږي او په پېښور کې یې ژوند کاوه. پلار یې عبدالستار نومېده او بهادر کلي کې دېره و. عبدالرحمان بابا په سنه ۱۰۴۲هـ ق پیدا شوی او له ملامحمدیوسف یوسفزي څخه یې لوست کړی. له هغه څخه وروسته یې فقه او تصوف زده کړي او له هغه وروسته کوهاټ ته تللی، هلته یې ډېر سبقونه لوستلي او ښه عالم شو. وایي چې په ځوانۍ یې دنیا پرېښووله او اکثر به په غرو ګرځېده او کله به ولاړ د هندوستان په خوا او د خدای عبادت به یې کاوه، د دنیا په کاروبار به نه مشغولېده.

عبدالرحمان بابا یو عالم رباني او عابد سړی و او ډېر شعرونه یې د خدای (ج) په محبت کې وویل او په پښتنو کې په رحمان بابا مشهور شو او په ۱۱۱۸ (د پټې خزانې په قول) وفات شو. چې دغه کال د استاد هېوادمل په وینا یو سهوالقلم دی، بلکې نوموړی په ۱۱۲۸هـ ق کال کې وفات شوی دی.

له دې بیت څخه یې داسې ښکاري:

دراز عمر مې حاصل شو له راستیه

لکه سروه مدام سبز و تازه پایم

چې رحمان بابا «۸٦کاله» لوی عمر کړی دی.

محمدرسول هوتک زیاتوي چې رحمان بابا په پېښور کې د هزارخانې په هدیره کې ښخ دی، خلک یې زیارتونو ته ورځي، د ده شعرونه لولي. د رحمان‌بابا د غزلونو دېوان شته او ډېر ډېر پیدا کېږي. دېوان یې تر دې سرحده د مینې او باور وړ و چې د ده په دېوان سترو شاهانو فالونه نیولي دي.

## ۲ - عبدالرحمن بابا د لیکوالو او شاعرانو په آند

د عبدالرحمن بابا په اړه ډېرو لیکوالو او پوهانو خپل نظرونه وړاندې کړي دي؛ د رحمان بابا په اړه دوه ډوله نظريات دي، يو مخکيني او بل اوسني؛ په پخوانيو کې داخلي او خارجي او په اوسنيو کې ډېر لیکوال، پوهان او څېړونکي راځي چې د هغو له جملې پوهاند علامه حبيبي، پوهاند عبدالشکور رشاد، لوی استاد صديق الله رښتين، استاد عبدالروف بېنوا، استاد مجاوراحمد زيار، ډاکتر زېورالدين زېور، اکاډيمېسن کانديد خدای‌ښلی محمدصديق روهی، ښاغلی استاد سرمحقق زلمی هېوادمل، استاد ډاکتر محی‌الدين هاشمي، پروفيسور افضل‌رضا، پروفيسور همېش خليل، پروفيسور، محمداعظم اعظم، عبدالقادر مومند، پروفيسور داورخان داود، استاد محمداصف صميم، د پخواني شوروي په انسايکلو پيډيا، تاجک اېنسايکلو پېديا، عبدالحليم اثر او نورو ډېرو ليکوالو، څېړونکو، منتقدينو يادونه کولای شو چې (مُشت نمونه خروار دي). خو د استاد هېوادمل په وينا: د رحمان بابا د دېوان په پېژندلو کې موږ کولای شو لاندې مدرکونه په ګوته کړو:

الف) خطي نسخې: چې دا په برتانيه، هندوستان، لېننګراد، ختيځپوهنه کې د افغانستان ملي ارشيف، د پاريس ملي کتابخانه او نورو کې دي.

ب) د رحمان بابا د دېوان چاپي نسخې: د رحمان بابا تر ټولو قديمي کتاب مولوي احمد (۱۲٦۱ او ۱۳۰۰ق ) چې د پادري هيوز لپاره برابر شوی و او په ۱۲۹۴ق چې ۱۸۷۷کال کېږي، په لاهور کې چاپ شوی. دغه رنګه په پېښور، لاهور او نورو ډېرو ځايونو کې ډېرو ښاغلو ليکوالو د ده کتابونه ليکلي دي. په پېښور پښتو اکاډيمۍ کې يې چاپ ته رسولي دي.

ج) د رحمان بابا منتخبات او دېوان: موږ  په دغه برخه کې له دوه ډوله منتخباتو سره مخ کېږو:

۱ – چاپ کتابونه چې چاپي وي، په خطي نسخو کې موندل کېږي، لکه: چمن بېنظير، چمن بې‌عديل، د ميا حسيب ګل بياض، بيانات افغانی، د ملاشايسته‌خان بياض.

د) د رحمان‌بابا آثار د هغه په ترجمو کې پيدا کولای شو، چې هنديانو او نورو ډېرو د ده د کتاب ترجمې کړې دي.

خو ما په خپله څېړنه کې د يو شمېر پوهانو نظرونه رااخيستي دي، چې نومونه لاندې راوړم:

**۲ – ۱ رحمان بابا د پښتنو شاعرانو او ليکوالو له زاويې:**

د رحمان بابا د شعر او فکر په اړه پښتنو شاعرانو او ليکوالو هم له خپلې زاويې کتلي او ستايلی دی:

**مولانا عبدالمجید افغانی:** د رحمان بابا شاعري د معمولي حیواني جذباتو اظهار نه دی او نه محض د ځوانۍ د بهار ګلونه دي، بلکې د ده دېوان د خوږو زړونو ټوټې دي، یا د خونِ جګر قطرې دي، چې په کاغذ جمع شوې دي.

دی زیاتوي: د موضوعاتو له پلوه د رحمان بابا زیاته برخه شاعري عشقیه ده او د موضوع له پلوه د هرې موضوع حسن د هماغه غزل په کلمو کې، لکه:

رحمان حسن د یار وینم په پرده کې نه پټېږي نور د حسن په فانوس

**سیف الرحمن مسود:** رحمان بابا او پیر روښان:

یو کتاب په درست سرړبن کې چا ونه کیښ بې رحمانه چې یې جوړ کړ دا کتاب

غوریاخېل او بیا ابراهیم خېل له کندهار پېښور ته راغلل، هلته د لازاک مېشت شول، هغوی پسې واخیستل او دوی یې په ځای مېشت شول. غوریاخېل درې برخې دي: خلیل، مومند، داودزی. رحمان د کلال بابا لمسی و، وایي رحمان بابا یو صوفی سړی دی. کله چې په مقام ودرېږي نو بیا نسبتونه او علایق نه وي، لکه چې وایي:

زه عاشق یم سر و کار مې دی له عشقه نه خلیل، نه داودزی یم، نه مومند

په دغه برخه کې د روښانیانو او دغه راز د قاضي سیدفضل‌غني کامه‌وال نظریات د پام وړ دي.

وایي غوریاخېل د پیر روښان خاص مریدان وو، **اسحاق** په غرویاخېلو کې باسواده سړی و، هغه د پیر روښان مرید و او سلسله راوغځېده. رحمان له پیر روښان سره دوه ارتباطه درلودل، یو د طریقې په حساب او بل دا چې کېدای شي د روښان د طریقې پیرو وي.

**مولانا مرحوم عبدالقادر:** رحمان بابا د هر چا د زړه خبرې په خپلو خوږو الفاظو کوي، د ده آواز د هر چا غوږو ته رسېږي. ښځې او نر ترې لذت وړي. **د ده توري د هرچا زړه ته پرېوزي.** د سالکانو وینا ده چې **که د قرآن کریم نه سوا په بل څه لمونځ روا وای، نو د قرآن په ځای به د رحمان بابا په اشعارو لمونځ کولای. ښو ښو خلکو به د ده په اشعارو فال نیولای.**

په ښه خوی له بدخواهانو بې‌پروا یم په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا یم

**پروفسیو ډاکتر زبیر حسرت:** رحمان بابا داسې ملکوتي کلام دی، چې له شماره وتلي شاګردان لري، څوک یې فکر او لاره پالي، پوهې ته یې ارزښت ورکوي، کلام یې د معنا او شکل له پلوه خوښوي، او د کلام د محتوایي غورهوالي له امله د ده د شخصیت سنجش هم کوي او له ښو یې په ښو الفاظو ستایي.

**ډاکټر مغموم خټک:** د رحمان بابا د شاعرۍ له مطالعې داسې معلومېږي، چې هغه د تصوف ژوره مطالعه درلوده. هغه که یو طرف ته صاحب حال صوفي و، بل طرف یې تصوف تاریخي پسمنظر هم په نظر کې و. د رحمان بابا صوفیانه شاعري د روښانیانو په شاعرۍ اضافه ده.

**خدای بښلی استاد اکاډیمېسن محمدصدیق روهي:** په خپل اثر «ادبي تحلیلونه – د ۲۰۱٦م چاپ» د رحمان بابا پیغام تر سرلیک لاندې لیکي؛ هغه په دغه برخه کې د رحمان بابا عارفوالي او نه صوفیتوب باندې په دلایلو خبرې کوي چې لنډیز یې راوړم:

«... په هر صورت رحمان بابا د ملنګۍ ژوند غوره کړی و او له درویشۍ سره یې مینه درلوده، پښتانه دغو درویشانو ته چې د ریا زهد او طفیلي ژوند نه کوي، په درنه سترګه ګوري او د کرامت خاوندان یې ګڼي. په دې کې شک نشته چې د رحمان بابا د محبوبیت یوه وجه د ده روحانیت، فقیرانه ژوند، درویشانه استغنا او سلوک و او ترې مهمه وجه یې هغه پیغام دی چې په خوږه، روانه، سپېڅلې او زړهوړونکې ژبه یې خلکو ته وړاندې کړی دی. .. د رحمان بابا شعر یې کتاریس دی چې د غمونو بار سپکوي، زړونه تصفیه کوي، رنځېدلو، کړېدلو اولسونو ته تسلي ورکوي، په زخمونو یې ملهم ږدي.

رحمان بابا د یوه فقرځپلي ولس زړه ته د خپل پیغام په واسطه لار پیدا کوي. **د دغه پیغام اصلي جوهر مینه او محبت دی؛ عشق او محبت نه یوازې د انسان د نجات وسیله ده، بلکې د جهان تکوین او لومړنی محرک هم دی.**

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی     د جملهو مخلوقاتو پلار دی دا

روهي صاحب زیاتوي: رحمان بابا د تصوفي افکارو د څرګندولو په برخه کې په کافي اندازه له احتیاطه کار اخلي:

**ګوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه     مه کړه دا د عشق خبرې مستې رندانه**

او بالآخره استاد روهي زياتوي: زما په عقيده د رحمان بابا په شعر کې سیستمتیک عرفاني مشرب نه ليدل کېږي، چې په اصل کې متصوف او لکه خلک چې وايي مجذوب هم و. خو که پر ده د یوه شعر له مخې قضاوت وکړ، نو **رحمان بابا په عمده توگه يو موراليست شاعر و.** رحمان بابا په یقیني ډول د یوه اجتماعی مصلح په توگه د خپل قوم د معنوياتو روزلو ته متوجه و، لکه چې وايي:

چې کشور د افغانانو معطر کړي    د هر بيت مصرع مې زلفې د خوبان کړې

په لنډه توگه به د نظرياتو نچوړ داسې وړاندې کړو:

**۲- ۲ د رحمان بابا په اړه د ختیځپوهانو نظرونه:**

په دې سرليک کې د رحمان بابا په اړه د ځینو ختیځپوهانو او په بهرنیو کتابونو  کې راغلي نظرونه رااخلم:

**الفنېستن راين کانټ:** له ټولو هر دل عزيز شاعر رحمان بابا دی. دهغه تخليقات په غزلو کې هوبه‌هو د ایرانیانو په شکل دي.

**مېجر راورټي:** خوشحال په پښتو شاعرانو کې اوچته درجه لري، ولې رحمان بابا د پښتنو له ټولو نه زياته مقبوله شاعري کړې ده.

**پادري هيوز:** چې کوم ځای د پښتو ژبه ده، هلته د رحمان بابا اشعار ويلی شي. رحمان بابا د پښتنو مشترک میراث دی.

**سر اولف کيرو:** يو شمېر نور د زړې زمانې شاعران شته چې په هغه کې د ټولو نه مشهور عبدالرحمن دی.

**گ. گېرس او ا. گيراسيمووا:**

د عبدالرحمن شعرونه په ساده ژبه لیکل شوي او د پښتنو محاورې ته ښېخي نژدې دي. د ده دېوان په ډېر قدر او احتیاط سره په اولس کې ساتل کېږي او ډېر ځلې کېدای شي چې د يو بېسواد بزگر نه د رحمان بابا داسې اعلی شعرونه واورېدل شي کوم چې د شعري هنر مينه‌وال ته معلوم نه وي. د رحمان په نزد د ځمکې په سر د عشق او مينې نه بل لوی قوت نشته او دا دنيا د عشق او مينې په خاطر خدای پیدا کړې ده او ټول خلک باید د خدای د دې هبې نه گټه واخلي.

د عبدالرحمن په شعرونو کې د لومړي ځل لپاره یو پښتون شخصیت د قومي محدودیت نه وتلی معلومېږي او د دغې عقیدې نه ځان آزاد او پورته ګڼي:

زه عاشق یم سر و کار مې دی له عشقه     نه خلیل نه داودزی یم نه مومند

د ده په شعرونو کې په ربښتیا سره د بشردوستۍ لوړ ایډیال ځرګند شوی دی او دی یو بشردوست شاعر دی.

**د تاشکند ادبي کنفرانس کتاب:**

د دوستۍ او مینې ځښتنان خورا محترم دي نسبت هغو خلکو ته چې د کاڼي غوندې سخت زړه لري. این انسانه اوښکې وچې کړه د مرغلور راټولول پرېږده.

په دې سرلیک کې پر رحمان بابا د پخوانیو او اوسنیو پښتنو شاعرانو او لیکوالو له زاویې خبرې شوې دي، او همدارنګه رحمان بابا د ختیځپوهانو په تله کې تلل شوی او په اړه یې د هغوی نظریات راغلي دي.

**د نورو پښتوپوهانو نظرونه:**

دکتور سیدمحی الدین هاشمی له خوا برابر شوی کتاب دی چې ده پکې داسې لیکلي:

«رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ ق کال د پېښور ښار په جنوبي اړخ بهادر کلي کې پیدا شو، د عبدالستار زوی و، له ملامحمدیوسف یوسفزي څخه یې زده‌کړې وکړې. **او دغه راز زیاتوي: د رحمان‌بابا په باب له ادبي او تاریخي څېړنو څخه ځرګندېږي چې لومړني علوم یې په خپل کلي او شاوخوا سیمو کې لوستي او بیا په ځوانۍ کوهاټ ته تللی او هلته یې د لوړو دیني علومو د زده‌کړې ترڅنګ د نومیالي صوفي ، عارف او روحاني شخصیت حاجي بهادر کوهاټي څخه طریقه او لاسنوی کړی، بېرته خپلې سیمې پېښور ته راغلی، د خپل کلي پر ځای یې په هزارخانه کې هستوګنه کړې او د ژوند تر پایه یې دلته شپې او ورځې سبا کولې.**» خو استاد محی‌الدین د ده د طریقې نوم نه اخلي!؟

**حبیب الله رفیع:** د رحمان بابا په انساني افکارو کې انساني ارزښتونه ډېر دي:

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي     اغزي مه کره پښو کې به دې خار شي

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه　　چې همدا غشی به ستا په لور گوزار شي

کوهی مه کنه د بل سړي په لار کې　　چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

ته چې هر چا ته په خوارو سترگو گورې　　لا رومبی به ستا صورت تر خاورو خار شي

آدمزاد په معنا واړه یو صورت دی　　هر چې بل آزاروي هغه آزار شي

هغه زړه به له طوفانه په امان وي　　چې کېښتۍ غوندې د خلکو باربردار شي

## ۲ – ۳ رحمان بابا په خپل نظر

رحمان بابا د خپلې شاعرۍ په اړه هم خپل نظريات لري او کله کله يې تر نورو غوره بولي، خو دا ممکن پخوانی دود وي، ځکه چې پخوانيو زياترو شاعرانو خپل شعرونه او تخليقات تر نورو افضل گڼلي دي، رحمان بابا وايي:

خوشحالا او دولتا مې غلامان دي　زه رحمان په پښتو ژبه عالمگير يم

چې کشور د افغانانو معطر کړي　د هر بيت مصرع مې زلفې د خوبان کړې

په پښتو کې رحمان ووې　　په فارسي کې سنايي

د رحمان کلام په دا سبب شيرين دی　　چې يې هر کلام، کلام دی د اخلاص

## ۳ - له رحمان بابا سره د نورو شاعرانو د افکارو پرتله

دا سرليک له نورو شاعرانو سره د رحمان بابا د افکارو پر پرتلنه راچورلي، چې پکې د رحمان بابا افکار د حافظ او همدارنگه د سعدي له افکارو سره پرتله شوي او څېړل شوي دي. او هم پر رحمان بابا د روښانيانو په تېره ارزاني خوېشکي، ميرزاخان انصاري او دولت لواڼي اغېزو ته کتنه شوې ده.

حافظ او رحمان بابا:

در ازل حسنت زنجلی دم زد

عشق شد و آتش به همه عالم زد (حافظ)

ستا د حسن د تعريف له برکته

د رحمان د شعر کوکې په عالم دي (رحمان)

حافظ:

سر تا قدم وجود د حافظ

در عشق نهال حیرت آمد

رحمان بابا:

د خپل ځان له ویرانه یې څه ویل کړم

د عشق ویر به تل په خپله پټول کړم

حافظ:

قلم را آن زبان نبود که سر عشق گوید باز

ورانی حد تقریر است شرح آرزومندی

رحمان بابا:

د عشق راز چې هېچا نه دی بیان کړی

ترو به څه له بې بیانه وایم څه

**سعدی او رحمان بابا:**

سعدی:

تا کسی سخن نگفته باشد

عیب و هنرش همه نهفته باشد

رحمان‌بابا:

خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده

زه مې یار سره په سوال او ځواب خوښ یم

سعدی:

عاقبت گرگ زاده گرگ شود

گرچه با آدمی بزرگ شود

رحمان‌بابا:

نه لیوه په آدمیت آموخته کېږي

نه امید د مروت شي له افلاکه

له فلکه د وفا امید باطل دی

کله د یو له آدم زاد سره وفا کا

**۴ - عبدالرحمن بابا متصوف شاعر دی، که د ټولنیزو افکارو خاوند؟**

دا زما د څېړنې مغزی دی، چې پکې د عرفان تعریف، د تصوف پېژندنه، د عرفان او تصوف ورته‌والی او بېلتون، د تصوف فکري اړخ، په عرفان او تصوف پورې تړلې ګړنې، تصوف او اخلاق، په تصوف کې د نفس د تزکيې لارې چارې، په تصوف کې د اخلاقي اړخ دروندوالی څېړل شوی دی.

**سیف‌الرحمن مسود:** رحمان بابا او پیر روښان:

یو کتاب په درست سرېبن کې چا ونه کیښ بې رحمانه چې یې جوړ کړ دا کتاب

غوریاخېل او بیا ابراهیم خېل له کندهار پېښور ته راغلل، هلته د لازاک مېشت شول، هغوی پسې واخیستل او دوی یې په ځای مېشت شول. غوریاخېل درې برخې دي: خلیل، مومند، داودزی. رحمان د کلال بابا لمسی و، وایي رحمان بابا یو صوفی سړی دی. کله چې په مقام ودرېږي نو بیا نسبتونه او علایق نه وي، لکه چې وایي:

زه عاشق یم سر و کار مې دی له عشقه      نه خلیل، نه داودزی یم، نه مومند

په دغه برخه کې د روښانیانو او دغه راز د قاضي سیدفضل‌غني کامه‌وال نظریات د پام وړ دي.

وایي غوریاخېل د پیر روښان خاص مریدان وو، **اسحاق** په غوریاخېلو کې باسواده سړی و، هغه د پیر روښان مرید و او سلسله راوغځېده. رحمان له پیر روښان سره دوه ارتباطه درلودل، یو د طریقې په حساب او بل دا چې کېدای شي د روښان د طریقې پیرو وي.

**زما د ساحوي ریسرچ له مخې:**

تر ډېره بریده راته معلومه شوه چې رحمان‌بابا یو مسلکی صوفی او عارف نه دی بلل شوی بلکې هغه د اجتماعي، عشق او ټولنیزو افکارو علمبردار و. لکه لاندې نظریات:

۱ – پوهاند دکتور مجاوراحمد زیار وایي چې رحمان بابا صوفي دی خو داسې صوفي چې په روحانیت اتکاء لري او د طریقې پته یې نشته.

۲ – پوهنوال دکتور اجمل ښکلی: عبدالرحمن بابا یو اجتماعي شاعر دی، د ده له افکارو او آثارو څخه څرګندېږي چې د اجتماعي مسألو پوره بیانوونکی دی. دکتور اجمل زیاتوي: صوفیان په دوه ډوله دي، یو اخلاقي ښېس او شعور یې ډېر پیاوړی وي او دویم دا چې د سلوک خاوندان وي او خلکو ته یې هم د طریقت درس ورکړی وي. نو په رحمان بابا کې لومړی اړخ چې اخلاقي دی، ډېر پیاوړی دی.

۳ – پوهاند دکتور محمداسمعیل یون: که رحمان بابا ته متصوف ونه‌وایو، بیا نو کوم ډول شاعر ورته ووایو؟ زما په نظر د ده ډېره پیاوړتیا په عرفان او تصوف کې ده.

۴ – پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون: تر ډېره بریده را ته څرګنده شوه چې عبدالرحمن بابا د پیاوړیو نظریاتو څښتن دی، د واضح متصوفوالي آثار یې نشو ترلاسه کولای، ځکه وایم چې ډېر د اجتماعي افکارو خاوند دی.

۵ – پوهاند دکتور بریالی باجوړی: رحمان بابا مسلکي صوفي نه دی خو اخلاقي متصوف دی. له دې امله ډېر حساب د صوفیتوب وربانديې نشو کولای.

٦ – پوهندوی دکتور زرغونه ریښتین زېور: رحمان بابا خپل ټول نظریات اجتماع او خلکو ته وقف کړي دي او په ډېره خوږه، نرمه او پسته ژبه یې د دغو مطالبو بیان کړی دی.

۷ – پوهاند محمدآقا شېرزاد او نور استادان په دې نظر دي چې رحمان بابا یو انساپال شاعر دی، ځکه نو افکار او آثار یې ډېر جامع دي.

او زه (احمدشاه زغم):

تر کومه ځایه چې ما په رحمان بابا پسې پلټنې وکړې، راته څرګنده شوه چې اروابناد د ټولو پښتنو او آن انسانانو د مینې د خړوبولو لپاره هر ډول تازه، بکر، د پېړیو پېړیو سوغاتي پیغام لري. د ده د شعر پیغام جوت انساني دی. که په تصوف، عشق، اجمتاع پوهنه او ډېرو ګڼو موضوعاتو کې نظریات راغلي او انعکاس شوي، خو دغه مطلب پکې نشو پیدا کولای چې ده له چا څخه په ښکاره لاسنیوی کړی وي او یا یې د طریقت د ښکاره اصول پر بنا شاګردان روزلي.

پټه دې پاتې نه وي چې د ده په کلام کې د عرفان او تصوف ټول اصطلاحات څېرمه مواد  په ښکاره او پرېمانه ډول راغلي.

رحمان بابا که خپل نظريات په هره برخه کې بيان کړي له پوهې، افکار، مينې اخلاص، ساده‌ګۍ او ښکلاو څخه ډک دي.

**۵ - د رحمان بابا د شعر د عاموالي لاملونه**

په دې سرليک کې د رحمان بابا د شعر ژبه، ديني او مذهبي اړخ، اجتماعي او ساده ارزښتونه څېړل شوي دي.

له موضوعي پلوه پکې د تصوف اخلاقي اړخ ته اهميت ورکړل شوی دی.

د ژبې له پلوه  بيا پر دې باندې بحث شوی دی چې د رحمان بابا د شعر رغښت پښتو جملې ته ورنږدې دی.

د رحمان بابا د شعر ژبه او شاعري ډول ډول مقبولتيا لري، چې لنډيز يې په لا ندې توګه داسې راوړو:

۱ – رحمان بابا د زړه له اخلاصه دا سوال کړی و چې:

الهی د خپل حبيب له برکته        دا ساده انشاء رنګينه د رحمان کړې

چې کشور د افغانانو  معطر کړي  د هر بيت مصرع مې زلفې د

د رحمان بابا ديوان بې‌شمېره لفظي او معنوي خوبيو څخه ډک دی، د ده په ديوان کې د صوفيانو لپاره رمز شته. په حجره کې د ناستو خلکو لپاره زړه‌راښکونکې خبرې لري. په منبر ناستو عالمنو لپاره د وعظ و نصيحت ښکلې مرغلرې نغښتې. دی وايي:

چې دا نور شاعران کاندي هغه يې نه کا    رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی

۳ – په شعر کې يې صداقت شته، هر څه يې چې ويلي، د زړه آواز يې معلومېږي.

هره وينا يې اخلاص دی چې بل زړه ته رسېږي.

د رحمان کلام په دا سبب شيرين دی        چې يې هرکلام کلام دی د اخلاص

هغه د خوږ زړه دردونو په شاعرۍ مجبور کړی دی، دی ليکي:

دا دستور دی چې له درده زګېروي خېژي   ګڼه څه وو د رحمان له شاعرۍ

۴ – د رحمان بابا په شعر کې سراپا سوز دی، خو دغه سوز له خونده ډک دی:

د رحمان و سوزان شعر ته حیران یم   چې یې اور بل شوی نه دی په دېوان

۵ – عام پښتانه رحمان بابا «ولي» بولي، دغه وجه ده چې د هغه هره خبره د زړه په غوږونو اوري او عقیدت ورسره څرګندوي. د رحمان بابا عالمګیر مقبولیت کې د هغه د فقیرۍ او صوفیګرۍ او صوفیانه مقام لوی لاس هم دی. دی وایي:

پادشاهي د فقیرانو په دعا شي   زه رحمان ځکه پادشاه شوم چې ګدا شوم

٦ – رحمان بابا خپلې شاعرۍ ته اعجاز وایي، چې دا ده ته امتیاز وربښي، معترضینو ته په ډاګه وایي:

چې منکر پرې اعتراض کولای نشي   دا د شعر دی رحمانه که اعجاز!

۷ – د رحمان بابا په شعر کې مستۍ د کیفیتونو شته‌والی هم شته. د ده په شعر د باګرام تُرک هر ډول خوښي څرګندوي:

هم نغمې کاندي، هم رقص کا هم خاندي   د رحمان په شعر تُرکې د باګرام

۸ – د رحمان بابا په شعر کې حقیقي مینه تجلی کوي، لکه:

ستا د حسن د تعریف له برکته   د رحمان د شعر کوکې په عالم دي

۹- رحمان بابا یو لوی دیني عالم او زاهد و، هغه د قرآن او د حدیث په رڼا کې ویلي:

دا چې زه یې درته وایمه که خدای کړي   په آیت او په حدیث کې به څرګند وي

۱۰ – په شعر کې استعارې، تشبېهات او نور ا دبي نزاکتونه او صنعتونه په ساده او آسانه طریقه بیانوي:

مخ د یار شمس و قمر درې‌واړه یو دي   قد سرو و صنوبر درې‌واړه یو دي

ما رستم د زمانې ولید په سترګو   چې د یار له جوره ژاړي لکه کونډه

۱۱ – اخلاقي تعلیمات د معلم غونډې بیانوي:

ته چې بل په کاڼو ولې هسې پوه شه   دغه کاڼی به دا ستا په لور ګوزار شي

۱۲ – د ژبې رواني، سادګي او خوږوالی پکې له ورایه ښکاري:

ګوره هسې کردګار دی رب زما      چې صاحب د کل اختیار دی رب زما

۱۳ – په شعر کې متلونه راوړي:

چې په ګېډه دې خنبېږي مخ یې ورک شه که د سرو زرو چاړه وي یا خنجر

متل: (چاړه چې د سرو شي، سږی یې په خېټه نه منډي.)

راحت نه دی بې زحمته چا موندلی      غم ښادي ده د دې دهر خور و ورو

متل: (بې زحمته راحت نشته.)

د مکې په بزرګۍ کې خو شک نشته      ولې خر به حاجي نشي په طواف

متل: (د مکې دیدن په زړه ده نه په لید)

که څوک تله د انصاب په لاس کې در کړي خپل ټټو او د بل آس به برابر کړې

متل: (خپل ښه ګڼې د نور وابنه ګڼې)

رحمان هسې بې‌وقوف سوداګر نه دی      چې د دین متاع بدله په دنیا کړي

واړه بې‌وقوف دي چې څوک دین په دنیا پلوري      چېرته پینځه ورځې چېرته عمر جاوېدان

متل: (د دنیا موږ نشته، د عقل وږی)

**د رحمان بابا د شعر ژبه:**

که موږ وغواړو د رحمان بابا د شعر ژبنۍ بڼه په لنډ ډول وڅېړو، نو ویلای شو:

د رحمان‌بابا ټولنیزه ژبه روانه او ساده ده، مېتریک اړخ یې په هره توګه د ټولنیز پښتو شعر غوندې یو څپیز خجیز بنسټ ټینګ ولاړ دی. مفاهیم یې له کومې ډېرې رنګارنګۍ پرته په ساده توګه پېیلي دي. مېتریک اړخ خو یې په هره توګه د ټولنیز پښتو شعر غوندې یو څپیز – خجیز بنسټ ټینګ ولاړ دی. د څپو له پلوه زیاتره شعرونه یوولس څپیز، دوولس څپیز او د خجیز انډول له پلوه نږدې تون یې په درېیمه خجنه څپه پیل مومي. په لومړۍ خجنه څپه ښایي له اتلسو شعرونو تېری ونه کړي او په درېیمه او څلورمه خجنه څپه کومه بېلګه نه لري.

په ژبه ښکلاییزه برخه کې دا هم تر ټولو جوته ده چې د رحمان بابا شعر دومره پېچلتیا نه لري او دا چې تصویر او تخیل یې دومره پېچلی نه دی نو ښکاره ده چې اړوند ژبني استرونه (ویونه، ګړنې، غونډلې...) یې هم ساده او بېابهامه دي.

## ٦ - د رحمان بابا ادبي مکتب

په دې سرلیک کې د رحمان بابا پر مکتب خبرې شوې دي، د رحمان بابا پر پیرانو په خپل مهال او هم په راوروسته دور کې بحث شوی دی.

پوهنمل خالق رشید په دغه برخه کې ویلي وو:

«د رحمان بابا شعر ته په ادبي بهیر او پښتني نړیواله ټولنه کې کلاسیک منل شوی شعر وایي.» دی د استاد حبیبي له خولې د ده سبک داسې موږ ته راپېژني چې د ده سبک او مکتب ډېر جامع دي. د انسان د فطرته ترجماني کوي او د کومې وینا په اساس چې ترې غږېږي صراحت او بلاغت پکې ډېر دی. په لاندې توګه یې لنډیز راوړي:

١ – سبک یې ډېر جامع دی؛ یعنې هر چا ترې پلوي او پیروي کړې ده. مدحه نه کوي، ډېر روان دی. شعریت یې په نوښت ولاړ دی.

٢ – د ده سبک د انسان د فطرته ترجماني کوي. ځکه د ده شعر دغه اړخ تر ټولو د پاملرنې وړ دی.

٣ – مینه او ښکلا د ده د سبک تلپاتې پانګه جوړوي. رحمان بابا په خپل وار په خپل شعر کې نوموړي مفاهیم په شاعرانه احساس، انساني ښېګڼې سره ستایلي دي او د خپل شعر ګوهر یې بللي. د رحمان بابا په سبک د مینې او ښکلا مفاهیم زیات دي.

خدای زما په برخه عاشقي کړه له ازله　　　　خوښ یم په دا برخه که ترخه ده که شیرینه

۴ –  د ده سبک روزنیزې او اخلاقي ښېګڼې لري. د ده شعر په کلاسیک ادبي بهیر کې نوره هم ښکلا پیدا کوي او په دې ډول سبک کې نویوالی مومي.

**د رحمان بابا د سبک پیروان:**

د رحمان بابا دې عالمګیر سبک پیروان هم په پښتونخوا کې خواره دي، چې دلته یې یوازې یو څو کسه له بېلګو سره درپېژنو:

۱ – یونس خیبري: پر لذت شعر به څوک وایي یونسه　　په منځ ځنې خاموش عبدالرحمن شو

۲ – شمس الدین کاکړ: وبه نه رسي په شعر له رحمانه　　که څوک کوي هوس افغان د شعر

۳ – اشرف خان هجری: هغه خوږ زبان د زمانې شکرې لوني هغه واف چې مستقر یې پېښور دی

۴ – مصري خان ګګیانی: شعر د فارسي نه شیرین لکه شکره　　شعر د پښتو که تر فارسي رحمان لذید

۵ – معزالله خان مومند: د تمامې پښتونخوا له شاعرانو　　معزالله د رحمان دی منتخب

٦ – پیرمحمد کاکړ: جوړ په شعر کې رحمان غیب اللسان دی　　په دا څېر نشته هرګز انسان شعر

۷- بېدل هشنغری:چې مشهور یې په پښتو ژبه دېوان دی　　شعراو کې هغه عبدالرحمن دی

۸ – نجیب سربندی: د شعراو سرحلقه عبدالرحمن دی　　زه نجیب د ده د شعر دامن ګیر

۹ – بازمحمد بنګښ: بازخان هېڅ سیالي د شعر له چا نه کړي　　دی تابع د شاعرۍ د رحمان راغی

۱۰ – مرزاخان بارکزی: بل رحمن سرېندی د پېښور دی　　په پښتو یې غزل بِه دی یو تر بله

۱۱- عبدالعظیم رانیزی: د مومند عبدالرحمن صاحب په مثل　　هسې خوږ زبان زما وای درېغه درېغه

۱۲- رحمت داوي: هرڅوک شعر که هم لاف د شاعرۍ کا　　زه قربان تر شیرین شعر د مهمند

۱۳ – عبدالله پوپلزی: د رحمان د شعره بوی د معجزې ځي مرید ژر کاندي له پیره پیره‌دار

**۷ - د رحمان بابا په شاعرۍ کې تصوفي افکار**

دا سرلیک چې د رحمان بابا په شاعرۍ کې پر تصوفي افکارو راڅرخي، پکې د رحمان بابا له عشقه تر حقیقت پورې (له مجازه تر حقیقته) لړۍ باندې بحث شوی دی.

دلته به د هغه د عشقي، عرفاني او تصوفي افکارو ښکاره بېلګې راواخلو:

الف) عشقي افکار:

د ده د دېوان له مطالعې ما ته څرګنده شوه چې دريسوه او اتهڅلوېښت شعرونه يې يوازې عشق ته وقف شوي دي، په څه معنا؟ په دې معنا چې د عشق، عاشق او عاشقۍ نومونه پکې راغلي، لکه لاندې:

عشق له حسنه، حسن دى له عشقه ته نګار زما يې، زه نګار ستا

دا جهان دى خداى له عشقه پيدا کړى د جملهو مخلوقاتو پلار دى دا

تر عشق واړه کار بل په جهان نشته تر همه کارونو لوړ کار دى دا

د مجنون صورت په زړه که رحمان ګوره ستا په عشق خوار و زار دى دا

که ځان ژغورم په عشق کې له عالمه زمانه مې په جهان باندې رسوا کا

عاشقي ده خداى له اوره پيدا کړې که په اور کې مسکن دى څه به خوب کا

هومره صبر دى عاشق سره له کومه چې د نن وعده موقوفه په سبا کا

په خپل عشق کې که څوک بد راباندې وايي زه ګومان کړم چې همه زما ثنا کا

که په ګنج د شاهي فخر شهريار کا عاشقان يې د دلبرو په رخسار کا

د عشق اور چې شمع خود په سر قبول کړي پيمانه به څه محبت د ځان په سوو کا

معشوقې په محبت نه دي چا موندلې مګر خداى يې په رحمان بابا پېرزو

خوب له ياره سره هم د عاشق نه شي چې يې يار په بل ديار وي څه به خوب کا

عشق د نفس له خاصيته منزه دى کار د سترګو به څوک څرنګ په دهان کا

**ب) عرفاني او تصوفي اشعار:**

په دوهي کې به ورنشي ته توحيدهڅو ضمير دې خالي نشي له ا شراکه

***

و آسمان ته لاس د عقل نه رسېږي دا خو عشق دى چې په عرش کرسي قدم ږدي

***

که په ځان باندې قدم کېږدي رحمانه نُه فلکه به دې لاندې تر قدم شي

***

چې مطلب او مدعا د سړي خدای شي     ناست ولاړ یې همه واړه عبادت شي

***

بې له خدایه هر چې دي همه فاني دي     که لذت دی، که زینت په دا دنیا

یو نفس د خدای په یادو والاتر دی     نه د درست جهان دولت په دا دنیا

نه ملکونه د سلیمان په هزار کاله     نه یوه گړۍ طاعت په دا دنیا

***

چې د خدای له معرفته خبر نه دي     همه واړه که بېدار دي هم ویده دي

***

چې دا هسې معرفت دې پرې پېرزو کړ     په رحمان باندې منت د پاک مولا دی

***

په دنیا کې که څه کار دی خو د دین دی     د دې کار په کنندهو آفرین دی

***

څو ترمنځه ورانه نه کړې د تن پولهوبه نه رسې تر خدایه تر رسوله

***

معرفت د خدای څرگند دی په هر څه کې     سترگې وخوره چې دا هونبره نظر نه کا

**۸ - د رحمان بابا د شاعرۍ فورمونه**

په دې سرلیک کې بیا پر هغو فورمونو خبرې شوې دي او څېړل شوي دي چې رحمان بابا پکې خپل فکر وړاندې کړی او په مټ یې ټول عالم ته رسولی دی.

د رحمان بابا د شعر قالبونه هر چا ته څرگند دي.

د کلاسیکې شاعرۍ فورمونه تر ډېره ډېره بریده موږ ته معلوم دي چې کوم وو، هغه قصیده، غزل، مثلث، مخمس، او مسبع وو، خو تر ټولو مهم یې د رحمان بابا علیه رحمه د شعر فورم غزل او بولله ده. د چا خبره د ده قصیدې د فارسي قصیدو ته نه پاتې کېږي؛ زما په نظر دا بوللې دي چې ده پکې طبع آزمایي کړې ده. د ده له ذوق سره برابر فورم غزل دی.

تر کومه ځایه چې ما ته معلومه ده، د رحمان بابا په ټول دېوان کې د پروفیسو محمدافضل رضا له یادونې سره سم ټولټال څلور زره او یو سله و شپږ څلوېښت شعرونه دي. درې زره او څلور څلوېښت یې غزلې دي، پینځه پنځوس مسرې والا یې مخمس، اته نوي مسرو والا یې مسبع دي.

ډاکټر محی الدین هاشمي بیا وایي چې د ده په دېوان کې څلور زره او یو بیتونه دي، چې درې سوه او شپېته یې غزلونه دي. یو مخمس دی، یوه مسبع ده، یو څلوېښت قصیدې دي.

محترم استاد سرمحقق زلمی هېوادمل وایي چې د رحمان بابا د شعر دفترونه د څلور زرو په شاوخوا کې بیتونه لري، چې د کابل په دویم چاپ کې یې څلورزره او دوه سوه او شلو ته رسېدلي او د پښتو ټولنې «دېوان رحمان بابا» از خود رحمان بابا باشد، زیرا شماری از غزلیات و بیت‌ها که در این دیوان گرد آمده مطابق اساسات متن‌شناسی کمبودی دارد. تعداد ابیات دېوان رحمان بابا چهار هزار بیت تخمین شده که استاد کامل هم همین‌را می‌گوید. استاد هېوادمل می‌افزاید: این دیوان شامل غزلیات، قصاید و غزلیات قصیده‌گونه، مخمس و مسبع است.

خو زما د پلټنې له مخې یوه رباعي ده، څوارلس مسبع، یوولس مخمسه دي، درې زره او شپږ اتیا غزلونه دي.

### ۹ - د رحمان بابا په اړه شوې څېړنې

په دې برخه کې هغو څېړنو ته کتنه شوې چې د رحمان بابا په اړه شوې دي، چې دا لیکنې درې برخې لري:

لومړۍ: رسمي څېړنې، چې رسمي سیمینارونه او کنفرانسونه پکې راغلي دي.

له یوې پېړۍ زیاته موده کېږي چې دغسې څېړنې د رحمان‌بابا د اشعارو په برخه کې په زور او درز کې روانې دي او لا اوس هم زموږ ځوان پاخه او زاړه په دې برخه کې لیکنې او څېړنې کوي. مشاعرې پرې جوړوي او هر بیت یې په خپل فکر او د علمي اسنادو په رڼا کې تشریح ، تحلیل او تفسیروي. دغه کار همدا اوس په کوزه پښتونخوا،افغانستان، هند او نورو ګاونډیو هېوادونو کې هم ترسره کېږي.

دويم: مسلکي څېړنې، چې په دې څېړنو کې د دکتورا ډېزرتېشنونه، د ماسټرۍ تېزسونه، د لېسانس مونوگرافونه او د مکاتبو درسي کتابونه راځي.

درېیم: آزادې او ذوقي څېړنې، چې په ټولګیو او نورو پروګرامو کې د رحمان بابا په اړه هر چا د خپل ذوق مطابق لیکنې کړې دي.

**۱۰ - د بابا د کلام مشهورې ژباړې**

په دې برخه کې د هغو ژباړو یادونه شوې چې د رحمان بابا شعرونه نورو ژبو ته ژباړل شوي دي.

دا ژباړې زیاتې له پښتو څخه اردو او انګرېزي ژبو ته شوې دي، چې بیا دې ژباړو ته کتنې شوې دي.

محترم هېوادمل صاحب وايي چې د ده شعرونه د نړۍ ډېرو ژبو ته چې زړې او نوې دي، شوې دي. د مثال په ډول فارسي ته، انګرېزي ته، هندي ته، اینکو، روسي او ډېرو نورو ژبو ته ژباړل شوي دي. ښاغلی استاد هېوادمل زیاتوي: په ۱۵۰ لا زیات کلونه به کېږي چې آلماني ژبې ته هم د ده شعرونه ژباړل شوي او چاپ شوي دي. دغه ترجمې څه د پښتنو یا د غیرپښتنو له خوا ترسره شوې دي.

له پوره دېوان نیولې تر یوه شعر پورې هم د ده ترجمې شوې دي. استاد عبدالحی حبیبي وايي: د رحمان بابا غزلونه اینکو ژبې ته فرانسوي، ایټالوي، روسي، ازبکي، بلوڅي او نورو ژبو ته شوې دي. همدارنګه باید ووایو چې عربي ژبې ته هم څو بیتونه لغة البشتو کې د سعید افغاني له خوا ترسره شوې دي.

# سریزه

ته چې ژغوروې سرومال په عاشقۍ کې

عاشقي داهسې چېرې ده کاواکه

چې داهسې بزرگ میلمه وکورته بیایې

اول غولی پاکیزه کړه له خاشاکه

په دویۍ کې به ورنه شې ترتوحیده

ځوضمیره دې خالي نه شي له اشراکه

داهمه واړه حجاب دی چې لیده شي

نوردحسن بالاتردی له افلاکـــــــــــه

په ظاهرلباس غلط دسړي مه شه

مینځ یې ګوره له چغزۍ اوله متاکه

اولیأ په جهان ځکه ځرګند نه دي

چې پاک ژوي خیسرنغاړي له ناپاکه

هیڅ وفایې له هېچاسره ونه کړه

ترو رحمان به څه مانه کاله افلاکه (۱:۲۹۹)

دعبدالرحمن باباشعردهرپښتون اوناپښتون دزړه اوغوښتنورسا اوژوندی غږدی. له طبیبه نیولې ترادیبه، معلم، استاد، بزګر، باغوان، ملاعامي او... دده له کلام اوله نامه سره آشنادي اودنوړي نوم اوکلام دهرچاترغوږ ورسیدلی اوله سترګویې تېرشوی دی.

له مبالغې پرته دده کلام هرجمله اوهرهکلمه له خس وخاشاکه پاکه ده، اوآن منکرپرې دانتقادګوته نه شي کولای.

چې منکرپرې اعتراض کولای نه شي

دادشعردی رحمانه که اعجاز...

کله چې دعبدالرحمن بابا علیه الرحمه دیوان راواخلې له حمده ونعته نیولې بیاتریاپه دې زړه غواړي په یوه وارېې مطالعه کړي. غزل، قصیده اویابل فورم کې نوموړي داسې توری، موفیمونه، کلمې، جملې اومعناوې پیلي، چې سروپادنور، وفا، ښکلا، مینې، اجتماعي ژورې پوهې، درک، درد اوپه سلگونو نوروناپابه انساني دردونو، غوښتنو، پوښتنو زیری ورکوي؛ هرغزل یې، چې مطالعه کوي په ناخودآگاه ډول په انسان کې احساس راژوندي کوي، ذوق ویښوي اوله ځانه سره وایې دایوبل غزل به وایم اوبیابه یې بس کوم. خوچې کله دباباد‌کلام په بحرناتمام محبت آمیز کلام کې دې دسترگوکسي (تور) ولمبیدل نولحظه په لحظه یې خوندزیاتیږي اوتاته هم ژوند اوچته یوژوندی مفهوم پیداکوي.

دغه شاعرداسې شرین کلام اوخوږژبی شاعردی، چې هرچاسره دهغه په سویه، وق اوژبه غږیږي.

زماپلارارواښادحاجي رازمحمد، چې هم دخپل عصرعالم، ملا، په دیني علومویوه، ملا امام اودخپلې ځمکې بزگرو، په مسجدکې به یې طالب العلمانو، زده کوونکو، نجونواوهلکانو ته هرومرو درحمان بابا دکلام دوه درې پندیه شعرونه ویل، دابیت به یې ډیر وایه:

هرسړی ترخپل مطلبه پورې یاردی

مادخدای لپاره یارلیدلی نه دی...

اوآن سپین ږیرو ته به یې دپیغور په ډول په خندا اوطنزآمیزه ژبه ویل:

دځوانۍ عمردې تېرکړپّ غفلت کې

په پیرۍ کې به څه زیرمې دمحشرکړې...

کله به چې له کرکیلي راستون شو، نو هرومروبه یې اودس تازه کړ، دوه رکعته دضحا (غرمې) لمونځ به یې کاوه، کلام الله به یې وظیفه کړ اوبیابه یې درحمان بابا یو زوړسپین رنگي دیوان راواخیسته اوغزل به یې ترنم کې زمزمه کاوه. لاندې بیتونه لکه حمد اوځینې نوربه یې په وار وار لوستل:

گوره هسې کردگاردی رب زما

چې صاحب دکل اختیار دی رب زما

همګي بزرګواران چې څوک يې وايي

ترهمه وو بزرګواردی رب زما

نه يې هيڅ حاجت په چاپورې موقوف دی

نه دې هيڅا منت باردی رب زما

له نيستۍ يې دهستۍ صورت پيداکړ

هسې رنګ پروردګاردی رب زما...

يا دا چې:

خان، سلطان ددې جهان

آخردومي خوارحيران

دقضاپه ځيل تړلي

په مثال دبنديوان

شيرين ځان ورځخه درومي

نه يې زورشي، نه يې توان

که ښندي مال وملک دواړه

هيڅ رنګ نه مومي امان

نه يې مل، نه يې حامي وي

درديې ورشي په خپل ځان

درمانده ورته ولاړوي

وزيران اووکيلان...

که حقيقت ته وګوروپه پښتنوکې تررحمان بابا وتلی، نامتو، نام آور، جواد، فتی، سخي، ديندارە، عارف، متصوف اوپه اجتماعي نبض پوه اوفنکاره او...

زړونوته نږدې شاعرنه دی تېرشوی او وروسته له دې يې راتلل محال ګڼم؛ په هرډول په اروابنادعبدالرحمن بابا خوپه ټولوپوښتنواوغیرپښتنو ادبي، علمي اوفرهنګي سازمانونو، حلقو، کلیو، محفلونودمشاعرکوونکو په غونډو اوټولنو کې هلته اودلته ډیرڅه شوي، لیکل شوی اوهرچاپې دشعرونوپه اقتضاشعرونو ویلی اودمعجزه کلام په هراړخ یې له خپلوپوهنوسره سم توري، کلمې، جملې اومضمونونه پنځولي، خوبیا هم درحمن باباپه کلام کې ډیره معنوي فرهنګي اوټولنیزه پانګه پرته ده، چې ترډیروراتلونکوپیړیوبه وربانديې ډول ډول غونډې کېږي او خلکوته به درنښتی ژوندپتې ورپه ګوته کوي.

که دانساني ژوند حالت ته دوختونوپه اوږدوکې په دقیق ډول وګورو هرانسان یوه پته لټوي، دغه پته اوآدرس په اجتماعي ژوندکې انساني هدف جوړوي، دسیکالوژۍ دعلم پراساس هدف باید ترلاسه شي څوانسان په یوډول نه یوډول دژوندپه اوږدوکې ارضأشي اودقناعت څادرپه ځان راوغوړوي.

دعبدالرحمن په لاهوتي کلام کې دانساني ستروآرمانونودتعقیبولوپه خاطرلارې اوګودرې په نښه شوی، ځکه نودبیلابیلو وختونوپه درشل کې دمختلفوعمرونودرلودونکي پښتانه اونورانسانان وربانديې دزړه غوټې سپړلي؛ درحمن بابا شعرله خوراګڼواوګورومضمونوډک دی، چې دغه مضمونونه دپېړیوپه درشب کې دمختلفو افکارودخاوندان ګډه فکري غذاګڼل کېږي، دغه غذاهرډول روحي طاقتونه له ځانه سره لري اوهرچاته دهغه دفکرااووجود له جذب سره سم روحي غذایې مواد برابروي.

که له ډیروخبروتېرشودرحمن بابا کلام (شعر) دګلابواونوروښوګلانوپه څیرطراوتونه اوعطرونه پاشي اودغه طراوتونه اوعطرونه دوختونو اوآن پېړیو په اوږدوکې وږمي خوروي؛ دغه وږمې د (عشق) له کور راوړي، چې بیاشوروزوږ تولیدوي.

عشق دبوی په څیر په پټه خوله ښرګند دی

په داچاروکې غوغاڅه په کارنه دی

دعشق دردواړه عاشق لره راحت دی

ددې هسې درد دواڅه په کارنه ده...

عاشقي نادرچارده په جهان کې

ولې بې خدایه سوداڅه پکارنه ده...

درحمان بابا په کلام تحقیقی کارکول دژوندپه پراخه اوخدای بلا برخوکې ګام ایښودل دی. دبابا کلام

اوهربيت که په زرگونو واره دځېرنې په زربین زره زره وګورې، وڅېړې اوتحلیل يې کړې، بیاهم کیفي اوکمي پلوه زرداني اوالماسې شغلې لري، چې رڼايې نه تیتېږي.

درحمن کلام اعجازدی که پوهېږې

هرپاڼه يې ژوند داروده وعالم ته...

یاداچې:

په پسته اونرمه ژبه راته کاږي

دژوندلاره ورکه نه ده، سترګې واکړه

دسوخته عاشق په ځپیرځګراوبه کړه

دګودرپه سرولاړیم لاس دې راکړه...

مابه چې کله دعبدالرحمن کتاب رااړوه، دتاریخونو له استادانوبه مې اوریده، په مکتب اوښونځی کې، چې کله له قاعدې بغدادي، کلام الله مجید پنج کتاب او... وروسته آشناشوم، هغه دباباکلام اوشعروو، په راوروسته، چې په بابا څومره مشاعرې کیدې، محفلونه جوړیدل هرومرو ځآن ورسره بلداوه، داخبره به ماته ډېره مخ ته دریدله، چې ټول په یوه خوله باباته صوفي اوعارف شاعر وایی، داټوله مینه والي له نومورې سره له همدې زاوې ده اوکه نورجهتونه هم لري؟

دغه خبره مې له ډېروکلونوپه زړه کې ګرځیدله، څوخدای (ج) وخت مساعدکړم دډوکتوراتیزس مې په دې برخه کې برابرکړ، نودعبدالرحمن بابا اونورو لیکوالو، استادانو، څېړونکو اوتحلیلونکو ډول ډول لیکنې، مقالې سمینارونه، کنفرانسونه اومستقل آثارمې په دغه برخه کې راټول کړل اوپه عملي ډول مې دبابا دیوان بیت په بیت، پاڼه په پاڼه، جمله په جمله اوکلمه په کلمه وکوت اودامې ومدنله چې دبابا کلام خورا اوزښته ډېرلوی لوی مضمونونه لري، چې دهرچاورسره دزړه له کومې مینه اوعلاقه ده اودغه علاقه نه زیږیږي اونه له منځه ځي.

ماته له عملي مطالعې داپته ولګیده، دباباکلام کې که دانساني ژوندهر راز مضمون نغښتی دی مضمون يې ژوندی انساني پیغام لري. ددغه پیغام دلېږدوسیله دبابا نیک سیرت اوخوږه له شکروډکه ژبه ده.

ماته داپته ولګیده باباعلیه الرحمه که دبشریت ډېراوګڼ مضمونونه اوارمانونه راسپړلي دي، خوداټول يې دیوهمیشني اوتلپاتې رومال اودستمال په زرورینوڅپواولایحوکې په طبیعي توګه فیصدي ډول ځای پرځای کړي

دی زماموخه اوهدف هم داو، چې معلومه کړم، کوم ډول مضمونونه اومطالب دابابای کلام ، په شعرکې ځان په صراحت ښکاره کوي اوانسان اوبیاپښتون دتل لپاره دهغومطالعه اودرنښت ته سرټیټوي دامضمون دژونددااصلي مضمون دژوند داصلي مضمون تومنه اوقوت جوړوي اوهغه (عشق) دژوند اهمیت، ددنیا ماهیت، پیاوړی اوانساني خصلت اوالله پالنه ده، چې داډول ماهیتونه انساني څرګند هویتونه اوتلپاتې کارنامې جوړوي.

دی په خپله وایې:

چې نصیب یې سینه چاکه، زړه افګاروشه

حرص ځکه په فریاداوپه چغارشه

چې نداداعاشقی په عاشق وشوه

دغفلت له خوبه پاځیده بیدارشه... (۲: ۱۵۶)

داسلامي نړۍ پیږۍ ستردیني عالم، فقهي، عارف اومتصوف امام محمدغزالي (      ) په خپل عارفانه اومشهور اثر (کیمیایي سعادت) چاپ، کال په (      ) مخ کې لیکلي: (( هرانسان په تېره هرمسلمان اوومون پّ اجتماعي ژوندکې په یوه دایره کې ژوند دی.  لکه څرنګه، چې عبادت کول یې په لومړې سرکې وجیبه، وظیفه اومکلفیت دی، همدارنګه په معاملاتوکې هم بایددښیګڼې یوسمبول وی.

الله پاک په خپل ښایسته اوسپیڅلي کتاب کې (قرآنکریم) کې فرمایلي:

((وماخلقت الجن والانس الالیعبدون طـ... (ماجن (پیری) اوانسان دعبادت لپاره پیداکړي دي.) (۳:   )

اوپه یوه مبارک حدیث کې راځي:

دباباکلام ته که دزړه په سترګووګورو، دابه راته څرګندنه شي، چې له دایمې خوند، باور، پوهې، نغوتې ګوت نیولې، باطني سپېڅلتیا، معنوي، ښکلا، عرفان، تصوف اوسرترپایه حقیقت، تعزل، اوټولنیزي ځواکمنۍ اونوروبرخوڅخه مالا مال دی. دپیږۍ لږدونکی پیغام لري، چې هم له الله (ج) اوهم دالله (ج) له مخلوق سره مینه پکې ځپې وهي.

سرمحقق داکتراستادسیدمحی الدین هاشمي د (عبدالرحمن باباکلیات ۱۳۹۳هـ، ش کال ۲۰۱۴م کې سریزه اوویې پانګه، په درویشتم مخ کې راغلي دي.

(( دبابامینه له الله جل جلاله سره هم ده اوله مخلوق سره هم، مورته دپند، عبرت، ننګ، نظرۍ، حسد اوکرکې

نه دځآن ژغورنې لار داخلاقي اوروحاني رنځورونوعلاج اودرمل هم رابنيي اوديواجتماعي مصلع په توګه ددينوي اواخروي نيکمرغيو لاري چارې راته په ګوته کوي). (۴: درويشتم )

درحمان بابا کلام دقيقه تولنيز پوهنه ده، هغه څه پکې خوندي دي، چې دټولنپوهنې په سلګونوډاکترۍ، ماستري تيزسونو، مونوګرافونو اوګڼ شميرنړۍ کتابونوکې نشته. عليم اوخبيرخدای (ج) دداسې ظريفانه پوهې لورينه وربانديې کړې ده، چې په يو وارمطالعې سره دسړی له سره سد انوري، دتفکر، تعقل، قناعت، پوهې، حب الوطنۍ، مينې اومحبت، ننګ، په ځان ويساينې او... حوض کوثرکې غوپه کېږي اودتل لپاره له کار، مينې او وړتياسره مل اوملګرى کېږي؛ دقناعت اومستغني والی او بې نيازۍ يوه بيلګه:

که دعقل څه اثرلرې وسرته

لاس په نام مننه دهرسړي ورته

په نظردهغوخاورې سره زرکېږي

هرچې نه کوي نظروسيم زرته

بې منته جام دزهروڅښلی ښه دی

نه هغه چې متن باروي وکوثرته... (٦: ۱۸۴)

له دې څېړنې څخه زماهدف دباباد عرفاني اوتصوفي افکاروشننه، تحقيق اوتحليل دی، څوداوښيم، دانساني ژوند دعقايدو اوباورونه دغه برخه په رښتياپه نوروبرخوچربه اوغوړه ده اوکنه؟

دباباشاعري سراپايه ښکلا، ښکلا، ښکلا، مينه، باور، تواضح او اجتماعي توانمدي ده، څومره يې، چې څېړي ځلانديږي، ځکه نوزه له وس سره نوې څېړنه وربانديې کوم اوپه دغه برخه کې له الله رب العزته څخه دځان روغتيا، دخدای (ج) رضااودقلم توانای غواړم، خوداورسره غبرګوم:

ستادښايست ګلونه ډيردي = ځولۍ مې تنګه زه به کوم يوټولومه (۷:   )

## دڅېړنې (تحقيق) موخه:

انساني ژوند دهدف پرمدارچورلي. په ژوندکې بريالي انسانان ديوسپيڅلی ارمان اوهدف له برکته ددنښت اولوړتياومعراج ته لوريږي.

لکه چې معلومه ده د يو ښه کار پيل يو هدف لري، همداسې پورته ونياووې دليکوالی بيادڅېړنې پرمهال

دډیرارزښت وړدي.

هره څېړنه (تحقیق) دیوې موخې (هدف) دترلاسه کولوپه خاطرترسره کېږي؛ څېړنه (تحقیق) نوی شی اوابتکارونه دی، بلکې تحقیق په زړوکې دنوي مرام لټول اومحقق کول. څنګه چې تحقیق د (حق) له کلمې اخیستتل شوي، له همدې امله هرتحقیق اوبیاددکتورا ډیزربشن (تیزس) یوه نوې باارزښته څېړنه ده، چې دهغه په واسطه کولای شودپام وړموضوع کې یوه پاتې اوپټه غوټه پیداکړواوهغه راوسپړو اودتحلیل په نورانیت یې نوراني کړو.

په لیکوالۍ اوبیاڅېړنیزکار اوبهیرکې هدف ډیرستررول لري، داځکه چې هدف اوموخه محقق خپل مرام ته رسوي. دتحقیق کارله پوره لانجواوستونزوډک دی. کېدای شي کله څېړونکی په یوه کلمه پسې کتابونه، ولټوي اوپیدایې هم نه کړي. کله په یوه لویه موضوع ریسرج کوي، حل یې پیداکوي.

دتحقیق پیاوړتیاپه دوو توکواوعناصروپورې اړه لري، یوداچې محقق څومره دتحقیق په کارکې مهارت لري، مواد دموضوع دتحقیق لپاره له کومه کوی؟ مطالعه یې کړې کنه؟ مسلکې محقق دی، که شوقي.

بله خبره داده چې دتحقیق مواد وحلاک یې کوم یودی؟ ددوکتوراپروګرام هرمحصل اوفارغ له دودسره سم په یوه موضوع کارکوي، چې دتحقیق وړ کاربرجسته کړي اوپه کلي ډول یوې، دوو اویاڅوپوښتنوته قانع ځواب پیداکړي. ماچې کله په دې موضوع (رحمان بابا متصوف شاعردی، که دټولنیزو افکاروخاوند؟) دتحقیق هڅه وکړه، ډیرځله انګیزه یې داوه، چې له ډیروډیرو محقیقنولیکوالواونظروالو مې اوریدلي و، چې بابایو عارف اومتصوف ، هغه یوصوفي اوبادیانته شخص تییرشوی دی او... خونن سباموږ دعارفانووالي اومتصوفتوب لپاره شرطونه لرواوهغه داچې صوفي باید په یوه طریقه پورې اړه ولري اویاداچې مرید وي. دعرفان اوتصوف افکارواوپه دغه علم پورې جزیات ټول درحمان بابا په وزین کلام کې پیداکوو، خودده دصوفي توب دمناسب ډیره پته نه مومو. په بابا خومخکې او وروسته دخدای بلاڅېړنې اولیکنې شوي دی، هرچاپکې له خپلې پوهې اوذوق سره سم مواد وباندې لیکنې اوڅېړنې کړې دی اوترډیره بریده یې موضوعات راسپړلی هم دي. ماهم وغوښتل دباباد دعرفان اوتصوف اودنوموړي دصوفیانه شخصیت اوربنتیاینې په اړه څېړنه وکړم، څو دې پورته پوښتنې حقیقت ښکاره کړم.

ما د خپل هدف دسپیناوي په خاطر مختلفو دیوانونو، کتابونو، مقالو، دسیمینارونو مجموعو او ساحوي ریسرج ته ملاوتړله اوترډیره بریده مې که خدای کول دغه هدف اوموخه راوسپړله اودیوتیزس په ډول مې برابره کړه.

## دځېړنې میتود:

هر څېړنه یوه مېتود ته ضرورت لري او بېمېتوده څېړنه کره او بشپړه څېړنه نه نوي. نو زما د دې څېړنې د مېتود او ډول په اړه باید ووایم چې:

زما د څېړنې مېتود تشرېحي دی.

د څېړنې ډول ترکیبي (کتابتوني او ساحوي) دی. یعنې په کتابتوني ډول کې مې له ګڼو کتابونو څخه کار اخیستی دی؛ دغه کتابونه د رحمانبابا کلیات، دېوانونه او دغه راز مختلفې مجلې او لیکنې او مقالې وې چې ما ترې ګټه اخیستې ده.

په ساحوي ریسرچ کې مې له ځینو لیکوالو، استادانو سره مرکې کړې او د هغوی نظریات مې په دغه برخه کې راوړي دي او تر ډېره بریده ما ته ثابته شوې چې هغوی د رحمانبابا شعر الهامي کلام بولي او داسې کلامی دی چې د پېړیو پېړیو انساني لارښوونکي مواد پکې پیدا کېږي او دی یې د ګڼو عرفاني او تصوفي افکارو ترڅنګ د ګڼو اجتماعي نظریو خاص استازی بللی دی.

## د څېړنې شالید:

د رحمان بابا په اړه په ډېرو کتابونو کې لیکنې راغلې دي او هم په جلا ډول مقالې لیکل شوې دي. د دکتورا ډیزرټېشنونه، د ماسټرۍ تېزسونه، د لېسانس مونوګرافونه او نور اکاډمیک او ذوقي کتابونه او رسالې ورباندې لیکل شوې دي.

د یادولو وړ ده چې د رحمانبابا په برخه کې له وختونو راپهدېخوا څېړنیز سیمینارونه کېږي او شوي دي. په ۱۳۶۹ لمریز کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د عبدالرحمن بابا د دوه سوه او اتیایم تلین په مناسبت یو سیمینار جوړ کړ چې بیا وروسته د دغه سیمینار د مقالو مجموعه «د عبدالرحمن بابا مومند یاد» په نامه ښاغلي استاد هېوادمل ترې د مقالو ټولګه جوړه کړه، چې په دې ټولګه کې د مختلفو علمي ځایونو پیغامونه او د مختلفو لیکوالو مقالې خوندي دي. د دغو مقالو په برخه کې په خپله زلمي هېوادمل د عبدالرحمن بابا مومند په ژوند لیک یوه ډېره غنیمت لیکنه کړې چې ډېره غني راټولونه ده. ښاغلي هېوادمل «سخن چند پیرامون زندگینامه عبدالرحمن بابا مومند» تر سرلیک لاندې د ده په برخه کې لرغوني باګرام ته داسې اشاره کوي:

«قدیمی‌ترین تذکره ایکه پیرامون عبدالرحمن بابا به ما معلومات نسبی مهم، بسنده و ارزشمند عرضه می‌دارد، همانا تذکرةالشعراء محمدهوتک است، به نام (پټه خزانه). این تذکره بین سالهای ۱۱۴۱، ۱۱۴۲ هـ ق نوشته شده»... پټه خزانه د رحمان بابا په برخه کې ډېر معلومات زموږ په لاس کې راکوي، د زلمي هېوادمل په وینا په دغه تذکره کې د رحمان‌بابا د وفات کال هندسي عدد۱۱۱۷ هـ ق راغلی دی، چې غلط دی، ځکه د ۱۱۲۳ هـ ق کال ځینې پېښې د ده په دېوان کې راغلې دي. د رحمان‌بابا د وفات کال زموږ درانه استاد ارواښاد اکاډیمېسن عبدالشکور رشاد حل کړی دی او هغه یې د یونس خیبری له مرثیې څخه چې د رحمان بابا په وخت کې ویل شوې ده. رحمان بابا په ۱۱۲۸ کال وفات شوی. دغه غلطي په پټه خزانه کې د هندي اعدادو له مخې رامنځته شوې او د تذکرې دکتابت په کار کې د کاتب عجله وه. باید ووایو چې هغه سهوالقلم و، نه سهوالفکر. ښاغلی استاد هېوادمل د پټې خزانې همدا یوه اشتباه ښیي او نور نو د رحمان‌بابا په برخه کې د پټې خزانې قول پوره حسابوي. پټه خزانه د اول ځل لپاره په ۱۳۱۴هـ ق کال خپره شوه. موږ په دغه برخه کې له دوه ډوله لیکنو سره مخامخ کېږو: یو د پټې خزانې له نشرېدو د مخه او بل ترې راوروسته.

هغه تذکرې، څېړنیز آثارو او ادبي تاریخونه چې د رحمان‌بابا په برخه کې لیکل شوي، په لاندې ډول دي:

۱- تاریخچه سبک‌های اشعار پښتو؛

۲ – پښتانه شعرا، لومړی ټوک؛

۳ – تذکرة الشعراء،

۳ – د پښتو ادبیاتو تاریخ،

۴- پښتونستان،

۵ – ادبي جوهر،

٦ – ادبي سوغات،

۷ – اټک کی اسپار،

۸ – ادبیات سرحد،

۹ – د پښتانه شعرا تخلیص،

۱۰ – پښتو شاعري،

۱۱- پینځه ورونه، د فضل‌احمد غازي،

۱۲ – پشتو زبان اور ادب پر ایک نظر،

۱۳ – پشتو ادب کی تاریخ،

۱۴ – تاریخ ادبیات مسلمان پاکستان و هند،

۱۵ – روهی ادب،

۱٦ – پښتو غزل،

۱۷ – ادبي څېړنې،

۱۸ – تالیق کلید افغانی،

۱۹ – د ګلشن روه مقدمه،

۲۰ – سرحد مشاهیر،

باید ووایو چې د ادبیاتو تاریخ، درسي کتابونو، د مکتب په کتابونو کې هم د رحمان‌باب په اړه معلومات راغلي دي. کولای شو په دغه برخه کې د پروفیسو عبدالمجید لیکنې، د مولانا عبدالقادر لیکنې، د ۱۲۹۲ د مرحوم بېنوا لیکنه، د حبیب‌الله رفیع، سیدرسول رسا، مجاوراحمد زیار، مولانا عبدالقادر، دوست‌محمد کامل مومند (رحمان بابا) ، عقاب خټک او نورو ډېرو لیکنې یادولی شو.

د پروفیسو محمداعظم اعظم «رحمان بابا د ولس شاعر»، د پروفیسور افضل رضا «د رحمان بابا طنزیه شاعری»، د داورخان، محمداصف صمیم لیکنې، د رحمان ادبي جرګه، عارف رحمان، په تېره څه کم یوه پېړۍ کې ډېر شمېر آثار په دې برخه کې لیکل شوې دي. ختیځپېژندونکو هم ډېر کتابونه لیکلي دي، چې د دغو ټولو راوړل دلته ډېر سخت کاردی.

په پښتونخوا کې لومړنی سړی دوست‌محمدخان کامل مومند دی چې د «رحمان بابا» تر نامه لاندې کتاب یې ورباندې کښلی دی. همدغسې قلندر مومند، سیدافضل رضا، عبدالحلیم اثر سالازي، ډاکتر راج‌ولي شاه خټک او نورو کار کړی دی.

په افغانستان کې ما ته رامعلوم وروستی کار د سیدمحی الدین هاشمي دی چې د رحمان بابا کلیات یې ترتیب کړی دی او په پښتونخوا کې شهاب عزیزالله خان دی چې «د رحمان بابا په شاعرۍ کې د قران‌کریم اثرات» کتاب یې لیکلی دی.

لنډه دا چې د رحمان بابا له دیوان څخه څرګندېږي چې له فارسي او عربي سره یې هم آشنایي درلوده. ځینې وايي چې رحمان بابا صوفي شاعر و او صوفیانه اشعار یې ویلي دي، خو د مولانا د او سنايي په څېر صوفي نه و، یوازې عبدالحلیم اثر وايي چې له «کبرویه طریقې» سره یې بیعت کړی و. نور که چا ویلي چې رحمان بابا متصوف شاعر و، نو د ده په کلام باندې یې ډېر باور کړی.

دغه راز یو بل سند زما لاسته راغلی چې هغه د استاد ډاکتر سیدمحی الدین هاشمی له خوا برابر شوی کتاب دی چې ده پکې داسې لیکلي:

«رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ ق کال د پېښور ښار په جنوبي اړخ بهادر کلي کې پیدا شو، د عبدالستار زوی و، له ملامحمدیوسف یوسفزي څخه یې زده‌کړې وکړې. **او دغه راز زیاتوي: د رحمان‌بابا په باب له ادبي او تاریخي څېړنو څخه څرګندېږي چې لومړني علوم یې په خپل کلي او شاوخوا سیمو کې لوستي او بیا په ځوانۍ کوهاټ ته تللی او هلته یې د لوړو دیني علومو د زده‌کړې ترڅنګ د نومیالي صوفي ، عارف او روحاني شخصیت حاجي بهادر کوهاټي څخه طریقه او لاسنوی کړی، بېرته خپلې سیمې پېښور ته راغلی، د خپل کلي پر ځای یې په هزارخانه کې هستوګنه کړې او د ژوند تر پایه یې دلته شپې او ورځې سبا کولې.**» خو استاد محی‌الدین د ده د طریقې نوم نه اخلي!؟

## مننه او کورودانی:

لومړی له الله جل جلاله څخه شکرګذاره یم چې ما ته یې په ناروغۍ کې هم د عمر دا موقع راکړه چې د خپلې درنې څانګې د درنو استادانو او پیاوړیو لاربښودانو تر مشرۍ لاندې د دوکتورا درس ته دوام ورکړم او بیا د دکتورا ډیزرټېشن ولیکم.

په سر کې له خپلو درنو لاربښودو استادانو پوهندوی دکتور زرغونه رښتین زېور، سرڅېړونکي دوکتور سیدمحی‌الدین هاشمي او سرڅېړونکي دکتور خلیل‌الله اورمړ څخه ډېره مننه کوم چې هر وخت یې ما ته د تلېفون په لیکه او مخامخ د لاربښوونو پېرزوینه کړې ده. دغه رنګه د پښتو څانګې د باشخصیته استادانو سرڅېړونکي زلمي هېوادمل، پوهاند صابرخان خوېشکي، درانه آمر پوهنوال دکتور بخت‌میر وزیري، پوهاند

دکتور یارمحمد یزال، پوهاند دکتور لعل پاچا آزمون، پوهاند دکتور محمدرفیق رفیق، پوهنوال دکتور بریالي باجوړي، پوهنوال محمدقسیم چمتو، پوهنوال مکلمل الکوزي او د ځانګې ځوان دکتور پوهنوال اجمل جان ښکلي او د ځانګې د ټولو ځوانو استادانو څخه مننه وکړم.

همدارنګه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د مشر دکتور عبدالظاهر شکیب او هغوی چې له ما سره یې د ساحوي څېړنې په برخه کې مرسته کړې ده، مننداوی یم.

چا چې له ما سره د دغه اثر په ټایپ، راټولولو او برابرولو کې همکاري کړې ده، لکه عبدالحق سلامزوی، عصمت الله صالح، څارنوال حاجي اختیار (زما زوی) مننه کوم او په څنګ کې له خپلې درنې کورنۍ څخه چې زما له پټکو سره سره یې ښه پاللی یم، په تېره بیا سپېڅلې ګل‌ځانګې (زما لور) څخه چې د خپلو درسونو سربېره یې زما پالنه کړې ده، ډېره مننه کوم.

# ۱- دعبدالرحمن بابا پېژندنه

اې رحمانه دبلبلوژبه زده کړه

پس له هغه په صفت دگل اندام شه...

دبابا پېژندنه ډېرځله دده دکلام له ښکلااوجوهره ښکاره ده، خولکه څنگه چې هر ((څه)) او ((شي)) نوم لري اودهغه هويت ښيې، نودرحمان بابا هويت اوشخصيت له بيلابيلوليکنواوڅېړنوراڅرگندولای شو.

يوه خبره ديادولو وړده، چې دباباډزيږيدلو اومرگ نېټو اودوخت په رخه کې اوسنۍ ليکنې اوڅېړنې لکه دپټې خزانې په ډول نه دي. زه غواړه درحمان بابا دزيږيدلو اومړينې پخواني روايتونه او اوسنۍ صورت حال دواړه راوړم اودپوره دلايلو له مخې دغه موضوع برجسته اومحققه کړم.

الف- لومړی- له پټې خزانې سره موافقين:

## ۱ – ۱ درحمان بابادزيږيدو په باره کې پخواني روايتونه:

پټه خزانه، دمحمدبن داود هوتک دپوهاند، علامه استادعبدالحی حبيبي چې دزلمي هيوادمل په زياردعبدالکريم پتنگ په اهتمام دادبياتو اوبشري علوموپوهنځی، څلورم چاپ، ۱۳۵٦ کال، ۴٦، مخ) کې ليکلي: (( ذکردمحبوب سبحان عبدالرحمان عليه الرحمه دمحمد رسول هوتک عليه الرحمه په خپل کتاب کې کښلي دي، چې دعبدالرحمان بابا په قوم مهمندو، اوپه پيښورېې ژوندون کا، پلارېې عبدالستارنوميده اوپه بهادرکلي کې ديره و؛ عبدالرحمانن بابا په سنه (۱۰۴۲) هجري پيداسو اوله ملامحمد يوسف يوسفزی څخه يې لوست وکا اوله هغه څخه يې فقه اوتصوف زده کړل اوبياولاړ کوهاټ ته، هلته يې بستونه ولوستل اوښه عالم شو، په ځوانۍ يې دنياپرېښوله اواکثربه په غروگرځيدئ اوکله ولاړ دهندوستان پرخوا اودخدای عبادت به يې کا، ددنيا په کاروبه نه مشغول کيدئ. عبدالرحمن بابا يوعالم رباني او عابد سړي واوډېرشعرونه يې دخدای تعالی جل جلاله، په محبت کې وويل اوپه پښتو کې په (( رحمان بابا)) مشهورشو؛ په سنه (۱۱۱۸) هجري وفات شو اوخلک تراوسه دپيښورپه هديره کې زيارتونه کا، اودده شعرونه لولي، درحمان بابا دبيتو اوغزلو ديوان سته اوډېر ډېرپيداکيږي)). (۸: ۴٦- ۴۷)

دناامیدۍ خبره داده چې دعبدالرحمن بابا غوندې مشهور و څېرود (دزيږيدو اومړينې) په برخه کې هم حقايق جوت اوښکاره نه وي؛ زه دې خبرې ته متوجه يم پښتانه واولاد (زوی وي، که لور)دکښدو نېټه نه ياداشت

کوي؛ داخبره چې درحمان بابا پلار به لوستی ( باسواده و، اوکه نه ؤ اویاداکارخوښیده چې داولادونودکېدنګ تارخ یاداشت کړي.

زه ددغه کارتحلیل داسې راوړم:

اول، یومدني کاردکولولپاره عمومي فضأ ډېره مهمه ده، دویم، فردي اواجتماعي کلتورباید له یاده ونه باسو. دریم، مسول افراد اوفرهنګي کمیټې ته لازمه ده په خپل وخت کې داډول خبرواوکلتوري میراثونوته پاملرنه وکړي اودعمومي ټولنې اراده تمثیل کړي.

څلورم، داډول اتوګرافی یا د افرادو په شخصی ژوند پوری تړلی حقایق باید د هغوی کورنۍ د سبا ورځی مسؤلینو ته وسپاری.

پینځم، له اولاد او د هغوی د ژوند له حالاتو سره مینه فکر کوم د شلمی پیړۍ په دویمه او دریمه لسیزه کی باب شوه.

شپږم، زه به هڅه وکړم د بابا د ژوند (زیږیدو او مړینی) حالات د معتبرو ماخذونو په پاڼوکی پیداکړم او په خپل تیزس کی یی ځای پر ځای کړم او له تاسو سره یی شریک کړم.

ب- دویم- د سیمی او پښتو ادب وتلی، منلی او لوی استاد عبدالحی حبیبی په خپل اثر (د پښتو ادب لنډ تاریخ، د پوهنتون د دریم او څلورم ټولګیو له پاره، ۱۳۸۷ ش کال، ۴۱) مخ کی لیکی! ((په پښتو شاعری کی بل د پیژندنی وړ او لوی صوفی شاعر عبدالرحمن بابا د عبدالستار زوی په قوم مومند دی، چی پښتانه یی رحمان بابا بولی. په (۱۰۴۲ هـ) د پیښور په جنوبی خوا کلیوکی پیدا سوی و، د بهادر د کلی دی، چی د پیښوره تقریباً دري میله دجنوب طرف ته پروت دی اوپه دغه علاقه کې درحمان بابا ځای هزارخانه نومېږي. دپټې خزانې دمؤلف روایت دی، چې رحمان بابا دملایوسف څخه فقه لوستلې وه؛ دده دوفات کال د (۱۱۱۹هـ) په شاه اوخواکې ټاکل کېدای سي)). (۹:۴۱)

دادرسته ده، چې درحمان بابا غوندې دفکراوعقیدې امپراطورشاعرپه طرزفکر، باورونو، پندونواوژوندلارو باندې پوهان ډېروغیږي، څویې دفکرپلوشې دانساني اوبیاپښتنې ټولني ژوندتیارې روښانه کړي، خولیکوالو، پوهانو، څېړونکواوادبي تاریخ کاږونکوته هم بویه، چې دبابا دپیداکیدو، ژونداومیړنې دنیټوپه کارکې هم دقت وکړي.

زماله نظره څوعوامل په دغه برخه کې ځان ښکاروي:

الف- دبابادکورنۍ اوپښتنوبېرته پاتې فکري حالات

ب- دټولنې عمومي فضأ

ج- دفرهنګي څېرواو ټولنوته شتون

د- په خپله دليکوال اوشاعرعدم علاقمندي؛ رحمان بابا يوله همداسې خلکووو، چې په ځوانۍ کې يې لاله دنيايې زرق وبرق سره مينه ډيره نه وه او...

دليکوالۍ په تحقيقي پراخ اوغني بهيرکې ديوې سنې، کال، لغت، فونيم، مورفيم، کليمي اويايوحقيقت موندل دومره سخت کاردی لکه په مدني قانون کې دمحاکموپريکړې اوفيصلې!!!

دبابا زيږيدواومړينې په برخه کې نظرې دومره ګڼې دی، چې په مطالعه کولواوڅېړلوبه يې اصلي هدف کاردمحقق له ياده ووځي. ماته دډيرو ديوانونوله سريزوکتلو اوتاريخ لوستلو داپته ولګيده، چې ترډيره بريده دبرواوکوزو ليکوالو اوڅېړونکو تقريبي اختلافي نظرې موندنې اونه موندې دبابا عليه الرحمه د (پيداکيدواومړينې) په برخه کې دي، زه به په دغه برخه کې تحقيق ته دوام ورکړم اوکه خدای (ج) کول صحت اوسمه والی به درته وړاندې کړم، خوبياهم درحمان بابا داخبره تائيدوم چې:

ترقيامته دغه لس اودغه شل دی

پيدانه کړهيچاشماردې دنيا...

ج- دريم- خدای بښلی پوهاند دوکتور زيورالدين زيور په خپل اثر ( دپښتو ادبياتو تاريخ منځنۍ دوره، ۱۳۹۰ هـ، ش کال په (۲۴۲) مخ کې کاږي: (( رحمان بابا په قوم مومند، دعبدالستارزوی اوپه (۱۰۴۲هـ) کال دبهادرپه کلي کې زيږيدلی دی )). (۱۰: ۲۴۲)

د- څلورم:

= دعلومواکاډمۍ ځوان محقق دوکتورسيدمحی الدين هاشمي، دعبدالرحمن بابا کليات، ۱۳۹۳ هـ، ش کال دسريزې په دريم مخ کې راوړي:

((...دپښتوخوږژبی اوپياوړی شاعرعبدالرحمن بابا رحمت الله عليه په ۱۰۴۲ هجري قمري کال دپيښور ښارپه جنوبي اړخ کې پروت بهادرکلي کې سترګې نړۍ ته پرانيستې وې، پلاريې عبدالستار، مومندو پښتني قبيلې ته منسوب وو)) (۱۱: دريم)

ديوتحقيق دمستندکولولپاره کله ډيرودلايلو، پلټنو، ګرويږنو خبرواوآن تحليلونوته اړتياپيداکيږي، لازمه ده


ښېړونکی دمعتبرو اول لاس ماخذونوته مراجعه وکړي.


داخبره دیادولو وړده، چې دتحقیق په کارکې کنجکاوي اوریسرج ددغه نهیرماهیت زیاتوي، خوډېرشک اوگمان کول هم موضوع د عندي انتقاد سرحد ته رسوي. درحمان بابا دزیږیدو، ژوندحالاتو اومړینې په باره کې خیروي نورفاکتوته اونظرې هک رااخلم اوخپل تاریخي اوعقلي اوعرفي دلایل ورسره راوړم.

ذ- پنځم: څلور، پنځه لسېزې مخکې زموږ دپام وړ ښېړونکي استادحبیب الله رفیع ( درحمان بابا ژوندپېژندنه اودیوان) ترسرلیک لاندې خوراول اول لاس معلومات په یوه غنیمته سریزه اوښېړنه کې رااخلي، چې دډېرو برخو راوړل یې دلته دتحقیق دارزښتمندۍ اوپوره والي زیری ورکوي:

((ټبر، کلی اوزوکړه: رحمان بابادپښتنو روایتي سلسله النسب له مخې (سړبن) په سړبن کې (غوریاخیل) په غوریاخیلوکې (مومند) په مومند کې (ردویزی) اوپه دویزیوکې ابراهیم خیل دی.

راوړتې دی په مومندوکې (غوریاخیل) بولي، خوڅرنگه چې مومند دغوریاخیلو ښاخ دی، نوځکه نوموړی ختیځ پوه تېروتلی دی اودخبرې دښې سپیننتیا به لپاره له (مومندوترسړبن) پورې شجره دلته وکاږو:






زموږدژبې اوادبی وتلی لیکوال، شاعراوخېړونکی درحمان بابا دژوند، ځای پلارګنی اوپه تېره زیږیدوپه برخه کې خبرې نورې هم غړوي اودلیکوالی له اخلاقي اصولوسره سم دمختلفومنتقدینو نظریات رااخلي اودخپل تحقیق سپیناوی دمنتقدینو دخبرواو ماخذونه پربنیادکوي؛ لکه دعبدالصمد خان نوم اوکتاب نوم راوړي وګورئ لاندې خبروته: ((رحمان باباپه بهادرکلي)) کې چې له پیښوره څخه درې څلور میله لرې جنوبي اړخ ته پروت دي؛ عبدالستارمومندکره وزیږیده، پټه خزانه دمحمد رسول کلاتوال د ((بیاض؟)) له مخې درحمان بابا دزیږیدوکال (۱۰۴۲هـ، ق، چې دشمسي له (        ) اودمیلادي سنو له (        ) کال سره سرخوري؛ دزیږیدوکال ښیي)) (۱۲: دریم)

حبیب الله رفیع په اخلاقي جرت دتحقیق له اصولوسره سمه داخبره ډاګیزه کوي اووایی: ((که څه هم ځینو کسانوهڅه کړې، چې داسمه ونه بولي (دبابادزیږیدوکال) خصوصاً ښاغلي کامل مومندپه خپل ((رحمان بابا)) نوي تحقیقي اثرکې زیارایستلی، چې داټکلونوله مخې ددې کابل په څنګ کې ډیرنورکلونه وړاندې کړې دی خوبریالی شوی نه دی اومجبورشوی، چې دخپل په پای کې بیاهم دده زیږیدل دهمدې کال شااوخوابولي. جالبه ده (هم يې زړه کبړي، هم ساړه).

۱- ماته هم دځینوخېړونکواومنتقدینوداګډوډې خبرې اوبې سنده شکایت عجیب وغریب ښکاري داستادرفیع داخبره، چې شکاکان په اټکلی ډول دپټې خزانې داسنه (۱۰۴۲هـ ق) نه مني!!!

تحقیقي بهیرپه اټکل، حدس وګمان نه ځوابېږي، بلکې دتحقیق په ګرمه محکمه کې پاخه سندونه اوتحلیلونه غواړي.

۲- دویمه خبره داده، چې په بهادرکلي اودهغه دپلارپه نامه توافق لري، خودبابا دزیږیدوکال کې شک کوي. له مبالغې پرته دعلامه استادعبدالحي حبیبي له خواددغې سنې تائید د (کاڼي کرښه) ده

که چېرې دښاغلي ارواښادمومند دغه شک لرزیږشو، ترلږبریده (حق په جانب) دی، داځکه چې دمحمد

رسول په (بیاض) گنګه حواله ورکړشوې ده.

په څېړنیزه دنیاکې (هغه مهال شک دحقیقت بهیرمتاثرکوي، چې سندونه هوبه هوونه ښودل شي. عبدالصمدخان په خپل اثر ((رحمان بابا)) دانسانیت شاعر. ۱۹۷۴ ع، ۶۱مخ کې راوړي: ((رحمان بابا په ((بهادرکلي)) کې، چې له پېښوره درې څلورمیله لرې دی؛ اوجنوبي اړخ ته پروت دی دعبدالستارکره وزیږده)). (۱۳:۶۱)

اوس نوګورو، چې دعبدالصمدخان اوکامل مومند داشک اوتردید ددوی پرمزاج اوناموافق طبیعت راڅرخي اوکه په تحقیقي اسنادو پورې اړه لري؟

ماچې ترکومه ځایه ددوی لاسوندونه اواقوال ولیدل، دقیق ارقام پکې نشته، خودچاخبره دڅېړني تش په نامه عندي دیمواسې پرمدار راچورلي.

که په دغه خبره لړنوردتحقیق دنیا کې تم شو، راته ښکاره به شي، چې دادهغوی یوډول ادبي هنډي اوغیرخوشبینانه بې سترګو ړوندادبي دی، چې په رڼاورځ دادبي آسمان پرنیلي فضأ دورځې تورڅاپونه ګوري!؟ اوداخبره ډېره مهال ده.

آن دپښتونستان یوبل مؤلف اروانښادښاغلي عبدالحلیم اثرسره له دي، چې ګټه کې پټه خزانه یوډېرباوري کتاب بولي. ښاغلی عبدالصمدبیاهم (دوه پښې په یوه موزه کې اچوي).

په دغه سنه شک کوي اودخپل شک دحقانیت اوادعادثبوت لپاره هیڅ مأخذنشي وړاندي کولي... دپښتو متل دی، چې (تش بوس بادوي)

اودفارسي دري دمثل پربنیاد (ګره به بادمی زنند...)

نومړی (عبدالصمدخان له کره معلوماتوپرته داوایي: ((زمادمعلوماتو (؟) له مخې رحمان بابا د۱۰۳۸ هـ، ق کال دجمادالثاني په (۲۱) نیټه دجمعې په ورځ دپېښور له مضافاتوڅخه په بهادرکلي کې وزیږید)) (دانسانیت شاعر) دعلامه استادحبیبي دتأئید نظر (۱۰۴۲هـ، ق) اودعبدالصمد دشکاک نظر (۱۰۳۴هـ ، ق) ترمنځ ((څلور)) کاله توپیردی. پټه خزانه اوله هغه سره موافقین په ډانګ پیلی ډول مأخذوړاندې کوي، خو له پټې خزانې سره مخالفین دادبي څېړنې دحقیقت په حاشیوکې لګیادي!!!

دپښتودترخوپخوانیواو اوسنیو تاریخونوپربنیاد په وار وار (پردیو، ظالموبې کلتوره سوپرطاقوتونو، چې کله دپښتو پرمقدساتو اوسپیڅلوحریمونوتیرې کړي، نه یوازې بې لوټ او مادي تالان کړی، بلکې روایتی، تاریخي

اوکلتوري او...)) شتمنې هم له خاوروسره یوځای خاورې کړیاوتاریخ.

تاریخي اوادبي اسنادمدارک، سندونه، کتابونه اویاداشتونه یې په لوی لاس دخپل استعماري قهراوغصب په نمرودي اورکې سوزولي هم دي.

داچې بابا هوتک (٦٦١: ٧۴٠هـ ق لاډیرپخواویلي و،...

په سورغربل راته نن اوردی

وگرپه جوړراته پیغوردی

پرکلی، کورباندې مغل راغی

هم په غزني، هم په کابل راغی

غښتلیوننگ کړئ دامو واردی = مغل راغلی په تلواردی

په پښتونخواکې یې ناتاردی = پرکلي کورباندې مغل راغي... (۱۴: ۵۴٦)

نوداخوخدای مه کړه هسي چټې دلیونتوب ناره نه وه، بلکې دالومړنۍ دحماسیه ډکه ناره اوترانه وه، چې دپښتنو پرکلی، کوره مقدساتو اواستوگني)) پرپاک ماحول مکاراوکلتورفنا کوونکی دښمن راغلی وو.

هغوی له یوازې دپښتنودمال تالاکوونکی وو، کلتورسوځوونکی وو، بلکې لاندې تاریخي لنډۍ هم باپیزه خبره نه ده.

که له زلمونه پوره نه شو - خدایږو وطنه جنوکۍ په دې ساتنه

اوکه د (میوند)) مبارک حریم کې دسوزونکی گرمۍ په آهاړکې دننگ، غیرت اوله وطنه ددفاع خبره مطرح نه وایی، نواروانښادې ملالۍ به دپښتنودتنگ نظرنه کلتورسره سره دمبارزې پرسره میدان نه ورگډیدله ادالله اکبردناري په ویلوداطوفاني اوله قوي احساساتوډکه الماسکي لنډۍ به یې دپښتنوځوانانودبیاگرمولواوننگولولپاره دغیرک اوهیبت په څپوکې میوند میدان کې نه ویلې...

که په میوندکې شهیدنه شوي

خدای ږولالیه بې ننگۍ ته دې ساتنه...

موږگورو، چې په معاصره دوران کې (دشلمې پیړۍ) په څلورمه اوپنځمه لسیزواوتراوسه استعماري قوتونه په

کوم شکل وبان اومجوزسره سرراپورته کوي اوزموږدملت ټوله مادي اومعنوي شتمنۍ لوټ، تالان اوهرڅه له خاوروسره ځاورې کوي. زماخبره داده، چې (بیاض) ته ورته ډیرډیرآثارخودپښتنودثقافت دښمنانوپه رڼاورځ اودچاخبره په افتخارسره سوزول، ځکه (مؤرخین اولیکوالۍ دنیاپوهان وایي، دیوملت تاریخ دهغوله لیکني تاریخ اولیکوالۍ سره ارتباط لزلی شي)...

که دتاریخ پاڼې په تفکراودقت راوړوو، نوراته ښکاره به شي، چې زموږ دگران هیوادله ډیرپخوا (آریانا، خراسان اونوی افغانستان) دښمنانوزموږدهیوادهویت اوټولنې مادي اومعنوي شتمنۍ دښمنانوپه بیلابیلو پلمودديې وطن هستي لوټ کړې ده، چې تراوسه لادغه استعماري لوټونکي طوفانونه په شدت سره روان دي اوزموږهرڅه پوپناه کوي. همدااوس دقت وکړئ، داځپه په پوره شوراودرزکې روانه ده او ((ددیموکراسۍ) ترپردې لاندې استعماري قوتونه زموږ دباتوروخلکودسرونوپه لوکولگیادي، چې خوله یې له ویلو اوقلم یې له لیکلوعاجزدی. (چیزې که عیان است، حاجت چه به بیان است).

غواړم ږعبدالرحمن بابا دزیږیدلودوخت اوسني په برخه کې دمختلفولیکوالواوڅېړونکونظرهم راواخلم.

درحمان بابا دیوان، د ۱۳۵٦هـ ل کال، دپښتو ټولنې لیکنه اوراټولونه بیاداموضوع داسې راته په مخ کې ږدي: ((درحمان بابا نومي بې لیکواله کتاب هم درحمان بابادزیږیدوپه باب دفکرنیلی زغلولی اودپټې خزانې دصراحت په خلاف یې دده دزیږیدوکال (۱۰٦۳هـ ق) اټکل کړی دی)). (۱۵:شپږم)

د هېوادپیاوړی محقق، دعلم اوپوهې تلپاتې علمبردارلوی استاد علامه حبیبي، درحمان بابا دزیږیدوپه باب دپټې خزانې ویناسمه بولي اودهیڅ شک ځای نه پکې ویني. (۱٦:۱۴۰)

زما د تحلیل او مطالعې له مخې د ارواښاد لوی استاد علامه عبدالحي حبیبي شفاهي خبره د ادبیاتو او نورو علومو د څېړنو په برخه کې د ((کاڼي کرښه)) ده، دا لا پریږده، چې په هره برخه کې معتبر مأخذ او سندونه وړاندې کړي. د علامه حبیبي د معتبرو نظریو په صحت او سقم د رحمان بابا دا بیت ښه شاهدي ورکوي:

((...چې منکرپرې اعتراض کولای نشي

دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز...)) (۱۷:۱٦۴)

دیادولوپوره وړ داده، چې زموږحقدارسرمحقق استادحبیب الله رفیع، چې تر ډیرو ډیرو کلونو دې الله (ج) ژوندی لري، د رحمان بابا دزیږیدوپه مناسبت دشکاکانو ((تیت وپرک او اټکلي؟)) نغوتوته لاپخواپه (۱۳۵٦هـ.ل) کال د تاریخ د زرینو کرښو پر مټ ځواب ویلی و، چې اضافه کول یې په پورته لامخالیفینونه ته دعلمي گوت څنډنې

او حقیقت بیانولو او موافقینوته د لاډیرو معلوماتو او سرلوړی لامل کېږي؛ وبه گورو د ښاغلي استاد رفیع دازرین تاریخي معلومات...

((رحمان بابا په خپل دیوان کې د ((لنډبحر)) یوه اوږده ((بوللـه)) لري، چې ددنیابې وفایي اودخپل ځان سپین ږیرتوب پکې انځوروي اود ((اورنگ زیب)) په مړینه بحث او (( ساندې)) پکې کوي؛ دابوللـه ظاهراً په (۱۱۱۸هـ،ق کال چې د اورنگ زیب دمړینې کال دی اویاهم احیاناً په (۱۱۱۹هـ،ق) ویله شوې ده. په دې بولله کې یوبیت داسې لولو:

ترپنجابه وپنجه تیرشوې

ته لاځان بولې پسر (دیوان- پیښوراکاډمې، ۳۸مخ)

نوکله  چې دی په (۱۱۱۸هـ،ق) کال ترپنځه پنځوس تېروبولواوداتېروالی هم دده شپیته کلنۍ منو، نوبیادده دزیږیدوکال (۱۰۵۸هـ،ق) راځي اودپټې خزانې تر سنې (١٦) کاله را وروسته کېږي. خودپټې خزانې کال له دې سره هم نه ردیږي، ځکه چې دابیت درحمان بابادديوان په بیلوبیلونسخوکې یوله بله توپیرلري او خصوصاًدرحمان بابا دديوان په یوه هغه نسخه کې، چې دپښتوټولنې په کتابتون کې ساتله کېږي؛ دابیت داسې دی:

پنجاو شسته تېر شوې

ته لا ځان بولې پسر

د پټې خزانې د سنې له مخې دا وخت د ده عمر ٧٦ کلونو ته رسېږي او تر شپېته کلنۍ تېرېدل شپږ اویا ته رسېدل نه مقیدوي، نو ځکه د پټې خزانې وینا بیا هم سمه او په ځای ده)) (۱۸: اووم)

استاد حبیب الله رفیع چې له شک پرته زموږ د هېواد او سیمې په کچه یو وتلی لیکوال او اول لاس څېړونکی دی، د منتقدینو ډول ډول گوت نیونو، حدسونو او انتقادونو ته قایع دلایل راوړي او بالاخره د (۱۳۵٦هـ ل) کال د رحمان بابا دیوان، د پښتو ټولنې چاپ کې پوره پوره او کره ځوابونه وړاندې کوي او دوباره د پټې خزانې له خوا وړاندې او لیکل شوې سنه تاییدوي.

(وگورئ: د پښتو ټولنې له خوا چاپ، ۱۳۵٦ کال، اووم مخ)

له (۱۳۵٦هـ ل) تر اوسه خو په دغه برخه کې لا ډېرې، نوې مستندې او آن غیر مستندې او عندي لیکنې او پلټنې د رحمان بابا د زوکړې د سنې په برخه کې شوې دي.

انتقاد، تحقیق او تحلیل د هر چا حق دی، خو چې د بې طرفۍ اصل پکې مراعات شی، زما په نظر له بابا سره تړول پښتانه لیکوال او څېړونکي د زړه له کومې مینه لري، ځکه نو د نوموړي د کېدو په سنه دومره ډېرې څېړنې وړاندې کوي، که نه اصلي خبره د بابا کلام دی، چې عالمي او انساني فکر يې پکې بيان شوی دی او هغه د نوموړي شعر او شاعري ده.

موږ په لږ نور هم دا خبره رڼا ته راوګورو:

د تحقیق له املو څخه دا هم ده (خبره موضوع که په هره برخه کې وي، وړوي، یا لویه محقق یې باید په غور او دقت وپلټي، څو په څېړنیز بهیر کې مسلکي پوهان ورباندې خبر شي او وپوهېږي.

د بابا د ژوند حالات له بده مرغه تر اوسه په تیاره کې دي، دا د څېړونکو حق دی، له ذهنیګرۍ پرته ددغې موضوع حقانیت په لاس راکړي، په درد سره باید دا ووایم چې (پښتانه خپل پوهان، سیاسون)

د هرې برخې پوهان که نارینه وي او یا ښځینه د حیات او ژوند پرمهال ښه نهویني، همدا علت دی، څو یو عالم، استاد او... د مرګی کومې ته په خپلو لاسونو ور حواله نه کړي نو هغه ته ښه نشي ویلای.

له همدې امله زموږ په خلکو کې دا خبره کښته، پورته، یوه خوا، بله خوا اوړي، را اوړي، چې له متل څخه کمه نه ده او هغه دا چې:

((د پښتنو ژوندی ښه دی او مړ یې بد...) اوس اوس پښتانه پوه خپلې دغې سهوې، ځان ستاینې بې ځایه غرور، تکبر کاذبې خودۍ ته متوجه شوي دي، بده خبره نه ده. الله ج دې وکړي په علي ډګر کې موږ خپلو ډېرو کمښتونو او نیمګړتیاوو ته متوجه شو.

بله خبره دا ده، ډېر شمېر لوستي او تحصیل کرده پښتانه لکه دعاوې ولسي پښتنو غوندې مدني او فکر نه لري او هماغه دودیز، عرفي کلتور پیروي او هغه دا چې مادي فکر لري، نه معنوي چې دا د کلتور پیروي کوي، او هغه دا چې مادي فکر لري، نه معنوي چې دا د کلتورپېژندنې یا انترپولوچي (                    ) او یا ارواپوهنې په علم پورې اړوندېږي. د عبدالرحمان بابا د زیږېدنې او وفت زما رښتیاوالی، محنت او سُقم هم ددغو طوفانونو له څپو سره له سترګو پناه ښکاري.

په تحقیقي دنیا کې اول لاس مواد د کمره ماخذونه، تاریخي واقعات، ولسي کره روایتونه، باستان شناسي پورې اړوند مواد، د هغه وخت ماحول ذهني، مادي او معنوي فضا، سیاسي، اقتصادي اجتماعي، کلتوري حالات او عقلي څه ناڅه حد شی پوهنې او روایتونه او... ارزښت لري.

زمونږ پیاوړی لیکوال، زیرک محقق، کلتور پوه، کلتور ټولوونکی او د عالي او خیر خواهانه فکر خاوند وتلی استاد حبیب الله رفیع د اورنګزیب ذکر، پښتو ټولنې چاپ، د رحمان بابا دیوان، ۱۳۵٦ کال

په شپږم مخ کې بیا راوړي: "محی الدین اورنګ زیب عالمګیر د ګورګاني شاهجهان، رښیم زوی دی چې (۱۰۲۷هـ ق) کلا د هند احمد اباد کې وزیږېد. په ۱۰٦۸ هـ ق کال یې خپل پلار بندي کړ او دی پر تخت کېناست. ده د خپلې واکمنۍ په دوره کې پښتانه ګورګاني شاهجهان ډېر وکوټل او په پښتونخوا کې د ده پر ضد (ایمل خان او خوشحال خان) غورځنګونه یې وټکول[1].

## ۱ – ۲ استوګنه، زده‌کړه او سفرونه

((رحمان بابا پېښور ته ور څېرمه په بهادر کلي کې زیږېدلی دی. راوړتې لیکي چې دی د پېښور د مومندو د تپې د هزارخانې نومي کلي کې اوسېده.)) (۱۹: ۴۹)

دا چې رحمان بابا په هزارخانې اوسېدلی له نورو روایاتو څخه ښکاري خو دا چې دی په څه علت له بهادر کلي څخه هزارخانې ته تللی دی، د څېړلو وړ ده.

لوی علامه عبدالحی حبیبي په خپل معتبر اثر (پښتانه شعرا، ۱۹۲۰ مخ کې کاږي:

"...عبدالرحمان په خپله زمانه کې یو صوفي مشرب[2] او په عشق کې داسې ډوب شاعر تېر شوی دی چې خپلې فقیر مزاجۍ او په خپل عشق کې فنا شوی حالت دی د خپل کلي نه هزارخانې په تللو او استوګنه مجبور کړ." (۲۰: ۱۹۲)

((په دې توګه وینو چې دروند او محترم استاد د ده د لېږد د علت د ده فقیر مزاجي ګڼي.))

د رحمان بابا نومي کتاب نامعلومه مولف د ده د دې لېږد لپاره لاندې دوه علتونه توږي: ((...لکه څنګه چې مشهوره رحمان بابا پیدا شوی، خو په بهادر کلي کې و، خو وروسته د ځینو وجوهاتو له کبله یې خپل کلي پرېښود او هزارخانې (؟) ته راغی.

استاد رفیع وایي: ((په دې وجوهاتو دوه خبرې زما په خیال قیاص ته ډېرې نږدې دي، یوه دا چې ده په هزارخانې کې ډېر خواخواږي خپلوان لرل، د هغوی کشش دی هلته بوته.

او دویم دا چې دی د علم حاصلولو لپاره هزارخانې ته راغلی وي او بیا د همدې ځای شوی وي، بلکې دا دواړه

---

[1]- احمد آباد

[2]- صوفي مشرب – صوفي ته ورته

قیاصه یو ځای کولای شو، چې د علم د تحصیل لپاره هزارخانې ته راغلی وي.

دلته یې خپل خپلوان وي، استوګنه کې د هغوی کره وي، وروسته یې واده هم دلته کړې وي او بیا د همدې ځای شوی وي.

ما ته دا دویم دلیل پرځای ښکاري، په هر ډول، پښتو متل دی: ((چېرې چې دې ښه، هلته دې شپه)) یا ((هلته چې زړه ځي، پښې ځي))

عبدالرحمان بابا د سرو زرو مثال درلود او د زرو قدر په زرګر وي، د هزارخانې خلک زرګران ول او...

د رحمان بابا د زیږېدنې پته به د پښتو ژبې د وتلي محقق او استاد سرمحقق په درسي کتاب: (پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍ دورې) لومړي ټوک، پنځم چاپ ۱۳۷۹ هـ ش، کال په (۱۷۴) مخ کې وګورو:

عبدالرحمان مومند د پټې خزانې د روایت په مطابق د عبدالستار زوی و. په ۱۰۴۲ هـ ق د پېښور د سیمو په بهادر کلي کې زیږېدلی دی، عبدالرحمان بابا مومند و، په مومندو کې ابراهیم خیل او په ابراهیم خیلو کې دویزی و.

عبدالرحمان بابا د روارټي په قول له خپل کلي څخه هزارخانې ته راغی او دلته اوسېده. پټه خزانه وایي چې رحمان بابا له ملا محمد یوسف یوسفزي څخه درس ووایه او د زده کړو لپاره یې کوهاټ او هندوستان ته سفرونه وکړل.

عبدالحلیم اثر د (رحمان بابا شاعر انسانیت) په مقدمه کې لیکلي دي چې په ۱۰٦۱ هـ ق کال عبدالرحمان بابا مومند شیر کوټ ته ورغی او له ۱۰٦۱ هـ ق کال پورې یې له نوموړي ملا محمد یوسف سره و.)) (۲۱: ۱۷۴)

کله به یوه څېړنه وړه ښکاري، مګر چې مطالعه پسې کوې، قلم او کاغذ را اخلې، نو بیا درته څرګندېږي، چې خبره څومره پړسوب لري؟

یو څه به نور کتابونه هم چې ډېر د افغانستان په لیکوالو پورې اړه لري، د بابا د زیږېدو او مړینې کلونو پسې ولټوو او وبه ګورو، چې حقیقت څه دی؟

زموږ ګران سرمحقق حبیب الله رفیع په خپل وزین او له محتوا ډک اثر (رحماني خم) کې دا موضوع داسې راوړي، چې زه ترې اقتباس کوم:

" پټه خزانه چې د رحمان بابا د عصر تذکر ه او د ده تر مړينې څورلس کاله وروسته ليکله شوې، د ه د زيږېدو کال (۱۰۴۲هـ ق) ضبطوي. دی دا نېټه د محمد رسول کلاتوال له بياض نه اخلي او د بياض راوي رحمت هوتک د رحمان بابا تر مړينې دوه کاله وروسته په (۱۱۳۰ هـ ق) کال پېښور ته راغلی او تصادفاً د رحمان بابا له شاګرد يونس خيبري[1] سره آشنا شوی او له هغه سره يې د هغه په کور کې بشپړه مياشت تېره کړې ده او بيا يې له دې ځايه کندهار ته د رحمان بابا په باب کره او پاخه معلومات له ځانه سره وړي او محمد رسول کلا سوال ته يې سپارلی دی، چې په دې دليل دا سند ډېره پخېږي او هم بل داسې سند نه لرو چې دا سند دې ماته کړي.

د رحمان بابا ديوان کې هم داسې داخلي شهادت نشته چې د دې وينا مخه ونيسي، البته په هغه قصيده کې چې رحمان بابا د اورنګ زيب د (۱۱۱۸ هـ ق) کال د ميانې د مياشتې په (۲۸) نېټه وفات شوی چې د دې کال يوازې ۲۳۰۳۱ ورځې پاتې دي او پېښور ته يې خبر د کال تر ختمېدو درې ورځې وړانې را رسېدلی او رحمان بابا په دې غ ندنه يادونه کې د ده د زوی شاه‌عالم[2] د پاچاهۍ يادونه هم کوي، نو غالباً چې دا قصيده به يې په ۱۱۱۹ هـ ق کې ويلې وي او په دې قصيده کې يو بيت چې ځان ته خطاب پکې کوي، داسې لولو:

تر پنجاه و پنجه تېر شوې

ته لا ځان بولې پسر...

چې د دې بيت له مخې د ده د زيږېدو کال ۱۰۴۲ ق نه بلکې ۱۰۴۶ راوځي، خو څرنګه چې دا بيت هم په بېلابېلو نسخو کې ثابت نه دی او بېلابېل واريانټونه او نسخه بدلوونه لري او کله چې مو په ۱۹۷۷ کال په کابل کې د رحمان بابا ديوان د شلو قلمي نسخو له مخې ترتيباوه، هلته په يوه ډېره زړه نسخه کې دا بيت داسې هم ضبط شوی و:

تر پنجا و شسته تېر شوی

ته لا ځان بولې پسر

چې بيا هم د بابا عمر اوږد دی زماني واټن نه لوېږي او دا بيت هم پټې خزانې سن او سنه نشي ماتولی)) (۲۱: ۶۳، ۶۴)

حقيقت دا دی چې رحمان بابا وفات نه دی، همدا چې موږ ټول د نوموړي په زيږېدو او افکارو غږېږو، زموږ د

---

[1]- صوفي مشرب – صوفي ته ورته

[2]- شاه عالم

ادعا ښه ثبوت دی.

د دیني او عرفاني نړۍ لیدله مخې (جسم فاني دی او روح باقي او د روح په حقیقت یوازې الله ج پوهېږي، کلام الله مجید کې راځي:

((ویس الونک عن الروح، قل الروح من امر ربي و ماوتیتم من علم الا قلیلا..)

کله چې د بابا د زیږېدو کال د تحقیق او پلټنې اړتیا پیدا شوه او یا دا چې د زیږدنګ کال تر پوښتنې لاندې راغی، نو د مړینې په کال کې هم هرو مرو بدلون راځي، چې بیا باید څېړنه ورپسې وکړو.

زموږ د پام وړ سرمحقق استاد رفیع نظریې کټ مټ رانقلوو:

((...دا سنه هم بل چا نه ده ثبت کړې او بیا هم د ده د مړینې سند پټه خزانه ورکوي او د وفات کال یې ۱۱۱۸ هـ ق ښیي، خو دا سنه سمه نه ده قید شوې او د رحمان بابا په خپل دیوان کې داسې داخلي شهادتونه شته چې دا سنه ماتوي. لومړی همدا د اورنګ زیب ویرنه[۱] یا غندنه[۲] ده چې پاس مونغونه ورته وکړه او د دې بولله[۳] کې د ویلو کال غالباً ۱۱۱۹ هـ ق دی، چې تر یادې شوې پېښې یو کال وروسته کېږي، بل مهم داخلي شهادت د ګل خان[٤] او جمال خان[٥] تراژیدي[٦] ده چې بیا هم رحمان بابا قصیده[۷] پرې ویلې ده.))

په دې پېښه عبدالقادر خان خټک[۸] او حمید بابا[۹] او د افضل خان خټک[۱۰] د تاریخ مرصع په شهادت دا پېښه[۱۱] په ۱۱۲۳ هـ ق کال شوې ده، نو ځکه د رحمان بابا ژوند تر دې کال پورې هم را اوږدېږي.

او دا هم حتمي نه ده چې په دې کال دې ناڅاپه مړ شوی وي، اوس نو ګورو چې رحمان بابا نور څومره ژوند

---

[۱]- ویرنه

[۲]- غندنه

[۳]- قصیده

[٤]- ګل خان

[٥]- جمال خان

[٦]- تراژیدي

[۷]- قصیده

[۸]- عبدالقادر خټک

[۹]- عبدالحمید مومند

[۱۰]- افضل خان خټک

[۱۱]- پېښه

کړی؟ په کوم کال وفات شوی دی؟

او د پټې خزانې له خوا ضبطه شوې سنه چې د ده د شاګردانو (یونس[1]) په روایت ولاړه ده، څنګه په کتابت کې غلطه شوې ده؟

د رحمان بابا په دیوان کې نور داخلي شهادتونه نشته، اوس خو د ده د وخت په نورو پنځو سندونو پسې ګرځو، بیا هم دده شاګرد یونس خیبري ته مستقیماً را رسېږو او له نیکه مرغه د ده دیوان چې دا څو کاله کېږي چاپ شوی، راسپړلو او د رحمان بابا په انتقال ویل شوې پرسوزه مرثیه[2] پکې لولو، خو دلته هم مطلب نیغ په نیغه نه شو ترلاسه کولای.

څکه د شرق په ادب کې منظومې مرثیې او تاریخ ښودنې په نغمیه او تاریخ ګونې ولاړې وي او یونس خیبري چې د دې فن پیاوړی استاد دی، د رحمان بابا د وفات تاریخ په تعمیه[3] او تاریخ ګویې کې رانغاړي.

په پښتو ادب کې له الفاظو او کلمو نه د ابجد په حساب د تاریخ استخراج ظاهراً له لسمې هجري پېړۍ نه ارزاني د زرم کال په شاوخوا کې رانښلولی، خو لکه څرنګه چې د هرې نوې شروع تقاضا ده، ډېر ساده او عام فهمه دی، چې نمونې یې ځای په ځای د ده په دیوان کې شته چې بیا د خان خوشحال خټک د ده د زمانو او ځینو نورو شاعرانو په وینا کې هم تاریخي مادي مومو، چې په ابجد حل کېږي او مطلوب مطلب را ترلاسه کوي.

باید ووایو هغه چا چې په پښتو ادب کې یې تعمیې او تاریخي مادو ته زیاته وده ورکړه، هغه د رحمان بابا شاګرد یونس خیبري دی. ده ډېرې مغلقې معماوې او د تاریخ مادې په خپله وینا کې ځای کړې دي، چې یوه برخه یې محمدي صاحبزاده[4] د ده د دیوان په قلمي نسخه کې حل کړې هم دي. یو څو یې وروسته حل شوي او یوه برخه یې لا تر اوسه ناحلې پاتې دي.

ده د تعمیې له ډېرو سختو عملیو کار اخیستی چې د قلب او کلمو د ترجمې معماوې هم پکې شته، لکه د وحید معما:

قدح ویسه په لاس کې فارغ کېنه

پای یې سرو لره ورکړه د قدحا

---

[1]- یونس خیبری

[2]- مرثیه

[3]- تعمیه

[4]- محمدي صاحبزاده

چې محمدي صاحبزاده یې داسې حل کړې ده:

لاس له دید څخه عبارت دی، چې قدح یې په سر کې راغله، د قدحید شو څرنګه چې د سرو پای چې واو دی، د قد ځای ومونډ ((وحید[1])) ترې جوړ شو.

خبره مو دا کوله چې یونس خیبري د رحمان بابا په مړینه یوه پر سوزه مرثیه هم ویلې ده، چې دلته یې سره لولو:

چې پیدا له اشنایۍ سره هجران شه

ځکه داغ په خاطر باندې ارمان شه

انجمن د ښو یارانو نوبهار دی

جدایي ورباندې پیر (فر) وکړ خزان شه

چې په قدر کې درونه د دریاب وو

اوس صدف د هغو در وګورستان شه

چې په شرق د آشنایۍ لکه لمر وخوت

په مغرب د جدایۍ کې نهان شه

دا چې باد د جدایۍ په جهان ګرځي

له هیبته مې صورت بید لړزان شه

د سکوت قفل به یې څرنګ لیرې کېږي

چې په مرګ یې درون بند، کلید زبان شه

له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه

چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه

استاد رفیع د (رحماني ختم) کتاب په ٦٧ مخ کې زیاتوي:

---

[1]- وحید

په دې موثره مرثیه کې د رحمان بابا په باب په نورو خبرو سربېره د ده د مړینې کال هم نغښتی دی او د دې بیت شعر:

له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه

چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه

تحلیل: ما ته دا د استاد رفیع دا خبره چې: ((په دې موثر مرثیه کې د رحمان بابا په نورو خبرو سربېره د ده د مړینې کال هم نغښتی ی...) ډېره په زړه پورې وبرېښېده او هغه دا چې (رحمان بابا) چې دا موثره مرثیه ویلې، په ژوند یې ویلې ده، نه دا چې مړی شوی، بیا بېرته را ژوندی شوی او یا یې دا موثره مرثیه ویلې ده؟

په یو قدسي حدیث کې راځي، چې پر پنځو شیانو  چې یو عمده توک یې مرګ دی، هېڅوک علم نه لري، آن پیغمبران، رسولان او پاتې شوه اولیاء کرام، صادقان، مومنان او...

که رحمان بابا د عُرفي روایت پر بنیاد ((ولي[1])) هم وګڼو، نو بیا هم پر خپل مرګ علم نه لري. د زیاتو معلوماتو لپاره باید قران کریم، احادیثو، فقه، عقیدې او نورو دیني کتابونو ته مراجعه وشي...

ټول خلک د عمر یا شدیدې ناروغۍ له وجې ډارېږي، چې مرګ به راباندې غلبه وکړي، خو هېڅوک مخکې له مخکې پښې نه وي ورته غځولې او رحمان بابا غوندې په دین او قران کریم پوه او باوري خلک، خو د غفلت له مرګه ځان

ژغوري، له مرګه مخکې ځان په مړو حسابوي، لکه (موتو قبل ان تموتو...) خو مرګ لاس نیولی کور ته بیايي...)

مرګ خپل کار کوي، هېڅوک هم نه اوري، مګر په نېټه ده او دا تاریخ او نېټه مرګ ته ورمعلومه وي او بس!!!

ټول نفسونه د مرګ مزه څکي (کل نفساً ذایقت الموت...) حدیث د مرګ اوښه د هر چا د کور مخ کې چوکېږي.) متل...

بیا قران وايي: فااذا جا اجل هم لاستحزون ساعت و لا یستقدمون – قران کریم

مرګ په ساعت دی، نه وړاندې کېږي او نه وروسته... پهیوه ټپه له دې پوره قراني ارشاد سره سم راځي:

ما ویل له غمه به دې مړه شم

---

[1]- ولي

مرگ په نښته دی، درواغجنه شوم مینه

همدارنګه رحمان بابا وايي:

چې پیدا شي همګي واړه فنا شي

اې رحمانه دا دنیا ده دا یې کار

زما په فکر د رحمان بابا د غزل مقطع به بل مفهوم لري، نه د مرګ په غولي د مېلمه کېدو معنا...

جالبه خو دا چې رفیع استاد د لا بیا ټینګار کوي... (له دواړو مسريو نه د تعمیې او تاریخ ګویي د بېلابېلو معادلو په اساس د ده د مړینې بېلابېل تاریخونه ترلاسه کېږي، چې استاد عبدالشکور رشاد د یونس د دیوان تر خپرېدو وروسته د تعمیې اوتاریخ ګویۍ د معادلو له مخې په پنځه ډوله حل کړې او له پنځو واړو ډولونو څخه یې د رحمان بابا د مړینې سنه (۱۱۲۸) هـ ق کال راوتلې ده چې په دې ټولو کې یې ساده حل:

چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه

۸+ ۱۴۳۵+ ۲۷۶+ ۷ + ۶۶+ ۲۷۱+ ۱۳۶+ ۳۰۵+ ۱۱۲۸ هـ ق

د مسرۍ د ابجدي عددي ارزښت له مخې دی چې د ټولو تورو ابجدي قېمت یې ۱۱۲۸ قـ ق کېږي او د رحمان بابا د مړینې کال دی.

رفیع صاحب خپل نظر تصیح کړی، څکه وايي: ((اوس بېرته راګرځو په پټه خزانه کې راغلې سنه ته چې په هندسي بڼه ۱۱۱۸ لیکه شوې، ما چې کله په ۱۹۷۷ ع کال په کابل کې د رحمان بابا د دیوان د پیارچه لیکله او هغه وخت لا د یونس دیوان نه چاپ شوی نو اټکل مې کړی و چې ښایي دا لیکنه د کتابت تېروتنه وي او کاتب به له منقول عنها نسخې څخه ۲۸ او ۱۸ رانقل کړې وي، څکه د پټې خزانې سند د یونس خیبري په بالواسطه سند ولاړ و چې دا دی د یونس خیبري مستقیمې وینا هم د دې اټکل ملاتړ وکړ او اوس په جرات ویلای شو، چې په پټه خزانه کې دبابا د مړینې راغلې سنه ۱۲۸ هـ ق ده چې د کاتب بېړنۍ لیکنې چې د کتاب په پای کې نغوته ورته شوې ۱۱۱۸ هـ ق ترې جوړه کړې ده.

اروانښاد پوهاند استاد رشاد  یونس خیبري د مرثیې یوه بله مهم ټکي ته متوجه شوی، یونس وايي:

انجمن د ښو یارانو، نوبهار دی

جدايي ورباندې پیر وکړ  خزان شه

د یونس شاعر بیتونه چې د رحمان بابا شاګرد هم دی، تر یو بریده ماته قناعت راکوي.

د یونس له پورته بیت:

(انجمن د ښو یارانو نوبهار دی

جدايي وربانديې پیر وکه خزانه شه)

دا ترلاسه کېږي چې رحمان بابا به په پسرلي او ربیع کې وفات شوی وي او جالبه ده چېد ۱۱۲۸ هـ ق کال د ربیع الاول وروستۍ هفته د ۱۰۵۸ هـ له نوروز (نوبهار) سره سمه ده، وفات شوی وي.

یوه بل په زړه پورې برابري دا هم دی چې د رحمان بابا عرس سیمینارونه، کنفرانسونه او مشاعرې هم په بهار (پسرلي) کې کېږي او په دې توګه یې په تصادفي ډول سالګره نیوله کېږي، دا ځکه چې:

که نظر که څوک په کار د درویشانو

خود به ووینې وقار د درویشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دی

خزان نه لري بهار د درویشانو

د دې اسنادو او دې محاسبې په رڼا کې موږ دا نتیجه اخیستلی شو، چې رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ ق کال زیږېدلی، د ۱۱۲۸ هـ ق کال په نوبهار کې وفات شو، چې پاخه عمر ته رسېدلی او پوره ۸٦ کاله یې ژوند کړی دی او په دې موده کې یې هغه رنګینه خو ساده وینا کړې چې له خدای نه غوښتې وو:

الهي د خپل حبیب له برکته

دا ساده انشا رنګینه د رحمان کړې

تحلیل: د حقیقت د موندلو لپاره په خپله د عبدالرحمان بابا د زیږېدو په اړه یو بیت موجود دی چې د وخت د پاچا اورنګزیب د مړینې په یاد یوه اوږده قصیده راغلې ده:

تر پنجاه و پنجه تېر شوي

ته لا ځان بولې پسر

د دې مرثیې د ویلو کال لوی محقق اروانښاد دوست محمد کامل د پنځو سندونو او استدلالونو په رڼا کې ۱۱۱۹

هـ ق اټکل کېږي او تر اوسه د دې اټکل ماتوونکی هېڅ سند نشته، نوموړ چې د دې قصيدې د ويلو کال ۱۱۱۹ هـ ق وټاکه او ۵۵ کلونه ترې کم کړو، نو د رحمان بابا د زيږېدو کال (۱۰۴٦ هـ ق) راوځي.

په دې ډول په پټې خزانې کې د بابا د زيږېدو کال (۱۰۴۲) هـ ق دی او که يې ۱۰۴٦ هـ ق وګڼو نو د دغوک لونو ترمنځ ۲۲ کاله تفاوت دی.

که پورته سند ۱۰۴٦ هـ ق درست وګڼو او په ټولو نسخو کې يو راز وي.

نو بيا درست دی مګر دا بيت په يوه نسخه کې تر پنجا و شصته تېر شوی راغلی دی. په نورو نسخو کې يې نورې بڼې هم شته، نو ځکه د پاخه سند په توګه نه شو منلای.

اروابناد استاد کامل مومند د دې دواړو يادو شويو داخلي او خارجي سندونو په رڼا کې د رحمان د زيږېدو پر کال مفصل او مدلل بحث کړی دی.

په هر حل د قياص له رويه په پټه خزانه کې ليکلی د رحمان بابا د زيږېدو کال که مشکوک او مشتبه هم وي، نو د غلط کېدو په ثبوت کې يې له موږ سره څه دليل نشته او که دغه کال ټيک هم نهوي، نو د قراينو له رويه په موږ د شاه‌جهان په عهد کې د رحمان بابا د ولادت کال په دې خيال او اطمينان فرض کولای شو، چې صحت به د دې خبرې نزديکتر اغلب وي، او زياته کړې يې ده، رحمان بابا د ارونګزيب د وفات نه ډېر وړومبی په حيث د يو لوی شاعر شهرت بيا موندلی.

د هغه ځينې اشعار او په پټه خزانه کې د رحمان بابا د زيږېدو د تاريخ ۱۰۴۲ هـ ق

پروفيسور قلندر مومند، د رحمان بابا د پيدايش او وفات کلونو په برخه کې هم خپل نظريات لري، چې لنډيز يې راوړو:

((رحمان بابا زموږ د ادب يو ډېر روښانه ستوری دی او له بده مرغه ټولو نه زياته تياره هم د دې روښان ستوری د ژوند په واقعاتو خوره دی او په قاطعيت سره موږ د رحمان بابا د پيدايش او وفات د کلونو په باره کې هم دعوا نشو کولای.

په شلمه صدۍ عيسوي څوارلسمې صدۍ هجري کې د نورو تاريخي معلوماتو د لټون لپاره د هلو ځلو په لړ کې د رحمان بابا د پيدايش او وفات د کلونو په باره کې هم د خيال انګېرنو يو مهم شروع شو او د دې مهم په دوران کې په ړومبي ځل دا وويل شول چې رحمان بابا د ژوند زمانه له ۱۰۵۰ هـ تر ۱۱۲۰ پورې تضمين کولای شو او د وفات د کال يعنې ۱۱۲۰ لپاره خو د تضمين بنياد د بهادر شاه په باره کې د رحمان بابا شعر ګڼل شوی دی،

ولې د پیدایش په باره کې هېڅ بنیاد نه وي ښوول شوی.

پټه خزانه د رحمان بابا د پیدایش کال د ۱۰۴۸ او د وفات کال یې ۱۱۱۸ ښیي. دا کتاب دادواړوه تاریخه د محمد رسول هوتک علیه الرحمه د بیاض په بنیاد بیانوي، خو دمحمد رسول هوتک علیه الرحمه په باره کې هېڅ معلومات نه ورکوي، څکه خو موږ دا نشو ویلی چې د محمد هوتک دا سند باوري دی او که نه؟

که د پروفیسور قلندر مومند یاداشت ته دقیق شو، څرګنده به شي چې نوموړي له پټې خزانې څخه غلط اقتباس کړی او یا ټاپې غلطې ده؟ هغه دا چې ۱۰۴۲ هـ ق کال یې ۱۰۴۸ هـ ق لیکلی دی.

له همدې مجلې به دې پروفیسور سید تقویم الحق او بیا د حبیب الله رفیع د نظریو لنډیز راواخلو.

لومړی د تقویم الحق نظر راوړو: نوموړی له دې ځآیه پیل کوي:

((پټه خزانه چې چا لیکلې ده، هغه د رحمان بابا د پیدایش کال ۱۰۴۲ هـ ق او وفات ۱۱۱۸ لیکلی دی، تر اوسه د دې تاریخونو په هکله څه خارجي شهادت په لاس نه دی راغلی، البته په دې باب کې ډېر مهم داخلي شهادت شته، څه کم دېرش کاله به یې شوي وي.

ما په خدای ښېلي رهبر کې د رحمان بابا په تاریخ پیدایش یو مضمون لیکلی و، هغو ورځوکې زه هېڅا نه پېژاندم او الله ج دې وښې، حبیبي صاحب هر چا پېژانده، زما مضمون چا ولوستو، چا وته لوستو او هېچا اهمیت ور نه کړو چې د چاخوښ شو، هغو بهخپلومنځونو کې بیا دا خبره وکړه، خو لکه چې... خطا نه لوستل کېږي.

رحمان بابا په خپل دیوان کې د ارونګ زیب عالمګیر رحمت الله مرثیه لیکلې ده:

په نظر د بې بصر

لکه شام هسې سحر

په دې مرثیه کې یو بیت شعر؟ دی

تر پنجاه و پنجه تېر شوي

ته لا ځان بولې پسر

پنجاه و پنج یو واضح شمیر دی، محاوره نه ده)) (۲۴: ۱۰۹

نوموړی د شیخ سعدي[1] له نظره څلوېښت د پاڅه پارسېدلی عمر علامت ګڼلی او دلیلونه ورسره شته.

پنځوس هم د څلوېښتو سره تړلی استعمالېږي، خو پنجا پنج یو پرېکړی عدد دی.

لکه چې اوس موږ خبرې په پښتو کې کوو او د شمېر په اردو یا انګریزي کې دغسې هغوی هم شمیر په فارسي کې لولو او پنځو پنځوسو ته به یې پنجاه پنج وایه. دا پنجاو پنج د شعر د ضرورت د وجهې نه هم استعمال نه دی.

تر پنځوسو کالو تېر شوی، تر شپېتو په عمر تېر شوی، تر اویاوو کالو تېر شوی. مصرع په دې هر عدد یو شان راځي او رحمان بابا دومره وړوکی شاعر نه و چې مصرع[2] صحیح شمېر نه شو راوستی.

د شعر نه صفا معلومېږي چې د دې شعر د ویلو وخت وخت د هغه عمر د پنځو پنځو سوو اوړېدلی او شپږ پنځو سوو ته ورسېدلی، ځکه چې مطرع په پنجاه وشش هم خرابېږي نه. د دې شعر ویلو تاریخ معلوم دی)

دلته لازمه ده د رحمان بابا د وفات کال ته هم تم شو.

رحمان بابا د پټې خزانې په حواله په ۱۱۱۸ هـ ق کې وفات شوی دی، خو له بې خوا د هغه وخت مقتدر پاچا اورنګزیب ۱۱۱۸ هـ ق هم په دې کال وفات شوی دی او عبدالرحمان بابا د اورنګ زیب په برخه کې په همدې کال لویه قصیده هم ویلی ده.

موږ به دې خبرې ته لا وسعت ورکړو او هغه دا چې د اورنګزیب په برخه کې معلومات ورکړو.

یادونه: د اورنګزیب د وفات ۱۱۱۸ هـ ق په  کال د رحمان بابا قصیده:

د پټې خزانې لیکوال پخوا لیکلی و، چې رحمان بابا د پیدا کېدو کال ۱۰۴۲ هـ ق او د مړینې کال یې ۱۱۱۸ هـ ق ښوولی و. په دې ډول د عبدالرحمان بابا علیه الرحمه ټولټال د ژوند کلونه ۷۴ وو، چې د بابا د کېدو او په تېره وفات کلونه د بېلابېلو څېړونکو له خوا د بېلابېلو تاریخي د لایلو له مخې ونه منل شو او ډېر دلیلونه وړاندې شول.

یو تحقیق هغه مهال ارزښت پیدا کوي، چې د پخواني تحقیق په اړوند عقلي، نقلي، تاریخي او... دلایل موجود شي. هغه وخت یو څېړونکی د زاړه تحقیق په اړوند شک ښکاره کولای شي، چې زړوتحقیق په کره ماخذونو

[1]- شیخ سعدي
[2]- مصراع

سنبال نه وي او يا د زاړه تحقيق په شاوخوا کې د څېړنې نور امکانات موجود وي، دا د څېړونکو دنده ده چې لومړی موضوع لا محققه کړي، څکه د تحقيق د حق له کلمې اخيستل شوې ده. د رحمان بابا د وفات د کال په برخه کې د پوره دلايلو له مخې څېړنې شوې، موږ مخکې وښوول او يا به يې نور هم روښانتيا وړاندې کړو.

د اورنگ زيب په برخه کې لازمه ده ((ارمغان خوشحال، مقدمه سيد رسول رسا کتاب ۱۹٦۷ مخ کتاب ته مراجعه کړو: په کال ١٦٥٧ م کې شاه‌جهان ناروغه شو او د سلطنت دک ارو روزگار نه پاتې شو. د پادشاه د علالت په وجه د هغه په ځامنو کې د تخت نيشنۍ لپاره جنگونه شروع شول دا جنگونه په ١٦٥٨ م کې ښه تيز شول ، مشر شهزده دا راشکوه او شهزاده شجاع ځان ځان ته د تخت او تاج حاصلولو لپاره جنگېدل او ارونگ زيب او کشر شهزاده مراد بخش سره ملگري وو. د شاه جهان ټول سلطنت په دې جنگونو کې برخې برخې شو هر ځای پرې جنبې جوړې شوې خو آخر د شهزاده گانو په دې جنگونو او زيب کامياب شو.

اورنگ زيب خپل پلار شاه جهان چې د مشر زوی داراشکوه طرفدار وو د اگرې په کلا کې نظر ښه کړ، داراشکوه او مراد بخش يې ووژل او شجاع يې داسې ورک کړ چې هېڅ پته يې ونه لگېده چې څه شو.

...ارونگ زيب چې په تخت کيناست نو ژر يو شاهي فرمان جاري شو. دا فرمان د راهداری دمحصول د معافی لپاره و او د سرحدي علاقونه پرته پر ټولو ځايونو جاري و، د خوشحال د نيولو لپاره هم وايي چې بانه شو. د زياتو معلوماتو لپاره د ارمغان خوشحال (٦٣ – ٦۴) او نورو مخونه دې ولوستل شي..) خوشحال له اورنگ زيب سره وران شو چې به خپلو شعرونو کې يې د اورنگ زيب د عدل او انصاف(؟) يادونه کړې ده، لکه

را معلوم شو د ارونگ عدل و انصاف

د ده ښه مسلمان، ښه اعتکاف

سکه وروڼه وار په وار واړه وژلي

پلار په بند کې اچولی په مصاف

که هزار ځله څوک سر وهي په مځکه

بيا په صوم تر شمعې ور ولي ناف

څو د نيت د ښه عمل سره جوړ نشي

عبادت، طاعت درې واړه دي خلاف

مخکې مو په تېرو څېړنو کې د اورنگزیب د وفات کال په برخه کې لوستي وو چې نوموړی په ۱۱۱۸ هـ ق کې وفات شوی و، هغه استناد مو ډېر په دې کاوه چې بابا په هماغه کال په یوه قصیده کې د نوموړي یادونه کړې وه او رحمان بابا په ۱۱۱۸ هـ کال نه و مړ شوی، نه پوهېږم دغه کار څومره منطقي او علمي برېښي.

((ارمغان خوشحال)) کتاب په ۵۸ مخ کې راځي: "په کال ۱۷۰۷ کې ارونگ زیب وفات شو او د ارونگ زیب د وفات سره مغلو د حکومت ستوری هم په ډوبېدو شو. د خوشحال خان لمسی او د اشرف خان زوی افضل خان چې د تاریخ مرصع منصف هم دی، لیکي چې اورنگ زیب د حکومت په آخرینو لسو کالونو کې د کوهاټ او بن وعلاقه تقریباً یاغي وه...)) (۲۵: ۵۸)

کله چې اورنگ زیب عالمگیر وفات شو، د مغل د حکومت زوال هم شروع شو، ځکه نو شعرانو تاریخ نولسیانو لیکوالو او د بېلابېلو فونونو او کارونو ماهرانو د اورنگزیب عالمگیر د پاچاهۍ ژوند او وفات کلونو ته په هغه وخت کې خورا زیاته توجه کړې وه، رحمان بابا هم دغه تاریخي پېښې ته توجه کړې وه.

رحمان پوهنه رحمان ادبي جرگه پېښور، ۱۰ مخ کې راوړي:

"ارونگ زیب د کال ۱۱۱۸ هـ ق دذوالقعدې په میاشت کې د جمعې په ورځ په ۲۸ تاریخ دکن کې وفات شوی و، دغه وخت شاهزاده شاه عالم په پېښور کې و. خافي خان په منتخب الباب کې لیکي چې شاه عالم د دې واقعې نه په ۲۸ ذوالحجه خبر شو.

یعنې د کال ۱۱۱۸ هـ ق په ختمېدو کې دوه یا درې ورځې پاتې وې.

شاه عالم د دې خبرې سره هندوستان ته روان شو د محرم میاشت پرې لار کې را واخیسته او کال ۱۱۱۹ هـ ق دبره شو، دا گرې[1] او هولیپور[2] ترمنځه د جاجو په مقام د کشر ورور اعظم خان سره مخامخ شو او یو لوی جنگ وشو. دا د ۱۸ ربیع الاول کال ۱۱۱۹ هـ واقعه وه

رحمان بابا په دې مرثیه کې د شاه عالم د بادشاه کېدو ذکر کړی دی، نو داسې ویل کېږي چې دغه په یقین د ۱۱۱۹ ه ق کال د ریبع الاول نه پس ویل شوی دی، خو چې څومره را وروسته په دې کې څه نه شو ویلا!

سید تقویم الحق کاکاخېل وایي: ((که په ۱۱۱۹ هـ ق کال رحمان د پنځه پنځو نه زیات وو، نو دهغه پیدایش د کال ۱۰٦۴ هـ ق خوا شاه کېدای شي او که کال دوه فرق هم پکې واچوو نو پټې خزان ته یې نږدې کولای

[1]- اگره

[2]- هولیپور

نشو.

د رحمان بابا په دیوان کې د شپېتو کالو ذکر نشته او د بوډا او الی ذکر شته د پنځوسوو نه پس هغه ځان په بوډاګانو شمېرلی و.

اوس مې ځای په دا جهان کې پاتې نه شو

خوځېدلی تر جهل او تر پنجاه یم

تر پنځه پنځو د هغه ویښته سپین شوي وو او ملا یې خم خوږلی و:

هغه تور ویښته دی څه شوه

چې هم مشک و هم عنبر

هغه قد بید مجنون شو

چې چنار و، هم نښتر

تر پنجا و پنچه تیر شوی

ته لا ځان بولې پسر

په دې منلو کې څه نقصان نشته چې د رحمان بابا اشعار د هغه په ځوانۍ مشهور شوی و او د هغه تصوف[1] عمر تقاضا نه وه د اشرف خان هجري په یوه قصیده[2] کې د رحمان بابا ذکر دی دا قصیده (۱۱۱۰ هـ ق) نه پس لیکل شوې ده. د اشرف خان هجري په ۱۰۲۹ کې نیولی شو او بیا را خلاص نه شو خو دا ضروري نه ده چې در حمان بابا اشعار هغه په وطن کې لوستي وي. هغه قیدونه، نظربند وو او ستو یې اوس هم د دې تنګ لنډ جېل په دېوالونو اوړي... او زړونه تنګ نه وو.

په کال ۱۱۰۲ هـ ق یا ۱۱۰۵هـ ق کې رحمان بابا ځوان وو، هلک نه وو، بیا هم د اشرف خان هجري لهجه د مشرانو غوندې مشفقا نه ده او د رحمان بابا کم عمرۍ ته اشاره کوي:

د رحمان په شعر ځای د لقب نشته

---

[1]- تصوف

[2]- قصیده

چې يې ما شعر منظور کړو معتبر دی...)).

(وګورئ. رحمانپوهنه. ۱۱ـ ۱۲مخونه)

د تقویم الحق په پورته خبرو کې دا نتیجه اخیستلای شو چې نوموړی تر (۱۱۱۹هـ ق) کاله ژوندی وو، او د اورنګزېب یادونه يې په همدې کال کړې ده او بیا په دې خبرو د اشرف خان هجري یاداشت هم هم راوړی. تقویم الحق لکه ځینو نورو پیښبور پوهانو غوندې د پټې خزانې نقل قول د رحمان بابا د وفات کال په برخه کې باوري نه دی. نوموړی زیاتوي، چې... د عمر په سلسله کې په یوه خبره غور پکار دی.

رحمان بابا د ځان متعلق لیکل ډېر کم کړي دي. بیا وایي، د بزرګانو ځان هېر وي، خو څه چې يې لیکلي دي، هغه هم د زندګۍ یو تصویر پیش کوي -

اشرف خان هجري

دا د یوه ژوندی سړی، یو باخبره سړی، یو هوښیار سړي زندګي وه.

د ځان ورکي ملنګ زندګي نه وه، که نه داسې نه ده، چې رحمان بابا سره هېڅ فکر نه و. زما او ستا غوندې بنده وو او زما او ستا غوندې معاملې ورته پېښېدلې. څه کارونه يې نه کول او کېدل ترې.

کم و بیش که مې له لاسه واقع کېږي

یم سړی، شکم لرم بې شکم نه یم

او څه کارونه يې کول غوښتل او نه يې شو کولای.

په خپل عمر به هېڅا لیدلې نه وي

هغه چارې چې دی هر ساعت په ما کا...

چې د ګلو دسته کېږدم په دستار کې

شوم طالع به راته خار ځینې پیدا کا

که و زرو ته لاس نیسم خاورې کېږي

که و خاورو ته لاس نیسم استغنا کا

د خلکو نه يې طمع کولې او نه پوره کېدل:

په بزرگۍ د هغه پاک پروردگار

موقوف مه شه په سړي د سړي کار

په سړي چې د سړي غرض موقوف شي

نور بې آبه، بې رونقه شي روزگار

زمانې د رحمان زړه دی کباب کړی

له احواله یې څوک نه دی خبردار

خلکو ترې طمعې کولې، چې ده نه شو پوره کولای...

که زه طمع، توقع له بله نه کړم

د بل طمع، توقع کېږي له ما

که مې ورور، که مې عزیز، که مې تربور دی

هر یو غواړي خپله خپله مدعا

په هر کور کې مریضان راته پراته دي

لاس یې نه رسي د هېچا په دوا

د دنیا کارونه واړه په دنیا شي

ما به څه کا څوک، چې نه لرم دنیا...

کله ناکله یو څېړونکی کېدای شي تشویش وکړي او یوه موضوع په یو ډول نه یو ډول راوپلټي؛ له یوې موضوع سره ډېره مینه هم د تحقیق په برخه کې د لیکوال او محقق د تشویش او کار برخه ده، خو کېدای شي ځینې محققین د یوې وړې موضوع د صحت او سقم لپاره پوره او ډېر دلیلونه راوړي، چې دا د محقق وظیفه او د تحقیق د ساحې ازادي ده. تقویم الحق د دې لپاره، چې د بابا د وفات کال لا څرګند او بربنډ غلط اثبات کړي، نو ډېرو ظریفانه لارو او سندونو راوړلو ته مراجعه کوي او پیش کش کوي یې، څه برخه یې را اخلم:

((... په دیوان کې ځای په ځای د ننګ و غیرت ذکر هم شته او د زوی د نابودۍ ذکر هم، څه داسې اشارې هم شته چې ذکر یې مقام ادب ښکاري:

چې زما په چمن راشي گستاخي کا

د شبنم په څېر يې عمر يو زمان کړي

غرض دا چې ژوند يې د  غمونو، فکرونو خلاص نه و او غم د دين دی که د دنيا صحت خرابوي – رحمان بابا يې هم خراب کړی و.

د وجود گلزار مې تش سره ازغی شو

خارستان مې باغستان وليدی دريغه

روغ صورت لکه بادشاه صحت يې تخت دی

ناست په تخت مې شاه‌جهان وليدی دريغه

د تن شهر مې خرابه خرابي شوه

بيا مې دا خراب ودان وليدی دريغه

چې زما زحمت پېغور گڼي و ماته

ما هم د ځان په شان وليدی دريغه

هميش خليل د يونس د يو شعر به حواله د رحمان بابا معلوم ژوند تر ۱۱۲۸ هـ ق پورې رسولی دی او خيال يې کړی دی چې شايد پټې خزانې کاتب په خطا د ۲۸ په ځای ۱۸ هندسه ليکل وي، چې په ليک کې سره نږدې نږدې دي...

د رحمان بابا د تولد او مړينې بابا د لانجمنو څېړنو په برخه کې ځومره او برجسته تحقيونه نور هم وړاندې کوو:

۱ – استاد حبيب الله رفيع، نوموړی وايي:

د رحمان بابا له ژوند سره مربوط د ده د زيږېدو او مړينې تاريخونه هم دي، چې دا هم تر يوه ځايه د ده په خپله وينا کې ليدل کېږي او ځينې وخت بيا نورو خارجي شهادتونو او دليلونو ته اړه لري.

پټه خزانه چې د رحمان بابا د عصر تذکره ده او د ده تر مړينې ۱۴ کاله وروسته ليکل شوې، د ده د زيږېدو کال ۱۰۴۲هـ ق ضبطوي چې دا نېټه د محمد رسول ص کلا توال له بياض نه اخلي او محمد رسول لکاتوال د رحمان بابا تر مړينې دوه کاله وروسته په ۱۱۳۰ هـ ق کال پېښور ته راغلی او د تصادفاً رحمان بابا له پياوړي

شاګرد یونس خیبري سره آشنا شوی او له هغه سره یې د هغه په کور کې بشپړه میاشت تېره کړې ده او بیا له دې ځایه کندهار ته د رحمان بابا په باب کره او پاخه معلومات له ځانه سره وړي دي، چې به دې دلیل دا سند ډېر پخبېړي او هم بل داسې سند نه لرو چې دا سن ماته کړي.

د رحمان بابا په دیوان ک هم داسې شهادتونه نشته چې د دې وینا مخه ونیسي، البته په هغه قصیده کې چې رحمان بابا د ارونګ زیب د ۱۱۱۸ هـ ق کل د مې میاشتې په ۲۸ نېټه وفات شوی، چې د دې کال یوازې ۳۱ – ۳۲ ورځې پاتې دي او پېښور ته یې  خبر د کال تر ختمېدو درې ورځې وړاندې را رسېدلی او هم رحمان بابا په دې غندنه یا یادونه کې د ده د زوی شاه عالم د بادشاهۍ یادونه هم کوي، نو غالباً چې دا قصیده به یې په ۱۱۱۹ هـ کال کې ویلې وي او په دې قصیده کې یو بیت چې ځان ته خطاب پکې کوي، داسې لولو:

تر پنجاه و پنجه تېر شوی

ته لا ځان بولې پسر

چې د دې بیت له مخې د ده د زیږیدو کال ۱۰۴۲ هـ ق نه بلکې ۱۰٦۴ هـ ق راوځي، خو څرنګه چې دا بیت هم په بېلابېلو نسخو کې ثابت نه دی او بېلابېل وریانتونه او نسخه بدلونه لري او کله چې موږ په ۱۹۷۷ ع کال په کابل کې د رحمان بابا دیوان د شلو قلمي نسخو له مخې ترتیباوه هلته په یوه ډېره زړه نسخه کې دا بیت داسې هم ضبط شوی و:

تر پنجاه و شسته تېر شوې

ته لا ځان بولې پسر

چې بیا د عمر اوږده زماني واټن ته لوېږي او دا بیت هم پټې خزانې سند او سند نشي ماتولی.

د وفات کال: اوس را رسېږو د رحمان بابا د مړینې او وفات کال ته دا سن هم بل چا نه ده ثبت کړې او بیا هم د ده د مړینې سند پټه خزانه ورکوي ا ود وفات کال یې ۱۱۱۸ هـ ق ښیي، خو دا سنه سمه نه ده قید شوې او د رحمان بابا په خپل دیوان کې داسې داخلي شهادتونه شته چې دا سنه ماتوي.

لومړی همدا د اورنګ زیب ویرنه یا غندنه ده چې پاس مو اشاره ورته وکړه او د دې بوللې  د ویلو کلا غالباً ۱۱۱۹ هـ ق دی، چې تر یادې شوې سنې یو کال وروسته  کېږي.

بل مهم داخلي شهادت د ګل خان او جمال خان تراژیدي ده چې بیا هم رحمان بابا قصیده پرې ویلې ده، په دې پېښه عبدالقادر خان خټک او حمید بابا هم نظمونه ویلي دي او د افضل خان خټک د تاریخ مرصع په

شادت دا پښنبه په ۱۱۲۳ هـ کال شوې ده، نو ځکه د رحمان بابا ژوند تر دې کال پورې را اوږدېږي او دا هم حتمي نه ده چې به دې کال دې ناڅاپه مړ شوی وي، نو اوس ګورو چې رحمان بابا نور څومره ژوند کړی دی؟ په کوم کال وفات شوی دی؟ او د پټې خزانې له خوا ضبط شوې سنه چې د ده د شاګرد په روايت ولاړه ده، څنګه په کتابت کې غلطه شوې ده؟

د رحمان بابا په ديوان کې نور داخلي شهادتونه نشته اوس ځو د ده د وخت په نورو پخو سندونو پسې ګرځو، بيا هم د ده شاګرد يونس خيبري ته مستقيماً رسېږو او له نيکه مرغه د ده ديوان چې دا څو کاله کېږي چاپ شوې، را سپړو او د حمان بابا په انتقال ويل شوې، پر سوزه مرثيه پکې لولو، خو دلته هم مطلب نيغ به نيغه نه شو ترلاسه کولای ځکه د شرق په ادب کې منظومې مرثيې او تاريخ ښودنې په نعميه او تاريخ ګويۍ ولاړې وي او يونس خيبري چې د ده فن پياوړي استاد دی د رحمان بابا د وفات تاريخ په تعميه او تاريخ ګويۍ کې رانغاړي.

په پښتو ادب کې له الفاظو او کلمو نه د ابجد په حساب د تاريخ استخراج ظاهراً له لسمې هجري پېړۍ نه ارزاني روښاني[1] زرم هجري کال په شاوخوا کې را ښبولی، خو لکه څرنګه چې د هرې نوې شروع تقاضا ده، ډېر ساده او عامه فهمه دی چې نمونې يې ځای په ځای د ده په ديوان کې شته چې بيا د خوشحال خان خټک[2] د ده د زامنو او خينو نرو شاعرانو په وينا کې هم تاريخي مادې مومو، چې په ابجد[3] حساب حل کېږی او مطلوب مطلب ترلاسه کوي.

هغه چا چې په پښتو ادب کې يې تعميې[4] او تاريخي مادو ته زياته ورکړې ده، هغه د رحمان بابا شاګرد يونس خيبري دی، د ډېرې مغلقې معماوې او د تاريخ مادې په خپله وينا کې ځای کړي ديؤ، چې يوه بره يې محمدي صاحبزاده* د ده ديوان قلمي نسخه کې حل کړې هم دي، يو څو يې وروسته حل شوي او يوه برخه يې لا تراوسه ناحل پاتې دي. ده د لعيې له ډېرو سختو عمليو څخه کار اخيستی چې د قلب او کلمو د ترجمې معماوې هم پکې شته، لکه د وحدی معما:

قدح ونيسه په لاس کې فارغ کينه

پای يې سرو لره ورکړه د قدجاه

---

[1]- ارزاني روښاني

[2]- خوشحال خټک

[3]- ابجد

[4]- تعميه

چې محمدي صاحبزاده[1] له داسې حل کړې ده:

د لاس له ید څخه عبارت دی، چې قدح یې به سر کې راغله قدحید شو ځرنګه چې د سرو پای واو دی، د قد ځای وموند، وحید ترې جوړ شو.

خبره مو دا کوله چې یونس خیبري د رحمان بابا په مړینه یوه پر سوزه مرثیه هم ویلې ده، چې دلته یې سره لولو:

چې پیدا له اشنایۍ سره هجران شه
ځکه داغ یې له په خاطر باندې ارمان شه

انجمن د ښو یارانو نوبهار دی
جدایي ورباندې پیر وکړ خزان شه

چې په قدر کې درون دریاب وو
اوس صدف د هغو درو ګورستان شه

چې په شرق د آشنایۍ لکه لمر وخوت
په مغرب د جدایۍ که نهان شه

دا چې باد د جدایۍ په جهان ګرځي
له هیبته مې صورت بید لړزان شه

د سکوت قلف به یې ځرنګ لیرې کېږي
چې په مرګ یې درون بند، کلید زبان شه

له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه
چې له دې سرایه په نوي سرای مهان شه

مرګ د سخي د ښو خبرو هسې شوم کا

[1]- محمدي صاحبزاده

چې يې يو کلام زړه نه کېږي، پرې ګرانه

چې په ملک يې نام د نيکو شه مړ نه دی

څو شو دا که په حساب د مردګانو شه

په پښتو شعر يې هسې نامه يووړه

چې خبر يې په اشعار ايران، توران شه

پر لذت شعر به څوک کاندي يونسه

چې په مرګ ځينې خاموش عبدالرحمان شه

په دې مرثيه کې د رحمان بابا په باب په نورو خبرو سربېره د ده د مړينې کال هم نغښت يدی او د دې بيت شعر:

له رحمانه فيض ياب عبدالرحمان شه

چې له دې سرايه په نوي سرای مهان شه

له دواړو مصريو نه د نعمييې او تاريخ ګويۍ د بېلابېلو معادلو په اساس د ده د مړينې بېلابېل تاريخونه ترلاسه کېږي، چې استاد عبدالشکور رشاد د يونس د ديوان تر خپرېدو وروسته د تعميې او تاريخ ګويۍ معادلو له مخې په پنځه ډوله حل کړي او له پنځو واړو ډولونو څخه يې د رحمان بابا د مړينې سنه ۱۲۸ هـ ق کال راوتلې ده چې په دې ټولو کې يې ډېر ساده حل:

چې له دې سرايه په نوي سرای مهمان شه

۸+ ۳۵+ ۱۴+ ۲۷٦+ ۷+ ۷٦+ ۲۷+ ۱۳٦+ ۳۰۵= ۱۱۱۸ هـ ق

يا:

چې له دې سرايه په نوي سرای مهمان شه

۳۰۵+۱۴٦+۲۷۱+٦٦+۷+۲۷٦+۱۴+۳۵+۸=۱۱۲۸هـ.ق

مسرۍ ابجدي عددي ارزښت دی، چې د ټولو تورو ابجدي قېمت يې (۱۱۲۸ هـ.ق) او دا د رحمان بابا د مړينې کال دی.

زه چې د یونس خیبري د تعمیې او د تاریخ ګویۍ مهارت ته ګورم، د دې مرثیې په ډېر مصرو کې داسې نښانې او آثار شته چې د غزل د بېلابېلو برخو عددي ارزښتونو ته د سړي پام ور اوړي، او ډېر داسې نکات پکې شته چې د رحمان بابا د مړینې تاریخ ترې استخراج شي.

اوس بېرته راګرځو په پټه خزانه کې راغلې سنې ته چې په هندي بڼه ۱۱۱۸ لیکله شوې ما چې کله لیکله او هغه لا د یونس یوان نه و چاپ شوی، نو اټکل مې کړی چې ښایي دا لیکنه د کتابت تېروتنه وي، ځکه د پټې خزانې سند د یونس خیبري په بالواسطه سند ولاړ و چې دا دی د یونس خیبري مستقیمې وینا هم د دې اټکل وکړ او اوس به جرات ویلای شو چې په پټه خزانه کې  رحمان بابا د مړینې راغلې سنه ۱۱۲۸ ق ده د کتابت بېړنۍ لکینې چې د کتاب په پای کې نغوته ورته شوې، ۱۱۱۸ هـ ق ترې جوړه کړې ده.

همدارنګه پوهاند استاد رشاد د یونس خیبري د مرثیې یوه بل مهم ټکي ته متوجه شوی دی، یونس وایي:

انجمن د ښو یارانو نوبهار دی

جدایي ورباندې فیر وکه خزان شه

له دې بیت د شعر نه دا هم ترلاسه کېږي، چې رحمان بابا په پسرلي د ربیع[1] کې وفات شوی وي او جالبه ده چې ۱۱۲۸ هـ کال د ربیع الاول وروستۍ هفته د د ۱۰۹۵ هـ ش کال له نوروز نوبها سره سمون خوري، نو له دې نکتې نه دا اټکل هم کولای شو، چې رحمان بابا د ۱۱۲۸ هـ ق کال د ربیع الاول په اواخرو کې چې له نوبهار سره سمه ده، وفات شوی وي.

په دې برخه کې یوه بله برابري هم ده چې د رحمان بابا عرس، سمینارونه کنفرانسون اوس هم په بهار (پسرلي) کې کېږي او په دې ډول یې په تصادفي ډول سالګره نیوله کېږي، دا ځکه چې:

که نظر کا څوک په کار د درویشانو[2]

خود به وویني وقار د درویشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دی

خزان نه لري، بهار د درویشانو

---

[1]- ربیع

[2]- درویش

د دې اسنادو او د دې محاسبې په رڼا کې موږ نتیجه اخیستلای شو، چې رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ ق زیږېدلی د ۱۱۲۸ هـ ق په نوبهار وفات شوی، چې پاخه عمر ته رسېدلی او پټوره ۸٦ کاله یې ژوند کړی دی او په دې موده کې یې هغه رنګینه خو ساده وینا کړې، چې له خدای ج نه یې غوښتي وو چې:

الهي د خپل حبیب له برکته

دا ساده انشا رنګینه د رحمان کړې

او هم په دې وخت کې یې هغه ادبي شهرت موندلی دی، چې د باګرام ترکو یې په شعر هم نغمې کړې، هم رقص او هم خندا او هم یې د شعر کوکې په عالم خورې شوې دي، شهرت یې ورځ په ورځ زیات شوی، آفاقي شوی، د پښتونخوا له چوکاټ نه د ټول شرق ساحې ته وتلی او هم په غرب کې یې محققین د خپل شعر او هنر په څېړنه او تقیق بوخت کړی دی او دا شهرت به یې تر څو پښتونخوا دا نه وي او تر څو دنیا آباده وي، او جیګر او موجیګر وي او لا به زیاتېږي او خورېږي.

ستا د حسن د تعریف له برکته

د رحمان د شعر کوکې په عالم کې دي

وګورئ: رحمان ادبي جرګه

د استاد حبیب الله رفیع په قلم دې برکت وي، د بابا د ۱۳۹۳ کال ۲۸ مخ او مړینې کلونه یې له تاریخي، علمي، څېړنیزو، ادبي، نقل قول، قوي ماخذونو، شعرونو، عقلي، نقلي او عرفي...) دلایلو له مخې مستدلل کړي او نور یې د شک ځای نه دی پرې ایښي او رحماني بابا یې په ډېر عمر کولو ویاړلی دی او په دې ډول یې په ژوندویي آوازې او انګازې له شرقه تر غربه او له شماله تر جنوبه په آسیایي هېوادونو کې خورې شوې دي. او دا لا څه چې د شاعر او لیکوال په خلاصو سترګو شنوا غوږونو خپلې د شهرت رنګینې آوازې واوري او د خلکو له خوا یې درنښت وشي، نو ډېر نیک ساعت دی!

د یو رواشناس امرسن وینا ده، چې یو انسان ټول عمر د خپل عزت لپاره هلې ځلې کوي...)

ا شهرت خو د شخصیت لوړولو او خورولو په خاطر طلایي چانس دی.

غني خان غني (                ) وایي:

پروفیسور قلندر مومند:

موږ دغه څېړنه نوره هم غځوو، پروفیسور قلندر مومند د رحمان بابا د پیدایش او وفات کلونه تر سرلیک لاندې لیکي:

((د پښتو د ادبي تاریخ یوه لویه مساله زموږ د لویو لیکونو او د لیکونکو ژوند په باره کې د معلوماتو کمي سره تعلق لري، رحمان بابا زموږ د ادب ډېر روښانه ستوري دي د ژوند په واقعاتو خوره ده او په قطعیت سره موږ د رحمان بابا د پیدایښ او وفات کلونو په باره کې هم د عوې نشو کولای.

په شلمه صدۍ عیسوي (څوارلسمې صدۍ ک کهجري) کې د نورو تاریخي معلوماتو د لټون لپاره د هلو ځلو پهلړ کې د رحمان بابا د پیدایښ او وفات د کلونو په باره کې هم د خیال انګېز یو مهم شروع شو او ددې مهم په دوران کې په لومي ځل دا ویلی شو، چې د رحمان بابا د ژوند زمانه له ۱۰۵۰ تر ۱۱۲۰ پورې تخمین کولای شو. (۱)

د وفات د کال یعنې ۱۱۲۰ هـ ق لپاره خو د تخمین بنیاد د بهادر شاه په باره کې د رحمان بابا شعر ګڼلی شوی دی، ۲ ولې د پیدایش په ب اره کې یې هېڅ بنیاد نه دی ښوول شوی.

پټه خزانه د رحمان بابا د پیدایش کال ۱۰۴۸ هـ ق او د وفات کال یې ۱۱۱۸ ښیي. دا کتبا دا دواړه تاریخه محمد رسول هوتک علیه الرحمه د بیاض پر بنیاد بیانوي، خو د محمد رسول هوتک علیه الرحمه په باهر کې هېڅ معلومات نه ورکوي، ځکه خو مو دا نشو ویلی چې د محمد هوتک دا سند باوري دی او که نه.

دلته دا خبره د یادولو ده چې رحمان بابا د زیږېدو او مړینې کلونه ۲ نومې مقاله (غړکه - رحمان نمبر ۱۹۸۵ ع محمد رسول هوتک علیه الرحمن په ۱۱۳۰ هـ کې پېښور ته رسوي، یونس خیبري سره یې ملاقي کوي او وایي چې هغه له دې ځایه قندهار ته د رحمان بابا په هکله کره او پاخه معلومات له ځانه سره وړي دي او داسې دعوې کوي چې په دې دلیل دا آند ډېر پخېږي. حالانکې دا ټوله خبره محض افسانه ده.

پټه خزانه چې کوم سړي یونس خیبري ته رسوي، د هغه نوم محمد رسول کلا تو ال نه بلکې د محمد هوتک د وینا مطابق د هغه تربور د رحمت هوتک دی. ۴

او د دې ښاغلي یعنې رحمت هوتک د پټې خزانې مولف ته د رحمان بابا په باره کې له دې نه بغیر نور هېڅ معلومات نه دي وکړي، چې یونس د رحمان بابا شاګرد و، ځکه نو باوري سند هېڅ بنیاد نه لري.

د رحمان بابا د پیدایش د کال په باره کې د پټې خزانې د روایت د عمارت د پرېوتو نه پس او موږ سره د رحمان بابا د کلام د داخلي شهادتونه بغیر نور هیڅ باوري سند نه پاتې کیږي، دې داخلي شهادت ته په غړګه کې

چاپ مقاله په ٥٦ ص اشره کوي، خو ډېر اهمیت نه ورکوي، حالانکې که چېرې د داخلي شهادت ذکر کېږي، نو صرف همدغه یو داخلي شهادت داسې دی، چې اهمیت ورکول پکار دي او اګر چې دا دا شهادت قطعي او حتمي دلیل نه شو ګڼلی.

ترې هم ممکن نه دی. دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې په دې داخلي شهادت پروفیسور سید تقویم الحق کاکاخېل په خپله هغه ناخلاصه مقاله کې بحث کړی چې د رهبر په یو ایډشن کې چاپ شوې ده.

د اورنګزیب د وفات او د بهادر شاه د پاچاهۍ ذکر لرونکې قصیده کې دا شعر:

تر پنجاه پنجه تېرت شوې

ته لا ځان بولې پسر

موجود د دې او صرف یوه نسخه کې چې دغه مقاله یې ذکر شوی دی او تفصیل یې نه دی بیان شوی دا شعر داسې دی:

تر پنجاه و شسته تېر شوې

ته لا ځان بولې پسر

او د دې یو یې نسخې په بنیاد دا دعوې کېدای شي، چې دا بیت په بېلابېلو نسخو کې ثابت نه دی او بېلابېلو اریانټونه (شایدو ور یانټونه) یعنې مختلف قراتونه ناقل او نسخه بدلون لري. ٥

حلانکې د رحمان بابا ټولو قلمي نسخو کې چې ما د کلیات لپاره کتلي، دا شعر داسې دی:

تر پنجاه تر پنجه تېر شوې

ته لا ځان بولې پسر

د دې شعر په باره کې عام طور سره دا خیال کېږي چې دا رحمان بابا په ۱۱۱۹ هـ کې لیکلی و، حالانکې د داسې خیال لپاره هېڅ قرینه نشته. موږ صرف دا ویلی شو چې دا شعر د ۱۱۱۹ هـ ق پس لیکل شوی دی. ولې که په ۱۱۱۹ هـ ق کې موږ د رحمان بابا عمر ۵۵ کاله فرض کړو، نو د رحمان بابا د پیدایښ کال ۱۰۶۴ هـ ق راوځي او که داسې وي، نو د خوشحال بابا د وفات په وخت کې په ۱۱۰۰ هـ ق کې د رحمان بابا عمر ۳٦ کاله منل پکار وي.

حالانکې داسې کول به ډېر غلط وي، ځکه که چېرې د خوشحال بابا د مرګ په رحمان بابا د ۳٦ کالو وي، نو دا

به ډېره اغلبه خبره وي، چې خوشحال بابا به يې د شاعر په حيثيت ذکر نه کولو، بلکه:

د خوشحال بابا په کليات کې دا قطعه موجوده ده:

هر چې لاف وهي د شعر

نن په دا دور دي ډېر

خداى دې نه کا چې وايم

حال د دوى و تير نبر

ځوک پاوى، ځوک نيم پاوى دى

قلندر پکې نيم سير

چې زموږه په حساب دي

هېڅ يې نه دى واصل هير

بل دولت فقير درې پاوه

زه ترې ځو سر شاهي تير

چې په سراى کې به پيدا شي

پس له قرنه پوره سير

دې قطعه کې د ذکر شوو ټولو شاعرانو نه رحمان بابا د شاعر په حيثيت ډېر عظيم ى او د خوشحال بابا غوندې نقاد نه هډو دا اميد نشي کېداى، چې هغه به دومره عظيم شاعر له نظره لرې کړى وي، او که ځوک دا ووايي، چې د قطعې ليکلو په وخت کې خوشحال بابا ته د رحمان بابا کلام نه ورسېدلى، ځکه يې د هغه ذکر کړى نه دى. نو دا وضاحت به ځکه غلط وي، چې له دې قطعې نه غير هم خوشحال خان ځو ځو ځل د نورو شاعرانو ذکر کړى دى، ځکه نو د عمر په هره حصه کې د خوشحال غوندې عظيم نقاد ته د رحمان بابا غوندې د عظيم شاعر کلام رسېدلى وي، نو هغه به يې خامخا ذکر کولو او چې خوشحال خان د رحمان بابا ذکر نه دى کړى، نو ځرګنده خبره ده، چې د خوشحال بابا د مرګ کال يعنې ۱۱۰۰ هـ پورې د رحمان بابا عمر هېچرې ۳٦ کاکله نه و ځکه چې په دومره عمر کې به د هغه کلام د معيار او د مقدار له رويه دومره وو چې د خوشحال بابا توجه به

يې ځان ته ته راګرخوله، يوه بله خبره هم دې ضمن کې نظر اندازې کول نه دي پکار، د خوشال مشر زوی اشرف خان هجري* په ۱۰۹۲ هـ ق کال کې ګرفتار شوی او هندوستان ته استول شوی و، چې بيا هم هلته په ۱۱۰٦ هـ ق کې وفات شو. ده لکه چې مخکې ذکر وشو، په خپله يوه قصيده کې د رحمان بابا کلام ذکر کړی دی، ظاهره ده که تر ۱۰۹۲ هـ ده د رحمان بابا کلام لوستی وي، نو د خوشحال بابا په باره کې هم دا اميد کېدای شو چې هغه به هم لوستی وي، خو هر کله چې د خوشحال بابا په کلام کې د رحمان بابا ذکر نشته، نو لکه چې عرض و، تر ۱۱۰۰ هـ ق پورې د رحمان بابا عمر او د هغه شاعرانه ژوند دومره و ، چې پښتونخوا کې شهرت حاصل کړی وي او اشرف خان هجري[1] ته د هغه د شاعرۍ علم د ۱۱۰۰ هـ نه تر ۱۱۰٦ هــ ق پورې دور کې شوی دی.

اشرف خان هجري په خپل ديوان کې د رحمان بابا ذکر داسې کوي:

د رحمان په ويل ځای د لقت نشته

چې يې ما شعر منظور کړ معتبر دی

عام طور سره زموږ نقادانو د دې شعر ن مخکې دا شعر

خوږ زبان په زمانې شکرې لونې

هغه وړاف چې مستقر يې پېښور دی

هم د رحمان بابا په باره کې ګڼلی دی، حانکې دا شعر د قلندر په باره کې دی.

د خپلې خبرې ثابتولو په غرض نه د دې نظم متعله شعرونه لاندې ليکم:

شاعران د پښتنو ګويا ځېر دی

د ميرزا شعر شمله بلکې افسر دی

تکلف په دا کې کې نشته باور وکړه

په دا فن يې ګوی وړی له يو هر دی

نن په دا دور که ښه شاعران غواړې

[1]- اشرف خان هجري

که دوه درې تنه دیګره یو قلندر دی

خوږ زبان په زمانې شکرې لونې

هغه واف چې مستقر یې پېښور دی

د رحمان په ویل ځای د لقب نشته =

چې یې ما شعر منظور کړ معتبر دی

تاسو وکتل چې د هر شاعر د ذکر نه پس د هغه په تعریف کې لیکل شوي دي، ځکه نو د قلندر د ذکر نه پس د:

خوږ زبان په زمانې شکرې لوني

هغه واف چې مستقر یې پېښور ی

شعر د قلندر په باره کې دی او زموږ محترم نقادان د دې شعر په باره کې د غلط فهمۍ ښکار شوی دي، ما چې په کوم شکل کې دا شعر نقد کړی دا د قلمي نسخې نه زما قرات دی، که د چاپي نسخې قرات پسې لاړ شو او شعر داسې ولول:

خوږ زبان یې په زمان شکرې لوني

هغه واف چې مستقر یې پېښور دی

نو بیا هڅو د نور بحث سوال نه پیدا کېږي او وړومبۍ مصرع کې دا یې ضمیر غایب به خامخا قنلدر ته راجع کېږي، ځکه چې لا د رحمان بابا ذکر نه دی شوی او د اظهار قبل الذکر یوازې عربۍ کې نه، بلکې هره ژبه کې غلط دی، ځکه زما په یقین د چاپي نسخې قرات څه بنیاد نه لري.

یوه بله خبره هم په دې سلسله کې ډېر اهمیت لري، اشرف خان هجري د رحمان بابا د شعر د معتبر کېدو ثبوت دا بیانوي چې ده یعنې اشرف خان هجري یې شعر منظور کړی دی، که دا ثبوت څوک ومني نو بیا:

خوږ زبان په زمانې شکرې لوني

هغه واف چې مستقر یې پېښور دی

به خامخا د رحمان لپاره نه، بلکې د قلندر لپاره ګني، ځکه چې دا شعر ټوله زمانه د شاعر د شرین زبانۍ قائله ګڼي او دې پسې شعر کې هجري صرف د خپل تنقیدي شعور په بنا د رحمان بابا شعر قابل اعتبار مني.

زما دا توجه په دې لحاظ هم صحیح ده چې اشرف خان هجري ته تر خپله مرګه یعنې ۱۱۰٦ هـ ق پورې د حرمان بابا ټوله شاعري نه وه رسېدلې کم از کم دا شعرونه:

یو خوشحال یو کم سل ختېک په طبعیت کې

ځار شه د رحمان سره بني تر یوه فرده

دا غزل په حاشیه و سنکه رحمانه

د خوشحال د بیاض پانې به وریږدي

که یې غږ د رحمان مومند تر غوږ نشي

غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال ځوک

خوشحال او دولتامې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

خو په هېڅ صورت اشرف خان هجري ته نه ور رسېدلې، دا زه ځکه وایمک چې اشرف خان هجچري په دیوانک ې د قلندر مومند یو غزل راغلی دی، چې ځینې شعرونه یې دادي:

خوږ زبان په زماني شکرې لوني

هغه واف چې مستقر یې پېښور دی

به خامخا د رحمان لپاره نه، بلکې د قلندر لپاره ګڼي، ځکه چې دا شعر ټوله زما د شاعر د شرین زبانۍ قائله ګڼي او دې پسې شعر کې هجري صرف د خپل تنقیدي شعرو په بنا د رحمان بابا شعر قابل اعتبار مني.

زما دا توجه په دې لحاظ هم صحیح ده چې اشرف خان هجري ته تر خپله مرګه یعنې ۱۱۰٦ هـ ق پورې د رحمان بابا ټوله شاعري نه وه رسېدلې، کم از کم رنګه دا شعرونه:

یو خشوحال یو کم سل ختېک په طبعیت کې

ځار شه د رحمان سره بني تر یوه فرده

دا غزل په حاشیه که رحمانه

د خوشحال د بياض پاڼې به وربږدي

که يې غږ د رحمان مومند تر غوږ نشي

غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوک

خوشحال او دولتنامې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمگير يم

خو په هېڅ صورت اشرف خان هجري ته نه و رسېدلی، دا زه ځکه وايم چې اشرف خان هجري په ديوان کې د قلندر يو غزل راغلی دی، چې ځينې شعرونه يې دا دي:

نوی طرز مې په پښتو ژبه کې وکړ

د افغان په شاعرانو کې سلطان يم

په پښتو کې چې څوک دم وهي د شعر

خوشه چين مې دي د ځېر مې زه دهقان يم

و پښتو ژبې مې آب ورکړ په شعر

د فارسۍ شعر چې نه وايم افغان يم

د دې غزل په ځواب کې اشرف خان هجري يوه قصيده ليکلې ده چې دا شعرونه يې د غور قابل دي:

دا مهينه قصيده مې چې انشا کړه

عجب کړی په اشعار قلندر خان يم

ما يې شعر هسې ډک له فخره وليد

چې حيران يې د شاعر په دا گومان يم

هومره کبر بدايي کا په خپل شعر

وايي شه په دا هنر د شاعران يم

د پښتو ژبه مې نوې کړه په شعر

د مغل په شعر هم عالي مکان یم
خوشه چین د پښتو ژبې شاعران دي
زه دهقان د بلاغت فیض رسان یم
چې عطا د ویړو کادانه نه یې نه وي
خندا وړي په عطا د دې دهقان یم
د پښتو شعر یې سم له ډېرو نه دی
د مغل د شعر لاف وهي حیران یم
شاه د شعر په پښتو ژبه هغه دی
چې یې زه حلقه بگوش د شاگردان یم

نو که د رحمان بابا دا ذکر شوي شعرونه اشرف خان هجري لوستي وي، نو دا شعرونه به هم ترې نه وو پاتې شوي، په دې دلیل موږ دا ویلی شو چې د اشرف خان هجري تر مرگه ۱۱۰٦ هـ ق کال د پیدایش وگڼو تر ۱۱۰٦ هـ ق پورې که موږ ډېر فیاضانه قیاس هم وکړو، نو د رحمان بابا عمر به د ۲۵ کاله وگڼو او په دې حساب به د هغه د پیدایش کال ۱۰۸۱ هـ ق مخکې هېڅکله نه وي د رحمان بابا د وفات د کال په باره کې هم د هغه د پیدایش د کال په شان اختلافات دي.

پټه خزانه د رحمان بابا د وفت کال ۱۱۱۸ هـ ق بیانوي او زموږ د افغانستان ورته وایي، چې دا د کاتب تېروتنه ده چې د ۱۱۲۸ هـ ق په ځای یې ۱۱۱۸ هـ ق لیکلی دی او دا تېروتنه د د ستاویز د آخرني کاتب محمد عباس کاسي د باستعمال تمام قلمي شد په ډېره بیړه ولیکلی شو په الفاظو د درگذر قایله گڼې.

د رحمان د وفات کال چې کله اروانباد استاد د عبدالحی حبیبي په پښتانه شعرا کې ترتیباوه، د قلندر په وینا تر وتبه ترې شوې وه. نوموړی وایي:

دا غلط فهمي ښاغلي عبدالحی حبیبي مرحوم ته ځکه شوې وه چې د مغلو په خاندان کې یو پادشاه کله مړیا له تخته محروم شوی دی، نو بغیر د څه فصله بل پادشاه ورپسې په تخت ناست دی، لکه چې له دې نقشې به ثابته شي:

بابر ۹۳۲ – ۹۳۷

همايون ۹۳۷ – ۹٦۳ هـ ۹۴۷ هـ نه ۹٦۱ هـ پورې همايون له تخته محروم و

اکبر ۹٦۳ هـ ۱۰۱۴ هـ

جهانګير ۱۰۱۴ – ۱۰۳۷

شاه جهان ۱۰۳۷ – ۱۰٦۸ هـ معزول

اورنګزيب ۱۰٦۸ – ۱۱۱۸

له بده مرغه د اورنګزيب په سلسله کې دا روايت څکه قايم پاتې نه شو چې دده د وفات د ذوالقعده ۱۱۱۸ هـ په ۲۸ په احمدنګر (دکن) کې وشو، چې هغه وخت شاه عالم يې صوبدار و، د بادشاه د وفت خبر را ورسېد، نو دا د لوی اختر د مياشتې ۲۷ تاريخ و چې دوه يا درې ورځې ۱۱۱۸ هـ ته پاتې وي. تاريخ هېچرې دا نشته، چې د پلار د مرګ سره سم شاه عالم د خپل پاد شاهيت اعلان وکړ، که څه هم د مشر زوی په توګه حق د همغه و، خو دی چې له پشتونخوا روانيده نو د پاشاه په حيث نه بلکې د پادشاهۍ د اميد وار په حيث يې سفر اختيار کړ او هم دغه وجه ده چې ده د خپلې پادشاهۍ اعلان په لاهور کې د ۱۱۱۹ هـ په ۳۰ محترم يا لکم سفر وکړ او هر کله چې ښاغلی حبيبي مرحوم د غلط فهمۍ په بنياد د شاه عالم بهادر شاه د جلوس کال ۱۱۱۸ وګڼلو، نو څکه يې د رحمان بابا ژوند تر ۱۱۱۸ هـ ق يعنې ومنلو او همدغه غلط فهمي محمد هوتک ته هم وشوه، څکه نو دا وينا صحيح ته ده چې پټه خزانه کې ليکلې د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ هـ ق د کتابت غلطي ده چې اصل کې ۱۱۲۸ هـ ق و د دې په مقابل کې ښاغلي حبيبي مرحوم تر ۱۹۵۳ م پورې په دې اسرار کولو چې د ۱۱۱۸ هـ ق دا کال صحيح دی. (۱۰)

او د محمد عباس کاسي د باستعما له تمام قلمي شد غذر يې نه پيش کولو او چې د ګل خان او جمال خان د واقعې په باره کې راوړتې نه پس د تاريخ مرصع حواله ومونډل شوه او دا ثابته شوه چې په ۱۱۲۳ هـ ق کال کې رحمان بابا ژوندی و، خو د افغانستان محترمو ليکونکو د پټې خزانې بيان ته د کتابت د غلطۍ نوم ورکړو او يوه نوې دعوی يې دا وکړه چې دا کال په اصل کې ۱۱۲۸ هـ به ځای که ۱۱۲۸ هـ وليکل شي، نو دا د کتابت غلطيو سره آګاه خلک دا ګواهي ورکولای شي، چې د ۱۱۱۸ هـ په ځای ک که ۱۲۸ هـ وليکل شي، نو دا د کتابت غلطي کېدای شي، خو په ۱۱۱۸ هـ ق د ۱ د هندسې د درې څلونوم د راتللو په وج د کتابتغلطي امکان نه لري، دا کېدای شي، چې د ۱۱۷ – ۱۱٦ هـ يا بلې کومې هندسې چې درې څل پکې ۱ راغلی وي، يو تر بله التباس وشی او دغه هندسې ۱۱۱۸ هـ ش وليکل شي، خو که په موجوده صورت کې د کتابت د غلطۍ عذر قابل سماعت نه ی.

قلندر مومند لیکي:

زموږ د افغانستان ور ونه لیکونکي د رحمان بابا د وفات کال کې د کتابت د  غلطۍ له غه ذکره پس د یونس له دیوانه د محتر اروانباد د استاد رشاد په حواله د یونس خیبري له دیوانه له یوې مصرۍ د ۱۱۲۸ هـ ق د کال د رحمان بابا د وفت د کال په حیثیت استخراج کړی دی. (۱۱)

د محترم شکور رشاد د دغه ذکر شوی لیک زما له نظر نه دی تېر شوی، ځکه زه پرې د بحث کولو په پوزیشن کې نه یم، البته د غوږګې په مقاله کې چې له کومې مصرۍ نه د ۱۲۸ هـ ش کال راوکښلی دی، هغه = شمېر زما په حساب بالکل غلط دی او ځکه زه نه شم ویلای، چې د پروفیسور رشاد غوندې عالم به داسې غلطي کړې وي.

د غوږکي د مقالې مطابق د یونس د مصرۍ:

چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شو

نه د ابجدي ارزښت له رویه د ۱۱۲۸ هـ ق کال راوځي، دې ضمن کې د هغوی حساب داسې دی:

۱ – چې ۸

۲ – له ۳۵

۳ – دې ۱۴

۴ – سرایه ۲۷٦

۵ – په ۷

٦ – نوي ۷٦

۷ – سرای ۲۷۱

۸ – مهمان ۱۳٦

۹ – شه ۳۰۵

د دې ټول میزان مقاله کې ۱۱۲۸ هـ ق لګولی شوی دی، حالانکې د صحیح حساب مطابق د دې میزان ۱۱۱۸ هـ دی، ځکه چې د شپږم ټکي ابجدي ارزښت ۷٦ نه بلکې (ن وی = ۵+ ٦+ ۱۰) ٦٦ دی، له دې

مصري نه د ۱۱۱۸ هـ اعدا راوکښل هم د جدید رسم الحاظ له رویه ممکن دی، ځکه چې د یونس په زمانه کې نه، بلکې له هغه نه هم ډیر پس د پښتو لیک دود داسې نه و لکه چې د یونس په دیوان کې یا دغوړکې په مقاله کې استعمال شوی دی.

اول خو دا خبره نظر اندازي کول نه دي پکار چې د یونس دا د مرثیه د ش به پټې کې ده، ځکه نو د مصرې وروستی توری شه نه بلکې ش دی. په دې حساب ۵

ترې نور هم کم کړئ یعنې اوس به یې مزیان ۱۱۱۳ شي. په زړه املا کې له سایه او په کې ۵ نشوه لیکلی، نو پنځلس ترې نور هم کم کړئ.

داسې به د مصرط اعداد ۱۰۹۹ شي او دا به ترې ثابته شي، چې رحمان بابا د خوشحال بابا نه دوه کاله اګاهو وفات شوی و، خبره دلته نه ختمېږي، دا وینا هېڅوک په یقین نه شي کولای چې د مصرې وړومبی توری چې دی دی چې دی او که یې؟

په دویم صورت کې به پنځه ور زیات شي او ۱۱۰۳ هـ به شي او په درېیم صورت کې به ترې پنځه کم شي ۱۰۹۳ به شي.

دې ضمن کې د زوړ لیکدود مطابق د تاریخ ګوی څو مثاله پیش کوم چې دا ترې ثابته شي، چې متقدینو د خپلژ زمانې د املا مطابق تاریخونه وکښل او که موږ د کالونو د راوکښلو په سلسله کې یاد پروفیسور رشاد دا فردي طریقه خپله کړو نو د زړو ټول تاریخونه به غلط کړو.

قلندر مومند ډېر نور دلیلونه او مثالونه هم په دې برخه کې راوړي او دا زیاتوي چې اوس نو چې دا تاریخونه ۱۱۱۸ هـ او ۱۱۲۸ هـ دواړه غلط شول، نو سوال دا پیدا کېږي چې د رحمان بابا د وفات د کال صحیح تاریخ نه څه وي؟

له ښه مرغه د رحمان بابا د وفات  کال په ضمن کې یو داسې د تاویزي ثبوت شته لکه چې د هغه د پیدایش د کال په سلسله ک یې ذکر وشو، دا د ستاویزي ثبوت د اخوند ګدا په نافع المسلمین کې یوه مرثیه ده چې هغه د قایم خان بنګښ په قتل ویلې ده، ۱۳

دا مرثیه له دې شعره شروع کېږي.

تد قائم دورې و دور هم دوران لاړ

د فلک په د ګردش تار په تار یې ځان لاړ

د ۴۵ شعرونه په دې مرثيه کې له ډېرو ښو شعرونو نه صرف نظر کوم او له خپل مقصد سره متعلق دوه شعرونه پیسش کوم

د تاریخ حساب يې بلغ العلی دی

له دنیا په دا تاریخ بلند مکان لاړ

زه ګدايي په خپل ځای باندې قایم کړم

له جهانه چې شاعر عبدالرحمان لاړ

د بلغ العلی د دې مادې خوا له ښاغلي مرحوم حبيبي دا خوند ګا د زمانې په باره کې کړې ده. ۱۴

او د ۱۱۷۳ هـ کال يې راوکښلی دی، هر کله چې حبيبي صاحب مرحو د قایم خان په باره کې د تقصیلاتو نه خبر نه و، نو ځکه يې د بلع العلی نه غلط کال را وکښلی دی او مقطع کې پټ رمز ته يې خيال نه دی شوی.

قایم خان بنګښ د فرخ آباد درياست دويم نواب و چې د حافظ الملک ترحمت خان د یو عزیز سعدالله خان سره د جنګ په نتیجه کې بدایون سره نږدې په ۱۵ ذی الحجه ۱۱٦۲ هـ قتل شوی و.

د ده د مرګ تاريخ قائم بهشت ځند نه راووځي، ځکه نو د بلغ العلی د ماده تاريخ نه ۱۱۷۲ هـ تاريخ راوکښل غلط دي. د اخوند ګدا د دې تاريخ په سلسله کې هم تقريباً هم هغ ټوکه شوې ده چې ۱۱۱۸ هـ او ۱۱۱۹ هـ په سلسله کې مو ولوسته. قایم خان د ۱۱٦۲ هـ د لوی اختر د میاشتې په پنځلسمه قتل شوی دی او چې دلته يې خبر راتللو نو خامخا په ۱۱٦۳ کې را رسېدلی وي. اخوند ګدا چې کومې مادې نه د ۱۱٦۳ تاريخ راويستلی دی، هغه کې د علی د وروستۍ دی په ځای علا ګڼل شوی او د العلی وروم‌بی الف نه دی شمارل شوی. په دې طریقه دا ماده بلغل علا ده چې لیکونکی يې د ۱۱٦۲ د کال د وروستۍ میاشتې اقعې نه اخوند ګدا ته د شاعر عبدالرحمان د وفات کال ۱۱٦۳ هـ راووځي. وهو المطلوب

که داسې نه وي، نو د قایم خان د قتل ذکر او د دغې واقعې د کال د بیانولو نه پس د اخوند ګا له خوا د عبدلرحمان بابا د قایم مقام کېدو دعوی نو رڅه مطلب لري. د درې واړه خبرې چې سره یوځای کړو، نو صفا مطلب يې دا دی چې د اخوند ګا پ خیال کې د ۱۱٦۳ هـ د کال درې لرې واقعي دي، یوه د قایم خان قتل دويمه د رحمان بابا وفات او دريیمه د رحمان بابا په ځای په شاعرۍ کې د اخوند ګدا د هغ قایم مقام او جانشین کېدل دي، او چې دا هر څه ومنو نو د رحمان بابا په باره کې به اوس لږ په کلکه دا وویلی شو چې د هغوی پیدایش په ۱۰۸۱ او وفات يې به ۱۱٦۳ هـ کې شوی و او داسې د رحمان بابا عمر دوه اتیا ۸۲ کالو ته

ورسي او د هغه د راز عمر په باره کې د هغه د خپل شعر لپاره بنیاد پیدا شي، چې وايي:

د راز عمر مې حاصل شوله راستمه

لکه سروه مدام سبزه تازه پایم

له پورته یادونو سره سره عبدالرحمان بابا زړه په عشق تازه شوی و، هغه که له جسمي پلوه ژوندی و، هم ژوندی و او که اوس چې یوویشتمه پېړۍ ده، بیا هم ژوندی دی، جسم فاني کېږي، خو روح تلپاتې او جاوېداني لوری لري، چې د روح په پوره راز الله ج پوهېږي، مگر هغوی چې په انساني ټولنو کې د ځان لپاره د پل اېښودو ځای موندلی، تل ژوندی وي او د شاعر په وینا:

هر گز نیمرد آنکه زنده شد به عشق

ثبت است ر جریده عالم دوام ما

د عبدالرحمان بابا د پیدا کېدو او مړینه د معما دوام:

که پښتون له فطرته د ځان د لوړتیا په برخه کې درلودلای، نو له شک پرته به نن له دومره استعداد او خداداد د مادي او معنوي واکونو سره د نړۍ د مخ مقتدر قوم او ملت به وو، خو دا چې پښتون په فطري ډول ځان په افتادگۍ او انزوا کې راحت گڼي، نو همدا يې د روزنیز ژوند د اړخونو کمښتونه دي.

جمیز آن د نړۍ تر ټولو ستر متفکر اراواپوه وايي، ځان مه ډېر لوړ بولي او مه ډېر ټيټ

د اسلام دین او اسلامي عرفان دکاکه گۍ او کلانکارۍ درس مو ته راکوي. همدارنگه دین وايي چې یو مسلمان باید له یوې ورځې بلې ته لوړتیا او ښېگڼه احساس کړی، بیادین وايي چې مسلمان او مومن باید له یوه سیوري دوه وارې ما ونه چیچي، دا ځکه په دې کار کې کمزوري موجوده ده.

لنډه دا چې په عمومي ډول د پښتون طبعي طبیعت که په ژوره توگه مطالعه شي ډېرې ښکلاوې او لړ بدۍ لري، خو کله همدا لړېدۍ يې ډېرې ښېگڼې بربادوي.

د دې دغو خبرو تد اشیاث لپاره به له فوکلوري ادبه یو مثال راوړم:

یايي نه کوي، یايې د خره کوي، ټول عمر له یو چا سره ښه کوو، بیا خپله ښېگڼه په خپله یوه یوه دقیقه کې بربادوو.

زه دا ټول دلیل او دلایل د دې لپاره وړاندې کوم: (پښتون که څومره اصل باز دي، خو یو وزر يې د ټپس دي،

خدای مه کړه ټول لوړتیا، پوه=، نبوغ، تور... او معنویت لري، خو د شخصیت برخه پکې کمزورې ده.

دا د دې لپاره چې دوی د ځان او اولاد په مادي ژوند ډېر فکر کوي، خو په معنوي ښېګڼو یې سر نه خلاصوي او لا متل کوي: (زوی چې د کوچنی و، لکه ګل یې ښکلوه، چې لږ لوی شو لکه خر یې ځغلوه او چې ځوان شو بیا یې لکه دښمن له مخې ورکوه...) په دا او له دې بدترو افکارو مور د اولاد د روزنې په برخه کې چلند کوو، کله چې اولاد ځوان او لوی شو، لومړی دښمن یې مور او پلار، ورور، خور او د اکا زوی تربور دی.

د پښتون د اجتماعي ژوند په برخه کې که هر څومره ژوره مطالعه وکړو لابه پسې دردمن شو. پښتو په لوی لاس اروا کار ځان ته ناروا کوي، ناروا او عرفي چلند) ځان ته روا کوي.

اوس به راشو دېته چې موږ د زوی په نامه شرمېږو، تولد نېټه خو یې نه لیکلو، بیا زوی د خپل پلار د وفات کال نه یاد شوي په دې اساس رحمان بابا هم یو له همداسې اشخاصو دی چې د خپل پیدایښت یې نه دی یاداشت کړی. دا ځکه نو اوس د موږ لپاره په څېړنیز ماحول کې یو عملي جنجال دی.

د دې لپاره چې په دغ برخه کې مو حقیقت ترلاسه کړی وي، دلته به د درانه سرمحقق زلمي هېوادمل هغه لکینه ۲۸ کاله وړاندې رحمان بابا د دوه سوه اتیایم تلین ۱۳۲۸ - ۱۴۰۸ هـ ق په مناسبت د عبدالرحمان بابا د مومند یاد نومي کتاب به ۹۴ مخونو کې ځای پر ځای شوې وه، دلته هو به هو راواخلو:

((عبدالرحمان موند از نخبه سخنوران زبان پشتو است که نسبت به هر شاعر دیگر قدیم زبان پشتو طی قرون متمادي مورد احترام و علاقمندي بیشتر زنان و مردمان پشتو زبان بو دواست افزون از آن دانشوران دانشمندان سخنوران و اشخاص مشخور د رحقات دین و فرهنگی پشتونخوا و افغانستان و مردم عوام این دیار نیز یا نام و سردودهای سحر آمیز عبدالرحمان مومند آشنا هستند و عوامیکه از گنجینه پر بار ادب پشتو اطلاعي ندارند، تنها عبدالرحمان مومند را سر حلقه شاعران پشتو به حساب می میاورند.

طور که مې نور شاعران بیسواد (مترقي ۱۲۲۹ هـ ش گفته بود:

په باب د افضائیه کې سر حلقه تېر شو رحمان په شاه فرهای د فشر شعر عبدالرحمان مومند بگونه ضرب المثل زبان زد اکثر مردم است.

سخنوران پشتو زبان همزمان او ویا بغدا زوی از رحمان بابا په نیکویي یاد کرده اند و در اینجا سواللی نزد خواننده ایجاد خواهد شد که شاعري یا خین مقوبلي و شهرت چه ضرورتي به شناسایی دارد؟ اما یا تاسف یا بیست گفت که تاکنون تصویر درستی از زندگی نامه وی و سیمای ادبی و هنری وی او کشیده نشده است، هر

چند که در باره وی فراوان نیشته اند واکنون نیز در باره وی مینویسند ولی نمیتوان هر یک ازین نسبت ها را آیینه تمام نمای زیست نامه و بررسی ویژه گیهای سخنوری وی دانست. =

اما زا مطالعه تمام این اثار میتوان نمیرخی از زدنگی وی را پیشکش حلقات فرهنگی کرد.

قد بهترین تذکره ایکه پیرامون عبدالرحمان بابا به ما معلومات بصورت نسبي مهم، بسنده و ارزشمند عرضه میدارد. همانا تذکره الشعرا محمد هوتک است بنام پټه خزانه این تذکره بین سالهای ۱۱۴۱ – ۱۱۴۲ هـ ق نیشسته شده است.

پټه خزانه در باره زیست نامه رحمان بابا معلومات مقید و ارزنده یی را به دسترس ما میگذارد. اما نکته قابل گفتی پیرامون نشسته های تذکره الشعرای پټه خزانه این خواهد بود که: (درین تذکره سال وفات رحمان بابا به عدد هندسي ۱۱۱۷ هـ ق بیامده است ۱ که غلط می نماید زیرا از وقایع سال ۲۳ هـ ق در دیوان وی بازتاب یافته است. معظله سال وفات رحمان بابا استاد دانشمند اکادیمسن عبدالشکور رشا حل فرموده است، وی اساس مر شیکه ایکه یونس خیبری در شنای رحمان بابا سروده است، دریافت که رحمان بابا در سال ۱۱۲۸ هـ وفات یافته است و این غلطی در پټه خزانه در اعداد هندسي رخ داده است که ناشی از عجله کاتب در کار کتابت تذکره خواهد بود و آنرا سهو القلم باید دانست

نه سهو الفکر ۲ جز ازهمین یک اشتباه نشته ها در زمینه شمرده می شود و مامتیوان برای حساب کرد. چون تذکره الشعرای پټه خزانه بار اول در سال ۱۳۱۳ هـ ق منتشر شد، از همین جهت قبل از نثر این تذکره، در تذکره های دیگر پشتو نیز در باره وی یاد کردهای دیده می شود.

و ما در زمینه باد و نوع نشته ها رو برو می شویم، یکی نشته های قبل از نشر پټه خزانه و دیگری پس از نثر آن...))

دغه راز دا پیاوړی محقق، لیکوال، استاد او د پخوانو زړو تذکرو پلټونکی هغه اثار را په توګه کوي چې د رحمان بابا د ژوند په باب دي. د دغو آثارو ځینې یې د پټط خزانې له خپرېدو د مخه ښوول شوي دي، دغه آثار په لاندې ډول دي:

تاریخچه سبکهای اشعار پشتو، پښتانه شعرا جلد اول، تذکره الشعرا پښتو ادب تاریخ، پښتونستان، ادبي جوهر، ادبي سوغات ادبیات سرحد، تلخیص پښتانه شعرا پښتو شاعري، پنځه وروڼه از فضل احمد غازي، پښتو زبان اور ادب پر یک نظر پښتو ادب کي تاریخ تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان و هند، روهي ادب، پښتو غزل، ادبي څېړنې، تعلیق کلید افغاني، مقدمه گلشن روه، مشاهیر سرحد بدنیستان باید گفت که در آثار درسي تاریخ

ادبیات پشتو، کسب درسی در مکاتب پیرامون زیست نامه و ویزگیهای سخنوري رحمان بابا یاد کردها و نشسته های و افر آمده است...

د پښتو ادبیاتو تاریخ اثر درسي است برای شارگدان صنف چهارم پوهنځی زبان و ادبیات از استاد ربنتین که دوبار په چاپ رسیده است.

د پښتو ادبیاتو تاریخ، د درېیم صنف لپاره کتاب تدرسی دیگری بنام (پښتو ادبیاتو تاریخ) از پوهنوال زیور این اثر نیز برای شاگردان پوهنځی ادبیات تهبه شده است.

همینگونه در مقدمه های چاپهای گوناگون دیوان رحمان بابا نیز نیشته های از پژوهشتگران دیده می شوده. میتوان درین جمله از نشته های مرحوم پروفیسور عبدالمجید (۱۰۷۲ – ۱۹۴۷) مرحوم مولانا عبدالقادر (۱۱۰۵ – ۱۹٦۹) مرحوم استاد عبدالروف بینوا (۱۲۹۲ – ۱۳٦۳م ) دانشمند حبیب الله رفیع، سید رسول رسا و پوهاند دوکتور مجاور حمد زیار یاد کرد...

افزون از پژوهشهای یاد شده، پیرامون زندگی آثار و افکار رحمان بابا، کسب و سایل مستقلی نیز در اره وی نشته شده است.

که در صد این چنین آثار و رسایل استاد گرانهایه ادب شناس مرحوم کامل مومند ۱۹۱۵ – ۱۹۸۱ قرار دارد.

استاد کامل مومند کتابی مغتنمی  را بنام رحمان بابا تالیف کرد. و ترساله دیگری در جواب رساله دانشمند مرحوم عقاب خټک ۱۹۱۰ – ۱۹۸۵ نیشته که در یک شماره مجله لار ۸۴ صفحه به نشر رسید. ۲۷ سومین کار عمده استاد کامل همانا مقدمه رساله گونه یی بوده که برای کلیات رحمان بابا نیشته بودند. اما ښاغلی قلندر مومند بنا بر دلایلی از چاپ آن در مقدمه خود داری کرده است. ۲۸

پس از استاد کامل مرحوم عقاب خټک در جواب اولین کتاب استاد کامل پیرامون رحمان بابا کتابی را در باره به رشته تحریر آورده و به سال ۱۹۹۵ در پیشاور چاپ کرد. (۲۹)

میر عبدالصمد خان کتابی را بنام شاعر انسانتی رحمان بابا به زبان اردو تحریر و چاپ کرد. مرحوم اثر مقدمه ی بدان نگاشست. کتاب کوچکی بنام رحمان بابا از سوی محکمه نشر و انساعت قبایل به چاپ رسید و در پیشاور نشر شده است. مولف این کتاب معلوم نیست.

دور ساله مستقل دیگر نیز در باره رحمان بابا به رشته تحریر در آمده است. یکی از این رسایل از پروفیسور محمد اعظم است بنام رحمان بابا دولس شاعر این رساله در پیشاور په چاپ رسیده است، رساله دیگر از

پروفیسور افضل رضا است، بنام د رحمان بابا طنزیه شاعري این رساله به سال ۱۹۸۳ ع در پیشاور چاپ شد. کتاب دیگری که در باره رحمان بابا به من رسیده است. همانا کتاب بیست ضخیم از پروفیسور داور خان داود در قید ۴٦۵ صفحه که به سال ۱۹۸۳ در پیشاور به چاپ و نشر رسیده است.

کتابی دیگری مربوط رحمان شناسی کتابیست از دانشمندان جوان ما آصف صمیم که وی فهرست، تشریحي اعلام دیوان رحمان بابا را در آن شرح نموده است. این کتاب نیز در پیشاور چاپ شده است.

نام مکمل کتاب آصف صمیم ((د رحمان بابا د دیوان نوم ښود است.

و سال چاپ آن (١٩٦٨ع) از سوی رحمان ادبي جرگه کتاب دیگری که در باره رحمان بابا تحریر چاپ شده است، کتابست بنام عارف رحمان این کتاب نه بخش دارد مولف آن فهم دل راهی باشد (۳۰)

و اما در باره مقالات پیرامون رحمان بابا بایست گفت که طی پنجاه شصت سال اخیر در شماری از نشریه های موقوت صوبه سرحد شمال مغربی و کویته ونشرات پاکستان و افغانستان و سایر کشورها در حدود هزار مقاله و نوشته های رساله گونه در باره وی و سروده ها اش به چاپ رسیده است که نمی توان همه آنها را در اینجا بر شمرد.

افزون از آشار یا دشده خاور شناسان نیز طی قرون نزده و بیستم در باره رحمان بابا په ژوهش پرداخته اند و به ترجمه آثار وی دست یازیده اند.

خارو شناسانی که در باره رحمان بابا یاداشت ها گفته و نوشته ها به نشر سپرده اند. چند تن آن عبارت از: مرنث ستورات الفستون ۱۷۷۹ – ۱۸۵۹ در کتاب د کابل سلطنت بیان ۱۳۱ پروفیسور دورن ۱۸۰۵ – ۱۸۸ ع در مقالات نشان منشتر در بولتن امپریال امادمی روسیه و مقدمه خریستوماتی ۳۲ هانیر جارج راورټي ۱۸۲۵ – ۱۹۰٦ در مقدمه گرامر پشتو ۳۳ و سلکا فرام دی یوستری اف دی افغان پادری سیوز در مقدمه کلید افغانی ۳۵ جمیز ډار مستر ۱۸۴۹ – ۱۹۴ در مقدمه ها و بهار ۳٦ تر یور چیچلی پلاودن در حواشی ترجمه کلید افغانی ۳۷ پروفیسور جیمز لو در فهرست ختلی پښتوی برشتن موزیم ۷۸ پلوشه در فهرست نسخ خطی کتابخانه ملی پاریس ۳۹ دکتر میکنزی در فهرست نسخ خطی پشتوی برتانیا ۴۰ گیرس و گیراسیو در کتاب د افغانستان ادبیات ۴۱ و هم چنان گیری (مېړني ولسي ادبیات) جوانزو الدس در مقدمه دیوان رحمان بابا ۴۳ ولادیمر و اسیلو پچ کوشف در فهرست در نسخ خطي پشتو لیننگراد ۴۵ سراولف کیرو در کتاب معروفش پتانها ۴۴ و دیگران بر علاوه پژوهشها خاور شناسان عبدالرحمان بابا مومند د دایره المعارف را سایکلو پیدی های معروف کشور ما کشورهای منققه وکشورهای نقاط دیگر جهان نیز معرفی شده است که چنین معرفی رحمان

بابا راصبغه بین الملي می بخشد.

ښاغلی استاد هېوادمل زیاتوي: ((در انسایکلو پید یا بزگر شوروي وهم چنان در انسایکلو پید یا تاجیک و دیگر جمهوري های آسیایي میانه نیز رحمان بابا معرفي شده است.

هم چنان از پنجاه سال به این سو در مراکز پژوهشی و آموزشي بزرگ شکور و منطقه ما و مراکز خاور شناسی جهان در باره رحمان بابا رساله های علمي برای درجه ماستری و دکتورا و مونوگراف‌ها نیز مهیه شده است و...))

پښتو متل دی: ((مخکیني دورو ستویل وي)) په دې معنا چې مخکې او اوس ۱۳۹۸ هـ ش کال کې د رحمان ببا په برخه کې ډېر دیوانونه مرتب شوي، ک تابونه لیکل شوي او مقالې لیکل شوې دي او اوس هم دغه کار په ډېرو پښتو علمي پوهنتونونو، تحقیقي ځایونو او نورو کې د رحمان بابا په شعر او فکري تومنه باندې ځانداره تحقیقونه کېږي. هر لیکوالورته اخلاص لري.

او له شک پرته یې له خپلې علمي توانمندۍ سره سم د ارواښاد په برخه کې څېړنې او تحلیلونه او پلټنې کوي.

کوم څه چې د بابا په برخه کې بېلابېل استادانورباندې لیکنې او پلټنې کوي او اختلافات نظر لري، هغه د رحمان بابا د زیږېدو او وفات کلونه دي چې ډېر داخلي او بهرني لیکوال ورباندې موافق نه دي. دا هم د بابا لوی علمي او هنري شان دی، چې بلا ډېر استادان، لیکوال، څېړونکي، علمي موسسې او نور ورباندې یوه خوله نه دي.

په هر ډول زه د دې اختلاف عمه ټ:ي او کابو برجسته صورت او دلیلونه د خپل تحقیق او تحلیل له مخې دا ډول را لنډوم او که داسې نه وي او دا موضوع و عزوو نو د بابا دا بیت به درست وي، چې

تر قیامته دغه لس او دغه شل دی

پوره نه کړو هېچا شمار د دې دنیا

### ۱ – ۳ د اختلافونو دلیلونه

۱ – پټه خزانه د لومړي ځل لپاره یو ازنی اثر و چې د بابا د تولد او مرگ په برخه کې یې په لاس کې درلودلي معلومات له موږ سره شریک کړي دي، دغه اسناد د هغه وخت د ضرورت، خو دروغ نیت له مخې وړاندې شوي دي.

۲ – د پټې خزانې استاد د لومړي ځل لپاره د وتلو او نامتو استادانو، ليکوالو او څېړونکو لخوا تاييد شوي دي.

د هغه وخت اسناد د ليکوالو پلو له مخې تر ډېرو ډېرو د قناعت وړل، خو وروسته چې د رحمان بابا عليه الرحمه د ژوند او مرگ فکر او و فن په برخه کې ډېرې ليکنې او څېړنې وشوې، ورسره ورسره د بابا د پيدايښت او مړينې په باره کې هم د مختلفو ليکوالو قلمونه وپنځېدل، د بابا د ژوند او مرگ مهالونه يې هم د څېړنې تر سيوري لاندې راوستل او اختلاف نظر هنگامې هم خورې شوې.

۴ – په افغانستان کې اول لاس ليکوالو، څېړونکو، استادانو او مفکرينو د هغو له ډلې خدای بښلو لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي، عبدالروف بينوا، پوهاند استاد صديق رښتين، فاضل استاد رشاد، خادم، الفت او نورو ډېرو د پټې خزانې خپرونې او لا لاس وبللې او د صحت مهر يې پرې ولگاوه، خو وروسته چې په کوزه پښتونخوا کې ځوان محققين سر راپورته کړ، څېړنې يې وکړې، د بابا زمانه يې د تاريخي اسنادو او شواهدو پر بنياد گز ويل کړه، نو د اول وار لپاره استاد عبدالقادر مومند، سيد تقويم الحق کاکاخېل او ډېرو نورو د بابا د پيداکېدو او مرگ په نېټو انتقاد وکړ او تير نظرونه يې د پوښتنې وړ وبلل او تر ډېره بريه يې مقنع دلايل هم وړاندې کړل.

دغه دليونه لاس په لاس وگرځېدل او د بابا په هکله يې خبره، مقاله، انتقادونو، څېړنو، غونډو او... د ټولو او مرگ ته ور ويسته او بيا وروسته دلته د ا فغانستان او پښتونخوا کې ډېر ډېر معلومات په دغه برخه کې لاس په او خواره شول.

٦ – تر ډېره بريده چې ما پلټنه وکړه اول خو دلته او هلته ليکوالو او څېړونکو د پټې خزانې اسناد تاييدول، مگر وروسته چې پراخه څېړنې وشوې دا ثابته شوې چې د افغانستان مشران ليکوال څېړونکي، استادان او مفکرانو په خپل پخواني نظر د پټې خزانې له خوا په وړاندې شوي سندن ټينگار کاوه چې ما يې پراخه برخه نظريات په دې ليکنه او څېړنه کې ښکاره  کړي دي،

۷ – دا هم راته ثابته شوه چې د افغانستان ليکوالو د پټې خرانې له خوا وړاندې شوي نقل قول د منلو وړ بللی او د کوزې پښتونخوا ليکوالو، څېړونکو او منتقدينو درد.

۸ – آن په لومړيو کې د  افغانستان د محترمو ليکوالو نظريات د کوزې پښتونخوا يو شمېر ليکوالو او څېړونکو د هغو له جملې د پښتو ادب ليکوال عبدالحليم اثر، سيد رسول رسا و ځينې نورو درانه استاد حبيبي صاحب نظر د ستايلو وړ بللی دی.

۹ – اوسنۍ څېړنې دا ښيي، چې د هغو له جملې د محمد عبدالقادر مومند، سيد تقويم الحق او ډېرو نورو دا نظر پياوړی شوی چې رحمان بابا په ۱۰۴۸ کې پيدا شوی خو په ۱۱۱۸ هـ ق کې نه دی وفات شوی، بلکې په

۱۱۲۸ هـ کې وفات شوی دی.

پروفیسور قلندر مومند لیکي: ((پټه خزانه د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ ه بیانوي او زموږ د افغانستان وروڼه دا وايي چې دا د کاتب تېروتنه ده چې د ۱۱۲۸ هـ ش پرځای یې ۱۱۱۸ هـ ش لیکلی دی او دا تېروتنه د دستاویز د آخرني کاتب محمد عباس کاسي ده....) (۳۹

۱۰ – له ماته دا څرګنده شوه چې ځینې انتقاد کوونکو څېړونکو نظري له عندي کره‌کتنې[1] سره ملې وي خو وروسته وروسته په افغانستان کې لکه استاد رشاد، دوکتور زیار، استاد هېوادمل، استاد حبیب الله رفیع او ګڼ شمېر ځوانو څېړونکو دلته او هلته په ورین تندي ومنله چې عبدالرحمان بابا په ۱۰۴۸ کې پیدا شوی او په ۱۱۲۸ هـ ش کې وفات شوی دی. د څېړنه او کرکې وسیله نه، بلکې د علمي پراختیا وسیله ده او دا کار پښتنو لیکوالو په دغه برخه کې تر ډېره حده کړی دی.

## ۱ - ۴ زوکړه او استوګنځی

قدح ونیسه په لاس کې فارغ کېنه

پای یې سر و لره ورکړه د قدجاه...

د محبوب سبحان حضرت عبدالرحمان بابا علیه الرحمه[2] د زوکړې، ژوند او استوګنې په برخه کې چې کله غږیزو لازمه ده چې د لومړي ځل لپاره د پښتو ژبې معتنم اثر پټې خزانې ته مراجعه وکړو او د لومړي سند په توګه هغه معلومات را واخلو د محمد بني داوود راواخلو او بیا نورو منابعو ته ورشو او موضع بشپړه کړو، که څه هم د بابا د زیږېدو او مړینې په اړوند نن سبا د پټې خزانې معلومات پوره بسنده، ثقه یې او معتبر اسناد نه دي، خو هېڅ محقق یې رد نشي کولای او د ابطال اعلان یې نشي ورکولای.

پټه خزانه، څلورم چاپ ۱۳۵٦ هـ کال ۴٦ مخ کې لیکي:

((محمد رسول هوتک علیه الرحمه په خپل بیاض کې کښلي دي:

چې عبدالرحمان بابا په قوم مهمند[3] و او په پېښور یې ژوندون کا.

پلار یې عبدالستار نومېده او په بهادر کلي[1] کې دیره و. عبدالرحمان بابا په سنه ۱۰۴۲ هجري پیدا شو او له

[1]- عندي کره‌کتنه
[2]- محبوب سبحان عبدالرحمان
[3]- مهمند (مومند)

ملا محمد یوسف څخه یې لوست وکا او له هغه څخه فقه[2] او تصوف[3] زده کړل، او ولاړ کوهاټ[4] ته هلته یې هم سبقونه ولوستل او ښه عالم شو، په ځوانۍ یې دنیا پرېښودله او اکثر به په غرو گرځېدئ او کله به ولاړ د هندوستان پر خوا او د خدای عبادت به یې کاوه، د دنیا په کار و بار به نه مشغولېدئ، عبدالرحمان بابا یو عالم رباني او عابد سړی و او ډېر شعرونه یې د خدای تعالی ج په محبت کې وویل او په پښتو کې په رحمان بابا مشهور شو، په ۱۱۱۸ هـ ق کې وفات شو خلق یې تر اوسه د پېښور په هدیره کې زیارتونه کا او د ده شعرونه لولي، د رحمان بابا د بیتو او غزلو دیوان شته او ډېر ډېر پیدا کېږي.

هسې وايي: فقیر، محمد هوتک غفرالله ذنوبه چې ظل الله پادشاه جهان شاه حسین، کاتبان واستول او له پېښوره یې د عبدالرحمان بابا علیه الرحمه د دیوان نقلونه راوړل او په کندهار کې علماوو زهادوو وکښل او اوس ډېر دي فقرا او د خدای دوستان، د عبدالرحمان باب شعرونه ډېر لولي اوخوښوي او عالم خلق فالونه پرې گوري.

حتی چې ښځمني دا کتاب ډېر وايي او خدای تعالی د ده په وینا کې هسې برکت اېښی دی چې د هر خوږمن زړه د اور په کا او هر غریب او محتاج مستغني کا زما پلار نقل وکا: چې په کندهار کې د رافضي گرگین خان[5] جور و ستم، تر حد تېرى وکا او خلق د خدای هسې ځینې په عذاب شول چې په مرگ شول، نو دوی په کوکران[6] کې مغفور رحماني، برگزیده حمداني[7] حاجي میرخان هوتک، ښالم خیل ته ولړل او له هغه یې چاره د کار طلب کړل او ټولو وویل: هر ډول چې دی وايي هسې وکړئ، هغه مغفور یوه ورځ تر ماښامه له نورو پښتنو خانانو او مشرانو سره م صلحت وکا او هسې یې تړون وکا: چې ظلمان مړه کړئ او ځانونه له جور و ظلمه وژغورئ.

په پای کې حاجي میر خان علیه الرحمه وویل: راشئ چې عبدالرحمان بابا قدس سره هم وپوښتو، چې د ده دیوان خلاص کا، هسې شعرونه وو:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله گویا یم

---

[1]- بهادر کلی

[2]- فقه

[3]- تصوف

[4]- کوهاټ

[5]- رافضي گرگین خان

[6]- کوکران

[7]- مغفور رحماني، برگزیده حمداني

خاموشي زما تېرې کا تر غوغار زما

کښت د عشق په توده ځمکه آسان چېرې

سمندر بويه چې زيست کا په صحرا زما

چې دغه بيتونه يې ولوستل، هغه مغفور حاجي اولس ته وويل:

چې د ظالمانو کار تمام دی، اما اوس دستي خاموشي بهتر ده.

ټوله به په پټه خوله دا کوشش وکړو چې ظالمان ورک شي، چې مناسب وخت راشي، نو به زه پر تاسې غږ وکړم هغه وخت بايد ټول تيار او ظالمان له وطنه وباسو.

نقل کا: چې په يوه مياشت وروسته جنت مکان حاجي مير جان د اولس ميران او خانان را ولل او په مانچه يې جرګهوکړله او په ټولو په قران قسم وکا چې د ګرګين ظالم له جوره ځانونهخلاص کړي، پر دې وقت بيا حاجي مير خان مغفور له رحمان بابا څخه دا بيتونه ولوستل:

بيت

چې آسمان يې مخ پټ په سحا و

خدای و ماته ښکاره کړ هغه نمر بيا

چې رقيب راته ترلی په زنځير و

خپل حبيب را باندې پرانيست هغه ور بيا

په وصال يې منت بار اوسه رحمانه

په صدف کې دخل نشته د ګوهر بيا

نقل کا چې د خدای په قدرت دغه ورځ پر آسمان وريځ هم وه چې حاجي مير مرحوم دا بيت ولوست هغه ګړی لمر ښکاره شو او وريځ يې له مخه هيسته شوه خلکو هم دغه الهي مدد وګاڼه او بيا نو جنت مکان حاجي مير خان خلکو ته وويل: دا دی د خدای تعالی مهر او لطف هم زموږ ملګری دی اوس نو وقت دی چې تورې له تکيو وکاږو او ځانونه له دښمنه وژغورو. هغه و چې په ۲۹ ذيعقده الحرام سنه ۱۱۱۹ هـ اولس ټول شول او جنت مکان حاجي مير په مدد کندهار ور ننوتل او دښمنان يې ټول مړه کړل.

غزل

زه دا هسې دیوانه او مجنون چا کړم؟

له رواجه له رسومه بیرون چا کړم؟

نه پوهېږم چې دا چارې په ما څوک کا

لېونی د خپل نګا په افسون چا کړم؟

کومې سترګې، کوم باڼه، کومه غمزه ده

ډوب شهید غندي په خاک و په خون چا کړم؟

توان، توفیق خو د فتنو راځخه نه و

په فتنو د تورو سترګو مفتون چا کړم؟

رحمان هېڅ له خپله حاله خبر نه وم

چې دا هسې رنګ زبون او محزون چا کړم؟

پورته معلومات په پټه خزان کې خوندي وو، ما کټ مټ را واخیستل اصلي هدف دا دی پټه خزانه لومړی سند دی چې د عبدالرحمان بابا د تولد ۱۰۴۲ هـ ق سنه په لاس راکوي، د پلار نوم یې عبدالستار ذکر کوي، قوم مهمند را پېژني، د ژوند ځای یې پېښور ښيي، دیره ځای او استوګنتوب یې بهادر کلی په ګوته کوي، همدارنګه استاد او ښوونکی م حلا محمد یوسف راته معرفي کوي. د هغه وخت د مروجه زده‌کړو سره مو اشنا کوي او دا را ووایي چې له ملا محمد یوسف نه یې فقه چې دیني ضروري کتاب دی او اسلامي تصوف او عرفان اړتیا راته بیانوي او موږ په دې خبره پوهوي چې بابا د وخت له تقاضا سره سم فقه او توصف ذکر کوي، ځکه د دین هر عالم او متصوف ته ښایي چې فقه له تصوف سره یو ځای مطالعه کړي، فقه د دین په تخنیکي اصولو موږ پوهوي، بلکې د معرفت لار راته پرانیزي

معرفت به دې حاصل نشي

که دې ځان ته شولې ځیر

چې د ځان په معرفت یې سرفراز ول له فقهي پوهې منشا اخلي.

پټه خزانه د رحمان بابا بیا شعرونه په نښه کوي او دا څرګندوي چې نه یوازې یې سیمه‌ییز سفر کړی، بلکې د اوسني جغرافیوي موقعیت له مخې بل هېواد د هندوستان ته هم سفرونه کوي، کوهاټ ته د سبق او دیني زده‌کړو لپاره تللی دی، هلته یې پوره سبقونه ویل او زده کړي دي او چې کله ښه عالم ترې جوړ شوی نو حواس یې بدل وشي، روحي حالت یې بدلون موندلی دی او په معنوي کرکټر یې مینې راغلې له دنیا او مادیاتو یې پښې سپکې کړې، د چا خبر دنیا یې په لغته وهلې او غرونو سیل و سفر ته هم وتلی دی. پښتو مشهور متل (یا لویو غرو ته ځه یا لویو کور ته) د بابا روح او روان د غرنو له سیرو سفره رنګ او خوند اخیستی دی او د معرفت پوهنیز دید یې په غوړېدو راغلی دی.

وایي چې د معرفت توکي په وجود او طبیعت کې پراته دي، په ځان کې پنځه ګوني حواس او په طبیعت کې غرونه، دریابونه، حیوانات، نباتات، طیور، حشران او... د چا خبره اتلس زره قومونه دا ټول شیان د ځان او طبیعت په برخه کې انسان ته مخصوص دید او اندیشه ورکوي. یوه پښتو ټپه ده:

په لوړو غرونو د خدای نظر دی

په سر یې واورې، په لمن یې ژېړ ګلونه

دا خبره معتبره برېښي هغه څوک چې سیر او سفر کووي، له ځایناستو پیاوړی وي، له پروت زمري نه، ګرځنده ګیدړ ښه دی، خدای مه د عبدالرحمان بابا په برخه کې د دې خبرې توجه بل ډول ده، عارفان او متصوفین باید اته سفره وکړي\ او هغه دا چې سفر و سیاحت هم د نفس د تزکیې او هم د سیاحت وسله کېدای شي.

د دنیا په کارو و بار نه مشغولېده او د ژوند ډېره برخه یې د خدای عبادت ته ورکړې وه، نوموړي د دیني علومو او تصوف د علم د زده‌کړې په برخه کې په دې راز پوهېدلی و چې الله پاک جن او انس د عبادت لپاره پیدا کړي دي، ((و ما خلقت الجن و انس الا لیعبدون)) رحمان بابا عالم رباني او عابد سړی و، ډېر شعرونه یې د خدای ج په عبادت او محبت کې وویل، داسې ښکاري چې عبدالرحمان بابا په ځوانۍ کې پیل کړی وي، او په ځوانۍ کې خو یې د شعر هنر پوره شهرت ته رسېدلی وي، دا ځکه په کتاب کې راځي چې: ((عبدالرحمان بابا یو عالم ربای او عابد سړی و او ډېر شعرونه یې د خدای تعالی ج په محبت کې وویل او په پښتو کې په رحمان بابا مشهور شو.))

عالم رباني او عابد سړی و، له دې ښکاري چې ځوان او یا پوخ ځوان و چې شعر یې شهرت ته رسېدلی و، د پټې خزانې په قول په ۱۱۱۸ هـ ق کال وفات شوی و، په دې حساب د نوموړي مرحوم ټول ژوند او عمر ۷٦ کاکله و چې دغه سنه بیا وروسته محققینو ونه منله او تغییر یې وکړ.

پېښور هزارخانې هدیره کې ښخ شوی دی، په مرقد یې زیارت جوړ شوی او اوس یې زیارت ته خاص و عام ورځي او د الله د ولي په سترګه ورته ګوري.

بابا د غزل[۱] یو پوره دیوان لری چې د څلور سوه شاوخوا غزلونه بوللې[۲] او یو نیم مخمس[۳] لرونکی دی.

افغانستان ته د عبدالرحمان بابا دیوان د ده له مرګه وروسته د فقیر، محمد هوتک غفرالله نو به چې ظل الله پادشاه جهان حسین کاتبان واستول، راوړل شو.

دیوان یې دومره له فیوظاتو ډک او هر راز ټولنیزو او اجتماعي مضمونونو له غمیو ډک و پک دی چې ټول خلک او په تېره پښتانه ورته خاص خاص ارادت لري او آن په اشعارو یې فالونه ګوري، په فارسي دری ادب کې دغه شان حضرت حافظ شیرازي ته ور په برخه شوی دی او په نړیوال ادب کې هم د ګوتو په شمار څو تنو ته لکه شکسپیر، مولو او...

د بابا بیتونه په محافلو، مشاعرو، ډېرو ډېرو اجتماعي محافلو او آن مړو پر سر هدیرو کې د ملایانو له خوا هم ویل کېږي، زما په نظر د بابا دیوان د دین او منلن شوي عرف ژوند هنري تمثال دی، چې

منکر پرې اعتراض کولای نشي

دا د شعر دی رحمانه که اعجاز

را وروسته څېړنو ټوله محتوا او شیره په اصل کې له پټې خزانې اخیستل شوې ده.

موږ به د نوموړي بابا د ژوند، استوګنې، زده کړو، سفرونو او... څه ناڅه نورو نظریو ته هم مراجعه ووکړو او د څېړنو نوی باب به هم انشاءالله پرانیستلای شو.

## ۱ – ۵ د نظریاتو په رڼا کې د عبدالرحمان بابا د اصل و نصب دوام

لومی مو د اروابناد حضرت عبدالرحمان بابا حال و احوال تر ډېره بریده له پټې خزانې را واخیستل، څرنګه چې څرګنده ده، پټه خزانه یوه ادبي تذکره ده. ادبي تذکره د یوې ژبې او ادب اړوند لنډ هویت ټولنې ت وړاندې کوي، پټې خزانې دغه کار په خپل وخت کې په خورا عالي ډول ترسره کړی دی، مګر څرنګه چې تذکره لنډ کلیت څرګندوي، لازمه ده بیا وروسته د لیکوال، مفکرینو، د ادب و فن د علماوو او څېړونکو له خوا تحلیل و

---

[۱]- غزل

[۲]- بوللـه

[۳]- مخمس

تفسير شي او نوي ټکي ورکې محققين پيدا کړي.

دا کار د پېښور يورسټي او اکاډمۍ له بنا ۱۹۵۵ ع او په افغانستان کې له ۱۳۲۰ هـ ش کالونو وروسته را پيل شو. د بابا ديوان خو د پښتون فرهنګ پاله پاچا شامحمود هوتک د پاچاهۍ په موده په قندهار کې د لومړي ځل لپاره وشو.

په پېښور کې د خوشحال خان د ديوان له چاپ وروسته د عبدالرحمان ديوان چاپ شو.

مولانا عبدالقادر چې په پېښور کې هغه مهال د پښتو اکاډيمۍ ډايرکتر و، وايي:

رحمان بابا د ژوند د حالاتو شاوخوا کې چې تر ننه هره څومر تحقيق او څېړنه شوې ده، د هغې نه دا معلومېږي چې:

۱ – دی په اصل غوري خيل مهمند[۱] دی او په بهادر کلي کې پيدا شوی و، دا کلی د پېښور شهر نه سويل پلو پنځه ميله لرې د کوهاټ په سړک پروت دی، مشهور مستشرق هيوز ليکي، چې رحمان بابا د مهمندو د ابراهيم خيلو له پښې څخه دی. يو بل نامتو مستشرق ميجر راورټي وايي، چې ده د مهمندو د ټپې په هزارخانې نومي کلي کې استوګنه کوله. د دې دواړو مستشرقينو دا تحقيق په خپل ځای قابل قدر دی، خو د پښتون د ژوند نه واقف خلک خبر دي چې د پښتنو د يوې قبيلې ځينې پښې وي او اکثر داسې کېږي چې يو کس کله په يوه پښه ياد شي، کله په بله، که رحمان بابا د غورياخيلو په تابين ورګډېږي يا

د ابراهيم خيلو دی د مهمند سړبني دی او دغه کافي ده.))) (۲٦)

د عبدالرحمان بابا د اصل او نصب او استوګنې ځايونه په برخه کې د خارجي مستشرقينو (پارتي هيووز او ميجر راورټي) له رابرسېره کېدو وروسته پښتنو پوهانو، علماوو او محقيقنو هم نظرونه څرګند کړل او سمدلاسه يې په دغو برخو کې تصحيح ورکړه.

په تحقيقي موادو کې د غبرګون يا حسياست موضوع علمي کار دی، خو دغه حساسيت او غبرګون بايد دقيق تحقيقي موارد ولري. دلته دغه غبرګون بد نه دی، خو ور باندې ټينګار او تمرکز کول دومره ضروري نه و او هغه دا د خارجيانو او مولانا له خوا مهمند بلل شوی دی او پيدايښت يې هم بهادر کلي کې شوی دی. په هر ډول د بابا (د استوګنې ځای هزارخاني وو او د پيدا کېدو ځای بهادر کلی هم ښودلی شوی دی.)

په يوويشتمه پېړۍ کې زموږ په ټول هېواد کې د استوګنو خلکو او ټولو قومونو نيولې بيا تر پښتنو پورې د خپلې

---

[۱]- غوري خېل مهمند

خور، مور، ښځې نوم د خلکو مخ کې په جرئت نشي اخیستلای! متمدن او باکلتور خلک چې په دغه بې ځایه ننګ، عار او شرم ونه کړي کم دي. آن کنځل یو بل ته د مور و خور کوي، خو په ښځه ننګ کوي، شرمېږي او نوم یې نه اخلي.

د پورته ځو معترضو جملو له لیکلو زما هدف او تحلیل دا و، چې د حضرت عبدالرحمن بابا د (نصب‌نامه) د نیمګړي پاکېدو ډېر علت د ده بې‌پروايي او ځانګړي فکر درلودل او د هغه وخت د په څه پوهانو او عالمانو او د ده د کورنۍ، شاګردانو، هم‌قطارانو، شایقینو، منورینو او ... خالیګاه بې‌پروايي او کم‌کاري وه، چې نن د ارواښاد حضرت عبدالرحمان بابا غونډې جهان پېژندونکی شخص د شخصي ژوند د ضروري شیانو (تولد، مرګ، ځای، کورنۍ، اولاد او نصب‌نامې په برخه کې کافي او د ویاړ وړ اخبار او اسناد نه‌لرو.) د پېښور اکاډمۍ د هغه وخت ډایرکټر مولانا عبدالقادر حق درلوده چې د بابا د هر څه په برخه کې غږ راپورته کړي، هغه لیکي:

۲. د رحمان بابا د مور او پلار او اولادونو په برخه کې هم معلومات لږ او اقل په لاس کې دي.

میجر راورټي لیکي چې:

«د رحمان بابا د لور د لوریه، نوسي، نوسۍ په یو وړوکي شان بانډه کې نن هم موجود دي. دې بانډې ته بهادر کلی وایي. دا د مهمندو په علاقه کې ده. ولې د ده د یو زوی اولاد بالکل ورک دی.»

مولانا عبدالقادر (رح) زیاتوي چې د ې شهادت نه سوا ماته تر اوسه هېڅ مستند حالات په ګوتو کې نه دي راغلي، وایي چې په بهادر کلي کې د رحمان بابا د وګړي ځینو کسانو څخه کافي معلومات شته، خو زه هم هلته نه‌یم ورغلی او که وشوه نو بل وار الله فضل وکړ دا دیوان به په بهتره شکل شایع شي.

زما په نظر چې رحمان بابا به زوی او لا زامن درلودل؛ خو لکه چې د خپل ځان پروا یې نه ده ساتلې، همداسې د اولادونو د زیږېدو او شمېر څرګندونه هم ترې هېره شوې یا پاتې شوې ده.

د حدث او ګومان او هم عقلي دلیل له مخې هر څوک (هر انسان) لومړی د هغه څه یادونه په خپلو اثارو یا اشعارو کې کوي، چې لاس په لاس ورسره مخامخ، لاس و ګرېوان، زبان زد، په دوستۍ، دښمنۍ یې متاثره وي. همدارنګه شعر او نظم چې یوه لاهوش ضربه ده پر دوست یا دښمن باندې، نو رحمان بابا هم له اولادونو یا زامنو ښه یا بد اغېزمن شوی او ... داسې یې ویلي دي:

هر سړی نېک فرزند له خدایه غواړي

چې بد کردار شي، ادې څه کا، ابا څه کا

نو باید زوی هرومرو درلود او یا کېدای شي خپلې کورنۍ، خپلوانو او دسیمې زامنو په اړوند یې پورته څرګندونه کړې وي.

حضرت خوشحال خان هم چې کله له زوی یا زامنو ښه یا بد اغېز موندلی؛ نو بیا یې دا څرګندونه کړې وه:

فرزند چې نېک شي، د زړه سر ورشي

د زړه سر ورشي، د سترګو تور ورشي

فرزند چې بد شي، غاښ دې رنځور شي

غاښ چې رنځور شي، نور د انبور شي

او بل ښکاره دلیل د خوشحال خان علیه الرحمه هماغه (بهرام) خان و، چې نوموړی ترې خپه و.

داسې عقلي او نقلي دلیلونه ډېر کېدای شي، راوړو.

اروابناد مولانا عبدالقادر دا هم وایي:

((په سوچه پښتو کې تر حاضرو ساعت صرف د پروفیسور عبدالمجید افغاني مختصر شهید د عجب خانم یو نظم پښتو ټولنې (          ) پښتانه شعرا او هم د دغه انجمن پټه خزانه د رحمان به هکله څه بیان لیکي، داسې معلومېږي چې پروفیسور عبدالمجید افغاني د راوړتې له معلوماتو څخه زیات اخذ کړی دی، یوه نیمه خبره یې د عجب خان نظم نه هم اخیستې ده.))

حقیقت دا دی چې د حضرت عبدالرحمان بابا د فکر او د هندي کمال په برخه کې په کله او افکاري سړي غږېږي او یا څه لیکې، نو د بابا د غني نیک و ښه سیرو سلوک پوهې په برخه کې له سړي هغه کلمې وتښتي چې غواړي د رحمان بابا صلاحیتونه راو سپړي، چې په حقه سره بابا یې لایق و.

اروړابناد رحمان بابا تر ډېره بریده د نورو شاعرانو، ویناوالو، مفکرینو په څېر د انسانانو په تېره د شرقي انسانانو او بیا پښتونخوا او ټولو پښتنو شاعرانو په څېر صاحب فکر، رهمنان او صاحب بصیرت معلم او استاد و.

چې د خپل زړه درد یې په داسې شان سره نال کړی دی او بیا یې په خپلو اوښکو د دغه باغ اوبه خور کړی دی چې دغه بوټی به تل تاند او دغه ګلونه ټول عمر تازه وي.

مولانا عبدالقادر د عجب خان[1] د نظم نه دا د بابا رح د خاص او ځانګړي شخصيت هويت ښکاره کوي، او دا څرګندوي چې رحمان بابا يو افسانوي شاه څلمي او هېر و.

عجب خان د ده د پلار نوم خوش ارواحان او د ورو نوم عزيز خان ذکر کړی دی او وايي چې د ده پلار د مهمندو د تپې يو يا د خان و او لوی دروان يې تېر کړی دی. پروفيسور عبدالمجيد افغاني وايي چې دی يو غريب ملا و، مګر زړه يې پاد شاه وو.

بابا که خان و يا غريب خو دا تلقين يې حاصل کړی و چې قناعت[2] يې حاصل کړي او قناعت وکړي.

قناعت مې ترقې لاندې اطلس دی

پټ د درست جهان پادشاه ظاهر ګدا يم

ارواپوهنه نظر ورکوي او وايي چې شخصيت په ټولنه کې له منظم سلوک نه عبارت دی.

عبدالرحمان بابا د شخصيت او عزت يو ژوندی، رنګيني ښکلی طبعي عزيز و، ځکه د بابا د ننداري له يوې خوا او په ټولنه کې ښه سلوک له بلې خوا د نومورې مقام لوړ آسماني او لاهوتي کی و.

بيا وايي چې هغه بابا لوی دوران تېر کړی دی. له دې څخه ښکاره چې پروفيسور د رحمان بابا ځای او احوالو ته نږدې سرې پاتې شوی دی.

راوړتې د خوشحال خان او رحمان بابا د اقتصادي او ټولنيزو افکارو په برخه کې ځانګړی نظر لري او وايي: ((يو خ ريحان يو تار الدين سړی و، بل د خوارې کورنۍ و.

لکه چې پورته مې وويل، عبدالمجيد افغاني د سيمې، قوميت، عاطفي تړون. ادب پوهنې او نورو جغرافيونو تړنونو او... له درکه عبدالرحمان عليه رحمه ته نږدې پاتې دی، او اقوال يې د پوره تفکر او تد وړ دي، خو ميجر راوړتې د نږدې او لرې اقوالړو په استناد غږېږي.

په هر ډول بابا رح په د خپل پلار شتمنۍ ته ارزښت ورکاوه، کنه؟

خو هغه يو روړاني او عقيدتي قناعت او سکون له دنيا نه پښه نيولې کړی و که نه دنيا يې د آخرت کښت او توشه ګڼلې وه او ښه خبره دا ده چې ټول خلکو ته يې ا ويل که په دې له تا نه وي، نو د تنا بده نه ده.

---

[1]- عجب خان

[2]- قناعت

ما چې کله د عبدالرحمان بابا د دیوان علمي مطالعه پیل کړه، نو ځایه د نا که ډېره نه\ ستا یې خو خلکو  ته یې اضرار ښېګنې، بدۍ وفا، بې وفایي او په لسګنو مواردو او انځورونه مخ ته ږدي او د قضاوت تله د عاقلانو په لاسونو ورکوي.

د مولانا عبدالقادر د زړې نسخې په پاڼو کې چې د ۱۹۶۳ کال د جون په ۳۰ د پېښور د پښتو اکاډمي چاپ و رځي، د مشاعرو او معرضو خلاف یو بل غښ ثبوت دا دی چې یو رحمان تارک الدنیا سړی و، بل د خوارې کورنۍ نه و.

دا درسته ده چې رحمان دانیا د هوس او بل الهوسۍ له اعراضو ډکه ګڼله، مګر د مدلول لپاره دلی ن قرباني کوي، دنیا په ښکاره د خیر خیرات لپاره غواړي او دنیا د آخرت لپاره در ورختلو زینه او پټه ګڼي.

د دلبر وصدقې لره یې غواړم

هسې نه چې په دنیا پسې زهیر یم

هغه له خپلو او خپلوانوو او کورنیو سره عاطفي ارتباط لري، د کورنۍ خپلوانو او... په ناروغۍ خوابدی کېږي او وایي چې  په هر کور کې رنځوران راته پراته دي...

که غواړو له دنیا څخه د رحان بابا طرز فکر او برداشت ته پوره پوره دقیق شو او د هغه د دنیایي تصویر سفر سره همرا او همراز شو، لازمه لاندې قصیدې خینې\ برخې د شکاکانو د نظر درلودلو په برخه کې را واخلو، خو له دې مخکې روانشناسي بصیرت دا موضوع تشریح کوي، هر شکاک او منقد کمزوری تفکر لري.

که د بابا رح متواضع شخصیت د اسلامي عرفان په رڼا ک وڅېړو، معنوي تفکر او ژوند  یو ډول خارق القاده نورانیت دی چې تواضع، حوصله، شکسته نفسي او فتات  یې اجتماعي کرکتر جوړوي، دا ډول اشخاص په خپل نفس برلاسۍ پیدا کوي او  خپل زړه او نفس په حرص واک کې ساتي، له نفس آماره سره جګړه کړوي، راضیه  او مرضیه نفسونو پاکۍ او تقدس لبیک وایي:

بابا چې کوم تصویر له دنیا مې هغه داسې دی:

ښه ښه ده دا دنیا

چې توښه ده د عقبا

مذمت د دنیا مه کړه

واړه پند کا دا وینا

د دنیا په بازار کېږي

د هغه جهان سودا

په دنیا کې ډېر حکمت دی

ورشه پوښته حکما

که تر سر یې صدقه کړې

رفع دفعه کا بلا

له غلیم لره یې ور سړې

غلیم دوست کا په هوا

که په اور باندې یې کېږدې

بوی د عودو کا پیدا

که یې توی په صحرا کړې

ښایسته کاندي صحرا

که یې نذر کړې و پیرته

خوشحال درومي په خندا

څو ژوندی یې په جهان کې

یادوي دې په دنیا

د حاتم په څېر دې ستایي

خطاب ور کا د سخا

سخي هر یو د خدای دوست

و لوکان  فاسقاً

هر بخیل د خدای دښمن ی

و لو کان زاهدا

دنیا ګښت د آخرت دی

دا خبره ده رښتیا

د دنیا طالبان ډېر دي

که یې مومي څوک له چا

ولې مرد په یې هغه دی

چې سخي وي هم پارسا

په دنیا کې بدي نشته

که بدي نه وي له تا

دنیا بحر دی بهېږي

آیینه غوندې صفا

خپل خپل مخ پکې لیده شي

که څوک زشت وي که زیبا

کار همه واړه موقوف دی

د سړي په مدعا

دنیا نه دی هغه دین دی

چې له نهې وي سیوا

دنیا بده د هغو ده

چې يې کسب وي ريا

حق باطل کا باطل حق کا

په سبب دروي ريا

نه يې ويره وي له خدايه

نه يې شرم نه حيا

د يوې ګيډې لپاره

هزارخونې کا بيديا

راوړتې ډېر مودبانه معرفي د تحقيق بازار ته وړاندې کوي، اول وايي چې (دی يو غريب ملا و چې زړه يې پادشاه و او بيا وايي چې رحمان تارک الدين و او د غريبۍ کورنۍ و،

غريبي، ناروغي، لېونتوب، اونور ډېر ډېر عوامل شته چې خلک ځوان پوخ او زړور له سيالۍ باسي. ورور له وروره بې خبره کوي او د چا خبره چې دا ډول د سړي په تش لاس پورې اړه لري: (تشه لاسه دښمن مې ته يې) عادي خبره نه ده. غريبي په اجتماعي يو کترونو باندې هم نامردانه ګوزار کولای شي.

آنکه شيران را کند رو يا مزاج

احتياج احتياج احتياج

دا منم چې عبدالرحمان مومند تر ډېره ځايه د دنيا له رزق برق نه ځان ساتلی او دا يې په څرګند ډول ويلي، چې (موتو قبل ان تموتو) خو دا خبره مبارزه د ژوند بقا او ښېرازۍ او هم يو ديني، شرعي او انساني معنويت اصل دی، بابا په ښکاره کلمو کې نه ده کړې. د بابا رح په دغه برخه کې زما په تحليل د شاعرانه، رنګين او قوي فطرت له مخې او د عارفانه، فلسفي او ټولنپوهنيز تکفر او استدراج او استدلال په قوت خلک تجربي تمثالونه ته د عوت کړي ي، لکه:

په دنيا کې ډېر حکمت[١] دی

ورشه وپوښته حکما

[١]- حکمت، د ښه او بد ترمنځ تفکيک ته وايي.

يا دا چې:

دنيا بحر دی بهېږي

آيينې غوندې صفا

خپل خپل مخ پکې ليده شي

که څوک زشت که زيبا

هم خطر پکې د سر شته

هم گوهر دی، بې بها

ما چې تر کومه ځايه دا خبره د بابا په شعر کې وکتله (اروابنا يو تجربوي او عقيدتي تصوير له دنيا کاږي، خلکو ته يې په مخ کې ږدي او د قضاوت او زبات جاج او پوهې ته يې دعوتوی.

راوړتې د پښتو ادب د تذکره نگارۍ د هويت له مخې د خوشحال خان په برخه کې دا ډول نظر درلود، چې خوشحال د يوې مضبوطې قبيلې مشر و او هم دغه رنگه زبردست شاعر و.

پښتانه شعرا کې راځي، چې عبدالرحمان بابا په يوه غريبه کورنۍ کې پيدا شوی، نو د دې نامتو شاعر ابتدايي معلومات لا تر اوسه چا نه دي ليکلي، دا ټولې حوالې ما په دې غرض پيش کړې، چې زموږ د ژبې ادبي ناقدان او تاريخ دانان د د گردو روايتونو په هکله مستند معلومات حاصل کړی.

راوړتې هم د رحمان باب د عالم والي او صوفي توب تصدی کوي، او دنيا سره يې ډېر کم تعلق درلود.

مولانا عبالقادر عليه الرحمه د پښتو ادب سرلاری، د لوړ نظر او عالي اکفارو خاوند په اول وار چې په ۱۹۶۳ ع کال د پښتو اکاډمۍ ډايرکټر و، د عبدالرحمان بابا د ژوند، حال او احوال په برخه کې يې هر اړخيزه څېړنه او ليکنه کړې وه او يو ځل بيا يې دا کار په پوره زيار ترسره کړی دی؟

د عبدالرحمان بابا د زيږېدو او مړينې کلونو په برخه کې دومره ډېر څه نشته، لکه د ده د شعر د فن، هنر او عالمگير فکر به برخه کې چې ليکنې او روايتونه راغلي\ دي. د بابا د افکارو د حسن له برکته دنيا خبره شوې، خو د دې لپاره چې پښتون و، او په پښتنو کې زيږېدلی و، نو د ټولو د بې پروايۍ له وجهې ژوند يې په تيارو کې الونيا دی.

دا چې د بابا شعر پټ او پنهان نه دی پاتې شوی، فکر کوم د نوموړی شعر د ناياب مشکو کاروان په خپل همت

عالمي کره کتنه که د یوان یې هم د بې باکه چرسیانو او خوار او خسبه وو ښځو په لاس ورغلی وای؟ د اور لمبه شوی به وي.

د اروابښد علامه استاد عبدالحی حبیبي په وینا چې عبدالرحمان خپل دیوان په خپل ژوند مرتب کړی وای.

پورته لیکنه او نظر ځکه درست دی چې د بابا د شاګردانو په شمول د ده کورنۍ هم نوموړي اشعارو او دیوان په تدوین راټولېدو لپاره دومره فکر خدازده درلووده او که نه؟

زما په فکر انسان د دې لپاره چې ښه ژوند او باهویته زنده‌ګي وکړي، د ژوند کولو لپاره یو کلتور ورته لازم دی، دغه کلتور خدای مه کړه تر د یوویشتمې پېړۍ د دویمې لسیزې تر پایه لا مهال خبره ده.

د بابا افکار او شعري ښکلا مشکي کاروان د ده په ژوند وړمې خورې ورې شوې. مشک آنست که خود بودید، نه آنکه عطار گوید:

ستا د حسن د تعریف له برکته

د رحمان د شعر کوکې په عالم دي

هو! د رحمان بابا شعر او فن د ده به ژوند عالمګیر شو، ټوله پښتونخوا یې لاندې کړه او د هر پښتو د زړه پر تخت پاچا شو، خو لکه څومره چې د ده شعر او فن عالمیګیر شوی، همدومره د ده ژوند او ژواک په تیاره کې پاتې شوي دي او د ده پر ژوند باندې د همدې خورو تیارو له امله د رحمان بابا مخلصانو او عقیدتمندانو ده ته افسانوي شخصیت ورکړی، قصې یې پرې تړلې او روایات یې پسې جوړ کړي دي. له همدې کبله د ده فن د دې عالمګیر شهرت تر څنګ د ده شخصیت له خلکو نه ګوښه تارک الدنیا او د صحرا او غارونو استوړن وشدل شوی چې دا دبابا له لوړ انساني شخصیت سره منافي او په مقال اړخ کې دي.

زه هم همدا فکر کوم که بابا د رهبانیت[1]، له ټولنې او له کوره د تښتې علاقمند وایي، نو دومره شهرت یې څنګه حاصلاوه.

اوبه خور لکه آسیا په ځای را رسي

بل دا چې بابا کار کاوه او دوستانو یې د شعر مشک فشاني د وخت له امکاناتو سره سمه کوله.

---

[1]- رهبانیت

عبدلرحمان لکه بودا[۱] او د ابراهیم ادهم[۲] له هر څه سره خدای په امانې نه دی کړی. د اجتماعي افکارو او عرفان پلوی پاتې شوی دی او پاتې شول د خلکو تورونه؟

له تورونو او ګوتنیونو، کترو، پېغورونو او... څخه هېڅوک په امان کې نه دي، د غني خان غني په وینا:

په جهان کې به تهمت له څوک خلاص نشي

چې آسمان وي، کله کله وي وریځې

پیاوړی استاد رفیع هم دا موضوع ردوي او وایي چې رحمان بابا د ټولنې د اجتماعي او رواني دردونو پیاوړی طبیب و لکه:

دی اجتماعي نقاد ی او د خپل اولس پیاوړی ارواپوه او ماهر نفسیات پوه دی. دی د ژوند او دقیق نظر څښتن دی، هغه څه لیدلای شي، چې سطحې او ظاهربین کسان یې نشي لیدلای او هغه څه ویلای شي چې بې زړه او ډارن کسان یې د ویلو جرلات نه لري.

په کورني لحاظ هم د رحمان بابا وینا دا ثابتوي چې دی بې یار او بې یار ورنه دی، بې کسه او بې وسه نه دی، رټلی او له کلي وتلی نه دی، دی کور لري ، اور لري، زامن لري، وروڼه لري، خپلوان او دوستان لري. له خپلو خلکو سره راشه درشه لري. راکړه ورکړه ورسره کوي او د خپل ولس په غم شریک او په غم او خوښۍ کې شریک دی. دا ټولې خبرې د ده په دیوان کې شته او موږ یې په صراحت د ده له خولې اورو:

د خپل ورور په باب وایي:

په مجنون باندې قلم راغلی نه دی

که حلال یې په مخ ورشي، که حرام

حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی

په حلالو کې مدام وي احترام

او بیا د اولاد په باب دعا کوي:

---

[۱]- بودا

[۲]- ابراهیم ادهم

خدای له هسې رنګ زور اده امان راکړی

چې بې دین، بې دیانت شي، بې نماز

د اولا د موجودیت او روڼو او خپلوانو په باب نظر لري:

که مې ورور که مې عزیز که مې فرزند دی

واړه غواړي خپله خپله ورعا

او د خپل او خپلې د ډېر بنت په باب ترې اورو:

په هر کور کې رنځوران راته پراته دي

لاس مې نه رسي د هېچا په دوا

د رحمان بابا د ژوند متعلق ډېر څه شته چې د ټولو راوړل د تحقیق له ساحې وتل دي.

پروفیسور محمد یعقوب خان، د رحمان بابا د ژوند متعلق ډېره ښه مقاله لري، خو زما لپاره مهمه دا وه چې نوموړی (بابا ټول ادبیات ۳۲۳۴ بولي ۳۴۱ غزلې مخمسه او یو اردو غزل) (۲۸: ۹۵)

**کامل مومند او رحمان بابا**

د حضرت عبدالرحمان بابا د ژوند او عهد په باب کامل مومند د رحمان بابا اثر کې رحمان بابا او هغه عهد تر سرلیک لاندې په زړه پورې عالمانه او کابو کره معلومت خواره کړي دي، چې د ځینو برخو راول یې هدو ضروري دي:

د غونچې په څېر په سل ژبو خاموشه

لکه بوی هسې په پټه خوله ګویا یم

...د رحمان بابا پلار چې خوش ارواح خان نومیده د پېښور د مومندو د بهادر کلي لوی خان و چې خدای تعالی ور له دوه زامن ورکړي وو، یو یې عزیز خان او بل یې عبدالرحمان و. خوش ارواح خان چې په حق ورسده، نو عزیز خان د هغه پرځای کېناست او خاني او ملکي یې کوله او عبدالرحمان د مجنون نوي یو ډم مجلسي هلک په مینه مبتلا شو او دوی دواړه له حجرې او کلي ووتل او ځان ته یې د باړې په غاړه یوه چونتره جوړه کړه او هورې یې له نور عالمه ګوښې خپل وخت تېراوه، خو په دې ځای کې هم خلکو په آرام پرېښنښودل. او آخر دواړه

اصلاح وکړه چې هندوستان ته لاړ شو او دا يې غور کړه، چې له وړومبي د مجنون د هندوستان په لور ورشي، ځکه که دواړه يو ځای روان شي، نو عزيز خان به ولګي.

عبدالرحمان په حصار کړي. په دې صلاح مجنون کوچ وکړ او اټک کې د عبدالرحمان په انتظار کېناسته، خو خلک او عزيزخان هم د دې صلاح نه خبر شو او عزيز خان ولګېده، عبدالرحمان يې حصار او په يوه کوټه کې يې بند کړو، چې عبدالرحمان په نېټه اټک ته ونه رسېدو نو مجنون خيال وکړو، چې هندوستان ته به روان شوی وي، خو ګوندې له يو بل نه غلط شو او په دې خيال کې مجنون هندوستان ته روان شو. په دې دوران کې عزيز خان هم په دې خيال چې ډېره موده تېره شوه او د مجنون مينه به د عبدالرحمان له زړه نه وتلې وي، هغه يې له کوټې را بهر آواز کړ.

مجنون هم بيا وطن ته راو رسېد او بيا دواړه عاشقان بارې په غاړه سره يو ځای او غاړه غړی شول، د عبدالرحمان په وينا مجنون په رباب ګوتې پورې کړې او عبدالرحمان بې هوشه او مجنون مړ شو.

عبدالرحمان چې په هوش کې راغی، ولايت يې نصيب شوی و، دا هر څه شاه شرف قلندر له برکته او د هغه پيش ګويي مطابق وشول. (۲۹: ۱ – ۲ مخونه)

څېړونکي کامل مومند واي، دا ليسه له تاريخي نظره بې بنياده ده، البته که موږ و د رحمان بابا ديوان په غور وګورو، نو رانه به جوته شي چې د دې کيسې په وجود کې راوستلو او په دغه شان سازولو تحريک د بابا لاندنيو اشعارو نه شوی دی:

جدايي ده ډېره سخته

دا ارواح او د قالب

چې مجنون په ځنکندن شو

خدای يې پرېښودم فائب

وصيت يې راته وکړو

په څو رنګه عجائب

چې روزي دې شه رحمانه

ځما واړه مراتب

او د یو بل غزل دا مقطع

نشي د خانانو ملنګانو سره کلي

چېرته عزیزخان[1] چېرته ملنګ عبدالرحمان

نوموړی بیا دا خبره کوي، چې بابا د دې ذکر د بابا په دیوان کې نشته او نه کوم بل شهادت او هغه مجنون د عربو د قیص عامري نه علاوه بل څوک سړی دی. د پښتونخوا د مجنون چې د رحمان بابا معاصر او مجبوت یاد شوی دی د ذات د تاریخیت هېڅ ثبوت نشته.

په هر ډول د مجنون نوم په پښتو، فارسي، عربي او ادرو کې خورا ډېر ډېر راغلی دی. آن د خوشحال خان په یوه شعر کې هم راځي:

مجنون مړ نه دی ژوندی دی

چې لا ما غوندې خراب شته

د عبدالرحمان بابا د ورور عزیزخان هویت خو له تاریخي پلوه ثابت دی، اې د بابا ورور دی، مګر د کامل مومند استاد په وینا د هغه له رحمان بابا سره د خپلوۍ او تعلقاتو په شان هم شان شان خبرې شته، څوک د رحمان بابا ورور او څوک یې تربور او څوک یې تره یادوي:

کله ناکله ځینې د ګوتو په شمار محققین خپل ذهن او ځان د ځینو حقایقو له منلو پټ او په تیاره کې ساتي، کله هم د موضوع د لا زیاتې محقق کولو لپاره لا پلټنې او دقیق کوي او...

دا موضوع خو د بابا دا یو بیت له ابهامه ژغوري.

نشې د خانانو ملکانو سره کلي

چېرته عزیز خان، چېرته ملنګ عبدالرحمان

ښاغلی مومند استاد په دې برخه کې د راورټي حواله ورکوي:

راورټي لیکلي دي چې رحمان بابا د پېښور د مومند قبیلې د غوریه خیل څانګې و[2] او د پېښور د مومندو د تپې

---

[1]- عزیز خان

[2]- پښتني قبیلې

په هزارخانی نومي کلی کې او سیده، هغه یو ډېر لوی ملا او عالم سړی و او له عالمانو کناره په مذهبي تکفر کې ډوب در ویشانه ژوند به یې تېراوه او له خلکو سره به یې صرف دومره ګډون کاوه څومره چې یې د ژوند د ضرورتونو تقاضا او چشتیه طریقې[1] مطابق به یې چې په مسلمان مطابق به یې چې په مسلمانانو کې ډېره مقبوله وه، سماع[2] کوله څه موده پس چې ورته د شعر ینبه وشوه، نو له عالمانو بالکل په ډه ډه شو او دوستانو به یې اکثر له سترګو اوښکې روانې لیدلې – تر دې حده یې ژر او رسیده چې د اوښکو دارو یې په اننګو نښې وکړې.

د هغه ترک جذب او استفراق[3] ځینې حاسدانو او تنګ نظر و ملایانو له د هغه د تهدید او پرې د کفر د فتوا لګولو موقع ورکړه ولې چې له خپله ځآیه د نه راتلو په وجه له هغه نه جماع سره لمونځ کول هم پاتې شوی، آخر د ځینو راوادارو او لوی زړه لرونکو ملایانو په مشوره هغه له خپله خلکو ته راووتو او دا یې ومنله چې آینده به جماعت او نورو مذهبي فرایض هم ادا کوي او هم یې په دې موقوع یې هغه  غزل ووې، چې په ترتیب سره مطلع او مقطع یې دا دي:

مدام ناست یم وچ ګوګل سترګې په نم کې

عشق را وښود بحرو بر په خپل حرم کې

زه رحمان کناره خوښ وم له عالمه

باري ستا سترګو رسوا کړم په عالم کې

پورته اقتباس مو له راوړتې وکړ، راوړتې د بابا شخصیت د هغه له فکر، هز او سماع سره تړي او تقریباً نسبي لړۍ ته دومره فکر نه کوي.

کامل مومند استاد ددواړو اړخونو ته پاملرنه کوي او د عبدالرحمان د اصل، نسب کلي او د زیږېدو زمانه د تاریخ په رڼا کې داسې وړاندې کوي:

نسب کلی او د زېږېدو زمانه

## ۱ – ٦ د رحمان بابا نسب نامه، کلی او د زېږېدو زمانه

---

[1] چشتیه

[2]- سماع

[3]- ترک، جذب استفراق

د عبدالرحمان بابا علیله الرحمه د زیږېدو او مړینې تاریخونه یا نېټې په تیاره کې دي، ما د خدای ښنلي د زیږېدو او مړینې په برخه کې په تېرو مقالو کې خورا ګڼ نظریات وړاندې راټول کړي دي، دا نېټې  په استدلال نه دي محققې شوې، ډېر ځله دغه راټولونې (عندې کره‌کتنې[1]) ته پاتې کېږي.

که رښتیا ووایم ما داسې کره او سقه نظر پیدا نه کړ، چې زړه مې وړباندې اوبه وڅښي.  دا طالع او شامت د پښتنو دی، چې د عبدالرحمان بابا غوندې د ادب د  اووم آسمان ځلاند ستوری (نسب نامه) دی پهتیارو کې پاتې وي.

عجبه خبره دا ده چې د بابا علیه الرحمه د خپل خاکي فطرت او پښتون طبعیت له مخې له تاریخ لیکنې سره علاقه نه درلوده او د ده کورنۍ معاصرین او شاه خوا دوستانو ته هغه مهال د دغو شجرو ارزښت څرګند نه و، بله مهمه خبره دا ده چې د  بابا طالع ددې په وینا خطا وتلی وي، دی په خپله وایي:

زه رحمان کناره خوښ وم له عالمه

باري ستاسترګو رسوا کړم په عالم کې

د خالق احسان دی، چې کلام یې د عشق و محبت، مینې سوز و ګدار او په لسګونو نورو ښایستونو او ښکلاوو څخه ډله همیانۍ وه چې د رحمان یې په عالم کې مشهور کړ؛ پهیار اصلي مینې، رحمان په عالم کې شهره کړ.

ستا د حسن د تعریف له برکته

دا مطلب لا مخکې له مخکې حافظ شیرازي یار شیدا کړی و، لکه: درازل حسنت ازتجلی ادم زد

**د رحمان د شعرونو کوکې په عالم دی**

تر کومه ځایه چې ما ته تجربه شوې ده، خپله او د پښتنو اروپوهنه مطالعه کوم، (یو پر بل د رواداری قدرت او حتی اخلاق په موږ کې کمزوري دي، که دا ووایو چې د عبدالرحمان په خپل ژوند کې په څه پوه دوستان او خپولان چې قلم ولري، نه درلودل، دا هم امکان نه لري.

په نورو قومونو کې داسې روحیه ده چې پوهان لوړوي، درناوی یې کوي.

په نورو قومونو کې خو پښتانه یې آن د خطر په وخت کې هم دیوال ختلو ته نه پرېږدي، له پښو یو بل نیسو او راغورځوو یې!! او دا امتیاز په وخت خو یو بل ټول شیان ځان ته غواړم لکه:

---

[1]- عندي کره‌کتنه

میم زر ما – ټول زما (متل)

له بلې خوا نور قومونه له خپلو چغالانو، لېوان او زمریان خوړلای شي، خو موږ ته خپل زمریان، گیدړان هم نه ښکاري. زموږ ټوله مادي او معنوي هستي تل د وختونو د ناولو سیاستونو ښکار شوي دي.

نور خلک او قومونه (له خاورو زر جوړوي، خو موږ په لوی لاس خپل زر خاورې کوو، لاندې لندۍ زموږ په حال ډېر ښه صدق کوي.

خلک له خاورو نه زر جوړ کړي

زه بد قسمته یم سره زر خاورې کومه

سرېښي بابا دا باور هم درلود چې طالع په ژوند کې ډېر رول لري، ځکه یې خپل دغه باور په څه ښه عذر آمیزه توگه بیان کړی دی، له عقله تیر شویو خو طالع ته په ارزښت قایل شوی دی، لکه:

عقل څه غواړي، طالع غواړه رحمانه

عقلمن د طالع منو غلامان دي

دا خبره نه یوازې د بابا په زمانه کې د لیدلو او احساس وړ وه، بلکې زموږ په زمانه (یوویشتمه پېړۍ کې خو په سل واره د یادولو وړ ده.

خان علین مکان خوشحال خان بیا بل ډول فکر درلود او هغه دا چې:

که طالع[۱] او هنر دواړه سره کېږدې

زه خوشحال به پکې ونیسم هنر

په هر ډول انسان د وخت، حالاتو، ژوند پېښو او ځینو نورو لاملونو له امله د شرایطو او حوادثو د طوفانونو غېږې ته لوېږي او شاعرانه په افکار خو لکه د شاتو مچۍ په نابېره توگه د شفتلو[۲] په پټي[۳] ور توېږي.

د عبدالرحمان بابا پورته نظر د شخصیت جوړونې د عالي مدارجو په تله ترازو لږ کمزوری برېښي، خو دا باید هېره نه کړو چې عیني پېښې او واقعیت نسبت نورو انسانانو شاعران ډېر ښکاروي . د خوشحال بابا نظر ډېر

---

[۱]- طالع

[۲]- شفتل

[۳]- پټی

متعالي او لوړ دی، خو کله له ټولو حالاتو سره سر نه لګوي، دا ځکه (لوېدلي خلک) د نوموړي د عالي فکر له درکه عاجز دي.

په پښتو متل کې راځي:

مه ژغ کوه، مه سپاره

خدای به یې درکړي په تیاره

یا

توري دې لالا وهي

مړی دې عبدالله

بل

د کمبخت غوا د اختر په ورځ ورکېږي.

په هر ډول بابا د ټولنې عینت د هماغه وخت له ټولنیزو واقعیتونو را اخیستی دی.

د بابا په نظر کې د مبارزې بیرغ اوچت نه ښکاري، خو د خوشحال خان په طرز فکر کې په ځان ویساینه له ورایه ځان معلوموي.

ما د بابا علیه الرحمه په زیږېدو او مړینه پوره معلومات را ټول کړي دي، خو یو ځل بیا د خدای بښلي درانه استاد او محقق (کامد مومند) معتبر یاداشتونه د ده له کتاب (رحمان بابا) څخه را اقتباسوم:

له بده مرغه د تاریخي معیار له رویه د رحمان بابا ژوند ژوند حالات ډېر زیات په تیارو کې پراته دي او د تاریخي معلوماتو دغه نشتوالی هم تر ډېره حده د هغه په هکله د اختراعي تخیل په حرکت او کیسو او افسانو په وجود کې د راوستلو سبب ګرځېدلی دي، په هر حال دومره نه صرف د مسلسل روایت بلکې د معتبر دستاویزي شهادت له رویه هم ویلی شو، چې هغه په پښتو کې سړبني په سړبنو کې غوریه خیل او په خپلو کې مومند و، هغه په خپله په خپل کلام کې ځان ته سړبني او موز ویلی دی.

د خوشحال بابا زوی عبدالقادر خان چې د پښتو یو لوی شاعر او ادیب او د حرمان بابا معاصر دی، واي:

زه خټک د یار په غم تازه تازه شم

غوریه خیل رحمان که شو ورځني سترې. (۷)

دغه راز کامل مومند دغه معلومت د بابا په برخه کې لاغځوي او وايي:

د دیارلسمې صدۍ هجري يو مشهور شاعر عبدالعظیم رانیزي چې تر ۱۲۵۳ ژوند يقيني دی، وايي:

خدايه وبښې مومند عبدالرحمان

پرې نازل کړې خپل رحمت لکه باران

میجر راورټي[1] بیا عبدالرحمان باب نظر درلود چې عبدالرحمان بابا د غوریه‌خیل ځانګې څخه نه و، بلکې هغه ابراهیم خیل مومند و، د راورټي او پادري هیون دغه اختلاف ځینې محققان په غلطۍ کې اچولي دي او له دې امله هغوی لیکي چې په کوم تابین چې دی ورګډېږي، هغه ته ابراهیم خیل وايي او بعضې وايي چې غوریه خیل دی، خو چې کوم خلک د پښتون له ژوند خبر دي، هغوی پوه دي چې د پښتنو د یوې قبیلې ځینې پښې دي او اکثر یو کس کله په یوه او کله په بله پشه یاد شي، حال دا چې د یو شاعر لیکوونکو دې خبرو ته پا نه دی.

کامل مهمند زیاتوي:

غوریه خیل مهمند

مهنمد غوریه خیل نه دی اول غوریه خیل دی بیا مهمند ابراهیم مهمند دي .

سره له دې چې (میچر راورټي) ته درنښت لرم، خو راورټي د دې لپاره غوریه خیل ته مهمندو څانګه ویلې، نو ډېره اشتباه يې کړې ده، غو ریه خیل د مهمندو څانګه نه ده، بلکې خلیل، ځمکني، زیړان، مومند او داودزی د غوریه خیلو له څانګې دي او دغسې هر مومند غوریه خیل دی.

خو نه هر غوریه خیل مهمن لکه چې مهند د غوریه خیلو څانګه ده نو غوریه خیل په سرېن کې شامل دی.

رحمان بابا لکه چې پادري هیوز لیکي: ابراهیم خیل مهمند دی یعنې ابراهیم خیل د مومندو یوه پوښتنه ده.

د پېښور د مهمندو په تپه کې چې کوم خلک ځان د رحمان بابا لمسي او عزیزان بولي، هغوی په ابراهیم خیلو یادېږي، ګوندې ځووک دا ووايي چې کېدای شي، ابراهیم خیل د غوریه خیل مترادف دی، ځکه لکه چې اهل انساب وايي، د غوریه خیلو د نیکه اصلي نامه ابراهیم وه او په غور کې د زیږدو له کبله غوري باله شي.

[1]- مېجر راورټي

کامل مومند  علیه الرحمه دا خبره ور ملګري کوي، دا خبره چې ابراهیم بابا په غور کې زیږېدلی او له همدې امله یې غوریه خیل بولي، درسته نه ده.

د دې لپاره چې ابراهیم خیل په شجرو یا عام عرف دي، هېڅرې د غوریه خیل مترادف نه دی استعمال شوي او بیا دا چې غوریه خیل د پنځو قبیلو لویه ده او ابراهیم خیل په حقیقت کې له نوموړو پنځو قبیلو د یوې یعنې د مومندو دودیزې نومې څانګې یوه محدوده وړه ده.

نو ښکاره شوه چې رحمان بابا په مومندو کې دودیزې تاو په دویزې کې ابراهیم خیل و.

## ۱ – ۷ د رحمان بابا د استوګنې ځای

میجر راورټي چې یو بهرنی افغان فرهنګ پوه دی که د هنرمندو لیکوالو، شاعرانو، لیکوالو او محققینو په فرهنګي کمال ښه پوهېده، خو د پښتنو مشاهیرو د ژوند له حال و احوال نه هم خبر دي او د افغاني منورو په تذکره نګارۍ کې یې پوره پوره او د خپلې پوهې تر کچې په صمیمانه ډول برخه اخیستې ده.

راورټي د عبدالرحمان بابا د استوګنې ځای د هزارخانۍ کلی یاد کړی دی.

د پادري هیوز  د وینا مطابق د بهادر کلی و، د مسلسل او په اتفاق منلي شوي روایت له مخې رحمان بابا ځای بهادر کلی و، بهادر کلی له پېښوره کابو درې میله لرې سهیل جنوب ته پروت دی.

رحمان بابا په بهادر کلي او هزارخانۍ کې استوګنه کړې وه، خو ځینې یې بیا د پېښور ښار سهیل ته څه خو شرق د ختیځ ته پروت ګڼي.

یو ځل چې زه احمد شاه زغم او انور  جان خیبري په ۱۹۰۱ کال د  لوړو زده‌کړو وزارت د فرهنګي چارو د ریاست له خوا د اروښاد اجمل ختټک لیدنې ته ‌اچې لا هغه مهال ژوندی و، د یو دوه ورځو د مرکې لپاره ولېږل شو، هلته یې په پېښور کې له درانه شاعر سره له مرکې وروسته د پوښتنو په لړ کې د هغه د زوی  له خولې د بابا عبدالرحمان د زیارت او پخوانۍ استوګنې د ځای نه په برخه کې وویل: بابا د پېښور ښار د بهادر کلی و او هغه ځای د پېښور درې میلې کې د پېښور په جنوب ختیځ کې واقع دی.

د رحمان بابا د ژوند زمانه د مغلو شاه جهان (۱۰۳۷ – ۱۰٦۸) ه او د عیسوي (۱٦۲۷ – ۱٦۵۸) اورنګزیب (۱۰٦۸ – ۱۱۱۸) (۱٦۵۸ – ۱٦۴۰ ۷ او شاه عالم اول (۱۱۱۹ – ۱۱۲۴) په وختونو کې وه او غالباً چې د شاه جهان په وخت کې زیږېدلی و.

په هر ډول د عبدالرحمان خان د ژوند کلونه د شاه جهان په دوران کې ډېر یقیني دی. بابا د شاه جهان د زوی

اورنگ زیب یاد په خپل دیوان کې کوي او داسې ویل کېږي چې د اورنگ زیب په زمانه کې د عبدالرحمان بابا شهرت او نوم پوره مشهور شوی و، بابا د اورنگ زیب نوم داسې اخلي:

اورنگ زیب و شاه جهان غونديې اشراف

صدقه شه تر منصور غونديې نداف

که د تن لویې لوی دی ته یې څه کړې

مکړه خدای چې کوه طور شي کوه قاف (۹۲)

د عبدالرحمان بابا د پیدایښت تاندرې خو ډېرې دي، یو ځل بیا د کامل مومند د اثر (رحمان بابا) ۱۲ مخ ته ورشو او د هغه نظریات ترې را واخلو او وبه ګورو د بابا د ژوند یقیني زمانه د دې شعر په څپو کې څنګه لګېدلې ده.

لکه بار د ونې پوخ شي ځینې رژي

زه هم هسې بار تړلی سر برا یم

اوس مې ځای په دا جهان کې پاتې نه شو

خورځېدلی تر چهل و تر پنجاه یم

توره ږیره مې شوه سپینه زه حیران یم

چې رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل

## ۱ – ۸ د عبدالرحمان بابا اولادونه

د روارتې د یادښتونو له مخې داسې ښکاري چې د رحمان بابا د لور له طرفه د هغه اولاد اوس هم د مومندو په بهادر کلي کې اوسی، خو د هغه د یوه زوی الاد ډېره موده وشوه چې ختم دی. د بهادر کلي خانان د حرمان بابا د ورور عزیز خان اولاد بولي، دا هم ویل شوي چې رحمان بابا هډو اولاد د واده نه و کړی، نو بیا د اولا پاتې کېدو څه سوال نه پیدا کېږي.

او که موږ د راورټې بیان ومنو نو کېدای شي چې رحمان بابا خپل لور وراره ته واه کړې وي او د عزیز خان اولاد هغه لمسی وي له دې ور هخوا په هزارخانی کې هم ځینې خلک د رحمان بابا لمسي یادوي.

## ۱ -۹ د عبدالرحمان بابا مړینه او مزار

پټه خزانه کاږي چې رحمان بابا په سنه ۱۱۱۸ هجري وفات شو، خلک يې تر اوسه د پېښور په هديره کې زيارتونه کا (پټه خزانه ۴۵

نور چا د ده د مړينې نېټه نه ه ضبط کړې، خصوصاً د رحمان بابا شاګرد يونس خيبري د ده له سوزه ډکه مرثيه وايي، خو له بده مرغه د مړينې تاريخ يې نه ښيي.

د رحمان بابا په ديوان کې داسې داخلي شهادتونه شته، چې د ده ژوند تر دې کال را وروسته هم ثابتوي، په دې شهادونو کې يو هغه اوږد نظم دی، چې د اورنګزيب مړينه پکې ياده شوې ده، اورنګزيب د ۱۱۱۸ کال د ميانې په ۲۸ مه نېټه مړی شوی دی، خو په دې نظم کې يو بيت دی:

اوس نوبت د شاه عالم دی

دوره او طور يې شو دګر

او څرنګه چې شاه عالم د ۱۱۱۹ هـ ق کال په عاشورا يا څپره کې خپله پاچايي اعلان کړې، نو ځکه ښاغلی کامل دا پاڼکی د ۱۱۱۹ هـ ق کال بولي.

او په دې وسيله د ده ژوند تر ۱۱۱۹ هـ ق کال پورې ثابتېږي، همداراز د بابا په ديوان کې د ګل خان او جمال خان د مړينې په پېښه هم  يو نظم شته، چې دا پېښه د رحمان بابا ژوند څېړونکو د راوړتيې د وينا له مخې له ۱۱۲۳ هـ ق کال سره مربوطه ګڼله او د راوړتيې د وينا په استناد يې د ده ژوند تر دې کال پورې هم اټکل وه.

*ګل خان او جمال خان

*راوړتيي

*عاشور

*څپره

خو څرنګه چې راوړتيي خپل سند نه و ښوولی، دا سنه اټکلي بلل کېده، اوس چې د تاريخ مرجع متن د کامل مومند په همت خپور شوو هلته په صراحت  سره د دې پېښې په باب ليکل شوي دي، پس له فوته د اورنګ زيب بادشاه جمال مهمند او بعضې ظاهربين کوته انديش ورسره سر په شورش پورته کړی و. په مهمند کې مو سريزې وه او موسريزې په مهمند کې کمزورې تپه ده. غرض يې دا وو چې په دا شورش به د مانا مه ناموس

وښيي.

اريابي به بياموم. په داميان کې ډېر افراط – تفريط ورڅخه وشو. هر ګاه چې په سن زر سل دوه ويشت صوبه دارۍ کې يې د ناصر خان کړې وې، د ناصر خان په خاطر وې، په خپلې ارزيابۍ کې يې کلي د عيسي مهند هم وواهه.

په تل يې خنه وکړه. عيسی مهمند په خپل خپل کې روزور دی، جوړه يې د ناصر خان سره وکړه. د مغل په ويرانۍ کې پښتانه خپله مدعا ده. [1]

**په هر طرف که کشته شوده اسلام است**

په دا ميان د جمال د زوی د واده کار پښين شه، ناصر خان  دوه زره روپۍ هم په طريق د انعام ورکړې، نو عيسی به ټوله د مغل جز يې ورپسې کړ.

هغه شپه چې يط د زوی واده و، د لښکر سره ور روان شه په کور يې ورغی، جمال له دې هسې آفته غافل و، مخې ته ور ووت، تاب يې د جنګ رانه وړ، زخمي کور ته ننوت، عيی يې په کور او اور پورې کړ.

پکې و سنه، اتيا ۸۰ کسه نرښځي، ووړکي، هلکان د واده هم به هغ کور کې وسول. دا واقعه په سن زر سل درويشت کې وه، خدای دې هسې آفته امان وکا. [2]

مور وينو چې د دې پېښې په باب تاريخ مرصع يو باوري او د هغه وخت سند دی چې راوړي هم بې له دې چې خپل ماخذ وښيي، له همدې تاريخ نه د دې پېښې کال ښودلی دی، له بله پلوه رحمان بابا دا تراژيدي په خپل يو نظم کې به ډېر سوز او درد انځوروي.

ډېر ياران وو د ګل خان او جمال خان

په کار نه شو يو په وخت د رازستان

د همه‌واړو يارانو مخ دې تور شي

که به څوک و بله ياري کا په دا شان

چې يو يار په سيوري پروت وي، بل په اور کې

[1]- تاريخ مرصع، کامل، دوست محمد، رحمان بابا، مجهول مولف، ۱۲ مخ دارالملک، کابل

[2]- خټک، افضل خان، تاريخ  مرصع

و هغو ته به څوک څه وايي ياران

هېڅ تعريف يې په دا ژبه وايه نشې

صد رحمت شه په ياری هم د ګل خان

په دا پورته د ياری شرطونه څه وي

چې په اور کې دواړه وسوځي يکسان

چې له آله له اولاده سره وسول

خدای دې نه کا څوک دا هسې مظلومان

چې په اور کې يو د بل لپاره سوځي

ما ليدلی نه وو هسې مخلصان

څه رنګ شوخ وو هغه اور او هغه خلک

چې يې مړ نه کړو د اوښکو په بارن

الغياث دی، الغياث دی، الغياث دی

چې انسان کا هسې ظلم په اناسن

د نمرود د چارې مې وليدې په ستګرو

چې يې اچول و اور ته نبيان

هم دی ځمکې دې آسمان ته تعجب کړم

چې نه ځمکه په نارو شوه، نه آسمان

هم دې لويو لويو غرونو ته حيران يم

له دې خپله سپيه نفسه مې زړه بد شو

چې اوبه ښښي يا خواړه خوري په جهان

عالم وايي چې قيامت به په جمعه وي

وليد ما په يکشنبه په دا دوران

هزار حيف دی چې دا هسې رنگه چارې

واقع کېږي دنيا دنيا په سود و زيان

سر بند نه و گويا دښت کربلا و

چې سيلاب شو د سرو وينو پرې روان

په عيسی او په دجال کې گناه نشته

دا فکرونه دي د نفس و د شيطان

عزيزان يې خپله ووژل په خپله

دا همه واړه تقدير دی د سبحان

هسې نه چې دا يې وکړه، نور به نه کړي

چې يې زړه شي  هغه کاندي پادشان

شاه عالم اعظم وگوره  چې يې سخا کړ

په خونونو واړه ملک د هندوستان

و دارا او اورنگزيب وته حيران يم

چې يې څه چارې واقع شولې تر ميان

د حسن، حُسين غزا دې څوک په زړه کا

چې همه واړه په تيغ شول شهيدان

د دوی غوښې اوښکو وينو غړولې

بې حسابه هسې خلک شو توفان

هر چې اهل د دنیا دي حال يې دا دی

که سړی دی که پیری دی که حیوان

آدم زاد په څمکه یو بل سره وژني

په دریاب کې وبله غوښې خوري ماهیان

لکه غوښې چې ماهیان خوري په دریاب کې

په هوا کې همدغه کاندي مارغان

خزنده او پرنده دي، د دې د هر

همه واړه یو تر بله مشت و ګریوان

مرداري د دې د دنیا همدغه ده

څکه ببرته څیني ګرځي درویشان

مکاري د زمانې څه هومره نه ده

چې رحماني يې چا ته وکاندي بیان

څرنګه چې دا هماغه پېښې انځور دی او د پېښې کال هم ۱۱۲۳ هـ ق کال دی، نو د دې باوري سند له مخې تر ۱۱۲۳ هـ ق کال پورې د رحمان بابا ژوند یقیني کېږي، خو تر دې وروسته څرګنده نه ده چې تر کوم کال پورې ژوندی و، اوس په دې برخه کې یو بل بحث هم رامنځته کېږي او هغه دا چې تاریخ مرصع او پټه خزانه دواړه د پښتنو باوري سندونه دي.

او په تاریخ مرصع کې د پېښې کال په تورو سن زر سل درویشت کښل شوی او هم د تاریخ مرصع ټولنې نسخې په دې برخه کې یوه خوله دي، څکه د دې د باوریتوب په باب د شک ځای نه پاتې کېږي، خو په پټه خزانه کې د رحمان بابا د مړینې د کال ۱۱۱۸ هـ ق په باب دا اټکل شته، څکه چې هلته دا کال په شمېر ۱۱۱۸ کښل شوی او له بلې خوا د پټې خزانې تر لاسه شوې نسخې په باب کاتب کښلي: ((باستجهال تمام قلمي شد)) نو د دې اټکل ځای پیدا کېږي چې ښایي د پټې خزانې په بله نسخه کې به دا سنه ۱۱۱۸ نه بلکې بل څه او هم احیاناً د ۱۱۲۸ وي چې د دې استعجال په سبب په ۲۸، ۱۸ کښلل شوی وي او که دا اټکل ومنو نو بیا به د رحمان بابا د ۱۱۲۴ هـ ق کال پورې يې ژوند اټکل کړو نو بیا يې ژوند ۱٦ کلونو ته اوږدېږي او دا کوم غیر

عادي او ناشونی ژوند نه دی.

د حرمان بابا مزار د پېښور ښار ته لنډ په هزاخانې کې دی د اخوند درویزه په هدیره کې ښخ دی، چې خلک یې زیارت ته ورځي او په کال په کال د پښتونستان شاعران په مزار غونډه کوي، د ده قبر پخوا له پخو خښتو روغ و، خو په ۱۹۵۸ کال پښتو ټولنې د کابل د مجارۍ په فابریکه کې د مرمرو له ډبرې ښخه جوړ شوی او نفیس تعویذ ور واستاوه او د ده په قبر کېښودل شو. رښتیا هم چې :

که نظر کا څوک په کار د درویشانو

خود به ووینې وقار د درویشانو

په دغه لار به ورشي خدای رسول ته

که څوک یون کاندي په لار د درویشانو

هر گفتار به یې د خدای ج په در قبول وي

چې قبول یې وي گفتار د درویشانو

په یوه قدم تر عرشه پورې رسي

ما لیدلی دی رفتار د درویشانو

هسې گرم بازار بل په جهان نشته

لکه گرم دی بازار د درویشانو

هومره خلک یې زیارت کا پس له مرگه

چې بازار وي په مزار د درویشانو

پادشاهان د دنیا واړه پرې پراته دي

لکه خاورې په دربار د درویشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دی

خزان نه لري بازار د درویشانو

د جنت د باغ ګلونه به دې هېر شي

که څوک وويني ګلزار د درويشانو

چې دنيا يې کړه د خداى لپاره ترکه

صدر رحمت شه په روزګار د درويشانو

د قارون وصال ته ګوره حال يې څه شو

راشه مه کوه انکار د درويشانو

په هر چا چې د غضب لينده کا ښخه

خطا نه درومي ګوزار د درويشانو

درست ديوان د رحمان زار تر دا غزل شه

چې بيان کړ کردار د درويشانو

**۱ – ۹ – ۱- د عبدالرحمان بابا قبر، مرقد، مزار**

د رحمان بابا مزار پېښور ته ډېر نږدې دى، د هزارخانې په شاوخوا کې کله هغه ښاره سهيل ختيځ لوري ته د اخوند درويزه په هديره کې دى. مزار يې له څلي پرته له پخو خښتو روغ دى، افغانستان دولت هم هغه وخت د بابا د مزار په جوړولو کې مرسته کړې وه.

د عبدالرحمان بابا مزار اوس اوس د خاصو او عامو زيار نګاه هم ده.

په وروستيو کلونو کې د ځينو اسلامي فرقو او يا افرادو له خوا چې له کلتوري پلوه زيار نګار و سره حساسيت ښکاره کوي، په کل په بم يا والوزول شو، مګر اوس اوس د هغه ځاى د سيمه‌ييز حکومت له خوا يې ساتنه کېږي.

## ۱ – ۱۰ د عبدالرحمان بابا تاريخي څېره

### ۱ – ۱۰ – ۱ ټبر، کلى و زده‌کړه

که د عبدالرحمان بابا د شخصي ژوند په برخه کې افسانوي روایتونه[1] ګڼ او ګور دي، له ټولو څېړنو سره سره کوم تحقیق چې تر ډېره بریده پښتو ټولنې په ۱۳۵٦ هـ ل کال کړی دی، کټ مټ را اخلم او د بابا د ژوند پېښو حال او احوال ترې معلوموو.

د خدای ج پوره پوره احسان دی چې د بابا علیه الرحمه د عالمګیر شعري هنري[2] ملکوتي شهوت خو لکه ځلاند طر لا روښانه څېره په لاس کې لرو که نه بیا به زموږ پښتو شعر او ادب ډېر کمښتونه درلودل. دا چې د علیم\ خدای ج ډېر احسان دی چې د بابا شعر زموږ په لاس، سپینو، تاقچو، کتابتونونو کې دا ظهر المشس غوندې ښکاره دی، نو له بلې خوا د ښوونځیو، پوهنځیو، ماستري او دوکتورا په ډېرو ډېرو پروګرامونو د ژوندیو ادبیاتو په څېره ملګرتیا کوي، د الله پوره احسان دی. زه په یو ځل بیا دبابا د ژوند په برخه کې معلومات را واخلم.

**ټبر، کلی او زوکړه**: رحمان بابا د پښتنو د روایتي سلسله النسب له مخې سړبن[3] په سړبن کې غوریاخیل په غوریاخیل[4] کې مومند په مومندو کې دویزی او په دویزیو کې ابراهیم خیل دی.

لکه چې مخکې وویل، بابا ابراهیم خیل مومند دی نه غوریاخیل مومنند نو راوړتې عبدالرحمان بابا غوریاخیل بولي، خو څرنګه چې مومند د غوریاخیلو ښاخ دی، نو ځکه نوموړی ختیځ پوه تېروتلی او د خبر د ښه پښتیابه لپاره له مومندو نه تر سړبن پورې شجره دلته راوړو:

### ۱ – ۱۰ – ۲ د عبدالرحمان بابا شجره

سړبن دوه ستر خبون (شرف الدین) او خبرشبون خیر الدین، خیر الدین درې زامن ول(کند، زمند، کاسي) بیا کند کره دوه زمان پیدا شول(خښي او غور شیخ ابراهیم، غوریا شیخ ابراهیم څخه څلور زمانم پیدا شول دولت یار، خلیل، څمکني، زیړني، دولت یار څخه مومند او داودزی وشول، خو مومند ته خدای ج لس زامن ورکړل چې لس د لاسو ګوتې وي او غه ګوتې الله لمس چراغونه کړل، په لاندې توګه به معرفي شي.

۱ – کال، ۲ – یعقوب ۳ – حسن ۴ – ملي ۵ – عمر ٦ - مندو

۷ – ترک ۸ – شجاع ۹ – کوکو ۱۰ – موسی ۱۱ ۰- میار

د عبدالرحمان بابا ځای: رحمان بابا په بهادر کلي کې چې له پېښور څخه درې څلور میله لرې جنوب اړخ ته

---

[1]- افسانه، افسانوي روایتونه

[2]- شعري هنر

[3]- سړبن

[4]- غوریاخېل

پروت دی. ٦٩ نومورِي د عبدالستار زوی دی. پټه خزانه د محمد رسول کلات وال د بیاض له مخې د رحمان بابا د زیږدیز کال ۱۰۴۲ هـ ق ښیي، که څه هم ځینې کسانو هڅه کړې چې دا سنه سمه ونه بولي. په ځانګړې توګه ښاغلي کامل مومند

په خپل (رحمان بابا) نوي تحقیقي اثر کې زیار ایستلی، چې د اټکلونو په اساس د دې کال په څنګ کې ډېر نور کالونه وړاندې کړي، خو بریالی شوی نه دی او مجبور شوی چې د خپل بحث په پای کې بیاهم د ده د زیږېدل د همدې کال شاوخوا بولي. (وګورئ: له ۷ تر ۱۹ مخونو پورې)

عبدالحلیم اثر (پښتو ادب) کې پټه خزانه ډېر باوري کتاب بولي.

میر عبدالصمد د(رحمان بابا شاعر انسانیت) د کتاب په سریزه کې له ماخذ پرته د بابا د زیږېدو کل (۱۰۴ هـ ق) بولیاو بیا دا کال ردوي.

خو بیا هم له سند پرته وایي چې زما د معلوماتو لهمخې رحمان بابا د (۱۰۳۸ هـ کال د جمال الثاني به ۲۱ نېټه د جمعې په ورځ د پېښور له مضافاتو څخه په بهادر کلي کې وزیږېد.

د پښتو ټولنې تحقیق کې بیا راځي، چې د رحمان بابا نومي بې لیکواله کتاب هم د رحمان بابا د زیږېدو په باب د فکر نیلی ځغلولی او د پټې خزانې د صراحت خلاف په خلاف د ده د زیږېدو کال ۱۰٦۳ هـ ق اټکل کړی دی.

د هېواد پیاوړی لکیوال، استاد او محقق ښاغلی زلمی هېوادمل د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي، د رحمان بابا د زیږېدو په باب د پټې خزانې وینا سمه بولي او د هېڅ شک ځای نه پکېویني. (۱۴۰)

په دې ترتیب وینو، چې د رحمان بابا د زوکړې په برخه کې د پټې خزانې د وینا په مقابل کې ماتونکی سند نشته، نو موږ په دې برخه کې د ده خپل دیوان ګورو چې هلته د دې وینا پهرد یا منلو کې څه موندلای شو که نه؟

رحمان بابا په خپل کتاب کې د لنډ بحر یوه اوږده بولله* لري چې د دنیا بې وفایي او د خپل ځان سپین ږیرتوب پکې انځوروي او د اورنګ زیب په مړینه بحث او ساندې[1] پکې کوي. دا بولله ظاهراً به ۱۱۱۸ هـ ق کال چې د اورنګزیب د مړینې کال دی او یا هم کېدای شي په ۱۱۱۹ هـ ق کال ویل شوې دهږ په دې بولله کې یو بیت داسې لولو:

---

[1]- ساندې

تر پنجا و پنجه تېر شوې

ته لا ځان بولې پسر

نو کله چې بابا په ۱۱۱۸ هـ ق کال تر پنځه پنځوس او دا تېروالی هم د ده شپېته کلنۍ وګڼو، نو بیا د ده د زېږېدو کال ۱۰۵۸ ق کې راځي او د پټې خزانې تر سنې ۱٦ کاله را وروسته کېږي، خو د پټې خزانې کال له دې سره هم نه ردېږي، ځکه چې دا بیت د رحمان بابا د دیوان په بېلابېلو نسخو کې یو له بله توپیر لري، خصوصاً د رحمان بابا د دیوان په یوه نسخه کې چې د پښتو ټولنې په کتابتون کې ساتله کېږي، بیت داسې دی:

تر پنجاه و شسته تېر شوې

ته لاځان بولې پسر

او په دې متن کې هم همدا بیت د اصل په توګه راغلی دی.

د پټې خزانې د سنې له مخې دا وخت د ده عمر ۷٦ کلو ته رسېږي او تر شپېته تېرېدل شپږ اویا کلنۍ ته رسېدل نه مقیدوي، نو ځکه د پټې خزانې وینا هم سمه او پرځای ده.

## ۱ – ۱۰ – ۳ د عبدالرحمان د استوګنې ځای

نوموړی پېښور ته ور څېرمه په بهادر کلي کې زیږېدلی دی. د راورټي په وینا بابا د پېښور د مومندو د پټې په هزارخانۍ نمي کال کې اوسېده.

دا چې رحمان بابا په هزارخانۍ کې اوسېدلی، نو له نورو روایاتو څخه هم ښکاري، خو دا چې دی په څه علت له بهادر کلي څخه هزار خانې ته تللی دی، د څېړلو خبره دی.

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي په دې برخه کې لیکي:

عبدالرحمان په خپله زمانه کې یو صوفي مشرف او په عشق داسې ډوب شاعر تېر شوی دی، چې خپلې فقیر مزاجۍ او په عشق کې فنا شوی حالت دی د خپل کلي نه هزارخانې ته په تلو او استوګنه مجبور کړ. پښتانه شعرا په دې توګه وینو، چې د دروند او محترم استاد د ه د لیږد د علت د ده فقیر مزاجي ګڼي.

پښتانه شعرا د رحمان بابا نومي کتاب نامعلوم مولف د ده د دې لېږد لپاره لاندې دوه علتونه په ګوته کوي.

لکه خپله چې مشهوره ده، رحمان بابا په بهادر کلي کې پیدا شوی دی، خو وروسته د غریبۍ او یانورو وجوهاتو

له امله يې خپل کلی پرېښود او هزارخانۍ ٦ ته راغی. په دې وجوهاتو دوې خبرې زما په خیال له قیاس ته ډېرې نږدې دي: یوه دا چې ده په هزارخانۍ کې ډېر خواخوږي خپلوان لرل، د هغوی کشش بابا هلته بوته او دویمه دا چې ی د علم حاصلولو لپاره هزار خوانۍ ته راغلي وي، او بیا همدې ځای شوی وي، بلکې دا دواړه قیاسه یو ځای کولای هم شو، چې د علم تحصیل لپاره هزار خوانۍ ته راغلی وي. دلته یې خپل خپلوان وي، استوګنه یې د هغوی کره وي، وروسته واده هم دلته کړی وي او بیا د همدې ځای شوی وي.

پورته مطلب رحمان بابا محکمه نشر ور ساعت په ۱۷ مخ کې لیکلی دی، په هر ډول متل دی (هرې چې دې ښه، هلته دې شپه)

استاد رفیع وایي، زما په عقیده ښایي د رحمان بابا د کورنۍ اصلي ځای هزارخاني وي او په موقتي ډول بهادر کلی ته تللی وي، چې دا وخت دی هم هورې زیږېدلی او د ماشومتوب دوره یې تېره کړې وي.

د دې خبرې یو دلیل دا دی چې پښتانه خپل مړی په خپله هدیره کې خښوي، نو که د دوی اصلي ځای بهادر کلی وای، هرو مرو به یې د ه مړی بېرته بهادر کلي ته وړی و، سره له دې چې د ده مړستون قبر په هزارخانۍ کې دی او هم د مهمندو د ویزې په هزارخانۍ کې استوګن ښکاري، ځکه چې د رحمان بابا تر ژوند څو کاله را وروسته د احمد شاه بابا په دوره کې یو بل دویزی مومند چې رکن الدین نومېږي او شاعر دی

هم په هزارخانۍ کې میشته و، دی وایي:

که ظاهره یمه ساکن هزارخانۍ کې

زړه مې خاص دی ستا د در په دربانۍ کې

په نسیب کې د یوزې ما مهندی یم

ستا... در بندي یم (شاهنامه احمدشاه ابدالي ۲۰۸) لنډه دا چې نوموړی په بهادر کلي کې زیږېدلی دی، همالته اوسېدلی او په هماغ ځای کې وفات شوی دی او حسن شوی هم دی.

## ۱ - ۱۱ د عبدالرحمان بابا زده کړې:

زده کړې زموږ په پښتني لږ پخواني تعلیمي تاریخ کې منظمه، سیستماتیکه تعلمي سلسله نه لري تر ډېره بریده دودیزه بڼه لري. شپېته اویا کاله زیات و کم مکتبي تعلیمي لړۍ او سلسله پیل شوې ده. آن دیني زده کړې ډېر ځله د خپل کلي له ملا او جومت څخه پیل شوې دي.

بله خبره دا ده چې هر وخت خوا په مخکې کلونو او پېړیو کې خلکو د وخت مروجه علوم زده کول، تر ډېره بریده دیني لارښوونې خلکو کولې، مګر د سواد او ورسره ورسره د حسن خط سویه ډېره لوړه وه، اتیا یا سل زیات کم کلونه مخکط به چا د جومات مدرسې او درس لوستلای و، دویم، درېیم او شپږ پاس صنف سویه به د اوس وخت له دولسم او څوارلسم له سویې لوړ و.

عبدالرحمان بابا هم د خپل وخت مروجه علوم په پوره فهم و قوت، ځیرکی سره شاهنامه احمدشاه ابدالي، پښتو اکاډمی، پېښور ۱۹٦۵ د ضمیمې برخه ۲۰۵ مخ لوستي وو.

رحمان بابا ملا محمد یوسف یوسفزي څخه لوست زده کړ او له هغه څخه یې فقه او تصوف زده کړل، بیا ولاړ کوهاټ ته هلته یې سبقونه ولوستل او ښه عالم شو. په ځوانی یې دنیا پرېښودله او اکثره به په غرو ګرځېدی او کله به ولاړ هندوستان ته او د خدای ج عبادت به یې کاوه د دنیا به کارو و بار نه مشغولېده، عبدالرحمان بابا یو عالم رباني[1] او عابد[2] سړی و، (پټه خزانه ۴۴، ۴۵ مخونه)

د کوزې پښتونخوا لیکوال د (پښتو ادب) نومي کتاب لیکوال عبدالرحمان بابا د روحاني شخصیت تهداب او بنسټ زرغونوالی د قران کریم مبارک له زده کړو را پیلوي او وایي چې: ((رحمان بابا تر زیږدو اووه کاله وروسته په ۱۰۵۴ هـ ق کال په بهادر کلي کې له مولانا عبدالحق څخه قران کریم او نور لومړني دیني علوم زده کړل، ۱۰۵۲ ه ق کال بې له مولانا محمد یوسف د مولانا محمد یعقوب یوسفزي له زوی څخه د پېښور په سلطان پوره کې زده کړه وکړه، بیا حضرت محمد صدیق پېښوري ته کوهاټ ته ورغی. څرنګه چې محمد صدیق پېښوري د پښتو لوړ شاعر و نو دا وخت رحمان بابا ته له ده نه د فیض موندلو موقع لاس ته ورغله، همدا وخت یې د شعر و شاعرۍ دوره پیل شوه ، د خپل استاد په غزلونو یې ډېر ځوابي غزلونه جوړ کړل چې نمونې یې په دیوان کې شته. (رحمان بابا شاعر انسانیت سریزه.

دغه پرزوینې له بده مرغه چې ښاغلی اثر د (پښتو ابد) کتاب لیکوال له نوم ماخذ پرته کړې دی، خو زه فکر کوم ټولې له عقل، فهم او درک سره سمې دي، مګر تحقیقي دنیا لاسوند، سند او ماخذ ته اړتیا لري.

دغه یادونه ضروري بولم، چې د عبدالرحمان بابا د شعر و شاعرۍ د پیل په باب کره راټه او پوره معلومات په لاس کې نشته، خو اوس اوس دا ښکاره شوې چې د بابا شعر و شاعري په فطري شاعري وه ګومان کوم چې د ژوند د دویمې لسیزې په نیمه لسیزه کې به راټوکېدلې وي.

---

[1]- عالم رباني
[2]- عابد

عبدالحليم اثر زياتوي: په ۱۰٦۱ هـ ق کال کې بيا د کوهاټ په شير کوټ[1] کې د اخوند محمد يوسف سره و. په ۱۰٦٦ هـ ق کال په پاس شير کوټ کې وو په همدې کال يې د اخوند درويزه له وزی اخوند کريمداد[2] سره وکتل او حاجي بهادر کوهاټي چې د اخوند کريمداد مخلص و د رحمان بابا استاد او د طريقې لارښود و.

د عبدالرحمان بابا د طريقت[3] سلسله: عبدالحليم اثر په وينا بابا به ۱۰٦٦ هـ ق کال د اخوند درويزه له زوی اخوند کريمداد سره وکتل او حاجي بهادر کوهاټي چې د اخوند کريمداد مخلص و، د رحمان بابا استاد او د طريقې لارښود و. دی دوه کاله په پېښور کې د اخوند کريمداد په حضور کې او د کبرا[4] په سلسلې بيعت يې تېری وکړ او د شعر او ادب په دې خاص مکتب کې ور روزل شو.

دا چې دا ستر استاد دغه معلومات څومره په علمي ماخذونو په علمي ماخذونو برابر دی که نه؟

خو د بابا د شاعری، شاګردي زده کړو نو يو فرهنګي، علمي او معرفي هڅو او طريقت په برخه کې لومړی لاس او خواږه معلومات دي.

درواغ وايه په شرعه کې روغ وايه لږ تر لږه جالب او په زړه پورې دی. د بابا د طريقت سلسله يې ښوولې چې دا د عبدالحليم اثر علمي فراست، مطالعه او پوهه وي.

د يادولو وړ ده چې ټول اول لاس معلومات د ماخذونو له رويه هم نه وي ساحوي، تجربې لوری او آن د شخصي مطالعې له برکته هم وي، مګر بيا سند او ماخذ ليکنه او تحقيق پخوي او د شک ځای نه پاتې کېږي.

خو بيا هم له عبدالحليم اثر سره دا خبرې څوک نه مني، مخکې مو وويل چې پټې خزانې د محمد رسول کلا سوال د کښنې له مخې د ده د زيږيدو کال ۱۰۴۲ هـ ق ښودلی او بل داسې سند نه لرو چې دا سنه غلطه وباسی نو ځکه د اثر صاحب دا خبره تذکره ليکونکي د ده د زيږېدو کال ۱۰۴۰ بولي او د ده دا خبره چې زما د معلوماتو له مخې رحمان بابا په ۱۰۳۸ هـ کال زيږېدلی د منلو وړ نه ده نو د ده دا خبره هم د منلو وړ نه ده، چې رحمان بابا په ۱۰۵۴ هـ ق کال په زده کړه پيل کړی وی، ځکه چې په منظمه زده کړه پيل نشی کولای، په همدې ډول يې نور کلونه هم در واخله.

داسې ويل کېده چې رحمان بابا له محمد صديق پېښوري څخه د ادبي زده کړو موضوع بايد ووايو په پښتو

---

[1]- شېرکوټ

[2]- اخوند کريمداد

[3]- طريقت

[4]- د کبراو په طريقه

تذکروکې د صدیق په نامه شاعر لرو، چې د بشپړ دیوان پته یې لا تر اوسه نه ده ترلاسه شوې.

خو د کلام نمونې یې له دوو لارو موږ ته را رسېدلې دي، لومړی د چمن بیې نظیر په خطي نسخه کې ۴۰ د ده د اوو لسو غزلونو موجودیت دی چې پادري هیوز په کلید افغاني ۴۰ کې دوې غزلې ترې را اخیستې او بیا دا غزلې لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي په لومړی ټوک پښتانه شعرا ۴۲ مخ کې راوړې دي او بل د ملا ښایسته خان په جونګ کې د ده یو غزل او یو بیت دی چې ما په ادبي ستوري کې ترې ر اخیستې. دا شاعر لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي په متوسطه طبقه شعر او کې درحمان بابا له پیروانو څخه بولي

او اغلب ګمان دا دی چې تر رحمان بابا او د دولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې به یې ژوند کړی وي. که له محمد صدیق پېښوري څخه د ښاغلي اثر همدا صدیق مراد وي، دا سړی خو ظاهراً تر رحمان بابا را وروست دی او که بل سړی وای نو ښايي ښاغلی اثر د ده په باب مستند معلومات وړاندې کړي وای...

همدا راز اخون کریمداد او درویزه یې او حاجي بهادر کوهاټي څخه د ده علمي او ادبي زده کړه د کوم سند له خوا نه تاییدېږي او خصوصاً د ده په دیوان کې داسې اشارې او د لایل شته چې د فکر او شعر له مخې د روښانیانو پیرو او د روښان په هغه روښانه لاره یې یون کاوه چې درویزه ګان یې کلک مخالف او ددې لارې په ورانولو کې یې ټول ژوند صرف کړی و.

په هر ډول، د پټې خزانې صراحت او د ده د خپلو ویناوو شهادت څرګندوي چې رحمان بابا د وخت د ودې علوم لوستي وو او د علم تر بشپړتیابه وروسته یې باطني تزکیې او تصوف ته لاس اوږد کړي او په ښه پوه او بصیرت یې خبرط څېلی او تحلیلولای شوای.

ده ښه علمي او ادبي مطالعه درلوده، دیني مسالې یې په شعرونو کې ځای په ځای بیان شوي چې په دیني علومو کې د ده د ښو معلوماتو څرګندویي کوي او هم د ده په شعرونو کې د ارزاني، میرزا، دولت او خوشحال خان یادونه ښيي، چې ده د دې شاعرانو دیوانونه لوستي وو او د ده په پیاوړتیا کې د دې شاعرانو د شعر دروند اغېز و، همدا راز ده د دري شاعرانو دیوانونه هم په ژوره توګه کتلي وو او ځای په ځای یې د دوی له ویناوو څخه لفظي او معنوي اخیستنې کړې او د دیوان په هغو د دوو نسخو کې یې چې له ما سره شته د حکیم سنایي غزنوي نوم صراحتاً اخیستی او ویلی دی:

په پښتو کې رحمان ووې

په فارسي کې سنايي

د ده ادبي لېون دومره پیاوړی و چې د پښتو او دري د هغو شاعانو شعرونه یې هم لوستي وو چې له ده سره یې د ژوند وخت لږ واټن درلود.

د بېلګې په توګه میرزا خان عبدالقادر بیدل چې به ۱۰۵۴ هـ ق کال یعنې تر ده وروسته زیږېدلی یو بیت لري:

هر که پاکج می گذارد خون دل ما میخوریم

شیشه ناموس عالم در بغل داریم ما (۴۸)

او رحمان بابا وایي:

که ښیښه د نام و ننګ دې شي تر څنګ

د هر چا په کجروۍ به خپل ځیګر خورې

نو په دې بیتو کې د توارد[1] له موضوع نه سترګې پټې کړو یقیناً رحمان بابا ته د بیدل پورتنی بیت ور رسېدلی دی.

د عبدالرحمان بابا د سفر او کوم ځای ته تګ په باب پټه خزانه وایي:... په ځوانۍ دنیا پرېښودله او اکثر به په غرو ګرځېدی او کله به ولاړ د هندوستان پر خوا... خو ښغلي کامل مومند دا وینا د رحمان بابا د ځینې بیتونو له مخې سمه نه بولي او وایي چې دی چېرته نه دی خوځېدلی په دې برخه کې په څو نورو بیتونو سربېره دا بیتونه راوړي:

هم په دا چې نه لر ځایه چېرته خوځم

نه د هیڅ یوه مخلوق یم منت بار

نه مې ښکته ملک لیدلی دی نه پورته

خبر نه یم په یمن او په یسار

آب خور لکه آسیا په ځای را رسي

په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار

د ښاغلي څېړونکي ویلي په برسېرن نظر کې د دې بیتونو په رڼا کې د پټې خزانې وینا ناسمه وبولو خو له غور

---

[1]-توارد

وروسته که ووایو، څرنګه  چې  د دې بیتونو د ویلو نېټه نه ده څرګنده، نو ښايي هغه ټول بیتونه به چې ښاغلي راوړي، رحمان بابا تر خپل سیر و سیاحت وړاندې ویلی وي، ځکه موږ ته مشابته عده، چې بابا شاعري له زلمیو به ځخه پیل کړې ده او د یوه شاعر په دیوان کې د یو بل ماتوونکي شعرونه له همدې کبله موندل کېږي، چې یو شعر یې د ژوند د یو وخت او بل یې د بل وخت وي. او که په دې پسې د رحمان بابا دا بیتونه هم ولولو چې:

روښنايي مې په طلب کې شوه حاصله

شپه او ورځ لکه افتاب په لار روان یم

چې صفت د تورو زلفو د آشنا کړم

پلی سر په لویه لار د هندوستان یم

یا دا چې:

تد آشنا زلفې مې ونیوې په لاس کې

بند په لار د هندوستان ولیدی دریغ

پورته بیتونه نه یوازې  ده سکون ماتوي، بلکې په ښکاره  هندوستان د سفر یادونه کوي او ثابتوي چې هندوستان ته تللی دی او که تر دې وروسته دا بیتونه وګورو هم دا خبره راته معلومېږي چې سفر یې کړی دی، لکه:

ستا په زلفو په رخسار پسې رحمان شو بې وطنه

مسافر د هندوستان، د خراسان دی زما روح

نه یوازې دا ترې زباتېږي چې دی هندوستان ته تللی ، دا هم ثابتوي چې دی خراسان ته هم راغلی و، ځکه چې پېښور د لرغوني خراسان په ساحه کې نه و. او دا بل بیت که د ده وي ۵۰ چې پرې ور زیات یې کړو:

چې میوه یې د کابل خوړلې نه وي

هغو له فهمه وځکې شي ګورګورې

پورته بیت دا اټکل په لاس راکوي چې دې کابل ته هم راغلی او دلته یې دومره وخت تېر کړی چې د کابل بېلابېلې مېوې یې خوړلې دي، ځکه په هغه وخت کې د ارتبا د عصري وسایلو د نشتوالي له  امله کابل او پېښور

ډېر سره لرې وو او د کابل میوې په غه اصلي کم او کیف چې رحمان بابا یې ستایي، پېښور ته نشوای رسېدلی.

بې ځایه به وي د کابل میوې د اوړي د فصل به وروستیو او د مني د فصل په اوایلو او منځ کې ښې پخېږي بیا نو د مزې وي ځکه د خامو میو صفت هېڅوک نه کوي. آن په کابل او شاوخوا ولایتونو یې د ښوالو او ځمکه لرونکو ترمنځ یوه اصطلاح موجوده ده:

میوه یا کچالو چې د میزان اوبه وڅښي نو ډېره خوږیږي.

په دې ډول بابا کابل ته په پیاوړي باور راغلی او له خوږو مزدارو میوو څخه یې ګټه پورته کړې هم ده.

بابا له کوره وتلی، ګرځېدلی څه یې لیدلي خوړلي او بیا شعري شعور ترې متاثره شوی او شعر یې ویل دی. که یوازې یې د کابل د غلو او میوو په باب له یوه او بل نه څه اورېدلي ووای شینده کی بوده مانند دیده یوازې د خوړو د کیفیت په برخه کې معلومات نشي ورکولای، باوري یم چې دلته راغلی و له مزو ډکې میوې یې نوش جان کړې هم دي، بل دا چې اورېدل د لیدلو جوګه نه وي، فارسي متل شینده کی بود مانند دی نو هرو مرو دغه مزداره میوې بابا خوړلې دي.

دوه نور بیتونه د بابا د سفر او  غرونو ګرځېدلو په برخه کې نور راوړو:

عاشقي سړی مجنون کاندي رحمانه

ګڼه څوک په هوښیارۍ وځي له کوره

که د لېونو له نورو ډېرو ډولونو تېء شو، نو دوه ډوله یې مشهور دي، د سارانې له کوره هر ګرځي او دویم ډول یې مجنون واره لېوني...

چې مجنون غوندې په مینه کې صادق وي

رحمان وایي په هغو باندې سلام

یا دا چې:

که لیلی غواړې بایده دي دا رحمانه

چې مجنون غوندې ساکن د کوه وکاړ شې

## ۱ – ۱۱- ۱ د رحمان بابا شعور

دا خبره په حقیقت کې ډېره ذهن قبلونکې ده چې هر لیکوال شیرشاه ت خوي انسان د خپل معاشرت او ماحول متاثره وي او څنګه چې یې د ژوند ارتقا کېږي نو هغسې یې هغه اثرات په څه نا څه رنګ کې عام منظر ته راځي او د کردار رغونه یې مرثیه کېږي، ددې تمهید په رڼا کې چې د رحمان بابا په هکله سوچ او فکر وکړای شي نو خارجي ثبتونه د رح مان بابا د کلام پّ حواله د داخلي عواملو په اکثریت سره د تضاد ښکاره کېږي ولې چې خارجي ثبوتونه پّ روایاتو اړه لري او په روایاتو کې همېشه زیاتی کمی واقع کېږي، نو ځکه د رحمان بابا د کلام په تناظر کې د هغه علمیت معاشرت او کردار او جاج اخیستل به مناسب وي.

که د رحمان بابا پّ کلام نظر واچول شي نو مطالعه کوونکي ته به دا محسوسه شي چې دوی په خپل کلام کې د عربي او فارسي الفاظو په ډېر ښکلي انداز او ښایسته طریقه استعمال کړي دي نو ددې څخه ثابتېږي چې رحمان بابا د عربي او فارسي علومو حال کړي وو، لکه په دې لاندې ورکړل شویو شعرونو کې چې استعمال کړی دی:

هم صانع دی د جمله و مصنوعاتو

هم سامع د هر ګفتار دی رب زما

خواننده د نانو یسو صحیفو دی

داننده د هر سردار دی رب زما

++++

همېشه د بېلتانه په غم کې لولم

زه رحمان د اعوذباالله منها

اختلاف ما کا له سیدانو

هېڅ یې نه وي په خاطر کې

**۱ – ۱۱- ۲ تولأ ـ و شبراء**

د رحمان بابا د خاندان په هکله لا ترې وخته محقیقنو رایه نه ده څرګنده کړې چې د رحمان بابا څخه اګاهو د دوی پّ خاندان کې څوک عالمان وو او یا تېر شوي دي او که نه؟ خو دا دعوی به بې ځایه نه وي چې د رحمان بابا والد محترم د علم یا منه داره او شوقین وو؛ ځکه چې په خپل زوی یې ډېر علمي نوم یعنې عبدالرحمان اېښودلی و او بیا یې د زړه کړې لپاره ورته اجازت هم د سعر ورکړی و؛ ځکه چې د رحمان بابا ژوند څېړونکو خبره

په و شعر کې علم ته سپارلی ده؛ چې رحمان بابا په کوهاټ کې د مولانا نا یوسف څخه علم حاصل کړی و او له تحصيل څخه پس خپل کلي د بهار د کلي ته راغلی دی او دلته يې د ژوند شپې ورځې تېرې کړې دي ددې د عوی په ثبوت کې چې هغه په خپل کلي کې ژوند تېر کړی دي نو د مومند د علاقې د مستنو زو کلي د جمال خان او گل خان واقعه، چې د هغه وخت يوه عظيمه پېښه وه، په ډېر ادبي انداز کې د قصدې په چوکاټ بيان کړي ده، پيش کولای شو؛ ځکه چې بهادر کلي د مومندو په تبه کې د مستوزو کلي سره په څه فاصله کې واقع دی.

د رحمان بابا د ژوند د حالاتو پّ برخه کې ښاغلي ميا سيدرسول رسا د عبدالرحمان بابا د ديوان په ديباچه کې د مشترق راورټي په حواله ليکلي دي چې:

" د رحمان بابا ډېر لوی عالم دين وو، خو د ژوند يې د رونتيا تېرولو هر وخت په الهي ذکر، فکر کې ډوب عرقاب و، د دنيا نه او د دنيا نه د خلکو څخه يې کناره کشي اختيار کړې وه، او د دنيا خلکو سره به يې يوارې دورمه تعلق ساتلو څومره چې د ژوند اوسېدو لپاره ضروري وي" رحمان بابا چې د تاريک الدين درويش ژوند اختيار کړ؛ نو خينې ملايانو د حسد په وجه د دوی له دې قسمه مخالفت شروع کړ:

د دې علاوه دغه مستشرق د رحمان بابا په هلکه نورې مغروضي هم بيان کړې دي چې د رحمان بابا د شان مناسب نه دي چې دلته رانقل شي خو ځواب يې ضروري دي د مستشرق راورټي نه دي مغروبي سره اتفاق په هېڅ صورت کې ممکن ځکه نه دی چې د رحمان بابا د ديني عالمانو سره د تصادم په برخه کې څه خارجي ثبوت شته دی او نه داخلي، بلکې هغوی خو د عالمانو مستعلق ډېر به عالمانه انداز کې صفت کړی دی:

عالمان دي روښنايي د دې دنيا

عالمان دي د تمام جهان پېشوا

که څوک لار غوړاږي و خدای هم رسول ته

عالمان دي د دې لارې رهنما

کيمياگر که د کيميا په طلب گرځي

همدا لار د عالمانو ده کيميا

په مجلس د عالمانو نو يې سرزر شو

که څوک کاڼي وي که لوټه د صحرا

جاهلان دي په مثال د مرده ګانو

عالمان دي په مثال د مسيحا

چې مرده يې له تقديره ژوند کېږي

عالمان دي واړه هسې اولياء

هر سړی چې رته نه لري د علم

سړی نه دی خالي نقش دی ګويا

زه رحمان حلقه بګوش د هر عالم يم

که عالي دی که اوسط دی که ادنا

که د رحمان بابا د عالمانو په هکله حرف دده توصيفي اشعارو په مقضع غور وکړای شي؛ نو هم د په خبره صفا شي چې رحمان بابا هرې درجې د عالم قدردان و نو څنګه پرې دوی د الحاد فتوی لګولې وه، بلکې رحمان بابا خود تمامو مذاهبو په هکله دا عقيده لري چې:

دا څلور واړه مذهبه سره يو دي

ما او تا په کې پيدا کړ اختلاف

مستشرق راورټي په خپل ليک کې د رحمان بابا په برخه کې د جمعې د لمانځه د تقي الزام لګولی دی خو دا خبره به راورټي سره څوک و مني چې هغه ورته خپله يو جيد علام ويلی دی  او بيا وايي چې هغه د جمعې لمونځ پرې اېښی و او له بلې خوا يو باور مند او عقلمند مسلمان او مؤمن ته قران پاک وايي حکم ورباندې کوي چې تاسو د جمعې د لمانځه ته لاړ شي'ژباړه.

نو بيا څنګه رحمان بابا غوندې عالم، دين پوه، باوري او صوفي مسلمان او مومن د جمعې لمونځ نه کوي، بابا د لمانځه متعلق بلکې د  اسلام د پنځو بناوو ذکر په کوم ډول او اندازه کوي وايي:

وطاعت و ته ولاړوي

همېشه تړلی ملا

له حرامو يې پرهېز وي

کله يې وي قبوله

هم په جهز هم خفا

د دنيا د کار لپاره

فرض لمونځ نه کړي فضاء

هم صائم د رمضان وي
که ذکات کاندي ادا

که يې توان د حج رسېږي

حج هم وکا پسې بيا

دا پنځه بناد دين دي

چې بيان يې کړو په ما

چې يې يون په دا طريق وي

هغه کس دی اولياء

تاسو د رحمان بابا د وينا نه دا يقيني اخذ کړی وي چې هغه په پنج بناء قايم وو؛ ځکه چې بور خلک هم دې طرف ته مائل کوي، چې هغه خلک وايي چې ثوک ددغه لارې لاروی شي؛ نو دا دعوی باطله ثابېتېږي چې رحمان بابا د جمعې لمونځ پرې اېښی و او هغه له محدودو خلکو سره راشه درشه کوله هغه د معاشرې علاقمند نه و؛ ځکه يې دومره وړ ( ) شهرت موندلی دی او د هغه کلام هر دي عقل د خپلې خبرې صحي ثابتولو لپاره د مثال په طور وړاندې کوي.

ځينې خلک رحمان بابا ته د محذوب نسبت کوو؛ خو که د مجذوب لفظ د ليوني فاترالعقل د پاره استعمانول ادبي لطف دی ګڼې مراد ترې هم هغه ليونی دی د کوم لپاره چې استعمال شي يا استعمالېږي.

رحمان بابا مجذوب نه وو، هغه يو ديني عالم، مصلح او مفکرو وو، د هغه په وينا کې زما تر فهم و فکره چېرته هم مجذوبيت اثارو تر نظر نه راځي ځکه چې هغه هره خبره کړې ده؛ نو په تول پوره او د انسانيت ترجمانه يې کړې

ده وايي:

ته چې خپله بې عقلي هوښياري بولې

کاشکې بيا مومي د غوښو په ترخ شولې

دُر گوهر په تله چا نه دي تللي

د رحمان شعر گوهر دی، څه يې تولې

د رحمان بابا دعلميت په حواله په دې موقع د هغه د اشعارو تر مخه څو مثالونه وړاندې کولای شي چې د دعوی يقيني شي چې هغه يو جيد عالم وو.

رسول کريم ص فرمايي دي: الدنيا مزرعه الاخرى" يعنې دنيا او آخرت لپاره د کروندې ځای دی او رحمان بابا ددې حديث شريف مفهوم، په خپل شعر کې داسې بيان کړی دي وايي:

دنيا کښت د آخرت دی

دا خبره ده رښتيا

هم هغه به يې خرمن وي پس له مرگه

هر چې کاندي زراعت په دا دنيا

بازار دادی که څوک سود او سودا کاندي

په هغه جهان نه سود شته نه سودا

د صدقې په ضمن کې رسول الله ص فرمايلي دي چې راوي يې حضرت ابي هريرة دی او رواه مسلم را اخيستی دی، ژباړه:

" مال په صدقه ورکولو باندې نه کمېږي او په معافۍ ورکولو الله تعالی عزت ورکوي او کوم سړی چې تواضع اختيار کړي نو الله تعلی د هغه درجې لوړوي؛ نو حضرت رحمان بابا ددې حديث مضمون په خپل شعر کې داسې واضح کړی دی:

کريمانو سود موندلی دی په زيان کې

لکه ښاخ د ونې و تراشي بادار شي

خزانه په سخاوت سره زیاتیږي

د کوهي اوبه چې وکاږې بسیار شي

او د قرانکریم ددې آیت کریمه:

کل نفس ذایقة الموت ( سوره الانبیاء ۵۳آیت) د هر نفس به د مرگ مزه څکي؛ په شعر کې داسې راوړي:

هر چې راشي همه واړه خینې درومي

مسافر دی هر صورت په دا دنیا

د رحمان بابا دا شعر ډېر سوچ وړ دی چې خپل ځان یادوي او نصحیت تمام انسانیت کوي وایي چې:

زه رحمان له چا شکوه، شکایت نه کړم

نشته بل دوست او دښمن زما یې ما

او د قرانکریم دا آیتونه ترې موږ دلیل گرځولی شو:

و ما ابری نفسی ان النفس الاماری بالسموء الامارحیم ربی ان ربی غفورو رحیم.( سورة یوسف ۵۳ آیت).

او خپل ځان ته ښه نه وایي ولې چې نفس خو بنده ته بدي لارې چارې ښایي.

خو په کوم (نفس) چې زما رب رحم وکړي؛ بېشکه زما رب بښوونکی او مهربانه دی.

بل ځای په قرانکریم کې راغلي دي:" لا اقسیم بیوم القیمة ولا اقسم بالنفس اللوامة ایحسب اناالسنان الی تجمع عطامة، بلی ول" بن علی... القیمة آیت ۱ـ۴).

ژباړه:" زه د قیامت په ورځ قسم خورم او زه قسم خورم په هغه نفس چې به دې ملامته کوي، آیا انسان دا خیال کوي، چې موږ به د هغه هډوکي نه راجمع کوو؛ ضرور به یې را غونډ وو، موږ خو په دې قادر یو، چې د هغه تو سروته هم برابر کړو".

په قرانکریم کې بل ځای د نفس په حواله راغلي دي، چې:" یا النیهاالنفس والمطمینه، ارجعی الی ربک راضیته مرضیه، فاذخلي فی عبادی وا دخلي جنتي"( الفجر، ۲۷ تر ۱۳آیت)

ژباړه:" اې مطمینه نفسه! ته خپل رب ته واپس وگرځه، داسې چې ته د هغه نه راځي یې او هغه له تا نه راځي، بیا زما په نیکانو بندگانو کې شاملات او زما په جنت کې داخل شه".

په سوره الشمس کې د نفس په باب پوره وضاحت شوی دی الله تعلی فرمايي:" ونفس و ماشوها، قالهمها فجورها و تقوها، قداقلح من زکها، و قدخاب من دسها. سورت الشمس له ۷ـ ۱۰ آيتونه) ژباړه: دا و په هغه نفس او په هغه الله ج چې برابري جوړ کړي دي؛ نو نيکي او بدي يې ورته ښودلي دي، هغه څوک کامياب شو چا چې خپل نفس پاک کړ او هغه کس برباد شو چا چې خپل نفس خراب کړو.

بابا د نفس اماره، لوامه او مطمئنه خاصيتونه هم د قران په بنياد خلکو ته توضع کړي دي، دې مقطع انسان و رحمان بابا د بې ريا او د لوی حرام خاوند وو؛ لکه:

و هر چا ته په خپل شکل څرګندېږم

آئينې غوندې بې رويه بې ريا يم

د رحمان بابا مطالعه د پروفيسور حنيف خليل ليکنه يونيورسټي پبلشرز، څلورمه پارچه، نوی کورس، ۲۰۰۵کال او ورپسې نورو کتابونو لکه( رحمان بابا مطالعه ۲۰۱٦م کال، ډاکټر حنيف خليل يونيورسټی ايم ای سيريز، ايم ای پښتو اول کال او داسې په لسګونو نورو کتابونو او مجلو لکه( اميل، شهاب، عزيز آرمان او زاهد خان شيدا ۲۰۱۴، د رحمان بابا نمبر، پېښور، پښتو ادبي ټولنه ريګي سيمه، پېښور قلم پښتو ادبي جرګه ملازايي پېښور او....له شماره وتلې مجلې البته کوزه او بره پښتونخوا کې ډ غه راز سيمينارونه، مشاعري، غني الزمان افسانوي شاعر حضرت عبدالرحمان بابا په برخ کې د پښتو، غيرپښتنو ليکنې او پيرزوينې کړي دي او دا ټول د رحمان بابا د هر اړخيز شخصيت په برخه کې دي او باور لرم چې همدومره او څومره چنده ددغه ټولو قلم فرسايي تحقيقونو تحليلونو، کره کتنو او...شوي او نورې هم وشي او بيا بيا وشي، بيا هم هېڅ دي او که خير وي دا قلمي پيرزوينې به تر عمره د بابا عليه الرحمة په برخه کې روانې او جاري وي.

دا د حُسن کمال زايي ده

چې جانان يې د جمال د عش پاچا کړ

زه به له دغو ټولو څخه د مخکو مقالو پر دوام يو دوه د حُسن يادبود او د بابا پّ برخه کې راغلي مقالې:

حمد و نعت ـ رحمان بابا رحمت الله عليه

د رحمان بابا د پيدايښ او وفات کلونه - داکټر حنيف خليل

دا څوک دی؟

د عبدالرحمان بابا دیوان قلمي او چاپي نسخې ـ پروفیسور محمدالله

د رحمان بابا په کلام کې فوکلوري اثار ـ پروفیسور داورخان

د رحمان بابا د غزل په ځمکه دوه شعرونه ـ اروابناد محمدخان غریب

د رحمان بابا تغزل ـ پروفیسور ډاکټر ایم اقبال نیسم خټک

۱۰ـ عالمگیر رحمان بابا ـ جوهرخلیل

۱۱ـ قطعه ـ جابرخان ملنګ

۱۲ـ د رحمان بابا علمیت ـ داکټر محمد جاوید خلیل

۱۳ـ رحمان بابا په شاعرانو ـ جهاد افریدی

۱۴ـ رحمان بابا او د صوفیت مسلک ـ اورابناد ( شیرشاه ترخوي)

۱۵ـ دا څوک دی ـ همایت الله صابر

۱٦ـ قطعات ـ ګل محمد ظهر

۱۷ـ قطعه ـ هوس درد

۱۸ـ د رحمان بابا غزل ( یو تاثیر) ـ پروفیسور اباسین یوسفزی

۱۹ـ د رحمان بابا په شاعرۍ کې سیایسني شعور ـ داکټر قاضي حنیف الله حنیف

۲۰ ـ قطعات ـ اکرم عمزی

۲۱ـ قطعه ـ رحمت شاه خاموش

۲۲ـ د رحمان بابا په شاعرۍ کې د قران او حدیث اشرات ـ شهاب عزیز ارمان

۲۳ـ د رحمان بابا شاعرانه تکرار ـ ډاکټر محمد زبیر حسرت

۲۴ـ ځلوزیزه ـ سفیرالله ناشاد

۲۵ـ ستا شعرونه ښکلي ښکلي ـ محمد امیری اثري

۲٦ـ د رحمان بابا کلام او سرمایه ارانه نظام ـ زاهدخان شیدا

۲۷ـ د رحمان بابا د کلام قراني تلمیحات ـ شیراحمد خلیل

۲۸ـ د رحمان بابا انسان دوستي ـ فقیرمحمد فقیر

۲۹ـ د رحمان بابا کلام کې د تحریفاتو تحقیقي او تنقیدي جایزه ـ ډاکټر القاء حین نگاه

۳۰ـ جونګ له خرواره ـ مهر خلیل

۳۱ـ د عقیدت ګلونه ـ طارق حیران

۳۲ـ د رحمان بابا د عشق نظریه ابوه مطالعه) ـ سیدالامین حُسن خویشکی

۳۳ـ رحمان بابا ( رح) محمد اقبال مالیار

۳۴ـ رحمان بابا او خلاقیات ـ زرمحمد سنګر

۳۵ـ د رحمان بابا تنقیدي افکار ـ شهاب عزیز ارمان

۳٦ رحمان بابا ـ نورمحمد شیدا

۳۷ـ رحمان بابا ولي عالمیګر دی ـ داکټر میاسهیل انشاء

۳۸ـ په ۲۰۱۴ کې په رحمان بابا تقریبات ـ زاهدخان شیدا

۳۹ـ ستر عبدالرحمان بابا ـ روئید خلیل

۴۰ـ د رحمان بابا په اړه تاثرات ـ خینې پښتانه لیکوال

۴۱ـ د رحمان بابا منثور او منظوم تراجم ـ ډاکټر محمد عباس

۴۲ـ احوال و آثار رحمان بابا( فارسي مقالې) پروفیسور دکټو نصرت جهان

۴۳ـ د رحمان بابا ( غربي زبان) ـ ریاض محمدالسلائی

۴۴ـ رحمان بابا ( کهوار زبان) ـ سید غلام شاه

۴۵ـ اخلاقیات انسانیت ( شیا زبان) وارث حسین

۴۶ـ رحمان بابا ( کوهستاني زبان) فرهاد علی

۴۷ـ عبدالرحمان بابا (نوارني زبان) سجاد احمد

۴۸ـ عالمگیر شاعر ( واخي زبان) شفیق تاجک

۴۹ـ رحمان بابا ( بورستي زبان) کریم خان

۵۰ـ Lvan Patrick carmodg Rahman baba as L hohw him

۵۱ـ رحمان بابا ـ اروانښاد ایاز داودزی

۵۲ـ دا بابا عبدالرحمان دی ـ اقبال حسین احساس

۵۳ـ رحمان بابا د خپل شعر په آئینه کې ـ محمدجاوید درد مومند

۵۴ـ عبدالرحمان بابا ـ فروزشاه فیروز

۵۵ـ د عقیدت گلونه ـ نجیب الله ناز

۵۶ـ د رحمان بابا په طرحه غزل ـ شیراز مومند

۵۷ ـ د اخلاص کلام ـ شوکت حسین حسرت

۵۸ ـ په رښتیا عبدالرحمان یې؟ ـ فضل عظیم عظیم

۵۹ ـ رحمان بابا (رح) سید علی عباس افغان

او نور....

زه به د " ایمیل دري میاشتنۍ مجلې، پېښور، ۲۰۱۴کال د جولایی د میاشتې، لومړی کال، څلورمې گڼې ځخه چې کابو( ۸۴) مقالې، یادونې، شعرونه او لیکنې خای پر ځای شوي دي، یوه مقاله چې د اروانښاد د شیرشاه ترخوي ده او ( رحمان بابا او صوفیت مسلک) تر سرلیک لاندې مست نمونه خروار) په توگه را واخلم او که خبرو، بیا به نورې گڼې مقالې له نورو منابعو لنډې معرفي کړم:

## ۱ – ۱۲- د عبدالرحمان بابا اولادونه خپلوان او مالي حالت

د رحمان بابا یو بیت دی

نشې د خانانو ملنګانو سره کلي

چېرته عزيز خان چېرته ملنګ عبدالرحمان

له دې بيته خلکو افسانې جوړې کړې دي، چا عزيز خان دده ورور ګڼليو چا يې نژدې تربور بللی او ځينې بيا وايي چې عزيز خان ې بندي کړی و او څه څه...

که له ډېرو خبرو تېء شو، عزيز خان او رحمان بابا د يوه کلي وو هغه د کلي خان او ی يو ملنګ او عادي سړی و او په دې بيت کې رحمان بابا د خپلې استغنا له مخې اعلان کړی چې دی د خانانو فرمانبردار نه دی.

د رحمان بابا له نورو بيتونو دا څرګندېږي چې د ه د خپلوانو سلسله پراخه ه، د يوه کور په ځای په کورونو کې اوسېدل او ده له ټولو سره راشه درشه درلوده، په درد يې دردمن او په خوږ يې خوږمن و، وايي:

په هر کور رنځوران راته پراته دي

لاس مې نه رسي د هېچا په دوا

د نومورې د واده کولو په باب دا بيتونه پوره صراحت لري

په مجنون باندې قلم راغلی نه دی

که حلال يې په مخ ورشي که حرام

حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی

په حلالو کې مدام وي احترام

د رحمان بابا دابيتونه د داسې وخت دي چې د ه مينه بريالی شوې او شرعي واده يې کړی دی.

همدارنګه بيا د اولاونو په غوښتنه کې دا شرطونه ږدي:

خدای له هسې رنګ زوراده امان راکړې

چې بې دين بې ديانت شي، بې نماز...

يو وخت يې چې الواد موندلی، وروېه او خپلوان يې مطالعه کړې، نو د خپلې مطالعې نتيجه يې په خپل يوه بيت کې داسې ځای کړې ده:

که مې ورور که مې عزیز که مې فرزند دی

واړه غواړي خپله خپله مدعا

د رحمان بابا د دیوان په داخلي شهاد برسېره ځینې مورخین هم د ده اولادونو په باب روایتونه لري، د وی له جملې یو هم انګلیسي ختیخ پوه میچر راورټي دی او وایي چې د رحمان بابا د لور له طرفه د هغه اولاد هم اوس د مهمندو په بهادر کلي کې اوسي، خو د هغه د یکي یو زوی او لاد ډېره موده وشوه چې ختم دی (۵۱)[1]

د رحمان بابا د نوور خپلوانو په سلسله کې حمیدګل نومی شاعر ډارمستر د ده خوریی بولي او د پښتونخوا اشعر په هار و بهار کې یې د ده یوه غزله را اخیستې ده.(۵۲)[2]

## ۱ – ۱۳ د عبدالرحمان بابا مالي حالت

د بابا کله له ناداریِ سر ټکولی دی، دغه شاهدي د ده په داخلي شهادتونو کې شته. دی په خپلو شعرونو کې له ناداریِ او تش لاسیِ سر ټکوي، د ناروغانو د درمل پیسې نه لري او د درهم دینار مالک هم نه دی:

په هر کور کې رانځوران راته پراته دي

لاس مې نه رسي د هېچا په دوا

د دنیا خبرې واړه په دنیا شي

ما په څوک کا چې نه چې نه لرم دنیا

څوک دې را کاندې قسم په کردګار

که درم لرم په کور کې یا دینار

خو بیا هم څرنګه چې چا ته یې لاس اوږد نه و، نو ګوزاره یې کېدله او ځای په ځاییو څه ورسېدل، نو ځکه خلکو فکر کاوه، چې دنیا دار دی.

فکر کوم، حضرت عبدالرحمان بابا (د زړه په دولت تر حده دنیا دار و) د زړه دنیا داري د قناعت او صبر په مانا دی په صبر او قناعت کې لا یزاله سکون، سرلوړی موجود دی.

[1]- ۵۱ دیوان عبدالرحمان مولانا عبدالقادر سریزه

[2]- ۵۲ ډارمستر، د پښتونخو شعر هار و بهار ۱۸۸۸ د پاریس سرکاري مطبعه، پښتو متن او فرانسوي سره لري.

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی

پټ د درست جهان پادشاه ظاهر ګدا یم

زه درم او دینار نه لرم په کور کې

ولې نور عالم مې بولي دنیادار

هم په دا چې نه له ځایه چېرته خوځم

نه د هیڅ یوه مخلوق یم منت بار

نه مې ښکته ملک لیدلی دی نه پورته

خبر نه یم په یمن او په یسار

آب خور لکه آسیا په ځای رارسي

په خپل کور کې مې سکون دی، هم رفتار

د ده د وینا په رڼا کې دا اټکل کولای شو چې رحمان بابا هم لکه د نورو پښتنو غونډې دومره ځمکه درلوده چې د هغې په حاصل یې ګوزاره کېدله خو محصولات یې دومره نه کېدل چې خرڅ کړي یې وای او پیسې یې پرې ترلاسه کړې ای. د ځمکمې درلودل د هغې بوللې په ترڅ کې:

هر چې کښت یې په باران او په سیلاب وي

د هغوی عمر به واړه په عذاب وي

موږ ته د رحمان بابا وینا دا هم ښیي چې دی که دنیا دار و او که نه، خو داسې لوړ همت یې درلود چې د دنیا ترلاسه کولو لپاره یې د زردارو څنګ ته نه پرېښود او په ډېر جرات یې په زرداری او زردارو وینا واژ کول او شعار یې ورکاوه چې:

آدمیت څه په دولت نه دی رحمانه

بت که جوړ شي د سرو زرو انسان نه شه

## ۲ – عبدالرحمن بابا د لیکوالو او شاعرانو په اند

بې عزت حُرمت یې نه وي په جهان کې

هغه هسې ژوندون وسوزه په اور

حضرت عبدالرحمان بابا لکه خلانده لمر د ژوند له لومړیو شېبو څخه په ټولو ټولنیزو په تېره ادبي، علمي، دیني او عرفاني حلقو، ټولنو، مجلسونو، مشاعرو، کورونو او... ورو ورو گامونه کېښودل او لکه تخم په ځمکه خښ شو، له خاورو راووت، بوټې شو، پاڼې یې وکړې، نهال شو، شاخ او پنجې یې وکړې پاڼې او گلونه گلونه شو، گلګڅونه یې گې او گور گور شول، د سپوږمۍ، لمر، ستورو، طبعیت او...ننداره یې په خلاصو سترگو وکړه او د تلپاتې ښکلا او ځلاوو له بې سرو سامان کاروانونو سره یو ځای شو.

اندېښنو یې په هر لوري د ژوند او حال وزرونه وغوړول او د چا خبره پرواز پرواز شو.

د انسان اصلي جوړښت فکر و اندېشه ده؛ خو فزیکي توانمندي یې د وړتیا کاروان ته رڼایي ور په لاس کوي چې لا په مخ ولاړ شي د یو سالم انسان اصلي هویت او صلایت د روان او جسم تعادل ښوول شوي دي، ارواپوهنه دې خبرې څه نا څه ډېر اهمیت ورکوي.

" ډاکټر ډبلیو دایر په خپل اثر کې د روان شناسي د ټولو لپاره" کې لیکلي:" د معتادل وجودي شخصیت د جسم او روح نږدیوالی دی؛ بې جسمه روح او بې روحه جسم د عدم معنا لري، مگر روان، جسم ته قوت ورکوي"[۱]

که دقت وکړو روانشاني هم د روان په لور متمایل وي؛ د قران کریم انجیل، د نورو ادیانو متبرک کتابونه، فلسفه او اسلامي عرفان هم د انساني شخصیت د تعادل لارې ( نه افراط او نه تفرظ او همدارنگه هوش، نه یې هوشي، فکر، نه بې فکري، وجود او روان په یو مناسب اندازه کې، اندازه کوي؛ خو او بلاخره بیا هم روح د شخصیت د هیجاز بارزیت گڼي" او شخصیت سلوک ته ورغزوي او یو داسې تعریف په لاس کې راکوي چې په ټولنه کې د مناسب چلند مجموعه ده" که داسې وي، ټول اجتماعي او انساني علوم د انسان د افکارو پیاوړو سرچینو څخه خړوبېږي او حضرت مولانایي رومي ( جلال الدین محمد بلخی) په وینا ( انسان ډېر له فکره غبدلی دی، لکه:

---

[۱]- دایزد ډاکټر دبلیو.روانشناسی برای همه. ۲۰۰۸ م کال، اتلسم چاپ. ایران: تهران، خیابان نقلاب: ۲۱۲

ای برادر تو همان اندیشه ای

مابقی پوست وریشه یی"[1]

د عبدالرحمان بابا شخصیت او هویت تمدني حالت او دنیایي او اخروي پوهې و علم، حکمت و عرفاني او معنوي ژ،ند د اغیزو تر چتر لاندې راټوکېږي، قدومامت پیدا کوي ثمر نیسي او میوه کوي او میوه یې پوخ والي ته رسېږي له خوږ ونه خوږه او د عالم و خاصو او په تېره تېره د خاص الخاصو د شتها او خوراک لامل ګرځي.

د حضرت عبدالرحمان بابا افکار متنوع ګڼ وګور او پراخه مضمون درلودونکی دي، د هر ساعت هر وار او بل وار او بلې ورځې بل وخت بل کال او نورو هر غزل او آن هر بیت په مطالعه کول بل خوند او بېل خو متداول دوامدار او تلپاتې مضمون پیدا کوي او لوستونکي لیکونکي څېړونکي سره مې بل ډول احساس پیدا کوي او ورسره ورسره خپل ځان او د خپل وخت ژوندی تصویرونه مو مخې ته ږدي او د کاظم خان شیدا په وینا د هر لحظه نوي نوي مضمون په کې څرګند شي.

ډېر عمده او تامل خبره داده، څومره چې وخت تېرېږي، د رحمان بابا شعري کلام پنځېږیو صیقل او جلا شي پیدا کوي او له حالاتو سره سم د هر وخت د نسل او پښت ته نوي ځواب وایي:

معنوی صورت پیدا کړه که مېړه یې

فایده څه ده د بتانو له اشخاص

یا هم:

د غفلت له خوبه پاڅه بیداري کړه

تل و تاته سپارلي د بیدارۍ خط

د خدای ښښلي رحمان بابا شعر چې کله د وخت د خلکو ( خاص و عامو لوستو او نا لوستو) ته ور رسېدلي دي؛ نو د چا خبره غوږنو یو بل ته مبارکۍ ورکړې او په عملي ډول د بابا کلام و مفکوره ولس ته ورسېده او خلکو او ولس هم د ځان جوړولو په خاطر له دغو نظریو پورې پورې ګټه واخیسته همدا لامل و چې د بابا کلام ورځ په ورځ وزرې وګړې او داسې الوتل یې وکړه د ستورو سره ملګری شو هماغه وو چې د رحمان بابا د مفکورې د خپریدو لازمینه ډېره مساعده شوه همدا عامل و چې ډېرو ډېرو د فکر و فن تائید وکړ او د متل استاد:" سیل بین

[1]- بلخي، جلال الدین. ۲۰۱۲، مثنوی معنوی، پنجم دفتر: ایران، تهران، خاور.

د څلویښتو وزیرانو عقل لري" او له بلې خوا څو یو فکر مفکوره، ایډیا ولسي نشي او د خلکو د قضاوت میدان ته راونه وځي، نو هغه فن و آیډیا عمومیت نه پیدا کوي، او د شهرت لوړتیا ته به نشي رسېدلای، شهرت د شخصیت او فني او هنري شخصیت په جوړولو کې رول لري.

که څه هم هغه وخت تصویري او نور ډولونه د شخصیت جوړولو موجود نه وو، خو د ( بابا) کلام اصیلت، فني، پوهنیز، علمي، دیني، عرفاني، رونیز او هویت شهرت ترلاسه کړ او دا داسې طبیعي شهرت و چې مصنوعیت په کې لار نه درلوده کله نا کله په ټولنه په تېره اوس اوس کاذبي شخصیتونه ډېر جوړېږي.

هغه قوت، اصلیت، ښکلا، معنویت او په لسگونه نورې ښېگڼې او فضلیتونه چې د عبدالرحمان بابا په کلام کې شعر کې موجودو خلکو ته د پسرلیو او نشهالونو او وړمو سره ورو ورو خور ور شو او له دې سره سم کره کتونکو ښکلا پوهانو، ښوونکو، مبلغانو، دیني علماوو هم ورته پام او توجه ور واوښتله او د ( بابا) له کلام څخه یې د ځان روان، ځوان پښت د جوړولو لپاره کار واخیست او همېشنی گټه ترې واخیسته، لنډه دا چې د ارواښاد علامه حضرت عبدالرحمان بابا ( فن و هنر) ته لیکوالو، کره کتونکو او شاعرانو توجه واړوله او دغه کارل تر اوسه په پوره آب و تاب روان دی زه به کره ډول خو بیا هم د ( بابا) کلام د لیکوالو او شاعرانو نظریاتو کې نندار کړم:

## ۲ – ۱- لیکوال

لیکوالي یو فن دی خو له دېر پخوا انسانانو ټولو خلکو، ملتونو، ملیتونو، فومونو او بیا پښتنو لیکوالانو درلودلی دي.

د څرگنده خبره ده چې فني لیکوالي فني رزونې یعنې تمرین او تکرار ته اړتیا لري خو له تکرار سره سره لازمه ده چې روزنه تر لاسه کړو، وایي لیکولاي د کسپي ادب یوه درنه وزینه رسمالتمنده، ښکلاییزه، فرهنگ پالنه او ....لار او د ستور دی ( ادب، په لومړي سر کې په فطري او کسبي ادب پورې اړه لري).

لیکوالي په فرد او ټولنه کې د پوهو رسالت لرونکو هوښیارو او په مجموعي ډول د یو هېواد، ټولنې قوم د کلي نظام ژوندی او انځورکاږونکی رسالت دی او دغه رسالت لیکوال او لیکوالان ترسره کوي، که له موضوع ډېر لې لاړ نه شو او یا موضوع ډېر براخه نه کړو لازمه ده ووایو چې ( فن او هنر) په یوه بڼه نه یوه بڼه یا یو شکل نه یو شکل له انسان سره تړلي دي، ددغه فن یا هنر ابراز د انسان له خولې، لاسونو، سترگو، غاړې، سر، لاسونو او ټول اندام پورې اړه لري او آن ویلای شو چې د انسان په ( لفظي او غیر لفظي) سلوکونو پورې اړوند دي.

فورکلوریک هنر د شعر او لیکوالي سریزه مقدمه ده ټول ښه صفتونه ( هنرونه، کار، ایډیا، پوهنې، باورونه او په ولس کې موجو دي، له همدې امله فولکلوریک هنر د لومړنیو انسانانو مخصوص زرینې او ښایسته ښوونې او

ښکلاوې دي او ددغه راز په فولکلوریک هنر کې د لومړني انسان څېره په صمیمي ډول ښکاري.

یو وار لاس په لاس کې راکه

د لاس نیول به دې تر ډېره یادومه

یا هم:

جانانه دومره په ما گران یې

چې ته په لار ځې زه دې شمېر قدمونه

ددغه هنر مضمون دومره گڼ دی چې هر ورځ یې بوټي او تنې نوې ځانگې، وړانگې، ښانگې، گلان او گلونه کوي او د ښېرازۍ لورې نیسي.

منل، لوبې، بگټۍ، سروکی، چاربیتې، ټوکې ټکالې، ټکۍ او آن د فولکلوریک نور ډولونه د معاصر انسان ژ،ند ته لاسرو سامان ورکوي لیک، لیکوالي، فولکلوریک هنر او د فن ټول ډول د انسان د مافي الضمیر هویت دی یعنې دا ټول د انسان په فطرت او طبیعت کې ځای لري.

تحریري او مسلکي ادب د مدني او مترقي انسان د مخصوص فکر او پراختیا غوښتونکو او طبیت نومونې دي چې روزمره هدفونه یې ټاکي.

د یو هېواد د فرهنگ پالل او ژوندي ساتل په دې پورې اړوند دي چې موږ څومره له خپل فره۹نگ او د فرهنگ له پالو سره علاقه او مینه لرو.

د عبدالرحمان بابا علیه الرحمة په څېر د سترو شاعرانو هر اړخیزه معرفي او بیا د نوموړي له ډېر ښېرازه هنر او د فکر له طرز څخه غوره او ښه ساتنه پالنه ( و گټه پورته کونه د وخت د درنو لیکوالو اصلي پازه دنده وه او ده چې دغه کارو له ډېرو وختونو را په دې خوا په شعوري ډول شوي وي او اوس اوس خو د خالق علیم خدای ج د پوره پوره احسان دی چې په مسلکي ډول ترسره کېږي د بابا د کلام هر فرد هر غزل او بیات د وختونو په اوږدو کې د بېلابېلو لیکوالو له خوا څېړل شوي او د یو مسلکي دروبین له سترگې ( منظره) ورته کتل شوي او کېږي او که خدای ج زه په ددغو مسل:ي لیکونو چې په مختلف شکل شوي منظمې پس منظر راوړم.

که دا ومنو چې رحمان بابا په ۱۰۴۲ ه ق کال کې په پېښور بهادر کلي کې د عبدالستار مومند کره زیږېدلی د او تر ۱۱۲۸هـ ق کال پورې یې ژوند کړی او یاد ښاغلی قلندر مومند د تحقیق مطابق (۱۹۸۱هـ ق) پیدا او

۱۱٦۳هـ ق کال د دوه ایتا کلونه په عمر وفات شوی دی نو حساب مطابق څه کم درې پېړۍ له اوس څخه د مخه د حضرت بابا ژوند کاوه، ددغه کلونو په اوږدو کې په نومړي یا د هغه په کلام کې لیکنې نه دي شوي او یا دا چې د رحمان بابا په معاصر نیوکي لیکوالان متنقدین او څېړونکي نه ویل چې پر بابا یې لیکنې کړې وی؟

دا له مکانه لرې خبره ده چې هغه مهال به لیکوالان نه و خو د هغه لیکوالانو ممکن له مسلکي او پر له پسې لیکنې او څېړنې سره کار نه و او یا دا چې د وخت مروجه علومو زده کړه ته نسبت له بل هر کار څخه زیات ارزښت ورکول کېده آیا مروجه علومو را ټولو او لیکلو ته اړتیا نه درلوده چې هرومرو یې درلوده.

هغه مهال مروجه علوم له شک پرته راټولېدل لیکل کېدل او د وخت له امکاناتو سره سم ضبطېدل، مگر ممکن د تحقیق بهیر چندان اوچت نه و او نه هم منظم وو.

لکه چې ما مخکې وویل په هېواد او سیمه کې د تعلیمیي او درسي نصاب لړۍ چې کله پیل شوه نو په پښتو ژبه کې د فرهنگي شتمنیو ططول هم مروج شوي چې د هغه وخت د مروجه علومو شته والی زموږ د ادیا ښه ثبوت دی.

له نیکه یا له بده مرغه زموږږ په هېواد کې د شملې پېړۍ له پیل سره ډېرو، مظمو پر له پسې مسلکي او فني او آن هنري پنځونو او لیکنو لړې زور واخیسته په شعوري ډول د وخت منورنو د خپل فرهنگ او ژوند د خوندي کولو د لیکلو را ټولو نقد کولو او څېړنو کار پر غاړه واخیسته، ښوونځي ډېر شول، نورې تعلیمي، تحصلي او علمي مؤسسې ډېر شوې او په بېلابېلو برخو کې د قلم فرسایي ( ښورولو) جنبش زرو واخیست او هماغه وو چې د خوشحال خان نورو و بزرگوارانو او د حضرت عبدالرحمان بابا غوندې شخصیتونو د پېژندگلوی مفکورې هنر لفظي او باوري تورو، کلمو، جملو او په کل کې د فکري زیرمو راټولول ضبطول تنقید کول او څېړل....

په پراخه او مسلکي پیمانه پیل او دوام یې وکړ که څه هم کله نا کله د وخت جنگي او سیاسي توفانونو دغه حرکتونه په شاوتنبول؛ خو دا وخت حالات بدل شول ټول بشریت او پښتو با احساسه پوهان نور را پورته شول او د فرهنگي میراثونو په ټولو برخو کې مثبت گامونه اوچت کړل او اوس اوس په ډېر شوق و ذوق سره په درز کې روان دي.

لکه چې مخکې مو لیکلي دي له کومې ورځې خو په اټکلي گومان او د درانه استاد او سر محقق زملي هېوادمل په وینا درسي نصاب په تعلیمي نصاب په لسمو او شلمو په ۱۳۳۰ څخه را په دې او د لوړو زده کړو په خاطر نصاب په ۱۳۳۰ کلونو کې جوړ شول او له هماغه ورځې چې د تعلیمي او تحصلي نصابونو په هېواد کې جوړ شول او د حضرت عبدالرحمان بابا نوم په لومړینو ردیفونو کې لیکل شوي وو؛ خو زموږ ژبې او ادب ددغې برخې

ښکلا یوازې په درسي نصابونو پورې محدوده پاتې نه شوه او وغوړېده رشد او پرمختګ بې وکړ او د تحقیق او پراخه لیکنو او کتابونو ترسطې پورې ورسېده په مختلفو بڼو یې حضور پیدا کړ، سیمنارونه ورباندې جوړل شو دغه سیمنارونه لیکنې تحقیقي مقالې تدریسي کتابونه، کنفراسونه، فلمونه او آن سریالونه په شلمه او یوویشتمه پیړیو کې ( افغانستان، پېښور، پاکستان، هندوستان، کوټه پخوانې شوروي اتحاد، ځینې اروپایي هېوادنو او... کې تر سره شول د ښوونځیو شاګردانو ورباندې وړې لیکنې وکولې تخته بوردونو ته د رحمان بابا عکس پېژندګلوی او شاعری پورته شول او تر اوس پورې په ټولو تصویري او غنبرو رسنیو کې ټول سایټونو ته د نړۍ په معبرو ژبو وختل او مستقل، مستقل سایټونه لري او دغه لړۍ د هرې ورځې په تېرېدلو تودېږي.

ویلای شو چې " اروابښاد حضرت عبدالرحمانا بابا او د نومړي افکار د ښتو ژبې او افغاني سراسري فرهنګ هغه مغتمنه، ښایسته، لکه ښکلاوو انګلولاوو، باورونو، نورونو، روزنو، لارښونو او سل ګونو ګڼو وګورو ارزښتونو ډک کلام دی چې الله پاک د لا غوړېدو مخلصانه ضمانت کړی او لکه دوامداره قلنګ پاللو د مندینو نارینه وو او ښخینه وو تلپاتې او له ژونده لا ینفکه مینه ګرځولې ده؛ دغه فرهنګي با ارزښته بې مثاله، نورالکماله، ښاده، معنوي روحاني دیني، عرفاني، وثیقه، خو په شلمه او یوویشتمو پېړیو کې د خلانده لمر تربریده لاروښانه شوه منوروینو زده کوونکو، زده کړیالانو ماسترانو، دوکتورانو شاګرانو لیکوالو، ښکلا لټوونکو، پنځوونکو، مینه پالو، مؤلیفونو، سترو پوهانو، استادانو، څېړونکو، ملایانو، بېسواده منورینو او ... ورباندې په لسګونه لویې او وړې مقالې ولیکلې. مستقل مشکل دیوانونه په بېلابېلو ځایونو کې د مختلفو لیکوالو له خوا ولیکل شول او آن تر دې چې ډاکټرانو تبرسونه او د هغه له جملې همدا زما ډیزرتشین ددغې عالمې فرهنګي د لا غوړېدا په خطار یوه ژوندۍ ادعا ده.

که خیر وي زه د توان تر بریده دغه سیمنارونه، مقالو ځینې برخې شاعري، کتابونه دیوانونه دلته معرفي کړم:

مخکې مې وویلې چې نصابونه د هجري لمریزې پېړۍ په ( دویمه، دربیمه او څلورمو او پنځمو، شپږمو، اوومو او اتمو لسیزو کې ولیکل شول او دوباره تمدید شول نصاب په لمړي سر کې ابتدایي بڼه درلودله، دغه نصابونه دا ډول ځل لپاره ابتدایي منځینو او بیا لیسو دورو صنفونو ته جوړل شول آن د مدرسو پّ خاطر هم نصابونه څه نا څه ولیکل شول.

د نصابونو لیکل او موجودیت په برخه کې چې په بېلابېلو دورو کې رامنځته شوي چندان سیستماتیک معلومات په لاس کې نشته یوازې د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک، کاندید اکاډمیسن سر محقیق محمد صدیق روهي کتاب پر کتاب د ښاغلي استاد سر محقیق زلمي هېوادمل په پیش نویس نظر کې نصابونه نوي لوړې ښکاره راغلې چې زه به یې هو به هو دلته را نقل کړم.

ښاغلي سر محقيق استاد هېوادمل په هېواد کې د درسي نصاب تاريخ په ( ٦٠ ـ ٧٠) شپيتمو او اويايمو کلونو کې اشاره کړې ده چې زه يې دغه جريان هو به هو را اخلم.

**زما لومړۍ يادونه:**

په ١٣٦٩ هـ ق کال کې فرهنگپاله، مبارزه او نوميالۍ ليکواله ميرمن معصومه عصتي وردگ د افغانستان د ښوونې او رزونې وزيره شوه، د هغه له روانو تمايلاتو سره سم د ښوونې او روزنې وزرات له مشرانو سره هم دا نظريه پيدا شوې وه چې د افغانستان د ښوونځيو پر درسي نصاب بيا کتنه وکړي او هغه نصابي گډوډې چې له ١٣٥٧هـ ق کال نه را په دې خوا د افغانستان په ښوونه ا و روزنه کې رامنځته شوې وي د سمون لپاره يې کارونه پيل کړي.

د ١٣٧٠ هـ ق کال دوري پّ لومړي هفته کې د ښوونې او رزونې وزارت د هغه وخت معين سره محقيق دوکتور عبدالحکيم هلالي له دفتره ماته هم خبر راکړل شو چې د ښوونې او روزنې وزارت له خواه د يوه جوړې شوي کميسون په غونډه کې برخه واخلم، په ټاکلې ورځ د ښوونې او روزنې وزارت د تاليف او ترجمې رياست تر ورغلم؟ ډېر مشران او نوميالي پوهان راغلی وو.

اروابښآد کانديد کاډميسن سر محقيق محمد صيدق روهي او کانديد کاډميسن پوهاند دوکتور محمد رحيم الهام ناست وو د ښوونې او روزنې وزارت د تاليف او ترجمې او تعليمي نصاف ځينې څانگه وال هم راغلي وو، غونډه د اروابښاد سر محقيق دوکتور هلالي په مشرۍ وشوه او د مجلس منشي ښاغلي پير محمد وردگ و په هغه ورځ او څو نورې ورځې د ښوونځيو د تعليمي نصاب پر موضوعاتو تاوده بحثونه وشول. د بحثونو په نتيجه کې ډېر پرېکړې وشوې خو څه چې ماته په حافظه کې پاتې دي دادي:

١ـ ټولو دا خبره ومنله چې د افغانستان په ښوونه او رزونه کې له ١٣٥٧هـ ش کال نه را په دې خوا بابا شوې نصاب زموږ له ملي او فرهنگي غوښتنو سره برابر نه دی او د ښوونې او روزنې له پرمختللو موازينو سره هم سمون نه لري؛ دا نصاب بايد نور علمي نه شي.

٢ـ فيصله وشوه چې له ١٣٥٧هـ ش د مخې نصاب درسي کتابونه دې راټول شي او تر يوې بيا کتنې وروسته دې بيا چاپ شي او ښوونځيو ته دې وويشل شي.

٣ـ له دې ١٣٥٧هـ ش کال وروسته چې د افغانستان د ښوونځيو لپاره کوم نصاب بابا و، د هغه نصاب پر اسصاس دې له اسم ټول را په دې خوا په ښوونځيو کې د ادبياتو تاريخ لوستل شامل کړي وو او له اتم تر دولسم ټولگي پورې د ادبياتو تاريخ پّ نامه ځينې کتابونه ليکل شوي او چاپ شوي وو.

ټالک شوي کميسيون دا ادبي تاريخ پّ نامه ليکل شوي کتابونه وکتل دا کتابونه هم د ادبي تاريخ ليکنې او ښوونې او روزنې له معيارونو سره برابر و نه ختل، تېروتنی په کې ډېر وې، پرېکړه وشه چې:

الف: په ښوونځيو کې د ادبياتو تاريخ تدريس بايد له لسم ټولګي شروع شي، د لسمو يوولسمو او دولسمو ټولګيو شاګردانو بايد د ادبياتو تاريخ ولولي.

**ب**: ددغو درېيو ټولګيو لپآره بايد د ادبياتو تاريخ د نويو موادو او نويو تيوريو او مېتودونو په رڼا کې وليکل شي.

کمسيون غوښتنه او سپارښتنه وکړه چې د ادبياتو تاريخ د ليکلو چارې دې استاد روهي او زلمي هېوادمل ته وسپارلې شي.

وروسته بيا دا مساله را دمه شوه چې ادبياتو تاريخ به ددغو درېيو صنفونو تر منځ څنګه سر بيل کړای شي؟

استاد روهي وويل: د افغانستان د علومو اکاډةی له خوا د ادبي تاريخ ليکنې د مېتودلوژی په سيمنار کې د پښتو ادبي تاريخ لپآره يوه دوره بندي منل شوې ده ددغې دورې بندی له مخې د پښتو ادبياتو تاريخ به درېيو دورو کې ليکل کېږي، لومړی دوره، دويمه دوره، درېيمه دوره يا معاصره دوره.

زما پشنهاد دادی چې لومړې دومره په لسم ټولګي کې، دويمه دورله په يوولسم ټولګي کې او درېيمه يا معاصره دوله په دولسم ټولګي ولوستل شي.

ـلومړی او دوميه دوره دې زلمی هېوادمل ول:ي ځکه چې پر دې دورو کار کوي او مواد لري او درېيمه يا معاصره دوره به زه روهي وليکم. کميسون د استاد روهي پر پشنهاد تر هر اړخيز غور وروسته فيصله وکړه چې د ادبياتو تاريخ دې همدغه ټاکل شويو يو دريو دورو په کالب کې وليکل شي او دا چې استاد روهي په دې کار کې برخه اخلي، زموږ لپاره د خوښی خبره ده.

په کمسيون کې ناسته تاليف او ترجمې د رياست يو غړی وويل زموږ د تعامل له مخې هر درسي کتاب چې ليکوال راوسپاري موږ يې د ايډيټ لپآره چاته ورکوو، زه وايم چې د هېوادمل کارونه دې روهي صاحب وګوري، د روهي صاحب کار دی هېوادمل وګورئ.

ما سملاسي ځواب ورکړ، د ما لپاره د خوښی څه چې د وياړ خبره ده چې استاد روحي زما کارونه تر نظر تېر کړي، خو زه هم دا خبره جرئت نه کوم چې هغوی کارونه وګوروم.

د کتابونو د تهيي او چاپ يو بل مسوول زياته کړه موږ اړيو چې د کتابو ايډيټ دې وشي نو که تاسو په خپلو منځو کې يو د بل کار وګوری زموږ کار به سپک او کتابونو به ژر چاپ ته واستوو.

ددې کتاب له تالیف سره ایډیټ هم تاسو ته سپارو او د چاپ تر مرحلې که تاسو د کار تعقیب کړی سمولی او زیاتولی په کې وکړئ موږ به ډېر خوشحاله وو.

تر دې ورو سته مجلسه وروسته استاد روهي پّ کار بیل وکړ او په ۱۳۷۰هـ ل کال په وروستیو میاشتو کې یې دا کتاب بشپړ کړ او په خپله ځانګړې بزرګواری یې ماته د لوستلو لپاره وسپاره.

ما بیا لږ یادونه وکړه خو هغوی وویل:" د ښوونې او روزنې وزارت او رسمیاتو سربیره زما غوښتنه داده چې ته دا کتاب ولولې او دا هیله لرم چې د چاپ چارې یې هم تعقیب کړې او د چاپ ته آماده کولو تر وروستی لحظې پورې هم په رسمي ډول او هم زما له خوا ته دا حق لري چې د اډیټور له مکلفیتونو سره سم زیاتولی او کمونې په کې وکړې.

ما هغه وخت دا کتاب ولوست، بېشکه مې د لیکلو سبک د لیکلو مېتود او د کتاب د پیل د درېیو څلورو تیوریکو بحثونو ډېر خوند راکړ تر هغه وخته چې ما دې پښتو، دري او اردو کوم ادبي تاریخ ډوله آثار لوستي وو، په هغو کې له دغسې تحلیلونو او نو خبرو سره نه وم مخ شوی؛ نو ځکه دا کتاب را ډېر ځانګړی ښکاره شو.

ترکتنې وروسته ما کتاب بیرته استاد روهي ته وسپاره او د ځینو کمونو او زیاتولو او ځینو برخو پر وړاندې وروسته کولو کې مې خپل وړاندیزونه ورته وکړ هغوی په خورا صمیمت او مینه ومانه استاد روهي کتاب ښآغلی پیرمحمد وردګ ته ورکړ چې ټایپ یې کړي.

پیرمحمد وردګ د کتاب پر ټایپ ډېره بیړه کوله او غوښتل یې د ۱۳۷۱هـ ش کال په لومړیو میاشتو کې چاپ کړي ښاغلي وردګ دا هم راته وویل چې ستا د کارونو او د روهي صاحب د کتاب دویم پروف به تاته وسپارم.

موږ ولیدل چې د ۱۳۷۱هـ ش کال پّ غوایي میاشت کې د دکتور نجیب الله رژیم نسکور شو، پر افغانستان هسې بدرې ورځې راغلې چې ساری یې د منطقې د هېوادونو پّ تاریخ کې نه لیدل کېږي چې...[1]

په ۷۰ـ ۸۰) کلونو کې پر تعلیمي نصاب د سر محقیق استاد زلمي هېوادمل ( څو ځانګړې یادونې) ضروري یادونې وي چې د خدای پښلي اکاډمیسن کاندید ( د پښتو ادبیاتو تاریخ) دویم ټولګ درېیم چاپ کې کړې او ما هم د مستقیم نقل پّ توګه د نصاب پّ برخه کې دلته کلمه په کلمه تر یوه بریده چې زموږ له موضوع سره یې تړاو درلوده، راواخیسته، په دغه نظر کې اساسي ټکي چ ېماته یې ارزښت درولده هغه دا و چې ( ادبیات تاریخ) مضمون به ضرور لیسې دورې په پېلاپېلو ټولګیو ( لسم، یوولسم، دولسم) ټولګیو کې هرومرو لوستل کېږي.

---

[1]- هېوادمل، زلمی، ۱۳۸۴هـ کال، د کاندید اکاډمیسن سر محقیق صدیق روهي کتاب پېشور دانش خپرونه ټولنه. ۱ - ٦

په دغه تعلیمي نصاب کې د پښتو ادبیاتو د ( لرغونې، منځینو او نویو او معاصرو دورو) او بیا په بېلابېلو پړاوونو کې نصاب غځېدلی وو.

ادب تاریخ نه یوازې د لېسې دورې په بېلابېلو ټولګیو، بلکې د لوړو زده کړو د پوهنتونو، ماسترۍ او دوکتورا پروګرامونو کې د خاص خاص نظریو تر سرلیک لاندې په خوشحال خان، عبدالرحمان بابا، کاظم خان شیدا او...تدرسېږي.

یوه معترضه ضروري جمله باید دله راوړم هغه داده چې پوهنتون لیسانس او ماسترس دوره کې د ادبیات مضمون په ځنګ :ې د عرفاني ادب تر سرلیک لاندې په پوره عمومي قوت مطالعه کېږي عرفاني ادبیاتو د عمومي ادبیاتو د یوې مهمې برخې په توګه مطالعه کېږي.

په عرفاني ادبیاتو کې د نورو ادبي برزګورانو په سر کې د عبدالرحمان بابا تصوفي او عرفاني ادبیاتو نظریات راځي؛ لکه: مشت مونه خروار است:

معرفت د خدای ښرګند دی پّ هر څه کې

سترګې وخوره، چې دا هومره نظر نه کا

یا هم:

چې دا هسې معرفت یې پرژې پیرزو کړ

په رحمان باندې منت د پاک ملا دی

یا هم:

چې د خدای له معرفته خبر نه وي

هغه واړه که بیدار وي که ویده وي

یا هم:

په دوی کې به ورنه شي تر توحیده

ځو ضمیر دې خالي نه شي له اشراکه

دغسې د بابا افکارتو ډېره د پیاوړي معنویت له انسانیت تصویر کاږي په لنډه توګه ووایم، چې ( ادبیاتو

پوهنځیو) په لیسانس او مافوق لیسانس ټولګیو او دورو کې د حضرت عبدلرحمان بابا افکار، نظریات، د پوره یادونې وړ دي.

د حضرت عبدلرحمان بابا څېره لکه لمر روښانه ځلېږي، دده په برخه کې له ډېر پخوا ( تحقیق او څېړنو د وختونو په را بریدلو سره) په بېلا بېلو ځایونو کې مختلفو لیکوالو او د بېلابېلو ژبو لیکوالو په مستقیم او نیغه توګه او یا تر جمو له لارې له رحمن سره کارلرلی دی او دا لړۍ اوس هم په پوره غوره او درزکې روانه ده دلته یې لړ و ډېر راوړم.

اول ـ رحمان بابا او د هغه شاعرۍ د څو مشهورو پښتو پوهانو لیکوالو لنډیز داسې را معرفي کوي:" د عبدالرحمان شاعري د معمولي حیواني جذباتو اظهار نه دی او نه معین د ځوانۍ د بهار ګلونه دي بل:ې دده دیوان د خوږو دردېدلو زړونو ټوټې دي یاد خون ځیګر قطري دي، ( مولانا عبدالمجیبد افغاني مقدمه دیوان عبدالرحمان.

ـرحمان د پښتون ملت د صوفیا او شعر اوو واحد نماینده دی...د رحمان په اشعارو په هر پښتون د خپل زړه درد تسکین راولي.

ـ د رحمان بابا غزل په پښتو ادب کې ډېر اوجت مقام لري پّ دې خبره د ختیځ او لوېدیخ د پښتو ادب ټول عالمان، طالبان او ناقدان متفق دي چې تر اوسه د رحمان بابا د ټولو نه زیاد مقبول او هر دلعزیز شاعر دی.[1]

ـ رحمان بابا چې د اخلاقو او روحانیت کوم تعلیم ورکړی دی ددې د ضروروت او افادیت نه دبه لس لکه کال پس انسان انکار نه شي کولای[2]

ـ رحمان بابا دنیا په هنګامو کې اوسي ا و بیا ترې لمنه بچه ساتلې ده( ښاغلي فضل شیدا).

د رحمان بابا شاعري مدعا داده چې پښتو قدم د عالمګیر انسانیت د اقتدارو عظمت نه خبر کړي.

ـ د رحمان بابا سبک د ساده ګۍ خوږوالي، سلاست د پاره مشهور دی.

ـ رحمان بابا هغه څوک دی چې د پښتو لوی واړه، ځښې او نارینه دده له نوم سره اشنا ددي،

ـ د رحمان بابا د اشعارو یو لوی مزیت دادی چې د هر چا د ذوق سره برابر مطلب لري او د هر چا تنهایي ملګری

---

[1]- دوست محمدخان کالم مومند رحمان بابا ۷۳

[2]- میرعبدالصمدخان، رحمان بابا شاعرِ انسانیت، ۵۹

دی.

ـ د رحمان بابا د یو عظیم شاعر نه علاوه، یو عظم انسان هم وو.

ـ رحمان بابا د خپلو نغمه د خپل ولس په ژبه ویلي دي. پروفیسوز پریشان خټک.

ـ رحمان بابا یو صوفي شاعر وو؛ مگر د هغه تصوف د فلسفې خیال او علم تصوف نه دی د عمل او احساس تصوف دی. پروفیسور شید تقویم الحق

ـ د رحمان بابا په نزد د روح دینا هله اباده شي چې د تن او جسم دنیا خاورې ایرې کړي شي.

ـ د رحمان بابا کلام د ه رچا د ذوق او شوق مطابق دی.. پروفیسور محمد نواز طاهر

ـ د رحمان بابا شاعرۍ کې دا خصوصیت دی چې هغه بل انسان اختیازي ځاته راکاږي.[1]

موږ د لیکوالو لنډه نظرونه نور هم لټوو او دلته یې د لنډ ماخذ په نښه کولو سره را اخلو په دغه نظر د پېښور، افغانستان او مختلفو لیکوالو پورې اړه لري.[2]

په دې ډول رحمان بابا د پښتو تر ټولو زیات مقبول شاعر دی او ددغه مقبولیت له کبله هغو خلکو هم په رحمان بابا او د هغه په شاعرۍ لیکل کړي او کتابونه یې پرې چاپ کړې دي، چې د تصوف د پېژندگلو یا تنقید د علم او هنر نه بې برخې وو، دغې رحجان کهیو خوړا پښتو ژبې او ادب ته ډول ډول لیکونه ورکړل؛ نو بل خوا یې دسنتر رحمان بابا په علمي او ادبي شخصیت پورې گڼې افسانې هم وتړلي..."."[3]

د رحمان بابا مساله په اسراره ده هغوی په خپل کلام کې ریا کاري اوخاني په پېر زور سره غندلې ده... د خانۍ او ریا کارۍ غندنې سره سره رحمان بابا د قومې احساس څرگندونه هم کوي او خپل قوم نه د هغوی په ژبه کې د اخلاقو درس هم ورکوي.[4]

د رحمان بابا د کلام درسي اړخ ته ځېرنه دا څرگندوی، هغوی دیني علومو سره سره د فارسي کې لیک سره

---

[1]- همدل راهي، عارف رحمان ۲۵۵

[2]- رضا، محمد افضل، ۲۰۰۴م، دیوان عبدالرحمان بابا، پېښور، زیب ارت محله جنگي.

[3]- خټک، راج ولي شاه، رحمان بابا یوه فکري مطالعه. ۲۰۱۳م. سلیم راز کتاب، پېښور، یونیورستي پبلشرز، قصه خواني، افغان مارکېټ.

[4]- ماخذ: ډاکټر راج ولي شاه خټک پشتي

سرکاري اعزاز ترلي و".[1]

- د حضرت رحمان بابا رحمت الله علیه د هغېو هستې نوم دی چې د یو بزرگ او نیک سړي بنده په حیث یې هر څوک پېژني او شعرونه یې د مثال په توگه د وخت د حالاتو پّ مناسبت عالمان د یو علمي دلیل أپاره واعظان یې د وعظ و نصیحت په موقع او فن کاران یې د تقدس له رویه د خپل د آغاز په وخت وایي، د رحمان بابا ( رح) شعر چې په کومه موقع ویلی شي نور داسې تاثر ورکوي چې بابا دا شعرونه ددې موقع لپاره جوړ کړي وو، او په دې ضمن کې د هغو دا شعر په خپله دلالت کوي.

و هر چاته په خپل شکل څرگندېږم

آئینې غوندې بې رویه، بې ریایم[2]

- " د رحمان بابا په ټولنې د ژمن او متعهد فنان په توگه پر خپل ولس او ټولنې د خپلې هر اړخېزې پیژندگلوي حق لري، هغه د خپل فني شخصیت په رڼا کې د ټولنې د یوه محسن په توگه پېژندوی و او پاک خدای ج د خپلو سنتو له مخې د محسنینو د اجرونه ضایع کولو وعده فرمایي:

ان الله لا یضیع اجرالمحنین، قران مجید سوره التوبه. ١٢٠ ایت.[3]

- لکه څومره چې د رحمان ادبي او صوفیانه شهرت دی، همدومره دده پّ ژ،ند او وین ډېر لږ کار شوی او دده په باب ډېرې خبرې او څېړنې شته چې باید رابرسیدو لیک، او خوندي شي، دده پر ژوند لیک څېړنې لا تر اوسه ډېرې نیمگړې، سطحې او سرسري دي، دده د دیوان او وینا هر اړخیز تحلیل او تجزیه پّ لانده شوې او دده لاهوتي افکار لکه څنگه چې لازم دي داسې نه دي څېړل شوي.[4]

- د رحمان ببا د نهال کړي شوییو نیالگیو په ونو کې دومره خوشبویه، فضا، روح تسکین همه گیرورگلوی او د اخلاقي پیغام لهام ورکوونکی رنگارنگ غوټو گلانو داسې میوې ونیولې چې د هر ذات و مذهب، هېواد ملت او سیمې خلک به ترې تر ابده افادې روحي قرار وموميي او د وحدة الوجود د مهربانوو کراماتو او صفحاتو مدحه او شناوي به وایي:

و هر چا ته به خپل شکل څرگندېږم

---

[1]- ماخذ: طایر، شیرزمان، ١٩٩٩م، رحمان او قران، ( شیرشاه ترخوي) اثر، پیښور عثمان ابا، ضلع نوټار. پښتونخوا.:١٦

[2]- ترخوي شیرشاه، ٢٠٠٠م، رحمان او قرآن، پیښور: خیبربازار، میاشتنۍ ښکلا پیښور:١٨

[3]- صمیم، محمد آصف، ١٣٩٥هـ، رحمان بابا دیوان لار نومښود، ننگرهار مخابراتو څلورلارى، عبدالمجید مومندکتاب پلورنځی: ز.

[4]- رفیع، حبیب الله، ١٩٩٥م، د رحمان بابا د دیوان نومښود( سریره) پېښور: کورتا کال: ج

آئنې غونډې به رویه بې ریا یم[1]

ـ د حیرانتیا او ناخبرۍ اظهار تر بل هر شاعر رحمان بابا ډېر کوي او په خان نیوکه تر نورو شاعرانو دده ډېره کړې ده، زما په نظر دا د رحمان بابا د مقبولیت یو راز او دده یوه سبکي ځانگړنه ده.[2]

البته رحمان بابا چې د شاعر په صفت ځان یادوی خپل هنر ستایي، شاعر تعلی په پخواني ادب کې عامه وه چې نورو شاعرانو یا د شعر په لوستونکو بده نه لگېده، رحمان بابا یوازې خپل شعر نه ستایي بلکې د ښې شاعرۍ د لرلو دعا کوي. [3]

ــ د رحمان بابا ایک ایسي برگزیده هستي هی که هر کوتی اس جانتاهیو پښتو ادب عالیه او د رحمان بابا کانام لازم و ملزوم هین رحمان بابا هماری کی کیا مقام رکهتی هی، مسئله اب کسی کیلی بهی غور طلب نهی رها، ده پشتو ادب عالیه کی علامت هی. رحمان بابا کی شعر شرینی او رمزه اسکی افطار کی د ویزی خیالات کی پاکیزگی اور جذباتکاخلوص اسلی هر شعر کی خاصیت هی..".[4]

ــ د رحمان بابا عشق او مینه د بشریت عالي مقام گڼي د زور او شدت سره په کلکه مخالفت کوي او د هغه وخت مغلي استعمار په ضد خپله کرکه داسې څرگندوي:

شاه جهان او اورنگزیب غونډې اشراف

صدقه شه تر منصور غونډې نداف[5]

ـ د رحمان بابا د مشاهدې ژورې برخه دده په هغه ونیا کې نغښتې ده چې د خپل ژوند تعمق او ژوند فکرۍ په وخت کې یې ویلي او د مشاهدې له لوړې غونډۍ نه یې د خپلې ټولنې سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او نقافتي حالات تر غور او څېړنې لاندې نیولې او پّ تعمق او ژور فکرۍ یې نتیجه تر لاسه کړې ده:

په بزرگۍ د هغه پاک پروردگار

موقوف مه شه په سړي د سړي کار[1]

---

[1]- ملهوتره، روشن لالی، ۱۳۹۵هـ، شمشاد، دویمه نشراتي دوره، دویم کال، کابل د خوشحال خان فرهنگي ټولنه شپږ میاشتنۍ مجله.: ١٦

[2]- د شمشاد مجله ۸۳.

[3]- رفیع، حبیب الله، ۱۳۸۷، رحماني ضم، پېښور، خیبري سمی لیکوالو او ژورنالیستانو خپروندیه ټولنه دانش: ۱۲۱

[4]- طایر، محمدنواز.۲۰۰۰م، رحمان بابا پښتو لسان الغیب، پیشاور، پښتو اکاډمي:۵۵

[5]- روهي، محمدصدیق، ١٣٦٠ ادبي څېړنې، ننگرهار: د لیکوالي او روزلي: ۲۷۴

ـ د رحمان بابا شعر د خپل ځانګړي هنري او ښکلاييز جوړښت او انساني محتوی له امله خپل خاص خصوصيات لري او دی په پښتو ادب کې د يوه نوي شعري سبک خاوند شاعر دی.[٢]

ـ د عبدالرحمان بابا يو عالم رباني او عابد سړی و او ډېر شعرونه يې دخ خدای تعالی ج په محبت کې وويل او په پښتو کې په رحمان بابا مشهور شو.[٣]

ــ د رحمان پوهنه نومي کتاب په شکل کې تاسو ته وړاندې کولای شي پّ کوم چې به انشاءالله نه يوازې د رحمان مينو تنده ماته شي بلکې دا به ادب د طالب علماو هم ډېر په ښه راشي.[٤]

ــ د بزرګانو ځان هيروي د خو چې يې ليلکي وي هغه د زندګي يو تصوير پيش کوي داد يو ژ،ندي سړی يو با خبره سړيو يو هوښيار سړي زنده وه.[٥]

ــ دا خو هنم کتل پکار دي، چې که زحما توره نه ده را اخيستې نو ددې پّ بدل کې يې ددغې سخا ماحول نه خو سترګې نه دي پټې کړي، د رحمان برخه کې دغه قلمي جهاد راغلی وو، چې دغه جهاد د هر څه نه زيات وي او په هغه کې هغه وورسته نه دي پاتې شوي، ښه په نره يې تنقدی کړی دی په حاکمانو او په پښتني ماحول هم..."[٦]

ـ د بارګام خپل يو تاريخي او نقافتي حيثيت لري او ددغې سيمې فطرتي او انساني حسن ددغه تاريخ او ثقافت يو ځلنده باب دی، د رحمان بابا دعوی په حقه ده هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي.[٧]

ــ مشهور مستشرق ميجر راورټي ليکلي: رحمان باباته وګوری چې بالکل صوفي دي د حافظ شيرازي او دده رنګ د لرې نه يوه پازه لري خو که د نږدې نه وګورئ؛ نو د رحمان بابا خپل رنګ جلا ښکاري، ښکه چې مينه

---

[١]- غضنفر، اسدالله، ١٣٩٥، شمشاد مجله، لومړي ګڼه، کابل د خوشحال خان ټولنه، شپږ مياشتنۍ مجله.

[٢]- د هېوادمل، زلمی، ١٣٩٣هـ، د پښتو ادبياتو تاريخ. کابل: دانش خپرونديه ټولنه.١٧٥

[٣]- داود محمد هوتک ١٣٥٦، پټه خزانه، زلمي هېوادمل په زيار، کابل: د ادبياتو او بش‌ءي علومو پوهنځي.

حبيبي، عبدالحی، ١٣٥٦، پتنه خزانه، کابل: د ادبياتو او ټولنه بشري علومو پوهنځي.

[٤]- تقويم الحق سيدمحمد، رحمان پوهنه: ٧

خليل، محمد الله، ١٩٩٣م، رحمان ادبي جرګه، د پيښور، محله جنګي، نيوشهزاد سنتر.

[٥]- پروفيسور سيد محمد تقويم الحق ١٢٩

[٦]- ختک اقبال نيسم، رحمان پوهنه ٥٥)

[٧]- شاهين محمد پرويش، د رحمان بابا په شعرونو کې د باګرام رحمان پوهنه٦٣

یعنې عشق حقیقي دده خاص رنگ دی...".[1]

ــ مشهور مستشرق یا دري هیوز ویلي دي، عبدالرحمان بابا د ښښو ستر قامي شاعر دی چېرته چې پښتو ویلی شي هلته به ددې نوموړي شاعر سندرې ویلی شي".[2]

الفنستېن په پښتو کې ټولو ته زیات هر د لعزیز شاعر رحمان دی د چا کلام کې چې داسې قصیدي شته چې بیخي د فارسي وانو غوندي دي".[3]

ـ سراولف کیرو دی پټهاتز وایي: یو شمیر نور د زړې زمانې شاعران دي چې په هغونی کې د تولونه مسمور عبدالرحمان دی د هغه شعرونه باندې صوفیانه رنگ دی او مذهبي خصوصیات پکې غالب دی د هغه ډېر احترام کېږي".[4]

ــ مسترجینز نولډسن( ډنمارک) په دې نظر وو: هر څوکه خوشحال خټک د پښتو یو لوی او عظیم شاعر وو او دهغه د انگزیزي ژبې سشکپیر د جرمي ژبې او گویته او دروسي ژبې یو نشکین دغه مرتبې دي خو بیا هم کوم مقبولیت چې پښتو کې رحمان بابا ته حاصل دی هغه د نصیب شوی نه دی او دا ی پوړاندې لیلکی ووو د زیور مقدس نه بغیر چې هغه د یهودیانو...

ـ زړونو ته دغو مره تسکین ورسوي په یورپ کې بل دغسې کتاب نشته چې په مقبولیت کې د رحمان بابا د دیوان همسري وکړي".[5]

ـــ رضا همداني:

که غزلگو، پوخ قسم وی، ژوند فکر لر ي، ضمیر یې د گذار په بټۍ کې پوخ شوی وي او د خپل فن د پټ پاللو د پاره د خپل ځیگر د وینو نه هم کار اخلي؛ نو ترې رحمان بابا جوړېږي".[6]

ــ تاریخ د ریاست سوات، مؤلف د سیدو بابا د اقول رانقل کړي دي که چېرې د کلام پاک نه علاوه د بل کلام

---

[1]- راورټي: میجر، ۱۹۹۳م، رحمان پوهنه، پېښور: محله جنگي بابوحیدر، نیوشهزاد: ۸۳

[2]- ( رحمان پوهنه: ۸۴)

[3]- ( رحمان پوهنه: ۸۴)

[4]- ( رحمان پوهنه: ۸۴)

[5]- ( رحمان پوهنه: ۸۵)

[6]- نولډسن، جینزا، ۱۳۹۳هـ، رحمان پوهنه، پېښور: جنگي محله: ۸۵

کې لمونځ کول روا وي، نو ما به یقیناً د رحمان بابا کلام غوره کړی وای".[1]

ـ دایرة المعارف اسلامیه اردو:

" رحمان د عبدالرحمان مومند غوریاخېل والد کانام عبدالستار تها نواح پیشاور کا ایک مشهور صوفي شاعر ایک شاعر با الله همدرد، د مشفق بزرگ، جسکی شخصیت، هر دلعزیز، کلام عام فهم، ساده او شرین اور بې حد مقبول خاص و عام هی...".[2]

ـ علامه استاد عبدالحی حبیبي:

رحمان بابا د شارعۍ په فن کې د مستقل مکتب خاوند دی او لوی معلم هم دی ولې په خپل سبک او شعري لوازماتو او اشعارو، تشبهاتو او نور ادیبانه نزاکتونو روان او ساده ډول کې ځانته دا جتهاد خاوند دی.

رحمان بابا په ځپل شعر کې د پښتنو فطري جذباتو او ملي احساساتو پّ ساده او روانو او خوږو الفاظو داسې ښه ترجماني کړې ده چې هر څوک د خپل ذوق مطابق په هر ځای او موقع کې استفاده ځینې اخیستی شي.

ـ لوی استاد صدیق الله رښتین:

رحمان بابا د پښتو د شعر او ادب هغه خلانده ستوری دی چې لرو بر پښتونخوا په آسمان کې  یو شان ځلېږي، دده د خوږ نوم یاد دده د لوړې شاعرۍ احترام دده روحاني او ملکوتي غږ د ټولو پښتو پّ زړونو یو رنګ موجود دی، دده روح د پښتونخوا پّ ټوله ځمکه د هر یو اوچت غره پّ څوکه په هر محفل او ټولي کې په الوتو او ګرځېدو دی، ټول پښتانه دي د پښتو شاعرۍ پیشو او یو ستر ادیب او مقتدا ګڼي.

مژاد دروند استاد حضرت ګل پآچا الفت ویلي وو:

" د ختیکو دوره لا هم هغسې په قوت کې وه او د خوشحال خان د شاعرۍ پّ هم هغه یو خوالي دده په زامنو او نمسو کې ځان ښکاره کوي چې نا څاپاه د مومندو په کورنۍ کې د شعر او ادب دوه پاخه استدان او امامان پیدا کېږي چې یو عبدالرحمان بابا او بل ماشروال عبدالحمید مومند دی.

د دوی شعر او شاعري له پځوا اوخته بل راز ایستی او هر یو د پښتو شعر نه نوی رنګ ور کوي. نږدې ټول پښتانه ورته په درنه سترګه ګوري.

---

[1]- ( رحمان پوهنه: ۸۵)

[2]- ( رحمان پوهنه: ۸٦)

ښاغلي استاد عبدالروف بینوا:

د ر حمان بابا د اشعارو یو لوی صفت دادی چې د هر چا له ذوق سره سم مطلب لري او د هر چا د تنهایي ملګرى وي، په پښتو کې په ډېر داسې کم ګور وي چې د رحمان بابا دیوان به هلته نه وي.

ګران محقق دوست محمدکامل نظر درلود:

په دې خبره کې اختلاف کې شي چې د پښتو د ټولو نه لري شاعر څوک خو په دې خبره د ختیځ او لویدیځ د پښتو ادب ټول عالمان، طالبان او ناقدان متفق دي چې تر اوسه رحمان بابا د ټولو نه زیات مقبول او هر دلعزیز شاعري کړې ده.

مولانا عبدالقادر وایي:

د ښښتو شاعرۍ په تاریخ کې د رحمان بابا نه زیات شهرت او هر دلعزیزي لا تر ننه د هېڅ شاعر نه ده نصیب شوې د پښتونخوا تر مخه لوی واړه، علم، جاهل، لنډه دا چې هر کس و ناکس د رحمان بابا نوم پېژني د هغه که یو نمیمه رباعتي نه وي، نو یو نیم بیت خو ورته ضرور یاد وي، د پښتون د ژوند کیفیت به څه نا څه پیرایه دده په کلام کې موجود وي ډېرى مصرې یې عام متلونه دي.

ښاغلي میرعبدالصمد خان لیکي:

رحمان بابا د پښتنو ولس کې یو مذهبي شاعر، ملنګ، قلندر او د ولي الله په طور مشهور دى پښتانه چې څومره عقیدت له رحمان بابا سره لري په دینا کې به یې ډېر و لږو ته دا شرف حاصل وي، د هغوی اشعار د ژبې او وینا له کبله ډېر ساده آسانه معلومېږي، لاکن مطلب کې دقیق او فکر یې ژور دی، رنګیني په کې ډېره ده؛ نو په دې سبب یو طرفته د ولس په زړه پریوځي او بل خواته د فراست او بصیرت لرونکو ته غور او فکر بلنه ورکوي.

اورښاد فضل حق سیند نظر درلود:

رحمان بابا د دنیا په هنګامو کې اوسي او بیا یې هم ترې لمنه بچ ساتلې ده، د یو دوه ځایونو نه علاوه هډو د خپلې معاشرې، ماحول، ولس ذکر نه کوي، دا نه چې د ژوند نه فرار ضررو ګڼي، بلکې ځکه چې دا ژ،ند فاني غیر ضروري او غیر مهم ګڼې.

پورفیسور پریشان خټک ذکر کوي:

د یو عظیم شاعر نه علاوه رحمان بابا یو عظیم انسان هم وو، ولې سره ددې بنده حیران شي، که چېرې په خپل

تاریخ کې د پښتونخوا د هرګوټ هرې قبیلې، هر کس ناکس، نرو ښځو، زړو او وړو هر چا چې یو کس سره مینه کړې ده پّ زړه او ذهن کې یې ځای ورکړی دی ټولو ورته په یوه آواز بابا ویلي دي هغه عبدالرحمان بابا دی.

ښاغلی تقویم الحق کاکاخېل وايي:

رحمان بابا یو صوفي شاعر وو، مګر د هغه تصوف د فلسفې خیال او علم تصوف نه دی د عمل او احساس تصوف دی د دنیا بې ثباتۍ درس یې ورکړی دی او د اخلاقو تعلیم یې خور کړی دی د هغه په اسلوب کې غټ خصوصیت یې بې تکلفه رواني ده.

پروفیسور محمد نواز طایر پښتو اکاډمي:

د رحمان بابا د روح دنیا هله آباده شي چې د تن دینا خاورې ایرې کړي؛ ځکه چې د انائث تصور په حقیقت د خالق تر ذاته محدود دی.

پروفیسور خواجه محمدسایل:

رحمان بابا او حمیدبابا دواړه د یوې زمانې یو ذات یو قوم د یوې ریښې ګلونه دي، دواړه د باړۍ پّ اوبو لوی شوي دي او دواړو د شاعرۍ موضوع عشق دی، خو د رحمان بابا عشق زیاد د حقیقت په رنګ کې رنګ دي او د حمید بابا زیاته برخه د مجازې مینې سازيي ده خو نغمه ترې هر یو په بېله بېله طریقه راوکاږي، یو خپل منزل مقصود ته رسېدلی دی او بل لیګا دی د رسېدو کوښښ کوي د دواړو کلام زیاته حصه اخلاقیات دي د واړه یو درس لري چې انسان شه مسلمان شه.

ښاغلي مجیدالله خلیل لیکي:

رحمان بابا د ادب داسې یو بل مثال دی چې تر ننه بې په رڼا کې د نوي کهول لیکوونکي د ادب په لګیا دي پرمختګ کوي د اوسني دور شاعران دي او که لرغوني ټول رحمان باب د ولس یو نماینده او ترجماني شاعر ګڼې ځکه چې د هاغه اساسات د هر چا احسات دي.

میرمن ډاکټر لعل بها وايي:

رحمان بابا د پښتو د ادبي اسمان یو ځلنده ستوری دی د پښتو د غوړېدلی باغي یو خوش الحانه بلبل د پښتونخوا هغه غزلګو په شاعر دی چې د پښتو په حجرو او محفلونو کې نن هم نوم په ډېر ادب او احترام سره اخیستی شي.

محترم سیدمحمدرضاشاه رضا:

ځنګه چې د یورپ لاب سشکپیر د ذکر نه بغیر نیمګړي ګڼلی شي هم دا رنګ د مشرق ادب نه که چېرې د رحمان بابا او اقبال ذکر وویستي شي نه دا خوره لمن به یې نمکه پاتې شي.

ښاغلي میا سیدرسول رسا وایي:

که ایران او د ایران شاعرۍ سعدي او حافظ پیدا کړي او که په انګیري سشکپیر او ملټن دی... که یونان په هومر فخر کوي نو موږ هم په ډکه خوله وئیلی شو چې موږ له ادب کښې هم څوک شته چې موږ یې په احترام سره نوم اخلو او زموږ د ادب ځلانده ستوري دي او دا یو خوشحال خان خټک او بل رحمان بابا دی.

ښاغلي محمد اغظم اعظم:

د رحمان بابا د شاعرۍ د ټولونه لوی او جوب خصوصیت د هغه د خیالاتو بې ساختګي او د هغه د بیان ساده ګي ده.

د هغه لوړ تخیل، رسافکر او حقیقي جذبې چې ځنګه بنګه راټوله کړې ده هغه یې ولس ته په یوه ښایسته او شایسته ولسي لهجه او پیرایه کې وړاندې کړې ده هغه د ولس درد په خپل ذات کې جذب کړی دی د انسانیت زخمونه یې په خپله سینه اخیستلي دي او د خارجي ژوند غمونه محرومي او المیي یې په خپل وجود کې رانغښتي دي، دغه وجه ده چې هغه د خپل زړه په ساز کومه نغمه چېړي د هغه نه سوز بځري را خېژي او هره خبره یې هر چاته د خپل زړه خبره ښکاره او هر څوک په کې د خپلو دردونو دوا لټوي.

مرحوم عبدالرزاق حکمت وایي:

د رحمان بابا د شاعرانه معراج برکت دی چې هغه څه په داسې لطیفي او لذیزي پیرایي کې وئیلي دي چې هر څوک د هغه د وینا د خپل زړه د درد دارو ګڼي، د هغه په ا شعارو کې د هر وګړي ترجماني ده زما په خیال کې د هغه مقام د فنکار، د شاعر او ادیب د مصور خطیب اصیل ځای دی چې څوک دې مقام ته ورسي؛ نو هغه ته موږ عظیم فنکار وئیلی شو.

اروابناد میرهلالي وایي:

شاعرۍ کې د اشرف خان عزت یوازې رحمان بابا ته حاصل دی چې د پښتو شاهنشاهۍ دعوې کوي.

ښاغلي پُردل خټک د پښتو اکاډمي:

په ګرده پښتونخوا کې چې تر اوسه څومره لوړ او د نامې جامې شاعران تېر شوي دي په هغو واړو کې يوازې عبدالرحمان بابا ته دا فخر حاصل دی چې غز په سمه او ټوله پښتوخوا کې ښځې نر ورکوي، مشر د دوی سهر عقيدت لري.

ښاغلي پروفيسور قاسم مظهر:

د پښتو ژبې ګڼ شاعران لري چې د ژوند د ترجمانۍ هر يو پوره پوره دعويدار ګرځېدلی دی ولې ددې حقيقت نه انکار هرګز نشي کېدای چې رحمان بابا ته کوم شهرت او مقبوليت حاصل دی، دا تر اوسه سره د کوششونو چا بل شاعر ته نه دی حاصل شوی چې چېرې پښتون يا پښتو پوه موجود وي هلته به رحمان هم وي.

ګران او قدرمن ښاغلی ډکټر شيرزمان طايزي وايي:

د رحمان بابا د شاعرۍ عوميت د رحمان بابا د خپل شخيت داسې پټ کړی دی لکه د لمر د شغلو شاته چې نمر نه ښکاري خو که څوک ددې مقبوليت سوب لټوي نو هغه به ددې څېړنې جواب هم د رحمان بابا ديوان کې ومومي.

پروفيسور افضل رضا:

د کلام شخصيت ښکاره د کلام په آينه کې

د چا د شخصيت اندازه لګول د هغه ځای کې ګرانه وي چې په کردار او ګفتار کې يې فرق وي د خولې او زړه د تر منځ فاصله بې ېډره اوږده وي ولې ستر عبدالرحمان بابا لکه د آئينې بې رويه، بې ريا دی، د هغه هر چاته چې وړاندې دي څوک يې ددې ضرورت نه محسوسوي چې د زيرون او مرګون نېټې يې ولټوي هغه مړ نه دی، ژوندی دی بې علمه يې شعرونه د متلونو په توګه وايي. عالمان يې کلام د خپلو خبرو درنولو لپاره تېروي او لويو وړو داخيال دی چې هر چا ښه شعر به رحمان بابا وي.

ښاغلی شيرشاه ترخوي کاږي:

شعر د هغه احساس دی چې د يو شاعر جذبات راپاروي او د هغه په اوربېدو سره د نورو خلکو وجداني کيفيت مؤثر کېږي؛ خو دغو الفاظو ته داسې ترتيب ورکول په کار دي چې انسان په رسوچ او فکر مجبور کړي چې خپل ګريوان کې وګوري او خپله اصلاح پخپله وکړي په دې هکله رحمان بابا څه به دې اظهار کړي دی:

اې رحمانه! د بلبلو ژبه زده کړه

پس له هغې به صفت د گل اندام شه

بابا عبدالرحمان د یو ښه معالح په حیث د هغو انځونو علاج کوي د خپلې خوږې ژبې په ذریعه کوي.

ښاغلی سلیم راز:

رحمان بابا فطرتاً او بنیادي طور یو ملنگ خویه موړ سترگی او قناعت پسنده انسان وو، خو ددې دا مطلب هېڅکله نه دی چې هغه د خپل محیط نه سترگې پټې کړي وي یا په خواو شاه کې یې چې څه کېدل د هغه نه یې اثر نه اخیستو یا خموشي یې پرې اختیار کړې وه او تش عبادت یې وظیفه کړی و. نه هېڅکله نه، هغه د داسې بې علمه او ریا کاره شیخانو ځایی په ځای غندنه کړې؛ لکه چې وایي:

دریا تر ناقبوله عبادته

د ساقي په میو مست د خراب خونې یم

پروفیسور ډاکټر راج ولي شاه خټک نظر درلود:

د ذهني ادراکاتو او جمالیاتي کیفیاتو نه راوتلي د رحمان بابا ډېر داسې شعرونه هم شته چې ځای تحریري تصورات وړاندې کړي په یوه کرښه دوره کې د خپل ذات اظهار د رحمان بابا فني کمال دی خو کله کهل بیا هم د مولانا دویم هغهی اظهار ته رانږدې شي چې:

خاک بر فرق من بر تمثیل من

پروفیسور محمدالله دانش آباد:

د رحمان بابا یو عاشق و، یو رینښتني ستی عاشق، د هغه سروکار له عشق و، د ذات پات رنگ او نسل له تغیر نه بې پروا بې له عشقه نور له هرې پابندۍ او ځینې آزار همدغه سوب دی چې د هغه په کلام کې هم د عشق او محبت خبرې اترې دي د عشق د لار و، د نازکو نازکو مرحلو منازلو، مسئلو، وارداتو او کیفیاتو تذکرې دي.

پروفیسور  محمد یعقوب وایي:

رحمان بابا د باړې په غاړه که په بهادر کلي کې وزیږېده؛ نو د علم او مشاهدې په طلب کې تر هغه بوخت وو چې د ځان په معرفت ورسېده، د خالق، مخلوقاتو، کائیناتو، دنیا او انسان یې ښه ژوره مطالعه وکړه مجاز یې وڅېړلو ښه جاج مې واخیستو نو پوه شو  د مجاز په معشوقو کې وفا نشته، دا هزار ځکه وکښلی دی دا قال.

ډاکټر شیرزمان طایزی:

د رحمان بابا کلام چې کومه ساده ګي ده رواني ده، او خوند دی هغه یو پیغام لري د مینې پیغام یونیورسل دی، آفاقي دی، خکه دا په اورېدونکي ښه لګي او په پوهېدونکی خوږ، ددې هر څه خلاصه رحمان بابا داسې بیان کړې دي:

د رحمان کلام په دا سبب شرین دی

چې یې هر کلام، کلام دی د اخلاص(۲۳۷)

ډاکټر سید عظیم شاه خیال بخاري مرحوم؛

رحمان بابا درواغ ته وایي، شاعرانه بوس یا دی نه کوي د هغه په کلام کې ډېر شعرونه داسې دي چې هغه د قران پاک د آیتونو یاد حدیثو نو معنا ښندي یا د یدو تعلیماتو وضاحت کوي یا یې ترې استباط کړی دی، په لنډو ګنډو الفاظو به داسې ووایو چې د رحمان بابا د مقبولیت او لوړتیا او د بابا ګڼل کېدو وجه د هغه عالمانه، ناصحانه او قلندرانه کردار دی.

پورفیسور ډاکټر اقبال نیسم خټک:

د رحمان بابا د فن معیار ډېر زیات اوچت دی ځکه چې هغه د خپل فن ا ساس انسان او د هغه ژوند ګرځولی دی او ددې غټ تهیم د فن د پاره څه کېدای شي؟ که څوک د وایي چې د رحمان بابا د مقبولیت راز د هغه په اسنه او خوږه ژبه کې پروت دی نو وایي دې خو زما خیال دا نه دی زه وایم چې د رحمان بابا د فکر سپېڅلتوب د هغه د کلام تهیم د خپل فن سره خلوص او د بیان اعجازي انداز چې را غونډ شي نو بیا به د رحمان بابا د شعر منکر څنګه اعتراض وکړي.

رحمان بابا چې د ژوند په کومه موضوع طبع آزمایي کړېده د هغه په هر رنګ کې مخاطبه انسان ته کړې ده او په تېره دا یو شعر خو د هغه د بشردوستۍ دا مثال دی چې بل څوک یې نشي پیش کولی.

واړه د خپل ځان په نظرګوره که دا نایي

اې عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمان دی

رحمان بابا په انسانانو کې د درجه بندۍ او طبقاتیي تقسم قابل نه دی او که قابل دی نو بیا ددغه درجه بندي اساس د هغه په نزد درجه بندي دغه اساس د هغه په نزد د درجه بندۍ دغه میزان کاڼي سپېڅلي او راقع کردار دی او ددې ړومۍ پورې د انسان او حیوان تر منځه د فرق کرښه راښکل دي:

په آدم کې د انسان خويونه هم شته

بيا هله يې آدم بوله چې آدم شي

سهريار داغ ليکي:

رحمان بابا چې په کوم ماحول کې سترگې غړولې وې؛ نو په دغه ماحول کې هم ژ،ند ته د حرص ولالچ زورگيرۍ او د طبقاتي کشمکش کشالي پيښې وې خو د رحمان بابا ذهن د هغه ماحول غلام نه وو، هغوی عامو مسلمانانو ته د خپلو خوږو اشعارو په شکل د قران پاک او احاديث نبوي په رڼا کې داسې تعليمات وړاندې کړل چې تر ننه پورې د انسانيت د اخلاقو د تعمير وسيله گڼل شي او فيض ترې حاصلېږي.(٢٦٦)

پروفيسور ډاکټر اعظم اعظم:

د عشق په موضوع باندې چې هغه څه وئيلي دي هغه به کله بنده د خيال په يو قدم د فرش نه عرش ته ورسوي او کله د عشق کائنات د مزکي سرته راکوز کړي او دغه وجه ده چې رحمان بابا کله د حقيقت د جنتونو بلبل شي او کله د مجازي مينې د چمنونو فرش آوړازه موسيقار، خو مينه که حقيقي وي که مجازي، نغمې که د حقيقت وي که د مجاز، د رحمان بابا عظمت او انفراديت هر ځآن خپل شان او رنگ قايم ساتي.

پروفيسور محمد الله خليل:

رحمان بابا ددې قام وی مصلح او يو ريفارمر وو، په علمي طبقه د رحمان بابا دومره اثر دی چې هېڅ يو تقرير، خطبه، وعظ، نصحيت، يا عامې خبرې اترې د هغې پورې نيمگړې بولي تر څو چې په کې د ثبوت په ډول د مثال په ډول او يا په څه خبره د زوراچولو په خاطر، د رحمان بابا شعر نيم يا کله کله خو پوره پوره غزل د دنيا په تاريخ کې يې موندل گران دي

هغه زړه چې له طوفانه په امان وي

چې کښتۍ غوندې د خلکو باربردار شي

پروفيسور داورخان داوود:

د پښتو په قدم ادب کې د رحمان بابا ديوان د يو شهکار په حيث يوجوت مقام لري چې د يو کلاسيکې فنياري واړه خصوصيات او صفات يې په خپله لمن کې په بشپړه طريقه ځای کړی دی.

حيبب الله رفيع وايي:

رحمان بابا په داسې له س سیاسي او اجتماعي نارامیو نه ډک محیط کې سترګې وغړولې هر څه یې لمس کړل درک یې کړل حس یې کړل، ترې متاثر او پرې متاثر شو او همدا سبب دی چې دده کلام کې دې پېښور آزانګه وکړل او دده دا ژوند انځورونکي ونیا دا نظریه ماتوي چې ځینې کسان رحمان بابا ته بې غرضه او ګوښه ګیر صوفي وایي.

پروفیسور محمد قاسم مظهر:

د رحمان بابا شعر ته موږ ګورو نو انتهایي آسان ښکاري او چې حوک یې لولي نو وایي به چې داسې خو هر څوک وئیلي شي لیکن که ورته ووئیلي شي چې ښه ده یو داسې آسان شعر خو ووایه نو بیا به د تښتې روګو درګوري او همدغه د ښه شعر کمال ګڼلی شي.[1] پروفیسور محمد یعقوب خان:

رحمان بابا د مینې او د ښکلو قدردان، چې د دوریشۍ او قلندرۍ ژوند او اختیار کړو هغه مقام یې وموندو چې باچایان ورته په پښتو کې پراته وي، غنا او فقر یې کچکول نیکي او مینه یې وظیه صبر او زغم یې خوراک، مشاهدې حقایق او افعات یې داسې بیان کړه:

چې دا نور شاعران کاندي هغه نه کار

رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی[2]

اروانښاد پوهاند عالمه استاد حبیبی وایي:

رحمان بابا د خپل عصر او چاپیریال په ادبي روایاتو کې سره رانغښي سړی و او ده له دري ادبیاتو څخه ډېر څه لوستي او رااخیستی دي" ( د رحمان بابا مومند یاد:۹)

ـ اکاډیمسین ډاکټر عبدالواحد سرابي:

د رحمان بابا از آن خبه سرایایشکرانسبت که نه تنها بحیث شاعر ګزیده منطقه ها بلکې محیث شاعر زیده خاور زمین در بزرګترین انسایکلوپسدی های جهان جا ګرفته است و در بزرګترین مراکز خاور شناسي جهان برا افطار و اثارش پژوهش ادامه دارد.( بېلابېلو لیکوالو مقالې)[3]

پوهندوی دوکتور عنایت د کاپل پوهنتون د پخوا کلونو کې رئیس:

---

[1]- رحمان پوهنه، ۱۹۹۳م، رحمان ادبي جرګه، پېښور، نیوشهزاد پرنټېرز. محله جنګي بایوحیدر روډ. ۳۱۳

[2]- رحمان پوهنه، ۱۹۹۳م، رحمان ادبي جرګه، پېښور، نیوشهزاد پرنټېرز. محله جنګي بایوحیدر روډ. ۳۲۲

[3]- ، کابل کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي.

که څه هم رحمان بابا ډېر مشهور دی دده په ژوند او اثارو په ختيخ او لوېديځ کې د کتابونو رسالو، مقالو او... په ترخ کې ډېر کارونه شوي دي، دغه کارونه په ځانګړي ډول په رووستيو دوو پېړيو کې پيل شوي او پرمختيايي موندلی ده"[1]

ــ د پښتو څېړنو بين المللي مزكز له پيغام نه:

" د رحمان بابا په نظر  همدغه ترحم او زړه سوی او په مقابل کې يې بې رحمي او زړه سختي يعنې موم دلي او سنگ دلي دده په صوفيانه او شاعرانه ژبه د حلال او مردار حلال خور او مردار خور تر منځه يوه بېلوونکې پوله ده؛ لکه چې وايي:

هر مارغه چې د بل غوښې خوري مردار دی

ځآن حلال کړه لکه زاڼه شاهين مه شه

استاد پوهنمل بايزيد اڅک:

" د ښتو متونو استادان رحمان بابا د ښتو صوفيانه غزل استاد د عشق او جمال شاعر بولي دغه ستر شاعر وايي:

دا جهان دی خدای له عشقه پيدا کړی

د همه وو، مخلوقاتو پلار دی دا

څو د عشق په ميخانه داخل نه کړم

پخته نه دی دغه فقل خام زما

پوهاند دوکتور الف شاه ځدران وايي:

" د رحمان بابا د شعر ځباند استعداد درلود او په وينا کې يې داسې سحر نغښتی دی چې د هر ذوق خاوند يې له وينا ځانته خوند اخلي".[2]

کاند اکاډيميسن پوهاند ميرحسن شاها:

---

[1]- عبدالحی حبيبی، ١٣٦٩ د عبدالرحمان مومند ياد :٦.

[2]- عبدالحی حبيبی، ١٣٦٩ د عبدالرحمان مومند ياد ١٨

" رحمان بابا شاعري است توانا نیرومندی ماهر رفیق ترین انسانی را به سلیس ترین عبارت می توان بیاورد بطوریکه از هر جا باشد چون بخواند از آن لذت برد".

ته چې ماته وایي په څه کوي ژړا

نه رامعلوم مېږي دغه ستا جوړو جفا ده[1]

اکاډمیسن اروانباد پوهاند استاد عبدالشکور رشاد:

" انګریز ختیځ پوه هانري جارج راورټي ( ۱۸۲۵م ـ ۱۹۰۴م) په ګشن روه کې د رحمان بابا څو غزلې اخیستې دي، پوه په کې دغه یوولس بیتیزه غزله ده":

ګاهي ځان په غرمه سوځي

ګهي ریږدي په ساړه

یا هم:

کله مري له لوږې تندې

کله مري په ډېر خوړاړه

استاد ددغه څېړلې[2]

اکاډمیسن دوکتور جاوید:

" یکی از سخن طر از آن و ستارګان قدر اول زبان پر حلاوت و صلایت پشتو رحمان بابا شاعر شرین کلام و سخنور عالیمقام سده دوازدهم هجري قمري است، اسن شاعر آزاده و صوفي منش با طبع و فاد ذهن روشني خود با نازک خیالی ها، مضمون اندیشي ها، باریک بینی ها، نکتب پردازیها، تصویر سازي های هنرمندانه، ماهرانه و شاعرانه خود، چنان اشعار رنګین و نمکین سروده که به جراأت میتوان آنرا در ردیف جواهر نظم شرق و غرب و شاهکارهای ادبي جهان قرار داد".[3]

کاندید اکایمسن محمد صدیق روهي:

---

[1]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۳۰

[2]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد۴۲

[3]=- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۴۷

" د رحمان بابا شعر یو کتاب سبس دی چې د غمونو بار سپکوي، زړونه تصفیه کوي، رنځېدلو او کړېدولو ولسونه ته تسلې او زخمونو یې ملهم ږدي، رحمان بابا د یوه فقر ځپلي ولس زړه ته لار د خپل پیغام په وسیله لار پیدا کوي ددغه پیاام اصلي جوهر مینه او محبت دی، عشق او محبت نه یوازې د انسان د نجات وسیله ده بلکې د جهان د تکوین او لومړنۍ محرک هم دی.

دا جهان دی خدای له عشقه پدیا کړی

د جلمه وو مخلوقاتو پلار دی دا[1]

پوهاند دوکتور جلال الدین صدیقي:

" بد نیال شرح و منازعات زنده جانان در ادبیات یاد شده در بالا رحمان بابا با تاسف و ناامیدی به این جهان نگریسته و فساد این دنیا را در همین می بیند"[2]

کاندید اکاډیمسن پوهاند استاد محمد رحیم الهام:

" د حمانا بابا په زیاترو بیتونو کې آن د یوه غزل په ډېرو بیتونو کې د خیال صورتونه بېلابېلې ډولنه په پېډره خوندوره، ساده او طبیعي شانته ژبه څرګندېږي. که د رحمان بابا شعر په مقایسوي توګه نه بلکې په منفرده بڼه په نظر کې ونیسو، په اکثرو مواردو کې زموږ په اذهانو کې له اشنا معمولي او عادي شیانو او کوایفو سره د نویوالي احساس را ژوندی کوي، زما په نظر د رحمان بابا د شعر ډېره خاصه ممیزه داده چې دایم له متضادو او متناقضو شیانو او امورو څخه داسې ترکیبونو جوړه وي چې د لوستونکو په ذهنونو کې په ډېر قوت سره مګر په ډېر طبیعي بڼه ښکلي فکري سنټېرونه تشکلیوي، رحمان بابا وایي:

دنیا دار که مستغي په سیم وزر دي

هنرمند لره ګنج د خپل هنر دی

زلمی هېوادمل سرمحقیق استاد زلمی هېوادمل:

شاه فرد های دفتر شعر عبدالرحمان مومند به گونه ضرب المثل زبان زداکتر به و نوایي یاد کرده اند. چنانچه ویرا به صفات سلطان الشعرا واف ( بلبل» سر حلقه شعرا و لسان الغیب توصیف نموده اند یا دری هیوز

---

[1]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۵۸

[2]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۹۷

خاورشناس گفته بود جایکه زبان پشتو گونیده گانی دارد در انجان اشعار شاعر محبوب رحمان بابا نیز رایج است و شنیده می شود."[1]

کاندید اکاډیمسن ابراهیم عطایي:

" د ر حمان بابا شعر د تفسي تزکي او اخلاقي پند پیغام وړاندې کوي او په خپل دغه کار د هنر آفرینی او اخلاقي پند پیغام وړاندې کېږي او په خپل دغه کار د هنر آفرینی آسمان ته زینې ږدي"[2]

ـ اروانښاد سرمحقق دوست شینواری:

" څوک چې د رحمان بابا له سبک سره آشنا وي، له هغه سره ددغه ستر صوفي شاعر دغه خصوصیات په نظر کې وي:

۱ـ رحمان بابا په ساده روان او سلیسله پښتو ژبه ویلي دي د هغه په ژبه حتی نالوستي پښتانه هم پوهېږي دده کلام له نامانوسو، پېچلو او رکیکو کلماتو او عباراتو سره بېخي نا آشنا دی.

۲ـ رحمان بابا همدغه شان د قافیو د جوړولو لپآره عربي کلمې نه تحریفوي یعنې هغه نه پښتو کوي.

۳ـ د شعر د وزن او تول تال لپاره د رحمان بابا په کلام کې د کلماتو تحریفول ځای نه لري.

۴ـ د فورم ښکلا له مضمونه او د مضمون ارزښت او لطافت د فورم له ښکلا څخه نه قربانوي".[3]

ښاغلی لیکوال زرین انځور:

" د رحمان بابا اخلاقي شاعری او یاد پند او نصیحت د شاعری اساسي موخه د انسانیت او آدمیت د تکمیل خوړاته د خپلو خلکو لارښونه ده... د بابا د پند او نصیحت شاعري د خلکو د ژ،ند په بېلابېلو خواوو پورې اړه پیدا کوي او اوږدو زمانو راهیسې یې پښتانه لولي"[4]

پوهاند دوکتور استاد مجاور احمد زیار:

" د رحماان بابا ټولنیزه ژبه روانه او ساده ده، متریک اړخ خو یې په هره توگه د ټولنیزو پښتو شعر غوندې یو څیر،

---

[1]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۹۵

[2]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۱۲۴

[3]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۱۴۴

[4]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۱٦۱

خجیز، بنسټ ټینګ ولاړ دی... د رحمان بابا شعر دومره ببېچلتیا نه لري او دا چې تصویر او تخیل یې دومره پېچلی نه دی نو ښکاره ده چې اړوند ژبني استرونه( وییونه، ګړنې، غونډلې...) یې ساده، بې ابهامه او ډېرو ته د پوهېدنې وړ دي".[1]

محمد اکبر کرګر لیکوال او محقق:

" د رحمان بابا دروان د قبیلوي شخړو او بې اتفاقیو دوران هم دی بې امنیتي، بې نظمي، او د وخت د مستبدینو له خوا بې رحمانهه استثمار زمانه هم ده.. جوتېږي جې د رحمان بابا فکري جوړښت د وخته مسلسلې ایډیولوژۍ څخه اغېزمن دی" ( یاد : ۲۰۴)

سر محقق جنتي شینواری:

" رحمان بابا د خلکو په ژبه شعر ویلی دی او له خلکو سره یې راز شریک کړی دی خلکو ته یې شعر ویلی دی او خلک یې په ځان راټول کړي دي او همدا وجه ده چې په پښتو کې داسې کور به ډېر لږ وي چې دده دیوان په کې نه وي او داسې پښتون به نه وي چې له نامه سره یې لږو ډېر آشنا نه وي د بابا شهرت په پښتني خاوره کې محصویاتي بلکې کوزې نړۍ ته هم غزېدلی دی" .[2]

سر محقق علی محمد منګل:

" زه به دا اتو یا نهنو کلو په منګ وم چې د کلي ملاصیب به د رحمان بابا شعرونه په ډېر خوند او زړه وړونکي غږ سره کلیوالو ته لوستل په جومات کې به ډېرو سپین ږیرو ورته ژړل او...".[3]

محقق نورمحمد سهیم:

" تر ټولو د مخه ددې خبرې یادول ضرور اسیي چې رحمان بابا ( ۱۰۴۲ ـ ۱۱۲۸ هـ ق) د پښتونخوا هغه منلی صوفي شاعر دی چې د خپل خوږ شعر په قوت یې د ټولو پښتنو زړونه تسخیر کړي دي ددغه تخسیر علیت تر ټولو د مخه دادی چې رحمان بابا له یوې خوا په خپل عزم کې ریښتنی دی او پّ هېڅ راز رویو ریاته غاړه نه ږدي لکه ونه مستقیم پّ خپل مکان دی".[4]

---

[1]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد، ۱۸۰

[2]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد، ۲۰۸

[3]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۲۲۲

[4]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۲۳۲

دوکتور خالق رشید:

" د رحمان بابا شعر ته په پښتو کې ادبي بهیر پښتني او نړیوالي ټولنه کې د خپلو تلپاتې ارمانونو په خاطر کلاسیک او منل شوی شعر ویلای شو؛ ځکه زموږ په ټولنه کې چې کله زموږ ماشوم قلم او کتاب لاس ور اوړده وي، جومات او ښوونځي ته ځي، درس وایي، د رحمانا بابا له شعر سره آشنا کېږي، د هغه شعر زمزمي او ا نګازې یې بیا د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې په خوله کې وي...".[1]

پوهنمل استاد آصف بهاند:

" رحمان بابا پښتو کلاسیکو ادبیاتو د درنې پګړۍ په سر هغه ټومبلي ګل دی چې ښکلا یې زوال نه لري او نګهت یې پای، دغه ګل تر اوسه پورې نه دی مړاوی شوی او هماغسې د پښتني د بڼ ریپ و سینګار او ښکلا ده"[2]

پوهنیار احمد شاه:

" رحمان بابا د زړه په دولت، دولت مندو او په همدغه دلوت یې ژوند کاوه هغه څوک وو چې ځان پناه کړ او بقا یې وربانديې وګټله او له مرګ نه وروسته یې ژوند وموند او داسې ژوند چې تل به له موږږ او راتلوونکو نسلونو سره غږېږي".[3]

محمد نبي صلاحي:

" د پښتو ژبې عالمګیر شاعر رحمان بابا باندې تر اوسه پورې د مطبوعاتو پّ نړۍ کې څه نا څه لیکنې شوې دي چې دده د شاعرۍ په دنیا کې لکه په منه کې د مشتقال مثال لري؛ ځکه دده د شاعرۍ په ګلشن کې چې سړی هر څومره په غوره سره د ګلچینۍ وکړي؛ نو په پای کې بیا هم دې ته وهڅېږي چې د انتخاب په توګه دده له ټول ګلشن دیوان څخه کرښه راتاو کړي".[4]

آغلې غوټۍ خاوري:

" د رحمان بابا دیوان مې ټول ولوست او د لوستلو په ترڅ کې مې په کې ځینې پښتو او دري متلونه وموندل..

---

[1]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد:: ۲۴۵

[2]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد: ۲۵۸

[3]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد:: ۲۷۲

[4]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد:: ۲۸۰

ځینې متلونه مې د پښتو متلونو په مهینو مجموعو کې وهم وکتل..او اوس یې له لازمي تشریح سره راوړم:

۱ـ له ورځ تېرې اوبه بېرته نه را ګرځي(متل)

۲( تر ورخ تېرې اوبه بېرته نه جاروزي(متل)

نه جار وزي تېر ساعت په بېرته بیا ( شعر[۱]

محقق میراحمد ګوربز:

" د رحمان بابا لنډی سوانح عجب خان په شعر کې راوړي دی، دی د رحمان بابا سوانح کې لیکي په بهادر کلي کې یو ځوان چې خوښ ارواح خان به نامه یادیده او دا د مومند نامتو خان و، ده دوه زامن لرل، چې د یوه نوم عزیزخان او د بل یې عبدلرحمان و، عزیزخان د خانۍ په کارونو لیګا وو، عبدالرحمان رباب سره ډېره مینه لرله، شپه او ورځ په رباب وهلو او ترنګولو مشغول و" [۲]

پروفیسور ډاکټر حنیف خلیل:

" د رحمان بابا په شاعرۍ د کلهم انسانیت د پاره د امن دخوشحالۍ، نیکۍ او ښېګڼې پیغام په ډېره ښه طریقه ورکړ شوی دی؛ ځکه نو انسانیت شاعر ورته وایي".[۳]

یوسف علي دلسوز د کوزې پښتونخوا لیکوال:

" د رحمان بابا یوه هغه مقبوله هستې ده چې د دوی ملفوظات پښتانه د قدر ورګڼې او په ځپلو خبرو کې یې د مثال پّ ډول وړاندې کوي ځکه چې رحمان بابانه یواځې دا چې شاعر دی بلکې هغه د برخې خاوند بهترین عالم دین شیخ القران شیخ الحدیث او د فقهې په اصولو یوه هستي وه چې د هغوی په کلام کې دغه ټول خواص ځای پر ځای بریښي"[٤]

سلیم راز د کوزې پښتونخوا لیکوال او شاعر:

" رحمان بابا چې په پښتو ژبه عالمګیر یادېږي، پښتو یې د تخلیقي اظهار او د فکر و نظر د بیان ژبه ده خو

---

[۱]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد:۲۸٦

[۲]- عبدالحی حبیبی، ۱۳٦۹ د عبدالرحمان مومند یاد:۲۹۸

[۳]- خلیل، حنیف، ۲۰۱٦م. مضمون نګاري، ایم ای پښتو ( دویم کال) لسمه پرچه لوی کورس) پېښور: یونیورسټي پبلشرز، افغان مارکیټ قصه خواني. ۳۵

[٤]- رحمان پوهنه، ۲۰۰۵م ( د لیکوالو د مقالو مجموعه) پېښور وحدت پرنټرز: سریزه

چونگه فکري میدان یې وسیع او نظري پرواز یې ډېر اوچت و؛ ځکه شاعري یې د خپل ماحوال د رنګ او آهنګ لرلو با وجود کائیناتي وسعت او عالمي تناظر لري" [1]

داورخان داود:

د رحمان بابا د کلام مهم اړخ خود کلامي ځان ته مخاطبه یا ځان سره خبرې کول د ډارمي یوه اهمه اصطلاح ده او یو داسې ډراماتیک دی چې ځینې وخت یو کردار دقیقې وړاندې بوتللو د ی‌پاره ځان سره خبرې کوي"[2]

عبدالکریم بریالی، د کوزې پښتونخوا لیکوال:

" رحمان بابا د ژوند یو داسې کردار دی چې هېڅوک د هغه له نظر پټ نه دي".[3]

استاد محمد آصف صمیم:

" رحمان بابا ژ،ند یوه ټولګه او کل ګڼي او دهغه په هر اړخ کې یو شان ښایست او ښېګنه پیدا کول غوړاړي او ددې په وړاندې د ټولو هغو خبرو غندنه او مخالفت کوي چې ښکاري، ناوړتیا، غرصوت، ځانپالنه یې همتي او د فکر او نظر ټیټوالي ترې پیدا کېږي".[4]

ډاکټر میاسهیل انشأ د کوزې پښتونخوا لیکوال:

د رحمان بابا تعلیمات پّ دې ټولو ټولنو کې یو شان اثر او نفوذ کوي که اوس ذهنونو ته جلا بخښنې او د ظم جبر نا انصافي او ټولنیزو نا همواری په تحریک کې دولس فکري ترجانی کې د یو روڼ مثال کار کوي، د بابا بل لوړ عظمت دادی چې منکر، زاهد، عابد، صالح او د ژ،ند نورو طبقو سره تړلی ټولو انسانانو ته دده کلام اپیل کوي".[5]

مفلس درانی، د کوزې پښتونخوا لیکوال:

" نو رحمان بابا څو توره تر ملانه کړله، خو د قلم په څوکه بې پرې دالفاظ د خنجر داسې ګوزار ورکړو چې تر کومې د مغل قام نوم ژوندی وي، ددغه زخم نه به ونیي ځاخې.

---

[1]- ( رحمان پوهنه: ۱۲)

[2]- ( رحمان پوهنه: ۲۷)

[3]- ( رحمان پوهنه: ۳۵)

[4]- ( رحمان پوهنه: ۵۰)

[5]- ( رحمان پوهنه: ۹۰)

په سبب د ظالمانو حاکمانو

کور وگور و پېښور درې واړه يو دي

شيرشاه تر خوی، د کوزې پښتونخوا ليکوال:

" بعضي خلک رحمان بابا ته د مجذوب نسبت کوي خوب مجذوب ليونی ته وايي، رحمان بابا مجذوب ته وو، هغه يو ديني عالم مصلح او مفکر و د هغه په ونيا کې زما تر فهم او فکره چېرته هم د مجذوبيت آثار تر نظره نه راځي ځکه چې هغه هره خبره کړې ده نو په ټول پوره او د انسانيت ترجماني يې کړې ده؛ وايي:

ته چې خپله بې عقلي هوښياري بولې

کاشکي بيا مومي دغوښتو پّ نرخ شولې

دور، گور په تله نه دي چا تللي

د رحمان شعر گوهر دی، څه يې تولې[1]

محمد زبير حسرت د کوزې پښتونخوا ليکوال:

" رحمان بابا يو علي صوفي دی او مذهب سره ژ،ره علاقه لري د هغه ايمان مضبوط دی او ماسوا سره کار نه لري خو د خپل ذات شخصيت د فنا کولو قائل نه دی ځکه چې د هغه په نزد د سترگو د کامل انسان د ښکلې نامې سزا وار دی او هغه د رسمونو رواجونو قابل هم نه دی( رحمان پوهنه: ۸۳)

حنيف خليل، د کوزې پښتونخوا ليکوال او مشهور محقق استاد:

" رحمان بابا انسان او ځناور په دوو ډلو کوي؛ نو هغه د عقل شعور، پوهې او ادراک په جواله کوي دلته به د وضاحت لپاره د رحمان بابا څو شعرونه راخلو:

له اطاعته له گناهه

ځناور نور څه نه ده

څه خبر وي ځناور

يا يې خوب وي يا يې څر

---

[1]- ( رحمان پوهنه: ۸۰)

یا دا چې:

چې د خدای له معرفته خبر نه شوم

معلومېږي چې یابو یم یا دواب یم

که صورت مې د سړي شي زه یې څه کړم

په معنا کې د چارپایو په حساب یم[1]

یوسف علي دلسوز د کوزې پښتونخوا لیکوال:

" د حق جذبه چې له ازله ده د رحمان بابا په آثارو کې له اونله څرګنده ده او هغه حقیقي عشق پیدا کوونکي جذبه ده او د حُسن وجمال سرچینه ده.

ګوره هسې ګردګار دی رب زما

چې صاحب دی کل اختیار دی رب زما[2]

قمر طایزی د کوزې پښتونخوا لیکوال:

" رحمان بابا خپل بیان کې.... یا خالق، حُسن و جمال ما د عشق لاره ځکه غوره کړې وه چې د هغه بصیر په رڼا کې تا ماته ا ندام راکړی و، ما د عشق مقام پېژندلی و او د رزمي ستا مخلوق ته هم ښکاره کړې وه".[3]

و آسمان ته لاس د عقل نه رسېږي

دا خو عشق دی چې په عرش کرسي قدم ږدي

ځدران متظر صافی د کوزې پښتونخوا لیکوال:

" رحمان بابا د انسانیت شعور را بیداروي او د شاعرۍ په موثره ژبه کې ورته داسې غږ کوي؛ لکه چې فرمایي:

تاته خدای د ملائیکو مقام در کړو

---

[1]- ( رحمان پوهنه: ۱۰۰ـ ۱۰۱)

[2]- ( رحمان پوهنه: ۱۳۸)

[3]- (رحمان پوهنه: ۱۴۳)

ته دا خپل صورت په خپل صورت په خپله ګاو خر کړې[1]

نسیم خان نسیم، د کوزې پښتونخوا لیکوال:

" بابا جي خو د هر چا باباجي دی او بیا چې دا وینا یا د چا په زړه وي:

دا چې زه و تاته وایمه که خدای کا

په آیت و په حدیث کې به څرګند وي[2]

سلیم راز د کوزې پښتونخوا شاعر او لیکوال:

" د پښتو شاعرۍ په حواله چې څومره د شهرت، مقبولیت او مجبوریت د رحمان بابا په برخه رسېدلې ده د بل چا نه دی نصیب شوی، حقیقت دادی چې درې دریې نیم سوه کاله تېرېدو یا یو څه رحمان بابا شاعري په فکري او فني لحاظ تازه شو او د عصري تقاضاوو مطابق ده.[3]

جمشید مومند کوزې پښتونخوا لیکوال:

" زاهد الرحمن سیغې او نور راغلی دی"[4]

ډاکټر محقق راج ولي شاه خټک کوزه پښتونخوا:

" فنون لطیفه مین صرف شاعري اور ادب کوپناني مین، رحمان بابا عقیدت و محبت کې اظهار کا، بهی ثبوت هی اوراس سنګین ماحول مین سنګین مزاج و فطرت رکهتي والون کې د لول کې نرمي او لطافت کاپهلو بهی عیان هی"[5]

ایوب صابر کوزه پښتونخوا:

" رحمان بابا کې درویشي او قلندري هر قسم کې و شبه سي بالاترهي کیا اینی اورکیا بیګانی هی ـ لیکن آن کی ایک شعر کرایسی معنی پهنانی کی هی حسکی تائید اور تردید هی بهت کچه کها ګیاهی وه شعر یون

---

[1]- ( رحمان پوهنه: ۱۴۹)

[2]- ( رحمان پوهنه: ۱۵۷)

[3]- ( رحمان پوهنه: ۱٦۱)

[4]- ( رحمان پوهنه)

[5]- پښتون السان الغیب رحمان بابا. ۲۰۰۰م کال، د اوردو او پښتو مقالو مجموعه، محله جنګي پېښور پښتو اکاډمي: ۵

هی:

زه عاشق یم سره کار مې دی له عشقه

نه خلیل، نه داودزی یم نه مومند[1]

رضا همداني کوزه پښتونخوا:

" احترام، آدمیت کې مقابلی مین رحمان کسی ذاتی و جاهت یا مال و متاع کې چمک دمک کواهمیت نهی دیتا ان کې خیال مین انسانیت نهی هی زرویم کی غلام

سونی کائبت بنام فکر انسان نه بن سکا[2]

عبدالکریم بریالی کوزه پښتونخوا:

" د رحمان بابا کې شاعری مین وه، غم معمولی قوت پوشیده هی حبس نی هماری زندگی که هر تجربی کا ادراک ممکن بنا دیاهی اسی لس رحمان بابا شاعری کسی بهی جذبی اور احساس کو سمجهنی کی لی قدم قدم پرهماری رهنمایی کرتی هی".[3]

فضل معبود کوزه پښتونخوا:

" رحمان بابا نی عالم و فاضل هونی اورایک ممتاز حیثیت خاندان کافر د هونیکی با وجود درویشانه زندگی بسرکی".[4]

سیدعابد شاه عابد، کوزه پښتونخوا:

" د رحمان بابا ایک درویش صفت انسان اورایک بهت برمایی مصلح نهی، محبت اور، انسانیت کی داعی نهی، په سب بجا اور برحق هی" السان الغیب( ۱۰٦)

نورشاه جهان انور د کوزې پښتونخوا:

" په عشق کې بوخت رحمان بابا د مینې داسې غزلې لیکلي دي چې هر ثوک یې د خپل زړه آوړاز گڼې د

---

[1]- ( پښتو السان الغیب : ۱۵)

[2]- ( پښتوون،لسان الغیب: ۴۲)

[3]- ( پښتون ٦۹) دویم ټوک

[4]- ( پښتون السان الغیب: ۸۲)

عشق حقيقي سندرې يې نه صرف وييلي دي، بلکې عمل هم پرې کړی دی" ( پښتون: ۱۳۲)

سمندر د بدرشو، کوزه پښتونخوا:

" د عامې داده چې د شاعر شعر په کوزه کې سمندر وي لوی مضمون وي لکه د بابا علیه الرحمة دا وروستی شعر په واخلو چې:

په دنیا کې ډېر حکمت دی

پرې پوهېږي حکما[1]

محمد پرویش شاهین، کوزه پښتونخوا:

" د رحمان بابا کلام د تصوف یو ښکلی ګلستان دی او دا کلام زیاته برخه د تصوف قرآن او حدیث سره اړه لري"[2]

لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبی مبارک نظر درلود:

" رحمان بابا د پښتو صوفیانه او عاشقانه تعزل استاد دی آن تر دې اندازې چې ده ته د عشق او جمال شاعر ویلای شو، وایي چې ده له موسیقۍ سره هم عشق درلود او په خپله یې هم رباب غږاوه یعنې ده د آرټ دوه مهم توکي سره یو ځای کړي وو هم د کلماتو د انسجام او معنی د پروربښت آرټسیټ و هم د ږغولو د ترتیب د ترتیب د رباب په تارو کې هنرمندو او دا خبره دده هنري استعداد ښه ښکاره کوي، صوفي شاعر همېشه د عل نارسایي د حقایقو په لیدنه کې ویني او ګوري چې ډېر پریټ اسرار شته چې د انسان عقل یې له درکه څخه عاجز دی نو له دې جهته رحمان بابا هم لکه نور صوفي شاعران د عقل او له هر کارې حخه د عشق او محبت حریم ته تښتتي؛ نو وړایي:

څو د عشق په میخانه یې داخل نه کړم

پخته نه دی دغه خام عقل زما

بل ځای داسې وایي:

لاس د عقل و آسمان ته نه رسېږي

[1]- ( پښتون السان الغیب: ۱۴۹)

[2]- ( پښتو السان الغیب، ۱۵٦)

دا خو عشق دی چې په عرش کرسي قدم ږدي[1]

پوهاند دوکتور محمد اسماعیل یون:

" د رحمان بابا عشق داسې یو سیلاب ګڼي چې هر څه له مخې پسې وړي او هېڅ بنده ورته د ټینګي نه دي هر چې ژغوري سرومال په عاشقي کې".[2]

الحاج عبدالباقي هيله مند غزنوي:

" د قرآنکریم معجزه بزرگ آسماني خویش میخوانیم" هو محکم انیها کنتم.." و هم چنان و نعحت فیه من رومي" که کلام کهربار حضرت رحمان بابا درپرتو روشنایي همین

نصوص مبارک الهی بیان شده و بالاخره شاعر از مقام حیث هم بالا رفته و از نور سیاه معرفت چون لاله سرخ قلبش به داغ نشیند و می گوید:

دا همه ولاړه حجاب دی چې لیده شي

نور د حسن بالاتر دی له ادراکه[3]

پروفیسور ډاکټر محمد حنیف خلیل کوزه پښتونخوا:

" د رحمان بابا دور او زمانه یقیناً چې د علم او ادب روښانه او زرین دوره بللی شي؛ ځکه په دغه دوره کې د پښتو کلاسیکي ادب ښه په عروج کې و."[4]

سلیم راز د کوزې پښتونخوا لیکوال:

" د رحمان بابا د شاعرۍ که د خپل وخت تاریخي تناظر معروضي حالاتو او سماجي شعور په حواله مطالعه کړای شي؛ و دا حقیقت به څرګند شي چې د هغه په شاعرۍ کې د هغه دوره جدلیت ګراف خپل ځان ښي او فطري صداقت ښکلا په کې فني ښکلا د صداقت سره غاړه غړې ده"[5]

---

[1]- حبیبي، عبدالحی، ۱۳۷۸ د ښتو ادبیات لنډ تاریخ، کندهار، علامه رشاد خپروندویه ټولنه. ۴۳

[2]- یون، محمداسماعیل، ۱۳۹۴ کتاب الشعر اولس نورې لیکنې کابل: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي ځانګه.

[3]- غزنوي، عبدالباقي من، ۱۳۸٦ ، عرفاني رحمان بابا، کابل، کتاب فروشي کابل.: ۲۴

[4]- خلیل، حنیف، ۲۰۰۵م، د رحمان بابا مطالعه، پېښور، یونیورستی.: ۳۳

[5]- راز، سلیم، ۲۰۱۳ رحمان بابا یوه فکري مطالعه پېښور، یونیورستی پریس: ۴۱)

شرشياه تر خوی، کوزه پښتونخوا:

موږ هغه ته د مرۍ د رګ نه هم زيات نږدې يو؛ نو ځکه شاعر انسانيت حضرت عبدالرحمان بابا رح وايي:

څه حاجت دی چې ويل خواته غواړم

په ځپل کور کې همکنار دی رب زما[1]

محمد آصف صميم افغان ليکوال:

د خليل تر کعبې دا کعبه ده لويه

که اباد کا څوک ويران مرم د زړه

خليل، دوست ملګری او يار ته وايي، خليل، خليل الله او خليل الرحمن د ابراهيم ع لقبونه دي،[2]

ارواښاد دوست محمد کامل مومند:

په دې خبره کې اختلاف کېدای شي چې د پښتو د ټولونو لوی شاعر څوک خو په دې خبره د ختيځ او لويديځ د پښتو ادب ټول عالمان او ناقدان متفق دي چې تر اوسه رحمان بابا د ټولو زيات مقبول او دلعزيز دی.

اوراښاد استاد ګل پآچا الفت:

د خيبر او تيرا له غرونو هغه خوا د پېښور په بهادر کلي کې يو فقير پښتون اوسېده چې خبرې يې شعر او شعر يې حکمت و؛ رحمان بابا د هغه څوک دی چې د عفلت له خوبه د بلبلو په آوړاز راويش شو او د زړه مراقبه يې د ګلو له غونچو زده کړه په زړه کې يې د پاک خدای د مقدس عشق لمبې بلې وي او له ژبې يې سوزان شعرونه راووتل.

سر محقق استاد دوکتور سيد محی هاشمی:

د رحمان بابا شاعري پيغام عام او اغيزيي هر اړخيز دی موږ ته د پند نصيحت ننګ، غيرت، قناعت، سخاوت، زيار، رحمت او رياضت خبرې کوي د يو حکيم فلسفې او مفکر انسان په توګه يې زموږ اخلاقي او روحاني رنځونه درمل هم راينبي او د يو ستر اجتماعي خواخوږي مصلح په خبره دنيوي او اخروي نيکمرغيو لارې چارې هم را

[1]- ترخوی، شيرشاه، ۲۰۰۰م، رحمان او قران پېښور، وحدت قصه خواني، پرنټرخيبربازار.:۳۹

[2]- صميم، محمد آصف، ۱۳۹۵، د رحمان بابا ديوان نوم ښود، د جلال اباد مومند خپروندويه ټولنه: ۵

په ګوته کوي.

سر محقق دوکتور سیدهاشمي:

هر وګړی چې د رحمان بابا شعر لولي یا اوري نو ایي چې دا خو یې خاص همدا زما لپاره ویلی دی ځکه چې هر چاته یې په کې خپل دردونه او د ژوند ربښتنی انځورونه ښکاري همدغه یې د شعر عظمت کرامت او اعجاز دی او حق لري چې په ځغرده ووایي:

چې منکر پرې اعتراض کولای نشي

دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز[1]

مولانا عبدالقادر د کوزې پښتونخوا:

" د رحمان بابا د چا، خان ریس یا پادشاه نواب قصیده خواني نه ده کړې او په دې معنا سره دی د دنیا د ډېرو شعر او وو څخه لوړ دی دده په کلام کې دا هم نه ده چې د چآپیر یا بابا کسر او وایي دا د مجلسانو شاعر او کار دی.[2]

پوهاند دوکتور زیورالدین زیور:

" د رحمان بابا یو صوفي مشر به شاعر او په دې دنیا کې یوازې د جمال او عشق ستاینه کړې ده هغه بې له عشقه بل هېڅ شی نه پېژانده مینه دده د روح غذا او شعر یې د زړه د رنځ دوا وه[3]( ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره ۲۴۲)

سر محقق استاد دوکتور سید محی الدین هاشمي:

د رحمان بابا شاعري د فصاحت او بلاغت له ډېرو غوره او بې ثارو بېلګو څخه برخمنه ده د بابا په دیوان کې کې فصاحت او بلاغت د بېلګو شمیره ډېره زیاته ده لکه:

هسې ناست یم وچ ګوګل سترګې په نم کې

---

[1]- هاشمي، سیدمحی الدین. ۱۳۸۰هـ، د عبالرحمان بابا رح دیوان( سریزه او تصحیح سید محی الدین هاشمي: پېښور، حیات آباد، صاحبزاده خپرندویه اداره.(سریزه)

[2]- عبدالقادر، مولانا، ۱۹۴۸م، دیوان، حال لاهور.

[3]- زیور، زیورالدینو ۱۳۹۰هـ، د ښنتو ادبیاتو تاریخ درېمیه دوره، پېښور: ارباب روډ.۲۴۲

عشق زاوښود تجرو بر په خپل حرم کې[1]

**میرعبدالصمدخان، کوزه پښتونخوا:**

" ادمي سی تمام تره رعا آدمیت هی، نه یه که اس کی سرپرطره یامسواک هو"

د سړی نه غرض واړه سریتوب دی

نه چې سرته طره وي یا مسواک[2]

ـ پروفیسور ډوکټور محمد زبیر حسرت:

" د پښتانه خو خوپل دې ملنګ او پښتو شاعر سره دومره لري چې ځینې وخت ورپسې پرېږي بیتونه هم منسبو کړي یا که چېرته متل، ټپه او محاوره وایي؛ نو وایي به چې رحمان بابا څه ښه ویلي دي او بیا پّ هماغه متل، ټپه یا محاوره ووایي.[3]

ـ دادمحمد غنابي د ادب او فرهنګ رئیس:

" د رحمان بابا دیوان په پښتو ژبه کې یو ډېر ارزښتناک ادبي متن دی چې یې دیني، اخلاقي، عرفاني او ټولنیزې مسألې دي"[4]

ـ حامدکرزی، د فغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس:

" انګریز مستشرق پادري هیوز دده په باب په حقه ویلي وو، چېرې چې پښتو ژبه ویل کېږي، د رحمان بابا ساحرانه وینا به ضرور هلته انګازې کوي".[5]

ـ د سیدمخدوم رهین، د اطلاعاتو او فرهنګ وزیرپیغام:

" د مینې دده سترګې و غړولې او دنیا یې په نوي نظر ولیده.

د رحمان بابا په عاشقۍ کې سترګې وشې

---

[1]- هاشمی، سیدمحی الدین، عبدالرحمان بابا کلیات، پېښور قصه خواني، ساپی پښتو خپروندویه مرکز.

[2]- ( شاعر انسانیت: ۱۲۵)

[3]- ( د بابا فکري مکتوب: ۸)

[4]- د رحمان بابا د سیمنار مقالې: ۱۳۹۴، کابل: ازادي مطبعه، د فرهنګ او ادب ریاست: سریزه)

[5]- ( سیمنار:۳)

چې څوک وايي عاشق ړوند دی هغه خوارشه

ده د انسانيت اصلي څېره په معنويت کې ليده، نه په دولت او ثروت کې...

انسانيت څه په دولت نه دی رحمانه

بت که جوړ شي د سروزور انسان نه شه[١]

پيام اکاډمي علوم افغانستان:

" ارى رحمان بابا قبل از آنکه يک اديب و شاعر و دانشمند يک خودشناس و يک خداشناس که نظير بوده زير اسرا سر ديوان مبارک او قصه عشق است..."[٢]

د پيښور آکاډمۍ پيغام:

" د رحمان بابا چې د عشق په فلسفه پوه شاعر دي، هم د عشق د لارې رهبر دی، د هغه عشق د مخلوق د مرحلې نه د خالق تر مرحلې يوه داسې نيغه او پاکه لاره ده چې د بينادم پرې د اخلاق تر آفاقي معياره رسيدی شي".[٣]

ـ د کابل پوهنتون پيغام:

" رحمان بابا خپلې پاکې مينې د مليت او قوميت له تنگ چوکاټه ايستلی او لکه چې وايي:

زه عاشق يم سروکار مې دی له عشقه

نه خليل، نه داودزی يم، نه مومند

ـ رحمان بابا د قومي بيوند ليوال نه دی، دده په نظر د مينې له پيونده پرته نور ټول پيوندونه بايد غوڅ شي.

ـ بې له عشقه که مې عيب که مې هنر دی

ما غوڅ کړی دی له خآنه بل پيوند[٤]

---

[١]- ( سيمنار:٦)

[٢]- ( سيمنار فرهنگ: ٨)

[٣]- ( سيمنار فرهنگ: ١۴)

[٤]- ( فرهنگ سمينار٢١)

د ښوونې او روزنې پوهنتون پيغام:

" عبدالرحمان بابا زموږد هېواد هغه صوفي او منلی شاعر دی چې ددیوان ډېوې یې په هر کور کې بلې دي او تر ډېره حده یې شعرونه د خلکو په ذهنونو کې ژوندي دي".[1]

پيغام پوهنتون هرات:

" رحمان بابا از آن دلبستگان به عشق الهی است که خط يې از یاد آفریدگار جهن غافل نمی باشد و چون کوه در این را استوار است.

لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم

که خزان رابانديې راشي که بهار[2]

ـ د ننگرهار ادبي ټولنه و جریده افغان یووالی ( سرمحقق عبدالله بختاني) د رحمان بابا راست می گفت و راست می زیست مانند سرو آن او سرسبز و تازه ابرارستی از ادگي تازهگي و سرفرازي یافت و از راستی زندگی جاوید نصیبش گردید.

بزرگان فرهنگ ما راست فرموده اند:

زمده جاوید ماند هر که نکو نام زیست

کز عقیش ذکر خیر زنده کند نام را[3]

ـ پوهاند دوکتور استاد عبدالقیوم قویم:

" بیان طنز آمیز فاني را در شعر رحمان بابا نیز میتوان یافت؛ بخاگه گوید:

زه و زاهدانو ته حیران یم دوی و ماته

دیوانه به ده خندد وده به دیوانه

شاید منظور رحمان بابا انگشت انتقاد گذاشتن بر صوفیانی باشد که صوفیان واقعی ښودند و یاد در...

---

[1]- ( فرهنگ سمينار: ٢٢)

[2]- ( سمينار: ٢٥)

[3]- ( فرهنگ سمينار: ٢٨)

تر ما لا په دلبرانو ډېر مين دی

چې خبرې کړي د کشف و کرامات

د ريا له زاهدۍ زما توبه ده

چې يې کاندي ځوک رسم و په عادات[1]

سر محقق علی محمد منګل:

" لسان الغيب رحمان بابا خو عالمګير شهرت لري، دده د شاعرۍ سکه له څه کم څلورنيم سوه کالو راهيسې په پښتونخوا او ټوله نړۍ کې شهرت او لوړ ارزښت لري؛ خو چې جهان ودان وي، دغه اميله سکه به نور ارزښت زياتوي؛ ځکه منکر يې نه ليدل کېږي" [2]

څېړنمل محمد عارف غروال:

" رحمان بابا د پښتو ژبه هغه شاعر دی چې تر بل هر شاعر يې د اشعار و قلمي نسخې زياتې موجودې دي او ديوان يې په بېلابېلو وختونو ک ېتر بل هر شاعر زيات چاپ شوي دي" ( سمينار: ۷۲)

سر محقق نيلاب رحيمي:

" رحمان بابا صوفي و ارسته و سخنور آزاده از شعرای طرز اول زيان ادب پښتو است همه کس ژرفنای انديشه و بلندی بنيش و سراور در مقامات تعتبل ستوده اند سخن او رسا و بيانش زيبا است" ( سمينار فرهنګ: ۸۲)

ليکوال او څېړونکی پوهاند رازقي نړيوال:

" صوفي عبدالرحمان عافل بنده د تنبيه کولو لپاره هغه د يوم الحساب ورځې ته داسې متوجه کوي:

ورځ دې تېره په غفلت کړه، شپه له خوابه

خدای به کله يادوې خانه خرابه

دلته دم و قدم دواړه په حساب دي

پل غلط له لارې مه ږده په حسابه( سيمنار: ۹۲)

---

[1]- ( سمينار: ۳۹)

[2]- ( سمينار: ۴۴)

ارواښاد نصرالله حافظ، نطاق او ليکوال:

" رحمان بابا زما د شاعرۍ پير او پيشوادی او زه د هغه حقيقي مريد د بابا مبارک ديوان زما د يوازې والي د وخت ډېر خوږ ملګری او ښه مرکه کوونکی دی". ( سمينار: ۹۸)

پوهنمل اميرمحمدي شنډنډی د کابل پوهنتون استاد:

" رحمان بابا خپله ټولنه او محيط ښه مطالعه کړي دي، په دردونو يې ښه خبر دي او همدا راز شعرونه يې هم جوړ کړي دي".[١]

سرمحقق عبدالواحد واجد:

" بابا په اشعارو کې پندونه او نصيحتونه ډېر دي، اجتماعي او اخلاقي خواو وې يې ډېرې دي اشعار يې په ادبي لحاظ موزون مقفي او د ادب په ټولو فنونو آراسته او سمبال دي".[٢]

جنرال عبدالصمد مومند:

" د انسانيت دغه ستر علمبردار او ژوند د رنګونو مصور عبدالرحمان بابا که چېرې موږ ته د دين اسلام د يو سپېڅلي مبلغ په توګه په خپل کلام کې په دې وينا سره مخ راښکاره کوي، چې:

دا چې زن يې درته وايمه که خدای کا

د قران او دحديث نه به څرګند وي"[٣]

محمدشاه کټوازی:

" د رحمان بابا د شاعرۍ ډېر پرخه پند، نصيحت او وعظ احتوا کوي چې ددې کار د اساسي موخه او هدف د انسانيت د تکميل خوا ته د خپلو خلکو لارښوونه ګڼل کېږي".[٤]

خان محمد شرفيار:

" د رحمان بابا روان، ساده او عام فهمه کلام د فن او هنر يوه ښکلي تابلو او هر شعر يې د ژوند د حقايقو يو زړه

---

[١]- ( سيمنار: ۱۴۵)

[٢]- ( سيمنار: ۱٦۲)

[٣]- ( سيمنار: ۱۷۴)

[٤]- ( سيمنار: ۱۸۰)

راښکونکی انځور دی. رحمان بابا د مکان او زمان له قید څخه آزاد، یو واقعي رښتنی عاشق دی چې له مجازي مینې څخه د حقیقي مینې درشل ته رسېدلی و؛ وایي:

زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه

نه خیل، نه داود زی یم نه مومند"[1]

پوهنوال احمدشاه زغم:

" د رحمان بابا کلام لکه پښتو متل د کاڼي کرښه ده هر څوک او هرې ژبې خاوندان د خیا او هنر لا مستندوالي و خوندورتوب لپاره هرو مرو بابا د کلام یوه یا دوه کړي وايي او په تېر دا بیت:

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم

که خزان راباندې راشي که بهار[2]

پوهاند احمد شاه زغم:

" رحمان بابا د خپلې لارې په اهدنا الصراط المستقیم ور برابر او د یو رښتین مومن په توګه د اسلامي عرقان تبلیغ کوي او خپل هنري تحریک د اسلام په چوکاټ کې پر مخ بیایي او د استاد کامل مومند خبره د رحمان بابا د تحریک مذهبي او عملي اړخ د پښتنو ذهنونو او دماغونه را بیداروي".[3]

داد محمد عُنابي:

" رحمان بابا د مفاخر علمي و چهره درخشان عرفان و تصوف و متعلق به فرهنگ اسلامی ما است... رحمان بابا هم شاعر است و هم عارف. مسایل ادبي، فلسفی و اجتماعی رانیک می دانند و در اشعار خود از آن بهره می گیرد".[4]

محمد ولي ځلمی:

" عشق او خدای پېژندنه دوه ډوله ده یو یې منفي صورت دی چې په هغه کې دنیا پرېښودل او د هغه سره علاق

---

[1]- ( سیمنار: ۱۸٦)

[2]- ( سیمنار: ۲۰۲)

[3]- ( سیمنار: ۲۲۷)

[4]- ( سیمنار: ۲۳۵)

سلول او بل مثبت صورت دی چې په هغې کې له سلوک، زیار د نفس د تربیتي، الهي مینې پوهنې سره سروکار دی چې دغه دویم ډول عشق زموږ د افغان متصوف رحمان بابا په سلوک کې ښه څرګندېدلای شي؛ لکه:

نه ملکونه د سلیمان په هزار کاله

نه یوه کړي طاعت په دې دنیا

یو نفس د خدای په یاد اولی تر دی

نه د درست جهان دولت په دا دنیا

که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی

ګنه نشته بل اطاعت په دا دنیا".[۱]

پوهنمل دوکتور محمداجان حقپال:

" دا یو منلی حقیقت دی چې د رحمان بابا ( ۱۹۴۲ هـ ق ۱۱۲۸هـ ق) د پښتو ادب په آسمان کې یو ځلانده ستوری دی چې په عامو او خاصو دواړو کې تر ټولو غوره او مشهور شاعر ګڼل شوی دی".[۲]

پوهاند دوکتور محمد حسین یمین:

" رحمان بابا که خود سبق خو آن بستان انسان ساز تصوف وار رهروان بزرگ و عرفان در سده ۱۱ ـ ۱۲) هجري می باشد کلامش پر از نکات ارزنده، اخلاقي و تعلیمي نیز است؛ وی در سراسر دیوانش زمینه های مختلف عرفان را به گونه دقیق توضیح و تفسیر کرده است. چنانکه در عرفان فنا آخرین مقام عارف در رسیدن به بقا و به مرتبه وحدت الوجودي است، رحمان بابا در زمینه گفته است.

چا چې سر دی په سجده و یار ته اېښی

دوباره دې له سجوده قیام نه کا"[۳]

پروفیسور دوکتور راج ولي شاه خټک:

---

[۱]- ( سیمنار: ۲۵٦)

[۲]- ( سیمنار: ۲٦۰)

[۳]- .( سیمنار: ۳۲۱)

" رحمان بابا شاعري د خپل انداز او اسلوب یو داسې عجیبه فن دی چې تر لاتر اوسه د تنقید د اصلاحاتو په چوکاټ کې پوره چا نه ده راګیره کړې شوې ده د هغه په شعر کې د خبرو فن، مرغلرې چې په کوم انداز، تربیت او مناسبت او تناسب پیرل شوې دي، هغه څک د رحمان بابا کرامت ګڼي..."[1]

حنیف خلیل:

" رحمان بابا د خپل افاقي او قران تصور نه ثابته کړې چې حسن د عشق نه زیږېدلی دی دا تاثر رحمان بابا په دې لاندې بیت کې هم بیان کړی دی:

غلبه د عشق بانه د حسن غواړي

تور شپه عاشق ته زلفې د خپل یار شي".[2]

محمد اعظم اعظم وایي:

" د موضوعاتو په لحاظ د رحمان بابا شاعری زیاته برخه عشقیه ده او دا موضوع په خپل خپل سمې او دخ پل فکر ا ندازې مطابق د هر بنده د خوښې موضوع ده او په دې موضوع باندې ستره او سپېڅلې شاعري کړې ده".[3]

ایازالله ترکزی:

" رحمان بابا چې د حضرت خصر علیه السلام تذکره په کومو شعرونو کړې ده هغه شعرونه ستاسو د وړاندې کېښودل غواړم:

لکه خصر هسې پاڅه

اوبه وڅښه د بقا"[4]

امیرحیدرخان هوتي؛ وزیر خیبر پښتونخوا:

" رحمان بابا د ژبې، مذهب او نسل بالاتر خپله د مینې، محبت، یووالي، صبر، قناعت او اخلاقیاتو فلسفه د

---

[1]- ( د سیمنار: ۳۲۷)

[2]- خلیل، حنیف، ۱۹۹۷م، د رحمان بابا اعجاز: پیښور؛ قصه خوانای بازار.: ۳۷)

[3]- اعظم، محمد اعظم. ۱۲۵۳هـ، رحمان بابا د ولس شاعر، پیښور: پیښور یوینورستي: ۱۰)

[4]- تذکری، ایازالله، ۲۰۱۹م. رحمان او انبیاء پېښور اعراف پرنټرز، جنګي محله.: ۸۸)

خپل ولس نه پرته د پزی د نورو قامونو بلکې د ټول انسانیت لپاره د شعر پّ ژبه کې خوره کړې ده لکه چې وایي:

آدم زاد په معنا واړه یو صورت دی

هر چې بل آزاره وي هغه آزار شي".[1]

میان افتخار حسین وزیر ثقافت پېښور:

" رحمان بابا یو ربښتینی او حقیقي عاشق او درویش و او ټول ژوند یې د انسانیت خدمت او د خپل ولس د ښېګڼې فکر کړی دی د هغه په شاعرۍ کې د خدمت خبرې شوې دي؛ لکه:

واړه د خپل ځان په نظره ګوره که دانا یې

اې عبدلرحمانه جهان ټول عبدالرحمان دی".[2]

عظمت حنیف ورکزی، سیکرټری انفارمیشن و کلچر، خیبر پښتونخوا پېښور:

" د رحمان بابا شخصیت او پیغام یو بل سره غاړه غړې دي؛ ځکه د فکر له مخې ازلي او ابدي پیغام لري؛ د یوه سالک وینا ده:

چې جلوه ګر په څو څو شان دی

دا بابا عبدالرحمان دی"[3]

داورخان داور:

" دا خبره د رحمان بابا د شره افان کلام نه ثابته ده چې هغه په خپله ټولنه او چاپېریال کې د امن او امان داعي و، د جنګ سره یې جنګ و او له مینې سره یې مینه وه، پّ دې وجه هغه د خپل کور و کلي....

خدای دې وساته له هرې پرېشانۍ

اې زاد کور او کلي ودانی"[1]

---

[1]- رحمان پوهنه، ۲۰۱۲م، رحمان پوهنه څلورم ټوک، پېښور، رحمان بابا ادبي جرګه، یونیورسټي بک ایجنسي: ۴)

[2]- ( رحمان پوهنه: ٦)

[3]- . ( رحمان پوهنه: ۴ټوک: ۱۱)

ملک وزیر، کوزه پښتونخوا:

" رحمان بابا شیخ القران دی، شیخ الحدیث دی، د فقهې یو بهترین عالم، د طریقت د څلورو واړو سلسلو رواح روان، د خپل وخت عظیم مجاهد، د الله و الله د محبوب عاسشق او د یو رېښتوني غیور پښتون و او په خپل قام دومره مین دی:

چې کشور د افغانان معطر کړي

د هر بیت مصرعې مې زلفې د خوبا کړي"[٢]

سلمي شاهین، ډائریکټر پښتواکاډمي پیښور:

" په دې زمانه کې د زور او زور مقابله ده بنیادم په سلګو دی، کرکه او نفرت ډېر شوی دی دمګر د اور مړکولو لپاره دا ضروري ده چې مذهبي، روحاني او اخلاقي هستیو ته رجوع وکړی شي، د و هغو وینا واورېدل شي او عمل پوی وشي.

کر د ګلو کړه چې سیمه د ګلذار شي

اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه

چې همدا غشی به ستا په لور ګذار شي"[٣]

بهادرشاه ظفر کاکاخېل:

" اکثر خلک رحمان بابا یو داسې اتاریک الدینا او مجذوب ملنګ ګڼي، چې هر وخت به د عشق د جذب و جنون په نشه کې د ځان و جهان نه ناخبره و، ولې زما و ذهن ته خو دا خبره نه پریوزي او د رحمان بابا کلام هم ددې را بي مرسته نه کوي.

د تصوف کومې باریکي مثالې د عشق و محبت کوم نازک احساسات او لطیف جذبات او ساده ژبه بیان کړي، د

---

[١]- .( ۴ټوک، رحمان پوهنه: ۱۹)

[٢]- .( ۴ټوک، رحمان پوهنه:۴۰)

[٣]- .( ۴ټوک: رحمان پوهنه: ۳۷)

هغه نه صفا دا معلومېږي چې هغه هېڅرې هم د هوش و خرد لمن له لاسه نه ده پرېښې"[1]

قاضي حنيف الله حنيف، پښتو اکاډمي پيښور يونيورستی:

" کله کله شاعر رحمان بابا د ښايست د پيدا کولو لپاره د شعر اولنۍ الفاظ په آخر کې بيا دوباره راوړي او کله کله خو دغه نيمه مصرع دوباره راوړي.

مښک زما، زعفران زما، ستا د کوڅې خاورې دي

ستا د کوڅې خاورې دي، مښک زما زعفران زما"[2]

يوسف علي دلسوز، کوزه پښتونخوا:

" حضرت رحمان بابا که د خپلو شعرونو په آئينه کې وکتي شي، نو هر جاته به ثابته شي چې هغه يو ښه عالم، ښه محدث، ښه مفکر، مصلح او ښه مورخ انسان و؛ څکه هغه فرمايلي دي:

و هر چاته په خپل شکل ښرگندېږم

آئينې غوندې بې رويه بې ريا يم

بل ځای وايي:

د غنچې په څېر به سل ژبو خاموشه

لکه بوی هسې په چپه خوله گويا يم"[3]

پروفيسور ډکټور محجور خويشکی:

" د رحمان بابا مرام مجاز نه، بلکې حقيقت دی او هغه حقيقت چې تر هغې رسېدل نا ممکن دي رحمان بابا هم ددغې معشوقې د عُنقائيت ذکر داسې کوي:

د تدبير په دام به څه ښکلي گډ سوځي

[1]- .( ۴ټوک: ادبي جرگه: ۴۱)

[2]- رحمان پوهنه، ۲۰۱۲م، رحمان پوهنه څلورم ټوک، پيښور، رحمان بابا ادبي جرگه، يونيورسټي بک ايجنسي: ۷۹)

[3]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک: ۸۹)

معشوقه چې مې په مثل د عُنقا شوه"[1]

پروفیسور دوکتور شیرزمان طائزی:

" په دیني طرف رحمان بابا دې که د شک هېڅ نه دی پرې ابښی چې قران پاککې د الله پاک د لو او فلسفیانیي او بې وټه وجود څنګه ځرګندونه شوې ده، هغې نه پوره خبرو او هم روانه ده لکه د یو عالم سړی او خیالات یې عالمانه او فلسفیان دي".[2]

دوکتور همېش خلیل:

" د رحمان بابا د فن لوی کمال دادی چې هغه څه وخت د خپلو عامو احساساتو او جذباتو په قدرت د شاعر په کلام کې یوه داسې بې ساختګي پیدا کړې چې د عامو او د خاصو د پاره په یوه انداز د خوند او رنګ سبب شي"[3]

ډاکټر هدایت الله نعیم، کوزه پښتونخوا:

" څرنګه چې رحمان بابا دنیا ته له مختلفو زاویو نه کتلي دي او چېرته یې مال دولت ته پنا ویلي ده، چېرته یې ځمکه، آسمان ته، چېرته خلکو ته او چېر ته یې ژوند ته دنیا ویلې ده"[4]

پروفیسور فهم دل راهي، کوزې پښتونخوا:

" د عبدالرحمان بابا د اخلاقیاتو نظریه هم هغه نظریه وه، کومه چې د اسلام نظریه ده ولې چې هغه په خپله هم دا دعوه کوي:

که رڼا ده پیروي د محمد ده

ګنې نشته په جهان بله رڼا"[5]

---

[1]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک: ٩٦)
[2]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک: ۱۱۳)
[3]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک، ۱۲۴)
[4]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک: ١٦٢)
[5]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک: ۱۷۴)

استاد محمد آصف صمیم افغاني محقق او لیکوال:

" د رحمان بابا هنري او روحاني واکمني به یې تر هغې پورې د پښتنو په زړونو چلېږي؛ تر څو د مینې خدایي مینې نوم د هستۍ له قاموس نه ایستلی نه وي:

د شاهانو ورکړه لالا د جواهر وي

د ادب د خاوندانو د زړه وینې"[1]

پروفیسور سید غیورحسین، استرزۍ پایان( کوهاټ):

" رحمان بابا د خپل استاد صدیق د بې شمېره غزلو په ردیف او قافیه شعر ویلی دي؛ مثلاً:

په منصور به روایت د قتل چا کړه

که څوک نه وي خبردار دده له رازه( صدیق)

یا هم:

دې منصور دې حال ته ګوره حال یې څه شو؟

خدای دې خاش د هېچا نه کاندي پټ راز[2]

پروفیسور دوکتور پرویز مهجور خویشکی:

" کله چې رحمان بابا د یو عاشق په توګه د حسن په حواله تعداد سپین زشت او خوب تمیز نه بالا شي، نو د کثرت نه د وحدت په لور روان شي او بیا په هر څه کې د یو ښکلي تماشه کوي؛ لکه چې وایي:

سالکان چې د جهان تما شا کاندي

---

[1]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک: ۱۸۴)

[2]- ( رحمان بابا پوهنه، ۴ټوک: ۲۲۵)

له جهانه يې مطلب جهان آرائي دي"[1]

يونس قياسي کوزه ښتونخوا:

" چې مجنون غوندې په عشق کې صادق نه وي

زه رحمان وايم هغو باندې سلام

د رحمان بابا د شاعرۍ د مقبوليت يوه وجه دا هم ده چې هغه په خپله شاعرۍ کې د رياکارۍ او د چل ول نه کار اخيستی دی".[2]

اختر حسين خليل، کوزه پښتونخوا:

رحمان بابا صرف د پښتو ژبې لوی شاعر، لوی اديب او لوی ليکوال دی بلکې لوی لوی ليکوال دی بلکې يو لوی پښتون، لوی انسان، لوی اديب او لوی ليکوال دی بلکې يو لوی پښتون لوی انسان، لوی مسلمان، لوی ولي، لوی عالم، د الله او د الله ج د رسول لوی عاشق هم دی لکه څنگه چې د نړۍ گڼ انسانان د خپل ژوند او شخصيت گڼ اړخونه لري، دغسې د بابا هستي هم د ژوند گڼ اړخونه لري"[3]

ډاکټر ستارخان لواغري، کوزه پښتونخوا:

" د رحمان بابا تعليمات نه زړېږي، دا تعليمات چې څومره د هغه دور کې کار گرو دغه هومره نن کارگر دي. د رحمان بابا تعليمات په حقيقت کې زموږ د ټولو قاچي رنځونو علاج دی، هغه تعليمات د اسلامي حقيقي تعليمات دي، هغه وايي:

که رڼا ونه پيروي د محمد ده

گڼه نشته په جهان بله رڼا"[4]

د پښتو ژبې نامتو وتلی او صوفي شاعر و ليکوال، اميرحمزه شينواری:

---

[1]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک: ۲۴۲)

[2]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک: ٢٦٧)

[3]- ( رحمان بابا، ۴ټوک: ۲۷۸)

[4]- ( رحمان پوهنه، ۴ټوک: ٢٩٦)

" که موږ د رحمان بابا د شاعرۍ نه هغه برخه د وباسو کومه چې د تصوف سره تعلق لري؛ نو د رحمان بابا د کلام زکات به هم لاس ته رانه شي د هغه کلام نږدې نږدې ټول د تصوفي افکارو هینداره ده او د يو نقاد ا و متبصر د پاره ددې نه سیوا بله لار نشته چې هغه په اړخ د زیاتې نه زیاته رڼا وغورځوي".[1]

دوست محمدخان کامل مومند:

" د رحمان بابا صوفیانه شاعري د روښانیانو په شاعرۍ یوه ډېره لویه او قېمتي اضافه ده او اګر که د هغو د شاعرۍ نه یې لس چنده زیات شهرت او مقبولیت حاصل کړی دی".[2]

سیدتقویم الحق کاکاخېل:

" د ر حمان بابا زړه د دنیا نه داسې موږ کړو چې رحمان بابا پّ خوانه ځوانۍ کې د تصوف لاره ونیوه او د پو پیر نه یې بیعت وکړو، خو معلوم غواړې...

د بابا په نزد:

بې رهبره یون د عشق پّ لاره ګران دی

او ځکه چې هغه وایي:

بې مرشده څوک خبر د مرید اخلي

غوځ په غم د فرزندانو پدر بویه

بې ریباره رسېدل و یار ته ګران دي

په کوڅه د مهرویانو رهبر بویه

او ځکه چې هغه ځای په ځای د خپل پیر تذکره کوي:

---

[1]- شینواری، امیرحمزه، ۱۳۸۴، رحمان بابا، پیښور: د دانش خپروندویه ټولنې تخینکي څانګه. دولت محمدخان کامل تاریخي، علمي او ادبي جاج: ۳۵)
[2]- ( رحمان بابا: ۹۲)

زه رحمان د خپل صاحب په رضازیست کړم

څه به کار دی بنده بې له خپل صاحبه

یا دا چې:

زه رحمان د زمانې له جوره درو مهم

خپل صاحب لره په داد او په فریاد"[1]

د سالکانو وینا:

" د سالکانو وینا ده چې که د قران نه سېوا به پل څه لمونځ روا وای؛ نو د قران په ځای د رحمان په اشعارو به دوی لمونځ کولی، ښو ښو خلکو دده د دیوان په اشعارو فالونه نیولي دي، او د پټې خزانې مصنف خو وایي چې خلیل الله یا د شاه حسین کاتبان و رستوال او د پیښوره یې د عبدالرحمان علیه الرحمه د دیوان نقلونه راوړل او په کندهار کې علماوو او زهادو وکتل... د خدای دوستان د عبدالرحمان شعرونه ډېر لولي او خوښوي یې..."[2]

پروفیسور ډوکتور راج ولي شاه ختک:

" یو کوم سوز وگذار چې د رحمان بابا په شعر کې دی په هغه کې اصلیت دی او اصلیت هغه څیز دی چې د فن اصل پرې ټاکلی شي.

دا متل دی چې له درده زبیرگي خیژي

گنه څه وه د رحمان له شاعرۍ"[3]

پروفیسور ډوکټور حنیف خلیل:

" د رحمان بابا په شاعرۍ کې یو فکري تسلسل موجود دی په رومبي مرحله کې حُسن په مجسما توکه ویني،

---

[1]- کاکاخېل، سیدتقویم الحق، ۱۳۸۴هـ ق، ۲۰۰٦م، رحمان بابا( مقاله)، پیښور: د دانش خپرونديه ټولنه. ۴۹۴ ـ ۴۹۵)

[2]- عبدالقادر، مولانا، ۱۹۸۷م، ( دویم چاپ) د دیوان عبدالرحمان، پېښور: پښتو اکاډمي، جدون چاپ: ۴۰

[3]- ختک، راج ولي شاه. ۲۰۰۳م، د رحمان په شعر....پیښور: پښتو کاډمی، پیشور یوینورسټي، ملت ایجوکیشنل پرنټرز لاهور: ۹۳)

په ماده کې ورته د حُسن مناظر پّ نظر راځي، د فطرت د حسينو اجزاوو تذکرې په خپلو شعروونو کې لوي، د خپل مجازي محبوب خط و خال او ښکلا ستايي".[1]

يوسف علي دلسوز، سر سکتر رحمان ادبي جرګه:

" حضرت رحمان بابا د عوامو او خواصو هغه مقبول او په زړه پورې بزرګ شاعر دی چې په پښتنه مشاعره کې کې ورته ډېر د قدر په نظر کتلی شي او هر څوک يې شعرونه د خپلو خبرو په موقع پّ دليل کې پيش کوي".[2]

همېش خليل، ليکوال او محقق:

" د ر حمان بابا نظريه داده چې د اروګانو سر چشمه صرف او صرف ذات الهی دی چې هم د هغه په رضا او رغبت د خپل اصل نه جدا شول او اوس لګيا دي د فراق په عالم کې د خپل اصل د وصال په ارزو او طلب کې بيقراره دی:

بې صبرۍ د يار په هجر کې مهجور کړم

د سپرلي په مرغزار کې وچ ګياه يم"[3]

ډاکټر هدايت الله نعيم، کوزه پښتونخوا:

" رحمان بابا د دنيا په مدرسه کې د ژوند د کتاب هره پاڼه د سره د وو سترګو نه سربيره د زړه په سترګو هم لوستلې ده او دا و توهوا خاورې.. دد خوږو ترخو دې تجربه ګانو هر څه ته ابديت ورکولو د پاره ښې ډېرې تجربې کړې وي".[4]

د دوکتور پروفيسور پرويز مهجوز خويشکی:

" د رحمان بابا په شاعرۍ کې اګر چه عالم لوستونکی د پار د مجاز ګجايش به وي خو د هغه د ټولو شاعرۍ يو صوفيانه مزاج لري هغه چې چېرته مجاز ستايلی او ژړلی دی؛ نو دا هغه اصل کې حقيقت ستايلی او ژړلی

---

[1]- خليل، حينف، ۲۰۱۷م، د رحمان بابا مطالعه، څلورمه بره کورس پيښور: افغان مارکيټ. ۱۵۳)

[2]- دلسوز، يوسف علي، ۱۹۹۹م. رحمان ادبي جرګه( دويم ټوګ) قصه خوانيي پيښور: وحت پرنټرز: ۳)

[3]- ( رحمان پوهنه: ۴۸)

[4]- ( رحمان پوهنه: ٦٢)

دی".[1]

ډاکټر شیرزمان طایز کوزه ښتونخوا:

" د رحمان بابا غزل د لویدیځ نظم په څېر هم په یوه موضوع دی او هره موضوع په مثال د تمثیل، استعارو، تشبهاتو، تلمیاتو په ډېر هنر داسې اوبدلې دي چې هر څوک یې د خپل زړه آواز ګڼي".[2]

پورفیسور فهم دل راهي، کوزه پښتونخوا:

" د عبدالرحمان بابا د اخلاقیاتو نظریه هم هغه نظریه وه کومه چې د اسلام نظریه ده، ولې چې هغه د په خپله هم دا دعوی کوي:

که رښا ده پیروي د محمد ده

ګڼه نشته په جهان بله رښا".[3]

قمر زمان طایزی، کوزه پښتونخوا:

" رحمان بابا د عمر بې وفا یې داسې ښودلې ده:

په ساعت د سلو کالو یاري پرې کا

ګوره هسې یې وفا دی یار د عمر

نه د کوره چېرته و ځم نه سفر کړم

بې سفره مې غوځېږي لار د عمر".[4]

استاد محمد آصف صمیم، لیکوال او څېړونکی: "د رحمان بابا په کلام کې له سوونو اصطلاحاتو ځینې یو څو بېلګې او... «پر اور کښېناستل» یې قراري، نا آرامي...

[1]- (رحمان پوهنه: ۸٦)
[2]- ( رحمان پوهنه: ۱۰۵)
[3]- ( رحمان پوهنه: ۱۱۹)
[4]- صمیم محمد آصف، ۱۳۹۹م، رحمان ادبي جرګه. (دویم ټوک)، پېښور. ۱۲۹)

راشه عاشقي له کړ رحمانه او که نه وي

تل به په او ناست يې که بادشاه يې د جهان

پر بله پېښېدل له غم او مصيبت سره مخامخ کېدل.

خدای څوک د پېښ مه کړه رحمانه

په دا هسې رنگ بلا..."[1]

رسا، ميدان سيد رسول، کوزه پښتونخوا:

"د رحمان بابا د ديوان او د مضامينو له ترتيبه ويلی شو، چې دا يو داسې صوفي او بزرگ کلام دی، چې ټول عمر يا د عمر ډېره حصه يې په حالت جذب کې تېره کړې ده.

رحمان بابا مجذوب و، خو هوښيار مجذوب..." [2]

پروفيسور ډاکتر خليل:

"رحمان بابا په خپل شعر کې د کلهم انسانيت خير او ښېگڼې پيغام وړاندې کړی دی او همدغه خبره ده، چې د بابا کلام ته يې عالمگير مقبوليت ورکړی دی:

آدم زاد په معنا واړه يو صورت دی

څوک چې بل آزاروي هغه آزار شي

که د ونې په شان گل و ميوه غواړې

ځان په نمر کړه، سايبان د هر خاکسار شه..."[3]

استاد کامل مومند: "زما په خيال د رحمان بابا په حيثيت د صوفي د عظمت راز په خوږې او له خوږه ډکې شاعرۍ کې د خدای ج او د هغه د مخلوق سره د بې انتها مينې او محبت په اظهار کې دی. او دا د خدای او د هغه مخلوق سره محبت د تصوف داسې اصول دی، چې مذهب سره د مکمل مطابقت او د ډېرې پاکيزگۍ او

[1]- (رحمان پوهنه: ۱۷۳)

[2]- رسا، ميان سيد رسول، د عبدالرحمان بابا ديوان، پېښور: يونيورسټي بک ايجنسي، خيبر بازار: ۱۵)

[3]- خليل الله خليل، ۲۰۱٦م، د پښتو ژبې او ادب تاريخ، پېښور: قصه خواني، افغان جار: ۸۵

عظمت له کبله يې په حقه عام مقبولیت موندلی دی." [1]

سلیم راز:

د رحمان بابا بې شکه د تصوف او موقت شاعري کړې ده، خو هغه یې د روایتي صوفیانو د وینا په شان پیکه سیکه نه ده. د حسن او مینې ستاینه یې هم ښه په تکرار سره کړې ده."[2]

پروفیسور محمد یعقوب خان:

"د رحمان بابا د مینې او د ښکلو قدردان، چې د درویشي او قلندرۍ کوم ژوند اختیار کړو هغه مقام یې ومونده، چې پاچایان ورته په پښتو کې پراته وي. غنا او فقر کې کچکول، نیکي او مینه یې وظیفه، صبر او زغم یې خوراک... مشاهدې یې داسې بیان کړې دي:

چې دا نور شاعرن کاندي هغه نه کا

رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی..."[3]

اسلم مومند ایډوکیت:

د رحمان بابا فن د شعر د فن کمال د هغوی خپل انفرادي خصوصیت دی، رحمان بابا یوازې عالم، فاضل نه و، بلکې د یو حساس زړه او لطیف خاوند هم و، د هغوی له علومو او روحاني کیفیاتو نه د هغوی شاعري تر ډېره حده متاثره وه."[4]

سرمحقق، دوکتور استاد سید محی الدین هاشمي:

"د رحمان بابا په باب له ادبي او تاریخي څېړنو څخه څرګندېږي، چې لومړني علوم یې په خپل کلي او شوخوا سیمو کې لوستي او بیا په ځوانۍ کې کوهاټ ته تللی او هلته یې د لوړو دیني علومو د زده‌کړې تر څنګ له نومیالي عارف، صوفي او روحاني شخصیت «حاجي بهادر کوهاټي» څخه طریقه او لاسنیوی کړی، بېرته خپلې سیمې پېښور ته راغلی." [5]

---

[1]- مومند، کامل، ۱۹۵۸م. رحمان بابا، پېښور: اداره اشاعت سرحد: ۱۵)

[2]- راز، سلیم. ۲۰۱۳، رحمان بابا د یوه فکري مطالعه، پېښور: قصه خواني، افغان مارکیت: ٥٦)

[3]- محمد یعقوب خان. ۱۹۸۵م، غوړګه مجله. رحمان ادبي جرګه، پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي. : ۱۰۰)

[4]- (غړکه: ۱۰۴)

[5]- منګل اسیر، ۱۳۹۵، رحمان بابا کلیات،څلورم ټوک: پېښور: یونیورسټي، بک ایجنسي: څلورم)

دوکتور محمد اعظم اعظم:

"د رحمان بابا نوم د هغو مفکرینو په لړ کې راځي، چې د انسانیت په ترقۍ او معراج او د انساني ژوند په عظمت او لوړوالي یې ایمان وي او په بنیاد کې د لرې برې، خپل، پردی او تور سپین تمیز نه کوي، بلکه:

واړه د خپل ځآن په نظر گوره که دانایي

ای عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمان دی" [1]

اسیر منگل: "په دې دنیا کې څه څیز ښکاره دی کړه پټ او یا دواړو ترمنځ په ټولو خدای خبر دی."

که ظاهر دی، که باطن دی، که مابین دی

له همه‌وو خبرداری دی رب زما..." [2]

له مبالغې پرته د بابا له وخته تر اوسه، په تېره بیا په شلمه او یوویشتمه پېړۍ کې به په لکونو لیکوالو، بهرنیو او کورنیو پښتو او پښتو لیکوالو او شاعران د حضرت بابا رح په باره کې لړ و ډېرې لیکنې کړې دي، زه به د هغو لړو لیکنو جاج واخلم او را ټولې به یې کړم چې په شلمه او یوویشتمه پېړۍ کې په تحقیقي انداز کې شوې وي، دغه لیکوال د خدای بلا دی؛ خو ورکې ټاکنې کوم، کېدای شي داخلي او بهرني لیکوالان سره څنگ په څنگ راشیو ضرور نه ده چې بهرني او کورنۍ پښتانه او غیرې پښتانه لیکوالان دې سره جلا شي مهم هغه کره غوِ ټ تحقیقتونه او څېړنې دي چې را واخیستل شي، دلته یې راوړم.

اول ـ کوزه پښتونخوا لیکوال محمد اعظم اعظم چې د پېښور اسلامیه کالج پروفیسور دی دلته را اخلم.

**محمد اعظم اعظم**

رحمان بابا چې د پښتو ادب د کوم دور سره تعلق لري هغه د پښتو شاعرۍ زرين دوران بللی شو، داسې ښکاري لکه په دغه دوره کې چې د پښتنو سیمې ته د شاعرۍ ورح راکوز شوی وي او دغه روح چې په وجودي څېره کې ځان ښایي؛ نو د خوشحاله خان خټک، عبدالرحمان بابا، اشرف خان هجري، عبدالقادرخان، صدرخان، عبدالحمید مومند، معزالله خان او مصری خان گگیاني غوندې بلبلان د پښتو ادب چمنونو کې همنوا شي او دغه ټول چې یوه د ایره کې د راټول شي؛ نو پښتو شعر ته یو کلاسیکي او دایمي مقام وربښي.

---

[1]- اعظم، محمد اعظم. رحمان بابا د ولس شاعر، پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي. : ۲۹)

[2]- (د رحمان بابا کلیات: ۴۲)

ددې په پس منظر کې چې کومه تاریخي، ثقافتي، کورنۍ او بهرنۍ وجوهات پراته دي، په هغه ځای کې یو لوی کتاب لیکلی شو، ولې ددې حقیقت نه انکار نه شي کېدای چې دا د پښتو د زړې او لرغونې شاعرۍ د زوج او انتها دور وو، چې پ ّ کې دا دومره ستر او د پای شاعران لکه د ستورو په شان په یو ځان راغونډ شول، دا زمانه له مغلو سره د پښتو د پرله پسې کشالو او کشمکش زمانه وه او د اتفاقي خبره ده چې ددې کشالو او سیاسي تحریکونو شروع چې د چا نه کېږي هم د هغه او د هغه د ملگرونه د پښتو شعر او ادب ددغه نوي تحریک ابتداء کې.ي ددې تحریکونو سره د بایزید انصاري اورمړ چې د پیرروښاني او پیرتاریک په نامه سره شهرت لري) روحاني تحریک دی، ددې مذهبي او نیم سیاسي تحریک یانې بایزید انصاري خپل افکار او عقاید پښتو کې د خیرالبیان په شکل وړاندې کړل او د هغه مریدان دلوت الله لوانې، ارزاني او میرزاخان انصاري پښتو شعر ته د تصوف رنگ ورکړ چې د هغه په نتیجه کې په پښتو ادب کې د صوفیانه خیالاتو، رواج شروع شو، د روښانیانو صوفیانو شاعري له علمي اړخ سره جوتې ونې خوبي هم لري او په تېره تېره د میرزاخان انصاري دیوان خو په پښتو ادب کې د صوفیانه شاعرۍ شاهکار دی او یوه لویه برخه یې د تعزل ښایسته نمونه وړاندې کوي او دا روایت چې په یو منظم او سپېڅلي شکل کې چا وړاندې بوولي دي هغه د عبدالرحمن بابا دی. د روښانیانو او رحمان بابا صوفیانه شاعرۍ د ترون په برخه کې د ستر محقق ښاغلي دوست محمدخان کامل مومند ډېر د ستاینې وړ دی.

د رحمان بابا شاعري د روښانیانو په شاعرۍ پورې ډېره لوبه او قېمتي اضافه ده او اگر که د هغوی د شاعرۍ نه یې لس چنده زیات شهرت او مقبولیت حاصل کړی دی او د عقیدې، خیال او فکر د اختلاف نه علاوه د روښانیانو او رحمان بابا شاعرۍ کې دا فرق شته چې وړمبی علمي، نظري او حالي جذبي ده او دحال او قال او عمل عناصر په کې کم و زیات یو شان خواره لیده شي او پ ّ وروستیو کې د حال او جذب عنصر مقابله ډېر زیات غالب دی؛ خو د علم او ادب د تاریخي جاج اخیستلو اوله هغه پسه د بیان کولو د اصولو له رویه به بیاهم موږ د رحمان بابا صوفیانه شاعرۍ د روښانیانو د علمي او ادبي اثارو په تسلسل رڼا کې گورو او څارو.

لوی استاد کامل مومند صاحب  که په خپل تحقیق کې یو خوا دا حقیقت په گوتو کړی دی چې په پښتو ادب کې د صوفیانه خیالاتو او افکارو ابتداء د روښانیانو څخه کېږ ینو بل خوا د قبولیت او مقبولیت درجه رحمان بابا ته ورکړې ده او ددې مرسته به هر باشعور بنده کوي چې کوم شهرت او مقبولیت په پښتو شعر کې رحمان بابا ته حاصل دی په هغه کې ورسره تر اوسه بل څوک شریک شوی نه دی.

او آن تر دې چې د پښتو شعر او ادب تر ټولو نه لوی ښبتن خوشحال خان خټک هم په ولسی او عوامي پیمانه باندې هغه شهرت موندلی نه دی کوم چې رحمان بابا خپل کړی دی او ددې وجه هغه صوفیانه کلام ، کله هم

نشي کېدای کوم چې د رحمان بابا نوم سره مخصوص شوی دی او د هغه د شاعرۍ عمومي رنګ ګڼلی شي، په کوم رنګ چې رحمان بابا نومېږي او کوم رنګ چې رحمان بابا به ولس کې د یودرویش او بزرګ درجې ته رسولی دی، که ګمان پرې د ملنګۍ او بزرګۍ تصور لوی شاعر کړی نه دی بلکې حقه داده چې د هغه لوی سپېڅلې شاعرۍ هغه په خلکو کې یو بزرګ درجې ته رسولی دی.

د رحمان بابا د شاعرۍ له ټولو نه لوی جوت او خصوصیت د هغه د بې ساختګۍ او د هغه د بیان ساده ګي ده، د هغه لوړ تحیل او حقیقي جذبې چې څه پانګه راټوله کړې ده هغه یې ولس ته په یوه ښایسته او ښایسته ولسي لهجه او پیرایه کې وړاندې کړې ده. هغه د ولس دردونه په خپل ذات کې جذب کړی دي، د انسانیت مخونه یې په خپله سینه کې اخیستي او د خارجې ژوند غمونه، محرومي او المي یې په خپل وجود کې رانغښتي دي، دغه وجه ده چې هغه د خپل زړه په ساز کوم نغمه چېړي د هغه نه سوز بڅري راځېږي او هره خبره یې هر چاته د خپل زړه خبره ښکاري او هر څوک په د خپلو دردونو دوا لټوي.

ښاغلي مولانا عبدالمجید افغاني د بابا د کلام په هکله خپله رایه داسې څرګندوي:" د پښتون یو ژوندی او مست قوم دی، دده په خټه کې شاعري اخښلې ده، هر پښتو شاعر ده او هره پښتنه شاعره ده، میښلی ته ناسته او مصرعې به جوړه وي او د دیوان خاوندان هم ډېر دی مګر کوم مقبولیت چې رحمان بابا پیدا کړې ده، ددې مثال نشته د عبدالرحمان شاعري د معمولي میواني جذباتو اظهار نه دی او نه محض د ځوانۍ د بهارګلونه دي بلکې دده دیوان خوږ و زړونو ټوټې دي یا د خونې ځیګر قطري دي چې په کاغذ راجمعه شوي دي د هر خیال د سړي د پاره مشغولتیا نشته د هر ناسور د پاره په کې( د لماسو بوره پیدا کېږي).

رحمان بابا یو عالم او لوستی سړی و او د خپل وخت په مروجه علومو یې عبور لرلو او دا خبره د هغه د اشعارونه څرګنده ده. په فارس او عربي ژبو پوهېده او هم له دې امله کله کله د هغه په کلام کې دده فوټکی پېښې کوي او په ځینو ځایونو کې د فارسي او عربي ترکیبونو پرېمانه استعمال هم راشي ولې بیا هم په دې کې د شعوري زیار لاس نه ښکاري او له دې سره هغه د بیان په سادګۍ او پوست والي کې څه خاص فرق نه مخصوصېږي او دا هغه خاص شی دی چې ډېر ځاله زموږ په لویو شاعرانو کې هم ډېر کم موندلی شي او دې خوبۍ د رحمان بابا کلام ته یو ځانوالی او انفرادیت وربښلی دی او له له دغې امله دا وینا ډېر رښتولی او په ځای ښکاري:

چې منکرېږي اعتراض کولای نشي

دا د شعر دی رحمان که اعجاز

د رحمان بابا د شعر لویه برخه د غزلونو ده، څو قصیدې او مخمسه هم لري ولې نبیادي غور رحمان د غزل

شاعر دی، غزل دغه وخت په فارسي ژبه کې کمال ته رسېدلی و، په پښتو ژبه کې نوی نوی رابنکاره شوی و او د خوشحال خان خټک غوندې ستر او باکماله شاعر په کې د خپل فن، جوهر ښکاره کړ، خو په پښتون وګړي کې د ورد د عام قبولیت درجه رحمان بابا وکړه د هغه غزل که له یوې خوا د نوموړي د پاکو او لطیفو جذباتو او نادرتخیل او رنګین تصویرونه وړاندې کوي نو بل خوا د صفا، ساده او رواني ژبې او خوږ او پوست بیان خواږه ګبینونه ترې هم راڅاڅي.

د رحمان بابا عزل د رنګین خیالي او بې ساختګي یو ښکلي ګډون دی چې د خاص و عام زړه رانیسي او که د تعزل رنګ او فني باریکیو له مخې ورته شهکار[1] وویلی شي نو د جذباتو د ګرمۍ د بیان سوزوسان وژبې د سادګۍ او پوست والي له امله هم د هر چا زړه ملهم دی.

د موضوعاتو له پلوه د رحمان بابا د شاعرۍ زیاته برخه عشقي ده او دا موضوع په خپل سمي او د خپل فکر او اندازې مطابق د هر بنده د خوښۍ موضوع ده، او په دې موضوع باندې بابا ستره او سپېڅلې شاعري کړې ده، خو له دې نه زیات کوم شی چې هغه یې په ولس کې مقبول کړی دی هغه د هغه د شاعرۍ او اخلاقیاتو برخه ده. د عشق په موضوع باندې چې هغه څه ویلي دي هغه کله د بنده خیال په یوه قدم کې له فرشه تر عرشه ورسوي او کله د عشق کائینات د ځکې سرته راکوز کړي او دغه وجه ده چې رحمان کله د حقیقت د جنتونه بلبل شي او کله د مجازي مینې چمنونه خوش آوازه موسیقار خو مینه کې حقیقي که مجازي نغمې که د حقیقت دی که د مجاز د رحمان عظمت او انفرادیت خپل شان او رنګ قایم ساتي. د هغه تخیل هر ځای آسمان وي او د هغه بیان هر ځای سمندر وي او د رحمن بابا کمال دادی چې د هغه د فن سمندر آسمان د هغه د بیان سمندر ته راکوزېږي او ددې په نتېجه کې چې کوم شعر جوړ شي په هغه باندې د عام او خاص دواړو زړونه سیرابېږي، د ګران نه ګران خیال، د ګنجلکي نه ګنجله مساله او د ژور نه ژور تخیل دا واړه چې د رحمان بابا بیان ته راشي نو هم د هغه ټاپه پرې ولګي:

رحمان حسن د یار وینم په پرده کې

نه پټېږي نور د حسن په فانوس

د کثرت په عدد و نو رم ځان پېټ

اوس ګهي ګهي دغه شم ګهي دایم

[1]- فن ـ جذباتو ـ نادرتخیل ـ رنګین تصویر ـ ګبین ـ جوهر ـ شهکار

تماشه به زما هله وربنکاره شي

که  ته ما غوندې بې دل او زه دلبر وای

په دنیا کې مخ د یار دی نور څه نشته

هر چې دی د یار دیدار دی نو رڅه نشته

لاس د عقل و آسمان ته نه رسېږي

دا خو عشق دی چې په عرش کرسي قدم ږدي

که تور خلک قدمونه ږدي په ځمکه

ما دی اېښی په آسمان قدم د زړه

د عشق او محبت د چمنونو دا بې قراره بورا د ښایست د ګلونو غېږې ډکوي او ددغو ګلونو وږمې جهان ته پرېږدي او د نویو سرلونو د ګلونو او نویو وږمو پرتکل کې سرګرمه ګرځي:

چې یې ولیده ستا حُسن بې حسابه

له دې قصده تاو پیدا شوله افتابه

په آرزو دې د نرګس سترګې څلور شوې

غنچه سره د زړه په وینو شوه عرقابه

ستا په غم مې سترګې غلې سرې سرې ناغې شوې

یا خیمې دي سیاه پوستې ترطنابه

که د زلخیا په مخ پیچ و تاب شي شاني

وینبته څه طاقت لري دا ورله  تابه

د رحمان محبت به هاله له خوبه ویښ نشي

که تر سترګې ورته پورته کړې له خوابه

د حسن وعشق د ښایست او مینې کومې لازواله نغمې چې بابا ویلي دي د هغه نه دا حقیقت راجوتېږي چې

دغه نغمې نشته د یو شاعر له خولې راویتي وینا نه ده دا په ټکو کې پټ هغه قلبي واردات دي کوم چې د یو حقیقي مین په زړه باندې تېرېږي یا د وجدان خوري او شعر په صیقل شویو آئینو کې سینګارونه کوي.

د حقیقت او مجاز ټکو په خپل روایتي اناز کې عمر ته د میني هېوادونه ویشلي دي خو د یو شاعر ستر فنکار په فن باندې د بحث کولو په موقع هر څه د هغه د ذات او شخصیت په پیمانه باندې تلل د هغه د فن د محدودولو او د هغه د فن کارانه عظمت اچتولو په خوا یو قدم دی، د یو فنکار او په تېره تېره د یو شاعر کلام کې د مجاز او حقیقت د عامو رواجي معنوي په ځای دا لټول چې ډېر زیات سودمن وي چې شاعر څه ویلي دي، د هغه شعري حقیقت څه دی او کوم حقیقت چې هغه څه ویلي دي د هغه شعري حقیقت چې څه دی او کوم حقیقت چې هغه وړاندې کړی دی او دلته څه یې ویلي دي، نه دا څنګه ویلي دي، اهمېت سېوا کېږي.

او که د حقیقت په سترګه ورته وکتل شي، نو د یوې سیمې د سترو شاعرانو او خصوصاً په ختیځ کې په شاعرۍ کې به ډېر کم داسې مضمون، خیال یا موضوع راځي چې په هغه به یو څه ویلي وي او د بل نه به پاتې شوي وي او په دې مقام کې چې شاعرانو له خپل خپل مقامونه او دروځي ټاکي هغه د هغوی د اسلوب بیان او اظهار طریقې دي، دا حقیقت هر رښتونی او ساهو فنکار په خپله هم محسوسوي او هم دغه وجه ده چې یو ستر شاعر د بل شاعر د وینا نه کله کله متاثره شي او په شعوري یا لاشعوري طور هم هغه څه او وایي کوم چې بل ویلي دي، دا بیان د هغه په فن کارانه جوهر دی چې هم هغه شان چې وایي د هغه نه یې بد وایي او که د هغه نه یې ښکلی وایي. ددې خبرې اظهار په خپل رنګ کې ښاغلي دوست محمدخان کامل هم د رحمان بابا او د فارسي نومورې شاعر خواجه حافظ د ځینو شاعرانو د موازې په موقع کړې دې ستر او فاضل محیق لیکلي: په فارسي غزل کې چې کومه ژبه حافظ لري، رحمان بابا یې په پښتو کې لرونکی دی، له چې د خاجري او داخلي شعادتونو څخه ښکاره ده رحمان بابا یو لوستی او ښه عالم سړی وو، له دیوانه یې فارسي ژبې سره ښه واقعیت اندازه په ډېر ډول کېدای شي. او لکه چې ما وړاندې عرض کړی دی زمونږ شاعرانو او ادیبانو په شمول د خوشحال او رحمان بابا تعلق دي،د هغه کلام کې هم د فارسي ادب د استادانو مخصوصاً د حافظ د فکر او نظر خاص طور بیان او دا د طرز اثر ډېر غالب دی.

کامل صاحب په ډېر زیات او کاوش د خپلې وینا په ثبوت کې د حافظ او رحمان بابا د کلام نه ځینې نمونې هم وړاندې کړې دي چې په هغه باندې ښاغلي امیرحمزه خان شینواري د ناخوښي اظهار هم کړی دی.

کامل دا خبره منلې ده چې پښتو شاعرانو د فارسي ادب نه استفاده کړې ده خو د حافظ او رحمان بابا د شعر ډېر بېلګې یې پیش کړې دي چې زما په خیال کې ضروري نه دي او د کال ددې تحریر مزاج دا خبره ذهن ته وړاندې کوي چې رحمان بابا د خپل تخیلاتو ډېر پانګه د حافظ شیرازي نه اخیستې ده.

خو ولې دا خبره به د هر چا نه سېوا ښاغلي حمزه شينواري ته ښکاره وي چې پر شاعرۍ کې د خيال توارد احتمال نه په آخوا د يو شاعر د بيان آوازو هيات ژبه او لهجه هم ډېر لوی اهميت لري. د خيال او فکر نه زيات بيان او لهجه هغه څېزونه چې د يو شاعر کلام د نورو نه بېلوي.

د رحمان بابا د شعر اعجاز د معنويت به زيات د هغه په بيان اوهيات کې دی دغه څېز هغه د فن معراج ته هم حېژولی دی داغه خوبۍ هغه ته په ولس کې د قبول عام درجه هم ورکړې ده، بې ځايه به نه وي که په دې ځای کې د خواجه حافظ او رحمان بابا د څو شعرونو نمونې وړاندې کړو چې په هغو کې نږدې نږدې يو خيال په مختلفو ژبو، ټکو ا و ترکيبونو کې وړاندې شوی دی؛:

حافظ:

هر سر موی مرا باتو هزاران کاراست

ما مجا يم و نصيحت گربی کار کجا است

رحمان:

د يار غم به مې هغه سړی په شمار کړي

چې شمېرلي يې ويښته وي د خپل ځان

حافظ:

خلاص حافظ از آن زلف تابدار مباد

که سبتگان کمندتور ستگار ابنذ

رحمان:

آزادي تر دا پهور ته بله نشته

چې بندي د يار د زلفو په ځنځير شوم

حافظ:

از آن زمان که براين استان نهادم سر

فراز مسبند خورشيد تگيه گاه من است

رحمان:

چې يې سر په ځمکه اېښې دی خپل يار ته

په آسمان باندې ختلی لکه لمر دی

په دې شعرونو کې د رحمان بابا يو خپل مخصوص رنګ او آهنګ دی، دغه رنګ دغه لهجه او آهنګ د هغه په کلام کې عنائيت د رحمان د فن هغه کمال دی کوم چې د خاص او عوام توجه د ځان په لوري راکاږي او ددې لپاره هغه يوه ډېره ساده پسته او روز مره استعمال ژبه غوره کړې ده.

ژبه يعنې د رحمان بابا د شعر ژبه ساده، پسته، خيالوري خوله ورسره محاوره سره برابر دی چې موږ مخکې هم ورته اشاره کړې او دغه موضوع يعنې د رحمان بابا د شعر د ژبې ساده والی د ( مضمون رحمان) ليکوال په پوره وضاحت بيان کړې ده او د بابا د کلام د ژبې رواني فصاحت او ښکلا يې به سراسر کلام کې په ګوته کړې ده.

دده ژبه ساده، پسته او له روزمره ژبې سره اوږده په اوږده روانه ده او هېڅ ډول محاوري غوټه نه لري د هغه د ټکو د ترکيب او جوړښت نه خو دا په خپله داسې يې ساخه آوازونه راپورته کېږي چې هغه هم سوزوي او هم ساز.

د رحمان بابا د شعر د غنايي وايي او سرودي سرور په هکله ددې راوي نه دا مطلب هر ګز اخيستل نه دي، په کار چې ګټې د هغه شاعري شي پيکر دی او روح نه دی، تش الفاظ دی او معنا نه لري.

يو شعر کې معنا کله هم له ټکو نه جدا کېدای نشي خو ښکلي ټکي او ښايسته بيان د معنا معنويت نور هم راجوتوي او ښايست کې نور هم سېوا کوي.

معنا په ځپله يوه خاموشي سازوي او دا لفظونه آواز د بيان زيرويم ددې ساز نه غه خوږې نغمې پورته کوي هغه ټول چاپېريال له ځان سره ټالو کړي.

رحمان بابا د خپل نعمو لپاره د خپل ولس ژبه او لهجه غوره کړې ده او هغه خپل ولس ته په يوه عوامي پيرايه کې مخاطب کړي.

ته چې ماته وايي چې په څه کوې ژړا

نه در معلومېږي دغه خپل جوړ و جفا

نه جوړ و جفا کړي زه ژړا کوم دلبره

ستا که دغه نه وي دا به هم نه وي زما

یا دا چې:

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي

ازغي مه کره په پښو کې به دې خوار شي

تور لېمې دې د فراق په ژړا سپین شو

دوباره د زړه په وینو کې رنګین شو

تماشه به رما هغه دوښکاره شي

که به ما غوندې بیدل او زه دلبر وای

هم نغمې کاندي، هم رقص کاندي، هم کاندي

د رحمان  په شعر ترکي د باګرام

د شاعرۍ او موسیقي[۱] په باب د شلمې پېړۍ ستر شاعر او ادیب نقاد ښاغلی ټي هایس ابلیټ په یو مضمون کې لیکي:

خو ددې بدلېدونکو اثراتو باجود هم د قدرت قانون یو داسې قانون دی چې هغه ددې واړو مختلفو رجحاناتو بهیرینو اثراتو یاد تېرې شوې زمانې د یو دور د اثراتو نه زیات مضبوط او اثرناک دی او هغه شاعري دې د روزمره معمول د هغې ژبې نه ډېره لرې نه وي؛ کومه ژبه چې موږ او اورو او په کومه کې چې موږ خبرې کوو، که د شاعرۍ زور په وینا او لهجه کې وي یا د ټکو په جوړښت شعر یې قافیې وي او که په قافیه کې پابندوي که آزاد، خو شاعري هېڅکله هم د خپلې روزمره ژبې نه ځان ژغورلی نه شي.[۲]

او هم د دغو اصلو په رڼا کې چې موږ د رحمان بابا شاعري سنجوو؛ نو دا نو دا حقیقت څرګندېږي چې هغه خپل شاعرانه خیالات اوس ته هم د اولس په ژبه کې وړاندې کړي دي په داسې طریقه چې د هغه فن، فن ته پاتې شوی دی رنګ په رنګ او بیان په بیان او د نړۍ په سترو شاعرانو کې چېرته په زمانو پسې داسې شاعران را پیدا کېږي چې د هغوی په فن کې د عوامیت او دوامیت دا دواړه خولې په یو وخت کې یو ځای شوې ده، او هم له دې امله د هغه په شان کې عوام خواص سره یوه خوله دي، نوموړي مستشرق ښاغلي ایچ، جي راورټي د

[۱]- موسیقي
[۲]- شاعري او موسیقي، ۱۹۴۲ابلیټ تي ایس. ( شاعري او موسیقي ۲۰۵)

رحمان بابا د شاعرۍ په هلکه وايي:

" د پښتنو شاعرانو کې ملا عبدالرحمان د ټولو نه مشهور او نوموړی شاعر دی او د هغه د شاعرۍ لویه برخه د نورو مسلمانانو غوندې په مذهبي، اخلاقي او حقيقې مينې باندې خوره ده خو دهغه په انداره بيان کې يو زور او رسوز او يوه داسې سادگي او بې ساختگي ليدی شي چې هغه د فارسي ( ايرانيانو) د ډېرې اوچتې شاعرۍ هم نه شي موندلی"

د رحمان بابا شاعري په مختلفو موضوعاتو باندې خوره ده د هغه شاعري كه له يوې خوا د تصوف د قلبي وارداتو او کيفياتو هنداره ده، د وحدت الوجود او وحدت الشهود د گنجلکو مسلو عکاسي کوي او د سلوک او معرفت د مراحلو او مدارجو په لوري يو روحاني سفر دی؛ نو بل خوا د مجازي مينې د رنگينۍ ورشو گانو گل رنگي تذکرې هم دي.

د هغه په شعر کې د انساني ژوند او چار چاپېر غمونه او دردونه هم خلا کوي د خپلې کوتلې انسانيت د زخمونو بيان هم دی او ددغو زخمونو د علاج لپاره په کې ملهم او پټۍ هم شته.

هغه ژوند ته د يوې بې عمله او تارک الدينه زاهد په سترگه نه دی کتلی بلکې د يو با علمه صوفي په نظر يې دنيا ته د انساني ژوند ننداره مخکې کړې ده د د هغه خوبۍ او خامۍ يې څرگندې کړې دي، ژوند او ښکلا د ارتقاع لارې يې په گوته کړې دي.

ښه ښه ده دا دنيا

چې توښه ده د عقبا

دنيا بحر دی بهېږي

آئينې غوندې صفا

مخ خپل مخ په کې ليده شې

که څوک زشت وي که زيبا

رحمان بابا كه چېرته د ژوند نه بېزاره شي؛ نو هغه هم په دې چې هغه په روان ژوند کې هغه څه نه ويني د کوم مقصد لپآره چې قدرت د انساني ژوند بناء کړی وو، ژوند پخپله د ښآيست نوم کېږي؛ خو كه په ژوند کې څه بلانگوالی راځي نو هغه به د ماحول او معاشرې خامي وي او ددغه وجه ده چې رحمان په ظاهر د دنيا د

هنګامونه بېرته هم د دنیا نه ځان بېلولی نشي او عمل او حرکت آوازه پورته کوي؛ خو دهغه د وینا لهجه د یو زاهد او واعظ د نصیحت سپوره لجه نه، بلکې د یو شاعر رنګین بیان دی.

نن چې صبح دی روښانه لار صحیح کړه

ناګهانه به دا صحیح شب تار شي

زندګي که څوک پوهېږي حضور دم دی

آینده او رفته کله د چا یاد وي

دلته دم او قدم دواړه په حساب دي

پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه

باړه وتړه هله کښت زراعت کړه

نقوی دار شه هله طمع د جنت کړه

د رحمان بابا د شاعرۍ هغه اړخ کوم چې د هغه او د ولس تر منځ یوه ډېره جخته رابطه او تړون قایم کړی دی د هغه د پند او نصیحت په غوړو باندې سپور لګېږي ولې د رحمان بابا په برخه کې دا وینا بېخي غلطه ده او په برخه کې د هغه بیان او وینا ساخت کې لوی لاس لري.

او دغه وجه ده چې د پند او نصیحت سپوروالي چې د بابا بیان ته کوم غوړوالی ورکوي د هغه مثال به د نړۍ په ادبي تاریخ کې ډېر په ګرانه څوک بیامومي، د هغه د اخلاقي شاعرۍ زیاته برخه د پښتنو کې دومره مقبوله ده چې د متلونو په دود يې خلک کاروي او په حقیقت کې دا قسم شاعري ډېره مطبوطه ده، رحمان بابا په خپلو اشعارو کې ددغه څېزونو ملا کول غواړي:

بې منته جام د زهرو ځنبلی ښه ده

نه غه چې منت بار شي د کوثر ته

دا هنر نه دی چې خاورې څوک سره زرکا

چې زر خاورې کا رحمانه هنر دادی

ماته ملا په مشفت، په محنت ښه ده

نه حرامه همیانۍ د چا تر ملا

++++

هغه زړه به له طوفانه په امان وي

چې کشتۍ غونډې د خلکو بار بردار شي

++++

کوهۍ مه کېنه د بل سړي په لار کې

چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

++++

کرد د ګلو کړه چې سیمه د ګلزار شي

ازغي مه کره په پښو کې به دې خار شي

++++

اې رحمانه اول ته نصیحت واخله

دغه پس بیا ویل ته نصیحت کړه

د رحمان بابا آواز د ولس د زړه آواز دی هغه له ولس سره د ولس په ژبه خبرې کړې دي، له روښان فکره رویې لرونکي خلک صرف د خپلو قومي حقوقو په حصول د دفاع او خپل قومي تاریخ فخر او په یووالي زور راچوي، دا یو مثبت او بنسټیز سوچ دی، د فطرت د قانون مطابق دی، مهندیې انساني معاشرې د اخلاقیانو دایره کې دی موږ د چا په غزل د بانیانو اول صف او نماینده شاعر سیف الرحمان سلیم دا شعر چې:

د حجات استاد عرب دی، په مکتب کې ډیلی وال دی

یو استاد راته پیدا کړی؛ خو پښتون راله پیدا کړئ

دا غزل د شعر دی چې له مقصد نه ډک او مصروضي حقیقتونو ترجمان او عکاس دی چې د تعذل، ښکلا او روحاني فضا سره سره یو متوازن او صحتمند روح په کې غړېږي هر څوکه د پښتو قام د پرستۍ یو انقلابي شعر او قومي غرور په کې غزونې کوي او یو معتبره سیاسي حواله هم لري ځکه موږ ورته قام پرستۍ د فطري جذبې او ملي احساس یو شیرین او بهترین شعر ویلی شو.

خو رحمان بابا په شاعر کې د قام پرستۍ دا اساس او مبارزاتي اړخ وجود نه لري او نه څه واضح سياسي مرام په کې ځای څرګند کړی یوازې د پښتو او پښتون ولۍ او اقدار یا د ځپلي جغرافیې په اظهار د قام پرستۍ ثغاضي نه پورې کېږي هسې هم رحمان بابا د انسانانو تر مینځه د لوړو ژورو او جغرافیایي کرښو قائل نه وه، هغه د انسانانو د اجتماعي شعور نماینده او د انسانیت شریک درد ترجمان و او بیا هغه وخت د قام پرستۍ دغه جدید تصور هم موجود نه و اګر چې د مختلفو قومونو تر مینځ د حقوقو او ملک ګرۍ شخړې رواني وي او بیا د رحمان بابا نه مخکې په ادبي سیاسي او قومي حواله د پیرروښان او خوشحال خان خټک مضبوم تحریکونه تېر شوي وو، ځکه په دغه ادبي فکري او قومي تناظر کې رحمان بابا قوم پرست نه و. بلکې یو وسیع النظر انسان دوست شاعر او روښاني فکره طبقاتي شعرو لرونکی اصلاح پسندنده، مفکر، قلمي مبارز او د خپل عصر د تضاضو په چوکاټ کې د ترقۍ بنده نظریاتو مبلغ د مینې نغمه ګر او د امن پیمامیرو چې صحیح معنو کې د خپل دور یو مشترع ملا او صوفي و.

چې د نني دور په عالمي منظر نامه کې یې د کلام او پیغام ضرورت او اهمیت نور هم زیات شوی دی داسې معلومېږي چې دا شعر یې نن ویلي دی:

په سبب د ظالمانو حالمانو

ګورو اور او پېښور درې واړه یو دی

**استاد حبیب الله رفیع**

د رحمان بابا په عرفاني افکارو کې انساني ارزښتونه:

ګردګلو کړه چې سمیه د ګذار شي

اغري مه کره په پښتو کې به دې خار ش
یته چې بل په غشرو ولې هسې پوه شه

چې همدا غشی به ستا په لور ګذار شي

کوهي مه کښه د بل سړي په لار کې

چېرې ستا په د کوهي په غاړه لار شي

ته چې هر چاته په خوارو سترګو ګورې

لاړو مي به ستا صورت تر خاورو خوار شي

آدمزاد په معنی واړه یو صورت دی

هر چې بل آزاروي هغه آزار شي

هغه زړه به له طوفانه په امان وي

چې کشتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي

دا یو انساني غږ دی، یو عرفاني غږ دی، یو رحماني غږ دی، یو داسې غږ دی چې انسان د معنویت سپېڅلې مقام ته رسوي او د انساني ارزښتونو عرفاني ارزونه کوي هو! دا غږ د عارف رحمان او غیب اللسان رحمان غږ دی، د هغه رحمان غږ چې خپل تصوف یې د انسان او انسانیت د اعتلا او لوړتیا له پاره په کار اچولی و او خپل شعر یې د همدې لارې د تبلیغ له پاره استخدام کړی و.

اسلامي عرفان او تصوف د انسان د معنویت د تبلور او خلاله له پاره رامنځته شو او هڅه یې وا وه چې انسان له مادي کثافت او ثقالت نه د معنی شفافیت او لطافت ته ورسېږي، همدا وو چې عارفو شاعرانو د خپلو غوښتنو د بیان له پاره د شعر له خوږې ترمې، روښاني او شفاهي ژبې نه کار واخیست او د هېواد ویاړلی ژوی ابوالمسیٰ مجدد دین آدم سنایي غزنوي د عرفاني ادب مخکښ او سرلاری شو او بیا دا د انسانیت ور شو د ادب په گلونو کې د عرفان په وړمو ښېرازه او معطره پاتې شوه.

مولانا جلال الدین بلخي، خواجه عبدالله انصاري، مولانا جامي، بېدل، شیخ متي او نورو په سلهاوو، عارفانو، شاعرانود عرفان انساني درسونه د ا دب په وریښمینو مزیو اولس ته ورسول شوي او د انساني دنیا یې معنویت په رنګینو وړانګو رڼه او ځلانده کړې ده رحمان بابا هم چې زړه یې د عرفان په پلوشو رون او دماغ یې د معنویت په وړمو معطر وو، همدغه لارې یو داسې لاروی و چې د ریاضیت، رومي تمرینونو او فکري تمرکز له لارې یې د مکان او زمان مزي لنډ کړی او د لوی عارف سنایي غزنوي لاره یې نیولې وه او همدغه خبرې یې چې سنایي په فارسي کې کړې وي ده په پښتو کولې:

په پښتو کې رحمان ووې

په فارسي کې سنایي

رحمان بابا د عرفان، معنویت او د تصوف شفافیت د بېخودۍ داسې مرحلې ته رسولی و چې د شپږو جهتونو ننګ چوکاټ کې مت کړی او له هغه نه یې لایتناهي بهر ته لاره ده موندلې وه.

بې خودۍ يې د دنيا له غمه خلاص کړم

لار مې بيا مونده بيرون له شش جهته

دده زړه داسې روښان شوی و چې هر څه په کې ښ:اره او د جام جم بڼه يې غوره کړې وه:

هغه زړه چې خدای روښان کا جام د جم شي

په دا جام کې ورښکاره تمام عالم شي

همدا روښنايي، رڼا يې او بينايي وه چې رحمان بابا د انسان په بابا انساني فکر کاوه او انساني ارزښتونه يې په عرفاني او معنوي تله تلل:

له سړيه غرض واړه سريتوب دی

نه چې چپ وي د سروزور په لباس

+++

معنوي صورت پيدا کړه که مېړه يې

فايده څه ده د تڼاکو له اشخاص

+++

آدميت څه په دولت نه دی رحمانه

بت که جوړ شي دې سروزور انسان ښه

ده له انسانه غوښتل، چې د ديوالونو د آبادۍ پر ځای زړونه ودان کړي، دنيا منه،مينه او خواږي، خواخوږي کړي:

دخليل تر کعبې لويه دا کعبه ده

که آباد کا څوک ويران حرم د زړه

ده پّ دې لاره کې تشې خبرې نه منلې عملي گام يې غوښت او عملي اقدام!

ښه توبه مې نه شي په تش ډاډ د کورو کلي

مرد بویه چې واخلي دغم پیټي له غمګینه

ده انسانان له ویرانۍ نه ودانۍ ته رابلل او د زړونو د ودانۍ تر څنګ یې د ټولنې د بیا رغاونې توصیه او لارښوونه کوله:

ودانې په یوه دم کې شي ویرانه

مرد هغه چې کړي ودانې ویرانۍ

ده شریر او بد خویه انسانان تر ځېروونکو حیواناتو بد ګڼل او یل یې:

هومره زبان له خوګ او خرسه نه رسېږي

لکه څوک په آدمیانو کې بدخوی شي

دی داسې انسانان له زړونو پریوتلي او د عمومي نفرت وړګڼي او وایي:

چې له غرونو پرېوتلي وي بیا پاڅي

پاڅېدی نه شي له زړونو پرېوتلي

د عرفان په دینا کې د انساني خدمت عبادت دی، انساني مینه  پاوړې کول اطاعت دی، معنویت ته مخه کول سعادت دی، انسانیت ته مخه کول د دنیا د مخ جنت دی، او د انساني ارزښتونو ارزونه د عرفاني ادب شعري قوت دی.

د رحمان بابا ټول دیوان له همدې عرفاني خوزښتونو او انساني ارزښتونو ډک دی. انسان خاکسارۍ او خدمتګارۍ ته رابولي، له نفس پرستۍ او خودخواهۍ یې ژغوري او مشعار ورکوي:

که پر ځان باندې قدم کېږدې رحمانه

نه فلکه په دې لاندې تر قدم شي

د رحمان بابا په نظر همدا د انسان معراج او دانسانیت تاج دی او ده ددې ټولو انساني ارزښتونو د ارزونې او بیانولو له پآره د ادب خوږه پسته او دده په اصطلاح د بلبلو ژبه کارولې ده.

اې رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه

دغه پس به صتف دګل اندام شه

په همدې ژبه خپلو اورېدونکو ته مخاطب دی، له انساني ارزښتونو ډک درسونه ورکوي، پندونه ورکوي او په دې لاره کې د هر راز خندا اچوونکو له څېرونه دریا او غولونې پردې پورته کوي او ماسکونه څېرې کوي:

دریا له زاهدۍ زما توبه ده

چې یې کاندي څوک په رسم و په عادت

په ورځ پندو نصیحت وایي ویل ته

په شپه ناست وي د مغان په خرابات

دین دام وي د دینا په لار کې اېښی

پرې را اوړي وحشیان د مخلوقات

زه رحمان له هسې اهله پناه غواړم

هر چې لاف کا په خلاف د مقامات

رحمان بابا انسان ته د وراندیشۍ درس ورکوي، د انساني جوهر د ځلونې لارښوونه ورته کوي او له مادي کثافاتو نه ځای ژغوري اوتوحیه کوي:

سم له لاسه چارې نشي هر د هغه دی

چې بیدار وي و غلیم و ته له ورایه

ته په اصل کې یې څاروی نه یې
د چارپایو چارې مه کوه دوپایه

مرتبه به دې د مچ او د مېږي شي

زړه په غوړو غوښه مه تړه همایه

موږ په نه شي ته په حرص بې قناعته

اې په تخت د اورنگزیب ناسته گدایه

په دې ترتیب موږ د وینو چې د رحمان بابا په عارفانه افکارو کې د انساني ارزښتونو ارزونه په بشپړ بصیرت،

ژورتیا، دقت او د علمي تجربو په یو رڼا کې شوې او پر نورو ځارویو او حیوانانو باندې د انسان تقوی او برتري او اشرف المخلوقات کېدای شي د هغه معنویت او معنوي ارزښتونو له مخې ثابتوي او واقعي انسان دهمدې لوړو معنوي ارزښتونو درلودونکی انسان بولي:

دست په دست که دخپل کار په درستول یې

لا تر ځان وړومبی و لاړ د بل په کار شه[1]

د رحمان بابا دوه سوه اتیایم تلین ۱۳۳۸ ـ ۱۴۰۸ هـ ق د عبدالرحمان بابا مومند یادو د (مقالو مجموعه) تهیه او تدوین د (ز، هـ) د چاپ اهتمام، پوهنمل اصف بهاند، خپرونکی، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ۱۳۶۹ کال په دغه ټولګه کې د هېواد د نامتو پیاوړو،استادانو، محققنو، نقادانو او د بابا د مینه والو ډېرې او په زړه پورې ستاینې وړ مقالې چاپ شوي دي چې ځینې به یې ( رحمان بابا د نورو لیکوالانو په نظر) عنوان لاندې تاسو ته وړاندې کړو، لومړی به د لوی استاد مرحوم علامه پوهاند عبدالحی حبیبي مقاله راواخلو:

**عبدالرحمن بابا د نورو لیکوالو او... نظریې:**

د زرهاوو آن لکهاوو لیکوالو، شاعرانو او... په نظر، په قلم او په فکر او په خولو نظریاتو ځلېدلی سوغات لویه معنوي ښکلا، مینه او محبت حضرت عبدالرحمان بابا خو تلپاتې پانګه ده، دا معنوي هستي چې الله ج له کومې ورځې ولی خدای چ په پښتون قوم کې پیدا کړی دی، له هماغه ورځې بیا تر ننه د خدای بلا لیکنې، غونډې، کنفرانسونه، سیمینارونه، مشاعرې، مناظرې او... جوړ وشي او او لا اوس هم  د خدای ج احسان دی، په دغه برخه کې د تعالی او پیشرفت تابیا یې شته او لا هره ورځ د نویو نسلونو د بابا سره زیاتېږي او د نوموړي شخصیت لازینې او طلایي هویت حاصلوي، آن تر دې پورې چې د دنیا او په تېره پښتونخوا او افغانستان او پاکستان او نړی ګڼو اجتماعي مضمونونو پورې اړوندو پوهنتونونو، دیپارتمنونو کې په بابا هره ورځ نوې کارخانګی، تحقیقي لیکنې، سیمینارونه، کنفرانسونه ، مونوګرافونه، تیزسونه، ډیزرتیشونونه (دیکتوراوې) او نورې لیکنې کېږي او لا روانې دي.

ما د دې دکتوار د اثر لیکلو پر مهال د نور ډېرو آثارو کتلو سره پښتانه شعرا لومړی ټوک (د پښتونخوا د شعراوو بهار د جم ډارمستېر او نور ګڼ آثار ولیدل، د بابا په هکله لږ و ډېر پکې لیکل شوې و چې هرو مرو بیا وکتل.

دغه راز پښتو ادب کې عبدالحلیم اثر سالازی د باجوړ ۱۳۷۰ هـ چې داره شاعت سرحد قصه خوانی بازار پشاور

[1]- ر رفیع، حبیب الله، ۱۳۸۸ل، ۲۰۰۹م، رحماني خم، دویم چاپ، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه: ۱۵۱ ـ ۱۸۵

خپور کړی دی. په ۱۷۰ یا ۱۸۰ مخونو کې څه یادونه شوې ده.

۱ – د شعر قسمونه تر سرلیک لاندې شعر په اخلاقي، وصفي، قصصي ویشل شوی دی.

په اخلاقي برخه کې اخوند درویزه د مخزن ځینې برخې او د رحمان بابا او خوشحال خان خټک د دیوانونو زیاتې برخې... راغلې.

په وصفي برخه کې هم د رحمان بابا نوم یاد شوی دی

شعر د لفظ په لحاظ تر عنوان لاندې شمس الدین کاکړ وايي:

که څوک ونیسي په لاس میزان د شعر

په عروض سنجیده بیان د شعر

بهد رسي په شعر له رحمانه

که هر څو کوي هوس افغان د شعر

۲ – بل قسم شعرونه هغه دي چې د عربو د شعرونو تر اوزانو تابع نه دي او هر څه یې پښتو دي، بلکې د پښتنو د روحیاتو سره سم راوتلي او طبعي حضور او شتون یې موندلی دی، چې په لاندې ډول دي:

لنډۍ، ناره، نیمکۍ، لوبه، چاربیته، سندره، بدله، غزل، مستزاد، بګتۍ او...

همدارنګه په فارسي د ځینو شعرونو قالب ته غزل وايي چې په پښتو ژبه کې ورته رباعي هم ویل شوې ده.

د رباعي مضمون اخلاقي، صوفیانه، پند، نصیحت او اجتماعي وي. کله ناکله یې مجلسیان په محفلونو او مجلسونو، غونډېو، مېلو او بنډارونو کې سره وايي، نغد، ساز، خود او ډول ډول مضمون، شور او عشق ورسره وي.

لکه د عبدالرحمن بابا لاندې غزل یا رباعي څومره له سوزه، درده او هنریت ډکه او یا ډک غزل دی لکه:

خدایه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک

په ظاهر په باطن سپین سپېڅلي خلک

خبر نه یم چې و کومې خواته ولاړل

ولیدی نشي هغه ما لیدلي خلک

هیڅ خندا مې له دې خلکو سره نه شي

ژړوي مې هغه تللي تللي خلک

لکه ځک د اوبو مکې درمي

هسې درومي په دنیا راغلي خلک

دریغه یو ځلې خو بیا په دنیا راغلې

له جهانه په ارمان وتلي خلک

صوفیانه: رحمان هسې گونه خوند له خلکو بیا موند

چې هر گز نه دی د اخوند موندلي خلک

تر دغه سرلیک لاندې رحمان بابا ته ورته نورو شاعرانو شعرونه هم راټول شوي دي.

دغه راز دا عروضي شعرون تر سرلیک لاندې عبدالحلیم اثر یو عنوان لوړي او تر هغه عنوان لاندې هغه شاعران معرفي کوي چې په دغه فن پوهېږي، ده وایي چې ډېر شمېر شاعران ولسي او بېسواده دي خو هغه د پښتو شاعرۍ عامه بخره کې راولي، مگر دویمې ډلې ته د خاصو شاعرانو په توگه اشاره کوي چې لوستي دي او له فارسي او څه ناڅه عربي شعره سره آشنا دي.

دغه برخه شعرونه مربع، غزل، رباعي، مخمس، مسدس، مسجع، مسمن، مسنوي، معشر، مستزاد او قطعه نښيي.

د عروض علم معرفي کوي.

د غزل تر سرلیک لاندې د عبدالرحمان بابا یو غزل هم را اخلي او زموږ مخې ته یې ږدي او په دې ډول د رباعي یاد په خپل کتاب کې کوي، لکه:

زه دا هسې دیوانه او مجنون چا کړم

له رواجه له رسومه بېرون چا کړم

نه پوهېږم چې دا چارې په ما څوک کړي

لېونی د خپل نگاه په افسون چا کړم

کومې سترګې کوم بابړه ک ومه غمزه ده

ډوب شهید غونډې په خاک و په خون چا کړم

توان توفیق خود غمزو راځخه نه و

په فشنو د تورو سترګو مفتون چا کړم

رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه وم

په دا هسې رنګ زبون او محزون چا کړم

یادونه:

ما د (پښتونخوا شعر هار و بهار) دجم ډار مستر، پښتو ټولنه پرله پسې نومره ۲۲۷ ټولوونکی، جمیز ډار مستر، دریم چاپ، مهتمم حبیبالله او د چاپ کال ۱۳۵٦ کال د زمري ۲۵ کې چاپ، کتاب دغه راز (پښتانه شعرا) لومړی ټوک، پښتو ټولنه ۱۳۰۰ هـ ۱۲۰۰ قمري ټولوونکی استاد عبدالحی حبیبي او نور غړي عمومي مطبعه پښتو ټولنه ۱۳۳۴ کال کتابونه ولیدلو په هار و بهار کې د بابا غزل راوړل شوی، خو په پښتانه شعرا، دریم ټوک کې یې حبیبي صاحب څه ناڅه یادونه کړې چې دلته به یې ځینې برخې اقتباس او نورې د زربین راولم

**عبدالحی حبیبي**

مرحوم استاد عبدالحی حبیبي د پښتانه شعرا، دریم ټوک په ۱۹۲ مخ کې راوړي:

«هر کله چې عبدالرحمان بابا په یوه غریبه کورنۍ کې پیدا شوی دی، نو د دې نامتو شاعر ابتدایي معلومات تر اوسه چا مفصل نه دي لیکلي، د ده د خپلو ځینو شعرونو او د بعضې خارجي پوهانو د معلوماتو دومره معلومېږي چې د مینې په کټارو ژول رحما بابا سړبنی او د مهمندو په علاقه کې په یوه کلي کې چې بهادر کلی نومېږي په قام مهمد پیدا شوی دی. دا محلي د کوهاټ د سړک په غاړه د پېښور له ښاره پنځه میله جنوبي اړخ ته پروت دی. عبدالرحمان په خپله زمانه کې یو صفوي مشر او په عشق کې داسې ډوب شاعر تېر شوی دی چې خپل فقیر مزاجه او خپل عشق فنا شوی حالت دی د خپل کلي هزارخانې ته په تللو او استوګنه مجبور کړ.

د دې کلي خلک هغه ونې ته چې دا نامتو ادیب به ترې لاندې کېناسته او د همان او قدرت په ننداره او محبت به بوخت او د خپل حقیققي محبوب د عشق په نشه کې به یې په پښتو ژبه خواږه خواږه اشعار ویل، په ډېره درنه سترګه ګوري او ډېر احترام یې کوي. د ده د وفات او د عمر پوره معلومات زموږ لاس ته لا تر اسوه نه دي

راغلي، مګر د ځینو محقیقنو د معلوماتو خلاصه دا ده چې دی په هزار خانه کې د اخوند درویزه هدیرې ته نژدې ښخ دی. (۲)

علامه حبیبي زیاتوي: (ځکه رحمان بابا ځاله جسما نیته وتلی او د روحانیت په دنیا کې ډوب و، نو ده په خپله وینا کې د خپل عمر او حیات کوم ذکر د نورو شاعرانو په ډول نه دی کړی، فقط دومره ځینې ښکارېږي چې دی تر اورنګزیب وروسته هم د شاه عالم په عصر کې ژوندی و، لکه چې وایي: (اوس د شاه عالم نوبت دی)

شاه عالم د اورنګزیب زوی په ۱۱۱۸ هـ کې پاچا شوی دی، نو تر دغه کاله خو زموږ دا نومیالی شاعر ژوندی و.

استاد حبیبي لږ و ډېر د رحمان بابا د نظریاتو پلټنه هم کوي، لکه:

بیا د اراد او ارونګزیب وته حیرن یم　　　چې یې څه چارې واقع شولې تر میان

د بابا او خوشحال خان ترمنځ د ملاقات نه هم خبرې کوي، له استاد حبیبي له پورته روایت سره سم د رحمان بابا د ژوند کلونه ۱۰۵۰ هـ څخه تر ۱۱۲۰ هــ پورې تخمین کولای شو، ځکه چې خوشحال خانپه ۱۰۲۲ زوکړه کړی او د رحمان بابا ژوند د ده له وینا څخه د شاه عالم تر جلوسه ۱۱۱۸ یقیني دی. د بابا د دیوان په برخه کې داسې نظر لري چې د رحمان بابا دیوان په دوو دفترونو کې لیکل شوی دی. په دې دواړو دفترونو کې د شاعرانه فن او ادیبانه خیال له رویه څه خاص فرق نشته. دواړه دفترونه د یو پوخ فکر او لوړ دماغ نتیجه معلومېږي.

لکه ډېره نورو غوندې (حبیبي، پښتانه شعرا، دویم ټوک ۱۹۳۱

استاد هم په دې نظر و چې رحمان بابا خپل دیوان په خپل ژوند نه دی مرتب کړی، بلکې ده به چې کوم نظم ولیکه نو خپلو دوستانو ته به یې وړاندې کاوه.

د رحمان بابا اشعار ډېر ساده او سلیس او روان دي او د اشعارو مضامین یې عموماً عشقي، اخلاقي، دیني اجتماعي دي او د تصوف لویه برخه لري په پښتو کې دا دیوان فوق العاده شهرت لري.

استاد علامه حبیبي د رحمان بابا د شاعرۍ په برخه کې داسې نظر وړاندې کوي: ((رحمان بابا د شاعرۍ په فن کې د مستقل مکتب خوند او لوی معلم دی. دی په خپل سبک کې او شعري تله زمانو او استعارو او تشبهاتو او نورو ادیبانه نزاکتونو نورو روان او ساده ډول کې ځان ته د اجتهاد خاوند دی، لکه چې په خپله وایي:

چې دا نور شاعران کاندي هغه نګا

رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی

رحمان په خپل شعر کې د پښتنو د فطري جذباتو او ملي احساساتو په ساده، روانو او خوږو الفاظو داسې ښه ترجماني کړې ده چې هر څوک د خپل ذوق مطابق په هر ځای او موقع کې استفاده ځنې کوي.

استاد عبدالحی حبیبي په دې باور او نظر لري چې رحمان سره د دې چې په تصوف کې ډوب شاعر دی، سره د دې هم د ده په شعر کې د انسانانو د معاشرت او اجتماعي ژوندون لوړ نکات شته، د خلاقو او تهذیب او پیرزوینې درس او د پښتنو د ملي شعر ناتو او فطري جذباتو او مخصوصاً تاثیراتو بیان په ښه ډول کوي او کلام یې له بلاغت او فصاحت ډک دی.[1]

کله کله د فلسفې خواته هم تللی دی، ځینې مهم مسایل په ساده ژبه وایي، مثلاً دا خبره چې به عشق او جذب د دنیا د حرکاتو اساس دی، رحمان بابا داسې وایي:

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی

د جمله وو مخلوقاتو پلار دی دا

د رحمان بابا د تصوف پاخه افکار له دغه یوه بیته ښه ښکاره کېږي.

زه د یار مینې په یار پسې شیدا کړم

که څوک ما ګټي زه نه یم واړه دی دی

همدارنګه د رحمان بابا په اجتماعي افکارو هم رڼا اچوي او پوره پوره نمونې ترې راوړي. د زیاتو معلومتو لپاره وګورئ (پښتانه شعرا، لومړی ټوک ۱۹٦ – ۲۰۲مخونه)

## ۲ – ۲ مشهور شاعران او د رحمان بابا شاعري

۱ – یونس، د رحمان بابا شاګرد وایي:

له رحمانه فیض باب عبدالرحمان شو

چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شو

[1]- حبیبي عبدالحی، ۱۳۲۰ پښتانه شعرا، لومړی ټوک. کابل: پښتو ټولنه، د عمومي مطبعې چاپ.

د پښتو شعر يې هسې نامه يووړه

چې خبر يې په اشعارو ايران، تهران شو

پر لذت شعر به ځوک کاندي يونسه

چې په مرگ ځينې خاموش عبدالرحمان شو

۲ – اشرف خان هجري:

خوږ زبان په زمانې شکرې نولې

هغه واف چې مستقر يې پېښور

۳ – معزالله خان مومند:

که د شعر کرامت د چا نه غواړي

معزالله د رحمان شعر کرامت دی

۴ – عبدالقادر خان ختک

زه ختک د يار په غم تازه تازه يم

غورياخيل رحمان که شو ورځينې ستړی

۵ – کاظم خان شيدا:

په ديار د تمام روه کې په د اقام به دا گروه کې

یو په سرای زیان آوردی، دویم ځای یې پېښور دی

٦ – پیرمحمد کاکړ:

جوړ په شعر کې رحمان غیب اللسان دی

په دا څیر نشته هر گز د انسان شعر

٧ – شمس الدین کاکړ:

وبه نه رسي په شعر له رحمانه

که هر څوک کوي هوس افغان د شعر

٨ – عبدالعظیم بابا

د مومند عبدالرحمان صاحب په مثل

هسې خوږ زبان زما دی دریغه دریغه

٩ – مصري خان گگگیاني:

شعر د فارسي و نیم شرین لکه شکره

شعر د پښتو کړنو تر فارسۍ حمید، رحمان لذید

١٠ – نجیب سربندي:

د شعر او و سر حلقه عبدالرحمان دی

زه نجیب د ده د شعر د امن ګیر یم

۱۱ – قنبر علي:

تتبع قنبر رحمان د دې غزل که

چې دا مست په میو راغی یار د چا دی

۱۲ – مولانا الحاج محمد امین:

د رحمان بابا ویل مې ډېر خوښېږي

چې ستایلی دی زیبا آقا زما

ربه ستا په مخ د رحمان بابا په شان

هنرمند که دا غریب دفتر زما

چې مې رهبر د مینې ستا شو شو په دا لاره کې مل

شعر کم نه دی د بابا عبدلرحمان د بابا عبدالرحمان زما

۱۳ – خوږ دل:

ور یې کړ د سوز قلم خوږ دل لره په لاس کې

سر خوشحال، رحمان، حمید په ګورو نګاوو

۱۴ – بیدل:

چې مشهور یې په پښتو ژبه دیوان دی

شعر اوو کې هغه عبدالرحمان دی

۱۵ – عبدالله محزون:

د رحمان له شعره یوې د معجزې ځي

مرید ژر کاندي له پیره برابر

۱٦ - یونس خیبري:

له رحمانه فیضاب عبدالرحمان شو

چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شو

د پښتو شعر یې هسې نامه یووړه

چې خبر یې په اشعار ایران، تهران شو

۱۷ – میرزا حنان:

بل رحمان سرېښی د پېښور دی

په پښتو یې غزل به دې یو تر بله

۱۸ – رحمت خان داوي:

هر څوک شو کا هم لاف د شاعرۍ کا

زه قربان تر شرین شعر د مهمند[1]

۱۹ – باز محمد بنګښ:

باز خان هېڅ سیالي د شعر له چا نه کړه

---

[1]- رضا، محمد افضل ۲۰۰۴م د عبدالرحمان بابا دیوان. مجله جنګي، پېښور آرت پللز: ۴)

دی تابع د شعری له رحمان راغی

۲۰ – عبدالعظیم رانیزی:

د مهمند عبدالرحمان صاحب په مثل

هسې خوږ زبان زما وايي دريغه دريغه[1]

۲۱ – رد کې ویل شوي شعرونه:

الف – عبدالقادر ختک،

زه ختک د یار په غم تازه تازه شوم

غورياخيل رحمان که شه ور ځينې سترې

ب – حنان بارکزی:

زه حنان د یار په غم لکه گل وا شوم

که رحمان و آشتاله لاسه سرې

۲۲ – کاظم خان شیدا:

په دا وخت کې که شيدا دواړه مومند دي

ثناخوان به ووهر دم ستا د ويلو

۲۳ – صديق شاعر:

بل غزل په انتخاب چې کړې صديقه

د رحمان د غزل بس دی دا جواب

۲۴ – پیر محمد کاکړ:

[1]- هاشمي، سید محی الدین. ۱۳۹۳ – ۲۰۱۴ د عبدالرحمان بابا کلیات، پېښور، قصه خواني مهين خپرندويه ټولنه.

که هر څو وايي نازک نکته دان شعر

ولې دوی ګڼي معجز د رحمان شعر

سوز ګذار د محبت يې مګر زيات و

چې سوزان يې هسې شان کړو بيان شعر

جوړ په شعر کې رحمان غيب اللسان دی

په دا ځير نشته هر ګز د انسان شعر

تر معراج يې ځار شه لاړ د مرغلرو

په څه شان يې او يخته کړ يکسان شعر

۲۵ – شمس الدين کاکړ:

که څوک ونيسي په لاس ميزان د شعر

په عروض کا سنجيده بيان د شعر

وبه نه رسي په شعر له رحمان

که هر څو کوي هوس افغان د شعر

۲٦ – نجيب:

د شعر او سر حلقه عبدالرحمان دی

زه نجيب د ده د شعر عالمګير يم

ما نجيب هم په دا طور غزل ووې

که ويلي د ويزې عبدالرحمان دی

۲۷ – کاظم خان شيدا:

په ديار د تمام روه

په دا قام په دا گروه

یو په سرای، زبان آوردی

دویم ځای یې پېښور دی

چې مومند و قیل و قام کړه

گویا دوی سحر حلال کړه

۲۸ – بیاض جدون:

چې رحمان، عبدالحمید کړو سر په گور کې

ښه مضمون و ته به وړاندې کوم شاعر شي

۲۹ – عبدالغفار هوتک:

په افغان کې شاعران تر حساب تېر دی

عبدالغفار دی د رحمان شاعر نائت

۳۰ – شیخ نامدار دویزي:

وکښه دا غزل یو دویزې په دا بیاض کې

دی چې پیدا شوی د رحمان مومند په قام کې

۳۱ – پیر مطیع الله

ای چې نوم دی ذکریا په قام خټک یې

په رحمان باندې چې بد وایې لټک یې

۳۲ – بیا په دورد شاه عالم په مړبنو کې

را ښکار شه په جهان عبدالرحمان

تا به وي چې د شیراز خواجه حافظ دی

چې پيدا شه په اولس کې د افغان

موسيقار غوندې يې هسې نغمې کړې

چې يې پورې کړلو اور په کل جهان

۳۳ – قلندر مومند:

رحمانه! ستا له پاک مزاره ځينې

د آزاريانو لړ حنبر احلم

چې د راحت ولی يې بند کړې په موړ

دې جنتيانو نه کوثر اخلم

دا چې زموږ په مړه تلو خپه دی

اوس به له دوی ځينې وزر اخلم

چې خوشحاليو ته زموږ لنشي کتی

د داسې خلکو نه نظر اخلم

چې يې د زړه په سر داغلی يمه

نن خو بس دوی پسې راغلی يمه

۳۴ – محمد يار آسمان خپل:

اې رحمانه! اې د عشق د زړه د ملک سلطانه!

ته خراج د عقيدت واخله له مانه

اې ملنگه! تا ته ټول نن په سلام دي

او خبره نه کا څوک له عزی خانه

خزانې د اورنگ لاړې قلندره!

وي مدام به ستا د فیض چینه روانه

کرلانې، سړبنې درته راغونډ دی

اې طوطي د سړبن شیرین زبانه

اې مومنده! چې مومند نه داودزی یې

تا کړه مینه په یو شان له هر انسانه

تا کړې پولې د انسان په منځ کې حالی

ای د هر انسان شاعر عبدالرحمانه

۳۵ – دوست محمد خان کامل مومند:

زه پښتون کامل په تا ځکه نازېږم

چې آواز دې پورته شوي له افغانه

۳٦ – عبدالحق افندي:

څوک انکار کولای نشي چې رحمان د ژبې پلار دی

خو د ژبې هم یو لفظ پاستمدار دی د رحمان

ما خو دغه نتیجه یې د کلامه ده ایستلې

هر یو شعر په زر دارو، یوګو ذار دی رحمان

۳۷ – ګل پاچا الفت:

حضر خپل عمر ښبلی، ستا اشعارو ته رحمانه!

لکه سد د سکندر دی، ستا د هر بیت ودانۍ

۳۸ – سمندر خان سمندر

د رحمان غوندې لمن په اوښکو را

سوازه لاړل ما پیاده ته منزل لنډ را

چې ژوندون وه د بلبل غوندې دې راکړو

مرگ مو هم لکه طوطي د مالکنډ را

۳۹ – کاکاجي صنوبر حین مومند:

نه بیا لمر پریواته د آسمان لمنې سرې دي

آلوئې په فضا کې د رحمان سوې مصرعې دي

راوړي هر عاشق د عقیدت ډکې پیالې دي

که نه وي په مړو ډ:ې داسې ډېرې له دیرې دي

مقام په عشق کې ستا هم ستا له قوله څرگندېږي

د عشق په تتبع شهید ته د جنت حورې دلې دي

د عشق په نیلي سورېې د اخلاص نیزه په لاس کې

دا ستا په ساده شعر د وگړو سلې ده

زاهده مصلی په برکت درومي جنت ته

رحمانه! تا آشنا پسې لنگ کړې مصلی ده

د عشق له برکته هسې رنگ ژوندون دې بیاموند

تر اوسه نامي پاتې د مجنون او د لیلی دي

هیڅ نه کړي هجو، مدحه که هر څو پرې ته پوهېږې

معلومې دربنې دا د عروضو کشالې دي

یو سروې جنویر یې هم په غاړه زرغون نه شو

روانې له باړې خو نورې هم کږې ولې دي

د رحمان په هدیره

اې د مومندو ځمکې | اې د رحمان هدیرې
اې د ننګونو جالې | د غیرتونو دېرې
ای د پښتون د وطن | د بدخشان مثاله
بدخشاان ستا نه قربان | ارمغان ستا ارمضان
ته د ننګونو ډیوه | سیوري د ستا تنګان
اې خړې پړې خاورې | ته نشته خاوره نه يې
اې ګډو وډو وښو | دا نه چې نش واښه يې
د لوړ خیر د تندې | د عبرت حال دلته دی
د پښتون قسمت | مسلماني فال دلته دی [1]

چېرته لرې په صدو کې به دې خوشو هدیرو کې

د دوهي خړو ایرو کې یو ملنګ په اوسېدلو – تا ته یاد دي پسیلوره

مراد شینواری:

پېښوره، پیښوره! ستا د خاورې نه لوګی شم

بختوره، بختوره! دیغه ستا په شان ځای شم

کله کله شاعرۍ کې د رحمان لوګی لوګی شم

کله کله په اشعارو، د حمید کې اوسیلی شم

---

[1]- میاشتنۍ مجله (لار) پېښور، رحمان، ۸۹، ۱۵

پېښوره، پېښوره! دریغه دریغه ستا په سیمه

یو ملنګ بل را پیدا شي.

ایوب صابر:

ګلستان دی، نه بوستان دی، نه د بل شاعر دیوان دی

چې پښتون یې تلاوت کړي، دا کلام خو د رحمان دی.

همیش خلیل:

ستا تخیل چې د پرواز په آیینو کې ګورم

یا چې دې فکر د دې پټ زړګي پردو کې ګورم

یا چې الفاظ دې د ادب په رنګینو کې ګورم

یا چې پیرلی خیال د نظم په کړو ګورم

وایم چې بس ستا د دې فکر په دې ټال ځنګلیده

ورک وایي له ځانه او له جهانه ستا په خیال ځنګیده

پرشان خټک:

هغه تیراه هغه باړه او د مومندو سیمه

چېرې خو بیا دې هم ملنګ عبدالرحمان پیدا کا

ایاز داودزي:

ستره بابا! ستره رحمان بابا د خیال لیلی ستا له خیالونو قربان

زما د فن د جادوګانو وتیا، ستا له رنګینو جهانونو قربان

لطیف وهمي:

رحمان بابا ته

بیا زړه سوي شاعران درته را غونډ دي

شمع سوزي پتنګان درته را غونډ دي

تا نه پس په محفل څه تیر شوه رحمانه!

اوروي هغه داستان درته راغونډ دي

جالې وسولې اوباغ تالا والا شو

زړه ختلي بلبلان درته را غونډ دي

محتسب ور له کړه مات جام او کوزه هم

نشته لمبي ټول خواران درته را غونډ دي

د ځائې قصات اجیلي ذمه دار خلک

ادیبان څه، شاعران درته را غونډ دي

آه رحمانه! ستا لحاظ که د نام نه وي

وهمي هېڅکله به دلته بدنام نه وي

پښتو ډیره بختوره چې روزلی یې رحمان دی

چېرې سایل به یې پیدا نشي، د ادب یو قهرمان دی

مجیور سوراني:

دا چې داسې بر سره څېرې ګریوان دی

چې ترې هیره په دنیا کې هم دنیا ده

معمولي انسان خوند دی دا رحمان دی

د ادب د مملک فرمان روا دی

ډاکتر محمد اعظم اعظم:

په مسکن د عاشقانو قلندره!

په قبا د درویشۍ کې قلندر کې

د زړه د وینو رود په مخ روانه

د لعلونو، ملغرو سمندر کې

ډاکتر محمد زبیر حسرت:

دا ته له خوبه ویښ شوې که سحر له خوبه ویښ شه

سپوږمۍ محمد ستوري اوده شوه، زما نمر له خوبه ویښ شه

بابا ستا د خرار د سپین گنبد آواز یې واورید

کابل له خوبه پاڅید، پېښور له خوبه ویښ شه

دا کومو ظالمانو په لحد کې په لړزان کړي

چې سر کې دې د عمر پروت محشر له خوبه ویښ شه

دا بیا کوم مغل خپل د پښتانه امتحان اخلي

سینه کې طوفان د ثور او شر له خوبه ویښ شه

## ۲ – ۳ د حضرت عبدالرحمان بابا شاعري د څو مشهورو مستشرقینو په نظر

دوکتور خالد خان مستشرقین هغه څوک معرفي کوي چې شرقي ژبه یې زده کړې وي او د هغې ژبې د دب مطالعه یې کړې وي په انگرېزي کې دغو کسانو ت orientalists وایي.

زیاتوې چې د دغو خلکو تعداد زیات دی او په انگریزي یې پښتو کتابونه لیکلي دي. په دغو مستشرقینو کې لومړنی سړی پروفیسور برنارډ ډرون دی، چې په ۱۸۴۷م اتلس سوه اوه څلوېښت کې یې اول ځل د رحمان بابا دیوان انتخاب په خپلې مجموعې (پښتو منتخبات) یاد A chrystohathy of Pashto کې چاپ او شایع کړ.

وایي چې ډرون په اصل کې جرمنی و او په جرمني کې یې مشرقي ژبې زده کړې وې.

۱ – د ورگر دول راز موج عشق اموز = گر نبودی عشق فسر دی جهان

ډېرو لیکوالو او پوهانو په گڼو په تېره په خپلو ژبو ترجمه کړې ده، د هغو له جملې مستشرقینو د پادري هیوز، پلاوډن او مستر راورټي او.... مختلف کتابونه او ټیکس بوکونه، غزلونه او د هغو مفهومونه او مضمونونه ترجمه کړي دي.

اروانباد استاد اکاډیمسن میر حسین شاه چې یو وخت د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي مقدر، فقیم او پوه استاد هم و، د دغو ترجمو په برخه کې داسې نظر لري:

((اگر در تاریخ ادبیات پښتو بخوانیم، استادانی را برگزنیم که صاحب سبک و سملک و ابتکاراند و از مرحله تقلید گذشته اند، بدون تردید یکی از آنان عبدالرحمان بن عبدالستار است که من باب تحسب او را به بابا ملت ساختند و بین مردم به رحمان بابا شهوت یافت)) (میر حسین شاه ۲۷)

د بابا له وفات څو کاله وړاند میرویس خان هوتکي چې هغه ته ډېر ارادت درلود، د صفویانو د دولت پر ضد د رحمان بابا په دیوان وفال وکوت او هغه یې دغه شعرونه موندل:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله گویا یم

خاموشي زما تېرى کا تر غوغا زما

کسب د عق په توده ځمکه آسان چېرې

سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما

خوله مودو وروسته بیا میرویس خان بابا د عبدالرحمان بابا له دیوان سره مشوره وکړه او هغه ورته د قال په ژبه داسې وویل حضرت

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب و

خدای و ماته ښکاره کړ هغه سحر بیا

چې رقیب راته تړلی په زنځیر و

خپل حبیب را باندې پر اسنت هغه و بیا

په وصال يې منت بار اوسه رحمانه

په صدف کې دخل نشته د گوهر بيا

۱ – ايلفستن راين اکاونټ اف دی... نظر درلود:

"له ټول د لعزيز شاعر رحمان بابا دی، چې د هغه تخليقات په غزلو چې هو به هو د ايرانيانو په ډول دي"

يادونه: ممکن د شکل او منځپانگې له پلوه يې هدف وي او دا رنگ و معنا ډېر ډېر د ايران د لويې درجې نمبر يک شاعر اروابناد حضرت حافظ شيرازي رحم څخه مراد وي، چې دا ډول پرتلنه په را وروسته کې د پښتو ژبې سترو ليکوالو او محقيقنو علامه عبدالحی حبيبي او نور کړی دی، لکه:

در ازل حسنت زنجلی دم زد

عشق شد و آتش به همه عالم زد (حافظ)

ستا د حسن د تعريف له برکته

د رحمان د شعر کوکې په عالم دي (رحمان)

۲ – مېجر راورټي ويلي وو:

"خوشحال بابا په پښتنو شاعرانو کې اوچته درجه لري، ولې رحمان بابا د پښتنو د ټولو نه زيات مقبول شاعر دی."

۳ – پادري هيوز نظر دا و چې:

"کوم ځای د پښتو ژبه ده، هلته د رحمان بابا اشعار ويلی شي."

۴ – جيزاتو لېسن، د پښتو ترجمه، عبدالرحمان سرېښی وايي: "رحمان بابا د پښتنو مشترک ميراث دی."

۵ – سراولف کيرو – دی پټانز – مورخ ويلي وو (پښتو ترجمه): "يو شمېر د زړې زمانې شاعران شته، چې په هغو کې د ټولو نه مشهور عبدالرحمان بابا دی.

ډاکتر خالد خان، رحمان بابا د مستشرقين کې ليکلي: "مستشرقين د مغربي خلکو هغو عالمانو او محقيقينو ته ويلی شي، د چا چې يو مشرقي ژبه زده وي او په دغه ژبه کې موجود د ادب مطالعه يې کړې وي. په انگرېزي کې داسې کسانو ته (ORIETALISTS) وايي.

هسې خو د داسې مستشرقینو تعداد ډېر زیات دی، چې په ګڼو اروپايي ژبو کې د پښتو ژبې او ادب په باره کې تحقیقات کړي دي، چې مختصر يې راوړو: (په تېر پسې...)

٦ – پروفیسور ډورن (۱۸۴۷) کې د اول ځل لپاره د رحمان بابا د دیوان انتخاب په خپلې مجموعي «پښتو منتخاب یا A chrgstahathy of Pashto چاپ او شايع کړ.

ډرون د اصل نه جرمني و او خاص په جرمني کې يې مشرقي ژبې زده کړې وي.

رضا هماني: په ۱۹۵۲م کال د (رحمان بابا کې افکار په نوم د هغه د منتخب کلام منظومه (ماردو) ترجمه شايع کړه.

اکاډيمي پېښور: په ۱۹۳۳م د اردو ترجمه شايع کړه او د امير حمزه شينواري وکړه.

محکمه اطلاعات پېښور:

د رحمان بابا «نغمات شيرين» په اردو ژبه شايع شوه. او مقدمه وربانديې مشهور شاعر فضل حق شيدا ليکلې وو.

مير عبدالصمد:

په ۱۹۶۴ کال د «شاعر انسانيت» په اردو ژبه شوې ده او د رحمان بابا د ژوند، شاعرۍ په برخه کې په تفصيل سره کړې ده.

کراچي انجمن شرقي:

د «پښتو شاعرۍ» په نامه کتاب شايع کړی دی. دا کتاب هم په اردو ژبه دی.

پروفيسور محمد زمان مضطر:

په ۱۹۹۳م کال چې ده انسهرې و د (مرا رحمان« په نامه د رحمان بابا او د (٦٠) تنو نورو شاعرانو غزلونه په اردو منظومه ترجمه چاپ کړه، چې اصل پښتو غزلې هم ورسره شاملې دي، داسې واقعي يو ډېر کامياب کتاب و.

شبانه ختټکه:

په اردو ژبه کې وروستی تحقيق و، چې د (رحمان بابا او د خواجه مير درد د تصوف موازنه يې کړې ده، او دې کتاب ته د (اوين يونيورسټي اسلام) له طرفه په دوه زرم کال کې د (ايم فل) ډګري ورکړ شوې ده.

پادري جينز يونس:

ډنمارکی و، د رحمان بابا خصوصي مطالعه او د رحمان بابا د کلام څخه د (پنځوسو) غزلونو ترجمه سل کاله وروسته وکړه او دا ترجمه یې په انګریزي ژبه وکړه.

Selections from Rahman baba or Nightinnate of Peshawar په نامه په (۱۹۷۷م) کې په کتاب کې شایع کړه. دا سړی په ۱۹۱۹ کې وفات شو.

پروفیسور رابرټ سمیسن:

د رحمان باب دیوان په انګریزي ژبه وکړه او په نورو ونه شوه.

## ۲ – ۴ رحمان بابا په خپل نظر

" د مظلوم رحمان" په کوچني رساله کې په زړه پورې موضوعات دده په برخه کې د نورو شاعرانو خو کله دده له خو مصرع شوي ده، رحمان بابا د جمال خان په مرثیه کې په یو شعر کې خواهش داسې ښکاره کوي او فرمایي چې په کار داوه زمانفس هم خوړل او څښل نه کولای، ګویا طرف مرګ، نڅا د ادب پّ حدودو او په ادبي رنګ کې کولای:

له دې خپله سپیه نفسه مې زړه بد شه

چې اوبه څښې یا خواړه خورې په جهان کې

له پورتني شعر نه داسې معلومېږي چې رحمان بابا د جمال خان د واقعې نه وروسته ....بیا ډېرې ورځې ژوندی نه دی پاتې شوی، ځکه چې د مسلمانانو د اولیاوو تاریخونه شاهد دی چې د خدای ج دوستان کله په دنیا کې له ژوندونه څخه تنګ شي نو الله تعالی یې بیا آخرت ته بیایي تر دې پورې چې ډېر اولیاء د خپل کفن بندوبستهم وکړي، وصیت هم وکړي او بیا خدای تعالی ورسره هم هغه شان وکړي لکه څنګه چې دوی ویلي دیږ شیخ فرید الدین عطارد توبې او داسې نور ډېر واقعات په دې خبره شاهدي ورکوي چې د بیان د اوږېدو له وېرې یې نشم لیکلی.

نو رحمان بابا هم نور به دنیا کې خوشحال نه و، شپږ(٦٧) کاله یط عمر کړی او عمر یې (٧٦) کلونه ته ورسېده، خو نوموړي په خپل عمر شکرګذار دی او وایي چې زما عمر دراز دی، مګر ای کاش چې حضرت عبدالرحمان بابا لا نور هم ډېر ډېر عمر کړی وای، لا به یې د هغه وخت او راتلوونکو وختونه انسانانو لپاره د ژوند او آخرت تیاره ګوټونه لا راسپړلي وای. په دې کار الله چې علیم ذاب دی پرهیزګازه، متفي او اولیاءالله له رویه خدای ج پر خلکو د رحمت نور اوروي، بیاهم په )٧٦) کله عمر الله ج منظور کړی و، او همدومره یې روزي او مهماني

وه،له موږ سره دده د کلام هغه خواږه دُر او مرغلرې شته چې هرومرو يې په هره برخه کې د نور رحمت په توګه کاروو!!!

عبدالرحمان بابا په خپل عمر راضي و او خپل لوی او اوږد عمر يې د راستۍ اوښګڼې مولود ګاڼه، لکه:

دراز عمر مې حاصل شه له راستۍ نه

لکه سر و مدام سبزو تازه پايم

وايي چې بابا د سپين ږيري او کمزوري شوی و او اوږد عمر يې تېر کړی و، نو خدای تعالی په همدې کال يعنې (۱۱۱۸هـ ) کې خپل رحمت ته وباله او دارنګه رحمان بابا خواهش يې پوره کړ. الله دې وبښي( انا الله و انا اليه راجعيون)ط.

يادونه:

د عبدالرحمان بابا په برخه کې سوونه او آن زرګونه او لوی او واړه مضمونونه د بېل بېلو ليکوالو، شاعرانو، ناقدانو، محقيقنو، موافقين، مخالفينو، دالي له بهرينو پوهانو، نارينه وو او ښځينه وو له خوا وهي شوی او ليکلی شوی، چې د ټولو را ټوليدو مهال خبره ده. خو زه به يې به هغه يادابښتونه، چې د نوموړی په وخت کې ويلي شوي، د بايګروند په توګه همدلته لږ و زيات راواخلم.

شريف احمد حنفي افغاني ( مضلوم رحمان ) رساله کې ليکلي: نوموړی د رحمان او خوشحال شاعرانه مقابل لږې زياتې راوړې، لکه:

**۲ – ۴ – ۱ د رحمان بابا شاعري د ده له خپل نظره**

– ۱

لکه خوند لري زما خوږې خبرې

په شکرو کې هم نشته هسې خوند

– ۲

لکه زه سخندان او هنرمند يم

بل به نه وي سخندان او هنرمند

– ۳

هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

۴ –

دُر، گوهر په تله نه دي چا تللي
د رحمان شعر گوهر دی څه يې تولې

۵ –

هم نغمې کاندي، هم رقص کاندي، هم خاندي
د رحمن په شعر ترکې د باگرام

٦ –

چې منکر پرې اعتراض کولای نشي
دا د شعر دی رحمانه که اعجاز

د رحمان و سوزان شعر ته حیران شوم
چې يې اور بل شوی نه دی په دیوان

هېڅ کم نه دی تر سپین مخو دلبرانو
بلکې به دا زما شعر نمکین

چې رنگین رنگین مضمون پرې کښلی نه وي
څه په کار دی د بیاض کاغذ رنگین

په پښتو کې رحمان ووې

په فارسي کې سنايي

که يې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي

غوږ په نه باسي په شعر د خوشحال

خوشحال او دولتنامي غلامان دي

زه رحمان په پښتو شعر عالمگير يم

ستا د حسن د تعريف که برکته

د رحمان د شعر کوکې په عالم دی

**۲ – ۴ – ۱ د خوشحالا او دولتا**

د رحمان بابا د چاپي او خطي دیوانونو مهم په پوړ کې یوه بدله شته چې مقطع یې داسې ده:

خوشحالا او دولتا غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم[۱]

دغه بیت له هغه وخت چې شاعر ویلی دی لوستونکو یا اورېدونکو ته یې ذهني کړاو او تلاش ورپېښ کړی دی چې رحمان بابا دې په ښادښې شي خوشحال او دولت خو یې دواړه مریان ګڼلي دي مرګ دغه ( الف) څه شی دی چې د دوی د نومونو په پای پورې یې نښلولي دي زما په اند چې (۳۵) کاله د مخه د پښتو پوهانو پر دې بیت باندې خبرې او لیکنې کولې او ځینو دغه دوې کلمې خوشحالان او دولتان هم لوستلې دي او تر دوی لا د مخه په ځینو خطي نسخو کې هم داسې لیدل کېږي، د کابل د خطي کتابخانې په یوه خطي نسخه کې دا مسرې داسې راوړل شوي ده:

" یو خوشحال، سل ختک نور مې غلامان دي"

د رحمان بابا یو بل خطي دیوان چې په (۱۳۸۱هـ) شاه نور کاتب د کوټړ د آخوند زاده فضل احمد لپاره لیکلی دی اوس د ښاغلي ډاکټر حبیبیپه کتابخانه کې دی دغه بیت کورټ لري نه او دا ځکه چې کاتب په معنان نه دی پوهېدلی نو دین ګرده بیت له دیوانه ایستلی دی دا چې رحمان بابا شاعرانه تفاصرز په ابثنا کې خوشحال او دولت خپل علامان ګڼي تر ده د مخه یا وروسته نورو شاعرانو هم دا کار کړی په خپله خوشحال خان وایي:

د دولت دیوان مې ومانده په ګوډي

مسخره مې ارزاني خویشکی زمند کړ

عبدالقادر خان ختک د خوشحال خان زوی بیا داسې کسترې وایي:

زه ختک د یار په غم زه تازه تازه شوم

غوریاخېل رحمان که شو ورځني ستړی

خاقاني خپل ځان د سنایي پر ځای ناست مستحق سخن ګستر بولي:

---

[۱]- د پښتو ټولنې چاپ کړی دیوان ۱۰۴ کابل

چون زمان استائي درنوشت

آسمان چون من  سخن گستر بزاد

غيني کشميري شاعر ويلي و:

چه عجب طبعم اگر دعوی اعجاز کند

که به لطف سخم نسبت کسی را سخن

ميرزا عبدالقادر بيدل په داسې ډول خپل ځان ستايي:

معنی گرشريک معنيت پيدا نشو بيدل

جهان گشتم بصورت نيز نتوان يافت مانندت

نو به موږ د رحمان بابا دغه شاعرانه ځان ځانۍ ومنو، که څه هم خوشحال خان په خپلو رنګارنګ اشعارو او خوږوږېدولو د ښتو د شاعرانو د لومړي پوړ په سر کې دربېږي؛ خو رحمان بابا د ګرانښت او لويښت سبب هم دادی چې دی د لطف احساس او نري فکر ترجماني په ښايسته الفاظي کوي او د پښتو ژبې دادا تعبير لارې چارې نه ورانوي، نو که داسې وي دغه د خوشحالا او دولتا ابدالفونه  له کمه راغله.

دلته بايد دا خبره هېره نه کړو چې رحمان بابا د خپل عصر او چاپيرې په ادبي رواياتو کې سره رانغښتی سړی و او وده له دري ادبياتو ډېر څه لوستی او راخيستي دي.

د ايران، هند او خراسان په دري ادبياتو کې بس له نهمي هجري پيړۍ څخه دا شاعرانو د تخلص يا لقب په پای کې يو الف د تعظيم او لويښت لپاره زياتېده چې په پخواني ادب کې يې د اشتباع الف با له او د قافيي د کمولو لپاره به يې مثلاً د کمال او جمال کلمې د جمال يا کمال کښلې او کلماتو په پای کې يې زايد الف راوړی دی لکه:

دوش بود ورخثانا

پروين پيدا او مانا بانا

دغه بيت په المعجم معابراشعارالعجم ۲۰۹ مخ کې راغلی دی.

وروسته وروسته دغه زايد الف د تعظيم لپاره د نومونو په پای کې پورې د پايځوږ په ډول نښلول کېدل، غياث

رامپوري داسې کاږي:" الف تسمیه برای تعظیم د اخر غلام و القاب آرند چون جلالل نصیرا، ظهیرا، طالبا، نقیا، صائیا، ویرغه...

ارزو د هند نقاد شاعر وایي:

د میر جلال طباطبایي از سادات تهابابه از عرق به هند امد

ددغه میرزا جلال منشیات شته چې یوه( داد سخن ۷۳) خطي نسخه په ۱۲۴۴ کال کې دې پنجاب په پوهنتون کې وه دغه الف چې د لوینبت او غټولو نبنه ده وروسته په فارسي ادب کې ډېره رواج شوه لکه:

حکیم و کنار مسیح ملیحا سمرقندی تشفیعا تبریزی نصیحا سمرقندی غیاث حلوایي:

محمد محمد سعید اشرف خپل استاد ارزان صاحب اصفحاني عبدالرشید د بلمي خطاط داسې ستایي

کرده بو دایزد عنایت خوشنویش و شاعری

کز وجود هر دو کردی انتخار پام ما

بود اسم و رسم آن عبدالرشید بلمی

بود نام این عالی بیگ و تخلص صائبا

گفتن از ارشاد شاد پیر عقل در تاریخ آن

د مرگ هر دو بود با هم مردن اقا رشید و صائبا

کله چې ابو طالب کلیم مشهور شعار مړ شو غنی کشمیري وویل:

حیف کزدیو از این گلشن پرید

ضالبا آن بلبل باغ نعسیم[۱]

د دري ژبې یو بل تکړه شاعر سردار هارون خان د حاجي جمال خان محموزي زوی دی چې په گرشگ او دبارکزو په ناوه کې اوسېده، تر اوسه نادعلي کې ده، ده په خپل دیوان کې د صائب اصهاني د یوې غزلې ځواب وایي چې آخر بیت یې دادی:

---

[۱]- غنی چاپی دیوان ۲۴۹مخ)

هارون جواب آنغزل صائیباکه گفت

حالا که خلق کار برای خدا کنند[1]

اوس به نو ستاسې ته ښّ معلومه شوې وي چې تر پېړۍ راو روسته دا یو ډول تعضم او ادب و، چې د شاعرانو د تخلص یا لقب په پای کې د تعظیم الف ونښلوي لکه چې لوړ یې مثالونه وړاندې شول او تاسو وکتل.

نو رحمان بابا هم ددغه ادبي سنت تابع و او خوشحال یې خوشحلا او دولت یې دولتا بللی دی.

نتیجه: داد شاعر د احساس غورځنگ دی چې ختِک او لوڼ غونډې شاعران تر ځان کښته گڼي چې بیا یې هم نوم په تعظیم او خاي او د نامه په استربل پورې یې الف نښلولی دی.

رحمن خو یو دریوش او متواضع صوفي و، سم ملنگ ښکاري، خو د شاعر د شاعرۍ ویاړنه یې اسې ده چې خوشحالا او دولتا غوندې په لویښت منلي خلک هم سیالان نه بولي، تاسې څه وایاست زه خو وایم چې د بهادر کلي دغه درویش ښه ویلي دي او د دري ژبې دغه ادبي دود یې ښه ساتلی دی.[2]

## ۲ – ۵ رحمان بابا د معاصرو شاعرانو په هنداره کې

**د رحمان بابا دوه سوه اتیا یم تلین** ، سریزه او ترتیب د ز ـ ه (زلمی هېوادمل) خپروونکی، کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، (۱۲۲۸ – ۱۴۰۸ هـ ق)

په دغې کوچنۍ رسالې زموږ د هېواد د پیاوړي محقق، لیکوال، نقاد او څېړونکی استاد سرمحقق هېوادمل غنمته سریزه لیکلې چې لوستل یې بې پربمانه گټې نه دي.

په دې مجموعه کې د لسو تنو شاعرانو شعر راټول شوی چې زه به یې دوه درې د معاصرو شعرونه راواخلم.

په دې مجموعه کې د لسو تنو شاعرانو شعر راټول شوی چې زه به یې دوه درې د معاصرو شعرونو په راواخلم

**شاعران**

الف:

---

[1]- د هارون خطي دیوان ۱۰۷ مخ

[2]- د عبدالرحمان مومند.۱۳٦۹،( رحمان بابا، ۲۸ تلین، د مقالو مجموعه، کابل: کابل پوهنتون، دژبو او ادبیاتو پوهنځی. ۱ مخ

د عارف خزان شعر:

سړی ژوندون ته مې دمه شه راشه

تورو تيارو ته مې ډېوه شه راشه

تش د ددين  احسان دې نه منمه

لکه وږمه په ما خوره شه راشه

د وصال عمر يوه شېبه وي تېر شي

ته تمام عمر راسره شه راشه

هسې نژدې مې خواته ولې راځې

سم په حواسو مې ديره شه راشه

زه لکه وچه سپېره دښته تږي ته د بازار يوه شېبه شه راشه

د تورو شرنگ مې کړل غوږونه کاڼه

ته چې راځې نو يوهنغمه شه راشه

د داکتر لطيف بهاند شعر

گوره چې قسمت له کومه راوستم

غم د محبت تر کومه راوستم

ما خو تکل ستا د کتلې کړی و

پل دې  الفت تر کومه راوستم

نور خو غيرت ته مخه ښه وکړه

زه پښتون غيرت تر کومه راوستم

ژوند مې د پېغور په تناره کې دی

داسې شفقت تر كومه راوستم

ستا په تش كتو مې ژوندون بايلوده

دی مو وحشت تر كومه راوستم

دوست محمد شينواري شو

د رحمان بابا د شعر په اقتضا

زه د يار په درد و غم كې شادمان يم

كه گل د پريشانۍ په وخت خندان يم

دوست

يو بې كوره مسافر په دې جهان يم

يو ساعت كه دمه گير م بيا روان يم

د دنيا خلكو په ما پورې تنگ مه شئ

يوه شپبه مو د ليدلو ارمان يم

خدای خبر چې لېونی او په سد څوک دی

تاسو ما ته او زه تاسو ته حيران يمه

څه سودا يم خپل كور ته راوستلی يم

د شمال غوندې ديره په بيابان يم

يادونه:

كېدای شي د بابا عليه الرحمه په برخه كې تر اوسه پورې هره ورځ نور شعرونه وويل شي او مشاعرې خو د دغو ټولو مفردو شعرونو او مشاعرو حساب د چا خبره (د مستوفي له حسابه خلاص دي...)

د ملانصر الدين يوه ټوكه:

وايي يو وخت يوه دوه تنه د زاړه شاعر له لوري د نصر الدين پر كرونده راغلل، په ناست سړي ملا نصرالدين يې

سلام واچوه هغو له ملا وپوښتل زموږ ملا پکار دی چې پوښتنې ترې لرو.

ملا ورته وویل، له ما یې وکړي هغوی چې دا پوښتنه ترې وکړه، د ځمکې منځ کوم ځای دی، ملا خپل د لاس لکړه په ځمکه ورته چوخ کړه، و یل یې دغه ځای پوښتونکي ورته وویل ته څه پوه شوی؟

ملا ورته وویل چې ورشه نو ځمکه څلور خوا اگر که...

همدا خبره د بابا په برخه کې د شعرونو موجودیت هم سابتوي، یعنې له حده وتلی دی، خو د اوس لپاره کافي دي.

## ۲ – ٦ ساحوي ریسرچ

### ۲ – ٦ – ۱ ساحوي پلټنه او څېړنه:

ساحوي ریسرچ () پلټنه او څېړنه د ( ) یوه زرینه برخه ده.

دا برخه په دې پورې اړه لري، چې موږ څومره د یوې موضوع د لا غوره‌والي په برخه کې هڅه کوي، سپیناوی کووو او حق د حقیقتونو په منځه کې لار پیدا کوو او د ډېرې روښانتیا لېوال یې یو.

د حضرت عبدالرحمان بابا په برخه کې بیا بیا او پرله‌پسې پلټنه د دې معنا لري، چې موږ غواړو د نوموړي د فکر او ماضي الضمیر له حقیقته پرده هیسته کړو او هو به هو د هغه بابا د زړه آواز او د فکر اعجاز ومومو او نورو ته یې ښکاره کړو، خو د شعر اصلي معنا له شاعر سره د عبدالرحمان بابا مومند د افکارو جاج اخیستل د هرې ورځې هرې میاشتې، کال، سیمنار، مقالې، کتاب، کنفرانس له جوړېدو وروسته لا جوتېږي او دا ځکه چې ادبیات انساني نظریې د پلټنې په صورت کې د غوړېدلو په لور درومي.

**نظریې د او انساني**

که موږ هرې موضوع د لاجوتیا او مفهوم پیدا کولو په خاطر د نظریو تل ته ځان رسوو او لازمه ده په موضوع پورې اړوندو پوهانو آندونه هنداره کې د حقیقت مخ وګورو.

عبدالرحمان بابا شخصیت د ورځې په څېر روښانه دی، خو بیا هم ایجاب کوي، چې د دې برخې قلموال د ده په اړوند قلم وښوروي، د قلم او د چا خبره د دیموکراسۍ څېره د هر کله او برخیال له زاویې را وپلټو.

موږ په دغه لړ و زیات راټول کړي اکفار او توري سره وپېیو او ښایسته سر و صورت به ورکړو.

زما څېړنې دغه برخه په علمي ځایو شخصیتونو او افرادو پورې اړه لري، قلموال او هر یو ځانته د افکارو او باورونو

خانان دي.

زموږ خیر د کابل ښوونې او روزنې او ننګرهار پوهنتونونو او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمۍ د استادانو، نظروالو او قلموالو په لنډ لړ شمېر اوږدو پلټنو اچلوي، چې زه به یې یو پر بل پسې راوړم او خپل نظرونه به هم هو به راوړم.

ورسره شریک کړم او دا به وګورو چې په کمو نظریو کې لوی مفهوم پیدا کړم:

**۲ – ٦ -۲ کابل پوهنتون**

**پوهنوال دوکتور اجمل ښکلی:**

صوفیان دوه ډوله دي: یو هغه چې تصوف یې مسلک دی او په طریقت مخته ځي، مریدان لري او عملي طریقه مخته وړي؛ بله ډله هغه چې یوازې اخلاقي اړخ پالي، رحمان بابا هم په دویمه ډله کې دی، یعنې رحمان بابا اخلاقي صوفي دی.

الف ساحوي ریسرچ (رحمان بابا اخلاقي شاعر و)

عبدالرحمان بابا د هغه وخت د فرهنګ په خصوصیت پوهېده. (هغه وخت د فرهنګ یوه ځانګړنه دا وه چې فرد خپل ارزښتونه په چوپه خوله منلې وای، را راوان نسل ته یې به امانتدارۍ ور لېږدولی وای...

رحمان بابا ته اسلامي تصوف په میراث پاتې او د هغه وخت په درسي مرکزونو کې یې لوستی و، دا هیله کېده چې تصوف ته په خپله شاعرۍ کې ځای ورکړي، ځکه هغه وخت که شاعران عملي صوفیان وو که نه، تصوف یې د یوه ور پاتې روایت په توګه را اخیسته...))

د رحمان بابا نظریې د ده په فکر د انساني ګتو په محور څرخېږي، که څه هم نوموړي بابا د روښانیانو په څېر ژوروالی نشته، رحمان د تصوف اخلاقي اړخ ته یې ډېره توجه کوي، عام متصوفین او عارفان په دې آند دي چې د تصوف موخه فنا فی الله ده. دوکتور اجمل د اروابناد حضرت ابوالحسن نوري رح له خولې وېي چې تصوف د علم نوم نه، بلکې د ښو اخلاقو مجموعه ده، دغه ټکی جنید بغدادي په لسګونو نور علما او په تېره امام محمد غزالي و آن اقلال لاهوري هم کوي، خواجه عبدالله انصاري او مولانا جلا الدین محمد بلخي هم داسې باورونه درلودل او مولانا خو لا ویل:

دی شیخ با چراغ همی ګشت ګرد شهر

کړ د یو د ملوم او انسانم ارزو است

نفگند یافت می شود، جسته ایم ما

گفت آنکه یافت می نشود آنم ارزو است

او حضرت رحمان بابا فرمايي:

کر د گلو کړه چې سیمه د گلزار شي

اغزي مه کره په پښتو کې به دې خار شي

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه

چې همدا غشی به ستا په لور گوزار شي

رحمان بابا د اخلاقو امانتدار و، اخلاق د ټولنې بقا تظمينوي او په ټولنه کې نظم راولي. پوهنوال استاد دا جملې ښکلي د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي استاد دی چې په دغه برخه کې پیاوړو نظریاتو او لوړ فکر رسا قلم خاند دی، نظر مو مخکې راوړی دی.

**پوهاند دوکتور محمد حسين يمين:**

استاد پوهاند دوکتور محمد حسين يمين د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د فارسي – دري څانگې پخوانی، باتجربه، ژبپوهاند او ادبي نقاد او څېړونکی دی، استاد په حقه چې به ټولو ادبي پوهنو، نظريو علومو په شنه کې د کره نیکو او جوړونکو نظریاتو خاوند دی.

هغه باور لري چې رحمان بابا لوړ مقامه، محگامي عارف شاعر دی، نوموړی په عرفان او تصوف کې د توحيد په لاره کې د عرفان نظریې او عملي لارې چارې په گوتو کوي او وایي چې عرفان په نظریې او عملي برخو وېشل کېږي، وایي چې سرو سلوک لارو د عارفانو په نظر متفاوته ده، چا اوه چا ته او همدارنگه خواجه عبدالله انصاري سل منزله وړاندې کوي،

استاد يمين د يو عارف له خولې وایي چې عشق انسان د کمال مرحلې او پړاو ته رسوي، بلکه خواجه حافظ شیرازي چې نظر درلود.

عشق رسد فه فریاد از خود په سان حافظ

قران زبر بخوانی با چارده روایت، دی وایي:

د او باورد که با عقل ترتیب عرفان نمیتوان رسید و مې گوید

ای که از دفتر عقل آیت عشق آموزی

ترسم این نگفته به تحقیقت ندانی دانست

او زیاتوي:

رحمان بابا تیز از عارفان فریحخته و صوفي و ارسته ییی است او هم در اشعار کلام خود عشق را اصل اساسی در عرفان دانسته است و گفته:

هومره اود عاشقۍ په زړه کې یوسي

چې لا له یې له ترتیبه د میده شي

یا:

عشق فرد مخلصانو دی رحمانه

نه حاصلبړي مخلصی په روی، ریا

په دې دوی د رحمان بابا دیوان ډېر زیاد عرفاني ټکی لري او د عرفان په برخه کې د پښتو ژبې له سترو شاعرانو څخه ګڼل کېږي: ساحوي ریسرچ یمین)

مخ دې بې خط و بې خاله هسې زیب کا

چې هیڅ حاجت د خط و د خال نشته

که لږ ژور فکر وکړو دلته د حافظ شعر د مضمون د جامعیت او د بیان د حسن له پلوه د بابا له شعره ډېر اوچت دی، لیکن د خلوص او د جذب او دبیان د ساده‌ګۍ او بې تکلفۍ له رویه (هر څو که حافظ شعر کې رنګیني هم ښه ګډه شوې ده) د دواړو شعرونو نزدیکت جوت دی او یو شان اثر پیدا کوي، لکه:

حافظ شیرازي:

بد گفتی و خورسندم عفاک الله نکوگفتی

جواب تلخ می زیبد لب لعل شکر خارا

هغه شونډې چې خوږې دي تر شکرو

له ښکېنځلو يې عارنه کاشقان

کله ناکله د حافظ روح الله شعر له سعدي رح متاثره شوی او دا لا څه چې مضمون يې ترې اخيستی دی.

اگر دشنام فرمائی و گرنفرين دعا گويم

لب لعل شگر خارا جواب تلخ می زيبد

د پښتو ژبې شاعر ښاغلی رحمت الله رعد د حافظ د ديوان په مقدمه کې ليکي، چې د حافظ شعر د سعدي له شعره اوچت شوی هم دی، او له مصراع د حافظ په شعر کې زياته واضحه او بليغه ده او په دويمه مصراع کې د دوو برخو دروندوالی د حافظ د مصرې بندش ډېر زيات ښه کړی دی.

زما د مطالعې له مخې او رحمن بابا دواړه عارف او صوفي شاعران دي، خو حافظ له عارف والي سره سره صوفي هم دي، په دې معنا چې حافظ په مسلکي ډول د عرفان په عملي والي کې له شعريت مبارکه پيل کوي او بيا حقيقت ته ځي، مگر رحمان بابا سره له دې چې تصوفي طبعيت لري، خو ډېر ځله په عارفانه انداز کې د شيانو او کائناتو پېچلتيا او ښکلا د پند په ډول په پوره ظرافت بيانوي او خلک له معنا او ماهيت د پديدو خبروي، خو حضرت حافظ هم دا کار مخکې کړی دی.

حافظ وايي خانقاه و خرابات ته مه گوره، په ټولو ځايونو کې د خدای نور شته او له موږ سره په هر ځای کې دی، لکه:

تو خانقا و خرابات درميانه مبين

خدا گواه که هر جا اوست با اويم

حافظ بل ځای وايي له مسجد او بتخانې څخه زما مراد د ستاسو وصال دی او بل خيال نه لرم.

غرض زمسجد و بتخانه ام وصال شما است

جز اين خيال ندارم خدا گواه من است

يا دا چې ټول خلک يار غواړي، که هوښيار دی که مست او په هر ځای کې د عشق کور دی، که مسجد دی او که کنشت يا هر چېرې خدای ج شته.

حافظ:

همه کس طالب یارند چه هوشیار چه مست

همه جاخانه عشق است چه مسجد، چه کنشت

عبد الرحمان بابا هم دا باور او عقیده لري او دواړه په عارفانه هوښیارانه، اشتیاقانه عملي تفکر باور مند دی.

رحمان بابا:

هر زیارت لره چې ځمه مراد مې ته يې

زه زایر د بتخانې د حرمم نه یم

او یا دا چې:

خای لره به ورشم په سودا د یار له مخه

بل غرض مې نشته په کعبه په بتخانه

حافظ ځان عاریت ګڼي او وایي چې دوست الله راکړ او که يې یوه ورځ وګورم نو ورته تسلیم به يې کړم: لکه

این جان عاریت که به حافظ سپرده دوست

روزی را رخش به بینم و تسلیم وی کنه

رحمان بابا:

څو ونه وینمه ستا سترګې که خدای کا

عزائیل لره به هومره ځان ورنه کړم

کله ناکله شاعران او په تېره عارف شاعران د یار له نړیدوالي دومره ډاډه او مطمئن کېږي، چې یوازې ځان او یار ویني او بل هېڅوک هم نه ویني.

حافظ:

گل در برو ومی در کف و معشوق بکام است

سلطان جهانم به چنین روز غلام است

چې له څنګه مې دلبر په لاس کې جام دی

نن اورنګ د زمانې زما غلام دی

او یا دا چې د مینې او محبت او عاشقۍ له جادو یې اغېز او ښېګڼو دواړه شا کړه کېږي او مینه ورته سره زریا کیمیا یې سعادت ګرځي.

حافظ:

از کیمیائی مهر تو زرگشت روی من

آری بی من همت تو خاک زر شود

رحمان:

چی یې زر کړه زیړ رخسار زما د خاورو

عاشقي نه وه په باب زما کیمیا وه

څو شعروه له تشریح پرته د دوی د افکارو د روښانه او تعالي لپاره راوړو:

حافظ:

ار آن زمان که برین آستان نهادم سر

فراز مسند خورشید تکیه گاه من است

عبدالرحمن بابا:

چې یې سر په مځکه ایښی دی خپل یار ته

په آسمان باندې ختلی لکه لمر دی

حافظ:

بر سر موئی مرا باتو هزاران کار است

ما کجایم و نصیحت گر بی کار کجا است

رحمان:

رحمن هسې وزګار چېرې دی له عشقه

چې غوږ ونیسي ناصح غوندې وزګار ته

حافظ:

مستي عشق نیست در سر تو

رو که تو مست آب انگوری

د رحمان شراب له عشقه

نه انګور، نه له عنابه

په (ر) سره پای ته رسېدونکي غزلونه چې کابو یو فکر وړاندې کوي. د دواړو مبارکو او نازکخیاله شاعرانو په شعرونو کې ګورو.

حافظ:

ای خرم از فروغ رخت لاله زار عمر

باز که ریخت بی گل رویت بهار عمر

حافظ:

حافظ سخ بگوی که بر صفحه جها

این نقش ماند از قلمت یادگار عمر

رحمن:

تل به نه وي شګفته بازار د عمر

نه به جوړ وي همیشه بازار د عمر

یا:

بیا یې وار په دا دنیا نشته رحمانه

پهه هر چا باندې چې تېر شي وار د عمر

همدارنگه د دوی به ډېرو شمېر شعرونو کې د خیال او فکر یو شان والی جوت نه دی، دا شعار په مطلعو کې د بهار او گلزار  استعارې سره گډې شوې او د حافظ شعر کې عمر له برښنا سره هم تشبه شوی دی.

حافظ:

از دیده گر سر  شک جوباران چکد رواست

کا ندر غمت چو برق بشد روزگار عمر

او د رحمان بابا د غزل درېیم شعر داسې دی

لکه برق چې مخ ځرگند کاندي بیا نه وي

هسې تېز دی بې سکون رفتار د عمر

رحمن:

چې سمند یې نه جلب لري، نه واگې

خود به پرېوځي عاقبت شهوار د عمر

رومین هی رخش عمر کهان دیکهنی تهمی

نی هاته باک پر هی نه پاهی رکاب مین

کامل مومند وایي دا لاندې شعر ممکن عبدالرحمن بابا د حافظ په اقتفا لکیلی وي، ځکه له نور فکري ورتوالي سره سره آن د هجاوو شمېر یې هم یو دی، وگورئ:

حافظ:

روضه خلد برین خلوت درویشانست

مایه محتشمی خدمت درویشانست

حافظ اینجا با ادب باش که سلطان و ملک

همه در بنده‌گی حضرت درویشانست

رحمن بابا:

که نظر کا ځوک په کار د درویشانو

خود به ووینې وقار د درویشانو

درست دیوان د رحمان ځار دا غزل شه

چې بیان یې کړو کردار د درویشانو

حافظ:

قصر فردوس که رضوانش به دربانی رفت

منظری از چمن نزهت درویشانست

دولتی را که نباشد غم آز آسیب زوال

بی تکلف بشنو دولت درویشانست

خسروان قبله حاجات جهانند ولي

سببش بنده‌گی حضرت درویشانست

گنج قارون که فرومیرود از قهر هنوز

خوانده باشی که از غیرت درویشانست

رحمن:

د جنت د باغ گلونه به یې هېر شي

که ځوک ووینې گلزار د درویشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دی

خزان نه لري بهار د درویشانو

پادشاهان د دې جهان واړه پراته دي

لکه خاورې په دربار د درویشانو

د قارون و حال يې ګوره حال يې څه شو

راشه مه کوه انکار د درویشانو

نتیجه:

دواړه شاعران نه یوازې د خپل دور، بلکې دا دواړو شاعران دي، دا ځکه د انسانیت، رښتینې دینداری، سړیتوب د ټولنیز ژوند د هر ډول غمونو او دردونو او لسګونو بشري کمښتونو د په ګوته کولو شاعران دي، یعنې دا ټول يې په پوره فنکاری او شعري هنریت سره انعکاس کړي دي.

زه فکر کوم حافظ او رحمن نه یوازې د دري او پښتو ژبې دري او پښتو ژبو شاعران دي، بلکې دوی د انسان، انسانیت، مسلمان غیر مسلمانانو د دردونو آلامود لرې کولو شاعران دي، د دوی فهم او پوهه نړۍ شموله ده. دواړه په ساده ژبه استعارو، کنایو، متشابهاتو د هنر بیان کوي، اشعار يې غوټې او مصنوعیت نه لري او سړی يې له لوستلو او مطالعې داسې احساسا کوي، چې زه د دواړو د شعرونه په تل کې اوسم. دوی دواړه د انسان د مافی الظیر شاعران دي. هغه څه چې مو يې په ساده ژبه نشو ویلای، دوی يې په ډېر هنري ډول د شعر په ظریفانه ژبه بیانوي.

د شعرونو له مطالعې يې ښکاري چې له همدوی سره غږېږم، همدوی زما د زړه خبرې په شکرینه ژبه راته کوی، زما د هرې پوښتنې ځواب راته وايي.

د اشعارو مطالعه او په هغوی پوهه هم دومره ساده نه ده، د حافظ په وینا تنده پوهه غواړي، غر او کوتل لري.

د دواړو په شعرونو کې پند، نصیحت، ځان پېژندنه، یار پېژندنه، حقیقي ممینه، الله پالنې، دینداري او د ټولو پدیدو د هویت د سپړلو لپاره عرفاني پوهې او نورې په لسګونو ممتازې او مدللې پوهې ګورو چې هنریت يې له ورایه ښکاري او هېڅ د منکر پرې اعتراض کولای نشي.

د دواړو شعر سر آپا هنري دي، ښکلا او اعجاز لري، هر غزل له مطالعې يې د هنر او ابد د دوستانو تنده خړوب خړوب شي او په رښتیا هېڅ منکر پرې نیوکه او اعتراض نشي کولای.

چې منکر پرې اعتراض کولای نشي

دا د شعر دی رحمانه که اعجاز

او د حافظ روح الله شعر خو وار دمخه هنر، هنر، ښکلا، ښکلا، توکل، رندي، او وفا ده او په حقه چې

شعر حافظ همه بیت الغزل مقرفت است

آفرین بر نفس دلکش و لطف سخنش

د دواړو شعر د فکر او انساني اندېښې الهامي منع ده. حافظ وايي:

کس چو حافظ نکشید از رخ ندیشه نقاب

تا سر زلف عروسان سخن فسانه زدند

دواړو باندې خلک بارونه او عقیدې لري او آن تر دې چې د حافظ او رحمان بابا په شعرونو يې شاهانو او عادي خلکو فال کتلی او د دوی شعرونه لکه د لوی سمندر غوندې د ژوند رازونه ورته ويلی دي.

د خواجه حافظ په هر غزل فال نیول شوی او دوام لري او حتا د فالنامه د غزلونو مجموعه يې د هنر ور انتشاراتو چاپ کړې هم ده.

دغه شان د عبدالرحمن بابا کلام زموږ  شاهانو او موږ ټولو د سختو شرايطو ملگری دی، له مبالغې پرته چې بده ورځ وروړ نه لري خو د رحمن بابا کلام له موږ سره د بدو شرايطو په پېچومو کې لارښود ملگری او دوست پاتې شوی دی.

وايي یو وخت په کندهار کې د گرگين ظلمونه ډېر شول نو فال يې وکوت او رحمن ورته داسې وويل:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله گویا یم

خاموشي زما تيرى کا تر غوغا زما

کښت د عشق په توده ځمکه آسان نه دی

سمندر بويه چې زيست کا په صحرا زما

نو هغې د موقت وخت لپاره خپله لار ونيوه، په کابل کې د طالبانو د واکمنۍ کلونه وو ۱۳۷۵ – ۱۳۸۰ هـ زما په گومان چې ۱۳۷۸ کال و، ډېر پريشان او په اقتصادي لحاظ بې وسه شوی وم له يوه دوست نه مې له ډېره پخوا د کار غوښتنه کوله له مودو وروسته يې احوال راکړ په مکرويانو کې د شپې له خوا کور ته ورغلم، له روغبړ او ډوډۍ خوړکا وروست يې راته وويل، وروره بل کار خو نشته، خو راشه له طالبانو سره یو ځای شه، يوازې ځېره دې د هغوی په څېر کړه نور به هرو مرو اسلام آباد ته هم کوم چکر لاړ شې، ما د دې خبرې په اورېدو مکس وکړ، له څه تکفر او تامل وروسته مې ورته وويل، دا کار زما لپاره ډېر ستونزمن دی، زه داسې سياسي ژوند نشم

کولای، د رحمان بابا دیوان مې تر څنګ و، ورته مې ویل راشئ وګورو عبدالرحمن بابا څه مشوره راکوي، چې دیوان مې را واړوه، نو دا غزل راسره وغږېد:

چې په زورور سره نه یې برابر

د هغو ترڅنګه مه کینه زړور

زورور اور او اوبه دي فهم وکړه

چې ډوب نشي، یا ونه سیزي بشر

زندګي که بې اوب بې اوره ن شي

تل هم ایښي هېڅا نه دی په تېر

خدی ور مهوله سیلاب د چا په خونه

که په قطع هم اوبه وي د کوثر

نو بیا مې له ځان سره وویل چې څه کوي؟ خو بیا مې د ولي عبدالرحمن کلام را پرانیست د ژوند ربښتینی درس مې ترې واخیست:

که د عشق لاره اغزنه ده هر ګور

د عاشق په پښو څپلۍ دي د اور

نو بیا پلی راو خوځېدم او له ځانه سره مې د کابل په تورو بې برښنا جادو کې دا متل زمزمه کاوه:

مه کوه هغه کار چې نه دې نیکه کړی وي نه پلار

په حقه چې دواړه د شعر د فن ماهر فنکاران، انسانان، د انسانانو توانمند او عاطفي دوستان او د خدای چ ولیان دي او دا هم ښکاره ده چې رحمن د حافظ د کلامي هنر ممنون او احسانمن دی.

د پښتو منځپانګه یې برجسته کوي؛ د بابا مینه له الله سره ده، خو مخلوق ته یې هم پند، غیرت، ننګ، لوړ همت، قناعت، سخاوت، ریاضت خبرې هم کوي. حسد، کینې، کرکې څخه ځان او نور خلک ژغوري. او بالاخره

د بابا کلام يو پياوړی روحاني نسخه هم بولي. وګورئ! [1]

### ۲-٦ – ۲ د ښوونې او روزنې پوهنتون

د ښوونې او روزنې پوهنتون د پښتو څانګې استاد ښاغلي **پوهاند پښتون آقا شيرزاد** د رحمان بابا شاعري له تصوف او عرفان سره ګډه بولي.

د الله تعالی ج واحد او يوازيتوب د هغه ذات مبارک عجز او خدای مه کړه کمزوری نه ګڼي او دا يې د عظمت راز دی.

هسې نه چې واحدي يې ده له عجزه

په واحد وجود بسيار ی رب زما

ښکاره خبره ده چې رب المنان ج واحد ذات دی، په دغه خبره په عقل و عقيده دواړو برابره ده. د انسان وجود داود پراخه کايناتو سراسري شتون او په هغو کې د معرفت لوازم زموږ دا د عاغې ثبوت دی.

که په ټولو کايناتو کې وګورو، متوجه به شو چې يوازې په انسان کې د معرفت ښايسته برالا او واضح دلايل پنځه حواسه دي، د معرفت پېژندنې د پوهې پر اساس هر حسن لکه باصره، شامو، لامسه، سامعه او ذايقه به انسان کې د پېژندنې (معرفت) ټاکوونکي وسايل دي. همداسې د کايناتو په هره ذره کې د الله ج شتون په څرګنده توګه وينو. له بلې خوا د کايناتو پراخه او فراګير نظام د يوه ذات تر اغېز لاندې ساتل کېږي او ثورت په ډاګه کوي چې قل هو الله احد الله صمد لم يلد و لم يولد و لم يکن کفواً احد

استاد د الله ج په يووالي کې قوت، طاقت، اختيار، قدرت او واکمنۍ خاوند بولي. او پاچاهي يې بې شريکه بولي.

شريکان نه لري په خپله پاچاهۍ کې

بې شريکه شهريار دی رب زما

استاد په تصوف غږېږي او د بابا ديوان کې يې د حساب وړ موضوع

### ۲ – ٦ – ۳ ننګرهار پوهنتون

[1]- هاشمي، سيد محی الدين – ۱۳۹۳ – ۲۰۱۴م. د عبدالرحمان بابا کليات اوډنه او سريزه د سر محی الدين هاشمي. پېښور، ميهن خپرندويه ټولنه.

**استاد پوهاند فضل ولي ناګار**

ښاغلی پوهاند استاد فضل ولي ناګار د ننګرهار پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد دوه مضمونونه لیکلي دي:

((د رحمان بابا تغزل او شعریت تر سرلیک لاندې مضمونونه لري چې د هر مضمون لنډه څېړنیزه محتوایي برخه به داسې وړاندې شي:

د رحمان بابا په شعر کې د تصوفي نومونو اصطلاحاتو، ښکلا یې لاندې مضمونونه لري چې راوړل یې بې ګټې نه دي.

د رحمان بابا غزل د شعر د رخت ډېره لوړه بیه لري، خو کمال یې دا دی چې دغه لوړ بیه رخت ډېر ساده ګنډل شوی دی او په مخ یې د مصنوعي ښکل هېڅ داغ او ټکی نشته.

د رحمان بابا غزل ډېر لوړ انداز کې ویل شوی، شعر یې مصنوعیت نه لري، یوه علمي، ادبي، علمي او طبعي یوه ترې مشام ته رسېږي تل جذب لري، پوهه او ښکلا انعکاسوي. ناګار استاد خپله دغه لیکنه په ښکلي ادبي درایت او صراحت کې کوي او د بابا د تغزل، غزلیت په الفاظو کې په وار وار څلوي.

نوموړی د بابا د تغزل په برخه کې وایي: ((د رحمان بابا د تغزل کمال دا دی چې ډېر ژر خپله خبره د لوستونکي په زړه کښنوي او هغه فکر کوي چې زما د خیال او فکر ترجماني یې کړې ده، په تصوف کې کاینتات د ازلي حسن هینداره ګڼل کړی او د کل یو هو شان وړانګې پرې پرله پسې را خورېږي.

ورته دې څوک نشي رسېدی له بلندۍ نه

څکه چې آسمان وته خاته د پیغمبر دی...)) ناګار، نظر : ۱ – ۲

**۲ – ٦ – ۴ د افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمۍ غړي:**

**عبدالقیوم زاهد، مشوانی:**

عبدالقیوم زاهد مشوانی د افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمۍ دی چې له کلونو راهیسې په څېړنه، پلټنه او پراخه لیکنه لاس پورې کړی دی او له ډېرو کلونو راهیسې یې د هېواد د فرهنګ په روښانولو کې پراخه کونډه اخیستې ده.

زاهد د عبدالرحمان بابا زما د تصوف نظریاتو د خپ‌اوي او ګرانښت په برخه کې نظر لري چې هغه مهال به

خلک په خپل پير پسې ګرځېدل او فردي به يې قبول و.

سره له دې چې پښتني ټولنې د صوفي توب اوږده سابقه لري، خو دا لړۍ ډېر پړاوونه وهلي دي.

دی وايي: ((خوشحال خان خټک او عبدالرحمان بابا کابو د يوه مهال او پړاو دوه نوميالي څېرې دي. د دغو دواړو پر مهال پيرې، مريدي يا په بله وينا د صوفيانه لړۍ ښه په زور کې وه، د صوفيانو مقبوليت او درنښت په ټولنه کې تر دې سرېيېده چې لا دينه له من لا شيخ له يعنې د پيرۍ او ډرامه هغه مهال په زور روانه وه، چې رحمان د بابا ګرۍ لړۍ او سلسله همدغه صوفي توب و.

## څېړنوال نعمت الله اندړ

ښاغلی استاد نعمت الله اندړ د افغانستان دد علومو اکاډمۍ پخوانی غړی، کارکوونکی او تکړه ليکوال، محقق، معلم او استاد دی چې خورا ډېر زيات عمر يې د هېواد د فرهنګ د پياوړتيا، سيالو او لوړولو کې قلم چلولی او کار يې کړی په غونډو سيمنارونو، کنفرانسونو او درسونو کې برخه اخيستې ده او د هېواد بچيان يې روزلي دي.

هغه ليکي رحمان بابا دا ويل چې:

ښه ده ښه ده دا دنيا

چې توښه ده د عقبا

وايي د دنيا په کار د آخرت توښه برابرولی شو، د دنيا د آخرت مرزعه ده خو بيا نظر لري چې دنيا فاني کېدونکې ده ښاغلی اندړ صاحب دوام ورکوي او والی چې نفس و شيطان له انسان سره شته او مله دي له دې امله انسانان او رحمان بابا په دقيق ډول دغې برخې ته توجه کړې او په مسلکي توګه يې د تصوف لاره ښوولې ده او د نفس او د هغه د فساد او غلوونکي کار په خلک متوجه کوي.

د بابا ژمنتيا او عقيده پر تصوف له دغه بيته ښکاري چې:

په يوه قدم تر عرشه پورې رسي

چا ليدلی دی رفتار د درويشانو

او بيا زياتوي په کلاسيک ادب کې د عرفان او تصوف ونډه خورا زياته خو پښتو ژبې زياتره شاعران د نقشبنديه طريقې پلويتوب کوي، دا ځکه چې د طريقت په دغه لاره کې يو ډول مبارزه او خلوت، د رانجمن نغښتی

دی..(نعمت الله اندړ نظر)

**څېړنیار لطف الله صابر**

افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمۍ او له هغه مخکې پښتو ټولنې او بیا تر اوسه پورې له پوهنتوونه په تېره کابل پوهنتون سره هر ډول علمي، فرهنګي او ادبي مرستې کړې او دغه لړۍ دوام لري.

څېړنیار لطف الله ابر چې د همدې پوهنتون او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګې څخه د ماسترۍ په توګه فارغ شوی دی زموږ له څانګې سره له ډول ادبي او فرهنګي همکاریو دریغ نه کوي.

نوموړی د رحمان بابا په شعر کې د ده د حقیقي ژوند څرکونه تر سر لاندې په زړهپورې او ښایسته تحقیق کړی دی. په هغه یې د درنو او لوړو آندو لیکوالو، محققنو استادانه لکه ښاغلي هېوادمل اوو واحد صاحب او نورو څخه یادونه کړې، دی وایي:

د پښتو ژبې پیاوړی، نومیالی او عالمګیر شاعر رحمان بابا د پښتو کلاسیکې دورې هغه نامتو او منوره څېره ده چې ټولو پښتنو ورته د بابا او پښتنو شارعانو ورته د لسان الغیب سلطان الشعرا او واصف بلبل لقبونه ورکړي دي\. دا چې رحمان بابا په شعر او شاعرۍ کې د سبک له پوله د جلا ځانګړنو څښتن دی، د پښتني ولسونو او فرهنګي کړیو په منځ کې د عالمګیر شاعر شهوت هم خپل کړی دی. رحمان بابا په حقه چې د مکتب او سبک خاوند دی.

د بابا د مکتب او په تېره سبک عظمت، سلاست، ښکلاییز ډولونه، مضمون او شکل انازه له ورایه د ده د شعر په ژبه کې ځان څرګندوي. د بابا په پله په لکونو او آن میلونونو پښتنو او نورو ډېرو خلکو او قومونو کړی دی. داسې دود دومره د هغه د شعر ښکلاییز درایت له ورایه جلوه کوي چې هر څوک پوهېږي دغه مضمون او دغه الفاظ د حضرت عبدالرحمان بابا دی.

د بابا د شعر په برخه کې صابر جان خپله لیکنه ډېره غځولې ده، چې ځینې برخې به یې کولای شم را اقتباس کړم.

د ځلانده لمر او ځلېدنکو او لسګونو نورو سره ورته روښانه او ځلانده موجوداتو او شیانو ملګری حضرت عبدالرحمان بابا د شعر د سر تاسري توب او لسګونو سلګونو زیاتو ښېګڼو مشابه شخصیت د شعر عالمي هویت بللای شو، دومره یې د شخصیت له پلوه نوم و مقام لوړ دی چې ت به وایې دقیقه په دقیقه ساعت په ساعت،

ورځ په ورځ، پسرلی په بل پسرلي يې شعري او ادبي هويت لا ځلانده کېږي.

حضرت عبدالرحمان بابا و ادب او شعري هنري په ځلاندتوب د ده په خپل نظر نه بلکې د اغيارو له پامه هم مني دی او هېڅوک يې د شعر د نړيوال هنري تجلا، ښکلا او عظمت افکار کولای نشي.

چې منکر پرې اعتراض کولای نشي

دا شعر دی رحمانه که اعجاز

پورته کړی کومه لافه، پټاقه نه ده او د فارسي ژبې بيت دی د چون په ميلان آمدی ميدانيم گرندانی غيرت افغانيم

او پښتو متل دی ((ور به شي خبر به شي))

په دې معنا که بابا رحم الله ديوان يو وار له چا سره بيا له سترگو تېر کړ بيا به يې له قراني پاک وروسته دويم د وظيف کولو کتاب او ملگری وي. زما له پورته مقدمې

څخه زما مطلب دا دی چې د مشاعرو په دنيا کې د بابا د کلام په اقتصا هرو مرو شعرونو، غزلونه وخت ناوخت دلته او هلته او اوس اوس په ټوله دنيا کې مشاعرې شوې او هغه ارواښاد مبارک يې ستايلی دی. د دې لرغونه پيدا کول تيار راټولول د لويو علمي فرهنگي موسسو کار دی، فکر کوم زما د کار له حوصلې بهر کار دی.

# ۳ - له عبدالرحمان بابا سره د نورو شاعرانو د افکارو پرتله

د ارواپوهنې (روانشاسی) د حکم پر اساس، د هر چا افکار ځانګړي وي. الله ج د خپل صفت (المصور) د عظمت او قدرت له مخې هر چا (انسان) ته خپل افکار ورکړي دي.

که داسې فکر وکړو چې همدا اوس په نړۍ کې (اووه ملیارده) زیات و کم انسانان شته او د دنیا پر مخ ژوند کوي، خو یووه فکر هم بل ته نه دی ورته او د اوزبیکي ژبې د متل له مخې (هر کله و بر خیال) پر لیکه ټول انسانان ځان ځان ته افکار لري او خپل افکار غځوي. د هر چا افکار د هغه د هویت ارقام وړاندې کوي.

په ټولنه کې افکار مو د عمل پر مټ شخصیت جوړوي. شخصیت د انسان د منظم سلکو له مخې جوړیږي. د جمیز آلن په وینا که افکار مو رهبري نه کړي. شخصیت مو د سلوک پر مټ نشي رامنځته کېدلای او د ودې لار نشي تعقیبولای.

ډېر شمېر ارواپوهان په دې اند دي، چې د انساني هویت عمده عامل افکار، امیال او احساسات دي، خو امیان او احساسات د افکارو پر حکم رنګ او خوند پیدا کوي. د مولانا جلال الدین د وینا پر اساس:

ای برادر تو همان اندیشه‌یی؟

دیگر پوست و ریشه‌یی

زموږ له جسمي وزن څخه فکري او روحي وزن ډېر دی، دا ځکه چې په هره دقیقه کې (۱۳) مختلف موضوعات زموږ ذهن تداعي کوي، یو ساعت ٦۰ دقیقې دی: که دا له ۱۳ سره ضرب کړو، نو په ساعت ې ٦۸۰ واره زموږو ذهن اهتزاز کوي او که بیا دا له ۱۲ ساعته سره ضرب کړو............. کېږي.

له دې امله ذهن تناسب مو د چا په وینا لایتناهي سیر و سفر لري. زموږ ګران، مبارک او بشارت ورکوونکی دین او بیا عرفان او تصوف د ذهن د مهارولو ښې او ګټورې لارې، اودس، لمونځ، اذکار، دعا، زاري، مناجات، حمد، نعت، تفکر، خلوت او نفس جوړول او مهارولو توصیه کوي.

وا ذکر الله ذکراً کثیراً یا فا اذکروني اذکرکم... [1]

د امام غزالي په وینا، تصوف پر دین مداومت دی. په دې معنا چې په ترتیب او وار وار مو ذکر کولو ته رابوأي. دغه مداومت تکرار او بیا ځلي د فکر او ذهن د مهارولو ښه وسیله کېدای شي.

کله چې د حضرت عبدالرحمان بابا اکفار له نورو شاعرانو سره پرتله کوو، باید لاندې درې ارواپوهنیزې غوټې را وسپړو:

۱ – ټول انسانان افکار لري، خو د هر چا د فکر یون او حرکت خپل لوری لري.

۲ – زموږ ذهنونه کله زموږ اراده مني او کله یې نه مني.

۳ – ذهني فضاء لایتناهي لوری لري، چې په دقیق ډول فکر و عقل ترې متاثره کېږي.

عبدالرحمان بابا د وخت او د وختونو یو سجاده نشین مفکر پاچا و، چې الله پاک د کلمو او جملو په ترتیب لولو، تنظیمولو، ښکلي کولو، متبرک کولو او بالاخره هنري ثواب کې اوچت استعدادونه ایسارېدونکی نبوغ ورکړی و. که څه هم د هر مسلک او منصب خلک ځانته افکار، کړنلارې، ژوندلارې، ستایلونه او سبکونه لري او د بوفون په وینا چې هر انسان یو سبک دی.)

نو په هماغه مسلک کې له ځانه مخکې او له ځان سره برابرو دورو کې د خپل مسلک مطالع هرو مرو او ضرور ورکوي.

عبدالرحمان بابا د یو ذهین، متبارز، منلي، ځانته د خپل سبک و مکتب او مستقیمې لارې تعقیبونکی او پالونکی شاعر و او د خپل وخت او له ځانه د وړاندې دورو د یني مسالو، عرفاني او تصوفي لارو چارې او ګودرې بې په وار وار په نښه کړې وي.

خو بیا یې هم له ډېرو مخکني اغېز اخیستي او دی خو لا تر اوسه په پښتو هنري لفظي او معنوي دنیا کې هماغسې ځلاند ستوري پاتې شوي او که خدای کول له دغه قوم او ټبر سره به د ژوند تر پایه د زرینې ښکلا، تودوخې، طراوت او تازه‌ګۍ درلودونکی وي، د ډېرو پیر او ډېرو مریدانو پاتې شوی دی، بلکې دی په خپله وایي:

له دې ښکارې چې بابا په اصل زندګۍ پوهېلای و، په خپل وخت کې یې د اسلافو پوره پوره مطالعه کړې وه او افکار یې د ټېرو دري ژبو، پښتو ژبو، اردو او عربي ژبو اوزان... د شاعرانو له تودوخې حرارت او ګرمۍ یې هم

[1]- *قران کریم

ترلاسه کړې وه. که څه هم د هر انسان افکار ځانته د حکمرانۍ حدود لري، خو بيا هم له نورو تاثر مونډلی شي.

مثبتې اغېزې د افکارو په غنا کې خوارول لري، د عبدالرحمن بابا اشعار او بيا په اشعارو کې د افکارو سره ورته کولو ته لاس کوو او دغه کار په پخوا او اوس کې ډېر ډېر پاملرنې وړ گرځېدلی دی:

**الف – عبدالرحمان بابا او خواجه حافظ**

ارواښاد د دوست محمد کامل مومند (رحمان بابا) کتاب له نويو زياتونو سره په ۱۳٦ مخ کې ليکلي:

"حافظ او رحمان دواړه عاشقان او صوفيان، دواړه قلندران او د درويشانو د کيميا اثره نظر آرزومن او منتظر دی..."[١]

که دغه پرتليز دود ته لږ ډېر ژور شو، راته ښکاري چې د هر انسان او هر انسان شاعر فکر و فن د ده له ژون سره سم قد و ماقمت باسي، يعنې د هر فرد د فکر نيلی له نورو بېل دی چې ځانگړې تگلاره يې ځانته جوړه کړېوي او د الهي ارشاد پر اساس ټول شيان له ځان اوډلې سره او همدارنگه له خپلو اکفارو سره خوښ خوشحاله وي. [کلُ حرب بمالديهم فريحون][٢]

ټول شيان په خپله ډله کې خوشحال وي. همدارنگه ټول ژوي ځانته فکري، روحي حالتونه او اجتماعي بيتونه لري. له پرتلنې مخکې بايد ووايو چې د رحمان بابا په کلام کې لويه او ډېره زياته برخه د غزلونو ده. د قصيدو هم يو معقول تعداد لري او دوه مخمسه هم پکې شته.

رحمان بابا د کامل په وينا په بنيادي ډول سره غزل گو شاعر دی، د هغه په غزلونو کې اگر که ځينې وختونه د پارسۍ او عربۍ د تورو او ترکيبونو استعمال زيات هم وي، خو لوستونکي ښه ور باندې پوهېږي.

د عبدالرحمان بابا د غزل ژبله په عام طور سره ډېره صفا، ساده روانه او سپېڅلې ده، چې هغه پکې خپل پاکيزه او لطيف جذبات په ډېره ښايسته، موثره او بې ساخته طريقه بيانوي او خپل اوچت، ناردک او نازک خيالات او افکار پکې داسې ډول ښکاره کوي چې له رنگينۍ او فن کارۍ سره د ساده‌گۍ او بې تکلفۍ نمونه وي. له همدې امله ده چې د رحمان غزل په پښتو ادب کې ډېر اوچت مقام لري او د غزل د مجموعي خوبيو او ښېگڼو له رويه له خوشحال خان او حميد مومند پرته تر اوسه سارې نه لري او که هر څو د رحمان بابا په کلام کې ډېرې لفظي او معنوي خوبۍ دي، خو د مقبوليت سبب يې زيات تر د ژبې سلاست، د جذباتو، صداقت، بې پناه

---

- [١]کامل دوست محمد، رحمان بابا

[٢]- قرآن کريم

نورو سان او انتهای جذب او درد گرځېدل دي، سربېره پر دې د صوفيان احترام او د عام و خاص د رحمان بابا په هکله د بزرگۍ خيال هم دې مقبوليت کې اضافه کړې ده.

آن اروانباد رضواني د رحمان بابا په صفت کې وايي، چې گوندې د شيراز خواجه حافظ و چې په پښتون قام کې راښکاره شو. دا خبرې به حقيقت کې د ډېرو معقولو جوهاتو له مخې دي؛ د پوره غور او تفصيل وړ دي.

د رحمان بابا کلام د کامل صاحب په وينا: "اگر که بالکل د شوخۍ د کوشش او په رياکراو شيخانو او خرقه پوشو د گوزارونو نه خالي نه دي" د حافظ شوخي، مستي او رندي، شيخ، ملا او قاضي، مفتي باندې دومره طنزيه گوزارونه نشته، خو د حسن د تعريف او توصيف او د عشق او محبت د وارداتو په بيان کې د رحمان بابا اشعار د حافظ د کلام بې ساختگۍ، بې تکلفۍ او پرکارې ساده‌گۍ او ساده‌رنگينۍ ته ډېر نږې دی او اگر دلته هم فني خصوصيات لکه چې د حافظ په غزلونو کې کمال ته رسي.

رحمان بابا سره له دا ټولو د خپل فن کارانه عظمت هغه مقام نه حاصلوي او د راز و نياز په معاملاتو او کيفياتو د حافظ د مزاج شفتگي او د طبعيت بې پاکي چې اکثراً کوم خوندونه او فرې پيدا کوي، هغه د رحمان بابا په کلام کې دومره نشي ليدای، خود عجز و نياز، جذب و درد او سوز په اظهر کې د دواړه شعرونه يو شان يې ساری خلوص او اثر لري.

حافظ:

سر تا قدم وجود د حافظ

در عشق نهال حيرت آمد

رحمان بابا:

د خپل ځان له ويرانه يې څه ويل کړم

د عشق وير به تل په خپل پټول کړم

د حضرت عبدالرحمن بابا: "په کلام کې د عشق او محبت د ازاد او بې باکه اظهار د خوندونو او فرد د کمې معاوضه موږ مقابلتيا په زيات او دايم متانت او نسجه‌گۍ کې بيا مومو، چې د رحمان بابا په کلام کې يې يو گوارار دروندوالی او وقار پيدا کړی دی، ځکه چې د عشق او محبت اظهار همدغه طريقه هغې عشق او محبت سره سمه ده کوم چې د تصوف مقصود دی.

په پارسي غزل کې چې کومه خوږه او مزه ناکه ژبه حافظ لري، رحمان بابا یې په پښتو ژبه کې لرونکی وو، لکه چې  د خارجي او داخلي شهادتونو څخه ښکاره ده، رحمان بابا یو لوستی او ښه عالم سړی و. کله چې د ده یوان سړی مطالعه کوي، دا واقعیت ورته څرګندېږي چې خدای بښلي بابا به د پارسي او عربي متونو څومره مطالعه کړې وي.

همدارنګه خوشحال خان هم دغه مطالعه (په پارسي او عربي) ادبیاتو کې پوره پوره کړې و. په حقیقت دغو د لوړو درجو پوهانو شاعرانو له افکارو فیض موندلی و د هغه په کلام کې هم د پارسي ادب د استادانو په ځانګړې ډول د خواجه حافظ د فکر او نظر او په خاص ډول سره د بیان د ادا د طرز اثر ډېر غالب، ښکاره او جوت دی.

حافظ او رحمان بابا واړه صوفیان، دواړه قلندران او درویشانو په لار روان ی او د دغو بزرګوارانو له نظره یې کیمیایي سعادت انتظار درلود، دا موضوع څنته تحقیق غواړي. "دواړو په آثارو او افکارو کې د کلمو او فکر یووالی، ورته‌والی د موضوع نږدېوالی ډېر ښکاري او شته، خو د هر یوه مضمون آفریني، د کلماتو ادا، عاطفي او سلقیوي توپیرونه لیدل کېږي.

خواجه حافظ په ډېرې سوزناکې طریقې او له جذبه په ډک انداز کې وایي، که هر څو چې عاشق غواړي چې د عشق راز، د زړه درد، وسوسې، جوش او ولوله څرګنده کړي او په دا ډول  خپلو جذباتو تسکین وکړي. خو مینه او شوق خولاله او خواهش څه خو دومره نه دی، چې د قلم ژبه یې بیان کړی شي.

قلم را آن زبان نبود که سر عشق گوید باز

ورانی حد تقریر است شرح آرزومندی

وګورئ هم د دغې ذوق او ناکامۍ اظهار هم په دغې سوزناکې طریقې او دردناک انداز خو بیا په خپل شان رحمان بابا هم کوي.

د عشق راز چې هېڅا نه دی بیان کړی

تروبه څه له بې بیانه وایم څه

وایم څه کې چې د ځمکې، خواهش او آرزو د ناکامۍ او جذب او سوز کومه کوم دنیا پرته ده. د هغې په هکله به څوک څه ووایي؟ او هم له دې کبله خو یې ویلي دي، چې:

زه رحمان د یار ثنا کولای نشم

کاشکې نه وای و په جهان کې ګویا زه

او دا شعر وګورئ:

ستا د حسن په صفت کې

رحمان ګونګ شه له ادبه

خواجه حافظ معشوق او محبوب څرګند او ښکاره دی، خو د ښایست پلوشو یې د عاشق د سترګو نظر تیر و بیر کړی دی او لکه د شیشې حیران پاتې شوی دی.

او له دې حیرانۍ درمانۍ او هلک و پک کېدو لکه چې باید محبوب خبره څرګنده نه شي لیدای او په خپلو سترګو افسوس کوي:

برین دودیده حیران من افسوس

که بادو آیینه روش عیان نمی بینم

همدغه خیال په نورو تورو کې رحمان بابا په څه ښکلي شان کړی دی او له لفظي اختلاف سره سره په دواړو شعرونو کې د خیال بنیاد یووالی، ډېرې آرزوګانې شته. په صوال کې د فراق په کام کې د ناکامۍ د عاشق د قابل رحم حالت په مراد کې د هغه د نامردۍ نقشه دواړو عظمیو فنکارانو په شان په ډېره ګټوره او موثره طریقه راکښلې ده، رحمان بابا وایي:

که د ستا په مخ کې بوی د حجاب نشته

زه له ډېرې ځلې وا وایم چې نهان دی

حافظ د خپل معشوق حسن نه د حیرانتیا او بې خودۍ په سبب  هغه د حسن نظارې نه پاتې شي. نظاره یې کوي، خو لحظه په لحظه درجه په درجه حیرت او استعحاب دی او د تشنګۍ او محرومه احساس پکې څرګندېږي.

په رحمان بابا هم دغه کیفیات اغېز کوي، که هر څو د یار د حسن ننداره کوي، د غوښتنو او خواهشاتو شدت او زیاتوالی یې نور بې صبره کوي او د زیات نه زیات خواهش او دیدار یې په دې احساس مجبوره کوي.

ما لا نه دي لیدلي که یو اخوا د یار  حسن در او حساب نشته، نو بلخ خوا د شوق همدغه حال دی.

او وگورئ دواړه صوفیان د عشق او انسانیت لوړ مقام په څومره اثرناک انداز کې بیانوي. حافظ وايي چې د یار ښکلی او زیبا مخ پلوشې وکړي، فرښتو دغه پلوشط ولیدلې، خو د عشق جذبه یې نه لرله، له غیرته لمبه شو او انسان یې او انسان یې په خپل اور کې وسو.

در ازل حسنت زنجلی دم زد

عشق پیدا شد و آتش به همه عالم زد

بیت په لومړي سر کې په لاندې ډول دي:

جلوه کرد رخش دید ملک عشق نداشت

عین آتش شد ازین غیرت و بر آدم زد

او عبدالرحمان بابا بیا وايي:

مرتبه که ستا د عشق شي ورځرګنده

ملایک به واړه وايي چې بشر وي

که د جذبې او بیان د شدت او زوره اوله حسنه د اثر پذیری له کبله د عشق د زبردست قوت او ګرفت د اظهار له رویه د حافظ شعر هر چا ته د ځواب چلنج ورکوي، نو د جذبې د لطافت او د بیان د ښکلې ښایسته پیرایې له پلوه د بابا (رحمان) شعر هم شاهکار دی. که حافظ د انساني شخصیت د عظمت اظهار په دې طریقه کوي، چې هم انسان د عشق راز دان دی او هم هغه له حسنه پیدا کېدونکي د عشق د سوزانو لنبو زغم لءي، نو رحمان بابا د انساني علم او روحاني کمال اظهار د فرشتتو د بې خبری ذکر او د هغوی د دې خواهش (چې بشر وي) په بیان سره وکړو. که هر څو فرښتې د انسان له عظمته خبر شوې هم دی، خوی لا د عشق له مقامه چې انسان پرې فایز دی نه دی خبر. ګنه د انسان کېدو آرزو به یې کړې وه.

سره له دې چې د باین د انداز له رویه ما د حافظ په شعر کې دز ور او د رحمان بابا په شعر کې د لطافت ذکر وکړو، خو حقیقت دا دی چې دواړه صفتونه په دواړو شعرونو میان روان، هوار او بې شانه موثر او ګټور دی.

دلته به د موضوع له پلوه په ترتیب د خواجه حافظ او رحمان بابا لاندې شعرونه وګورو:

حافظ:

ز عشق ناتمام ما جمال یار مستغني است

باب ورنگ خال و خط و حاجت اروبي زیبا را

او عبدالرحمان بابا بیا همدا موضوع داسې بیانوي:

مخ دې بې خط او بې حاله هسې زیب کا

چې یې هیڅ حاجت د خط و د خال نشته

د اروانباد استاد کامل مومند په وینا، اگر که ظاهره ده چې دلته د حافظ شعر د مضمون د جامعیت او د بیان د حسن له پلوه د بابا له شعره ډېر اوچت دی.

خو د خلوص او جذب او د بیان د ساده‌گۍ او بې تکلفۍ له رویه (هر څه له حافظ یې ورسره رنگیني هم ښه گډه شوې ده). د دواړو شعرونو نزدیکیت جوت دی او یو شان اثر پیدا کوي.

موږ له دې هم مخکې ځوو:

حافظ په دې نظر و:

بدم گفتی و خور سندم عفاک الله نکو گفتی

جواب تلخ می زبد لب لعل شکر خارا

او رحمان بابا داسې وایي:

هغه شونډې چې خوږې دي تر شکرو

له ښکنځلو یې عار نه کا عاشقان

د کامل استاد نظر دا دی، د حافظ شعر له هره لحاظه اوچت دی او هم یو مضمون په ړومبي شعر کې ډېر زیات په فنکارانه طریقه ادا شوې ده، خو بیا هم د دواړو شعرونه هم د یو خوږ زر د خوږې مینې آواز لرونکې اوریده شي.

په دې دوو شعرونو د خبرو په ضمن کې د ا وضاحت هم ضروري دی، چې د حافظ د شعر مضمون د سعدي رح له شعر د اخیستي شوی دی، چې هغ دا دي:

اگر دشنام فرمائی و گر نفرین دعا گو یم

لب لعل شکر خارا جواب تلخ می زیبد

لکه چې ښاغلي محمد رحمت الله عدد حافظ د دې دیوان په مقدمه کې لیکي، د حافظ شعر د سعدي له شعره هم اوچت دی او له معراج د حافظ په شعر کې زیاته واضح او بلیغه ده او په دویمه مصراع کې د دوو حصو تقلب د حافظ د مصرعې[1] ښه تش ډېر زیات ښه کړی دی.

دلته به له تبصرې او تنقید پرته د ښاغلو لوستونکو د توجه و پام راگرځولو لپاره ولیکم:

حافظ:

تو خانقا و خرابات درمیانه مبین

خدا گواه که هر جا که اوست با اویم

غرض زمسجد و بتخانه ام وصال شما است

جز این خیال ندارم، خدا گوا من است

همه کس طالب یارند چه هشیارو چه مست

همه جاخانه  عشق است چه مسجد چه کشت

رحمان بابا:

هر زیارت لره چې ځمه مراد مې ته یې

زه زایرد د بتخانې د حرم نه یم

خدای لره به ورشم په سودا د یار له مخه

بل غرض م نشته په کعبه په بتخانه

حافظ:

این جان عاریت که به حافظ سپرد دوست

---

[1]- * مصراع

* واضح

* بلیغ

روزی رخش به بینم و تسلیم وی کنم

رحمان بابا:

څو ونه وينمه ستا سترګې که خدای کړي

عزرائيل لره به هومره ځان ورنه کړم

حافظ:

گل در برو، می در کف و معشوق به کام است

سلطان جهانم به چنین روز غلام است

رحمان بابا:

چې تر څنګ مې د دلبر په لاس کې جام دی

نن اورنګ د زمانې زما غلام دی

حافظ:

از کیمیائی مهر تو زرگشت روی من

آری بی من همت تو خاک زر شود

رحمان بابا:

چې یې زر کړه زیړ رخسار زما د خاورو

عاشقي نه وه په باب زما کیمیا وه

حافظ:

از آن زمان که برین استان نهادم سر

فراز مسند خورشید تکیه و گاه من است

رحمان بابا:

چې يې سر په ځمکه ايښی دی خپل يار ته

په آسمان باندې ختلی لکه لمر دی

حافظ:

بر سر موتی مراباتو هزاراق کار است

ما کجایم و نصیحت گر بی کار کجا است

رحمان بابا:

د يار غم به مې هغه سړي په شمار کړي

چې شمېرلی مې ويښته وي د خپل ځان

رحمان هسې وزگار چېرې دی له عشقه

چې غوږ ونيسي ناصح غوندې وزگار ته

حافظ:

متعم کتنی ز عشق وی ای مفتی زمان

معذور دار مت که تو اورا ندیده ای

رحمان بابا:

کله وي چې نصيحت کا زري عاشق ته

که له حسنه دې خبر شي زاهدان

رحمان بابا:

شيخ و زاهدان چې نصيحت کاندي و ماته

نه دي خبر شوي ستا د مخ له محساته

حافظ:

سحر که سمه وصلش بخواب میدیدم

زهی مراتب خوابیکه به زبیدرای است

رحمان بابا:

اوس به زه د شب خیزئ څه منت وکړم

چې څېره دې کړه په خوب کې را حضوره

حافظ:

چنان پرشد فضائی سینه از دوست

که فکر خویش گم شد از صمیرم

رحمان بابا:

هیڅ په سترگو نه وینم دا خپل صورت چې کوم دی

ډوب تر هسې حده په انواریم ستا د مخ

حافظ:

به پیش آیینه دل هر آنچه میدارم

به خبر خیال جمات نمی نماید باز

رحمان بابا:

زه رحمان د یار په غم کې هسې ډوب یم

چې هیڅ نه وینم په سترگو مگر دی

حافظ:

خلاص حافظ از آن تر لف تامدار مباد

که بستگان کمند تور ستگارانند

رحمان بابا:

آزادي تر دا به هورته بله نشته

چي بندي د يار د زلفو په زنجير يم

حافظ:

فاش می گویم و از گفته خود دلشادم

بنده عشقم و از هر دو جهان آزادم

رحمان بابا:

بې له عشقه چې مې پرې شه د پوزې

ګڼه نور له جملګي قيده آزاد يمه

حافظ:

بیوئی زلف و رخت میروند و میې آیند

صبا بغالیه سائی و گل به جلوه گری

رحمان بابا:

له هوسه د هر ګل کره خندا شوه

چې يې وليد ستا د حسن ګلستان

حافظ:

مستي عشق نیست در سر تو

او که که تو مست آب انگوری

یا میرزا غالب:

تیری هی جلوه کاهی به دهوکا که آجتک

بی اختیار دوړی هی گل در فقائی گل

رحمان بابا:

د رحمان شراب له عشقه

نه انګور نه له عتابه

حافظ:

مرا بکار جهان هر گز التفات نبود

رخ تو در نظر من چنین خوشش آراست

رحمان بابا:

رنځ، راحت د عاشقانو واړه ته یې

دا درواغ دي چې وصال دی یا هجران

د خواجه حافظ رح او حضرت رحمان بابا د کلام ډول او خیالي جاج اخیستلو په لړ کې د درنو لوستونکو پام د دواړو کلام او د ر په ردیف کې د خواجه حافظ روح الله یو غزل ته را اړوم او په ترتیب *مطلع او *مقطع[۱] ته را اړوم:

ای خرم از فروغ رخت لاله زار غمر

باز آکه ریخت بی گل رویت بهار عمر

حافظ سخن بگوی که بر صفحه

این نقش ماند از قلمت یادگار عمر

او په دې ډول د (ر) په ډله (ردیف) کې د رحمان بابا د یو غزل مطلع او مطع په ترتیب دا دی:

---

[۱]- *مطلع

*مقطع

تل به نه وي شګفته ګلزار د عمر

نه به جوړوي همیشه بازار د عمر

بیا یې وار په دا دنیا نشته رحمانه

په هر چا باندې چې تیر شي وار د عمر

که څه هم چې د دې غزلونو په ډېر شمېر بیتونو کې د خیال د فکر یو شان والی جوت نه دی، خو خو بیا هم په مطلعو یا پیل کې د (لاله زار بهار او ګلزار استعاري سره ګډې دي سربېره پر دې خواجه حافظ د خپل غزل په دریم غزل کې د عمر تېرېدلو ته د برق ځلا سره تشبه کوي او ووایي:

از دیده ګر سر شکه چو باران چکدر است

که اندر غمت چو برق بشد روزګا عمر

او د رحمان بابا د غ زل درېیم بیت دا دی:

لکه برق چې مخ ځرګند کاندي بیا نه وي

هسې تیر دی بې سکون رفتار د عمر

دغه راز د خواجه صاحب د غزل د مقطع نه مخکې او د دربار د غزل پنځم شعر خو د خاصې پاملرنې وړ دی:

د هر طرف زخیل حوادث کمینګه است

زان روغنان ګسته دواند سوار عمر

او عبدالرحمان بابا بیا وایي:

چې سمنر یې نه حلب لري نه واګې

خود به پر پوځي عاقبت شهسوار د عمر

په پورته غزلونو کې د فکر یو شانوالی او جذبات یو ډول لیده شي، خو په مقابله د دې کې د پیکر او جوړښت او قافیې او ردیف نزدیکیت او یو شانوالی زیات د پام وړ دی او داسې هم امکان لري چې رحمان بابا خپل غزل هم د خواجه حاظ په غزل لیکلی دی.

اوس به د خواجه حافظ او ورسره د بابا په بل غزل هم غور وکړو د خواجه په غزل لیکلی دی.

اوس به د خواجه حافظ او ورسره د بابا په بل غزل هم غور وکړو، د خواجه غزل او د بابا ۱۳ بنده دي چې مطلع او مقطع يې دا دي:

روضه خلد برین خلوت درویشانست

مایه محثمی خدمت در ویشانست

حافظ اینجا با ادب باش که سلطان و ملک

همه در بندگی حصرت در ویشانست

عبدالرحمان بابا:

که نظر کا څوک په کار د درویشانو

خود به ووينې وقار د درویشانو

درست دیوان د رحمان ځار تر دا غزل شه

چې بيان يې کړو کردار د درویشانو

دلته به ستاسو د پاملرنې لپاره ځينې نور غزلونه هم راوړو:

خواجه حافظ:

فقر فرا اوس که رضوانش بدر بانی رفت

منظری از چمن نزهت درویشانست

دولتی راکه نباشد غم از آسیب زوال

بی تکلف بشنو دولت درویشانست

خروان قبله حاجات جهانند ولی

سببس بندگی حضرت درویشانست

گنج قارون که فروحی رو از قهر هنوز

خوانده باشی که هم از غیرت درویشانیست

رحمان بابا:

د جنت د باغ ګلونه به يې هير شي

که ځوک ووینې ګلزار د درویشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دی

خزان نه لري بهار د درویشانو

پادشاهان د دې جهان واړه پراته دی

لکه خاورې په دربار د درویشانو

د قارون و حال ته ګوره حال يې څه شو

راشه مه کوه انکار د درویشانو

او په دې موضوع د حافظ او رحمان دا شعرونه هم څېړو:

حافظ:

دلق گدای عشق را گنج بود در آسین

زود بسطنت رسد هر که بود گدایی تو

رحمان بابا:

پادشاهي د ګدایانو په دعا شي

زه رحمان ځکه پادشا شوم چې ګدا یم

د دې دواړو غزلونو په هکله موږ له شک او تردید پرته ویلای شو چې د موضوع د خیال او فکر او تر ډېره بریده پورې د جوړښت له پلوه هم یو بل ته ډېرې نږې دي او شاید چې رحمان بابا د خواجه حافظ د غزل پر بنا ویلی وي.

د پورته بحث په پای کې دې نتیجې ته رسېږو چې خواجه حافظ او حضرت رحمان بابا چې دواړه د پارسي دري

او پښتو ژبو لوړ خياله، نامتو درانه او پياوړي شاعران دي، د دوی په اشعارو کې د ژوند ډېرو برخو په اړه د مضمونونو پوره پوره ورتوالی ليدل کېږي او دا ښکاري چې دواړه بزرگواره شاعران د انساني ژوند حساسيتونه د خپلو افکارو او خيالونو په زرينو جامونو کې ټولنې ته وړاندې کوي.

خواجه صاحب حافظ چې د زمانې له پلوه له رحمان بابا په مخکې دورو کې راځي، کله ناکله د رحمان بابا شعر د حضرت خواجه حافظ له خيالونو او افکارو اغيز مونډلی دی او دا يو طبعي خبره ده.

دواړه شاعران عشقيه شاعري کوي، حافظ د افکارو په وړاندې کولو کې خوش طبع ښکاري او د رحمان بابا په شاعرۍ او هغه هم په عاشقانه شاعرۍ کې بې پنا، سوز و گذار، حزم و درد، جذب او خلوص په پيمانه ډول ځان ښکاره کوي، دلته به لږ او ځينې بېلگې را واخلو:

بې ترديده ويلی شو، دواړو شاعرانو د مضمون له پلوه يو مطلب بيان کړی دی، خو بايد دا هم په دانگ پېيلی او ښکاره ډول ووايو، چې هر شاعر په خپل خپل اندزا کې دغه مطلب او موضوع کړی دی او تر ډېره د رحمان بابا په شعر شاعرانه جوش انسان ته خوند او سوز ور په برخه کوي:

حافظ:

در را عشق فرق غنی و فقير نيست

ای پادشاه حسن سخن با گدا بگو

پروانه و شمع و گل و بلبل همه جمع اند

ای دوست بيارم به تنهايی ماکن

چوبا حبيب نيشنی و باده پيهائی

بيا در آر حريضان با دو پيمارا

ميخواسم که ميراش اندر قدم چو شمع

او خود گذر به من چو نسيم سحر مکرر

په پورته شعرونو کې چې څومره ځله او خوږ، آزارولو درد او ارمان دی، جوتوالي ته اړتيا نه لري، که حيراني ده نو د بيان او د الفاظو او تورو د حسن او موزو نيت د خواجه حافظ صاحب په هکله دا وينا چې هغه په عشق کې څه د تفريح طبعي برعکس وايي، هغه تقليد ښکاري، نو په باور زياتی ښکاري. البته که د رحمان بابا په برخه

کې دا وویل شي، چې هغه په کلام کې شوي او د وینا مستانه او رندانه انداز تکلف لیده شي، نو ځای به لري.

د کابل مومند له پورته ویناوو هدف دا دی چې د حافظ او رحمان بابا د کلام یو بل ته د نزد په باب دا ویلي چې دوه ذهنونه او مزاجونه یو شان وي او بیا مسلک یې هم یو اختیار کړی وي، نو قدر یې خبره ده.

چې د هغوی د فکر پلوشې او رحمان او د وینا اندز به په یو شان وي او چې بیا یو بل سره وپېژني نو له یو بله اثر اخیستل هم امکان لري هرکله چې په انساني فکر کې په هر ځای او خلکو او په هره زمانه کې سره د امتیازه څه ناڅه اشتراک پاتې دی. په دې صوتر کې د فکر او وینا انداز یو شان او د حیرانتیا وړ دی. وګورئ چې خواجه حافظ څنګه د خپلو پیروانو په شان په موضوعاتو وینا کوي:

سعدي

گر به خوبان دل من میل کند، خرده مگر

این گنا است که در شهر شما نیز کند

خواجه حافظ:

من ارجه عاشقم و اندو مست و نامه سید

هزار شکر که یاران شهر بی گنه اند

سعدی:

از ورطه ما خبر ندارد

آسوده که بر کنار دریاست

حافظ:

شب تاریک و بیم موج و گرداب چنین باتل؟

کجا دانند حال، ما سبکساران ساحلها!

سعدي:

چې دا منهائی گل باشد درین باغ

اگر چیزی نگوید باغبانم

حافظ:

مراده تماسایی باغ عالم چیست

بدست مردم چشم از رخ توکل چیدن

سنايي:

روح یا عقل و علم و اندر زیست

روح را پارسی و تازی نیست

حافظ:

یکی است ترکی و تازی درین معامله حافظ

حدیث عشق بیان کن بدان زبان که تو دانی

د ((مرات الشعرا)) کتاب کې د سنايي او مولانا جلال الدین بلخي نظریات را اخلو وګورو چې د کلام د مضمون ورتوالی څومره ډېر دی، لکه:

لکه:

سخن گر بهر حق گویی چه عبرانی، چه سریانی

مکان کز بهر حق جویی چه جابلقا چه جابلسا*

او یا دا چې:

روح با عقل است و باعلم است یارا

روح را با ترکی و تازی چه کار

د لویو شاعرانو، لیکوالو او مفکرینو د افکارو د مضمون له پلوه ورتوالی مو وکوت او اوس به د بېلو بېلو شاعرانو په کلام کې یو له بله اثر اخیستو او (توارد) یو څو نورې بېلګې راوړو:

حافظ:

یکی است ترکی و تازی درین معامله حافظ

حدیث عشق بیان کن بدان زبان که تو دانی

د ((مرات الشعرا)) کتاب کې د سنایی او مولانا جلالدین بلخي نظریات را اخلو او وګورو، چې د کلم د مضمون ورتوالی څومره ډېر دی، لکه:

سخن کز بهر حق گویی چه عبرانی، چه سریانی

مکان کز بهر حق جویی چه جابلقا، چه جابلسا*

او یا دا چې:

روح با عقل است و با علم است یارا

روح را باترکی و تازی چه کاکر

د لویو شاعرانو، لیکوالو او مفکرینو د افکارو د مضون له پلوه ورتوالی مو وکوت اوس به د بیلو بیلو شاعرانو په کلام کې یو له بله د اثر اخیستو او توارد یو څو نورې بېلګې راوړو:

قیس (مجنون) به چې مینې ډېر په سر واخیسته او د لیلی لیدلو ته تللو، نو ډول ډول خیالونه به یې په زړه کې اوچتېدل او نیت به یې وکړو، چې نن به لیلی ته د زړه دا داغونه او غمونه ور ښیم او دا خبرې په ورسره کوم، خو چې هغې ته به مخامخ شو، نو حال به یې نور شو او هر څه به ترې هیر شو.

همدغه حال او کیفیت په لاندې عربي شعر کې ګورو:

فیاکیل کم حاجة لی مهمه

اذا تحکم باللیل لا ادر ماهیا

(یعنې ای لیلی! زه له کوره په زړه کې له ډېرو هیلو سره سره در روانېږم، خو چې در ورسېږم نو هر څه رانه هیر شي. شیخ سعدي فرمایي:

سخن ها دارم از دست تو دردل

ولیکن در حضورت بی زبانم

چې هو به هو هم هغه خیال دی.

دلته به د موضوع د وضاحت لپاره د شیخ سعدي شیرازي او خوشحال خان یو شعر هم وګورئ، چې څومره نږدېوالی لري:

سعدي:

گفته بودم چو بیانی غم دل باتو بگویم

چه بگویم که غم از دل برود چون تو بیائی

خوشحال خان:

ما وې د زړه غم به درته ووایم چې راشې

غم به څه وایم و تاته چې په راغله غمزده یې

نور به هم دلته د شیخ سعدي او رحمان بابا لاندې شعرونه وګورو:

شییخ سعدي:

میروی و گر به می آید مرا

ساعتی بنشین که باران بگذرد

رحمان بابا:

ته چې له ما درومې دا د اوښکو باران ګوره

رُخ د سفر هیڅ نه دی په دا ګڼو شپېو کې

او د حافظ او رحمان بابا دا شعرونه څومره د مضمون له پلوه یو شان دي:

حافظ:

چو با حبیب نیشنی و باده پیمائی

به یاد آر حریفان باده پیمارا

خوشحال خان:

په هغو دې ما سلام،و ما دې هم یاد کا

په گلزار کې چې نگار لري صهبا مې هم

حافظ:

باغ تازه کن آئین دین زردشتی

کنون که لاله بر افروخت آتش نمرود

خوشحال:

ته به وایئ د نمرود د اور لمبې دي

سره لاله چې په چمن کې انتشار شي

دلته به د لا ډېرې فکري مقایسې لپاره د خواجه صاحب حافظ او خوشحال خان د غزلونو بېلگې راوړو:

حافظ:

زلف آشفته و خوی کرده خندان لب و مست

پیرهن چاک و غزلخوان و صراحی دردست

نرگس عربده جوی دلش افسوس کناان

نیم شب یار ببالین من آمد بنشست

سرفراگوش من آورد و با آواز خزین

گفت ای عاشق شوریده من خوابت است

خوشحال خان

نیمه شپه مې په پالنگ راغله دلبره

پري رویه، عنبر بویه، سمن بره

سر یې تور، ښیښه په لاس باده یې خښلی

د مستی په خپل ځان نه وه خبره

د پایلو د څرې یې شرنګهار شو

زه له خوابه را پرتاب شوم ډېر په وير

په خندا خندا يې د اووې و ماته

چې و ماته نظر وکړه بې بصره

پیاوړی لیکوال او محقق استاد کامل مومند د پورته غزلونو په برخه کې وايي، چې د حافظ غزل او د خوشحال خان غزل پنځلس شعره لري او د معشوقې د حسن او روحاني ماحول کوم بيان او تفصيل چې د خوشحال بابا په غزل کې دی هغه د خواجه حافظ په غزل کې نشته، لیکن بیا هم لکه چې د پورتني انتخاب نه بايد چې ښکاره وي، خوشحال بابا خپل غزل د خواجه حافظ له اثره لاندې لیکلی دی او غزل يې چې د نظم انداز لري، د خپل بنيادي مضمون او خيال لپاره د حافظ د غزل پوروړی دی. د خوشحال په غزل کې روحاني بيانږ د عریانۍ تر حده رسېږي.

لاندې به د اتوارد په نورو مثالونو کې واضح کړو او د نورو ډېرو شاعرانو د کلام نمونې را واخلو:

حافظ:

در چمن گل بر خار کن پخید آرې

چراغ مصطفوی با ثر ابوالهی است

اقبال:

ستيزه کار روهاهي ازل مې تا امروز

چراغ مصطفوي سی شرار بولاهبی

خوشحال خان:

د درويش په زړه کې درست کتاب مرقوم دی

که په خوله يې د عربو لغت نه زده

اقبال

قلندر جز دو حرف لاله کنج بهی نیهین رکعتا

فقیه شهر قارون هی، لغت های ججازي کار

رحمان بابا:

د دنیا پادشاهان خوست کړي له فقیره

ته پادشاه د هسې ملک شه خوست گرمه شه

اقبال:

نگاه فقر مین شان سکندري کیا هی

خراج حسن کی گدا هو وه قصیری کیاهی؟

صاحب:

چون سگ گزیده که نیارد در آب دید

آیینه می گزد ممن مردم گرزده را

مرزا اسدالله غالب:

پانی سی سگ گزیده دری جسطرح اسد

ډر تاهون آیینه سی که مردم گزیده هون

لکه سپي خوړلی بد ودړي له اوبو چه

زه سړي خوړلی بدله آیینې وړم

خواجه کرکاڼي:

کس بر کنم دل از روخ جانان کم مهر او

با شیر در ل آمد و باجان پدر شود

حافظ:

عشق تو در وجودم و مهر تو در دلم

با شیر در بدن شد و پاچان بدر شود

حافظ:

گر ز مسجد به خرابات شدم عیب مگر

مجلس وعظ دراز است و زمانم خواهد شد

قائم:

مجلس وعظ تو تا دیر رهی گی مقائم

یه هی میخانه بهی پی کې چلی آتی هین

همدارنگه د عربي او پارسي دا لاندې شعرونو کې به خیالي نږدېوالی له نږدې وګورو:

عربي:

فکیف او جید فی د ار بناء

و رب الدارس یو ذنی بنقل

حافظ:

مراد در منزل جانان چه امن و عیسی چومن هر دم

جرس فریاد میداد که بندید محملها

لاندې به د عربي ان اردو ژبو شعرونو مضمون هم وګورو؛ اردو شسعر:

اردو:

نهین خضاب سی مطلب مگر په موئی سفید

سیا پوش هموئی حاتم جواني مین

عربي:

فان تنماليسى مالخصاب فانى

لست على فقد الشباب حداد

او دغه راز تابعه حضرت خان خوشحال خان هم داسې وايي:

خوشحال خان:

فانک شمس الملوک و مالموک کوالب

اذا طلعت و لم يبد منهن کوالب

خوشحال خان:

انبيا تر محمد پورې معلوم دي

کلکه ستوري د آفتاب پورې معدوم دي

او دا په ترتيب د قصيدې پردې خوشحال بابا او رحمانم بابا شعرونه دي:

دع ما دعته الصارى فى نبيهم

و احکم کانشت مدحا فيبه و احکم

خوشحال:

په هر شان محمد ستا به

خو يو خداى ورته مه وايه

رحمان بابا:

خداى يې مه ګڼه بيشکه چې بنده دى

نور يې کل واړه صفات دي په رښتيا

د لوى استاد کامل مومند په وينا، د مشرق په شاعرۍ کې د خيالاتو د يو شانتيا د نمونو د کتلو نه پصس اوس د مشرق او مغرب د شاعرانو د افکارو د هم آهنګو يو څو نمونې په لانمدينو اشعارو کې وګورئ. غمرو بن کلثوم چې په سبعته معممات کې د يوې قصيدې څښتن دى، په خپله قصيده کې وايي:

لا الا بجهلن احد علينا

فنجعل فوق جهل الجاهلينا

۱ – قصيدې بُرده:

د انگريزي ژبې يو عظيم آفاقي شاعر ويليم شکسپير د مشهورې ډرامې هملیت یو کردار پولو نېس چې خپل زوی لير تيز ته د هغه فرانسس ته د تعليم لپاره د تلو په موقع کوم نصيحتونه کوي او په هغو کې ورته وايي:

Bew te

Of entrance a agurrel,but veing in veart that the opposed may beware of thee

يعنې پام کوه چې په جګړه کې کېوځې خو که در سپينه شسوره، نو چې دښمن دې وپېژني.

او د پور وړلو او ورکولو غندنه ورته داسې کوي؟؟

Neither a borruler or a Lenderbe!

For Ton Loses bath iteef an friend

يعنې مه پور وړه، مه يې ورکوه، چې پور ځان او آشنا دواړه ورکوي:

د عربي او ادرو دا وينا ګانې وګورئ:

فلان القرض مقراض المحبته

اوقرض احباب کی دين سحی محبت ټوټې

کانته سې جائی رقم هاشي گاهگ چهوتی

پښتو متل کې راځي:

پوره ورک دې کړه دوه گوره

دلته به د فارسي ژبې په استادانو او شاعرانو کې د چار غالباً د محمد حزين شعر دی.

غالب:

زغارت چمنت بر بهار منت ها است

که گل به دست تو از شاخ تاز تر ماند

یعنې ته چې د ګلونو شوکولو په نیست چمن ته راشې، نو په تالار کولو یې په پسرلي مشو ته بار وي، ځکه چې له شاخه ستا په لاس کې ګل زیات تاز او ښېرازه وي. دغه مطلب به د انګرېزي ژبې یو شاعر بین جانسن (۱۵۷۳ – ۱۷۳۷ع) همدغه خیال په یوې سندرې کې داسې ښکاره کوي، معشوقې ته وایي:

I sent the latge a rosy weath

Not so mueh honoring thee

As giving it a hope that there

It coud not withered be

Bat thou there it back tome

Since when it grows and smell. I swear

Not of itself but thee.

ژباړه:

اوس اوس مې د ګلونو امیل درلېږلی و. ړ

هسې نه چې له دې حقیرې تخفې مې ستا لمانځنه مراد وه.

بلکې دا طمع مې ورته ورکړې وه.

تا پرې خپله سا چُف کړه

او ماته دې واپس کړو

او قسم دی چې له هغې پسه تاندېږي

او نه خپلې، بلکې ستا وږمې کوي.

د استاد کامل مومند په وینا، رحمان بابا که هر څو له خواجه حافظ رح یا بل چا استفاده کړې ده، خو د خپلو پیشروانو د خیالاتو د اظهار په وخت یې لکه د هر لوی استفاده کوونکي شاعر په زړې وینا ته یې څه ناڅه نوی

رنګ ورکړی دی.

د حافظ او رحمان بابا فکر او خیال لکه چې مې وړومبی هم عرض کړی دی. خاص طور سره د وینا ډول د ژبې خوږوالی او د جذباتو خلوص او اثر یو بل ته داسې نږدې دی. چې په شاعرانو او فنکارانو کې د داسې نزدیکیت مثالونه ډېر کم دي او اګر که ملا محمد حسین نظري د هغې مقبولیت په آرمان چې کوم حافظ رح ته حاصل شوې و، ویلي یې وو چې:

تا اقتدا به حافظ شیراز کرده ایم

گردیده مقتدایی دو عالم کلام ما

زما په نظر حقیقت دا دی چې د حافظ د کلام خاص صنف غزل کې چې کم عام مقبولیت هغه ته حاصل شوی دی، د هغه مثال نه د ایران نه د هندوستان او نه نورو پارسي ویونکو شاعرانو ته حاصل شوی دی، په حقه چې حضرت حافظ رح څخه اخیستلی دی، خو خپله رحمان بابا کوم په خپله ژبه (پښتو) کې داسې رنګ، خوند، ښکلو سادګي او په زرګونو ښکلاوو هارونه پیلې دي، چې په حقه او ښکاره ډول د علم الکلوم د لوړو آسمانونو معراج ته ختلی دی.

رحمان بابا د خپل شخصیت یو اړخ له ازله د عشق او محبت، جذب او محویت، سوز او درد نه ډک فن سره راوړی و، چې جوت شو، نو یې له هغه د شومخی او مستی د حافظ د فن یوه نمونه وړاندې کړه، د رحمان بابا د شاعرۍ یوه لویه برخه د موادو له پلوه عشقه دی.

چې د تصوف رنګ او د حقیقت نور پکې ښکاره جلوې کوي چې تر څو د پاچا رح په شاعرۍ کې د مجاز[1] د وجود امکانات دي، د ده شاعري به له نسلونو نسلونو پښتو سره وي.

له عشقیه شاعرۍ سربېره رحمان بابا زموږ د ډېرو شمېء کلاسیکو شاعرانو په شان، مذهبي او اخلاقي حیثیت اختیار کړی دی. چې له اجتماعي پلوه په ژوند هر اړخیز اثر غورځوي.

لنډه دا چې رحمان بابا او ده ته ورته نورو شاعرانو په شعرونو کې د اجتماعي، دیني، مذهبي، عرفاني، تصوفي او

---

[1]- *عشقه شاعري

* تصوف

* مجاز

نورو ډېرو اشعارو کې د مضمون ورته‌والی لیدل کېږي، چې د هر شاعر د کلام امتیاز ځانته خوندي کوي.

رحمان بابا چې کومه شاعري کړې د فن د کلام ممتازوالی یې لکه د پنځلسمې سپوږمۍ چې ټولو غلو او دانو ته رنګ و خوند ورکوي، همداسې د رحمان بابا لاهوتي او ملکوتي کلام به د پښتون قوم ته ټول عمر د خوند او پند معنوي طاقت او قوت وربښي او د پښتو ژبې د قدرت تلپاتې تومنه به ترې سوز او خوند اخلي.

چې منکر پرې اعتراض کولای نشي

دا د شعر دی رحمانه که اعجاز

مهمه خبره داد ده چې د رحمان بابا غوندې فصيح الله الکلامه، بليغ الجماله، فصيح الکماله، فهيم الجرده، خيالور، طاقتور او له الهي منابعو الهام اخيستونکي شاعران او لکيوال بايد د نړيوالو ژبو او ادبياتو او همدارنګه د سره نږدې او خپلوانو ملتونو او ژبو د شاعرانو خيالي دنياوې وپلټېږ، وګورې، وڅېړې پوره پوره مطالعه يې وکړي او بيا د خپل کلام په زيبا او ښکلي کولو کې خپل خپل خيالونه وغځوي.

د بابا رح په شان د هميشه بهار کلام درلودونکي شاعران ته ښايدل چې د پارسي دری ادب مطالعه په وار وار وکړي او دا کار يې کړی هم و، رحمان له ځان دمخه خپل او... شاعرانو اشعار پوره مطالعه کړې وه او نه يوازې د خپل وخت، بلکې راتلونکو نسلونو ته د يو ژوندي او تلپاتې الهام مثال لري، موږ به د رحمان بابا د افکارو ورتوالی له نورو شاعرانو سره څه ناڅه نور هم وغځوو.

۲ – کامل صاحب او رحمان بابا:

يا الله

د زړه خبره

محمد زبير حسرت د رحمان بابا د جامع، هر اړخيز او له علمي او ادبي مرغلرو ډک ډک او حالامال، کتاب ترتيبوونکي حدون هم دی، په خپله مقدمه کې تر دغه يا الله، ززړه خبره، کامل صاحب او رحمان بابا تر سرليک لاندې په زړه پورې سريز ليکلی چې سړی يې له پوره پوره مطالعې او ګټې اخيستنې وړاندې پښې نشي ايښودلای.

زه به هڅه وکړم چې د دغې مغتمنې هر اړخيزې، د ورو دروړازې او له فني،ة علمي، معالي او ادبي ښکارو مشبوع شوې سريزې ډېر څه د اقتباس په ډول را واخلم او که خدای کول د نورو ډېرو شاعرانو له افکارو سره به د رحمان بابا نظريات دلته راوړم.

کامل صاحب او رحمان بابا

محمد زبیر حسرت لومړی د استاد کامل مومند د پیدا کېدو تاریخ، کورنی احوال پېښې او... را اخلي، لکه:

دوست محمد خان کامل مومند به نولس سوه پنځلس ۱۹۱۵م د ستمبر د میاشتې اقتباس

په شپاړسمه نېټه پېښور ښار کې پیدا شوی و، د پلار نوم یې فوجون خان وو چې همالته مامور و، پلار نیکه یې بې د نوم ښار ضلع په ډاګې کنومي کلي کې اوسېدل او بیا له هغه ځایه اشغنرۍ ته لاړل.

په کال ۱۹۲٦م کې د استاد کامل پلار هرې پورته بدل شو، نو کامل استاد یې هم له ځانه سره بوتلو. حدا وخت کامل مومند د ۱۱ کلونو \او او هلته د کامل کورنۍ له مشور جید عالم مولانا غلام غوث هزاروي صاحب څخه د قران شریف ترجمه وکړه.

فوجون خان به خپل پکې یوازې زوی دوست محمد خان له ځانه سره ګرځاوه او چېرته به چې بدلې وشوه، نو دی به یې له ځانه سره ګرځاوه او بوته به یې دا ځکه چې د فوجون خان یو مشر زوی صدفر خان یې په ۱۹۲۵م کال په ځړانۍ کې ځوانیمرګ شوی و. همدغه وه چې د کامل تعلیم او روزنه د ده د پأار په حضور کې سرته رسېدلې وه.

استاد کامل ابتدایي تعلیم د پېښور د محله خداداد پرایمبري سکون نه و حاصل کړی او د پېښور لیکوالو (زبیر حسرت) په وینا:

کامل صاحب ابتدایي تعلیم د پېښور امتحانونه یې د مردان ګورنمنټ های سکول نه حاصل کړی دی او په کال ۱۹۳۲ع کې یې د پېښور په مشهوره علمي علمي درسکار اسلامیه کالج کې داخله واخیسته او په ۱۹۱۴ع کال یې له دغه ځایه دولسم پاس کړ. کامل صاحب دلته د مشهورې رسالې خیبر طالب علم مدیر هم پاتې شوی دی.

د دغه وړخت په لیکونو د کامل صاحب نامه د دوست محمد خان کامل یثربي شوی دی. ګویا د کامل صاحب اولنی تخلص کامل پېژبي و. په کال ۱۹۳٦م کې یې د اغیډورد کالج پېښور نه څوارلسم وکړ. دلته کامل استاد د کالج د مجلې (تجلي) طالب علم مدیر و. وروسته کامل صاحب د پر ضغیر پاک و هند مشهور مثالي درسګا علي کړ، مسلم یونیورسټي ته لاړه او له هغه ځایه په ۱۹۳۸ع کال د ایم فلسفې سره سره د اپل ایل بې قانون ډګري هم ترلاسه کړه او په ۱۹۳۹ع کال په اوایلو کې خپل وطن پېښور ته د ببرته راغی، د علي ګړنه په تراستیند ویې په پېښور کې وکالت شروع کړ او د ژوند تر آخرې سلګۍ یې په پېښور کې د ړوکالت حلال رزق

ذریعه او د دیواني مقدمو لپآره ډېر منلی شوی وکیل و.

د روزګار په سلسله کې کامل صاحب د څوارلسم پاس کولو نه پس د خپل تره ښاغلي سلطان محمد خان چې په هغه زمانه کې د انګریزانو ګورنر فتحه سردا نډین پرستل اسیتانست په عهده مقرر وه، د اثر رسوخ لاندې د پراونشل سول، سروس لپاره ایبټ آباد ته د تلو وویلی شول، خو کامل صاحب د دغه منصب خپلولو نه افکار وکړ، په کال ۱۹۵۰ – ۱۹۴۹ عک کې د صوبه سرحد وزیر اعلی عبدالقیوم خان د ښاغلي شیر محمد خان چې د کامل صاحب تربور و اوښتی و. او دغه وخت کې وزیر اعلی سره سېکرټري و، په واسطه کامل صاحب ته د سبشن حج د عهدې قبلولو لپاره وویلی شول، ولې دا ځل کامل صاحب یو خود دارا انسان و او د دې پیکشونو درد کولو ته د هغوی د خوداری اندازه لګول څه ګران نه دي. په کال ۱۹٦۲ – ٦۳ ع د یویونټ دهای کورټ چیف جسټس ښاغلي ایم ارکیاني د صدر محمد ایوب خان په وینا هم کامل صاحب خود دار طبعت دغه ځل هم معذرت څرګند کړی واو په دې لړ کې یې د صوبې د چیف سیکرټرې په واسطه د افغانستان د کابل حکومت سره خبرې اترې هم شوې وي، وړلې دغه کې له ناکامی سره مخ شوی و.

زبیر حسرت زیاتوي، چې:

"په کال ۱۹۴۹ ع کې کامل صاحب د ټي وي (نري رنځ) غوندط مهلک موض کې مبتلا شو او په ډاډ سینې ټوریم (هسپټال) هزاره کې داخل کړی شوه، خو کامل صاحب په خپأ داخلي قوت اولویه حوصله د دغې خونړی بلا داسې مقابله وکړه چې په ماتې یې مجبوره کړه

د پښتو ژبې او ادب په بنیاد د هغوی د ژوند یوه اهمه واقعه د اولسي ادبي جرګې (فروري ۱۹۵۱ع قیام و، ځکه چې هغوی د زړه د اخلاصه غوښتل چې د خپلې مورنی ژبې او ادب د دې ویویکیو او لوستونکو روزنه او رهنمایي وکړي او په دې اهم مقصد کې کامل صاحب د خپلو نورو ملګرو ښاغلي کاکاجي صنوبر حسین مومند او امیر حمزه خان شینواري په ملګرتیا کې پوره کامیابي حاصله کړه او په پښتو کې یې د اوچت معیار تخلیق، تنفقید او تنقیدي کارنامې هم شاملې دین، چې مختلفو کتابونو:

۱ – خوشحال خان خټک (نثر – اردو)

۲ – رحمان بابا د نثر – پښتو

۳ – تاریخ مرصع (تالیف، تصحیح او نوټونه)

۴ – ان ری قارن ابر تو خوشحال انثر – انګریزي – د سراولف کیرو هاول د ځینو غلطو تحقیقنو او تنقیدونو په

جواب کې

۵ – د خوشحال خټک د کلیات ترتیب

٦ – د سکندر خان خټک دیوان (ترتیب)

۷ – د رحمان بابا کلیات (ترتیب او تدوین  - د قلندر مومند سره شریک زیار)

۸ – ۱٦۱۳ ع د پښتو په تاریخ مرصع د ښاغلیو استاد د عبدالروف بینوا او خدای بښلي لوی استاد رښتین په جواب کې

۹ – خمخانه یثرب (اردو، فارسي شاعري – د همیشس خلیل په زیار

۷ – د فکرونو ډیوې (پښتو شاعري – د همیش خلیل په زیار او له دې نه علاوه

د هغې ګڼې تاریخي، تحقیقي او تنقیدي (اردو، پښتو او انګریزي) مقالې او نکلو ته چې په مختلفو وختونو کې په مختلفو اخبارونو او رسالو او مرتب شویو کتابونو چاب شوی دی. چې فهرست یې تر دې دمه په لاندې ډول ده:

۱ – د اړهي او کالج خیر مکزین اسلامیه کالج پېښور

۲ – خلصو نسبت (اردو) اکتبور، نومبر ۱۹۳۳ ع همدغه اثر

۳ – ابن رشد (اردو) ۱۹۳۴ع) همدغه

۴ – حرکت او رخدا (اردو) ۱۹۳۵ ع سفیر سخن پېښور

۵ – باز په خوشحالیات او اقبالیات کې (اول چاپ ۱۹۴۹ ع دویم چاپ ۱۹٦۱

د تورې او قلم خاوند مرتب محمد نواز خان خټک، دریېم چاپ روزنامه انقلاب پېښور، ۱۹۸٦ ع

٦ – د قران ژړا – یوه مقاله ۱۹۵۱ ع میاشتنۍ مجله اسلم، پېښور

۷ – ثق رحمان بابا ۱۹۵۲ ع همدغه مجله

۸ – سوال ډېر ګران دی، اکتوبر ۱۹۵۲ ع همدغه مجله

۹ – د خپل ادب جایزه – اکتوبر ۱۹۵۲ ع همدغه مجله

۱ – کاکاجي زموږ په جلسو کې، فبروري ۱۹۵۵ روزنامه الفاح پېښور

د پښتو ایډیشمین، ښاغلي ولي محمد خان – طوفان خپله مقاله دوست محمد کامل میاشتني مجله پښتو کې د دا ډول نور نکلونو (چې ډاکتر میا سهیل انشا ورته په ماده کامل خپله مقاله کې مقالې؟ وايي نامي هم لیکلې دي، لکه:

کاکا جي د کبابي په دوکان کې

کاکا جیم د چایو دوکان کې

کاکا جیم د ډآکتر دوکان کې – کاکا جیم د کامل کور کې

کاکا جیم د کامل په دوکان کې

ک۱۱ – په خوشحالي ادب کې ملي شعور – اپریل سه روزه آزادي

پېښور د پښتو نمبر دا مقاله په جنوري ۱۹۵۸ کې په میاشتني مجله ننګیالی، پېښور یې کې شایع شوې ده او په درېم ځل جنوري ۱۹۸۵ ع په روزه= امن پېښور کې هم تابع شوې ده.

۱۲ – د خوشحال بابا دیوان د خپلو محسناتو سره مروت – ۱۹۵٦ ع کال، جولای، روزنامه انقلاب، پېښور، میاشتني ادبي ایډیشن نمبر کې هم شایع شوې ده چې دلته یې عنوان داسې دی (د خوشحال بابا خپلو محسناتو سره سلوک)

۱۳ – که مرمه هم راځه د ۱۹۵٦ ع کال نوامبر میاشتې لار مجله

۱۴ – خوشحال خان خټک (اردو) ۱۹۵۷ع سنګ د میل پېښور اټک اس یار

۱۵ – د طالب علما نه عقیدت، جنوري ۱۹۵۷ فبروري اووه ورځني رهیر، پېښور مردان.

۱٦ – یوسف یاد، د ۱۹۵۷ ع فبروري اووه ورځني رهیر، پېښور، مردان

۱۷ – تاتره د ۱۹۵۷ ع کال می میاشت، ننګیالی مجله، پېښور.

۱۸ – د علي خان کور او قبیله (څلور قسطونه) د ۱٦م اګسټ، ۱۹۵۴ ع او ۱۹ او ۲۰ اګسټ، ۱۹۵۴ ع پېښور، د الفلاح ورځپاڼه

۱۹ – د علي خان کور او قبیله (درې قسطونه) د ۱۹۵۷ ع کال د جون ۴مه اووه ورځنۍ رهبر مردان.

۲۰ - په رحمان بابا د تنفید په باب کې (درې قسونه د ۱۹۵۷ ع کال جولای، رهبر پېښور، مردان (دا مقاله چې د میاسید تقویم الحق کاکاخېل د یو لیک په ځواب کې لیکل شوې ده.

۲۱ – د مجرم پیغام – ۱۹۷۵ ع، رهبر پېښور، مردان

۲۲ – په خوشحال بابا د تنقید په ځواب کې – ۱۹۵۷ اگسټ، رهبر، پېښور، مردان.

۲۳ – موږ ولې خاندو؟ میاشتنی اسلم پېښور .

۲۴ – د رحمان بابا مقبولیت او شهرت (د ننگر کتاب) پښتو نصاب، خوارلسم (دا مقاله د کامل صاحب د کتاب (رحمان بابا نه اخیستې شوې ده، چې زموږ د دې کتاب اولنۍ برخه پکې شامله ده.)

۲۵ – په رحمان بابا یو نوی کتاب – ۱۹۵۹ ع کال اگسټ، میاشتنۍ (لار) پېښور، رحمان غږ

څېړنې، پلټنې او لیکنې کړې دي.

د خدای ښنلي بزرگوار او عالي مقام شخصیت او لیکوال کامل مومند له ډېرو گڼو څېړنو سره سره شاعري د کمال تر حده رسېدلې ده، زموږ مطلب د ده په څېړنو کې د حضرت عبدالرحمن بابا د ژوند او فن د بېلابېلو اړخونو ننداره کول دي. په حقه سره ویلای شو، که د کامل مومند استاد دا گڼې گورې لیکنې نه وای، نو پر رحمان بابا به د څېړدنو لړۍ دومره له پوره آب او تا به ډکه نه وه.

د رحمان بابا له نویو زیاتونو سره د کامل د اموجوده کتاب په درې نرخونو اډلنه دی، اوړله برخه یې د کامل صاحب د پښتونخوا ډېر ښه او د مقبولیت شاعر عبدالرحمن بابا په ژوند و فن لیکلی روغ کتاب دی، چې د رحمان بابا په نامه یې لیکلی دی او هغه د لومړي ځل لپاره عبدالخالق خان خلیق د خپلې ادارې اداره ساعت سرحد پېښور.

دارې چاپ او خپور کړی و، ولې اوس په بازار کې نه ترلاسه کېږي. دا کتاب لا چاپ شوی نه و، چې خلیق صاحب د خپلې ادارې له خوا د دې کتاب یو استشار د میاشتینۍ لار، پېښور، ۱۹۵۸ په (۲۴) مخ کې چاپ کړی و. په دغه اشتهار کې د دې کتاب او د کامل استاد د علمي، تحقیقي او تنقیدي شخصیت په هکله ډېر ښکلی او کوټلي تاثرات وړاندې شوی دی، لیکي چې:

"د پښتو د نومیالي او نمانځلي ادیب ښاغلي دوست محمد خان کامل مومند ایم – ری – ایل – بي د رحمان بابا نومي کتاب ډېر ژر چاپ کېدونکی دی.

دا کتاب څومره با ارزښته دی، د دې اندازه د ښاغلي کامل له لوړ ادبي مقامه د ښاغلي مومند له لوړ ادبي مقامه ښه لګېدلی شي، اول هغه په خوشحال خان یو کتاب لیکلی دی او د کامل استاد په ونیا چا چې دا او خوږې پښتو ژبې کې او په هر ادبي اړخ کې څومره ښکلې مرغلرې شته، چې د پښتون لوی قوم او بشریت په ګټه دی.

له هغه پس اروانښاد کامل مومند په رحمان بابا داسې کتاب او څه لیکلي چې نه یوازې د هغه وخت، بلکې د پښتون د راتلونکو نسلونو د نېکمرغه روزلو راڼه مثالونه پکې له ورایه سترګګونه وهي.

د رحمان بابا په ژوند او فن دا کتاب (تاریخي، علمي او ادبي جاج) د کامل استاد څلورم ادبي کاوش دی، دا کتاب (۲٦۰) مخونه لري، چې د انتساب ټکی یې داسې دی:

"د یو رښتیني مسلمان، لوی انسان او خپل خوږ او مین دوست عبدالواحد خان مرحوم په یاد"

په دې کتاب کې ښاغلي امیر حمزه خان شینواري، دا کتاب زما په نظر کې، یوه علمي او تنمقیدي مقدمه لیکلې ده، چې د توصیف سره سره یې پکې هغو خامیو ته هم اشاره کړې ده چې د حمزه صاحب په خیال نه وي پکار، د نورو بحثونو نه علاوه یې د وحدت او وحدت الشهود په نظر یو هم ښه رڼا اچولې ده او دغه متنازعه موضوعات یې په ډېره فنکارۍ د بحث لپاره رامنځته کړي دي، او په کامل صاحب یې د زده د خلاصه په ارتې مټ تنقید کړی دی، ولې د دې مهم کار او زیاتر په ستنواینه کې یې هم د بخل نه کار نه دی اخیستی او په چار یې ویلی دی، چې:

"په دې وخت کې چې د تنقید فن کمال ته رسېدلی دی او په پښتو ادب کې هم تنقید ښه پرمختګ کړی دی، د رحمان بابا د کلام نه هغه حکیمانه او ژوند پیدا کوونکی نقطې راویستل ضروري وو او دا یو داسې هم کار و چې د پوخ فنکار او د ژوند نظر د خاوند نه بغیر چا سرته نه شو رسولای، زه په لوستونکو زېری کوم چې د پښتو ژبې لوړ ادب، نقاد او محقق دوست محمد کامل دې کار ته د همت ملا وتړله او د رحمان بابا په کلام کې یې یوه داسې جامع او ځلانده تبصره وکړه چې د هغه په ټولو اړخونو رڼا پرېوته، کوم چې د دې نه پخوا د لوستونکو د نظر نه تیر و، ولې د هغو ژورو ته یې نظر نه و کوړ شوی. (۹ – مخ)

په دې کتاب کې استاد کامل د (هنداره په نامه خپلې خبرې کړې وې او په هغې کې یې هغه ټول تفصیل بیان کړي دي. م د

د کتاب پر مهال چې کوم تکلیفونه پېښ شوړي وو، نوموړي ترې یادونه کړې او په مندر جاتو هم ښه رڼا اچول شوې ده.

"رحمان بابا په شاعرۍ د بحث کولو په دوران کې هم د هغو اصولو پیروي شوې ده، چې د کومو پیش نظر تاریخي برخه لیلک شوې ده او د یو شاعر او مفکر په توګه د درست مقام متعین کولو لپاره استاد کامل ضروري بللې، چې د حمزه صاحب د تصوف ړپه موضوع کې اختلافي موضوعاتو باندې کار وکړي.

استاد کامل په خپلو خبرو کې د حمزه صاحب د تصوف په موضوع کې هغه اختلافي بحث ته هم اشاره کړې ده او دا وضاحت یې کړی دی، چې ما کوم تنقیدونه او اعتراضونه کړي دي، هغه مې د خپلې عقیدې او مسلک (اهل سنت و الجماعت) په تایید کړي دي، چې د اسلامي اصولو او عقایدو صبح ترجمان دي.

ښاغلی داور خان داود په خپل کتاب (رحمان بابا ژ،ند، تعلیمات او شاعري) کې په ۱۲۳۸ مخ د کامل صاحب د کتاب د رحمان بابا په اړه لیکلي دي، چې:

"ښاغلی دوست محمد خان کامل په ۱۹۵۸ کې په رحمان بابا باندې یو عالمانه، محققانه او بصیرت افزوده مقاله په کتابي شکل کې چاپ کړی دی، حقیقت دا دی چې دا رحمان بابا د ژوند، زمانمې او پیغمام او کلام د هر اړخ په هکله یوه مفصله، مدلله او مربوطه مقاله ده. د دې لپآره چې د کوم محنت او زیا نه کار اخیستی او مربوطه مقاله ده. د دې لپاره چې د کوم محنت او زیا نه کار اخیستی دی، هغه د دې کتاب د لوستونه پټ نه دی، دا د محقق، تنقید او پلټنې په تول پوره او د ژبې او ادب یو ډېر لوی خدمت دی.

د کامل صاحب د (رحمان بابا په باره کې د مولانا حافظ او رییس د طورو مرحوم هم په خپله عالمانه او ناقدانه تبصره کړې وه، چې د ښاغلي کامل دغه زیار یې پکې بې حده ستایلی دی. د حافظ صاحب د مقالې نه کامل صاحب خپل کتاب او ځوابي مقاله په رحمان باب یو نوی کتاب کې اقتباس کړی دی، چې ګران لوستونکی به یې هغلته ولولي.

د دې کتاب کې اقتباس په هکله د رحمان بابا په باب کې (د خوږ مشر کامل صاحب په نوم) یو خط محترم سید تقوی الحق کاکاخېل په اووه ورځني رهبر پېښور ۲۵م جون ۱۹۵۸م شایع کړی و چې زیاتره تنقیدي برخه یې د کامل صاحب په شهادتونو په تاریخي شهادتونو او د حقیقت او مجاز په سلسله کې ده.

همدغه رنګه د رحمان بابا په صد ښاغلي سرفراز خان عقاب ختک ایډوکیت هم یو کتاب د رحمان بابا په نامه لیکلی ون چې هغه هم اوس نه پیدا کېږي او د یو روایت تر مخه سرفراز خان خپل دغه اصر سوزولی و (والله اعلم)

محمد زبیر حسرت وایي، ما ته د دغه کتاب یوه کاپي د محترم استاد محمد آصف صمی له خوا راکړ شوی و، چې ما ترې یوه فوتوکاپي اخیستې وه او له ما سره موجوده ده، خو باخبره عالم او فاضل کامل صاحب یې په

میاشتینۍ مجله (لار) پېښور، رحمان نمبر، د ۱۹۵۹ع کال د اگست ۳ په رحمان بابا یو نوی کتاب په نامه د دغې مجلې په ۸۳ مخونو تفصیلي، تحقیقي، تنقیدي او تاریخي ځواب کړی دی او ښه خبر یې اخیستی دی...

دغه راز لړه موده شوې ده چې ښاغلي حسرفراز خان عقاب خټک ایډوکی بنو (رحمان بابا) نوم یې یو کتاب په شاهین برقي بریسس پېښۍور کې چاپ او خور کړی دی، د کتاب تقطیع ۲۰× ۳۰ = ۱٦ او سره د دې بیا چې یا مقد می ۱٦مخه او د اندکس او د مضمونونو د فهرست (دواړه مخه) په ۱۵۸مخونو ختم شوي دي او سره د دومره وړې تقطع لږ ذخامت لري.

د کامل صاحب کتاب (رحمان بابا) د کتابسیات او ضمیمې نه سربېره په شپږ بابونه لري، چې موضوعات یې په لاندې ډول دي:

رحمان بابا او د هغه عهد دا بابا له ټولو بابونو لوی او جامع دی، چې استاد کامل پکې د رحمان بابا د ژوند د حالاتو لپاره د هر قیاس اساس لټولی دی. په دې بابا یې ۹ نور عنوانه راغلي، لکه (د تصویر دواړه اړه، نسبت، کلی او د زیږېدو زمانه د رحمان بابا د ژوند عامه نقشه، د رحمان بابا اولاد حزا، د رحمان بابا عهد، جهان خان، واقفه، د رحمان بابا شهرت او مقبولیت، د رحمان بابا دیوان او نور بابونه.

۱ – د کلام عام جاج

۲ – تصوف

۳ – د عشق او محبت شاعر

۴ – حښکلي او خواږه نصیحتونه

۵ – مقامیت او قومیت

له کامل صاحب را وروسته په (رحمان بابا) د شلمې صدۍ د منفرد نثر نگار محترم ایار داودزي یو عالمه او تنقیدي مقاله په یوه جحدا انداز په میاشتینۍ مجله (قند، مردان دویمه حضومي گڼه ۱ – ۱۲ کې د رحمان بابا او کامل صاحب یو تاثر تر عنوان لاندې هم چاپ شوې ده، چې اوس د هغوی په نثري مجموعه (ادبي هڅې) کې هم شامله ده. دا تنقیدي اقتباس د ځیرلو دی، چې استاد کامل د شخصیت هر ډول اندازه هم ترې کېدای شي.

د ډاکتر زبیر په وینا، منم چې کامل صاحب ډېر حغتې کار کړی دی، ولیکل کامل په دې کتاب کې ډېر ښه وکالت کړی دی ټول راپور یې پکې لیکلی او په داسې عالمانه طریقه یې لیکلی دی چې د ژ،ند او فکر ټول

کوایف پکې څرګند شوی دی.

ډېر لوړ کتاب دی او زه خپله داسې وایم په پښتو ژبه او ادب کې تر اوسه داسط ښیہ کتاب نه دی لیکل شوی. مدا کتاب که د تنقید او تبصرې په فن کې زموږ د موجوده لیکوالو لپاره د لارې یو مثال دی، نو د مستقبل د لیکوالو لپاره د سنګ میل به کم نه دی.

یو کتاب په سرېن کې چا ونه کړ

بې رحمانه چې یې کړی دی کتاب

## په رحمان بابا یو تنقیدي نظر

د رحمان بابا د پیدایش او وفات په کلونو کې د کامل صاحب د تحقیق یو جدا انداز او په خپل ځآی ډېر ګغوره دی، خو اوس دغه بحث ډېر وړاندې تللی دی، په رحمان پوهنه نمبر (رحمان ادبي جرګه پېښور) دې لړ کې درې قمالې د سید تقویم الحق کاکاخېل، قلندر مومند او حبیب الله رفیع چاپ کړی دی او هر درې واړه په خپلو موقفونو ټینګار کوي او ورله د رحمان بابا له دیوانه داخلي او له نور دیوانونو یا کتابونون خارجي شهادتونه راوړي.

سید تقویم الحق کاکاخیل د اورنګزیب عالمیګر د مړینې په مناسبت د رحمان بابا له لیکلې یوه قصیده نظم، چې مطلع یې داسې ده:

په نظر دې بې بصر

لکه شام هسې سحر

او له دې بیته چې:

تر پنجاه و پنجه تیر شوې

ته لا ځان بولي پسر

د رحمان بابا عمر له ۵۵ کلونو زیات بولي او داسې د رحمان بابا د پیدایښ کال ۱۰٦۴ هـ ګڼي او د وفات کال یې د ۱۱۲۴ هــ خوا او شا تسلیموي.

قلندر مومند یې د پیدایش نېټه (۱۰۸۱ هـ او وفات یې د اخوند گدا په نافع المسلیمن کې د یوه مرثیه نما نظم چې د قایم خان خان پر مرگ یې لیکلې ده.

د هغو بیتونو په اساس ۱۱٦۳ هـ کښې

د تاریخ حساب یې (بلغل علا) دی

له دنیا په دا تاریخ بلند مکان لاړ

زه گدا یې به خپل ځای باندې قایم کړم

له جهانه چې شاعر عبدالرحمان لاړ

چې د بلغل علا نه د ابجد په حساب ۱۱٦۳جوړېږي او دا قایم خان سره سره د رحمان بابا د وفات کال هم گڼي، خو که دا توری موږ بلع العلی لیکو، نو بیا یې تاریخي ماده ۱۱۷۳هـ جوړېږي. دا قیاسه ډېره لرې خبره ده او قندر صاحب چې کوم دوه بیتونه تر منځه دا بیت هم لیکلی دی چې:

د گدا په د لا حوال پوښتنه مه کړه

توان توفیق یې د یارانو په هجران لاړ

همدارنگه حبیب الله رفیع د پټې خزانې په اساس د رحمان بابا د پیدایش کال حامي دی او وفات یې د ۱۱۲۴ هـ شاوړخوا، بکلې تر ۱۱۲۸ هـ یقیني گڼي اوږ یونه حواله یې د یو لس په دیوان کې دا بیت هم دی، چې

له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه

چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه

خو د دغه بیت له وروستۍ مصرعې ځینې ۱۱۱۸ عدد د استخراج شمېر کېږي، چې سمه یې نه برېښي او دا د پټې خزانې په اساس ده (وگورئ رحمان بوهنه نمبر د رحمان ادبي جرگې اول چاپ ۱۹۹۳ ع، د یونس دیوان مولف څېړندوی خدمتگار ۱۳۵٦هـ کابل چاپ او د اخون گدا نافع المسلمین ۱۹۱۳ ع چاپ.

استاد کامل د رحمان بابا د شاعرۍ په لړ کې چې کله د هغوی په ژوند او فن بحث کوي نو ځینو نمونه داسې هم دي چې هغه په مدح او ذم کې لیکلي دي، لکه چې نورو دیوانونو په ځانگړې توگه د خوشحال خان خټک کلیات د اشرف خان هجري دیوان پای د عبدالقادر خان خټک په دیوان کې وینو، که موږ دا ومنو چې رحمان بابا خپل کتاب په خپله مرتب کړی او لیکلی و، لکه چې همداسې ده او د دې خبرې په ثبوت کې یې ډېر

شعرونه کامل صاحب خپلو دلایلو کې راوړي دي، نو بیا مدا هم ومنو چې رحمان بابا دیوان کې مخمس او مسبع غوندې عنوانونه لیکل، نو بیا قصاید یې هم لیکلی شو، خو خدازده چې داسې هغوی ولې او د څه له امله دی کړی، که موږ د بابا په دیوان کې لټون کوو، نو داسې ډېر نظمونه به پکې بیا مومو، چې هغه د قصایدو په شمار کې راتلای شي.

لکه حمدیه قصیده:

گوره هسې کردگار دی رب زما

چې صاحب د کل اختیار دی رب زما

د دنیا او دنیاداری په هکله اخلاقي قصیده:

ښه ده ښه ده دا دنیا

چې توښه ده د عقبا

او د ډاکتر حسرت په وینا د تصوف په درېیم باب کې استاد کامل صاحب دې نظم ته د قصیدې نامه ورکړې ده.

حمیده قصیده:

په نامه د هغه خدای مې دا بیان دی

چې یو نوم یې په نومونو کې سبحان دی

نعتیه قصیده:

که صورت د محمد نه وای پیدا

پیدا کړې به خدای نه وای دا دنیا

منقبتي قصیده:

صاحبان چې د ارشاد دي مقتدا

چار یاران رض د پاک رسول دي په رښتیا

همدارنگه تاریخي، د ټولنیز حالاتو او اورنگزیب مرثیه نما قصیده چې د اورنگزیب مدحه او دم او د شاه عالم او

اعظم غندنه پکې شوې ده او کامل صاحب ورته ویلې ده.

په نظر د بې بصر

لکه شام، هسې سحر

حیمده قصیده

نعتیه قصیده

منقبتی قصیده

مرثیه قصیده

د درویشانو په ستاینه هم داسې قصیده ویلې دي:

که نظر کا څوک په کار د درویشانو

خود به ووینې وقار د درویشانو

دا پورته ټولې قصیدې د دوکتور حسرت په وینا د قصیدې په فني لوازماتو آراسته دي.

دا لوازمات لکه:

تشبیب – گریز – مدح – مدعا او دعا او نور دي.

د رحمان بابا قصیدې یې لرې او زما په نظر دغه قصیدې څه لسه فني او څه د موضوع له اړخه یو شاهکار دی او په ټولو فني خوبیو او محاسنو آراسته او ښایسته ده چې:

په نظر د بې بصر

لکه شام هسې سحر

کامل استاد په دې اند و چې رحمان بابا قصاید لیکلي دي، خو په واضحو ټکو کې یې د قصایدو وضاحت او پرې په زړه پورې، جامع او مانع بحث نه دی کړی.

د مقامیت او قومیت په باب یو ځای کامل صاحب لیکلی دی، چې د څه موده وړاندې د وخت د پښتنو یو لوی سیاسي تحریک طرف ته چې ایمل مومند، خوشحال خان خټک او دریاخان اپریدي یې چلوونکی و، اشاره

قدرې هم نشته.

مگر له بده مرغه یا په تاسف چې استاد کامل دا نه دي ښوولي چې دغه اعتراض چا کوم ځای کوم کتاب اخبار یا مجله کې او کله کړی و؟

کامل صاحب اگر چې د دې اعتراض ځواب خپل مخصوص انداز کې د (ر) د پېنې د هغه نظم (قصیده) له لوریه ورکړی دی چې د اورنگزیب غندنه چې پکې شوې ده او دا بیت یې پکې راوړی دی، چې:

هم یې هند په ډکه واخیست

هم کابل هم پېښور

حمزه شینواری

د پښتو ادب معاصر پیاوړی محقق، لیکوال، عارف، متصوف او د لوی نامه او شهرت خاوند ارواښاد حضرت ابوالمر د حمزه شینواري د پښتو ژبې او ادب د کلاسیکې او شاعر استشهادي، قصده‌گر سرا او غزل بول شاعر حضرت عبدالرحمان بابا په برخه کې جالبه په زړه‌پورې نظر او مقاله لري چې دلته به یې د اقتباس په توگه را واخلم:

"دا د انسان فطرت چې هغه د شیانو باطن ته د رسېدو کوشش کوي او د هغه په ظاهر اړخ نه قانع کېږي، خو په انسانانو کې ډېر تفاوت دی او په ذهني لحاظ انسانان په دریو ډلو ویشل کېدای شي. ادنی اوسط او اعلی، ښاره خبره ده چې ادنی طبقه د هر څیز باطن ته د کوزېدو ډېر کوښښ کوي، د هغوی د قناعت لپاره د شیانو په ظاهري اړخونو کې کافي سرمایه پرته وي او هم هغه د هغوی مقصد وي.

د اوسطې طبقې انسانان د یو داسې طبعیت خاوندان وي چې د هغوی په شخصیت کې د ادنی او اعلی دواړو امتزاج شامل وي او هر څوکه دا دا د ادنی طبعې نه لوړه او اوچته وي، خو د اعلی طبقې نه کمه وي او هغه د شیانو په باطن کې دومره لټون نشي کولای، چې هغوی د فطرت مزاج وپېژني او د حقایقو دمخه نه پرده پورته کړه.

درېیمه طبقه د اعلی انسانانو ده چې دا طبقه د انساني وجود د حقایقو نه ناخبره او د نړۍ د راز نه تر ډېره حده واقف وي په دې طبقه کې ځینې اعلی او د روڼ تخیل شاعران هم وي چې هغوی د فطرت ترجمانې کولای شي او انساني نوعې ته د ژ،ند هغه ټول ضروریات ور ښیي کوم چې د انساني شخصیت په بشپړتیا کې لازم دي.

شاعر یوازې دانه، چې قام او ملت ته د هغه دا دي ماحول او د خوا او شاحالاتو شعور ور ببني، لکه د هغه د

روحاني سعادت په خوا ساکې هم ځلانده ښودنې او حکیمانه اشارې کوي. د

د پښتو ژبې په شاعرانو کې یو داسې شاعر عبدالرحمان بابا هم دی چې د پښتونخوا لوی او واړه یې پېژني او هغه ته د احترام په نظر ګوري، آن تر دې چې کوم وخت میرویس خان نیکه په ایرانیانو حمله کوي، نو د رحمان بابا په دیوان کې د سوبې او فتحې فال ګوري.

په عواملو کې د رحمان بابا مقبولیت که موږ ته دا ښیي چې هغه عوامي شاعر و، بلخوا ترې دا هم معلومېږي چې هغه په اعلی او اوسطه طبقه کې هم هغه شان شهرت لري، څرنګه چې په ادنی طبقه کې لري او د دې نه صفا صفا معلومېږي، رحمان بابا څه داسې معجزانه وینا کړې ده، چې د پښتنو شاعرانو چې وخت په وخت د رحمان بابا د کلام کومه ستاینه کړې ده، هغه به ښاغلي لوستونکي په دې کتاب کې ولولي. لیکن سره له دې دا یو حقیقت دی چې ادنی او اوسطه طبقه د رحمان بابا د کلام نه هغه پټې مرغلرې را ویستلای کومې چې د هغه د کلام په ژورو کې پرتې دي او نه د هغه په دقر او قېمت پوهېدای شي د هر کار لپاره یو وخت وي او هر کشاله په خپل وخت سرته رسي.

لیکوال حمزه شینواری زیاتوي: "په دې وخت کې چې د تنقید فن کمال ته رسېدلی دی او په پښتو ادب کې هم تنقید ښه پرمختګ کړی دی. د رحمان بابا د کلام نه هغه حکیمانه او ژوند پیداکوونکې نکتې را ویستل ضروري وو او دا یو داسې مهم کار و چې یو پوخ فنکار او د ژور نظر د خاوند پرته چا سرته نه شو رسولی. زه په لوستونکو زیری کوم چې د پښتو ژبې لوړ ادیب، نقاد او محقق دوست محمد خان کامل مومند دې کار ته د همت ملا وتړله او د رحمان بابا په کلام یوه داسې جامع او ځلانده تبصره وکړه، چې د هغه د کلام په هغو ټولو مهمو اړخونو رڼا پرېوته کوم چې د دې نه پخوا لوستونکو د نظر نه تېء وو ولې د هغو ژورو ته یې نظر نه  و کوز شوی.

کامل صاحب د رحمان بابا د پیدایښت او وفات د هغه د ژوند او خاندان په هکله ډېر ښه تحقیق کړی دی او د رحمان بابا د پخوانیو سوانح نګارانو ډېرو تاریخي تنقیدونو ته یې اشارې کړې دي.

د دې عمل نه علاوه یو نقاد چې د کوم شاعر په فن یا تنقید یا تبصره کوي نو زیاتره د هغې زمانې علمی، ادبي، سیاسي او معاشرتي حالات هم په نظر کې ساتي او بیا د دې خبرې لحاظ هم کوي چې د هغه شاعر کلام د خپل ماضي څخه څومره ذهني سیاسي یا فني تاثرات او اغېز موندلی و او دا داسې مهم اړخونه دي چې د دغو د څیر کولو نه بغیر لوستونکي د شاعر د وینا نه پوره پوره استفاده نشي کولای، نو ځکه ښاغلي کامل مومند د روښاني ادب په سلسله هم ښه نظر غورځولی دی او د روښانیانو او مغلو په دوران کې چې پیر روښان او د هغه

شاګردانو چې زاخان انصاري، دولت الله لواڼي، ارزاني او داسې نورو کوم ادب تخليق کړی و، هغه د يو ذهني ميراث په ډول خوشحال خان او د هغې زمانې نورو شاعرانو او بيا رحمان بابا ته پاتې شو، ګويا رحمان بابا په داسې يوه زمانه کې شاعري کړې ده چې د پښتو ادب يوه قتي او ځلانده دوره ړه، په دې وخت کې پښتنو شاعرانو او اديبانو د پارسۍ په مقابله کې د هوډ او تربګنۍ شاعري کوله او غوښتل يې چې پښتو ادب د پارسي ادب نه وروسته پاتې نشي.

استاد کامل مومند په دې ثبوت کې د قلندر مومند يو شعر پيش کړی دی.

وايي:

و پښتو ژبې مې آب ورکړ په شعر

د پارسۍ شعر چې نه وايم افغان يم

د استاد حمزه شينواري په وينا دا يوه داسې زمانه وه چې پارسي شعر ته پښتنو د مغلو شعر وايه او هم د دې شخړې له امله چې په پښتنو او مغولو کې رولېه وه، رحمان بابا ته کوره ګورو پېښور درېواړه يو شان ښکارېدل. د دې دورې په برخه کې استاد کامل مومند ډېر ښه تحقيق کړی دی او ښوولې دي، چې په هغه جايګردارانه نظام کې د اقتصاد بدحالۍ په وجه په معاشره کې توازن نه و.

کامل د رحمان بابا په موجوده ديوان کې ځينې غزلونو ته اشاره کړې ده چې هغه د بابا په ديوان کې شامل کړی شوی دی او حقيقت دا دی چې هغه غزل د رحمان بابا نه و او بيا يې په دې سلسله کې د رحمان بابا هغه افکار هم ښکاره کړي دي، کوم چې د ايران د لوی شاعر او غزل ګو حافظ د اثر نه رحمان بابا ليکلي دي. کامل استاد دا خبره منلې ده چې پښتنو شاعرانو د پارسي ادب نه استفاده کړې ده، خو د حافظ او رحمان بابا د شعر ډېرې نمونې وړاندې کړې دي چې زما په خيال ضروري نه وې او د کامل د دې تحرير مزاج دا خبره ذهن ته وړاندې کوي چې رحمان بابا د خپلو تخيلاتو اکثره پانګه د حافظ شېرزاي نه اخيستې ده خو شايد چې استاد کامل پخپله هم دا نفسياتي حقيقت محسوس کړی دی او پوښتنه يې ليکلې ده او دا خبرداری درکوم چې د رحمان بابا عظمت نه کوم او د دې نه پس يې نو ډېر داسې مثالونه وړاندې کړي دي، چې اکثرو شاعرانو  خپلو پيروانو نه استفاده کړې دي، لکه حافظ د سعدي نه او سعدي د قيس نه له خوشحال بابا د سعدي نه او بيا د انګرېزي ادب مثالونه هم وړاندې کړي دي.

دا ټوله تبصره ډېره زياته علمي او ادبي ده او کامل مومند په ډېره ښه طريقه د هغه وضاحت قادر شوی دی، خو زما په خيال د رحمان بابا او د هغه عهد په سلسله کې دې خبرو ته صرف اشاره کافي ده.

استاد حمزه شینواری زیاتوي:

"مو که د رحمان بابا د شاعرۍ نه هغه برخه وباسي، کومه چې د تصوف سره تعلق لري، نو د رحمان بابا د کلام زکات به هم لاس ته رانشي. د هغه کلام نژدې نژدې ټول د تصوفي افکارو هنداره ده او د یوه نقاد او مبصر لپاره د دې سیوا بله لار نشته چې هغه په دې اړخ د زیاتې نه زیاته رڼا وغورځوي.

د رحمان بابا د تصوف په هکله هم کامل ښه تحقیق کړی دی او په دې سلسله کې یې د تصوف په فن هم یو ښه ژور نظر غورځولی دی، سره له دې چې استاد کامل له دې فن سره څه دومره ډېر آشنا هم نه دی، خو زه هغه ته دا ډاډ ورکوم چې د خپل مقصد سره سم او د رحمان بابا درست مقام ټاکلو کې یې یو کامیاب کوشش کړی دی، البته دومره غرض به ضرور وکړم چې د وحدت الوجود نظریې په اړخونو د کامل تنقید څه جانب دارانه غوندې ښکاري چې زما ورسره اتفاق نشته، باید چې نقاد د تنقید په وخت د هر قسم د جنبیه‌دارۍ نه ځان وژغوري او د نقد فن د یو نقاد نه هم دغه مطالعه کوي، بیا د وحد الوجود په نظریه دغه اعراضات شوي دي، نو دا حقیقت دی خو د وحدت الشهود په نظریه هېڅ فقیه یا مجد د اعتراض نه دی کړی. وحدت الوجود د (د همه اوست او د وحدت الشهود (همه از اوست) نماینده‌گي کوي او همه از اوست یوه مشفق علیه نظریه دی، لاکن سره له دې زه له دې حقیقت نه انکار نشم کولای چې کامل د وحدت الوجود د نظریې مخالفت کې د اکثر اهل سنت و الجماعت نماینده‌گي کړې ده او د دې نه ښه حق به یې چا ادا کړی و؟

د دې علاوه چې کوم وخت کامل د (عشق) د عنوان لاندې په لیکلو لاس پورې  کړی دی، نو په غیر شعوري ډول یې د وحدت الوجود د نظریې تایید کړی دی. کامل د مرسید شریف، مرزا غالب او د یو کتاب ایراني مابعد الطبیعات په حواله لیکلي، چې کائینات د ازلي حسن یو منعکس شوی صورت دی. عالم بې د معشوق دیکتایي د جلوې نه نور هېڅ نه دي که حسن خودبین نه وي، نو موږ به نه وو.

بیا لیکي، چې د دې ویناګانو له رویه د حسن ځان ته کتل خپل شعور (خودبیني) او خپل اظهار د تخلیق سبب دی، او بیا د دې نه پس کامل صاحب لیکي چې دا افکار او ویناګانې مذهبي اساس هم لري. د حضرت محمد رسول الله ص مقبول ارشاد دی چې: (ان الله جمیل و یحب المحالُ) او (کنت کنزا مخفات فاحست ان اعرف)

بی ځایه به نه وي چې زه دلته د مولانا عبدالسلام رامپوري د مقالې (اقبال او برګسان) یو اقتباس وړاندې کړم، لیکن چې د (وحدت الوجود) په وجه په افعالو کې کثرت او اختلاف شته، خو دا فضیلت مطلقه اجزا نه دی، بلکې د هغې فعالیت مطلقه په اجمالي حیثیت کې خالق دی او په تفصیلي حیثیت کې کاینات یعنې دا کاینات د هغه فضیلت مطلقه ظهوري اعتبار دی. په عالم کې د (انای مطلق) نه علاوه هېڅ څیز حقیقي وجود

نه لري.

د عشق او محبت د عنوان لاندې کامل د حقیقي او حجازي شاعرۍ په اړخونو کې ډېر ځلانده تحقیق کړی دی او د صوفي شاعرانو نږدې نږدې ټول هغه اصطلاحات یې بیان کړی دی، کوم چې په ظاهر کې د زلفو او شونډو تعریف ښکاري، خو صوفیان یې په خدای ج روسل ص او خپل مرشد تمحیل کوي. د دې نه علاوه یې د رحمان بابا په کلام کې د هغو شعرونو ته هم اشاره کړې ده کوم چې مېټ د حجاز د معشوقو سره تعلق لري او په حقیقي معشوق یې په هېڅ ډول تحمیل نشي کېدلای. د کامل دا وضاحت په حقیقت مبتي دی او موږ دا کار هېچرې نشو کولای، چې رحمان بابا په حیثیت دې د یو انسا او یو رنګین غزل ګو په خپل ټول عمر کې خصوصاً په ځوانۍ کې هم د ممجازي مینې هغه ښکلې ښکالو نه وي محسوسه کړې، کوم چې د حقیقي مینې د تکمیل یوه لویه ذریعه کېدای شي.

د یو صوفي شاعر په کلام کې د تصوف سره سره د اخلاقي قدرتونو وجود د یوه لازمي خبره ده او د تصوف روښانه او مهم اړخ همدغه اخلاق دي، ځکه چې د نړۍ اکثرو متصوفینو ځلانده او ښو اخلاقو ته د تصوف نوم ورکړی دی او څومره چې د یو صوفي اخلاقي اړخ رښوي، هموره به د هغه تصوفي حیثیت اوچت او بشپړ وي، دا ځکه رسول کریم صلی الله وسلم د خپل بعثت غایي علت همدغه د اخلاقو بشپړتیا ښوولې ده او فرمایلي یې دي:

"لا یمم مکارم الاخلاق" یعنې زه هم د دې لپاره رالېږل شوی یم چې د اخلاقو معیار تکمیل کړم.

نو رحمان بابا چې د هغه د شخصیت محور همدغه اسلامي تصوف و، څرنګه د دې مهمې برخې څخه چپ پاتې کېدای شوای، د هغه شاعري په دې اړخ کې د اسلامي اخلاقو یوه روښانه هنداره ښکاري او په دې اړخ کې کامل مومند ډېر ښه تحقیق کړی دی او د رحمان بابا د اخلاقي شاعرۍ په ترڅ کې یې ډېرې ښې ښې نمونې وړاندې کړې دي او بیا یې د ښکلي او خواږه نصیحتونه تر عنوان لاندې ښه عالمانه تبصره کړې ده او په قول د کامل مومند رحمان بابا د فن د ښکلا له ساتلو سره دا وچ او خشک مضمون ډېر ښکلی او په غزلي پیرایه کې ادا کړی دی.

دا یو حقیقت دی چې هېڅ فنکار د خپل ماحول او وخت د تضامنونه ځان نشي خلاصولی که دنیا دار بېخي د مادي ضروریاتو په تضامنو کې بهېږي، نو یو صوفي د خپل خلوت په ګوټ کې ناست هم د نامستوني عالم د هوا نه بچ نشي پاتې کېدلی. که شعوري که غیر شعوري\ په هر ډول د هغه په افکارو کې د خپل ماحول او زمانې رنګ ځای پیدا کوي.

رحمان بابا د مغولي حاکمیت په دوران کې اوج ته رسېدلی و او دا یو داسې وخت چې د مغلولو خلاف د خوشحال خان خټک را لړزولې پښتنې جذبې تر څه حده خو بولي وي او د پښتنو ملي ویاړنې په عمومي ډول د بې اتفاقۍ له کبله سر په زنګون، خو په روښانه طبقه کې د مغلو برخلاف هم هغه شان د تربګنۍ جذبات پارېدلی او څرنګه چې ما په تېر شان د تربګنۍ جذبات پارېدلي دي او څرنګه چې ما په تېر کې څه ناڅه وضاحت کړی دی. په دې زمانه کې په پښتنو شاعرانو پارسي شاعري د مغلولو شاعري ګڼله.

د رحمان بابا غوندې صوفي شاعر په هکله سرسري لټون کې د دې خبرې اندازه کول ګران دي چې هغه به د سوچه پښتني نفسیاتو او شعور د لاندې څه داسې ویناګانې کړي وي، چې یو نقاد یې په قامي تعصب محمول کولای شي، لیکن کامل مومند د رحمان بابا د کلام نه په ډېره ښکلې طریقه داسې نمونې پېښې کړې دي چې رحمان بابا سره د دومره بزرګۍ او تصوف هم یو دروند پښتني فطرت ځښتن و او د جذب او سلوک په جیبو کې هم د هغه په زړه کې کله کله د قامولۍ او پښتونولۍ له جوته تکناکې اخیستې دي. کامل د مقامیت او قومیت د سرخط لاندې په دې هلکه ډېره ښه تبصره کړې ده او هغه د رحمان بابا یې چې دا یې ویلي وو:

زه عاش یم سر و کار مې دی له عشقه

نه خلیل، نه داودزی یم نه مومند

په داسې ډول هم څرګند کړی دی چې د هغه له امله هغه یو صوفي نه، بلکې یو وچ کلک د عصبیت نه ډک پښتون ښکاري، دا یوه داسې زمانه وه چې په پښتون قام کې به کسبه خلکو ته سپک نظر کېده او د دې نه رحمان بابا هم خلاص نه و. کالم استاد د هغه یو شعر پیش کړی دی، وایي چې:

همسایه او چریکار یې پښتانه شي

او په اصل به موچي یا به قصاب وي

رحمان بابا هم دا خپل او د کم اصل د تصور نه خالي نه دی، لکه وایي:

اصیل نه دی چا پیرو دی، نه پلورلی

ته اصیل په دیدن پیري هم یې پلوري

کامل په دې هکله د عبدالرحمان بابا مخالفت کړی دی او لیکلی یې دي، چې دا تعصب او طبقاتي شعور له اسلامي نقې نظره او د انسانیت نه خلاف کار وي او له بده مرغه رحمان بابا د خپل بد ماحول نه متاثر شوی دی چې دا شعر یې ویلی دی:

ډېر هند کې په جهان ګرځي د چا ياد دی

عشق عالي يا په د هيرا د رانجا کړه

ګويا کامل ته د (هند کې ګرځي) لفظونه د اعراض قابل ښکاري، خو زه به د کامل د دې برخې په تنقيد او تبصره دومره عرض وکړم، چې دا تنقيد شاعر په فن نه، بلکې د هغه په اعتقاد دی چې تعلق د دين سره لري او دا برخه د لوستونکو په ذهن کې د تنقيد د عام تاثر سره ډېره پيدا کوي او په نتيجه کې د فني مذاق د ځولۍ خوند پيکه کوي.

**استاد کامل مومند او په رحمان بابا ګڼ نظرونه:**

رحمان بابا او د هغه عهد د تصوير دوه اړخه

رحمان بابا ذات لکه د ډېرو نورو شخصيتونو په شان دوه اړخه لري: افسانوي او تاريخي. د افسانوي او قصې رحمان بابا به کله د باړې په غاړه د يوې ونې لاندې ناست د جذب په عالم کې رباب وهلو او په ځمکه به يې څه ليکل او دغه به بيا زموږ ښه بخته د هغه خوږ ژبي يې په کاغذ وکښل، چې نن موږ ته د رحمان بابا د اشعارو د هغه د ديوان په شکل پاتې دی.

پورته مطلب موږ ته د (کليد افغاني) انګرېزي مقدمه ۲ مخ ادبيات سرحد پښتو په ۲۱۵ او ۳۱٦ مخونو کې په لاس راکوي، وګورئ:

وايي که رحمان بابا د باړې په غاړه نه وه، نو د خدای پاک په مينه کې به ډوب او ورک اکثر به په غرونو کې ګرځېده او ينې وخت به يې د هندوستان خواته مخه وکړه. دغه ټکی د پټې خزانې په (۹۳) مخ کې خوندي دی، خو ميجر راورټي او مولانا عبدالمجيد دغه مطلب نه مني او بيا ويل کېږي چې له خوشحال خان خټک سره يې بيت بازۍ او شا عرانه معارضې هم کولې، چې دا ټکی هم راورټي او مولانا عبدالمجيد يې نه مني. [1]

استاد کامل ليکي، کېدای شي رحمان بابا ته منسوبې شوې دغه خبرې واقعات وي، ځکه چې که هر څه عجيبه او غير معمولي دي، دا مکان له حد بهر هم نه دی، خو له بده مرغه کومو کسانو چې تر اوسه په پښتو، انګرېزي يا اردو کې په رحمان بابا څه ليکلي دي، په هغو کې ځيو سره د تاريخي سند او شهادت د نشتوالي يا کمزورۍ همدغه قضيې بې له څه تنقيد او شک شبهې د څه اظهاره د تاريخي حقايقو او مسلمانانو په ډول بيان کړې دی، اختراعي تخيل صرف په  د يو خبرو چېط پورته راوړي شوي دي اکتفا نه ده کړې، بلکې تر يوه حده

[1]- کليله او دمنه. ادبيات سرحد پښتو ادبيات. کال؟

يې د تسلا څه خو مفصل واقعات هم مفصل وضعه کړي دي. د کيسې له رويه د رحمان بابا پلار چې خوش ارواحان نومېده د پېښور د مومندو د بهادر کلي لوی خان و چې خدای تعالی ورته دوه زامن عزيز خان او عبدالرحمان ورکړي وو. خوش ارواح خان چې به حق ورسېده، نو عزيز خان خو عزيز خان د هغه په ځای کېناست او ځاني او ملکې يې کوله او عبدالرحمن د مجنون نومي يو ډم (مجلسي) هلک په مينه مبتلا شو او دوی دواړه له حجرې او کلي ووتل او ځان يې د باړې په غاړه يوه جونتره جوړه کړه او هورې له نور عالمه گوښی خپل وخت تېرواوه، خو په دې ځای کې هم خلکو په آرام پرې نه ښودل او آخر دواړو د اصل ص وکړه چې هندوستان ته لاړ شو او دا يې غوره کړه او اټک د عبدالرحمان انتظار کوي. دی به هم ورپسې ورشي، ځکه چې دواړه ځای ځای روان شي، نو عزيز خان به يو ځای روان يي، نو عزيزخان به ولگي.

عبدالرحمان به ايسار کړی، په دې صلاح مجنون کوچ وکړو او په اټک کې د عبدالرحمان په انتظار کېناسته، خو خلک او عزيز خان هم د دې صلاح نه خبر شو او عزيز خان ولگېده، عبدالرحمان يې ايسار او په يوه کوټه کې کې بند کړ، چې د عبدالرحمان په نېټه اټک ته ونه رسېد، نو مجنون خيال وکړ چې هندوستان ته روان شوی وي، خو گوندې له يو بل نه غلط شول او په دې خيال مجنون هندوستان ته روان شو او ورسېدو هورې يې هم عبدالرحمان ونه مونده او د هغه په مينه او لټوه کې به اوتر او سرگردانه گرځېده. په هندوستان کې د شاه شرف قلندر نومي يو ولي الله له برکته مجنون هم د برخې خاوند شو، مرسته او ولايت يې بيا مونده او پس له دولسو کلونو د شاه شرف قلندر په وينا وطن ته را روان شو. په دې دوران کې عزيز خان هم په دې يخال چې ډېره موده تېره شوه او د مجنون مينه به د عبدالرحمان له زړه نه تللی وي، هغه يې له کوټې را بهر او آزاد کړ.

مجنون هم وطن ته راورسېده او بيبا دواړه عاشقان د باړې به غاړه سره يو ځای او غاړه غړې شول. د عبدالرحمان په وينا مجنون په رباب گوتې پورې کړې او عبدالرحمان يې بې هوشه او مجنون شو، عبدالرحمان په هوش راغی، ولايت يې په نصيب شوی و. دا هر څه د شاه اشرف قلندر له برکته او د هغه د پيشبينۍ مطابق وشول.

که څه هم دغه قصه کوم تاريخي او عملي هويت نه لري، خو که موږ د رحمان بابا ديوان مطالعه کړو راته څرگنده به شي، چې دغه قضيه په اشعارو کې راغلې ده.

جدايي ده ډېره سخته

د ارواح او د قالب

چې مجنون په ځنکدن شو

زه يې پرېښودم نائب

وصیت یې راته وکړ

په څو رنګه عجائب

چې روزي دې شه رحمانه

زما واړه مراتب

او د یو بل غزل دا مطلع

نشي د خانانو او ملنګانو سره کلي

چېرته عزیز خان، چېرته ملنګ عبدالرحمان

مګر د رحمان بابا په دیوان کې هېڅ یو ځای نشته  مجنون د عربو د قیس عامري نه ووایي بل سړی دی. د پښتونخوا د مجنون تاریخي ثبوت نشته، د استاد کامل په  وینا، شاعران د خپل عاشقانه جذباتو د شدت د ښوولو لپاره خپل ځان له مجنون سره تشبیه کړی دی، عربي، فارسي، پښتو او اردو شاعري د مجنون له ذکره ډکه ده او هغه سره د شاعرانو ځان ته د تشبه ورکونې شماره مثالونه ور کېدای شي، دلته به د خوشحال د یو بیت په راوړلو اکتفا وکړم.

مجنون مړ نه دی ژوندی دی

چې له ما غوندې خراب شته

که خوشحال خان هم لکه د رحمان بابا غوندې د عوامو په ذهونو خور وي، لکه رحمان بابا او حالات یې همدغسې به تاریخي وي، نو تر هغو پورې به هم د دې قسمه ډېرې قصې تړلې شوي او اوس هم د هغه په هکله ځینې د افسانوي نوعیت خبرې په عوامو مشهورې دي.

عزیز خان خو د تاریخ له شک بهر دی، خو د هغه رحمان بابا سره د خپلوۍ او تعلقاتو په باب هم شان شان جزې مشهورې، څوک یې د رحمان  بابا ورو او څوک یې تربور او څوک یې تره یادوي.

راوړتې لیکلي دي چې رحمان بابا د پېښور د مومند قبیلې د غور په خپل ځانګې ته و او د پېښور د تبې په هزارخانې نومي کلي کې اوسېده او هغه یو ډېر لوی ملا او د عالم سړی او له عالمانو کناره په مذهبي تفکر کې ډوب درویشانه ژوند به یې تېرولو او له خلکو سره به یې صرف دومره ګډون کولو، څومره چې د ژوند د ضروریاتو تقاضاوه او د چشتیه طریقې مطابق یې چې په مسلمانانو کې ډېره مقبوله ده، سماع کوله. څه موده پس چې

ورته د شعر ښښنه وشوه، نو له خلکو بالکل په ډه ډه شو او دوستانو به یې ډېر ځله له سترګو اوښکې روانې لیدلې. تر دې حده یې ژړا ورسېده چې د اوښکو دارو به یې په مخ او اننګو نښې وکړې. د هغه ترک، جذب او استغراق ځینو حاسدو او تنګ نظر و ملایانو ته د هغه د تهدید او ویرې د کفر لګولو فتوی لګولو موقع ورکړه، ولې چې له خپله ځایه د نه راوتلو په وجه له هغه د جماعت سره نمونځ نه کاوه، هم یو ځای شو، آخر د ځینو روا دارو او لوی زړه لرونکو ملایانو په مشوره هغه له خپل خلوته راووت او دا یې ومنله چې آینده به جماعت سره لمونځ او نور مذهبي فرایض هم ادا کوي او هم په دې موقع یې هغه غزل ووي چې په ترتیب سره مطلع او مقطع یې دا دي:

مدام ناست یم وچ ګوګل، سترګې په غم کې

عشق راوښود بحر و بر په خپل مرم کې

زه رحمان کناره خوښ وم له عالمه

باري ستا سترګو رسوا کړم په عالم کې

راورتې دا هم لیکلي، چې رحمان بابا به خپل کلام دوستانو ته د جمعه کولو لپاره ورکاوه چې آن د ده له مرګه وروسته یې پس ترسره ورسوي او دا چې هغو یې د رحمان بابا دا خواهش پوره ک او د هغه تر مرګه پورې هېڅوک له دې مصلحته خبر نه شو، اګر ته د خارجي شهادت یعنې مسلسل روایت نه علاوه داخلي شهادت د رحمان بابا د دیوان ځینې مقامات هم د راورتې د دې بیان کې داسې خبرې هم شته چې هغه راورتې محض د سماعي شهادت په ینار راوړی دی، ځکه چې د هغه لپاره یې هېڅ ډول سند نه دی ښوولی او نه تر اوسه لاسته راغلی.

رحمان بابا د قصې او روایت د دې چشمو په ذریعه د کتلو نه پس به اوس کوشش وکړو چې هغه د ستاویزونه او شهادت د تاریخ په بنا وګورو.

دلته ناچار او مجبور یم، چې د عبدالرحمان بابا کلي او د زیږېدو زمانه  د نویو څېړنو او تحقیقونو په رڼا کې را واخلم او د درانه استاد او فرزانه محقق کامل مومند صاحب په نویو پلټنو اتکا وکړم، ځکه له لومړیو څېړنو او معلوماتو را وروسته د استاد کامل مومند نوې څېړنې دي، که خیر و له دې ضروري نظریې او یا دونې وروسته به څه ناڅه نورې او ډېرې لیکنې هم را واخلو:

نسب، کلی او د زیږېدو زمانه

د کامل استاد په وینا: "له بده مرغه د تاریخي معیار له رویه د رحمان بابا د ژوند حالات ډېر زیات په تیارو کې پراته دي او د تاریخي معلوماتو دغه نشتوالی هم تر ډېره حده د هغه په هکله د اختراعي تخیل په حرکت او فضو، افسانو په وجود کې د راوستلو سبب گرځېدلی دی، په هر حال دومره نه صرف د مسلسل روایت، بلکې د معتبرو د ستاویزي شهادت له رویه هم ویلای شو، چې هغه په پښتنو کې سړبني، په سړبنو کې غور په خپل او په غور په خپلو کې مومند و، هغه په خپله په خپل کلام کې ځان ته سړبني او موند ویلی دی. [1]

دا او دې وروسته د خوشحال خان د زوی عبدالقادر خان، چې د پښتو یو لوی شاعر او ادیب او د رحمان بابا معاصر دی وایي:

زه ختک د یار په غم تازه تازه شم

غور په خپل رحمان که نشو ورځینې سترې

دلته دا خبره او تحقیق یو څه د فکر او تامل وړ دی، چې رحمان بابا سړبنی و، خو مومندو، مگر مومند د غور خیلونه، بلکې د ابراهیم خیلو بېښه ده، اټکل له پټې خزانې را نیولی بیا تر ډېرونو یو څېړنو په ابراهیم خیلو ور گډېږي.

بیا دغو پلټنو ته دوام ورکوو او هغه دا چې د دیارلسمې هجري صدۍ یو مشهور شاعر عبدالعظیم را نږدې چې تر ۱۳۵۳ هـ یې ژوند یعقیني دی وایي:

خدایه وبښې مومند عبدالرحمان

پرې نازل کړې خپل رحمت لکه باران

ما پورته له راوړتې یو اقتباس کړی و، چې د هغه له مخې رحمان بابا د غوریه  خیل نومې ښانگې نه و.

پادري هیوز لیکي، چې رحمان ابراهیم خیل مومندو د راورتي او پادري هیوز دغه اختلاف ځینې محققان په غلطۍ کې اچولي دي او له دې کبله هغوی لیکي چې به کوم تابین چې دی ور گډېږي هغه ته ابراهیم خیل وایي او بعضې وایي چې اغوریه خیل دی خو چې کوم خلک د پښتون له ژونده خبر دی، هغوی پوه چې د پښتنو د یوې قبیلې ځینې پېښې دي او اکثر یو کس کله په یوه او کله په بله پېښه شوي دي.

پورته خبره اروانښاد د مولانا عبدالمجید افغاني له مولانا عبدالقادر د خپل کتاب د رحمان بابا دیوان کې لیکلي

---

[1]- دیوان

دي که دقت وکړو د دویم محقق پادري هیوز نظر له علمي پلوه درست دی، ځکه مومند په غواملو کې کومه شاخه نشته، چې مخکې د خدای بلاوو محققینو دا خبره کړې چې عبدالرحمان بابا د شجرې او نسب له پلوه ابراهیم خیل دی.

حال دا چې د یو ښاغلیو لیکونکو دی، خبرې ته پام نه دی کړی چې راوړتې په ډېر احترام وایم غوریه خیلو ته د مومند ښانگه و پلو کې فاحشه غلطي کړې ده. غور په خپل د مومند ښانگه نه ده، بلکې خلیل، زیړان، څمکني، مومند، داودزي د غوریه خیلو ښانگې دي او دغسې هر مومند غوریه خیل دی، خو نه هر غوریه خپل موند لکه چې مومند د غوریه خیل ښانگه ده، نو غوریه په خپل په سړبن کې شامل دی.

رحمان بابا لکه چې پادري هیوز لیکلي ابراهیم موند. د پېښور د مومندو په تپه کې چې خلک ځان د رحمان بابا لمسي او عزیزان بولي، هغوی په ابراهیم خیلو یادېږي.

گوندې څوک ووایي چې غورياخيل د ابراهیم خیلو مترادف دي، لکه چې اهل انساب وایيٍ د غوریه خیلو د نیکه اصلي نامه ابراهیم و او په غور کې د زیږدو له امله غور یې باله شي.

خو دا خبره په درسته نه وي، ځکه چې ابراهیم خپل په شجرو یا عام غورف کې هیچرې د غوریه خپل مترادف نه دی استعمال شوی او بیا چې غوریه خپل د پنځو قبیلو لویه ده او ابراهیم خپل په حقیقت کې له دغو پنځو قبیلو یعنې د مومند د ویزې نومي ښانگې یوه محدوده وړه ده، نو ښکاره چې رحمان بابا په مومندو کې دودیزې او په دودیزو کې ابراهیم خیل و.

په کلید افغاني دویم مخ کې راځي، له راوړتي چې کوم اقتباس د ښغلیو لوستونکو له نظره لږ وړاندې تیر شو، په هغه کې د رحمان بابا د استوگنې ځان د هزارخانې کلي یاد شوی دی، د پادري هیوز د وینا مطابق رحمان بابا د بهادر کلي و.

د مسلسل او په اتفاق منلي شوي روایت له رویه رحمان بابا ځایت د بهادر کلی و چې له پېښور ښار تقریباً درې میله لرې د سهیل لوري ته دی او په بهادر کلي او هزارخانی کې یې استوگنه کړې، دا وروستیو یاد شوی کلی پېښور بهر ته نږدې سهل څخه ختیځخ ته پروت دی.

د رحمان بابا له دیوانه او له ځینو نور تاریخي روایتونو چې خپله ځای په ذکر شي، د رحمان بابا د ژوند زمانه د مغولو پادشاهانو شاه جهان (۱۰۳۷ – ۱۰٦۸ هـ/ ۱٦۲۷ – ۱٦۵۸ اورنگ زیب (۱۰٦۸ – ۱۱۱۸ هـ/ ۱٦۵۸ – ۱۷۰۷، او مثاه عال اول (۱۱۱۹ – ۱۱۲۴هـ) (۱۱۲۴ – ۱۷۰۷ – ۱۷۱۲ ع په عهدونو کې وه او غالباً چې د شاه جهان په عهد کې زیږېدلی و، د پټې خزانې مولف په بیان د زیږون کال (۱۰۲۴ – ۱٦۳۲) ۱٦۳۳ع د شاه

جهان د عهد په اوایل کې دی او هم د دې لیکوال او هم  د دې لیکوال د وینا مطابق د پلار نوم یې عبدالستار او زموږ د شاعر د ملا محمد یوسف یوسفزي نه د فقهې علم حاصل کړی و او د علم په طلب کې څه موده په کوهاټ کې هم استوګنه کړې وه، دغه مطلب د پټې خزانې په ۹۳مخ کې خوندي دی.

لیکوال زیاتوي: په پټه خزانه کې درج د رحمان بابا د زیږېدو کال ما ځکه په یقین قبول نه کړو او ذمه واري مې یې هم مولف ته وسپارله چې لکه وړاندې به عرض وکړو د پټې خزانې مولف چې د رحمان بابا د وفات کال کوم تاریخ لیکلی دی، هغه د ډېرو قوی او اعتبار وړ شهادت له رویه غلط دی...

نوموړی زیاتوي، اوس به په دې ضمن کې د رحمان بابا یو څو شعرونه وڅېړو، چې وایي:

لکه بار د ونې پوخ شي ځینې رېژي

زه هم هسې بار تړلی سریراه یم

اوس مې ځای په دا جهان کې پاتې نشو

خوځېدلی تر جهل او تر پنجاه یم

او یا دا چې:

توره ږیره مې شوه سپینه زه حیران یم

چې رحمان لا نه عاقل شو نه بالغ

یا دا چې:

دراز عمر مې حاصل شوله رانیسی

لکه سروه مدام سبزو تازه پایم

**۳- ۱ د شیخ سعدي او رحمان بابا د اخلاقي ایډیالونو پرتلنه**

ابو محمد مصلح الدین د عبدالله زوی چې په شیخ سوري مشهور دی د رحمان بابا او رحمان بابا په دوو ختیځو ژبو دري او پښتو کې داسې یاد او نامتو شاعران او عارفان تیر شوي دي، چې دواړه په عواملو او خواصو کې زیات منښت، ګرانښت، مقبولیت او محبوبیت لري. د دې عام محبوبیت علتونه کېدای نشي، ډېء وي، خو لوی

اخلاقي، انساني او د ينې ارزښتونه د بيان مستقيم طرز، نيغ په نيغه د پيغام رسونه او ساده ژبه د دې منښت او گرانښت د اساسي عواملو په توگه يادولای شو.

دلته نه غواړو شاعرانو پر شاعرۍ پراخ بحث وکړو، ځکه يوه ليکنه څو ليکنې او آن ځانگړي آثار د دې وس نه لري، چې د داسې سترو شاعرانو د شاعرۍ او د هغوی پر ټولو اړخونو رڼا خوره کړې، خو دلته غواړم يوازې او يوازې د دې ستر شاعرانو او صوفيانو د غټو اخلاقي ايډيالونو پر ورتوالی د هغوی پرتلنې لنډه رڼا واچوو، مخکې تر دې چې اصلي موضوع ته لاړ شو، غواړم يو څو نورو ضروري ټکو ته هم نغوته وکړم.

**۳ – ۱- ۱ زماني واټن:**

د حضرت شيخ سعدي او رحمان بابا د ژوند ترمنځ زيات زماني واټن موجود دي. شيخ سعدي پر ٦٠٦ هـ ق د اوسني ايران په شيراز کې زيږېدلی او ٦٩١ هـ کال يې له دې نړۍ سترگې پټې کړي دي، (روح دې ښاد وي)

رحمان بابا بيا د پټې خزانې په خواله په ۱۰۴۴ هـ ق کال د پېښور سيمې په بهادر کلي کې زيږېدلی او په ۱۱۲۸ هـ کال کې له دې نړۍ سترگې پټې کړې او د پېښور په هزارخانه هديره کې په دې ډول نو د شيخ سعدي او رحمان بابا د ژوند ترمنځ (۴۳٦) کاله او د مرگ ترمنځ کې (۴۳۷) کلونه زماني واټن موجود دی.

**۳ – ۱- ۲ گډ ټکی**

د شيخ سعدي او رحمان بابا د کلام ترمنځ زيات مشترک ټکي شته، محتوا يا منځپانگه د دې مشترکانو مرکزي ټکي دي، دواړو لويو عارفانو تر هر څه وړاندې خپل فکر د دين (اسلام) پر دايره تمرکز کړی دی. اسلام بيا دواړو د عرفان او تصوف لاره خپله کړې، نفسي تزکيه خان، پېژندنه، انسان پېژندنه او خدای پېژندنه، د انساني چلند، سمون، د نفسي غوښتنو کنترول او مهارول، د دين پر اوصولو پوهېدل او ودرېدل د دواړو شاعرانو د کلام گډ محتوايي ټکی دي. دواړه شاعرانو په شعر کې له ساده او عام فهمي ژبې څخه کار اخيستی دی، داسې ژبه چې عوام او خواص ټول پرې په آسانۍ سره پوهېدی شي.

**توارد:**

سره له دې چې د شيخ سعدي او رحمان بابا د ژوند ترمنځ نږدې څلور نيمې پېړۍ زماني واټن دی، خو دا هغه مهال دی چې دري ژبه پر ټولې سيمې خوره وه او د دې ژبې د ادبياتو شهرت عام و، دا خبره له حقيقته ادب څخه خبر و او د هغوی له مطالعې به يې فيض هم موندلی وي، خو دې کې هم شک نشته چې توارد او تصادف به هم د دواړو شاعرانو په شعرونو کې د گډو ټکو د رامنځته کېدو سبب شوی وي.

توارد له مخکيني شاعر سره د وروستي شاعر د کلام هغه محتوايي او شکلي ورتوالی دی چې وروستني شاعر د

کلام هغه محتوایي او شکلي ورتوالی دی چې وروستني شاعر چې وروستني شاعر له مخنې شاعر څخه په شعوري او قصدي ډول څه نه وي را اخیسیتي، خو په ناشعوري او نالیدلي او نالوستي ډول د دواړو د کلام یو څه برخه سره ورتوالی ولري. په بله وینا توارد په ژبه کې یو په بل پسې واریدلو ته پاپړ یوه وخت داخلېدلو ته وایي. په ادبي اصطلاح کې که یو شاعر په یوه وخت یو مضمون په یوه شوي قالب کې ویلای وي، پر بل شاعر بیا هغه مضمون په همغو کلمو کې بې له دې چې د هغه بل شاعر پر شعر خبروي، ووایي توارد ورته وایي کله داسې وي چې په مضمون کې توارد پېښ شي او کله په کلمو کې ځینې وخت یو څوک له چا ډېر متاثره وي.

د هغه کلام په بیابیا لوستلو ځینې کلمې، اصطلاحګانې، ترکیبونه او مضمونونه د هغه په ذهن کې پربوزي، کله چې بیا خپله سنجونه کوي د هغو څیزونو اثرات پکې لیدل کېږي. (ماخذ)

له شیخ سعدي د رحمان بابا محتوایي الهام د بدلانه ستي خو څرنګه چې وخت د آثارو چاپ او تکثر د نن په شان عام نه و نو ځکه خو ویلای شو چې د دې الهام تاثیرات به ډېر مستقیم نه وي، څرنګه چې دواړه عارفان، صوفیان او شاعران د یوې واحدې فکري دایري دایري په حدودو کې فعالان وو، نو ځکه خو یې د اخلاقي ایډیالونو او فضایلو په بیان کې د محتوایي توارد او تصادف خبره هم ردېداري نشي.

شیخ سعدي په اوومه هجري پېړۍ کې د اسلامي نړۍ به تیره بیا د فارسي دري ادب یو ستر عرفاني، روحاني او ادبي شهوت تیر شوی دی. د دین د اساساتو تل ته ور ښکته شوی و او د اسلام په اکثریت ارکانو او زموږ پوه و، خدای پالنه، انسان پالنه د دهني او نفسیې تزکیه د انسان د اخلاقي نظام جوړښت عرفان، ځان پېژندلو او خدای د پېژندنه د شیخ سعدي رحمت الله علیه د کلام فکري اساساسونه جوړوي، بوستان، ګلستان او په مجموعي ډول د هغه ټول کلیات د همدغو ارزښتونو د ځلونې انځورګري کوي.

رحمان بیا د یوولسمې هجري پېړۍ په وروستۍ نیمایي او د دولسمې هجري پېړۍ په لومړیو کې د پښتو ستر شاعر او لوی عارف تیر شوی دی. رحمان بابا د خدای ج په مینه او د هغه د مخلوق په محبت کې غرق انسان و، هغه وایي چې دا دنیا خدای له عشقه پیدا کړې.

تصوف، عرفان، د نفس پاکوالی، اخلاقي فضایل، انسانیت او د هغو پالنه د رحمان بابا د کلام محتوایي خواوې دي.

دلته غواړم د  دواړو سترو عارفانو انساني لارښوونو، اخلاقي ایډیالونو او دیني رضایحو سپړنې او پرتلنې ته لږ تم شم.

عدالت:

سعدي د عدالت تامين او پالنه د هر انسان او په تېره بيا د عادل انسان لپاره د تلپاتې يادګار وسيله ګڼي، وايي ظالم او عادل دواړه له نړۍ تلونکي دي، خو له يوه څخه د ظلم قاعده پاتې کېږي او له بل څخه ينک نوم او...

**سعدي:**

ظلم برقت و قاعده زشت ازو کائد

عادل برفت و نيکو ياد ګار کرد

د رحمان بابا په کلام کې هم عدالت او د عدالت تامين يو مهم عنصر دی. هغه هم د شيخ سعدي په شان په عدالت ټينګار کوي او له هر انسانه د انصاف او عدالت غوښتونکی دی.

په انصاف، په عدالت به نوشيروان شي

رحمان بابا هر عمل به د خپل ځان په ترزو وکړي

د سکندر په څېر جهان به در څرګند شي

که سرکوز په آيننه د خپل زانو کړي

**هنر:**

سعدي، هنر، پوهه او کمان د انسان لپاره ستر ثمر ګڼي. د ده په نظر انسان هنر همغه دی چې طهغه خپله ظاهر شي او په خپله د هنرمند شخصيت تثبيت کړي، نه دا چې هغو هنرمند د هغ يادونه وکړي.

سعدي:

اگر هست مرداز هنر بهره ور

هنر خو د بگويد نه صاحب نور

رحمان بابا د سړي جوهر د هغه هنر ګڼي، هنر د سړيتوب معيار ګڼي،  نه زر او زور

دنيادار که مستقيمې په سيم و زر دی

هنرمندو څخه ګنج د خپل هنر دی

بيهوده به زورور و ځان ته وايي

د دنیا سرۍ که هر څو زورور دي

**شتمني:**

شیخ سعدي حال، متاع او دنیایي شتمني داسې یوه اړخیزه لار ګڼي چې له هغو سرهر زیاته مینه او لېوالتیا د دې سبب ګرځي، چې څوک ترې بېرته نشي راوتلای، لکه چې وایي:

کسی ره سوی گنج قارون نبرد

و گر برد ره یاز بیرون نبرد

رحمان بابا هم په دې نظر دی، چې تخت و تاج او د دنیا حال چا ته نه پاتې کېږي، که یو څوک پاچا او ستر واکمن هم وي، نو یوه ورځ به یې دا تاج و تخت له خاورو سره برابر شي، نو ښه خبره دا ده چې انسان نیکي وکړي او د نیکۍ له امله خپله نوم پرېږدي، لکه:

رحمان بابا:

اورنګزیب چې آرایش د تخت و تاج کا

تخت و تاج به مرګی تاخت و تاراج کا

په جهان به یې پاتې ښه بد نوم شي

دی که چارې د کسرې که د حجاج کا

رحمان بابا پر دې بیا ټینګار کوي چې د هیچا شتمني او واک تلپاتې نه دی او آخر له منځه ځي.

خان، سلطان د دې جهان

آخر درومي خوار حیران

نه یې مل، نه یې حامي وي

درد یې داسې په خپل ځان

پادشاهي یې پاتې کېږي

زړه چوي په آرمان

**مینه او مینان:**

سعدي، هغه کسان چې له چاسو د زړه له تله مینه او محبت ولري او د هغو په مینه کې غرق وي لکه مړه ګڼي، چې آواز ترې نه خبرېږي.

۶۵۱تر ۸۳۵

ددې شعر يو تعبير دادی چې څوک د خدای (ج) په مینه کې ډوب وي، نه ته د بل چا خبرې اورې او نه چاته غوږ نیسي، هغه یوازې په خپله مینه کې ډوب وي:

عاشقان کشتگان معشوقند

نیاید زکشتگان آواز

رحمان بابا هم عشق داسې يو سېلاب ګڼي چې هر څه له مخې پسې وړي او هېڅ بند ورته د ټينګې نه دی:

هر چې ژغوري سرو مال په عاشقۍ کې

هغه کړی تور په مخ کې د سېلاب دی

ته چې خوب غواړې په عشق کې راته وايه

کوم چا کړی دا زمری په خوله کې خواب دی

رحمان بابا ناز، نخرې، ازار او درد د عشق په معشوقې خصلت ګڼي، خو دی پّ دې نظر دی، چې څوک د عشق په لاره ځي، نو نخرې به زغمي:

معشوقې همېشه ناز په عاشق کاندي

رحمان هېڅ له خپله یاره آزار نه د ی

چې دا ستاد عاشقۍ په تېغ شهيد شي

د رحمان غاړه به هاله شي ادا

رحمان بابادا نیا د عشق او مینې زیږنده او عشق بیا د ټولو مخلوقاتو پلار ګڼي:

دا دنیا ده خدای له عشقه پیدا کړې

د جمله وو مخلوقاتو پلار دی دا

رحمان بابا د عشق په لاره کې د خطرونو د مخنیوي لپاره سپارښتنه کوي، چې مین باید ځان ته یو لارښود وټاکي لکه:

بې رهبره یون د عشق په لاره گران دی

دلته بویه چې پیدا کاندي رهبر څوک

سعدي تر هر څه زیات پر ښو اخلاقو، نیک چلند او په یوه لنډه مان پر سویتوب ټینگار کوي، هغه وایي، نه دا نړۍ پاتې کېږي، نه د انسان خوښي او خوشحالي څو کوم څه چې انسان ته تلپاتې ژوند ورکوي، هغه د انسان هغه نیکي ده چې تر ده وروسته نور دی په هاغه نامه یادوي:

جهان نماند و خرم روان آدمی

که باز ماند اواز در جهان به نیکی یاد

رحمان بابا هم دا دنیا او د هغې خوشحالۍ یوه ننداره بولي، چې ډېر ژر تېرېدونکې ده، خو سړی باید د سبا غم وخوري:

د دنیا په تماشا چې څوک نازېږي

خو هم نن یې تماشا ده سبا نه ده

دی نیک کارونه د نیکو خلکو او بد کارونه د بدو خلکو زیږنده گڼي:

نیکو کاره نیک افعال شي

په کردار او بد افعال شي

سرنوشت د سړي گوره

یو عیسی وي بل دجال شي

چې نیک بخت وي نیکو یې کا

چې بدبخت وي بدسکال شي

قال په څه گوري رحمان

خپل افعال د سړي فال شي

**مقصود:**

سعدي هم د تورو صوفيانه او عارفانه شان زړه د خپل محبوب اصلي ځان ګڼي او پّ دې نظر دی چې هر څه ( خپل مقصود او حراج) بايد په خپل زړه کې وګورو، که ځان ته متوجې نه شو، خپل مقصود په دښتو او بيابان کې نه شو پيدا کولای، لکه:

عمر ها در ولي مقصود به جان ګرديدم

دوست درخانه و ما ګرد جهان ګرديدم

خود سرا پرده قدرش زمکان بيرون بود

آنکه مادر طلبش کون و مکان ګرديدم

رحمان باباهم زړه د عبادت او دعاء قبليدو اساسي ځای ګڼي او هر انسان ته وايي، که غواړې خپل مقصود حاصل کړې د بل انسان زړه مه آزاره وه او د هغه د ابادۍ هڅه وکړه:

د خليل تر کعبې دا کعبه ده لويه

که آباد کا څوک ويران حرم د زړه

که دې نيت وي د کعبې د جوړولو

د بيوسه انسان زړه جوړ کړه کعبه ده

**زړه:**

لوی عارف او صوفي شيخ سعدي د انسان زړه داسې يو شی ګڼي چې هر ځل چا ته نه ورکول کېږي او داد داسې متاع نه ده، چې بار بار دې معاملاتو په بازار کې خرڅه شي:

دل به بازارمن آورده به فروخته ای

دل به فروخته مفرش به بازار ديګر

په پورته بيت کې د ژمنه وفا او نوره محتوا شامله ده.

رحمان بابا دعرش او کرسۍ تر مرتبې هم د زړه مرتبه لوړه ګڼي، ووايي:

چې يې عرش او کرسي لاندې تر قدم وي

بالاتر دی هسې شان قدم د زړه

**غوړه مالي:**

غوړه مالي، د پاچاهانو خوشحالۍ لپاره په درباري چلند کې ناقانونه افراط او تفرط يوه داسې ناروغي ده، چې ټولنه له سختو ستونزو سره مخامخ کولای شي؛ خو ځينې وخت بيا داسې هم وي، چې ځينې شاهان د مشاورينو ښه نظر هم اوري او هم عملي کوي، شيخ سعدي دغسې يو حالت ته متوجه دی او وايي افسوس د هغه شخص په حال چې حاکم يې ښه خبره اوري، خو دی يې ورته نه کوي، دا حالت د ډېر افسوس خبره ده:

هر که شاه آن کند که او گويد

حيف باشد که جز نگو گويد

رحمان بابا بيا غوړه مالي د نوکرانو يوه مجبوري ګڼي او وايي:

هر چې کاندې نوکري د بادشاهانو

خواه ناخواه به دربار منت بار وي

**چوپتيا:**

حضرت علي کرم الله وجهه ته يوه خبره منسوبه ده، چې وايي:" د هر چا شخصيت د هغه د ژبې تر شا پټ دی".

رښتيا خبره همدا ده تر هغه پورې، چې يو څوک خبرې و نه کړي، نو د هغه د پوهې شخصيت جاج ورڅخه ورڅخه نشي اخيستل کېدای او د يوهې کچه يې نه معلومېږي، شيخ سعدی رحمت الله عليه همدا پخه خبره د خپل کلام په يوه بيت کې ځای کړې ده، وايي:

بامرده سخن نه گفته باشد

عيب و هنرش نهضته باشد

حضرت عبدالرحمن بابا بيا خاموشي يوه لوړه مرتبه ګڼي خو دی دا مرتبه په هغه شرط مالوموي چې له خپل يا ر سره په خبرو لګيا وي، خو دی دا مرتبه په هغه ظر ماتوي چې له خپل يار سره په خبرو لګيا وي، له دغسې يو

حالت پرته رحمان بابا هم خاموشی یوه لوړه مرتبه او مقام ګڼي، لکه:

خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده

زه مې یار سره په سوال او ځواب خوښ یم

**ټولنیز اخلاق:**

د شیخ سعدي په کلام کې پر ټولنیزو و اخلاقو هم ډېر ټینګار شوی دی، خو د ټولنیزو اخلاقو تر څنګ سیاسي اخلاقو ته هم ډېر پام شوی دی، د پاچاهانو غرایض او نفسي خواهشات هم نوموړي په خپل کلام کې تشریح کړي دي او ددې تر څنګ د درویشانو!!

هغه په یوه حکایت کې وایي، لس درویشان به په یوه ټغر راټولیدای شي که دوه پاچاهان نشي ځایېدلای. د سعدي صاحب دا مثال همدا اوس زموږ په ټولنه کې په ښه ډول تطبق وړ دی، سعدي دا د پاچاهانو یو غریزه ګڼي، چې یو ځای لاندې کړي، نو بیا د بل د نیولو هوس لري، هغه وایي:

ده درویش در ګلي بخبند

دو پادشاه در اقلیمي نګنجد

یا هم:

نیم ناني ګر خور د مرد خدا

یذل درویشان کندیمني دګر

ملک اقلیمي بګیرد بادشاه

همچنان در بند اقلیمي دګر

رحمان بابا په دې نظر دی چې د خانانو او ملنګانو سره کله نه کېږي، دی دواړه د یو بل مقابل لوري ګڼي.

نشي د خانانو ملنګانو سره کلي

چېرته عزیزخان چېرته ملنګ عبدالرحمن

رحمان بابا بیا درویشان تر شاهانو لوړ ځکه ګڼي، چې د خپل روحاني قوت په برکت تر عرشه هم مزل کولای شي او شاهان له دې سفره عاجز دي، وایي:

په یوه ساعت تر عرشه پورې رسي

مالیدلی دی رفتار د درویشانو

**اصلیت:**

سیخ سعدی رحمت الله علیه به دې نظر دی، چې د یو شي فطرت او طبیعي خواص په آسانۍ سره نه بدلېږي، که هر څومره روزنه او پالنه یې هم وشي، ددې اخلاقي نظر نتیجه داده چې موږ باید هر شي اصل ته مراجعه وکړو او د هغه د اصل په مقیاس هغه په ټولنیزو معاملاتو کې شامل کړو، د یوه له بچې څخه د انسان د بچي د چلند هیله هسې خواري ده. که څه هم هغه له انسان سره رالوی شي، خو وروستۍ نتیجه یې خپل اصل ته رسېږي:

عاقبت گرگ زاده گرگ شود

گرچه با آدمی بزرگ شود

رحمان بابا دې ډول پیغام ته په ښه ډول اشاره کړې ده، هغه وایي:

نه لیوه په آدمیت آموخته کېږي

نه امید د مروت شي له افلاکه

له فلکه د وفا امید باطل دی

کله د یو له آدم زاد سره وفا کا

شیخ سعدی وایي پاچا باید ظلم خپله دنده و نه گڼي او نه باید د پسونو د ساتلو دنده لیوانو ته وسپارل شي، د پاچا د قلم کارونه د خپل ملک د دیوالونه دنړولو معنا لري.

نکند جوره پیشه سلطان

که نباید زگرگ چوپان

پادشاهي که طرح ظلم افکند

بای دیوار ملک خویش بکند

رحمان بابا وایي، چې کم ذات ته باید واک ونه سپارل شي، ځکه چې له هغه څخه د نیکۍ هیله نشي

گیدای، لکه:

کم ذاته، بې دیانته، بې نمازه

طمع مه کړه د نیکۍ د بوقیراط

**خواخوږي:**

شیخ سعدي روح الله که څه هم خپل اخلاقي ایډیالونه د اسلامي عرفان په ګانه سمبال کړي دي، خو دا اخلاقي اډیالونه نه یوازې په یاده دایره کې د مطالعې وړ دي، بلکې د ټولو ادیانو او افکارو په هنداره کې هم د مطالعې او تائید وړ دي، د سعدي یو شعر چې ډېر مشهور دی او دی په کې د آدم زامن د یو بدن بېلابېل غړي ګڼي، د نړۍ د ټولو ملتونو غمومي زوجیه جوړوي، څکه خو یې د ملګرو ملتونو د ودانۍ پر دروازه هم دتبرک لپاره لیکلي دي، سعدي رحمت الله علیه وایي:

بنی آدم اعضای یکدیگرند

که در آفرینش رنګ ګوهراند

چو عضوی به درد آورد روزګار

دګر عضوه ها را نماند قرار

تو ګر محنت دیګران بې غمي

نه شاید که نامت نهند آدمی

له پورته شعر او کلام څخه د شیخ شعدي روح الله فکری نړۍ لید او ښه نیت خورا ښه څرګندېږي، چې سعدي پر ټول بشر د لوړه اخلاقي پر نسیپونو د تطبیق غوښتونکي دي.

رحمان بابا هم په دې نظر دی چې انسان یا آدم زامن ټول د یوه وجود یا یوه صورت معنا لري، په کار ده چې د یو بل په غم او درد کې شریک وي ښه کارونه وکړي او له بدو کارونو څخه ډه ډه وکړي.

کر د ګلو کړه چې سیمه د ګزار شي

اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي

آدم زاد په معنا واه یو صورت دی

هر چې آزار وي هغه آزار شي

يا هم:

که ته نه کوې نظر د چا و عيب ته

هر سړی به ستا د عيبو پرده دار شي

يا هم:

که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه

هر يو نخل چې ميوه لري سنګسار شي

هغه زړه به له طوفانه په امان وي

چې کنبخد غونډې د خلکو بار بردار شي

**عدل او نيکنامي:**

سعدي سخاوت، ورکړه، بخشش، ځوان مردي، لورېينه او دبې وس او بې کسو لاسنيوی د حاکم يوه ځانګړنه ګڼي او وايي چې خزانه چاته نه پاکېږي، خو نيک نوم پاکېږي. سعدي د قارون او نوشيروان او د هغوی علمونه ښه مثال ګڼي:

قارون هلاک شد که چل خانه ګنج داشت

نوشيروان نمرد که نام نکو ګذاشت

رحمان بابا وايي:

که په ګنج د شاهي فخر شهريار کا

عاشقان يې د دلبرو به رخسار کا

خرقه پوشه په خرقه کې ده مونډلې

هغه خط چې په دنيايې دنيا دار کا

رحمان بابا بيا سخاوت د مال د زياتوالي وسيله ګڼي او وايي:

خزانه په سخاوت سره زياتېږي

د کوهي اوبه چې وکاږې بسيار شي

يا هم:

مړول د وړې ګېډې مشکل نه دی

مړول د وړو سترګو مشکل کار دی

**نظم:**

په ټولنه کې د عدالت او نظم تامين په خاطر خدای ښلي سعدي به دې نظر دی چې حاکم بايد په خپله د عدالت نمونه او بېلګه شي، پر خيانت لاس پورې نه کړي، که چېرې په خپله واکمن په ټولنه کې د خيانت مرتکب شي، نو دا کار ددې سبب ګرځي چې لښکرمانو ته پلمه برابره شي او روحيه ورکړي او هغه زر ځله جنايت وکړي:

سعدي په ټولنه کې د نيک واکمن د حاکميت غوښتونکی دی او بيا له هغه څخه د نيکو او ښو خلکو د ګامارنې هيله لري، لکه:

اگر زباغ رعيت، ملک خورد پسبی

بر آورندغلامان اودرخت ازبيخ

به پنج بيظ که ه سلطان ستم رواد ارد

زنند لشکريانش هر از مرغ به بيخ

د رحمان بابا هم په ټولنه کې د ناکره او بدو خلکو له ګومارنې سره سخت حساسيت ښيي ا و هغوی له ليوني سپي سره تشبيه کوي او وايي چې دا داسې ناروغي رامنځته کوي چې د ټولنې نظم له منځه وړي او درملنه يې ناشونې ده.

رحمان بابا وايي:

ورک شه، ورکه شه بد کردار او بد سړی

که دې ورور که دې عزيز وي که پردی

تر هغه لاینکو کار بیگانه ښه دی

چې بد کار شي د چا زوی که یا لمسی

هغه خلک همه واړه لیونی کار

چې په کلي کې یو سپی شي لیونی

میړنی ویلي بویه و هغه ته

چې یې وجې آزار نه کاندې یو شی

**د حاکم په باب:**

بې خبر او له زړونو وتلی او له سترګو لوېدلی ملک اوپاچا ته بیا په لاندې نظر ګوري:

که په قطع د تمام جهان ملک یې

چې له ځانه خبر نه یې لا هلک یې

که د لمر په څېر څرګند شي په جهان کې

څو په زړونو پسدیده نه شی لا ورک یې

**۳ – ۱- ۳ پوهه او شتمني د سعدي له نظره:**

چې په دې نظر دي چې پانګه، دولت او خزانه په ډېر علم، پوهې او ذکاوت نه ترسره کېږي، ځینې یې د بخت کار ګڼي ا و ځینې یې خدایي ورکړه، سعدي هم شتمني او پانګه د علم کار نه ګڼي هغه وایي او آسماني تائید هم نه ګڼي، په دنیا کې ډېر بې تمیزه او عاقل هم خوار دي، یو ځل په غم او عصه کې مړه کېږي او بل به خواجه ګنج کې پیدا کوي، دی وایي:

بخت و دولت به کارداني نیست

جز به تائید آسماني نیست

افتاده است در جهان بسیار

کیمیاگر به عصه مرده و رنج

ابله اندر خرابه یافته گنج

رحمان بابا هم د ژوند یو شمېر کارونه او پرمختیاوې، شتمن کېدل او نور یوازې په عقل پورې نه تړي، طالع، بخت اونور چانسونه هم په کې د خیل ګڼي نو ځکه خو وايي:

عقل مه غواړه طالع غواړه رحمانه

عقلمن د طالعمنو غلامان دي

خو دا هم وايي، چې:

دا دینا په احمقانو ده ودانه

دانا نه کا په دنیا باندې غرض

**غیبت:**

غیبت، د بل غیب لټول او بل ته یې رسول یوه ناروغي ده، چې هم اسلام مردوده کړې او هم انساني ارزښتونوو شیخ سعدي هغه کسان غندي چې د بل انسان غیب لټوي او بیا یې نورو ته انتقالوي، لکه:

هر که عیب دیگران پیش تو آورد شمرد

بی گمان عیب ترا پیش دیگران خواهد برد

رحمان بابا هم غیبت او د بل عیب یوه ستره ناروغي ګڼي او پر هغه انسان غوسه څرګندوي چې د بل عیبونه لټوي او خپل عیبونه او نیمګړتیاوې پټوي. رحمان بابا دې ډول اشخاصو ته په خطاب کې وايي:

چې مدام د بل و عیب و ته نظر کړي

خدای له خپله عیبه ولي ناخبر کړي

که دې خپله ګناه لویه لکه غر وي

په هیله هیله به غر د مچ وزر کړي

او دا سپارښتنه کوي، چې:

که ته نه کړې په بل چاندې غرض

بل به نه کاندې په تا باندې غرض

**روزنه:**

سعدي روح الله په ښوونه، روزنه او بدلون کې د یو چا یا یو شي اصلیت ډېر مهم کڼي، هغه وایي ځینې شیان د بدلون وړ دي، خو ځینې چې د خپل طبعیت تابع وي، پر هغو باندې خواري کول د وخت ضایع کول دي:

چون بود اصل گوهری قابل

تربیت را درا و اثر باشد

هیچ صیقل نگوند اند کرد

آهنې را که بدگهُر باشد

رحمان بابا وایي:

هر چې کرکا د وربشو غنم غواړي

له خاطره دې بیرون کا دغه خیال څوک

سړی بویه چې په نیک عمل یادېږي

نه چې ناز کا د دنیا په ملک و حال څوک

شیخ سعدي وایي:

سگ به دریای هفت گانه بشوی

که چو تر شد پلید تر باشد

خر عیسی گرش به مکه برند

چون بیاید هنوز خر باشد

رحمان بابا هم د یوه شي د اصل مهم ګڼي، هغه پیغام چې شیخ سعدي په خپل کلام کې ځای کړی دی، رحمان بابا هم تقریباً هغه ته ورته پیغام لري، رحمان بابا د اصلیت پیغام په یو بل ډول ځای کړی دی:

شاه جهان او اورنگ زیب غوندې اشراف

صدقه شه تر منصور غونډې نداف

دا څلور واړه مذهبه سره یو دی

ما او تا په کې پیدا کړ اختلاف

د مکې په بزرګۍ کې خو شک نشته

ولې خر به حاجي نشي په طواف

**تدبیر:**

حضرت شیخ سعدي په دې نظر دی چې د یو ملک د آبادۍ لپاره دا ضروري ده چې هلته باید هغه کسان په کار وګومارل شي چې له خدایه وېره احساسوي، خطر مخکې تر هغه چې واقع شي، باید رفع شي که یو ځل زیان او خطر پیش شو، نو زیان رسوونکي ته که بیا سزا هم ورکړل شي، ګټه نه رسوي، نو ښه داده چې د خطر تر پیښېدو وړاندې رفع شي.

خدای ترس را بر رعیت گمار

که معمار مملکت است پرهیزگار

یا هم:

ریاست به دست کسانی خطا است

که از دست شان دست هابر خداست

یا هم:

سر گرگ باید هم اول برید

نه چون گوسفند مردم درید

رحمان بابا هم په دې نظر دی چې هر کار مخکط تر دې چې واقع شي هغه ته باید تدبیر ونیول شي:

هغه وايي:

چې په وخت د ځنګدن وکاږي ږیره

تر نن ولې هسې ناست یې بې تدبیره

هر سړی چې ګانده غم په مخ کې ویني

له هغه غمه لا نن ګرځي دلګیره

چې سبا آرمانوي پید د پیرانو

ولې نن د پیر طلب نه کړې بې پیره

**سرټیتوب:**

سعدي خاکساري او تواضع د انسان د لوړتیا عامل ګڼي او پر هغو ټینګار کوي، وايي:

زخاک ء آفرین خداوند پاک

پس ای بنده افتادګی کن چون خاک

حریص و جهانسون و برکش میانش

زخاک افریدن آتش میانش

چون ګردن کشید آتش هو فناک

به بیچاره ګي تن بنداخت خاک

چون آن سرفرازی نمود این کمی

از آن دیو کردند ازین آدمی

رحمان بابا هم په ژوند کې تواضع، خاکساري په حقیقت کې د لويي نښه ګڼي، هغه سرټیتوب په حال او دولت، شتمنۍ او نورمالي امکاناتو پورې نه تړي هغه په دې نظر دی چې:

آدمیت په دولت نه دیه رحمانه

بت که جوړ کړې له سرو زرو انسان نه دی

بل ځای وايي:

له سرېه غرض واړه سرټیتوب دی

نه چي پټ وي د سرو زرو په لباس

**قناعت:**

سعدي صاحب، قناعت او بد چلند د انسان نیمکرغي بل عامل ګڼي او وايي ځوک چې غواړي د انسانیت لاره خپله کړي هغه باید لومړی د نفس له سپو سره مقابله وکړي؛ لکه:

خدا را نداشت و قاعت نه کرد

که بر بخت و روزی قناعت نکرد

قناعت تو انگر کنند مرد را

صبر کن حریص بجا نگرد را

سکوئی بدست آور ای بی ثبات

که برشک گردان نروید نبات

کسی سیرت آدمی گوش کرد

که اول سک نفس خاموش کرد

رحمان بابا هم قناعت د انسان د نیکمرغۍ لوی عامل ګڼي، آن تر پاچاهۍ یې هم ورته ګڼي:

په ښه خوی که بدخواهانو بې پروا یم

په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا یم

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی

پټ د درست جهان پادشاه ظاهر ګدا یم

رحمان بابا قناعت د سعادت سبب ګڼي او وایي:

هغو بیا مونده سعادت په دا دنیا

چې وکړ قناعت په دا دنیا

هر زنده چې د مرده په قبر ورشي

بس دی دومره نصحیت په دا دنیا

بل ځای وايي:

د قانع تر قناعته صدقه شه

هم دنیا او هم دینار ددې دنیا

یا دا چې:

چې کیمیا د قناعت یې په لاس کیوزي

که ګداوي د قارون په څېر توانګیر شي

رحمان بابا دا هم وايي تر څو چې انسان په خپله پر یوه شي قناعت و نه کړي، هغه هېڅکله په سم وزر نه مړېږي:

موړ به نه شي هېڅ سړی بې قناعته

که یې خونه وي په سیم د زرو ډکه

**وقايه:**

په طابت کې یوه مقوله ده چې ( وقايه تر معالجې ښه ده) سعدي هم په دې نظر دی چې مخکې تر دې چې پېښه واقع شي، بايد علاج یې وشي، تر پېښې وروسته تدبير نيول کومه ګټه نه کړي:

علاج واقعه پیش از وقوع باید کرد

دریغ سود ندارد چو است کار ازدست

به روزگار سلامت سلاح جنگ بساز

وگر نه سیل چوبگرفت سید شایدست

رحمان بابا هم دې ته ورته پيغام په خپل کلام کې ځای کړی هغه په دې نظر دی، مخکې تر دې چې یو عمل تر سره شي، بايد فکر پرې وشي که چېرې یو ځل وخت ضايع شوو هغه تېر ساعت بېرته نه راګرځي؛ نو ځکه خو بايد هر کار ته ډېر دقت وشي:

تر ورخ تېرې اوبه بېرته نه جارېږي

نه جارېږي تېر ساعت په بېرته بيا

تېر ساعت په مثال مړی دلی دی

مړ چا نه دی ژوند کړی په ژړا

**دوستي او دښمني:**

سعدي دوستۍ او دښمنۍ لپاره هم ياخه معيارونه ټاکلي دي، ددې معيارونو له جملې څخه (اصليت) يو اساسي معيار دی، سعدي په دې نظر دی چې د لباس په تعير ماهيت نه بدلېږي او انسان بايد د دښمن په پېژندنه کې د هغه اصل ته ډېر متوجې وي:

دشمن اگر دوست شود چندبار

صاحب عقلش نشمارد به دوست

مار همان است به سيرت که هست

ور چه به صورت بدر آيد ز پوست

رحمان بابا وايي:

له نا اهلو د وفا طمع و مه کړه

گنده نل به نيشکر نه شي هرگز

بل ځای نظر لري:

د بې دردو همدمي به دې بې درد کا

د نامردو همدمي به دې نامرد کا

رحمان بابا دغه راز د دوست پر انتخاب ټينگار کوي او وايي:

له اغيار سره خندا څه به کار نه ده

له اغيار سره سودا څه په کار نه ده

بد له بدو سره بویه نیک له نیکو

د جفا پر ځای وفا څه په کار نه ده

لنډه دا چې د سعدي (رح) ټولو کلیاتونه( ګلستان، بوستان، غزلو، قصایدو، قطعو، څلوریزو او نور ټولو کې دومره اخلاقي فضایل بیان شوي دي، چې یوازې د موضوعاتو راوړل یې دلته د یوې لیکنې له حدودو څخه وځي او د ما(زغم) په نظر ( د بحر په کوزه کې ځایول لویه زبردستي غواړي او له امکان نه لري) د حضرت سعدي په کلام کې د پادشاهانو سیرت ته اشاره شوې د درویشانو اخلاق بیان شوي دي، د قناعت په باب د کاپي کرښي په نښه شوې، د مجلس نزاکت او چپ پاتې کېدل او د هغو فضایل بیان شوي دي، د ځوانۍ پر مهال د انسان کرکه تشریح شوې، د سپین ږیریتوب په حالت کې انساني کرګز ته شاره شوې، د ښې روزنې او پالنې تدبیر عشق مسجد او شور تواضع پر کم څیز قناعت، توبې، عاقبت او نورو مسایلو په باب ګڼ شمطر نصحیتونه او حکایتونه راغلي او هغه به کیسه ییز او داستاني ډول په مثالونو کې توضیع شوي دي، موږ د سعدي دعلم نصیحت او اخلاقي لارښوونو له دریاب څخه یوازې یو لاروی حضرت عبدالرحمن بابا له اخلاقي مرغلرو سره پرتله کړې دی.

د رحمان بابا په کلام کې هم ستر اخلاقي او داستاني ایډیالونه بیان شوي دي او د ټولو یادول دلته شوني نه دي، دا یو اوږد بحث دی او زیاتو لیکنو او ځانګړو اثارو ته اړتیا لري چې د ا سلامي نړۍ ددغو دوو سترو ادبي او عرفاني څېرو د کلام مرغلرې لا پسې وځېږل شي او لا پسې وځلول شي؛ خو موږ یې دلته د بېلګي په توګه یوازې څو برخو ته لنډیز سره اشاره وکړه.

---


ماخذونه:

۱ـ اریانا دایرة المعارف( پښتو، څلورم ټوک. د افغانستان د علومو اکاډمي.

۲ـ پټه خزانه، محمدهوتک. ۱۳۳۹ کال، پوهاند عبدالحی حبیبي،۱۳۹۰

۳ـ هېوادمل، زلمی، ۱۳۷۹ـ د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍ دوره.

۴ـ کلیات سعدي، ۱۳۹۰، محمدعلی فروعي، تهران

۵ـ د رحمان بابا دیوانـ ۱۳۵٦، څېړنیار محمدعارف غروال سریزه.

٦ـ یون، محمداسماعیل، ۱۳۹۴، کتاب الشعرا او لس نورې لیکنې د ا فغانستان ملي تحریک، فرهنګي ځانګه.

## رحمان او اقبال د حشر په میدان کې

حشر، هغه ورځ چې ټول مخلوقات به په هغه ورځ د الله تعالی تر مخ هلته حاضرېږي او خپل اعمال د کمال په ترازو کې تلي، هلته د ټولو مخلوقاتو حضور حتمي دی، ځو ددغې ورځې هیبت واچوي.

ددغه ورځې په عجیبوالي یوازې الله ج پوهېږي ځکه خدای پاک ( لمن الملک الیوم الله واحدالقهار....( دی.

ددغې ورځې اصلي کیفیت او کمال د الله یکتا د علم کمال دی، ځکه نو په قرآن مجید او ګڼو احادیثو کې راغلی دی، دین پوهان لیکوالان او قلموالو یې تفسیر او تحلیل زیاد کړی، موږ به دلته دا مقارنهٔ رحمان او اقبال د حشرت په میدان کې( تر سرلیک لاندې مقاله چې په ( رحمان پوهنه، ۲۰۰۵م کال، قمرطایزي، دریېم جلد، یونیورستی بک اجنسي، خیبربازار ۱۳۴۹ مخ کې لیکلي چې موږ یې مهمې برخې را اقتباس کړو.

" دادې حشر د میدان منظر کشي نه ده او نه هغه واقعات پیشګویي ده، ځکه دا علم صرف هغه علیم او خبیر ذات ته دی، دا زما خپل احساسات دي. د حشر میدان دی، له اوله تر آخره ټول مخلوق راټول شوی دی.

مالک یوم الدین د عدالت په مسند جلوه افروزدی، میدان کې د یو پرجلال اواز کړنګا خوره ده" لمن الملک الیوم" هېڅا کې د جزا ورکولو جرأت نشته هم هغه په حلال آواز کې جواب راځي، لله الواحد القهار د هیبت او د وېرې عالم دی، هر څوک خپلو خولو کې ډوب ډوب دی او هر یو خپل علمونه وېرېږي او له هر چا سره د خپل انجام فکر دی، د هر چا په خوله د حشر د سختیو فریاد دی، خو هېڅا کې دا جرأت نشته چې خپل آواز اوچت کړي.

مقرب ملائک د مالک الرحمن وسما په دربار کې حاضر ولاړ دي او په خوله یې د تسبح او تقدس نغمې جاري دي، حساب شروع دی، انسانان وار په وار د فرښتو نګرانۍ کې راځي، فرښتې د هغوی اعمالنامه دربار خداوندي کې پیش کوي، د ضروري سوال جواب نه پش خوش نصیبونه خپله اعمالنامه په ښي لاس ورکوي او فرښتې یې ډېر په احترام د جنت په لور بیایي، نافرمان او سرکښ انسانانو ته اعمالنامه په کیڼ لاس کې ورکول کېږي، او فرښتې یې په ډېر ذلت د دوزخ خواته راکاږي د چا خبره نه د اپیل جارت شته او نه د احتجاج، بس د رحم غوښتنه ده، د رحمت التحاده چې د هر چا په سترګو کې لیدل کېږي، یا د دحضور شفیع المذنبین صلی الله علیه وسلم شفاعت دی چې هر مسلمان یې په طمع دی.

انبیاء رسولان، اصحاب، تابعین، تب طابعین، شهدا او اولیائي ک رام او بیا د حساب په روان دورکې آواز اوچتېږي" عبدالرحمن" دې آواز سره د یوه اړخ نه رحمان بابا، دوو فرښتو په منځ کې را ښکاره کېږي. په سینه خوره ښایسته ږیره، شاته اوږېدلي ښکلي اوږده ویښته په مخ د ایمان رڼا په سترګو کې د ایمد او د وېرې عکس او په ژبه د درست کائینات د عظمت ترانه:

ګوره هسې ګردګار دی رب زما

چې صاحب د کل اختیار دی رب زما

همګی بزرګواران څوک یې وایي

تر همه و بزرګوار دی رب زما

نه یې هېڅ حاجت په چا پورې موقوف دی

نه د هېچا منت بار دی رب زما

له نیستۍ د هستۍ صورت پید کړ

هسې رنګ پروردیګار دی رب زما

هم صنایع دی د جمله مصنوعات

هم سامع د هر ګفتار دی رب زما

چې یې هېچرې نه مثل نه مثال شته

د هغو عطرو عطار دی رب زما

هر تعمیر چې د دنیا او عقبی دی

د همه واړو معمار دی رب زما

خوانندە د نانویسو صحفو دی

داننده د هر اسراری رب زما

که ظاهر دی، که باطن دی که مابین دی

له همه و خبردار دی رب زما

که پیدا، که او شیده دی که اوسط دی

په همه و وقوف دار دی رب زما

شریک نه لري په خپله پادشاهي کې

بې شریکه شهریار دی رب زما

هسې نه چې واحدي يې ده له عجزه

په واحد وجود بسیار دی رب زما

څه حاجت دی چې ویل خوا ته يې غواړم

په خپل کور کې هم کنار دی رب زما

حاجت نه لري د هېچا و یارۍ ته

له هغو سره چې یار دی رب زما

هېڅ تغیر او تبدیل نه لري رحمانه

تل ترتله برقرار دی رب زما

وایي چې عبدالرحمن بابا دربار ته راځي، په ادب دریږي او د رب العزت او ر ب کائناتو په تعظیم کې خپل سر ښکته کوي، حق تعالی فرمايي: عبدالرحمان بابا جوا ب کې وایي: " زما رب زما مالک بنده حاضر دی" ارشاد کېږي." موږ تاته علم او پوهه درکړې وه ـ موږ تاته بسیرت درکړی وو او موږ تاته د کلام قدرت هم درکړی و، تا زموږ د نعمتونو څومره حق ادا کړی او زموږ نور مخلوق ته دې ددې نعمتونو څومره فایده ورکوله."

رحمان بابا په عاجزۍ جواب ورکوي:" زما رب زما مالک ما د خپل علم په رڼا کې ستا مخلوق هم ستا اړخ ته رابللی وو او هم ستا د دین دعوت مې ورکړی وو، ما ستا مخلوق په صفا ډول دا خبره کړې وه، چې:

یو نفس د خدای په یادو او لي تر دی

نه د درست جهان دولت په دا دنیا

که محبت، که مشقت دی خو د دین دی

پکار نه دی د بل محنت په دا دنیا

د هغه جهان سودا واړه دلې ده

که څوک کاندي تجارت په دا دنیا

امانت به د لحد به میان کې پروت وي

هر چې اوسې امانت په دا دنیا

ما ورته دا خبره هم په ګوته کړې وه:

دوباره راتله نشته په دنیا

نن دې وار دی که دروغ کړې که رښتیا

هر چار چې تر وخت تېر شي عُنقا شي

عُنقا نه دی په دام نښتی د هېچا

تر ورخ تېرې اوبه بېرته نه جاروزي

نه جاروزي تېر ساعت په بېرته بیا

تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی

مړ چا نه دی ژوند کړی په ژړا

که مقصود لرې تلوار کړه وخت کوتاه دی

عزه مه شه ددې عمر په بقا

هره ښبه چې ددې عمر په زړه کې

په غرور به دغه ښبه کړې خطا

په امید امید یې خلک نا امید کړل

دا یام اله مکره مه شه بې پروا

چې د مرگ په تماچه دې شي خوله ماته

ترو په ماته خوله به څرنگ کړې شنا

ویر ژړلی ارتینې چې دنیا وایي

تاته واي که پوهېږي دا وینا

هلک نه یې چې په زور دې څوک تسلیم کړي

هم عاقل یې هم بالغ یې هم دانا

په  عمل د نیک و بدو فهم وکړه

چې پّ دا کې دې بهبود دی که په دا

سر دننه په گریوان کړه سترگې رونې

ډېر په پورته پورته مه ځه سر هوا

سر هوا سرهوا مه ځه و آسمان ته

ته به اصل کې له ځمکې یې پیدا

د عمل په ځای به دا پوښتنه نه وي

چې ته زوی یې یا لمسي یې یا فلانا

په خپل ځای ښېگڼه وکړه غره مه شه

په ښېگڼه دادې او د بابا

هغه ناوې چې خپله ښایسته نه وي

څوک به یې څه کاندي ښایسته د مور د نیا

دا خبره زه و تاته کړم اې یاره

دلگیر ه شه که مې نوم واخیست دستا

نوم دستا او دبل اخلم څن ته وایم

دا عیبونه دي همه واړه زما

هر چې وایم همه واړه ځان ته وایم

نه مې کار نه غرض شته په بل چا

که مې ځآی ددې غمونو وي به زړه کې

ما په څه لره کوله دا آشناء

چې د مرگ سختۍ خوارۍ دا ستا په خوا دی

اې رحمانه ولې نه مرې لا پخوا(۳مخ)

او دا خبره مې ورته ښکاره هم ښکاره کړې وه:

ورځ دې تېره په شومې کړه، شپه له خوابه

خدای به کله یادوې خانه خرابه

په شتاب شتاب دې تله دي که پوهېږې

غافل مه شه ددې عمر له شتابه

دلته دم او قدم دوړاړه په حساب دي

پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه

راستولی خدای حساب دی په کتاب کې

خبر زده کړه له حسابه له کتاب

ته و خپلو نیکو بدو ته نظر کړه

چې بدي دې څو تېرى کړی له څوابه

په هغه جهان په څرنګه ځواب وکړې

چې په دا جهان عاجز یې له جوابه

عاقبت مه تورو خاورو لره درومې

ځان به څو ځنډې په ګوتو له ترابه

څو به دا جهان او به له تندې نه شې

په قیامت به دې سینه نه شي سیرابه

چې آفتاب یوه نیره شي بیا به څه کړې

چې نن سیوري لره نښتې له آفتابه

د کاغذ په کشتۍ سیر کوې رحمانه

دا کشتۍ به دې مرګې کاندی غرقابه

په آزار د چا راضي مه شه رحمانه

که خلاصي په قیامت غواړې له عذابه

د رحمان بابا حساب له جاري دی، چې دوه فرښتې راځي او د دربار ملائیکو سره څه خبره کوي، او زر واپس کېږي، د دربار ملائیکو سره څه خبره  کوي او زر واپس کېږي. د دربار ملائیکه د عدالت مسند ته ګوري او له هغه خآیه فرمان راځي:" داوي غواړی" آواز کېږي"محمداقبال" لږ ساعت پس دیوار نه علامه اقبال د دوو فرښتو په منځ کې راښکاره کېږي، غونډه رومي ټوپۍ په سر اوږده شیروانۍ په تن، په مخ لکه د رحمان بابا د ایمان رڼا ـ په سترګو کې د امید او وېرې یو رنګ عکس او په ژبه د خلق کائینات واحدانیت نغمه:

خو دی هی سر نهال الا اله الا الله

خو دی هی تسع نشان لا اله الا الله

په نغمه فصل مشکل والا له کا سهیی یابند

بهار هو که خزان لا اله الا الله

اگر چه بت هی جماعت که استینول مین

میهی هی حکم او الا اله الا الله

علامه اقبال راځي، رحمان بابا سره نږدې او درېږي، دواړه په يوه مسکا يو بل ته هر کلي وايي او بيا درست کائنات په حضور کې خپل سرونه ښکته کوي، حق تعالی فرمايي: رب السموات والارض...." محمداقبال" اقبال جواب کې واييدا زما رب زما مالک ـ بنده حاظر دی" " ارشاد کېږي" ته ولې غواړې چې ستا حساب دې عبدالرحمان سره يو ځای وشي وشي، دا ځکه زما رب زما مالک چې زما او د رحمان بابا لار يوه ده زموږ منزل يو دی او زموږ عيش يو دی، موږ دواړو ستا مخلوق ته يو پيغام هم يو ورکړی دی.

" تاسو زما مخلوق ته کوم پيغام ورکړی دی؟" موږ ستا مخلوق ته دا يوه خبره په گوته کړې ده چې د انسانيت د کاميابۍ لارښونه وه ده، په دې يو لار اسانه خپل منزل ته رسدلی شی، نورې ټولې لارې د هلاکت لارې دي، که انسان يوه لاره پرېښوده په بله روان شو نو د هغه مقدر به يتارو کې ډوب شو، ځکه چې دې يوې لار نه سيوا بل يو ځای کې هغه ته رڼا نه ملاوېږي" دې سره علامه اقبال رحمان بابا ته گوري او رحمان بابا وايي:

که رڼا ده ده پيروي محمده

گنه نشته په جهان بله رڼا

محمد د بيچاره و چاره گر دی

محمد دی هر دردمن لره دوا

او علامه اقبال وايي:

به محمد برسان خوی راکه دين حمد اوست

اگر به اونه رسيدی تمام پوبهی ست

ميدان کې د حمدو ثنا او درود وصلوت آوازونه اوچتېږي، په دې کې رحمان بابا او علامه اقبال آوازونه هم شامل دي، حق تعالی فرمايي:" محمد اقبال تا خو زموږ په شان کي گستاخي هم کړې ده، دا اشعار ستا نه دي؟"

اگر کج روهين اگر انجم آسمان تيراهی يااميرا

فجهی فکرجهان کيول هو جهان تيراهی يامير

اگر هنگامه های شوق سي هی لا مکان خالی

خاطا کش کی هی یا رب لامکان تیراهی یا میرا

علامه اقبال د عاجزۍ په لهجه کې وايي:" هو خداوند عالم دا زما اشعار دی خودې کې ستا د یو بیت او ملکیت کل اعتراف دی او د غیرالله د اختیار او د ملکیت نفي ده"

حق تعالی فرمايي:

" زموږ د یو بیت او ملکیت کل اعتراف او په داسې گستاخ انداز کې"

علامه اقبال د معذرت په انداز ځواب ورکوي:

" زما رب زما مالک، زه ښښنه غواړم، ما هم په دې گستاخ انداز خپل ځان ملامت کړی دی، ما هم هغه وخت دا ویلي وو"

چپ ره نه سکا حضرت یزدان مین بهی اقبال

کرتا کوئی اس بنده گستاخ کامنه پبند

حق تعالی فرمايي:

" تا زموږ په شان کط بله گستاخي هم کړط ده، تا دا هم ویلي وو"

پهر بهی هم سی یه کله هی که وفا دار شهین

هم وفادار شهین توسهی تو دلدار شهین

د حق تعالی په آواز کې د جلال رنگ راځي فرمايي:

" زموږ په شان کې دا دومره گستاخي؟ اقبال دا دومره جرأت تا څنگه وکړ؟"

علامه اقبال د عاجزۍ او وېرې په لهجه کې وايي:

" زما رب زما مالک زه ښښنه غواړم، خو هغه وخت د مسلمان حالت داسې وو، چې زما زړه ته پرې ډېرې درد رسېدلی وو، اندلس کې له اته سوه کاله پس د مسلمان وجود ختم شوی و.

هندوستان کې د مسلمان د شان اوشکو نسکور شوی و، عظیم الشانه عثماني خلافت چې په درې برا اعظمونو

خور وو، توکړې توکړې شوی وو، په سمرقند او بخارا کې د اسلام نوم اخیستل جرم وو، د حجاز په مقدسه خاوره هم د اغیارو پنجې ښخې وې، او ستا مسلمان ته ستا پّ دې وړه څمکه د سر پټولو ځای نه میلاویده، ما چې د مسلمان دا حالت ولیده، نو په بې اختیاره مې په ژبه دا گیله راغله"

د علامه اقبال د خبرو له ختمېدو سره سم د قهر و غضب نه ډک آواز راځي:

" اقبال!!!!!!!!"

میدان کې یو دم خاموشي خورېږي، ملائیکو نه د حمدوثنا نغمې هېرېږي، د مخلوق فریاد د آوازنه محرومېږي، د رحمان بابا ټول په خوله کې ډوب ډوب کېږي، د علامه اقبال په مخه یو رنگ ځي او بل راځي، حق تعالی د جلال په اندازه کې فرمایي:

" تا د مسلمان حالت خو ولیده، خو تا د هغه کردار ته ونه کتل هغه مسلمان چې ما ددنیا امامت ته پیدا کړی و او ددې لپاره چې ټول انسانیت ته زما پیغام ورسوي او زما مخلوق زما لارې ته راوبلي، هغه مسلمان هغه وخت زما نه یاغی شوی و، ده خپله لاره پرېښودلې ه او د اعنیارو په نقش قدم روان وو او تا د تاریخ مطالعه نه وه کړې چې داسې سرکش او نافرمان قامونه ته موږ کومه سزا ورکړې ده، هغه وخت چې مسلمان کومو حالاتو سره سره مخه وو د هغه زمه وار هغه په خپله وو، او تا گیله زموږ نه وکړه په داسې گستاخ انداز کې؟"

میدان کې خاموشي ده، مکمله خاموشي، ټولو سرونه ښکته کړي دي، او ټولې ژبې خاموشې دي، حق تعالی فرمایي:

" اقبال تاسره ددې څه ځواب دی؟"

اقبال په وېره وېره ځواب ورکوي:

" زما رب زما مالک دی"

ددې گیلې نه زما مقصد دا وو، چې مسلمان او دده ضمیر راویښ کړم او بیا یې ددنیا امامت ته پام راوگرځوم، ماغوښتل چې مسلمان خپل ستر عظیمت بیا تر لاسه کړي، ددې لپاره ما د خپلې گیلې ځواب هم لیکلی دی او د هغه وخت د مسلمان ته مې خپله کمزوري ور په گوته کړې ده، ما د هغه وخت بې عمله مسلمان ته د عمل لارښودلې وه او د هغه غافل او محکوم مسلمان غیرت ته مې داسې غږ کړی وو:

تېره دریا مین طوفان کول نهیهی

خو دی تیری مسلمان کیول نهی هی

غبت هی نشکوه تقریر یزدان

تو خو د تقدیر یزدان  کیول نهی هی

د هغه وخت مسلمان ته چط له ځانه بې خبره وو، ماکه دا خبره کړې وه چې د دنیا امامت د مسلمان حق دی، خو مسلمان چې پر رښتیا مسلمان وي او خپل ځان وپېژني:

عالم هی فقط مومن جانباز کی مرات

مومن نهیی جو صاحب لولاک نهی هی

او پروردگار عالم! د هغه وخت مسلمان چې اغیارو له پښو لاندې کړی دی ټول چاپېر چل یې په تیارو کې ډوب ډوب وو، په خپله خاوره یې د آزادۍ د ژ،ند نصیب نه و، ما د هغه په وړاندې د امید یوه بله ډیوه اېښودې وه او د هغه لارښوونه مې کړې وه، ما ستا له خوا هغه ته دا پیغام ورکړی و، چې:

کی محمد سی وفا تونی تو هم تیری هی

هی جهان چیز هی گیالو و قلم تیری هی

د حق تعالی په جلال کې د جهان رنګ ښکاره کېږي، میدان کې د حمدوثنا درود د میلوه آوازونه بیا پورته کېږي جاري عمل رحمان بابا ته راګرځي حق تعالی فرمایي:

" تاته پته ده چې تانه وروسته ستا په هغه خلکو څه ویل؟"

رحمان ځواب کې وایي:

" زما رب زما مالک"

ماته هېڅ پته نشته، ارشاد کېږي:

" تا نه درې سوه کاله وروسته خلکو ته د یوه قوم پرست په توګه یاد کړی و، آیا تا خپل کلام زما مخلوق ته د قوم پرستۍ سبق ورکړی و؟"

رحمان بابا عرض کوي:

"یا رب العالمین! ما خو ستا مخلقو ته د یو محدود قومیت تصور نه وو، ورکړی، ما خو ورته د اسلام افاقي او ابدي

تعلیم وړاندط کړی و، هغه اسلام چې د ټول انسانیت لپاره د مینې او وروکې پیغام دی، هغه نظام چې تور او سپین د پاره د مینې او وروروولۍ پیغام دی، هغه نظام چې تور او سپین، شرقي او غربي يې يو رنګ خپل لمن کې را غونډ کړي دي، ما د اسلام د ځلانده اصولو په رڼا کې ټول انسانیت ته په یوه نظر کتلي دي، زما وینا خو دا وه:

واړه د خپل ځان په نظر ګوره که دانايي

اې عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمان دی

رحمان بابا د خپل بیان په تسلسل کې وایي:

" زما رب زمامالک! د ځان لپاره خو مې د عشق لار خوښه کړې وه او په دې لار کې ما د نسل او قومیت ټول حدونه تر پښو لاندې کړی وو او په ډاګه مې دا اعلان کړی و، چې:

زه عاشق يم سروکار مې دی له عشقه

نه خلیل، نه داودزی یم نه مهمند

له دې سره عبدالرحمان بابا، علامه اقبال ته ګوري او اقبال د بابا په تائید کې وایي:

درویش خدامست، نه شرقی هی نه غربی

گهر میرا نه دلی، نه صفاهال نه سمرقند

رحمان بابا خپل بیان جاري ساتي او وایي:

" يا خالق حُسن جمال"

ما د عشق لا ځکه خوښه کړې ده چې د هغه بصیرت په رڼا کې چې ماته اندامونه راکړی وو، ما د عشق مقام پېژندلی وو او دا راز مې ستا مخلوق ته هم ښکاره کړی وه، چې:

و آسمان ته لاس د عقل نه رسېږي

دا خو عشق دی چې په عرش کرسی قدم ږدي

دلته رحمان بابا علامه اقبال ته ګوري او اقبال وایي:

عشق دم جبرائیل، عشق دل مصطفی

عشق خدا کا رسول، عشق خدا کا کلام

د رحمان بابا بیان ختمېږي، خود حساب عمل جاري دی، حق تعالی فرمایی:

" عبدالرحمان! به تا یو بل الزام هم دی، هغه دور کې ځینې خلکو تاته ترقي پسند هم ویلی و( ترقي پسند)"

رحمان بابا په حیرانتیا وایي:

" زما رب زما مالک!"

دا څه شی دی، ما خو دا نوم چېرې نه و اورېدلی، حق تعالی فرمایی:

" د ستا د ځینو اشعارو په نبیاد چې تا په کې د ظالمانو غندنه کړې وه او د معاشرې جبر دې په گوته کړی و، په هغو کې یو شعر دادی:

په سبب د ظالمانو حاکمانو

گورو اور و پېښور درې واړه یو دی

بابا په تعجب کې وایي:

" زما د اشعارو پر نبیاد، هغوی ماته ترقي پسند وایه"

بیا یې یو اوسیلی له خولې نه خېژي او دا شعر په ژبه راځي:

د رحمان بابا کلام په غوږ د بې هنرو

لکه دُر چې په لاس د طفل هسې خوار شو

بیا حق تعالی ته مخاطب کېږي او وایي:

" زما رب زما مالک!"

که که د ظالمانو یا حاکمانو یا معاشرې په جبر غندنه کړې ده، نو دا خو د اسلام د هغه تعلیم په رڼا کې ده چې د ظالم پادشاه په مخ د حق وینا بهترین جهاد دی، زما د وړاندې د حضور نبي کریم صلی الله علیه وسلم ژوند وو، چې هر کله ورته ستا حکم راغی چې ستا مخلوق ته ستا د توحید پیغام ورکړی، نو حضور صلی الله په یوازې ځان د وخت وحشي معاشرې ته مخامخ ودرېده، د ظالم الاس یې ونیوه، او مظلوم یې ځاته رانږدې کړ او ستا د پیغام حق یې ادا کړ، زما مخکې خو د حضرت بلال مثال وو چې د وخت بادران په تخت گیرۍ کې په گرمو

شگو څملولو او د پاسه به يې پرې گرمې تېږې کېښودلې چې اسلام واپس شي، خو ځواب به د حضرت بلال له خولې نه د ( احد، احد چيغې ختې) زما د وړاندې خو د حضرت حسين تر دار وو، چې د کربلا په ميدان کې يې خپل ځان او خپل بچي قربان کړل. خود يزيد قيادت يې قبول نه کړ، زما په نظر کې خو د حضرت احمد بن حنبل د ژوند نمونه وه، چې نه کړاونه له خپلې لارې راوگرځاوه او نه زندانونو او زولنو! ما که خپل کلام کې د غريب مرسته کړې ده، نو ما دادي د حضرت عمر لاره خپله کړې ده، چې د يو عالم سړي په شکايت يې د مصر گورنه په ميدان کې ودراوه او هغه سړی ته يې گوږه په لاس کې ورکړه چې خپل بدل ترې واخلي. زما د وړاندې څو د اسلامي تاريخ بې شمېره مثالونه لکه د بل مثالونه موجود و، ما خپل کلام کې هغه بل مثالونه ستايلي دي، ما خو د خپل دين خبره کړې ده، ما خو د بل چا نظريه نه وه پيش کړې، زما وينا خو داده:

اې رحمانه څه کار دی خو ددين دی

نور کارونه بې وفا دی، بې اساس

په کار خو دا وه چې دې خلکو ماته د اسلام ترجمان ويلای وای او زه يې د دين د يو خادم په توگه ياد کړی وای، خو دې خلکو د خپل سره وترړلم، داسې ښکاري چې ددې خلکو په ما هغه اوچت مقام پيرزو نه و، ځکه يې زه له خپل مقام څخه راگوز کړم، د بابا په آوار کې د فرياد رنگ راځي:

" يا احلم الحاکمين دا خو په حکم شوی دی، زه ستا د لوی درنه انصاف غواړم"

د حق تعالی په جمال کې د شفقت رنگ ښکاره کېږي، فرمايي:

" زما بنده ستا رب څه پټ نه دی، ستا رب ته هر څه ښکاره دی، ته ووايه ستا جنت کې کوم مقام خوښ دی؟"

د رحمان بابا له خولې نه سبحان الله ربی الا علی نعره اوچتېږي او په دې کې د نور مخلوق آوازونه هم شامېلږي، خو بيا د زر د رحمان بابا د ځواب په مقابل کې خاموشي راځيو بابا عرض کوي:

" زما رب زما مالک!"

ما په دنيا کې ستا په حضور کې يو درخواست وړاندې کړی و، که اجازت وي، هغه درخواست به نن ستا په دربار کې پيش کړم. حق تعالی فرمايي:

" اجازت دی؟"

رحمان بابايوه شېبه خاموشه پاتې کېږي، په مخ يې د ايمان رڼا ښکاري او په سترگو کې يې د مينې او عقيدت

غورځنګونه لیدای شي، په داسې کیفیت په داسې جمال کې د (بابا) په خوله دا شعر راځي:

زه رحمان د محمد د درخاک روب یم

که مې نه کا خدای له دې دره جدا

میدان کې د حمد، درود، ثنا آوازونه بیا اوچتېږي او الله پاک علامه اقبال ته الله ج غږ کوي:

" محمداقبال ستا غوښتنه څه ده؟"

علامه اقبال یې په څواب کې وایي:

" زما رب زما مالک!"

ما ته خو وړاندط ستا ددر نه دومره څه را کړل شوي دي چې ماته پرې خپله جولې ډکه ښکاري، زه به نور څه نه غواړم او بیا د رحمان بابا هغه کیفیت د علام اقبال به مخ هم ښکاره کېږي او په داسې حال او کیفیت کې یې دا شعر په خوله راځي:

هر که عشق مصطفی سامان اوست

بحرو بر در گو شه و دامان ا وست

میدان کې یو ځل بیا د حمد، درود، ثنا وسلوه نغمې خورېږي، حق تعالی نه د غوښتنې په رنګ کې د غوښتنې په انداز خوښوي، و فرښتو ته حکم کوي چې زما دا دواړه بنده ګان بوځی، او جنت کې ورته هغه مقام ورکړئ، چې زما محبوب سره نږدې وي، تسبیح او تقدس په آوازونو کې څلور فرښتې را مخکې کېږي او په ډېر احترام رحمان بابا او اقبال د جنت په لور بیایي، د دواړو په سترګو کې د تشکر او مین اوښکې دي.

په مخ د ایمان او یقین نور دی، په ژبه یې د محبوب د حق ترانه چې الفاظ یې جدا او ژبه یې بدله ده؛ خو مفهوم یې یو دی، معنی یې یوه ده، رنګ یې یو دی، ښکلا یې یوه ده او روح یې یو دی:

چې غبار د ستا د لارې په خوا ورشي

که په دواړو سترګو ړوند وي مبصرشي

ستا د در ګدایان دواړه بادشان دی

خو چې ستا له دره ووځي در په درشي

تل يې مخ وي جا وتلی له عالمه

د هغو چې ستا په مخ باندې نظر شي

ائينه که د جمال کړې ورځرگنده

دا گدا رحمان به شه سکندر شي

اقبال:

ده دانايی سبل ختم الرسل، دانائی کل محبس يی

غبار راه کوغثاء فروع وا دی سينا

نگاه عشق و مستی ميی وهی او وهی آخر

وهی قرآن وهی فرقان وهی بسمن وهی طلحه[1]

د يونس مرحوم بيان کړی تاريخ دغه خبرې ډېر ځله، ډېر کرت د حضرت رحمان بابا د تولد ا و وفات په برخه کې راغلې وي، په خپله عبدالرحمان بابا ويلي وو چې:

د راز عمر مې حاصل شو له راستيه

لکه سروه مدام سبزو تازه پايم

دوستانو، استادانو او په ټېره زما ډېر ډېر نږدې دوست همصنفي استاد او نوراني کتاب لاربښود سر محقيق دوکتور سيدمحی الدين هاشمي لومړی ماته داسې لاربښوونې وکړې او بيا يې داسې خاص کتابونه،يادابښتونه، ديوانونه او معلومت راکړل چې زه د چا خبره له دې ځايه د خدای ج تر کوره ترې مشکور او ممنون يم. ما په دغو خاصو او ځانگړو نسخو، کتابونو.. کې کره او پوره پوره معلومات موندل.

خدای بښلي يونس تاريخ بيان کړی دی او هغه مرثيه ده چې د رحمان بابا د وفات په کال يې ويلې، زه به يې د اقتباس په صورت کې مهم ځايونه ترې واخلم.

د اروابناد يونس په ديوان کې يوه مرثيه ده چې د رحمان بابا په وفات ويل شوې ده، هغه کې د و وفات د تاريخ يو شعر دی چط په ابجدو کې په هغه کې حساب شوی دی او تاريخ يې په کې ويلی دی، هغه تاريخي شعر

---

[1]- طايزی، قمرزمان قمبر. ۲۰۰۵م. رحمان پوهنه، دربيم ټوک، پېښور: وحدت....

دادی:

له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه

چې له دې سرایه په نوی سرای مهمان شه

تاریخي مصرع:

چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه

۸+ ۳۵+ ۱۴+ ۲٦۷+ ۷+ ٦٦+ ۲۷۱+ ۱۳٦+ ۳۰۵+

د ابجدو حساب

د ابجدو حساب دادی:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| چې/ه | چ | ۳ | | ن | ۵۰ |
| | ه | ۵ | نوی | و | ٦ |
| له | ل | ۳۰ | | ی | ۱۰ |
| | ه | ۵ | | س | ٦۰ |
| دې | د | ۴ | سرای | ر | ۲۰۰ |
| | ی | ۹۰ | | ا | ۱ |
| | س | ٦۰ | | ی | ۱۰ |
| | ر | ۲۰۰ | | م | ۴۰ |
| سرایه | ا | ۱ | | ه | ۵ |
| | ی | ۱۰ | مهمان | م | ۴۰ |
| | ه | ۵ | | ا | ۱ |
| په | پ | ۲ | | ن | ۵۰ |
| | ه | ۵ | شه | ش | ۲۰۰ |
| | | ۳۴۰ | | ه | ۵ |
| | | | | | ۷۷۸ |

| اَبجد | هَوَز | حُطِی | کَلِمَن |
|---|---|---|---|

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اَ | ب | ج | د | هـ | و | ز | ج | ط | ی | ک | ل | م | ن |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ٦ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ | ۵۰ |

| سَعفص | قَرشَت | ثَخذ | ضطغ |
|---|---|---|---|

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| س | ع | ف | ص | ق | ر | ش | ت | ث | خ | ذ | ض | ط | غ |
| ٦۰ | ۷۰ | ۸۰ | ۹۰ | ۱۰۰ | ۲۰۰ | ۳۰۰ | ۴۰۰ | ۵۰۰ | ٦۰۰ | ۷۰۰ | ۸۰۰ | ۹۰۰ | ۱۰۰۰ |

د هر یو حرف یو عددي قیمت دی، چې ما د هندسو په صورت کې یعني د حساب په شکل ک د هر حرف لاندې لیکلي دي، نو اوس تاریخي مصرعه وګورئ؛ خو دا یاد په (ر) شمېرل کېږي، په ټوله مصرعه کې د (۲۷) حرفونه دي، د هر حرف مخ ته موږ د هغه عدد لیکلو او جمع کوو:

مصراع:

چې له دې سرایه په ۳۴۰

په نوی سرایه مهمان شه ۷۷۸ +

---

۱۱۱۸

ټول عدد یوولس سوه اتلس ( ۱۱۱۸) جوړ شو، نو د رحمان بابا د وفات کال(۱۱۱۸) هجري قمری دی چې د دوه کتابونو کې د تاریخ ثبت او درج دی، یوه "پټه خزانه" او بل د یونس خیبري دیوان دی، په پټه خزانه کې په هندسو یعنې حساب کې لیکل شوی دی او په دیوان د یونس خیبری کې په ابجدو حرفونو ضبط شوی دی.

(د الحاظ شریف احمد حنفي افغاني ( ۱۹۵۰م) مظلوم رحمان پېښورک د رحمان بابا دربار هزارخانه...۱۷مخ) کې راځي:

## ۳ – ۲ خواجه حافظ او عبدالرحمان بابا

د اسلام مبین او متبرک دین له ظهور او را بریدلو وروسته په غیر عربو (عجمو) کې د وحدت او یووالي روحیه را ژوندۍ شوه د دې لپاره چې زموږ د مبارک دین روحیه همدا وه.

د اسلامي دین د پنځېدلو، خوربېدو او پیاوړی کېدو ښکاره پیغام ملتونو ته د الله ج د واحد ذات د بنده‌ګي زېری

او د خلکو او د بشریت ترمنځ او همکارۍ په روحیه زیست او روزګار کول وو تر ټولو لا غوره او ښه خبره دا وه چې الهي آسماني کلام په عربي ژبه د نړۍ ټولو خلکو ته ورسېده او د خورېدو او سراسري کېدو لپاره یې بنیادي هلې ځلې د عقیدې او باور له مخې په عربو او عجمو کې پیل شوي او کابو په ټول بشري نړۍ کې خورې ورې شوي

له دې سره سره عربي ژبه د ټولو مسلمانانو د باورونو او آن تدریس ژبه وګرځېده، له هغه را پدېخوا د ټولو مسلمانانو ماشومان خپلې ابتدایي زده کړې له عربي الفبې (قاعده بغدادي) څخه را پیلوي.

زما هدف له پورته خبرو دا دی چې آریایي ژبو په تېره پښتو او دري د خویندو په توګه د خپل ژوند له پیله بیا تر له اوسه سره نږدې اوږه په اوږه کلی په کلي، په یوه مسجد او جومات کې ژوند تېر کړی او د دغو ژبو ویونکو او د ټولنې بیلابېلو اصنافو په یوه دسترخوان ډوډۍ خوړلې ده سره دوستی او خپلوۍ لري او همدا اوس د پښتنو په کورونو کې پلرونه او میندې پښتو وایي او اولاد یې فارسي او کېدای شي د ژوند په ټولو برخو کې سره ډېر نږدې او یو ځای وي او لکه نوک او اوری انګشت او ناخون سره بیلیدلای نشي. د سیاست د نامرد طوفان غمجنې څپې به یې کله نا کله د مینې او محبت او یووالي د محبت هار نه سره لرې کوي خو ګوره چې اوبه په ډانګ نه بېلېږي او که هر څومره خدای مه کړه سره بد هم شي نو باید دا متل له نظره ونه غورځوي چې نه دې ترې رغېږي، نو بیا لس ځله سلام ور واچوه.

نه یوازې عربي فارسي دي پښتو او ورسره هندي او نوري آریایي ژبې له اقتصادي، سیاسي او اجتماعي پلوه سره اړیکې لري، بلکې کلتوري او فرهنګي روابط یې لا هر اړخیز او پراخه دی. له همدې امله په تېرو پېړیو او هغه هم په بېلابېلو پړاوونو کې د ادب په پراخه او ښېرازه ډګر کې بدلونونه راغلي او له دې سره سره یو پر بل یې اغېز درلودي دي.

دري او بیا پښتو ادب له دویمې هجري قمري پېړۍ را پدېخوا په ادبي او فرهنګي ډګرونو کې آثار لري، د دغو اثارو پنځیده که په پیل کې طبیعي او عرفي لوری درلوود، خو په لږه موده کې فارسي – دري او پښتو ادب له عربي ژبې او آثارو څخه اغیز وموند، د ري ادب په پراخه توګه دغو نویزونو ته غیږ پرانیسته او آن تر دې چې په پښتو ادب یې هم تاثیرات پریوتل، لکه قصیده، غزل، مثنوي او نور شعري ډولونه فورمونه ادبي ډګر کې په ادبي غوملې باندې د شاعرانو له خوا میلمه شول. ورسره ورسره په دواړو ژبو کې ترجمې هم وشوې او له نیکه مرغه پښتو ادب کې خو دغه نوښت او ابتکار خدای ښښلی (هاشم سرواني) د لومړي ځل لپاره وکړ او په پښتو ادب کې یې له نورو ژبو په تېره عربي ژبې څخه ژباړه وکړه چې هغه مهال یې په خراسان زمین کې لومړی ترجمه بللای شو.

همداسې دري ادب د ولسي شعر ترمنځ د عربي ژبې ادبي او ازان هم په ديواني شاعرۍ کې ومنل د دې لپاره چې په دري ادب کې فرهنگي برياوې ډېرې شوې او دري ژبو په يوه هيواد او جغرافيوي موقيت کې له پښتنو او نورو قومونو سره يوځای ژوند کاوه، د عقيدې او باورونو ژبه يې هم عربي وه او ټولو د اسلام تر احد چت لاندې د يوه خدای بنده‌گي کوله او کوي يې، هرو مرو د دوی فارسي دري ژبو کلتور، فکر، ژبې او ټولنيزو مناسباتو په پښتنو هم لاس په لاس اغېز کاوه او دغه اغېز د شعر او شاعرۍ او په عمومي ډول ادبي ډگر کې ډېر تر سترگو کېږي.

په دري ښېرازه ادب کې فرخي سيستاني، روده کې، ثنائي، حنظله بادغيسي، حافظ، کليم، بيدل، صائيب او حضرت مولانا او نورو غونډې ډېر عالمان، اديبان او شاعران زموږ د هيواد په شاوخوا سيمو او هيوادو په مختلفو برخو کې رامنځته شول چې تر څنگ يې په پښتو ادب کې امير کروړ هاشم سارواني، اسعتد سوري ښکارندوی غوري، اکبر زمينداوري، پير روښان، خوشحال خان، افضل خان خټک، حضرت عبدالرحمن بابا، حميد مومند او بالاخره حمزه شينواري او نور ژوند کړی او کوي يې، چې هرو مرو په ادبي ډگر کې يې د دري ادب له دور او ملغرو ډېره گټه پورته کړې ده. د خالق احسان دی چې پښتانه ليکوال، شاعران او آن عادي پښتانه د خپل فطري استعداد له مخې په دري ژبه او ادب ډېر ښه پوهېدل او پوهېږي، مطالعې يې کړې او د عربي ژبې او قران کريم تر څنگ دري ژبه او ادب هم خپل گڼي او پراخه علمي را اخيستي يې په پخوا او اوس کې ترې کړې دي. عبدالرحمان بابا د دين د يو عالم، فقي پوه، عارف، صوفي او فوق العاده ټولنيز شخصيت په توگه د دين د کتابونو تر څنگ دري، هندي، سندي ادبيات هم مطالعه کړي دي او په دې منځ کې د فارسي دري ژبې له ډېر نامتو شاعر، علم دوست، ديندار، رند صوفي او عارف حضرت حافظ شيرازي له شعرونه هم پوره پوره بهر وړې او د خپلو افکارو د رنگينۍ په خاطر يې مطالعه کړې او په خپله بلبل واره ژبه يې په شعرونو کې د حافظ روح الله له افکارو استفاده کړې ده.

ما په دغه مقاله کې لومړی د حافظ انو عبدالرحمان بابا اشعار مطالعه کړې، د دوی د شعرونو ترمنځ مې ورته‌والی او مشابهتونو ته اشاره کړې ده، خو څرنگه چې حافظ شيرازي د زمانې له پلوه په عيدالرحمن بابا باندې لومړی دی، نو هرو مرو د عبدالرحمن بابا په شعر د اروابناد حافظ شيرازي رح د شعر اغېز ډېرې دي، ځکه چې رحمن بابا فارسي – دري ادب هم پوره کړی دی او په پوره ډول د فارسي دري ادب اغېزې ورباندې ډېرې دي.

متن: دلته به د دوی د آثارو (اشعارو) له مخې د دوی افکار مطالعه کړو.

**حافظ روح الله:**

در ازل حسنت تجلی دم زد

عشق پیدا شد و آتش به همه عالم زد

ستا د حسن د تعریف له برکته

د رحمن د شعر کوکې په عالم دی

سره له دې چې حافظ او عبدالرحمان بابا په یوه زماني پیر کې ژوند نه کوي، خو عبدالرحمن د حافظ له شعره ډېر متاثره او اغېزمن ښکاري، له بلې خوا د افکارو مشابهت یې هم فیر طیعي بڼه نه لري، ځکه دواړه لوی شاعران دي او عارف مسلمانان دي، له همدې امله یې به کلام کې ډېر ډېر ورته‌والی او مشابهت لیدل کېږي، خو عبدالرحمن دغه فکري ورته‌والی او اغېز په خپله معجز آساژ به او بیل بیل انداز کې کوي. کېدای شي دغه اغېز د وختونو د دنیی عرفاني، تصوفي، فکري او خراساني عمومي مفکورې له مخې هم وي.

خدای بښلی خواجه حافظ، چې ا صلي نوم یې خواجه شمس الدین محمد متخلص په حافظ دی، د ایران او نړۍ تر ټولو ستر غزل گو شاعر دی، نوموړی په (شمس الملت و الدین» باندې هم معروف دی.

محمد الحافظ الشیرازي چې د پلار نوم یې بها الدین علی الرسم و، د ۷۲۷ هـ ق کال یا شپږمې هجري پېړۍ په شاوخوا کې په شیراز، کارزون یایزد کې زیږېدلی دی، د پلار له مرگه وروسته یې ټول وروڼه سره بیل شول، خو د دې لپاره چې شمس الدین محمد وړوکی و، له مور سره په شیراز کې پاتې شو او په ډېره سختۍ یې ژوند تېراوه، له دې امله همدا چې حافظ زلمیتوب ته ورسېده په نانوایي کې شاگرد شو، خو د زده‌کړې او علم کولو شوق یې ډېر و، دغې مینې هغه ښوونځي ته ور وباله او په دې ډول یې په فکري ژوند کې بدلون راغی او د علم د طالبانو په جرگه کې ور گډ شو، له عالمانو سره یې درس ولوسته او د هغوی له خبرو متاثره شو، دیني کتابونه د هغو له جملې کشاف زمخشري، مطالع القطار، قاضي بیضاوي او مفتاح العلوم سکاکي یې ولوستل.

حافظ د خپل وخت دوه ډوله (شرعي او ادبي) علوم له قوام الدین څخه زده‌کړه او د قران کریم حفظ او زده‌کړه یې په ۱۴ ډوله قرائت سره زده‌کړه او د چا خبره (بلل زړه وخوړ او گل یې ترلاسه کړ.) ۱: ۵، ٦)

د پټې خزانې په قول عبدالرحمن بابا د پېښور په بهادر کلي کې د عبدلستار مومند کره په (۱۰۴۲) هـ ق کال وزیږېد. عبدالحلم اثر د ښاغلي میر عبدالصمد خان له قوله (۱۰۴۰ هـ، ق بولي. (۲: پنځم)

او د دوست محمد کامل د نویو څېړنو په استناد ۱۰۴۲ گڼي. تر ۱۱۳۰ پورې کړي چې ټول عمر یې ٦۲ یا ٦۳ کاله کېږي.

په دې حساب د دوی د عمر فاصله او واټن د هجري قمري په ترتیب ۲۰۷ کاله یا دوه پېړۍ او څو کاله زیات دی یعنې حافظ روح الله له عبدالرحمن بابا څخه دمخه پیدا شوی، خو د افکارو دور فشانه وړانګه یې د رحمان بابا تر وخته لا په شدت او زور کې خورې شوې او لا خورېږي.

لومړی: ګورو، حافظ او رحمن بابا دواړه غزل بول شاعران وو، چې د غزل په قالب یې د خپلو افکارو ملغلرې په پوره مهارت امیل کړې دي، لکه:

۱ – حافظ:

صلاح کار کجاو ممن خراب کجا

ببین تفاوت ره از کجاست تا به کجا

چه نسبت است برندی صلاح و تقوی را

سماع و خط کجا، نغمه رباب کجا

دلم زصوصه بگرفت و خرقه سالوس

کجاست دیر مغان و شراب ناب کجاست

مبین به سیب زنخدان که چاه در از است

کجاهمی روی ایدل بدین شتاب کجا

**۲ – عبدالرحمن بابا:**

په تندي چې آتش بل کړه مدام شمع

ځکه بیا مونده له خلکو اکرام شمع

په انوار یې منور اهل ابصار شو

لا به کله شي ښکاره د انعام شمع

پتنګان دې لور تر لور ترمخ څرخېږي

ځکه نه کوي په سول کې آرام شمع

وسیزه ته ځان زما په شغله باندې

کړه پتنگ ته په رموز کې کلام شمع

ستا مجلس د خاصو خاصو سرفرازو

د رحمن په څیر نه مومي هر عام شمع

دوست محمد کامل مومند وايي: په فارسي غزل کې چې کومه خوږه او مزه‌ناکه ژبه حافظ لري، رحمان بابا يې په پښتو کې لرونکی دی، لکه چې د خارجي او داخلي شهادتونو ښکاره ده: رحمان بابا يو لوستی او ښه عالم سړی و، له ديوانه يې فارسي ژبې سره علاقه د ښه واقعيت اندازه معلوموي.

عشق: خواجه حافظ او رحمن بابا دواړه عاشقن او صوفيان، دواړه د ښه واقعيت اندازه معلوموي.

حافظ په خالصه میمنه باور لري او زړه د عشق ټاټوبی بولي.

هر دل که زعشق توست خالي

از حلقه وصل تو برون باد

حافظ هر آن که عشق نه ورزیده و وصل خواست

احرام طواف کعبه دل بی وضوببست

او بيا وايي، عاشق بايد عاشقي آداب او فنون زده کړي، حافظ وايي څوک چې وصال غواړي بايد هنرمند ويا ود سيرو سلوک ټول ظرافتونه وپوهېږی.

گرد رسرت هوای وصال است حافظان

باید که خاک در گه اهل هنر شوی

قلندران حقیقت به نیم جونخرند

قبای اطلس آن که از هنر عاری است

رحمان بابا:

بلبلان که له گلزاره مومي خظ

مشتاقان له خپله یاره مومي خظ

زه د عشق له تاوده اوره بهرمند یم

سمندر له سره انگاره مومي خظ

یا:

حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی

په حلالو کې مدام وي احترام

حافظ: په ډېرې سوزناکې طریقې او عجیبه انداز کې د عشق سوزند حالت د سړي مخ ته ږدي او وووایي که عاشق غواړي، چې د عشق راز، د زړه درد او سوی، جوش او ولوله ځرگنده کړي او په دا رنگ د خپلو جذباتو تسکین کوي، نو مینه او شوق، د قلم په ژبه نه بیانوي.

قلم را آن زبان نبود که سر عش گوید باز

ورانی حد تقریر است شرح آرزو مندی

رحمن: ذوق او د ناکامۍ اظهار په خپله ژبه، خپل طرز خو په ډېره سوزنده او سوزناکه طریقه داسې کوي.

د عشق راز چې هېچا نه دی بیان کړی

تروبه څه له بې بیانه وایم څه

زه رحمن د یار ثنا کولای نه شم

کاشکې نه وای په جهان کې څه گویازه

ستا د حسن په صفت کې

رحمان گونگ شه له ادبه

د خواجه حافظ محبوب ښکاره او برالا دی، خو د ښایست پلوشو یې د عاشق د سترگو نظر تېرو بیر کړی دی، لکه د ښیښې حیران پاتې دی او له دې حیرانۍ هک پک پاتې دی او د محبوب د څېرې د لیدلو لپره افسوس کوي.

برين دوديده حيرن من هزار افسوس

که يادو آينه روش عيان نمی بينم

دغه خيال رحمان بابا په ښکلي لفظي اختلاف بيانوی، په وصال کې د فراق په کام کې د ناکامۍ د عاشق د قابل رحم  حالت په مراد کې د هغه د نامردۍ نقشه دواړو عظيمو فنکارانو په شان په موثره توګه ښکلې کړې ده.

رحمان:

که د ستا په مخ کې بوی د حجاب نشته

زه له ډېرې ځلې وايم چې نهان دی

طاوس رنګې زلفې چادې سمې کړې

چې هر موی یې په خو رنګه په څو شان دی

نور د شمع په فانوس کله پټېږي

عشق د عقل په پرده کې نمايان دی

عشق او انسانيت

دواړه حافظ او رحمان بابا د عشق او انسانيت لوړ مقام په څومره اثرناک انداز کې بيانوی.

د يار ښکلی روښانه مخ پلوشې وکړې، فرشتو وليدلې، خو د عشق جذبه يې نه لرله، له غيرته آن لمبه شو او انسان په خپل اور کې وسو.

حافظ:

جلوه کر در رخش ديد ملک عشق نداشت

عين آتش شد ازين غيرت و برم آدم زد

رحمان بابا:

مرتبه که ستا د عشق شي ور څرګنده

ملایک به واړه وایي چې بشر وي

کامل مومند نظر لري: که د جذبې او بیان د شدت او زور او له حسنه او د اثر پذیرۍ له امله د عشق د زبردست قوت او گرفت له وریه د حافظ شعر هر چاته د ځواب چلنج ورکوی، نو د جذبې د لطافت او د بیان د ښکلې ښایسته پیرایې له پلوه د بابا شعر هم شاهکار دی.

زما په نظر (زغم) د حافظ په شعر کې فنکارۍ زور او د رحمان بابا په شعر د لطافت قوت ډېر دی، مگر که بیا هم زیر شو حقیقت دا دی، چې دواړه صفتونه په دواړو شعرونو کې هم گډ او مشترک دي، دلته د دوی دا اشعارو د قوت، د بیان ښیوې، روانوالی او بې شانه گټورتوب په برخه کې مثالونه راوړو:

حافظ:

زعشق ناتما ما جمال یار مستغني است

باب و رنگ و خال و خط و حاجت روی زیبارا

رحمان بابا:

مخ دي بې خط او بې حاله هسې زیب کا

چې یې هیڅ حاجت د خط و د خال نشته

### ۳ - ۳ د حمیدبابا ځواب رحمان بابا ته

خو څنګه چې عیسی خان او د هغه ډله د حمیدبابا د قوم خلک وو، حمیدبابا ته چې د رحمان بابا دا قصیده ورسیده، نو د خپل قام طرفداري وکړه او حمیدبابا هم په دې واقعه ځوابي قصیده ولیکله چې یو څو شعرونه یې په دې ډول دي:

هر سردار چې د خپل قام د بدو خیال کا
آئینه دې د خپل ځان حال ته جمال کا

پریکوي تر خپلو پښو لاندې ښاخونه
چې پدې د غزیزانو په زړه نال کا

چې له خپلو لاسو پښو شي بې مجاله
له علیم سره به جنګ په کوم مال کا

په پردومېړانه نه کېږي بې خپلو
له لحده دا آواز جمال جلال کا

له زرګونه برى نشي وړی لسګونه
مګر خامخا یې فتح ذولجلال کا

نا لایق چې لیاقت په هینده غواړي
د بریښنا په رڼا ستن پېیي جنجال کا

هم دا سې نتیجه په لاس ور درومي
چې د ښو په بدله کې څ وک ناخوال کا

نه نیکي په ناکسانو څرګندېږي
نه په پټ باندې اشر آب ذلال کا

لکه لوی کړی لیوبچه درباندې ترپلي

حال زموږ او د جمال هم دا مثال کا

لکه گرم چې په حُسن حُسین یزد وو

هسې گرم په موږ جمال دی که څوک سوال کا

ناخبر له حاله هر چه وایي ښایي

خبردار مدام په عذر قیل و قال کا

خو بدنام په دا جمال خدای ندریږي که

گڼه هره چار په خلکو خپل اعمال کا

دا دودونه ددې دور دي حمیده

یو د بل په مرگ ملال کړي بل خوشحال کا

حمیدبابا وایي، چې:

جمال خان سردار او ارباب د مغلو وو، خپل خپل یې کمزوری او لږ یعنې سلگونه ته رسېده، خو د بردیو یعنې مغلو په مېړانه یې خپل قام یعنې (مومند) وهل، د اربابۍ لایق هم نه و د خپل خېل د کموالی په وجه بلکې عیسی خان د اربابۍ لایق و، چې په زرگونه خپل او قام یې وو.

زموږ ورسره نیکي وه، چې موږ هم دوی په خبلې اربابۍ منلي وو، مگر ده زموږ د مېنو پر ځای له موږه سره بد وکړه، نو وایي نتیجه دا شوه، چې په کومو مغلو نازیده هغوی ورسره مېړانه و نه کړه، نو اوس د لحد نه دا آواز کوي چې په " پردو مېړانه نه کېږي، بې خپلو".

رحمان بابا چې ویلي و چې د حسن، حسین د غزا په شان د جمال خان ټول خاندان هم ووژل شو، جمیدبابا د هغه ځواب وکړ چې څنگه یزید په حسن او حسین ملامت او گرم و داسې جمال خان په موږ گرم او ملامت دی، خو ناخبر له حاله یعنې رحمان بابا چې هر څه وایي خبر دی، اگر حمیدبابا د مغلو مخالف وو خو اوس مې د مغلو مخالفت کې دېر په ښکاره ځکه څه ونه ویلي چې د مشرخان یې یعنې عیسی خان ورسره جوړه کړې وه.

## ۳ – ۴ عبدالقادرخان قصیده

ظاهره ده، چې داسې ښېښې ډېر ژر په تېزۍ ډېرو لرې ځايونو ته ډېر ژر ژر رسېږي نو کله چې عبدالقادر خان خټ: ته دا واقعه او په واقعه باندې د دوو شاعرانو قصيدې ورسېدې؛ نو د حکومت مخالفت په وجه يې ډېره خوشحالي ورباندې ښکاره کړه، قصيده ووېله چې د حميدبابا د خيا تائيد شوه، که دا خلک مظلومان وو او د مومند د لښکرو د مظلومانو مدد کړی دی، ظالمان يې وژلي دي، د قصدې يو څو بيتونه په لاندې ډول راوړم:

دا کارونه چې نن کاندي عياني دي

هېڅ پخوا به خاطر نه وو آسماني دي

نن تسليم د پېښور لوری راغی

څو خبرې يې راته کړې زباني دي

چې نن شپه مهمندو وهلې تورې

چې وهلې نه افغان نه توراني دي

ليندو غږ به غشوه کړه که ستاد کاښې

په سرتور تورې وهي جمال خاني دي

چې لښکرې د مظلومو اعانت کا

خدای يې مل شه دا لښکري رحماني دي

لاله زار يې شگفته پر سر اهاړ

هرو چې دا بهار نه گوري زنداني دي

يگانه زلميو غږ و بله وکړه

چې وهه فلاني وهه هندوستاني دي

همېشه پښتون مهمندو دی دروند کړی

که سبب يې د صفت ميرافغاني دي

د مغلو له دې لښکرو پروامه کړه

اتفاق يې سره نشته ځارځاني دي

په قسم يې مبدا چې باور وکړې

سوګندونه يې دامونه شيطاني دي

له بادشاه و شهزاده ګانو ته وسواس دی

اخته شوی دوی په جنګ سلطاني دي

نه له چا يې طمعهشي نه له چا وېره

څه خبرې رښتيا کړې کرلاڼي دي[1]

نوره تبصيره نه کوم، خبرې اوږدېږي؛ خو رحمان بابا حق ويلی دي چې عيسی خان او ډلې يې ظلم کړی دی، اسلام کې يې شکه قصاص او بدل اخيستل جايز دی، مګر پّ اور سوزل د ماشومانو، ښځو، بوډاګانو يا د نورو انسانانو. کوم اسلام دی د محمد ص اسلام خو نه دی، ځکه چې هغوی صلی الله عليه وسلم خو به د کافرانو د قتل عام او د مالونو د سوزولونه صحابه کرام منع کول، دا خو لا بيا هم مسلمان وو کافران نه وو، اګر چې حميدبابا به د هغه ظالم نه ناخبره دی، کوم چې جمال خان په خپلې اربابۍ کې په عيسی خان او د هغه په قام کړی دی چې د خپلو کورونو نه يې ويستلي دی، خو رحمان بابا ډېر خبردار شخصيت دی، هم د شريعت نه او هم د طريقت نه ځکه چې په اور سوزول، خو يې په هېڅ کتاب هم جايز نه و، هغوی به يې هم له کوره ايستلی وای.

عبدالقادر خان خټک ځکه به دې واقعه خوشحالي ښکاره کړه چې هغه د مغلو او د مغلو د ملګرو به تباهۍ او ذلت خوشحاليده او جمال د مغلو خپل سره او ارباب وو، لکه څنګه چې ددې عبارت نه ښکاره ده چې وهه فلانی وهه، هندوستانۍ دې د مغلو ارباب ته يې هم د مغلو په شان هندوستان ويلی دی [2]

### ۳ – ۵ د اخون ګدا حواله

چا لا د رحمان بابا د پيدايش کال( ۱۰۸۱هـ) او د وفات کال يې (۱۱٦۳هـ) ښوولی دی او د اخوند ګدا او نافع المسلمين حواله يې ورکړې ده، چې غلطه ده او رحمان بابا د کتاب په داخل کې هغه شهادت رد کوي، نوراني بې ځايه اختيار کړی دی چې د قايم قايم سردار تاريخ يې د رحمان بابا تاريخ د وفات ګڼلی دی، نو ددې غلطۍ

---

[1]- (حديقه، عبدالقادر. ۲۰)

[2]- الحافظ شريف احمد حنفي افغاني، مظلوم رحمان په (۲۹مخ کط) راوړی دي. (۳۰)

په حوالې د غلطۍ ثابتولو هېڅ ضرورت نشته، اخوندگدا ښه په ډاگه ویلی دي چې ( بلغ القلی) حوالی د غلطۍ ثابتولو هېڅ ضرورت نشته، اخوند گدا ښه د نافع المسلمین د قصیدې په څو اشعارو وگورئ:

د قایم په مرگ تمام عالم زهیر دی

چې سردار د پښتنو له دې جهان لاړ

وایي واړه د خپل مرگ نه نزدیکت وو

چې په نخونو د بخششي غوندې شیطان لاړ

محمود ډېر کبرکاوه په څوکۍ بد وو

دا جل غشی یې څکه په دهان لاړ

نه یوازې قام لاړ شه له دنیا نه

هغه ځای ورسره واړه خاندان لاړ

د تاریخ حساب بلغ العلی دی

له دینا په دا تاریخ بلند مکان لاړ

دا په دا احوال پوښتنه مه کړه

توان توفیق یې د یارانو په هجران لاړ

زه گدا یې په خپل ځای باندې قایم کړم

له جهانه چې شاعر عبدالرحمان لاړ[1]

د داسې مجتهدینو د اجتهادنه د پخوانو کتابونو پیروي ډېره غوره ده چې د بلغ العلی حساب یې هم غلط لگولی دی، ( ۱۱۷۳) جوړېږي. ده ترې (۱۱٦۳هـ) جوړ کړی دی ددې عدد په کط نهدی شمار کړی او د بلغ العلی لفظ کې یې ښکاره لفظي تحریف کړی دی:

زاجتها د ملایان کم نظرا

---

[1]- نافع المسلیمن ۳۰۰۰

اقتدا بریيشنيان اول اشر(۳۰)

مظلوم رحمان په ۳۱ مخ کې راځي:

### ۳ – ٦ رحمان بابا د خوشحال خان معاصر دی

رحمان بابا د خوشحال خان هم عصر دی، د دوی په دیوانونو کې د دواړو یو په بل باندې آوازونه او غږونه موجود دي او دخوشحال د پیدایش کال (۱۰۲۲هـ) دی د وفات کال یې (۱۱۰۰هـ) دی فقط شکل کاله خوشحال خان د رحمان بابا نه مشر دی یعنې رحمان بابا په (۱۰۴۲هـ) کې پیدا شوی و نو ځکه یې خوشحال خان د خپل دور په شاعرانو کې شمېرلی او داسې وایي:

چې لاف وهي د شعر

په دا دور کې دي ډېر

خدای دې نه کا چې به وایم

حال د دو تېر او بیر

حوک پاوی، څو نیم پاوي دي

قلندر به کې نیم سیر

چې زموږه په حساب دي

هېڅ مې نه دی اصل هېر

بل دولت فقیر درې پاوه

زه ترې څو سر شاهی تېر

پس له قرنه به پیدا شي

په سرای کې پوره سیر

په ارمغان خوشحال، کال ۷۰۳مخ کې راځي:

خوشحال خان د ټولو شاعرانو نه اول رحمان بابا د خپل دوره به شاعرانو کې حسابوي په درېیم شعر کې د خوشحال خان مراد قلندر نه رحمان بابا دی ځکه چط رحمان بابا په هم ځان ته قلندر او ملنګ د کسر نفسي او

عاجزۍ د پاره وايه، ځکه چې طريقه يې قلندري وه او قلندر افريدی د خوشحال خان په وخت کې لا پيدا شوی هم نه وو.

دريا خرقه يې خدای مه کړه پرغاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندردی

يا هم:

تشې د خانانو د ملنگو سره کلي
چېرته عزيزخان چېرته ملنگ عبدالرحمان

**۳ – ۷ هجري او بابا**

د مظلوم رحمان کتاب په (۳۲) مخ کې راځي:

د خوشحال خان مشر زوی اشرف خان هجري[۱] يې د خپل دور په ښو شاعرانو کې ټولو شاعرانو نه اول نوم اخلي او د قلندر لفظ ورت هم استعمالوي وګورئ د هجري محروم کلام:

که څوک ښه شاعران غواړي په دا دور
که دوه درې کس دګر يو قلندر دی
خوږ زبان په زماني شکرې نولې
هغه واف چې مستقر يې پېښور دی
د رحمان په ويل ځای د لقب نشته
چې يې ما شعر قبول کړو معبر دی

نو کله چې رحمان بابا ته د خوشحال خان دا مصرع ورسېده چې قلندر په کې نيم کړی، نو رحمان بابا د يوه غزل په سر کې داسې وويل:

[۱]- اشرف خان هجري د خوشحال خان مشر زوی و، اشرف خان هجري په ۱۰۴۴هـ) پيدا شوی او په (۱۱۰٦هـ) وفات شوی دی الله دې وبښي.

خوشحال او دولت چې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګير يم

خوشحال خان يو بل غزل کې په مقطع کې د رحمان بابا په باره کې داسې وايي:

سل سړبني دې سر دا يو غزل زاريږه

نن چې دا پښتو ده کرلاڼي خوشحال وئيلی

رحمان بابا يې بيا په ځواب کې وايي:

يو خوشحال يو کم سل خټک نور په طبيعت کې

زار شه د رحمان سړبڼي له يوه فر ده

په دې ډول توري زور ازمائي شوي دي او دېرې دی او يو د بل په زمينه کې يې شعر و نه وئيلی دی، د بيان د اوږديدو لپاره ترې ډه ډه کوم، پّ اول کې د خوشحال خان او رحمان بابا د يو بل د کم ښوولو او پريشانولو لپاره له شعري رواني رټنې لاس واخيست او د يو بل هنري او شخصي وقار او حيسيت ته يې درنښت وکړ او د رحمان بابا توکل او قناعت صفت يې وکه او داسې يې وويل:

چې يې خوښه عقيده د قلندر شوه

خدای به نه کا خوشحال عقيده نوره( ارمغان خوشحال)

د همدارنګه د خوشحال خان نامتو زوی او لوړې درجې شاعر عبدالقادر خان چې په ( ۱۰٦۳هـ) پيدا شوی دی او پّ کال (۱۱۲۵هـ) وفات شوی دي، د حضرت عبدالرحمان بابا نوم داسې اخلي:

زه خټک د يار په غم تازه تازه شوم

غورياخېل رحمان که شعر ورځني سترِی[1]

**۳ -۸ د رحمان بابا او خوشحال خان شاعرانه مقابلې**

رحمان بابا دنيا ترک کړی وه، فقيري او ملنګي يې اختيار کړې وه خو داسې داسې د ننګۍ او بې شرمۍ فقيري

[1]- ( حديقه عبدالقادر خان)

او ملنگي نه وه چې نن سبا يې موږه شاهدي کوو:

حضرت عبدالرحمان بابا لکه زموږ سرت او باقناعته، مستغني پيغمبر عليه السلام فقر له استغنا سره منل و، ځکه يې ويل: الفقر فخري، فقر وياړ دی يعنې د الله رسول مقبول د دنيا له شتمنۍ و، باقناعت و، مبارز و، منفرک و، او داخلاقو او ښېګڼو دلارو جوړلو لپاره يې له افاره نفس سره مبارزه کوله، نو رحمان بابا هم د خپل ګران رهبر خضرت پيغمبر ص په قدمونه پل کېښوده او د قناعت توانګرۍ توره يې تل جلا داره ساتله، ځکه يې ويل:

اماره نفس:

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی

پټ درست جهان بادشاه، ظاهر ګدا يم

قناعت؛ نه زړيدونکی صبر دی، قناعت؛ به سختيو کې صبر او شکر کول دي، صبر يو مقام دی.

قرانکريم د صابر، صادقان، استغفارکوونکو او....درجه او مقام ډېر لوړ ګڼي...." الصابرين و الصادقين والمستغفرين و القاتين".

**۳ – ۹ د اشرف خان هجري او خوشحال خان اختلاف**

کله چې هجري رحمان بابا ته د پېښور بلبل خوږ ژبان د تنقيد نه بالاتر او معبر تر وويلي او د ميرزاخان انصاري په باره کې يې وويل چې له هر يوه نه بې ګومې وړی دی، د واصل په باره کې يې ووي چې ماته د هغه څه معلومات نشته په داسې حال کې چې د خوشحال خان د هغه يعنې د واصل د خپل ځان برابر کړی وو:

چې زمونږه په حساب دي

هېڅ مې نه دی واصل هېر

هجري، ارزاني او دولت ته يې هم د خپل دور بلبلان ويلي وو، نو دا ټولې خبرې يې د خوشحال خان د رايې او فکر نه خلاف وې، ځکه د خوشحال غوصه د ( مظلوم رحمان) د کتاب د ليکوال په اعتبار انتها او آخرته رسېدلې وه بيا په ټېره د رحمان بابا په باره کې، ځکه خوشحال خان خو به کړی تنقيد کاوه او د بابا شعر ته به يې غلا وايه او هجري د تنقيد نه بالاتر ګاڼّ، نو ددې مطلب دا شو چې د خوشحال خان د تنقيد غلط د زوی او پلار اختلاف پيدا شو، نو خوشحال خان په يو غزل کې د هماغه کال يعنې (۱۰۸۱هـ) په اوايلو کې ځواب ورکړ په داسې حال کې له کوره هم وتلی او مسافر شوی وو، رياست او مشري يې د خټکو هجري ته سپارې وه.

نو هجر يته يې د بيمار وويلي، چې خوشامه يعنې د رحمان بابا شعر ورته د عندليب يعنې د بلبل آړواز ښکاري او هلک يې ورته وويلی چې عقل مند نه دی ځکه يې په هلکو يعنې رحمان بابا مينه ده او د ريالست او مشرۍ ورکولو کوم احسان چې يې ورسره کړی و، هغه يې هم ورته ياد کړ د هغه غزل يو څو اشعار لاندې ذکر کېږي:

**په هجري د خوشحال خان تنقيد**

د خپل بېمار مې حواله کړ په نصيب

ورته زهر شوې ګولې د طبيب

بر آمد ورباندې صوت د عذاب شو

خوشامه ورته آواز د عندليب

د پخو په حال په حال اومه کله خبرېږي

د مقيم په حال خبر نه دی غريب

د هلک مينه به چا وي په هلکو

د لبيب مينه په چا وي په لبيب

په زرګونو مې دنيا و هر چا ورکړه

په جهان کې پيدا نه شو يو حبيب

د خوشحال ختټک په کار په حساب نه دي

په هر ځای، په هر ديار کړی رقيب

ضروري ټکي:

ارمغان خوشحال ( ۳۲۳مخ) کې دې خبرې ته شاره کېږي چې:" بر امد د شاعرانو او صوفيانو په اصلاح کې هغه خيالاتو ته وايي چې د سيلاب په شان په خپله راځي، دې ته آمد هم وايي".

خوشامد هغه خيالاتو ته وئيل کېږي چې د شاعر يا سالک يې په خپل په تکليف راولي؛ دې ته آورد يا خوشامد وايي. خان صاحب د حنفي افغاني د ( مظلوم رحمان) ليکوال په وينا، خپل شعر ته برامد او د بابا شعر ته خوشامد دی او د خان صاحب په نزد بد آمد له خوشامد نه بهتر دی، نو ځکه وايي چې هجري د رحمان بابا ته چې شعر يې خوشامد دی، د پېښور رواف او بلبل وايي، شعر يې ورته د بلبل ښه آواز ښکاري او زما ظعر چې در آمدي قارغه د آواز غوندې پرې لګي ګر چې هرجي خو خپل و خوشحال خان ته قارغه نه و ويلی بلکې بادشاه او باز يې ورته ويلی و، مګر خان صاحب د هجري هغه اختلاف چې خان صاحب د رايې نه يې کړی و، کومه په چې خان صاحب د شاعرانو په باره کې په خپلو اشعارو کې ښکاره کړې وه، خان صاحب د هغه اختلاف نه دا نتيجه ووايسته چې زما دا شعار چې هجري يې نه مني، د قارغه د آواز غوندې پرې لګېدلی دی، بله دا چې زما مخالف او حريف ته واف يعنې بلبل وايي، نو زه به ورته قارغه ښ:ارم او دا شعار يې ورته ظرافت او ټوکو شمار کړل:

اولاً به د استاد له حاله وايم

چې يې شعر جهانګير لکه قمر دی

ټول يې وسپاره په ما سرير د نظم

هغه لمر چې نن د خاورو په بستر دی

يعنې د رياست او مشري د نظم او سبق سريز يې ماته وسپاره او د مسافرۍ او غربت په وجه د هغه شعر و شاعر د لمر بستره نن په خاورو پرته ده، ښکاره خبره ده چې په سفر کې د مسافرانو دغه حال وي، نو چا چې دا ليکلي دي چې هجري دا اشعار د هند په جيل خانه کې ويلي دي دا هم معلومه شوه چې هجري دا نظم د مشرۍ د سمبالونه  وروسته چې خوشحال خان سفر کې وو، جوړ کړی دی او دا مشري يې په (۱۰۸۱هـ) سمبال کړې وه او ما مخکيني ويلی دي، چې دا اشعار د (۱۰۸۱هـ) په اوايلو کې ويل شوي دي، نو د اوايلو ثبوت به يې مخکې پيش کړم. ان شاءالله تعالی.

خوشحال خان، د هجري ته د مشرۍ سپارلو احسان په دې شعر کې بيان کړ:

په زرګونو مې دنيا و هر چا ورکړه

په جهان کې پيدا نه شو يو حبيب

په درېیم شعر کې پوخ او غریب یعنې د پاخه عمر او مسافر ځانته ویلي دي، اوم او مقیم په حال جبر نه دی غریب په څلورم شعر کې یې هجري او رحمان بابا دواړو ته هلکان وویل:

د هلک مینه په چا وي په هلکو"

ځکه چې دده نه کشران و او تقریباً په خپل مخ کې همزولي و، فقد دوه کاله ترې رحمان بابا مشر و، هجري په کال (۱۰۴۴هـ) کې پیدا شوی دی او رحمان بابا د پټې خزانې په روایت پّ کال (۱۰۴۲هـ) کې پیدا شوی دی نو هلکان یې ورته ځکه وویلي چې څلوېښت کلنۍ ته لایو هم نه و رسېدلی، هجري (۳۷) کلن او رحمان بابا (۳۹) کلن او خان صاحب د (۵۵) کلنۍ نه هم اوښتی و(۵۸) کلن و.

ترپنجاه و پنجه تېر شوې

ته لا خان بولي پسر

نو ځکه یې خان ته پوخ ویلی دی او د هجري او رحمان بابا نومونه نه اخلي فقد هغه الفاظ ته شاره کوي کوم چې د معنوي په اشعارو کې دي لکه د قلندر او سربېي شره چې رحمان بابا ته شاره کوي؛ د هغې زمانې دستور دا وو چې په مقابله کې به مشر د کشر نوم نه اخیسته دا به یې د هلک او بې عزتي ګڼله او کشر به یې د خپلې مقابلې نه ګاڼه او تقریباً نن هم دغه دستور په پښتنو کې شته او کشر به د مشر نوم نه په کې اخیستلو نو ځکه خوشحال خان د رحمان بابا نوم نه دی اخیستی او رحمان بابا د خوشحال خان نوم اخیستی دی همدارنګه رحمان بابا د خپل په وجه د اشرف خان د عبالقادر خان نومونه نه دی اخیستي او اشرف خان داو عبدالقادر خان درحمان بابا نوم اخیستی دی، د اشرف خان مخکې تېر شوی او د عبدالقادر خان شعر دادی:

زه خټک د یار په غم کې تازه تازه شم

غوریاخېل رحمان که شور ورځینې ستړی

لکه څنګه چې خوشحال خان له رحمان بابا څخه شل کاله مشر دی همدارنګه رحمان بابا د عبدالقادرخان خټک نه (۲۱) کاله مشر دی.

د پوره یادولو وړ ده چې اشرف خان هجري څومره چې حضرت عبدالرحمان بابا ته په لیاقت، پوهې، فکري توانایی، فهیموالي، ښه شاعری، غوره خیال او نورو فیوضیاتو او ښېګڼو ته قایل وو، له دې د مخه یې د خپل

باعزته خان صحاب پلار جان خانی، سالاری، تلپاتې خوشحالی، سرلوړی، ولسي دبدبې، شان، شوکت، لوړ خياله شاعری او په ټولو مانا اجمتاعي شخصيت او پلارتوب ته احترام کاوه، هېڅکله يې دا په نفس نه آورېدل چې د رحمان بابا د شاعرانه درنښت تر څنګ د خپل قدردان پلار ع الي المقام پلار څه کمښت وکړي، همدا وجه وه چې د پلاره يعنې خان صاحب د بېړ او هر څه ژر خوشحالی لپاره يې يو ډارمايي ځواب ورکړ، چې د چا هر خبره:" هم لعل بدست آيدوهم دل يارنه رنجيده" فارسي مثل ورباندې تطبيق شي هجري د همدې پېچلې غوټې د خلاصې او کورنی نزاکت د له منځه وړلو پّ خاطر خپل د غزت وړ سپهسالار خوشحال خان په لاندې ځواب برابر کړ چې د د خان خوشحال پر مزاج برابر وو او په لاندې ډول يې د ( مظلوم رحمان) د کتابګوټي له( ٦٢) مخ څخه رانقلوم:

د هجري ډرامايي ځواب

الحافظ شريف احمد حنفي افغاني، دغه کيسه ډوله ډارمايي ځواب په لاندې ډول راوړی چې مطالعه او تحقيقي پلټنه يې جالبده ده، لکه:

" هجري په ځواب ورکولو کې د خوشحال خان ته يو ډرامايي صروت او نوی طرز اختيار کړی، يو څو اشعار يې په خپله جوړ کړل چې د ټولو مفهوم او مطلب د خوشحال خان د شعرونه څخه اخيستل شوی و، د يو څو شعرونو په مفهوم کې د رحمان بابا دا څه اشعار و مفهوم شاملېدلی شوا، ښآغلي حنفي افغاني زياتوي، دا ډارمايي صورت يې ځکه اختيار کړو اوصاف ځواب يې ځکه ورنه کړ چې د خپل ورونو د ناراضيګی خطره ورته پيدا کېده او د هغوی ناراضي والی دده د مشری او رياست لپاره خطر و.

مصرع: تل له ورونو نه ترسان.... هغه اشعار يې د خپل ديوان په حايشه هم وليکل ګو يا رحمان بابا په لاندې شعر يې عمل وکړ، او ددې نه دا معلومېږي چې د بابا دا شعر هم ورته رسېدلی وو:

دا غزل په حاشيه وکښه رحمانه

د خوشحال د بياض پاڼې به وربېږي

په حاشيه ليکلو کې په خوشحال خان باندې اشارتاً يو قسم طنز او تعرض هم و خو چا نوم په کې نه وو، هغه اشعار دادی:

نوی طرز مې په پښتو ژبه کې وکړ

د افغان شاعرانو کې سلطان یم

په پښتو کې چې څوک دم وهي د شعر

خوشه چین مې دي د څېلمې، زه دهقان یم

د پښتو ژبې مې آب ورکړ په شعر

د فارسۍ شعر چې نو وایم افغان یم

... وحنفي ورپسې کاږي... بیا یې به یا سینو اشعارو داسې تبصیره په شعرونو او قصیده کې وکړه او په دې ډرامایي انداز کې یې خوشحال خان ته ځواب ورکړ، د هجر هغه ځوابي اشعار دادي:

دا مهینه قصیده چې مې انشاء کړه

عجب کړی په اشعار قلندرخان یم

ما یې هسې ډک له فخره ولید

چې حیران یې د شاعر په دا گمان یم

هومره گبر بډائي کا په خپل شعر

وایې شاه په دا هر د شاعران یم

و پښتو ژبې مې ناوې کړه په نظم

د مغل په شعر هم عالي مکان یم

خوشه چین د پښتو ژبې شاعران دي

زه د هقان له بلاغته فیض رسان یم

د پښتو شعر یې سم له دېرونه دی

د مغل د شهر لاف وهي حيران يم

شا د شعر په پښتو ژبه هغه دی

چې يې زه حلقه بگوش د شاگرد يم

هجري وايي، چې دا نرۍ او باريکه قصيده يعنې چې مطلب يې ډېر دقيق او پيچيده دی هر څوک پرې نه پوهېږي ما ځکه جوړه کړه چې قلندرخان په تعجيب کې اچولی يم هغه په خپلو شعرونو ډېر فخر او کبرکوي وايي، چې د شعر په هنر کې زه پادشاه يم د پښتو ژبه مې ښايسته کړه او ناوې کړه. فارسي هم ويلای شم. پښتانه شاعران مې خوشه چين دي.

هجري په آخر کې وايي چې د پښتو شعر يې د ډېرو سره برابر نه دی نو د فارسي د شعر لافي چې وهي، زه حيران يم.

هجري مخکې يې، چې د خوشحال خان په برخه کې ويلي و، چې شعر يې جهانگير لکه قمر دی نو په دې قصيده کې يې وويل، چې د شعر بادشاه هغه څوک چې زه يې د شاگردانو حلقه بگوش يم. په دې باندې يې په خپله زړه نه تلو، خو د خپلو ورورڼو د خوشحالولو لپاره يې دا پيچيده انداز اختيار کړ، چې ځان ته يې د هغوی حلقه بگوش هم وويلي، خپل لار نه خفه و، نو ځکه يې د پلار حلقه بگوش ځان ته و نه ويل.

**تبصره:**

د يادولو وړ ده چې لوی خان عالی مقام خدای ښښلي خوشحال خان ته په رښتيا خان و او د خانۍ او پښتونوالی ټول صفات يې هم درلودل. وايي چې " د زورورو په چا زړه نه سوزي". يا " خاني شاهي او زورواکي له ظلم سره مله وي" همدارنگه د زور و طبيعت د فطرت له پلوه د ظالم وي.

د خان صاحب متبارز شخصيت دده هنري عالي مقام جوړ وي، نه خاني، ولې بيا هم دده په ټولو ليکنو کې گورو چې فردي غرور انگازې کوي؛ مگر روغ او مظلوم انسان هېڅکله نه هېروي، يو بيت يې د زورورو، جايگردارو لپاره نه دی وقف شوی، خو د ده خوی، خصلت او زور ورسره تړلی دی.

نومورې په ډاگه او ښکاره توگه خپله د لاوري، خاني او رواني صفتي داسې په ډاگه کوي:

د عالم ډېرې خبرې د جهان تورې لښکرې

زړه مې نه خوزي له ځاینه غر خو هسي وي کنه

د خوشحال خان شخصیت د نوموړي د عالي متبرک هر اړخیز هنر پر بنیاد تبارز مومي، خاني جایگرداري او زوروالي یې متهم څېزونه دي، دا درسته ده چې هغه د خانۍ او جایگردارۍ له دروازې نورو مقامونو ته راننوتی او لار یې پیدا کړې ده؛ خو په هنري ډګرونو کې لکه لمر غوندې روښانه او ځلانده فوقیت درلودونکی دی.

د یادولو وړ خبره داده چې خوشحال خان د هنر په آرایسته شوي فني انساني ډګر کې هم خپل خاني او د مشرۍ غرور نه یوه خطره هم نه تېرېږي او دا کا که خان صاحب سر تنبه معرفي کوي، خو په حقه حقدار هم دی، دا ځکه چې د خوشحال هنري شخصیت لکه شین آسمان د ټولنې دنیا پر سر سپین او زرین چتر جوړ کړی دی او ځامنو او د خپل وخت له شاعرانو سره دده ډغرې او مناقشې د هغه وخت راتلونکو درې سوه کلونو روانو پېړیو او کلونو کې د پښتو هنري تعالۍ مقامونه لا اوچوتوي؛ په ادب کې د روزلې، نقد، څېړنې تحلیل او تعلیم روحیه پیاوړې کوي او روزي یې.

خوشحال خان نه یوازې خپل مشر زوی اشرف خان هجري ته په ادبي ډګر کې چلنجونه ورکوي او ورته وایي چې عبدالرحمان بابا ته واف، د پېښور بلبل او....مه وایه، خو له بلې خوا په قلندرانه سلوک کې ورسره په ناخودآګاه ډول ځان شریکوي او دا د خورا ډېرې ښېګڼې خبره ده. ما ویلی و چې خوشحال خان هنري لیدلوری د انسانیت سرېتوب، اسلامیت، عارف والی او.... له لویونو و چیدونکو سرچینو څخه خړوبېږي او دده په هنر کې د پوچتوب، تبهکارۍ او حیوانیت هېڅ دول څرک نشته یعنې خوشحال خان وجداً خودآګاه بختور او د نورانیت درلودنکی انسان و!!![1]

خان صاحب په خپله ځان قلندر وایي، نورحال د مظلوم رحمان کتاب په (٦۴ – ٦٥) مخونه راکوي.

خان صاحب خپله ځان ته قلندر ویلی

اشرف خان هجري د قلندر نوم مخکې د رحمان بابا لپاره استعمال کړی و چې بحث پرې تېر شوی دی. دا ځکه یې د قلندر نوم د خوشحال خان لپاره کاروه یعنې هغه قلندر چې خان د قلندر خوشحال خان په خپله په هغه یوه غزل کې ځان ته استعمال کړی و چې په (۱۰۸۱هـ) کې کور نه د وتلو په وخت کې ویلی و.

---

[1]- ( ارمغان خوشحال ٦٦٠)

لاړم قلندر شوم دا مې حال دا مې احوال دی

مات کچکول په لاس کې بل مې کند دینا مال دی

او که شعر د رحمان بابا و متل شي:

چې زما زحمت پیغور گڼي وم ماته

ما هغه د ځان په شان ولیدی دریغه[1]

د چا خبره دا رحمان بابا هغه ښېرا وه چې د خوشحال خان په باره کې قبوله شوې او خان صاحب هم قلندر شو، ښېرا نه بلکې دعا وه... ومنلی شي مې ځکه وویل چې رحمان بابا په قدیمي چاپي دیوان کې چې متفق علیه دی. دا غزل نشته.

خان صاحب په یوه غزل کې هم داسې وایي:

چې یې خوښه عقیده د قلندر شو

خدای به نه کا د خوشحال عقید نور

پورته دا ټکی موږ ته ارمغان خوشحال راکوي بله دا چې ټولې خبرې د خوشحال خان په کلام کې موجودې وي او رحمان بابا په کلام کې ټولې نه وي، وگوری د خوشحال خان هغه اشعار چې (۱۰۸۱هـ) نه مخکې یا د (۱۰۸۱هـ) په اوائیلو کې یې ویلي دي، کېدای شي د اشعارو ترتیب نه وي سائل شوی:

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ

د خبرو ملک مې فتح په سمندر کړ

په تازه تازه مضمون د رحمان شعر

په معنی مې د ښېراز او د خجند کړ

---

[1]- رحمان پوهنه:۱۴)

د میرزا دیوان مې ومانده په ګوډي

مسخره مې ارزاني خویشکی زمند کړ

که دولت و، که واصل و، که دا نو وو

مسخره مې ارزاني خویشکی زمند کړ

قلمي مې ورته سازې د قندو

د اوربشو په ډوډیو چې چاشخوند کړ

په فارسي ژبه مې هم ژبه کویا ده

په پښتو ژبه مې خلک بهرمند کړ

مدعي د نورې شپې او اورکی وو

د سجل غوندې مې ځان باندې څرګند کړ

په یوه حال او په ماضي کې هسې نه وو

چې ښکاره یې د خبرو راته خوند کړ

لعل و دُر مې ورته وبلیل د نظم

د مشکنو بنجاره مې مستمند کړ

هر کلام مې وار دات دی یا الهام دی

چې موزون مې په تقطیع د بحربند کړ

په تشبه او په تمثیل په نزاکت کې

غروبت د خبرې چند در چند کړ

عشقه ته تر اوزنگ زیب پادشاه بهتر یې

چې خوشحال دې په عالم کې سربلند کړ

یا دا بل بیت:

ما خوشحال چې په پښتو شعر بیان کړ

د پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

خوشحال فارسي شعر هم ویلی؛ وایي:

فارسي شعر مې هم زده، سلیقه لرم د دواړو

پښتو شعر مې خوښ شو هر څوک خپل ګڼي ښاغلی

د رحمان بابا هغه اشعار چې مفهوم یې د هجري په قصیده کې په ځینو اشعارو کې شامېلېدلای شي:

را چې دا نور شاعران یې کاندي هغه نه کا

رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی

یا هم:

خوشحالاً او دولتامې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

یا هم:

دنیا دار ددنیا کاره ددین

خوائین زما په ملک دي خوشه چین

یاهم:

چې منکر یې اعتراض کولای نه شي

داد شعر دی رحمانه که اعجاز[1]

د خوشحال خان سخن دان او سخن شناس و، پوه شو چې دا ټول اشعار زما په باره کې دي، بیا خاص دا شعر:

د پښتو شعر یې سم له نورونه دی

د مغل شعر لاف وهي حیران یم

ځکه چې قلندر رحمان نه د پارسۍ دعوا کړې وه او نه یې پارسي اشعار ویلي وو دا خبره خان صاحب ته څرګنده وه او قلندر، خان( قلندرخان) دا دواړه کاروه کړی و، نو په ځواب کې یې په (۱۰۸۱هـ) کال د صفرې میاشت په کې نه و، لیکل شوي: فقط په مقطع کې یې خپل نوم اخیستی و، خو ردیف او قافیه د هغه زوړا او ددې نو یو اشعار یو شان و، نو هجري ته یې کذاب وویلي، ځکه چې هغه اشعار یې هم په ځپله جوړ کړي دي بل جاته یې منسوبه وي او د خو یې ویلي دي خو عشر کول مول او غ غونډ دی، نو د ګول مول شعر سره به ګول مول او غونډ انداز کې ورکه وګورئ.

کذاب دی که دا شعر ده پښتو بیان کړ

که  هسې ویل اوس شپې یا پځوا دی چا ویلی

د شعر په ویلو ډېر خوښ نه یم ولې څه کړم

چې زړه مې بې اختیاره کله کله ورته راغی

په شعر کې هجري ته داسې وایي چې:

دا شعر نه پځوا چا ویلی دی او نه اوس ویل کېږي یعنې د چا نه موږ نه دی اورېدلی کوم چې ده یعنې هچري په پښتو کې بیان کړی دی نو هجري کذاب او درواغجن دی خپله یې جوړ کړی دی رحمان بابا ددې ګول مول او غونډ موند انداز په باره کې او بیا خان صاحب ګول مول او غونډ ځواب په  باره کې داسې وویل:

[1]- ۱ـ مشکښی  ۲ـ بنجاره  ۳ـ تصحیح  ۴ـ بحر  ۵ـ تمثیل  ٦ ـ غروبت  ۷ـ اعجاز

د غونډ ژبو شاعرانو د خولې نه دی

ځکه هسې رنګ صفا دی دا حدیث دیوان

ځکه چې ددې دواړو شارې رحمان بابا ته هم کېدای شي، خان صاحب هجري ته څه مهلحت ورکړ چې شاید خپل بد محسوس کړی توبه وباسي مګر هجري د خان صاحب په پخلا کولو خوشحاله نه و، ځ:ه وېرېده که خان صاحب پخلا شي رانه شي او ریاست به رانه ونیسي.

خوشحال خان دومره په  غوسه شوی وو چې دده کرکټر هېڅ دول سولې ته غاړه نه کېښود او هېڅکله د خپلو حریفانو په لورمسکی نه شولو، و لو که هغه يې زوی هم وو، خوشحال خپل اولاد ته هم تر آخره په شعري کرکه وکتل او په اشرف خان يې دویم تنقید هم وکړ چې لاندې به راشي.

**د خان صاحب په هجري دویم تنقید**

خوشحال په (۱۰۱۸۱هـ) کال پّ اواخرو کې یعنې د شول یماشت کې یو نظم ولیکه چې د هجري ټول عیوب او ذم په کې بیان کړي دي هغه نظم څو اشعار وګورئ:

ما خلف مې حواله کړېه تقدیر

نصیحت وړباندې نه کاندې تاثیر

بد فرزند دې خدای د هېچا پیدا نه کا

په خصلت يې پلار په ځای وي مور په وبر

د کوتا ترونې نه رسي لاسونه

بیا د ونې د میوو کاندې تقسیر

بر هنر د هنر مند پجمي ناخوال کا

بې هنرو چې پّ هنر نه وي خبير

کاشکې دا دعموا عالم کاندې منظوره

چې سهاپاسي د غر کاندې تحقير

نا هموار دی نامجاز دی ناپکار دیبر

په سیریت دی بد فطرت دی بدخمیر

بر آمد ورباندې صوت د غراب دی

خوشامد پرې د بلبلې ښه صفیر

قباحت یې د فاسق د نالایق دی

ظرافت یې د یادوه دی د سرار

په جهان کې بې شعور رد ال طبعه

جمیت غیرت یې تللی له ضمیر

نه د نوم دی ته د ننگ دی نه د شرم

د بېخي دی د صندوق دی د توقیر

د شوال وروستۍ ورځ کال د عنقا دی

ما چې دا شپیته بلېتون نه کړل تحریر[۱]

خوشحال خپل زوی هجري ته ناخلف او نور نور څه وویل او د هفتو اختلافونو ځوای ي ورکړ چې د لنډۍ او کوتا قده لاس د ونې میوه ته نه رسېږي او د میوو حال تشریح او تقسیربیانوي، څوک چې یې هنر وي، د هنرمند،

---

[۱]- ( ارمغان ـ ۳۸ ـ ۴۱)

هنر ته بد وايي.

مطلب يې دادی چې هجري د ع لم او هنر له پلوه لنډی دی زما علم او هنر ته نه رسېږي نو ځکه ما تنقيد ته بدو ايي، او د شاعرانو په باره کې زما دارايي او فکر څخه خلاف تشريح کوي، رحمان چې شعر يې خوشامد دی، د بلبلې ښه آواز گڼي او زما شعر چې بر آمد دی د قارغه آواز غوندې يې پرې لگېږي.

دا اشعار يې په ۱۰۸۱هـ) کال په اواخر کې ويلي دي نو ددې دليل نه ما هجري تېرو شويو درېواړو نظمونه په باره کې ويلي وو، چې دا نظمونه په (۱۰۸۱هـ) په ا وايلو کې ويل شوي دي ځکه چې دا د هغې ځواب دی او ځواب تل وروسته وي مخکې ځواب کې تاريخ نه وو خو ترې معلومېږي چې هغه اولنی ځواب دی او ددې ځواب د سختی نه معلومېږي چې دا دويم ځواب دی.

بايد ووايو چې په اشرف خان هجري او د خان په خپلو عملي او ادبي حريفانو د نوموړي انتقادونه لا دوام مومي او دده د خانی د فطرت او مزاج له مخې د زړه غوټی يې نه سپړل کېږي ديوانه وار او په زړه ورته توگه په حريفانو ور غورزي او د نغوتو، گوتنيونکو( انتقادونو) لړی روانه او دوامدار رساتي او په تېره تېره په خپل زوی هجري باندې دربېيم انتقاد دومره تندوی وي چې هغه او د هغه ملگري د لوی خيانت په تور تورنوي. دا انتقاد دومره له زهرو ډک دی چې خپل زوی ته د (عاق)[1] کولو تر بريده (حده) وړاندې ځي لکه آخري آخري او دربېيم ځواب کې يې هجري بلکل عاق کړ، چې د هجري د بندېدلو نه يې يو کال مخکې يعنې په (۱۰۹۱هـ) ورکړی دی ددې نظر څو بيتونه عبارت دي له:

کال زر يو نوي هجرت دی

هم تحويل دی د ميزان

زه غليم د اورنگزيب يم

سر په غره په بيابان

زه په ننگ د پښتانه يم

دوی نيولي مغلان

---

[1]- فطرت مزاج ناخلف عاق نظم

لکه سپي جاروزی

د مغل په اش وکان

د منصب په اضافو دی

تل په چا پسې روان

زما لاس ورباندې رسي

را واهه نه شي خپل خان

چې یې پلار سره غلیم وي

هم هغه یې زړه او ځآن

چې په واړو کې ارشد دی

نن یادېږي اشرف خان

د مور پلار نیکه ته نه دی

د ا ناکس دی لا بل شان

په ژوندون مې خپل ځان ورکړ

باندې زه شوم مهربان

بدخواهان سره خاندي

په زړه چوي یې ننک هواهان

که به یو لم گلستان ته

بلندي اور دی گلستان

د گونګټ غونډې جاروزي

په سرګین او په ګوران

دی نامرد له نامردۍ نه

تل له روڼو نه ترسان

که مې ولوستل و ده ته

کتابونه د لقمان

نه اشر وربانديې وشو

نه يې ځان شو په جنان

حميده به په کې لړ وي

زميمه چندان خندان

لکه دی چې په حسد دی

بل به وي هېڅ انسان[1](2)

تر څلوېښتو کلو تېر

باندې څرخ نه شو پيکان

په هر ځای چې په جنګ پېښ شي

---

[1]- منصب - غليم - ارشد - ناکس - مهربان - ګلستان - ګونګټ - جاروتل - سرلګين - ګوران - روڼو - ترسان - لقمان - جنان - حميده - زميمه - چندان - خندان - حسد

( ۲)- ارمغان خوشحال - ۳۲ - ۳۷)

تل يې تېښته په ميدان

تر آمد ويل پرې اور دی

خو شامد باندې ريحان

ځيني زشت کارونه نور دی

څه يې اخلم په دهان

خدای يې خوار پّ دين دنيا کا

د عزت مې کانقصان

مناجات دې يې نصيب شي

يار يې تور مار جانستان

لکه عاق دی، عاق دې درومي

دين، دنيا دواړه خسران[1]

د دې عاق نامې نه وروسته هجري، په (۱۰۹۲هـ) کې بندي شوی دی او باقي د مرگ تر ورخې پورې يعنې (۱۱۰٦هـ) پورې په بنجاپور د بند نه مظلوم خلاص نه شو او همهلته وفات شو.

چې د اور لمبو وهلی وي داغبړي

نه رغبړي د آزار لمبو وهلي

په اول او دويم ځواب کې يې هجري ته شارې کولې، نوم يې نه اخيستو، په دې آخري کې يې هغه اشاري هم ورته يادې کړې نو عيوب يې هم ورته بيان کړل، نوم هم ورته واخيسته او دهجري په عمل او کردار يې هم د مخکينو تنقيدونو نه ډېر سخت تنقيد هم وکړ.

---

[1]- پيکان - تېښته - بر آمد - خوشامد - ريحان - زشت - دهان - دين - دنيا - نقصان - مناجات - تورمار - جانستان - عاق - خسران

هغه د بر آمد او خوش امد خبره یې بیا تکرار کړه؛ خو دلته یې وویل چې زما په بر آمد ویلو سوزي او د رحمان په خوشامد ویلو د ریحان غوندې ورته خوشبو راځي او د خپلو ورورڼو نه وېربېږي لکه چې ما ویلي و چې هجري خوشحال خان ته د شعر بادشاه ظرافت ګانه او چغه کېده به پرې او هجري هم تر خفه و، نو ځکه قلندر یې ورته ویلی دی د ټوکو لپاره د خوشحال خان د مرګ نه یې پس هم لفظ د قلندر خان صاحب ته استعمال کړی دی:

عاقبت دی واړه خاورې د لحد[1] کړل

روښنایي که ارزاني که قلندر وو[2]

دا مې ځکه وویلي چې د هجري په ژوند کې رحمان نه و، وفات شوی وو، قلندران به فقط دغو دواړو ته ویل کېدل. رحمان بابا یو ځای کې لفظ د قلندر ځان ته استعمال کړی دی؛ خو کله چې خوشحال د قلندر له لفظ سره ټوکه وکړه، نو بابا بیا دا لفظ ځان ته استعمال نه کړ، خو خان ته یې د ښېرا دعا وکړه چې خدای دې زما په شان قلندر کړه؛ بیا چې خان صاحب قلندر شو او دا لفظ یې د ځان لپاره وکاراوه، نو هجري ورسره ټوکې وکړې خان صاحب ورته ښېرا وکړي په جیل خانه کې وفات شو.

نو د درېیم قلندر په باره کې " پټه خزانه" " ورکه خزانه"، " پښتانه شعرا"، " تاریخ مرصع" بلکې د پښتو ادب ټول تاریخونه که څوک لټ په لټ کړي دا به په کې وومومي نه به یې وګوري، خوشحال خان د رحمان بابا او د هجري په دورکې د رحمان بابا او خوشحال خان نه سېوا درېیم قلندر هم وو.

باید ووایو، چې دا مقابلې لا دوام کوي او رحمان بابا خپل لومړنی انتقاد په لاندې ډول په خان خوشحال خان باندې کوي:

### د بابا اول تنقید په خان صاحب

خان صاحب چې د بابا په درې غزلونو باندې تنقید کړی و، نو بابا هم په دوو غزلونو کې ورته ځواب ورکړ، خان صاحب پسې سپورې وویلې، بابا نور تنقید پرېښوده او ویل وویل:

---

[1]- لحد

[2]- هجري دیوان ـ ۵۳ مخ

له هجرانه زه څه نه غواړم عالمه

په هجران دي ما دې دی په قرار پرېږدي

د خان صاحب د غزل چې رحمان بابا یې په درې شعرونه لفظي او په باقي معنوي تنقید کړی دی یو څه شعرونه وګورئ:

آینې و ته نظر کړه ښیوه ګري

خود به ستا د حُسن وکاندي خبرې

د ړوندو سترګو حاجت درنجو نشته

په درنګې ناوې څه بولي سندرې

چې میوه یې د کابل خوړلې نه وي

د هغو تر فهم وڅکې دی ګورګرې

زه که غر په غره جاروزمه له عیب کوم دی

تل زمری ګرځي په ګوړې په ژورې

چې د ننګ تور ددې واخیسته خوشحاله

درومه سوات ته څه ختک څه یې لښکرې[1]

حضرت عبدالرحمان بابا داسې تنقیدي اصلاح:

په هر ځآی چې ستا ثنا شي شوه ګرې

خرمړی شي هلته دُر ا و مرغلرې

---

[1]- ارمغان

چې میوه یې د کابل خوړلې نه وي

د هغو له فهمه و څکې شي ګوګرې

د ړوندو سترګو حجات د رانجه نشته

په درنګه نجلۍ څه وایي سندرې

چې په غره په سمه ګرځم باک مې نشته

زمري تل ګرځي په لوړې په ژورې

د رحمان شعر به ولې نادر نه وي

چې شنا کوي دا ستا غوندې نادرې[1]

خوشحال په دې ټولو انتقادونو رضا کېږي، په ټوله خاني، فهیم والي، عالي درک، شاعرۍ او ادیبۍ او دینداري بیا هم د هنډو او خپل نشته غد غرور له آسه نه کوزېږي او خبره د غیر نقصل مرحلې کنځلو ته رسوي چې دا اروپوهنې د علم له مخې له عقلي ډب سره مخامخ کېږي هماغه وي چې د خپلې غوصې اور پّ کنځلو سړوي او داسې وایي:

**بابا ته د خان صاحب کنځلې**

د چا خبره لفظي اصلاح یې ومنله خو د معنوي اصلاح په ځواب کې یې دا دوه غزلونه ولیکل:

چې دا هسې وروځي غوټه کړي خبرې

بدخواهان به زړه رانج کاښویوه ګرې

د دویم غزل بیت:

دا خوني سترګې چې ته لرې دلبرې

[1]- ارمغان. ۳٦۵)

په کشتن به خلقې کاندې ډېرې

محسب دې ځینې لرې لرې ګرځي

مست خوشحال سره کوتک د ډمبرې[1]

بیاهم د خوشحال تسل په ځواب ونه شو، لا یې کنځلو ته زور ورکړ،( مظلوم رحمان) د خپل کتاب په (۷۳) مخ په وینا په خپل ځواب چې پورې مطمین نه شعرونو په بل غزل کې یې داسې کنځلې وکړې:

دم به نه وهې له خپله زوره  زره

که یې ووینې یا واورې ګور وکره

چې و تاو ته نږدې شي هغه تور شي

پښتنه راځینې ګرځه توره تره

یو یو هود ددې چې شاهین ځینې الوزي

مښګرک لکړ مګر له هوره هره

د خوشحال شعر حلوا ده د شکرو

ستا په دا حلوا څه کار غل حوزه خره[2]

رحمان بابا په خپل دیوان او اشعارو په بخره کې نظر ورکړی دی او د م( مظلوم رمان) د کتاب په (۷۴) مخ په حواله، په ځپل ژوند یې د خپل دیوان ترتیب په دوو دفترونو کې کړی دی، هر زه مرزه بیتونه یې له خپل کلامه جدا کړي دي او چا خبره په ډېر لوی عمر کې یې کوچنی خو ډېر زربرست او متعالی دیوان زموږ په لاس کې موجود دی ( مظلوم رحمان) اشر لیکوال شریف احمد حنفي افغاني دا دعا له مخې په لاس کې موجود دیوان د

---

[1]- کوتک د ډمبرې

[2]- ارمغان ۳٦۹

عبدالرحمن بابا دی.

موجوده دیوان د بابا خپل منتخب دیوان دی

خو رحمان بابا دا لفظي اصلاح کړي اشعار له خپل دیوان نه وویشل؛ ځکه چې خان صاحب غوندې یې په پر دواشعارو خپل دیوان نه غټاوه او نه دا شوق ورته وو. دا اشعار در حمان بابا تنقیدي اشعار دي بیا په دیوان کې لیکلي دي، رحمان بابا خپل دیواان په ځپله د خپل کلام نه منتخب کړی دی او دخپل کلام ډېر اشعار یې په ځپل دیوانه کې ولفظي او معنوي سقم په وجه نه دی داخل کړی ځکه خویې دا دومره عمر باوجود یوروړ دیوان زموږ په لاسونو کې دی خو په مختلفو قلمي نسخو کې یې د دیوان نه هغه خپل ویستلی کلام هم موجود دی چې اوس اوس ځینو خلکو سیقم او خارج کړی کلام بیا د رحمان بابا خپل منتخب دیوان کې داخل کړ او دا رنګه یې د بابا دیوان ګډوډ کړ چې د بابا خپل د دوو دتفرونو ویش یې هم ختم کړ ګده مانره یې جوړه کړه:

په غزل کې خو دوه بیته انتخاب وي

د رحمان تمام غزل دی انتخاب

په دې شعر کې خپل انتخاب په اشاره کوي د خلکو انتخاب یې مردانه دی او نه کېدای شي ځکه د بابا په زندګۍ به پرې هم خوشحال خان تنقید کولو، بابا په ځنګه درته د خلکو انتخاب ویلی وي، یعنې هر غزل ما په خپله ټول منتخب کړی دی، غیر منتخب مې له دیوانه ویستلی دی، ځکه خو ډېر غزلونه لا تر اوسه پرې خلکو ته زباني یاد دی، مګر په دیوان کې نشته، لکه لاندې غزلونه او نور داسې....

لیونی شوم نن مې یار لیدلی نه دی

ما د درست جهان سردار لیدلی نه دی

په جهان کې هسې لوی لوی جاهلان شته

چې یقین یې نه خدای نه په قران شته

**پاملرنه:**

له ټول تعرض سره سره چې د خوشحال خان او ځینې نورو بې ځایه متکبر نیوله خوا په حضرت عبدالرحمان

وخت ناوخت شوی دی، خوشحال بابا د خپل نرم او قلندرانه مزاج له وجهې بلالقابل هغوی ته ځوابونه نه دي ورکړي او دده په وینا( په نرمۍ کله اوبه دا رسزا) شوی دی، بیا هم خان خوشحال خان یا خان دووا سره په بابا ادبي او غیر ادبي سوزونکي او دردونکي انتقادونه کړي دي چې ده عندي یا عمدي[1] کره کتنې له خړو چینو یې اوبه څښلې دي څو څنګه چې " زور په زور ماتېږي" کله نا کله عبدالرحمان بابا د خوشحال خان د کنځلو ځواب په رټه خو مؤدبانه توګه ورکړی دی؛ لکه:

**بابا د کنځلو ځواب ورکړ**

رحمان بابا د کنځلو ځواب داسې ورکړ:

که ستا خپله سیا رویي نه وي دښمنه

آئینه زما زړه نه ده خچنه

چوهاړی د ملال خور په نامه بولي

له ښو خلکو بدګویي نه ده ممکنه

چې ته بدله بله وایې نه وېرېږم

چېرې خپله بدي نه کړه معینه

دن، ردیف، دویم دفتر د رح مان بابا د ا ول تنقیدونه مخکې خان صاحب خپل شعر په تعریف کې یو نظم ویلی وو چې په هغه کې رحمان بابا ته د مدعي او اورکي د مشکنو، بنجاره، د جاهل او حاسدالفاظو سره ارشارې کړې وې؛ د هغه نظم په څو شعرونه دادي:

په پښتو ژبه چې ما علم بلند کړ

د خبرو ملک مې فتح په سمندر کې

مدعې د تورې شپې اور اورکی وو

---

[1]- معینه ـ مشکنې ـ بنجاره ـ سمند ـ مدعي ـ اوراورکی ـ سهیل ـ ګوډی ـ خچنه ـ چوهاړی ـ عندي انتقاد.

د سهیل غوندې مې ځان باندې ځرګند کړ

د میرزا دیوان مې ومانده په ګوډې

مسخره مې ارزاني خویش ځمند کړ

که دولت و، که واصل و، که دا نورو وو

چې د هر یوه ریشخند کړ

لعل و دُورمې ورته و پېیل د نظم

د مشکنو بنجاره مې مستمند کړ

یا به درست په حد ډک یا به جاهل وي

چا چې زړه په دا خبرو نا خرسند کړ

که نور سود له شعرونه لرم دا بس دی

چې حاسد مې د حد په اور سپند کړ[1]

په دویم شعر کې خوشحال د خپل اورني او له هندو پک مزاجي د کرکټر او شخصیت له مخې وایي چې:" مدعي یعنې د شعر دعوه کوونکی د اوراورکی یعنې کرم شب تاب او جګنو په شان د توره شپه کې ایله ښکاره کېده، چې د سهیل ستوري په شان مې ځان ورباندې ځرګند کړ، یعنې تنقید مې پرې وکړ او زما شاعري په دې شان ورته ځرګنده شوه ـ رحمان بابا ته یې مدعي ځکه ویلی دی چې هغه په پښتو کې د عالمګیری دعوی کړې وه؛ رحمان بابا ویلي وو:

د خوشحالا او دولتامې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

---

[1]-( ارمغان: ٦٠٥)

ددې نه دا هم معلومه شوه چې خوشحال خان دا نظم د بابا د غزل نه وروسته جوړ کړی دی، کوم چې بابا د عالمگیرۍ دعوی کړې ده؛ بابا د پاسنۍ نظم ځواب داسې ورکړ:

چې مشغول نه وي ترکو په جمال څوک

څو به څه کا په دنیا کې اشتعال څوک

چې یې قیل و قال له یاره سره نه وي

له نور چا سره به څه کا قیل و قال څوک

سړی بویه چې به نیک عمل نازیږي

نه جې ناز کا د دنیا به ملک و مال څوک

که یې شعر رحمان مومند تر غوږ شي

غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوک

کله چې خوشحال خان په مکرر او پر له پسې ډول په رحمان بابا له قهره ډک انتقادونه وکړل، نو د رحمان بابا زړه هم د تږی نه و" هغه هم په خوشحال خان گوتې نیولی پیل کړي او دغه کار ته یې په ډېر ادبي ډول ځوابونه ورکړل په دې معنا چې " زور په زور ماتېږي" بابا هم کرار نه کیني او لکه مخکې شر د عاشقۍ د دایمي معجزې په تور یې تورنوي او یو ډول پراډایس نه کوي داسې ادبي پرادایس په پوره ښکلو کلمو، جملو او خیالونو کې بیانوي، لکه:

چې مشغول نه وي د ترکو په جمال څوک

څوک به څه کا په دنیا کې اشتغال څوک

او له دې څخه هم د مخه ځی او وایي:

خپل حریف ته ښ:اره کوي چې ټول کار، ددین کار دی ښه کار عاشيً ده او آن د قران د عظمت له مخې د انسان کرامت بولی: ولقد کرمنا بنی آدم الله انسان ته کرامت پّ عظمت ورکړی.

رحمان بابا په څرګند ډول او ادبي کرامت ځښلو حریفانو ته وايي چې باید موږ او تاسو په نیک عمل ونازېږو؛ لکه:

سړی بویه چې په نیک عمل نازېږي

نه چې ناز کا د دنیا په ملک و مال څوک

رحمان بابا په خوشحال خان خپل دویم نتقید کوي، وګورئ:

د خان صاحب دا غزل یې دویم تنقید کې اصلاح کړ:

باد یې لاس په لمن کېږدي شره ریږدي

کله یې مخ و نه نظر کا، خولې پرېږدي

لاله ورایه رنګ وبوی ورته پیشکش کا

چې په سیل د بهار د ګلو پښې ږدي

خو رحمان بابا د خان صاحب د دوه شعرونه لفظي اصلاح وکړه او نو یو معنوي او لفظي ښکلا وو سره سره یې دا خپل حریف نه وغوښتل چې ته خپل کار کوه زه خپل.... ما پرېږده یا خو د بابا د حریف خبره:

باد یې لاس په پلو کېښود سره ریږدي

ګل دې مخ وته نظر کا خولې پرېږدي

له هجرانه زه څه نه غواړم عالمه!

بد هجران دی ما دې په قرار پرېږدي

د چمن ګلونه واړه ترې قربان شي

محبوبا چې د چمن د ګلو پښې ږدي

دا غزل په حاشیه و کښه رحمانه!

د خوشحال د بیاض پاڼې به وربېږدي

خو بیا بیا خوشحال خان له خپلې سرتنبگی نه اوړي او د خپل بې پړوا خواصو له امله، رحمان بابا ته یې کنځلو بیا لاس پورې کوي، داسې چې:

**د خان صاحب دویمه کنځله بابا ته**

د ( مظلوم رحمان ) لیکوال لیکي، چې:

خوشال خان د پاسني تنقید ځواب کنځلو سره ورکړ، وگورئ لاندې غزل ته:

د ما کومه اندېښنه ده که ماپرېږدې

ته به نوم د بې وفا په خپسر کښېږدې

زه یو هسې باد لرم که مې روزي شي

که صفت درته وکړم و به رېږدې

ته سړی یې که څاروی یې رنگ دې ورک شه

د بهار سرو گلونه باندې کښېږدې

زه چې ستا په دا اوږدو زلفو مین شوم

لا به څو که څوخسړي باندې کېښېږده

د خوشحال خاطر په مثل د سجنجل شو

واړه ته د خپل جمال نښې په کې ږدې[1]

رحمان بابا د تجزبې پوهې له مخې ( که غل نه اوړي، مل دې واوړي) او یا له بد ولرې یا غلې" فورمول یې په پآم کې ونیو، آو آن د خان صاحب کنځلو ته اهمیت ورنه کړ، بابا دا خبره درک کړه چې خان صاحب په تنقید ډېر

[1]- ارمغان: ۳۵۴

خفه کېږي او دومره خفه کېږي چې خپل مشر زوی ( عاق) دا لا څه کوې چې خوشحال خان خپل پير کاکا صاحب" د ډېرې له وجهې پرېښود.

او نږدې پورې چې خپل شيخ رهمکار عليه الرحمه خدمت هم بيا کړی دی لکه:

چې حلال کسب يې نه وي شکرانې خوري

خدايه بحن په شيخی د شيخ رهمکار يم

رحمان بابا وليدل چې خان صاحب په ځان، په خپل کلام ( شعر) او تورو وجودي د مادي او معنوي خپلو طبيعي او مصنوعي شتمنيو) هېڅ دول انتقاد نه غواړي او په دې کار د حريف يا مخالفينو گوتې ورماتوي، زنگونه يې غوڅوي او سترگې يې وباسي، له همدې امله، رحمان بابا هم له ځان څخه لمنه راټوله کړه او خپلو غوړونو کې يې پخته ووهله او سترگې يې د ماشوم په شان په دسمال پټې کړې، د فارسي مثل دی" ار زبان بدل کردن، کوچه بدل کردن خوست است".

همدا و چې رحمان بابا بل تنقيد و نه کړ، بلکې دا غزل يې هم د خبل منتخب ديوان نه ويستلی دی ځکه خو په چا يې ديوان کې نشته او کليات کې يې د کاتب د قلمي نسخې څخه رانقل کړی دی چې اوس اوس دا غزل له چاپ لاندې راغلی دی.

يادونه: د ارواپوهنې د پوهې، تجربې او څېړنې له مخې ( يوناشده کار چې نه کېږي، يا يوه غوټه چې نه سپړل کېږي په خپل حال يې پرېږدی، هرومرو خپله لار پيدا کوي؛ خو له تعقيب څخه يې لاس مه اخلئ) ( آيين زندگي ۱۲۷)[۱]

په فوکلور کې دا خبره تجربه ده، چې "که غر لوړ دی په سر لار لري"

د خان صاحب گرم مزاج هم په سړيدو شعر او ورو ورو د رحمان بابا د ادبي او انساني ځوابونو له مکرروالي، خان صاحب ته هم دا احساس پيدا شو چې له خپلو سپکو سپورو لاس په سر شي او د چا خبره د خپل بې پروا او خان سالاره غرور له اسپه رابښکته شي او څه نا څه د مفاهمې لاره ونيسي.

---

[۱]- ماخذ: کارنگي دېل ( ۱۳۹۵هـ ) آيين زندگي ايران: تهران ـ خياباني شهر، نشرات کوکه

د ( مظلوم رحمان ) د کتاب (۷۸) مخې ( خان صاحب د بابا معتقد شو) دا عنوان وګورئ:

**خان صاحب دبابا معتقد شو**

بالاخره د رحمان بابا د ادبي ځوابونو احساس خوشحال خان ته وشو او خپلو سپ:و سپورو نادم شو، نو د رحمان بابا د تعلیماتو په زمینه کې يې يو غزل وويلی چې د بابا د عقیدې صفت يې وکړ، او نور يې په بابا اعتراضونه هم پرېښودل او هغه غزل دا دوه شعرونه ورګورئ:

د دنیا دسودله پاره کوڼ وګوره

څه خوشرم د مروت و ته وګوره

چې يې خوښه عقيده د قلندر شوه

خدای به نه کا د خوشحال عقيده نوره

په نامعلومه عنوان (د انګریز د انکار وجه) ددغو مواعظو له مخې پرده پورته کوي او داسې ښکاري چې د پښتو ادب د دواړو بزګوارانو ( خان صاحب او رحمان بابا) تر منځ لفظي مقابلې عمدې او قصدې نه وي تر دغه عنوان لاندې مطالب هو به هو راواخلو:

**د انګریز د انکار وجه**

له تېرو شویو حوالو نه دا ثابته شوه، چې کوم انګریز ( خدای وهلی) د خوشحال خان او رحمان بابا د شاعرانه مقابلو څخه انکار کوي، دا انکار لکه څنګه چې د پښتنو د سینه په سینه او متراتر روایت نه انکار دی، داسې د خوشحال او رحمان بابا له هغو اشعارو هم انکار دی، په کومو کې چې دا مقابلې موجودې دي، د پښتو ددې روایت ذکر انګریز په خپله هم کړی دی چې پیا يې رد کړی دی.

خینې وايي چې رحمان بابا د خوشحال همعصر وو او دا دعوه هم کوي چې دوه درې ځله د دوی تر منځ شاعرانه مباحثې او مبارزې هم شوې دي خو ماته دا خبره صحیح نه ښکاري، دغه ټکی د درس رحمان بک ایجنسي، دیباچه په (۹) مخ کې راځي.

د انګریز ( خدای وهلي) د انکار نه وروسته با عبدالحمید افغان ددې مقابلو چې د پښتنو متراتر روایت ده نمونه

هم وړاندې کړې او دا يې ثابته کړې ده چې دا مقابلې شوې دي.

انګريز ځکه د خوشحال خان درنه او د رحمان بابا سپکه ويي د قدر او عزت د کمولو کوښښ يې کوي. په کچه خوله هلک ورته وايي چې د رحمان بابا په کلام کې د انګريزانو نه د نفرت تلقين دی، د هغوی د ظلم بيان دی.

زه به څه رنګ د رقيب و مخ ته ګورم

کله اهل د سنت ګوري د ترساه مخ

د آشنا د بلتانه په کاروبار کې

همېشه به تندي تورې د فرنګ خورم

**ترسا**[1]**:**

د عيسی ع پيروانو يعني انګريزانو و غيره ته وړايي او دخوشحال خان په کلام کې د انګريزانو شرابو او حسن صفت شوی دی:

زلفې ستا نافه ساياب دی

لب شراب دي د فرنګ ( ارمغان : ۷۲۳)

ترسا زلفې زنار شوې راتر غاړې

شکر شکر چې يې دين راڅخه يوړو ( ارمغان ۳۹۴)

د انګريزانو وروسته ځينو بې انصافو خټکو او خټکوالي د تعصيب په وجه دا زورلګولی دی چې رحمان بابا د خوشحال خان د مرګ نه ډېر وروسته ښکاره شوی دی."تفوبرتواى عل و دانش تفو" د انګريزانو په پيروي او تقليد کې يې د کتابي او زباني متواتر دوړاړو روړايتونونه انکار کړی دی؛ ځکه چې رحمان بابا د خوشحال خان او ځينو نورو خټکو ته چې طبعيت او مزاج کې د خوشحال په شان وي، سپک لفظ استعمال کړی دی.

[1] ترسا: د عيسی ع پيروانو يعنې انګريزانو و غيره ته وايي.

يو خوشحال يو كم سل خټک نور په طبيعت كې

زار شه د رحمان سربښې له يوه فرده

او دې ته نه گوري چې اول خوشحال خان قلندر سربښې يعنې رحمان ته سپک لفظ استعمال كړى دى او دې ته نه گوري چې اول خوشحال خان قلندر سربښې يعنې:

په مزى ويښته په طريقت كې لوى حجاب دى

ځكه قلندر ږيره برېتونه نه دي خرېيلي

سل سره بښې دې تر دا يو غزل زارېږي

نن چې دا پښتو كرلاښي خوشحال وېيلې

د خوشحال خان طبيعت دا و چې خپل پيروي يې هم بې سپكې وينا نه دي پرې اېښي:

چې حل كسب نه وي شكرانې خوري

خدايه بخن[1] په شبخي د شيخ رحمكار يم

بحن د بد ظن مفغن شكل دى يعنې بدگمانه دا شاعاره ده د يې انصافه كاكا خېلو لپاره ده انصاف والا چې په هر ځآى كې وي خداى دې خوشحاله كړي. آمين

د خاني او بادشاهۍ طبيعت له تريخوالي، قهر، غوصې، كانكارۍ، بې انصافۍ، ظلم، ځوانۍ، بې پروانيي او لسگونه نورو عوارضو سره مل وي دا ډول طبعيت خوشحال ته لا پلار او نيكونو هم په ميراث پاتې و او بل دا چې خان صاحب جنگي مخبينه ( باى گرونډ) هم درلود نو دنيا، شعر قلم، او نورو هنرونو له درلودلو سره سره بيا هم تريخ طبيعته په ځان مين، په ځان ويستا باورونه لري چې كله كله هغه د انسانيت، سړيتوب او عالي شخصيتوبه لرې كوي، په ځامنو، د وخت په شاعرانو او آن پيرانو باندې هم بدگماني كوي او په شعر بد او رد ورته وايي، د وخت شاعرانو شيان او حركتونه په ځانې كې ځاى لري؛ خو له ټول تاوتريخوالي سره سره په خپلو حريفانو د انتقاد ژبې لوځه او تريخوالي برخمنه ده، بلكې د شعر دا لفاظو په تنفچكه د خپلو حريفانو كوي وايي:" له بې

[1]- بحن د ظن( گمان) مفغن شكل دى يعنې بدگماني.

عل دوست، هوښیار دښمن ښه ده" ځکه بد دوست تا په هر ځای کې پربږدي؛ مگر هوښیار دښمن له تا مړ کړی، مړی د سپیو ته اچوي.

حضرت عبدالرحمان بابا رښتیا ویلي دي:

که دې خپله گناه لویه لکه غر وي

په خپله خپله به غر د چ وز کړې

که څوک تله د انصاف په لاس کې در کړي

خپل ټېټو او د بل آس به برابر کړې

د مولانا خسته په وینا:" خوی بدرا بهانه بسیار است" خوشحال ته خو د شیخ رهمکار ولي شکرانې اخیستل حرام ښکارېدل؛ مگر دا ټک د راهدارۍ محصول او چونگي اخیستل درته حلال برېښېده، ځکه چې هغه یې په خپله اخیسته او د پلار د نیکه له وخته بې اخیسته او حال دادی چې اولاووته شکرانې ورکولې یا به یې بل ډول شکرانې، صدقې، تحفې، ډالۍ ورکولې او دې دواړو کې هېڅ حراموالي نشته او د چونگي او کستم په برخه حضرت رسول مقبول کریم صلی الله وسلم فرمایي.

اول: لایدخل الجنته صاحب مسکین یعنې الذی یعشرالناس"

کتاب الامارت و القضاء مشکوت " رواه احمد، ابوداود..."

دویم: فیعفر الجمیع خلقه الالمشرک

بابا قیام شهر رمضان....مشکوت رواه

درېیم: فان هذه ساعته یسجیب الله غزوجل    مشکوة

یعنې د چونگي ولا نه دعا قبلېږي نه ښښل کېږي او نه اول ځل جنت ته داخلېږي ځکه چې ستم او چونگي ولا د زیاتې او ظالم نه خالي نه وي.

پورته خبره څومره پر ځای ده او که....خو مشکوت شریف او ابو داود بخاري شریف راویتونه وي، بیا هم ډېرو

ځېرنو ته اړتيا شته او قبلېده يې حتمي خبره ده.

رحمان بابا وايي، زموږ په دور کې داسې ځلک شته چې غيب هنر کړي او هنر عيب... او زموږ په دوران کې خو لا دې کار ته حکومتونو دولتونو، سياسي سازمانونو او زياتو خلکو ملاتړلې ده او د چا خبره ( لمر په يوه گوته نه پټېږي) خو الله ج دغو ټولو شيانو پوه دی موږ چې يوه زر عيب په چا کې وينو، په خپله يې د مچ وزر جوړه وو:

په هنر به عيب ک وي او عيب هنر که

د رحمان په دور دا هنر پيدا شه

د حضرت رحمان بابا د شخصيت فن، هنر، هنر، کلام وخت مهال اولادو مال او په لسگونه نورو اړخونو باندې خو زرگونه لوی او وړې ليکنې غونډې مشاعرې مجلسونه او غونډې شوې دي خو دلته يې بايد گونډ په توگه راوړل شي بې مفاده نه دي:

د بابا په برخه د قاديانانو د اختلاف وجه هم د يادوولو و ده چې موږ به يې مختصر ځايونه دلته راوړوو.

**۳ – ۱۰ له رحمان بابا سره د قاديانيانو [۱] د اختلاف وجه:**

د مظلوم رحمان ليکوال په (۸۲) مخ کې ذکر شوي دي:

ځينې مومندانو نور د مومند د لفظ د پښتو جمعه ده په عربې کې ورته تشبيه وايي مومندان يا مومندين يعنې دوه مومنده د رحمان بابا سره د عقيدې اختلاف په وجه د ا نگريزانو ( خدای وهلي) په تقليد او حمايت کې ډېر سخت زورلگولي دي ځکه چې د رحمان بابا د دا عقيده ده چې د محمد نه وروسته بل پيغمبر نشته او دا اعلان يې ډېر په ډاگه او ښکاره ځای کې يعنې ديوان په دويم نظم کې کړی دی چې د هر لوستونکي نظرورباندې لگي:

نبوت پر محمد باندې تمام شو

نشته پس له محمده انبياء

نو ځيل قومي يا عقيدوي ځآيه انتقامونه اخيستل او حقيقت سترگې پټول داسې بې انصافي او علمي خيانت

---

[۱]- قاديانيان

دی چې د دا شعررانو سره هېڅ مناسب نه دی له داسې خبرو نه که یو طف نه رحمان بابا د مغرورو متکبر، بې ادبه، ظالم او بې علمه الزامه راځي، نو له بله طرفه د خټکو په وروستیو شاعرانو لکه عبدالقادر خان خټک، کاظم خان شیدا او داسې نورو باندې د بې غیرتۍ، نامردۍ، ناپوهۍ او جهالت خوب او الزام راځي که رحمان بابا د شاعرانو بې غرتي کوونکي او مغروره وي داسې به یې ویل:

د میرزا د ارزاني دعوې به پرې کا

قدردان د شاعرانو رحمان راغی

بلکې داسې به یې ویلي وو:

د میرزا د ارزاني دعوې شوې ختمې

چې پادشاه د شاعرانو رحمان راغی

یعنې د معنا له لحاظ ما د میرزا او ارزاني غوندې ښه شعر ویلی دی کاواکې، سپکې، سپورې چې نه دي ویلي؛ نو چاته چې د میرزا شعر یې خوښ دی هغه به زما په شعر میرزا د شعر دعوی کوي او چاته به د ارزاني نو هغه به د ارزاني د شعر دعوي پرې کوي نو زما له شعر سره د شاعرانو قدر کېږي دا ځکه چې زه د شاعرانو قدردان یم.

بې قدري نه کوم، او دا شاره خوشحال ته وو، چې هغه ویلي و:

د میرزا دیوان مې ومانده په کوډي

مسخره مې ارزاني خویشکي زمند کړ

نور رحمان بابا چې د خوشحال په باره کې څه ویلي دي هغه بې وجهې نه دي:

څوک بې وجې چاته توره تېره نه اخلي

خپل عمل دی چې دینا یې کړه هلاکه

د تاریخ مرصح په دلته په آینده کې بحث وشي:

ته چې بل په غشو ولي هسې پوه شه

چې همدا غشي به ستا په لور گوازر شي

له دې را وروسته افضل خان په تاريخ مرصح خپل کتاب کې د ختېکو اختلافات او رايي د عبدالرحمان بابا په برخه کې اظهار کړې چې دلته راوړل يې ضروروي دي.

**د تاريخ مرصع د واقعې حقيقت**

د " د مظلوم رحمان" ليکوال وايي، ما دا مضمون د وحدت اخبار لپاره ليکلی و چې په دې کتاب کې مې شامل کړ نو ځکه په کتاب کې مکرر راغی.

د ختېکو مشرانو شاعرانو او رحمان بابا اختلافاتو او مقابلو کې د تاريخ مرصع مصنف افضل خان ختې: هم برخه اخيستې ده خو څنگه چې افضل خان شاعر نه وو، بلکې مورخ و؛ نو نو د مورخانه فن مطابق انداز کې يې په ډېرې چالاکۍ او عيارۍ ددې انتقام او بدل اخيستلو کوشش کړی دی د رحمان بابا نوم يې په مستقيم ډول نه دی اخيستی خو درحمان بابا د وفات د کال ورکولو او نامعلوم کولو کوښښ يې کړی دی په داسې حال رنگ کې چې هغه ورقعه او مرثيه د جمال خان چې رحمان بابا د هغې د ويلو نه وروسته ډېر ژر په همدې کال کې يعنې( ۱۱۱۸هـ) کې وفات شوی دی چې په دې حساب دغه د واقعې کال د رحمان بابا د وفات کال هم دی او دا واقعه په (۱۱۱۸هـ) کې پېښه شوې ده.

افضل خان دا واقعه په خپل تاريخ کې دېره متخصره د مافي بعيد په صيغو کې بيان کړه، ځکه چې دا واقعې سره يې ډېر غرض نه وو؛ خو د واقعې تاريخ اوسني سره يې د رحمانه بابا د وفات په سبب کارونو تاريخ يې ورته (۱۱۲۳هـ) وليکه مطلب يې دا وو که چا د رحمان بابا دوفات هغه صحيح هم ليکلي وو، نو ددې واقعې د غلط تاريخ د ليکلو سره به رحمان بابا د وفات هغه صحيح هم ليکلي وي، نو ددې واقعې د غلط تاريخ ليکلو سره به د رحمان بابا د وفات هغه صحيح تاريخ هم په راتلونکې زمانه کې ورک او نامعلوم شي. کنه اختلافي خو به ضرور شي، ځکه راتلونکی خلک دا ولولي نو و به وايي چې د رحمان بابا د وفات تاريخ (۱۱۱۸هـ) نه دی بلکې نامعلوم دی ( ورک دی؛ ځکه چې په ۱۱۱۳هـ کې خو رحمان بابا د جمال خان مرثيه ويلې ده، نو څنگه په ۱۱۱۸هـ دی وفات شوی دی؟ ښه نو څه تاريخ دی؟ معلوم نه دی؛ خو د (۱۱۲۳هـ) نه مخکې نه دی وفات شوی او وروسته ترې معلوم نه دی، نو د وفات تاريخ يې نامعلوم شو!

" د امن تو ذرا دیکها ذرابند قباد یکها"

گویا پّ ژ،ند یې ترې عملي بدل نه شو اخیستلی، مرګ نه وروسته یې ترې واخیسته او ددې لپاره چې څوک په افضل خان شک هم وهه کړي دا د خټکو خانداني تاریخ دی په دې کې د جمال خان مومند واقعه ولې لیکل شوې ده؟ نو د اعتراض نه د ځان صفا کولو او د خپل علمي واقعه خیانت د ګناه پټولو لپاره یې د جمال مومند د واقعې نه وروسته یو څو واقعات هم ولیکل چې یوه په کې د جمال بن حمزه واقعه ده، خو د جمال بن حمزه واقعه یې لږه اوږده د جمال خان له واقعې نه بیان کړې ده.

د ( مظلوم رحمان) کتاب لیکوال د کتاب په (۸۴) مخ کې زیاتوي، خو خدای ج د حقیقت د مثلاشي انسانانو ته د عقل جوهر ورکړی دی که څه هم افضل خان خټک په ډېرو عیارۍ او چالاکۍ سره دا کوشش کړی دی خو دا کوشش یې ناکام دی، ځکه چې دده د تاریخ مرصع داخلي شهادت دده په خپل عمل او تقوی باندې موږ ته دا اجازه نه راکوي چې موږ دا واقعه د جمال خان مومند یې د څه غرضه وګڼو او ووایو چې افضل خان دا واقعه بې له خپل غرضه فقط په جمال مومند باندې د افسوس کولو او خفه کیدلو له وجهې لیکلې ده، څنګه یې چې د خپل خانداني غرض د پاره شیخ ضیاالدین مرحوم د واقعې د بیانولو نه سترګې پټې کړې دي او د خپل سه تره عبدالقادر خان خټک د وفات واقعه او تاریخ یې د خپل ذاتي غرض لپاره نه ده بیان کړې. د اخون درویزه د وفات واقعه یې د خپل نیکه خوشحال خان د غلطۍ ټوکې ک ولو د رښتیا کولو په وجهه په عجیب و غریب رنګ کې بیان کړې ده او داسې نور نور... دا شان د جمال خان واقعه یې هم بې غرضه نه ده بیان کړې ځ:ه یې په وړه غونډې واقعه کې ډبل ډبل تاریخونه لګولي دي.

لیکوال د افضل خان په تاریخ لیکنه بیا بیا انتقاد کړی دی؛ لکه:" کله چې د تاریخ اوسنی د لیکلو ضرورت وي، د خپل انتقام اخیستلو لپاهر یې نه دی لیکلی لکه د اخوند درویزه بابا[1] د وفات تاریخ په هماغه واقعه کې چې د خوشحال خان او اخون بابا د خاندان د رقابت په وجه یې نه دی لیکلی او کله چې د تاریخ اوسنی ضرورت د لیکلو نه وي"

نو د خپل فاسد غرض لپاره به یوه فاسده سنه لیکي، لکه د جمال خان د واقعې سنه. ځکه چې جمال خان خو

---

[1]- عیاري ۲ـ چلالي ۳ـ اخون درویزه

کوم لوی ولي یا پادشاه نه وو، خو اصل غرض یې د رحمانبابا په تاریخ کې و، چې افضل خان د خپل خاندان رقیب او حریف گاڼه، نو د اقتضا حال دا واقعه بیانول په خپله دې خبره دلالت کوي چې رحمان بابا د جمال خان د مرثیې نه وروسته ډېرې ورځې ژوندی نه دی پاتې شوی بلکې ژر وفات شوی دی؛ نو ځکخه افضل خان دا واقعه ډېره مهمه  گڼلې ده او په لنډ ډول یې د خپلو تاریخونو سره ولیکله.

د ( مظلوم رحمان) کتاب لیکوال په (۵۸) مخ کې زیاتوي:" افضل خان ساسي ملک وو چې په سیاست کې یې هر څه روا گڼل، د خپل سکه تره عبدالقادرخان قیدول او قتلول وو او که د بزرگانو سره ناروا او غلطي تړوکې؛ نو درواغ لیکل خو معمولي خبره وه، ځینې تاریخونه خو د دوراغو او پروپاگند لپاره لیکل شوي دي او لیکل کېږي" نو د رحمان بابا د وفات په باره کې د افضل خان غوندې سیاسي ملک په تاریخ مرصع اعتماد کول او د هغې واقعه په دلیل کې پیش کول انتهالي غفلت او بې احتیاطي سره سترگې پټول دي، په ځانگړې توگه چاته چې د رحمان بابا او د خټکو شاعرانو رقباتونه او اختلافات او مقابلې هم معلومې وي.

د افضل خان په غلطۍ باندې خارجي شهادت په خپله د عبدالقادرخان خټک همداغه مرثیه د گل خان او جمال خان ده په مرثیه کې یو شعر دی چې د مرثیې د ویلو وخت د جاجو جنگ نه مخکې موږ ته په گوته کوي او جاجو جنگ په (۱۱۱۹هـ) کې واقع شوی دی هغه شعر دادی:

له  پادشاه شهزادگانو و سواس دی

اخته شوی دوی په جنگ سلطان دی        ( حدیقه عبدالقادر: ۱۸۷)

یعنې د شاه عالم نه چې ځان شاه گڼي، نورو شهزاده گانو ته چې اعظم شاه او نور وورونه یې دي؛ اطمینان نشته، بلکې ورته د خطر واسوس دی؛ نو ځکه دوی د بادشاهي او سلطاني جنگ په تیاري کولو کې اخته او معروف دي چې جنگ واقع شوی او فیصله شوی نه وو.

عبدالقادر ددې خبرې له کولو نه وروسته پّ کشر او مقطع کې داسې وایي:

نه له چا یې طمع شي نه له چا وېره

خو څبرې رښتیا کړې کرلاڼې دي

یعنې نه له چا وېرو او نه له چا طمعه کوم؛ نو ځکه ما څو رښتیا خبرې وکړې دا خبره یې افضل خان ته واوروله

چې د شاه علام وفادار او خيرخواه وو او شاه عالم په روان خفه کېده.

نو معلومه شوه، چې د جمال مومند واقعه په (۱۱۲۳هـ) کې ليکل غلطې ده؛ ځکه چې مرثيه يې د (۱۱۱۹هـ) نه مخکې (۱۱۱۸هـ) کې ويل شوې ده او د ژوند و مرثيه څوک نه وايي؛ د مړ ووايي.

همدارنګه رحمان بابا چې کومه مرثيه د جمال خان ويلي ده په هغه کې يو شعر يا يو بيت دی دا ثابتوي چې د جمال خان مرثيه د جاجو د جنګ يعنې د (۱۱۱۹هـ) رحمان بابا ويلي ده وګورئ:

شاه عالم، اعظم وګوره چې يې سخا کړ

په خونونو واړه ملک د هندوستان[۱]

يادونه: شاه عالم يعنې بهادرشاه اول چې په (۱۱۱۹هـ) کې پادشاه شوی دی د اعظم يعنې اعظم شاه چې شاه عالم په (۱۱۱۹هـ) کې د خپلو زامنو سره د جاجو جنګ کې مړکړ.

او شاه عالم او اعظم شاه له کابله تر مدارا سره خلک مړه کړل او ټول ملک کې خوسا کړ، له بده مرغه خونونه دواړه شهزاده ګانو کړي او دا يې ډېر مغرورانه او حمقانه کار وو؛ لکه:

۱ـ خونونه دواړو شهزاده ګانو په شريکه کړي دي.

۲ـ يو نه زيات دی

۳ـ په يوه حصه د هندوستان کې نه دي، بلکې په ټول هندوستان کې دي چې له کابله تر مدارا پوې يو هندوستان ګڼل کېده.

بله دا چې ددې شعر او مرثيې وئيلو په وخت کې لا اعظم شاه ژوندی معلومې.ي چې د ژوندي شاه عالم سره يو

---

[۱]- رحمان ديوان ۸۲

خوسا ـ وروست، بوين

جاجو جنګ

جنګ سلطاني

ځای ستایل شوی دی او که ددې مرثیې او شعر د ویلو په وخت کې اعظم شاه مړ وي او د شعر خونونه ته د جاجو جنګ مراد وي، نو بیا به د شعر رنګ او شرنګ بدل وای او شعر به داسې وی.

شاه عالم ته وګوره چې یې مړ کړ، اعظم شاه او د هغه ټول فرزندان تر معلومه شوه چې رحمان بابا د جمال خان مرثیه د جاجو د جنګ او د شاه عالم د پادشاهۍ له (۱۱۱۹هـ) نه مخکې په (۱۱۱۹هـ) کې ویلې ده چې دا رنګه د رحمان بابا د مرثیې نه هم ښکاري چې د افضل خان خټک سنه غلطه ده او پّ پورتنۍ شعر کې چې رحمان بابا کومو خونونو او جنګونو د شهزاده ګانو ته اشاره کړې ده قطعي جنګویي اورنګزیب په مرثیه کې ذکر کړې ده چې د اورنګزیب به ورته دواړه شهزاده ګان لیږل او په هغه جنګونو کې دا ټول حوادث موجود دي چې هغه شعرونه عبارت دي له:

په فریب فریب یې خپل کړ

بیجاپور او بهاګ نګر

بیجاپور بهاګ کړ څه وو

لا جنجا او جنجاور

هم یې ه ند په ډکه واخیست

هم کابل او پیښور

له پورتنۍ تحقیق نه دا هم ثابته شوه چې د جمال خان واقعه د اورنګزیب د مرګ نه وروسته وه لکه څنګه چې ورته د عبدالقادر خان په شعر کې اشاره شوې ده.

له بادشاه د شهزاده ګانو ته واسوس دی

اخته شوي دوی په جنګ سلطاني دي

څکه چې په پادشاهۍ باندې د شهزاده ګانو جنګ د اورنګزیب د مرګ نه وروسته شوی دی او قصیده د جنګ نه مخکې ویل شوې ده جې جنګ د ختمېدونه وروسته شاه عالم یو مطلب العنان پادشاه په کال (۱۱۱۹هـ) کې جوړ شوی دی.

نو ددې قصایدو او واقعاتو ترتیب زمانې دارنګه دي.

ـ اول د اورنګزیب مرګ دی ورپسې د رحمان بابا مرثیه ده او د اورنګزیب د مرګ پّ باره کې خو ددې مرثیې د دوه شعرونونه معلومېږي چې د جمال خان مومند واقعه د اورنګزیب د مرثیې نه مخکې وه هغه دوه شعرونه دادی:

په رڼا خلک زیست کړ

نه څه خوف وه نه خطر

خو چې مخ یې په غروب کړ

نور پیدا شه شعر او شر[1]

ددې شور و شر او خوف خطر نه د جمال خان واقعې ته اشاده ده چې د اورنګزیب نه وروسته پېښه شوې ده؛ نو ترتیب زمانې داسې دي:

ـ اول د اورنګ زیب مرګ

ـ دویم د جمال خان واقعه

ـ درېیم د اورنګزیب مرثیه

ـ څلورم د جمال خان مرثیه

ـ پینځم د اعظم شاه قتل او د جاجو جنګ

ـ شپږم د شاه عالم اعلان د پادشاهي

لیکوال وایي:

له ترتیب زماني نه مراد دادی چې تر څو پورې اورنګزیب نه و مړ شوی نو د جمال خان واقعه نه وه پېښه شوې او

[1] بهاګ نګر ـ بېچاپور ـ جنجاور ـ ډکه

تر څو پورې چې جمال خان واقعه نه وه پېښه شوې نو د اورنګزیب مرثیه لا نه وه ویل شوې او تر څو چې د جمال خان مرثیه نه وه ویل شوې، نو د اعظم شاه قتل نه و واقع شوی او تر هغه پورې چې د اعظم شاه قتل نه وو واقع شوی شاه عالم العنان پادشاه نه جوړ شوی.

د حضرت بابا په برخه کې خورا بلا کوټې کوټې کولالانو نظر ورکړی موږ دلته مختصر جاج یې اخلو؛ دا مو مخکې هم لیکلي وو، د نورو لیکوال تر څنګ او فهم د رضواني ذکر هم کوو.

**رضواني او رحمان بابا**

دلته بیا لیکوال تېرې یادونې کوي او وایي:

" نو ددې ترتیب زماني نه دا هم معلومه شوه چې اورنګزیب مرثیه د شاه عالم د پادشاهۍ نه مخکې ویل شوې ده او د رضواني دا اشعار چې رحمان بابا د شاه عالم د دور شاعر ګڼي؛ غلط دی:

بیا پۀ دور د شاه عالم په  سربېو کې

را ښکاره شو په جهان عبدالرحمان

تا به وي چې د شیراز خواجه حافظ دی

چې پیدا شو ولس کې دا افغان

موسیقار غوندې یې هسې نغمې وکړې

چې یې پورې کړلو اور په کل جهان

د ( مظلوم رحمان) کتاب لیکوال په (۹۰) مخ کې لیکلي او زیاتوي چې دا درې بیتونه له حقیقت نه خالي دي او درواغ دي او ګذب په کې پورت دی او شعر وایي چې رحمان بابا د شاه عالم په دور کې را ښکاره شوی دی او حال دا چې بابا د شاه عالم بادشاهۍ نه وړاندې وفات شوی دی د شاه عالم دور یې لیدلی هم نه دی او که د بابا په اشعارو دوی نه پوهیدلی او غلط مطلب یې ترې اخیستی وي نو ډېره ښه ده اشعار دادي:

او بس نوبت د شاه عالم دی

دور تېر شعر دگر

خدای زده څه بازي شي پېښنه

عاشوره شي که اختر

یعنې اوس وار د شاه عالم د باشاه کېدلو دی چې پادشاه شوی لا نه و، ځکه د پادشاه دور بدل شو او د اورنگزیب دور تېر شو، چې مړ شو، اوس د شاه عالم د بادشاه کېدو دور راغی؛ خو معلومه نه ده چې په هند به د عاشورا یعنې غم راځي؟ اختر یعنې خوشحالي؟ مطلب دا چې د اخون درویزه او غم سره به پادشاه کېدې که یې اخون درویزه او به جنگه د خوشحالۍ سره نو معلومه شوه چې دا مرثیه د عاشورا یعنې د شاهزاده گانو د جنگ او اخون درویزه نه مخکې ویل شوې ده، اعظم شاه لا د زامنو سره په جاجو کې نه و قتل شوی نو ځکه بابا وایي:" خدای زده څه بازي شي پېښنه" یعنې څه لوبه به پېښنه شي.

بله ده چې مرثیه د جمال خان د مرثیې نه وروسته ویل شوې ده او مخکې تېره شوه، چې جمال خان د مرثیې د ویلو په وخت کې د جاجو جنگ واقع شوې چې اعظم شاه په مړ شوی دی او شاه عالم بیا پادشاه شوی دی نو رضواني د نوبت ترجمه د پادشاهۍ سره کړې ده چې غلطي ده نوبت وار ته وایي پاد شاهۍ ته نه وایي او که شاه عالم پاده شاه وي بابا په خپله داسې ویلي دي:

اوس شاهي د شاه عالم ده

دوره طور[1] شه دگر

اعظم مړ شو هم اولاد یې

هم یې مړ شه څه لښکر

د رضواني دویم شعر ځکه حقیقت نه خالي دی چې خواجه حافظ باندې د خپل شعر او کلام په وجه کفر فتوی لگېدلې ده هم په ژوندون او هم پس له مرگه د رحمان بابا کلام پخپله علماوو او بزرگانو خوښ کړی دی لکه سوات صاحب مشهور قول نو دا چې نسب خاک او با عالم پآک دربیم شعر له حقیقت نه خالي او دروغ دی چې کل جهان خو په پښتو نه پوهېږي نو پّ کل جهان یې اور څنگه پورې کړ، دا بې ځایه مبالغه ده یې ځایه

[1]- نوبت ـ وار  دور ـ گردش  زمانه  ـ طور ـ طریقه

صفت يې مه کوئ خو بې ځايه سپکه چې هم مه وايي.

بابا په د ځان په برخه کې په خپله قصيده کې يادونه ک وي هغه له نفسې خواهشاتو لرې ځي د اوليکلي کرامو په ځير خان يو متعالی رنگ اخلي او آن له مرگ يې پروا کېږي او جاويداني ژوند خوښوي،

### ۳ – ۱۱ په پټه خزانه د قاديانيانو د تنقيد وجه

**نو د پټې خزانې** " په روايت په کال (۱۱۱۸هـ) کې رحمان بابا وفات شوی دی اگر چې په پټه خزانه باندې خينې غير دينه يعنې مرزايان تنقيدونه او اعتراضونه کوي او د (پټې خزانې) روايتونه غلط ثابتوي، خو موږ مرزايانو تنقدونو او تحريفونو ته څکه څه اهميت نه ورکوو چې د هغوی ټول کارونه او عمل تسخر کړي دي تعمير يې د کار خو د هغوی مشرانو لا هم نه دي کړي د مسلمانانو په پوره دين او يدني شخصيتونو تنقيدونو او اعتراضونه کوي نو پټه خزانه لا ورته څه ښکاره کوي.

زموږ په نظر کې پټه خزانه څکه معبر کتاب دی چې يو خو خالص د شاعرانو د خالاتو په باره کې ليکل شوی دی بل د رحمان بابا زمانې ته نږدې دربيم گړی سړی ليکلی دی چې نه د رحمان بابا د خاندان سړی دی او نه د خوشحال خان د کورنۍ بلکې د خوشحال خان او د هغه د کورنۍ حالات يې هم ليکل دی څلورم د روايت يې د رحمان بابا د شاگرد يونس خيبري نه اخيستی دي چې د يونس خيبري ددې ننه مخکې هم د رحمان بابا په مرثيه کې د اخيستې په کشل ليکلی وو، د هغه مرثيې څو بيتونه دادي:

چې پيدا له اشنايۍ سره هجران شه

څکه داغ مې په خاطر باندې ارمان شه

انجمن د ښوپارانو نوبهار دی

جداييورباندې پيروگر خزان شه

چې د قدر کې درونه دربياب وو

اوس صدف د هغو درو گورستان شه

له رحمانه فيض باب عبدالرحمان شه

چې له دې سرایه په نوي سرای مهان شه

د پښتو شعر یې هسې نامه یو وړه

چې خبر یې په اشعار ایران توران شه

په لذت شعر به څوک کاندي یونسه!

چې په مرگ باندې خاموش عبدالرحمان شه[1]

یونس خیبري په دې تاریخي مرثیې باندې غلط اعتراضونه پورته کول چې د قدیم رسم الخط کې چې ( له ـ په ـ شه) داسې ح ـ ل، پ، ش، لیکل کېدل بالکل کذب او درواغ دی او د ( طاهرو مړ په شباب کې) عبارت پّ دلیل کې پیش کول ښکاره تخریف دی چې ددې عبارت له هېڅکله صحیح شنه ( ۱۰۹۸هـ) نه شي راوتلی بلکې ـ۱۰۸۸هـ) ترې راوځي صحیح سنه ـ۱۰۹۸هـ) به ترې ایله راووځي.[2]

چې په موجوده رسم الخط خو (چه) دا (چ) چې او (ی) یا په صورت کې یعنې داسې (چې) لیکلي خوشحال خان دا عبارت داسې لیکلی دی:" طاهرومړ تشباب کې" د طاهرو مړ په شباب کې" صحیح عبارت او پوره شعر و گورئ:

د طاهرو مړ تشبابا کې دا تاریخ دی

چې په کال دده د مرگ ترې را پرڅېر شي

۱ـــــــــــــــــــــــ

ارمغان خوشحال ٦٠٧)

د خان خوشحال خان صاحب له عبارت څخه صحیح تاریخ راوځي د معترض حوالو ته چې سړی وگوري نو د معترض په حوالو د سړي اعتماد ورک شي ځکه لکه څنگه چې یې د احوالو غلطه او په درواغو ورکړې ده دا رنگه

---

[1]- یونس خیبري دیوان یوولسم مخ

[2]- خدمتگار، بختاني، ۱۳۵٦هـ. د یونس دیوان، کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت. د پښتو پرمختیایي او پیاوړتیا آرشیف.

يې د " بلغ العلی" حواله پّ درواغو پيش کړې ده د صحفې تنمبر خو يې په دواړو حوالو کې ځکه نه دی ورکړی چې درواغ يې رسوا نه شي.

څنگه چې (پ) چې دشباب د لفظ سره يو ځای ليکل شوې وه دارنگه ليکل په قديم او جديد رسم الخط کې يو شان مقبول او صحيح گڼل کېږي، خان صاحب فرمايي:

چې په حکم د حکيم کاندي انکار

تر هغه به بل نه وي نا پکار[1]

رحمان بابا فرمايي:

بدله ور سره يو په نيک له نيکو

د جفا په ځای وفا څه پکار نه ده[2]

ليکن داسې (ب) د خان صاحب په منظور او منثورو آثارو کې هم څوک نشي ليدلی په ټول کلام کې لفظ د (ب) صحيح او (هـ) سره ليکلی دی چې ټول آثار يې په دې خبره گوز دی او په لفظ کې يې (ښ) کې يې حرف (ی) هم ليکلی دی که ځير نه شي ليکلی نو صحيح سنه ترې نه راوځي بلکې (۱۰۸۸هـ) راوځي په خپل ديوان غزلو کې هم لفظ د کښ د (ی) په رديف کې راونشي وگورئ:

چې د خلکو نيک خواهي لري په زړه کې

مبارک شه باد شي لري په زړه کې[3]

د ر حمان بابا يونس حيبري او خوشحال خان د رمانې رسم الخط تر اوس پورې محفوظ دی چې د موجوده رسم الخط سره يې ډېر فرق نشته چې هغه کې دا ټول حروف په همدې صورت ( چه، له ، په ، شه) ليکل شوي دي بې د شعر رديف نه چې په رديف کې لفظ د شما د زړه والا شين په شکل يعنې داسې ( ش) ليکل کېږي او

---

[1]- ارمغان خوشحال خان ۷۴۹

[2]- ديوان رحمان بابا ۱۳٦

[3]- ارمغان ۸۷)

په شعر کې د ننه په اصلي شکل ( شه) لیکل کېږي او دا لفظ د مومند او خیبر د خلکو دی؛ نو د یونس تلفظ هم (شه) دی ځکه چې یونس د خیبر د علاقې وو، د ختیکو تلفظ د (و) سره یعنې شوی دی، وګورئ د رحمان بابا د نعت څو بیتونه چې دا حروف په کې لیکل شوي دي:

که صورت د محمد نه وای پیدا

پیدا کړې به خدای نه وای دا دنیا

کل جهان د محمد په نوم پیدا شو

محمد د تمام جهان آبا

نبوت په محمد باندې تمام شو

نشته پس له محمدهه  انبیاء

نورهاله د محمد و پیدا شوی

چې نه عرش وه نه کرسي وه په سما

بوی هاله د محمد و په جهان کې

چې بوی نه و د آدم او د حوا

که صورت آخرین دی پیدا شوی

په معنا کې اولین دی تر هر چا

که بني دی که ولي دی که عاصی دی

محمد دی د همه واړه پیشوا

چې یې دین د محمد دی قبول کړی

جنتي دی که فاسق دی که پارسا

محمد د گمراهانو رهنما دی

محمد دی د ړوند د لاس عصا

که رڼا ده د پیروي ده محمد ده

گڼه نشته په جهان بله رڼا

محمد د پیچارو چاره گردی

محمد دی د هر دردمن لره دوا

خدای يې مه گڼه ببشکه چې بنده دی

نور يې کل واړه صفات دی په رښتیا

زه رحمان د محمد د در خاکروب یم

که مې نه کا څوک له دې دره جدا

په پورته نظم په څو بیتونه کې، آن په ټولو کې گورو چې په ( په، شه، نشته، له، چه) يې په همدې موجوده صورت لیکلي دي دا موجوده صورت زموږ د افغانستان له مرکزي پښتو له رسم الخط سره بیا هم سر نه خوري موږ يې داسې لیکو( په، شه، له، چې!)

د کتاب لیکوال په (۹۵) مخ کې زیاتوي چې تاریخي شعر مصرع[۱] یا کلمه چې جوړېږي اول هغه حروف راجمع کړی شي د کومو نه چې د تاریخ عدد پورې جوړېږي بیا د هغو حروفونه مناسب او با معنی الفاظ جوړ کړی شي او بیا هغه الفاظونه، کلمه، مصرع یا شعر جوړ شي نو ددې طریقې او لارې مطابق به یونس خیبري اول حروف مطلوبه راجمعه کړي وي بیا به يې ترې دا کلمات جوړ کړي وي چې کلمات کې به ضرور تقدیم او تاخیروو( چې سرای نوی شه له سرایه په مهان دی) خو چې کله يې دې کلماتو ته شعري ترتیب ورکړی دی نو داسې مصراع جوړې شوې دي( چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه) لیکن څنگه چې هغه ته معلومه وه چې لفظ د شد نثر یا په منځ د شعر کې راشي نو همداسې یعنې د (شه) لیکل کېږي؛ خو د هغې زمانې د شاعرانو درواج او

[۱]- مصرع ـ شعر

عادت دا وو چې (شه) په آخر کې د شعر یعنې ردیف کې راغی نو زور والا سین به یې ولیکه یعنې داسې د (ش) به یې ولیکه، خو ددې نا خبره هم وو چې د اصلي صورت او شکل یې هغه دی چې سین دهې سره وي ځکه خو یې په دیوانونو کې ځای په ځای همداسې لیکلي و نو دا تاریخ ۰شه) یې هم (شه) ولیکه خو د (ش) عددي ارزش یې د (شه) عددي له ارزش سره برابر وګڼه؛ ځکه چې د (ش) د (شه) قایم مقام او دویم صورت او شکل دی.

او دا اعتراض کول چې تاریخ اعلان یې نه دی کړی او تاریخ مصرع یې په مخ د مرثیې کې راوړې ده د شاګردانو او ماشومانو اعتراض دی چې د نعمیه ګویي په معنی او مطلب نه پوهېږي او افرین په استاد عبدالشکور رشاد باندې چې دا ګررانه او مشکله نعمیه یې حل کړې ده د معترض غوندې استادانو خو به سل کاله کې هم نه وی حل کړې.

بله دا چې د (ش) چې ارزش یې د (شه) سره برابر دی زما ذاتي رایه نه ده پخپله په دغه نعمیه کې یوس مرحوم دې خبرې ته اشاره کړې ده چې له تاریخي مصرعې نه یې په مخکې مخکې مصرع کې لفظ (شه) دهې سره لیکلی دی ځکه چې هلته د ردیف مجبوري نشته او اشاره یې وکړه د ردیف (ش) ته چې په عددي ارزش کې (شه) دی وګورئ پوره بیت:

له جهانه فیض یاب عبدالرحمان شه

چې له دې سرایه (۱۱۱۸هـ) په نوي سرای مهمان شې

لکه څنګه چې ما مخکې وویل چې تحریف د مزاریانو دین دی نو د بلغ العلی په کلماتو کې یې هم ښکاره او صریح تحریف کړی دی او بلغل غلا یې لیکلې ده حال دادی چې مسلمانانو د څلوارلس سوه کالو تاریخ پّ دې جزه ګواهي ورکوي چې بلغ العلی کلمات داسې هېڅا نه دی لیکلی نه اخوان ګدا او نه بل مصنف، یوازې همدې معترض نه، څومره زړه ورو دي چې په رڼا ورځ غلا او تحریف کوي:

نه رهي اهل بصارت توبې خردچمکی

زوال عقل هوا نفس کې فروغ کې بعد

زوال قوم کی جب آلی دن ای اکبر

اویخی مقبول یلی هوئی عقل کې د شمن پیدا

له دې سره سره د بابا وخت یا لږ وروسته شاعرانو او لیکوالانو هم د رحمان بابا په برخه کې نظریات خواره واره ورکړی دی د هغو له جملې کاظم خان شیدا هم بابا ته ډېر لوړ احترام کړی دی چې راوړل یې دلته ضروري ګڼم؛ د بابا د لمسي امام حنفي د خپل کتاب په (۹۷) مخ کې دغه جریان په دې ډول راوړل شوی دی.

### ۳ – ۱۲ د بابا وفات

د راز هجر مې حاصل شه له راسخه

لکه سروه مدام سبزو تازه پایم

رحمان بابا د جمال خان په قصیده کې داسې خپل خواهش ښکاره کوي او په خپل یوه شعر کې وایي په کار دا وو چې اوس زما نفس هم خوراک څښاک نه کولای، ؛ویا د خپل مرګ تمنا او غوښتنه د ادب په حدودو کې او د خدای ج په حضور کې په ادبي رنګ کې پېش کوي لکه څنګه چې اولیا وو شان څکه چې رحمان بابا نور په دنیا کې خوشحاله نه وو شپږ اویا(۷٦) کاله ته یې هم رسېدلی وو، د زمانې ډېر تودې سړې یې لیدلی وي، سپین ږیری او کمزورې شوی وو څکه چې اوږد عم ریې بشپړ کړی وو، هغه ادبي خواهش دا وو:

له دې خپله سپینه نفسه مې زړه بد شه

چې اوبه څښې یا خواړه خوري په جهان

د خدای تعالی په حضور کې یې له ډېر انکسارۍ او عاجرۍ نه خپل نفس ته سپې وویلی، نو خدای ج یې هم ډېر ژر تما قبوله کړه او ددې واقعې نه وروسته یې د خپل رحمت ګاوندی[1] ته وبالا چې دارنګ د بابا خواهش الله پاک پوره کړ او په دې خبره باندې د مسلمانانو د اولیاء تاریخونه ګواه دي چې د خدای ج دوستان کله په دنیا کې د ژوند نه کولو تنګ او خفه شي نو الله تعلی یې د آخرت ته وروبولي آن تر دې پورې چې ډېرې اولیاء کرام د خپل کفن بندوبست هم وکړي، وصیت و کړي او بیا خدای تعلی ورسره هم هغوی خواهش او صیب مطابق مطالعه وکړي.

یاداښت:

وایي چې له مرګه ټول ژوندي شیان او بیا انسانان وېرېږي خو یوازې انبیاء او پیغمبران علیه السلام څینې

---

[1]- نفس ـ انکسارۍ ـ عاجزي ـ ګاوندی

صحابه او اولیاء کرام نه ډاربږي دا ځکه چې دوی د ژوند او مرګ په واقعیت ښه پوهېدلی وي او د آخرت رښتنی حقیقت یې په عقیده او باورنو کې دا اثبات رنګ او خوند اچولی وي یو خو یې د قرانکریم په دې نص پوره باور پیدا شوی وي چې:" فا اذا جا اجلهم الایستا خرون ساعتم ولایستقدون".

یعنې اجل له مقرري ورځې سره سم رسېږي، دا خبره او د قران کریم دغه ارشاد موږ ټولو لوستی، اورېدلی خو باور وربادي نشو کولای. دا ځکه چې مرګ ته نشو تېنګېدلای ( وایي مرګ نیستی ده) او دغه راز دا قرآني جمله خو هره ورخ اورو؛ لکه: کل نفس ذایقة الموت، خو بیا داسې ورځ هم راځي چې موږ ځان نشو نیولای، یعنې مرګ عادی خلک په سختۍ مني او د چا خبره دا ګورته له نا علاجه ځه" همدا وجهه ده چې لوی خدای پنځه شیان نامعلومه پرې ایښي دي او دا راز یې یوازې ځان ته ساتلي دي او آن پیغمبرانو ته هم نه دي معلوم چې د هغو له جملې یو یې مرګ دی، چې په هېواد او نړۍ کې په (۱۳۰۰هـ( کال د کرونا مرض یا کوید۱۹ ناروغۍ پیداکېدلو چې مرګ کوي، ځومره خلک په تشویش کې اچولي دي که خبرې را لنډې کړو رحمان بابا د اولیاء وو کرامو له جملې نوموړي د الله ج د پخوا او درنو اشاردانو سره چې خیر او غزت ټول له الله سره دي بابا هم د هغو پر مټ خپل باور جوړ کړی او د آخرت لار یې په خپله غوره کړې ده د علامه اقبال په وینا:

نشان مرګ مومن با تو ګویم

که چون مرګش رسد خندان بمیرد

الحافظ شریف احمد حنفي افغاني د رحمان بابا د دربار جومات او د ( مظلوم رحمان) د کتاب په (۹۲) مخ کې ( پټه خزانه) د قادیانانو د تنقید وجه په ښکاره تورو او کلمو تقدوي او پټه خزانه رښتنی او قوي باوري سند بولي او دا دلیل وړاندې کوي چې دغه کتاب د دربیم شخص لیکلی دی هغه شخص نه د رحمان بابا د کورنۍ و او نه د مخالفینو بلکې د دربیم بې طرف سړی چې تذکره نګار وو او د رحمان بابا د ژوند زمانې ته نږدې وو، نوموړي په پټه خزانه د قادیانیانو د تنقید وجه داسې رده وي؛ لکه:

**۳ – ۱۳ کاظم خان شیدا او بابا**

کاظم خان شیدا د افضل خان خټک زوی وو او ډېر مشهور او معروف شاعر تېر شوی دی چې په ۱۱۳۵هـ) کې پیدا شوی دی او په (۱۱۹۱هـ) کې وفات شوی دی رحمان بابایې د خوشحال خان همعصره حساب کړی دی، وګورئ دا شعرونه:

په د یار د تمام روه

په دا قام په دا گروه

یو په سرای زبان آور دی

بل چې ځای یې پېښور

په پورتنیو دوو بیتونو کې د شعرونو کې شدا وایي چې په ټول ملک د پېښور کې او د پښتنو په قام اوکړي کې دوه کسان زبان آوران دی یعنې ښه شاعران دی یو په سرای اکوړي کې او بل په خاص پېښور کې. اکوړي کې خوشحال خان او په خاص پېښور کې رحمان بابا دی چې شیدا دواړه د یو بل معاصر مقابل او ښه شاعران و شمارل.

**یادونه:**

دلته که وگورو کاظم خان شیدا له ټول احتیاط، هوښیارۍ فامیلي نزاکتونو او د خپل وی بابا درنښت نه علاوه د عبدالرحمان بابا د ښې شاعرۍ اقرار یې کړی دی او ځای یې د لوی بابا د خوشحال خان او متباقي کورنۍ له جنجال او نیواکو هم ساتلی دی او د چا خبره د خوشبخت یې په بل گوري او بدبخت یې په ځان) په دې معنی چې شیدا په اشرف خان هجري دغه بارډ پړی ولیده، چې د مرگ تر بریده خپل پلار له  لاسه گوابښېده او ډاربېده.

خو بله خبره داده چې کاظم خان شیدا په خپل دغه اقرار کې رحمان بابا ته هم د اعلی درجه شاعر هویت ورکړی لکه:

په دیار و تمام روه

په دا تمام په داگروه

یو په سرای زیان آوردی

بل چې ځای یې پېښور دی

یعنې داسې کاظم خان نه دی ویلي چې اول خوشحال خان بیا رحمان بابا نامتو شاعران دی بلکې یوه سویه لوړتیا یې ښودلې ده.

د مظلوم رحمان کتاب لیکوال په وینا، کاظم خان شیدا او دهغه دوو شاعرانو د خوشحال خان او رحمان بابا له رقابت نه خبر وو د رحمان بابا دیوان یې هم پوره ادبي او علمي رنګ لګه:

چې مخ د پرۍ سترګې د آهو کړې

نه پوهېږم آهو يې که جادو کړې

شیدا دا شعر دويمه مصراع مستقیمه وګڼله او خیال یې دا وکړ که دا دويمه مصراع داسې بدله شي" ته پری يې که آهو يې که جادو کړې" نو دا مستقیم به ترې ووځي یو مخمس یې په دې مصراع جوړ کړی دی چې په هغه کې داسې وويل:

د رحمان بابا په دا مصراع د شیدا زړه دی

ته پري يې که آهو يې که جادو کړې

ددې خبرې د ثبوت چې دا مصراع یې د تنقید لپاره ذکر کړې ده دادی چې دا مصراع په دې رنګ کې د رحمان بابا په خپل منتخب او غیر منتخب کلام کې چې اوس اوس د روایتونو د حوالو سره کلیات په نوم راټول شوی دی، نشته؛ نو ددې جملې ( د شیدا زړه دی) معنا دا شوه چې د تنقید کولو د پاره د شیدا زړه د شیدا زړه ورته شوی دی چې تنقدی پر ښوکړي نو لفظ یې بدل او تنقید یې وکړ او که دا معنا واخلو چې د شیدا زړه دی عینېدا مصرع یې خوښه ده نو بیا یې په کې ولې تبدیلې کوله د رحمان بابا پّ کلام کې خو دا نشته چې ته پري يې اګر د تفنن او الفاظی پلوه د شیدا مصراع له اوپرفريبه ده خو معنا له پوله غلطه ده د رحمان بابا د شعر معنا او مطلب دادی چې تا چې خپل مخ د پري غوندې ښایسته او زیبا کړی چې خلک پرې مین کېږي او خپلې سترګې دې د هوسۍ په شان کړې ته د چا سره مینه نه کوې بلکې د هوسۍ په شان دا لرې نه چې څوګ وګورې تښتې، نو زه نه پوهېږم چې ته رښتيا وحشي او محبت نه بې خبره یې لکه د هوسۍ په شان او که د جادوګرو یې چې خپل غرض او مطلب لپآره په نورو جادو کوې او ته په خپله د چا مطلب او غرض په پوره کوې په دې معنا د بابا دویم مصراع اشرا واضح دلالت کوي:

دعاګو چې د چا و مړي څه بنا دی ده

ته په څه زما و مرګ و ته آرزو کړې

او که مصراع یې تبدیلې شي لکه شیدا چې کړې ده:

تا چې مخ ډېرې سترګې د آهو کړې

ته پري یې، که آهو یې که جادو کړې

نو بیا په په کې معیوبیت ورک شیو فقط بې معنا الفاظي به په کې وي چې په هغه لفاظۍ به دا اعتراض راځي چې په ښاپېرۍ او جادوګر خو مخ بدلولی شي په بل شکل کولای شي لاکن هوسۍ خو دا نشي کولای شي سترګې خپلې پرېږدي او مخ د ښاپېرۍ په شان کړي نو شعر غلط دی.

او دا ووایو  چې د رحمان بابا شعر د معنی په شان دی دلته هم معنا وشي نو هغه معنا دلته د پرې لفظ د ذکر کولو سره اوس نه شي کېدلی ځکه چې د پري د ښایست سره یې هوسۍ او د جادوګرو د ښایست اړخ اخیستی دی نو مطلب د شعر دا شعر چې درته ځوره ښایسته یې نو ته ښاپېرۍ یې، که هوسې یې او که جادوګر یې چې په ما د دوی ځان خلکو ته ښایسته کړی دی.

دلته بیا اعتراض راځي چې ډېری ښایسته خو ( ضرب المثل) دی جادوګر هم د جادو په زور هم ځان د خلکو په سترګو کې ښایسته کولای شي مګر هوسۍ چې مخ یې ښاپېرۍ او سترګې یې د هوسۍ دي دا ښایسته نشو بلکې بلا شوه چې سترګې ترې وېرېږي او هوسۍ خو یو څاروی دی په څارګر څاروي خو څوک نه عاشق کېږي. لیکوال زیاتوي رحمان بابا دوه څېزونه ذکر کړي دي چې په دواړو کې د وحشت خودغرضۍ او بې وفایي اړخ شریک دی او په شعر دې ته ده، شیدا درې څیزونه ذکر کړي دي چې په هوسۍ کې نشته نو بابا په حقه ویلي دي:

چې منکرېږي اعتراض کولای نشي

دادې شعر دی اې رحمانه که اعجاز

د یادولو وړ ده چې رحمان بابا دونه د خوشحال خان د کورنۍ نورو غړو هم یاد انتقاد او ستاینې په ډول کړې ده له مبالغې پرته د رحمان په شعر کې د تنقید او ګوتې اېښودو ځای نشته، په کومه برخه کې یې چې په کوم غزل کې د یو مضمون اظهار کړی دی له بدیعي ښکلاوو یا شکلي اړخونو سره سره د معنا دومره اغز ښندي چې هر څوک ورته ګوته پّ غاښ ډکېږي او زما په نظر دا په (مظلوم رحمان کې د الله د پراخه او با مفهومه هنر پیرزوینه ده چې په لکونو میلونونو او کروړونو انسانانو کې یوه یوه ته برابره شوې ده، د بابا شعر عالمي، انساني مفهومونو، مضمونونو او معناوې رانغاړي چې د بلاغت ښکلا، فصاحت اعجاز کره والی او.....حد ورباندې تمام

دی.

باید ووایو چې عبدالقادر خټک هم د بابا یادونه کړې ده او ځینو په وینا په کم جراأتی یې گوته ورته څه لکه کړې ده.

حضرت عبدالرحمان بابا ټولو ته سینه کړې، چېرې لارې نیولې او هر چا څواب عبدالقادر شیدا مخکې بابا ته گوته نیولې وه خو خبره دلته مه راوړه.

بابا ټولو ته لکه امیرحمزه ورح الله کمزوري ویلي دي چې زه له الفت نه او په خپله خولا عمومي دا اخلاقو عالمي او انساني تصویر په اسلامي شریعت سم کاړي:

لاس په سر و تندي ایښی و هر چاته

همدغه دی شرافت په دا دنیا

او بابا بیا صبر کوي، شونډې چیچي او فارسي بیت معنا روښانوي او انتقادونه دوستي گڼي؛ دی وایي:

هر چه آید ز دوست

همه اش دلبند و نیکو است

اوس به دلته هغه انتقاد په گوته کړو او و به گورو چې عبدالقادرخان کوم ډول اصلي گلونه گلدسته کړې دي.

**۳ – ۱۴ په رحمان بابا د عبدالقادرخان خټک تنقید**

د مظلوم رحمان لیکوال د خپل اثر په (۹۹) مخ کې دا مطلب داسې راوړل شوی دی( د شیدا نه مخکې عبدالقادر خټک یو تنقید ته اشاره کړې ده خو غلط تنقید دی.

بابا ویلي دي:

زه د یا له لاسه ناست یم په زړه سترې

په فلوس مې پکار نه دی درست وگړو

عبدالقادر خان ویلي دي:

زه خټک د یار په غم تازه تازه شم

غوریاخېل رحمان که شعر ورځیني سترې

دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې عبدالرحمان بابا، غوریاخېل نه دی بلکې هغه ابراهیم مومند دی غوریاخېل او براهیم دوه جلا پښتني قبیلې دي چې سجرې یې لنډې دلته راوړم.

الف: محقق ډاکټر عبدالطیف یا د طالبي( پښتنې قبیلې سجرې) دربیم چاپ په (۵) مخ کې راوړي:

زموږ توکم پوهان ابراهیم خېل د غلجیوپښتنو له ټولنیز گروپ څخه شمېري د دوی زیات شمېر د کابل ولایت د پغمان په ولسوالۍ کې، میدان ښار په شاوخوا، د پکتیا ولایت گردیز ښار په سهیلي برخه او د افغانستان په ځینو نورو برخو کې استوگنه لري، د لغمان ولایت د قرغیو په ولسوالۍ کې هم یو شمېر ابراهیم خېل استوگنه لري چې شمېر یې په نوموړي ولایت کې (۱۳٦۰هـ) کال کې د سر شمېرنې له مخې (۱۷۱۹) تنو په شاوخوا کې ښودل شوی دی.

داسې ویل کېږي چې په ابراهیم د سلیمان خېلو د قبیلې یوه څانگه ده.

ب: اوریاخېل یا غوریاخېل د غلجي پښتانه دي او زیات شمېر د کابل ولایت د پغمان په ولسوالۍ کې استوگنه لري، هلته د دوی مشهور کلی او سیمه د خالداریو په نامه یادېږي. د خالداریو د کلي په جنوبي خوا، همداسې په کوزه ارغندۍ تر څوکۍ ارغندۍ او زیات شمېر میدان ښار کې میشت دي.[1]

ددغه خبرې تائید ( پښتانه د تاریخ په رڼا کې ۱۲۷٦مخ کې کړی دی) یو زیات شمېر اوریاخېل د پکتیا ولایت د زرمت (زرملې) په ولسوالۍ کې هو استوگنه لري. د لغمان ولایت په اوریاخېلو سیمه کې د (۱۳٦۰) کال د سر شمېرنې له مخې (۱۲۱۸۸) تنه ښودل شوي دي چې د لغمان په مزکز مهترلام او قرغیو ولسوالۍ کې اوسېږي.
همدا راز یو شمېر اوریاخېل په شمالي کاریز او د کابل ولایت قرباغ په ولسوالۍ کې هم مشت دی، غور سفید کوه یې پخوانی مرکزونه دي.

عبدالرحمان بابا د اراهیمو د مومندو په قبیلې پورې اړه لري او بل خوا د کتاب لیکوال حنفي افغان د قادرخان انتقاد غلا بولي او وایي چې رحمان بابا داسې نه دي ویلي چې: " زه د یار په غم کې ناست یم په زړه سترگې" رحمان بابا لاس یاد کړی دی قادرخان ترې غم جوړ کړی دی د قادرخان تنقید به هله درست وای چې رحمان بابا ویلي وای" زه د یار په غم کې ناست په زړه ستری" د یار د غم په باره کې خو رحمان بابا داسې وایي:

زه د یار په درد و غم کې غرقاب خوښ یم

[1]- طالبي یاد. عبدالطیف. ۱۳۸۵ . پښتني قبیلې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه تنخنیکي څانگه.

په دا اورکې بې طاقته بې تاب خوښ یم

د مظلوم رحمان) کتاب لیکوال په (۱۰۰) مخ کې د خان صاحب تنقید تر سر لیک لاندې بل نظر هم راوړی دی چې زه یې دلته راوړل څخه ډه ډه کوم.

اشرف خان هجري ډېر وړاندې تللی دی او د حضرت عبدالرحمان بابا پّ ادبي او فني شان یې پوره پوره اعتراف کړی دی له همدې امله یې دغه او نور د نومونړي په شعر افتخار کوي، د اشرف خان هجري د بابا د شان اعتراض دلته را اخلو.

ښاغلي افغاني د کتاب په (۱۰۱) مخ کې راوړي:

د اشرف خان **هجري د بابا د شان اعتراف**

نو ځکه خو د هجري په شان شاعر چې په خپل شعر دومره فخر او ناز کوي چې خپل شعر ته جادو وايي او څوک د خپلې مقابلې نه ګڼي.

چې یې سحر بولي څوک شعر زما

نور د ولاړو شعر شعر سحر دادی

که باور دې په دا نشي پاخه ګوره

زما هر غزل شاهد په دا دعوی دی

نشته نشته ځواب ګویه ددې ویلو

که شاعر په ګفتار صد هزار وي

**عبدالرحمان بابا په باره کې وايي:**

د رحمان بابا شعر ځای د لقب نشته"

بېشکه چې د رحمان بابا په لاندې شعر کې حقیقت دی، تعلی معلی نه زده لکه خینې ناپوهان چې یې په شاعرانه تعلی حسابوي او د ځان په شان رحمان بابا هم یو تعلی باز او درواعجن شاعر ګڼي.( معاذالله) ولایت او درواغ سره نه جمع کېږي:

چې منکر کړي اعتراض کولای نشي

دادې شعر دی رحمانه که اعجاز

شریف احمد حنفي افغاني د رحمان بابا او حافظ شیرازي مقایسه دا ډول کړې ده:

دده د کتاب په (۱۰۲) مخ کې راځي.

## ۳-۱۵ رحمان بابا او حافظ شیرازي

دغه ډول مقایسې موږ مخکې هم وړاندې کړې پوهاند دوکتور محمداسماعیل یون په خپل کتاب ——— مخکې کې دا مقایسه کړې ده چې موږ یې کټ مټ راوړو.

دلته به د مظلوم رحمان د کتاب په (۱۰۲) مخ کې یو ځل بیا دده له خولې او قلم دغه مقایسه او پرتلنه بیا تاسو مخ ته کیږدم.

نوموړی لیکي:

چا دا لیکلي دي چې د رحمان بابا د خواجه حافظ د اشعارو او غزلیاتو نه استفاده کړې ده او ځینې وخت یې د خواجه صاحب حافظ د اشعارو او غزلیاتو نه په خلاص مټ ازاده ترجمه هم کړې ده".

مگر دغه لیکونکی په دلیل کې څه نمونه یا اشعارونه دی پیش کړی زما خیال دی چې لیکونکی نه په فارسي پوهېده او نه یې د حافظ د دیوان ترجمه مطالعه کړې ده نو ځکه یې داسې بې دلیله او غلط دعوای وکړه. رحمان بابا په خپله وایي چې ما اجتهاد کړی دی او دا څه دروغ خبره نه ده. د اجتهاد یې کړی دی:

چې دا نور شاعران کاندي هغه نه کا

رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی

اروانښاد کامل مومند هم د بابا د یو شعر په باره کې لیکي چې دا شعر د حافظ شیرازي د شعر چربه ده هغه شعر دادی:

هم نعمی کاندي هم رقص کاندي هم خاندي

د رحمان په شعر ترکي دانگرام

دلته ده د حافظ شیرازي شعرونه دی رانقل کړی خو غالباً کامل صاحب شعر د حافظ ته اشاره کوي:

ز شعر حافظ شیراز میگونید و میرقضد

سیه چشمان کشیمری و ترکان سمرقندی

ترجمه: د حافظ شعر نه وایي او ګډېږي د کشمیر تور سترګې او د سمر قندترکان زه دا وایم چې کامل صاحب پوره غور نه دی کړدی او سهوه شوی دی ځکه چې د حافظ شعر کذب و دروغ پراته دی ځکه چې ده فظ الشعار فارسي دی د کشمیریانو ژبه کشمیري ده چې په فارسي نه پوهېږي نو چې کشمیریان او ترکان په فارسي نه پوهېږي څه به ووایي او څه به ورته ګډ شي. نو دې شعر کې هسې تفنن او تنوع شته مګر حقیقت په کې نشته او د رحمان بابا په شعر کې حقیقت پروت دی او دروغ په کې نشته؛ ځکه بګرام د پېښور پخوانی نوم دی، د پېښور خلک پښتانه دي په پښتو پوهېږي ، د پېښور سندرغاړو د رحمان بابا اشعار ویلي دي نو دا ډېره په خوند او جذب هم نه ګډېږي دا حقیقت د رحمان بابا په ژوند کې  او اوس هم شته، رحمان بابا وایي:

د رحمان شعرونه وایي او ګډېږي

د ایران واړه تور سترګې او د چین هر یو ګلنام

نوموړی زیاتوي د حافظ دوه شعرونه ملاحظه کړئ او بیا د رحمان بابا په هماغه موضوع باندې دوه شعرونه وګورئ چې رحمان بابا اجتهاد کړی او د حافظ هغه شعر عبارت دی له:

گویند سنگ لعل شود در مقام صبر

آری شود لیکن به خون جگر شود

ترجمه: خلک وایي چې کاڼي د صبر په مقام کې لعل کېږي، ولېږي، نرمېږي خو د زړه په وینو:

که په صبر سره تورکاڼي لال کېږي

لال دې نشي په داسې جګرخون

نظر د خواجه صاحب شعر ته د رحمان بابا په شعر کې زور زیات دی او حقیقت هم په کې پروت دی د خواجه صاحب ه شعر کې مجاز دی خو حقیقت نشته؛ ځکه په رښتیا هم کاڼي هېڅکله هم نه لال کېږي.

بل شعر د خواجه صاحب حافظ دادی:

حافظ از باد خزان در چمن هر مریخ

فکر معقول بفرما گل بی خار کجا است

ترجمه: حافظ! د زماني په چمن کې د خزان له باده مه خفه کېږه او مه فکر خرابوه ځکه بې اغزیو ګلونه نشته او رحمان بابا وایي:

څه به ستا له رقیبانو زمانه کړم

دا د ستور دی چې له ګل سره خار وي

خواجه صاحب په خپل شعر کې ځانته وایي، مه خفه کېږه، فکر وکړه تسلې دې وشي رحمان بابا خپل شعر کې خپل دوست ته وایي چې خفګان خو لا پرېږده زه له تانه ګله هم نه کوم. ځکه ماته قانون معلوم دی نو زما زړه په تسلې او اطمینان کې دی د دواړو شعرونو مفهوم او موخه بېله بېله ده.

حقیقت دادی چې رحمان بابا د شعر په دنیا کې د برزګانو په اظهار خیال کړی دی مګر د رحمان بابا خیالات د خواجه صاحب د خیالاتونه ډېر پاخه درانه او ادیبانه دي.

لکه درویشانو، واعظانو او د الغیاث په قافیه او ردیف که دواړو خپل خپل خیالونه ظاهر کړی دي او شعرونه یې ویلي دي، چې د معنی په اړخه هم د دواړو بزرګانو په شعرونو کې اختلاف شته، د بېلګې په توګه خواجه حافظ چې په مطلق ډول په واغظونو بد وایي حتی تر دې حده پورې چې په ځینو ځایونو کې ورته کنځلې هم کوي، د واعظانو لپاره د خواجه حافظ په زړه پورې او نرم ځای نشته، مګر رحمان بابا فرق او تمیز کوي، ښو واعظانو ته ښه او بدو ته بد وایي، د بېلګې په توګه د خواجه حافظ کلام وګورئ:

واعظان کین جلوه بر محراب و میز می کند

چون به خلوت میروند آن کاری دیګر می کنند

مشکلی دارم زدانشمند مجلس باز پرس

توبه فرمایان چرا توته کمتر می کنند

ګویا باور نمیدارند روز داوی

که این هم قلب و دغلی در کار داور می کنند

ژباړه: واعظان( چې په منبر او محراب کې جلوې او ریاکارۍ کوي، هغه دې یو ځای ته شي او مجلس یا خلوت دې وکړي، نور کارونه دې وکړي، یوه ستونزه لرم چې د مجلس له هوښیارانونه پوښتنه وکړه چې د توبې حکم کوونکي ولې په خپله لږ توبه کوي؟).

داسې معلومېږي چې د انصاف په ورځ يقين نه لري چې د خدای په کار کې د ټول چل او ټګي کوي او د واعظانو په باره کې د رحمان بابا کلام دادی:

اومه کله دی پاخه وايي واعظ

هر څه وايي واړه ښه وايي واعظ

دی چې ماله خپله ياره لرې باسي

نور به څه راته اومه وايي واعظ

جارو اته زما له پاره ډېر شکل دی

زما يې څه له دوباره وايي واعظ

خواجه صاحب يو ځای وعظ داسې غندي:

شيخم به طنز گفت حرام است مى مخور

گفتم مکو که گوش به هر خر نمى کنم

ژباړه: شيخ به طنز کې وويل چې شراب مه  څښه، حرام دي، ما ورته وويل، هر څه چې وايي وايه يې زه هر خره ته غوږ نه نيسم او د خواجه صاحب ځينې اشعار دادي:

کجا است صوفى در جال چشم ملحد شکل

بگو لسيوزکه مهدى دين پناه رسيد

صوفى شهر بين که چون لقمه شبه ميخورد

يال و دمش د راز باد اين حيوان خوش علف

اين تقويم بس است که چون زاهدان شهر

ناز و کرشمه بر سر منبر نه مى کند

ژباړه: محلی شکلی د جال سترګې صوفي چېرته دی، ورته ووايه وسوزه چې د دين پناه مهدي ورسېده.

د ښار صوفي وګوره چې څنګه د شک لقمې خوري، د غاړې وېښته او لکئ دې د ددې خوش خوره څناور اوږده

شي.

د التقوی مې بس ده، چې د ښار د زاهدانو په شان مې منبر باندې ناروا ادا نه کوم.

خواجه صاحب شیخ، زاهد، محتسب، مفتي، لوی، صوفی واعظ او نور ددین نسبت لرونکی ته بد وایي. مگر رحمان بابا تمیز او فرق کویو ښه ته ښه او بد ته بد وايي لکه:

لکه پناه د کتابونو په خره بار شي

په عمل کې کتاب کېږده په سر څه شو

گویا اېښی یې تر پښو لاندې کتاب دی

د مجلس د عالمانو په سره زر شي

که څوک کاڼي دي یا لوټه د محراب

هر سړی چې رتبه نه لري د علم

سړی نه دی خالي نقش دی گویا

د ویلو وړ ده چې خواجه صاحب حافظ او رحمان بابا په کلامونو کې یوه مشترکه موضوع یا ټکی شته، چې په لاندې ډول دی:

د ( مظلوم رحمان) کتاب پّ (۱۰۷) مخ کې راځي:

یوه مشترکه موضوع:

د درویشانو صفت د دواړو بزرگانو مشترکه موضوع ده چې دواړو په دې موضوع باندې یو یو غزل ویلی دی خو د بابا یو شعر هم د خواجه حافظ د اشعارو سره د معنی له پلوه برابري او سمون نه خوري بلکې د بابا په اشعارو کې نوی رنگ او نوی خیال په پوخ انداز کې ځلېږي، صرف یو قراني تلمیع په دواړو غزلونو کې شریکه ده چې په هغه کې هم د بابا تلمیع دېره پرخه ادیبانه او درنه ده د خواجه حافظ د تلمیع ته وگورئ دواړه شعرونه:

د گنج قارون که فرومیرود از قهر هنوز

خوانده باشی تو که از غیرت درویشان است

ژباړه: د قارون خزانه چې تر اوسه پورې د غضب له سببه ډوبېږي تا به لوستي وي چې د درویشانو د غیرت په

سبب ډوبېږي د رحمان بابا شعر:

د قارون و حال ته وګوره حال څه شو

راشه مه کوه انکار د درویشانو

خواجه صاحب په خپل شعر کې وايي چې د قارون خزانه ډوبېږي، د رحمان بابا وايي چې د قارون حال ته وګوره چې د خپلې خزانې سره خپله هم ډوب شو، ټول حال يې تبأ او برباد شو، د خواجه صاحب په شعر کې د خوانده باشي په الفاظو کې لږه کمزوري او شک غوندې پروت دی، د مخاطب په باره کې مګر د بابا په کلام کې څه شک او کمزوري نشته نو ځکه وايي چې حال خو تاته پخپله معلوم دی نو راشه انکار د درويشانو مه کوه.

د بابا په برخه کې پښتو ژبو شاعرانو، ليکوالانو، څېړونکو او کره کتوونکو ډېر څه ويلي او لا تر اوسه يې وايي خو فرهنګي کړی د بابا د کلام د وختونو د تداوم ځنځر بولي.

همداشان فارسي ژبو، اردو ژبو، بهرنيو او کورنيو د بابا د شعر او نورو خصلتونو او افکارو په برخه کې ډېر څه ويلي، خو داسې هم شوي چې د بابا د نورو او نورو د دده په پاره کې فکر ګوشايي او قلم فرسايي کړې دي، اقبال او بابا هم وګورو چې د دوړارو څنګه په مشترک ډول موضوعات راسپړي او د خلکو مخې ته يې ايږدي لکه:

## ۳ – ١٦ اقبال او بابا

بابا خو د ښه نه ګڼي، نو څه بېخودي غواړي او داسې وايي:

د رحمان شراب له عشقه

نه انګور، نه له عنابه

او يا هم:

مې مې د خپلو لبو را نه د انګورو

چې اول يې نوشيروان وي پسې ځي

او يا هم:

تريخ لوګی به دي د قند په محز نغړ ده شي

که صورت د عشق په اور کې تمباکو کړي

او يا هم:

هسې محوه وي د عشق په مې ناب کې

چې خبر نه وي، په وصل په فراق کې

او يا هم:

په هېڅ رنګ له بده خويه نه جاروزي

هسې مست د جاهلۍ په شراب کې

په پورتنيو اشعارو کې چې کوم الفاظ د عشق، شراب، د لبو مې، د عشق د ميو ناب، جاهلۍ شراب چې په کوم ماناوو کې استعمال شوي دي هغه دا خبره په ګوته کوي چې رحمان بابا چرسي، بنګي او شرابي نه وو بلکې د عشق او محبت هغه جذب او کشش يې ورڅخه موخه ده چې په بې شمېره درجو کې مادي شرابو د نشي طاقتونو او غالب او حال دادی چې وضاحت ورسر هم موجود وي چې فرمايي:" نه انګور له عندلبه" يعنې دا ظاهري او مادي شراب نه دي، عجم يې له انګورو څخه جوړوي او عرب يې له عنبو څخه سازوي، د بابا خپله يوه روحاني ميخانه ده.

ميخواران که بې خبر شي له مستۍ نه

د رحمان د ميخانې شراب د څښو دي

د (مظلوم) کتاب ليکوال د خپل اثر په (۱۱٦) مخ کې د رحمان بابا د نوي ديوانونه او محريف باندې خبرې کوي او وايي چط اوس ځينې خلک په لوی لاس د بابا عليه الرحمة په يدوان کې په لوی لاس تحريف او بدلون راولي [ې روغه خبره نه ده دا عنوان او مطلب که څه هم لږ ګونګ او لوی دی خو ماته ددې لپاره په زړه پورې دی چې بابا او د بابا ديوان کومه اصلي خبره او بڼه درلوده او دوختونو په تېرېدو سره يې څومره په ځپل سره تغيرات ورکې په تحريفي بڼه راوستل شوي دي بابا په د (مظلوم رحمان) د کتاب د ليکوال له قلمه وګورو، هغه وايي:

**۳ – ۱۷ بابا۔ نوي ديوانونه او تحريف**

هغه ليکلي:

د بابا په متفقه او قديمي ديوان کې اوس ردول او تحريف شروع شوی دی دواړه دفترونه يې ورته يو کړي دي، د بابا د دور رسم الخط يې بدل کړی دی نوي نوي غزلونه يې په کې داخل کړي دي د قلمي نسخو حوالې يې ورکړې دي، چې دا غزل په فلانۍ قلمي نسخه کې بيا موندی شوی دی او دا په فلانۍ کې او د بابا يو غزل يې په دې شک د بابا له قديمي ديوان څخه هم ويستلی دی چې دا غزل د بابا نه دی د خوشحال خان دی اگر چې ما په مخکې پاڼو کې په هغه بحث کړی دی چې دا غزل د بابا دی خوشحال خان په خپل گمان دا اصلاح کړی او په خپل ديوان کې يې ليکلی دی او ليل مې ورته هم بيان کړی دی چې د تعليم، دا زمينه او درواح د بابا د کلام دي اوس په دې خبرو وضاحت کوم چې د بابا غزل صحيح دی او که د خوشحال خان او شعر چې د بابا د کلام روح په کې پروت دی، خوشحال خان ددې لپاره چې د اورنگزيب مخالف شوی وو، په هغه شان رانقل کړی دی لکه څنگه چې بابا ليکل دی، خو يوازې رديف يې ورته بدل کړ چې بابا د کاف په رديف کې ليکلی وو، خوشحال خان د الف په رديف کې وليکه چې دا د قديم رسم الخط د پواني پښتو مسله ده چې جديدې پښتو کې دواړو نه ليکل کېدل، بلکې که ليکل کېږي نو د جديد رسم الخط په مطابق دا غزل (هې) په رديف کې راځي، خوشحال خان چې کومه اصلاح په ديوم شعر کې کړې ده، هغه غلطه ده.

د بابا شعر صحيح ده، ځکه چې د کسری او حجاج بن يوسف جاري يورنگه وي، چې ظلم وو، نو په مصرع کې د (او) چې د عطف لپاره دی، ښه لگېږي، (که) نه (که) به هله صحيح وي چې د کسری چارې بېلې وي يعنې عدل وي او د حجاج چارې بېلې يعنې ظلم وي. نو بيا به لفظ د (که، ښه لگېدلی وای او معنی به يې هم ښه جوړه شوې وای. معنا به داسې جچوړه شوی وای چې دده خوښه ده چې عدل کوي که ظلم خو اوس څو معنا داده چې دده خوښه ده چې ظلم کوي که ظلم بې معنا جمله شوه.

په دريېم شعر کې چې بابا لفظ د څه شکلاه استعمال کړی دی او خوشحال خان ددې اصلاح د لفظ څه رنگه سره کړی او خوشحال خان ددې اصلاح د لفظ څه رنگه سره کړی دی چې نن سبا لفظ څه رنگه عالم دی او ډېر استعمالېږي، د څه شکله په نسبت خو لفظ د څه شکله که څوک استعمال کړي، نو هم هر پښتون لرې پوهېږي پوهېږي اگر چې پخوانۍ پښتو کې دا ډېر مستعمل وو، مگر اوس کم شوی دی.

څلورم شعر کې چې غلط کړی ده ځکه چې باز په تارو او دراج يو شان تارو سره لا يوه چاره کوي او د دراج سره لابله چې لفظ يا صحيح شي. پنځم شعر کې بابا وايي چې زما اوښکې د زړه له زيم نه پيدا شوې ده د اوبو پنده چې کمزوری پورې او سورې وي، نو زيم کوي، داسې کمزوری او سوری سوری زړه زيم کوي چې اوښکې ترې جوړې شي خو د زړه نه مې دا زيم داسې راوزي لکه چې د کباب نه دا ور په تا ونم راوزي.

خوشحال خان وايي زما اوښکې د گوگل په جوش پيدا دی گوگل سينې ته وايي لکه څرگنه چې اور له کباب نه

نم وباسي داسې زما د سينې جوس نه زما اوښکې پيدا کېږي.

شپږم شعر کې بابا وايي چې زه غمژن د اختر په خوشحالۍ خبر نه شوم او های د هغوی ته محتاجه هم نه شوم اگر که نور خلک د های وهوی محتاجه شوي دي خان صاحب وايي، زه غمژن په اختر په خوشحاله خبر ه شوم؛ اگر که د ډهلي ټول خلک يې خوشحالي کوي په غربي کې عبد يا اختر ته وايي او امتهاج خوشحاليدلو ته وايي چې اختر وي؛ نو خوشحالي ورسره هم وي او کله کهل خوشحالي وي، خو اختر نه وي؛ نو ځکه بابا وويل چې د اختر په خوشحالی يعنې بله خوشحالي نه ده دا اختر ده.

خان صاحب وويل په عيد جشن گويا عيد ببل دی او جشن ببل دی حال دادی چې ببل ببل نه دي.

دغه جشن يعنې خوشحالي دعيد يعنې اختر په وجه ده، نور خان صاحب د شعر نه د بابا شعر پوخ او تللی شوی دی.

رحمان بابا په آخري شعر کې لفظ دشست په سين سره ليکلی دی چې فارسي کې گوتی ورته وايي، خوشحال خان چې دا اصلاح که نو دا لفظ يې د (ص) سره شفت وليکه چې ښکاره غلطې ده خو په خپل گمان کې خان صاحب دا صحيح گڼي، شصت (ص) سره په فارسي کې شپېتو ته وايي.

بابا د شعر په برخه کې ډېر ډېر نظرونه وړاندې کړي دي لکه دلته چې يو قادياني چې محقق(څېړونکی) دی داسې اصلاح راوړې او هغه په دې ډول ده، دغه معلومات د معرفي شوي کتاب په (۱۱۸) مخ کې راوړل شوي دي.

**۳ – ۱۷ – ۱ د يو قادياني محقق اصلاح**

د بابا يو غزل دی چې يو قاديانی محقق په خپل گمان هغه غلط گڼې او وايي دا ځکه غلط دی چې په اولو مصرعو کې يې دولس سېلاب دی او دويمه کې يوولس. او ددې قاعدې نه نا خبر دی چې الف په اخر کې لکه څنگه چې د يو سېلاب کار ورکوي داسې دوو سېلابو کار هم ورکوي نو اگر که د غزل د رديف مصرعې په ظاهر کې يوولس، يوولس سېلابه لري؛ خو د الف د صوتی اثراتو په وجه دا مصرعې په دولس سېلابېزو مصرعو هم حسابېدی شي، نو د رحمان بابا دا غزل د قادياني درې واړو غزلونو ته خوړ لگېږي، د بابا غزل دادی:

ستا په څبر نه دی خوبان ليدلی ما

نه په غوږ و چېرې اورېدلی ما

هېڅ وفا له عاشقانو سره نه کا

دلبران د زمان مې ازمايلی

چې مې ستا و ښکلي مخ و ته نظر شي

نور بيا نه دي و بل مخ ته ما کتلی

د زړه غولی مې نيولی ستا غمونو

نور غمونه له خاطره ما ويستلی

چې مې کار د عاشقۍ په لاسو واخيست

نور کارونه مې له لاسو اچولی

هم په دا مې نور غمونه له زړه وويست

چې په زړه مې ستا غمونه دی کړلي

زه رحمان بې ياره خوب وخندا نه کړم

خوب خندا بې ياره کله ما پسندلی

دويم غزل:

نور خوبان ستا په څېر نه دی مالیدلی

نه لیدلی نه په غوږ ما اورېدلي

هېڅ وفا د عاشقانو سره نه کا

دلبران د زمانې ما آزمويلي

چې مې ستا و ښکلي مخ  و ته نظر شه

نور بيا نه دي و به مخ ته ما کتلي

د زړه غولي مې نيولی ستا غمونو

نور غمونه له خاطره ما ويستلي

چې مې کار د عاشقۍ په لاس واخیست
نور کارونه دی له لاس ما اچولي
هم په دا مې نورغمونه له زړه وویست
چې په زړه کې ستا غمونه ما کرلي
زه رحمان بې یاره خوب و خندا نه کړم
خوب، خندا بې یاره کا ما پسندلي

درېیم غزل:

نور خوبان د ستا په څېرونه لیدل ما
نه مې ولید نه په خوږ وو اورېدل ما
هېڅ وفا د عاشقانو سره نه کا
د لبران د زمانې که وزمایل ما
چې مې ستا و ښکلي مخ و ته نظر شه
نور بیا کله ویل مخ و ته کتل ما
د زړه غولی مې نیولی ستا غمونو
نور غمونه له خاطره وویستل ما
چې مې کار د عاشقۍ په لاس اخیستی
نور کارونه ټول له لاسو واچول ما
هم په دا مې نور غمونه له زړه وویست
چې په زړه کې ستا غمونه  وکرل ما
زه رحمان بې یاره خوب و خندا کړم

خوب خندا، بې یاره کله لاپسندلي ما

محقق صاحب د بابا په قافیه  چې" لیدلی ما، اوربدلی ما، آزمایلی ما او داسې نور کلمات دی هېڅ نه دي ویلي، د درې واړو غزلونو قافیه یې بدله ده، یوازې د آخري غزل  ردیف یې وسره شریک کړی دی چې الف دی او په هر غزل کې یې ښکاره د غلطیانې دي، د اول غزل غلطي...!

په اول شعر کې بېځایه تکرار دی، د نه دی لیدلی، نه دای لیدلی، دویم شعر کې کذب او مبالغه ده، د زمانې دلبران کله څوک آزمایلي شي، ځکه چې ډېر وي، اخر دریبم شعر کې په اوله مصرعه کې اراده نشته، په دویمه اراده ده، دا سنگینه غلطي ده؛ ځکه چې دینا کې اراده نه وي، نو د ارادې تعبیر به پرې ځنگه جوړ شي، نظر شه، بې ادارې لفظ دی" کتلی بې ارادې لفظ دی" کتلی" د ارادې سره تعلق لري، څلورم شعر کې یې، د زړه په ځای کې یې د زړه په ځای لفظ د خاطر استعمال کړی دی چې مناسب نه دی، ځکه خاطر، لحاظ او خیال ته وایي. خاطر مکانیت نه لري، زړه د مکانیت لري، د زړه نه د غم ایستلو محاوره صحیح ده. د خاطر نه د غ م ایستلو محاوره غلطه ده. خاطر د زړه څخه مجازاً کله کله استعمال کړی ده، د نور غمونه له زړه وویست، په ځای نور غمونه له زړه وویستل پّ کار دي خو هلته یې سېلابونه زیاتېږي او په دویمه مصرع کې په زړه کرلي محاوره غلطه ده. په زړه کې کرلې محاوره صحیح ده.

په پنځم شعر (بیت) کې دوه مصرعې غلطې دي، کارپه کاسو ا خیستل او کارونه له لاسواچول صحیح محاورې داسې دي کار په لاس اخیستل، له کاره لاسونه اوکښل. په آخر کې شعر یې درواغ دی، د بابا په شعر کې حقیقت دی، درواغ نشته، په دویم او دریبم غزل کې هم د عیسی غلطی شته لکه یو څه د پاسه اول شعر د دویم غزل کې هم وایي نه په غوږ اوربدل نه دي په غوږو اوربدل ده.

د دریبم غزل په اول شعر کې د دویمې مصرعې نه مې ولید پر ځای نه مې ولیدل پکارو، چې د جمعې صیغه ده خوبان هم د جمعې لفظ دی نو د جمعې لیدل ورسره لگېږي؛ خو هلته یې سېلابونه د شعر زیاتېږي؛ نو محقق صاحب چې کوم اعتراض د سېلابونو کاوه، په خپله په کې نښتی دی، واه سبحان الله پینځم شعر کې غلطه محاروه  استعمال شوې ده، له لاسونو کارونه اچول غلطه محاوره ده، صحیح محاوره له کاره وکښې، یا لاس ورسره دا ولي مصرعې تبدیلي هم پکار ده، ځکه چې اوله مصرعې کې فعل مضارع دی او په دویمه مصرعې کې استمراري ماضي[1]؛ نو چې دواړه سره ماضي شي بیا غلطي راوځي.

ما رحمان بې یاره خوب و خندا نه کړه

---

- [1] مضارع فعل  ـ صیغه   ـ استمراري ماضي

خوب خندا بې یاره کله لاپسندل ما

خو د رحمان بابا خپل مقطعې شعر کې هېڅ غلطي نشته، لا دې د قادياني محقق غلطي ده.

کوهي مه کېنده د بل سړي په لار کې

چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

یادونه:

د کتاب لیکوال په (۱۲۲) مخ کې د قلمي نسخې اختلاف دا ډول په ګوته کوي چې دا هم د بابا دیوان او شخصیت او هویت څرګندونه کوي چې دلته یې راوړل ضروري دي.

ددې نظر او لیکنې په راوړلو دوه کاره کېږي یو خو د بابا په برخه کې نظریات راټولېږي اوبل د قلمې نسخې ورتوالی، نږدوالی او اختلاف د لیکوال را په ګوته کوي، نوموړی دغه اختلاف تر دې عنوان لاندې داسې لیکلي لکه:

**د قلمي نسخو د اختلاف وجه:**

بابا د خپل مقدس دیوان او کلام په وجه ټولو پښتنو ته ګران وو او ګران دی نو کله چې چاپ خانې نه وې او د بابا کتاب په کاتبانو پّ ګوتو لیکه، د بابا د شعر له برکته به هغو کې هم د شعر جوړولو څه نه څه مالګه او سلیقه پیدا شوه او څنګه د هر انسان خیال او ذوق بېل بېل دی نو داسې به کاتبانو کې هم ځوک کاتب د پیوان پیرصاحب نوم چې یو شعر کې واخیست او د بابا به یو مناسب غزل کې یې شعر وګاوه او ګورئ دا شعر:

اور د جداوالي په رحمان دي لګېدلي

وخت دی که ملا کړي یا میزان محی الدینه[1]

چې په چا یې دیوان کې نشته او یوې قلمي نسخه کې نشته دی همدارنګه حیکم سنایي په نوم دا شعر:" په پښتو کې رحمان ووې ـ په فارسي کې سنایي د کوم کاتب دخل دی" او ځوک یې داسې هم وایي:

زه رحمان د پیربابا د در ملنګ یم

[1]- مقطعې ـ محقق ـ کوهی ـ کوهی ـ کوهي؟ ـ قادریه طریقه ـ پیران پیر ـ خیال ـ ذوق ـ مدد ـ میران محی الدینه

ما ددې په شان دربار ليدلی نه دی

زه رحمان په غشي ولم خطا نه ځي

په بغداد کې مې کامل کامل پيران شته

لکه چې ما مخکې دارنگه اشعار ددې بزرگانو معتقدينو جوړ کړي دي او بيا يې رحمان بابا ته منسوب کړي دي کله داسې هم شوي چې يو کاتب کتالی دي چې د کوم معرف په رديف کې يې غزل نشته يا کم دی نو په هغه رديف کې يې غزل جوړ کړی دی او رحمان بابا ته منسوب کړی دی چې د چا خبره دا يې له رحمان بابا سره همدردي کړې ده او د هغه کلام يې ډېر کړی دی لکه هغه غزل چې (ص) په رديف د رقص قافيه کې اوس په کليات کې داخل شوي دي؛ خو رحمان بابا په خپله د خپل کلام په ډېروالي نه خوشحاليده؛ ځکه خو يې ډېر اشعار چې يقيني د رحمان بابا دي د خپل منتخب ديوان نه ايستلی دي د رحمان بابا دا عقيده ده چې اشعار لږ د ضرورت مطابق د معنی نه ډک او د شعري سقم نه خالي پکار دي:

څو دانې قدرې يو لعل په کې پيدا شي

نور جهان واړه د تورو کاڼو غر دی

يو پادشاه وي چې لښکر ورپسې درومي

نه چې هر يوه د سړه کو پسې لښکر وي

رحمان بابا غوښتل چې شعر يې له دومره ښه والي څخه ډک وي چې د نور شعرونو پادشاه وي او يا د شاهان لږ وي نو شعر لږ پکار دی؛ نو ځکه يې ډېرې غزلې د لفظي سقم په وجه د خپل ديوان نه ويستلې دي، دا غزل:

هر گفتاره هر و بيا خي څوک عبث کا

تر عبت ويل دا به دی چې يې بس کا

يا دا غزل چې:

چې ښکاره شور راته راز د يار له پنه

پريشان شوم په زړه حيران له دې نمطه

ځکه چې د عبث او بس همدارنگه د پته او نمطه په الفاظو کې حرفي مغايرت او سُقم دی؛ خو اوس ادبي

جرګي دا هم د بابا په منتخب دیوان کې ننه ویستلې دي او داسې نورې ډېرى غزلې، چې د بابا غورزولې وي، دوى را اخیستې دي او چې بابا را اخیستې دي دوى غورزولې دي لکه چې د بابا هغه غزل چې څوک ورته د اردو او څوک ورته د فارسي کلام ځکه چې په اردو او فارسي دواړو ژبو کې دي او دى غزل کې بابا د ډېرو راتلونکو حقایقو پیشګویي کړې ده، چې اهل نظر پرې پوهېږي دا داوو شعرونو بیتونه دي چې اول شعر یې دادى:

به وصل تو مرا کجابات هی

که وصل تو خیلی بتری بات هی

په دې غزل کې چې کوم دوه سقمونو دي اصل حقایق د بابا ددغې لفظي اسقامو په پرده کې ادا کړي دي بیانول زما د موضوع نه بهر دى دا دواړه غزل او بي کلیات نه دي ایستلى او دارنګه یې په دې غزل کې:

تا چې رنګ د میو ورکړو د لبانو

اور دې پورې کړ په کور د میخوارانو

کې پینځه شعرونه د کائناتو دا ځل کړي دي او څه شعرونه یې ترې ویستلي دي نو تحریف د کتاب همدې خبرې نوم دى چې څه ترې وویستلي شي او څه په کې داخل کړل شوي دي د بابا په کتاب کې تحریف وکړي نور به سړى د چانه ګیله وکړي:

زه رحمان په ښه په بد د یار پوهېږم

کاشکي زهر په دهن د چا عسل شي

ځکه چې د بابا په نوم جوړه شوې ده، رحمان بابا ادبي جرګه لفظ به چېرته او چېرې یا زګیروى او زبیرګي باندې په به څه بې ځایه بحث کولو سره د بابا کلام د تحریف څهخ نه حاصلېږي او خو دا چې د بابا علاقې ځینو مومندو د بابا دین هم پریښى دى چې قادیان شوى دى د بابا پښتو خو لا پرېږده چې دوى د غوټۍ پر ځاى کلى لیکلي او د ګلو په ځاى کلو:

د چمن ګلونه نه واړه ترې قربان شي

محبوبا چې د چمن په کلو پښې ږدي (دیوان ۱٦۳)

کلو چې د کلۍ جمع ده او د اور دو لفظ دى په پورتني شعر کې یې د کلو د لفظ په ځاى لیکلى دى داس ښور

ډېر الفاظ دي چې د بابا د استعمال کړی دی او د بابا د علاقې موملدلی د خپل جدیت پسندۍ په وجه اوس نه استعمالوي یا یې غلط استعمالوي، لکه پښه، دروته، بوکه، بویه، کاندې او داسې نور چې د قبایلو او د افغانستان د مومندو کې اوس هم دا الفاظ استعمالېږي مګر د بابا د علاقې مومند ښه غلطه استعمالوي چې خپمه (ښیه) ورته وایي او د نورو الفاظ طوبي بالکل پريښي دی؛ نو لفظ د چېرته اوزګیروی هم د قبایلو او د افغانستان مومند په خپل اصلي شکل کې استعمالوي او د بابا د علاقې مومند په کې جدت کول غواړي لفظ که چېرته په وزن د بیرته دی.

دې فلک خو چاته هېڅ ښنلي نه دي

چې يې نه دي دا پيرو دي ځينې بېرته

همېشه به در په در ګرځي رټلي

دا ستوږ يې ځای به بیا نه مومي چېرته

بابا چې څنګه تلفظ د بېرته کړی دی داسې یې د چېرته کړی دی چې د ( ج، لاندې زیرا په (ی) باندې زور لکه څنګه چې په لفظ د بېرته کې د (ب) لاندې زیر او په (ی) باندې زور دی، وروسته جدت پسندو (ي) وغورزوله او د (چ) ته زور یې استعمال کړ چې (چَرْته) شعر، مګر دا د ماشومانو او تخرو پښتو ده، صحیحه هماغه پښتو ده، کومه چې بابا د شعر په وزن کې راوستې ده او نور ټول پښتانه هم ورسره متفق دي.

خوشحال خان لا(ي) په کې نوره هم واضح کړې ده چې د لفظ د تېري په وزن کې چېرې هم استعمال کړې دي:

که څلور مياشتې شي تېرې

و ته دي نستې یا چېرې ( ارمغان ۸۹۵)

دا رنګه د خان صاحب د علاقې ډېر ختک لفظ د نږدې ته (نږدو) وایي لیکن دوی دا دعوی نه کوي چې د خوشحال خان پّ کتاب کې هم لفظ د تغیردو لیکل په کار دي.

حقیقت دادی چې یوه دعوا مې د نخرو پېښو کچه او جدت پسنده پښتو ده لکه زبرګ روړه، واله او داسې نور او بله کتابي پخه او درنه پښتو ده لکه بزرګ، راوړه، واخله او نور...

همګی بزرګواران چې څوک یې وایي

تر همه و بزرگوار دی رب زما

جدت ښه دی، خو دومره نه چې سړی دین هم پرېږدي، پښتو هم پرېږدي، یا په پښتو کې بې ځایه تبدیلي او تغیر وکړي:

زما رحمان د محمد د در خاکروپ یم

که مې نه کا خدای له دې دره جدا

هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې

پیدا کړی خدای د سر د پاسه سر دی

د رحمان بابا د وخت او زموږ تر وختونو پورې حضرت بابا د زړونو شاعر او د قدرتونو وړ شخصیت تېر شوی دی، دده د نه هېرېدونکی شاعرۍ او شخصیت پورې او اصلي راز په دې کې دی چې نوموړی هر وخت کې د خلکو له زړونو غږېږي، دردونه یې راسپړي او په تېره د بې باوري او رواني ناروغیو د درملنې لپاهر تیارې لیکل شوې نسخې په لاس راکوي، له همدې امله د زړونو، امیدونو، هیلو، ننګونو او ښکلاوو بادار او ملګری دی، بابا د خپل وخت نورو شاعرانو لکه سکندر خټک هم یاد کړی دی په لاندې ډول یې راوړم. د مظلوم رحمان بابا(۱۳۰) مخ کې.

## ۳ – ۱۸ سکندرخان او بابا

دلته ډېر څه نشته؛ د ( مظلوم رحمان) کتاب لیکوال لیکي، یو دوست ویلي دي چې قلندر په دن کې و، چې که هجري د خوشحال خان او سکندرخان هم عصر دی په ثبوت کې یې نور څه نه دي پیش کړي، فقط د سکندرخان یوه مصرع یې پیش کړې ده، مصرع

" قلندر به قلم مات کړي په دکن"

نور یې څه نه دي راوړي، دا خو د قلندر ده؛ خو سکندر خو نه ده، نوموړی زیاتوي؛ خو دا پورته مصرع په دربیم قلندر دلیل نشي کېدلی، ځکه چې په دې مصرع کې پښتو مجاور استعمال شوی دی، پښتانه د لرې ځای لپاره لفظ د (دکن) استعمالوی چې وایي په (دکن) کې به رانه خلاص نه شي، په دکن کې به دې پرېږدم، که دکن به هم رانه خلاص نه شي، په دکن که به دې پرې هم نه ږدم، که دکن ته وتښتې هم در پسې به درشم او داسې نور...

نو ددې مصرع مطلب دادی چې قلندر یعنې رحمان به پېښور خو لاپرېږده چې دکن کې هم خپل قلم مات

کړی او شعر به پربړدي، دې مصرع کې ډېره زیاته مبالغه ده سکندرخان به ولي داسې مبالغې نه کوي چې رحمان ببا ویلې وي:

یو خوشحال یو کم سل خټک نور به طبیعت کې

زار شه د رحمان سرېښې له یوه فرده

د دربیم قلندر ثبوت به ترې هله شوي وي چې دا بیت یې ویلي وي:

" د قلندر چې سکونت لري دکن کې"

همدارنگه میرزاخان بابا ته اخلاص ښوولي دي چې لاندې به یې ذکر لږ و ډېر وشي:

## ۳ – ۱۹ د رحمان بابا پر شاعرۍ د روښانیانو د شاعرۍ اغېز:

د رحمان بابا د شاعرۍ لفظ (فویم) غږ توری تورمی مورفیم، مورفیم کلمه کلمه او جمله جمله الله پانلې د هغه گران پیغمبر حضرت محمد مصطفی او خلکو ته درنښت، پند نصیحت، مینه، لارښوونې، تاریخ، ارواپوهنیزې برياوې، ژوند او آخرت پورې تړلې په لسگونو لارښوونې او برياوې په ځان ويسايي، او تر ټولو عمده دا چط مینه، عشق، عرفان، تصوف سرېتوب، ادب، اخلاق، گنا او.... غاړه غړی شوی او د هغه خدای ښښلي د شاعرۍ مضمون یې جوړ کړی دی.

تر ټولو عمده را هر چا ته نږدې ټ:ي پکې د ده د شعر میلز هویت دی چې د هرې سوې انسانان او بیا پښتانه یې په خپلو خبرو پوهنو، سیمنارونو، غونډو، ناستو او تصوف خبره په آگاه او نا آگاه ډول د بابا کلام ته لار پیدا کوي، دعا او مناجات خو یې تشریحي مضمون جوړوي.

د رحمان بابا شعر د رحمان بابا د پوره پوهې او مطالعې له برکته د روښانیانو له شاعرۍ ډېر اغېز منلی دی یا په بله وینا (د رحمان بابا پر شاعرۍ د روښاني اغېز ډېر دی. دا چې میر زاخان اصناري، له مخلق سره د الله ج مینه کول او علاقه درلودل په رټه ښکاره کړي، لکه:

که مقصود یې د خپل مخ ننداره نه وای

د انسان جامه یې څه لره کړه ساز

نو هرو مرو په یې رحمان بابا غوندې هوښیار، فهم باذوقه، آگاه او مینه ناک شاعر څومره اغېز درلودلی او کړی وي. دا یوه ښکاره خبره ده چې روښانیان په علمي مبارزوي، دیني، عرفاني او نورو ډېرو پراخه ژوند اړخونو کې د

پیاوړي او برلاسي دریځ پر گدی ولاړ غورځنگ او جنبش و چې د هغوی د پوهې او پوره دیني، سیاسي اجتماعي آگاهۍ رڼاوې تر اوسه په نړۍ، آسیا، په تېره افغانستان او پاکستان کې خورېږي، نو هرو مرو د رحمان بابا دوره او د وخت فضا خو د هغوی روښانیانو د ښکلاوو له وړو ډېره برخمنه وه او رحمان بابا هم بې اغېز نشوای پاتې کېدلای پر رحمان د هغوی اخلاقي او عرفاني شاعري ډېر ډېر او پریمان اغېز کړی دی او ډېر د عرفان او تصوف له زاویې دی که څه هم هغوی په ښکاره مستوفین او دد تصوف علمبرداران ول، خو رحمان تر ډېره بریده په تصوف پوهېده، درسی ویلی و او د عرفي فرعان او تصوف له وړمو مالامال وو.

زه دلته دغه موضوع د یوې مقالې او ماخذونو په راوړلو لار روښانوم: که څه هم ځینې څېړونکي له دې سره که څه هم ځینې څېړونکي له دې سره اتفاق نه لري، خو بیا هم ویلی شو چې تصوف یا روحانیات د مذهبي فکر یوه څانگه ده. د تصوف پوهان په مذهبي بڼه کښې د ټولنې وکړي د ځان خوا ته هڅوي. دا عمل په هغه هره ټولنه کې تر سترگو کېدلی شي، چېرې چې ما دي ژوند زیات پرمخت نه دی کړی.

پښتني سیمې نن هم د نړۍ له پر مخ تللو توکومونو څخه پر لوی واټن د شا لوري ته پراته دي. د روښانیانو په دور کې خو ډېر پاته وو، ځکه یې په ټولنه کې مذهبي او تصوفي رحجان زیات و. د رحمان بابا په دور کې هم مذهبي رحجان به زور کې و، پیري او مریدي هم هغه ډول دوام درلود لکه څنگه چې د روښانیانو په دور کې و تر څو د روښانیاني شاعرانو د شاعرۍ خبره ده نو ډېره زیاته برخه یې صوفیانه رنگ لري، بېخي په حساب اشعار یې تصوفي ما مذهبي بڼه نه لري. د رحمان بابا شاعري نه د روښانیانو په ډول بشپړه صوفیانه رنگ لري او نه د راوروسته شاعرانو په څېر قامي، انقلابي یا بل رنگ لري. غالب رنگ یې اصلاحي، اخلاقي او تصوفي دی، خو انداز او بیان و مطالب یې بېل رنگ لري. د بېل مکتب رنگ یې اخیستی دی که څه هم تر رحمان بابا مخکې د دې رحجان شاعري شوې ده، خو رحمان بابا په دې کې نوی والی راوړی دی او وسعت یې ورکړی دی. د روښانیانو په مقابله کې د رحمان بابا شارعي خوږلت، رواني، ساده‌گي او جامعیت لري قامي یا انقلابي رنگ خو نه لري، لیکن جمالیاتي څرک ضررر لري.

لکه چې اشاره ورته وشوه د روښانیانو میدان تصوف دی او د رحمان بابا پر شاعري هم اغلبه رنگ اخلاقي او صوفیانه گڼل کېږي او دلته گورو چې د روښانیانو څه اثرات پر رحمان بابا باندې شته که نه؟

روښاني ادب یا شاعري کې وگورو نو ځینې ځایونو کې داسې افکار په نظر راځي چې د رحمان بابا له شاعرۍ سره ورته والی لري. په دغه کې زیاتره د موضوع ورته والی لري او لوستونکی په دې خیال کې شي چې گنې رحمان بابا د روښانیانو شاعري لوستې ده. رحمان بابا په خپله شاعرۍ کې د روښاني شاعرانو نومونه په داسې انداز یاد کړي یا د کړي چې گوا ده تر روښانیانو ښه شاعري کړې ده، یعنې د تعلي په توگه یې یادونه کړې ده،

معنیا دا چې لکه ستر خوشحال ده هم په ادبي ډګر کې د روښانیانو یادونه د دې خبرې لپاره کافي ثوت دی چې ګواکې ځینې روښاني شاعران د خپل وخت وتلي شاعران وو بل دا چې رحمان بابا خو د دوی یادونه د خوشحال بابا سره کړې ده.

خوشحالا او دولتا مې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

د مرزا د ارزاني دعوې به پرې کا

قدردان د شاعرانو رحمان راغی

خو دا به رحمان بابا ته د ویلو پرته څنګه ښکاره کېدله چې فلاني شاعر ښه یا کمتره شاعر دی؟ مطالعه که د هر وګړي لپاره ارزښت ناکه وي، د شاعر لپاره خو ډېره ارزښت ناکه وي، نو رحمان بابا چې دومره اوچت شاعر دی، د ادبیاتو غرقه مطالعه یې هم کړې ده په ځانګړي توګه د پښتو ادب د شاعرۍ په ډګر کې خو ارو مرو مطالعه کړې ده، چې مطالعه وکړل شي او بیا داسې څیز چې لوستونکی ځینې متاثره شي نو دغه اثر په غیر شعوري توګه د لوستونکي په لیک کې را برسېره کېږي، دغه ډول د رحمان بابا په شاعرۍ کې هم خینې دساې علاې شته چې ورته روښاني افکار یا د هغوی اثرات ویلی شو.

حبیب الله رفیع په دې حلقه لیکي:

خصوصاً د ده په دیوان کې داسې اشارې او دلایل شته چې دی د فکر او شعر له مخې د روښانیانو پیر و او د روښان هغه روښانه لاره یې یون کاوه چې دروېزه یان یې کلک مخالف و او د دې لارې په ورانولو کې یې ټول ژوند صرف کړی و

دلته دا خبره باید سپینه کړل شي چې رحمان بابا د تصوف یا روحانیت په حقله د رو‌ړښاني پیروکارانو څخه بېل فکر لري. عقیده باندې یې هغه ډول د نیوکې ځای نشته لکه کو چې د روښاني پیروکارانو پر عقائدو باندې د دوی د مخالفینو یا منبر له خوا شوي دي. رحمان بابا دومره زیات غیر جانبداره پاتې شوی دی، چې شاید د ده مخالفین د نیشت برابر و او نن هم نشته او روښانیان د مغلو سره سره د روایتي او راهبانه طرز تصوف په ضد درېدلي چې د پلویانو له خوا یې زښت زیانونه پورته کړي. له دې پرته یې په لیک کې هم د دوی په ضد اول راپارولی. په لاندې کرښو کې د روښاني شاعرۍ فکري اثراتو جائزه اخلو.

باید دا هم ووایم چې د روښانیانو هغه اشعار چې د رحمان بابا له اشعارو سره ورته والی لري، ځینې داسې اشعار

پکې دي چې د هغوی اساسي فکر له قران یا حدیث څخه اخیستل شوی وي یا د بل عالم او دانا قول وي ځکه د داسې شعر په حقله دا نه شو ویلی چې د چا تر اثر لاندې لیکل شوی دی. له دې پرته ځینې هغه شعري تراکیب دی چې د رحمان بابا او د روښانیانو په شاعرۍ کې راول شوي دي او ورته والی سره لري، خو که ورته وګرو ځینې دساې اشعار پکې شته چې په موضوعاتي لحاظ له یو بل سره ډېر ورته والی لري، فکي چوکاټ یې ښخي یو ډول وي. د دې پر اساس ویلی شو چې رحمان بابا له روښانیانو څخه اثر اخیستی دی او د روښانیانو افکار او شاعري کې د عشق په حقله اشعار شته او د رحمان بابا د شاعرۍ خو اساسي موضوع ده د بېلګې په توګه د مرزا خان انصاري د عشق په حقله دا نظر لري چې د کائنات د پېل سوب عشق دی. که عشق نه وای، کائنات په وجود کې راوستلی دی، ځکه ویلی شو چې عشق ته د هر څه پلار ویلی شو، مرزاخان انصاري په دې حقله لیکي:

کل جهان له محبته پیدا شوی

دا رښتینی عشق د کل جهان ابا

دغه ډول رحمان بابا د عشق په حقله همدغسې خبره کوي:

دا جهان دی خدای  له عشقه پیدا کړی

د جملهوو مخلوقاتو پلار دی دا

په اساسي توګه د دې شعر د مرزاخان انصاري له خوا درول شوی دی، خو رحمان بابا لږ زور پکې راوستلی دی.

دغه ډول اخلاص هم د تصوف له اساسي موضوعاتو څخه دی، بلکې اخلاص خو د اسلامي شریعت او روحانیت داسې اصول دي چې له دې پرته  اعمال کول هېڅ ګټه نه لري، که په ښکاره څو نیکه او سمه ښکاري خو هغه عمل د اخلاص پرته هېڅ معنی نه لري. د اخلاص له سوبه خو اسلامي واکمني په نړۍ کې رعب او دبدبه درلودله او نن هم بریالیتوب یوازې په اخلاص کې دی، تر دې چې مسلمان ته مسلمان نه شو ویلی، چې اخلاص یې د اسلامي تصدیق کړی نه وي.

مرزاخان د خپل اخلاص اظهار کړی او له ریا څخه یې د ډېره کولو خبره په شعر کې په دې ډول کړې ده:

په ساده جامه ښېشکه قلندر یې

د یا خرقه دې واچوه څڼه شه

هم په هغه انداز او تراکیب او فکري چوکاټ کې رحمان بابا داسې وي:

اد ریا خرقه یې خدی مه کړه په غاړه

رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

دغه رنګه ارزاني د توحید لپاره د دویي ختمول ضروري ګڼي او وایي چې د دویي له زحمته دې ځان نه وي خلاص کړی، و توحید ته رسېدلی نه شې ولې چې دویي یو مرض دی، یعنې دویي روحاني مرض دی او زړه له دې څخه پاک ضروري دي.

دا دوبي دي کل زحمت دی

زړګی خلاص کړه له دې مرضه

یا بل ځای وایي:

څو تر میانه ورانه نه کړې د تن پوله

و به نه رسې تر خدایه تر رسوله

رحمان بابا د شریعت په دایره کې دننه د تصوف قائله دی او هره داسې مسله د شرعي په پیمانه تلل غواړي او په ډاګه یې دا خبره روښانه کړې چې زه هر څه وایم هغه د قران او حدیث څخه را اخیستل شوي دي، دلته هم رحمان بابا لکه څنګه چې په قران کې دي چې شرک عظیمه ګناه ده یعنې له دې ډېره کول په کار ده. رحمان بابا وایي چې تر څو دي له شرکه ځان خلاص کړی نه وي. توحید ته رسېدل هېڅ امکان نه لري. رحمان بابا وایي:

په دویي کې به ورنه شې تر توحیده

څو ضمیر دي خالي نه شي له اشراکه

خو دلته له دویي څخه دوی مراد سکونت درجې ته رسېدل دي، په ځانګړې توګه د ملا ارزاني شعر کې دی غواړي چې سالک ته په کار دي چې د کثرت څخه د وحدت پر لور سفر وکړي او د وحت پر لوړه څوکۍ فائز شي، یعنې روحاني سفر سکونت ته رسولو پس یې له دویي څخه بېل ګڼي.

د رحمان بابا شعر فکري چوکاټ د شعري اصولو په پاندۍ کې راګیر دی بیا هم دا ګمان امکان لري چې رحمان بابا هم د تصوفي نظر خیال په کې ساتلی وي، په ظاهره داسې نه ده دلته زموږ چې کوم مراد دی، د

رحمان بابا له روښاني شاعرۍ د اثر اخیستلو په حقله هغه تت غوندې ښکاري چې د شعر مطلب یې د دویي پر ضد ګام پورته کول، هغه په دواړو اشعارو کې بېلته ښکاره دی.

یو بل ځای د مرزا خان انصاري او د رحمان بابا د خیال ورته‌والی وګورئ چېرې چې دواړو و یو داسې تصوفي نظر ته اشاره کړې چې سالک ته په کار ده چې د فردوس په طمعه یا لالچ باید اطاعت نه وکړل شي. دا تصوفي فکر د رابعه بصري له وخته را څخه پیل شوی دی. مرزاخان انصاري په دې حقله لیکي:

که رښتیا پېروي وکړې

د رښتینو به رهبر شې

له فردوسه به توبه کړې

بې پروا به له سقر شې

دغه ډول رحمان بابا هم په دې نظر دی چې له کله څخه مو د محبوب و خواته قدم اخیستی دی، له هغه وخته مو د جنت خیال نه دی او له دې غم څخه مو ځان خلاص کړی دی

زه رحمان یې د فردوس له غمه خلاص کړم

چې په کلي په کوڅه شوم د خپل یار ګډ

د مرشد توصیف کول او د هغه د لوړو کراماتو ذکر کول په تصوف کې عمومي رویه ده که څخه هم د دې رویې له سوبه د تصوف پر ټول تحریک منفي اثر غورځېدلی دی. ولې چې د دې له سوبه شخصیت پرستي ته دوام ورکول شوی دی. حالانکه شخصیت پرستي په اسلامي روحانیت کې د تصوف امام حضرت ابوبکر صدیق د نبي اکرم ص له دې دنیا څخه سترګې پټېدو پر وخت له منځه وړې وه. د مرشد زیاته ستاینه او مرشد ته تر پیغمبر یا خالق کاینات هم لوړه درجه ورکول په ځینو تصوفي فرقو کې رواج لري، دا د عقیدې رنګ خپل کړی دی چې پر ټولنه یې ډېر زیات منفي اثر غورځولی دی.

د رحمان بابا په حقله په تېرو کرښو کې وویل شو چې هر څه یې د قران او حدیث په رڼا کې کړي دي او په خپله یې ویلی چې ده څه ویلی دي هغه مو د قران او حدیث سره موافق کړي دي د رحمان بابا دغه شعر زیات شهرت موندلی، په ځانګړې توګه په تصوفي حلقو کې ښه شهرت لري.

د رحمان بابا دغه شعر پر ده باندې د تصوف د زیات اثر و خواته اشاره کوي او که دا ووایم چې له صوفیانوو

کرامو سره نږدې پاتې شوی دی. ولې د ځا خوی او خصلت هلته معلومېږي کله چې نږدې ورسره پاتې شي. د تصوف د غه اثر پر حمان بابا له تېرو تصوفي حلقو څخه شوی دی، لکه د روښاني غورځنګ پیاوړی شاعر مرزاخان انصاري د مرشد ستاینه په دې ټکو کې کړې ده:

په جنوب او په شمال یې قدم کېښود

په یوه نفس له غربه ځي تر شرقه

دلته شاعر وايي چې مرشد یې په کاینات کې له یوه سره تر بله په یوه ساه کې یا د ستګرو په رپ کې رسېږي دغه ډول رحمان بابا هم د درویش یا روحاني شخصیت لپاره و دغه کرامت ذکر کړی دی. رحمان بابا وایي:

چې په یوه قدم تر عرشه پورې رسي

ما لیدلی دی رفتار د درویشانو

که څه هم د رحمان بابا او مرزاخان انصاري دواړو یو ډول کرامات ته اشاره شوې ده خو د رحمان بابا او مرزاخان انصاري په فکر کې اساسي توپیر دا دی چې مرزاخان انصاري د مرشد تعریف کړی دی او رحمان بابا  د حقیقي روحاني شخصیت  د یو دساې روحاني شخصیت چې د کامل و درجه ته رسېدلی وي، یعنې رحمان بابا ځوک مختص کړی نه دی و اشاره یې و هغه ځا ته کړې چې پر حقیقي روحاني اصولو په رڼاک ې د پیر کامل درجې ته رسېدلی وي.

له دې شعر څخه د رحمان بابا د تصوفي فکر او ژور روحاني حالت هم اندازه لګېږي. دا شعر اثبات کوي او جواز کې یې ورته د حضرت عمر د روایت کړل شوي حدیث حواله ورکوي په کوم کې چې حضرت جبراییل ع له نبي ص څخه د دیني احکامو په حقله پوښتنې کړې وه، هغه وخت جبراییل د حضرت وحیه کلبي په شکل کې راغلی و.

د تصوف پیل له زړه کېږي پر زړه باندې تمامېږي، ټوله کار پر زړه باندې کېږي، د بني حدیث مبارک هم دی چې به بدن کې یوه ټوټه ده که دا سمه شي نو ټول بدن به سم وي، دا د زړه په باره کې وایي: د زړه دغه تصور په روښاني ادب کې هم په نظر راځي او وروسته د رحمان بابا په شاعرۍ کې هم دغه فکر شته خو د رحمان بابا کمال دا  دی چې هغه فکر په ډېر ښه ساه او روانه ژبه کې وړاندې کړي، دلته د مرزا خان انصاري هغه شعر اروړم چې پکې د زړه په حقله خبره کړې ده:

د جلیل کعبه په تا کې ده سازلې

د غفلت په خوی دي خوښه کړه او جاړه

د خلیل کعبه به ووینې په کور کې

که په زړه د جم و جام وته وخېژې

رحمان بابا همدغه خبره په دې انداز کې کوي

د خلیل تر کعبې داک کعبه ده لویه

که اباد کا څوک ویران حرم د زړه

د روښانیانو شاعري د روښاني تصوف شاوخوا راچورلي. روښاني تصوف یې اساسي موضع ده. د روښاني تصوف عمارت پر روښاني تصوفي مقاماتو ولاړ دی. د رحمان بابا په شاعري کې لټوو چې د روښاني مقاماتو اثر څومره پکې ښکاري؟

هسې خو دا په اته مقاموونو باندې مشهوره دي خو په دې کې اول څلورو ته مقامونه او پاته څلوور ته سیرونه وایي پر دې  اته مقامونو په لاندې کرښو کې خبره کوو خو د رحمان بابا د شاعرۍ څخه به هم هغه اشعار دلته راوړل کېږي، کوم چې د دې اته مقامونه سره معنوي ورته والی لري یا په نورو ټکو کې به ووایم چې پر رحمان بابا د روښاني تصوف څومره اثر شوی  دی.

د دې مقامونو راوړلو مرام دا هم دی چې د رحمان بابا عمومي تصوفي نظر هم راڅرګند شي یا پر ده د روښاني فکري اثرات هم رات څرګند شي. راګرځو روښاني تصوفي مقاماتو ته چې لومړی پکې شریعت دی.

شریعت: شریعت د روښاني تصوف لومړی مقام دی د دې مقام اساسي نکته شریعت دی و سالک ته د شریعت د احکامو او پر هغه د عمل کولو امر د پیر کامل له خوا کېږي، پیر روښان د شریعت په حقله په دې نظر دی:

ګوره د شریعت ورمندن ګفتار د پیغمبرانو دی او چار د پینځه بنیاد د مسلمانۍ ده په ادمیان او ګناه د شریعت نه نغته د شریعت ده او نغته د نوس او د شیطان چې لېږي یې و بې شریعت و ته او بې شریعت لکه لېوه دی، چې پکې قرار دی هغه هسې دي لکه ځناوران.

مرزاخان انصاري:

شریعت رښتیا ګفتار دی، صادقان دې اطاعت کا

د اسلام پنځه بنادي، مومنان دې تابعت کا

شریعت ثابت کلم د پیغمبر شه

د روښان یار په ثبت کلام بلند دی

تر څو چې د رحمان بابا د شاعرۍ خبره ده رحمان بابا داسې شاعري کړې ده چې د ده په خیال:

دا چې زه و تا ته وایمه که خدای کا

په ایت او په حدیث کې به څرګند وي

لکه ارزاني خوېشکی چې وایي:

د فقیر وینا تندرسته

په ایات حدیث ده درسته

رحمان بابا له منکراتو څخه ډېره کولو یا د شرعي پابندي کولو ادعا داسې کوي:

چې واده یې کا په ډول او په سر نا

بیا پرې وایي زمانه د ویر وینا

یا داسې وایي:

په هغو غوږو چې ذکر د خدای اورې

بیا مساع په هغو غوږو د رباب کړې

د رحمان بابا شاعري د حقیقي اسلامي روح عکاسي کوي. د ده شاعري هم د شریعت او هم د طریقت په ګاڼه پسلوللې ده چونکې د ده په شاعري کې مذهبي رنګ غالبه دي ځکه دا ویلی شو چې شرعي نقطه نظر په ښه توګه پکې واضح کړل شوی دی.

شریعت پر اساسي عقایدو زور ورکوي او د رحمان بابا په شاعرۍ کې هم موږ ته ځینې اساسي اسلامي عقاید په نظر راځي او رحمان بابا خپل نظر یا په بله معنا شرعي نقطه نظر وړاندې کړی دی، د بېلګې په ډول د اساسي اسلامي عقاید، توحید، ختم نبوت، تقدیر، جبر او اختیار او دغه ډول نور اسلامي عقاید یې به خپله شاعري کې راوړي دي، معنا دا چې د روښاني شاعرۍ او نثر په څېر د رحمان بابا په شاعرۍ کې هم د شریعت پر مقام زور ورکول شوی دی.

خو کله چې د شریعت او روحانیت ټکر راځي، رحمان بابا هلته د شریعت پلوي توب کوي د دغه ډول د رحمان بابا صوفیانه نظر له روښاني یا له ځینو نروو تصوفي سلسلو څخه بېلتون مومي لکه په لاندې شعر کې د شخصیت پرستۍ غندنه، آن تر دې چې د هغه هستۍ درجه یې هم د شریعت د دائرې مطابق ټاکلې ده، د چا له رویه چې ټول کائنات پیدا شوي دي. رحمان بابا وایي:

خدای یې مه ګڼه بې شکه چې بنده دی

نور یې کل واړه صفات دي په رښتیا

رحمان بابا که څه هم د انسانیت د ورورولۍ خبره په خپله شاعرۍ کې کوي، خو داسې ښکاري چې رحمان بابا شرعي تفاصیل د سني مسلک له قوانینو سره سم کوي. د نورو ادعاوو تر څنګ په یو شعر کې داسې هم وایي:

دا څلور مذهبه واړه سره یو دي

ما او تا په کې پیدا کړ اختلاف

د رحمان بابا په شاعرۍ کې د شریعت په حقله بلا ډېر اشعار شته او د لوستونکو تر نظر به تېر شوي وي، دلته راته هسې تکرار ښکارېږي، ځکه پر دې شعر یې ختمول غواړم.

باړه اوتره هلته کښت و زراعت کړه

تقوی دار شه هله طمع د جنت کړه

د رحمان بابا پر شریعت باندې دومره زور ورکول هم د ښه روحانیت زېری دی، لکه لوی عالم پروفېسور ډاکټر پروېز مهجور صاحب چې لیکي: شریعت د تصوف آغاز هم دی او انجام هم.

خدای له هسې زاهو زاده امان راکړه

چې بې دین بې دیانت شي بې نماز

طریقت: پوهانو او عالمانو د طریقت ډول ډول تعبیرونه کړي دي، خو لغوي معنی یې طریقه ده، په اصطلاح کې د نبي ص پر طریقو باندې عمل کولو ته ویل کېږي، په تصوفي اصطلاح کې د دې لپاره سلوک عمومي توګه کارول کېږي.

دا په تصوف کې روحاني ژوند ته د راننوتلو لومړی پړاو ویلی شو، ولې شریعت خو پر ښکاره یا ظاهر باندې زور ورکوي. ا پړاو کې د پیر کامل له خوا ډول ډول تصوفي طریقې ور ښوول کېږي چې سالک یې په ټاکل شوي

وخت کې تر سره کوي، خو دا ټولې طریقې د نبي ص له سنت څخه اخیستل شوي وي.

ګوره ورمندن په طیقت کې په لیروني هغه دی چې مشغول یې وي په رکوع په سجود په قعود په قیام په روژه په تسبیح په تهلیل په چار د پیغمبران تل د ژبې په لوستن چې دی زبان

او مرزا خان انصاري وایي:

طریقت د فرشتو خوی دی

چې بنده‌ګي په هر ساعت کا

طریقت د روحاني ژوند لومړی پړاو دی.

رحمان بابا وایي چې درویشان چونکې د الله او د رسول پر احکامو عمل کوي، دوی و الله او رسول ته رسېدلی خلق دي، ځکه که څوک غواړي چې د الله او رسول رضامندي ترلاسه کړي، هغوی ته هم د درویشانو پر لاره تګ کول په کار دي.

په دغه لارې به ورشي خدای رسول ته

که څوک یون کاندي په لار د درویشانو

دلته دم او قدم دواړه په حساب دي

پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه

راستولی خدای حساب دی په کتاب کې

خبر زده کړه له حسابه له کتابه

ته و خپلو نیکو بدو ته نظر کړه

چې بدي دي څو تېرى کړي له ثوابه

حبیب الله رفیع د رحمان بابا د روحي سفر قائله دی او دا فکر لري چې رحمان بابا په باقاعده توګه روحي سفرونه کړي دي او د رضاضتونو له لارې هغه مقام ته رسېدلی کوم چې د یو سالک لپاره ټاکل شوی وي.

رحمان بابا د خپلو ریاضتونو، تمرینونو، عبادتونو او ذکرونو په نتیجه کې توانېدلی و چې به محسوس ډول د خپلې اروا او د سېر او سیاحت لاره ووینې او په صراحت او قاطعیت یې بیان کړي. دی په خپل دیوان کې دې

موضوع ته ګڼې اشارې لري.

طریقت د مقام پرته د ټول روحاني ژوند لپاره هم کارول کېږي خو بیا هم یې اساسي معنی د خدای او د رسول د احکاماتو مطابق ژوند تېرول، خو د ځینو صوفیانوو کرامو له خوا د طریقت اصطلاحي معنی خدمت خلق ښوول شوې ده، لکه د سعدي شېرازي مشهوره شعر دی چې طریقت خدمت خلق ګڼي نه تش تسبیح او مصله، دغ ډول رحمان بابا هم یو ځای دې ټکي ته اشاره کړې چې څوک خدمت خلق کوي، سړې او تودې پر ځان وړي هغهبه هر وخت په امان وي.

هغه زړه به له طوفانه په امان وي

چې کشتۍ غوندې خلکو بار بردار شي

حقیقت حقیقت د روښاني مسلک دربیم مقام دی. دلته د تېرو درو مقامونو د لوازماتو سره پر مخ تګ هم دی. د حقیقت له اوامرو څخه لوی امر دا دی چې ساکل به د ذکر پابندي کوي او د غفلت څخه به ځان ژغوءي. ډاکټر پرویز مهجور صاحب د حقیقت د مقام په حقله په خپل اثر روښاني تصوف کې په دې حقله خپل نظر څرګندوي.

شریعت، طریقت او حقیقت د شرعي عمل یو تواتر دی او په عملي توګه یو ناوېشلی عمل دی. د حضورۍ د تسلسل ساتلو لپاره دائمي ذکر خلوت او عزلت ډېر ضروري دی.

رحمان بابا د ذکر دائمي په حقله لانې ورکړل شوی نظر لري: ښایي چې و مقام حقیقت ته یې اشاره وي:

واړه زهر و قاتل نغري که پوهېږې

که سېوا له خدایه نغري هر انفاس

یو بل ځای داسې وایي:

ستا په یادو رحمان هسې رنګ مشغول دی

چې په زړه کې یې هېڅ غم د وصال نشته

رحمان بابا د دائمي ذکر یا ټوله ورځ او شپه د خدای په یادو تېرولو ټول ساعتونه عبادت ګڼي:

چې مطلب و مدعا د سړي خدای شي

ناست ولاړ یې همه واړه عبادت شي

مرزاخان انصاري حقیقت د ځان یعنې د ظاهر او باطن پاکي ګڼي

حقیقت پاکي د من دی

دا پاکي د ما و من دی

هوش بردم فهم قدم دی

هم خلوت درانجمن دی

په روحاني سفر کې پر رحمان بابا یو وخت داسې هم راغلی چې د اشیاوو حقیقت ورته څرګند شوی دی، کوم چې د سالک اساسي مرام وي. په دې مقام سالک ته حقائق ور څرګندېږي او اشیاء چې څنګه وي هغه ډول ور ښکاري.

حقیقت د عالم واړه را ښکاره شو

چې د فکر قدم کېښود په آسمان ما

معرفت: په لغت کې معرفت معنی پېژندګلوي، په اصطلاح کې معرفت د حق پېژندنه نه ویل کېږي، مشهوره مقوله ده چا چې خپل ځان و پېژندلی هغه خپل رب و پېژندلی. بایزید روښان له روښاني مقاماتو څخه یو مقام معرفت ګڼي. په خیر البیان کې د معرفت په حقله وایي:

ګوره په معرفت کې په عارف واجد داورمندن دی چې هېڅ له ما شریک نه ګڼي، هر چې شته په دواړه جهان، په هر نظر د زړه په سترګې و ما وته نظر که په هر څه کې دي زما هستي بې رنګه ویني لکه لیده عارفان زما اوز د اوري لکه اورېده به سامعان ادمیان

مشهور روښاني شاعر مرزاخان انصاري هم د بایزید د معرفت تایید کوي او د زړه په سترګو د معرفت تایید کوي:

عجب زېب د معرفت د زړه په سترګو

چې بې مثله ننداره د دې بېچون کا

د رحمان بابا په نظر کې هم د معرفت هغه ډول ارزښت دی په خپل کلام کې نبغ په نبغه د خدای پر معرفت زور ورکوي او هغه څوک د انسانانو په زمره کې نه شماري څوک چې د خپل رب معرفت نه لري.

چې د خدای له معرفته خبر نه شوم

معلومېږم چې یا د یو یم یا دواب یم

بل ځای د معرفت ارزښت په دې ټکو کې وړاندې کړی دی:

چې د خدای له معرفته خبر نه وي

هغه واړه که بیدار دي هم اوده دي

معرفت الهي د رحمان بابا په نظر کې ډېر ژور دی له داسې بحر سره تشبیه ورکوي د کوم چې هېڅ سر او پای نه معلومېږي بیا هم انسان تر خپله وسه پورې پړ دی، ځکه سالک هڅه کوي چې د ریاضت له لارې معرفت ترلاسه کړي.

حد پایان یې هېڅ سړي موندلی نه دی

معرفت یې هسې بحر بې پایان دی

رحمان بابا د دومره لوی او غني ذات د معرفت ترلاسه کولو لویه نسخه را په ګوته کوي او وایي چې معرفت که هر څو بې پایان دی خو په هر څه کې څرګند هم دی. که د زړه سترګي بینا وي لکه د روښاني مسلک او نورو تصوفي سلسلو مسلک چې دی چې د زړه سترګې بینا کول اړین دي.

معرفت د خدای څرګند دی په هر څه کې

سترګې وخوره چې څوک هومره نظر نه کا

د معرفت ضد حجاب دی چې په روښاني شاعري او د رحمان بابا په شاعرۍ کې نمونې تر سترګو کېږي، مشهور روښاني شاعري مرزاخان انصاري وایي:

چې د روح له معرفته خبر نه وي

د صورت مثال یې نقش د دیوار شي

کل حجاب د سړي واړه ناپوهي ده

د هر چا لیده د فهم په مقدار شي

دغه ډول رحمان بابا هم د حجاب په هکله وایي:

دا حجاب چې نور عامل یې حجاب بولي

دا زما د یار تر میانه حجاب نه دی

لنډه دا چې رحمان بابا د معرفت درجې ته رسېدلی دی او د معرفت مقام یې په دې ټکو کمې هم یادونه کړې ده:

چې دا هسې معرفت یې پر پېرزو کړو

په رحمان باندې منت د پاک مولا دی

قربت: په روښاني تصوف کې قربت پنځم مقام خو اول سیر یا سفر هم ورته ویل کېږي، په دې مقام کې ساکل هرې خوا ته چې کوم آواز اوري هغه د حق اواز ګڼي، د سالک د غوږو پردې لرې شي او په هر آواز حق اورېدل د قربت لویه نښانې ده چې د روښاني مسلک پیرو کارانو او پیر روښان خپله ې ته اشاره کړې ده.

سالک چې کله د معرفت په مقام کې وي لاهم اواز د حق اواز ګڼي خو پر ده باندې د هغه اوا تسبیحات نه بېلېږي یعنې سالک په دې نه پوهېږي د اواز کې کوم تسبیحات دي کله چې سالک د قربت مقام ته راشي دلته پر ده د هر آواز تسبیحات بېل بېل وي او د هر آواز په تسبیحاتو سالک پوهېږي ځکه ورته مقام قربت ویل کېږي.

د رحمان بابا له شاعرۍ څخه د قربت د مقام نخښې ځرګندېږي او لوستونکی دا ګمان کوي چې رحمان بابا د دط مقام خوند کتلی دی او د دې باقاعده تصدیق یې هم کړی دی لکه چې وایي:

هر اشیا د حق نثا کا

په نغمه لکه داود

که بیدار شه خود به اوري

په هر لوري دا سرود

وصلت: وصلت معنی نښلېدلی یا پیوستون دی. په تصوفي ادب کې سالک خپله هستي له یو وجود څخه ګڼي، خو د ده هستي له منځه وړل کېږي، داکتر پروېز مهجور د وصلت په حقله لیکي:

په وصلت کې د واصل هره چاره او وینا په پیوستون سره وي. واصل یوه هستي هم په یوې هستۍ سره ویني او پېژني. د واصل خپله هستي له منځه وتې وي. د وجود ګمان یې ورک وي او د یقین په رڼا یې خپله هستي نابوده وي. د هر کار فاعل په حقیقت کې هم هغه یو فاعل ویني. په وصلت کې واصل ته د ذکر فنا حکم وي.

رحمان بابا چې د حقیقت معرفت او قربت تر مقام راتېربېري روح یې ځلا موندي او د وصلت د مقام په انتظار دیو و دې مقام ته په رانزدې کېدو یې روح دکمال اوج ته رسېدلی خو د نورو پر مخ تګ لپاره لېواله دی:

منتظر دي د وصال د ګلستان یم تل تر تله

سر تر پایه د شبنم په څېر چشمان دی زما روح

چې حاصله مې له حسنه روښنايي شوه په طلب کې

شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان دی زما روح

له دې پرته یې په یو بل بیت کې هم وصلت ته اشاره کړې:

چې هستي واړه نېستي کاندي واصل شي

ګند کچکول دي قلندر غواړي عوض

د وصلت مقام ته رسېدو سره په دې انداز ګویا دی

څه حاجت دی چې و بل خوا ته یې غواړم

په خپل کور کې همکنار دی رب زما

ما رحمان د یار وصال په اسانۍ موندلی نه دی

زرد رويي مې سرخ رويي په ځیګر خون شوه الغیاث

وحدت: وحدت لغوي معنی یووالی دی په تصوفي اصطلاح کې د سالک هستي په ذات حق کې فنا کېدو ته وحدت ویل کېږي، یعنې د سالک اراده، عمل او هر څه هغه قما ته ورسېږي چې په حق کې فنا شي.

انساني هستي په مثال د څاڅکي او ذات حق په مثال د بحر وي. په وحدت کې د سالک هستي داسې فنا شي لکه څاڅکي چې په درياب يا بحر کې ضم شي.

وحدت په روښاني تصوف او په نورو صوفيانه سلسلو کې یو منزل ګڼل کېږي، خو دا منزل عموماً عارضی په ې سوب وي چې سالک له دې څخه پر مخ ځي او وروسته پرمختګ کوي.

د وحدت مقام ته رحمان بابا په خپلو ډېرو اشعارو کې اشاره کړې ده.

ښه چې تن مې توی تومنه شو په عشق کې

ها له څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم

بل ځای یې دې مقام ته داسې اشاره کړې ده:

هسې رنګ مې د خپل زړه له وینو واخیست

چې ځان درست راته په شکل د جانان دی

د وحدت مقام کې سالک له خفي شرک څخه خلاصوي او ځان یا نفس هېڅ ګڼي او ټول قدرت او صفات د ذات حق ګڼي. د سالک بشري صفات چې کله له منځه ځي.

سکونت: سکونت د روښاني تصوف تر ټولو ستر مقام دی چې په نورو تصوفي سلسلو کمې ورته مقام بالله هم ویل کېږي. پروفیسور ډاکتر پرویز مهجور د دې مقام په هکله وایي:

د وحدت د سر نه سکونت بقا بالله سیر بالله عن الله سېر ته یا رجوعي او نزولي سېر یا انهایت رجوع الای البدایت ته چې اول د مبتي مقام وي او چې د عروج نه بېرته دې مقام تعین او تقید ته بیا راشي، نو بیا دا د منتهي مقام شي.

مقام سکونت چونکې د سالک لپاره تر ټولو لوړ مقام دی ځکه په بله معنی سالک قرار موندي، هستي بې فنا شي.

ملا ارزاني د سکونت د مقام انځور داسې وړاندې کړی:

سکونت شېوه ښه خوی دی

ساکن ګل دی یار یې بوی دی

په هر دم په دا خپل کور کښې

تل له یاره روی بروی دی

رحمان بابا د سکونت په نورو ټکو کې مقام فنا په هکله وایي:

هغه څه پوښتنې له هجره له وصاله

چې په خپله هم محب شي هم محبوب

یا وایي:

مګر ځان و خدای ته وسپاري امان شي

ګڼه بله خوا د هېچا امان نشته

پروفېسر ډاکتر راج ولي شاه د رحمان بابا د لاندې ورکړل شوي شعر په هکله وایي:

لکه متن له له معنی معنی له منتنه

یار هم هسې دی زما په دل و جان کې

په دې شعر کې د حقیقي عشق د ادارکاتو اوورداتو له مخه د وجود د وحدت ښکاره معنی ده چې د تصوف په اصطلاح کې ورته فنا فی الذات هم وایي.

د رحمان بابا شاعري په لومړي نظر کې د اخلاقیاتو ټولګه معلومېږي، لوستونکي ته دا خبره په اثبات رسول ګران شي چې رحمان بابا د طریقت په کومه سلسله کې بیعت و؟ د ده پیر څوک و؟ د کومو تصوفي نظریاتو قائله و او د کوم مخالف و؟ دا ډول نورې پوښتنې هم لوستونکي په خیال کې را پورته کېږي، خو د رحمان بابا دیوان چې په ویلو کې څومره ساده او اسانه ښکاري، هغه ډول نه دي.

د رحمان بابا دیوان د هغه مړو اوبو په شان دی چې د سیند په هغه برخه کې بهېږي چې زښتې ژورې وي. د رحمان بابا په شاعری کې د روښاني مقاماتو اثرات پر لاندې ورکړل شوي شعر پای ته رسوم، خو د رحمان بابا په شاعري کې چې په نورو تصوفي سلسلو کې مقبول کوم قمامامتدي د هغو سرسري جائزه اخلم. دا بحث دلته په دې سوب راوړم چې د رحمان بابا د روحاني سفر نزلونه پر یوځای په پرله پسې توګه را په ګوته شي. رحمان بابا وایي:

همېشه به له مقامه بې مقام وي

هغه څوک چې لټوي مقام د ستا

**۳ – ۱۹ - ۱ میرزاخان او بابا**

میرزاحنان بارکزی وایي:

زه حنان د بار په غم لکه ګل واسوم

که رحمان وو د آشنا له لاس سترې

بابا چې ویلي دي، د آشنا له لاسه یعنې د بېلتانه د لاسه وګوري هماغه غزل کې چې بابا یې په څه رنګ تشریح کوي:

که ژوندون د عاشقانو په وصال وي

زه مهجور یم په دغه روایت مړی

خوږ ژوندون مې جدايي هسې رنګ تریخ کړ

چې د غم له تلخۍ دم نشم رانغړی

له احواله یې ورو، ورو پوښتۍ یارانو!

بېلتانه د رحمان وار دی خطا کړی

د بابا په دې غزل کې له اول نه تر آخره پورې د بېلتانه حخه فریاد کوي.کوم یو شاعر دی چې د آشنا په بېلتون کې عاشق د ګل غوندې تازه او یاد ګل غوندې وګڼي، عبدالقادرخان خټک ویلي دي:

زه خټک د یار په غم تازه تازه شم

غوریاخېل رحمان که شو ورځینې سټړی

بارک زی له خټک نه نقل کړی او ویلي یې دي:

زه حنان د یار په غم لکه ګل واسوم

که رحمان وو، د آشنا له لاسه سټړی

بارکزی خطا کېږي چې په دواړو عبارتونو کې فرق نه کوي ( د یار په غم) او د آشنا له لاسه) بېل بېل عبارتونه دي چې د بېلې بېلې معناګانې لري او بارکزي په خپله همداسې ویلي دي:

په فراق یې زه حنان سټړی ستومان شوم

ما حنان د شعر لاس کړ د رحمان مات

میرزاحنان عالم نه وو، میرزا وو، نو ځکه ثواب او عذاب نه پېژني، پّ حق او باطل کې فرق نشي کولای، موشګافي یعنې وېښته کې سوری کوونکي داسې دروغ دي چې ددې هېڅ حقیقت نشته؛ ځکه په وېښته کې نه څوک سوری کولای شي او نه به یې وکړي او داسې د شعر لاس ماتول هم داسې دروغ دي چې ددې هم

هېڅ حقيقت نشته، مخکې زمانو کې به يې ميرزا هغه چاته ويلو چې د خط او ژبې ليکل او لوستل به يې کولای شوی؛ خو عالم به نه وو، ديني علم به ورسره نه وو، فقط د نظم او نثر کتابونه به يې له مخه لوستلی شوی لکه نن د پروفيسور غوندې چې نور علم يې ډېر وي؛ خو ديني علم يې نه وي الا ماشاءالله.

زه به ((مشت نمونه چند خروار دلته څو ټوټې بيتونه، غزلونه، قطعې يا د پخوانيو او اوسنيو شاعرانو د کلام نمونې را واخلم:

# ۴ – عبدالرحمن بابا متصوف شاعر دی که د ټولنیزو افکارو خاوند؟

**۴ - ۱ عرفان**

دغه راز رحمان بابا له اروپوهنې سره ارتباط ساتلی، ویلي یې دی، چې ضد کول ښه کار نه دی، ضدیت یو ډول سر تنبګي ده،ضدیت د انسان غمر کموي، ضدیت ځانته په قهر کېدل دي او.... په فارسي فوکلور کې راځي:" قهر غریب، مرګ، غریب" او رحمان بابا وایي:

ضدیت د سړی عمر عذاب کا

په کار نه دی ضدیت په دا دنیا

له بې ځایه، هنډو، مجلسونه ځان ساتي، له خانانو سره په بې ځایه ځېزونو کې برابري اوسیالي پرېږدي لکه حال، اولاد، په نسب فخر کول او داسې نورو کې....

یا به فخر کا د حال او متال

یا به فکر کا د مال او د متال

یا به هسې پوچ ګویي کاندې آغازه

چې مضمون یې نه مردار وي نه حلال

نو ځکه یې د خانانو سره کور او کلي پرېښی وو، چې هغوی کبر او غرورنه پرېښوده او بابا شریعت، خاکساري او عاجزي نه پرېښوده:

نشي د خانانو، ملنګو سره کلی

چېرته عزیزخان چېرته ملنګ عبدالرحمان

رحمان بابا د عزیزخان څخه خلاص شو، خو د خوشحال خان څخه خلاص نه شو، ځکه یې دا غزل ووایه:

دریغه ولیدی یو ځل هغه مخونه

چې در از لري مژگان، د راز قدونه

د راز قد دراز مژگان درازې زلفې

وړې شونډې، وړه خوله، واړه غاښونه

د آسمان شمس و قمر به ترې قربان کړم

هم د ځمکې پر سر واړه سره ګلونه

چې یې ووینم په مخ مې اوښکې درومي

د پسرلي له مخې اوري بارانونه

چې یو ځله یې مخ ووینم په سترګو

ما په زړه کې قبول کړي دي نذرونه

د هجران په شپه سورکټ راته سور اورشي

یو زمان مې باندې نه لګي اړوخونه

چې په سپینو اننګو دې زلفې زانګي

ښاماران د چندڼو په ښاخونه

که خدای غم د جدایۍ ورته آسان کړ

و رحمان و ته آسان دي نورغمونه

خوشحال خان په دې غزل تنقید وکړ او په غزل کې یې د خپل خیال مطابق د اصلاح سره څه مناسب اشعار هم اضافه کړل او غزل یې ووایه چې دارنګه دی:

د جهان په مخ به ډېر وي ښه مخونه

ولې زړه مې ستا و مخ ته وکړه خونه

کله کله مې له حاله خبر واخله

که دې چېرته اندېښنه کېږي له خونه

د فراق په شپه سورکټ په ما سور اورشي

یو زمان مې باندې لگه اړخونه

په ښو مې زړه و سترگو ته راکاړي

لکه مست لره کباب چې په سیخونه

نوبهار یې په راتللو شگفته شي

د لا له تر گلو ښه لري باړخونه

څو غمزې، ښیوې فتنې جلوې مانې کړې

هومره کېږي په خوارانو شو اخونه

که دا سرې شونډې دې لعل، غاښ گوهر دی

شرارې دې ستا په غاښو کې میخونه

تورې زلفې دی په لیچو باندې زانگي

ښامان دي د چنډېو په ښاخونه

چې یې یو زمان له سترگو جلا کېږي

د خوشحال په مخ به اوښو ځي ورخونه

خوشحال خان، عبدالرحمان بابا د غزل مطلع یعنې اولنی شعر بدل که، خو قافیه او ردیف یې بدل نه کړل، د بابا غزل که اته شعرونه، خان صاحب یو شعر زیات کړ او ۹شعرونه یې وویل، په دوه شعرونه کې یې یو نیم لفظ هم بدل که د بابا په شپږم شعر چې بې هجران د لفظ په ځای د فراق لفظ او د (راته) په ځای یې ( یما) بدل کړل. بابا ویلي وو:" هجران په شپه سورکټ راته سور اور شي"

خان صاحب وویل:" د فراق په شپه سورکټ په ما سور اور شي" او ترتیب یې ورته هم بدل که. بابا دا شعر پّ غزل کې په شپږم نمبر کې راوستی دی او خان صاحب پّ درېیم نمبر کې راوسته، بل یې د بابا په ا ووم شعر کې پوره یوه مصرعه بدله کړه، فقط دوه لفظه ( زلفې زانگې) یې په کې پرېښودل او هغه یې هم له یوه بله لرې ا و په فاصله کې راوستل، بابا ویل چې:" په سپینو اننگو دې زلفې زانگي" خان صاحب وویل:" تورې زلفې په

لېچو باندې زانگې" شاید څوک داسې ووایي چې دا غزل اول خان صاحب ویلی بیا رحمان بابا ویلی دی، د هغه په تقلید کې غزل جوړ دی خو د دواړو غزلونو داخلي شهادت او بل د دواړو شاعرانو ذاتي طبیعت ددې خبرې تردید کوي.

داخلي شهادت دادی چې د رحمان بابا په غزل کې (۸) شعرونه دي او د خان صاحب په غز لکې (۹) شعرونه دي، نو دا را زیاتوالی هم په وروسته والي دلالت کوي، بله دا چې د بابا په طبیعت کې انگساري او عاجزي وه په چا به یې بې ځایه غم غرض به کاوه او د خان صاحب په طبیعت کې جولاني، روز آزمایي وه او هر چا سره ډغره وهل او مقابله کول پراته وو، تر دې پورې چې د خپل سره کاکا صاحب سره یې هم ډغره وهله.

د مظلوم رحمان په (۴۸) مخ کې په رحمان بابا یو بل تنقید راځي لاندې یې وگورئ:

**په رحمان بابا بل تنقید**

بابا بې آزاره او بې بد و انسان وو، نو په دې خبره یې څه رد عمل ښکاره نه کړ، ځکه چې د ښمني او بد ویل یې په چا پورې خوښ نه وه، لکه چې په خپله وایي:

خدای امان راکړی له هسې رنگه ژونده

چې ته بد وایې له بله بل له تا

نو خوشحال خان د رحمان بابا په یو بل غزل را په زنې وکړه او د خپلې شاعرۍ راز یې ښکاره کړ.

د رحمان غزل:

اورنگ زیب چې ارایش د تخت و تاج کا

تخت و تاج به یې مرگی تاخت و تاراج کا

په جهان کې به یې پاتې ښه بد نوم شي

که دې چارې دکرې او حجاج کا

او په سترگو لره لارې اور د زړه شوی

څوک به څه شکله ژوندون به دا مزاج کا

جدایي زما په زړه کاهسې چارې

لکه باز چې په تارو او په راج کا

زما اوښکې چې پیدا زړه له زیم شوې

لکه اور چې له کبابه نم اخراج کا

زه غمجن د عید په جشن خبر نه شوم

که نور خلک هان و هوی ته احتیاج کا

هر ناوک چې د قضاله شسته خېژي

زمانه د رحمان زړه ورته احاج کا[1]

خوشحال خان ددې غزل اصلاح په خپل گمان او خیال داسې وکړه:

اورنگزیب چې آرایش د تخت و تاج کا

تخت و تاج به یې مرگی تاتخ و تاراج کا

په جهان به یې پاتې ښه بد نوم شي

ده زده چارې د کرا که د حجاج کا

اوبه سترگو لره لاړې اور د زړه شوې

څوک به څرنگه ژوندون په د اخراج کا

زه غمجن په عید، په جشن خبر نه شوم

که درست خلک د دهلي بې انتهاج کا

چې په رگ مې گوتې کېږي رنگ یې ژیړ شي

طبیبان به مې څو د رنځ علاج کا

جدایي زما په زړه کا هسې چارې

---

[1]- د رحمان بابا دیوان ردیف ، ۱۷مخ

لکه باز بې په تارو یا په دراج کا

دوه مین چې په وا دوبله بیل شي

خدای یې څه شکل و تش سلام محتاج کا

زما اوښکې د ګوګل په جوش پیدا دی

لکه اور چې له کبابه نم اخراج کا

هر ناوک چې د قضا له شسته خیژي

زمانه د خوشحال زړه ورته آماج کا[1]

خان صاحب اول او دویم شعر په خپل حال پرېښودل ، فقط د دویم شعر په دویمه مصرع کې یې اصلاح وکړه او ځای که دې چارې ایې (ده زده چارې) په ځان د (او) یې (که) ولګوه نو مصرع یې:

که دې چارې دکسرئ او د حجاج کا

ده زړه چارې د کسرئ که د حجاج کا

درېیم شعر یې د غزل په ځلورم شعر بدل که لفظ د څه شکله یې په څه رنګه بدل که شپږم شعر یې د خپل غزل په درېیم شعر بدل که او په ټوله مصرع کې یې د " زه غمجن نه وروسته د (د) په (به) بدل که، دویمه مصرع یې ټوله بدله کړه، پینځم شعر یې په غزل کې نوی اضافه کړ.

د بابا ځلورم شعر یې په خپل غزل کې په شپږم نمبر راوسته او په دویمه مصرعه کې یې د (چې) په ځای ( یې) او ( راو) په ځای یې (یا) راوسته اووم شعر یې په غزل کې نوې اضافه کړ.

د بابا پنځم شعر یې د خپل غزل په اتم شعر بدل که او په اوله مصرع کې یې فقط مال پرېښوده، فقط د ( رحمان ) په ځای یې خوشحال ولګوه. د بابا په غزل کې (۷) شعرونه دې خان صاحب دوه شعرونه نور اضافه کړ نو د خان صاحب غزل (۹) شعرونه ته ورسیده.

په دې دواړو غزلونو کې هم داخلي شهادتونه چې به دې خبره شته چې دا غزل اول رحمان بابا ویلي دی، بیا

[1]-( ارمغان خوشحال، ۳۱۰)

خان صاحب په غرض اصلاح راکړی دی.

هغه شهادت یو دادی چې ددې غزل په اول کې د (فنا) او مرگ د یاد ساتلو تعلیم دی، د تخت او تاج د آرایش نه د نفرت سبق دی او د اروح د بابا تعلیماتو روح دی، دا زمینه د بابا د اشعارو زمینه ده، ځکه پخپله هم یو شعري تارک الدینه فقیر وو.

خان صاحب خو د خانۍ او حکمرانۍ لپاره توره پورته کړې وه، خو خدای نه ورکول هاغه خو خپله دنیا په نشته کې مست وو، نه مرگی ورته یاد وو، نه دنیا فنا، خان صاحب خو خپله غوښتله خو نه یې مونډله، که دې خان صاحب په غزل کې داخلي شهادت دادی چې د خان صاحب په غزل کې دوه شعرونه زیات دي، نو د غزل زیاتوالی او د الفاظو تبدیلي په دې خبره دلالت کوي، چې خان صاحب دا غزل د بابا د غزل نه وروسته جوړ کړی دی او دا یې په خپل زغم او گمان د بابا د غزل اصلاح کړي ده؛ نو ځکه خو دا غزلونه د بابا او د خان صاحب په دیوالونونو کې په همهدغه شان په ډېرو پخوانو نسخو کې هم موجود دی.

د بابا په دیوان کې ځکه دواړه غزلونه شه چې بابا جوړ کړي دي، نو بابا یې خپل گڼي، د خان صاحب په دیوان کې هم دا دواړه غزلونه ځکه شته چې هغه خان ددې دواړو غازلونو اصلاح کوونکي گڼي او دا دواړه یې اصلاح کړي دي؛ نو چې د بابا دیوان نه اوس اوس دا غزل ویستلی دی او دایې خیال ده چې دا غزل د بابا نه دی، داد خان صاحب دی، سهوه کوي او په قدیمي چا یې نسخو باندې اعتماد نه کوي، نه بابا سرقت او غلا کړې ده او نه خان صاحب بابا یې د جوړولو په وجه مالک دی خان صاحب په خپل زغم د اصلاح کولو مالک دی.

خیر بابا بیا هم خاموش وو او څه یې نه ویل:

په ښه خوی له بدخواهانو یې پروا یم

په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا یم

دغه راز چې حضرت رحمان بابا هم دربیم تنقید شوی دی او په لاندې ډول دی، دغه غزل د عبدالرحمان بابا د دیوان د ( د) په ردیف کې دی او په لاندې ډول دی:

وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره

دریغه دریغه دریغه چې بې یاره شي بهاره

اور د خوږو زړونو چې د غره په سر بلېږي

شنې لوخړې خېژي له نښترو له چناره

دا څه عاجزي ده، چې زه کښنم په کاغذ باندې

راشه و وېربېره د عاشقو له ازاره

دا څه اوښې نه دي چې بهېږي له چشمانو ويني دي بهېږي د زړګوټي له پرهاره

رنځ مې هسې سخت دی، هر زما په ما زياتېږي

راشه اې طبيبه ګندې مرم درب لپاره

غرونه دې نړېږي، چې په حال زما خبرېږي

سيند د اوښو دروميي چې راغلی له کهساره

نور څه نه دي واړه دا نارې د بېلتانه دی

راشه که يې اوري درباب له هره تاره

زه يو خوار و زار يم رحمان په عاشقۍ کې

خپل دې که پردی دی راته نه ګورې له عاره

او خوشحال خان دا غزل وروسته په تنقيدي ډول داسې رحمان بابا ته ورګرځولی دی؛ دغه مطلب ( غزل) د خوشحال بابا په ارمغان خوشحال (۳۸۳ مخ) کې داسې راغلی دی:

وخت د نوبهار دی، زه جدا له خپله ياره

دريغه، دريغه، دريغه چې بې ياره ځي بهاره

ژاړې غاړې غرونه په احوال د عاشقانو

سیل د واورې نه دي، چې را درومي له کهساره

اور د خوړو زړونو دی چې د غره په ونو نوبل شو

سری ډډ وزی خېژي له ښښتره له چناره

غواړی چې احوال د فراق ژړو در معلوم شي

گوره هغه زانې چې جدا ځي له قطاره

داسې معلومېږي چې احوال د ماتم ځای دی

شنې جامې اغوستې د طوطیانو له چغاره

نورې نارې نشته؛ خو نارې د بېلتانه نه دي

راشه که اورې دربابا له هره تاره

رنځ مې نه کېږي په زمان زمان زیاتېږي

ژر راځه طبیبه، گنه مرم د خدای لپاره

مرگ د رقیبانو بل ژوندون د حبیبانو

خدایگو په هنگام د وصل کېږي دا دوه کاره

څه شو که لا دم وهي په شمار دی د ژوندیو

رنځ چې لا دوا شي طمع پریکړه له بېماره

پاتې سړی نه شو دا چې گرځي د دو دام دی

ځخه وبره نه شي د درد منوله آزاره

هسې خوار زار شوم زه خوشحال په عاشقۍ کې

خپل دی که پردی دی راته نه ګوري له عاره

د رحمان غزل (اته) مسرې يا شعره وو، خوشحال خان خپل تنقيدي غزل يوولسو ته ورساوه، چې ده بيته يې خپلې زو آورۍ ته اشاره وکړه:

غواړې چې احوال د فراق درنو در معلوم شي

ګوره هغه زانې چې جدا ځي له قطاره

داسې معلومېږي چې احوال د ماتم ځای دی

شنې جامې اغوستې د طوطيانو له چغاره

مرګ د رقيبانو بل ژوندون د حبيبانو

خدائيګو په هنګام د وصل کېږي دا دوه کاره

د خوشحال خان او عبدالرحمان بابا تر منځ دغه تنقندي مواعظه په دېر جراأت او شاعرانه ادابو چوکاټ کې دوام پيدا کوي، خو قلندربابا د قلندرانه اصولو په رڼا کې نه اخلاقي معيارونه او نه شاعرانه اوصاف او آداب هېرولای شي. دا مبارزه او شاعرانه تنقيدونه او نزاکتونه زموږ د ا دب په ورشو لکه د پسرلی خوږ من باران ته ورته دي.( د مظلوم رحمان) کتابګوټی په (۵۲) مخ کې بيا بيا دا د زړه خوږلن اورونه ګورئ چې لا راسپړل کېږي،[1] دلته به خوشحال خان ته د بابا اول جواب وګورئ:

**خوشحال ته د بابا اول ځواب:**

قلندر عبدالرحمان بابا د صوفيانو او قلندرانو د اصولو مطابق د درې کرته مهلت ورکولو نه وروسته داسې قلندرانه ځواب ورکړ، چې يو څو شعرونه يې دادی پوره غزل د ديوان په (۹۳) مخ کې ورګوری:

دنيادار که مستغني په سيم وزردی

هنرمندو څخه ګنج د خپل هنر دی

[1]- په (۵۲) مخ کې

**د انسانانو تفاوت:**

بیهوده به زور آورو ځان ته وایي

د دینا سړی که هر څو زور آور دی

هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې

پیدا کړی خدای د سر د پاسه سر دی

ځینې ځینې یې ولیان، بیغمبران کړل

نه چې هر سړی ولي او پیغمبر دی

جودانې قدر مې یو اهل په کې پیدا شي

نور جهان واړه د تورو کاڼو غر دی

یو پادشاه وي چې لښکر ورپسې درومي

نه په هر یوه سړي پسې لښکر دی

پیدا کړي خدای سړي په تفاوت دی

هسې نه چې جهان واړه برار دی

که د عمر و رفتن ته څو نظر کا

دا به وایي چې آفتاب د لمازدیگر دی

چې یې سر په ځمکه ایښي دي ویار ته

په آسمان باندې ختلی لکه لمر دی

تعجب زما د ډېرو اوښکو مه کړه

ما موندلی په دا بحر کې گوهر دی

د ریا خرقه یې خدای مه کړه په غاړه

رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

دلته گورو چې دغه ټوکې او شعري مناقشې ځای پر ځآی نه پاتې کېږي او خان عین المکان له رحمان بابا سره ټوکې ته دوام ورکوي، لکه:

**د خوشحال خان ټوکه له بابا سره**

خان صاحب چې پوه شو چې له مرگه و نه وېرېده او زما شاگرد نابعدار او حبیب جوړ نه شو، چې په خپل غزل کې یې دې خرو ته هم اشارې کړې دي او د ځانې په شان زموږ د ختټکو شاعران له دلې او قطار جدا روان دی، نو یې مزاجیه نظم ولیکه چې په هغه کې یې د خپل دور یو څو شاعرانو نومونه واخیستل، د رحمان بابا په برخه کې یې وویل:

د خوشحال بابا نظم دادی:

چې لاف وهي د شعر

په دا دور کې دي ډېر

خدای دې نه کا چې به وایم

حال د دوی دی تېر و ببر

څو پاو، څوک نیم پاوي یې

قلندر په کې نیم سیر

چې زموږ په حساب دي

هېڅ مې نه دی واصل هېر

بل دولت فقیر درې پاوه

زه ترې څو سر شاهي تېر

پس له قرنه به پیدا شي

په سرای[1] کې پوره سیر

دغه مطلب ته خوشحال خان په خپل ارمغان کې په (۷۰۳) مخ کې یادونه کړې ده.

له دې ورایسته حضرت عبدالرحمن بابا د خوشحال خان دغه ټوکه بده نه ګڼي، دا ځکه رحمان بابا په خپله قلندر ویلی وو، نوموړی خوشحال خان ته د ټوکې ځواب دا ډول ورکوي:

د مظلوم رحمان په (۵۴) مخ کې راځي:

خوشحال خان ته د ټوکې ځواب

رحمان بابا د قلندر په لفظ بده و نه ګڼله، ځکه چې قلندر یې په خپله هم ځان ته ویلی و "رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی".

صوفیانه مسلک یې هم قلندري چشتی[2] مسلک و، خو د ینم سیري ټوکه یې نښ ونه ګڼله، بله دا چې دولت خان لوانی یې د رحمان بابا نه یوپاو دروند حساب کړی وو او بابا یې ترې سپک ګڼلی وو، خوشحال خان خپل ځان د دولت خان نه هم زیات حساب کړی و، نور رحمان بابا دا غزل ولیکه:

که مې څوک په فقیرۍ شمېرې فقیر یم

که مې څوک په امیرۍ شمېرې امیر یم

د دلبرو صدقې لره یې غواړم

---

[1]- سرای: له سرای څخه یې مراد اکوړي سرای دی.

[2]- چشتي یوه طریقه ده.

هسې نه چې په دنیا پسې زهیر یم

د خرقې خدمت مشکل دی او که نه دی

زه هر دم ددغه چارې ته په زیر یم

هم پند اخلم هم پند وایمه هر چاته

زه د ځینو یم مرید د ځینو پیر یم

خوشحال او دولت مې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمگیر یم

رحمان بابا ته قلندر د مسلک له وجهې ویلی وو، خو خوشحال ورسره ټوکه وکړه او له ټوکې یې پټاکه جوړه کړه، نو بابا هم نپّ سنجیده ځواب ورکړ چې ځان لپاره یې نه غواړم نه یې ذخیره کوم له یوه نه اخلم بل ته یې د صدقې په ډول ورکوم.

د رحمان بابا الفاظ له ادب ډک عالمگیر لطافت لري او کامله جرحه په کې پرته ده ځکه نو خان صاحب ورباندې ډېر خفه شو او یو شپږ مصریز غزل یې په ځواب کې ووایه چې د هغه ځینې بیتونه دادي، ارمغان خوشحال (٦٥٢) مخ کې وایي:

یو نری ویښته په طریقته کې لوی حجاب دی

ځکه قلندر ږیره بریتونه دی خرئیلي

ما په دا جهان کې بل ا ستاد نه دی لیدلی

پیر مرشد مې عشق دی واړه عشق دی رابښلی

سل سړه بني دې تر دا یو غزل زاریږه

نن چې دا پښتو ده کړلاښې خوشحال ویلی

خوشحال خان د خپلې خانۍ د طبیعت له مخې ډېره ښکاره او وامخه مقابله ده، د هنر یا شعر ژبه یې که هنري ده، خو ډېره ادبي نه ده.

بابا هم د انصاف له مخې د خان صاحب ځواب ورکړی دی( مظلوم رحمان) کتاب په (۵۵) مخ کې راځي: د بابا انصاف او د خان صاحب بې انصافي:

رحمان بابا وایي:

اهل د دنیا واړه نامرده دي رنګ یې ورک شه

خدای دې ملاقات د هېچا نه کا له نامرده

کله یې در دانو لره زړه د چا ور درومي

زه به صدقه کړم سل بې در دله اهل درده

یو خوشحال یو کم سل ختک نور په طبیعت کې

زار شه د رحمان سړبني له یوه فرده

خان صاحب سل سړه بنې ویلي وو چې  عام لفظ یې ټولو سربښو ته شامل دی، بابا ټولو ختکو ته و نه وئیل، بلکې د طبیعت شرط یې ولګوه، یعنې چې طبیعت یې د خوشحال غوندې وي، چې هر چا سره بې وجهې ډغره وهي، او هر څوک بې وجهې آزاروي، نو بابا انصاف وکاوه او خان صاحب بې انصافي.

باید ووياو چې د رحمان بابا په برخه کې له خوشحاله نیولې آن دده د کورنۍ تر ډېرو غړو مواعظي، مشاجرې او مشاعرې په برخه کې دي.

اشرف خان هجري( ۱۰۸۱هـ) چې د خوشحال خان مشر زوی دی هغه هم په دې شاعرانه مقابلو کې حصه واخیسته او څه اشعار یې د همدې کال په اوایلو کې وویل، چې په هغې کې یې داسې فیصله وکړه، دادي د هجري اشعار:

که هغه قوم پرې کړي سر له سره

دا حکمت په څو مکانه مقرر دی

اولاً به د استاذ له حاله وایم

چې یې شعر جهانګر لکه قمر دی

په پښتو ژبه چې شعر چا بیان کړ

د همه و نظم ستورې په دا لمر دی

د خپل خاندان، شاعرانو د حال له بیانولونه وورسته په همدې نظم کې وایي:
پس له دوی نه کیفیت د نورو وایم

چې د چا شعر شمشیر د چا خنجر دی

شاعران د پښتنو ګویا څېره دي

د میرزا شعر شمله، بلکې افسر دی

تکلف په دا کې نشته باور وکړه

په دا فن کې یې ګوي وړ له هر یو دی

که څوک شاعران غواړي په دا دور

که دوه درې ننه د ګریو قلندر دی

خوږ زبان په زمانې شکرې نولې

هغه واف چې مستقر یې پېښور دی

د رحمان ویل ځان د لقب نشته

اې یې ما شعر قبول کړو معتبر دی

ارزاني دولت د خپل دور بلبل وو

نن يې وللې زمانې د شعر فرد دی

د واصل له حاله څه وايم و چاته

چې زما په مخ يې پورې د حال ور دی

نور قابل د يادو نه دی دا ذيل

نه يې شعر سنجيده نه د باور دی

ټول يې وسپاره په ما سره له نظمه

هغه غر چې نن د خاورو په بستر دی

له بلې خوا اشرف خان هجري هم بابا بې ځوابه نه پرېږدي او رحمان بابا ته داسې ځواب ورکوي اوس به دغه روحيه د ( مظلوم رحمان ) د کتابګوټي په (۵۷) مخ کې وګورئ:

د هجري ځواب بابا ته:

اشرف خان دا شعار د خپل شاعرانه زور ښودلو لپاره د رحمان بابا د هغه نظم په رديف او قافيه وويلی کوم چې رحمان بابا ويلی وو " رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی"

په دې اشعارو کې يې د رحمان بابا د هغه شعر ځواب هم ورکړی په کوم کې چې رحمان بابا ويلی وو:

خوشحالا او دولتامې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګير يم

**هجري ووېل:**

اولاً به د استاذ له حاله وايم

چې يې شعر جهانګير لکه قمر دی

د هجري استاد خپل پلار خوشحال خان دی، جهانګیر د عالمګیر نیکه وو، نو هجري داسې ځواب رحمان ته ورکه چې " لکه څنګه چې جهانګیر د عالمګیر د پلار، د پلار دی، نو خوشحال خان داسې په پښتو کې ستا د پلار، پلار دی. که تر عالمګیر یې نو دی جهانګیر دی او ستا شعر ستوری دی، د خوشحال خان نمر دی، مګر په شعر کې یې ورته د ګوتې اېښودو ځای نه لیده و لفظاً نه معنا لکه بابا چې په خپله ویلي دي:

چې منکر پرې د اعراض کولای نشي

دادې شعر دی رحمانه! که اعجاز

نو په ښه شاعرانو کې  یې اول د رحمان بابا نوم واخیسته او ویې ویل که څوک په دې دور کې ښه شاعران غواړي، نو که دوه درې کسان نور دي، یو په کې قلندر هم دی چې د شاعرۍ ژبه یې حوږه ده ته به وایي چې په خپله زمانه کې د شعر شکرې شیندي، دا د شعر بلبل چې ځای یې پېښور دی، نوم یې رحمان دی په ویلو او الفاظو کې یې د لقب او ګوتې اېښودو ځای نشته چې ما قبول که نو پوی شه چې  معبر دی.

یادونه: کله چې اشرف خان هجري، رحمان بابا ته د پېښور بلبل، خوږ زبان او له دې بالاتر او لوړ تخلصونه ورکړل او دغه راز میرزاخان انصاري دولت لواڼي، واصل ته یې په پوره ارزښت قایل شو، نو د خوشحال خان غوصه یې راوپاروله، هماغه و چې د اشرف خان هجري منفي رقابت دده د پلار د پور تنقید وړ وګرځېد، دده پلار خوشحال خان په ډاګه له خپل زوی اشرف خان هجري سره مخالفت اعلان کړ، مظلوم رحمان په (۵۸) مخ کې دې ټکي ته داسې پاملرنه کوي:

**۴ – ۲- تصوف:**

چې دا هسې معرفت یې پرې پیرزو کړ

په رحمان باندې منت د پاک مولا دی

پروفیسور محمد افضل رضا د عبدالرحمان بابا مکمل دیوان ۲۰۰۴ م کال پېښور: زیب آرت ، جنګي محله، نومي کتاب په ۴ مخ کې د رحمان بابا د شاعرۍ مختلف اړخونه تر سرلیک لاندې د ده په تصوف داسې تبصره کړې چې ځینې برخې به یې را واخلتم:

د رحمان بابا په نزد د تصوف لوی مقصد د خدا ج معرفت دی. هغه خپله د عرفان د مقام نه خبر دی، ځکه د معرفت رموز پېژني او وایي:

چې دا هسې معرفت يې پرې پيرزو کړو

په رحمان باندې منت د پاک مولا دی

چې د خدای له معرفته خبر نه وي

هغه واړه که بيدار دي هم اوده دي

معرفت د خدای څرګند دی په هر څه کې

سترګې وخوره چې څوک هومره نظر نه کا

په دويی کې به ور نشه شې تر توحيده

څو ضمير دې خالي نشي له اشراکه

تصوف کې د ظاهري پاکۍ پرځای باطني تزکيې ته زيات توجه کېږي،

تن و ځای و جامه هله پاک په کار دي

چې وړومبی شي د چا زړه له غيره پاک[1]

په فرهنګ اصطلاحات عرفاني  ابن عربي، دويم  چاپ ۱۳۸۴ هـ ايران: تهران، انقلاب خ ساختمان آرد بعثت په ۱٦۴ مخ کې راځي:

تصوف در لغت به معنای پشمينه پوشيدن و ماخود از صوف است که به معنای پشم و نوعی از پشمينه در اصطلاح از خواهش های نفسانی پاک شدن و اشياء عالم را مظهر حق دانستن\ و ګفته اند: تصفيه دل است از ناپاکي ها و مفارقت از اخلاق طبعي و دوری از دعاوی نفساني و نيز ګفته اند تکر اتيار است صفای معامله است با خدای تعالی وګفته اند شکيبايي است در اوامر و نواهي.))[2]

په دې ډول په تصوف کې خبرې ډېرې دي. په فرهنګ اصطلاحاً عرفاني ابن عربي دويم چاپ ۱۳۸۴ کال په ۱٦۵ مخ کې راځي:

((تصوف عبارت از چهار چيز، توبه از ناشايست و صدق در طلب و ورع در شبهات و فنا در توحيد و آن نهايت

[1]- رضا، پروفيسور محمد افضل رضا (۲۰۰۴م کال. د عبدالرحمان بابا مکمل ديوان، پېښور:  زيب آرت محله جنګي.

[2]- هوزان کريم، فتوحات مکيه، تهران: خيابان شهر چاپ مطبعه صفا ۱۳۸۹

کار بود که مرد در شهود جلال حق تعالی و جود و صفات خلق جمله فاني بیند پس در لفظ تصوف چهار حروف یافتند... تا توبه است، صاد صدق است واو ورع و فا فنا است ١٦٥ [1]

ابن عربي په خپل یو بل کتاب کې اتد بیرات الهیه ابن عربي ۱۳۹۰ کال ۴۱ مخ کې راځي:

((از نظر ابن عربي تصوف عبارت است از تخلق با خلاقي الهی که خود ثمر و تقوی است، به گونه ای که شخص آنگاه آن را درومي یا بد که به آیینه قبلش که از نگار بیگانگان ز دوده شده، تکیه کند و هر مانع و حجاب را در مقابل صور معقولات و مغیبات برادر)) [2]

موږ دلته د حضرت عبدالرحمان بابا په تصوفي افکارو رڼا واچوله، دا راته ښکاره شوه چې بابا د څه ډول تصوفي او عرفاني افکارو خاوند و.

تزه رحمان د یار په غم کې هسې ډوب یم

چې هېڅ نه وینم په سترګو مګر دی

*توبه

*صدق

*ورع

*فنا

هسې نه چې واحدي یې ده له عُجره

په واحد وجود بسیار دی رب زما

لکه مې چې په میناکې تجلی کا

نور د حسن په حجاب کې بې حجاب دی

او همدارنګه ډېر نور اشعار شته چې پرځای به معرفي شي.

امام محمد غزالي روح الله ویلي دي:

---

[1]- ابن عربي ۱۳۸۴، فرهنگ ابن عربي، دویم چاپ تهران: خ انقلاب، انتشار شفیعي

[2]- ابن عربي ۱۳۹۲. تدبیرات الهیه، دربیم چاپ، تهران چاپ کارخانه فهیم

د تصوف د عرفان عملي جنبه ده، صوفي کولای شي  د سير، سلوک د مقامونو ترلاسه کولو او حالاتو ته د ميلان درلودل کولای شي مشاهده شي او حق د زړه په سترګو وګوري، صوفيانو په دې لاره کې د اسلام سپېڅلی دين مشرانو له ووېناوو ګټه پورته کړې ده، د مثال په ډول له حضرت علي کرم الله وپوښتل شو. الله ج دی څنګه پېژانده؟ وويل: عرفت الله يا لم اعبد ابا لم آره[1]

امام غزالي د خلکو ښه طبقه ده، د هغوی ذوقي حال تر ټولو ښه احوال دي.

ابن سينا عرفان د جاهلانو لپاره د تمسخر وسيله او د صاحبانو په خاطر د پند او عبرت پانګه ده.))[2]

### ۴ – ۲ – ۱- تصوف او اسلام:

دغه کتاب په قاضی سيد فضل غنی کاموال چې په کال ۱۳۷۸ کې ليکلي دي، دتصوف اوله هغه څخه دمخه ددين مشهوروصوفيانو دتصوف مدرسی،طريقی، دعلم اومعرفت توپير لنډه داچې (۷۲) عنوانونولاندې په تصوف پورې اړوندموضوعات يې دکتاب په بيلابيلومخونوکې خوندې کړي دی.

دبحث موضوع داده چې محترم قاضي کاموال (۴۳) دعبادت مقامونه مونږته راپيژني.

دعبادت مقامونه په لاندې ډول رامعرفي کوي:

۱- دفضيلت مقام:

۲- دتفکرمقام:

۳- دبصيت مقام:

۴- دعزم مقام:

۵- دمحاسبی مقام:

٦- دتوبې مقام:

۷- دعنابت مقام:

---

[1]- اصول کافي. امام غزالي. ۱۳۲۴ هـ ق ۱۸۸مخ

[2]- ماخذ: شهبي محمود، ۱۳۷۹ منط نهم اشارات. تهران: ايران دولتي پوهنتون، ۲۸۲ مخ.

۸- دتذکر مقام:

۹- داعتصام مقام:

۱۰- دفرارمقام:

۱۱- دسماع مقام:

۱۲- دخوف مقام:

۱۳- دخشوع مقام:

۱۴- دزهد مقام:

۱۵- دتبسل مقام:

۱٦- درجاء مقام:

۱۷- درغبت مقام:

۱۸- دمراقبت مقام:

۱۹- داخلاص مقام:

۲۰- داستقامت مقام:

۲۱- دتوکل مقام:

۲۲- دصبرمقام:

۲۳- درضاءمقام:

۲۴- دشکرمقام:

۲۵- دصدق مقام:

۲٦- دایثارمقام:

۲۷- دخلق مقام:

۲۸- دتواضع مقام:

۲۹- دفتووات مقا:

۳۰- دارادې مقام:

۳۱- ديقين مقام:

۳۲- دذکرمقام:

۳۳- دفقيري مقام:

۳۴- داشتباه مقام:

۳۵- دعلم مقام:

۳۶- داطمينان مقام:

۳۷- دمحبت مقام:

۳۸- دبرق مقام:

۳۹- دمعرفت مقام:

۴۰- دحيات مقام:

۴۱- دفنامقام:

چې مونږبه ددغومقامونوله جملې څومقامونه په لنډ ډول معرفي کړو:

زمامطلب ددغومقامونوله يادونی څخه دادي چې دهرمقام لپاره يې دادبي غوتې بسترپيداکړي اوهغه يې دکلام الله مجيد دمبارکوآيتونواحاديثواودرحمان بابا داشعارو پّ الفاظو ، کلمو ښکلی کړي دي.

**يادونه:**

تردې دمخه دغه مقامونه اومنازل په بيلابيلو دوروکې دفارسی دری اردو نورو ژبواوپښتوژبې دمتصوفينولخوا په مختلفودوروکې بيان شوي دي، چې شميرېې يازيات ياکم ښودل شوي دي لکه: مولانادغه مقامونه (له تبتل نيولی ترفنا) پورې راوړی يعنی کيدای شي شمير يې سلوته ورسيږي مولاناصاحب وايې:

ازتبتل تامقاماتی فنا

پله پله تامقاماتی فنا...

خواجه عبدالله انصاري په خپلواثارو (صدميدان اومنازاللسائيرين) کې دغه مقامونه دسلوپه شاوخواکې ښيې.

په پښتو ادب کې پير روښان دغه مقامونه اومنازل اته شميری لکه: (شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت، سکونت) اودغه راز داکترقاسم انصاري په خپل کتاب مباني عرفان تصوف کې مقامونه په لاندې ډول راښيې (توبه، ورع، زهد، فقر، صبر، توکل، رضاء، تسليم) ښيې.

زه به دقاضي سيدفضل غني له تصوف اواسلام کتاب نه دوه دری مقامونه درته تشريح کړم.

**۱- دتوبی مقام:**

توبه لغتا دبیرته گرزیدلوپه معناده په خپلوتیرواعمالو پښیمانی اوښښنه غوښتل دي اصطلاحا توبه الله ته دبنده رجوع ده په قرآنکيم کې راځی: ترجمه: ای مومنانوتاسی ټول په گډه سره الله ته توبه وباسي هيله ده چې بری درپه برخه شي. سورة نور.

دتوبی حقيقت دادي چې بنده دمکروه نه محبوب ته رجوع وکړی توبه اواستغفار دواړه يوشی دی داستغفارپه وسيله توبی ته رسيدي شو.ترجمه: تاسی له پروردگارنه ښښنه وغواړي اودهغه لورته وگرځي. استغفار اوتوبه زمونږدگوناهونوټولی غوټی خلاصوي دتوبی په واسطه کفر، شرک، نفاق، فسق، عسيان، فحشا، منکرله منځه وړي. صوفی عبدالرحمن بابا داسې وايې:

شيخه له لويې له سرکشيی زماتوبه ده

خدايه څوگ مکړه داسمان په څيرنسکور

تيغ داوسپنومحتاج دنرم آب دي

قرب اوحلم يوپه سل دی زيات له زور

خدازده څه سودابه پيښه په بازارشي

دبازارخبری نشي په خپل کور

راحت بی زحمته نه دی چا موندلي

غم ښادي دي په دهرخور او ورور

درست صورت ديوه نوک په درد درمن شي

وران شي ښارديوه سړي په تور

هرڅوګ خپله خوشنودي له خدايه غواړي

باريې نشي دغه کارپه زر اوزور

دچاتاج زرين په سرترملاخنجروي

دچاپنډپه سرپه ملاټومبلي لور

خداى په خپل قدرت څوک لوى اوڅوک هلک کړه

نه چې هريو ښارډيلى وي يالاهور

چې جامه دچاکوتاه شي يااوږده شي

ورکاوه شي هنرمندلره پيغور

اې رحمانه دخداى نوم به چاوانه خيست

که دخداى چارى په پلارکيدى يامور

**۲- دصبرمقام:**

لغتا د زغم په معنى اصطلاحا هغه دي چې دکمالى مطلوب لپاره صبروکړي.

ترجمه: که دزغم نه کارواخلي په يقينى توګه الله دصابرانوملګري دي.

دعارفانوپه نظر صبر، دنفس بندول دي له فريادڅخه، دژبې بندول دي له شکايت نه اودځان ساتل دي له تشويشه.

صبرپه درى ډوله دي: صبرداالله په طاعت اوعبادت، صبردالله دمعسيت نه په خلاصون، صبردالله په امتحان اوآزمايښت.

دصبرمرتبې هم درې دي: صبربالله ، صبرالله ، صبرمع الله. يعنې صبريوډول الله ته امتحان ورکول دي ژوندکه څومره سخت وي چې صبروشي فکراوفکراواستعانت له خدای څخه وغوښتل شي نوهتما نتيجه ورکوي. عبدالرحمن بابا دصبرپه برخه کې داسې وايې:

که دغم ددرست جهان ترزړه چاپېرشي

دلګيرمشه هسې وايه چې به تيرشي

غم هغه دي هرچې څيرمه وی ووچاته

وړومبي وارترورروستيه پوري هيرشي

بې له خدايه چې مدام په يوه حال وي

بنده کله شيرشاهي اوکله سيرشي

يوآدم دي چې په څورنګه جلوه کا

يورقم دي کله زور اوکله زيرشي

ددنياچارې مدام په قرارنه وي

دبڼوپه زمبيل په بيل بيل پيرشي

په لږعمرکې ډيرغم له کومه راغي

چې له خپلې بې صبري په سرې ډيرشي

خريداراوفروشنده چې سره خوښ شي

په سوداکې سختې نه کا تيروبيرشي

ښايسته په جهان ډيردي بې حسابه

باری څوګ به درحمان ديارپه څيرشي

**درضاء مقام:**

رضاء دخوښي په معنی اصطلاحا دخدای له خوا په مقررشوي ژوند رضاء ښودل دي .

ترجمه: ای ډاډه نفسه زه دخپل رب لوری ته په داسې حال کې چې ته خوشحاله اوغوره یې.

عارفان وایې په خوښی سره داحکاموهرکلی کولوته وایې عارفان رضاء په څلورډوله ویشی: ۱- دخدای په وحدانیت رضاء ۲- په الله باندې په توکل رضاء ۳- دالله په رسول رضاء ۴- دالله په دین رضاء.

ترجمه: چاته چې دالله رضاء ورپه برخه شي همداستربري دي. رضاء ټول تکلیفونه لري کوي رحمان بابا رضاء داسې معرفي کوي:

هرچې ستاکوڅه ماواکا

ځای برشي ترافلاکا

رضاء ستاپه رضاء کیږی

ترکه خپله مدعاکا

ددنیاکوراووګړي

ستاپه مینه کې تالاکا

ستاپه مینه محبت کې

ځان جهان واړه فنا کا

ځان هله ورته پادشاه شي

چې یې ستاد درګداکا

چې دستاد درګداشي

پادشاهي ورته نورشاکا

مینه بی دستا له مخه

نه په دین نه په دنیاکا

نظربی دستا له ویه

چې رحمان وایې همداکا

### ۴ – ۳ د رحمن بابا دېوان کې عرفاني اصطلاحات

**۱- عرفان یا معرفت:** د پېژندلو په مانا دی او په اصطلاح کې قلبي پېژندنه (معرفت) دی، چې د کشف او شهود له لارې لاسته راځي. هغه څوک چې د عرفان د مقام موندونکي دي، عارف بلل کېږي او په عرفان پورې اړوند پوهه معرفت نومول کېږي. (معرفت) د ځان، کایناتو او الهي ذات پېژندنه ده.

من عرفه نفسه فقد عرفه ربه (چا چې ځان وپېژاند، خپل خدای یې وپېژاند) یا دا چې؛:

معرفت به دې حاصل شي

که دې ځان ته شول ځېر

یا دا چې:

معرفت د خدای ځرګند دی په هر څه کې

سترګې وخوره، چې دا هومره نظر نه کا

په کلام الله مجید کې راځي: د معرفت له رامنځته کېدو موخه د حق پېژندل دي. لکه چې وايي: و ما خلقت الجن و النس الا لیعبدون پېری او انسان مې د عبادت لپاره پیدا کړي. (سوره ذاریات، ٥٦ آیت).

د (لیعرفونه) یا (ما وپېژنئ) څخه موخه امام جعفر صادق وايي: خدای پاک وپېژنئ او عبادت یې وکړئ!

میرزا خان انصاري څه ښه ویلي:

که مقصود یې د خپل مخ ننداره نه وای

د انسان چامه یې څه لره کړه سازه

په (فرهنګ اصطلاحات ابن عربي) چې لیکوال یې ګل بابا سعیدي دی او په ۱۳۸۳ کال چاپ شوی، په ۵۲۸ مخ کې راځي: عرفان پېژندل، د حق تعالی پېژندل، خدای پېژندنه او په اصطلاح کې ترې مراد د حق پېژندل دي او د الهي علومو یو علم دی.

ابن عربي وايي: عرفان د خدای پېژندل دي او دا پېژندل له دوه لارو څخه امکان لري: ۱- د استدلال ۲- د خدای له ذاتي صفتونو او عقلي صفتونو څخه.

فريدالدين عطار وايي:

مرد را دریده اینجا غیر نیست

زانکه اینجا کعبه نیر و دیر نیست

در مذهب اهل کشق ارباب شهود

عالم همه نیست جز تفاصیل وجود

**۲- تصوف:** د وړینو جامو اغوستل، متصوف هغه چا ته ویل کېږي، چې وړينې جامې اغوندي او د صوفيانو د لارې پيرو وي. د صوفي د کلمې د لا پر ځای ښودلو لپاره لاندې خبرو ته توجه کوو:

ځينې پدې باور دي، چې صوف عربي کلمه ده، چې د وړی په مانا ده. صوفي هغه څوک دی، چې د زړه صفا ولري. دغه ډله تصوف له (صفا) څخه مخوذه ګڼي.

يوه ډله نور دغه کلمه له (صفه) څځه مستقه ګڼي او صوفيان د اعمالو له پلوه (له اصاب صفه) سره اړوند ګڼي. (اصحاب صفه) د فقيرو مسلمانانو هغه ډله وه، چې د محمد (ص) په امر د نبوي جومات په صوفه اوسېدل؛ خو بېوزله وو او همغلته به يې له پيغمبر (ص) سره مونځونه کول.

يوه بله ډله په دې باور ده، چې صوفي کلمه له (صف) څخه اخيستل شوې او صوفيان هغه څوک دي، چې د خدای په وړاندې په اول صف کې دي.

يو ډله پدې فکر دي، چې د صوفي نوم (صوفانه) اړه لري او دا يوه نازکه او لنډه ګياه ده، چې فقير خلک يې د سبو په ډول خوري.

يو شمېر وايي، چې: صوفي يوناني معربه کلمه ده، چې د يوناني ژبې له (تيو صوفيا) څخه چې خدای دوستي ترې مرادېږي، اخيستل شوې.

لوی استاد علامه حبيبي هم داسې وايي، چې: د يوناني ژبې له (تيو صوفي) څخه اخيستل شوې.

خدای بخښلی حقدار استاد پوهاند صدیق الله ریښتین پدې نظر دی، چې (صوف) کلمه اصلاُ (سوپ) ده، چې د سمڅې په مانا یادېږي، عربي کلمه نده، آریایي کلمه ده. دغه ډله خلک به په سوپونو (غارونو) کې اوسېدل. تر ټولو عمده خبره د عربي علماوو ده.

جنید بغدادي، چې د صوفیه وو سید (مشر) گڼل شوی وایي: صوفي د (صوف) څخه مشتق شوی، چې (ص) د صبر او صدق او صفا (و) د ویرد، وفا (ف) د فرد، فقر، فنا په مانا ده.

تصوف له اتو خصلتونو استوار دی: سخا، رضا، صبر، اشاره، غربت، پشیمینه پوشي، سیاحت او فقر.

سخا د ابراهیم ادهم، رضا د اسحق (ع)، صبر د ایوب (ع)، اشاره د ذکریا (ع)، غربت د یحی (ع)، وړۍ اغوستل د موسی (ع)، سیاحت د عیسی (ع) او فقر د حضرت محمد (ص) خصلتونه وو.

د صوفي کلمه د (صفوه) غوره شوي په مانا ده او ډېرو غوث بن مر صوفي بللی، چې اولادونه یې د جاهلیت په دوره کې د کعبې خدمتگاران وو.

اخوان صفا او ځینې نورو ته هم منسوب شوی، چا حضرت علي کرم الله وجهه صوفي بللی، لنډه دا چې په تاریخ تصوف اسلامي لسم مخ کې عبدالرحمن بدوید راوړي، چې: وړینې جامې واغوندې، دا ستاسو د روغتیا لپاره ښه ده.

وایي، چې لومړنی صوفي له تاریخي پلوه هاشم صوفي وو.

عین القضات وایي، چې: دغه کلمه په درېیمه هجري پېړۍ کې مشهوره شوه، عبده کې صوفي ده.

وایي، چې عرفان په دوه ډوله ده: عملي عرفان او نظري عرفان.

۱: عملي عرفان: انسان + ټولنه= عملي عرفان (عملي عرفان په دیني ژوند کې هغه لوړ با کماله او با ارزښته غوښتنه ده، چې انسان یې له خدای سره پیدا کوي.

عملي عرفان د انسان رابطه له خدای او ټولنې سره بیانوي او دې ته د اخلاقو علم هم وایي.

۲: نظري عرفان: په خدای او د هستۍ له جهان سره مینه درلودل دي. په نظري عرفان خلک په دې باور دي، چې الهي فلسفه د هستۍ تفسیر ته متوجه ده.

فلسفه د استدلال او عقل له مخې او عرفان د قلبي کشفیاتو په وسیله حقیقت ته ځان رسول دي.

عارفان حق او عالم ته د رسېدو لپاره د شريعت، طريقت او حقيقت له لارې ممکن ګڼي؛ خو نظري عرفان د انسانيت د کمال له لارې يعنې وايي، چې: نړۍ بايد عقلي شي؛ ځان رسوي.

شريعت د ظاهر د اصلاح لپاره، ظريقت د ضمير او حقيقت د اسرارو لپاره دی. شريعت علم دی، طريقت عمل دی، حقيقت اصول الله دي.

مولانا جلال الدين ٦٧٢ ه وايي: شريعت لکه شمع غونډې ده، چې شمعه لاسته راوړې؛ نو بيا لار موندلی شې. شريعت د کيميا د علم په څېر دی، چې بايد له استاده يې زده کړې، طريقت د دارو استعمال دی او حقيقت د مسو زر کېدل دي.

يوه ډله وايي، چې: شريعت لکه د طب علم زده کول دي، طريقت د دارو خوړلو يو پرهېز دی او حقيقت روغتيا لاسته راوړل دي.

ډاکټر ګل بابا سعيدي د ابن عربي د فرهنګ له مخې د شريعت په برخه کې ځينې مطالب راوړي دي: شريعت د اوبو څښلو ځای، له رود څخه د اوبو اخيستلو ځای او طريقې ته هم وايي. د پيغمبرانو روش، دين هم دی، جمع يې شرايع ده. په اصطلاح کې د هغو ادابو ، عقايدو او اعمالو مجموعه ده، چې د هر دين پلويان يې ترې اخلي.

نصفي وايي: شريعت د انبياوو ګفتار ده، طريقت د انبياوو عمل دی او حقيقت د انبياوو ديد دی.

**۴ – ۴ په عرفان او تصوف پورې تړلي اصطلاحات:**

عرفان او تصوف هغه فکري هوساينه ده، چې مسلمان يې د نفس د تزکيې او تصفيې لپاره تمرين ته اړتيا لري.

په عرفان او تصوف پورې تړلې ګړنې په حقيقت کې د رحمن بابا د ديوان او کلياتو هغه قوي او پياوړی اړخ جوړوي، چې د ده شعر او ادب ترې (تومنه) قوت اخيستی دی. عرفان د معرفت او پېژندنې په مانا ده او تصوف له صوف څخه ماخذ شوی، چې په پښتو کې ورته وړی وايي.

د عرفان او تصوف دواړو غايه د ا ده، چې د کشف او شهود په سلسله کې حقيقت تر لاسه کېږي. دغه اصطلاحات مسلکي اصطلاحات دي، چې مونږ مخکې بحث کې ورباندې پوره غږېدلي يوو.

اسد ګيلاني په خپل اثر (رحمن بابا ريويو) کې وايي:

هر فن د جلا جلا اصطلاحاتو اړ دی، مانا دا چې هر کسب او کمال په خپل دات کې د خپلو اصطلاحاتو لرونکي وي. الله تعالی په خپل کتاب قرانکریم کې هم بېلابېل اصطلاحات لکه: ساق، ید، قدم، استوا، ضحک، وجه، حیا، غضب، لطف او داسې نور اصطلاحات شامل دي.

دا ټول هغه اصطلاحات دي، چې په شریعت کې ورته مشابهات ویل کېږي. که لږ ژور ځیر شو؛ نو ځمکه، اسمانونه، عرش و کرسي، لمر او سپوږمی، ځنګلونه او غرونه دا ټول د الله تعالی اصطلاحات دي. د دې هر یو اصطلاح حقایق او معارف لکه بې پایه سمندر څپې وهي او د الله تعالی د قدرت او کمالاتو په احاطه کې نه راتلونکی تفسیر او تشریح کوي.

په تصوف کې د اصطلاحاتو لویه وجه دا ده، چې بعضې مضامین په رموزو او کنایو کې بیانېږي، تر څو له اغیارو پټ پاتې شي. د معاني چې کوم تصویرونه په زړه کې پټ وي، د هغې په خوا په کنایه کې اشاره کېږي او که له اشارو او کنایو کار وانخیستل شي؛ نو عوام چې دې حقیقت ته د رسېدو اهلیت نه لري، ګمراه به شي او داسې به دا خبره آن تر کفره ورسېږي.

د صوفیانو په نظر اصطلاحات په دوه ډوله دي: ۱- علمي اصطلاحات ۲- شاعرانه اصطلاحات

عملي اصطلاحات لکه: احدیت، وحدت، وحدانیت برزخ، عروج، نزول، وجود، شهود، سکر، قبض و بست او داسې نور. شاعرانه اصطلاحات لکه: قد، قامت، زلف، خط، خال، چشم، ابرو، رخسار، لب بوسه او داسې نور.

ځینې نور اصطلاحات هم دلته راوړو:

غمزه: په تصوف کې د خوف او امېد په شکل کې ښکاره کېږي. په غمزه کې پټ او ظاهر دواړه کنایې دي:

چې مشغول نه وي د ترکو په جمال

نور به څه کا په دنیا کې اشتغال

رحمن حسن د یارویني په پرده کې

نه پټېږي نور د شعمې په فانوس

حسن: د کمال د خوبیو مجموعې ته حسن ویل کېږي، ښایسته ښکارېدل، دلکشي، هغه خوبي چې زړونه ځانته راکاږي، دا حسن دی. هغه کشش چې کوم زړونه ځانته کش کاږي اړ جذبوي یې، دا حسن دی. الله

تعالی په خپله حسین او جمیل دی او جمال خوښوي، د هغه په هره ادا کې حسن دی، هره ادا یې زړه راښکوونکې او زړه ته پرېوتونکې ده. حدیث دی، چې: الله تعالی ښکلی دی، ښکلا یې خوښېږي.

صورت: د موجوداتو په صورتونو هر یو صورت د هغه د حسن او د ده د کتلو آیینه ده، ټول څېزونه د هغه د حسن او جمال انعکسات دي. وجود په خپله د خپل کمال په وجه یو ښایسته صورت دی او دا حسن په نړۍ کې په څلور ډوله دی:

د صورت حسن، د صوت حسن، د کلام حسن، د حرکاتو حسن. د تصوف په اصطلاح کې شمعې الهي نور ته وايي.

هسې زیب کا په بیاض د رحمن شعر

لکه زلفې د خوبوانو په رخسار

که په گنج د شاهۍ فخر شهربار کا

عاشقان یې د دلبرو په رخسار کا

رخسار: د تصوف په اصطلاح کې له رخسار مراد کله وحدانیت خوا اشاره هم کېږي. رخسار د انساني صورت خلاصه ده. د رحسار د بدن سره هغه نسبت دی، کوم چې د صورت فاتحې له قران سره دی. سورت فاتحه د قران خلاصه ده. د سورت فاتحې دویم نوم سبع مثاني هم دی، ځکه اوه ایتونه دي.

هسې مست یم ستا د شونډو په شرابو

چې به نه وي بل دا هسې مست خراب

تا چې رنگ د میو ورکړ و لبانو

اور دې پورې کړ په کور د میخوارانو

چې عاشق د معشوقې په عشق کې نستغلق او محوه شي، دې ته هم شراب وايي او یا هغه اثرات د مستۍ چې زړه پرې روښانه شي، لکه رحمن بابا وايي:

هغه زړه چې خدای روښان کا جام یې جم شي

په دا جام کې ورښکاره تمام عالم شي

که مې ولمانځي ساقي په یو جام

تر دا هورته به نور څه وي احترام

لب: د تصوف په اصطلاح کې، رحماني فیض، د معشوق کلام، د رب الودود لطف او مینه او د له نسیتې نه هستې ته راتګ لب دی. د معشوقې نوازشونو ته لبان وایي، ځکه چې ژوند بخښونکي دي.

شراب: په تصوفي اصطلاح کې هغه عشق، محبت، ذوق، سکر، وجدان، معرفت او د محبوب د جنونه چې کومه مستي د سالک په زړه کې پیدا کېږي، دې ته شراب وایي.

په محمدي مشرب کې د بې خودۍ شراب هغه نور دی، چې کومې مشاهدې د معراج په شپه شوي دي.

جام: د عارف باطن ته په تصوفي اصطلاح کې جام وایي، یا د هرې مستۍ پیدا کولو والا حال ته جام ویل کېږي.

د الهي محبت شراب ښښونکي ته ساقي ویل کېږي. د الله تعالی د اسرارو کټورې زړونو کې مینه پیدا کوي، کشفي حقایق، زړونو توحید په نغمو مستولو ولا، پیر کامل او مرشد مکمل ته ساقي وایي. ځکه مطرب د مینې تراخه او د توحید نغمه اورولو سره مستي پیدا کوي،. ساقي د مطرب کار کوي.

په ګلونو د ګلزار به میل نه کاندي

چې خوبونه کا د یار په خاکستر ښوک

چې په زړه مې تور لحد شي د خپل خاک

بې مزه شي هم میل خوب هم خوراک

ګل: په شاعرانه تصوفي اصطلاح کې ګل د عمل نتیجې ته وایي، او د معرفت لذت ته هم ګل ویل کېږي، هغه مقام چې پکې اسرار منکشف کېږي.

چې په سترګو کې خار وي څه به خوب کا

چې په زړه یې غم د یار وي څه به خوب کا

خار: د سلوک په لار کې خودۍ ته ویل کېږي، هغه شیان چې خنډ پیدا کوي.

زه د یار مینې پعه یار باندې شیدا کړم

که څوک ما ګڼي زه نه یم واړه دی دی

یا دا بل بیت:

ته چې ماته وایې چې په چا باندې شیدا یې

زه په تا شیدا یم وایه ته چې یار د چا یې

شیدا: د تصوف په اصطلاح کې شیدا، اهل جزبه او شوق ته هم ویلی شي، چې مست وي او تارک الدنیا وي.

هیڅوک مه شه ګرفتار د تورو زلفو

مه اسیر شه په کفار د تورو زلفو

یادونه: وایي، چې په عرفان کې سالکان په څلور ډوله دي. ۱: مجذوب مجرد: ۲: مجزوب سالک ۳: سالک مجزوب و سالک مجرد ۴: هغه مجزوب شیخ چې تفکر کړي او جذباتي حالت لري.

حذبه په لغت کې یو کشش ته وایي، د شور په مانا ده، د عارفانو په اصطلاح کې غیبي هڅه ده، چې دا حالت سالک مجذوب ته پیدا کېږي.

فقیري: په اصطلاح کې د سالک ټول نزولي او عروجي منازل تر سره کول دي او یا له دواړو عالمونو بې نیازه کېدلو ته فقیري وایي، لکه:

یار که یار ته حال د زړه نه وایي، څه شو

و حکیم ته پټ څرګند وي له مزاجه

چې برهم کا عاشقي د چا مزاج

حکیمان یې درمانده شي په علاج

مزاج: د تصوف په اصطلاح کې هغو عناصرو ته وایي، کوم چې په کیفیت کې مخالف وي، یعنې د یو فعل له بل فعل سره ختم شي او ترې دریېم کیفیت پیدا شي، مزاج بلل کېږي:

چې په سپینو اننگو د زلفې زانگې

ښاماران دي د چندڼو په شاخونو

ابرو: له دې اصطلاح څخه مراد صفات دي او د چشمانو یو جز دی. کلام او غیبي الهام ته هم ابر وایي.

شیخ جمال رحمت الله علیه فرمایي: چې ابرو، قاب قوسین ته وایي.

ستا په عشق کې هسې خلاص شوم له شعوره

چې یوه خبره نه لرم منظوره

عشق او محبت: علمي او شاعرانه اصطلاح ده، عشق او محبت یو مقناطیسي کشش لري، چې سړی ځانته راکاږي. په یو چا کې د حسن او خوبۍ ننداره کول دي. د روح هستۍ ته محبت وایي. د مینې د انتها نوم عشق دی. محبت د معرفت محتاج دی او معرفت بیا محبت ته. محبت د معرفت نتیجه ده، یعنې بې له معرفته محبت نه پیدا کېږي او بې غیر له محبته معرفت کې ترقي نشته.

شعور: په تصوفي اصطلاح کې معرفت الهي ته وایي؛ خو دلته په شعر کې د عقل او خرد نه وتلو ته وایي.

لکه مۍ چې په مینا کې تجلا کا

نور د حسن په حجاب کې یو حجاب دی

تجلا: رڼا ته وایي، تجلا په لغت کې ظاهرېدلو او ظاهر کولو ته وایي، او د تصوف په علمي اصطلاح کې هغه حالت دی، چې د حق یا د هغه د صفت اظهار په یو فعل کې کېږي.

تجلا د نور رڼا ده، چې د سالک زړه ته غورځي.

در ازل حسن ات زتجلا دم زد

عشق پیدا شد اتش بر همه عالم زد

بل بیت کې راخي، چې:

ستا د حسن د ښکلا له برکته

د رحمن د شعر کوکې په عالم دي

حجاب: د تصوف په علمي اصطلاح کې هر هغه څيز ته وايي، چې د بنده او الله تعالی تر منځ دېوال جوړېږي. ماسوا الله او د هغه خيالاتو کې اوسېدل دا ټول حجابات دي.

معرفت د خدای ځرګند دی په هر څه کې

سترګې وخوره چې دا هومره نظر نه کا

بل بيت:

چې د خدای له معرفته خبر نه دي

هغه واړه که بيدار دي هم وېده دي

معرفت: د تصوف په علمي اصطلاح د الله تعالی پېژندلو ته وايي. معرفت په درې ډوله دی: ۱- عقلي معرفت ۲- علمي معرفت ۳- کشفي معرفت

لنډه دا چې د تصوف د ډېرو ګڼو اصطلاحاتو تر څنګ د رحمن بابا په شعر کې هم ډېر زيات تصوفي اصطلاحات شته، چې د ټولو لټول لا ډېر وخت ته اړتيا لري. دغه اصطلاحات د رحمن بابا په دېوان کې بيا بيا راغلي او د ده د کلام او شعر ښکلا يې لا رياته کړې.

د رحمن بابا په شاعرۍ کې د تصوفي اصطلاحاتو استعمال څه تصادفي خبره نه ده، ځکه هر کلمه او جمله د خاص شعري ذوق او الهي مينې سره د کلمو په ايجاز ښکلې کړې ده. تصوفي اصطلاحات يې هم ډېر خواره کړي، ځکه د هرې اصطلاح لپاره پرېمانه بيتونه راوړي دي.

**۴ – ۵- په تصوف کې د نفس د تزکيې لارې چارې:**

تصوف د نفس د تزکيې او تصفيې يوه اغېزمنه وظيفه ده؛ ذکر له لمانځه وروسته افضل د عباداتو دی. د ذکر په وسيله کولی شو، چې باطن تصفيه او هو تزکيه کړو، لکه الله تعالی چې فرمايي: (الله بالذکرالله تطمن القلوب) ژباړه: زړه د ذکر په وسيله ډاډمن کېږي.

بل ځای الله تعالی فرامايي: ( وما ابری نفس انه نفس لا امراه بسوء انی رب لغفور رحيم) ژباړه: د انسان نفس هغه وخت برات اخيستلی شي، چې خدای ياد کړي، بېشکه چې الله تعالی غفور او رحيم دی.

وايي، چې انساني نفس څلور عمده برخې لري: ۱- نفس اماره: په قران کې الله تعالی مونږ ته راښايي، چې اماره نفس په بدۍ حکم کوي، لکه: (نفس اماره بسوء) ژباړه: اماره د بدۍ په مانا اصطلاحاُ د نفس هغه برخه ده، چې په هغه کې د نفس حکم چلېږي.

۲- نفس لوامه: لوامه د نفس هغه برخه ده، چې د شيطان لښکرې پکې اوسي. د پښېمانۍ په مانا ده. اماره او لوامه نفسونه انسان د شيطان او د ده د لښکرو په واسطه له کاره وېستل کېږي او له اخلاقي پلوه انسان کمزوری کوي.

۳- ملحمه نفس: دا د نفس هغه برخه ده، چې له ښو او بدو الهام اخلي. که د ذکر پله او د مومن د عباداتو تمرکز په ښو کارونو وشو؛ نو ملحمه نفس د ښېګڼې الهام خپلوي. دا هغه الهام دی، چې د قران حکم (قد افلح من تزکی) ښايسته کېږي. يعنې په تحقيق فلاح او نيکي د هغه چا په برخه شوه، چې نفس يې تزکيه کړ.

۴- مطمنه نفس: دا نفس د ذکر په ږاسطه زړه ته د ښېګڼې قوت ورکوي او زړه له عبادت څخه روښانه کېږي، څکه نو قران کريم مخکې له مخکې خبر ورکړی، چې زړونه په ذکر ډاډ مومي. دا ډاډ دايمي دی او د مومن زړه صافي کوي او روښانتيا مومي.

رحمن بابا وايي:

هغه زړه چې خدای روښان کا جام يې جم شي

په دا جام کې ورښکاره تمام عالم شي

په ټوليزه توګه دوه ډوله قوتونه (ناري او نوري) د انسان په نفسونو کې ځای پيدا کوي، چې له يو قوت د انسان د ښېګڼې انسان د ښېګڼې په لور او بل يې د بديو په لور راکاږي.

په قران کې د رضيه او مرضيه په نومونو نفسونه هم شته، چې دا د هوساينې او ډاډ مرتبې دي، چې له څلورو مرحلو را وروسته خپل بری پيدا کوي.

**۴-٦ په تصوف کې د اخلاقي برترۍ تصور:**

تن و ځان و جامه هله پاک پکار دي

چې ړومبی شي د چا زړه له غيره پاک

عارفان او متصوفین له اخلاقي پلوه تصوف ته ډېر اهمیت ورکوي. حتی اخلاق د ټولنې او فرد د شخصیت ځلونه بولي. په تصوف کې اخلاقي برتري ځکه مهمه ده، چې اولیا الله، مومنان، عارفان، علما او متصوفین تر ټولو لومړی غواړي، چې خپل نفس مهذب کړي. د نفس د تهذیب په سلسله کې اخلاقي برتري متصوره ده.

په دغه اخفلاقي برخه کې فردي او ټولنیز اخلاق، ښېگڼې، فتواوت، صبر او نور ټولنیز برترۍ شاملېږي. لکه پورته مو چې د دغو خلکو یادونه وکوه، هغوی په دې باور دي، چې پیغمبر (ص) د اخلاقو یو نړیوال ښوونکی دی. دغه خبره له شک پرته غیرې مسلمانو ادیانو پلویانو هم منلې ده.. چې حضرت محمد ص د مسلمانانو پیبغمبر په یو اخلاقيٍ برترۍ کې ژوند تېر کړی، چې حلم، مساوات، زړه خوږی، غیرې مسلمان رحم کول، د غیرې مسلمانانو حقوق نه خوړل، په جنگ کې د نیول شویو درناوی، د هغوی د ښخمنو درناوی، د هغوی د مالونو نه مصادره کول دا او داسې نور په لس گونو او آن په سل گونو ښېگڼې او اخلاقي سجیاوې شته، چې د ده شخصیت یې لا ډېر ښکلی کړی دی.

رحمن بابا:

محمد د گمراهانو رهنما دی

محمد دی هر دردمند لره دوا

او لا رحمن بابا خو ورته په ډېر غټ شخصیت په دې هنري بیت کې قایل شوی:

خدای یې مه گڼه بېشکه چې بنده دی

نور یې کل واړه صفات دي په رېښتیا

له اخلاقي اړخه تصوف یوه ډېره لویه لاسته راوړنه ده.. چې د ریښتینو متصوفینو له ازاره خلک بې ازاره دي.

ښه خوی د اخلاقو او بیا تصوفي اخلاقو یوه عمده برخه ده، رحمن بابا وایي:

په ښه خوی له بد خواهانو بې پروا یم

په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا یم

قناعت مې تر حرقې لاندې اطلس دی

پټ د دست جهان پاچا ظاهر گدا یم

د غنچې په څېر په سل ژبو خاموش يم

لکه بوی هسې په يته خوله گويا يم

هم په دا سپينو جامو به معلومېږم

لکه ابر هم گوهر يم هم دريا يم

په ژړا مې د خپل يار ديدن حاصل کړ

د شبنم په څېر د گل سره يکتا يم

و هر چا ته په خپل شکل څرگندېږم

آيينې غوندې په بې رويه بې ريا يم

که چا لار د عاشقۍ وي ورکه کړي

زه رحمن د گمراهانو رهنما يم

## ۴ – ۷ - سماع، موسيقي او د مينې پړاوونه

د رحمان بابا د فکري اړخ په څېړلو کې د ده په تصوفي لاره او تصوفي منابعو ډېرې خبرې کېدای شي، خو دلته به د سماع او څه ناڅه تصوف خبرې وکړو.

### سماع او موسيقي

وايي چې د بابا رباب خوښېده او نوموړي مجذوب ساکل و، دا حالت د هر انسان په روحي حالت پورې تړاو لري. هر انسان د جلا رواني حالت درلودونکی دی چې د سيکالوژۍ د علم موضوع جوړوي.

د رحمان بابا له ارواپوهنې د مخه به په سماع وغږېږو؟

د فارسي – دري ژبې پياوړی شاعر حضرت حافظ وايي:

در گنج دماغم مطلب جای نصيحت است

کاين گوشه پر از مزمه چنگ و رباب است

د سماع کلمه په نظم و نثر کې ليدل کېږي، خو د صوفيانو او عارفانو له خولې ډېر اورېدل کېږي.

سماع د زور په پیل په لغت کې اورېدل او د آواز سرود په نامه راوړل شوي دي. د صوفیگرۍ په اصطلاح کې عبارت له وجد او سرو خوښي او لاس و پښې اچول دي، خو دغه کارونه ټول د یو ادب په چوکاټ کې دي!

فیثاغورث (۴۹۷ ق، م مړ چې د عالم نظام یې د خپلې عددي نظریې له پر بنسټ گڼل، هغه د موسیقي په برخه کې لوړې څېړنې کړي دي، هغه باور درلودل سره کولای شو نظم انسان به روانک ې رامنځته کړو.

د یونان قدیمي شاعر اور فئوس ویلي دي، د موسیقۍ په واسطه کولای شو جهاد هم راوبښ کړو.

افلاطون: هم موسیقي را کفیل تعلیم عدل و دا د می دانست و می گفت این برای آنست که اندک نفس را موافق نغمات، آراسته و مهذب می سازد.

ممکن نیست که دارنده مزاج سالم وجویای نظم، عادل و دا دجوی نباشد. پس موسیقي که مجمع هماهنگي است مایه تهذیب و آرایش خوی است و در سوق دادن انسان به زندگاني آرام و هم آهنگ در جامعه و بهبود حیات اجتماعي و سیاسي تاثیری بسزا دارد.[1]

افلاطون زیاتوي:

کله چې د موسیقي روشونه چلندونه د یو قوم په منځ کې وران شي، نو هغه قوم د قوانینو له پلوه گډوډ کېږي. دغه مثال کولای شو په پښو کې د محاسبې وړ وبولو. له پنځو سمو یا شپېتمو کلونو وړاندې که د پښتنو دودونه وگورو فولکوریکه موسیقي یې په خورا درز خرپ روان ول، اتڼ په پښتنو کې نه یوازې یو دود، بلکې عالي کلتور او ارزښت و. دغه خواږه موزیکال\ دودونه دومره غوړېدلي او غځېدلي ووو چې په ټولو پښتنو سیمو کې د ښځو او نارینه‌وو له لوري په خورا پراخه پیمانه ترسره کېده. په ودونو، مېلو له هېواد څخه د دفاع پر مهال او ډېرو وختونو کې ترسره کېده او د افلاطون د نظریې په دوام، د پښتون لوی قوم او آن قومونو ترمنځ د تړاو او انتظام او ورورۍ یو ښه سمبول و او اوس هم دی.

د اروابناد استاد صدیق ربښتین په وینا اتڼ نه یوازې\ یو فولکوریک\ او موزیکال دود، بلکې پیاوړی ورزش دی.

په پښتنو کې د نړۍ ستر لیکوال دانیل اکنل وایي:

که د هر قوم د ټنگ ټکور د موسیقۍ ځانگې یا رشتې غواړي، زما په لاس یې راکړئ چې زه یې قوانین تغییر کړم.

---

[1]- احمد امین وزکی نجیب ١٩٦٦ م. قصه الفلسفه الیونانه چاپ لندن

که له دې را تېر شو، فیثاغور او افلاطون باور درلو چې موزونې نغمې د آسمان د حرکتونو له انتظامي غږونو سره تړاو درلود، د پسرلي رعدو باران ځکه را ویښوي، یو نظا پنځوي. له همدې امله موسیقي د لومړي ځل لپاره یو ذهني انتظا دی.

که چېرې موږ د مولانا بلخ مثنوي معنوي مطالعه کوو، راته ښکاري چې نوموړی به د افلاطون او فیساغورس نظریات لوستي وو مولانا روح الله وایي:

ناله سر ناو آواز دهل

چیزکی ماند بدان ناقور

پس حکیمانه گفته اندابن لحن ها

از دوا گردش چرخ بگرفتیم ما

بانگ چرختهای چرخست اینکه خلق

می سرانیدش به طنبور و به حلق

مومنان گویند که آثار بهشت

نغر گرداندی هر آواز زشت

ما همه اجزای آدم بوده ایم

در بهشت آن لحن ها بشنوده ایم[1]

* ناقور. هغه غږ چې په نی کې پوه شي. د فرهنگ معین

*دوار = گردش حرکت

گرچه بر ما ریخت آب و گل شلی یاد مال اید از ابها اندی

د موسیقۍ په برخه کې خو نظریې ډېرې دي، خو موږ به دوه درې کره یې دلته راوړو:

اول ټنگ ټکور د موسیقۍ چې ممکن ټنگ ټکور یې اصله ترجمه نه وي، په هر ډول موسیقي غنا نه ده، د آواز

[1]- بلخي مولانا جلال الدین ۲۰۰۳ – مثنوي معنوي. چاپ دهم ترکیه: علاء الدوله

موسیقي تر ټولو لوړ ده. قران پاک ټولټال یا سراپا ښکلا او اعجاز دی، خو کله چې په تجوید سره ویل کېږي، موسیقیت یې یو پر لس، شل دیرش... پنځوس او د چا خبره یو پر سل کېږي، د ښو قاریانو لکه قاري برکت الله سلیم، قاري باسط، قاري سدیس او... نورو په لسګونو او سلګونو قاریانو له خوا د کلام الله مجید قرائت کول د قران ښایست او پر خلکو اغېز یو پر سله کوي.

د مرغانو ښه آوازونه، آبشارون، د ماشوم خندا او په لسګونو نور طبعي او غیر طبعي آوازونه او غږونه پر انسانانو مثبت اغېز پرېباسي، همدارنګه خراب او کره او مرار غږونه لکه د خره سپی او.. په انسانانو، بوټو ژوندیو شیانو ښه نه لګېږي.

موږ په ورځني ژوند کې ګورو چې خواږه غږونه، پسته او نرمه ژبه په جانب مقابل او انسانانو ښه اغېزلري، آن که موږ په یوه درسي ټولګي کې نرم او تشویقي کلمې محصلینو ته وکاروو، تاثیر یې ډېر ښه او زیږې او تندې کلمې استعمال کړو، نو د ټولو په طبعیت بد اغېز پرېباسي.

*تجوید

د خپل ماشوم ژړا ولې نارامه کوي، ځکه ژړا هېڅ ډول موسقیت نه لري. موسیقي او موسیقیت د غږونو او اهتزازي موزنیت دی چې په ستوني کې د ړپندونکو یا اهتزازي تارونو په سلسله کې تجسم پیدا کوي او د راوتلو پر مهال په غوږنو ښه لګېږي. دوکتور یوسف قرضاوي

که بېرته خپلو خبرو ته ور وګرځو، ګورو چې هغه مهال د یونانیانو او سکندریانو وخت ورو ورو په تېرېدو شو او له دې سره سره اسلامي امپراطوري په رامنځته کېدو شوه، نو مخ یا غنا موسیقي حرامه وګڼل شوه، په داسې حال کې چې قران پاک د مسلمانانو حیاتي کتاب او الهي کارنامه ده، هلته د موسیقي یا غنا ت هېڅ اشاره نه ده شوې، د خره اواز کره او بد ګنل شوی او تجربه یې بدي ثابتوي.

ځینې مفسران یوازې د زور کلمه په څو آیتونو او همدارنګه د لهو الحدیث اصطلاح د غنا په معنا راوړې ده او فقیانو هم دغه ټکي کلک نیولي دي او لاسوند دستاویز یې جوړ کړی دی او ساحه یې پر خلکو تنګه کړې ده او خلک یې د خپلو او نور له احساساتو محروم کړي دي، خو دوه شیان له شریعت منع سره سره چې د غنا موسیقي او شراب دي، بیا هم د ډېرو قومونو او خلکو له خوا کارول کېږي، او زور درواغ استعمالېږي.

اجتنبو قول الزور ۲۲ سوره ۱۳۵ آیه و من الناس من یشتری لهو الحدیث ۳۵ سوره ۱٦ ایت

د ژوند عیني حالت ته وګورو، ډېر خلک د دې لپاره چې د ژوند له سختیو یې تېښته ګریز کړی وي، نو ځینې

شیانو لکه موسیقي، شراب، چرس، هیروینو کوکاینو او نورو.. نشه آورو بوټو او مصنوعي نشه‌يي توکو ته پناه وړې چې هېڅ ګټه ورته نه کوي او تجربو ښوولې چې یاد شوي شیان د بشر د تباهۍ لامل کېږي، ځکه دوی د استفادې پر مهال ډېر افراط کوي.

هغه غږونه آوازونه چې ذهن و ضمیر له یاس ناهیلۍ د سکر، بد امنۍ، شقاوت او نورو بدیو او مزخر ژغوري، روحي تسکن انسان ته ورکوي، ښه او نور یې بد دي او بد شی ناروا دي، لکه زموږ په ښاري موټرو کې ناپوهه دریوارانو له خوا د موسیقۍ کارول.

دغه راز په ځینو تلویزونونو کې د هغې موسیقي خپرول چې یو ډول وحشت او بربریت تبلیغوي، نه یوازې بد، بلکې د خندا وړ دي.

نن سبا چې یوویشتمه پېړۍ ده په ټوله نیا آن غیر اسلامي ملکونو کې له ځینو باورونو د قصص ځایونه پ‌ءته غواړي، خپله اصیله موسیقي خلکو ته د معرفۍ لپاره وړاندې کړي او کېدای شي هدف یې د ښې او اصلي فولکوریکې او کلتوري موسیقي له وړاندې کولو دا وي چې خکل له سټریا او سختو جسمي شاقه کارونو وروسته ارامۍ او فکري انتقام ته اړ دي، نو ځکه ورته نرمه او په طبعیت برابره موسیقي خپروي. بل دا چې د نورو قومونو ته باید لوړې کلتوري پدیدې معرفي کړي، دا د مختلفو قومونو د لوړتیا نښه ده، په هر څه کې افراط، ابتذال رامنځته کوي، ابتذال د اصلي پدیدې (موسیقۍ او نورو شیانو مګ دی.

تفریط؛ هم روحي شکنجه ده، له سکونه وتل دي، د روحي او ناهیلو ملګرتیا ده =، خمود جمود دی، ذوق مړه کول دي، نه افراط، نه تفریط، د اعتدال حالت دی!!

د شرابو او نورو د خایناتو استعمال موږ ګورو چې نن سبا په ادویه جاتو او طبعي مواردو او طبابت او... کې ډېر مروج شوی دی، له همدې اله ده چې څېړونکي بشر له بابا آدمه تر دې دمه د بوټو او ګیاهونو پېژندنه وکړه او نن په نړۍ کې ډېر غټه سوداګري له همدې د بوټو لهراکړې ورکړې یا تجارته کېږي، چې زموږ د هېواد ځینې بوټي د نړیوالې سوداګرۍ قوي اقلا دي، لکه زغفران خوږه وله، زیږه، کوکنار، هیروین او په لسګونو نور...

زموږ مباکر ګدین او ښایسته شریعت چې اغناء او مسکرات او شراب منعکړي، د دې لپاره چې خلک یې په درست ملسکی او بالاخره په روا ډول په کارونه او استعمال نه پوهېږي. که شراب او د نورو بوټو شیره د طبیب او ډاکتر یا مور و پار یا با تجربه خلکو له اجازې پرته استعمال شي، د ګټې پرځای ضرور نه یې ډېر دی. د فکر ذایل کول د شرابو او نورو بوټو استعمال ښکاره خبره ده.

لنډه دا چې دا ټولې خبرې له پوښتنو سره ملې دي، چې حل کول یې د لوړ فهمه انسانانو، مسلمانانو، فقهیانو،

علمايي کرامو، پوهو عارفانو، طبيبانو او نوور مسلکي خلکو پورې اړه لري.

زما په آند په دې خبرو د خلکو پوهول يو پياوړي کلتوري او فرهنگي انقلاب ته اړتيا لءي.

قران پاک وايي، د نښې پر مهال لمونځ مه کوئ، اول غسل وکړه او بيا لمونځ، نشه کراهت دی.

*ذوق

په دغه برخه کې نظامي گنجوي ويلي دي:

آن مى که چو اشک من زلال است

در مذهب عاشقان حلال است

در مى باميد آزنم چنگ

تاباز گشايد اين دل تنگ

شيريست نشسته بر گذر گاه

خواهم که زشير گم کنم

د عرفان او تصوف په مسلک ډېر اصطلاحات لکه (مى، عشق، خرابات، مستي، سکر، ککصحو، آب، سستي، صافي دل، توبه، زهد ، فقر، رضا، اطمنان او په سلگونو) نور اصطلاحات شته چې عارفان يې کاروي.

د دې لپاره چې د عرفان او تصوف ژبه رمزي او سمبوليکه ده، نيغه او بربنډه نه ده، مطلب په رمز او اشاره کې بيانوي. د عرفان ژبه يو ډول فني ادب دی، چې پوهه يې دقت او ځانگړی فهم غواړي، لکه دغه ژبه مطلب په زربفتو کې رانغاړي او بيا يې په مهارت سره اشارو له لارې ټولنې ته وړاندې کوي.

ای رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه

پس له هغه په صفت د گل اندام شه

د بلبلو ژبه د رمز او ځانگړې دانايي ژبه ده

دوش سائه زنجير خوش تسلسل دارد

یا ترقي آهنگ است، یا تزل دارد..[1]

*نظامي گنجوي

د فارسي – دري ژبې اور ژبی او توانا شاعر اروابناد شیرازي* هم په دغه برخه کې نظر لري:

چون نقش غم ز دور نماید شراب خواه

تشخیص کرده ایم و مداوا مقرر است.. (۲۸)

یا:

زباده هیچت اگر نیست این نه پس که ترا

د می از وسوسه عقل بی خبر دارد؟

ز زهد خشک م لولم کجا است باده ناب

که بوی باده مدام دماغ تر دارد

د می با  غم بسر بردن جهان یک سر نمی ارزد

بمی بفروش دلق ما گزین بهتر نمی ارزد

خو حافظ بی بندو باري، بې ځایه مستي او سستي ښه نه ګڼي او له هغه تنبتي او ووای: ((که مستي کوې، در کور له چت لاندې یې کوه. د صوفي په برخه کې یې ویلي:

صوفي از باده به ا ندازه خورد، نوشتن باد

ور نه اندیشه این کار فراموششش بادا[2]

د ابن القفطي ۱۳۹۷ هـ ل کال، تاریخ الحکما، د لاینریک چاپ ۲۷۲ مخ کې راځي:

((ابن سینا به له بیخوبی، سترِیا او سستی څخه د فرار لپاره

[1]- گنجوي، نظامي ۱۳۷۴ لیلی و مجنون، ایران: تهران: چاپ وحید دستگر

*حافظ شیرازي

[2]- حافظ غزل، دیوان. ١٦٦ غزل او دیوان غزل ۱۵۱

شراب خوړلي دي، له نوموړي نقل شوی دی، چې

شراب راچه گنه گر که ابلهي نوشد؟

گهی به تیغ برد دست و گه بسونی بخق

چون بو علی می ناب ار خوری حکیمانه

بحق حق که وجودت به حق شو د مُلحق

حلال گشت به فتوای عقل بردانا

حرام گشت به فتوای شرع بر احمق (د زیاتو معلوماتو لپاره وگورئ

فردوسي و خیام و سعدي او نورو بزرگانو، افراطیان و ظاهر پرستان باندې سخت گیري کړې او په باده خوري به یې ملا متول، خیالم د ځان لپاره ویل

ای واعظ شهر، ار تو پر کار ترایم

با این همه مستي زتو هوشیار تر یم

تو خون کسان و ماخون رزان

انصاف بده کدام خونخوار تر یم\

بیا حافظ وايي:

چه شود گر من تو یک دو قدح باده خور یم

باده از خون رزان است، نه از خون شما است

د مکې او مدینې حرمین فقهاوو موسیقي مباح او شراب حرام گڼل او اهل عراق یعنې د ابوحنیفه پلویانو موسیقي حرامه او شراب حلال گڼل د غو نظریو خلک په ډلو ویشلي وو.

ابن راوندي ۲۴۵ کال مړ چې ډېر معروف و، (فقهاوو د موسیقی د روا او جایزوالي په برخه کې ورته نظر نه لري، مختلف دي، ما له دواړو سره مخالفت کړی دی، وایم چې اوربدل یې واجب دي. [۱]

---

[۱]- نابن الرواوندي

د اسلام معروف او مشهور موسيقي دان اسحق موصلي (۲۳۵) کې ويل: د دنيا لذت څلور شيان دړي:

خوړل، څښل، آواز اورېدل او ښځه غوښتل چې دا ټول په پای کې د سړي زړه وهي او زړه ترې توربږي خو يوازې له آواز اورېدلو او موسيقۍ زړه نه توربږي. [1]

آواز اورېدل د انساني ذوق د بدلون په صورت بدلون مومي، مګر انسان له ښه اوازونو تل خوند پورته کوي.

سهر وردي په (عوارف المعارف) غزالي په احياءالعلوم دين، کيميايي سعادت، مکاشفته القلوب او نور ګڼ شمېر علماوو، فقهاوو، عارفان او نور نور د موسيقي د نه راواتوب په برخه کې پاخه نظريات لري چې په عقل برابر او ګمراه کوونکې نه دي.

د رحمان بابا ديوان، پښتو ټولنه، ۱۳۵٦ کال، کتاب اتلسم مخ کې په مشخصه توګه د بابا (سماع، موسيقي او د ينې پړاوونه) تر سرليک لاندې تحقيق ته مراجعه کوو او خپله څېړنه لا ښکلې، مدلله او منعتمنه کوو، ليکوال ليکي:

د حرمان بابا د فکري اړخ په څېړلو کې د ده په تصوفي لاره او تصوفي منابعو ډېرې خبرې کېدای شي، خو دلته د ده د ژوند د يوه اړخ په توګه په سماع (موسيقي او مينه) لنډې خبرې کوو، نوموړی زياتوي:

د رحمان بابا د تصوف په باب ډېرې خبرې شوې دي، خو د ه د سماع چې ما مخکې خورا ډېر نظريات وربانديې را واخيستل، يو ځل بيا د دغه څېړونکي له آنده څه را اخلو:

لکيوال د رحمان بابا د سماع په برخعه کې نظر لري، چې ډېر څه نه دي ويل شوي، دی وايي، د ده تصوفي لار د ده له شعرونو راوځي او د ده ديوان به خورو نسخو کې داسې کوم شعرونه وو، چې د رحمان بابا د سماع په برخه کې لاسوند شوي وای، په دې برخه کې د ده يکې يوازې غزل متعصبينو ډېر پخوا د ده له ديوان څخه غورځولی وو، خو له نيکه مرغه د ده د ديوان په يوه زړه نسخه کې دا غزل ومونده شو، په صراحت رانښيي چې رحمان بابا سماع او صوفيانه رقص کاوه.

د غزلې څو بيتونه دا دي:

ساقي راکړه ته وما ته جام د رقص

زه آرزو په زړه لرم مدا د رقص

[1]- اصفهاني، راغب ۱۳۸۲. محاضرات الادبا او اختلافو فی جواز ازالنا هوواجب ، چاپ بيروت.

ده وې اوس به د خوښۍ ساعت په تا شي

مغني راکړ وماته پيغام د رقص

سترګې يې پاس تر نه فلکه څرګندېږي

چې په چا وشي ارشاد اعلام د رقص

لياقت يې هر وګړي څخه نشته

په لايقو باندې وي انعام د رقص

څو يې ساه په وجود شته عبدالرحمانه

حقيقت به هومرې نه کا تام د رقص[1]

د رحمان بابا له موسيقۍ ره د علاقې او خصوصاً د رباب د زده کړې په باب تر دې پخوا هم خبرې شوې دي.

خارجي پښتو ادب پوه ميجر راورټي او عبدالمجيد افغاني دواړه منيچې موسيقی د حمان په ژوند کې ژور اغېز درلود. رحمان بابا حاس او ژوندی زړه درلود، چې د رباب تار وترنګېد او د هغه نه به خوږه نغمه را ولړزېده، نو د رحمان رګ رګ به ورپېدی، دريايي ګوته به لکه د ده د زړه په تار لګېده، دی به ډېر ځله د استفراق په حالت کې و، عجب خان وايي چې د رحمان آشنا مجنون په هندوستان کې د بزرګانو د خدمت له کبله د برخې خاوند شو او چې څه وخت وطن ته رخصتېده، نو د پيرشاه شرف قلندر نه يې د رحمان لپاره هم څه تحفه وغوښته، شاه شرف قلندر په رباب کې د رحمان برخه مقرر کړه او راورټي استوله، خو شرط دې کې دا و چې مجنون به تر هغې رباب ته ګوتې نه ور وړي، تر څو چې يې رحمان نه وي ليدلی او رحمان ته دې هغه ګوته وهي کومه چې د شاه شرف له لوريه مقرر شوی وو، نو مجنون به مړ شي او رحمان به ژوننی شي، همدغه وشوه. مجنون چې ګوته ووهله نو دی خو په ځای پرېوت مړ شو، رحمان درې ورځې بې هوشه و چې په خود شوا نو حال يې بدل و.[2]

---

* استفراق

* آمد دوره په عرفان کې حالات ضروري دي،

*مينجر راورټي

*عبدالمجيد افغاني

[1]- ۸۸ رضا پروفيسور محمد افصل ۲۰۰۴ م ديوان عبدالرحمان بابا، پېښور، زيب آرټ محله جنګي.

[2]- سريزه، عبدالقادر، مولانا ۱۹۵۸ م رحمان بابا پېښور سرحد

همداراز ښاغلی جعفر اڅکزی په دې برخعه کې کاږي:

وايي چې په رحمان بابا به کله د آمد دوره راغله، نو هغوی به خپل رباب په غېږ کې ورته کېښودی او په تارو کې گوتې پورې کړې، د تارو څه به يو پرسوزه ساز پيدا شو او بيا به يې په خپله خپل اشعار ويل شروع کړه.

پرسوزه آواز او دلکش ساز به په يوه آن کې د عقيدتمند اجتماع جوړه کړه. [1]

څرنگه چې د دې خبرو لپاره کوم سند نه و، نو دا تر اوسه د هغو فولکلوري خبرو له ډلې څخه گڼلی کېدې، چې په رحمان بابا پسې کېدلې، خو اوس د همدې رقص په غزل کې يو داسې بيت مومو، چې د رحمان د موسيقۍ په زده‌کړه دلالت کوي، او ښيي چې ده موسيقي له استاد څخه زده‌کړې او په فني ډول يې په موسيقي کې لاس درلودلی دی، وايي:

موسيقي علم خپل استاد را تعليم کړ

را نما يې ک هر تار مقام د رقص

هر مطرب چې غوږی تاو کا درياب

په دانا و کې زما زړه کاندي کباب

چې سامع يې په نغمه، په ترانه شم

ديوانه شم گريوان څېرې مست خراب

هم يې ناز هم يې گفتار هسې اثر کا

چې هېڅوک يې نه طاقت لري، نه تاب

تر دې وروسته د رحمان بابا د مينې پړاوونو ته را سېږو، د عبدالرحمان بابا د مجازي مينې په پوړيو د حقيقي مينې د معراج لور ته ور ختلی، ځينې کسان د ده مينه يوازې حقيقي مينه بولي او له مجازي مينې نه منکر دی، خو د ده په ديوان کې داسې بيتونه شته چې هېڅ منکر دا نشي ويلای اچې رحمان دې مجازي مينه نه وي کړې، موږ د ده له پاړکو دا راويستلی شو، چې رحمان بابا په ښکلا او ښکلو مين و، د رحمان بابا د ژوند ډېره برخه يې د مينې په يادونو او د بېلتون په بادونو کې تېره کړې ده، کله هجران ځورولی، کله وصال، کله يوه پی مخې ښکار کړی او کله بل کله مينې ورته اور کړی اوک له يې په بيديا کې بې تا به کړی دی، د ده دا ژوند دا

[1]- ١٥٣ محمد جعفر اڅکزی. ١٩٥٩ وند کوټه

ټولې کلی پېښ د ده په شعرونو کې نغښتلی شوی او تر موږ پورې را رسېدلې دي.

د رحمان بابا د ژوند ډېره برخه په مجازي مینه کې تېره شوې او د عشق په مدرسه کې یې بې له زلفو، بې له خطه او بې له خیاله بل څه نه و، لوستي؟

په مینه کې یې له پېغوره عار نه درلود.

زه عار نه لرم په عشق کې له پېغوره

بې پروا یم دستي په څېر له اور

د ده شعرونه ښیي، چې ده زیاتې مینې په زړه کې پاللي دي او زیاتو ښکلو یې زړه وړی:

زه رحمان په زړه نری کړم هغو نجونو

چې یې ملاوې د ويښته په دود نرۍ

په رحمان د ښایسته و قدر ډېر دی

د طبیب له قدره چا زده بې رنځوره

که مې پېرې که مې پلورې چاره نشته

زه رحمان د ښایسته و خانه زاد یم

ګوښې ګوښې ښایسته مې زړه وکاږي

زه و کوم یوه ته وایم چې تا یووړ

داسې وختونه هم پرې راغلي چې:

زړه که یو وي ما خو تا لره درکړی

مګر نورو لره نور زړونه پیدا کړم

د عبدالرحمان بابا مینې داسې پوړۍ ته رسولی و چې خیل او زی له کوچني بند نه یې ایستلی و او ویل به یې:

زه عاشق یم سرو کار مې دی له عشقه

نه خلیل، نه داودزی یم، نه مومند

له نوختو سره مینه یې مغشولا ووه:

خط دې تور خرفونه مخ دې پاڼې د کتاب دي

شغل دې کتاب دی بل کتاب راڅخه یوړ

په رخسار چې دې د خط غبار څرګند شو

سربلنده شوه فرقه د خاکسارانو

سیاهي د نوي خط دې هسې زیب کا

لکه ښکلي واړه توري د قران

څه شو که زه یم انګشت نما په مینه ستا کې

زیات له ما نه خوښ ته دې قاضي هم د ملا یې

بابا ته عشق دومره ربښتینی و چې د سر قرباني یې په دې لاره کې هېڅ بلله،

و هغو ته معاشق نه ویلی بویه

چې یې فکر یادې سر یا د دستار وي

تپه هر حال د ده مینه د حسن او ښکلا مینه وه، له جنسي او نفسي غرضه پاکه وه، نو ځکه یې په جرات سره ویل:

پسران دې عار زما له عشقه نه کا

پاک عاشق، پیر و پدر درې واړه یو دي

پاک او منزه دی عشق د نفس له خاصیته

څېرته چا د ګېډې، څېرته چا د زنخدان

او همدا مینې ده ته داسې استغنا او غرور ور ببښلی و چې په لوړه غاړه به یې ویل:

دلرانو و ته خاک تر تلي لاندې

د دې نور جهان په سر لکه آسمان یم

نوکري د معشوقو کوم په عشق کې

ځینې نه د بهلول، نه د اورنګ خورم

د رحمان بابا په نظر کې د مینې معراج ته رسېدل هسې مرحله ده چې

که مین یې په خپل یار باندې رښتیا

آواره کړه اول دین پسې دنیا

د جنت له حورو تېر شه که یار غواړې

خدای دې نقد د چا نه کاندې نسیا

عاشقان د سپین رخسار د تورو زلفو

څه پروا لري د کفر و اسلام

د بابا د مینې مهم پړاو حقیقي او خدای مینه ده، دا پړاو د ده د مینې معراج دی، لکه لاندې تصوفي بیت:

رحمان حسن د یا وینم په پرده

نه پټېږي نور د شمعې په فانوس

دا حجاب چې نور عالم یې حجاب بولي

دا زما د یار تر میانه حجاب نه دی

که څوک وایي هنر کوم وایه دا دی

دا زما د یار تر میانه حجاب نه دی

که څوک وایي هنر وم وایه دا دی

چې بې خدایه نوره مینه په چا نه کا

## ۴ – ۸ رحمان بابا د روښان پیرو

(پیر روښان اوروښانی انقلاب) دهغه کتاب نوم دي چې څوکاله وړاندې دکوزې پښتونخواه پیښوری لیکوال سیف الرحمن مسودپه یونوي آند اوفکراوله نوو معلوماتوسره لیکلی دي دغه کتاب دپیرروښان له پیدایښت څخه رانیولی بیادپیر روښان ترکوچنی والی زده کړو کورنۍ مبارزو تصوف مخه کولو، پیاوپیش وا لقب حاصلولو، مهاجرتونو، تجارت، مغلوسره ددښمنۍ عوامل دپیر روښان عافات، عقیده، فلسفه، طریقه اودهغه مقامونوله شریعت څخه نیولي ترسکونت ، مقام ، دپیرروښان نظریه، دپیرروښان دحکومت قلمرو دده دمخالفینو، دوستانو، غزاوو، جگړو،مجاهدتونو، اجتماعي خدمتونو اونوروډیرومطالبو په برخه کې معلومات په ډیرښه نوی ترتیب رااخیستل شوي اوپه دې ترځ کې (درحمن بابا اوپیرروښان) ترسرلیک لاندې هم ددغه کتاب په ۲۳۳ مخ کې مطلب راوړل شوي، چې پیر روښان اورحمان بابا په برخه کې څه ناڅه معلومات راټول شوي.

درحمان بابا یوبیت یې رااخیستي:

یوکتاب په درست سرېندکې چاونه کړ

بې رحمانه چې یې جوړ کړ داکتاب

یا:

یوخوشحال یوکم سل خټکه نورپه طبیعت کې

ځارشه بې رحمان سرېنی له یوه فرده

حالنامه کې لیکی دسرېند ولایت ددلاطاکو وطن ووکله چې دسرېند اولاده (غوریاخیل) دکندهاردسیمی نه پیښور ته راغلل نودلازاکې یې له پیښور څخه وویستل اوپیښوردغوریاخیلو وطن شو.

غوریاخیل په درې قبیلو ویشل شوي دي خلیل، مومند، داوودزی داسې وایې چې درحمان بابا دنیکه نوم کلات بابا یا شیخ متی وو، وایې چې دغوریا په اولاد کې یو روحاني سړي چې رحمان نومیده یوصوفي سړی وو اوپدې نظر وو:

زه عاشق یم سروکارمې دی له عشقه

نه خلیل نه داوودزی یم نه مومند

سیف الرحمن مسعود لیکی دحمن بابا ددیوان دمطالعې نه ښکاې چې درحمان بابا اوپیر رزوښان ترمنځ دطریقت زبردست ورته والي اوشباهت موجود دي. دغه شباهت که یوې خوادتصوف دمختلفوطریقوترمنځ دبنیادې اوعمومي شباهت څرګندوی دی نوله بلې خوانه دپیرروښان سره درحمان بابادخصوصي روهاني تړاو غمازګرهم دیاوداسې ښکاری چې رحمان بابا دپیرروښان دطریقی پیرواومرید وو...

دپیرروښان دطریقی بنیادپه یوقدسی حدیث ایښودل شوی دي، چې دانسانانولپاره اوه خویونه پکې فرض شوي دی (له حرامو پرهیز، لږخوراک، لږه وینا، لږخوب، له غافلانوګوښه وسیدل، دایمې یاد، اوهمیشني طلب) ، رحمان بابا په خپل دیوان کې ځای پر ځای داسې اشعارلري چې ددغو اوه خویونوڅرګندوي دی دلته به دغه اوه خویونه درحمان بابا دکلام په رڼاکې وکتل شي.

یادونه:

دغه معلومات دتعمل وړ خو نوي دی ځکه یې په پوره ډول رااقتباسوم .

**اول خوي له جمله حراموڅخه پرهیز:**

رحمان بابا:

په مهنت په مشقت لاماته ښه ده

نه حرامه همیانۍ دچاترملا

ړوندبهتردي چې څه نه وینی په سترګو

نه چې سترګي په پردي حرام شی وا

× × ×

حرام خوردمخنصوپه حساب دي

که په توره یاپه تیغ وی میړنۍ

**دویم خوي: لږخوراک:**

رحمان بابا:

کم خوراک سړی نژدی شي فرشتوته

هرسړي چې بسيارخورشي بسيار خوارشي

× × ×

هم په دايې دنغـــمې اثرپيداشو

چې په تشه گيډه صبرد رباب وي

**دريم خوي: لږه وينا:**

رحمان بابا:

دسکوت په تيغ چې ژبه بوريده شي

لاقـــلم غوندې په قال کې دويده شي

× × ×

ستادحـــسن په صفت کې

رحمان گونگ شو له ادبه

**څلورم خوي: لږخوب:**

رحمان بابا:

چې په سترگوکې يې خاروي څه به خوب کا

چې په زړه يې غم دياروي څه به خوب کا

ديدارندی چاپه پټوسترگوکړي

چې مطلب دچاديداروي څه به خوب کا

زه رحمان ديار بنده اوخدمت گاريم

چې بنده وو خدمت گاروي څه به خوب کا

× × ×

ورځ دی تیره په شومۍ کړه شپه له خوابه

اوخدای به کله یادوي خانه خرابه

× × ×

لکه وتښتی وحشیان له مردمانو

هسی وتښتیدو خواب زمادسترګو

**پنځم خوي: له غافلانوګوښه اوسیدل:**

رحمان بابا:

دی ودت کاپه خوادرشي خوبهتردی

خدای دی بد سړي درنه ولی په خواب

دجاهل دهمدمۍ نه به بهتروي

که دچاسره همدم وي اژدها

**شپږم خوي: ذکر دایم:**

**رحمان بابا:**

زه یودم دستاله غمه بی غم نه یم

بی غم ستاله فکره ذکره یودم نه یم

× × ×

که غمخوار غواړي په غم اوپه اندوه کې

ښیښه ډکه دشرابواختیارکړه

**اووم خوي: دایم طلب:**

رحمان بابا:

هرزيارت لره چې زم مراد مې ته يې

زه ظاهر دبتخانی دحرم نه يم

ستاددر په تورو خاورو باندې خوښ يم

بې تا خوښ په تماشا دارم نه يم

چې داستاپه تماشايم خبرشوي

نورخبرپه تماشادعالم نه يم

× × ×

روښانيی مې په طلب کې شوه حاصله

شپه اوورځ لکه آفتاب په لاره روان يم

دمسعودپه نظرددغو اوو خويونو په اختيارولوسالک دالله تعالی معرفت حاصلوي، وحدانيت پيژني، اودروښانياپه ويناټول مقامونه مومي. دپيرروښان په طريقه کې ټول مقامونه ( شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وحدت، اوسکونت) يعنی اته دی.

رحمان بابا په خپل کلام کې دمقامونو ذکرکوي اووايې چې :

زه رحمان له هسی خلکو پناه غواړم

هرچې لافه کړي خلاف دمقامات

ښاغلي سيف الرحمن مسعوددپير روښان اوروښاني انقلاب اثر په ۲۳۷ مخ کې دروښانيانوټول طريقتونه دادبې تړاو له مخې دحضرت رحمان بابا دکلام په مثالونوښايسته کوي اوخپل طريقتونه په لاندې ډول بيانوي:

**۱- دروښانيه طريقی دشريعت مقام:**

پدغه مقام کې داسلام په پنځو بناووعمل کيږی چې عوامراونواهي هم لري يعني پيرروښان خپل مقامونه له شريعت سره په بشپړ موافقت کې پرمخ بيايې په دغه مقام کې امر دادي چې کلمه ووايې پنځه وخته لمونځ اداء کړي ، روژه ونيسي، زکات ورکړي اودتوان درلودلو په صورت کې حج اداء کړي اونهيه يې داسلام په پنځه بناوو عمل نه کول دي، رحمان بابا هم وايې چې :

دنیانه ده هغه دین دي

چې له نهیې وی سیوا

وطاعت وته ولاړ وي

همیشه تړلی ملا

له حراموېي پرهیز وي

هم مشغول په پنج بناء

کلمه یې وی په ژبه

هم په جهر هم په اخفا

ددنیادکارلپاره

فرض لمونځ نه کاندې قضا

هم سائم درمضان وي

هم زکات کاندې اداء

که یې توان دحج رسیږی

حج هم وکاپسی بیا

داپنځه بناء ددین دی

چې بیان یې وکړو ما

چې یون په داطریق وي

هغه کس دي اولیاء

په روښانیه طریقه کې دطریقی پیروانوته تاکید کیږی چې لمونځ باید دزړه په حظور سره اداء شي.

په خیرالبیان کې راځي چې:

(اوروا لمونځ شپه اوورځ کې پنځه وخته دي خودزړه په حظور رحمن بابا وايې چې:

چې دزړه حضور يې نه وي په لمانځه کې

په کارنه دي مقتدي وي که امام

اوروښانيان وايې چې دحج اداکولوضرورت سره سره داضرور ده چې زړه وساتي اوکعبه خليل اباده کړي اوزړه الله پاک نو دابايد وساتل.

رحمان بابا وايې چې:

دخليل ترکعبی داکعبه ده لويه

که آبادکاځوک ويران حرم دزړه

**۲- دروښانيه طريقي دطريقت مقام:**

په دغه مقام کې دپيغمبرانوپه کردار عمل کيږی دنفس اوشيطان له اشارو ځان ساتي، دزړه اودروح په احکاموچليگی، رحمان بابا وايې:

که معنت اومشقت دي خوددين دي

په کارنده بل معنت په دادنـــيا

× × ×

دابليس وو رياضت ته دې نظرکا

چې غرورکاپه طاعت په رياضت ځوگ

× × ×

که دنفس لپاره سل معنته وکړي

يومعنت به دې په کارنشي فردا

× × ×

نفس شيطان سرې وو کفرته وباسی

رحم فهم په ځآن وکړه کافرمشه

× × ×

په دغه مقام کې شيطان سره مبارزه کيږی اودپيرکامل دضرورت احساسيږی خيرالبيان دپيرکامل ضرورت باندې ټينګارکوي.

رحمان بابا هم وايې:

بې رهبره يون دعشق په لاره ګران دي

دلته بويه چې پيداکاندې رهبر څوګ

× × ×

چې سبا ارمانوي پند دپيرانو

ولی نن طلب دپير نه کړيبې پيره

× × ×

بی ريباره وو رسيدل يارته ګران دي

په کوځه دی مهر رويانورهبر بويه

صداقت، تسبيح، ذکر، له وسوسو ځان ساتل، نفسی روژه، لږ خوراک، خيرات، دخلکوسره مرسته، دزړونوزيارت، له نفس سره جنګ، دفرشتو په وينا عمل کول، خپل عمل وو نظر سمول مهم دي.

**۳- دروښانيه طريقی دحقيقت مقام:**

په روښانيه طريقه کې دحقيقت مقام دپيغمبرانو دحال مقام دي، خفی ذکر اودايمی فکر باندې به عمل کوي په خيرالبيان کې راخي چې ذکر دايم دزړه په ساه دي رحمان بابا هم وايې:

هسی ياد يې هميشه مدام زما

چې اوراد يې په هرصبح وشام زما

× × ×

دعاشق مذهب هم دادي

چې دم نه وی بې مطلبه

×　×　×

زړه مې ستاپه ذکر فکر گلستان دي

نن مې ستاله غمه پاڼه دی خزان دي

یونفس به دې له دره بیرته نشم

ځومی یونفس باقي په داجهان دي

×　×　×

که قاصد یې دمقصود اوراه کړه زیان وسود

هرچې درشی ستاوومخته واړه وګڼه بهبود

هرچې وی بغیر له خدایه

همه وشمیره نابود

**۴- دروښانیه طریقی دمعرفت مقام:**

دغه مقام دعلم وعمل دي خدای، په وحدانیت سره وپیژندل شي اودهرعمل دکولوپه وخت کې دې خدای ج حاظر وناظروګڼل شي.

ددغه مقام احکام دادي چې هیڅ شي دی له الله سره نه شریکوي اومخلوق ته دې ازار نه رسوي رحمان بابا وایې:

شریک نه لري په خپلی پادشاهي کې

بې شریکه شهریاردي رب زما

×　×　×

معرفت دخدای څرګند دي په هرڅه کې

سترگې وخوره چې داهومره نظیرنه کا

× × ×

څودی دوه سترگې غړیږی په جهان کې

ننداره په هرساعت دخپل نگارکړه

× × ×

زه رحمان دیارپه غم کې هسی ډوب یم

چې هیڅ نه وینم په سترگو مگردي

× × ×

سالکان چې دجهان تماشا کاندي

دجهان نه یې مطلب جهان ارادي

× × ×

رحمان حسن دیاروینی په پرده کې

نه پټیږی نوردشمعې په فانوس

× × ×

چې دخدای له معرفته خبرنه وي

همه واړه که بیدار وي هم اوده دي

**۵- دروښانیه طریقي دقربت مقام:**

په دغه مقام کې دآوازونومراقبت کیږی په تسنیح به ځان پوهوي اوپدې باور پیداکوي چې هرشي دخدای تسبیح وایې رحمان بابا وایې:

هراشیادحق سناکا

په نغمه لکه داوود

که بیدارېږي خود به واوری

په هرلوري داسرود

× × ×

حیوانات هم په تسبیح دخدای مشغول دي

ته انسان یې له حیوانه بدترمشه

× × ×

حیف چې اوریدلي شي لیدلي نشي

حسن لطافت دي پریوار ستا

**٦- دروښانیه طریقي دوصلت مقام:**

دروان له پلوه په دغه مقام کې سالک ته دوصلت اوپیوستون امردي.خبری، عمل، اوریدل له خدایه ګڼي خپل ځان له مرګ نه وړاندي په مرګ حسابوي خوداسې هم قوت ورسره وي چې هردم دمړه کیدو احساس نه کوي دخدای په رضاکې خپله رضاغواړي اوداقبال لاهوري په وینا:

نشان مرد مومن باتو گویم

که چون مرگش رسد خندان بمیرد

رحمان بابا وایې:

ځوترمنځه ورانه نه کړي دتن پوله

وبه نه رسی ترخدایه تر رسوله

پدغه مقام کې له ژونده ځان بی نیازه کوي اودوصال په هڅه کې وي رحمان بابا وایې:

ستادیدن هغه کاچې یې سرپه تنه پاس نه وي

ولی چې دسردڅښتن هورووته لارنشته

× × ×

په نیستۍ کې دهستۍ مرتبه ګوره

نندارچې په ویرانه کې دخپل بام شه

× × ×

**۷- دروښانیه طریقي دوحدت مقام:**

دوحت مقام دفنا فی الله اوبقا دالله مقام دي پدغه مقام کې امر دادي، چې موحدبه له احد سره وحایو کیږي اوله شرک ځخه به ځان ساتي رحمان بابا وایې:

همدمي دوو همدمو هسی بویه

چې ددواړو همدمي په یوه دم وي

× × ×

ښه چې تن مې نه وي تومنه شو په عشق کې

هله ځاڅکي دشبنم وم وس دریا شوم

× × ×

هم پداسپینو جاموبه معلومیږي

چې هم ابر هم ګوهراوهم دریاشوم

× × ×

څه حاجت دي چې وبل خواته یې غواړم

په خپل کورکې هم کناردي رب زما

× × ×

په دویې کې به ورنه شي ترتوحیده

څوضمیردی خالی نشی له اشراکه

× × ×

په دغه مقام کې شدت دعشق وعاشقي بيخی زياتيږی رحمان بابا وايې:

داجزبه دعاشقي نه ده نوځه ده
ګڼه کله څوک وتی شی له دستوره

× × ×

بې له عشقه کمی عيب کمی هنردي
نه خبرپه عبادت نه په ګلناريم

× × ×

هيڅ نومه پوښته له فرضو له واجبو
په هغوچې عاشقي کړه خدای واجبه

× × ×

ته وماته نصيحت مه کړه ناصحه
عشق بی نياز دي له سوب اوله اوباله

× × ×

چې مطلب دسړي خدای شي
ناست ولاړيې همه واړه عبادت وی

**۸- دروښانيه طريقی دسکونت مقام:**

دسکونت مقام دروښانيه طريقي يومخصوص مقام دي دوحدت بامب بلل کيږي پدغه مقام کې سالک له خپلو صفتونوآزاديږی، سالک ته مسکين ويل کيږي اوصاحب زمان وي رحمان بابا وايې:

ولايت دي خدای هغولره ورکړي
چې يې وکړوسکونت په دادنيا

رحمان بابا دسکونت مقام ته په يوبيت کې داسې اشاره کوي:

عاشقی به تیره توره درپه لاس کا

نورد صبردسکون په ملک به هوکړي

په خیرالبیان کې راځي  الله پاک وایې چې مادبندهګانو په وحدانیت وپیژني دادصبر مقام هم دي داسې مقام دي چې سړي له ډېرو خواهشاتو تیرشي

علامت داستغنابه یې څرګندوي

هغه څوک چې تیرترځان اوترجهان شو

## ۴ – ۸ – ۱ رحمان بابا او پیر روښان

د حضرت عبدالرحمان بابا د روښانیانو له دورې که را وروسته د ژوند موده وه، خو رحمان بابا د خپل فهم او درک له امله د هغوی روښانتیا نوم په برخه کې پوره پوره معلومات درلودل او د بابا د علمي درایت پراخه مطالعه او په تصوف سره د علاقې په درلودلو سره له روښانیانو زیات اغېز اخیستی دی او داسې ښکاري چې دغه اغېز اخیستی دی او داسې ښکاري چې دغه تر ډېره بریده له واصل روښاني او میرزاخان انصاري څخه وي، په هر ډول:

یو کتاب په درست کړښن کې چا ونه کړ

بې رحمانه جې یې جوړ کړ دا کتاب

یوخوشحال یو کم سل ختېکه نور به طبعیت کې

ځار شه د رحمان سړبني له یوه فرده

حالنامه وایي چې رحمان بابا د سړبن ولایت و، حالنامه زیاتوي سړبن د د لازکو وطن و، خو غوریاخیل د کندهار د سیمې راغلل او د حالې چې دا غورخیل نه دی، بلکې خیل دی د لازاک بیا د ابراهیم خیلو وطن شوو د پیر روښان انقلاب لیکوال سیف الرحمن مسعود د خپل کتاب په ۲۴۳ مخ کې لیکي چې غوریاخیل په دې قبیلو ویشل شوی دی، چې خلیلو، مومندو او داودزیو د قبیلو څخه عبارت دی، رحمان بابا هم په همدغه غوریاخیلو کې پیدا شوی ی، وایي چې:

هیڅ حاجت د هنر نشته و نصیب ته

غزا و شوکه مومند که داودزی یم

د نوح زوویه هم د نیک نیکه لمسی و

ګڼه زه هم د يو نیک نیکه لمسی یم

وايي چې د نیک نیکه څخه د رحمان بابا مقصد (کلات بابا) یعنې شیخ متی بابا دی، چې له آره او نسله څخه ولې بلل شوی او د غوریانو په اولاد کې د لوی روحاني مقام خاوند و، رحمان بابا د توحید د مقام مینه وال له همدې امله هغه ځان آزاد ګاڼه، یوازې په مینه محبت او عق باور درلود. د مینې پر وړاندې نور شیان لکه قومیت پرستې او... نه خلیل نه داودزی یم، نه موند او چې دغه زړه په دغه پراخه او ژور عالم کې د آب و ګل صورت ته پام شي نو بیا خپل دارنګه وکړي، چې:

که یې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي

غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال حوک د رمان بابا د دیوان د مطالعې نه داسې ښکاري چې د رحمان بابا او پیر روښان ترمنځ د طریقت زبردست ورتوالی او شباهت موجود دی، دغه ورتوالی شباهت، که له یوې خوا د تصوف د مختلفو طریقو د منځ د بنیادي او عمومي شباهت موجود دی، دغه شباهت که له یوې خود پیر روښان سره د رحمان بابا د حضومي روحاني تړاو هم دی، داسې ښکاري چې او داسې ښکاري چې رحمان بابا د پیر روښان د طریقې پیر و، دا خبره جالبه ده چې د کتاب لیکوال سیف الرحمان یې کوي، خو چې د کوم سند له مخې به وي، وروسته به یې وګورو:

دا څرګنده خبره ده، چې د پیر روښان د طریق بنیاد په یو ورسوتیي حدیث اینښودل شوی دی، چې د انسانانو لپاره او د خویونه پکې فرض شوي دي.

له حرامو پرهیز، لږ خوراک، لږه وینا، لږ خوب، له غافلانو ګوښه وسېدل دایمي یا د او همیشني کلب او رحمان بابا هم په خپل دیوان کې داسې ځای په ځای داسې شعرونه لري چې د دغو خویونو څرګندوی دی. دلته به دغه او خویونه د رحمان بابا د کلام په رڼا کې وکتل شي:

اول خوی – له جمله حرامو پرهیز (روښان)

رحمان بابا

په محنت په مشقت ملا ماته سینه ده

نه حرامه همیانۍ د چا تر ملا

ړوند بهتر دی چې نه ویني په سترګو

نه چې سترګې په پردې حرام شي وا

حرام خور د محسنو په حساب دی

که په توره یا په تیغ وي مېړنی

دویم خوی لږ خوراک روښان

رحمان بابا

کم خوراک سړی نژدې شي فرشتو ته

هر سړی چې بسیار خور شي، بسیار خوار شيږ

هم په دا يې د نغمې اثر پیدا شو

چې په تشه ګیډه صبر درياب وي

درېیم خوی (روښان)

رحمان د سکوت په تيغ چې ژبه بریده شي

قلم غوندې په قال دویده شي

ستا د حسن په صفت کې

رحمان ګونګ شو له ادبه

څلورم خوی لږ خوب (روښان)

رحمان بابا:

چې په سترګو کې خار وي څه به خوب کا

چې په زړه يې غم د یار وي څه به خوب کا

دیدار نه دی چا په پټو سترګو کړی

چې مصلب چا دیدار وي څه به خوب کا

زه رحمان د یار بنده او خدمتګار یم

چې بنده او خدمتګار وي څه به خوب کا

ورځ دې تېره په شومۍ کړه شپه له خوابه

خدای به کله یادوې خانه خرابه

لکه ونښتی و حشیان مردمانو

هسې وتښتېدو خواب زما د سترګو

پینځم خوی له غافلانو ګوښه اوسېدل: (روښان)

رحمان بابا

د یو او د ده په خوا درشي بهتر دی

خدای دې بد سړی درنه ولي په خوا

د جاهل د همدمۍ نه به بهتر وي

که د چا سره همدم وي اژدها

شپږم خوی ذکر دایم (روښان)

رحمان بابا:

زه یو دم دا ستا له غمه بې غم نه یم

بې غم ستا له ذکره فکره یو دم نه یم

که غمخور ار غواړي به غم او په اندوه کې

ښیښه ډکه د شرابو اختیار کړه

اووم خوی دایم طلب (روښان)

هر زيارت لره چې ځم مراد مې ته يې

زه زاير د بت خانې د حرم نه يم

ستا د درد په تورو خاورو باندې خوښ يم

بې تا خوښ په تماشه دارم نه يم

چې دا ستا په تماشه يم خبر شوی

نور خبر يم په تماشه د عالم نه يم

روښاني مې په طلب کې شوه مامکه

شپه او ورځ لکه افتاب په لار روان يم

صبوري او قراری دې په ما زوم شي

که بې تا به مې يا صبر يا قرار وي

هر ژوندون د يار په وصل ښايسته وي

بې مينه که ژوندون وي څه په کار وي

دا درسته ده چې د پورته  اوو خويونو د اختيارولو په نتيجه کې به سالک سالک ته د الله معرفت حاصل شي، د الله ج وحدانيت پېژني او کابو تول مقاونه مومي.

مور او تاسو ته معلومه ده چې د پير روښان په طريقه کې مقامه اته دي، شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت د رحمان بابا هم په خپل کلام کې د مقامونو ذکر کولو وايي، چې

يادونه:

يوه ادعا او يوه خبره چې مخکې ښاد سيف الرحمان سليم کړی و، مور ته يې عملاً د رحمان بابا په کلام کې پته ولګېده او د نوموړي ادعا چې رحمان بابا د روښان پير د طريقې پيروي راته ثابته شوه،

رحمان بابا په خپل کلام کې د مقامونو ذکر کوي او وايي چې:

زه رحمان له هسې خلکو پنا غواړم

هر چې لاف کړي خلاف د مقامات

د کتاب لیکوال ښاغلی سیف الرحمن د خپل کتاب روښان او روښاني انقلاب په ۲۳۷ مخ کې زیاتوي

((د رحمان بابا د کلام د کتنې څخه ثرګندېږي چې هغه د کومو مقاماتو ذکر کوي هغه په حقیقت کې همدغه د روښانیه طریقې مقامات دي... بیا هر کلام د رحمان بابا د کلام په رڼا کې ګورو:

۱ – د روښانیه طریقې د شریع په مقام کې د اسلام په پنځو بناوو عمل کولای دی.

۸ – شریعت

چې امر یې د کلمې ویل، د پنځه وخت لمانځه ادا کول، روژه نیول، ذکات ورکول او د حج ادا کول دي او نهې یې د اسلام په پنځو بناوو عمل نه کول دي.

رحمان بابا هم وایي:

دنیا نه دی هغه دین دی

جې له نهې وي سیوا

و طاعت ونه ولاړ وي

همېشه تړلې ملا

له حرامو یې پرهیز وي

هم مشغول په پنج بنا

کلمه یې وي په ژبه

هم په جهر هم احنفا

د دنیا د کار لپاره

فرض لمونځ نه کړي قضا

هم هاشم د رمضان وي

هم زكات كاندي ادا

كه يې توان د حج رسېږي

حج هم و كا پسې بيا

دا پنځه بنا د دين دي

چې بيان يې وكړو ما

چې يې يون په دا طريق وي

هغه كس دی اوليا

هم په قران او هم په روښانيه طريقه كې راځي په لمانځه كې خشو غلام دی

د زړه حضور په لمانځه ې حتمي ده، لكه بابا عليه الرحمه يې چې وايي:

چې د زړه حضور يې به لمانځه كې

په كار نه دی مقتدي نه وي كه امام

په روښانيه طريقه كې د حج په ادا كول د كعبې د زيارت سره د زړونو زيارت هم ضروري دی، په خير البيان كې راځي چې ((كعبه خليل جوړه كړه، او زړه خدای تعالی جوړ كړی ديو د خدای تعالی وداني د خليل تر وداني بهتر ده.

رحمان بابا وايي:

د خليل تر كعبې دا كعبه بهتر ده

كه آباد كا څوک ويران حرم د زړه

همدارنگه په روښانيه طريقه كې دويم مقام په ترتيب د طريقت مقام دی

دويم: د روښانيې طريقې د طريقت مقام: د طريقت په مقام كې د پيغمبرانو په گفتار عمل كول دي، د پيغمبرانو كردار د زړه او د روح په احكامو چلېدل او د نفس او د شيطان د نغمو يې څخه ځان ساتل دي.

رحمان بابا وايي:

که محنت که مشقت دی خو د دین

په کار نه دی بل محنت په دا دنیا

د ابلیس و ریاخت ته دې نظر کا

که غرور کا په طاعت په ریاضت څوک

که د نفس لپاره سل محنته وکړې

یو محنت به دې په کار نه شي فردا

په روښانیه طریقه کې د (طریقت مقام) له شیطان سره د مبازې مقام دی

د خیرالبیان د تعلیماتو له مخې چېرته چې شیطان په راز راز پلمو او بهانو سره انسان له لارې خطا کوي. هلته یې د پیر کامل د نغوتې څخه هم منعک وي، تر څو انسان په دې پلمه د نبي کریم ص د پوهې او د خدای تعالی د معرفت او د ایمان د حصول نه بې برخې کړي، ځکه خو د پیر د تلاش ډېر زیات ټینګار کوي.

رحمان بابا هم وایي چې

بې راهبره یون د عشق په لارې ګران دی

دلته بویه چې پیدا کاندي رهبر څوک

چې سبا اره نوي د پند د پیرانو

ولې نن طلب د پیر نه کړې بې پیره

رحمان بابا

بې مرشده څوک خبر  د مرید اخلي

غوځ په غم د فرزندانو پلار بویه

مولانا:

هر که بې رهبر در راه شد

او چون غول گمراه شد

رحمان بابا:

بې ريباره رسيده و يار ته گران دي

په کوڅه د مهرويانو رهبر بويه

د روښانيه طريقې د حقيقت مقام

په دغه طريقه کې حقيقت د پيغمبرانو حال دی چې خفي ذکر او دايمي فکر له عمل کولو څخه عبارت دی. د خير البيان په ۲۷۵مخ پېښور چاپ کې راځي:

سالک دايم ذکر کوي او د زړه په ساه يې کوي. د ابو سيد ابی الخير

په وينا ذکر هغه دی چې له زړه وي، ايله لس کاله يې ذکر له خولې زړه ته لوېږي. هله خشوع پيدا شي.

رحمان بابا وايي، چې

هسې ياد يې همېشه مدام زما

چې اور د بې په هر صبح و شام زما

د عاشق مذهب همدا دی

چې دم نه وي بې مطلبه

زړه مې ستا په ذکر فکر گلستان دی

نن مې ستا له غمه پاڼه د خزان دی

يو نفس به دې له دره بېرته نه شم

څو مې يو نفس باقي په دا جهان دی

چې د يار سره حساب د دنيا کاندي

دغه هېڅ په عاشقانو حساب نه دی

که قاصد يې د مقصود

اوراه کړه زيان و سود

هر چې درشي ستا و مخ ته

واړه وګڼه بهبود

هر چې وي بغیر له خدایه

همه و شمیره نابود

سواله یاره هر چې وي رحمانه

واړه کفر دی په دین د عاشقانو

څلورم

د روښانیه طریقې د معرفت مقام

په دې مقام کې به د الله په وحدانیت سره پیژني. الله باید په هر وخت او هره ساه کې حاضر و ناظر وګڼل شي. دغه مطلب خیر البیان په ۳۵۴ مخ کې خوندي کړی دی.

د معرفت مقام احکام دا دي چې هېڅ شی دې له خدای تعالی سره نه شریکوي، په ځان او هر څه کې دې د الله د معرفت ننداره وکړي،

من عرف نفسه، فقد عرف ربه

چا چې خپل ځان وپېژانده، نو خپل رب یې وپېژانده

الله بې شریکه شهریار ید، واحد دی، لا شریک دی، لا الله

بنه مثال، یا قل هو الله احد.... تر پایه

او رحمان بابا وایي چې

شریک نه لري په خپله پادشاهۍ کې

بې شریکه شهریار دی، رب زما

معرفت د خدای څرګند دی په هر څه کې

سترګې وخوره چې دا هومره نظیر نه کا

په دغه برخه کې د رحمان بابا ډېر شعرونه شته خو تر تېرېږي،

د دې مقام نهې دا ده چې په هر خوا کې د خدای ج دیدارونه کاندي

رحمان بابا وايي:

ځوک چې دا ستا له مخه بل ته ګوري

آیینه يې صفا نه ده صفا نه ده

یا دا چې:

چې د خدای له معرفته خبر نه وی

همه واړه که بیدار وي هم اوده دي.

**د روښانیه طریقې د قربت مقام**

په روښانیه طریقه کې هر آړواز له آوازه ګڼل او د هغه په تسبیح ځان پوهول دي.

باید ووایو چې د اوسنۍ معاصرې ژبپوهنې د علم او انساني روابطو او تجربو له مخې ښه او بد آوازونه او غږونه په انسان اغېز لري، د الفاظو او کلماتو اغېز په جانب مقابل باندې فوري (لاس په لاس) وي. د مثال په ډول که یو چا ته ووايې، راباندې ګران يې او بیا هماغه سړی په ووايې چې مخ دې ونه وینم.

دا به ښه وي، پورته جملې په حقیقت کې زموږ په رواني حالت جلا جلا اغېز لرلای شي.

همدا علت دی چې د آوازونو په کیفیت او کراهت پوهېدل د قربت، معرفت او پوهې يو مقام ته ورته دي،

رحمان بابا وايي:

هر اشیا د حق شنا کا

په نغمه لکه داود

که بیدار يې خود به واورې

په هر لوري دا سرود

حیوانات هم په تسبیح د خدای مشغول دي، ته انسان له حیوانه بدتر مرشد د روښانیه طریقې، د وصلت مقام

په دې مقام کې د خدای تعالی هستي د هستۍ په توګه پېژني، ټوله هستي د الله ج یاد وي او نوره هېروي، ځان په الله سپاري.

رحمان بابا وايي

څو تر مخه ورانه نه يې چې د تن پوله

وبه نه رسي، تر خدايه تر رسوله

چې په ژوند يې طمع پرېکړې شي له ژونده

نور په څه باندې ويرېږي سره کړې

ستا د دين هغه کا چې مې سر په تنه پاس نه وي

ولې چې د سر څښتن نورو ته وته لار شته

موتو قبل ان تموتو (حديث شريف)

په نيستۍ د هستۍ مرتبه ګوره

ننداره چې په ويرانه د خپل بام شه

هېڅ بلتون زما ديار و بله نشته

کار همه واړه موقوف په خپل معياد دی

د روښانيه طريقې د وحدت مقام

دغه مقام د فنا فی الله و بقا باالله مقام دی له شرکه ځان ساتي

رحمان بابا وايي، چې

همدمي د دو همدمو هسې بويه

چې د دواړو همدمي په يوه دم وي

ښه چې تن مې توی تومنه شو په عشق کې

هاله څاڅکي د شبنم وم اوس دريا شوم

د روښانیه طریقې د سکونت مقام

دا مخصوص مقام دی، روح د بدن له قید آزادېږي، عمومي مطلب د لوی چې معنویت د سالک ډېرېږي. د روح د دغه سکون په سبب سالک ته مسلین وایي، مسکین صاحب زمان د نبي صلی الله وسلم د علم وارث د پیغمبر نائب او ولي وي. رحمان بابا وایي:

ولایت دی خدای هغو لره ورکړی = چې یې وکړو سکونت په دا دنیا

ولي = دوست

رحمان بابا د سکونت مقام ته په خپل یوه بیت کې دارنگه اشاره کوي

عاشقي په تېره توره در په لاس کا

نور د خبر د سکون په ملک به هو کړي

یادونه: د پیر روښان او روښاني انقلاب د لیکوال ښاغلي سیف الرحمن مسعود له عملي مثالونو چې دلته یې راوړي دي، دا ښکاري چې حضرت عبدالرحمن بابا په عملي ډگر کې د روښان او روښانیانو لار تعقیب کړې ده. داسې معلومېږي چې رحمان بابا له ځان ډېر دمخه او همصرو، لیکوالو، مفکرینو ادیبانو او شاعرانو سره ښه پوره پور وو. ځکه یې ډېر بیتونه نور خو لا څه کوې چې د مقامونو په برخه کې هم عملي نمونې لیکوال راټولې کړې دي، خو دا خبره چې د رحمان بابا د پیر روښان شاگرد یو څه د تامل او تفکر وړ ده، دوی دواړه زماني واټن لري، له جسمي پلوه رحمان له روښانیانو متاثره نه دی، خو له باوري، عقیدوي او فکري پلوه بابا علیه الرحمه د روښانیانو لار پاللې ده او ډېر ژور اغېز یې له میر زاخان انصاري اخیستی وي.

که مقصود یې د خپل مخ ننداره نه وای

د انسان جامه یې څه لره کړه سازه (میرزاخان)

دا دنیا ده خدای له عشقه پیدا کړې

د جمله وو مخلوقاتو پلار دی دا

د (هو) کلمه په روښانیانو د جنگ په وخت کې د تکبیر د نعرې پرځای استعمالوله.

# ۵ - د رحمان بابا د شعر د عاموالي لاملونه

د رحمان بابا رواني طبعې ته چې گورو په يقيني ډول به يې په څوارلسو يا پنځلس کلنۍ کې په شعر ويلو پيل کړی وي، چې به دې ساب د ۱۰۵٦ او آن تر دې ۱٦۰ کلونو پورې پيلولو وخت وي. دا وخت په هندوستان او افغانستان کې د شاه جهان گورگاني واکمنۍ دوره ده. د رحمان بابا په ديوان کې داسې بيتونه شته چې د شاه جهان د واکمنۍ په دوره کې يې د ويلو وخت اټکل کړو، لکه دا بيت:

د کاملې عقيدې له برکته۱

د دو نهې په غاړه ناست شاه جهان يم

نو په دې اساس تر ۱۰۵٦ هـ ق کال وروسته د ده شاعري په اټکلي ډول او تر ۱۰٦۷ هـ ق کال وړاندې په باور توگه پيل شوې ده، او که خوشحال خان خټک دا بيت:

سل سړبنی دې تر دا يو غزل ځارېږه

نن چې دا پښتو ده کرلاڼې خوشحال ويلی[1]

د ده په برخه کې وبولو، بيا نو دا هم ويلی شو چې د رحمان بابا شاعري تر ۱۱۰۰ هـ ق کال وړاندې چې د خوشحال بابا د مړينې کال دی، دومره شهرت موندلی و چې خوشحال خان غوندې قادر العلام او بې جوړې شاعر يې هم دېته اړ کړی و چې د ده د شعر د اغېز کملو لپاره په تعلی لاس پورې کړي او خپل شع تر ده ښه وبولي.

خوشحال خټک، خوړ ژبې اشرف خان هجري چې په ۱۱۰٦ هـ ق کال يې له دنيا سترگې پټې کړې د خپل وخت د شاعرانو په ډله کې رحمان بابا ته په دې مقام قايل دی.

خوږ زبان په زمانې شکرې نولې

هغه واف چې مستقر يې پېښور دی

د رحمان په ويل ځای د لقب نشته

[1]- خټک، خوشحال خان ۱۳ کليات

چې ما شعر منظور کړ معتبر دی

د رحمان بابا په شعر دا قضاوت د داسې شاعر له خوا شوی چې د خپل شعر په باب داسې نظر لري:

چې شعر بولي ځوک شعر زما دی

نور د واړو شعر شعر سحر دا دی

که باور دې په دا نه شي پاځه گوره

زما هر غزل شاهد په دا دعوا دی[1]

پښتانه محققین د رحمان بابا په شعر د هجري د دې قضاوت کولو وخت تر ۱۰۹۲ هـ ق کال وړاندې بولي، ځکه چې تر دې وروسته هجري په هندوستان\ کې د گورگانیانو له خوا په بېلابېلو زندانونو کې اچول شوی و، نو ځکه ده دا قضاوت باید داسې وخت کړی وای چې رحمان بابا دا اشعارو زیاتې نمونې ورته رسېدلی وي.

له دې خبرو څرگندېږي چې د رحمان بابا شعر تر ۱۱۰۰ هـ ق کال وړاندې ښه شهرت موندلی او په ادبي حلقو کې پېژندل شوی او منل شوی و، همدارنگه تر ۱۱۱۹ هـ ق کال وړاندې د ده د اشعارو د دیوان په بڼه په ټولو پښتنو کې خواره واره شوي او د پښتونخوا گوټ گوټ ته رسېدلی و او د خپل دې ادبي او روحاني شهرت په بدل کې یې له پښتو بابا اعزازي لقب ترلاسه کړی و، ځکه چې په پورتني کال میرویس نیکه په کندهار کې د خپل ملي غورځنگ د پیل لپاره د ده په دیوان فال اچوي او له بابا مشوره غواړي:

پټه خزانه د محمد هوتک بن داود اثر دغه نکل داسې کوي:

هسې وایي: فقیر، محمد هوتک غفر الله د نوبه چې ظل الله پادشاه شاه حسین، کاتبان واستول او له پېښوره

---

واف – بلبل

*میرویس نیکه

*قدس

*ظل الله

*خال

*رافضي گرگین خان

*کوکران: د ارغنداب د سیند غاړې ته کندهار له ښاره تقریباً شیر میله فاصله لري او د هرات کندهار د لویې لارې پر سر واقع ده. د حاجي میرویس خان نیکه مزار هم هلته دی او دغه مرحوم د ژوند ډېره برخه هلته تېره کړې ده.

[1]- ۳۴ – مومند، کامل. ۱۹۹۸. رحمان بابا. پېښور: د اشرف خان قلمي نسخه، ناچاپ اثر،

يې  عبدالرحمان بابا علیه الرحمه د دیوان نقلونه راوړل او په کندهار کې علما او زرهادو وکښل او اوس ډېر دي، فقرا او د خدای دوستان د عبدالرحمنا بابا شعرونه ډېر لولي او خوښوي يې او عالم خلک فالونه پر ګوري، حتا چې ښځمنې دا کتاب ډېر وايي او خدای تعالی د ده په وينا کې هسې برکت اېښی دی، چې د هر خوږمن زړه دارو په کا او هر غریب او محتاج مستغني کا زما پلار هسې نقل وکا چې په کندهار کې د رافضي ګرګين خان\ جور ست تر حد تطری وکا او خلک د خدای ځينې په عذاب شول چې په\ مرګ خوښ شول، نو دوی په کوکران[ کې مغفور رحماني\ برګزيده صمداني حاجي مير خان هوتک شالم خيل ته ولاړل او له هغه يې چاره د کار طلب کړه او ټولو وويل:

هر ډول چې  دی وايي، هسې وکړئ، هغه مغفور پوه ورځ تر ماښامه له نورو پښتنو خانانو او مشرانو سره مصلحت وکا ا هسې تړون يې وکا چې ظالمان مړه کړئ او ځانونه له جور وظلمه وژغورئ.

په پای کې حاجي مير خان علیه الرحمه وويل: راشئ چې عبدالرحمان بابا قدس سره هم وپوښتن، چې د ده ديوان يې خلاص کړ، هسې شعرونه وو:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله ګويا يم

خاموشي زما تېرى کا تر غوغا زما

کښت د عشق په توده ځمکه امان چېرې

سمندر بويه چې زيست کا په صحرا زما

چې پورته بيتونه ولوستل هغه مفغور حاجي ولس ته وويل:

چې د ظالمانو کار تمام دی، ام اوس  دستي خاموشۍ بهتره ده.

ټوله به پټه خوله دا کوشش، چې ظالمان ورک شي، چې مناسب وخت راشي، نو زبه زه پر تاسو غږ وکړم، هغه وخت بايد ټول تيار او ظالمان له وطنه وباسو.

نقل کا: چې يوه مياشت وروسته، جنت مکان مير خان دولس ميران او خانان راو بلل او په مانجه يې جرګه وکړله او ټوله په قران قسم وکا چې ګرګين خان ظالم له جوره ځانونه خلاص کړي، پر دې وخت\ بيا حاجي ميرخان مغفور له رحمان بابا څخه دا بيتونه ولوستل:

بيت

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب و

خدای و ماته ښکاره کړ هغه نمر بیا

چې رقیب راته تړلی په زنځیرو

خپل حبیب راباندې پرانیست هغه ور بیا

باید ووایو، عبدالقادر خان خټک (۱۰٦۳) ۱۱۲۵ چې د ده همځولی دی، هم د ده یادونه کوي:

زه خټک د یار په غم تازه تازه شم

غوریه خیل رحمان که شو ورځینې ستړی...[1]

د رحمان بابا په ژوند د ده د ادبي شهرت د خوریدلو په باب د ده په خپل دیوان کې هم ځای په ځای ځینې بیتونه شته چې ځینې سره له دې\ چې د شاعرانه\ غرور او تعالی زیږنده دی، خو بیا هم د ده ادبي شهرت د خوریدلو نمایندهگي کوي:

ستا د حسن د تعریف له برکته

د رحمان د شعر کوک په عالم دي

چا پیژاندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې

اوس مې ستا له رویه نوم رسوا په درست جهان دی

خوشالا او دولتا مې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمگیر یم[2]

رحمان بابا دومره ادبي شهرت موندلی و چې د یوه ځانګړي ادبي سبک تېره یې کېښوده او د ده په دبې مکتب کې د پښتو ډېر خوږ ژبي شاعران ور روزل شول او همدا سبب چې راو وورسته شاعرانو په یوه خوله د ده ستاینه وکړه او یوه یوه نیم د ټبري نعصب له امله د ده په شوي مقام سترګې پټې کړې.

د ده مړینه د ده شاګرد یونس خیبري چې په ۱۱۰۰ هـ ق کال زیږېدلی و، یوه له سوزه ډکه مرثیه وویله او د ده

---

[1]- ۱۹۷۲. دیوان عبدالقادر خټک: پېښور، ۱۹۷۲، (۲۱٦).

[2]- خلیل، همیش

ادبي مقام يې پکې وستايه .

چې پیدا له آشنايۍ سره هجران شه
ځکه داغ مې په خاطر باندې ارمان شه
آنجمن د ښو يارانو نوبهار دی
جدايي ور باندې پير وکه خزان شه
چې په قدر کې درونه د درياب و
اوس صدف د هغو در وگورستان شه
چې په شرق د آشنايۍ لکه لمر وخوت
به مغرب د جدايي کې نهان شه
دا چې باد د جدايۍ په جهان گرځي
له هيبته مې صورت بير لړزان شه
د سکوت قفل به يې ځرنگ ليرې کېږي
چې په مرگ يې درون بند کليد زبان شه
له رحمان فيض ياب عبدالرحمان شه
چې له دې سرايه په نوي سراى مهمان شه
په پښتو شعر يې هسې نامه يووړه
چې خبر يې په اشعار ايران توران شه
پر لذت شعر به څوک کاندي، يونسه
چې په مرگ ځينې خاموش عبدالرحمان شه[1]

---

[1]- د يونس خيبري ديوان، پېښور.

مصري خان ګیاڼي د رحمان بابا د عصر یو بل شاعر دی چې د ده د خواږه شعر ستاینه داسې کوي.

شعر د فارسي وینم شرین لکه شکره

شعر د پښتو کړ تر فارسۍ حمید لذیذ[1]

معزالله مومند هم چې د رحمان بابا د دوران شاعر دی، رحمان بابا د ادبي قدرت او شعري قوت ستاینه په دې ټکو کوي:

د تمامې پښتونخوا له شاعرانو

معز الله، عبدالرحمان دی منتخب

که د شعر کرامت له چا نه غواړې

معز الله د رحمان شعر کرامت دی

کاظم خان شیدا چې د رحمان بابا تر مړینې وروسته زیږېدلی او دن پښتو دېء خوږ ژبی شاعر دی، د رحمان بابا د غزلو پیروي کوي.

د رحمان په دا مصرع د شیدا زړه دی

نه پیری یې، که آهو یې که جادو کړې

او هم په خپل یو بل بیت کې دی او حمید بابا د دوو مومند په نامه د ښو ادبي حکیمانه په توګه پېژني:

په دې وخت کې که شیدا دواړه مهمند وي

ثنا خوان به وو هر دم ستا د ویلو

نجیب چې د رحمان بابا د ادبي مکتب شاګرد دی، ځای په ځای د رحمان بابا د شعرونو په اقتصاد او پیروۍ شعرونه وایي او د ده په باب عقیده لري:

د شعراوو سر حلقه عبدالرحمان دی

زه نجیب د ده د شعر دا منګی یم

---

[1]- مصري خان ګګیانی، دیوان، پېښور

چې يې شعر لا مثل دی، باندې ښايي

که رحمان وايي په شعر عالمگير يم[1]

د پښتونخوا ژبې بيدل چې د پښتنو شاعرانو د يادونې په لړ کې رحمان بابا ته را رسېږي، نو د سلطان الشعرا لقب ورکوي او وايي:

چې مشهور يې په پښتو ژبه ديوان دی

شعراوو کې هغه عبدالرحمان دی

قال وحال يې سره سم زيات وکم نه دي ا

مسلم ځکه د هر دانا نادان دی

په سلطان الشعرا دی ملقب دی

چې يې بيت مصرع په هر ځای کې برهان دی[2]

عبدالعظيم رانيزی د ده د پېړۍ شاعر دی، چې در درناوی سره داسې ورته ټيټوي:

د مهمند عبدالرحمان صاحب په مثل

هسې خوږ زبان زما وي دريغه دريغه

زه عظيم به خاص غلام د دې مهند وم

اوس ژوندی که په دنيا وي دريغه دريغه[3]

نواز خټک يوازينی شاعر دی چې له رحمان بابا سره يې د مهمندۍ او خټکۍ تعصب کړی ښايي چې د هغې ا شاعرانه غرور کسات اخلي، چې رحمان بابا د خوشحال خان په برخه کې کړی دی ، نو ځکه وايي:

چې په غوږ کا څوک گوهر زما نظم

د رحمان ديوان به ومنډي په جيب

---

[1]- نجيب. ۱۹۹۲. تديوان، پېښور: اکاډمي

[2]- خليل، همطش. ۱۹۵۷. ديوان بيدل. = د هميش خليل ترتيب او تدوين پېښور، قصعه خواني.

[3]- ٦٣ – عظيم، ديون ۱۳۲۳ هـ ق لاهور.

برابر مې کړ غزل د ده له شعره

چې د ووځي له خاطره شک و ریب

په لحد کې به توبه کاندي له شعره

دا غزل که مې څوک ووايي رحمان ته

د پښتو ژبې او د ځانګړې ادبي مکتب درلودونکی شاعر پير محمد کاکړ چې به همعصرو کې تر خپل شعر لوړ نه وينې، د رحمان شعر معجزه ګڼي او ووايي:

که څو وايي نازک شاعران شعر

ولې دوی ګڼي معجز د حرمان شعر

سوز ګداز د محبت يې مګر زيات و

چې سوزان يې هسې شان کړ بيان شعر

جوړ په شعر کې رحمان غيب اللسان دی

په دا څير نشته هر ګز د انسان

تر مصرع١ يې ځار شه کړ د ملغلرو

په څه تار يې اويخته کړيکسان شعر

هيڅ تر شعره د رحمان به ډېر کم نه وي

و منصف ته د ختک خوشحال خان شعر[1]

رحمت داوي د دولسمې پېړۍ د اواخرو يو بل شعر دی، چې په کشمير کې هستيد او رحمان بابا تر شعر داسې قربانېده:

هر څوک شعر کا هم لاف شاعرۍ کا

ګزه قربان تر شرين شعر د مهمند[1]

[1]- ۴۲ – بينوا، عبدالروف. ۱۳۲۵. د پير محمد کاکړ ديوان، کابل: پښتو ټولنه.

شمس الدين کاکړ، چې د پیر محمد کاکړ د ادبي مکتب پیرو دی، د خپل استاد په پیروۍ د رحمان بابا په باب وايي:

که څوک ونیسي په لاس میزان د شعر

په عروض کا سنجیده بیان د شعر

و به نه رسي په شعر له رحمانه

که هر څو کوي هوس افغان د شعر

په تحقیق سره رښتیا لسان الغیب دی

لیاقت یې درلوده لسان د شعر

میرزا حنان بارکزی د رحمان بابا شعر یو تر بل ښه ګڼي او وايي:

بل رحمان سرېند دې پېښور دی

په پښتو یې غزل به دې یو تر بل[۲]

عبدالله پوپلزی یو بل کندهاری شاعر دی چې د رحمان بابا شعر معجزه ګڼي او وايي:

د رحمان له شعره بوی د معجزې ځي

مرید ژر کاندي له پیره برابر

*مرید

*پیر

عبدالغفار هوتک د کلات د سیوري شاعر چې د دیارلسمې پېړۍ په اوایلو کې یې ژوند کاوه، د رحمان بابا د ادبي مکتب پیرو دی او ځان د ده نائب بولي.

په افغان کې شاعران تر حساب تېر دي

---

[۱]-۵۳ خلیل، همېش، ۱۹٦۰ ورکه خزانه، پېښور

[۲]- ٦۳ – بارکزی، حنان، ۱۳۳٦ د حنان بارکزي دیوان کابل: پښتو ټولنه.

عبدالغفار دي د رحمان شاعر نایب

د شلمې پېړۍ د اوایلو شاعر قاضي میر احمد شاه رضواني د رحمان بابا شعرونه له وجد او جذب څخه ګڼي او وايي:

بیا په دور د شاه عالم په څړبنو کې

را ښکاره شو په جهان عبدالرحمان

موسیقار غوندې یې هسې نغمې وکړې

چې یې پورې کړلو اور په کل جهان

تابه وې چې د شیراز خواجه حافظ دی

چې پیدا شو به ولس کې د افغان

که صوفي، که محتسب او که قاضي و

بې له ما نه ټول یې ګډ کړه په میدان [1]

په دې سربېره د احمدي صاحبزاه، قنبر علي افریدي او قاسم علي خان افریدي هم د رحمان بابا په پیروۍ شعرونه ویلي او یا دونه یې کړې ده.

د رحمان بابا د شعر شهرت او مقبولیت دومره زیات و چې په ډېر لږ وخت کې یې شعر ټوله پښتونخوا تسخیر کړه او لوستي، نیم لوستي او ن الوستي ټولې حلقې یې خان ته ور جل او جذب کړې، صوفیانو یې په شعر کې د معنوي دنیا وړانګې ولیدې، سیاستمدارانو او ملي شاعرانو د خپلو ملي غورځنګونو په لار کې د ډیوې کار ترې واخیست، مستانو او جذوبانو د رباب په تارونو کې د ده نغمې ونغوړلې.

هر څوک یې په ژبه پوه او د هر چا د زړه ټپونو ته ملهم شو.

څوک چې لوستي وو، د ده شعرونه به یې په خپله لوستل، د نیمه لوستلو لوستو لپاره یې د لوستو شوق او ذوق ور بانښه او ډېر داسې کسان پیدا شول چې یوازې د رحمان بابا د شعر د لوستو مینې د تور او بور زده کړې ته اړ کړل، چا چې په خپله نه شوې.

---

[1]- - ۲۱ – خادم، استاد، ۱۳۳٦، روهي ګلونه. کابل: پښتو ټولنه وجه

لوستي هغوی هغه کسان لوستلو ته مجبور کړل، چې لوستلای شول. او دوی ته يې واورول، مطلب دا چې نر او ښځو ټولو ته د ده شعرونه ور ورسېدل او د هر چا د خپل زړه هيلې او مراد اوس دومره پکې ولتول او پکې وموندل.

د ده په ژوند د ده په ديوان په ټوله پښتونخوا کې خور شو او ډېر ژر د رحمان بابا د نوي ادبي مکتب په وره د پښتونخوا ډېر شاعران ور ننوتل او له دې منبع څخه يې د شعر سوز او الهام واخيست.

لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبيبي د رحمان بابا د ادبي سبک ښېګړې او ځانګړنې داسې شمېري:

۱ – په دې سبک کې شاعر د روح الهام مني، د مادې سره يې ډېر سرو کار نه دی، له هغې دنيا څخه خبرې کوي، چې له دې خاکې دنيا څخه پرته= پر بله دنيا ده او د معنوي فيوضاتو منبع همدغه ځای بولي.

۲ – په دې سبک کې شاعر له مادي کثافاتو څخه لرې کېږي او هلته ځي، چې صلح کل دی او د دې خاورينې نړۍ غوغا او شور ماشور پکې نشته، شاعران يې د دنيا پريدو تنقيد کوي او ځان يې له ککړو او کړکېچونو څخه پاکوي.

په ادا او د احساساتو په تصوير او نور ښېګڼو کې دا سبک خورا سپېڅلی او سليس دی، ابهام ښه نه ګڼي، د شعر الفاظ او عبارات ساده او سپېڅلی غور کوي.

۴ – غزليات، قصايد، رباعيات، تخميس او د شعرونو ټوله اقتسام په سپېڅلي ډول وايي او ډېر له مينې او اخلاقو څخه رغېږي.

۵ – د عشق او ينې په دنيا کې د واقعيت خواته ځي او د خيال لږ تابع کېږي.

٦ – د دې سبک شاعر، عشق او الهام د ژوندون مدار ګڼي، يقين او ايمان پر عقليت باندې خوښوي.

عشق

الهام

هو په دې لاره ډېره شاعران روان شول او په سوونو ويناوالو له رحماني غږ نه الهام واخيست.

**«د رحمان بابا غزل (يوتاثر)» پروفيسور اباسين يوسفزی:**

زه رحمان چې ستا د حُسن ثناخوان يم

ستا له رويح درست جهان زما ثنا کړه

که خوشحاله خان د پښتو ادب د آسمان روښانه لمر دی، نو رحمان بابا د پښتو شاعرۍ د آسمان خلانده تانده او د خوږې، پښتې او اويخي رڼا ډکه سپوږ مجدده د پښتو غزل تا داو که اکبر زميندوري لومړنۍ خښته کېښوده خو خوشحال خان پرې دنګه لوړه او شانداره وداني وکړه، رحمان بابا دغه ماڼۍ د خپل اندرون په تور داسې وځلوله او پړ قوله چې دغه خلقا، پرقا او ښکلا د پښتونخوا منوره کړه.

د اروانښآد استاد کال په خيال چې پښتو لوی شاعر مشهور شاعر بې له شکه رحمان بابا دی او که چېرې دغه خبره په يو بل رنګ کې وکړو؛ نو زياته په غوره وي چې خوشحال خان او رحمان بابا د پښتو په روښانه مخ دوه ځلېدونکي ښ:لې ښکلې سترګې دي، نه په کې غټه شه او نه وړه؛ دواړه د ښتو د مخ د ښکلايو هومره حقدار دی.

د رحمان بابا غزل په بنيادي ډول موږ په درې لويو برخو ويشلي شو، پند، نصيحت، عشق و محبت او تصوف کله کله دغه درې واړه توکي له يو بل سره ګډ وډ هم شي؛ خو لطيف څيزونه د بل سره ګډوډ کېدو با وجود هم خپل شناخت نه بايلي.

پښتو غزل ته چې رحمان بابا څومره پوخوالي، رواني، سادګي او خواږه وربښلي دي، د هغه اعتراف د هر دور نقادان کوي د ښتو د اچينار شاعر دا رڼاګانو مناره د هر خاص و عام سينې که د خپل هنر په زور ننوتلی دی او ورکې پوخ ميشته شوی دی بې رويه بې ريا عجز او انګسار عد نه په ډکه لهجه کې د ژوند تقيله او ګونجلکه فلسفه د قرآني آيتونو، حديثونو، متلون، محاورو او تاريخي پيښو چې د ادب په ژبه کې ورته تعلميع ويلی شي، پّ زور په ځپله وينا کې وزن هم اچوي، اثر هم او عقلي دليلهم د پندو نصيحت غوندې وچ او درانه شي کې هم دومره اثراجوي چې د بدو د لګيدو پر خای سړی پّ سوچ فکر او پېښمانۍ اخته کوي.

د نصيحت رنګ يې کله طنزيه دی، کله دعائيه او کله بيانيه او چې کله انسان په ځپل ګريوان کې په سرد دننه کولو مجور کړي؛ نو کجه هم نشي، پيکه هم شي او شرمنده هم، بلکې ځينې شعرونهه خو يې د منلو نه ګرځولي دي.

چې الله درسره مل نه وي رحمانه

که لښکرې درسره وي يک تنها يې

+++

راحت نه دی بې زحمته چا موندلی

غم بنیادي دی ددې د هر ورور او خور

+++++++

هر زنده چې د مړده په قبر ور شي

دومره بس دی نصیحت په دا دنیا

اکثر غزلونه يې د موضوع يا مضمون د يووالي يا تسلسل له کبله لکه د سيند روان او په چپوو ښکاري، که دې وجهې پښتانه د دوی غزلونه ته رباعي هم وايي، رباعي که هر څو دوه شعرونه يعنې په څلورو مصرعو ښکاره پېژندګلوي لري، په موسيقي کې معمولاً له غزل نه مخکې ويل کېږي، د رحمان بابا اکثر غزلونه سندرغاړو د رباعياتو په طرز کې ويلي دي، د مثال په توګه:

که له ډېره غمه دم د چا خسي

زه به مړو وم ستا په غم کې لرغونی

+++

زړه مې هسې رنګ په تورو زلفو بايلود

لکه ورک په توره شپّ کا څو کالي

+++

په يو لاس کې يې مر هم په بل خنجر دی

نه په مړيو کې حساب يم نه ژوندی

+++

چې يې غم غلطو ومه د شپې پاڅم

کله مې په شونډو کېږدم کله نی

+++

ګهه کتاب، ګهی رباب په لاس کې را واخلم

باري دود مى په هېڅ رنګ نه كا كمى

+++

همسايه مې واړه وواته له خوبه

كه په سل ګوتېو د ننه كړم زګروى

+++

زه رحمان د بار په غم كې هسې ډوب يم

چې هېڅ نه وينم په سترګو مګر دى

دغه رنګ يې بې شمېره مثالونه نور هم شته چې ډېر شاعرانه اصطلاحات، تشبهات، اشارې او كنايې موږ استعمالوو او موږ ته نوي ښكاري؛ خو ددغه اصل موجد رحمان بابا دى، ځكه چې د رحمان بابا په دغه خاصيتونو او خوبيو له هغوی نه پس ډېر و شاعرانو شخوندونه وهلي دي، ژولي يې دي او لا ورباندې شخوند وهي، په دغه خيالونو اوعلامتونو سره سره ګڼ تشبهات هم داسې دي چې د رحمان بابا څخه وړاندې نه دي ښكاره شوي.

ته چې له ما ځې زما دا اوښكو باران ګوره

رخ د سفر هېڅ نشته په دا ګڼو شپو كې

++++

چې پريشان د يار د زلفو په څير نه وي

جمعيت د هغو زړونو لوى فساد دى

د رحمان بابا تغزل د هر چا نه اوچت دى اوچت پّ دې دى چې د تغزل لپاره ړومبى شرط سادګي او پُركاري ده او بابا پّ عامه ساده باده لهجه كې د نزاكت او ملاعت سمندرونه ښكيل كړي دي:

هم هغه دى زما تور ليمه سره كړى

چې يې ستا لاسونه سره كړه سترګې تورې

+++

زه د ستا له غ مه ژاړم واړه وينې

واړه ويني، واړه ويني واړه ويني

+++

چې دې زلفې د رحمان په زړه وريځ کړي

تر بڼو يې څکه څاڅي او نه سپينې

+++

هر ساعت زما د غوږ په تاوولو

په آسمان لاسونه شته شوه تر څنګلو

+++

دا زما د قاتل لاس دى چې ليده نشي

که تر باغ وتلى ښاخ دى د سرو ګلو

+++

په هجران کې د يار خيال راسره مل دى

په زندان کې د يوسف سره اسير يم

+++

زړه مې هسې ستا په زلفو پسې ورک شو

لکه غوټه له چا پريوځي په تورتم کې

+++

هسې رنګ زما په ډېره ژړا خاندي

لکه ګل د سپرلي خاندي په باران

لنډه دا چې رحمان بابا د ښښتو غزل په ځلوونکو کې د ټولو نه لوى نوم ګڼلى شو، له دې امله چې سلاست او رواني که چېرې د غزل جامه شوې ده؛ نو د رحمان بابا په برکت د رحمان بابا هومره قادر الکلامي چې د بابا د شعر ټول شاعرانه خاصيتونه يې په غور ډول لري چې يې اورې يا يې لولې؛ نو لکه روزمره ساده خبره د رحمان بابا بې فيضه بې مطلبه شعر ښځي نه وايي، که په هره موضوع شعر ليکي؛ نو د وګړي خير په نظر کې ساتي.

چې دا هسې بزرگ میلمه و گور ته بیایي

اول غولی پاکیزه کړه له خاشاکه

++++

نور د شمعې په فانوس کله پټېږي

تا چې وا غوستې د خیال جامې نړی

+++

که په ځان باندې قدم کېږدې رحمانه

جهانونه به دې لاندې تر قدم شي

تصوف چې د پښتو سوچه غزل مهمه برخه ده د عام وګړي ذهني سطحې ته د رحمان بابا په برکت رسېدلی دی، آسان شوی دی او اشري شوی دی په مینه کې چې کومه پاکي رحمان بابا اچولې ده، په پښتو کې یې مثال نشته، د پندو نصیحت نه یې واعظا نه نقالت د منطق او فلسفې په زور کم کړی دی بلکې ختم کړی یې دی.د رحمان بابا غزل پرون هم نوی وو، نن هم نوی او سبا هم نوی وي لکه:

په غزل کې خو دوبیته انتخاب وي

د رحمان تمام غزل دی انتخاب

د شمس الملماء قاضي میر احمد شاه رضواني پّ دې تاریخي شعرونو خبرې راټولوم:

بیا په دور د شا عالم په سره بن کې

چې ښکاره شو په جهان عبدالرحمان

موسیقار غوندې یې هسې نغمې وکړې

چې یې پورې کړلو اور په کل جهان

ته به وایې چې د شیراز خواجه حافظ دی

چې پیدا شو په ولس کې د افغان

که صوفي، که محتسب وو که قاضي

بې له مانه يې ټول ګد کړه په ميدان

++++

صاف د لاتو لره لږ نصيحت بس دی

د ګوهرو پيوستون په نري تار شي[1]

[1]- يوسفري، اباسين، ۲۰۱۴م، جولای، اميل( درې مياشتې مجله) پېښور: پښتو ادبي ټولنه رنګي سيمه، قلم پښتو ادبي جرګه.

**۵ – ۱ د رحمان بابا دېوان څه وخت ترتیب شوی؟**

اروابناد د عبدالرحمان بابا په خپله وايي:

زه رحمان په خپل اشعار شکره گوزار یم

چې دا هسې رنگ دیوان مې دی موندلی

له بده مرغه د بابا د دیوان په ترتیب او راټولېدو هم لکه د ده ژوند، پېښو اختلاف موجود دی، هر چا بېلې بېلې خبرې کړې او بېل بېل نظرونه پرې ورکړل شوي دي، چې موږ به وڅېړو:

اول: فولکلوري روایت:

د هېواد پیاوړی څېړونکی او پیاوړی لیکوال استاد حبیب الله رفېع: لیکي: ((زه ډېر کوچنی وم، د رحمان بابا شعرونه مې له خپلې خور څخه چې په خوند به یې لوستل اورېدلی وو، خو په خپله یې لا د لوستلو نه وم، په همدې وخت کې مې له دې نه دا فولکوري روایت هم اورېدلی وو: ((رحمان بابا یو ملنگم شاعر و، له خلکو نه به گوښه د سیند په غاړه ناست و، شعرونه به یې ویل او په هغو کودړو به یې لیکل چې څنگ ته یې راټول کړي وو، یو وخت څوک ورغی او دی یې د شعر په لیکلو بوخت ولید رحمان بابا ډېر ژر لیکل شوې کودړې سیند ته واچول. هغه کودړي چې ترې پاتې ووو هغه سړی سره راټول کړل او د رحمان بابا د موجوده دیوان یې ترې جوړ کړ. دا یو منلی روایت و چې د رحمان بابا دنیا د علاقمندانو قناعت یې حاصلاوه او اوس یې نه مني.

*کودړي = اصلي بڼه

کودړو = مغیره بڼه، سفال، کوزه گلي؛ ژېړو خټو جوړه شوی لوښی

فولکور تر اغېز لاندې روایت: د رحمان بابا د دیوان لومړنی سریزه لیکوونکی پروفیسور عبدالمجید افغان د درحمان بابا دیوان د راټولېدو په باب لیکلي:

((څه وخت چې مجنون ۹۱ نو مجنون مړ شه او عبدالرحمان بابا درې ورځې بېهوشه پروت و، چې څه وخت په هوش راغی نو حالت د ده تبدیل وخوړ او له نیکانو شهار شه او د دې وجط ن به ده سرود اورېدلو آخر پرې دومره استفراق غال شه چې لمونځ ترې نه هم پاتې شه او د پښتنو په اصطلاح د ملا عبدالرحمان نه یو ملنگ

جوړ شه، وايي چې شپه او ورځ دی و او ژړا وه، تر هسې حده پورې چې اوښکو يې به مخ باندې لارې جوړې کړې، خدای ورلره يو څو دوستان هم ورکړي وو چې ده به څه ويل هغوی به جمع کول او دا د هغې يارانو برکت دی چې د عبدلرحمان د زړه قطرې په هره حجره کې وينو سرې پرتې دي...

بيا هم د دې قابل نه و چې خپيل اشعرا يې جمع کړي وي، دوستانو په جمع کول او د هغه د مرگ نه وروسته يې دا ديوان جوړ کړ، مگر بيا = هم د عبدالرحمان بابا ډېر اشعار يې ضايع شوي او اوس هم د هغه! په ديوان کې ډېر اختلاف دی، ډېرې غزلې دي چې په موجوده ديوان کې نشته مگر د پښتنو په مجلسونو کې ويل کېږي.[1]

*مجنون په رحمان بابا پورې د تړل شوې فرضي معشقو نم دی چې عجب خان يې په آب و تاب بيانوي او يوه اوږده کيسه ورته توي، وگورئ: سوانح عمري ملا عبدالرحمان – د لاهور چاپ

* چشتيه طريقه

تر ده وړاندې ميجر راورټي هم نظر ورکړی و، چې رحمان بابا به چې شعرونه وويل، نو د هغو نقل به يې خپلو خاصو دوستانو ته واستاوه، د ده دوستانو به دغه د ځان سره راټولول او س اتل، خو د يو بل نه خبر نه و، هر آشنا به يې دا خيال کاوه چې د ده د مرگ نه پس به دغه يو ځايا کړيو د ده دوستانو همدغسې وکړه، د ده ځينې نمگړو دوستانو په دې غرض د رحمان په کلام کې خپل کلام گډ کړ چې دا معلومه شي، چې له دوی څخه د رحمان بابا د کلام ذخيره تر نورو زياته ده، کلام به د دوی و او کسر به يې د رحمان بابا وويلو، د دې نتيجه دا شوه چې د ده ديوان دوه دفترې يا حصې جوړې شوې، دا ټکي برگې په وخت معلومه شوه، ځکه چې د رحمان بابا ځينې دوستان لاژوندي وو او د هغه ويلي اشعار يې هم پېژندل، دوی ببرته چاڼ کړه او سوچه کلام يې پاتې شو خو بيا هم په ډېرو نسخو کې اختلاف موجود دی.. (۹۳)

د راورټي دا نظر هم تر ډېره حده په فولکلوري رواياتو ولاړ ښکاري او د کوم باوري سند له مخې نه غږېږي.

**د بابا ديوان په برخه کې بل روايت**

د رحمان بابا د ديوان راغونډولو په باب يوه بله رايه اروانښاد عبدالقادر دی چې د نورو رايو به نتيجه کې يې ورکړې ده. دی وايي چې: ((د استفراق په دور کې د رحمان بابا کلام د ده دوستانو جمع کړی دی او چې کوم وخت بيا رحمان بابا د دنيا ژوند ته په راگرځېدو مجبور شو او د ده کلام کې دولس او قوم په اخلاقو د رای زنې

[1]- سريزه :پروفيسور عبدالمجيد، سريزه - لاهور چاپ

کیفیت پیدا شوی دی.

نو شاید تا ته دا خیال پیدا شوی وي، چې راشه دا دیوان را غونډ کړه،

دا بعید از قیاس نه دی. دا هم ضروري نه ده چې شاعر چې څه وایي نو ګڼې تل دې هغه د ده د حافظې په کتاب کې موجود وي.

ډېر ځله شاعر ته خپل کلام نه وي یادولی، دوستانو شاګردانو یې یاد لرلی وي، کېدای شي چې د ترتیب په وخت کې هغه ټول خلک د ده د شاوخوا موجود نه وو او ځکه د ده ډېر غزلونه په ملکو کې خواره شوي، خو دیوان کې شامل شوي نه وي.

یو مستند نظر:

د درانه لیکوال په نظر ٣٦ کاله مخې خو زه وایم چې له نن څخه څو لسیزې دمخ لوی او نابغه استاد پوهاند عبدالحی حبیبي لیکلي وو: ((محققین مورخین دې خبرو ته اهمیت نه ورکوي.  د ده د دیوان وروسته ټولول ښیي او وایي چې رحمان خپل دیوان په خپل ژوند مرتب کړی دی. لیکن دا موجوده دیوان د رحمان بابا ټول شعارونه دي، ځکه چې د رحمان ډېر اشعار په دې دیوان کې نشته، مګر د پښتنو په خولو کې جاري وي.(١٩۴ مخ، پښتانه شعرا)

زما د علمي کار، پېښې او تحقیق له مخې چې راته څرګنده شوه، پخوانۍ او اونۍ چاپي او غیر چاپي اسناد، پاڼې دیوانونه او ګڼې لیکنې مې ولیدلې او ولوستلې، راته څرګنده شوه چې په زړو نسخو کې ځینې اشعار غزلونه او مخسمونه په تېره غزلون لړ راټول شوي یا له چاپه پاتې شوي چې بیا وروسته وروسته درنو لیکوالو، محققینو، استادانو، محقیقنو، استادانو، مخصینو، ارادتمندانو او آن محصلینو هم د بابا د اشعارو خورې ورې دانې راټولې کړې دي او ځای پر ځای کړې یې دي، لکه د مولانا عبدالقادر پخواني ١٣٣۵ کال کې د دیوان چاپاو په اوس کې د درانه او هڅاند څېړونکي او توامنده محقق پروفیسور حنف خلیل له خوا راټول شوي اشعار او دیوانونه د سړي تنده د حضرت عبدالرحمن بابا په اشعارو خړوبولی شي.

داسې هم شوي چې د ډېرې ارداې او لاشعوري مینې له امله چې ځینې خکل یې له بابا سره لري، په خدای بښلي یې ناروا پیرزوینه کړې او لږ ډېر بیتونه یې ور تپلي دیو لکه:

زه کمزوری نه یم چې به ډار کړم

له رحمانه مې په زور نصوار تر لاس کړ

دا چې د بابا اشعارو کې کله ناکله تصرف هم کو، یوه طبیعي خبره ده، زما نظر دا دی چې دا ټول خلک له بابا سره مینه او اخلاص لري، ځکه نو بیتونه به زیات او کم شوي وي، د تسلي لپاره دا بیت راوړم:

که زه تمه او توقع له بله نه کړم

د بل طمع، توقع کېږي له ما

د هېواد پیاوړی څېړونکی لوی استاد حبیب الله رفیع په دې برخه کې نظر لري او وایي:

((د دې نظر په ملاتړ کې موږ دوه ډوله ملاتړي شهادتونه لرو، یو په خپله هغه شهادتونه دي چې ځای په ځای د ده به خپل دیوان کې موندل کېږي.

او بل هم د هغه وخت د معاصرو موتونو شهادتونه دي.

موږ هم د هغه وخت  د معاصرو موتونو شهادتونه دي.

موږ د رحمان بابا په دیوانک ې داسې بیتونه مومو، چې نه یوازې دا ښیي، چې ده خپل دیوان په خپله ټوله کړې، بلکې دا هم څرګندوي چې ده له خپلو شعرونو سره ډېره مینه درلوده او په زیاته علاقه یې په غونډولو بوخت وو او د دیوان تر جوړېدلو مخکې د هغه بیاض پته راکوي چې ده به خپل شعرونه له ویلو سره سم پکې ثبتول:

هسې زیب کا په بیان د رحمان شعر

لکه زلفې د خوبانو په رخسار

د ده له خوا د خپلو شعرونو د لیکلو په برخه کې دا بیت مخې ته راځي:

د رحمان تر قلم مښک و عنبر اوري

چې آغاز یې کړه اشعارو د تورو زلفو

له خپلو شعرونو سره د ده مینه له دې بیتونو څخه ښکاري:

دُر ګوهر په تله نه دې چا تللې

د رحمان شعر ګوهر څه یې بولې

به غزل چې خو دوه بیته انتخاب وي

د رحمان تمام غزل دي، انتخاب

لکه زه چې سخندان او هنرمند یم

بل به نه وي سخندان او هنرمند

هم نغمې کاندي هم رقص کا

هم نغمې کاندي، هم رقص کا، هم خاندي

د رحمان په شعر تر کې د باګرام

او دا بیتونه خو یې د هغه وخت دي، چې دی د بشپړ دیوان خاوند وو:

یو کتاب په سربن کې چا ونه کړ

بې رحمانه چې یې جوړ کړو دا کتاب

د رحمان و سوزان شعر ته حیران یم

چې یې اور بل شوی نه دی په دیوان

درست دیوان د رحمان زار تر دا غزل شه

چې یې اور بل شوی نه دی په دیوان

زه رحمان په خپل اشعار ګوزار یم

چې دا هسې رنګ دیوان مې دی موندلی

د کتاب جوړول د درست دیوان او دیوان موندل خپله د دې خپله معنی لري چې ده عبدالرحمان بابا خپل دیوان موندل خپله د دې معنی لري چې ده عبدالرحمان بابا خپل دیوان په خپل کې ترتیب او جوړ کړی دی.

د رحمان بابا په ژوند د ده د دیوان د ترتیبېدلو په باره دلیل دا هم دی چې دی لا ژوند چې دیوان یې په ټولو پښتنو کې خور شوی و چې په ژوند کې یې د ده دیوان پېښور او د ختیځ افغانستان ټولې سیمې فتحه کړې وې او د ده په ژون د ده لقب بابا سره د افغانستان لویدځو سیمو ته آن تر کندهاره پوورې رسېدلی، خور شوی او منل شوی او ورسره ورسره یې د رحمان بابا د یوه لوی روحاني شخصیت په توګه خلکو ته ور پېژندلی وو همدا لامل و چې د رحمان بابا تر مړینې څو کاله وړاندې ملي مشر میرویس نیکه ده ته د ډېر عقیدت درلودلو له

مخې د ده په دیوان پال نیسي او په خپل لوی ملي اقدام کې د ده روحاني ملاتړ ترلاسه کوي او دی لومی ځل ورته وایي:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله گویا یم

خاموشي زما تېری کا تر غوغاره

کښت د عقش په توده ځمکه آسان چېرې

سمندرو بویه چې زیست کا په صحرا زما

خو بیا بل ځل داسې مشوره ورکوي:

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب و

خای و ماته ښکاره کړ هغه لمر بیا

چې رقیب راته تړلی په زنځیرو

خپل حبیب را باندې پرانیست هغه ور بیا

په وصال یې منت بار اوسه رحمانه

په صدف کې دخل نشته د گوهر بیا

او میرویس نکیه هم د رحمان بابا مشوره خلکو ابلاغوي او په خپل ملي غورځنگ په ۱۱۱۹ هـ ق کال کې پیل کوي.

په دې سربېره د وخت دود همداسې و چې شاعرانو به خپل دیوانهپه خپل ژوند ترتبول، مثلاً د خوشحال خان د دې خبرې ښه ثبوت دی. پټه خزانه عکسي نسخه دا چې هر شاعر به هڅه کوله، چې د ټولو تور پټې. په حپل دیوان کې ولري، په خپله د دې سند دی .

اکثرو شاعرانو خپل دیوانونه دا یې تر ردیفه رسولي. بیا یې سره ټول کړي، دیوان کړي یې دی او په خلکو کې خواره شوي د دیوان له ترتیب نه وروسته یې چې کوم غزلونه ویلي هغه بیا د ده یا نورو کسانو له خوا په خپل خپل ځای د دیوان په څنډو او یا هم د وروسته نسخو په متن کې ور زیات شوي دي.

کله چې د رحمان بابا په ژوند د ده دیوان د ترتیبدلو او راغونډېدلو په باب دومره کلک اسناد دلایل لرو، نو بیا په

دې کې هېڅ شک ځای نشي، پاتې کېدلای چې ده د خپل  دیوان په خپله نه وي ترتیب کړي.

نو ځکه په نتیجه کې ویلای شو، چې رحمان بابا خپل دیون په خپل ژوند ترتیب کړی دی.

دا چې ځينې غزلې او بیتونه يې کم او زیات دي او یا يې د دیوان د نسخو تر منځ توپیرونه دي،  د دې بیل بیل دي:

یو دا چې ښايي ځينې غزلونه له ده نه د تدوین په وخت کې هېر شوي وي او یا يې نقل په لاس کې نه و.

ځينې غزلونه يې ښايي تر تدوین وروسته ویلي وي.

همدارنګه ځينې شعرونه يې متعصینو د دیوان که نسخو څخه غورځولی وي، لکه د رقص، په ردیف غزل چې په یوازینۍ نسخه کې راپاتې ده او د نسخو تر منځ سره توپیرونه خو د خطاطانو او کاتبانو خاصه لورینه، چې د هر چا او تالیف په حق کې لري  او یوازې د رحمان بابا دیوان يې نمونه نه دي.

یو بله پوښتنه پاتې ده او هغه دا چې د رحمان بابا دیوان ولې په عنعنوي ډول په دوو دفترونو کې را پاتې دی؟

دلته یو اټکل داسې هم کېدای شي، چې ښايي په یوه دفتر کې د رحمان بابا د ژوند د لومړۍ برخې او په بل دفتر کې يې د ژوند د بلې برخې شعرونه تر دیف او تدوین شوې وي، نو که دا اټکل ومنو هم د لومړي دفتر شعرونه ده د ژوند د لومړۍ برخې نه دي، ځکه په دې دفتر کې د رحمان بابا هغه نظمونه شته، \چېدژوند له وروستۍ برخې سره يې اړه لري، لکه د اورنګزیب مرثیه او ګل او جمال خان کیسه، نو عجالتا د خپل اټکل مانۍ داسې و دا نولای شو، چې ښايي رحمان بابا د خپل ژون د لومړۍ برخې شعرونه په یوه دفتر کې سره ټول کړي او تردیف کړي او تر هغه وروسته شعرونه يې په خپل دفتر کې راغونډ کړي او تدوین کړي وي، څرنګه چې د دیومې برخې شعرونه يې په صمد، لعنت او د دنیا په بې وفايۍ پیلېږي، نو ځکه دویم دفتر لومړی دفتر وړاندې شوی دی او یو د بل ځای نیولی، چې و ومنله، نو باید دا هم ومنو چې په خلکو کې د ده په ژوند باید د ده دیوان دویم دفتر خور شوی وی او لوړی دفتر يې پیا وروسته خلکو ته رسېدلی وي.

خو کله چې هغو فالونه را ورسېږو چې میرویس نیکه فال پرې نیولی، د ده دیوان په موجوده لومړی دفتر کې دي او په همدې دفتر کې د ګل او جمال جان د پېښې نظم هم شته چې تر دې فال نیولی پنځه کاله وروسته په ۱۱۲۳ هـ ق کال ویل شوی دی، ځکه له دې بحث څخه هم نتیجه نه ترلاسه کېږي، نو د ده د دیوان دومره دفترونه جوړېدل تر اوسه پورې کوم تاریخي اصالت او روایت تر شانه لري.[۱]

[۱]- ماخذ: مکنزي، ډاکتر ۱۸۸۴. د برتاوي ټاپوګانو په کتابتون کې د پښتو قلمي نسخو کتلاک. لندن

ښاغلي کامل مومند د دوو دفترونو سره ګډونکی استاد عبدالروف بینوا بولي، خو دا کار ډېر پخوا شوی و او ما سره د رحمان بابا د دیوان یوه زړه قلمي او یوه زړه چاپي نسه شته چې له بده مرغه دواړه نیمګړي دي، او د لیکلو چاپ کال نه لري. دا دواړه د یوه دفتر په اساس دي، او پهیو ځلي تر دیف کړي دي، همداراز د بمبي د ۱۳۸۳ ع کال چاپ نسخه هم په یو دفتري ډول ده؟

اوس به راشو د قلمي نسخو ذکر به تر یوه بریده پورې وکړو، څو ددغه کار مخینه بای ګرونده معلوم کړو:

### ۵ – ۲ د عبدالرحمن بابا د دیوان قلمي نسخې

څرنګه چې عبدالرحمان بابا د پښتنو ملي شاعر دي، نو ځکه د ده دیوان ډېرې نسخې لیکلې شو او خورې شوی دي. پټه خزانه کاږي:

چې ظل الله پاشا ه جهان شاه حسین کاتبان واستول او له پېښوره یې د عبدالرحمان بابا عیله د دویان نقلونه راوړل او په قندهار کې علما د دوو کښل او اوس ډېر دي. فقر او د خدای دوستان د عبدالرحمان بابا شعرونه ډېر لولي او خوښوي او بې عامخلک فالونه پرې ګوري. حتی چې ښځمنې هم دا کتاب ډېر لولي او خدای تعالی د ده په وینا کې هسې برکت اېښي دي، چې د هر خوړمن زړه د اردو په کا او هر غریب او محتاج مستغني کا

دا روایت ښیي، چې له ډېره پخوا څخه د رحمان بابا د دیوان د خپرولو او ډېرښت لپاره کار پیل شوی و او پښتونخوا کې یې زیاتې نسخې خپرې شوې وي.

د میجر راورټي دا خبر چې په نظر کې ولرو چې ده د رحمان بابا دنیا د انتخاب په وخت کې له شپېتو نسخو څخه استفاده کړي. [1]

نو بیا د پښتو تر هر کتاب د ده د دیوان د نسخو شمېره ډېره ده آن چې دا خوند درویزه تر محزن الاسلام نه یې هم د ښځو نه یې هم د ښځو شمېره اوړي، خو په موجوده وخت کې د رحمان بابا دیوان د قلمي نسخو د شمېر له مخې تر مخزن السلام را وروسته دویم کتاب دی. او د هېواد نړۍ په بېلو بېلو سیمې او شخصي کتابونو کې یې نسخې شته، د پښتو خطي نسخو کې لاره کې زما لټون روان دی، خو تر اوسه ندیم بریالی شوی چې په ټوله نړۍ کې د پښتو خطي شمېره ترلاسه کړم. [2]

---

[1]- مولانا ۱۹۵۸. دوران مجله. ۱۳ – ۱۴ ګڼه

[2]- رفیع، حبیب الله، ووړمه، د پښتو قلمي نسخې، کابل: کابل پوهنتون، د نشراتو ریاست.

*اخوند درویزه

*مخزن الاسلام

په همدې توسن دلیل د رحمان بابا د دیوان د ټولو نسخو شمېره هم زما په لاس کې نشته، خو تر کومه ځایه یې چې یادښتونه راغونډ کړي د رحمان بابا د دیوان دا لاندې نسخې راته معلومې دي:

۱ – بریټښن موزیم: د سیند غلام محی علي په قلم ۱۳۴۰ پاڼې کال نه لري.

۲- د لینډ سیاناکتابتون: خطاط نه لري، ۱۳۳ پاڼې، تاریخچه

۳ – د هند د اداري کتابتون: خطاط میاصدر الدین.

۴ - بریټنښن موزیم خطاط میرزا محمد اسماعیل ۱٦۴۰ پاڼې ۱۲۷۷۰ ۱۸٦۱ ع کال لیک

۵ – برتیشن موزیم: خطاط غلام جیلاني پېښوری، ۱۳۹ پاڼې، د ۱۹۷۲ ع کال لیک.

٦ – د هند اداره: ۱۷۵ پاڼې، خطاط او د خطاطۍ کال نه لري.

۷ – برټیش موزیم، خطاط سراج الدین، ۱۱ پاڼې، ۱۳۷۱ هـ ق کال لیک.

۹ – بودایان: ( دیوان انتخاب) ۸۵ پاڼې، د ۱۹۰۰ ع کال، شاوخوا.

ب: د لیننګردا په آسیایي موزیم کې د رحمان بابا دیوان درې نسخې خوندي دي.

۱۰ – دا ۱۸۱۰ ع کال، لیک

۱۱ – دن ۱۸۳۰ ع کال

۱۲ – د ۱۸۳۷ ع کل لیک

ج: د هند په کتابونو کې ښایي د رحمان بابا د دیوان ډېرې نسخې وي، خو دا درې نسخې یې فهرست شوي دي.

۱۳ – د رامپور را لا پیرري، خطاط محمد شاه بلخي، ۱۲۱۹ کال لیک د ۴۷ پاڼې مصوره نسخه

۱۴ – د بنګال د ایشایي ټولنې کتابتون، شاه ثناءالله په قلم

۱۵ – د ډهلي د پوهنتون کتابتون: د حافظ عبیدالله په قلم

د: د پښتونستان په شخصي او رسمي کتابتونونو کې د رحمان بابا د دیوان ډېرې نسخې شته، خو له بده مرغه د ټولو فهرست یې لاس ته نه دی راغلی، یوازې دا لاندې نسخې یې راته معلومې دي\:

۱٦ - د پېښور د اسلامیه کالج کتابتون. (هیواد ورځپاڼه: ۴)

۱۷ – د پروفسیور ولي محمد خان سیال کاکړ، کتابتون، د ملا ولي په قلم ۹۰ پاڼې.

۱۸ – د سیال کاکړ د سیال کاکړ کتابتون، د ملا ولي په قلم، ۱۷۹ پاڼط. سایل کاکړ

هـ: په فرانسه کې د رحمان بابا د د دیوان دوو نسخو پته شته.

۱۹ – د فرانسې د گمپي موزیم ۱۲۰۹ ق کال لیک د ولي محمد قلم

د فرانسې د گیپ موزیم ۱۷۹۴ کال لیک

په ماریکا کې د یوې نسخې پته شته

پر نیشتن د پوهنتن کتابتون

د کابل د خطي نسخو کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان دا نسخې موجود دي،

د ملا ولي په قلم چې ۱۳۳۲ انځورونه هم لري، ۱۸۴ پاڼې.

په کشمیر کې د کال لیک  د ملا عبید الله په قلم ۱٦۰ پاڼې

بله نسخه ۱۱۹ پاڼې لري او له ځینو شعرونو سره یې دري ژباړه هم شته.

یوه نفسیه نسخه ده چې ۱۲۰ پاڼې لري.

ط: د هرات په موزیم کې

خو شخطه نسخه ده، چې ۱۸۲ پاڼې لري.

ی: د کابل پوهنتون به کتابتون کې هم د رحان بابا د دیوان د لاندې نسخه ساتله کېږي،

۳۰ د ملا ولي د زوی ملا کمال په لیک چې ۱۴۴ پاڼې لري، ک: د پښتو ټولنې په کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان ا لاندې نسخه ساتله کېږي:

د شا زمان د سلطنت پر مهال لیکل شوې نسخه ده، چې ۲۵۱ پاڼې لري، خطاط یې وجه الدیناو د خطاطی

کال بې ۱۲۳۰ هـ ق دی،

۳۳ – د سر او پای د واړو له خوا نیمگړې نسخه ده، چې ۱۳۱ پاڼې پکمې پاتې دي.

ل: د اروابناد محترم استاد پوهاند استاد عبدالشکور رشاد په کتابتون د رحمان بابا د دیوان نسخې شته چې یوه مهمه نسخه یې دا ده:

۳۵ – د ۱۳۴۵ هـ کال لیک ده او کامگار خټک د نامدار خان زوی د اشرف خان لمسی او د خوشحال خان خټک کړوسی یوه ټنوي په خپل قلم پرې کښلې او مفهر یې پرې لگلوی دی.[۱]

د ښاغلي عبدالقدوس نجیب په کتابتون کې یې داسې شته:

۲٦ – د ۱۲۷۹ هـ ق ک ال لیک چې ۱۳٦ پاڼې یې پلتې دي او د پای پانې نشته.

۳۷ – یوه نیمگړې نسخه ده، چې ۵۳ پاټڼې یې پاتې ي.

ن: د ښاغلي محمد حلیم سلیمي په کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان دوې نسخې خوندي دي.

۳۸ – خطاط یې انعام نومېږي، چې ۱۱۷٦ هـ ق کال په شاوخوا کې کښل شوې، د پای له خوا نیمگړی ده او ۷۲ پاڼې یې پاتې دي.

س: د ښاغلي سر محقق استاد زلمي هېوادمل په کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان لاندنۍ نسخې خوندي دي:

۴۰ – د ۱۲۱۳ هـ کال لیک چې ۱۴ پاڼې لري.

۴۱ – یه زړه تاریخي نسخه چې ۲۰۰ مخه لري.

۴۲ – د رحان بابا د شعرونو یوه انتخابي مجموعه چې ۱٦ پاڼې لري.

ع: د لیکونکي حبیب الله رفیع پهک تابتون کې د رحمان بابا د دیوان دا لاندې نسخې خوندي دي:

۴۳ – د ملا قمر الدین په خط لیکل شوې نسخه ده، چې د سر څو پاڼې یې لوېدلي دي او د پای یو مخ یې نشته، موجود دې پاڼې یې ۹۱ دي.

د استاد عبدالشکور رشاد یاداشت

---

[۱]- بلخي، محمد شاخطاط، ۱۲۹۰ کال لیک، رامپور لا پیریري.

د ښاغلي نجیب قلمي نسخې

د ښاغلي سلیمي صاحب نسخې

د ښاغلي هېوادمل صاحب قلمي نسخې

بله نسخه ده چې ځینې پاڼې یې ضایع شوي دي. دا نسخه په یوه دفتر کې ترتیب شوي، څو نوې غزلې هم لري اې پاتې پاڼې یې پاتې دي.

۴۵ – د دې نسخې ځینې پاڼې لوېدلیدی او ۹٦ پاڼې یې را پاتې دي.

۴٦ – د دې نسخې زیاتې پاڼې نیمه خوا ستوې او یوازې ۴۷ مخه ترې را پاتې دي.

۴۷ – دا یوه زړه نسخه ده، چې پنځوس پاڼې یې را پاتې دي.

۴۸ – د لما ښایسته خان جونګ مجموعه اې د رحمان بابا زیاتې غزلې پکې چاڼ شوې او خوندي دي.

له دې سره سره بیا هم دا پورتنۍ احصائیه یه ډېره لنډه ګنډه او نیمګړې احصائیه ده، ځکه د بابا ډېرې نورې نسخې هم شته چې مینه‌والو یې ساتلې دي.

**چاپي نسخې**: د چاپي نسخو ډېروالی د دیوان د چاپ لارې چارې زیاتې براروي، دا چاپي نسخې په وار وار د کتابونو بڼه پیدا کړې، لږ و بر دلته او هلته د پښتنو او غیر پښتنو له خوا په مختلفو وختونو کې چاپېږي او دا د چاپ لارې چارې لا زیاتې رابروي، دا چاپي نسخې په وار وار د کتابتونو پیدا کړې لو بر دلته او هلته د پښتنو او غیرپښتنو لخوا په مختلفو وختونو کې چاپېږي او دا د چاپ لړۍ به لا روانه وي.

د دې سریزې لیکوالت لیک: د دې دیوان تر ټولو زړه چاپي نسخه چې ما لیدلې ده، په ۱۲۸۰ هـ کال کې د بمبي چاپ نسخه ده چې په ښه فصاحت خپره شوې ده. آرینزی ۷٦

او تر ټولو ښه چاپي نسخه یې چې ډاکتر مکینزي او د رحمان بابا د کتاب یې مولف د رحمان بابا د دیوان لومړۍ چاپي نسخه ګڼلی شو، هغه نسخه ده چې مولوي احمد د تنګي د څو نسخو له مخې ترتیب کړې او به ۱۷۸۸ عک کال په لاهور کې پادوي هیوز چاپ کړې ده.[1]

د دې دیوان یوه بله وړه چاپي نسخه د حیدري مطبعې چاپ ده، چې د قاضي فتح محمد به اهتمام خپره شوې، په ۱۸۸۳ ع کال کې یو ځل په بمبي او دوه ځلې په ډیلي کې چاپ شوې او تر هغه وروسته یې چاپونه له

[1]- داکتر مکنزي ۱۲

شمېره اوړي. يه ډېره نفسيه نسخه يې چې په ښکلي خط ښکلې شوې، په ۱۳۲۸ ش کال پښتو ټولنې د استاد عبدالروف بينوا په زيار خپره کړه او يو بل انتقادي متن يې د پېښور پښتو اکاډيمي په ۱۹۳٦ ع کال د ارواښا مولانا عبدالقادر په سريزه خپور کړ او هم يې هم دې اکاډمي له منظومي اردو ترجمې سره يو متن خپور کړ. (بينوا – کتابښود)

چاپي انتخاب

د رحمان بابا د ديوان چاپي انتخاب د ده تر ټولو چاپي نسخو وړاندې دی، څکه لومړی ځل د ده غزلې آلماني ختيځ پوه ډرون په خپل ن(خريستوماتيا ) نومي کتاب کې چې د پښتو ادبياتو انتخابي مجموعه ده په ۱۸۴۷ ع کال په پيترزبوګ ک خپرې کړې دي، بيا د ده غزلې انګريزي ختيځ پوه مجر راورټي په ۱۸٦۰ ع کال خپل ګلشن روه نومی مجموعه کې نشر کړې ده او بيا پادري هيوز په کتاب افغاني کې د رحمان بابا ديوان غزلې انتخاب کړې چې يو چاپ يې په ۱۸۷۲ ع کال کې دی.

همداراز په حبش فيروزي ګلشن نورزوي بهار ګلشن او د قاضي مير احمد شاه رضواني په بهارستان د شکرستان کې هم د ده ديوان انتخابات شوي او په دې سريزه په ډېرو رواياتو مجموعه کې د رحمان بابا ملکوتي ويناوې اخيستلی شوې او خپرې شوې دي .[۱]

**رحمان بابا د پښتو شاعرانو او ليکوالو له زاويې**

د رحمان بابا له شعره بوی د معجزې ځي

مريد ژر کاندي له پيره برابر

عبدالله پوپلزی کندهار شاعر دی چې د رحمان بابا شعر معجزه ګڼي او وايي:

د رحمان له شعره بوی د معجزې ځي

مريد ژر کاندي له پيره برابر

د حضرت عبدالرحمان بابا شعر او شاعري د يوې شکر ګذاره، بافهمه، بانوره او مدبرې کورنۍ، با صحته هوسا، تن درسته او باهوشه ماشوم غوندې په ورو ورو تدبيره له منيې ډکې پېرزوينې او پوره حوصلې سره د ښځو خبره

[۱]- پښتو اکاډيمي، کتاب ښود

د خدای په ځانګړي رحم او کرم او پیروزینې سره موتې موتې را لوی شو ویې ژړل، ویې خندل، پورته شو ، ولویده، خاپوړې یې وکړې، ګوډ مات په لاره روان شو  مور کور خور ورور اکا ترور خاله توړی عمه دیوالونه د کوټې دستکونه در، دروازې، انګړ، ختین، ختېن دیوالونه بامبوټی د کور سارګاوې او... په وار وار ولیدل او په پای کې کلی، کور، خپلوان، دوستان، خپل او پردي او.. له نږدې او لرې ولیدل او له سترګو یې تېر کړل.

د کور، کلي، سیمې او منطقې کې له ماشومانو، همزولو د کورنۍ او سیمې له خلکو سره لاندې شو او د انساني روابطو یوه انتظامي رابطه یې جوړه کړه، ورسره ورسره روالویده له فردي فکري حالت سره یې پریکون کاوه، جفت سن و سال ٦٥ کلني ته ورسېده، فکر یې پروزاونو وزرونه پرانیستل او له نورو ماشونو ی امتیاز په دې کې و، چې د وجود بدن تر څنګ یې شعور له لاشعوري فطرته رابېلېده.

*شعور

*فطرت

*فکر

او د اروپوهنې د علم پر اساس له کورني او سیمه‌ییز ماحول څخه یې ښه انتباه درس واخیسته او د ژوند د دویمې لسیزې په لومړیو کې یې (ممکن دیارلس یا څوارلس کلني وي) د فکر و پوهې پلوشې شغلې وکړې، هر رومانیت یې د کورني او سیمه  ماحول اغېزو له امله غړوټې غوټی شو، ځلاند  شو او رڼا یې وکړه، ښکلا ښکلا شو، هرې خوا ته په پرواز شو، نو نورانیت یې رڼا او ښکلا ته یې زور ورکړ، د حسن و رڼا د ننداري بې بلبل  یې وزرونه وکړل، هر باغ و بڼ ته لاړه او په پرواز شو، نو او نورانیت یې رڼا او ښکلا ته یې زور ورکړ، د حسن و رڼا د ننداري بې بلبل یې وزرونه وکړل، هر باغ و بڼ ته لاړه او په پرواز شو د نورو د فکرو شعور د رنګینی او پالش ورکولو لپاره شاخ په شاخ والوت، یار و دلبر یې پیدا کړل او حصینو په منځ کې د زړه د ټکور ښکال او محبوبه ومونډله او د هغه حسن تعریف، توصیف او له هغه سره مینې کوول ته یې متې را ونغاړې او د چا خبره د هماغه د لخوا حسن (یار، محبوب، معشوق او بالاخره الله ج) سره له زبردست محبت او محبت کولو په یوه واریزه ډول او فریادونه پورته کړل او په ډانګ پېیلي ډول یې وویل:

ستا د حسن د تعریف له برکته

د رحمان د شعر کوکې په عالم دی

په دې ډول د بابا علیه الرحمه فکر بخش، نور خورونکی او ښکلا پنځوونکي شعرو نظم، ذهني او ژابنیو مرغلرو لا

برجستګي پیدا کړه، یو غږ یې غږونه شول، یوه مرغلره، دوه، درې، لس، شل، څلوېښت، پنځوس... اتیا، نوي او سل شوې وې.

د حضرت رحمان بابا په کلام کې لا له هماغه ابتدا الله ج په خپل الخبیر و العلیم والي، دومره زور و قوت او مزیت اچولی و، چې د شعر ویلو په ابتداء کې یې شل پوره کړي وو، نو هماغه  و، چې د حسن و ښکلا د زړه په سترګو وکتله او داسې استشارات اعلانونه یې پیل کړه.

د رحمان حسن د یار وینې په پرده کې

نه پټېږي، نور د شمعې په فانوس

او له دې سره سره الله رب العالمین الرحمان الرحیم په د بابا عالم په شعر کې د الهام او اخلاص زړې زرغون کړل او په پوره خلصو یې نورانیت وړانګې وړانګې شو او د هر مسکین او دردمن زړه تړاو یې له ټولنې سره تشریح او توضیح کړاو او هر ټپي زړه ته یې ټکوړر میوه ور واستوله. اجتماعي ژبپوهنه ا ثابتوي، دومره اغېژ د توري پستو، غذا، شربتونو او=... په هستۍ کې نشته، لکه د ښو پایدړو خړو

په اغېز   کې ځکه د بدې خبرې به برخه کې وایي:

د تورې زخم رغېږي، خو د خبرونه متل دی او فولکور  آن په خوی و خلق هم اغېزې ښندي، لکه: لا ښه خوی به دې سلطان کړي، بد خوی به دې په ځان پورې حیران کړي.

او دغه راز ښه خبره کیمیا ده، بده خبره زهر اغیار

عبدالرحمان بابا هم د ښې د افکارو پستې، نرمې او بلبل وارې ژبې د غرمت او ماهیت به برخه کې خپل ځان ته نصیحت کوي، خپل ذهن[ پالش کوي او بیا د ښکلو او خصینو او.. په لور ور خورېږي، داسې چې:

اې رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه

پس له هغه په صفت د ګل اندام شه

هماغه و چې له لږو مودو پس د رحمان بابا د بلبلو له ژبې سره د صفا، ښکلا او اخللاص ظرافتي مرغلرې لړوونه لړونه او امیلونه شول او د پښتنو زړونو، فکرونو، کورونو، حجرو، دیرو، مشاعرو، غونډو او... او حتی دربارونو ته منکر هم پرې اعتراض کولای نه شوای... ((دا د شعر دی رحمانه که اعجاز...)

کله چې د بابا د شعر د مشهورېدلو اوازې او دروازې شې لکه د پسرلي وریښمه هوا د ځمکې له تل څخه یې

کلام راووت، کورونو ته لاړه او د پسرلي تمام غیاره ماحول او معاشره جووړه کړه او له ټولو ښکلاوو، ساده‌ګۍ، صمیمیت، روح پالونکي، چې سره لاسونو کورونو او... بیا لاړ پرانیسته او دا ځل یې له مخکینو ښکلاوو، وزمینتوب او... سره سره د اخلاص او هنریت جامونه د معنویت او کلام درشل ته ورسلو، دا ځکه چې:

د رحمان کلام په دا سبب شرین دی

چې کلام یې کلام دی د اخلاص

له همدې امله ا له نورو لاملونو سره سره د رحمان بابا لاهوتي او ملکوتي کلام وپنځېده، خو ورشو او د ګڼو او ګورو ونو او ګلانو به څېر یې د بوهره هوساینې وزرونه وڅنډل او د زړونو او پر لار یې زړونو ته لارې ور ویستلې.

زه د ګلو له درشله، زړو ته لارې سیخومه

یمه ساه لد هوساینې پسرلي راویښومه

د حضرت عبدالرحمان بابا د دیوان چاپ و د شاعرانه شخصیت پېژندنه د نوموړي د کلام هر اړخیز اغېز ووو چې پر پښتني ماحول د اول وار او بیا پر نورو همجوارو ځیونو او اړخونو پرېوت او لکه د پوره سپوږمۍ بدر په دود یې د پښتننو عاشقانه او شاعرانه ماحول ننداره او پالایش وکړا او د مینو او علاقمنانو شاهانه ذهنیتونه او خیالات وتخنول او د نور ادب پر فراګیره غولي یې د استواره دیانت او ذوق د وفادارۍ نارې ووهلې.

منکران یې هم پر شاه و تمبول او د یو مظبوط حرکت وړانګې یې د سپېلي مرغانو په څېر په ټولو سیمو وښندلې.

د لومړي وار لپاره د بابا علیه الرحمه د شهرت او پېژاند تېر د پښتو ژبې د غمنیمت سالار او څښتن محمد هوتک علیه الرحمه وواهه او تریخ اوروسته له هغه د بابا نم، شهرت او نورانیت وړمې د فکل او اسمان له ستورو سره یو ځای شوي او شهره افاق او... شوي.

دا وخت او دا مهال د بابا روح الله د شخصیت او ادبي عزت او د ځلاندتوب انکار دښمنانانو هم نشوای کولای. بابا دا موضوع په پوره ادبي صلاحیت او سربلندۍ او هسکه غاړه او کاکه‌ګۍ ډانګ پېیلې توګه وکړه.

چې منکر پرې اعتراض کولای نشي

دا د شعر دی رحمانه، که اعجاز

داسې ښکاري چې دا وخت زموږ د پام وړ شاعر د شعر د شهرت انګازې او آوازې تر ډېره ډېره را او پوره پوره بریده

متفقين او لږ شمېر بې خبره معترض را پاڅولي وو. که د بابا د شعر د شهرت، ثقه توب او او محبوبيت پر راز و نياز څڼ ښه خبر وو، لازم ده، لومړی د (پټې خزانې) سره غوړونه ورکړو، بيا د نوموړي د وخت د شاعرانو له هغه را وروسته د ټولې پښتونخوا پښتو شاعرانو او بيا زموږ د زمانې د ليکوالو او شاعرانو د شعرونو راز و نياز هم وکړو، مشاعرې وپلټو، سيمينارونه، مکاتب، ښوونځي، مدرسې، ولسي پښتانه شاعران او اديبان، موسسې، درسي تعليمي او تحصيلي نصابونمه، اکاډمی، د لوړو زده‌کړو بنيادونه، پوهنتونونه، مونوگرافونه، د محصلينو سيمينارونه او دبابا د کلام پر ټولو حضوري، فکري، ادبي، هنري او ښکلاييزو پراخو خواوو درنې تحقيقي مقالې لږ و زياتې د ثبوت لپاره معرفي کړو، لومړی به پټه خزان (محمود هوتک بن داوود) د لومړي کليت په توگه معرفي کړو:

اول: پټه خزانه (د محمد هوتک بن داودم، لومړی چاپ)

کچه: ۲۴* ۱۳ هم، مخونه: ٦+ ۲۸۵ = ۲۹۱ د چاپ کال، ۱۳۲۳ خپروونکی: پښتو ټولنه، د چاپ ځای: د کابل عمومي مطبعه. د دغې خزانې د پيل حاشيې او تعلقی په باب لوی استاد علامه اروانباد پوهاند حبيبي دوه مخيزه مغ تمه سريزه راغلې ده، د دغه چاپ په (۴٦، ۴۷، ۴۸) مخونو کې زموږ د پام وړ شاعر په باب د لومړي ځل لپاره د خدای ببنلي عبدالرحمان بابا لنډه، کره، با معنی يان شوې، چې د هغه وخت پوهيار، ديندار، هوښيار، ځيرک او ليکنو او تذکور د پوهو با نزاکته استاد، ليکوال او د وخت د غوره، برجسته او ښه څېړونکي په گوته ځلېدلی دی.

غواړم دغه ليکنه په پوره حقداری سره دلته هو به هو را واخلم.

څو څرگنده شي، چې دغه حقدار، قلموال، تذکره ليکوونکي په پښتو پراخه ادب کې د لومړي گام\ او مقام محقق او ليکوال دی، چې نه يوازې د پښتنو د دري صفونو ل ده مخکې، د ده د دور او ښځو شاعران او ليکوال ټول ادبي فعاليتونه د ژون سناريو او ويديوگانې کې خوندي کړي، بلکې د اوسني کتاب ليکنې د اصولو له مخې يې په پښتو ادب کې د لومړي ځل لپاره يو ربښتينی ادبي – مدني انځور ويستلی چې د مدني ليکوالو او ټولنو به فکر او شعور يې د جندر مشاله هم پکې مراعات کړې ده.

په کتاب او کتابونو او بيا پښتو کتابونو کې دغه وياړ دا وار لپاهر د محمد هوتک بن داوود) په نصيب رسېدلی دی

**د کتاب کټ مټ متن:**

ذکر د محبوب سبحان عبدالرحمان عليه الرحمه

محمد رسول هوتک په خپل بیاض کې کښلي دي:

چې عبدالرحمان بابا په قوم مهمندو او په پېښور کې يې ژوندون کا، پلار يې عبدالستار نومېدی او په بهادر کلي کې ديره و. عبدالرحمان بابا په سنه ۱۰۴۲ هجري پيدا شو او له ملا محمد يوسف يو سف زي څخه يې لوست ۴۴ وکا او له هغه څخه يې فقه او تصوف زده کړل او بيا ولاړ کوهاټ ۱۲ ته ګهلته يې هم سبقونه ولوستل او ښه عالم سو په ځوانی يې دنيا پرېښودله، او اکثره په غرونو ګرځېدی او کله به ولاړ د هندوستان پرا خوا او د خدای عبادت به يې کاوه، د دنيا په کارونو به نه مشغول کېدی، عبدالرحمان بابا يو عالم رباني او عابد سړی و او ډېر شعرونه يې د خدای ج په محبت کې وويل او په پښتنو کې په رحمان بابا مشهور شو، په سنه ۱۱۱۸ هجري وفات شو، خلق يې تر اوسه د پېښور په هديره کې زيارتونه کا، او د ده شعرونه لولېږ

د رحمان بابا د بيتونو او غزلو ديوان شته او ډېر ډېر پيدا کېږي.

هسې وايي: فقير، محمد هوتک غفر الله ذنوبه چې ظل الله پادشاه جهان شاه حسين، اتبان او استول او له پېښوره يې د عبدالرحمان بابا عليه الرحمه د ديوان نقلونه راوړل او په کندهار کې علماوو او زهادو وکښل او اوس ډېر دی، فقر او خدای دوستان د عبدالرحمان بابا شعرونه ډېر لولي او خوښوي، او عام خلک فالونه برې ګوري. حتی چې ښځمنې دا کاب ر وايي او خدای تعای دد ده به ويناکې هسې برکت اېښی دی، چې د خوږ من زړه دارو به کا او هر غريب اومحتاج مستغني کا. زما پلار هسې نقل وکا، ې په قندهار کې دافضي ګرګين خان جور وستم، تر حد تېری وکا، او خکل د خدای هسې ځينې ۴۵ په غذاب شول، چې په مرګ خوښ شول، نو دوی په کوکران کې مغفور رحماني، حبرګزيده ضمداني حاجي مير خان هوتک ښالم خيل ته ولاړل، او له هغيې چاره د کار طلب کړل

او ټولو وويل: هر ډول چې دی وي هسې کړئ، هغه مغفور يوه ورځ تر ماښامه له نور پښتنو خانانو او مشرانو سره مصلحت وکا، او هسې يې تړون ووکا چې ظالمان مړه کړئ اوځانونه له جور ظلمه وژغورئ، په پای کې حاجي مير خان عليه الرحمه وويل: راشئ چې د عبدالرحمان بابا قدس سره هم وپوښتو، چې د ده ديوان يې خلاص کا، هسې شعرونه و:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله ګويا يم

خاموشي زما تېری کا تر غوغا زما

کښت د عشق په توده ځمکه امان چېږې

سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما

چې دغه بیتونه یې ولوستل، هغه مغفور حاجي، ولس ته وویل چې د ظالمانو کار تمام دی، اما اوس دسي خاموشي بهتره ده، ټوله به په پټه خوله دا کوښښ کړو چې ظالمان ورک کړي، چې مناسب وخت راشي، نو به زه پر تاسې ږغ وکړم، هغه وخت ټول تیار او ظالمان له وطنه وباسو.

نقل کا: چې په یوه میاشت وروسته، جنت مکان حاجي میرخان دوولس میران اوخانان را وبلل او په مانجه یې جرگه وکړله او ټولو په قران قسم وکا چې د گرگین خان ظالم له جوره څاونه خلاص کړي، پر دې وخت بیا حاجي ۴٦ میر خان مغفور له رحمان بابا څخه دا بیتونه ولوستل:

بیت

چې آسمان مخ پټ کړي په سحاب و

خدای و ماته ښکاره کړه هغه نمر بیا

چې رقیب رانه تړلی په زنځیر و

خپل حبیب راباندې پرانیست هغه و ربیا

په وصال یې منت بار اوسه رحمانه

په صدف کې د خپل نشته د گوهر بیا

نقل کا: چې د خدای په قدرت، دغه ورځ پر آسمان وریځ هم وه، چې حاجي میر مرحوم دا بیت ولوست، هغه گړۍ لمر ښکاره شو او وریځ یې له مخه هیسته (۱) شوه، خلکو هم دغه الهي مدد وگاڼه او بیا نو جنت مکان حاجي میر خان خکلو ته وویل: دا دی د خدای تعالی مهر او لطف هم زموږ ملگری دی، اوس نو وقت دی، چې تورې له تیکیو ۲ وکاږو او ځانونه له دښمنه وژغورو. هغه وو چې په ۲۹ ذالقعده الحرام سنه (۱۱۱۹) هجري ولس ټول شول او جنت مکان حاجي میر خان په مدد قندهار ته ورننوتل او دښمنان یې ټول مړه کړل، اوس نو کاتب الحروف غفرالله ذنوبه د عبدالرحمان بابا شعرونه را نقل کا:

غزل

زه دا هسې دیوانه او مجنون کړم؟

له رواجه، له روسومه بیرون چا کړم؟ (۴۷)

نه پوهېږم چې دا چارې په ما څوک کا

لېونی د خپل نګاه په افسون چا کړم؟

کومې سترګې، کوم باڼه، کومه غمزه ده

ډوب شهید غوندې په خاک او په خون چا کړم؟

توان توفیق خو د فتنو راڅخه نه و

په فتنو د تورو سترګو مفتون چا کړم؟

رحمان هېڅ له خپله ځانه خبر نه وم

دا هسې رنګ زبون او مخزون چا کړم؟[1]

پټه خزانه لومړی ماخذ دی چې لومړی ماخذ دی، چې د حضرت بابا په برخه کې موږ ته معلومات په لاس راکوي،

دغه معلومات د محمد رسول هوتک علیه الرحمه، له بیاض څخه راغلي. په بیاض کې پلار عبدالستار ذکر شوی دی، قوم یې مهمند، ځای، بهادر کلی خو ایي چې بهادر کلي کې دیره و، دا په دې معنا چې بل کره او سیده او دا ځای او دا کور د عبدالستار خان چې دده پلار و، نه و. بله خبره دا ده چې د پیدایښت کال یې **۱۰۴۲** هجري ښوولی دی چې دا ټکی هم اختلافي دی. استاد یې ملا محمد یوسف و او له هغه یې فقه او تصوف زده کړي ول. فقه د دین اصل او عرفان و تصوف له فقې پرته هېڅ اهمیت نه لري. چې عملي دینداري ده، دیندار عارف او متصوف باید ددین په لومړنیو اصولو (فقه) پوه شي، له دې معلومېږي، چې رحمان بابا متصوف هم و.

سفر یې کوهاټ ته کړی، هلته یې هم سبقونه ویلي دي او بیا لوی عالم شوی دی، له دې سره سره په ځوانۍ کې یې دنیا پرې ایښې ده، دا هم د تصوف یو اصل دی، یعنې سفر به کوي.

هندوستان ته هم تللی دی، د خدای ج په عبادت به مشغول و او د دنیا په کار و بار نه مشغولېده، بیا بیاض لیکي، عبدالرحمان بابا یو عالم رباني او عابد سړی و.

[1]- داودین محمد هوتک، **۱۲۳۳**م پټه خزانه د عبدالحی حبیبي سریزه، کابل پوهنتون، ادبیاتو پوهنځی

ډېر شعرونه يې د الله په مينه کې ويلي و.

د ده وفات په دې لومړني ماخذ کې ۱۱۱۸ هجري ښوول شوی چې دا هم په را وروسته کې اختلافي ټکی شو.

د نوموړي د زيات او ښه شهرت لامل د ده ملکوتي کلام شعر شو، لکه:

ستا د حسن د تعريف له برکته

د رحمان د شعر کوکې په عالم دي...

د بابا د ښخېدو ځای (هديره) پېښور کې ده، او اوس هم د ده زيارت ته ډېر خلک ورځي.

کتاب او ديوان يې هم ډېر ډېر پيدا کېږي. د عبدالرحمان بابا ديوان د نوموړي په ژوند له نيکه مرغه مرتب شوی و او دومره متبرک شو لکه د فارسي ژبې د مشهور شاعر حافظ شيرازي د حضرت عبدالرحمان بابا په ديوان هم د اول وار لپاره په کندهار کې عادل پښتون پاچا حاجي مير خان هم فال کتلی دی.

د نوموړي ديوان سره نه يوازې نارينه وو، بلکې ښځينه م مينه کړې، کلام کې نه يوازې د پښتنو کلی و کور ته دروازې پرانيستې، بلکې داخلو او بهرنيو تر غوږونو رسېدلی او خلکو ترې خوند او پوره پوره اغېز اخيستی دی.

علماوو او زاهدانو يې له کتاب سره مينه کړې، جووماتونو، کورونو، غونډو، مجلسونو، هديرو، پرېکړو، فيصلو کې لکه متل نه، مثالونه او.. کارېدلی او څو ادبي حلقې او ټولنې، غونډې، ښوونځي، انستيتونه، پوهنځي، پوهنتونونه او\ اکاډمی تحقيقي مرکزونه شته، د رحمان بابا کلام کې د تحقيقي او ذوق د ژوند او محافلو او... ادبي مالګه او مواد جوړوي، يعنې د ټول بشريت د فعال کلتوري او مدني ژوند سوچه او سپېڅلي کلمات او مضمونونه پکې شته چې پښتون بشريت سره د چا خبره د عمر تر پايه او فنا پورې و اوسي او ژوند وکړي.

د ده د پيدا کېدو کال په ۱۰۴۲ او وفات ۱۱۱۸ ښوول شوی دی، چې د باض (پټې خزانې په قول ټول عمر يې (۷٦ کاله کېږي، خو اختلافي قولونه يې د ژوند زيات ښيي او مخکې ليکنو ورته ځواب ويل شوی دی.

د وخت په تېرېدو راته ښکاره او جوته شوې چې عبدالرحمان بابا د وختونو، پېړيو او زمانو شاعر دی او څومره چې وختونه اوړي او را اوړي، رحمان بابا ورسره ځان او سر راپورته کوي او د هر وخت او مهال پر نبض برابر مواد له ځانه سره لېږدوي. له دورو بېرته پاتې نه دی او وخت پر وخت له زمانو سره سم د قوت او وقار اعلان کوي.

دويم: د حضرت عبدالرحمان بابا د ژوند او شعري کلام د کمال په برخه کې له پې خزانې را وروسته په انفرادي،، ډله‌ييزه توګه، دغه د سيمنارونو له خوا په پېښور، افغانستان او نوره دنيا کې ډېر ډېر څه وليکل شول

او دغه لړۍ لا شکر ده په زور او درز کې روانه هم ده. د دې کار يو علت دا دی چې عبدالرحمان بابا د بشريت، مسلمانانو او په تېره د شرقي انسانانو، مسلمانانو او پښتنو په اندروني قلبي او رواني مفهوم سپړنه کې پوره پوره تجربې کړې او د خدا  داده ملکوتي، هنري استعداد در لودلو له امله يې انسان د کل په توگه په ډېرو قوتونو، پېړيو کې پر ځه په پرزه له فکري او فطري پلوه را سپړلي او د وختونو په اوږدو کې يې نسلونو ته پيغام او مسيج پرېښی دی.

هغه څه پوښتې له هجره له وصاله

چې په خپله هم محب شي، هم محبوب

له دې نه لا وړاندې ځي، قوميت محدود گڼي او د عشق د لا يزاله بحر و بر فکري ملگرتيا کوي:

بې له عشقه که مې عيب که مې هنر دی

ما غوځ کړی دی له ځانه بل پيوند

زه عاشق يم، سرو کار مې دی له عشقه

نه خليل، نه داودزی يم، نه مهمند

که په زربين د بابا عليه الرحمه کلام ته متوجه شو، نوسرېتوب، زړه‌خوږی او انسانيت عالمگير تصوير  به پکې مشاهده کړې، بلکې:

که ښيښه د نام وننگ دې شي تر څنگه

د هر چا په کجروي به خپل ځيگر خورې

له څه کم پېړۍ را پدېخوا چې (ادبي – علمي – تحقيقي) مرکزونه جوړ شول، نو په هره ژبه کې او بيا په پښتو ژبه کې هم د الله ج احسان دی، د عبدالرحمان بابا په څېر سترو شاعرانو، ليکوالو، علم او دين پوهانو هر ډول (ذوقي، ادبي، سياسي او اجتماعي...) ډول ډول ليکنې، څېړنې، کره‌کتنې او پلټنې پيل شوې، نه يوازې د هماغه قوم خلکو، بلکې د نړۍ پراخه قومونو د مختلفو علومو، ژبو او... ليکوال او شاعران پوهان ور معرفي را معرفي شول، بلکې په نړۍ کې نن سبا گڼ علوم او خورا د پام وړ پوهنې، تجربې، بشري فکري او الهي معرفتونه ورسبدل او د نن ورځې بشريت خو اوس اوس په يوويشتمه پېړۍ کې له ډېرو سترو پراخو پوهونو ا علومو او افکارو گټه پورته کوي. او هغه د الله سوگند رښتيا‌ينه چې: (ن – و قلم و ما ستطرون...) لا روښانيزي ځلېږي او

د ښکلا او ترقۍ وزرونه پرانيزي، چې موږ يې شاهدان يو او له بلې خوا د الهي عظمت او بشري کرامت د خارق العاده فکري نواميسو پلوشو ننداري ته کېنو.

بايد ووايو، چې د عبدالرحمان بابا د شخصيت، ژبې او فکري متانت، ښکلا هم د علمي او تحقيقي مرکزونو له جوړېدو سره لا وغځېده او وځلېده، د بابا عليه الرحمه شناخت او معرفت يوازې په پټه خزانه، پورې محدود د پامانې نه شو، بلکې وغوړېده، او د لا سمسورتيا وزرونه پرانيزي. ان‌شاءالله

زه به هڅه او کوښښ وکړم په لره او بره پښتونخوا کې پر بابا عليه الرحمه د جوړ شويو سيمينارونو، غونډوو، کنفرانسونو، يو څه رڼا واچوم او ځينې معلومات هو به هو هم را واخلم .

د رحمان بابا دوه سوه اتيايم تلين (۱۳۲۸ – ۱۴۰۸ هـ ق)

د عبدالرحمان بابا مومند ياد د مقالو مجموعه، تهيه او تدوين د زلمي هېوادمل، د کابل پوهنتون د ۱۳۶۹ کال د ژبو او دبياتو پوهنځي خبرونه دلته تر ډېره بريده را خوندي کړم:

د پښتو ژبې او ادب ستر حقدار استاد سرمحقق زلمي هېوادمل د حضرت عبدالرحمان مومند د ژوند اړوند څو غوره ليکنې لري چې راوړل يې دلته ډېر اړين او ضروري دي:

((عبدالرحمان مومند د پښتو ژبې له وتلو شاعرانو څخه دی، چې د وختونو په اوږدو کې له نورو پخوانيو شاعرانو څخه د درنښت وړ دی او خوار زيات مينه‌وال لري، پر ليکوالو پوهانو برسېره په پښتونخوا او افغانستان کې د ديني عالمانو او عوامو خلکو د پام وړ دی او نوموړی د ټولو شاعرانو سر حلقه بولي، لکه چې د ۱۳۹۲ هـ ش کال متوفی بيسواد شاعرۍ نور ويلي وو: ((په باب افغانيه کې سر حلقه تير شو رحمان همدارنګه د عبدالرحمان د مومند د دفتر شاه فردونه (ژبو د متلونو په څير د خلکو په منځ کې د کار وړ دی، د پښتو ژبې ادب پوهانو په هغه وخت او را وروسته کې له رحمان بابا په نيکۍ يادونه کړې ده، لکه څنګه چې هغه يې د سلطان الشعرا د بلبل او لسان الغيب په توګه ياد کړی دی او پادري هيوز ويلي وو، هلته چې د پښتو ژبې شاعران شته، هلته د پښتو خوږ ژبي شاعر عبدالرحمان بابا کلام هم رواج لري او اورېدل کېږي.

نوموړی زياتوي له دومره شهوت سره سره د دې شاعر د پېژندنې لپاره څه اړتيا ليدل کېږي؟

د نوموړي له دومره شهرتاو مقبوليت سره د نوموړي د ژوند او هنري – ادبي څېرې درست تصوير نه دی ويستل شوی. دده په برخه کې له ډېرو ليکنو سره سره ټول ټال او تمام عياره ژوند ليک په لاس کې نشته.

بايد لومړنی ماخذونه چې زموږ په هيواد، بهر او پښتونخو کې کښل شوي را واخلو:

تر ټولو قديمي تذکره چې د عبدالرحمان بابا په برخه کې مهم نسبي، د بسنې او ارزښت وړ معلومات په لاس راکوي، د پټې خزانې په نامه د محمد هوتک تذکره ده. دغه تذکره د ۱۱۴۱ – ۱۱۴۲ کلونو ترمنځ لیکل شوې ده.

پټه خزانه د رحمان بابا د ژوند لیک په برخه کې ګټور او د ارزښت وړ معلومات په لاس راکوي، خو د یادولو وړ خبره دا ده چې دا تذکره د رحمان بابا د وفات کال په هندسي عدد (۱۱۱۷ هـ ق) کال ښيي، چې غلط ښکاري، ځکه د نوموړي په دیوان کې د (۱۱۲۳هـ ق) ځینې پېښې نه دي راغلې.

د رحمان بابا د مړینې د کال ستونزه فاضل استاد پوهاند اکاډمیسن عبدالشکور رشاد حل کړې ده، استاد د یونس خیبري هغه مرثیه* چې د رحمان پر مرګ ویلې، پیدا کړې او ښودلې یې ده، چې رحمان بابا په ۱۱۲۸ هـ ق کال وفات شوی دی، خو دغه غلطي په هندسي عددونو کې پټه خزانه راغلې چې د تذکره لیکنې په کار کې د کاتب له وارخطايي ترسره شوې ده او هغه باید قلم تېروتنه (سهو القلم) ومونوو، نه سهو الفکر.

ویلای شو، همدا یوه تېروتنه شته، نور نو د پټې خزانې لیکنه په دغه برخه کې د پوره پاملرنې وړ ده او موږ کولای شو، ور باندې حساب وکړو. د دې لپاره چې پټه خزانه د لومړي ځل لپاره په ۱۳۱۲ ه ق کال خپره شوه، له همدې امله د دغې تذکرې له خپرولو دمخه د پښتو په نورو تذکرو کې دغه یادونه شوې ده او موږ به دې لړ کې له دوه ډوله لیکنو سره مخامخ کېږو، یو د پټې خزانې د خپرېد دمخه او بل ترې را وورسته.

*مرثیه

*سهو القلم

*سهوه الفکر

سرمحقق استاد هېوادمل د رحمان بابا په برخه کې هغه څېړنې او تاریخي او ادبي لیکنې چې شوې دي، په لاندې ډول دي:

د پښتو اشعارو او د سبکوونو تاریخچه، لومړی ټوک پښتانه شعرا، تذکره الشعرا، ، تذکره الشعرا، د پښتو ادب تاریخ روهي ادب، پښتو غزل، ادبي څېړنې، تعلیق کلید افغاني، پر ګلشن روه، سریزه، د سرحد مشاهیر په دې ډول ویلای شو چې د پښتو ادبیاتو تاریخ داسې آثار، به مکاتبو کې درسي مواد ا د بابا په برخه کې یادونې او ډېر شمېر لیکنې شته چې د ټولو ستونزور کار دی.

زه په دې برخه کې د درې آثارو استاد هېوادمل زیاتوي، نوم اخلم:

د ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګې څلورم ټولګي د ادبیاتو تاریخ، چې د استاد رښتین دی، یو ځل بیا د دریېم ټولګي لپاره د پښتو ادبیاتو تاریخ د عبدالحی حبیبي.

همدارنګه د پښتو ادبیاتو تاریخ د پوهاند دوکتو  زیور الدین زیور.

له بلې خوا د رحمان بابا دیوان ډول ډول چاپونو کې په سریزوک ې ډېرې لیکنې او څېړنې د هغو له جملې د اروانباد پروفیسور عبدالمجید (۱۰۷۲ – ۱۹۴۷) د خدای بښلي مولانا عبدالقادر ۱۱۰۵ – ۱۹٦۹ او اورواشاد استاد عبدالروف بینوا (۱۲۹۲ – ۱۳۹۳ ع د لوی عالم حبیب الله رفیع، سید رسول رسا او پوهاند دوکتور مجاور اجمد زیار له لیکنو او څېړنو څخه یادونه وکړو..

سربېره پر پورته لیکنو او څېړنو د رحمان بابا د ژوند، اثارو او افکارو په اړوند، م ستقل کتابونه او مستقلې رسالې هم د ده په باره کې لیکل شوي دي.

چې د ټولو په سر کې د درانه لیکوال او استاد د اروانباد کامل مومند (۱۹۱۵ – ۱۹۸۱ع۹ یادولای شو.

استاد کامل د رحمان بابا په نامه یو غنیمت اثر تالیف کړ او یوه بله رساله یې د اروانباد ادب عقاب خټک (۱۹۱۰ – ۱۹۸۵) په ځواب کې ولیکله چې د لار مجلې په یوه ګڼه کې خپره شوې ده.

استاد کامل په ۱۹۵۹ ع یو بل کتاب پېښور کې چاپ کړ.

میر عبدالصمد خان د انسانیت شاعر رحمان بابا  په نامه په اردو ژبه ولیکله د قبالیو د نشر او شاعت د محکمې له خوا د رحمان بابا کوچنی کتاب ولیکه او په پېښور کښ خپور شوي دي. د دې کتاب معلوم نه دی دوه نورې رسالې هم د رحمان بابا په برخه کې چاپ شوي دي. د رحمان باباد طنزیه شاعری په نامه په ۱۹۸۳ ع کال پروفیسور افضل رضا ولیکه

ښاغلي استاد مل زیاتوي: یو بل کتاب ما ته رسېدلی دی چې ډېر پنډ دی او ۴٦۵ مخه دی، دا کتاب پروفیسور داورخان لیکلی او په پېښور کې یې چاپ او خپور کړی دی. د رحمان پېژندنې اړوند زمو د ځوان لیکوال آصف صمیم دی، فهرست لري او په پېښور کې چاپ شوی دی.

د استاد آصف صمیم مکمل نوم د رحمان بابا د دیوان نوم ښود او په ۱۹٦۸ ع کال د رحمان  ادبي جرګه له خوا چاپ شوی دی.

يو بل کتاب د عارف رحمان په نامه کتاب دی چې نه ۹ برخې لري، او مولف یې فهم دل راهي وي، وګورئ[1]:
باید ووایو چې په را وروسته پنځوسو او یا نوي کلونو په اوږدو کې د رحمان بابا په برخه کې ډېرې لیکنې څېړنې کړې دي، چې د ځینو دیوانونو لنډه معرفي ضروري ګڼم:

الف، پښتونخوا او... ځایونو کې خپاره شوي آثار لنډ جامع داسې معرفي کوو:

مولانا عبدالقادر – دیوان – ډائرکټر پښتو اکاډمي، چې دا د نوي چاپ مقدمه یې ور باندې لیکلې ده، پېښور یونیورسټي ۳۰ جون کال ۱۹۶۳ ع یوه ډېره مغتمه سریزه مولانا عبدالقادر مرحوم ورباندط لیکلې ده، د بابا ۱۳۲۸ – ۱۴۰۸ هـ ق د عبدالرحمان بابا مومند یاد د عبدالرحمان مومند یاد د رحمان بابا د دوه سوه اتیایم تلین په مناسبت د مقالو مجموعه، کابل: کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی.

دیوان یې په (دوو دفترونو کې راټول کړی دی.

رحمان بابا کامل مومند، له خوا او په ۱۹۵۸ ع کال د اداره شاعت له سرحد پېښور له خوا ترتیب او تنظیم شوی دی، په دغه دیوان کې ده د بابا د دیوان تاریخي، علمی او ادبي جاج په پوره اندازه کې اخیستل شوی دی، چې لومړی ځل په ۱۹۵۸ ع خو وروسته په ۱۳۷۷ هـ کال د اداره اشاعت سرحد پېښاور پاکستان له خوا چاپ او خپور شوی دی.

همدارنګه د عبدالرحمان بابا د زیږېدو او مړینې په باب یې له پټې خزانې سره غیر موافقت هم اعلان کړی چې په مخکې لیکنو کې مې د بابا د پیدا کېدو او مړینې توپیري کلونه هم معرفي کړي دي.

مظلوم رحمان، ۱۰۴۲ هـ ۱۱۱۸ هـ پورې نایاب کتاب دی، مولف ب الحافظ شریف احمد حنفي افغاني چې د رحمان بابا د دربار د جومات امام و، دا کتاب په ۱۹۹۵ کال د اپریل په میاشت کې په هزارخانی پېښور کې چاپ شوی دی. د راز عمر مې حاصل شه له راستۍ نه

لکه سر و مدا ښنه او تازه پایم

د حضرت عبدالرحمان بابا دوهم نیو دیوان، غریزه په کتب خانه پېښرور.

د دغه کتاب د چاپ کال نه دی معلوم.

رحمان او قران، شیرشاه تر خوی مرحوم لیکلی، د چاپ کال ۲۴ جون (۲۰۰۰ع) خورووکی موسسه میاشتنۍ

[1]- هېوادمل، زلمی

ښکلا، پېښور، چاپ ځای، وحدت پرنټرز خیبر بازار، پېښور.

پښتون، لسان الغیب رحمان بابا، مولفین، پروفیسور محسن اجان او محمد جاوید پېښور پښتو اکاډمي، پېښور یونیورسټي، د ډاکتر راج ولي شاه خلیل خټک ایډټ په دغه تحقیقي اثر کې اردو مقالې هم راغلې دي.

رحمان بابا ریویو ۲۰۱٦ ع سد ګیاني ایډیټ کړی دی. مجله ده (درې میاشتنۍ) ډول ډول تحقیقي مطالب لري.

رحمان بابا (یوه فکري مطالعه) سلیم راز، پېښور، یونیورسټي.

افغان مارکیټ، قصه خواني، خیبر پښتونخوا (۲۰۱۳ کال تحقیقي او څېړنییز کتاب دی.

شاعر انسانیت رحمان بابا، میر عبدالصمد خان درې ځله چاپ شوی دی، البته په ۱۹٦۴، ۱۹۷۴ پېښور. په دغه اثر کې کابو ۱۰ مقالې د بابا د فکر او شعر، عقیدې او باورونو په باره کې راغلي دي. د بابا علیه الرحمه پښتو بیتونه په اردو تحلیل او څېړل شوي دي.

د عبدالرحمان بابا دیوان، مقدمه، ترتیب، سریزه، دیباچه، میان سید رسول رسا، پېښور، خیبر بازار یونیورسټي بک ایجنسي.

کال یې معلوم نه دی. سید رسول رسا په دغه مرتب کړي دیوان پیاوړې سره هم لیکلې ده.

رحمان بابا له نویو زیاتونو سره، تاریخي، علمي او ادبي جاج، ترتیب او تدوین، محمد زبیر حسرت، د ۱۳۸۴ کال، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، لیکوال، دوست محمد خان کامل مومند.

دغه کتاب کې په رحمان بابا د بېلابېلو موضوعاتو کامل مومند لیکنې څېړنې او نقدونه کړي دي، په حقیقت کې په بابا علیه الرحمه د نویو نظریو وړاندوینه ده.

رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه، پېښور: خیبر بازار یونورسټي بک ایجنسي، د چاپ کال (۲۰۰ – ۲۰۰۵ ع کلونه د چاپ ځای وحدت پرنټرز پېښور.

رحمان پوهنه پیاوړې مجله ده چې په هغه کې هر ډول عملي، فني، اجتماعي، تنقیدي، ادبي، تصوفي، عرفاني او د بابا علیه الرحمه په شعر، ژوند او افکارو هر وخت په منظم ډول لیکنې کېږي، د چاپ توفیق پیدا کوي او خلکو ته وړاندې کېږي.

د رحمان بابا فکري مکتب، پروفیسور ډاکتر محمد زبیر حسرت، پښتونخوا، مطالعاتي مرکز، پاچاخان پوهنتون

چارسده، پېښور: خیبر بازار یونیورسټي، بک اینجنسي، پښتو اکاډمي کتاب پلورنځی. ۲۰۱۳ ع دا ښکلی کتاب کې د حضرت عبدالرحمان بابا د ۲۶ شاګردانو او فکري مکتب پیروانو او پلویانو معرفي شوې ده او دا ښوول شوې چې نومومړی د بابا علیه الرحمه په پلنو پل ایښی دی.

پښتو ادب، لیکونکی، عبدالحلیم اثر سالارزی، ۱۳۷۰ هـ ق کال خورونکی موسسه، اداره اشاعت سرحد، قصه خواني، بازار پېښور. دغه کتاب کې په مجموعي ول پښتو ادب معرفي شوی دی. له فولکلوره نیولې تر تحریري ادب، یعنې درې برخې لري، کابو ادب تاریخ ته ورته موضوعات پکې تر طرحه وي دي. د ټول پښتو ادب څېړه ورکې ښکاري.

د رحمان بابا مطالعه، داکتر حنیف خلیل، پېښور، قصه خواني یونیورسټي پبلشرز ۲۰۱٦، اول، دویم، درېیم چاپونه (۲۰۱۱ – ۲۰۱۷ کلونه. دغه کتاب کې د ډاکتر حنیف خلیل ګڼې مقالې د بابا د قلم په برخه کې راټولې شوې دي، چې تقریباً او هراړخیزې مقالې دي.

رحمان بابا او انبیاء کرام ایاز الله ترکزی، اول او دویم وار چاپ ۲۰۱۸ – ۲۰۱۹ د چاپ ځای، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، یونیورسټي، بک ایجنسي، خیبر بازار پېښور، پښتو اکاډمي. دغه کتاب کې د انبیاوو د پیدایښت لړۍ تر پیغمبر ص حضرت محمد ص راغلې ده.

د پښتو ژبې او ادب تاریخ مولف ډاکتر حنیف خلیل، پېښور، افغان مارکیت، قصه خواني. ۲۰۱٦ ع کال. ادبي او ژبني کتاب دی او خلیل صاحب په نوي ډول د کورسونو لپاره درسوار مضمونونه له ترتیب سره سم وړاندې کړي، د پښتو ژبې او په تېره ادب د منځنۍ دورې جزیاتي تاریخ دی او خورا نوي نوي موضوعات له وزمینو اضافاتو سره پکې راغلي او خوندي شوي دي.  پوره پوره معلوماتي، تحقیقي او ادبي مواد لري.

غرګه، رحمان نمبر، رحمان ادبي جرګه، پېښور کال ۱۴۰۵ هـ مطابق ۱۹۸۵ ع یونیورسټي بک ایجنسي رحمان ادبي جرګه، پېښور. غړګه ادبي مجله ده، چې منظم فهرست لري او په دې مجله کې ډول دول مضمونونه د بېلابېلو لیکوال، څېړونو له خوا د رحمان بابا په ژوند، شعر، هنرو، فکر وفن او... وړاندې شوي دي او په دې مجله کې د ۱۳ لیکوالو ۱۳ مقالې چې مضمونونه لري، راغلي، د رحمان په شعر... د حضرت عبدالرحمان بابا د شاعرۍ څو اړخونه پروفیسور ډاکتر راولي شاه خټک، پښتو اکاډمي، پېښور، یونیورسټي، ۲۰۰۱ کال، یونیورسټی، پښتو اکاډمي، د پښتو اکاډمي د مطبوعاتو سلسله نمبر ۵۴۷ په دغه کتاب کې لیکوال نه یوازې په رحمان بابا او د هغه په شعر، فن هر اړخیزې خبرې او څېړنې مینه‌والو ته وړاندې کړې، بلکې عمومي موضوعات لکه، تصوف فصاحت او بلاغت شعر او د شعر بېلابېل اړخونه څېړلي او معرفي کړي دي.

رحمان بابا (د ولس شاعر) محمد اعظم اعظم، پېښاور، خیبر بازار، عظیم پبلشنگ هاوس، اسلامیه کالج، کال يې معلوم نه دی، کتاب دی، په دغه کوچني کتاب کې د رحمان بابا د شاعرۍ په عمومي مضمون او همدارنګه د فارسي ژبې حضرت حافظ او په خپله د بابا علیه الرحمه د ځینو بیتونو د مضمونو د نږدیوالي په کیفي ښکلا لنډې، خو پر معنا لیکنې شوي دي.

د رحمان بابا اعجاز، حنیف خلیل، اداره علم و فن پاکستان ۱۹۹۷ع دغه کوچنی پر معنا تحقیقي کتاب د ارواښاد سید محمد تقویم الحق کاکاخیل په سریزه ښکلی شوی دی. په دې کتاب کې لس مقالې راغلې دي، چې بېلابېل اجتماعي مطالبو چې د عبدالرحمان مومند له فکره عکاسي شوي، دلته راغلي دي.

مضمون نګاري، ډاکتر محمد حنف خلیل، پېښور، یونیورسټي، ایم ای سریز ایم ای پښتو دویم کال لسمه پرخه (نوی کورس) ۲۰۱٦ ع کال قصه خواني چاپ په دې کتاب کې (ولسي ادب، مضمون نګاري، فصاحت او بلاغت باندې کار شوی دی. په دغه کتاب کې له خوشحال خان خټک نه رانیولې بیا تر علي خان خټک پورې شاعرانو په شخصي او فني ژوندانه لیکنې شوي دي، ډېر ځله ادب تاریخ ته ورته دي، او رحمان بابا له خوشحال وروسته په ډېر ښه او معیاري مضمون سره موږ ته راپېژني.

*فصاحت او بلاغت: د لفظ او معنا ترمنځ تناسب ته وايي، لکه: کول، کرن، د فزیکي شتون یا لفظ یا توافق له کاکر روزګار چلول او...

په دې کتاب کې (نولسو) مختلفو موضوعاتو باندې نوې نوې مقالې وړاندې شوې دي، چې په لوستلو یې تنده ماتېږي او له شک پرته معلومات پوره اضافه کېږي.

د رحمان بابا مطالعه، پروفیسور حنیف خلیل (ایم ای پښتو اول کال، څلورمه پرچه نوی کورس، ۲۰۰۵، پېښور، یونیورسیټي. کتاب دی، ادبتاریخ ته ورته دی؛ خو په دې کتاب کې یوازې د حضرت عبدالرحمان بابا په برخه کې ټولټال (دولس) تحقیقي، ادبي او پر بابا علیه الرحمه ډېرې فني مقالې لیکل شوې او تر ډېره بریده دغه کتاب تدریسي هویت لري. دغه لیکنې له شک پرته نوي نوي مطالب او مضمونونه لري، چې له پوره حلاوت (تازګۍ) ډکې دي.

**مجلې**

۱ـ قند. مردان، غزل نمبر، د (۱۹۵۹ع) د جولای او اګست میاشتې

۲ـ میاشتنۍ، اسلم، پېښور، د (۱۹۵۰ع) کال اپریل، مې

۳ـ میاشتنۍ، اسلم. پېښور، د (۱۹۵۱ع) کال جون

۴ـ میاشتې، اسلم، پېښور، ۱۹۵۲ ع کال جون

۵ – میاشتنی، رحمان بابا نمبر، د ۱۹۷۱ م کال مې

٦ – میاشتني، رحمان نمبر بابا نمبر، کال د مارچ او ابریل.

د رحمان بابا کلیات، سریزه، یاداښتونه او ویبپانګه، دوکتور محمد حنیف خلیل، لومړی چاپ، ۱۳۸۴ هـ ش، ۲۰۰۵ ع کل.

پېښور، د دانش خپرندویه ټولنه. په اخباري کاغذ کې چاپ شوی دی.

ټول ۴۱۲ غزلونه پکې راغلي، فارسی، اردو او مخمس ضمیه هم پکې خوندي شوې ده، تر ټولو ښه خبره دا ده چې حنیف خلیل یوه ابتکاري سریزه وربانې لیکلې ده.

رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه، پېښور، ۱۹۹۳ ع کال، نیو شهزاد پرنټز، محله جنګي با بو حیدر رود. په دې علمي مجموعه (مجله) کې ۲۷ مختلفې مقالې د بېلابېلو لیکوالو له خوا پر حضرت عبدالرحمان بابا باندې پیرزو شوې دي، راغلې.

د رحمان بابا کلیات، تحقیق، ترتیب او سمونه، دوست محمد خان کامل مومند اوقلندر مومند، موجوده چاپ ۲۰۱۸ ع کال، پېښور،

یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار، نوي چاپ او ډیزان دی.

د رحمان بابا کلیات، شرحه او فرهنګ، اسیر منګل، نوی چاپ، ۲۰۱٦ ع کال، ترتیب له الف ترې پورې دی، دغه کال تفسیري بڼه لري. د بابا علیه الرحمه شعرونه، ښاغلي اسیر منګل په انتخابي ول یو یو بیت یا دووه دوه را اخیستي دي او څه ناڅه تشریح یې کړې ده. ویلا شو چې له نورو مرتب شویو دیوانونو څخه یې توپیري بڼه لري.

د عبدالرحمان بابا مکمل دیوان، سریزه، پروفیسور محمد افضل رضا زیب آرټ محله جنګي، پېښور ۲۰۰۴ ع کال په دې دیوان کې د رحمان بابا د ژوند مختصر حالاتو په شمول ډېر ډېر نوي، دقیق او پرله پسې ډول مختلف موضوعات را سپړل شوي او بیان شوي دي.

د عبدالرحمان دیوان، ترتیب، تدوین او څېړنه پروفیسور محمدالله خلیل او نمیروز قیس، ۲۰۱۷ع کال پښتو

اکاډمی، بلوچستان، کویټه د دغه دیوان په ډېره او عالي ډول چاپ شوې له الف تر ط پورې فهرست لري. غزلونو یو یو بیت راوړل شوی دی. دغه دیوان په نوي ډیزان چاپ شوی دی او خورا ګڼ پښتنو ته څوابونه پکې ویل شوي دي.

**ب – په افغانستان کې خپاره شوي دیوانونه، ادب تاریخونه، تعلیمي او تحیصلي نصابونه، مقالې او مختلفې څېړنې:**

اوسنی افغانستان، پخوانی د اصلي آریانا او خراسان د لرغونو فرهنګونو او زرینو تمدنونو علم بردار او تعلمیلونکي پاتې شوی هېواد دیړ

د زرینو، لرغونو او بومي روایتونو له مخې اوسنی افغانستان د ګڼو فرهنګونو او پاتمړو پنځه زره کلتور او تمدنونو زانګو ده.

د آره، آره – یوم، پر غاړه

کلتور، کلچر، فرهنګ او هڅوب هغه مادي او معنوي شتمني ده چې د انسان له ژوند سره ملګرې وي، پخوا به کلتور یا فرهنګ ډېره په مادي اړخون راچولیدهو خو اوس اوس فرهنګ ډېر په معنوي هستۍ او شتمنۍ تمرکز کوي.

کلتور، د انسان د ژوند له پیله بیاتر پایه له انسان سره ملګری دی، خو تمدن د انسان په لاس په مصنوعي توګه جوړه سشوې سناریو او پرمختګ دی، چې اصیل او بومي بیخ نه لري. دا بیل بحث دی، اوس اصلي موضوع ته راځم.

په د متل کې راځي: ((مخکني د وروستیو پل وي.)) علامه عبدالحی حبیبي وایي، په نړۍ کې بېلابېلو دورو کې دولس تمدني دورنې رامنځته شوي، چې د اوسني افغانستان علمي او فرهنګي ناحیه او سیمه هم ترې بې برخې پاتې شوې نه ده.

زما په نظر پښتو متل موږ ته د تمدنونو د تاریخ یوه ستره برخه را په لاس کوي، له ډېره پخوا زموږ خلکو د ځان لپاره د ژوند یو طرز یوه طریقه درلوده، چې همدا بدلېدونکې طریقې او شېبې په مختلفو دورو کې له ځان مخکې او شاته دورو سره ارتباطات درلودل.

د اسلامي لښکرو په راتګ زموږ د هېواد د خلکو په ژوند کې هم له نورو بدلونونو سره سره فکري حالت پوره تغییر وکړ، خلک له هر پلوه له نویو منفي او مثبتو بدلونونو سره روږدي شول، د ژوند د نورو اړخونو له بدلون سره

سره یې روزنیز مثالونه بل شول، دغو شمونو او مثالونو د باورونو او عقیدو ځلا او ښکلاوې هم له ځانه سره درلودلې، هماغه وه چې زموو د هېواد د غني فرهنګ درلوونکو خلکو د  عبري فرهنګ باوري لارې په نښه کړې او له ډېرې پخوا یې هماغه د بغداد قاعدې زده‌کړېزه اصول او الفبا هم ومنله او له الف ترې پورې توري یې په پښتو او فارسي الفباوو کې ګډ کړل او لا تر اوسه د عربي فرهنګ دغه تمدني میراث زموږ د بچیانو د روزنې اصول جوړوي.

د عربي ژبې او تمند له راتګ او بیا منلو دمخه پښتو ژبې د زده‌کړې لپاره الفبا درلوده. د سلطان محمود غزنوي، احمد شاه بابا دوراني روښانیانو، خوشحال خان او معاصرو دورو کې دغه فرهنګي تابیاوې ځو ځو ځله ترسره شوې، مګر ووایو، پښتو او فارسي – دري ژبو نن سبا تر ۱۴ حروفو یا تورې له عربي ژبې منلي دي.

په اوسني افغانستان کې چې کله معاصرې او په نوي ډول زده‌کړې پیل شوې، د نورو فرهنګي پنځونو او لیکنو د خوندي کولو هلې ځلې پیل شوې، ورسره ورسره د آثارو او د بیا د خپلې ژبې د علمي، دیني، سیاسي او ادبي کې میراثونو د خوندي کولو په خاطر په را وروستیو دورو په تېره د امیر حبیب الله خان، امان الله خان، نادر خان او بیا د ظاهر خان له دورو را پدې خوا د فرهنګي میراثونو او کلتوري میراثونو لړۍ پیل شوې او د ذخیره کولو په برخه کې یې څه ناڅه کلتوري ګامونه واخیستل شول، په تېره کله چې پښتو ژبه علمي نصاب ته ور دننه شوه، د فرهنګي میراثونو خوندوره لړۍ هم پیل شوه. د  عبدالرحمان بابا دیوان چې کله د افغانستان فرهنګ پاله پاچا حضرت میرویس خان کندهار ته راوړ، نه یوازې یې وساته، ویې پاله، خوندي کړ او د ژوند په چارو کې یې ملګري ملګري هم وګاڼه.

کله چې په افغانستان کې له څه دباندې یوې پېړۍ زیاد و کم را پدېخوا دتعلیمي او بیا  ۱۳۰۰ هـ کلونو را پدېخوا د تحصیلي نصاب لارې دورای شوې، نو سمدلاسه زموږ فرهنګي منورینو خدای بښلو استاد علامه حبیبي، عبدالروف بینوا، استاد عبدالشکور رشاد، خدای بښلی لوی استاد ربښتین د پښتو ژبې او ادب رامنځته کولو، مطرح کولو، پاللو، خورولو، پنځولو، لیکلو او آن نقدو تحلیل و څېړنو ته ملا وتړله، بیا هم کرار کېناستل، ددغو قدرتي، انساني پوهنو او شتمنیو په خوندي کولو یې لاس پورې کړو چې په دې لړ کې د ګوتو په شمار څیر د هویت، علمي، ادبي او فرهنګي مرغلرو په راټولو کې یې پوره او نه هیردونکې تابیا او هلې ځلې وکړې او دا دی اوس اوس اوسني فرهنګي پښت دغه لارې په مینه پالې او د خوندي کولو، علمي کولو او د نورو کلتورونو خلکو ته دود پېژندلو په خاطر لا ډېرې هلې ځلې کړې او دغه هڅې لا په پراختیا توګه الله الحمد اوس رواني هم دی: حضرت عبدالرحمان بابا د هغو اصیلو ګل

ګلابو عطر او خوشبویي وه، چې د پیدایښت له ورځې بیا تر اوسه دغه عطرو وږمې خوروي  او دماغونه معطروي:

د امیر شېرعلي خان (            ) دویمه پلا پاچاهۍ عبدالرحمان خان په او په تېره بیا امیر حبیب الله خان دورونه د تعلیمي نصاب د امان الله ان او را وروسته د رامنځته کېدو، خورېدو، پراخېدو، رسمي کېدو لپاره وړ، هوسا او فرهنگ پاله او تعلیم څه ناڅه تعلی خوښوونکې او بسیا کولو او عملي گامونو د پورته کولو په خاطر مناسب بسترونه جوړ کړل او د لومړي ځل لپاره د چ خبره د وخت د متداوله علومو او عنعنوي او کلیوالي درسي سیستمونو او تعلیمي نصابونه لړ و ډېر شروع شول او د مدرسو د زنگونو غږونه دلته او هلته پورته شول، چې د وخت په غوږونو کې د نوي حرکت، پوهې

په افغاني ټولنه کې د نویو خوځښتونو رامنځته کېدل، لکه همدا اوس غوندې هغه مهال هم د اروپا  دصنعتي انقلاب ۱۹۷۰ انقلاب د رامنځته کېدو په صورت کې امکان پیدا کړ. په نړیواله کچه په ټوله نړۍ او اروپا کې دوه له بنیادي بدلونونه را دمخه شول، چې پر ټوله انساني ټولنه یې ډېر مثبت او لږ منفي اغېز وښانده.

دغه بنیادي بدلونونه (اقتصادي او فرهنگي) ول، د اقتصاد په برخه کې د هغه وخت فاعل او متحرک انسان د بخار ماشین جوړ کړ ریل یا اورگاډی یې جوړ کړ، د ضحت ودې ته یې پوره پاملرنه وکړه،  ورسره ورسره فرهنگي یارو نباتیتغیرات هم رامنځته شول.

د یادولو وړخبره ده چې روبنایي پدیدې اول خوزون پیدا کوي، ځکه د انسان د فکر خوزون د مادي حرکتونو او بدلونونو سبب هم کېږي. تولستوی به ویل:

((فرهنگی انقلاب د ټولو انقلابونو او بدلونونو په سر کې ځای لري))

په مجموعي ډول نولسمه او په تېره شلمه پېړۍ او بیا زموږ په هېواد کې د یو شمېر اقتصادي او کلتوري بدلونونو ښکارندویه وه.

د امیر شېرعلي خان په دویمه پلا پاچاهۍ کې ۱۸ د وسلو جوړولو کارخانه جوړه شوه،  لومړي ځل لپاره له جرمني څخه د وملر په نامه د موټر جوړولو کمپنۍ راغله. د دغو اقتصادي پرمختگونو د معرفۍ او انتشمار لپاره د وخت نشراتو او (شمس النهار) مجلې په خپرونو پیل وکړ او دغه لړۍ تر ډېره وخته د ترقۍ د آهنگ په نامه وچلېده، هېواد له اقتصادي او فرهنگي پلوه بدلونونه وکړل او انساني اذهانو هم د مدني ترقۍ لار خپلوله.

لکه چې معلومه ده زموږ په هېواد کې له بده بخته د ترقۍ د خورېدو تر څنگه بیا بیا په ورځ پسې شپې راځي او پخواني مثبت بدلونونه له آهنگ وکړ او زنگ یې وترنگاوه.

خاورو سره خاورې کوي

عبدالرحمان خان هم د ترقۍ زنګ څه ناڅه وترنګاوه، خو ډېر ځله سیاسي تاوتریخوالی د دې لامل شو چې د اقتصادي او فرهنګ په برخه کې بسنتیز بدلونونه رامنځته نه شي.

د شاهنامي عبدالرحمان خان..... د لیکوال (        ) په وینا: ((عبدالرحمان خان د تندر خراج څښتن و، خو هدف یې دا وو چې په ټولنه کې نظم او مرکزیت راولي او بیا د فرهنګي بنیادونو په تغییر لاس پورې کړي.))

په هر ډول څو په یوه هېواد کې فکري مرکزیت رامنځته نه شي، هوسایي او سعادت امکان نه لري.

حبیب الله خان... د معنوي موسسو په تېره فرهنګي بدلونونو په برخه کې او د مترقي معارف په برخه کې شعوري هلې ځلې وکړې، لومړی یې د حبیبیې عالي لېسې... په کال جوړه کړه، او له هغه راو وروسته یې نورو فرهنګي بینادونو بنسټونه ورو ورو یو په بل پسې کېښودل.

ویل کېږي چې څه ناڅه د هغه وخت د ابتدایي معارف لپاره تعلیمي نصاب باندې فکر وشو او له څه سلا و مشورو وروسته دا کر لړ و ډېر وشو، ددغو بدلونونو معرفي جاج د هغه وخت په سراج الاخبار کې وار دمخه خپرونو ته لار پرانیستله، خو له څه پرمختګ سره سره دغه کمزورۍ ډېوه بېرته مړه شوه او بیا د دویم وار لپاره په ۱۹۱۱م کال د دویم وار په پار سراج الاخبار  افغانیه په خپرونو پیل  وکړ او په لنډ وخت کې دغه ځلا په ښکاره او ژوندۍ بڼه یو وار بیا بله شوه، دا رڼا د بریښ افغان یاد د مقالو مجموعه په حواله داسې سکروټه وه، چې اور یې په انګلستان کې فارن هارن ته هم ور ورسېده، یوه ګڼه په ۱۹۱۱ کال د سراج الخبار افغانیه په پاڼو کې خپره شوه او بیا بېرته معادله شوه.

*تعلیمي نصاب

* تحصیلي نصاب

که د کتب پاڼو ته ورشو او د تاریخ پاڼې را وپلټو، نو لومړی به د پښتو ژبې د مشر وتلي، مبتکر او په ادب کې د ستر مقام خاوند استاد اروابناد،

پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو ادب تاریخ او دغه راز د خدای بښلي استاد پوهاند دوکتور زیور الدین زیور له تاریخونو څخه ځینې اقتباسونه را اخلم او دلته یې د معاصر وخت او معاصرو ادبیاتو په لړ کې د تعلیمي نصاب جاج ترلاسه کړو، له دې کاره چې مطلب دا دی چې تعلیمي نصابونه د امیر شیرعلي خان (دویمه پلا پاچاهی) امیر عبدالرحمان خان، حبیب الله خان، امان الله خان، نادر خان، طاهر خان، داوود خان، نور محمد ترکي او د هغوی ګوند، استاد مجددي، استاد رباني، طالبان، دوباره استاد رباني، د کرزي اداره او دوه دورې حاکمیت

او په پای کې د دوکتور محمد اشرف غني پنځ کلنه او له هغه را وروسته دوره... کې په هېواد کې د تعلیمي نصاب او تحصیلي نصابونو رامنځته کېدل او له هغه څخه په لوړو تحصیلي پروګرامونو (ماسترۍ او دوکتورا) کې د هېواد او نړیوالو ادبي څېړو د هغو له جملې اروانباد حضرت عبدالرحمان بابا څېره له هماغه لومړیو تعلیمي نصاب څخه نیولې بیا تر دوکتورا ګڼو پروګرامونو، سیمینارونو، کنفرانسونو، درسي صنفونو، ابتدایي، منځنۍ ښوونځی، لېسه، لېسانس، مافوق لیسانس، مشاعرو، ادبیاتو تاریخ، عرفاني ادبیاتو، ورځنیو محاورو، هدیرو او مړو پر سر، مجلسونو، غونډو د غزل پروګرامونو، موسیقي په ټولو برخو کې، ترانو، دیکلمو، زمزمو، ساز، سرود، تګ فردونو او لسګونو، نورو مواردو کې د حضرت عبدالرحمان بابا کلام لومړی او بر سر ځای لري او هېڅ منکر په هېڅ ادبي داخلي ادبیاتو او نړیوالو ادبیاتوک ې ترې په پروګرامونو انکار کول نشي

چې منکر پرې اعتراض کولای نشي

دا د شعر دی رحمانه که اعجاز

که د پښتو ادبیاتو درشل کې د تعلیمي نصاب لرغونه لټووو، لازمه ده، څه ناڅه تاریخي، ادبي کتابونو ته مراجعه وکړو، لکه مخکې مو اشاره کړې وه، دغه اقتباسي برخې به دلته لږ و ډېرې راواخلو:

خدای بښلی لوی استاد صدیق الله رښتین لیکي: ((... په پښتو ادب کې د نظم اوسنۍ برخه (۱۳۰۰ هـ څخه را پدېخوا شروع کېږي، ځکه چې په دغه وخت کې د غربي نړۍ د تمدن اغېزې په پښتو ادب کې لیدل کېږي او پښتو ادب په دې دوره کې د سوژې او فورم له پلوه... یوه بله بڼه ځانته نیولې ده، او پوره بدلون یې موندلی و، په دې وخت کې د نوې زمانې نوي خیالونه، د آزادۍ مفکوره، بدیعي او هنري شعرونه، په مختلفو موضوعاتو کې ویل شوي اونظم د پخواني عنعنوي شکل څخه یوڅه را اوښتی دی.

د امیر شېر علي خان په وخت کې د مطبعې او چاپ شرایط د لومړي ځل لپاره برابر شول، چې د یو شمېر شاعرانو شعرونه اوس راپاتې دي.

د امیر حبیب الله خان په وخت کې د یو شمېر شاعرانو شعرونه په سراج الاخبار کې چې د محمود طرزي په مدیریت چاپېده، چاپ شوي دي چې د هغو له ډلې موږ د مولوي صاحب محمد ملا عبدالباقي افغان، غلام محی الدین افغان داوي، مستغني، سید محسن کندهاري، ملاغلام لغماني، عبدالرحمان لودي او نورو نومونه د یادولو وړ دي.

د امان خان په (          ) په وخت کې د پښتو مرکې (     ) پښتو ژبې او ادبیاتو لپاره یو څه لاره اواره کړه او یو شمېر شاعران او لیکوالان وروزل شول.

بل علمي او ادبي مرکز په کندهار کې د (پښتو انجمن) (پښتو) مجلې په خپلو ادبي، ژبني او تاريخي فعاليتونو لاس پورې کړ او د ادب لپاره يې ډېر خدمت وکړ. د پښتو ټولنې نشراتي  ارګانونو (کابل مجلې او د زيري جريدې) د پښتو ادب، فلکور او نورو مسايلو لپاره ډېر ستر کارونه او خدمتونه وکړل، اروانباد پوهاند دوکتور زيور الدين زيور د خپل کتاب (د پښتو ادبياتو تاريخ اوسنۍ دوره. دريم چاپ ۱۳۹۰ هـ ل کال، د ساپي پښتو نشراتو مرکز خپرونه په سريزه ل مخ کې ليکي: ((په ۱۲۲۳هـ ل کال د ادبياتو پوهنځی جوړ شو او بيا په دې پوهنځي کې د پښتو ديپارتمن او په ۱۳۳٦ هـ ل کال ورمې مجلې په خپرونو پيل وکړ او د ادب لپاره يې د قدر وړ خدمتونه وکړل.

نوموړی زياتوي: په همدغه دوره کې د زمانې د غوښتنو سره سم طلوع افغان اتحاد مشرقي، اخبارونه په پښتو واوښتل او د پښتو نظم نثر لپار يې په پښتو لاره اواره کړه، همدارنګه د (وړانګې، سيستان، ميوند، اصلاح، هېواد. ماخذ

دغه مهال دولتي اخبار او مجلو هم په خپرونو پيل وکړ او يو شمېر ملي جريدې هم رامنځته شوي، چې د سياسي شعر ويلو او ليکنو لپاره يې يو بل ګام اوچت کړ او په پښتو ادب کې د آزاد شعر...)

د پښتو ادب د پراختيا او پرمختګ په دې دوره کې لرو بر (دلته او هلته) ډېر کتابونه ليکل شوي او چاپ شوي دي، چې دلته د نظم او اشعارو په برخه کې دنمونې په توګه د يو څو مشهورو کتابونو يادونه کوو:

غوره اشعار، ځاروان، منتخب شعرونه، پريشانه افکار، پسرلنۍ سندره، د ملنګ جان خوږې نغمې، پښتنې سندرې، لومړۍ برخه او دويمه برخه د نور الدين ملي چاربيتې، د ملا نعمت الله شاهنامه، د فتح خان کيسه.

د سمندرليت او لار او د ايلم څوکه، د حمزه شينواري غزونې، د غزونې، د غني خان د پنجرې چغار، د اجمل خټک د غيرت چيغه، د سيد رسول رسا د بيديا ګلونه او رنګارنګ ګلونه او همدارنګه خواږه تراخه، روهي ګلونه او نور د يادولو وړ دي.

په کوزه پښتونخوا کې هم د (۱۳۰۰هـ ش) کال را پدېخوا د پښتو ادب کې ډېر کار شوی دی او په تېره بيا د انګرېزانو استعمار هلته حالات پيدا کړل او پښتو ادب کې د خپلواکۍ او آزادۍ مفکورې په چټکۍ سره وده وکړه او ملي  عناصرو ډېر ژر د نظم په بڼه کې ملي مسايل را ونغښتل او په ادب کې ډېر قوي بدلون رامنځته شو.

*آزاد شعر

انجمن اصلاح افاغنه (    ) او بيا خدايي خدمتګارانو د ګوند لوی او رسمي ترجمان د پښتو مجله وه، چې  د

پېښور له تمانزو خپرېدله، کله چې د پښتو معاصرو ادبیاتو سیر او روان څار راته ښکاري، چې معاصرو ادبیاتو د ټولنې د تعلیمي او تحصیلي، سواد او پوهې په کار کې ډېره برخه درلوده.

د دولسمې پېړۍ له لومړي وخت څخه بیا د شلمې پېړۍ را وروسته زموږ په ګران هېواد کې د ژوندانه په اقتصادي، اجتماعي او سیاسي کلتوري برخو کې یو ډول وروسته الی او تنزل لیدل کېږي او هغه له یوې خوا د کورنیو جنګونو په شور او شعرونو او د حکومت د نه ټیکاو له اله او له بلې خوا د بهرنیو سببونو له امله یعنې په هند کې د انګرېزانو ([1]) د سیاسي دام په غوړوړلو سره او همدارنګه د افغانانو د سیاسي دام په غوړولو سره او همدارنګه د افغانانو د سیاسي ویش او د هغه برتانیې ښکېلاکګرو... له خوا د هېوا د حقود له منځه وړلو به نتیجه کې زموږ هېواد په ورځینو مسایلو کې ډېرې لوړې ژورې او ګډوډۍ رامنځته کړې دي، خو بیا هم په دې دوره کې په لره او بره پښتونخوا کې پوهانو، مشرانو او شاعرانو خپل خلک خپل ملي کلتور او ملي مسوولیت نه د هېواد ساتلو او آ زادولو لپاره د مبارزې ډګر ته چمتو کړی دی.

د سکندر مقدوني لښکرکشي او یرغلون، د فیوډالي مغلو تاړاکونه د ساسانیانو، صفویان.. په تېره بیا د انګریزانو د دریو مسلحو جګړو په نتیجه ک د وطن په فرهنګي ژوند، فکر او اقتصاد کې ژور بدلون راوستی دی. په دغه دوران کې ځینې حماسې، جنګي بدلې، چاربیتې، داستانونه او ولسي سندرې جوړ شوي دي.

په دې ډول د لرې پښتونخوا د پېښور په ښار کې د پښتو ادبیاتو په لوړتیا کې په زړه پورې هلې ځلې شوې دي او په نظم او نثر ډېره آثار لیکل شوي دي، د نظم په برخه کې د قاسم علي افریدي دیوان یادولای شو، ده خپل دیوان په ۱۸۱۴م کال په پېښور کې د خیال بخاري په سریزه او زیار چاپ شوی دی،

د ۱۸۲۹ څخه تر ۱۸۵۴ کال پورې د کندهار په ښار کې د سردار مهردل خان مشرقي کورنۍ هم د شعر او ادبیاتو لوی مرکز او دلته ډېر ځای شاعران روزل شوی او په ادبي محفلونو کې دغه ادبي نهضت د (دښنان) قندهار په نامه مشهور دی. له هغې ډلې څخه میرزاحنان بارکزی د دیوان خاوند د نمونې په توګه یادولی شو.

---

[1]- انګریزان هند ته په ۱۷۵۲ م کال کې د تجارت په بهانه راغلل او د شق الهند د تجارتي کمپنۍ په پلمه یې د هندوستان د نیولو سیاسي جال خپور که څه هم په ۱٦۰۰م کې د ملکي ورجینیا لومړۍ الیزابتي چې د انګلستان د مشهورې سلطنتي کورنۍ نودور څخه په هند کې د تجارت او کمپنۍ معاهده او موافقه له پارلمان څخه پاس کړه او د هغه وخت له مغلي پاچا جلا الدین سره په کلکته کې د یو تجارتي ځآی په موافقه رسېدلی و، البته چې دغه عملیه د جهانګیر شاه په وخت کې نوره هم سریع کېږي، د اورنګزیب د قوي اداري په نسبت ضعف مومي. مګر پس له هغه څخه د مغلي بیباکه او کم عقلو واکدارانو او په هند کې د سیاسي ګډو وډو حالاتو به نسبت هغه تجارتي ځآی د اتلسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې په ایستانډپا کمپنۍ بدلېږي، چې په آسیایي کې د انګرېزي استعمار زړي او هسته تشکیلوي.

تر امیر دوست محمد خان وورسته د هغه زوی امیر شیرعلي خان د پلار پر ځای امیر شو، چې ده هم د سیاسي ځواک د ساتلو ډېر هلې ځلې وکړې.

کله چې انگریزان هند ته راننوتل او خپل اقتدار یې په دغه ملک کې ټینگ کړ، نو په هند کې د غربي کلتور او تمدن نښې نښانې هم راښکاره شوې، سړکونه پاخه شول، ښوونځي ډېر شول، د چاپ ماشینونه وارد او ودرول شول، سوداگري، تلفون، تلگراف، پسته او دمالونو د وړلو راوړلو وسایلو ورو ورو پراختیا وموندله. البته د تکامل دغه دوره د افغانستان لپاره ښځې ځکه نوې وه، چې له یوې خوا څخه په غرب کې د تکنالوژۍ د پرمختگ په نتیجه کې صنعتي انقلاب رامنځته شوی او هم د ماشین له اختراع سره سم د لودیځوالو په فکر کې د ښکېلاک استعماري مفکورې پیدا شوې وه.

او انگریزان په دغه دوره کې د هند د نیولو څخه وروسته په ۱۳۹۰ ع کال په افغانستان تیری کړی و.

امیر شیرعلي خان چې یو پوه او روشنفکر هېوادپاله امیر و او غوښتل یې چې د خپل ژوند کاروان له نورو هېوادونو سره یوځای په چټکتیا اصلي منزل ته ورسوي او هڅې او هلې ځلې یې هم کړي دي، چې اولس یې له نوي تمدن سره آشنا کړی دی.

د شیرعلي خان په وخت کې کورنۍ شخړې همه روانې وې او ده په دغه حساس پړاو کې مجبوراً غوښتل چې له انگریزانو سره خپله دوستانه رابطه وساتي، ځکه دغه وخت په افغانستان کې د گاونډیو هېوادونو گواښ او تهدید لاندې و. امیر شیرعلي خان د برتانوي هند دا ښار له کنفرانس نه په ۱۸٦۹ ع کال بېرته هېواد له راستنېدو څخه وروسته د هغه په فکر کې ډېر لوی بدلون راغلی و. دغه د لومړي ځل لپاره له هند څخه د لیتوگرافي (ډبریز ماشینونه) راوړل، په دغو ماشینونو باندې یې کتابونه، دولتي پاڼې، جریدې او نور مطبوعات چاپول.

دغه مطبعه په کال کې جوړه شوه، نو یوه یې د شمس النهار او بله د مصطفا په نومونو ونومول شوه. ۲

امیر شیرعلي خان دننه په هېواد کې په یو شمیر اصلاحاتو باندې پیل وکوړ. ده د ذهنونو د روښانولو لپاره د لومړي ځل لپاره د شمس النهار د جریدې د خپرولو اجازه ورکړه، څو په افغانستان کې د نوي فکر غورځنگ وده وکړي او په همدغه وخت کې د انگلیس او افغان لومړۍ جگړه ۱۸۳۸ - ۱۸۳۸ تر ۱۸۴۲ کلونو پورې پای ته رسېدلې وه چې دغه نوی فکري نهظت د سید جمال الدین افغاني او سید نور محمد شاه په واسطه رامنځته شوی و، جریده د انگریزانو د حملو په واسطه له منځه لاړه.

باید ووایو چې دغه پرمختگونه ډېر ځله د شیر علي خان په دویمه پلا پاچاهۍ پورې اړوندېږي.

په هېواد د حاکمیت کولو او د هېواد د خلکو د فکر او اقتصاد د لوړولو په خاطر د امیر شیرعلي خان شاهانه تدبیرونه په خپل وخت کې د اول چې ټولنې (فرهنګي او اقتصادي) سمون او پرمختګ ته يې په درايت درلودلو او خورا پوره فهم او عقل له يوې زاويې کتل.

هغه حکومتونه، چې غواړي د ښه تاريخي برم او عزت انقلابونه رهبري کوي، په دې ډول اجتماعي عدالت پيل کولای شي. اجتماعي عدالت د هر حکومتي نظام او د اساسي پرمختګونو ضمانت کولای شي.

الله ج په خپل عظیم او باعظمته کلام کې فرمايي:

اعدلو هو اقرب اللتقوی .....

اعدل؛ تقوی ته نږدې دی.

کامیابه حکومتونه باعدله وي، امیر شیرعلي خان د فرهنګي بدلونونو تر څنګ اقتصادي موسسې هم نوې رامنځته کړې، له نورو هېوادو په تېره ن هند ته له سفرونو يې ښه درسونه اوچت کړل او د يوو حساس هېوادپاله شاه په توګه يې د هېواد خلکو ته د ترقۍ او تعالۍ لارې او ګودرونه را پرانیستل.

هماغه وو چې نوموړي په طلايي وخت او دوران کې نظامي حال هم خوځون پيدا کړ، د حربي آلاتو، لکه توپ، ټوپک، باروتو او... لپاره په کابل کې\ فابريکې جوړې شوې، چې تر اوسه يې نښې نښانې په شير دروازه پاشاه دو شمشیرې ولې او ده افغانانو ترمنځ فاصله کې ليدل کېږي.

ښه او د يادولو خبر دا ده، چې د ملک د ساتلو او آزادۍ په خاطرې ۸٦ شپر اتيا زره منظم عسکر ور زول، چې هغه ټول د يو خاص او ځانګړي دسپلين خاوندان ول.

شيرعلي خان او د دې کابينې په ټولو حکومتي، دولتي او په تېره بيا عسکري برخو کې د خاص نظم څښتنان ول. مرکزيت (سنتراليزم مرکزي) په ټولو برخو، په تېره نظامي برخو کې پوره حاکم و، زموږ د دغې ادعا د ثبوت لپاره ټول عسکر پوځونه د هېواد په اتو برخو کې ځای پرځای شوي وو.

(د ځمکو د مالياتو اصلاح. د عسکري تشکيلاتو نويوالی، د پستې ګټور سيستم تاسيس، ټولو ملکي او عسکري اصلاحاتو ته په ملي ژبه (پښتو) نومونه پيدا کول او وربانديې اېښوول ، د عسکرو د اعايشې او اباتې انتظام... ټول هغه کارونه ول چې اوس اوس نشي ترسره کېدای.

په اردو عسکري نظام کې يوه قوانده، يوه ژبه کارول د پوځي پرمختګ عمده لامل کېدای شي، امير د عالي تدير په طراحۍ يوه منظمه اردو جوړه که چې هغه اصطلاحات لا اوس هم مروج دي.

د پیاده عسکري مشق و تمرین په برخه کې مهم وو، دغه کتاب قاضي عبدالقادر پېښوري چې د فضل قادر زوی و په خپله امیر د معلم لقب ورکړی و، د پیاده په ۱۸۷۲ ع کال په بالاحصار کې چاپ شوی و. په دې برخه کې نور هم شوی دی، زموږ لپاره دا مهمه ده چې فرهنګي کارونه د نولسمې پېړۍ په ورستیو کې ځومره پرمختللي و. له بلې خوا دغه دوره کې نور دیني، مذهبي او تعلمي کتابونه هم ولیکل شول.

فیض محمد اخوندزاده لوګری روضه المجاهدین او دوست محمد خټک تفسیر بدر منیر او بحر العلوم، فرهنګي کارون د یادولو وړ دی.[1]

خدای بښلی پوهاند دوکتور زیوور الدین زیور د فیض محمد په برخه کې د خپل کتاب په پښتو ادبیاتو اوسنۍ دوره کتاب په ۴ مخ کې لیکلي، فیض محمد اخوند زده د روضة المجاهدین، په پای کې د امیر شیر علي خان ستاینه په دې ډول کوي:

په جهان کې ډېر ساعي یم

د تمام اسلام داعي یم

نور چا کړي کتابونه

په جهان کې تضیفونه

ما کړو دغه بحث بیان

په پاړسو، پښتو بیان

دا امیر د دین مجلس

مسمی په شیر علي

داسې وایي مومنانو

د حضرت متابعانو=

پیدا شوي یو طاعت ته

د الله و معرفت ته

[1]- پښتو څېړنې. ۱۳۵٦ کال (د نړیوال سیمینار د مقالو. مجموعه: ۲۸ مخ.

دی عاسم دی د احبابو

او هازم دی د احزابو

مددگار دی د ابرارو

خوارزونکی داشرارو [1]

په دغه دوره کې یو بل مهم کتاب بحر العلوم په ۱۲۹۰ مخه دی. دوست محمد خان خټک د حاجي محمد اکرم خان لمسي او د محمد زمان خان کړوسی او وایي چې اروابناد حضرت خوشحال خان بابا له ستړې کورنۍ پورته کتاب وژباړه، چې بېلګې یې وړاندې کوو:

د مایر د شاهي زور دی

عالم ده وته نسکور دی

په کابل کې جانشین دی

حکمرانه یې نګین دی

کندهار او هرات دینه

چې د ده حکمونه وړینه

پسې بلخ دی برادر

تر خیبر بهروره

نه امیر دوست خانه

دی خلف دی قدردانه

ورپسې د پلار دعا ده [2]

له دې لیکنې او د چات خبره احصایې وړاندې کولو څخه زما هدف دا دی، چې په معاصر وخت کې د هغو

---

[1] - زیری. ۱۳۵۷ کال، کال: پښتو ټولنه. دولتي مطبعه

[2] - بینوا، عبدالروف. ۱۳۷۵. پښتو روزنه. کابل، دولتي مطبعه.

دولتي او حکومتي مشرانو له خوا او یا وخت کې تعلیمي نصابونه جوړ شوي، یادونه وکړم. د شیرعلي خان په وخت کې د ښوونځیو کوم معلومدار نصاب په لاس کې نشته، مګر هر پوره پوره فرهنګي تابیاوې شوې دي. دا خبرې البته په دولتي ملکي برخو کې صدق کوي، نه په نظامي یا پوځي برخو کې... په نظامي لوري کې خو ښکار کتابونه، نصاب او آن زبردست نظام جوړ شو، چې اوس اوس هم د اردو قوتونو د زړورتیا، سرښندنې سرلوړی، روحیې لوړ ساتلو په برخه کې د څه یادولو وړ دي.

تر امیر شیرعلي خان را وروسته امیر عبدالرحمان خان د افغانستان سیاسي او اقتصادي وحدت ټینګ کړ او محلي امیران، میران، فیوډالان یې له منځه یووړل.

دا مهال لاسي صنایعو وده وکړه، منظم عسکر و روزل شول، داخلي سوداګری پراختیا وکړه، استخباراتي کارونه هم پیاوړي شول، خلک د هم په مختلفو شکنجو ووژل شول. د مجبوریت له امله یې انګریزانو سره لاره یوه کړه.

امیر په ۱۸۸۵م کال د هند د وایسرای لارفون د لیدنې لپاره را ولپنډۍ ته ولاړ او د وایسرای سرای سره د خبرو اترو نه وروسته امیر عبدالرحمان ته ۵۵ زره قبضي ټوپکه او یوه جبه خانه او یو څه نظامي مرسته وکړل شوه.

دغه وخت یوه پندنامه، سرشته اسلامیه روم په نامه په پښتو ژبه ولیکل شو او دا رساله د کابیل په مطبعه کې په ۱۳۱۴ هـ ۱۸۸۴ کلا میرزا غلام جان په پښتو چاپ کړه. دوه نور کتابونه د غلام جان افغان موعظه او بل د یوسف زلیخا ترجمه هم چاپ شول...

عبدالرحمان خان د فلج په مرض ۱۹۰۱ کال په باغ بالا کې مړ شو او له هغه وروسته د هغه ۳۲ کلن زوی حبیب الله خان په تخت کېناست او برتانوي حکومت هم هغه د افغانستان د امیر په توګه وپېژانده.

له معمول سره سم حبیب الله خان هم د حکومت په پیل کې وعدې ورکړې وې چې ترسره کوي به یې، له نورو کارونو د کولو یا نه کولو په خاطر موږ هغه برخه نه څېړو، یوازې فرهنګي اړخ را اخلي، خو دا وایم د امیر حبیب الله خان په وخت کې د تګت راتګ لپاره د کابل – جلال آباد او کندهار پورې سړکونه هم جوړ شول.

که څه هم د خارجیانو زور زیاتی او تېریو په افغانستان کې د سر سړي اود قوي دماغ خاوند پرې نه ښود، خو بیا هم یو شمېر وطن دوستو خلکو دا هلې ځلې شروع کړې، چې په هېواد کې له مختلفو لارو څخه په خلکو کې د وطن مینه و روزي، نو هم هغه وو چې یو ځل بیا راټول شول او د منورو ځوانانو په ملګرتیا یې د تحول او نویوالي مفکوره په افغانستان کې رامنځته کړه او د سراج الاخبار انجمن جوړ شو، د سراج الاخبار افغانستان لومړی ګڼه د مولوي عبدالروف په مدیریت د جنوري په ۱۱ په یاد کال نشر شوه، خو څه وخت لا تېر نه و چې له منځه لاړ، مګر څو کاله وروسته یې د مشروطه خواهانو له خوا په ۱۹۱۱ م کال کې د سراج الاخبار افغاني تر نامه لاندې د

محمود طرزي په مديريت په خپرونو پيل وکړ.

محمود طرزي د افغانستان د منورو ځوانانو د ذهني پرمختګ او ودې په لار کې او د افغاني ځوانانو په نهظت کې يې ستره ونډه اخيستې وه،

مهمه دا ده چې هغه وخت له نکيه مرغه د پښتو ژبې نثري او نظمي ادبياتو ته لوړ مقام ورکړ شو او يو شمير پښتو شاعران او ليکوالان رامنځته شول، د حبيب الله خان دوره د اقتصادي بدلونونو ترڅنګ، فرهنګي بدلونونه هم رامنځته شول.

د امير حبيب الله خان په وخت کې د (ليتوګرافی، زينګوګرافی – مطبعې هم جوړې شوې، له دې سره سره په روغتيايي برخه کې هم نوې جوړښتي ګامونه رامنخته شول، يعنې عصري طب هم د لومړي ځل لپاره په ملکي او عسکري روغتونونو کې رواج وموند او افغانانو، ترکانو، هنديانو د ناروغانو په دارو او درملو کې ډېره مرسته وکړه.

له نورو خبرو تېرېږو، خو کوم ښه کار چې امير حبيب الله خان په وخت کې شوی، هغه د معارف په درسي نصاب کې د پښتو ژبې تدريسي پروګرام پيلول وو.

*تدريسي، پښتو نصاب، لومړی وار د امير حبيب الله خان (۱۹۰۰ – ۱۰۲۰( په دوران پيل شوه.

اروانښاد مولوی صالح محمد خان د پښتو ژبې د تدريس لپاره درسي کتابونه ليکلی دي د ځينو ملحوضاتو له مخې د اميرحبيب الله خان حکومت د انګزيزانو لپاره د منلو وړ نه و....

د ژوند اجتماعي منطق له پلوه کمزوری ژوی او په تېره انسانان بايد د وخت له زورور سره د زړه پورې يا د زړه خلاف توافق و نکړي کنه دا يوه علمي فلسفه ده چې ( زور ته پوهه هېڅ ده) او يا دا چې زورورو اوبه په پيچو مې خربېږي) نو هماغه و چې هغه مهال حبيب الله ته انګزيزانو ډول ډول وړانديزونه وکړه او په پآی کې په همدې توګه انګريزانو د حبيب الله د ورو سره او نصرالله خان او د هغه د مشر زوی سردار عنايت الله خان څخه وغوښتل چې د انګزيزي حکومت مرسته قبوله کړي، مګر دې کار کومه ګټه و نه کړه ځو چې انګريزانو د امير امان الله خان (      ) په برخه کې د يوه بل چال او نيزنګ نه کار واخيست چې.... امان خان (      ) وروسته له حبيب الله خان د سياست جګړې کار، صنعت، مبارزي اواجتماعي ودې ميدان ته را ودانګل.

امير امان خان د افغانستان د بشپړې ازادۍ او خپلواکۍ په خاطر د خلکو په سلا مشوره د ( ۱۹۱۹ کال) د مياشتې په لوړۍ نېټه  د برتانوي هند په سرحدونو باندې له درې خواوو څخه د سفريرۍ او جګړۍ اعلان وکړ او له آزاد قبايلو څخه هم د جهاد په نامه د مرستې غوښتنه وشوه د افغانستان د دفاع وزير او لوی قوماندان صالح

محمد خان د یبر او ډکې په لور حرکت وکړ او په همدغه وخت کې جنرال محمدنادر د پکتیا په لور وخوځېده او عبدالقوس خان د کندهار په لوري واستوال شو.

انګریزانو د افغانستان د اعلان په ځواب کې (۱۹۱۹م) د مي په شپږمه نېټه هم د افغانستان په ضد د جنګ اعلان وکړ.

د انګلیس ـ افغان د درېیمې جګړې په نتیجه کې د انګریزي حکومت ته ډېر تاوان ورسېده او مجبور شو چې د ( ۱۹۱۹م) کال د اګیسټ په اته نېټه عارمي تړون وکړي او افغانستان سیاسي بشپړه ازادي تر لاسه کړه.

د افغان انګلیسي په لومړۍ دوهمه او درېیمه جګړې کې یو زیات شمېر شمېر ولسي شاعرانو حماسي او تاریخي سندرې ویلي دي او خلک د وطن د خپلواکۍ د ګټلو او ساتلو لپاره په مېړانه رابللي دي.[1]

که له ډېرو تصبرو تېر شو، ویلی شو چې د امان الله په وخت کې په مالي، تجارتي، کانو او لاسي کارونو، مخابراتو، عدلیي محکمو، دخله چاره، دفاعي چارې، مقننه قوې، اجرائیوي قوې او نورو چارو کې په چکټیا سره ګامونه پورته شول د امان خان په وخت کې د لومړۍ ځل لپاره په معارف کې پو انجمن جوړ شو چې دې انجمن د پروګرام د رسي کتابونو او ترجمو او درسي موادو په برابرولو کې ډېر ستر خدمت وکړ.

هغه وخت د حبیبي لیسه تر څنګ چې د حبیب الله خان په وخت کې جوړه شوه وه د اماني او امانیه په نومونو نورې لیسې هم جوړې شوې وي تر نهم ټولګي پورې لوړې شوې چې ورته منځنۍ یا متوسطه دوره وویل شوه مخکې له دې لومړنۍ دوره یا ابتدائیه ورپسې رشریه غازي، رشدیه استقلال د تلګراف مسلکي ښوونځي، ضایع اصول تحریر، اصول دفترداري، زراعت، قضات، حکام، مساحت دارالعلوم، دارالحفاظ، رشدیه جلال آباد، رشدیه کندهار، هرات رشدیه مزار، رشدیه قطغن، د پولیسو ښوونځی، د موزیک ښوونځی، د قالینو ابدلو، مهندسي، طب او نور ښوونځي پرانیستل شول او د لومړي ځل لپاره د نجونو متوسطه هم پرانیستل شوې ده.

هغه وخت چې په طبیعي ډول کوم شاعران موجو وو، د دولت له خوا وهڅول شول هغوی هغه وخت قصصي، رزمي او نور کالبونو کې شعرونه وویل د هغو له له جملې ملا نعمت الله (          ) چې د پښتو ژبې فردوسي ورته ویل شوي ډېر غوره ښّ په ټول برابره او د وخت و زمان له روحیې سره سمه شاعرې کړې ده.

که څه هم چې له فردوسي سره سلطان محمود غزنوي پوره پوره مرسته کوله او د هغه د شاعرۍ د پیاوړتیا په برخه کې مرسته کوله خو ملا نعمت الله دغه امکانات نه درلودل، یوازې دده علاقمندي او له وطن سره مینه وه

[1]- جمیز ډار مستېر، ۱۳۵٦. د پښتونخوا د شعر هارو بهار، درېیم ټوک.

چې هغه مهال یې د علم فرهنګ او ادبیاتو په زمینو او پراخبرو په کار کې پوره پوره مرسته کوله.

ملا نعمت الله نه یوازې شاعر بلکې مترجم ( ژباړن) هم و، چې شعر یې په شعر ژباړلی دی، داسې ښکاري چې ملا نعمت الله پر خپل وخت کې په پښتو شعر او ادب ډول ډول پیر زوینې کړې دي.

نوموړي د فردوسي روح الله شعرا نظر ژباړلې چې دلته یې راوړو، داستان دی:

اور مې بیا نن لګېدلی په خاطر دی

چې په غوږ مې سهراب د مرګ خبر دی

د وجود د باغچه په غم زما تالا شوه

د بېلتون په ما سلانو حواله شوه

په هر ځای د بېلتانه له لاسه ویر دی

د هر چا مرګ ته فلک ایستاده خیر ده

کور را کور د بېلتانه نارې سورې دي

د خزان د لاسه مړاوې منجرې دي

دا فلک د شتم ژرنده ګرځوي بیا

ککرۍ پکې د خلکو غورځوي بیا

لا بوستان نوی تازه د بوبهار

چې خزان ورپسې سم راشي دوبار

لا خور کړی د بنفش نه وي اوربل

چې پرې راشي د خزان د لاس غوبل

ګلاب نه وي پورته کړی سر له خوابه

چې خزان یې کړي په غم سینه کباباه

لاله نه وي اچت کړی سر په باغ

چې خزان وربانديې کېږي د غم داغ

بلبل هم نه وي په ديد د گلو موړ

چې فلک يې بيا په وژلو کړي زړه سوړ

په داشان ماته راوړي ولي صاف

د سهراب لښکر چې لاړ په خپل اطراف

رستم هم ترې نه رخصت شو په ماتم

په طرف د بستان کېښود قدم

د سهراب تابوت يې هم يو وړه له ځانه

دا خبر چې ورغی خاص تر سيستانه

کورو کلی په نارو په ژړا سر شو

تا چې وی گويا قديم هلته محشر شو

د ورايه د رستم مور راغله سرتوره

د سهراب په غم کې پريوته نسکوره

په ژړا يې کړ گريوان له اوښکو ډک

د افسوس فرياد تلو په پاس فلک

په سيستان کې کور په کور کېده ويرونه

د سهراب په ماتم ناست وو عالمونه

نور هم شته خو شاعر ددغې قصيدې د تشبيب برخه يې راوړې ده دغه ډول د نعمت الله نور اشعار هم دی يو څو بيتونه يې د شرابو پر غندنه کې دلته راوړو:

شراب خور که دې ډېر پار شي مه يې وينه

که دې ورور شي که دې پلار شي مه يې وينه

همېشه ورځيني ګرځه لرې لرې

په رتبه کې که سردار شي مه يې وينه

شرابي که په سخا سره ماتم شي

شفقت يې که بسيار شي مه يې وينه

د ملا نعمت الله نصيحت واوره

شراب خو که دې يار شي مه يې وينه[1] ( ۱ : ۴۹)

او ځينې نور ددغې دورې ښه شاعران وويل سره له دې چې د شلمې پېړۍ او نولسمي پېړۍ له اقتصادي پلوه پّ زړه پورې نه و خو بيا هم ډېر ليکوال، ايبانو او شاعرانو د پښتو ادب په لوړيتا او پياوړيتا کې ډېر برخه اخيسته او د راتلونکو غوره نصابونو لارې او ګودرې يې په ښه کړې دي.

د ډېرو معلومات لپاره کولای شی د اوراښآد پوهاند ډکتور زيورالدين زيور د اکاډمسين نوماند خدای بښلی استاد صديق الله روهي او د هېواد نامتو سر محقق استاد زلمي هېوادمل د ادبياتو تاريخونه ته مراجعه وکړئ.

د يادولو وړ ده چې هغه مهال يوه نوې فرهنګي زبردسي او د يادولو وړ ده رامنځته شوه چې په هېواد کې يې پراخه دهني او کلتوري پراختيا رامنځته کړه او هغه د سراج الخبار اخبار رامنځته کېدل و، چې دپښتو ادبياتو هم له هماغه مهاله ودې او ځه نا څه ښېرازۍ وزرونه ورپول.

( ۱۹۱۱ ـ ۱۹۱۹) (۱۲۹۰ ـ ۱۲۹۷) سراج الخبار د افغانستان د مطبوعاتو په تاريخ کې اوچت ګامونه واخيستل، د چا خبره ډېر قلمونه، خو د ځينو پښتو قلمونو د پښتو ژبې د ودې او پراختيا په خاطر پّ خوزون راغلل.

محمود طرزي په مجموعي ډول يعني د فارسي درسي او همدغه راز د پښتو ژبې او ادب پّ وده کې لازم کارونه وکړل محمود طرزي ( ۱۸٦۷ ـ ۱۹۳۵م) کې د مطبوعاتو پّ عمومي ډګر کې له اهميته ډک ګامونه واخيستل او دا کار د وخت وتلي، پياوړي، نوابع او علامګان تر سره کولای شي او علامه طرزي يو له همدا لمريزو او روښانه څېرو څخه و.

محموز طرزي له شک پرته د افغانستان په ادبياتو کې د سراج الخبار د جريدي له لارې يو نوی تحول رامنځته

[1]- ماخذ: د دکتور زيود، ۱۳۹، پښتو ( د پښتو ادبياتو تاريخ اوسنۍ دوره) کابل: د صافي مزکرز خپرندويه ټولنه.

کړ چې ویلای شو د ادبیاتو د دوې په کار یې له نوې ډول دموکراسۍ ملاتړ او لارښوونه وکړه، د نوموړي قلم په هغه وخت کې زموږ په ټولنه کې یو فکري مثبت انقلاب رامنځته کړ، شعرونه یې د ټولنیز بدلون لامل شول او آن لویو کلتوري ـ اقتصادي ـ اجتماعي ااو سیاسي بدلونونو ته یې نوې لارې وویستلې، د سراج الخبار په پاڼو کې ادبیاتو عرفان ژبه شعرونه متلونه، هنري نثري ټوټو ځان را څرګند کړ، آن د غزل مضمون له پخواني متوائي حالت سره ورو ورو مخه ښه شروع کړه او د سلیم راز خبره چې د غزل مضمون هېوادینو، سیاسي او نورو... ته ټبر وواهه او داسې نظر پیاوړي شو:

سلیمه سم دې کړه غزل شرعې ته

لړ په کې ذکر د خپل قام کوه

هغه وخت هم همدا ذهنیت له ادبیاتو راجونیده او دا مضمون ورکې برالاکېده!!!![1]

د خدای پښلي روهي په ونیا شعر او ادب د مضمون له پلوه مبتذل نه شول، بلکې له ابتذال سره یې مخه ښه وکړه ربښتینولي، پوهه، خپلواکي ملې غرور، په نثر او نظم کې ځان راجوت کړ او له هنري انداز سره سم نه په فرمایشي ډول اشعارو یوه ژوند لړۍ پیل کړه.

دلته به د ( ۱۹۱۳م) کال د سراج الخبار په پینځه ګڼه کې د یو خپور شوي شعر ژباړه راواخلو:

" ما د ژ،ند لپاره څه وکړل، په هېواده؟ ته زما ژوند یې، ته زما نیمګړغي یې، ته زما خوشحالي یې، که ته له ما لاړ شي؛ نو بیا ته زما مرګ یې!، زما په باور ته زما غمخور یې او شاه...."[2]

د زیاتو معلوماتو لپاره ورګورئ:

د اخبار په پاڼو کې مولوی صالح محمد تر ټولو ښه ځلید، عبدالهادي داوي صالح محمد خان هغه دوران داسې انځور په لاس راکوي:

دغه څه عجب دوران دی

چې راغلی په افغان دی

رنګارنګه ترقي ده

---

[1]- فرهادي، روان، ۱۳۵۵م، کال مقالات محمود طرزي، کابل.

[2]- ډار مستېر، ۱۳۵٦م کال، تاریخ تلفظ و حرف، کابل.

څه عجب محبوب عنوان دی

عبدالهادي داوي هم د سراج الاخبار دويمه ګڼه ( ۱۲۹۳ش کال په جربده کې د ( احتیاج او اخبار ته) تر عنوان لاندې دا شعر....

اخبار هر ملت ته جانه

ضروري دی واوره مانه

د ملت منافع غواړي

پر غمو د ملت ژاړي

غلام محی الدین افغان ( سراج الاخبار په څلورم کال، دربیمه ګڼه کې د خپلواکۍ په باب ویلي و:

شکر شکر باغ مو خپل باغبان مو خپل دی

ګل مو خپل دی بهار مو خپل، بستان مو خپل دی

د اروابنآد علام محی الدین افغان یو بل نظم چې د ګران وطن مینه په کې مورجونه وهي:

زړه زما ډک دی له مینې د وطن

خپل وطن ماته عزیز دی تر خپل تن

هغه یو ګل مې د طون پر ما ډېر ګران دی

تر کشمیره تر پاریسه تر لندن

شرین ځآن مې په شیرین وطن فدا دی

زه خو دارنګه فرهاد یمه ګوهکن

ګلستان مې دې وطن لا در کنار وي

خارستان دی د طون راته ګلشتن

د وطن پّ حمایت کې ځانی مباح دی

پّ دا مینه کې لازم دی سرباختن

چې د حا په سرسو دا د وطن نه وي

سر دده دی مستحق د بریدن

چا پّ زړه کې چې جنون د وطن نه وي

هغه زړه خدای همېش لري غمجن

که څه ډېر دي په جان کې عزتونه

ډېر عزت دی په خدمت کې د وطن[1] ( ماخذ: ٦٨)

عبدالعلی مستتغني ( ۱۲۹۳هـ ق، ۱۳۵۲هـ ق) دغه مهال په افغانستان کې د روښانیتا د دوره ده یعنې تمدن او ترقي ته خلک لیوال کېږي شاعر هم ترقي پسندو په شان هېواد ته ترقي غواړي؛ د مستغني په څېر شاعران نه یوازې د هېواد پرمختګ ته خوشحالیږي بلکې په هېواد کې مسترقي او فرهنګي اخکارو مخکښان هم وي.

مستغني روښآنتیا د دورې روښان شاعر و شهرت يې خپل کړ، طبیعي رشد او وده يې وکړه او پښتو ادب او د وطن له ترقی سره بلبل واره مینه درلوده، آن دده په مرګي د دري ژبې لوی استاد وتلی استاد ګران او د فارسي شعر ملک الشعر شاعر قاري عبدالله او نورو مرثیې ویلې دي.

مستغني د خپل وطهن متداوله علوم، لکه فقه، صرف او نحوه، منطق، حکمت، علام کلام او تصوف ولوستل او د مولوی خان محمد خسته په قول پّ نجوم، رحل، حساب، هندسه کې ی مطاله درده او د قوي منطق او استالال خاوند و دده یو شمېر شعرونه په سراج الاخبار او کابل مجله کې چاپ شوي دي.

په فارسي ژبه د اشعارو څو لوی دیوانونه لري، خدای ښښلي درانه استاد محمد صدیق روهي په وینا:" مستغني له خپلې مورنۍ ژبې د پښتو ژبې سره مینه درلوده هو د پښتو شعرونه يې د ګمبت او کیفیت له پلوه فارسي شعرونو ته نه رسېږي، دی پښتنو ته توصیه کوي چې خپله مورنۍ ژبه هېره نه کړئ:

ښه ده ښّ ده که پله سل ژبو دانا يې

ولې مه کېږه نادان د خپلې ژبې

اروابناد مستغني له علم سره ډېره مینه درلودله او دینا پر مختګ يې د علم مولودګانه، علم ته داسې اهمیت ورکوي د اچا خبره له علم څخه یو ژوندی ښایسته شعري سموبل جوړوي لاندې د مستغني اشعارو د لنډیز

[1]- روهي، محمد صدیق، ۱۳۸۴، پښتو ادبیات تاریخ، پیښور: د محمد صدیق روهي فرهنګي ټولنه، دانش خپرندویه ټولنه.

بېلګه راوړو:

بې له علمه به څه غواړي په دنیا څوک
که عاقل وي، که هوښیار وي که دانا څوک
تر دې ښه متاع په دې دکان کې نشته
سود به وکا که کوي دغه سودا څوک
درست جهان قربان د علم تر ګوهر شه
دغه وایم که مې وپوښتي رښتیا څوک
مجهولات به د عالم ورته معلوم شي
که دعلم له مضمونه شي ګویا څوک
تر قیامته خرابي پرې اثر نه کا
که د علم پر بنا کښېږدي بنا څوک

لازمه ده د یو ینم بل مشهور په علم ادب، درس پوه ناظم او شاعر نوموړنه هم راوړم لکه: ملا عبدالباقي کاکړ( ۱۲۷۰ ـ ۱۳۴۴هـ ق) چې ددغې دورې په علوم پوه، هوښیار، فقي او د علم و عرفان و معارف پلوی وو.

هغه وخت نور ډېر ښه شاعران، ادیبان او په فرهنګ پوه انسانان موجود وو، چې د علم او فرهنګ او ترقی لاره یې او له وطن سره یې پوره پوره مینه او علاقه درلوده، د هغو له جملې حخه نور محمد نوري ملا محمد عرض بیګي ( افغان نویس) قاضي میر احمد شاه رضواني ( ۱۳۷۹ ـ ۱۳۵۳هـ ق) ملا نعمت الله، نورالدین، فیض محمد اخوندزاده، مولوی احمد او نور قلموال او مفکرین ول، چې که پّ دقیق ډول قضاوت وکړو، د ډېرو لوړو افکارو امیالو افعالو او مفکورو او هنري احساس د ذوق خاوندان ویل نه یوازې ې د هغه وخت فکري فرهنګي او سلکوي اجتماعي ژوند ته ګټه رسولې ده بلکې او شعرایې خلاقیت او ظرافت لوړو پوړو یو ته ورساوه.

او په سلو کې پینځه نوي د خوشحال خان او عبدالرحمان بابا د مکتوبونو د ښلکا، تجلا او عالي ذوق روښایي یې تر پیړیو پېړیو غوزوله.

د ښآیسته هنري مثالونه د لا ښې تشریح یو نیم لنډکی له ظرفات ډک نثر، نظم او شعر هغو لایزاله غمیور رابېلو

او تاسو ته يې د ننداريې لپآره په لاس کې درکوم.

۱ـ د نثر بېلګه:

سلطان سکندر يو ورځ په کوم مجذوب تېرېده اې لوينيه ما نه څه و غواړه! ليونی وويل، مچان مې زهيروي، حکم ورته وکړه، چې لاس را څخه واخلي، سلطان ددې څه واغواړه چې زما په حکم کې وي ليوني وويل، ته په مچان حکم نه لرې له تان هڅه واغواړم.

شعر:

تورې زلغې يې پر مخ شوې خم په خ م

که د زنګ لښکر چا پير شه په حرم

هر زما مې نوی نوی سر واهه شي

چې تحرير کړم راز د تا ښکلي صنم

خشک طينت چې  د ساحل راته ونما يې

لکه موج سر ګردان خوښ شمه په يم

تر کامل دې پريشان يم په جران کې

د شا يې په صد پاره ځيګر قسم

په سرو سترګو له کهساره چې را درومي

سيل د زرکو د فرهاد کوي ماتم

چې زخمونه د موج روغ شي شي نابو ده

په بهار باندې مه ږده مر هم

صبح و شام چې ګريبان خبري سپاپوش ايم

زمانې غوندې مې زيست شه په الم

دو زبان په عشق کې مهشه نور محمده

سیه رومه شي په طور د قلم[1]

نظم د ملا محمد عرض بیگي، چې افغان نویس هم مهشور و، د امیر عبدالرحمان خان منشي هم شو او هم د حبیب الله خان پّ وخت کې ( وحسات ملي تر سرلیک لاندې:۱۲)

د افغانستان خلک  زمري دي په افکار به شي

خیالات د بدو ور ته مه کړه نیگون ساز به شي

افغانستان خلک قانع په خپل دولت و ملک دي

صبر په خپلو غرو کوي مانع د بل خلک دی[2]

**میراحمد شاه رضواني**: د پیښور د اکبر پوري په کلي کې زیږېدلی ده، مورجه علوم یې زده کړي و، په انگریزي اوردو، عرپي ژبو هم ښه پوهېده.

او د پوهانو علماوو او دوخت له لیکوالو له لوري په شمس العماء مطلب شوی و په نظم او نثر کې یې لوی لاس درلود، اثار یې شکرستان افغاني او بهارستان افغاني په نوم یادېدل او په ( ۱۹۳۱م) کال په لاهور کې چاپ شول.

د رضواني تر ټولو لوی کار دا و چې ده د پښتونستان د کالجونو کې پښتو ژبه هم شامله کړه او په هېواد کې یې د پښتو د تعلیم او زده کړې روحیه را ژوندۍ کړه او په دې توگه یې پنجاب په پوهنتون کې پښتو ژبه د نورو ژبو په قطار کې کې درېدله او په دې وسیله یې د پښتو د پاره نه هېرېدونکي خدمت کړی وایي چې دېرش تاریخي ادبي او شعري کتابونه یې لیکلی وو.

شعر یې د انساني مینې ښکلا درلوده؛ د قوم بیداري کې یې پوره پوره درلوده؛ دده په اشعارو کې پند او انتیاهیي مضمون په قوت موجود وو؛ په ځان ونیسایي یې سر هدف و.

که معنی هېڅ درکې نه وي په خپل ځان کې

په نیکه په تېر نیکه به نشي ځان

اصالت په اهلیت په لیاقت دی

---

[1]- پښتانه شعرا، ۱۳۴۲، پښتو ټولنه( دریېم ټوک، کابل)

[2]- عبدالحی، حبیبي، ۱۳۵۷کال، پښتو چاپي اثار په دو وروستیو پېړیو کې، کابل.

نه په دې چې فلانکی خان او فلانکی خان

په دې تشو کړو بریتو هېڅ نه کېږي

که طسی شي فی المثل د چنگیزخان

په تن نوم داسې غره یې څوک به وایي

چې په توره دې وهلی دی آسمان[1]

**ملانعمت الله**: هنر مند لیکوال و، د پښتو په معاصرو هنري ادبیاتو کې د داستاني ادب مخکښ وو، ځکه نوموړي ډېءې مذهبي خیالي او فولکوري کیسې او افسانې په ډېر ښه شان پښتو ژبه نظم کړي دي، یعنې نعمت الله مترجم و او دا له لیکوالۍ ور پورته ستر کمال دی، په ۱۲۷۵هـ د پیښور په نوښار کې زیږېدلی دی، کابو یو دیریش اثار یې لیکلی ږ.او په ژور نالیزم کې یې هم کار کړی دی.[2]

**نورالدین(۱۲۰۰)**: کېدای شي نوموړی له دولس سوم کاله را وروسته زیږېدلی وي، یو ملي او رزمي شاعر وو، ډار مستېټر( ۸۴۹ـ ۱۸۹۴) کال په خپل اثر " افغانانو سندرې" یا د " پشتونخوا د شعر هارو بهار" کې لیکلی دي چې نورالدین د پیښور د پیرپالي اوسېدونکی و.[3]

اورابناد استاد صدیق الله رښتین هم د نورالدین د زیږېدو وخت (۱۲۰۰هـ) شا او خوا ښیي، نورلدین هغه وخت د نسلونو په راوېښلو کې د ادب له لارې د.... د راوېښولو په کار کې د شعر او ادب له لارې هڅې کړې دي او ډېرې چاربیتي او نور ډول ډول مضمونونه یې لیکلي دي چې د یادونې وړ دي.

خدای ښښلي استاد پوهاند دوکتور زیورالدین زیور لیکلي: نورالدین په تاریخي مسایلو ډېر عشقي بدلې هم ویلي دي؛ دلته به یې د تاریخي کلام لږ بېلګې راوړو:

روان شه یا مې سید و باسي له پنجتازه

سید له بری ورکړی الهی پروردیګاره

مراغی امیرخان سرداره دربه کړم زر

---

[1]- رښتین، صدیق الله، د پښتو ادبیاتو تاریخ... کابل دولتی مطبعه.

[2]- رښتین، صدیق الله، ۱۳۲۱کال. پښتانه شعرا( دویم ټوک کابل. ۴۶۷

[3]- جمیز ډار مستېټر. ۱۳۵٦، د پښتو نخوا هارو بهار. درېیم چاپ، کابل: ۱۷۴

له ما سره روان شه یوسفزو ته برابر

عشقي بدلې هم لري:

سترګې ګلونه د نارو

کاته دې دې اثري

سترګې دې سرې وينم ښارو

مولا درکړې نور

ستا د پيزوان په کتارو

شومه په تاپسې رنځور

خبر مې واخله په تلوار

کوم درته زاري

سترګې ګلونه د انار

قاته دې اثري[1]

**فيض محمد اخوند زاده:**

د لوړو روزنيزو افکارو خاوند شاعر، ليکوال، مبلغ، مفکر، فقهي او عارف زبردست اسنان تېر شوی دی.

فيض محمد اخوند زاده يو تکړه مجاهد، روحاني، شاعر هم و، په ( ۱۲۵۰هـ) شا او خوا کې موسهي کې زيږېدلی وروسته يې د ( روضة المجاهدين) په نامه يو پښتو مثنوي کتاب وليکه، د نظم ژبه يې ساده خوږه او روانه ده لاندې بيتونه يې عبارت دي له:

به نامه د لوی عزيز

چې قادر دی په هر څيز

[1]- د پښتو ادبياتو تاريخ، زېورالدين زېور

دوی پیدا کاندي اسنان

بیا یې یوه کایه بیان

شي عالم په حقایقو

اظهار کا د دقایقو

له نور خبرو او متلو سره اخوندزاده روح الله د ملت اتفاق غوښتې او غوښتونکی دی لکه چې په خپلو بیتونو کې چې وایي:

خلاق مه کړی په منیان کې

چې واقع به شي په زیان کې

د نفرت کمال به کوړ شي

د دښمن خاطر به خوړ شي

همه واړه یو وجود شي

په طلب کې د مقصود شي

د وخت اردو نظام ته یې هم نظمونه ویلي دي:

په لښکر کې چې افسر وي

مې باید چې دل آور وي

شجاعت لري قرار وي

ښه دینداره مذکر وي
سخاوت لري ښه داد کا

کبرجن او جاهل نه وي

بد کرداره جاهل نه وي

له لښکره باخبر وي

بد کردار غافل نه وي

مولوی احمد، غلام محی الدین افغان چې مخک بهم یادونه ترې وشوه، ددې دورې وتلي، شاعران، منوزین، پوهان او د فکر انسانیت پالونکي وو، چې د نوموړو کارونه د روښانگرۍ په فضا کې د یادولو وړ دي.

نوموړو خلکو ا ته د هغه وخت په تیاره ماحول کې د ژوند لاري او گودرې ور وښودلې او د راتلونکي ژوند لپاره یې د فکر خاوندان کړل، د هغې دورې د لیکوالو دیني عالماوو، شاعرانو او مفکرانو ستر هدف او لوی نظر لړ د تامل وړ دی.

له یوې خوړا یې ولسونه په دیني باورونو وپسولل د وخت دولت او حکومتونه سره یې روابط ساتل، د هېواد د ښمنان پر ضد یې دد پوهې ډېوې بلې وساتلې. خلک یې په علم او خودۍ په احساس زر پوشه کول، د اېمان او باور زغرې یې ور په ځان کولې.

د سرېتوب، انسانیت او لارښوونکي هنر حقانیت او زبردستي یې هم ښکاره ساتله، او د یوه باعده درسي نصاف او تلپاتې پرمختگ اراده یې هم درلوده، شخصي هدفونه ورته هېڅ و او د وطني دیني او ملي روښانیتا لپاره ارمان یې د طون له غرو رغو سره کاوه او گورۍ د غلام الدین شکرریز کلام ته:

زړه زما ډک شوی له مینې د وطن

خپل وطن راته عزیز دی تر ځپل تن

هر یو گل مې د وطن په ما ډېر گران دی

تر کشمیره تر پاریسه تر لندن

چا په زړه کې چې جنون د وطن نه وي

د هغه زړه دې خدای همېش لري غمجن

که څه دېر دی په جهان کې عزتونه

ډېر عزت دی په خدمت کې د وطن( سراج الاخبار درېیم مخ)

کله په وطن باغ باغیان شکر باسي

شکر شکر باغ مو خپل باغبان مو خپل دی

گل مو خپل بهار مو خپل بستان مو خپل دی

محی الدین افغان آن پوهان او ناپوهان سره پرتله کړې دي او د کلام الله مجید د نص خوږ انځور یې ویستلی دی، په قران مجید کې د پوه او ناپوه څېره مقایسه او پرتله کېږي؛ لکه:

هل یستوی الدین تعلمون و الذین لا یعلمون....(کلام الله)

د محی الدین افغان بیا داسې په خپل شعر کې د پوه او ناپوه پرتله کړې ده:

بې کمال د باکمال کله همر دی

هم هېمت کله گوهر سره هجر دی

با کمال سړی په مثال د پاچا دی

په ظاهره کې مفلس یا قنلدر دی

که لباس د بې کمال د زربفتو

دا یې ځل وي د حریرو هغه خر دی

که لباس د با کمال وي د کرباسو

کمال ده لره خلصت دی هم زیور دی

څوک چې نه لري کمال واوره افغانه

که غني وي لا خو تانه مفلس تر دی

د روښانیتا پړاو د ځینو برجسته او پیاوړو خېرو له څه معرفۍ وروسته ځېل مطلب ته د خپل مضمون د تدریسي، تحصیلي او نورو نصابونو...) د رامنځته کېدو پر لارو چارو باندې لږ څه نور رڼاهم اچوو؛ لکه: د خدای ښښلی درانه استاد اکاډمسین معاون صدیق روهي په وینا:" ټول ادبي جریانونه په درې ډولو ویشل کېدای شي؛( فولکلوري ادب، کلاسیک ادب، او موډرن ادب.[1]

له پورته یادونې زما مطلب دا و چې په کومو پړاوونو کې په رسمي، مدني، علمي ډول د درسي نصاب تابیا ووې شوې دي چې یو پړاو یې موږ ونسوده او په دغه نصابونو کې د حضرت عبدالرحمان بابا څېره لا په وزین او زرین

---

[1]- روهي، صدیق الله، ۱۳۸۴، دویم چاپ، پېښور دانش خپرونديه ټولنه: ۴۳

ډول ښوول شوي لاځلېږي او وړانګې خوروي.

د اروانښاد استاد روهي د ادب تاریخ کتاب څپرکی را لټوو، پینځم څپرکی له د ویښتیا حکایت کوي.

په دغه دوره د امیرامان الله خان د مترقي پاچاهۍ نه خبرې کوي. دا امیرامان الله خان ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي اصلاحات چې د ترقي غوښتونکو روښانفکرانو ارمانونه یې نمثیلوي". زما په نظر د ژوند یعنې دنیا او څه هم آخرت ښګېني برجشته کولې بیا هم د ځینو روحانیونو، ملایانو، خانانو، مجافظه کارو سردارانو له محالفت سره مخامخ شوي دي په هر ډول زه په تاریخي بدلونونوکار نه لرم خو دا وایم چې د هغه وخت لانجو د امان مترقي پلانونه له خنډ سره یو مخیز مخامخ څه له منځه یو وړه.

وایي چې د ملا له توره، د خدای له زوره ځای وساتئ) امان الله له همداسې یو حالت سره لاس او ګریوان شو او که غل نه اوړي؛ نو مل دې واوړي) شا امان الله د کار و کړ، میدان یې ژوندی پرېښود پر ځای خبره ده( د نر یا ترپ وي یا ځرپ) که خرپ یې و نه کړ، البته د وطن او خلکو د تلفید و صلاح فکر ورسره و، خو د تېښته یې له مقاومته غوره وبلله او په خپله مخ لاړ.

خبرې سل او سر یې یو واعظه

بې له الفت نه هر څه سر وخوړو

امان الله خان بیا هم له خلکو سره الفت وکړ، وینه یې په یونه پرې نه مینځله او دوه پسې یې په یوه موزه کې نه کړې.

مطلب دا چې هغه مهال وطن کې په سر چپه حالت په رامنځته کېدلو نصابونو ګډوډ شول، خو بیاهم خلکو د ترقۍ لاره پیدا کړه او د ژوند امید او مبارزې لاره یې ونیوه.

د امان خان د چا خبره بیسواده او د قدرت نیولو شله و چې د هغه واکمنۍ د کمۍ مودې لپاره دوام وکړ او د ۱۹۲۹م کال د اکتور په ۱۰مه د ۱۳۰۸ کال د میزان په ۲۳مه نېه د کورنۍ اړودور په پای کې محمدنادرشاه پاچاهۍ ته ورسېد.

د نادرشاه ټول ټولنیز پرمختګونه په تدریجي ډول په مخ لاړل، او له تېرو اصلاحي بدلونونو یې تجربه تر لاسه کړې وه، د چا خبره له حالاتو یې زده کړې وه، د فارسي پر بنیاد( هر که نیا موخت زګذشت روزګار نیا موزد زهیچ اموزګار..) نادرخان مخکې تجربې د ټولنیزو او ادبي سمونونو سمبل وګرځاوه او پر مخ لاړ، نادرخان هېواد په بې طرفه حال وساته او دا ښه کار وو له نورو هېوادونو سره یې مناسبات ټینګولو تګلاره ته یې ۱۹۳۱م کال په

ساساي قانون کې قانوني جنبه ورکړه.

محمد نادرشاه ددغه فارمول په اساس چې سره ټول يې کړه کنټرول يې کړه د خپل اجتماعلي پلويانو په بېلابېلو ګروپونو کې تنظيم کړل.

سوداګران يې د شرکتونو جوړولوته تشويق کړل، د فابريکو په جوړولو کې يې ونډه واخيسته، د شلمې پېړۍ په ډېرشمو کلونو کې پنځلس لوی شرکتونه پرانيستل شول. د روحانيونو د رضايت لپاره يې يو لړ ښه اقدامات ترسره کړ، د آزار دودينې مدرسو جوړولو ته يې اجازه ورکړه، شعري محکمو ته آزادي ورکړل شوه، پر خپلو دولتي قوانينو باندې يې د شعري مهرلګولو لپاره جمعيت العلماً تاسيس کړ، په کابل، کندهار او هرات کې ادبي انجمونونه جوړل شول په ۱۳۱۱هـ ش کال کپه کندهار کې پښتو انجمن جوړ شو او د پښتو مجلې په خپرېدو يې پيل وکړ، د خدای ښښلي حضرت روهي په وينا:

" په ۱۹۳۳م کال کې ۱۳۱۲هـ ش د عرپ په ۱٦مه چې محمد ظاهرشاه د پاچاهۍ په تخت کېناست، نوموړي په عمده توګه د خپل پلاره تګ لاره تعقيب کړه، د ظاهر شاه د سلطنت په دوره کې ځينو نړيږوالو پيښو پر افغاني فرهنګ، په تېره پښتو ادبياتو باندې خپل سيوري واچوه.

دغه دوره د وخت له پلوه اوږده وه چې په هره برخه خورا ستر او ښه کارونه تر سره شول.

د ظاهر خان د دورې پرمختګونه په هره برخه کې خورا مشهور دي لکه اقتصادي، اجتماعي سياسي او فرهنګي...

پّ دغه دوره کې فرهنګي بعد هم ډېر وغوړېده ادبي انجمنونه رامنځته شول، شاعران په کې وروزل شول، د روهي په نظر ليکوال نه يوازې رامنځته شول بلکې وروزل شول. په عنعنوي لحاظ ادبيات د بديعي ادب او همدارنګه ادبپوهنې په مفهوم استعمالېږي.

ستر ليکوالان او شاعران لکه عبدالحی حبيبي، عبدالشکوررشاد، صديق الله رښتين، محمد موسی شفيق، عبدالرحمن پژواک، عبدالروف بېنوا، ګل پاچا الفت، سليمان لايق، عبدالباری جهاني، بهاوالدين مجروح، محمد صديق پسرلی، سعدين الدين شپون، قيام الدين خادم، برکت الله کمين، نصر الله حافظ، عبدالله بختاني، مجاور احمد زيار، عبدالروف قليل، ولي محمد مخلص، عبدالخالق اخلاص، سيدحسن حسن، شمس الدين مجروح، دولت شينواری، محمد عثمان نژند، استوره شان، عبدالقدوس پرهيز، غلام رحمان حرار، حبيب الله رفع، رازقي پزيو الله، محمد ابراهيم عطاني، محمد رحيم الهام عبدلمنان ملګری، امين زمريالی، عبدالکريم محب، دستګير ړنګ، محمد عمر بليل افغان، محمد عثمان پښتون، نيک محمد پکتيانی، محمد رفيق حبيبي،

میرمن حمیده، غلام محی الدین رزمتی، سمسور ساپي، غلام حضرت روغمن، رفیع قانع، برهاندالدین کشککي، عبدالروف مخلص، محمدگل مومند، محمد نسیم نوري....

دغه رنګه او پرا اجوړونکی، کیسه لیکونکي، ناول لیکونکي، فولکوریستان، نثر لیکونکي، ژبپوهاند او په نورو ډېرو برخو کې ډېر زیات لیکوال او محققین میدان ته راووتل او د ښېرازۍ لاره یې ونیوه.

ددغې دورې لیکوالو، شاعرانو کیسه لیکوالو او ټولو نومونه راوړي د ادبیاتو د استادانو مېتودیکي کار او زیار پورې اړه لري.

زه باید و واسم چې د ظاهرخان دوره له څه نا څه ستونزو سره سره بّ هېواد کې د فرهنګ غوړېدو خلانده پیر او دوره وه له ۱۳۵۲ کلونو او بیا ۱۳۵۷هـ ش کلو تو پورې ستر فرهنګي بدلونونه را منځته شول اتنها ۱۳۷۱هـ کلونو پورې هېواد د سکون او کابلي او داخلي اړو دوړ دوره وه.

د افغان ټولنې په ژوند پورې ټول ټولنیز نظام د چا خبره په ټپه ولاړ و، او زموږ د هېواد د خلکو مختلفو اضافو خپل ګډوډ فعالیتونه له هېواده د باندې هېوادونو کې سر ته رسول چې  په فرهنګي برخه کې هم د نوښتیا پوره یادولو وړ دي لېږ نه ادبي څواک په پیښور او مجموع پاکستان او لږ کم په نورو هېوادو کې د یادولو وړ و او دغه لږ تر اروپا امریکا غږېدلی وه.

علمي ادبي ټولنې هم جوړې شوې وي ور سره اقلمي او تحصلي نصابونه په ډېرو هېوادونو کې په ټېره پیښور کې په لوی اندازه رامنځته شوي وو، د مهاجرت شپې او ورځې ډېر ترخې خو له خاطرو او په ښې ډول د روایت لپاره د خوږو ډکې وې.

په هېواد کې په ۱۳۸۰هـ ش کلونو کې ستر بدلونو رامنځته شول، د هېواد له سیاسي رقابت د میدانونو د تودیدو تر څنګ نور میدانونه په تودیدلو وو چې دا کار له ۱۳۸۳هـ ق) څخه را پدې خوا په هېواد د لومړي تقریباً انتخابي دولت په رامنځته کېدو رونق وموند، ادبي پېښ له پاکستان څخه هېواد ته او همدا ډول له نورو هېوادونو هم راولېږدېدل او ډول ډول پرمختګونه لارې چارې کابو برابرې شوې، د نورو سهولتونو تر څنګ خلکو لږو ډېر کارونه پیل کړل، او دا کارونه په فرهنګي خوا کې په غوړېدولو شول، مېتودونه او روزنې او تحصلي ډګرنو کې تقریباً مستې څپې تقریباً په اوښتلو شوې.

نوی نوی نصابونه په لاندې او پورته برخو کې جوړل شول او خدای پاک پر دې ولس د نوې روښانیي وزرونه ورپول او دا امیدونو غوټۍ په غوړېدو شوې.

که د ټولنې سیاسي حالاتو ته ځېر شو زموږ هېواد ټول تعلیمي او تحصیلي سیستمونه تر یو ډول نه لیدونکو اغېزو لاندې راغلي و چې کارونه یې د ولس له خوښې په څه څنګیز ډول ترسره کول په هر ډول...

زما موخه او دومره لویه تبصیره د نصابونو پّ برخه کې دا وه چې د نصابونو په جوړېدو د ډېرو بزرګوارانو خو د هغه له جملې د حضرت عبدلرحمان بابا نوم سره کې راغلی و او تر اوسه دغه کار پّ پورته توانمندی او شدت روان دي او تر څو چې پښتون پښتانه او فغاني ټولنه، ټولنې ټولګی خلک او ډګلي موجودې وي پّ دغه نصابونو کې به د عبدلرحمان بابا شیرین کلام کلام فصل فزوني کوي.

بیت:

درو ګوره په تله چا تللي نه دي

د رحمان شعر ګوهر دی څه یې تولې

د " افغان یاد" د لغام محی افغان د شپتم تلین په ویاړ د لیکوالو د مقالمو مجمعه، خپرونکی کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنې. ۱۳٦۰هـ ش کال" د پښتو نننی ادب د بریښ لیکنې لنډ سرلیکونه دلته راوړم او یادونه کوم چې په شلمه پېړۍ کې  بریښ چې په اغلب ګمان د هېواد وتلي او پیاوړي لیکوال او سر محقق استاد حبیب الله رقع دی د پښتو شعر نوی غزونې تر سر لیک لاندې یو زبردست تصویري لست وړاندې کوي چې په کې د ټول معاصر هنري ادب څېره او تذکره د ښکلاییز هویت له ورایه ځلېږي زموږ پیا وړي ادب او محقق کاري:

په زړو کالیونو کې نوی ساه

شعري کالبونه ماتېږي

آزار شعرونه وزر پرانیزي

پښتو نثر مخ پّ بره

لنډه کبه په شلیدلې بڼه کې راغله

مېلمه ناول کوربه کېږي

پښتو ډارمه په ستج پلونه کېښودل

د ادبیاتو سفرونو سفرنامې وزېږولې

د لیکوال لیدنې کتنې ادبي راپورتاژونه شول

د ادبیاتو ادبي انځور نوي ادبي سوغات

د ځان پېښنو انځور او خاطرې سره ملې کړې

د نکلونو نکل کیسې او خاطرې سره ملې کړې

منثور شعرونه هم وویل شول

ادبي کره کتنه د ادبي و دې وسیله

ادبي لیکونه د لیکوالۍ په نړۍ کې

ادبي سکونډلې د ټولنیز سمون لار

سمینار یو هنري ژ،ند د سیمنار پر د هیلې کره

ادبي انځورنې د هنري ادب غوټې

او له دې وروسته یې لاندې پنځه کرښې دیټا وړاندې کړه دغسې:

د نړۍ د تحول پېړۍ ده او بدلون

د تاریخ د پرمختګ پوړۍ ده او د للون

د علم د سرعت پېړۍ ده او دیون

د ختیځ د ځوځېد رنګ پېړۍ ده او د پاڅون

د ملتونو د غورځنګ پېړۍ ده او د اوښتون

له پورته ټولو یادونو پوره پوره نتیجه اخستلای شو چې شمله پېړۍ له نورو تیاو و سیلابونو خطرونو تاړاکونو او بدمرغۍ سره سره ډېرې ښآیسته او هر اړخیزې فرهنګي علمي تابیاوې ترسره شوې چې د ټولنو ټولو انسانانو لرې په هره برخه کې مثبتې لاسته راوړنې ترلاسه کړې په دغه پېړۍ کې په شعوري ډول هنري هویتونه رابر سیره شول او په ملتونو پّ تېره پښتون ټبر پورې اړوند علمي او ادبي هویت لا ځلانده شول ښ،ونځي، لیسې او ورسره ورسره روزنتې اړوند ملحقات هم میدان ته راغلل چې د لا زیات او بل پر مختګ لپاره یې د نصابونو جوړولو ته اړتیا درلوده څو زمور د ولس باوري عقیدتې اجتماعي، فکري او شعوري حرکتونه ته سمت ورکړي او د

مثبت خوځون لار خپله کړي په دغو فکري حرکتونو او زیرمو کې د اروابښاد حضرت عبدالرحمان بابا فکر و ژوند په سر کې قرار درلود او دا کار هم د زیردستي اړتیا، علاقمندۍ او حتمي فرهنګي تحرک په توګه ترسره شو او اوس اوس د حضرت عبدلرحمان بابا نوم ژ،ند او ټوله آیډیا ته درنښت کېږي او په هر نصاب کې یادېږي او لا ځلاند کېږي.

قد ته یې څوک نه شي رسیدی له بلندۍ

ولې چې معراج و ته خاته د پیغمبر دی[1]

[1]- رضا محمد افضل، ۲۰۰۴م، دیوان عبدالرحمان بابا، پیښور: زیب ارټ پبلشرز، محله جنګي. ۵

# ٦ – د رحمان بابا ادبي مکتب

## ٦ – ١- د رحمان بابا د ادبي لارې مشهور لارویان

### ٦ – ١- ١ - عبدالرحیم هوتک ، احمدشاه بابا او خوند ګدا عبدالعظیم سواتی

میانعیم متی زی ملا جمعه بارکزی، عبدالنبي بېتني، شیر محمد هوتک، مطیع الله پیر خیل، قاسم علي اپریدي، یونس، غفور، صدیق، شهنواز د الپوري حافظ ۳۱۰ نیاز محمد، عبید نصرت، ابن یمین باز محمد بنګښ عبدالرسول، عبدالرسول ماشوري، عبدالفار هوتک، عجب خان، فضل شاه، ګل محمد کاکړ، شیخ نامار، معزالله مومند، عبدالوهاب اخکزی او نور.. [١]

په پښتونخوا کې د رحمان بابا شهرت او محبوبیت دومره زیات شو چې د ده شعرونو د خلکو په ورځنیو خبرو کې د متلونو بڼه وموندله او د پاخه سند په توګه استناد پرې وشوه.

د مثال په ډول په مرې دا بیت:

چې پیدا شي همګي واړه فنا شي

اې رحمانه دا دنیا ده، دا یې کار

د پښتو د یوه لوی روحاني شخصیت سوات صاحب ځخه روایت کېږي، چې ده به یول: ((چې که چېرې د کلام پاک نه علاوه بل کلام کې لمونځ کول روا وایې، نو ما به یقیناً د رحمان صاحب کلام غوره کړی وای.

هغه شاعري چې لا تر اوسه یې هم د لرې او برې پښتونخوا شاعران د بابا په مزار کوي، د ده د محبوبیت ښه ښکارندویي کولای شي او څو چې پښتو او پښتون وي، رحمان بابا او وینا به یې د زړونو دوا وي:

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی

پټ د درست جهان پادشاه ظاهر ګدا یم

ګوره هسې کردګار دی رب زما

چې صاحب د کل اختیار دی رب زما

---

[١]- پښتانه شعرا

که صورت د محمد نه وای پیدا

پیدا کړې به خدای نه وای دا دنیا

الهي د خپل حبیب له برکته

دا ساده انشاء رنګینه د رحمان کړه

دا دنیا په احمقانو ده ودان

دانا په دنیا ب اندې غرض

یا:

ښه ښه ده دا دنیا

چې توښه ده د عقبا

په دنیا کې بدي نشته

که بدي نه وي له تا

## ۶ – ۲ د عبدالرحمان بابا د ادبي لارې (مکتب) پیروان او شاګردان

د حضرت عبدالرحمان بابا ادبي لار او فکري مکتب عالمګیر دی، نوموړي له چا پند اخلي، پند واي، د ځینو مرید دی او د بعضو پیر.

هم پند اخلم هم پند وایم و هر چا ته

زه د ځینو یم مرید، د ځینو پیر یم

عبدالرحمان بابا د لوړې ایډیا او ملوني فکر خاوند و، شعري کلام یې لکه یو عقیدتي او باوري کتاب (کلیات) رامنځته کړ، چې د ښکلا انګازې او اوازې او مفهومي لاره یې د ډېرو ډېرو فکورو ادب پوهو او خیالي پروره پښتنو ځوانانو او نورو قومونو فکري ژوند لار شوه، چې په مجموعي کې بشریت او بیا به پښتانه تر ډېره ډېره او آن د پښتون ټبر تر پایه دغې لارې ته دوام ورکوي او د دې لارې بدل به ساتې.

مکتب، د فکري ادبي باوري او عقیدتي ریاست لاره ده، چې په ادبي، سیاسي، او ګڼو اجتماعي برخو کې رامنځته کېږي، وده کوي، پلویان، معتقدین او لارویان پیدا کوي او د ژوند ګڼې او ګورو اړخونو د لارو روښانه کولو

لپاره هدفونه آسانه په ښه کوي او هغه پالي په حقیقت کې ادبي مکتب یو لړ اصول او موازین دي چې د یو ادبي انساني مرام او آرمان خط مش (کړنلار) جوړوي، د ژوند په ټولو په تېره تیارو برخو کې مشالونه لگوي او هغو برخو ته ځلا او ښکلا ورکوي.

مکتب او په تېره ادبي او اجتماعي ښوونځی د یوې ژوندۍ خودآگاه معنوي ویساتوب ځلانده پلوشې دي، چې د روحي او فکري تواتمندۍ زېرى ورکوي.

ښوونځی او مکتب د پیاوړي له وختونو آگاه باوري، عقیدوي، اندروني، شعوري – فکري ایډیالونو تصورات دي، چې راتلونکو ته د یوې ارماني لارې په توگه ورکول کېږي.

ادبي مکتب کېدای د یو فرد او افرادو د پوهنو، ایډیالونو، باورونو او خودارایت روښانه او تا بناکه هڅه وي، چې نسلونو ته یو لړ ځانگړي افکار وپنځوي چې د ژوند په چارو کې ترې گټه پورته کړي.

مکتب د ځلانده سبک عملي هویت دی یا په بله وینا مکتب د سبک جامع او پرمخ تللې بڼه ده چې تیوري وضع کوي.

فرهنگ فارسي عمید. وجلدي، ۱۳۸۱ کال، موسسه انتشارات امیر کبیر، تهران د حسن عمید تالیف په دویم ټوک (۱۸۴۱) مخ کې لیکي: د ۱ –[ع] (م. ت) د لیکلو ځای، د درس ورکولو ځای، دبستان، جمع مکاتب، [1]

د سبک او مکتب خبره په اجتماعي، په تېره ادبي پدیدو کې هغ وخت مطرح او رامنځته کېدای شي، چې (یو مخکښ فکر، اشرارو...) یو ځلانده طرزید او ایډیا ولري او ټولنې ته یې وړاندې کړي، د دې فکر او ایډیا رامنځته کېدل، خبرېدل او بیا پنځېدل په طبعي یا مصنوعي ډول وي.

د اروپوهنې په حکم دغه کار تر کوم ځایه، چې په انسانانو پورې اړه لري، په تېره په بېرته پاتې ټولنو کې تر ډېره بریده تحقیق نشي پیدا کولای، څکه د پیاوړي روانشناس سیروس په وینا: "په هر سر کې شور شته، خو سخ (آفرین) د هغه چا چې دغه شور پیدا کړي."

په پرمختللیو ټولنو کې دغه تجربې په ماشومانو باندې د تطبیق وړ بولي، ماشومان له کوچینتوب څخه گوري، استعدادونه یې ویني او د هغوی طبعي علاقمندي، څکه د هغو ذوق پیدا کوي، ډېر تمرکز د ماشوم په ذوق باندې کوي او بیا یې په هماغه برخه کې روزي.

په ۱۹ پېړۍ کې د نړۍ مشهور نقاش (بابلوپیکاسو) تر ۷ او ۸ ټولگیو پورې ډاکتر پلار او ډاکترې مور هڅاوه،

[1]- عمید، حسن. ۱۳۸۱. فرهنگ عمید، ایران: تهران، موسسه انتشارات امیر کبیر.

چې د رياضي له استاده رياضي زده کړي، چې په راتلونکې کې هغه هم ډاکتر شي، خو د هغه ذهن او فطرت له داسې او عالي هنر سره غوټه خوړلې وه، چې هماغه ورته اصل او نور ټول ورته فرعه ښکارېده، سره له دې چې مور و پلار يې په دې نه پوهېده.

وايي يوه ورځ د رياضي کورنۍ معلم ورته درس ورکاوه، خو نوموړی پر ځمکه د ګلونو يوه ښکلې له پاڼو او ګلدانو ډکه ځانګه رسم کړله او بيا يې د هماه ګل ليوال او مطابق ذوق چوغک، يا بلبل ورباندې رسم کړ. دا رسم دومره ښکلې وه، چې خپل استاد يې هک پک کړ او هغه پوه شو، چې دا هلک د پيکاسو په بل څه سره علاقه لري، هماغه و چې مور و پلار يې ژر ورباندې خبر کړل او هغو هم ومنله چې د دوی زوی ځانته بله دنيا لري چې د هنر له چينو څخه خړوبېږي، خپل زوی ته يې د کار له لارې چارې برابرې کړې، په دغه کار کې د داسې عالي استعداد او الي ذوق خاوند وو، چې اوس يې هم يو اثر په مليونونو ډالرو پلورل کېږي.

د هنر ټول ډولونه، بيا د خبرو هنر له تورو، لفظونو، وييونو کلمو او جملو رغېږي. دا داسې هنر دی، چې الله پاک يې په نړۍ کې کمو خلکو رواداري کوي، تر دې عالي، له اعجاز او ښکلا ډ: او عالي هنر نشته.

پر رحمان بابا عليه الرحمه باندې الله تعالی د (الفاظو) د هنر لورينه کړې وه او بيا يې د دغو تورو، کلمو او له هنره ډکو جملو سره د ادب، نورانيت له جلوو او کماله هم برخمن کړی و، دا ځکه ده به ويل: "اې رحمانه د بلبلو ژبه زده‌کړه = پس له هغه په صفت د ګل اندام شه"

طبعي او مصنوعي هنر دواړه د ارزښت وړ دی، خو طبيعي هنر د عشق او مينې له لايزاله سرچشمو را بهرېږي. د همدې لپاره وچيده نه لري او مصنوعي هنر د منيې په ظروفو کې د ژوند او حيات اوبه ډېر ځله نشي ليږدولای. د فارسي ژبې د عالمي شاعر صوفي حافظ رحمت الله په وينا: "درانه جسنت زنجلی دم زد = عشق پيدا شد آتش په همدعالم زد او عبدالرحمان روح الله بيا نوراني کلام تر موږ را غځوي.

ستا د حسن د تعريف له برکته

د رحمان د شعر کوکې په عالم دي

## ٦ - ٣ - طبعي او مصنوعي هنر

که په مکتب خبرې کوو، لازمه ده لومړی په سبک او بيا په مکتب وغږېږو. دلته زما مطلب د سبک و مکتب پېژندل، د دوی ورته‌والی، بېلتون او اجتماعي پوهو باندې عرض نشته، عرض دا دی چې د عبدالرحمان بابا، د

کلام، شخصیت او شعر تعالي او معنویت دومره لوړوو، ځلا به یې تر لایتناهي ورسېږي.

سبک د استاد صدیق روهي له نظر (مفکوره او د لیکونکي شخصی) دی، چې یو فرد ته خاص وي او مکتب هغه جامع او لایتناهي موضوع رانغاړي، چې ډېر پیروان او پلویان لري.[1] له دې را وروسته د درانه استاد سرمحقق، دوکتور سید محی الدین هاشمي د هنري نثر ډولونو په کتاب کې هم داسې اشارې او لیکنې ډېرې راغلې، چې سبک او مکتب ښه معرفي کولای شي.

زما عمده هدف دلته دا دی چې د رحمان بابا د سپېڅلې لارې او خوږې ژبې او پخې ایډیا ځو زبردست و شاعرانو معرفي دلته بیا بیا راوړم کوم چې د حضرت بابا د مکتب پلویان وو:

د علامه اروابښاد حضرت عبدالرحمان بابا لاندې بیت چې:

هم پند اخلم، هم پند وایم و هر چا ته

زه د ځینو یم مرید د ځینو پیر یم

نو بیا به راته څرګنده شي چې د (بابا فکري مکتب د ډېرې مطالعې، پېهې، پلټنې، عقیدو، باورونو له تېرو وختونو او عمده اشخاصو له غوره پوهنو، کارنامو او د خپل وخت او حال د پوهانو او شاعرانو له آثارو او همدارنګه له خپلو پخو تجربو ډېر څه زده کړي وو، اوله دې سره سره الله پاک د الفاظ او هنري اعجازاتو د اظهارولو امتیاز په پوره کمال ور باندې لورولی وو چې هغه د نوموړي د شاعرۍ کمال وم.

د رحمان بابا له پورته بیته که څه هم د پېرۍ او مریدۍ څرګندونه کېږي، چې که هغه د چا مرید پاتې شوی دی، نو د هغه هم څوک مریدان وو. د پورفیسور ډاکتر زبیر حسرت په وینه چې زه دغه شعر ته په دې تناظر کې ګورم چې دا شعر د رحمان بابا د شاعرۍ په باب مور ته د هغه د اخذ اکتساب او له هغه ځینې د اخذ اکتساب د دوه‌مخیزې کره سکې آئینه هم ښایي او دغه عمل د شلمې صدي د امیر حمزه خان شینواري پورې چارې و، چې د رحمان بابا په خاص اسلوب، لفظیانو، خیال او فکر کې د پښتونخوا ډېرو زیاتو شاعرانو شاعري کړې ده او د هغه الهامي رنګ کې خپل ځانونه رنګ کړي دي... رحمان بابا چې له خپلو کومو منتقدینو اثر اخیستی دی، هغه یې ډېر په آزاد مټ خپله رنګینه شعرۍ کې یو په یو یاد کړي دي، یا یې د هغوی د شاعرۍ او شاعرانه لویۍ د عظمت، ستاینه کړې ده، نو د هغوی د راښکته کولو یې د روایتي طور یو خپله هڅه کړې ده. ظاهره ده چې

[1]- روهي، محمد صدیق، ۱۳٦۰ کال، ادبي څېړنې: ننګرهار: ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی چاپ. ۷۲ – ۷۳ – ۷۴ مخونه

دغه شاعران د رحمان بابا ته مشران وو، يې ثانه عظمت او حيثيت يې مسلم و، چې خپله رحمان بابا هم سيلم کړي وو، ځکه چې په شاعرانه ژالې کې عموماً د هغو شاعرانو نومونه اخيستی شي چې د يادوونکي نه مشران او په ادبي قد قامت لوی وي دا بيله خبره ده، چې د خپل عصر دغه لوی شاعران د رحمان بابا په نسبت هاغه هومره مقبول او هر د لعزيز نه شو ځومره او څنګه چې د هغوی حق و: د فارسي د مشهورو غزل نګارو او صوفاينه افکارو لرونکو شاعرانو حافظ سعدي او سنايي و غيره نه علاوه د پښتو په دغو شاعرانو کې له هر چا اول روښنايي شاعران راځي چې نه صرف رحمان بابا يې خپله شاعرۍ کې تذکره کړې ده، بلکې د هغوی مصرعي يې زينت لپاره خپل غزل کې ريښې دي او په هاغه وزن، بحر، رديف او قافه يې جوابي غزلونه ويلي دي.

د رحمان بابا په کلام کې د روښانيانو د شاعرۍ د اسراتو په هکله ډاکتر يار محمد معصوم خټک ليکلي دي چې:

د رحمان د شاعرۍ له مطالعې معلومېږي چې هغه د تصوف ژوره مطالعه لرله، هغه که يو طرف ته صاحب حال صوفي و، نو بل اړخ ته يې د تصوف تاريخي او عملي پس منظر هم په نظر کې و. هغه د روښاني مسلک ژوره مطالعه کړې ده او د وحدت الوجود د دبار پکيو ته ښه وافق و.

هغه په خپله شاعرۍ کې د روښاني شاعرانو ملا ارزاني، دولت او مير زاد کړی دی، نو دا ډېره ممکنه ده چې هغه د دغو شاعرانو شعر قبول کړی وي.

معموم صاحب دې سلسله کې وړاندې د محترم دوست محمد خان کامل مومند دارايي هم را نقل کړې ده، چې پکې يې د خپلو د يو خيالاتو څرګندونه کړې ده چې:

د عبدالرحمان بابا صوفيانه شارعي د ډاکتر مغموم په وينا يوه ډېره لويه او قېمتي اضافه وه او اګر که د هغو د شاعرۍ نه يې لس چنده زيات شهرت او مقبوليت پيدا کړی دی او د عقيدې، خيال او فکر د اختلاف نه علوه د رحمان بابا او روښانيانو په صوفيانه شاعرۍ کې دا فرق هم شته چې وړومبي علمي، نظري او خيالي جدايايي ده او د حال او قال او علم او عمل عناصر پکې کم او زيات يو شان خوار ليده شي او په وروستۍ کې د حال او جذب عنصر مقابلتيا ډېره زياته غالبه ده.

همدا شان مغموم صاحب د مرحوم رضا همداني صاحب د روښانيانو او رحمان بابا د کلام د يو شان والي خبرې خلاصه په خپلو لفظونو کې داسې بيان کړې ده، چې:

ويل کېږي چې رحمان بابا د ميرزاخان انصاري نه متاثره وو، دې کې شک نشته چې د رحمان بابا د شاعرۍ صوفيانه ذوق په هغه باندې د ميرزاخان انصاري د اثر نتيجه ده، دغه اثر صرف د مضمون تر حده نه، بلکې دغه

اثر په فني لحاظ هم دي.

رحمان بابا د میرزاخان انصاري د یوه بیت مصرع داسې تضمین کړې ده چې:

دا خواب رحمان هغه کا چې مرزا وې

زه څرګند د محبت په ښه بنیاد یم

د میرزاخان انصاري د متعلقه غزل مطلع او مقطع دا رنګ دی:

زه څرګند د محبت په ښه بنیاد یم

له نېسته هم په دا هستۍ آباد یم

په بدۍ کې عنایت را باندې وشه

له دې مهره د میرزا په نامه یاد یم

د دولت لوانې یوه مصرع یې داسې تضمین او مقطع کړې ده:

دا ځواب رحمان هغه کا چې دولت وي

که دلبر د دین مې پیاپې را کا

رحمان بابا چې د دولت لوانې د کوم غزل به دا مصرع را اخیستې ده، د هغې مطلع او مقطع دا دی:

دا فلک چې دوه یاران سره آشنا کا

په آرمان آرمان یې بیا و بله جدا کا

دا فقیر دولت به محوه شم یکباره

که دلبر د مینې مې پیاپې را کا

رحمان بابا چې د خپلو تصوفي افکارو په سلسله کې د روښانیانو شاعرانو نه کوم اثر اخیستی دی، هغه د پروفیسور ډاکتر یارمحمد مغموم خټک د کتاب «روښانیان او پښتو ادب» په حواله له ستاسو وړاندې پیش کوم:

میرزا خان انصاري وایي:

کل جهان له محبته پیدا شوی

دا ربنتينی عشق  کل جهان آبا

مخلص روښاني دغه مضمون داسې بيان کړی دی:

کل عالم له محبته پيدا شوی

کل جهان يې دی سر گورم، بابا عشق

او رحمان بابا عليه الرحمه وايي:

دا جهان دی خدای له عشقه پيدا کړی

د جملهوو مخلوقاتو پلار دی دا

مير زاخان انصاري وايي:

که زما و يگانگۍ وته نظر کړې

په وحدت کې دوبي نشته يک نتها يم

رحمان بابا نظر درلود:

په دويي کې به ورنه شي تر څو حده

څو ضمير دې خالي نشي له اشراکه

ميرزا وايي:

د کثرت په عددونو مې ځان پټ کړه

اوس گهې گهې دغه شان شم گهمې دايم

رحمان بابا د امضمون داسې بيانوي:

دا زما د يار جلوه ده، چې ليده شي

لکه نمر په صومعه او سومنات

کريم داد ارواښاد بنگښ وايي:

په ازل واړه برخه دې ويشلې دی

ستا کوشش بې فايدې سعي بيهوده

کريمداد روښاني وايي:

ورځ دې نن ده هوسېره

په حضور ديدن نازېږه

رحمان بابا وايي:

زنده‌گي که څه پوهېږې حضور دم

آئنده او رفته کله د چا يادوي

دا او دغسې نور مثالونه دا حقيقت روښانه کوي، چې رحمان بابا د روښانيانو شاعرانو نه شعوري يا غير شعوري اثر اخيستی دی او د وحدت‌الوجود په سلسله کې د رحمان بابا او روښاني شاعرانو په شاعرۍ کې واضح مشابهت روڼ ښکاري." [۱]

د ميرزا د ارزاني دعوې به پري کا

قدردان د شاعرانو رحمان راغی

خوشحال او دولت مې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمگير يم

دا غزل په حاشيه وکښه رحمانه

د خوشحال د بياض پاڼې به وريږدي

يو خوشحال يو کم سل خټک نور په طبيعت کې

ځار شه د رحمان سرېښي له يوه فرده

د رحمان بابا کلام سره د نورو پښتنو هغو شاعرانو د تقابلې مطالعې ضرورت دی چې د رحمان بابا نه يې په څه

---

[۱]- خټک، مغموم، يار محمد. ۱۹۸۸. روښانيان او پښتو ادب. پېښور، قصه خواني. (رحمان بابا، فکره حکمت: ۷۸)

ناځه رنګ کې اخذ و اکتساب کړی دی او په شعوري طور یې د دوی د تقلید هڅه کړې ده، یانې له یو بله یې اثر اخیستی دی او یا ورته توارد ویلی شو، چې د خیال او فکر یو شان والی پکې څرګند برېښي. په دې سلسله کې محترم کامل مومند له هر چا اول په ډېره ښه او عالمانه طریقه د رحمان بابا د کلام په عام جاج کې د یران د مشهورو شاعرانو حافظ شیرازي، سعدي او سنایي و غیره سره د رحمان بابا د شاعرۍ ډېر ښه تقابل پیش کړی دی.

دلته اول زه د پښتو د دوو سترو معنوي او فکري هستیو خوشحال خان خټک، چې د رحمان بابا پیش رودي او رحمان بابا پرې د ژبې، بیان او انداز له رویه شاعرانه تعالۍ هم کړي دي او رحمان بابا یوه سرسري غونډې مطالعه پیش کوله هم په ځان لازم ګڼم، چې دا ترې څرګنده شي، چې رحمان بابا هم په ځان د متقدینو اثر قبول کړی دی."

"...خو په داسې ویښ عهد کې د رحمان بابا د خپلو پیشروانو او معاصرو ادبي آثارو نه باخره کېدل قیاس ته ډېر زیات نږدې دي، لکه چې اشرف خان هجري د رحمان بابا د شعري تخلیقاتو نه خبر وو، نو دغسې به رحمان بابا هم د نورو شاعرانو کلام رسېدلی وي، د رحمان بابا د دیوان داخلي شهادت هم په دې هکله زموږ تایید کوي. هغه څو ځایه په خپل کلام کې په دولت خوشحال، ارزاني او میرزا تعالی کړي دي او دا وینا په څاپي نه لري چې کېدای شي، چې هغه د هغوی نه صرف د هغوی د ادبي شهرت په ذریعه خبر وو، د رحمان بابا په دیوان کې داسې څو غزلونه شته چې د خوشحال بابا په غزلونو لیکل شوي دي..."[١]

دلته دا عرض کوم چې دغو ټولو شاعرانو خپل کلام کې په کومو موضوعاتو، خیالاتو اظهار کړی دی، هغه اکثره او بیش تر یوه شان موضوعات دي او دا مطالعه موږ دې نتیجې ته هم رسوي چې په دغه یو رنګ موضوعاتو باندې د اظهار په وخت کوم شاعر په کوم طور او طریقه او په کوم زور دار انداز کې خپل خیال وړاندې کړی دی، ځکه چې مطالعه موږ د یوه شاعر مقام او دهغه عالمانه حیثیت ډېر په آسانه متعین کولای شو او همدغه مطالعه د دب د یوه طالب العلم لپاره ډېره زیاته ضروري ده چې هغه د خپل لرغوني ادب خصوصاً د کلاسیکې شاعرۍ نه ځان خبر وساتي.

خوشحال بابا او د هغه کورنۍ چې پښتو ادب ته څه ورکړي دي، هغه دومره زیات دي چې څوک هم ترې سترګې نشي پټولی او دغه ټوله پنګه زموږ یوه قابل فخر قامي ورثه او بې مثاله ادبي اثانه ده. دغه رنګ موږ د رحمان بابا شاعري هم د یوې قبیلې شاعري نه شو ګڼلی، بلکې د ګردې پښتونخوا د ټول پښتون قام او اولس

[١]- (دوست محمد کامل مومند، رحمان بابا (دویم چاپ) پېښور یونیوسیټي: ٨٠)

لپاره او د ټول پښتنو شریکه میراثه ده او د خپل دې بیت په مصداق یې دا آرزو ډېره شدیده ده چې:

چې کشور د افغانانو معطر کا

د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړې

خوشحال خان خټک او رحمان بابا دواړو پښتو ادب ته جامعیت جدت ورکړی دی. دواړه د اخلاقو، تصوف او فلسفې لوی استادان وو او دواړه د (حیرت) په لارو، کوڅو تللي او راغلي و، چې نښې نښانې یې په کلام کې څرګندې برېښي، خو د دواړو په کلام کې چې کوم جوت فرق لیدلی شئ، هغه دا دی چې خوشحال خان جلالي فکر لري او رحمان بابا جمالي انداز او د انساني ژوند لپاره د دغو دواړو امتزاج د اعتدال د اصول ضروري دي او د انسان د ذات او شخصیت تکمیل هله ممکن شي، چې دغه دواړه پکې یو شان شامل شي، ځکه نو پښتو قام ته د دغو دواړو اهمیت او ضرورت هر وخت شته دی.

((حیرت)) یو دساې یو مقام دی چې د دنیا لویو لویو عالمانو او فلاسفه‌وو پرې د خپل خیال اظهار کړی دی. رحمان بابا د حیرت د دغه مقام ذکر داسې کوي، چې:

خبر نه یم چې بې راوستم له کومه

بیا مې کومې خواته استوي چې درومه

لکه ړوند چې لاس د بل په اوږه کېږدي

هېڅ ژوره لوړه نه وي ور معلومه

او همدغه خیال د فلسفې او تصوف په ګډون خوشال بابا داسې پیش کړی دی:

و بې ننګ و ته د ننګ خبرې مه کړه

یا ځان وګڼه په خپلو وینو رنګ

ننګیالی چې یو ځل مخ په هغه لور کا

نور هېڅ نه ویني کوهی وي، که کړنګ

مړ بهتر دی، نه هغه چې څوک بې پت شي

په یارۍ یې خدای نه کا څوک بې پته

داسئ چې په اور سوځي مراد یې دا وي

چې په اور کې سوی ښه یم نه بې پته

حیران یم نه پوهېږم چې زه څه یم څه به شم

له نومه یم راغلی، بیا به کوم طرفه ځم

جهان یو کټوری دی، زه په مثل د مېږي یم

حیرن پکې جارو ځم لاس و پښې پکې وهم

خوشحال خان خټک د پښتون قوم د ننګ، پت او نورو اعلی پښتني اخلاقو او اقدارو لپاره جهد و جد کاوه، د هغه عرض دا و چې په یو قام کې د قامي ننګ، پت او قامي جذبې کړیکې را پاروي، ننو بیا د نورو غلام کېدای نشي.

د خوشحال بابا د تحریک مطلب او مقصد د پښتون قام لپاره د ملي آزادۍ او خپلواکۍ حصول و، ځکه هغه په ننګ او پت ډېر زور اچولی دی.

چې د قام په ننګ کې ومړ هغه زویه

په جهان کې د بابا غاړه کا لکه

د افغان په ننګ مې وتړله توره

ننیګالی د زمانې خوشحال خټک یم

د زمریو مېړنتوب په لښکر نه وي

مټ یې هر کله یوازې په خپل ځان شي

د خوشحال د زړه خوښي به هغه وخت وي

چې برښنا د سپینو تورو نشي د زغرو

چې څرګنده سربازي کاندې د تورو

زه خوشحال خټک تر هغه هنر ځار شم

مړه هغه چې نه یې نوم نه یې نښان شته

تل تر تله په ښه نام پایي ښاغلي

اګر چې د رحمان بابا طبع دې مضمون موزون کولو طرف ته ډېره قایله نه وه او د هغه مزاج دومره تیز، تند او تریخ نه معلومېږي، ولې بیا یې هم د خپلې پښتونولۍ په رنګ دغه شان شاعري یو فطري امر ښکاري، چې د ننګ او مېړانې د درس ورکولو نه غاړه نه غړوي او ترغیب ورکوي، خو په خپل مهنوص رنګ او انفرادي اسلوب کې:

زغره واغونده، ملا وتړه په جنګ

دغه په معرکه کوه د ننګ

و بې ننګ و ته د ننګ خبرې مه کړه

یا ځان وګڼه په خپلو وینو رنګ

ننګیالی چې یو ځل مخ په هغه لور کا

نور څه نهویني، کوهی وي که کړنګ

می بهتر تر هغه چې څوک یې پټ شي

په یارۍ کې دې خدای نه کا څوک بې پته

داسخۍ چې په اور سوځي مراد یې دا وي

چې په اور کې سوی ښه یم نه بې پته

دغه رنګه د «ک، ق» د رحمان بابا په کلیا کې یو غزل چې «ق» ورته لیکل شوی دی، یعنې له کومې قلمي نسخې ځینې اخیستی شوی دی او وړاندې چاپ دیوانونو کې نه و راغلی، د خوشحال خان بابا د غزل په څمکه قافیه او ردیف دی او د مقطعې له شاعرانه تعالی یې داسې برېښي چې د خوشحال بابا په څواب کې لیکل شوی وي.

د خوشحال بابا د غزل مطلع او وروستی و ړومبی بیت یې داسې دی:

باد یې لاس په لمن کښېږدي سره ریږدي

ګل یې مخ ورته نظر کا خولې سپرړیدي

لاله ور ورایه رنګ و بوی ورته پیشکش کا

چې په سیل د بهار د ګلو پښې ږدي

او د رحمان بابا د معلقه غزل مطلعه او د خوشحال بابا د شعر په شان شعر او څوابي مقطع داسې دي، چې:

باد دې لاس په پلو کېښوده څړه ریږدي

ګل دې مخ وته نظر کا خولې پر پرږدي

د چمن ګلونه واړه ترې قربان شه

مجبوبا چې د چمن په ګلو پښې ږدي

دا غزل په حاشیه وکښه رحمانه

د خوشحال د بیاض پاڼې به وریږدي

د دواړو غزلونو د مطلعو یوشان والی او بیا د دواړو د بیتونو ورته‌والی او د رحمان بابا له شاعرانه تعالۍ څنې واضح څرګندېږي چې رحمان بابا په خپله شعوري هڅه اول د خوشحال بابا تقلید کړی دی او وروسته یې پرې د خپلې برترۍ هڅه کړې ده.

که سل څله زویه غوره وي تر لوڼو

صدقه شه ناقابل زویه تر لور

چې په ننګ او په ناموس تر لوڼو کم وي

خدای دې مور کاندي په هسې زویه بوره

ننګیالي تربرونه ښه وي او که نه وي

ننګیالی ترله هم ښه ده تر تربوره

که په ژور نظر وکتل شي، نو د خوشحال خان او رحمان بابا په دیوانونو کې به د ډېرو شعرونه د خیالاتو او مضامینو مماثلت او ورته‌والی بیا مومو.

دلته څو نور شعرونه د تقابلې جاج په طور پیش کوم:

- خوشحال خان:

د هغه چې زړه محکم په توکل وي

نه په خوب باندې نظر کا نه په فال

- رحمان بابا:

فال به څه ګوري رحمانه!

خپل افعال د سړي فال شي

- خوشحال خټک:

خدای د رزق په زیرمه مه هېروه کلک شه

خپل قسمت به در رسېږي زیات و کم

- رحمان بابا:

خدای د رزق په زیرمه مه هېروه کلک شه

تر سړي د سړي رزق دی مقدم

مه یې ګڼه چې په رزق سره به زیات شي

زیات به نشي د یوې ستنې تر سپم

- خوشحال خان:

که آسمان دې د زمري په خوله کې ورکړې

د زمري په خوله کې مه پرېږده همت

- رحمان بابا:

بې خيزې مې کل په خيز باندې شمېرلې

د زمري په خوله کې ناست يم فراغت

- خوشحال خان:

که دې طمع د مخلوق له دره پرې کړه

پادشاهي دې مبارک شه که گدا يې

- رحمان بابا:

قناعت چې تر خرقې لاندې اطلس دی

پټ د درست جهان پادشاه، ظاهر گدا يم

- خوشحال خان:

پادشاهان دې زرزري جامې اغوندي

د قانع گدا په شا باندې يو شال بس

- رحمان بابا:

بادشاهان که اوبه څښي په جام د زرو

ما غريب لره د خاورو کنډولی دی

- خوشحال خان:

چې تور وينبته دې سپين شول، خوی دې نور نه شو خوشحاله

باور وکړه اوس ناحق د سړي نوم دربانديې ږدم

- رحمان بابا:

توره ږیره مې شوه سپینه زه حیران یم

چې رحمان لا نه بالغ شو، نه عاقل

- خوشحال خان:

یو د بل په ځای کښني د دنیا دود دی

زه خوشحال قائم مقام یم د مجنون

- رحمان بابا:

چې مجنون په زنکندن شو

زه یې پرېښودم نایب

- خوشحال خان:

چې خدای یې په لار نه کا، په ویل به په لار نشي

که پاخوي له ګوره و هغه وته لغمان

- رحمان بابا:

که مې سل نصیحتونه ورته وکړه

هغه خدای بې لارې کړی په لار نه شو

خوشحال خان او رحمان بابا دواړه د اخلاقیاتو درس ورکوي او د انسانیت علمبردار او ترجمان دي، د دواړو پیغام یو دی او دا دواړه داسې معاشره غواړي چې پکې د ښو اخلاقو نمونې وي او د ننګ، غیرت او حیا عزت نه ډک وي، خو د رحمان بابا شعر خپل ځانګړي هنري او ښکلاییز جوړښت او انساني محتوی له امله خپل خاص خصوصیات لري او دی په پښتو ادب کې د یوه نوي سبک خاوند شاعر دی."

د پښتو ژبې کومو شاعرانو چې د رحمان بابا د خوږې او زړه وړونکې شاعرۍ پیروي کړې ده، د جغرافیوي سیمو پر اساس داسې ښودل کېږي، چې د پښتونخوا په سیمو کې د رحمان بابا د ژوند پر مهال کې د ده خوږه وینا

مشهوره ده او شاعرانو د ده په پرانیستلې لارې قدمونه ایښوول."[1]

**عبدالحمید مومند**

عبدالحمید مومند چې په عام طور په حمید بابا مشهوړر دی، د رحمان بابا نه کشر خو معاصر شاعر دی، دواړه مومند او یو بل سره د ډېر نږدې کلونو اوسېدونکي وو. دې سلسله کې ښاغلي خواجه محمد سائل خپل کتاب «عبدالحمید بابا» کښلې، لیکلې دي، چې:

"د رحمان بابا او عبدالحمید دواړه د یوې زمانې، یوې ځمکې، یو ذات، یو قوم او د یوې ریخکۍ ګلونه دي، دواړه د باړې په اوبو لوی شوي دي او د دواړو د شاعرۍ موضوع «عشق» دی، خو د رحمان بابا عشق زیات د حقیقت په رنګ رنګین شوی دی او د حمید بابا د عشق زیاته برخه مجازي ده، ساز یو دی خو نغمه ترې هر یو په بېله بېله طریقه را وکاږي. یو خپل منزل مقصود ته رسېدلی دی او بل د ورسېدلو کوښښ کوي. د ده دواړو د کلام ښه کافي فرخه د اخلاقیات دي، دواړه یو درس لري چې انسان او مسلمان شه. همدا وجه ده چې په یوه موضوع د بحث له امله د دواړو آواز یو ښکاري او کله ناکله د یوه په کلام د بل کلام ګمان کېږي."[2]

د عبدالحمید مومند کلیات، د استاد محمد آصف صمیم سریزه، څېړنه، اوډونه او ویپانګه، دوه مخو کې لیکي:

"عبدالحمید مومند هم له بده مرغه د پښتو د هغو یو څو وتلیو شاعرانو په لړ کې دی چې د زوکړې او مړینې جوتې نېټې یې لا هم د څېړنې په تورو اوبو کې ډوبې دي..."[3]

ډاکټر زبیر حسرت کاږي:

"د حمید بابا کلام د خپل پیشرو او معاصر رحمان بابا په رنګ په تشبیهاتو، استعاراتو او صنایعو کې بې مثاله دی، دی دې پښتو په نازک خیاله شاعرانو کې د استادۍ په درجه فائز دی، ځکه ورته «موشګاف» شاعر هم ویل شوی دی. د حمید بابا مقام د خوشحال بابا او رحمان بابا نه پس په درېیم نمبر دی. مورخین د حمید بابا ځان له مکتب خبره کوي، چې په هندي سبک هم یادېږي، په دغه حکمت کې چې کوم ښاغلي شاعران داخلي دي، لکه کامګار خان خټک، کاظم خان شیدا، علي خان او محمدي صاحبزاده او داسې نور، نو دا ښاغلي هم په څه ناڅه شکل د رحمان بابا د عالمګیر مکتب او سبک نه متاثره شوي دي او د هغه د اسلوب د

---

[1]- هیوادمل، زلمی، ۱۳۹۳، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، درېیم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه: ۱۷۵)

[2]- صمیم، محمد آصف. ۱۳۸۳، ۲۰۰۴م. د عبدالحمید مومند کلیات، پېښور، قصه خواني بازار، دانش خپرندویه ټولنه: ۲۴۲)

[3]- (د عبدالحمید بابا کلیات: دوه)

رنګ په خم کې یې خپلې جامې رنګ کړې دي. [1]

د دوی ذکر به په تفصیل سره وړاندې شي، د حسن او عشق په لړ کې د رحمان بابا او حمید بابا خیالات یو بل ته ډېر نږدې دي، اګر چې د دواړو یو بل ولې نظر انداز کړی دی؟ خو د کلام زیاته برخه یې یو شان لیدلی او محسوسېدلای شي او بیا په یوه علاقه کې اوسېدل نو چې د یو شان حالاتو نه تېر شوي دی. نو هغه څرکونه یې هم د کلام په آیینه کې ښکاره او راڼه دي، د حمید بابا په کلام کې ډېر شعرونه داسې لرو چې هغه نیغ په نیغه د رحمان بابا د اثر لاندې لیکل شوي وي.

موږ دغه تقابل په ځای پرېږدو، خو د رحمان بابا او حمید بابا د موضوع او خیال یو شان‌والی چې له کومو شعرونو یې جوتېږي، هغه لاندې په ترتیب سره درج کوو، او له دې څرګندېږي چې ګڼې دواړه مومند په خپلو کې یو له بل سره ډېر نږدې ناست وي، یا یې یو بل ښه لوستي وي.

- رحمان بابا:

خاورې د ادم چې کړې خمیر فرښته ګانو

درست یې په غمونو او دردونو ولاړه

- موشګاف حمید:

چې مې ختې فرښتو په لاس اخښلې

لا هاله یې بوی د عشق تلو له طینته

- رحمان بابا:

عاشقي ده خدای له اوره پیدا کړې

چې په اور کې یې وطن وي څه به خوب کا

- موشګاف حمید:

هیڅ مې نه زده محبت که اور دی دا

په اور سوځم په رضا که زور دی دا

---

[1]- سائل، خواجه محمد. ۱۹۵۸م. عبدالحمید بابا. پېښور: عظیم پبلیشنګ هاوس

- علي خان:

ختېږي د عاشق چې لا اخښلې ملائکو

غم مې يې لکه بوس هسې ور ګډ که په خمير کې

- رحمان بابا:

که د سر شيندل دشوار په ما او تا وي

دا په عشق کې سهل کار دی، دشوار نه دی

- موشګاف حميد:

لېونی غوندې د عشق په کار و بار کې

د خپل ځان په سود و زيان نه يم هر ګز

- رحمان بابا:

ستا په يادو کې رحمان هسې مشغول دي

چې په زړه کې يې نور هېڅ غم و خيال نشته

- موشګاف حميد:

چې يې زه له بل غمه په امان کړم

د عشق غم دی که غمخور دی زما

- رحمان بابا:

خط دې تور خرفونه مخ دې پاڼې د کتاب دي

شغل دې کتاب دی، بل کتاب راڅخه يووړه

- موشګاف حميد:

چې مشغول دا سا د مخ په خال و خط شوم

مشغوله را څخه پاتې د کتاب شوه

- رحمان بابا:

بې د يار له مړاوو سترګو چې کج ګوري

ګڼه خون کله کولی شي بيمار

- موشګاف حميد:

بې د يار له مړاوو سترګو چې کج ګوري

ګڼه نه کا رنځور هېڅا ته ځواب کج

- رحمان بابا:

د مجنون صورت په زړه کا رحمان ګوره

ستا په عشق کې هسې خوار و زار دی دا

- موشګاف حميد:

چې مې وليده حميد د عشق په کار کې

لېونی د مجنون کشر ورو دی دا

- رحمان بابا:

زه دا ستا په غم کې شمعې غوندې ژاړم

ته زما په غم کې صبح غوندې خانده

- موشګاف حميد:

زه د شمعې غوندې اور په تندي بل کړم

ته د صبح په څير خاندې له غروره

- رحمان بابا:

د وفا د ګلو پاڼې پکې نشته

کشکې لوی د دې دهر په ګلزار ګډ

- معزالله مومند:

چې روزګار د معزالله مومند لیده شي

کشر ورو دی، مجنون نه دی

- شمس  الدین کاکړ:

زه د شمع په څېر ژاړم تر صباحه

ته د صبح په شان خاندې له غروره

- علي خان:

زه درپسې درسته شپه ژاړم لکه پرخه

ته صبا خندا لکه ګل واز ګریوان د چا یې؟

- معزالله مومند:

که کعبې، که بت خانې لره ور دروم

هم مې ته یې په دا دواړو کې مطلوب

- موشګاف حمید:

رنګ و بوی د وفا نشته پکې ځکه

د دې باغ له ګلو واخیست خپل نظر ما

- رحمان بابا:

هره خوا چې دروم زه رحمان د زړه په سبل

بل مطلب مې نشته طلبګار یم ستا د مخ

- موشگاف حمید:

د حمید بوالهوسي ناکسي نه ده
لوټوي په خپله ورکه پسې هر مخ

- رحمان بابا:

هر زيارت لره چې ځم مراد مې ته يې
زه زائر د بتخانې د حرم نه يم

- موشگاف حمید:

که کعبې، که بتخانې ته تګ و پوی کړم
زما بل د يار له مخه مقصود نشته

- رحمان بابا:

واړه زهر قاتل نغړې که پوهېږې
ته چې بې له خدايه نغړې هر انفاس

- موشگاف حمید:

هر نفس چې بې د خدای له بادو نغړي
ګويا نغړي سرې سکروټې په حساب

- رحمان بابا:

رحمان هسې بې وقوف سوداګر نه دی
چې د دين متاع بدله په دنيا کا

- موشگاف حمید:

نادان دين ورکوي، دنيا پرې اخلي

دا نه کړي دا دادن دا گرفتن

رحمان بابا:

دین یې دام وي د دنیا په لار کې اېښی

پرې را اړوي وحشیان د مخلوقاتو

حمیدمومند:

ساده دلو ته کمندړدي د نیولو

چې په لاس کې تورې تسبې کا د آینوس

رحمان بابا:

هر گړی گره گشای لرې کمبخته

نا امید له خدایه غوټه جبین مه شه

حمیدمومند:

له مقصوده ناامید مه شه یک لخته

خدای په ځمکه کړي مرغونه د هوا پیش

رحمان بابا

په سبب د ظالمانو حاکمانو

گور او اور و پېښور درې واړه یو دي

حمیدمومند:

غریب خلک مردگان پکې ورستېږي

ظالمان نکیر منگر، پېښور گورشو

رحمان بابا:

ستا له غمه يې په سرکې هسې شور دی

ګويا ميشت چې په سر نهر د لاهور دی

حميدمومند:

هسې رنګ چې شور و غم ګرځي په سر کې

لکه شور د جمع خلاق وي په لاهور کې

رحمان بابا:

چې تر څنګه مې دلبر په لاس کې جام وي

نن اورنګ د زمانې زما غلام دی

حميدمومند:

هر چې تا غوندې دلبر په څنګ کښيني

د پېښو په ځای هغو ته اورنګ کښيني

رحمان بابا:

ډېر ياران وو د ګلخان، د جمال خان

په کار نه شه يو په وخت د زارستان

حميدمومند:

هر سردار چې د خپل قام ديد و خيال کا

آئينه دې د خپل ځان، حال د جمال کا

### ٦ - ۴ عبدالقادرخان خټک

نوموړی د خوشحال خان خټک زوی و، خپل کلی، کور سرای اکوړې کې په (١٠٦٣ق هـ) کې پيدا شوی دی، ښه شاعر او در رحمان بابا د مکتب غړی دی، د ډاکټر حسرت زبير په وينا د نوموړي شاعري بل لوری او بله هوا لري. د خوشحال بابا زوی دی، خو د شاعرۍ رنګ يې له ښېخي له هغه ځينې ښېل دی، دا ښېله خبره ده چې د

عبدالقادر خټک وايي، سيد انورالحق صاحب يې خپله دنيا چې عبدالقادرخان او د هغه کلام کې د خوشحال بابا د کلام سره موازينه کړې ده او د رحمان بابا مه قدری يې هم نه ده کړې حالاً کې عبدالقادر خان خټک خپله يو غزل کې چې د رحمان بابا د غزل په ځمکه يې ليکلی دی، د رحمان بابا نامه اخيستې ده، مطلع او مقطع يې داسې ده:

محبت په ښکلو کا تمام وګړي

چا دا اور دی ښکاره کړی ځينو نغړي

زه خټک د يار په غم تازه تازه شوم

غورياخېل رحمان که شه ورځينې سترې

حنان بارکزی:

پر بتانو مينه کاندي درست وګړي

د يوه يوه په لاس د حجاز پړي

د رحمان بابا د متعلقه غزل مطلع او مقطع داسې دی، چې!

د آشنا له لاسه ناست يم په زړه سترې

د فلوس مې پکار نه دي درست وګړی

له احواله يې ورو ورو پوښتې يارانو!

بېلتانه د رحمان دی خطا کړی

رحمان بابا او عبدالقادر خټک دواړه د يوې زماني شاعران دي؛ خو يو په سرای اوکړی کې پيدا او بل په پېښور کې؛ ځکه يې د خپل دور واقعات يو شناني محسوس کړي او ليکلی دي؛ خو په خپل خپل اندار او رنګ د ګل خان او جمال خان واقعه چې ځنګه عبدالحميد مومند منظومه کړې ده او په کې د خپل قبيلوي نسب څرګندونه کړې ده؛ نو وړاندې مو ليکلي و چې رحمان بابا ورته د انسانيت په عالمګيره نظريه کتلي دي، دغه رنګه چې دغه وخت دا واقعه نظم کړې ده، نو په مغل د پښتانه د چپاو او يرغل په حيثيت يې ورته کتلي دي او دغه واقعه يې ستايلې ده، دلته اګر چې د عبدالقادرخان او رحمان بابا موقف يو نه دی لکه چې د عبدالقادر خان خټک ددې تاريخي ـ جنګي قصيدې نه يې انداز لګي:

دا کار و نه چې نن گانده عیاني دي

هېڅ په خوا په خاطرنه وو آسماني دي

مقطع:

نه له چا طمع شي، نه له چا وېره

څو خبرې رښتیا کړي ګرلاني دي

دغه مطلب زموږ د هېواد نامتو لیکوال استاد محقق او د اکاډمیسن کاندید خدای بښلي محمدصدیق روهي په (۲۰۰۲م) کې په خپل کتاب« د عبدالقادرخان خټک ژوند، فن او شخصیت» په نامه کتاب کې لیکلي دي چې!« عبدالقادرخان خټ: د مضمون په لحاظ رحمان بابا ته ډېر نږدې دی»[۱]

ځینې وختونه عبدالقادرخان او رحمان بابا په یوه مشخصه موضوع باندې شعر وایي، خو په اسانۍ سره پوهېږو چې د رحمان بابا په شعر کې رحماني جذب او روحیانیت چېې وهي؛ د مثال په ډول رحمان بابا د تللو یارانو په باب وایي:

خدایه څه شه هغه ښکلي ښکلي خلق

په ظاهر او باطن سپین سپېڅلي خلق

هېڅ خندا مې له دې خلقه سره نه شي

ژړوي مې هغه تللي تللي خلق

خبر نه یم چې و کومې خواته لاړ شه

لیده نه شي هغه ما لیدلي خلق

لکه لمر چې د اوو رو په څوکه درومي

هسې درومي په دنیا راغلي خلق

دریغه یو ځله خو بیا په جهان راغی

---

[۱]- (د عبدالقادرخان خټک ژوند، فن او شخصیت:۱۸)

له جهان په ارمان وتلي خلک خلق

هزار حیف دی چې په خاورو کې لاړه شي

په چوه او په چنده‌ن لړلي خلق

رحمان هسې ګوښی خوند له خلقه بیا مومند

چې هرګز نه دی دا خوند موندلي خلق

او عبدالقادرخان خټک داسې وايي:

له جهانه هسې رنګ دي یاران تللي

ته به وايې چې هرګز نه وو راغلي

نشانې يې په جهان کې موندې نه شي

هسې ورک شول د هجران سورونتلي

د برښنا غوندې ښکاره شول بیا فنا شول

په ځیر ځېر مو ورته هېڅ نه و کتلي

نه مو سترګې په لیدو ورسره مړې کړې

نه مو وو، په ډکه خوله سره خندلي

نه مو زړونه خپله تش کړل په خبرو

نه مو پټ رازونه وو سره ښښلي

ناګهانه هجران مخ ورته ښکاره کړ

له مو ژبیل نشول په آرمان سینه داغلي

له احواله يې خبر نه یم چې څه شول

څوک پّ بیا را ځینې نه دي جاروتلي

نه پوهېږم چې له کومه کور په راغله

بیا یې دي و کوم مکان لره بیولي

چې هر دم جرس د کوچ ورته غږیږي

فراغت عبدالقادر څه رنګ څملي[1]

د رحمان بابا مشهور نظم دی چې:

که نظر کا څوک په کار د درویشانو

خو به ووینې وقار د درویشانو

عبدالقادرخان خټک وایي:

که ښکاره شي درویشانو عزت ستاسې

ګدایان به شي شاهان په دولت ستاسې

رحمان بابا:

چې په یوه قدم تر عرشه پورې رسې

ما لیدلي دی رفتار د درویشانو

عبدالقادرخان خټک:

په ځمبل د سترګو ځي تر شرق و غربه

تر نظر د عارفانو تله شتاب شي[2].

**٦ – ٥ صدیق خټک**

د صدیق دیوان چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو انستیتوت له خوا په (۱۳۵۸ هـ ش) کې د خېړنوال دولت شینواري په سریزه او تصحیح برابر شوی و، د دیوان په سریزه کې پوښتنه شوې وه چې صدیق

---

[1]- (حدیقه خټک:۱٦۳)

[2]- عبدالقادر خان خټک، حدیقه خټک

څوک و؟

که له ډېرو څېړنو تېر شو چې زموږ د لیکنې مرکزي موضوع هم نه ده نو و به وړایو چې صدیق کېدای شي(۱۰۷۰ هـ ش) کې پیدا شوی وي، ددې شاعر د پیدایښت کلونه هم چندان روښانه نه دي.

که له نورو سندونو تېر شو؛ نو و به وایو چې صدیق د پښتو ژبې په متقدمینو شاعرانو کې د اوچتې یا یې شاعر او ادیب او په کوهاټ کې یې رحمان بابا ته انتهایي فیض رسان یاد کړی دی او ویلي یې دي چې ځینو لیکوالو او څېړونکو په ځپلو لیکنو کې اول د صدیق او بیا د رحمان بابا بیتونه درج کړي دي؛ خو ما دا ترتیب بېرته مراعات کړی دی لکه!

رحمان بابا وایي:

د منصور وحال ته ګوره حال یې څه شه

خدای دې فاش د هېچانه کاندي پټ راز

صدیق نظر لري:

په منصور به روایت د قتل چا کړ

که څو نه وي خبردار دده له رازه

یا:

که اسرار لکه منصور د چا ښکاره شي

عالمان چې یې په دار نه کا نور څه کا

یا دا بل:

تل سزا د پرده درو ده که یوه یې

خبر دار په حقیقت شه له منظوره

بله:

عاقبت به ځان د دار سر کړي صدیقه

چې د راز ویل منصور غوندې ښکاره کړې

رحمان بابا:

هسې تله کاندې وګور ته یاران ژر ژر

لکه تله کا و خپل کور ته کاروان ژر ژر

صدیق وايي:

خپل ژون بیا یې وګور ته یاران ژر ژر

ګړندي تیاره تر برق د اسمان ژر ژر

لرې ملک ته به ورو تله کله پکار دي

له هېواده درومي کورته کاروان ژر ژر

اثرصاحب د صدیق بل دابیت را اخیستی دی، چې:

د کابل ذکر صدیق بویه حاصل کا

چې آسکاه شي له غمونه له هوسه

ډاکټر زبیر حسرت په دې نظر و، چې صدیق له رحمان بابا نه پس دی، ځینې بیتونه یې د رحمان بابا بیتونو سره سمون نه خوري، بلکې روښانیانو سره یې خوري.

د صدیق د نورو شاهدو داخلي شهادتونو څخه داسې بریښي چې هغه د خپل ولس مشر، صاحب جائیداد، صاحب نصاب او په کلي، ولس کې مخور سړی و لکه چې له دې بیتونو یې اندازه ډېره په آسانه لګیدلی شي:

یوسفزی، که محمدزی، که بل فریق دي

دا همه په ماه مطلب کاندې خپل کار درست

نه مې لاس په سخا، ښی په کین خبر شه

نه کمی کا زر یمین و تر یساره

د صدیق له شاعرۍ داسې ښکاري چې اورزنګزیب عالمګیر او بیا د هغه د اولاد شاه عالم( معظم) او اعظم شاه

دوران هم لیدلی دی، کله چې یو بیت کې او بل بیت کې چې وړاندې هم راوړی« سور په شاهزاده کارغه تور خولي خیبر» تذکره هم کوي، چې:

د اورنگزیب په تخت خندا صدیق په دا کړم

چې د یار د در د سپیو شوم په حساب زه

او له دې وړاندې په نورو بیتونو کې د اورنگزیب نامه داسې اخلي:

آزاده ترپیمي سیوری دهمای دی

د اورنگ په تاج خوښي ملنگان نه کا

د اورنگ په سلطنت به یې خندا شي

په هر چا چې مولا سیوری د همای کا

د څېړنوال دوست شینواري د ښاغلي اوراښاد استاد عبدالحی حبیبي د« پښتانه شعرا» په حواله موږ ته د صدیق باره کې دا خبره هم راکوي، چې په پښتانه شعرأ کې د متوسطې طبقې شاعر او د رحمان بابا له پیروانو څخه گڼل شوی دی او په کابل مجله کې د حمید غونډې یو نازک خیاله شاعر گڼل شوی دی.

د ښاغلي میان وکیل شاه فقیر خېل له تحقیق سره مسلم صدیق خټک دی او د فقیر جمیل بیک چې په جمال مشهور دی؛ زوی او د خشوحال خان وراره دی.

ولې زما په فهم صدیق د رحمان بابا پیروکار خو وه، مگر د حمید مومند نازک خیالي چې د هندي سبک له اثره وه، پرې هېڅ اغېزه نشي لیدلی البته دومره وایم چې صدیق په کلاسیکو شاعرانو کې د رحمان بابا، محمدصاحبزاده، عبدالحمیدمومند، علی خان او معزالله خان مومند د دورې شاعر ثابتېدلی شي.

ښاغلي اروانښاد دوست محمد شینواري له پخوا لیکلي و چې همدارنگه په صدیق باندې د درحمان بابا اغېزه هم لیدل کېږي او په (۹۹) غزل یې د هغه په ځواب کې ویلي دي لکه چې وایي:

بل غزل په انتخاب چې کړي صدیقه

د رحمان د غزل بس دی دا ځواب

صدیق دغه غزل د رحمان بابا ددې غزل په ځواب کې وییلی دی چې مقطع یې داده:

په غزل کې خو دوه بيته انتخاب وي

د رحمان تمام غزل دی انتخاب[1]

خو له دغو پورته غزلونو غلاوه هم د صديق په ديوان کې نور ډېر داسې غزلونه شته چې د رحمان بابا په څمکو، وزن، بحر، رديف او قافيه کې ليکل شوي دي يا يې له مضامينو کې يووالی ليدل او محسوس کېږي، مثلاً د رحمان بابا شعر دی، چې:

د ازل په ورقه د برخو خواري ده

اې رحمانه! چا بايللې چا ګټلې

او صديق وايي:

د ازل د شويو منع به په چا شي

ريا دو کوم په روزی کوم يو مقدر کا

رحمان بابا:

ځو به شمېرم زه غمونه د هجران

دومره ډېر دي لکه رنګ د بيابان

او صديق وايي:

ستا غمونه د صديق په حساب نه دي

کله څوک به د دامان ريګونه شمار کا

د رحمان بابا مشهور غزل دی، چې:

ما سحر سبا ليدلی و، د چا مخ

چې مې درسته ورځ و نه ليدو دا ستا مخ

او هم په دې څمکه، وزن او بحر کې د صديق دا غزل وييلی دی چې:

[1]- (کليات، ٦١مخ)

لکه نن راته څرګند شه ښکلی ستا مخ

هسې نه دی چا ليدلی نه دنيا مخ

ډاکټر زبير حسرت زياتوي که په بنيادي ډول د صديق درست ديوان مطالعه شي او په ژوره توګه وپلټل شي، څرګنده به شي چې صديق په کلاسيکو شاعرانو کې د اوچتې نه، د متوسطې درجې شاعر دی او د خپلې پراخه مطالعې له امله وربانديې يوازې د روښاني شاعرانو او خوشحال خان بابا ډېر اثرات دي، بلکې د رحمان بابا په پيروۍ يې هم ډېره شاعري کړې ده چې په ډېر محنت او مشقت به ترې رحمان بابا د شاعرۍ سره ډېر هم خياله، د يوې موضوع او وزن بحر او ځمکو يوشانوالی غزلونه او بيتونه ترلاسه کېږي او چې دې خبرې ته ځېر شو، نو بيا صديق هم د رحمان بابا د فکري مکتب شاعر ثابتېږي چې سرچينه يې د بايزيزانصاري پيرروښاني د وحدت الوجودي فلسفې څخه ده او په دې سبب هم چې هغه د سرېښي سره د کرلانې ذکر خو کوي، ولې ولې په سړبينو کې بيا د رحمان بابا، نامه په خصوصي ډول اخلي چې د غزل ځواب يې هم کوي او نور به ترې خداج خبر وي.

## ٦-٦ علي خان محمدزی

دغه شاعر د هشنغر اوسېدونکی و، د دولسمې پېړۍ صدۍ يورنګين بيانه او ډېر ساده او ښه شاعر دی چې خپله شاعري يې په ښکليو خيالونو ساده او آسانه لفظونو ښايسته کړې ده.

غلي خان د ځوکنو د مياعمرصاحب مريد شو او د هغه د مشر زوی او ډېر ښکلی او رنګين شاعر محمدي صاحب زاده د غزلونو په ځمکه يې شاعري کړې ده، وايي چې با قاعده له رحمان بابا سره تړاو نه لري، خو بيا هم موږ ويلای شو چې غلي خان د رحمان بابا پيروي کړې لاندې به يې په ترتيب سره راټول او وړاندې کړو:

د ځوکنو يا ځمکنو مياعمر:

رحمان بابا:

د ازل په ورځ د برخو جواري وه

اې رحمانه! چا ګټلې چا بايللې

علی خان:

زه لا څه چې په ازل د برخو وېش و

په غمونو باندې اسک(عکس) د آدم وخوت

رحمان بابا:

ډېر هندکي په جهان ګرځي د چا یاد دي

عشق عالي پایه د هېر او د رانجا کړه

علي خان:

هېڅ هندکي لایق د چا د یادونه وو

عشق یاد کړل په دینا کې هېره رانجا

رحمان بابا:

عاشقي چې مې له خلکو په غلا غلا کړه

هغه غلا مې په تمام جهان رسوا شوه

علي خان:

مینې دې تالا کړم، ببلتانه دې ټیټ په ملا کړم

ما وې زه به غلا کړم، باري اوښکو کړم رسوا

رحمان بابا:

خم ابرو یې په پناه د زلفو تم شو

د لړم له نېشه مار خپله تاوېږي

علي خان:

علي خان که خم ابرو یو په ملا  خم کړه

مناسب دي د محراب سره رکوع

رحمان بابا:

باریک خط یې زلفو لاندې کړه رحمانه!

مورچه ګان د شپې له مخه پایمالېږي

غلی خان:

خط یې وار د زلفو تېر کړو غلي خانه!

کله مار د مېږتون سره چلېږي

زبیر حسرت زیاتوي:

محترم محمد سرفرازخان عقاب خټک(؟) وايي چې زه د چا نه د محنا او متن خواست په دانه کوم چې زما سره د خیالاتو کمی ده؛ خو که چېرې په ناخبرې کې زما په شعر کې د بل چا مضمون راشي، نو دا څه د شرم خبره نه ده؛ خو خدای دې نه کړي چې ما په قصداً دا کار کړي وي:

عاریت د مضامین ځکه نه کړم

چې غالب نه دی په ما د فکر جوع

عار خو نه دی اتفاق که چېر ته پېښ شي

مه کړه خدای چې جسته وي دار جوع

خو د رحمان بابا او علي خان خټک(؟) د دیوانونو له ډېرې مطالعې څخه ماته داسې ښکاره شوه، چې رحمان بابا داسې لفظ یا مضمون نشته چې علي خان دې نه وي خپل کړی او له همدې مطالعې جوتېږي چې دا به دې پېښور یا هشنغر وي.

او په دې پسې چې عقاب خټک  صاحب د رحمان بابا او د غلي خان د یو شان مضامینو لرونکیو شعرونو پیشکش کړي دي هغه هم د هغوی په وساطت دلته د خپلو درنو لوستونکو ته وړاندې کوم، هغه دادي:

رحمان بابا:

که څوک وايي مار په کټ کله خوراک کا

زه  په کټ خوړلی یم د زلفو مار

علي خان:

زه د یار د وروځو و جبین ته حیران یم

چې په تخت د پاسه څه رنګ لړم وخوت

رحمان بابا:

پري رویه، سنبل مویه، ملک خویه

عنبربویه، لالا خامه، راشه راشه

علي خان:

پري رویه، سنبل مویه، عنبربویه

ملک خویه، ډېره لویه هنر منده

رحمان بابا:

څو ونه وینم ستا سترګې که خدای کاندي

غزرائیل لره به هومره ځان ورنه کړم

غلي خان:

څو شاه خوبان بالښت ته رانه شي الله

ساه مې په صورت کې تر هغې اټال لره

رحمان بابا:

ته د چې له ما درومې دا باران د اوښکو ګوره

رُخ د سفر نه دی هېڅ په دا ګټو شېبو کې

علي خان:

ودرېږه چې ودرېږه باران زما د اوښکو

مه ځه چې مې ځه رود د سترګو له بصره

رحمان بابا:

چې هم قد لري، هم زلفې، هم سرې شونډې

دغه هسې رنګ آفتاب په جهان نشته

علي خان:

در سماوي د ياره د مخه له بدره کم دی

رلفې، وروځې، غابښ نشته په دا بدر مًنبر کې

رحمان بابا:

په سبب د ظالمانو حاکمانو

ګوره اور او پېښور درې واړه يو دي

علي خان:

په سبب د بعد عهد له رسوله

ګوره هر سړی په څه بلا و تار شه

رحمان بابا:

د رحمان څهره يې ژېړه زعفراني کړه

خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم

علي خان:

په رجا کې مې چې زړه رېږدي له خوفه

خدای زده عشق دی که مې رنځ دار تعاش دی

رحمان بابا:

ځکه زاهد زهد کا د يو جنت له پاره

سر شيندلی نه شي په وربل د جانانه

علي خان:

تاب د کتو ستا پشي راوړي ځکه پتېږي

دا چې په محرا کې زاهدان لمر سوری کا

رحمان بابا:

لکه وړکي کتوری غواړي له زانو

په دا هسې پوچ گويي يې اعتبار شي

علي خان:

چې اميد دې د وفا کېږي له دهره

د اله زانو کتوری غواړي موهونه

رحمان بابا:

ورک شه ورک شه بدکرداره بد سړی

که دې ورو که دې عزيز او که دې يا وي

علي خان:

که دې ورو که دې عزيز او که دې يار وي

چې کاسير او بدلمن شي مه يې وينه

رحمان بابا:

ما په عشق کې هېڅ حاصل نه کړل بې غمه

هر چې وايي واړه ښه وايي اديي(؟) واعظ

علي خان:

مجازي مينه كه ده واړه عذاب دی

ناصحانو چې څه وي، واړه يې ښه وي

رحمان بابا:

دا جواب رحمان هغه کا چې دولت وي

که دلبر د مینې مي پیالې یې را کا

علي خان:

دا هغه شمه غزل دی چې صاحب وي

له خاطره مې آرام و جمعیت لاړ

رحمان بابا:

که یې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي

غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوک

علي خان:

پښتنو به د میرزا شفل ونه کړه

که یې څړ زما د شعر په مضمون وي۴٦٨

رحمان بابا:

چې په سپینو اننگو دې زلفې زانګي

ښاماران دي د چندڼو په ښاخونه

علي خان:

سپین ښارمار بچه دوه سرى خوب په چندڼ ښاخ کا

یا یې پښو پښونه دي پراته سپین پیشوندي

که ورمېږ يې د اصلي چنډنو ښاخ وي

ښامان يې پيوي دي که نه دي

### ٦- ٧ محمدي صاحبزاده

محمدي صاحب زاده د پېښور د مشهور ولي الله حضرت مياعمرصاحب د څوکنو مشر زوی و، چې (١٢٢٠هـ) کې وفات شوی دی؛ د خپلې ښې او خوږې شاعرۍ له وجهې يې شهرت عام کړی دی.

د محمدي صاحب زاده ديوان چې کله ولټوو، نو راته ښکاري چې د خوشحال خان، رحمان بابا، عبدالقادرخان خټک او عبدالحميد مومند په اقتصا يې غزلې ويلي او شاعري يې کړې ده.

دغه ټکي د مياعمر د څوکنو د ديوان په معرفۍ کې هم ويلي دي او زياته کړې يې ده چې نوموړی د خوشحال خان، رحمان بابا، عبدالحميد مومند او عبدالقادرخان خټک په پلونو پل اېښی دی؛ خو خپله شاعري يې په خواږه انداز او ځانګړي سبک کې کړې ده.

قلندر مومند وايي، چې محمدي صاحبزاده ځانته د يو مکتب خاوند و، دې سلسله کې دوی ليکلي دي چې:« زما په خيال د محمدي صاحب زاده د فن اصلي کمال د منابعو، بدايعو شاعري نه ده، بلکې د پښتو د غزل هغه روايت په نظر کې نيول شوی دی چې ميرزا شروع کړی، خوشحال خان پوخ کړی، رحمان بابا مقبول کړی او عبدالحميد مومند رنګين کړی و او چې دې ته ګورو، نو محمدي صاحبزاده د پښتو په غزل کې ځان ته د يوه مکتب خاوند دی چې ښکاره خصوصيتونه يې په رومانويت، ساده ګۍ، مضمون آفرينۍ او تصوف ده په دغه حواله محمدي صاحبزاده ته خو د رحمان بابا پيروي کړې ده او نه تقليد، خو که ديوان يې په ژور نظر وکتل شي، نو ډېر غزلونه يې د رحمان بابا په اقتضا يا ځمکه ويلي دي، او ډېر شعرونه يې داسې دي چې خيالات يې د رحمان بابا له شعرونه سره سمون خوري، او ډېره آسانه شاعري يې په ساده انداز بيان کړې له رويه خو موږ ويلای شو چې هغه ببخي د رحمان بابا د لارې لاروی ګڼلی شو.

د «ث» د پټې په يوه غزل کې خو يې چې د خليل مومند قبايلو ذکر کړی دی نو لوستونکی يو دم محسوسوي چې دا خو د رحمان بابا خبره کوي او شعوري هڅه کوي چې د هغه په نګ شعرونه ووايي، ددغه غزل دا مطلع يې وګورئ:

دا زما تر قنده خوږ ځرګند حديث

چې ښکاره مې په خليل مومند حديث

ځينې د لوړ مضمون لرونکي شعرونه:

د تازه مضمون د قند خوند په کې وي
چې مې خوږ دی د ګڼې تربند حديث

د مضمون اور مې دارنګ پّ غرغر و دی
د بل سوزي چې په ک ې سند حديث

محمدي چې نن په شعر فکر بند کا
اوس د لوی واړه دی پسند حديث

ليدل کېږي چې دا غزل يې د رحمان بابا ددې غزل په ځواب کې ويلي وي چې:

مطلع:

چې ويلي مې له تا دی دا حديث
سرنامه دې هرانشاء دی دا حديث

بيت:

چې اوصاف يې سرو شونډو په کې راوړ
خوږ تر قندو، تر حوا دی دا حديث

مطلع:

که څوک وايي چې چا کړی دا حديث دی
رحمان وايي چې زما دی دا حديث

د محمدي صاحبزازده هم داسې ويلي دي:

په نامه مې ياره ستا دی دا حديث
خوږ تر قنده په رښتيا دی دا حديث

ستا سرو شونډو صفت چې کې شته دی

لا تر قندو خوږ په دادي دا حديث

د مسرو شربت دا هسې رنګ خوږ نه وي

په کاغذ چې نن انشاء دی دا حديث

لکه ژبه ځکه هر دم مې په خوله کې

چې په نوم ياد د آشنا دی دا حديث

مرغلرې غوندې يار که يې غواړي غوږله

محمدي وايه زما دی دا حديث

او د رحمان بابا دا غزل او دا شعرونه لولو چې:

زما اوښکې چې دا هسې شست وشو کا

دا محنت واړه زما د مخ په ولوکا

تل يې مخ وي تر خوبانو پورې وللی

عاشقي چې د چا اوښکې په شېبو کا

رحمان بابا:

د عشق اور چې شمعې خود په سر قبول کړ

پروانه به څه حجت د ځان په سوو کا

ګل څه نه وايي چې غرق په وينو ناست دی

بلبل څه لره بې ځايه ګفتګو کا

زه که مرګ غوړاړم بې ياره ګرم خو نه يم

جدايي سرې په ځای پورې پکو کا

اوس به دغه خيالونه د محمدي صاحبزاده په دې غزل کې وګورو چې دې همدغه غزل په ځمکه، رديف او قافيه يې ليکلی دی:

که مې وينې د زړه سترګې په شپوکا
ځان به هله لايق ستا د مخ کتو کا

پتنګ ځان اول تر شمعې وسه ځکه
چې د غم ساعت هر څوک په ځان په کو کا

د غونچې له خولې ګل ژبه د حرف وښکه
بلبل څه له راز د مينې ګفتګو کا

د غشق غم الستي کار په اختيار نه دی
ګټه څوک به په خپل ځان لمبې پېرزو کا

دغه راز د رحمان بابا په دې مشهور غزل کې هم محمدي صاحبزاده غزل ليکلی دی چې:

هر مطرب چې غوږي تاوکا درياب
په دا تاو کې زما زړه کاندي کباب

چې سامع يې په نغمه په ترانه شم
ديوانه شم ګريوان څېرې مست خراب

هم يې تار هم يې ګفتار هسې اثر کا
چې هېڅوک يې نه طاقت لري ترماب
يو يې ساز بل يې آواز وي د لښتيو
درېيم شعر برې آغاز کا انتخاب
څلورم يې يو ساقي له خنګه کښني
چې مخ يې نه آفتاب وي نه مهتاب
دا څلور واړه فتنې په څلور کونجه

او پینځمه صراحي د میوناب
شپږم وقت د نوبهار او د ځوانیه
اووم شغل د بیاض او د کتاب
چې دا هومره افتونه سره ټول شي
تر وا څوک څرنګ ځینې کاندې اجتناب
چې داهسې دلبران پرې اثر نه کا
یا به دیو یا به دیوار وي یا دواب
راڅرګند به شي پرهیز د پرهیزګارو
که قادر شي په شاهد او په شراب

او د لاندې غزل د محمدي صاحبزاده چې ښځي د رحمان بابا د غزل تسبح او پیروی بریښي:

چې مجلس کې د غم غږ وکا رباب
زما زړه کا په لمبو د سوز کباب
ساز و سوز سره تړلي بند په بند دي
څه به یې زه د بېل بېل در کوم حساب
هر یو تار یې د ګفتار کاندې زوره
درته څه وایم دا راز دی د حجاب
یو دا وایي آشنایي له هېچا مه کړه
غم هر دم تاته لري پښهه په رکاب
بل دا وایي خوراک پرېږده ولوږه کار کړه
دربیم مه خانده ډېر ژاړه په دا باب
څلورم له خلکو بېل سر په زنګون شه
ښه په فکر کړه د ذکر انتخاب
دا څلور واړه په یو دم خپل همدم کړه
پنځم زړه کړه صراحي د میوناب
شپږم دا وقت د ژوندون لکه بهار دی
تېره مه کړه داځواني لکه دواب

اووم چپّ خوله ستا نه له گويايئه
چې په دې کې ستا د کار رونق آسباب
اتم زړه که مسغولا دې پټه غواړي
رخصت تاته، گوره ته بياض کتاب
چې دا هومره ډېر تاکيديه ماته
ترو زه څنگه ځينې وکړم اجتناب

دغه رنگه د رحمان بابا يو بل غزل دی چې مطلع يې داده:

اې زما د زړه آرامه راشه راشه
مسروقده، گل اندامه راشه راشه

پيرمطيع الله:

اې زما د زړه آرامه راشه راشه
سبمبن تنه غرقامه راشه راشه

او محمدي صاحبزاده پرې داسې خامه فرسايي کړې ده چې:

اې زما د زړه آرامه راشه، راشه
د محراب وته امامه راشه راشه

ددغو درې واړو مطلعو وړومبی مصرعې بېخي يو شان دي، له دغو سندونو سربېره نور هم ډېر شعرونه شته، چې په هغه کې د رحمان بابا د اسلوب ښکاره نښې ليدی شي او دا څه چې وړاندې شول په دې کې به څنگ څوک ووايي، چې محمدي صاحبزاده په ځان د رحمان بابا اثر نه و قبول کړی، يا يې تقليد نه دی کړی، سره له دې چې خپل ټول ديوان کې يې د رحمان بابا نوم نه دی اخيستی.

د تقليد خبره ډېره مهمه ده ټول بشريب مقلد دی او يا بشرمقله مخلقو دی، تقليد يو ډول پېښې دي، چې له وراثت څخه نيولې بيا د ژوند تر وروستي بريد پورې انسانان تقليد کوي.ماخذ مطيع الله، (۱۹۸۸) روما ساغر، پېښور: اشنغری.

ـ د جميزآلن په نظر تقليد د بشريت په ژوند کې طبيعي او عام دود دی. تقليد دوه ډوله دی مثبت او منفي.

تقليد نه يوازې په انساني چاپېريال، بلکې حيواني او ټولو ژويو پورې اړه لري. ښه تقليد له اصل نه قوت اخيستل او د اصل دوام دی او بد تقليد نه يوازې پرمختګ نه دی، بلکې اصل شي هم له منځه وړي.

ټولنيزې او اجتماعي پديدې په تقليدي جهان کې ډېر ستونزور کار دی خو په مادي دنيا کې دومره

ستونزې نه لري.

د حضرت عبدالرحمان بابا خپله مقلید و، څکه کومو کالبونو لکه ډېر څله د غزل په کالب کې چې نوموړي شعر ویلی و، د شکل له پلوه له پخوانیو څخه کاپي وه او آن د معنا وو اصل یې د روښانیانو او بیا د میرزاخان انصاري او دولت لوانې له شاعرۍ ډېر شوی چې موږ یې مخکې نمونې څه نا څه په لاس کړې وې.

دا چې رحمان بابا د ادب په دنیا کې د نه انکار وړ ادبي، اجتماعي، دیني او عرفاني شخصیت دی او د شعر و شاعرۍ په دینا کې د ځانګړې مکتب او سبک خاوند دی نه یوازې د خپل عصر، بکلې تر اوسه یعنې یوویشتمې پېړۍ پورې په ډلو ډلو پلویان او مقلدین شته او د جاخبره هېڅ منکر پرې اعتراض هم نه شي کولای.

چې منکر پرې اعتراض کولای نه شي

دا د شعر دی رحمانه، که اعجاز

په حقه ویلای شو، چې د حضرت عبدالرحمان بابا شعر تقلید کوونکو ته سرلاری اعجاز وو او دی. (څو چې ژوند، د ژوند ښکلا شته، د رحمت او نور ځلا شته د ادب فیګورو وفا شته، د بابا غوندې شعر به ځلیږي).

ښاغلي رومان ساغر خو تر دې حده لیکلي دي، چې:

« د محمدي صاحبزاده دیوان کې د خوشحال خان، رحمان بابا، عبدالقادرخان او عبدالحمیدمومند په څمکو غزلې او د هغوی په مضمونونو شعرونه موجود دي، خو په هېره هم محمدي صاحبزاده( رح) هېڅ شاعر نوم په خوله نه دی اخیستی.»(اباسین:۷)

## ٦- ۸ معزالله خان مومند

معزالله خان مومند د عبدالله زوی د محمدخان لمسی، په دولسمه پېړۍ کې د کوټله محسن خان( چې اول په کوټله مستجاب خان مشهور وه) پېښور ارباب او ښه شاعر دی، چې د رحمان بابا په معاصرو شاعرانو کې یې ذکر کېږي، څکه چې د رحمان بابا د پیړۍ ورخې د معزالله خان مومند د ځوانۍ ورخې وې او بیا دواړه ډېر نږدې کلیو اوسېدونکي هم وو، څکه له یو بل سره د لیدلو کتلو قیاس یې کېدای شي، خو څرګنده اشاره یې په شاعرۍ کې نشته چې ملاقات یې شوی دی کنه نه معزالله مومند د پښتونخوا له ښو شاعرانو څخه دی چې خپله ساده، آسانه او رنګینه شاعري یې لکه د رحمان بابا په عام انداز کې کړې ده. ده په خپله شاعرۍ کې سربېره پر نورو شاعرانو نه یوازې د رحمان بابا ذکر کړی دی، بلکې د رحمان بابا ډېر زیات صتف یې هم کړی دی؛ د مثال په ډول:

که د شعر کرامت له چانه غواړی
معزالله د رحمان شعر کرامت دی

او دا چې:

د تمامې پښتونخوا له شاعرانو
معزالله عبدالرحمن دی منتخب

له دغو بیتونو داسې بریښي، چې معزالله خان مومند د رحمان بابا خپل کتاب د دیوان، په خپل ژوند جوړ کړی وه، هغه نه یوازې د رحمان بابا په رنګ کې شاعري کړې ده، بلکې د هغه د غزلونو، بحرونو او ځمکه یې هم د خپلو غزلونو لپاره غوره کړې دي. دغه رنګ یې په شعرونه کې د خیالونو ورته والی یا محاشلت هم یوه فطري خبره ده، ځکه چې د دواړو شاعرانو مزاجونه، خویونه او خصلتونه هم کابو یو شان ښکاري؛ دلته د دواړو شاعرانو د خیالاتو یو شان والي شعرونه وړاندې کوو:

رحمان بابا:

که صورت یې پیدا شوی آخرین دی
په معنی کې اولین دی تر هر چا

معزالله خان:

په ظاهر کې که آخرین دی پیدا شوی
په باطن کې تر آدم اولاد

رحمان بابا:

دا دنیا ده بې وفا
بې وفا ده بې بقا

معزالله خان:

نه یې مخ شته نه یې څټ شته نه پوهېږم
معزالله چې څه بلا ده دا دنیا

رحمان بابا:

هر بخیل د خدای دښمن دی
ولوکان زاهدا

معزالله خان:

شوم سړی د خدای دښمن دی باور وکړه

دا خبره درته وایم په رښتیا

رحمان بابا:

یار که یار ته حال د زړه نه وایي څه شو
و حکیم ته پټ څرګندوي له مزاجه

معزالله خان:

چې وصال د مهروبانو همېش غواړم
افلاطون به مې پوی نه شي په مزاج

رحمان بابا:

رحمان حُسن د یار وینم په پرده کې
نه پټېږي نور د شمعې په فانوس

معزالله خان:

دا یې مخ زمانه پټ کړه په پرده کې
که یې پټه کړه دا شمع په فانوس

رحمان بابا:

څو به ګورې د قامت ورځو او شپو ته
خو هم دا جهان په ځان باندې قیامت کړه

معزالله خان:

ځان پڅوا تر مرګه ووژنه که مرد یې
معزالله ژوندی به ګرځې په جهان څو

رحمان بابا:

ستا په عشق کې هسې خلاص یم له شعوره
چې یوه خبره نه کړم منظوره

معزالله خان:

دا خبره شوه پّ درست جهان مشهوره
چې وئلی یم په عشق کې له شعوره

رحمان بابا:

چې لوګی مې په سر چتر دونهه تخت دی

نن اورنگ د زمانې زما غلام دی

معزالله خان:

چې لوګی یې د دو نهی شي په سر تاج

یاد شان د زمانې یې شی محتاج

رحمان بابا:

عشق د بوی په څېر په پټه خوله څرګند دی

په دا چارو کې غوغا څه پکار نه ده

معزالله خان:

خپلې سترګې خمارې نه دي نو څه دي

چې په خلکو کې په اوښيو يې محتام کړم

## ٦ – ٩- اخون ګدا

اخون ګدا د احمدشاه بابا د زمانې شاعر وو؛ دغه ټکی پروفیسور افضل رضا په خپل کتاب « پښتو غزل» کې راوړی دی.

اخون ګدا د(١١٧٢هـ) شا ا و خوا کې ژوندی وو؛ له نقشبندیه طریقې سره یې تعلق درلود. عالم او فاضل سړی وو،« نافع المسلمین» نومې مثنوي کتاب ورپورې اړه لري.

**نقشبندیه طریقه:**

**نافع المسلمین:** یوازې د مثنوی هیات کې لیکل شوی کتاب نه دی بلکې دې غزلونه، نظمونه، حمدونه، نعتونه او ځینې مناقب هم موجود دي. دا رنګ د فقهې ځینې مسایل او د پیرانو شجرې هم په کې په نظر راځي، ما هڅه کړې ده چې د «نافع المسلمین» ځینې د اخون ګدا د ادبي شاعرۍ انتخاب وکړم. د ډاکټر حسرت په وینا دا کتاب پوره شوی او چاپ ته تیار دی.

د اخون ګدا(ر ح) په غزل کې د عشقي کشالو ذکر ډېر شوی دی؛ د تصوف نښې په کې هم شته؛ داسې ښکاري، چې شاعرۍ کې د رحمان بابا د مکتب پیرو دی. یقیناً چې اخون ګدا د رحمان بابا د فکري مکتب شاعر او د هغه مقلد دی، بلکې ځان د رحمان بابا قایم مقام ګڼي. خپل یو بیت کې، چې د قایم خان په مرثیه کې یې ویيلی دی، دغه خبره ډېره مشهوروي لکه چې:

زه ګدایې په خپل ځان باندې قایم کړم

له جهانه چې شاعر عبدالرحمان لاړ

دا مقطع لوونکې مرثیه چونګی د قایم خان بنګښ په څرک لیکل شوې ده او دغه مقطع نه وړاندې یو

بیت کې د یاران هجران او د قایم خان بنګښ د مرګ تاریخ هم وایي چې:

د تاریخ حساب یې «بلغ النعلی» دی
له دنیا په دا تاریخ بلند مکان لاړ
د ګدا په دا احوال پوښتنه مه کړه
توان توفیق یې د یارانو په هجران لاړ

که "بلغل غلا" یې لیکو نو( ۱۰۶۳هـ) کال ترې راوځي؛ که د "بلغ العلا" لیکو نو تاریخ په(۱۰۶۴هـ) راووخي او که " بلخ العلي" لیکونو بیا به ترې تاریچي ماده ( ۱۰۷۴هـ) استخراج کېږي. قلندر مومند صاحب د قایم خان سره سره دا تاریخ وفات د عبدالرحمان بابا هم ګڼي[1]

*بلغ الغلي

په هر حال اخون ګدا د رحمان بابا په رنګ کې ځان رنګ کړی دی او ځینو ځایونو کې خو ښېخي در حمان بابا په څمکو کې شاعري کړې ده مثلاً رحمان بابا ویلي دي، چې:

کل جهان د محمد په مخ پیدا شو
محمد دی د تمام جهان آبا
په صورت کې آخرین دی پیدا شوی
په معنا کې اولین دی تر هر چا

او اخون ګدا وایي:

دواړه کو نه چې پیدا دده له روی کړه
دواړه ملکه یې خوشبو دده په بوی کړه
په حضور د رسالت کې که وروستی وو
په معنی کې تر همه عالم وړومبی وو

رحمان بابا ویلي دي، چې:

چې په سترګو کې یې خوب وي څه به خوب کا
چې به زړه یې غم د یار وي څه به خوب کا
خوب له یاره سره هم د عاشق نه شي
چې یې یار په بل د یار وي، څه به خوب کا
په دینا کې خوب هغه کا چې نادان وي

---

[1]- ( مومند، قلندر.ـــــــ رحمان پوهنه، پېښور. پښتو اکاډمي قصه خواني.:۷۷)

هغه ژوی چې هوښیار وي، څه به خوب کا

او همدغسې یو بل غزل کې وایي، چې:

هغه ژوي چې مین وي څه به خوب کا

چې مجنون او کوهکن وي څه به خوب کا

عاشقي ده خدای له اوره پیدا کړې

چې په اور کې یې وطن وي څه به خوب کا

او اخون ګدا په دغه ځمکه کې دا خیالونه په بدله قافیه کې داسې پیش کوي، چې:

چې له یاره څوک مهجور وي څه به خوب کا

چې په هجر کې رنځور وي څه به خوب کا

خوب، خندا په خوشحالۍ په بېغمۍ شي

چې په دا رنګه مصنور وي څه به خوب کا

چې د ننه یې زړه غوڅ پاره پاره وي

مخ یې تګ په وینو سور وي څه به خوب کا

یادونه: سید علي نور خوږ دل چې د پیربابا په اولاد کې ، د پلار نوم یې سیدمؤمن وه، سوات کې لوی شوی و؛ د حافظ الپوري شاګردي یې هم کړې وه، وروسته د هشنغر په اتمانزو کلي کې آباد شوی و، هم هلته شیخ دی، د څوکنو د میاعمر صاحب مرید هم و.

د ژوند زمانه کې (۱۱۵۰هـ، ۱۲۰۰هـ) خوا او شاه وه، د علي نور خوږ دل کلام نه مطلو مېږي چې د رحمان بابا د حکمت پیرو و، غزل کې یې د تصوف رنګ جوت دی، د یو غزل مطلع یې داده:

چې د عشق په غم افګار وي څه به خوب کا

چې میشته څوک په انګار وي څه به خوب کا

خوب د زړه له صحتګۍ کېږي خوږدله!

چې غوڅ غوڅ پرهار پرهار وي څه به خوب کا

خوب به روغ سړی کوي چې رنځور نه وي

چې په یار پسې چرچور وي څه به خوب کا

چې اغزي د بېلتانه په کې خوښېږي

دواړه سترګې يې نا سور وي څه به خوب کا

خوب، خصلت د غافلانو دی ګدايه!

چې روزي د چا حضور وي څه به خوب کا[1]

دغه رنګه رحمان بابا د درويشانو په مدحه کې کوم غزل ليکلی دی او مطلع يې وړاندې پيش شوې ده دلته يې نور څه شعرونه راوړم، چې:

په دغه لاره به ورشي وخدای ته

که څوک يون کاندي په لار د درويشانو

هسې ګرم بازار بل په جهان نشته

لکه ګرم دی بازار د درويشانو

هومره خلک يې زيارت کا پس له مرګه

چې بازار وي په مزار د درويشانو

باد شاهان ددې دنيا واړه پراته دي

لکه خاورې په در بار د درويشانو

چې دنيا يې کړه د خدای له پاره ترکه

صد رحمت شه په روزګار د درويشانو

د قارون و حال ته ګوره حال يې څه شه

راشه مه کوه انکار د درويشانو

درست ديوان درحمان ځار تر دا غزل شه

چې بيان يې کړه کردار د درويشانو

---

[1]- (ګدا، اخوان، نافع المسلمين: ۸۱ ـ ۸۲)

او اخون ګدا د درویشانو په ستاینه کې هم په دغه معرکه په بدله قافیه کې داسې وايي، چې:

خدایه راکړې محبت د درویشانو

چې همېش کړم خدمت د درویشانو

په دینا کې ځوک جنت له خدایه غواړي

ورته ونبایه خلوت د درویشانو

چې دنیا یې د عقبا له پاره پرېښوه

زه مین په دا خصلت د درویشانو

دغه لویه نښانه د نیکبختۍ ده

چې لري ځوک ادارت د درویشانو

چې دینا یې کړه په ځان باندې حرامه

آفرین شه په همت د درویشانو

تر هغه به بل زبون په جهان نه وي

چې په دې کا خدمت د درویشانو

خلقه! ځکه ور در مې په ژوندن هم

پس له مرګه په زیارت د درویشانو

اې ګدایه! څو ژوندی په دینا پایې

تل کوه ثنا صفت د درویشانو[1]

ددغو شعرونو د یکسانیت نه یې په ښه اندازه لګي، چې اخون ګدا! هم د رحمان بابا پّ فکري مکتب شاعر دی، چې د موجوداتو او اسلوب تر مخه یې د رحمان بابا پیروي کړې ده.

**٦ – ١٠ حافظ الپوري**

---

[1]- (نافع المسلین: ۴۸)

حافظ الپوري هم د رحمان بابا په پیروانو کې نامتو دی؛ حافظ محمدغوث د سلطان ابراهیم زوی و او د دوابي اوسدونکي و، په (۱۱۲۸هـ) کې پیدا شوی او د محمدي صاحبزاده سره یې(۱۱۹۵هـ) کې د بونیر علاقې ته هجرت وکړ، په الپورۍ کې میشته شو، او هماغلته د (۱۲۰۰هـ) په شااو خوا کې وفات شوی. مزار یې په الپورۍ کې دی. د حافظ کلام ډېر مقبول دی، ښه دیوان لري. د پند او نصیحت خبرې یې زیاتې دي.

غزل یې د عشق او حسن خبرې دي؛ تشبهات، محاورې یې د پښتو په رنګ که رنګ دي؛ ځکه ډېر اثر لري، د عزلۍ یې لړ زیات استعمال کړي دی.

یادونه:ـ د حافظ الپوري په نومونو کې د محققنو اختلاف دي، څوک وايي چې د هغه خپله نوم معظم و او دلیل لپاره لاندې شعر وړاندې کوي:

سوال د معظم که د مولا په درقبلېږي

اور وهلی چوب دی شی رقوم چې بیا شین نه شي

ځینې څېړونکي یې د عبدالمقتدد""نوموي" په هر حال حافظ الپوي ددغه پورتني شاعر دي. د (۱۱۰۰هـ نر تر ۱۱۹۵هـ) زمانې شاعر دی چې د څوکنو د حضرت میاعمر ولي الله په خاصو مریدانو کې شامل و.

یادونه: د پښتو غزل ترتیب او تدوین پروفیسو افضل رضا، پښتو اکاډمي پېښور یورنیورسټې. اول ځل ۱۹۷۸م،) (۱۸۲) مخ افضل رضا د اوضاحت نه دی کړی چې د حافظ الپوري صاحب د کوچي د وايي وه؟ د هشنغر د دوابۍ که د ټل هنګو دوابې اوکه د هندوستان دروهیل کنډ دوابۍ؟

په هر حال په الپوري مشهور دی. الپورۍ کې یې ژوند کړی دی او هماغلته وفات شوی دی. [۱]

د حافظ الپوري د شاعرۍ موضوعات زیاتره هم هاغه د رحمان بابا موضوعات دي، عینې عشق، تصوف، پند و نصیحت او وعظ وغیره او داسې برېښي، چې حافظ الپوري د رحمان بابا د مکتب او د هغه د پیروکار او مقلد شاعر ګڼلی شو، خوکه څه فرق په کې محسوسېږي نو هغه لفظي(ډکشن) دی چې که رحمان بابا هر څومره د غربۍ او فارسي ژبو کلمې استعمال کړې، خو داسې آسان اسلوب اوښکلي انداز کې یې بیا کړی دي، چې یو عام لوستونکی ډېر آسانه پرې پوهېدلای شي، ولې د رحمان بابا پّ نسبت د حافظ الپوري خپله شاعري نه صرف په عربۍ او فارسۍ الفاظو او تراکیوبې ګرانه کړې ده، بلکې د بیان انداز یې هم څه نه شکل شان برېښي، ځکه یې د رحمان بابا هومره شهرت او مقبولیت نه دی حاصل کړی او ددې یوه خاصه وجه دا هم کېدای شي،

---

[۱]- حبیبي، عبدالحی، ۱۹٦۴م، پښتانه شعراء: پېښور: اداره اطاعت مرحله: ۱۷۱)

چې رحمان بابا صوفي شاعر دی او حافظ الپوري ملا دی، ځکه رحمان بابا وايي چې:

مکتب حال د مذهب وايي

عشق سېوا دی له مذهبه

که د حافظ الپوري په وينا عربي لغاتو او الفاظو اثر نه وي، نو دده د کلام مرثيه به ډېره لوړه وه او عام خلک به پرې ډېر په آسانه پوهېدلای شول.

د رحمان بابا او حافظ الپوري په برخه کې دا خبره پّ عوامو کې ډېره مقبوله ده، چې" رحمان بابا لو( درو) کړی دی او حافظ ورپسې وږې ټول کړي دی" او که دې خبره هم څه اندازه لګول ګران نه دي چې حافظ الپوري د رحمان بابا د رحمان بابا په رنګ کې زنګ شوی دی او د شاعرۍ په مضامينو کې يې يکسانيت محسوسېږي، خو عام واعظانه او ملايانه رنګ پرې هم ډېر غالب دی، له دې هم خياله بيتونو يې ښه اندازه لګېدلای شي:

رحمان بابا:

دا سپوږمۍ چې نه يې سرشته نه يې ښښې شته

دا په کوم حسن به له تا سره سمېږي

خافظ الپوري:

څوک د وايي سپوږمۍ د محبوبا له مخه سمه ده

نه لري مژګان زلفې سپوږمۍ په خوبۍ کمه ده

رحمان بابا:

بې رهبر يون په لار د هر چا ګران دی

دلته بويه چې پيدا کاندي رهبر څوک

حافظ الپوري:

چې په مخکې يې رهبر مجرب نه وي

که خود رو تر کړنګ لوېږي عجيب نه وي

بې راعی رمه خوراک د گرگانو

بې کامل خراب حال د مریدان شي

رحمان بابا:

توره رِیره مې شوه سپینه زه حیران یم

چې رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل

حافظ الپوري:

برگ میوه توې شوه د پیرۍ، خزان لغړ کړم
شیر لکه بریښنا شوې د ځوانۍ اردي بهشته

رحمان بابا:

بې ریباره رسیده ویارته گران دی
په کوځه د مهرویانو رهبر بویه

حافظ الپوري:

د طلب شهسوار به ورسي منزل ته
که په لاس د نابینا یې جلب نه وي

حافظ الپوري:

چې اجتناب له غیرچارو نه په ژ،ندونه کړې
سفر دې گران دی د سفر په لار به بندونه کړې

رحمان بابا:

د منصور و حال ته گوره، حال یې څه شو
خدیا دې فاش د هېچا نه کاندي پټ راز

حافظ الپوري:

منصور سر ظاهرو سولۍ ته وخت

**٦- ١١ يونس**

د هېواد تکړه ليکوال سر محقيق استاد زلمی هېوادمل، د پښتو ادبياتو تاريخ(٢٠٠٠م) کال، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، قصه خواني په(١٧٦، ١٧٧) مخونو کې د يونس په برخه کې داسې ليکلي دي:

" په داسې سيمه کې د رحمان بابا د ادبي سبک په پيروانو کې پخوانی سړی يونس خيبري دی، چې پټې خزانې د روايت له مخې يې د پلار نورمحمدخان نوميده او موسی خېل و، پلار يې د کشي له غره څخه راغلی او په خېبر کې اوسده.

د زوړکړې نېټه يې(١١٠٠هـ ق يا ١٠٩٩م) راوځي. زموږ ادب پوهانو يونس د رحمان بابا په مستحقينو شاګرانو کې حساب کړی دی خو ادب پوهانو عقيده لري، چط يونس د رحمان بابا داسې شاګرد دی چې په خپلو رنګينو اشعارو سره يې هنري معيار کله تر استادۍ اوړي، د يونس په شعر کې د رحمان بابا د شعر روانی او عام فهمي اثرات هم شته، خو ددې تر څنګ د يونس اشعار ډېر نازک خيالونه هم پالي. دده شعر د هنر او ښکلا په ټولو ښېګڼو سمبال دی"[1]

همدارنګه پروفيسور ډاکټر زبير حسرت عقيده لري او وايي:" د يونس په هکله د افغانستان محقيقنو دارايي جوړه کړې ده چې د پټې خزانې تر مخه يونس خيبري او د رحمان بابا شاګرد دی، چې د ژوند زمانه يې د دولسمې پېړۍ ده" [2]

"د يونس د ديوان د سر خبرې، کې پوهاند دوکتور نوين ليکلي دي، چې: او د هغ هد ادبي مکتب او سبک پيرو دی"[3]

اورابناد ښاغلي څېړندوی عبدالله بختاني خدمتګار هم خپله سريزه کې د پټې خزانې په روايت، يونس د رحمان بابا شاګرد ګڼلی دي.

د يونس په يدوان کې د يو نظم نما غزل يا غزل نما نظم داسې شته، چې په لستو د رحمان بابا په وفات وئيلی شوې مرثيه بريښي او په دې اساس وئيلی شوې چې يونس د رحمان بابا نه صرف معتقد و، بلکې پيرو اړ مقلد يې هم و، دا خبره چې يونس د رحمان بابا شاګرد و، د تحقيق وړ ده، د مرثيې ځينې بيتونه يې دادي:

چې پيدا له آشنايۍ سره هجران شته

---

[1]- زلمی هېوادمل، د پښتو ادبياتو تاريخ(٢٠٠٠م) کال، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، قصه خواني په(١٧٦، ١٧٧)

[2]- حسرت، ډاکټر زبير. ٢٠١٣م. د رحمان بابا فکري مکتب، پېښور: پښتونخوا. باچاخان پوهنتون. کتابتون خپروندیه ټولنه: ٦۴مخ

[3]- (د يونس د ديوان: د سر خبرې)

ځکه داغ مې په خاطر باندې ارمان شته

انجمن دينو يارانو نو بهار دی

جدايئ ورباندې پير وکړ خزان شته

چې په قدر کې درونه د درياب وو

اوس صدف د هغو درو ګورستان شه

د سکوت قفل بې څرنګ لرې کېږي

چې په مرګ يې درون بند کليد ربان شه

له رحمانه فيض ياب عبدالرحمان شه

چې له دې سرايه په نوي سرای مهان شه

مرګ سخي د ښو خبرو هسې شوم کا

چې يې يو کلام زړه نه کېږي پرې ګران شه

چې په ملک يې نام دينکو شو مړ نه دی

څه شو دا که په حساب د مردګان شه

په پښتو شعر يې هسې نامه يو وړه

چې خبر يې په اشعار ايران توران شه

پر لذب شعر به څو کاندي يونسه!

چې په مرګ ځينې خاموش عبدالرحمن شه

د يونس دغه مرثيه کې ددې بيت، چې:

له رحمانه فيض ياب عبدالرحمان شه

چې له دې سرايه نوی عبدالرحمان شه

په حاشيه کې ليکل شوي دي چې:" عبدالرحمان مومند، د پښتو ستر شاعر دی، چې په رحمان بابا شهرت لري، او يونس يې د اخلاصمندو شاګردانو څخه دی، ځينې محققن هم ددغه بيت د وروستی مصرحې نه د رحمان بابا د وفات کال تاريخي ماده استخراج کوي چې زما په حساب (١١٢٣هـ ق) جوړېږي.

چې له دې سرايه په نوي سرايه مهمان شه يعنې(١١٢٣) خو دا تاريخ درست ځکه نه بريښي، چې په (١١٢٣) هـ ق) د ګل خان او جمال خان واقعې شوې دي او رحمان بابا هم هغه منظوم کړې ده.

ښاغلي قلندر مومند يې د وفات کال د اخون ګدا ددې لانديني بيت نه (١١٦٣هـ ق) استخراج کوي، چې:

د تاريخ حساب يې " بلغل غلا" دی

که دنیا په دا تاریخ بلند مکان لاړ

که څه هم دغه تاریخي بیت بنگښ به په ( مرثیه) کې د هغه د پاره ویلي شوی دي ولې سره له دې یې په بل شعر کې د رحمان بابا ذکر هم ددې وینا سره کړی دی چې:

زه گدایي په خپل ځای باندې قایم کړم

له جهانه چې شاعر عبدالرحمان لاړ

د رحمان بابا د فوات د کال په برخه کې گنو څېړونکو بېل بېلې رایې ورکړې دي په هر ډول... د یونس د شاعرۍ رنگ د رحمان بابا د مکتب فکر ته زیات نږدې دی، چې د موضوعات او اسلوب تر مخه یې د رحمان بابا د بیان طرز خپل کړی دی او په دیوان کې یې ډېرې داسې غزلې شته چې د رحمان بابا د غزل په څمکه ویل شوي دي او لکه چې مخکې وویل شول، د هغه رحمان بابا د مرثیې نه هم دا څرگندیږي، چې رحمان بابا سره یې بې شانه مینه، عقیدت دی او وتره احترام لري او په غم یې غمژن دي.

### ٦ - ١٢ محمد محمک بنگښ

نوموړی یو هنرمند شاعر تېر شوی دی. زموږ د هېواد پیاوړی لیکوال او سر محقیق ښاغلی استاد زلمی هېوادمل په خپل اثر د پښتو ادبیاتو تاریخ په (١٢٦مخ) کې لیکي:

" د یوولسمې پېړۍ په دوران کې یو هنرمند عارف شاعر خواجه محمک بنگښ دی، چې د شاه جهان او اورنگ زیب په زمانو کې یې ژوند کړی دی. د اوراښاد لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي د څېړنو له مخې موږ دده د ژوند زمانه له (١٠٣٠هـ ق نه تر ١١٠٠ هـ ق) کال پورې اټکل کولای شو."

ښاغلی پریشان خټک د خواجه محمدبنگښ دیوان په دیباچه کې ددې ثابتولو هڅه کړه ده چې خواجه محمد بنگښ هم د رحمان بابا د پیروکار او مقلد و. لیکلي یې دي، چې: " خواجه محمد بنگښ د خوشحال خان، رحمان بابا او حمید و غیره په دوره کې تېر شوی دی، ځکه خو ددغه دور په شعر کې دده کلام دې یوه لوړ و شاعرانو سره څنگ وهي، په ژبه کې یې هم د رحمان بابا غوښتدې سادگي، خوږوالی او رواني ده، ځینې کلام خو یې ښځي د رحمان بابا گمان گېږي".[1]

د خواجه محمدبنگښ د کلام یا شاعرۍ ډېرې برخه عارفانه ده او د دنیا یې شبائي غندي، موضوعات یې د شاعرۍ پرخه کړي دي، خو د کلام زیاته برخه یې د بې وزنه او بې سحره هم ده. ډېره کمه شاعري یې داسې ده چې هغه کې د کلام سیکي شاعرۍ خاصیتونه موجود دي، خو له بده مرغه دا شاعر د رحمان بابا مقلد یا پیرو نه شو گڼلی، ځکه چې شاعري یې د رحمان بابا د شاعرۍ د درجې نه ډېر لاندې دی، کوم موضوعات چې

[1]- خټک پریشان، ١٩٦٥م. دیوان ادیباچه خواجه محمدبنگښ، پېښور، پښتو اکاډمي، یونیورسټي:١٧).

رحمان بابا د خپلې شاعرۍ زینت گرځولي دي، هغه موضوعات د خواجه محمد بنگښ په شاعرۍ کې هم برېښي خو څومره سادگي، اساني، رواني او عام فهمي چې په رحمان بابا کې برېښي دا خاصیتونه د خواجه محمد بنگښ شاعري نه لري.

سرمحقیق عبدالواحد واجد، د خپلې علمي پروژې" د خشوحال خټک سبک او په پښتو ادب ددغه سبک اغېزې" چې د ۱۳۸۳هـ ش کې وه، د کتاب په ( ۱۸۰ ـ ۱۸۲) مخونو کې خواجه محمد بنگښ د خوشحال خان سبک په شاعرانو کې گڼي.

ډاکټر حسرت وايي، چې ښاغلي سر محقیق واجد د یونس دوه غزلې راوړي، خو له بده مرغه دغه غزلونه دانه ځرگندوي چې خواجه محمد بنگښ د خوشحال پیرو وي؛ نوموړی زیاتوي، چې هغه د دواړه غزلونه عبدالرحمان بابا د پیروۍ دلالت او غمازي کوي؛ اولني غزل مطلع او مقطع یې دا رنگ دی:

مطلع:

که دا ما غوندې غریب پریوځي و اور ته
ستا سنگین خاطر به نه شي ښکته پورته

مقطع:

د اورنگ په بادشاهۍ کې نیاو نه شي
زه خواجه محمد به ووځم و بل اور ته

ډاکټر زبیر حسرت زیاتوي؛ زما تر فهمه د خواجه محمد بنگښ په درست دیوان کې ددې یو غزل نه علاوه بل ښه او د کلاسېکې شاعرۍ له معیار سره سم ښکلي او معیاري غزل نه ځرگندېږي او بیا په دې غزل کې چې کوم بیت او غزل دی، هغه ښاغلی واجد نه دی رانقل کړی او هغه شعر دادی:

گوتې تورې کړې په مایې کړې راپورې
زه حیران یم ستا د سپینو کتو تور ته

رنگ پکې زیات برسیره  ښکاري، یو غزل نیم خو یې خالص د رحمان بابا په تسبح کې لیکلی دی؛ لکه مطلع یې:

اې زما د دل دلداره راشه راشه
سنبل مویه گل رخساره راشه  راشه

له دې سره د رحمان بابا دا غزل سړي ته ور یاد شي، چې:

اې زما د زړه آرامه راشه راشه
سروې قده گل اندامه راشه راشه

دې نه علاوه د ډېرو شعرونونه څرګندېږي، چې د رحمان بابا نه متاثره دی"[1]

میانعیم هم لکه د نورو ډېرو شاعرانو په شان د رحمان بابا له اثره بچ نه دی پاتې شوی او د هغوی په تقلید کې یې صرف د غزل په ځمکو کې غزلونه ویلي دي بلکې د رحمان بابا د شعرونو مصرعې یې هم د خپل غزل زینت ګرځولي دي. د مثال په طور د رحمان بابا د یو مشهور غزل په دا مطلع او څو شعرونه:

څه عجب لند مقام دی د اخلاص
چې جهان واړه غلام دی د اخلاص
که له ځمکې و آسمان ته خاته ګران دي
دا سفر په یوه ګام دي د اخلاص

بل کوم غزل یې چې را اخیستی دی، د هغې ردیف( الغیاث) دی او دغه ردیف د رحمان بابا مشهور غزل موجود دی؛ د خواجه محمد بنګښ ددغه غزل مطلع ده:

زړه مې یو وړ مهرویانو الغیاث
که دې هسې دلبرانو الغیاث

حسرت وايي داسې ښکاري چې د افغانستان ښاغلو څېړونکو د بنګښ ژوند د (۱۰۳۰ هـ نه تر ۱۱۰۰ هـ) پورې یقني ګڼلی؛ خو دا اټکل دی، مستنده خبره نه ده.

### ٦- ۱۳ میا نعیم متي زی

د ډاکټر حسرت په نظر، میانعیم متي زی د محمد شعیب زوی، د پلوسۍ اوسېدونکی و، د دولسمې دریالسمې صدۍ شاعر دی، چې د شاه زمان صدوزي د بادشاهۍ ( ۱۲۰۷ تر ۱۲۱٦هـ ) نوبت یې لیدلی دی او دغه دوران (۱۲۳۲ هـ) شاوخوا پورې یې ژوند یقیني دی چې په دغه کال یې خپل دیوان اتمام ته رسولی دی لکه چې وايي:

د حضرت له هجره تېرو و زمالا له
په تاریخ کې دولس سوه دوه دیرش کاله
د دوهمې خور د میاشتې چې شپږم شو
دا کتاب د خدای په فصل سره تم شو

میا نعیم هم د رحمان بابا د مکتب شاعر دی، چې قدم یې په قدم یې پیروي کړې ده او ډېر غزلونه او شعرونه یې د رحمان بابا په اقتضا او رنګ کې وییلي دي، خو له بده مرغه چې د رحمان بابا نوم یې نه دی اخیستی.

---

[1]- بخاري، خیال. ۱۹۹۸م، د میانعیم دیوان د مقدمه، پېښور: پښتو اکاډمي، یونیورسټي چاپ: ۲۴)

ښاغلی خیال بخاري لیکلي که د نعیم په دیوان یو عمومي نظر واچول شي؛ نو د رحمان بابا ساده، روان سنجیده او د پندو نصایح او میا نعیم د خپل شعر قافیې په بدلون داسې وایي:

هسې رنګې قدر لوی دی د اخلاص

تېر تر عرشه تګ د یوې دی د اخلاص

که له ځمکې و آسمان ته خاثه ګران دی

دا سفر په تګ و پوی دی د اخلاص

بې اخلاصه حلاوت د اسلام نشته

که د اسلام دی ګفتګوی دی د اخلاص

دا مصرعې ټولې په شور که خزانه ځلول شوی خو په ۳۳۹۱ او ۱۳۴۰ مخونو کې د میانعیم دیوان کې راغلی دی.

دغه رنګ د رحمان بابا د یو بل ډېر مشهور غزل څو شعرونه بیتونه لولو چې نه یوازې یې د میانعیم په زمکه غزل ویلی دی، تر متاثره شوی دی لا زه دا وایم چې په رښا ورځې یې غلا ترې کړې ده او که سړی لږ جراأت وکړي و به وایي چې میا نعیم د ( اوښ په ګنډه څه چې موټر هم پّ ګنډه وهیلی دی).

د رحمان بابا لاندې بیت وګورئ:

هسې تله کاندي وګور ته یاران ژر ژر

لکه تله کاندي وګور ته کاروان ژر ژر

هسې ژر ژر مرګ په موږ شنابي کا

لکه لو د پاخه کښتې کا دهقان ژر ژر

هسې ژر ژر دا دنیا و بله اوړي

لکه اوړی و بله ریګ روان ژر ژر

هسې ژر ژر صورتونه دي نړېږي

هسې ژر ژر دا شیرین عمر تېږي

لکه بحر چې بهېږي روان ژر ژر

هسې ژر ژر ځنبول د ښو نه وي

لکه درومي له جهانه رحمان ژر ژر

میا نعیم پورته قافیې په بدلون خپل غزل داسې موزونوي:

هسې دورمي له جانه احباب ژر ژر

لکه درومي په زور باندې درياب ژر ژر
د دينا وران سرايونه هسې وران شول
لکه ورانشي وران کور د حياب ژر ژر
مرګي هسې ياران ژر ژر له مابيايي
لکه ياد په هوا ځي پريبا سي سيلاب ژر ژر
د دينا باغ و بوستان که ډېر تازه دي
په خزان به د مرګي نشي خراب ژر ژر[1]

دا شان د رحمان بابا د يو بل غزل مطلع چې وړاندې هم ذکر شوی دی:

چې وييلي مې له تا دی دا حديث
نامه هر اشنا دی دا حديث
که څوک وايي چې چا کړی دا حديث دی
رحمان وايي چې زما دی دا حديث

او ميا نعيم داسې وايي:

چې ويلي ما د يار دی دا حديث
لکه خوږ په هر ګفتار دی دا حديث
چې بيان مې د سرو لبو په کې وکړ
ځکه هسې شکر بار دی دا حديث
سره ګلونه دي زما له خولې رژيږي
که صفت د ګل رخسار دی دا حديث
چې بياض پرې تمامي د نعيم خوږ شو
شهيد و قند دی که اشعار دی دا حديث

داسې د رحمان باباب يو بل عالي او ښه شعر په ډول شعر ويلی دی:

رحمان بابا:

سر زما سامان زما
ځار شم تر جانان زما
ځار شم تر دلبر زما

---

[1]- خليل، همېش. ۱۹۹۳م. ورکه خزانه. د همېش خليل ديوان. پېښور: قصه خواني: ٦٦ ـ ٦٧مخونه)

زر زما هم سر زما

او ميا نعيم وايي:

زر زما هم سر ما

ځار شه تر دلبرز ما

ځار شه تر دلبر زما

زر زما او سر زما

په خپل يو بل غزل کې رحمان بابا وايي، چې:

چې مجنون په ځنګدن شه

زه يې پرېښودم نائب

او ميا نعيم وايي:

معلومېږي، چې نعيم په عاشقۍ کې

پاتې شوی له مجونه دی نائب

رحمان بابا:

تل به نه وي شکفته ګلزار د عمر

نه به جوړ وي همېشه بازار د عمر

او ميا نعيم په بدله قافيه دغه مطلب داسې وايي:

تل به نه وي شګفته ګلشن د عمر

عاقبت به شي خراب وطن د عمر

د ميا نعيم د شاعرۍ له مطالعې راته څرګنده شوه چې له ځانه راضي و. د مغرور او کوم هنري شعري استعداد يې هم نه درلود؛ خو زور ازمايي يې کړې ده؛ د رحمان بابا ديوان يې مخې ته اېښی او په مړه ګېده يې ترې غلا کړې ده. دې ته( خورده منکر وايي) د بابا ګومې غزلې چې ده دوباره ګز ويل کړي دي نه يوازې خپل کلام ته يې ترې هنري کلام ته يې هنري قوت ترې غلا کړی دی، بلکې په ځان يې رشخند وهلی او د چا خبره ځان يې شاعر ښوولی دی.

### ٦ – ١۴ مصري خان ګګياني

مصري خان له خوشحال خان، رحمان بابا، عبدالحميد مومند وروسته د حسن او ښکلا بيانونکي شاعر ګڼلی شو.

د ډاکټر زبير حسرت په اند: مصري خان ګګياني د پښتونخوا يو رنګين بيانه شاعر دی، چې د دولسمې صدۍ د

سر او اهمو شاعرانو کې يې تذکره کېږي. د دواوېن کانګړې اوسېدونکی و او دده برخه کې دا خبره ډېره مشهوره ده چې د خوشحال خان او رحمان بابا نه پس مصري خان ګګياني د خپلې شاعرانه تعالی اظهار پريوانه او ښه آزارمتې کړی دی. ده د پښتو د کلاسيکه شاعری کې د واقعې، چې خپل ځان له يوه نوم پيدا کړی او دا نوم يې د ښّ فني لوازماتو او د پوره شاعرانه محاسو لرونکيو شعرونه له وجهې دی. د شاعری رنګ او انداز يې رنګين او ساده دی؛ د رحمان بابا غوندې طرز نګارش لري، چې د حسن و عشق د مظامينو سره سره يې خپل کلام کې د خپلې ټولنې غمونه، دردونه او خيالات او واقعات نه دی نظر اندازي کړي، په خپل شعر کې د رحمان بابا غوندې خيالات او افکار لري، يو څو هم خياله شعرونه يې داسې دي چې د زما تبصرې ته پرې اړتيا نشته، سيواله دی چې د رحمان بابا پّ مکتبيه کې مصري خان ګګياني هم داخل دی:

رحمان بابا:

دا جهان دی خدای له عشقه پيدا کړی
د جمله و مخلوقاتو پلار دی دا

مصري خان:

پيدايش واړه له عشقه دی اې مصره!
په معنی دی دی عشق د ګل عالم آبا

رحمان بابا:

د وفا ګلو پانې پکې نشته
کاشکي نه وی ددې هر په ګزار ګډ

مصري خان:

د ياری ونې ګل شنډې شوې يکباره
يو شجر يې په داد هر په بار نه شه

رحمان بابا:

چې تصديق په خپل زړه محکم نه وي
دا په خوله ظاهر اقرار څه اقرار نه دی

مصري خان:

د ګفتار خلک هر ځای هزار هزار دي
مرد هغه دی چې پيدا کاندي کردار

رحمان بابا:

د یوا و ددکه په خوا درشي خوبهتر دی
خدیا ج دې بد سړی درنه ولي په خوا

مصري خان:

که لیوه درشي په خوا امید د خیر کړ
څړه شر دی خوا په خوا مه ناکس

رحمان بابا:

که خدای غم د جدایي ورته آسان کړو
و رحمان وته آسان دی نور غمونه

مصري خان:

مصره ! ورکه به دې هجر بیداري شي
که دې وصل په شا وکړو الله داد

### ٦ - ١٥میرزاحنان بارکزی

خدای بښلي درونډ استاد، خپل وزین اثر ( د پښتو نثر هنداره) کې میرزاحنان بارکزی داسې راپېژني:

" میرزا حنان د محمد حسن زوی په خټه بارکزی او کندهار د یوه خوا یو نومیالی شاعر او ادیب دی. ده له سید مهردل خان سره زیاته علاقه لرله او د هغه د دربار مخور شاعر وو؛ ده په فارسي کې هم شعرونه ویلي دي، خو په پښتو کې یو خوږ شعري دیوان لري.

د ده دیوان پښتو ټولنې کابل، محمد معصوم هوتک، کویټه اوسېده خیرمحمد عارف او سعید گوهر په شریکه چاپ کړی دی. ( معصوم هوتک او عارف او گوهر صاحبانو چاپ دیوانونه زیات مستند او قوي دی. د میرزاحنان د دیوان د چاپ چارې یې په (۱۲۹۲هـ ق) کې پای ته رسولي دي او تر دغه سنې پورې دده د ژوند زمانه هم رارسېدلې ده.[۱]

باید ووایو چې ښاغلي سرمحقق زلمی هېوادمل یې د ژوند زمانه (۱۲۰۱هـ ق) خو او شا نه تر (۱۲۹۲هـ ق) پورې یعني گڼلي ده او دی یې د خپل یوه شعر پر مصداق د حمیدبابا خواته چین بللی دی، هغه بیت دادی:

د حمید د خوش نظمۍ په رزاعت کې
د احسان یې دی د شعر خوشه چین[۲]

---

[۱]- سردار مهردل خان
ربنتین، صدیق الله چاپ کال نه لري. د پښتو نثر هنداره، پېښور؛ یونیورستی بک اجنسي: ۱۹۱)
[۲]- هېوادمل، زلمی ۱۳۷۹ د پښتو ادبیاتو تاریخ : پېښور: قصه خواني: ۲۲۵)

ډاکټر حسرت وايي، دا درسته ده چې میرزاحنان بارکزی د خپلې شاعرۍ کې د حیمد بابا د شعر له اثره رنګيني پیدا کړې ده او پّ دغه اساس د حمیدبابا د هندي سبک پیرو دی خو د غزلونو بحر، وزن او ځینې ځمکې او خیالونه یې د رحمان بابا سبک ته هم او داسې بریښي چې ځای پر ځای یې د رحمان بابا پیروي کړې ده؛ ځکه نو زده هم له ډاکټر حسرت هم د میرزاحنان ته هم د رحمان بابا مقلد او د هغه د مکتب شاعر ووایم او پر ځای به وي.

رحمان بابا وايي:

د آشنا له لاسه زه یم په زړه سټړی
په خلوس مې پکار نه دی یو وګړی

د میرزاحنان نظر لري:

پر بتانو مینه کاندې درست وګړی
د یوه یوه په لاس د مجاز پړی
زه حنان د یار په غم لکه ګل واسوم
که رحمان و د آشنا له لاسه سټړی

رحمان بابا:

تا چې مخه د پري ستګرې د آهو کړې
ته پري یې، که آهو یې که جادو کړې

میرزاحنان بارکزی:

بیا د دواړې سترګې تورې په جادو کړې
مسخرې ځکه په سترګو د آهو کړې
چې تر سترګو یې رودونه ځي پوهېږم
چې حنان به په دې اوښکو یې لاهو کړې

### ٦ – ١٦ مهین خلیل

سرمحقق استاد زلمی هېوادمل د مهین خلیل په برخه کې خپل معتبر اثر د پښتو ادبیاتو تاریخ (۱۷۸) مخ کې لیکلي چې خلیل هم د رحمان بابا د سبک پیرو دی او د دیوان خاوند دی.

مهین خلیل هم د رحمان بابا د سبک پیرو شاعر دی. د بابا د شاعرۍ په باب یې نظر دادی:

د رحمان سره کښنې په څېر به شي
که خټک له څرمه واړه شاعران شي

د مهین خلیل د دیوان خاوند شاعر دی، خو د دیوان یې تر اوسه نه دی چاپ شوی، چې استفاده ترې وشي. درانه استاد هېوادمل د نوموړی د یوه غزل نه غلاوه دوه نور شعرونه هم را اخیستي چې دادي:

شاعران غوري خښي ډېر دی

په ساده ژبه ویل مهین خلیل کا

هغه ساده اشعار وایي او په ساده ګۍ کې د رحمان بابا د سبک په پیروانو کې ځان در وي. دده اشعار د هنر مالګه لري، خو دده خپله ادعا ډېره لوړه ده؛ مهین ویلي دي:

مرده ګان به آفرین وربانديې وکا

د مهین غزل که ووایي خوشحال ته

دا بیت یې داسې معلومېږي لکه د خوشحال خان ددې بیت تر اغېز لاندې یې چې لیکلی وي:

د خوشحال سره چې کښېني یو څو کاله

دا د غره خټک به واړه شاعران شي

داسې ښکاري چې د سړېښ توب له امله د رحمان بابا سره او خوشحال سره ادبي رقاصت یا چشمک لري او همدغه سبب دی چې د مهین هم موږ د رحمان بابا د فکري مکتب شاعر حسابولی شو.

**٦ – ١٧ نجیب**

نجیب د پېښور دی په دولسمه صدۍ کې یې ژوند کاوه، د احمدشاه بابا د همعصره او ژوند یې د خپل یو تاریخي بیت تر مخه تر (١١٧٨ هـ ش) پورې یقیني دی؛ هغه دادی:

زر سل کاله پرې اته اویا د پاسه

سن د هجر په دا وخت هومره حساب شه

ډاکټر زبیر حسرت لیکي: د نجیب د دیوان له مطالعې دا اندازه لګي، چې ښه عالم فاضل شخصیت او لوستی شاعر و، او د خپلو متقدمینو نه یې ښه ښه پوره استفاده کړې ده، ولې د رحمان بابا د مکتب او سبک شاعر دی چې پیروي او تقلید یې کړی دی او خپله شاعرۍ کې که یې د خوشحال بابا او کامګار خان خټک د شعر ستاینه نه ده کړې نو ورسره سم یې د رحمان بابا صفت هم کړی دی، لکه:

د شعراوو سر حلقه عبدالرحمان دی

زه نجیب دده د شعر د امن ګیر یم

چې یې شعر لا مثل دی باندې ښایي

که رحمان وایي په شعر عالمګیر یم

دغه دوو بیتونو کې ځان د رحمان بابا د شعر دامنګر بولي، نو خپل پیش رویي ثابتوي او د تقلید او پیروۍ

ښکاره اعلان یې کوي، دده دیوان " نجیب دیوان" په دیباچه کې ښاغلي خیال بخاري هم نجیب د رحمان بابا سبک پیرو او مقله یاد کړی دی دوی لیکلي دي چې:" نجیب په خپل رنګ او انداز کې د رحمان بابا د سبک پیرو دی" هغه خپله هم د رحمان بابا ذکر همداسې په احترام کړی دیاو د شعرونو مثال نه پس ( چې پورته ولیکل شو) لیکي چې د نجیب په شاعرۍ باندې چې د رحمان بابا څومره ژور اثر دی، پّ دې برخه کې یو څو مثاله بسنه کوي، د رحمان بابا شعر دادی:

رحمان بابا:

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جمله و مخلوقاتو پلار دی دا

نجیب:

زه نجیب خو یم له عشقه پیدا شوی
که دا نور خلک زوولي دي له موره

رحمان بابا:

چې دې زړه دی پرې تړلی استوار
دا جهان دې د نیکه دی که د پلار

نجیب:

چې دې هسې شان دی زړه پورې تړلی
دا دنیا دې د نیکه، که د بابا ده؟

نجیب د پېښور یوازینی شاعر دی، چې د رحمان بابا ته یې دویزه ویلی دی:

ما نجیب هم په دا طور غزل ووې
که وییلی دویزه عبدالرحمان دی

خیال بخاری لیکلي دي چې:" ده دا شعر د رحمان بابا د هغه اوږد غزل په طور ویلي دی چې کوم کې چې هغه د خدای پاک صفتونه بیان کړي دي او د سر شعر یې دادی:

په نامه د هغه خدای مې دا بیان دی
چې یو نوم یې په نومونو کې سبحان دی

په دغه شعر کې نجیب له رحمان بابا سره د " دویزه" لفظ کارولی دی له دې نه څرګندېږي، چې رحمان بابا د مهمندو د قبیلې د غمې ښاخ سره تعلق لرلو، دا انکشاف( کم له کمه) ماته په اول ځل وشه( دا جدا خبره ده چې هغه ددې ډول حدودنه ځان ډېر اوچت ګڼي).

نجیب ښکاره د رحمان بابا ذکر کړی دی او د چا خبره با قاعده نامه یې لیکلې ده چې" خو نه پوهېږم چې نجیب سره له دې چې هغه د رحمان بابا ډېر معتقد دی، د هغه ذکر ولې نه دی کړی".

د ډاکټر حسرت په خبره ؛ زه نه پوهېږم چې دلته د خیال بخاري د نجیب الله له اړخه د رحمان بابا ذکر نه کولو څه مراد دی؟ حالانکې خیال بخاري یې خپله دیباچه کې هاغه شعرونه هم راخیستي دي، چې کومو کې د رحمان بابا نامه اخیستل شوې ده.

### ٦ – ١٨ عبدالعظیم رانیزی

عبدالعظیم سواني د رانیزو قبیلې غوره شاعر دی، چې دیوانه یې د زیږیدو نېټه ( ١١٦٧هـ ق) راوځي او تر ١٢٥٣ پورې یې ژوند یقیني دی. د رحمان بابا په رنګ او آهنګ کې یې شعرونه ویلي دي او د رحمان بابا عالمګیر سبک یې د خپلې خوندورې ژبې ارمان کړی دی:

د مومند عبدالرحمن بابا په مثل
هسې خوږ شعر زما وای دریغه دریغه
زه عظیم به خاص غلام ددې مومند وم
اوس ژوند که په دینا وای دریغه دریغه

په خپل یو نظم کې چې د حمید او محمدي صاحبزاده ذکر یې په کې کړی دی او د هشنغر د سیمې پوهمنام شاعر او مجلسي یې په غلی شاعر یاد کړی دی، خود خوش آوازه او خوش سرودی ستاینه یې هم کړې ده، د رحمان بابا په هکله یې د نظم په ابتداء کې یې دا څو بیتونه هم ویلي دي:

خدایه وبښې مومند عبدالرحمن
پرې نازل کړې خپل رحمت کله باران
څه ښایسته کتاب یې کړی عجیبه دی
د اشعارو په پښتو ژبه عیان
چې نظر یې کړی هر بیت او هر غزل ته
ته به وایې چې یا دُر دی یا مرجان
ټول کتاب یې لګېدلی په توحید دی
مینه دار پرې ځکه ډېر دي عارفان
څوک په رد ددې کتاب هرګز و نه کړي
که راټول د زمانې شي شاعران
چې کل وعظ و نصحیت، پندو غیرت دی

شب وروزلي ځکه ګوري طالبان

او د رحمان بابا د کتاب په شان د کتاب جوړولو خبره يې د هغه په خاص مکتب کې داخلوي، چې داسې وايي:

د بابا عبدالرحمن مومند په شانې

جوړ کړو ما د غم کتاب د مرګ له لاسه

دغه رنګه عبدالعظيم نه يوازې د رحمان بابا سره د مينې عقيدت څرګندونه کړې ده، بلکې په دې ورته نذر هم پېش کړی دی، چې رحمان بابا د غزلونو په اقتضاء قافيه او رديف کې غزلونه ليکلی دي او ځينې ځينې خيالونه يې هم ترې خپل کړي دي؛ د مثال په ډول:

آشنا مې درومي نن له ما نه الغياث

بې رخصته بې ميلا نه الغياث

لا مې تريخ په غم کې حلق و تر شلمه

بيا جدا دې کړم له ياره اې فلکه

وايي چې عبدالعظيم رانيزی په (۱۱٦۷ هـ ق) کې سوات کې عزيزخان کره زيږېدلی وو او تر (۱۲۵۳ هـ ق) پورې ژوندی و، د دښمنۍ له امله سوات نه شهکال د پېښور اته کړه راوړې وهن، هم دلته يې واده کړی او عمر يې تېراوه.[1]

### ٦- ۱۹ قاسم علي افريدی

فقيرمحمد فقير وايي چې قاسم علی افريدی  د برهان خان افريدی زوی نيکنام خان افريديي لمسی په نسبي سلسله کې کرلانی، په کرلان کې افريدی، په افريدو کې آدم خېل، ګلايي، حټوړ، سيدخېل او بيا سلطان خېل دی چې (۱۱۸۳هـ ق) په فرح آباد د هند کې زيږېدلی دی او تر (۱۲۲۵هـ) پورې يې ژوند يقيني دی. دده نيکونه د اکبر آباد د صوبې په دهول باړي پور هند کې ميشته شوي وو او له هغه ځايه د مُرشد آباد  لال باغ ته کوچېدلي وو.

قاسم علی خان د خليل الرحمن مليع آبادي شيخ الشيوغ سره په کلهار کې د عربۍ او فارسۍ علمونه حاصل کړل. ده د اوو(۷) ژبو عالم او فاضل شخصيت و او د (۳۹) کالونه په عمر يې پورې شپږ کتابونه ديوان پښتو اردو، اپريدی نامه، شفاعت نامه او رساله اپريدی ليکلي دي. د پنځو ژبو پښتو، فارسي، هندي، کشميري او انګريزي لغت يې د افريدي نامه په نوم ليکلي دي. پر دې سربېره په عربۍ او ترکي يوه بريده پوهېده. قاسم

[1]- افضل ـ د پښتو غزل ترتيب او تدوين. پېښور: قصه خواني: ۱۹۰

علي افريدي کوم عزل، چې افضل رضا په خپل تاليف کې کې رانقل کړی دی، هغه د رحمان بابا د غزل په وزن، بحر او ځمکه دی، چې خيالات يې هم د رحمان بابا په شان دي. د قاسم علي افريدي نوره شاعري هم که په ژور نظر وکتل شي څرگنده به شي چې د رحمان بابا له اغيزو خالي نه دی او په دې ډول موږ قاسم علي افريدی هم د رحمان بابا مکتب شاعر او پيرو گڼلای شو.

دلته گورو د رحمان بابا مشهور غزل:

هېڅوک مه شه گرفتار د تورو زلفو

مه اسير شه په کفار د تورو زلفو

او قاسم علي افريدی داسې وايي:

که دې بيا موم يو تار د تورو زلفو

کړم په غاړه به زتار د تورو زلفو

که چغار د عندليب په شان کړم نبه کړم

افريدی يم په گلزار د تورو زلفو

د قاسم علي خان دا بيتونه هم د رحمان بابا د مضمون او طرز شعرونه دي، چې:

ډېر مدت شو چې په غم دې مبتلايم

هسې نه چې نن مهرو په تا شيدا يم

زما ستا د مينې ډېر شو مدتونه

ته لا اوس وايي وماته يار د چا يې؟

او رحمان بابا ترې مخکې ويلی وو، چې:

زه په تا باندې مين يم له ازله

نه چې کړي مې نن ورځ ده ابتدا

هسې نه چې زه نن ورځ په تا شيدا يم

ستا غمونه مې په زړه کې ديرينه دي

خپل يو بيت کې د رحمان بابا ذکر داسې کوي:

تېر شو وخت د رحمان اوس دی زما

که دولت و، که خوشحال او که ميرزا

قاسم علي افريدی چې د رحمان بابا په کومو غزلونو شعرونه ويلي دي، د تفصيل اجمال يې دادی:

که څوک نه کاندي په تا باندې غرض

ته هم مه کوه په چا باندې غرض
هغه کس چې دلګير وي څه به خوب کا
چې غمژن لکه اسير وي څه به خوب کا

د قاسم علي خان پښتو ديوان لا نه دی چاپ شوی او که چاپ شو، نو داسې ډېرې نمونې به په کې ووينو، چې د رحمان بابا د فکر سره سمون خوري. زما د معلوماتو تر مخه د قاسم علي افريدي ديوان فقيرمحمد فقير ترتيب او تدوين کړی دی، چې د ايمل افل ډګرۍ اخيستو نه پس به چاپ شي.

## ٦-٢٠ پيرمحمد کاکړ

ډاکټر زبير حسرت وايي:" پيرمحمد کاکړ( د يوې محتاطې اندازې مطابق (١٢٣٠ هـ) کې مړ شوی او په کندهار کې دفن شوی دی" د خپل ديوان تکميل يې په (١١٩٦هـ) کې کړی دی؛ لکه چې له دې بيتونو يې څرګندېږي:

زر سل شپږ نوي کلونه
د هجرت تېر شوي وونه
ما اشنا د عشق ديوان کړ
په پښتو مې ښه بيان کړ

د ديوان علاوه د نورو وړو او لويو کتابونو او رسالو ليکونکی هم و، چې دا ترې څرګندېږي، چې د احمدشاه بابا او تيمورشاه په زمانه کې يې ژوند کاوه.

پيرمحمد کاکړ هم د پښتو د هغو شاعرانو له ډلې دی، چې د رحمان بابا مکتب سره زښت نږديکت لري او که يو لوری ته يې د خوشحال، حميدمومند او عبدالقادر خټک د شاعرۍ په تسبع کې د ددغو شاعرانو په څمکو، قافيو او رديفونو غزلونه دي ويلي او بل لوري ته يې د رحمان بابا په رنګ کې هم ځان رنګ کړی دی او په ديوان کې يې ډېر داسې غزلونه او شعر موندل کېږي، چې هغه د خيال مضمون، لفظونه بند شعرنو، وزنونو، بحرونو، قافيو او رديفونو تر مخې ښخې رحمان بابا ته ډېر ورتوالی لري.

محمدصديق پسرلي د پيرمحمدکاکړ په شاعرۍ يوه ښه اديبانه او فنکارانه مقاله ليکلې ده چې نامه يې د پيرمحمدکاکړ د هنر په درشل کې يې ده. دوی هم د پيرمحمدکاکړ د شاعرانه عظمت قايل دي او موزانه يې د خوشحال خان رحمان بابا، حميد مومند او عبدالقادر خان سره کړې ده، د رحمان او پيرمحمد په لړۍ کې يې ليکلي دي، چې:" پيرمحمد کاکړ چې هم ملا وو، هم صوفي چار ناچار يې د زړه سرهد رحمان بابا کلام ته ټيټ کړی دی او د هغه په پله يې تر وسې وسې پورې پل ايښی دی د پيرمحمد يوه ډېره برخه شعرونه يا در حمان

بابا په پیروۍ ویل شوي دي او یا هغه ته ورته دي"[1]

ته به وایي مومند عبدالرحمن د ژوب له لارې کندهار ته تللی دی. د باگرام د ترکوجمال یې د حسن او مستۍ د وطن عشوه گرو له زړه ایستلی دی، کومې گلعذارې یې د زلفو تار تر زړه ایستل غند او درود په غاړه یې د ورشو په محل ناسته لیدلې حیرانۍ ورته اخیستی دی.

پسرلی خپله مقاله کې د پیرمحمدکاکړ تقابلې مطالعه د خوشحال خان، رحمان بابا، حمیدمومند او عبدالقادرختک سره کړې ده او د دوی او د یو شان څمکو او مضامینو غزلونه یې رانقل کړي دي؛ خو ورسره یې دا هم منلې ده لکه چې د رحمان بابا د پیروي یې له ټولو زیاته کړې وي.

هسې هم د پیرمحمد شاعري لکه د رحمان بابا د عشق و محبت ، سوز او گداز، جذب و حال او تصوفي افکارو غوندې بریښي، څه هم که د پسرلي مقاله کې موږ دا خبره هم لوستې ده چې:" ددغه هر څه باوجود د پخوانیو د ښو اثارو مطالعه او د مطالعې مثبته اغېزه ضروري امر دی؛ دې ته څوک تقلید محض نه وایي، بلکې د تکامل پړاوونه وربانديې ویل کېږي"

پیرمحمدکاکړ هم د نورو آثار ولوستل، چې د هر یوه د هنر ښېگڼې یې ځانته مرغلرې کړې خپلې تجربې یې ورسره ملې کړې او په نتیجه کې د نوې لار لارښود شو. خو بیا هم د پیرمحمدکاکړ په شاعرۍ د رحمان بابا د رحماني سبک اغېزې زیاتې دي. نو موږ ویلای شو، چې که شعوري هڅه یې دا کړې وي چې د متقدمینو په اقتضا غزلې ووایي، نو دا هڅه یې هم نه ده شنډه شوې، چې د رحمان بابا غوندې طرز خپل کړي او دغه ساده گي، آساني، رواني، سوزوگداز، تصوف، عشق و محبت، نازک خیالي او د خپل چاپیریال انځورگري خپل هدف او حرام وگرځوي.

پیرمحمد کاکړ نه یوازې د حضرت عبدالرحمن بابا د شعر ستاینه کړې ده او د هغه نوم یې اخیستی دی، چې په کې یې د رحمان بابا ته غیب اللسان ویلی دی:

جوړ په شعر کې رحمان غیب اللسان دی
په دا خبر نشته هرگز داستان شعر

همدارنگه په خپل یوه بیت کې یې د رحمان بابا شعر ته معجزه ویلې ده، چې:

که هر څوک وایي نازک نکته دان شعر
ولې دوی گڼي معجز د رحمان شعر

او که دا معجزه نه ده، نو الهامي کلام او آسماني سندرې خو ضرور دی چې تر امیرحمزه شینواري مرحوم پورې ډېرو شاعرانو د رحمان بابا پیروی او تقلید کړی دی.

---

[1]- پسرلی، محمدصدیق ـــ سپېدې: دوه میاشتنۍ ادبي او کلتوري مجله. پېښور، قصه خواني:۲۷

خوند يې دغه اندازه اسلوب او خاص منفرد طرز خپل کړی دی او نه ورته د رحمان بابا غوندې شهرت او مقبولیت حال شوی دی.

دلته به د رحمان بابا هغه بیتونه را انتقال کړم، چې وروسته پیرمحمدکاکړ وربانديې د خپل شعر ماڼۍ مظبوطه جوړه کړې ده.

د رحمان بابا د شعر مطلع دارنگه ده:

چې په سترګو کې يې خار وي څه به خوب کا
چې په زړه يې غم د يار وي څه به خوب کا
هغه ژوي چې مين وي څه به خوب کا
چې په زړه باندې غمجن وي څه به خوب کا
خوب، خندا په بې غمۍ کېږي رحمانه!
چې په زړه يې غم د يار وي څه به خوب کا

او پیرمحمدکاکړ ويلي دي، چې:

هر چې زړه يې ناقرار وي څه به خوب کا
ډوب به غم کې د دلدار وي څه به خوب کا
خوب خندا وي بې دردان کا پیرمحمده!
هر چې تا غوندې اقصار وي، څه به خوب کا

رحمان بابا ويلي دي، چې:

ستا دې خواب آلو دو سترګو خواب راڅخه يو وړ
ليودې لذت د ميوناب راڅخه يو وړ

پیرمحمد کاکړ:

اوښکو د فراق مې د مخ آب راڅخه يو وړ
کښت چې د زعفرانو دې سېلاب راڅخه يو وړ

رحمان بابا:

زه د يار په در دو غم کې عرقاب خوښ يم
په دا در کې بې طاقته بې تاب خوښ يم

پیرمحمدکاکړ:

د خپل يار په عشق بې خوده خراب خوښ يم

مې پرست غونډې په جام د شراب خوښ يم

پيرمحمدکاکړ که څه هم د نورو متقدمينو په اقتضا ډېرې غزلونه او شعرونه ويلي دي او له هغو يې استفاده کړې ده، خو د رحمان بابا نه زيات متأثره په دې هم ښکاري، چې نوره شاعري يې هم د رحمان بابا اندازه او طرز ته ډېره نږدې ده؛ لکه دا شعرونه يې:

په ښادی ولې ښاد په غم غمژن يې

چې تېرېږي سود و زيانددې دنيا

ابلهان که هوسېږي باندې څه شو

زه خراب وينم ايوان ددې دينا

+++

حال زه هسې په د هر افسانه شعر

لکه کوکې دي د حسن په جهان ستا

++++

سيم وزر په ملک کې نه لرم نادار يم

په دولت د زړه ترحده دنيا دار يم

قناعت له نااهلانو بې پروا کړم

په دې گنج سره سره د دوی لکه انار يم

ښاغلي پسرلي ويلي دي چې:" که د پيرمحمد شعرونه د انصاف په تله وتلو، دده شعرونه د رحمان بابا په سبک هم د دېرې توجه وړ دي او د هنر روح په کې غزونې کوي او دا ځکه چې پيرمحمد يوازې د يوه مکتب شاگردي نه ده کړې. ده که څه هم د يوه مکتب شاگردي نه ده کړې؛ خو د رحمان بابا د مکتب پيروي يې ضرور کړې ده او زما ددې دعوې دا دليل دی چې د پيرمحمدکاکړ په شاعرۍ کې زياته برخه د رحمان بابا په رنگ کې رنگ شوې ده او ځکه دی هم د رحمان بابا مکتب يو هم شاعر دی".

### ٦ –٢١ احمدشاه ابدالي

د پېښور پښتو اکاډمي، د رحمان بابا ديوان (٩٧) مخ کې ليکلي:" د احمد شاه ابدالي يو درويش منش صوفي وو، هغه يو پيدايشي سياهي و، يو فطري مشر و، يو کلک پښتون و، يو انسانيت دوست حاکم و، يو اعلی منتظم و، او د علم و ادب سرپرست و".[١]

---

[١]- ديباچه. ١٣٦٣. ديوان احمدشاه ابدالي. پيښور: پښتو اکاډمي، يونيورسټي: ٩٧

له دې سره احمدشاه ابدالي د پښتو او فارسي ژبو شاعر هم و، ا گر چې شاعري یې د کلاسیکو شاعرانو د پای نه، بلکې د دویمې یا اوسطې درجې ده.

د پښتو ژبې پیاوړی محقق زلمی هېوادمل د پښتو ادبیاتو تاریخ په (۲۳۷) مخ کې لیکلي دي، چې د بابا په دیوان کې د ځینو ځینو ښه شعرونه تر څنګ لږ ضعیف شعرونه هم شته، هنري متره یې په منځنۍ حد کې ده، خود کلام ریښتیي برخه یې موضوعاتي او اسلوبائي رنګ او آهنګ کې رحمان بابا ته ډېر نږدې دی.

که څه هم دا احمدشاه بابا د دیوان پېژندګلوي، لیکونکی، عبدالقادر او ترتیب او تدوین کوونکی قاضي هدایت الله دې لور ته څه اشاره هم نه ده کړې؛ خو که په ژور نظر وکتل شي نو دا احمدشاه بابا شاعري به موږ ته د رحمان بابا د مکتب او سبک څرګنده شاعري و بریښي دلته د مولانا عبدالقادر دا خبره به ځای ونیسي، چې: " د احمدشاه ابدالي دا دیوان د شاعرۍ له اړخه نه دی کتل پکار، کېدای شي دده د شعر ځینې لوستونکي ته د خپل شعر د لوازماتو له رویه نیمګړی ښکاره شي ولې د عقاید، ایماني قوت، اخلاص، مینه او پټ او بیا دده د علم او تصوف په دې مجموعه کې دده شخصیت په یو نوي رنګ کې ښکاره کوي. یو طر ته سیاهي او بل طرف ته صوفي، دا دواړه کیفیتونه په یوه ذات کې جمع کېدل عجیبه غودې ښکاري".

د احمد شاه بابا شاعري د دویمې درجې یا اوسطې درجې ده او د تصوفي افکارو اکثریت یې د رحمان بابا سبک او مکت ته نږدې کوي، ده که خپله شاعرۍ کې د رحمان بابا نوم نه دی اخیستی، خو خپل شعر یې د رحمان بابا د شعر د سترګو کجل او رانجه ضرور ورکړی دی چې موضوعات یې تقریباً یو دی او ځینې یې هم له رحمان بابا نه منشا راخیستې دي. د مثال په طور یې د یو دوو غزلونو دا څو شعرونه پیش کوم، چې زما د خبرې تصدیق پرې وشي.

څه شو زه که په ظاهر صورت زهیر یم
چې د خپل یار نظر شته په زړه ا میر یم
که مې برق د سپینې تورې بیا برښنا کړه
ستا د مهر په هر لوري عالمګیر یم
و بل لوري ته مې هېڅ مخ مخې نشته
یاره! زه چې ستا و در ته تل فقیر یم
د رقیب له لاسه نه ژاړم وتاته
د بېلتون په لوژه شپه احمد په وېر یم

او دا چې:

مخ د آینې دی، چې دې تل و مخ ته ګوري
مخ د لونګین دی چې دې پاس په سینه ښوري
نه دي ستا په غږ و غړې غټې مرغلرې
وصل دې په میاشتې پورې یو سر بل سر ستوري
روغ مې کړه له رنجه چې د خولې ښېرې د واورم
تا دې خدای دلبره تل له هرې بلا ژغوري
درومي ستا و لورته په آرمان آرمان کاته کا
سپین یې په کاته شو احمدشاه د ستوګو توري

د رحمان بابا ددغه زمکو لرونکیو غزلونو مطلعې او مقطعې څه په دا ډول دي:

که مې څوک په فقیرۍ شمېري فقیر یم
که مې څوک په امیري شمېري امیر یم
خوشحال او دولت مې غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

ددغه غزل اولنۍ مقطع دارنګه ده، چې:

چې همېش په غوږ نعرې د هجران اورم
رحمان څکه د خپل یار مخ ته څېر یم

او دا چې:

ستا د تورو زلفو په یاد داشت مې سترګې و وري
حق دی چې پریوځي په شبرات د عمر ستوري
زلفې دې سایه کړې مخ دې اور راباندې و وري
اور دې که وریځ ده نه پوهېږمه په ستوري
ځان په مستو سترګو باندې مه غلوه رحمانه!
دامستان هوښیار دي له حکمته سره ښوري
یو اصل دی څوک قندو نبا څوک ځیګر خون خوري
خال ستاد لبانو او زما د سترګو تورې

احمدشاه بابا تر ۲۶ کاله پاچاهۍ وروسته د (۱۵۱) کالو په عمر وفات د (۱۱۸٦هـ ق) د رجب د میاشتې په شلمه وفات شوی دی او جنازه یې کندهار ته راوړل شوه او د کندهار په احمدشاهاي ښار کې خاورو ته وسپارل

شوه.

په دې حساب احمدشاه بابا د پیدایښت کال (۱۱۳۵هـ ق) راوځي.

### ٦ – ۲۲ قنبرعلي خان ورکزی

د حضرت عبدالرحمان بابا ( فکري مکتب) لیکوال پروفیسور ډاکټر محمدزبیر حسرت په وینا:

" د پښتونخوا د نورو ډېرو شاعرانو په شان قنبرعلی خان ورکزی هم د خپلې شاعرۍ په تناظر کې د مضامینو او لفظیاتو په لحاظ د رحمان بابا پیرو او ددغه مکتب په یا دو شاعرانو کې حسابولی شو".

د قنبرعلي خان د دیوان په سریزه کې ښاغلي پروفیسور همېش خلیل د دوی د ژوند او زمانې په برخه کې لیکلي دي، چې:

" قنبر علي خان اورکزی د عبدالعزیز خېلو د څانګې د باقي خېلو په پښه کې سرورخان کره د تېرا د مشهورې درې " دره مني خېل" په کلایه نومي کلي کې سترګې غړولې وي، ابتدایي تعلیم یې د خوا او شا د عالمانو نه حاصل کړی و، د خپل وخت د مشهور صوفي او بزرګ سیدانور شاه صاحب د مریدۍ حلقه یې په غوږ کړه او د عمر زیاته برخه یې د خپل مرید په خدمت کې تېره کړې وه.

قنبر علي شاه خان شاعر، ادیب او عالم و، صوفي او عالم سړی و، د ژوند په وروستیو شپو او ورځو کې ناروغه شو، او د علاج لپاره پېښور ته راغی، بالا مانۍ کې د خپلو تربورانو کره دېره شو ولې علاج یې کارګر نه شو او آخر د جمعې په شپه ( ۱۱) د رجب ۱۲۰۷هـ) کې وفات شو، ا و د چراغ بیک په ادیره کې چې د سول کوارټرونو او بالامانۍ پېښور تر منځ ده، دفن کړای شو" [۱]

له ښه مرغه هغه مرثیه چې د قنبرعلي خان په وفات د دوی پیر محترم سیدانورشاه صاحب ویلې ده، ښاغلي همېش خلیل په خپله سریزه کې رااخیستې ده، چې مطلع او مقطع له بیتونو کې د وفات هېڅ درسته نېټه ( جمعې ـ شپه، د رجب یوولسم تاریخ کال ۱۲۰۷هـ) معلومېږي.

د جمعې شپه وه، رجب یوولسم و
په باقي عالم قنبر اېښی قدم و
زر دوه سوه اووه کاله د هجرت وو
میرانو دا غزل وییلي د ماتم و[۲]

قنبر علي خان پیاوړی شاعري کړې ده او غزلیزه شاعري یې کړې ده دده کلام له مطالعې ښکاري چې زیاته مطالعه یې کړې ده او د میرزاخان انصاري حافظ شیرازي، صدیق، رحمان بابا، حمیدمومند، عبدالقادر خان

---

[۱]- خلیل، همېش. ۱۹۷۲. دیوان قنبر علي خان. (سریزه)، (دویم چاپ، پېښور: اراالتصنیف: ۹ ـ ۱۰ـ ۱۱)

[۲]- دیوان قنبرعلي خان، سریزه: ۱۳

خټک، کامګارخان خټک، محمدي صاحب زاده، علي خان، نصرالله او شاه اشرف په پلونو یې پل اېښوولی دی، خپل غزلونه یې چې د رحمان بابا تر اغېز لاندې یې لیکلي، په ښکاره وایي.

قنبرعلي خان دیوان که په غور سره لوستلای شي، نو معلومه به شي چې شاعرۍ اکثریت یې د رحمان بابا د لیک شان لري، د مضامینو په لحاظ او د ژبې د لفظونو له پلوه هم، د ترکیبونو او بندونو په لحاظ هم او د شعر په اقتضا ویل شوي، اوچته ښکاري؛ خو بېلګي یې دلته راوړو:

ولې نه ګورې و ماته سم په څه

زیاتوې د غم زده، غم په څه

د قنبر علي غزل د رحمان بابا د غزل په څمکه، ردیف، قافیه، وزن او بحر د قنبر علي خان دا غزل دی چې د رحمان بابا نوم په کې نه اخلي.

بیا له ما دې آزاري صنم په څه

نه پوهېږم، شي به خوښ خرم په څه

رحمان بابا وايي:

زه رحمان په خپله ګریم چې مین شوم

دغه نور عالم مې بولي ګرم په څه

لر یې وپوښته چې حال یې د زړه څه دی

د رحمان له سترګو څاځي نم په څه

او قنبرعلي خان داسې وايي:

په ناحقه مې د ګرم په نامه بولي

خدای خبر دی که زه وم ګرم په څه

که یار هر څه راته وايي زه پرې خوښ یم

راته بد وايي دا نور عالم په څه

که مې ځان ضمیر د غم په اوبو نه وي

له چشمانو مې بهیري نم په څه؟

دغه رنګه د رحمان بابا شاعرانه تعالي ده:

چې تمام د خپل ځیګر په وینو رنګ شه

د رحمان خبرې ځکه رنګینه دي

او قنبر علي خان همدغه مفهوم او الفاظ د خپلې شاعرانه تعالي په ترڅ کې راوړي، لکه:

د قنبر علي غزل به خود رنګين وي
چې هر حرف يې زړه په وينو رنګينه وي
سربيره پر دې قنبرعلي خان د رحمان بابا ددې مشهور غزل په اقتضا هم غزل ليکلی دی چې:
ما سر، سبا ليدلی و، د چا مخ!؟
چې مې درسته ورځ و نه ليده دا ستا مخ
او قبنر علي خان جواب په دې مقطع کې داسې کړی دی چې
ر حمان بابا د دې غزل جواب قنبر کړ
ما سحر سبا ليدلی و، د چا مخ؟
د رحمان بابا په دې مشهور غزل هم قنبر علي خان جوابي غزل ليکلی دی.
رحمان:
ستا دې خواب آلوده سترګو خواب راخخه يووړ
لېو دې لذت مخناب راخخه يووړ
قنبر علي وايي:
کړي چې رحمان موند سوال د دې غزل و
دا ښکلی غزل يې په جواب راسره يووړ
«راخخه» او د راسره په يوه معنا استعمالېږي، خو لفظونه بدل دي، بلکې لهجې مختلفې دي.
دا شان د رحمان بابا يو بل ډېر مشهور غزل دی، چې مطلع يې دا ده:
زلفې له ډېرې درازۍ پائې تر سر دي
يا د بنفشې لښتې خوړې په صنوبر دي
د دغه غزل په جواب کې قنبر علي خان خپل غزل ليکلی دی،و چې دويمه مقطع کې يې د رحمان بابا مصرع د تضمين او استقبال په طور راوړی ده:
دا جواب قنر علي رحمان د دې غزل کا

زلفې دې له ډېرې درازۍ پائې تر سر دي

د قنبر علي خان په دیوان کې د رحمان بابا د متعلقه بیت جواب کې دوه غزلونه لیکلي شوي دي،و د کر شوې مقطعې مطلع یې دا رنګ ده چې:

نقش مې د زړه په مصحف زلفې د دلبر دي

خال و خط په مخ د یار نقطه زیر و زبر دي

او د ددویم غزل مطلع یې دا ده، چې:

زلفې پیچاپیچ په رخساونو د دلبر دي

یا که ښاماران پراته په ګنج د سیم و زر دي

د رحمان بابا په متعلقه غزل کې دوه بیتونه داسې لولو، چې

قد ته دې څوک نشي رسېدای له بلندۍ

ولې چې معراج و ته خاته د پیغبر دي

ما چې ستا ښایست لمر او سپوږمۍ سره په تول کړه

تللي په میدان کې تر آسمانه سپوږمۍ لمر دي

او د قنبر علي خان په دویم غزل کې متعلقه مضمونونه سره یو شان بیتونه په لږ ډېر بیلتون داسې دي، چې:

سر پورته کول د شعاد قدو بلندۍ ته

بې ګلو، بې یاره څکه سر وضو پر دی

ستا د مخ دیدن یې هر ګز نه مونده دلبره

څکه په آسمان پورته ختلي سپوږمۍ لمر دي

د رحمان بابا دا غزل هم ډېر شهرت لري، چې مطلع او مقطع یې دا رنګ دي:

ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی

ګویا میشت مې په سر شهر د لاهوردي

که رحمان په عاشقۍ بې عزت کېږم

ما په سترګو قبول کړي دا پیغور دی

او په دغه ځمکه هم قنبر علي خان د رحمان بابا په تتبع کې د غزل ویلی دی چې مقطع یې داسې ده:

په خاطر مې هسې ستا د مینې شور دی

چې له سترګو مې روان دریایي شور دی

او د رحمان بابا مصرع داسې استقبال کوي:

که ستا مینه څوک پېغور ګڼي دلبره

ما په سر سترګو منلي دا پیغور دي

تتبع قنبر رحمان د دې غزل کا

ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی

دغه رنګ قنبر علي خان یو بل غزل هم په دغه ځمکه، ردیف او قافیه لیکلی دی، چې مطلع یې دا ده:

ستا له هجره مې په سترګو کې بل اور دی

له دغه اوره مې اور بل د زړه په کور دی

د قنبر علي خان دغه غزل د مضامینو له پلوه د رحمان بابا غزل ته ډېر نږدې دی، خو ذکر یې نه کوي او دا شیان د رحمان بابا یو بل ډېر مشهور غزل داسې مطلع لري، چې:

دا چې مست په میو راغی یار د چا دی

بیا په تاخت کا په کوم غولي وار د چا دی (قنبر علي خان)

او قنبر علي خان په دغه ځمکه دوه غزلونه لیکلي، چې د رحمان بابا نوم نوم لرونکي غزل مطلع او مقطع یې داسې دی:

چې عاري دی له هر چا نګار د چا دی

چې خوښ نه دی په آزار دلدار د چا دی

تتبع قنبر رحمان د دې غزل کا

چې دا مست په میو راغی وار د چا دی؟

او د دویم غزل چې په دیوان کې اول راغلی دی، مطلع یې دا ده، چې د رحمان بابا د نوم یادونه پکې نشته:

چې همیش لري بهار گلزار د چا دی

چې لري له گلو عار رخسار د چا دی

د دغې مصر مطلع په دویمه مصرعه همیش خلیل په حاشیه لیکلی دی، چې زما په خیال دا مصرع داسې پکار ده:

چې گلونه کړه ترې عار رخسار د چا دی

په دغه غزل کې د دوو قافیو «ذوالقافیتین» التزاجي ساتل شوی دی، اگر چې قنبر علي خان د خپلې پراخه مطالعې له رویه د خپلو ډېرو معاصرو شاعرانو په اقتصضا کې د جواب یا تضمین په طور غزلونه لیکلي دي، خو د رحمان بابا په اقتتضا کې د جواب یا تضمین په طور غزلونه لیکلي دي، خو د رحمان بابا په ډېرو ځمکو جواب یا تضمین او تتبع کې غزل ویل یې د دې خبرې پوره پوره سند او دلیل گرځېدلی شي. چې شعوري چې شعوریی ډول یې د مضامینو او لفظونو له پلوه او د اسلوب «لیک نشان» په لحاظ د رحمان بابا پیروي کړې ده او ځکه ورته د رحمان بابا د فکري مکتب شاعر ویلی شو او دا حق لرو.

**٦ – ٢٣ ابوالقاسم**

خدای بښلی قلندر مومند د ابوالقاسم دیوان مقدمه کې لیکي:

د ابوالقاسم د احمدشاه بابا د زمانې (١٧٧٣ – ١٧٤٧) هـ شاعر و او د ده ژوند د احمدشاه بابا د پادشاهۍ په دوران کې خپل انجام ته رسېدلی دی.

ابوالقاسم په خپل دیوان کې د شاعر په توگه صرف د میا شرف ذکر کوي، خو د هغه له شاعرۍ ښکاري چې هغه د پښتو د نورو شاعرانو کلام هم لوستی و، هغه د رحمان بابا نوم نه اخلي، خو د هغه له ډېرو شعرونو سره یې هم مفهومه شعرونه ویلي دي او خاص طور سره د رحمان بابا د غزلونو ځمکې خو یې بې تکلفه استعمال کړې دي. دغسې د حمید ماشوخیل اون آن د علي خان په ځمکو کې یې هم غزلې ویلې دي."[1]

[1]- مومند، قندر، ١٩٨٦م. د ابوالقاسم دیوان (مقدمه)، پېښور، قصه خواني: ی

د قلندر مومند له پورته بیان څخه څرگندېږي، چې که ابوالقاسم په شکاره د رحمان بابا نامه نه ده اخیستې، ولې د هغه تقلیدي ضرور وکړی دی، القاسم د دې لپاره چې د نورو شاعرانو د غزل په څمکو کې هم غزلې ویلې دي، ځکه دا خو په زغرده نشو ویلای چې ابوالقاسم د عبدالرحمان بابا د مکتب شاعر دی، خو فکري او فني لحاظ رحمان بابا ته ډېر نږدې دی، ځکه د غزل ژبه یې لږه گرانه، څو ځایونو کې آسان او رنگینه ده، دلته یې یوازې د رحمان بابا د مشهور غزل په څمکه د لیکلي یو غزل په مطلع او مقطع اکسفا کوم چې ردیف خو یې په ځانگړې توگه د رحمان بابا دی، د رحمان بابا د غزل مطلع دا ده:

مخ د یار، شمس و قمر دې واړه یو دي

قد و سرو صنوبر درې واړه یو دي

او د ابو القاسم د غزل مطلع او مقطع داسې دي

نای ونې و ارغونو درې واړه یو دي

نارو نور مې کلگون درې واړه یو دي

چې بې یاره یې نور هېڅ په زړه کې نشته

ابوالقاسم، ادم، مجنون درې واړه دي

## ٦ – ٢۴ نواب محبت خان

لومړی لازمه ده چې د نواب محبت خان لنډه پېژندنه وکړو، بیا به د رحمان بابا د مکتب په پیروانو کې راولو او کومې جایزې یې چې اخیستې، معرفي کړو:

نواب محبت خان برېڅ، منډن، یوسفزی، کمالزی د نواب خان حافظ الملک رحمت خان د شهامت پور (اوسني طور مردان) زوی په ١١٦۴ ه کال د هندوستان په پښتو ریاست روهیلکند کې پیدا شوی دی. پلار او نیکو ته یې عالمان، فاضل، عالمان او دانشوران وو او علم دوسته کورنۍ یې د شاعرانو، ادبیاتو، فاضل نو، عالمانو د روزنې، پالنې او خصائې ذمه په خپل سر اخیستې وه.

د نواب محبت خان کورنۍ برېڅي، په برېڅو کې بدلزي او په لړیو کې بیا د دوی کورنۍ له شیخ کتې بابا سره د نسب له پلوه په کوټه خپلو مشهوره ده، لکه نواب محبت خان په (خلاصه الانساب کې د شیخ شهاب الدین د احوالو په ارتباط کې لیکلي دي:

"جد امجد این جانب است که خپل و نسب مایان به و منسوب است که آنها را کوته خپل می گویند."

بل ځای د خپل ځان په باره کې لیکلي:

په دې ارتباط د نواب محبت خان خپله وینا دا ده:

زه پاه صال کې برېښي سر جنون یم

بدلېږي هم هم کوټه خپل یم وکړه پوهه

عزیزان مې که ترین او ابدالي دي

زه په شمار د یو سفزیو یم له گروهه

د حافظ رحمت زامن عنایت خاان، محبت خان او عظمت خان د ده له دویمې مېرمنې پیدا شوي دي چې د ملک خدایداد لور وه.

نواب محبت خان چې په «ریاض المحبت» کې د کمالزو د ښاخ په باب کې خپله تشریح لیلکې، هلته کاربېږي:

د کمالزي قومي است که از افغانان که اجداد مادري مولف این قوم بودند

څه عجب که همه ډک یم له کماله

چې کمال مې وه نیکه زه یې لمسی یم

پښت په پښت مې ټول لمسي د کمالزو دي

له پلوه د مزوه هم کمالزی یم

کمالزي په مومند پورې نښلي او حافظ رحمت خان په دې باب لیکلي دي:

"د زامنو بن مندؤ دو فرزند به وجود آمدند یکی عثمان، دویم آسمان و.

از عثمان بن منویز دو فرزند به وجود آمدند، یکی امان که اولاد ویرا امنا زي می گوید؟ دویم کمال که اولاد وي را کمالزي می گویند."

"نواب محبت خان په ۱۳ صفر ۱۲۳۳هـ په لکنهو کې وفات شوی دی او وزیر باغ ته متصل کشور گنج کې خارو ته سپارل شوی دی.

نواب محبت خان پښتو، فارسي اردو او عربي ژبو کې شاعري کړې ده، په څلور ژبو پوهېده او په دغو ژبو کې یې خپل گران قدر آثار پرېښي دي.

د نواب محبت خان پښتو دیوان له نیکه مرغه زموږ د هیلو او د تکړه او وتلي لیکوال او وزیر زبردست محقق استاد زلمي هېوادمل له خوا په ۱۳۸۴هـ کال د افغانستان د علومو ا کاډمی، د ژبو او ادبیاتو د مرکزه د پښتو ادبیاتو انستیتوت له لارې چاپ او خپور کړی دی او دخ وښی خبره دا ده چې د محبت خان په دیوان (سریزه، سمون او انکشافي) هم د درانه لکیوال له خوا ترسره شوې دي.

ډاکتر زبیر حسرت وایي، نواب محبت خان خپل دیوان کې له دریو پښتو شاعرانو (میرزا خان انصاري، خوشحال خان خټک او عبدالرحمان بابا) نه متاثره ښکاري، خو د رحمان بابا اغېز له دوو نورو شاعرانو څخه ور باندې ډېر دی. محبت خان، د رحمان بابا په اقتضا، قافیه او ردیفونو باندې خپلې ډېرې غزلې ویلې دي او له دې نه دا څرگندېږي چې زموږ دغه شاعر (نواب محبت خان) هم د رحمان بابا د مکتب په رنگ رنگ دی او د یوې محتاطې اندازې مطابق هر دویم او درېیم غزل یې د رحمان بابا په څمکه ویلی دی. داسې ښکاري چې د رحمان بابا دیوان یې مخ ته ایښی وي، کله ورسره یو شان او کله ورسره په اختلاف یاپې. په جواب کې شعرونه لیکلي دي، چې د ثبوت او سندد په ډول یې د دیوان مدون ښاغلي استاد زلمي هېوادمل هم په خپله سریزه کې ځینې شعرونه راوړي دي.

دلته د نواب محبت خان د انتهایي مینې عقیدت او احترام په توگه د رحمان بابا او نواب محبت شعري یو ډول والی د مقابلې لپاره راوړم:

رحمان بابا:

هر چې ووینې په سترگو روی د ستا

مخ یې کوږ وي همیشه په سوی د ستا

نواب محبت خان:

هر زمان مې په نظر کې روی د ستا

مخ زما هره لحظه په سوی د ستا

رحمان بابا:

چې په سترګو کې يې خار وي څه به خوب کا

چې په زړه يې غم د يار وي څه به خوب کا

محبت خان:

چې په خيال کې يې ستا جمال وي څه به خوب کا

چې جمال دې يې په خيال وي څه به خوب کا

رحمان بابا:

هغه ژوي چې بې خدايه محبت کا

همګي واړه بې ځايه محبت کا

محبت خان:

هر سړی چې له ګدايه محبت کا

معلومېږي چې له خدايه محبت کا

رحمان بابا:

د بې درد و همدمي به دې بې درد کا

د نامردو همدمي به دې نامرد کا

محبت خان:

د مردۍ کارونه واړه اهل درد کا

کار چې دی د بې دردۍ هغه نامرد کا

رحمان بابا:

که په ګنج د شاهۍ فخر شهريار کا

عاشقان يې د دلبرو په رخسار کا

محبت خان:

د گلزار ښښتن که خط په خپل گلزار کا

محبت د گلرخانو په رخسار کا

رحمان بابا:

ورځ چې بده شي عاقل او دانا څه کا

چې قضا راشي وردو ځاره حکما څه کا

محبت خان:

چې قضا راشي حکمت حکما څه کا

لقمان څه کاندي بهلول دانان څه کا

رحمان بابا:

عاشقان د ناصحانو وینا نه کا

مست هایان د مهوتانو پروا نه کا

محبت خان:

مدعي بیل له ماه رویه به مانه کا

سه په ځوک د چا له ځانه جدا نه کا

رحمان بابا:

زړه بې خپله نگاره آرام نه کا

کامراني راځخه غواړي ناکام نه کا

محبت خان:

خدای دې بیل له ما زما دلارام نه کا

چې کامران کړم تر و دې اوس مې ناکام نه کا

رحمان بابا:

سل ځله که وخوري ناصحان ځیگر زما

بیل په خپله نه کا درد ستا او سر زما

محبت خان:

خوښ یم که را نولي هر ساعت په سر زما

دي رانجه د سترگو خاورې ستا د در زما

رحمان بابا:

هسې یاد یې همیشه مدام زما

چې ارواد یې په هر صبح و شام زما

محبت:

ساقي تر دې (نه) کړ حلق و کام زما

په شرابو دې ډک نه کړ جام زما

رحمان بابا:

چې یې نقش په زړه خیال شي د آشنا

صدقه یې سرو مال شي د آشنا

محبت خان:

په ستم کې څوک خوشحال شي د آشنا ا

مبهره یاب به په وصال شي د آشنا

رحمان بابا:

هوښيار مه ګڼه،و هوښيار د دې دنيا

بې وقوف دی وقوف دار د دې دنيا

محبت

سود مه کړه په بازار د دې دنيا

زيان تر سر کا خريدار د دې دنيا

رحمان بابا:

عاشقی مې په زړه وکړ اثر بيا

بيلتانه مې لمحې پکې کړې په سر بيا

محبت:

می د مينې کړم له ځانه بې خبر بيا

اور د عشق بلې مې پلې کړې به سر بيا

رحمان بابا:

هسې مست يم ستا د شونډو په شراب

چې به نه وي بل دا هسې مست خراب

محبت خان:

لټوي زما دپاره تيغ يې آب

چې حلال مې کا ظالم په ډېر عذاب

په يو غزل کې نواب محبت خان د خوشحال خان او رحمان بابا د شاعرۍ خوند چينې کوي او د غه تذکره په خپله کوي، لکه:

که خوشحال دی، که رحمان دواړه بيان کوي د عشق

له دې دواړو ما اشعار د محبت کړه انتخاب

د رحمان بابا او نواب محبت خان ځينې نور يو شان بيتونه داسي دي:

رحمان بابا:

ورقونه لټوم د هر مکتوب

پکې غواړم خال و خط د خپل محبوب

محبت خان:

په ښايست او په ترکيب او په اسلوب

بل مې تا غوندې ونه ليد يو محبوب

رحمان بابا:

ما سحر سبا ليدلی و د چا مخ

مې مې درسته ورځ ونه ليده د ستا مخ

محبت خان:

هره ورځ چې ووينم په سحر ستا مخ

هغه ورځ وي، د ښادۍ په لور زما مخ

رحمان بابا:

زه که لافې د وفا کوم هر چند

هغه يار مې باور نه کړي په سوګند

نواب محبت:

شهد و قند نه لري ستا د شونډو خوند

تر خوږو شونډدو دې ځار کړي شهدو قند

رحمان بابا:

رحمان بې دیار  له ذکره

نه زده بل گفت و شنود

محبت خان:

محبته بې د عشقه

پريږده هر گفت و شنود

رحمان بابا:

چې مې ولید په سیمه د اغیار گډ

له غیرته مې لیمه شوه په خونبار گډ

محبت خان:

زړه مې هسې شه د زلفو په هر تار گډ

مسلمان لکه چې شي په هندوبار گډ

رحمان بابا:

هله تله کاندي و گور ته یاران ژر ژر

لکه تله کانديږ و کور ته کاروان ژر ژر

محبت:

هسې یون کاندي د عمر کاروان ژر ژر

لکه شي قاصد مقصد ته روان ژر ژر

رحمان بابا:

خراب دل مې د دلبر و هوا یووړ

د هوا له وړو یو چا زده چې چا یووړه

محبت خان:

اې له مانه چې پوښتنې زړه د چا يووړ

زړه مې بل څوک کله وړي آشنا يووړ

د دغو غزلونو بحر جدا، خو ځمکه به يوه ده، چې قافيه او رديف يې يو دی.

رحمان بابا:

بد اختر به نيک اختر نشي هر گز

مرغه چيچ به دُر گوهر نه شي هر گز

محبت:

غم، ښادي به برابر نشي هر گز

عاشوره ورځ به د اختر نه شي هر گز

رحمان بابا:

که څوک فخر کا په ننگ او په ناموس

دا په عشق کې نه ارزيږي يو فلوس

محبت خان:

سلطنت د فريدون او کيکاوس

کله پيري عاشقان په يوفلوس

رحمان بابا:

څه عجب لند مقام دی د اخلاص

چې جهان واړه غلام دی د اخلاص

محبت خان:

بلند عرش تحت الاقدام دی د اخلاص

گوره څه عالي مقام دی د اخلاص

رحمان بابا:

طمع مه کړه په دنیا کې نشاط

بیا به نه مومي نشاط په دا بساط

محبت:

په دنیا کې چا موندلې ده ښادي

غم خانه ده، نه دی ځای دا د نشاط

رحمان:

ارونگزیب او شاه جهان غوندې اشراف

صدقه شه تر مصور غوندې نداف

محبت خان:

که ادبي بې ځان په عشق کړه خپل اعلی

عشق په دم کې کمیته کاندي اشراف

زړه د آه په چینې وهه لکه مالوچ

په جهان کې شه مصور غوندې نداف

رحمان بابا:

خدایه څه تول هغه ښکلی ښکلي خلک

په ظاهر په باطن سپین سپېڅلي خلک

قافیه بدله ده، خو مضمون یې سره ورته دی، لکه:

محبت:

چې به مالید په جهان کې ښه ښه خلک

خداونده چېرته لاړ شه هغه خلک

رحمان بابا:

چې په زړه مې تور لحد شي د خپل خاک

بې مزه شي هم مې خوب، هم مې خوراک

محبت خان:

هر ناپاک په شفاعت به کاندي پاک

هغه پاک چې خداوند دی د لولاک

رحمان بابا:

چې علاج کولای نشي د قمست څوک

ترو به څه وايي و چا ته نصيحت څوک

محبت خان:

که د سر ښندلو نه لري همت څوک

هوس نه کا د محبوب دې د محبت څوک

رحمان بابا:

په ښایست زما د یار نه دي خبر څوک

که خبر شي پرې به نه ږدي دغه در څوک

محبت خان:

نه شي څوک له خپله ځانه بې خبر څوک

شي خبر کله له حاله د دلبر څوک

رحمان بابا:

چې مشغول نه وي د ترکو په جمال څوک

نور به څه کا په دنيا کې اشتغال څوک

محبت خان:

چې شريک د پاک الله ګڼي محال څوک

هغه هېچرې به ستا نه کاندي سيال څوک

بيلتانه دې هسې خوار کړ زما دل

چې له ځانه يې ويزار کړ زما دل

محبت خان:

له فراقه چا بيمار کړ زما دل

چا له غمه خپل آزار کړ زما دل

رحمان بابا:

د هجران له ډېره غمه ولې نه مرم

له دې هسې رنګ ماتمه ولې نه مرم

محبت خان:

دم مې ته يې ستا له غمه ولې نه مرم

بې له تا چې شوم بې دمه ولې نه مرم

رحمان بابا:

صبح و شام مې لاس نيولی دی د عاته

خواست له خدایه ستا د مهر د وفا کړم

محبت خان:

دين دنيا مې غرض نه وي چې دعا کړم

خواست له تا نه په پيىڅه وخته خو ستا کړم

رحمان بابا:

زه دا هسې ديوانه او مجنون چا کړم؟

له رواجه، له رسوبه بيرون چا کړم؟

محبت خان:

نه پوهېږم چې له عقله بيرون چا کړم؟

چې مې هوش له سره يوور مجنون چا کړم؟

په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا يم

محبت:

هيڅ اميد مې د زيست نشته نه په پايم

چې د مينې په بلا کې مبتلا يم

رحمان بابا:

زه له دې جهانه تلوني په شتاب يم

محبت خان:

څو ژوندی يم په دا بحر کې حساب يم

پس له مرګه که مې څوک ګوري درياب يم

رحمان بابا:

که مې څوک په فقیرۍ شمېري فقیر یم

که مې څوک په امیرۍ شمېري امیر یم

محبت خان:

په دنیا کې که هر څو فقیر، غني یم

په جهان د محبت کې خو امیر یم

رحمان بابا:

هم پند اخلم هم پند وایم و هر چا ته

زه د ځینو یم مرید، د ځینو پیر یم

آزادي تر دا په هور ته نوره څه ده؟

چې بندي دیار د زلفو په ځنځیر یم

خوشحالي تره تره په ورته بله کومه

چې مدام په خپل آشنا پسې زهیر یم

خوشحال او دولت غلام دي

زه رحمان په پښتور به عالمگیر یم

محبت خان:

زه کامل یم په فرقه د عاشقانو

دوی مې واړه مریدان دي زه یې پیر یم

هر بندي به خلاص شي ولې خلوص به نه شم

زه بندي چې ستا د زلفو په ځنیځیر یم

که عالما د محبت مې سخه کړ

زه دعوا په هله کړم چې عالمگیر یم

رحمان بابا:

د رقیب علاج آسان دی بلا دا شوه

زه رحمان له خپله یاره نا ویسا یم

محبت خان:

د دنیا یاران اغیار شي په یو دم کې

محبت ځکه زه ترې نا ویسا کړم

رحمان بابا:

زه یو دم د ستا له غمه بې غم نه یم

بې غم ستا له ذکره فکره یو دم نه یم

هر زیارت لره چې دروم مراد مې ته یې

زه زایر د بتخانې د حرم نه یم

محبت خان:

هر ساعت دا زړه مې ډک وي ستا له درده

چې خالي دې له اندوهه یو دم نه یم

و هر لور ته چې مطلوب ووم روان شم

زه طالب یم لاړ په دیرو حرم نه یم

رحمان بابا:

هسې تیز درومي دوران

گویا برق دی دا جهان

محبت خان:

مه تړه ور پورې ځان

چې فاني دی دا جهان

رحمان بابا:

دنادار د دنیاکار زه د دین

خوانین زما د خلک دي خوشه چین

محبت خان:

زه دنیا له خدایه نه غواړي نه دین

بې له عشقه چې مې تل وي دلنشین

هېڅوک مه شه گرفتار د تورو زلفو

مه اسیر شه په کفار د تورو زلفو

محبت خان:

خو چې یو ځلې به دام کې یې اسیر شه

نه خلاصېږي گرفتار د تورو زلفو

رحمان بابا:

او نیکي نه لري حساب زما د سترگو

بې حسابه نه سیلاب زما د سترگو

محبت خان:

خدای پیدا کړې ته آفتاب زما د سترگو

د کتو دې چېرته تاب زما د سترگو

رحمان بابا:

هر ساعت زما د غوږ په تاوولو

د آسمان لاسونه شنه شوه تر څنګلو

محبت خان:

دغه وخت دی بیا به وخت نه وي د ګلو

څو کولی شي چغار کاښي بلبلو

رحمان بابا:

تا چې رنګ د میو ورکړ ولیانو

اور دې پورې کړ په کور د میخوارانو

محبت خان:

په نکریزو لاسا دې سره دي، خوله په پاڼو

نن به ولګوې ګنج د شهیدانو

رحمان بابا:

که نظر کا څوک په کار د درویشانو

مدام اومه خریدار د درویشانو

محبت خان:

همیشه وي تود بازار د درویشانو

مدام اوسه خریدار د درویشانو

رحمان بابا:

ته شها یې شکر لبه

گل رخساره نیم غبغبه

محبت خان:

لب دې ښکل کړه شکر لبه

باري نه یم بې ادبه

رحمان بابا:

په هر زړه چې د یار مینه شي غالبه

که هزار کتابتونونه کړي کاتبه

هیڅ یې مه پوښتنه له فرضو له واجبو

په هغو چې عاشقي کړه خدای واجبه

زه رحمان د خپل صاحب په رضا زیست کړم

څه په کار دی بنده بې خپله صاحب

محبت خان:

ته پیدا کړه د دیدن سترګې طالبه

محبوبا خو ده حاضره نه غائبه

ما وې زه به په هر چا غلبه وکړم

باري څه کړم په ما مینه شوه غالبه

خط په مخ د مهرویانو قدر یې دی

همري څوک د قدر ستا له کاله کائبه

عشق واجب دی بې بې شبهې هغه کافر دی

هم سړی چې وي منکر له دې واجبه

صاحبانو په غلامانو خپل کرم کا

محبت دی ستا علوم زما صاحبه

رحمان بابا:

مړ هنر دی نه هغه چې څوک بې پت شي

په یارۍ کې دې فدای نه کا څوک بې پته

محبت خان:

که حرمت غواړې ګورې نه شي بې پته

ترې پته زیات په څوک وي بې د حرمته

چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه

لکه مړی ملاقي شوم له ارواحه

محبت خان:

ساقي ښاد کړه زړه غمژن زما له راحه

پرانیزه جندره د غم له مفتاحه

رحمان بابا:

د دنیا ناوې په عقد کې دین غواړي

اې رحمانه ځان یې ژغوره له نکاحه

محبت خان:

که په عقد دې دنیا ارتینه راشي

طلاق ورکړه ویې باسه له نکاحه

رحمان بابا:

گوره بیا به څوک ادا کا په زړه غوندې

چې دا هسې مسته درومي مخ بربندې

محبت خان:

له نظره له ګذره خطر ته کړې

چې روانه یې په لارې مخ بربندې

رحمان بابا:

چې به وخت د ځنکدن وکاږي ړیره

ترو نن ولې هسې ناست یې بې تدبیره

محبت خان:

نن نظر په ساده رویو که ونه کړې

له افسوسه به سا وکاږې ړیره

رحمان بابا:

ګاه په غرمه سوزي، ګهې ریږدي په ساړه

کله مري له لوږې کله مري په ډېر خواړه

محبت خان:

کله په غضب ماړه هلاک کړي په خواړه

کله په کوم چې راشي وږي کړي ماړه

رحمان بابا:

څکه سپیننې شوې اول د حباب سترګې

چې له بغضه په دریاب چوي تناکه

په ظاهر لباس غلط د دنیا مه شه

میان یې ګوره چې چغزې ده که متاکه

هیڅ وفا یې له هیچا سره ونه کړه

ترور رحمان به څه ما نه کا افلاکه

محبت خان:

حباب نه دی دا د عشق د اور له سویه

د دریاب په صورت پریوته تناکه

د با مغزو فرق وکړه له بې مغزو

په دنیا کې هم چغزی ده هم متاکه

دې میچن لکه دانې واړه کړل

ثابت هېڅوک تلي نه دي له افلاکه

رحمان بابا:

که په هجر کې څوک ما پوښتي له حاله

حال خو دا دی چې ناتوان یم بې مجاله

محبت خان:

په هجران دې په ما تېر شي څو څو کاله

یو زمان خوار سند مې نه کړې له وصاله

رحمان بابا:

خدای خبر دی چې یې راوستم له کومه

بیا مې کومې خواته استوي چې درومه

محبت خان:

په قضا پسې روان  يم خبر نه يم

چې مې چېرته بيايي راوستم له کومه

رحمان بابا:

ډېر عمر مې تېر کړ بېهوده په زمانه

نور دې زما سر وي او د ترکو استانه

محبت خان:

ډېرې مې سجه يې عبثې کړې په هر يو ځای

محبت خان:

ډېرې مې سجدې عبثې کړې په هر يو ځای

اوس دې زما سر او د خوبانو استانه

پورته د مقارينې او پرتليزې شعرونه د رحمان بابا او نواب محبت خان خوا ډېر دي، چې ځانته يو مکمل هر اړخيز اثر ترې جوړېږي.

د نواب محبت خان د مړينې د دوسوم تلين په مناسبت په کابل کې د علومو د اکاډمۍ له خوا يو درونډ، وزين هراړخيز او له برکتونو ډک سيمينار جوړ شوی و، د ښو ډېرو پيغامونو تر څنګ د علومو اکاډمۍ درنو استادانو، لکيوالو او محقيقنو هر اړخيزې او مسلکي مقالې ليکلې وې، چې د نواب محبت خان د ژوند او په ژوند پورې د اړونده پراخه فکري، علمي، ادبي سياسي او اجتماعي خواوو څرګندونه پکې شوې وه، ډېره پراخه برخه د سيمينار په کار کې د درانه استاد عاليقدر سرمحقق زلمي هېوادمل وه.

نه يوازې يې پر محبت خان راټولونې، څېړنې يو په يو، هو به هو را اخيستې وې، بلکې داسې عالي شانه سريزه يې ورباندې ليکلې وه، چې غنامندۍ ته يې د پېښور او کابل ليکوال ګوته په غاښ شول او له دې سره سره يې پښت ادب ته د تل لپاره زرين يادګارونه ور وبښل.

د نواب محبت خان په برخه کې د خدای بښلي درانه استاد علامه حبيبي څخه نيولې تر درانه اساد رښتين او

نورو پورې نظرونه پکې راوړل شوي دي. ښه خبره لا دا ده چې نواب د رحمان بابا په لارويانو کې پیاوړی شاگرد او مخلص دوست ښوول شوی او ډېر شعرونه او غزلونه مقایسه شوي هم دي او بېلگې یې په ډېره زیاته پیمانه راوړل شوي دي. د استاد زلمي هېوادمل په نظریاتو کې لولو:

" د محبت خان پر ژوند د ده احوالو هندي تذکرو ته لاره پیدا کړه. ده پر خپل ژوند خپلو آثارو د شرقي هند کمپنۍ ځینو افسرانو ته ورکړي او د نولسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې یې اروپا ته رسېدلي وو. مگر د ده په پلرني وطن افغانستان کې د شلمې پېړۍ د څلوېښتو کلونو د لمړۍ نیمایي تر وروستیو لسیزو پورې چا د ده نوم نه پېژاند او نه یې فرهنگي او علمي شخصیت ور معلوم و. [1]

## ٦ – ٢٥ میر علي میرا

ښاغلي عبدالروف خان، رفیقي «د میر علي دیوان» په ناهم د میر علي د شاعرۍ مجموعه په (٢٠٠١/ ١٣٨٦ هـ ش کې د حبیبې اکاډمۍ، چمن پاکستان له خوا چاپ او خوره کړه. میر علي په خپله شاعرۍ کې د میر علي او میرا دواړو نامې د مقطعې په ډول راوړي دي. ځینې غزلونه کې فقط (میرا پامیر علي« راځي او ځینو کې دواړه نامې یو ځایي داسې برېښي، چې د قلندر هغه مشهور میرا هم دا وي، خپل نوم یې میر علي او میرا بې تخلص یا په میرا مشهور وي، ځکه د قلندر او قلندر تذکره یې هم به کلام کې موجوده ده.

دی د ١٢٥٠ هـ له خوا او شا ژوندی و او د توکل نومي شاعر معاصر دی او ځان د هغه د شاعرۍ سیال کول خپل ارمان بولي. په یوه بیت کې د حمید بابا د پیروۍ د هغه د مقتدي کېدو او د خپل ځان میرا د امامتۍ خبره هم کوي، بکلې دا بیتونه:

میر علي فقیر له سرو حاله تیر شه

په هغه ورځ چې د ترکو په سلام لاړ

چې پېرویه د حمید د غزل ساز کړ

مقتدي یې شه حمید میرا امام لاړ

دلته موضوع د رحمان بابا د حکمت ده، نو میر علي هم د دغه رحمان بابا مکتب پیرو دی.

د رحمان، د میر علي غزل که وایي

---

[1]- هېوادمل، زملی. ١٣٨۴هـ. نواب محبت خان، پښتو دیوان. کابل: د پوهنځي مطبعې چاپ.

سوزنده دي له غفلته به بيدار شي

واړه عاشقان په حقيقت کې دي ضممه

راشه که يې ګورې مير علي عبدالرحمان دی

د مير علي ديوان، عبدالروف رفيقي ټولو نه په (۹) مخ کې راځي، دا دي، معنا نه لري چې ګوندې نومو‌ړي د رحمان بابا معاصر دی، بلکې دی ځان د رحمان بابا د سبق (سبک) را قم پير بولي او رحمان بابا ته د نورو نامتو پښتنو شاعرانو په ځېر احترام قايل دی.

ښاغلی رفيقي وړاندې ليکي چې:

"ځينې ځايونه خو خپل شعر د رحمان بابا په ځېر بولي او په دغه خبرو افتخار کوي او خوښي هم ښکاره کوي:

چې مې شعر د رحمان د شعر په ځېر شه

په شعارو کې به هسې د باب خوښ يم

د رحمان بابا مشهور غزل دی:

د هجران له درد و غمه ولې نه مرم

له دې هسې رنګ طاعته ولې نه مرم

مير علي هو بهو په دغه پيرايه کې وايي:

د هجران له درد و غمه الغياث

له دې بې وفا صمنه الغياث

د رحمان بابا شعر دی چې:

ما د د هر غم وهلی دی په لته

د پيالې د صراحي له برکته

او مير علي ويلي دي:

ستا د زلفو د رخسار له برکته

ما سوامې وهلي دي په لته

داسې ښکاري چې د رحمان بابا د شعر له ښې مطالعې سره سره د نوموړي ښه پیروي یې کړې هم ده. که څه هم د میر علي د شعر الفاظ هم ځای ځای ډېر رنګین خیالونه او پیاوړي دي، خو د رحمان بابا پر قافیه او ردیف او آن موضوع یې سترګې ښځې کړې او پوره پوره پیروي یې د عبدالرحمان بابا له شعره کړې ده، که ده ځان هم له دې اقراره ساتلی وي، خو شعر یې د اغېزو حال په خوله وایي.

**٦ – ٢٦ شاد محمدخان**

شاد محمد خان، چې په رییس مردان یادېده، خان میر افضل زوی، د خان احمد خان لمسی او د لښکر خا کړوسی و، دی د مردان د خانانو د کورنۍ یو معزز سړی، ښه شاعر و، ښه ادیب او فاضل عارف انسان و، چې یوازې ده شاعري نه کوله، بلکې د شاعرانو روزپالنه یې هم کوله.

ښاغلي افضل رضایي خپل تالیف (پټ ستوري) کې تذکره څه په دې ډول کړې ده، چې:

"د مردان رییس اعظم شاه د خپل دور لوی علمي شخصیت و، چې د دیارلسمې صدۍ هجري آخري دور کې پیدا و او د ١٣٢١هـ نه وروسته وفات شوی دی او مردان کې دفن شوی دی.

د مردان مشهور شخصیتونه میر افضل خان د ده لمسی او بیګم زري سرفراز یې لمسی دی. د پښتو ژبې دې عالم شاعر د خواجه معین الدین چشتي د فارسي کتاب د «معارج النبوة» منظومه د پښتو ترجمه د معراج حاجي په نامه په ٢٨ رجب ١٣١٢ هـ کې مکلمل کړی دی. [١]

د شاد محمد خان دیوان په اوار د پشتو اکاډمۍ ته په ١٩٧٨م کې د ښاغلي عبدالحلیم اثر افغاني د مقدر چې سره چاپ شوی و، خو هغوی د دوی د پیدایښت او وفات په هکله څه نه وو ویلي، په دویم وار چې دغه دیوان ١٩٩٣م کې د ښاغلي ډاکټر پرویز مهجور د تفصیلي نمقدمې شاد محمد خان رییس مردان، د ژوند او فن تر سرلیک لاندې چاپ شویو دوی خپل تحقیق کې د شادمحمد خان پېژندګلوي په دغو لفظونو کې وکړه، چې د شادمحمد خان د مردان یو دروند پښتون او نوموړی خان و. [٢]

د کثیر المواهب قدوة الخوانین العظام ودو الاکرام او د رییس مردان په القابو یاده سته د فتح خان، سرفراز خان او عبدارحمن خان پار او د پښتونخوا د نومیالۍ لور بېګم زري سرفراز سیاستمدار میر افضل خان نیکه و.

---

[١]- رضا، محمد افضل، ١٩٨۴م کال، پټ ستوري. پېښور: پښتو اکاډمي، یونیورسټي: ١٢٦٦

[٢]- رضا، محمد افضل، ١٩٨۴م کال، پټ ستوري. پېښور: پښتو اکاډمي، یونیورسټي.

دی په کال ۱۳۱۷/ ۱۲۵۴هـ کې وفات شوی دی.

شادمحمد خان له خانۍ سره سره یو عالم، شاعر او ادیب هم و. د یو خان په نسبت د هغه په کردار او اخلاق د علمیت، پرهیزګارۍ او درویشۍ رنګ زیات خور و. د معراج نامې او بیردانش په نام پښتو منظومې ترجمې د هغوی د علمي او ادبي ذوق ښکاره شهادتونه دي." [1]

ډاکتر مهجور خویشکي یوازې د شادمحمد خان په ژوند علمي او ادبي او سیاسي او اجتماعي نصانیفو او مذهبي او اخلاقي شاعرۍ تفصیلي رڼا اچولې ده او پر مغزه مقدمه یې لیکلې ده، بلکې د رحمان بابا د سبک شاعر تر عنوان لاندې یې د سبک او مکتب پېژندګلوي هم موږ سره د «کشاف تنصیدي  اصلاحات» د ابو الاعجاز حفیظ صدیقي او پښتو اصلي مکتوبونه د پوهاند صدیقه الله رښتین په حواله کړې ده، چې موږ د دې مقالې په سر کې ذکر کړی دی.

د ښاغلي مهجور خویشکي په دې برخه کې لیکلي:

"تر کومه حده چې د شادمحمد د شاعرۍ تعلق دی، نو دا چې د رحمان بابا د اثر نه خالي نه ده او نه صرف د رحمان بابا غوندې خیالونه یې هماغه شان لفظونو کې بیان کړي دی، بلکې ځینې ځمکې یې هم د رحمان بابا نه اخیستي دي، خو د رحمان بابا د ساده‌ګۍ او پچیده‌ګۍ اندازونه یې په یو وخت کې خپلو لوستونکو ته ډېر ساده، آسان او عامیانه کړي دي، دې سلسله کې مهجور لیکلي دي چې: "تر کومه حده چې د شادمحمد خان د شاعرۍ تعلق دی، نو داګر چې د رحان بابا هسې د تصوف او عرفان حقیقي عشق او محبت د الهام او ملکوني جهان هغه وجدان پارونکی[2] او زړه راښکوونکې نغمې لري، خو د رحما هسې د مذهب او شریعت تبلیغ د ښو خویونو او سپېڅلو اخلاقو درسونه ډېر په کثرت سره لري، بلل، دا اشعار ساده‌ګي، رواني او آساني د رحمان د شاعرۍ یو امتیازي خصوصیت دی، دا خصوصیات هم د شادمحمد خان شاعري ښه په امتیاز سره لري، خو سره د خپله رنګه د رحمان وینا آسانه ده، خو ګرانه هم نه ده، د یو بل اثر چې د شادمحمد خان په شاعرۍ د دوی د ځمکو دی او تر ډېره حده د الفاظو هم.

---

[1]- خویشکی، مهجور، ۱۹۹۳، دیوان شادمحمد. پېښور: پښتو اکاډمي دویم چاپ. ۱۵

[2]- تصوف،

عرفان،

عشق حقیقي

الهام،

ملکوتي جهان

وجدان

ښاغلي مهجور خویشکي په خپلو څېړنو کې د رحمان بابا او شادمحمد خان افکارو او خیالاتو  فکر و فن سره مقایسه کړي دي او لاندې یې لولو:

گوره هسې کردگار دی رب زما

چې صاحب د کل اختیار دی رب زما

شریک نه لري په خپله پادشاهۍ کې

بې شریکه شهریار دی رب زما (رحمان بابا)

گوره هسې پاک سبحان دی رب زما

چې صاحب  کل جهان دی رب زما

شریک نه لري په خپله پادشاهۍ کې

بې شریکه بې مکان دی رب زما (شادمحمد خان)

بوی هاله د محمد ص و به جهان کې

چې تبوی نه و، د آدم او د حوا

په صورت کې آخرین دی پیدا شوی

په معنا کې اولین دی تر هر چا

محمد د بېچاره‌وو چاره گر دی

محمد ص دی هر دردمند لره دوا (رحمان بابا)

ما سحر، سبا لیدلی و د چا مخ

چې مې درسته ورځ ونه لیده دا ستا مخ (رحمان بابا)

چې مې ولیده، بحر د اغیار مخ

درسته ورځ مې ونه لیده د یار مخ (شادمحمد خان)

ما و درست جهان ته شا کړه تا ته مخ کړو

تا و درست جهان ته مخ کړو ما ته شا کړه (رحمان باب)

تمامي عالم ته مخ کړې ما ته شا کړې

تل له ما څخ کوې حجاب په هېڅ (شادمحمد خان)

رحمان بابا:

ولې نه ګورې و ماته سم په څه

زیاتوې د غمتزده و غم په څه

زه رحمان په خپله ګرم یم چې مین شوم

دغه نور عالم مې بولي ګرم په څه

شادمحمد:

ولې نه ګورې و ماته سم په هېڅ

لا د بلې راته کوې صمن په هېڅ

چې د عشق په جذبه بې خوده ګرځم

دا همه عالم مې بولي ګرم په څه

رحمان بابا:

چې یو غابښ په خوله کې زوړند شي یا ووځي

درسته خوله پرې بد نما په شي هر گور

شاد محمد:

سپینه ږیره، تیټه ملا، غابښ دې وتلي

چینگه خوله دې په مثال لکه وران کور

رحمان بابا:

د مصور حال ته گوره حال يې څه شه

خدای دی فاسق د هېچا نه کاندي پټ راز

شادمحمد:

د زړه حال دې گوره ونه وایې چا ته

شو سنگسار چې منصور وي د زړه راز

په هر ډول شادمحمد خان او نور د رحمان بابا له مستقیمې او غیر مستقیمې شاگردۍ او تاثیر پذیرۍ حخه نه خلاصېږي، دلته به دا ادعا د لاسپیناوي لپاره د رحمان بابا او شادمحمد د اخلاقي او نورو شعرونو بېلگې وړاندې کړو چې نظرونه پکې یو شی دي، لکه:

رحمان بابا:

که محبت که مشفقت دی، خو د دین دی

په کار نه دی بل محنت په دا دنیا

په دنیا کې که څه کار دی خو د دین دی

د دې کار په کننده و آفرین دی

او شادمحمد خان هم له دې موضوع سره موافق دی، په لاندې ډول:

شادمحمد خان:

که څه کار دی خو د دین دی، بل څه نه دی

بې له دې نه نور ګڼه زیات و کم پوچ

اصلي ګټه خو د دین ده، که چا وکړه

که چا ونه کړه شو ټول دریان په کوچ

(اخطار) د وخت ارزښت په تېرو پسې ژړا خطا ده

رحمان بابا:

تر ورخ تېرې اوبه بېرته نه جار وځي

نه جار وځي تېر ساعت په بېرته بیا

شادمحمد:

هر چې لاړ شي دوباره نه راځي بېرته

نه جار وځي تېر ساعت په بېرته بیا

شادمحمد:

هر چې لاړ شي دوباره نه راځي  بېءته

نه رادرومي اوبه تېر د سیلاب

رحمان بابا:

که څوک تله د انصاف په لاس کې درکا

خپل ټټو او د بل آس به برابر کړې

شادمحمد:

دا کوم عقل، کوم هنر او کوم انصاف دی

چې دې خره کړله له اسپو برابر

رحمان بابا:

لکه سیند د اباسین په غورځې درومي

هسې یون دی په تلوار تلوار د عمر

شادمحمد:

د دې عمر د رفتن هسې مثال دی

لکه درومي اباسین جنیان په کوچ

رحمان بابا:

د کعبې په بزرګۍ کې هېڅ شک نشته

مګر خر به حاجي نشي په طواف

شادمحمد:

د مکې په تلل به هېڅ خر حاجي نشي

جاهل کله شي عالم په تش کتاب

رحمان بابا:

د هر چا حرمت په خپله اندازه ده

نه چې مومي نفر ځای د امرا ء

شادمحمد:

پیدا کړی خدای هر کس په تفاوت دی

خان، سلطان به دا همه عالم به نشي

هر چې غر دی همګي د تور کاڼو

هر یو کانړی په الماس، نیلم په نشي

کله چې د شادمحمد خان دیوان سړی مطالعه کوي، نو سړي ته ښکاري چې نوموړي د رحمان بابا په ځمکو غزل ویلی، دا عمل دومره یو لاس دی، ته به وایي غزل په غزل په پټۍ روان ښکاریک او آن چېرته خیال، الفاظ او ځمکه او ځمکه نښتې وي، چېرته ځمکه او خیال او چېرې صرف د ځمکې تر حده یووالی وي.

رحمان بابا:

هوښیار مه ګڼه، هوښیار د دې دنیا

بې وقوف دی وقوف دار د دې دنیا

هر چې واچوي دا ورته هغه سوزي

موږ به نشي طلبګار د دې دنیا

شادمحمد:

غلط مه شه په سینګار د دې دنیا

په دام نه شي ګرفتار د دې دنیا

حرص ناک ته که یو غر دارو جوړ کا

موږ به نشي طلبګار د دې دنیا

رحمان بابا:

چې نظر کړم په قسمت او په نصیب به راته هېڅ شی خپل تالاش او خپل ترتیب په عشق کې هیڅ حاصل کړه بې غمه، هر چې وایي واړه ښه وایي ادیب.

رحمان بابا:

بیلتانه دې کړم هسې خوار غریب

چې به نه وي بل له مانه بد نصیب

شادمحمد خان:

عاشقي دې لېونی لکه مجنون کړم

څه به ما ته نصیحت کوي ادیب

رحمان بابا:

وینښته سپین، سترګې تاریکې، غاښ کنډاس

نه و کاړي د دنیا له چارو لاس

شادمحمد خان:

راشه وباسه له بدو چارو لاس

نور به طبع باندې مه څه د خناس

په دا هسې عمر بدو ته هوس کړې

چې دې ږیره شوله سپینه، غاښ کنډاس

رحمان بابا:

که ښوک فخر کا په ننګ او په ناموس

په دا عشق کې نه ارزي یو فلوس

نه یې مغز، نه دا نه وي په خرمن کې

عبث هسې په سرونو یې واړه بوس

شادمحمد خان:

غلط مه شه په بانکونو د غروس

سحر دی وي په ګندګۍ پسې جاسوس

دانا ځان دې کړو نادان عبث لګیا یې

دا یې ګورې پسې تش بوس

رحمان بابا:

اومه کله دي پاخه وايي واعظ

هو چې وايي واړه ښه وايي واعظ

په خوږ، پستو خبرو يې غلط شوې

دا خواږه خواږږه تراخه وايي واعظ

شادمحمد خان:

چې په عش کې راته بن کوي واعظ

لکه خر په کبل شخوند کوي واعظ

تريخ د زهرو د گنډيره په حالنکي

هر کلام که خوږ تر قند کوي واعظ

رحمان بابا:

زړه مې تراشي د بڼو په تيره نوک

ماتوي مې د ديرش غاښ واړه په سوک

شادمحمد خان:

يو مې عشق ننباسي په زړه دوک

بل بيلتون مې ماتوي خوله، غاښ په سوک

رحمان بابا:

ای زما د زړه آرامه راشه راشه

سروې قده گل اندامه راشه راشه

چې دا نور خوبان دې واړه مقتديان دي

د همه واړو امامه راشه

ای زما د زړه تسکینه راشه راشه

خیر زده کړه د مسکینه راشه راشه

چې همه خوبان دې لاندې تر قدم دي

تر همه و بهترینه راشه راشه

شادمحمد:

عاشقي را باندې سیورۍ مرۍ

هیڅ مې نه درومي بې یاره تر مرۍ

رحمان بابا:

په صورت مې نرۍ تبه شوه ولاړه

تا چې دواړه سترګې تورې کړې نرۍ

شادمحمد:

د بېلتون پلکونه خورم په ککرۍ

چې اخیستې مې دی نوم ستا د یارۍ

هغه دی لکه کباب مې په سیخ سور کړي

چې کړي تورې خماري سترګې نرۍ

## ٦ – ٢٧ متفرق شاعران

### ٦ – ٢٧ - ١ – قادر داد:

د حضرت رحمان بابا شاګردان، پلویان، رهروان، او به حقه له شماره وتلي دي، موږ به يې دلته د ځينو سره شاعران يادونه وکړو، یو د هغو له جملې څخه (قادرداد) دی.

همیسش خلیل په خپل اثر ورکه خزانه (۲۲۸) مخ کې د قادرداد چې د روښاني مکتب او فکر پلوی شاعر دی، د یوې قصیدې څو شعرونه دا وړې چې دلته یې را اخلو:

چې دا هومره نصیحت کړم باور وکړه

ځان ته وایم تش مذکور د دیگران شي

همه واړه عیب وینم په خپل ځان کې

که بهانه په خوله دا نور نور آدمیان شي

د قادرداد روښاني دغه بیتونه بېخي د رحمان بابا د دې شعرونو مفهوم لري ې:

رحمان بابا:

دا خبرې زه همه و ځان ته وایم

دلگیر مه شه که مې نوم واخیست د ستا

نوم د ستا او د بل اخلم ځان ته وایم

نه مې کار نه مې غرض شته په نور چا

هر چې وایم همه واړه ځان ته وایم

دا همه واړه عیبونه دي زما

**٦ – ۲۷ - ۲ – رحمت داوي**

د رحمان بابا فکري مکتب پروفیسور دوکتور زبیر حسرت د اثر په ۱۸۰ مخ کې د رحمت داوي به شعرونو کې د یو غزل مقطع داسې ده چې:

د غریبو د بڼایو مجلس نه شي

د رحمت له جمعه خان سره څه

د رحمت داوي د شعر دکغه مقطع بېخي د رحمان بابا د دې مشهورې مقطعې د اثر تر مخه برېښي چې:

نشي د خانانو، ملنگانو سره کلي

چېرته عزيز خان، چېرته ملنګ عبدالرحمان

**٦ – ٢٧ – ٣ نواز خټک:**

خوشحال خان د کورنۍ په سلسله کې راځي او ژون يې تر (١١٩٧هـ) يقيني دي، په رحمان بابا يې د خپلې برترۍ څرګندونه شاعرانه تعالی کړې ده او د چا خبره په غير شعوري ډول يې د رحمان بابا له خپله ځان لوی شاعر منلی دی.

د نواز خټک متعلقه بيتونه دا دي:

چې په غوږ کا څوک ګوهر زما د نظم
برابر مې کړه غزل د ده الشعره
د رحمان شعر به ومنډې په جيب
چې دې ووځي له خاطره شک وريب

نواز خټک:

په لحد کې به ثوبه کاندي له شعره
دا غزل که مې څوک ولولي رحمان ته
په ګفتن د شعر څه درو فشاني کا
حيراني ده د نواز خټک زبان نه

يا:

نه آدم، حوا وه، نه آسمان و نه عزا وه
وړاندې له هر چا نه و خلقت د محمد ص
* هسې حالات مې په غزل کې رحيم کېښښو
ځار مې تر هر فرد شه درست ديوان رحماني[1]

[1]- داسې ښکاري (*) دغه شعر نواز خټک

حضرت رحمان بابا خو ډېر وړاندې په زرينو او سپېڅلو کلمو کې دا لاندې بيتونه لا پخوا ويلي وو:

نور هاله د محمد په جهان کې

چې بوی نه و د آدم او د حوا

د احساساتو پر مهال او د رحمان بابا د لاندې بيت په ځواب کې د قهر پر مهال ويلي وي:

د بابا بيت:

يو خوشحال، يو کم سل خټک نور په طبعت کې

ځار شه د رحمان سرهبني له يه فرده

او د پښتو ځينو محقيقنو او ناقدانو، استادانو د رحمان بابا دا مقطع د خوشحال خان خټک د دې مقطعې جواب ګڼلې ده، چې

سل سرهبني دې تر دا يو غزل ځارېږي

نن چې دا پښتو ده کړلاني خوشحال ويلي

**٦ – ٢٧ - ۴ – قاسم:**

هميش خليل ورکه خزانه په ۱۱۹ مخ کې يو غزل د رحمان بابا د غزل په وزن، بحر، رديف او قافه (ځمکه) درج دي، ملع يې داسې ه چې:

هميشه دې مل زما د اشنا غم وي

تر هغې ساعته پورې ځو عالم وي

او رحمان بابا ويلي دي، چې:

هميشه دې زما سر او ستا قدم وي

تر هغې ساعته پورې ځو کمې دم وي

د پورته شاعرانو متعلقه بيتونه د رحمان بابا د مکتب د فکر اثر لاندې دی او دساې ښکاري چې عبدالرحمان بابا عاليمګر هويت لري او شاعرانو له هغه اغېز موندلی دی.

پروفیسور دوکتور محمد حنیف د خپل (Ph.D) تیزس د حیات و اثر حضرت میامحمد عمر څمکني رح د اسلامیه کالج چاپ ۴۵۵ کې لیکلي دي چې:

د رحمان بابا او بیاض دواړه د یو منزل مقصود د یو ساقي له لاسه د محبت پیالې څښلې وې. د دواړو سینې د معرفت د یوې ډیوې نه منور شوي او د دواړو مرجع یوه وه او د دواړو کلام د یو بل تفسیر دی. (داردونه پښتو زما ده) دا هیڅ ده چې بیاض او رحمان بابا فکر سره یو دی، خو د محترم عبدالله بختاني خدمتګار په تحقیقي زما د بیاض دیوان = د داننش خپروندیې ټولنې نه په (۲۰۰٦) کې خور شوی دی.

هغې کې بختاني صاحب دې پلو څه اشاره قدري هم نه ده کړې.

ښاغلی پروفیسور محمد افضل رضا په خپأ تالیف (پښتو غزل) کې چې کوم شاعران د رحمان بابا د مکتب پلویان او مقتدیان ګڼلي دي، په هغو کې د ځینو کر د دې کتاب په مخکې پاڼو کې راغلی دی او خینې نور لکه عبدالرحیم هوتک (۱۱۵۰هـ ۱٦۴مخ، سید غلام احمد (۱۱٦ هـ ۱٦۵ مخ عجب خان ۱۱۴هـ، ۱٦٦ مخ او غریب ۱۱۳۸هـ ۱۷۰ مخ پکې هم شامل دی، خو د یو بل شاعر عبدالعزیز په تذکره لیکلي چې د عبدالقادر خان د زمانې شاعر دی. د دولسمې صدۍ هجري به ابتداء کې ژوندی و. د ژوند حالات یې معلوم نه دي. د کلام نه یې معلومېږي چې د رحمان بابا د سبک پیرو غزل کې یې مستي، رواني او خوږوالی ډېر دی.

د عبدالغفور د غزل بیتونه داسې دي، چې:

که تاختونه دا رنګ تل د یار چشمان کا

خود به شهر د زړګي زما ویران کا

هسې رنګ دې د لیانو په می مست یم

چې مي فخر په خمار تل خماران کا

دا یې زلفې په رخسار باندې رنګېږي

که ذوقونه په چندنو ښاماران کا

چې یې ارو په سریلېږي لکه شمع

غفور ځکه موټ د اوښیو په باران کا

او که په ژور نظر وکتل شي نو څرګنده به شي نه یوازې دا چې د عبدالغور دغه شعرونه رحمان بابا ته ډېر نږدې

څه چې داسې بربښي غه و اړه خیالات یې هم د هغوی له فکره اخیستي وي. د مثال په ډول به دلته د رحمان بابا هغه غزل چې قافیه، ردیف او وزن بحر یې د ې لاندې غزل لیکل شوی دی، مطلع او مقطع یې داسې دي:

امید په عمارت د دې جها کا

لکه کرښه په اوبو هسې نښان کا

بې درګا هم یې بل ځای د رحمان نشته

په سفر استوګنه څو مسافران کا

او دا یو بیت چې:

تورې زلفې دې به سپینو تنکیو ځانګي

ښارماران  دي د چندڼو په ښاخاونه

همدارنګه پیاوړي سرمحقق استاد ښاغلي زلمی هېوادمل چې د رحمان بابا د کومو نور پیروانو ذکر کړی دی، په هغو کې نیازمحمد، عبید او نصرت او د کوهاټ ځنګل ځېلو پیر مطیع الله چې دیوان یې ۱۹۸٦م کې چاپ شوی ی، له عبدالرحمان بابا سره له ډېرې مینې (رحماني ثاني) لکیلي د دولسمې پېړۍ شاعر جمال خان، عمران چې دیوان یې نه دی چاپ شوی، پښتو اکاډمۍ یې یوه قلمي نسخه لري. دی د خپل یو غزل په مقطع کې وایي چې:

بې حمید او له بابا عبدالرحمانه

ما عمران و ته دا نور شاعران څه دي

**٦ – ۲۷ – ۵ شهنواز:**

د پیر محمد کاکړ دیوان یې کابو په خپل نام کړی دی او دهغه څه به خوب کا.

ردیف، قافیه، باندې شعري به خپل نامه راوړي یا په بله وینا یو شان راغلی دی. فصل شاه چې دیوان یې پخوا په هند کې چاپ شوی دی، بازمحمد بنګښ ۱۸۴۰ – ۱۹۱۷ منګو چې ځان د رحمان بابا تابع ګڼي:

باز خان هیڅ سیالي د شعر له چا سره نه کا

دی تابع له شاعرۍ د رحمان راغی

عبدالنبي بيټني، ګل محمد کاکړ، حاجي جمعه خان بارکزي، عبدالوهاب اچکزي، عبدالله الکوزي خدای داد ممد زی او... د رحمان بابا د شعر د سبک پلویان دي او د رحمان بابا په یوې غزلې مخمس ویلي دي، چې د پیل بن یې دا دي:

ګوره هسې لوی ستار دی رب زما

ګنګار لره غفار دی رب زما

عالم پروردګار دی رب زما

ګوره هسې کردګار دی رب زما

چې صاحب د ګل اختیار دی رب زما

جدید توخي وایي:

دی رحمانه شاعر یارانو

سر حلقه د شاعرانو

که خدای ما کاندي حساب

د رحمان له مریدانو

عبدالغفار هوتک وایي:

په افغان کې شاعران تر حساب تېر دی

عبدالغفار دی د رحمان شاعر نائب

میر امان الدین درویش، فدامحمد، عبدالرسول کندهاری، ملا لتاړ سلماني چې د رحمان بابا د یوه مشهور غزل په څمکه یې دا غزل لیکلی دی:

فکر د هجران یار په وصال راڅخه یووړ

غم یې د درست عمر په جمال راڅخه یووړ

تها منصور، ګل میر، عبدالرحیم هوتک، محمد بخارائي، ملا شیر محمد هوتک، ملا عبدالرشید (د رشیدالبیان

۱۲۲۹ هـ خالق سید حسین، میافقیر الله حلال اباد دی. غلام محمد مومند او عبدالباري گدا نومي شاعران ښکاره د رحمان بابا پیروان مقلد بن او تابعین یاد شوی دی. [۱]

د پورته نقل قول حواله په درانه او د ځلاند مقام خاوند استاد سرمحقق زلمي هېوادمل په پښتو ادبیاتو تاریخ شوي ده.

ښاغلي میاوکیل شاه فقیر خیل د میان حمد الله فقیر خپل دیوان په مقدمه کې لیکلی دی چې:

"د میان حمدالله فکر ژور او اشعار یې خواږه دي او ډېر صفا او آسانه ژبه لکه د رحمان بابا پیروان ښکاري او داسې معلومېږي چې د حمید او رحمان بابا نه متاثره هم وه، بلکه دغه شویې:

د رحمان او د حمید غزل مشهور دی

حمد الله وایه غزل د خپل کتاب

پروفیسور رضا افضل په خپل تالیف، د پښتو غزل د پښتونو ډېر شاعران لکه خواجه محمد بنګښ مصري خان ګګیاني، معزالله خان مومند، میا عبدالله میا قاسم، افضل، عثمان، مهین، فتح علي، فاضل او... وغېره.

د خوشحال د سبک پیروان ګڼلی دی، په داسې حال کې دغو ډېء شمیر شاعرانو شعر د رحمان په لار روان دی او په څرګنده توګه د رحمان بابا د مکتب پیروان پلویان او مقلدین دی، چې په اشعارو وکی بې دا خبره څرګنده ده. [۲]

د همیسش خلیل په زیار د طالب شاه دیوان د شیر شاه تر خوی په منته د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګې پښور نه په اپریل ۲۰۵ کې چاپ شوی دی.

له دې وړاندې (۱۹٦۰م) کې ښاغلي همیش خلیل خپل تالیف د «ورکه خزانه» دویم ټوک کې یوازې یو غزل پیدا او چاپ کړی و.

**٦ – ۲۷ – ٦ میر عبدالله سواتي:**

د نوموړي دیوان قمر صحرایي یې تحقیق او ترتیب کړی دی او په اول ځل اپریل (۲۰۰۹) کې چاپ شوی دی. په دغه دیوان کې ډېر داسې شعرونه تر نظره کېږي، چې هغه د رحمان بابا په ځمکو ویل کېږي او د بازګشت

---

[۱]- هیوادمل، زلمی. کال. د پښتو ادبیاتو تاریخ. دانش خپرندویه ټولنه

[۲]- فقیر خیل، حمدالله. ۱۹۹۷. تدوین و مقدمه د میاوکیل شاه فقیرخیل. دانش خپرندویه ټولنه.

شاعر تر عنوان لاندې ورته ډاکتر پرویز مهجور خویشکي هم په خپله مقدمه کې اشارې کړې دي او د رحمان بابا او میر عبدالله سواتي یو شانوالی یې په ګوته کړي دي، میر عبدالله سواتی هم چې د (۱۸۱۰ – ۱۸۹۲) شاعر دی.

در حمان بابا په پیروۍ کارونو کې کامل دی:

**٦ – ۲۷ -۷ سید طالب شاه:**

د ده د ژوند حالات هم لکه د نورو ډېرو شاعرانو په تیاره کې دي، حو د کلام نه یې داسې برېښي چې د سیکانو د دور شاعر دی او د پیدایش او وفات کلونه یې هم نه دي معلوم. همیسش خلیل خپله «پیش نامه» کې لیکلي دي:

"د سید طالب شاه مشران د هغه د زیږون نه ډېره موده وړاندې د اټک تحصیل د چڼیاوالو نومي کلي نه پښتونخوا ته راغلی و او د موجوده چارسدې ضلعې واورې علاقې په سیدانو ډېرۍ کې میشته شوی و. (الف مخ)

او که چې «پیش نامه» ۵ مخ لیکل شوی دی، چې:

"سید طالب شاه خپلې ډېر شمېر غزلې د رحمان بابا، خوشحال خان، حمید مومند،. علي خان او عبدالقادر خان خټک د غزلو په نظمونو ویلی دی، خو همیش خلیل دا نه دی ویلی چې طالب شاه هم د رحمان بابا د مکتب شاعر دی او که د نورو شاعرانو په غزلونو یې یو غزل ویلی دی، نو د رحمان بابا اثرات لري، ډېر زیات جوت او ښکاره دی چې د رحمان بابا په ځمکو یې ډېر غزلونه ویلي دي، ځکه نو زما په خیال سید طالب چې هم د رحمان بابا د مکتب په ځینو مهمو شاعرانو کې یو دی اګر چې طالب شاه هم د رحمان بابا نه ده اخیستې، خو کلام یې دا څرګندوي چې د رحمان بابا نه په متاثر نیوکې ضروري دي. دلته یې د رحمان بابا په ځمکو د لیکلو څو غزلونه نمونې وړانې کوم چې د خپلط دعوې ثبوت وړاندې کړم. (رحمان بابا د شعرونو وړاندې راغلي دي:

که څوک وايي چې کیمیا دی دا حدیث

دروغ نه دي په رښتیا دی دا حدیث

په کتاب کې د منظورو شاعرانو

ما لیدلی مهیا دی دا حدیث

د وروستي شعر اولنۍ مصرع کې په يقيني ډول د رحمان بابا غونډې متصورو شاعرانو د کتاب خبره شوې ده.

رحمان بابا هم د «الغياث» رديف باندې او غزلونه ليکلي دي چې د بيتونو غونې يې وړاند راغلي دي. دغه شان طالب شاه هم دوه غزلونه د «الغياث» په رديف کې ليکلي دي چې:

نن زما په زړه غبار دی الغياث

چې جدا راځينې يار دی الغياث

له جفا د غمازانو الغياث

په خوارۍ د عاشقانو الغياث

رحمان بابا وايي:

چې پيدا شول ستا چشمان دا هسې شوخ

نور به نه وي مردمان دا هس شوخ

او طالب شاه وايي:

چې پيدا نه وي خوبان دا هسې شوخ

چا به څه کاوه آرمان دا هسې شوخ

رحمان بابا وايي:

دغه يار دی دا اغيار دی

دغه ګل دی، دغه خار

او طالب شاه وايي:

دغه شک دی د تاتاره

د اکيسود ګل رخسار

د اخلاص په رديف چې څنګه د رحمان بابا غزل دی، دغه رنګ طالب شاه هم ليکلی دی چې وزن بحر يې يو دی، خو قافيه يې بدلېده، رحمان بابا وايي:

څه عجیب بلند مقام دی د اخلاص

چې جهان واړه غلام دی د اخلاص

طالب شاه بیا وايي چې:

نوم د هر چا په زیان دی د اخلاص

که یې غواړې مونده ګران دي د اخلاص

د «زبان دی» او «ګران دی» فني غلطۍ دېته هم پام وکړی شي. دا شان «زما دل» ردیف بانې د رحمان بابا د غزل موجود دی چې:

بیلتانه دې هسې خوار کړ زما دل

چې له ځانه یې ویزار کړ زما دل

او طالب شاه د قافیې به بدلون وایي چې:

له احواله به یې څه وایم وچاته

چې زما سره مسیر دی زما دل

د دې غزل په حاشیه لیکلي شوي دي چې د دې غزل ابتدایي شعرونه او قلمي نسخې وړومبی شپږ مخونه ضایع شوي دي. نو دا هم کېدای شي چې دغو شپږ ظایع شوي مخونو کې د رحمان بابا په څمکو نور غزلونه هم ویلی شوي وي. دلته د رحمان بابا او طالب شاه د ځینو یو شان غزلونو څو نور بیتونه هم د نمونې او مقابلې راوړم:

رحمان بابا:

بیا دې نوي شراب څښلي دي پوهېږم

په رخسار دې ګل کرلي دي پوهېږم

طالب شاه:

هر چې ښکلو فرمایلي دي پوهېږم

ما په دا سترګو منلي دي پوهېږم

رحمان بابا:

په هر ځای چې ستا شناسي شیوه ګرې

خرمهرې شي هلته دورو مرغلرې

طالب شاه:

تا چې دواړه زلفې تاو کړې قلندرې

په هر لوري ترې فتنې شولې ظاهرې

رحمان بابا:

هغه زړه چې ستا د عشق په اور کباب دی

که ملهم ورباندې کېږدې ډېر ثواب دی

زه رحمان به څه ځواب کړم ویار ته

و ژوند یو ته د مړو څه ځواب دی

طالب شاه:

یار له غمه مې درست عمر په عذاب دی

تکه نظر راباندې وکړې لوی ثواب دی

که خدای مهر پرې پیدا کا د خوبانو

هر عاشق د عشق په ارو سوی کباب دی

چې مخ پټ کا مهرویان په خندا لاړ شي

طالب شا سیده درومه دا ځواب دی

پروفیسور دوکتور محمد زبیر حسرت په (۲۰۱۲م) کال د اپریل ۲۸کې لیکلی و، چې د سید طالب شاه موجوده دیوان نیمګړی دی او خدای دې وکړي چې دیوان یې پیدا او چاپ شي.

کېدای شي هغه اشعار یې د عبدالرحمان بابا د اشعارو په اقتصاد او... نه وي او امکان لري له رحمان بابا یې اغېز اخیستی وي.

لنډه دا چې د حضرت عبدالرحمن بابا شعر د هغه عطار ټک دی چې خپله خوږ، تازه، دلعزیز او آراموونکی بوی لري. نه یوازې د هغه خت حساس د ماغونه یې تنخولي دي، بلکې د دغو او منتک وږمې په که خدای کول د ټول عمر لپاره د هنر او ادب دنیا رنګینه او معطره انج و منج کړي.

له هغه وخته چې د رحمان بابا شعر د یو بل، یوې خوا، بلې خوا خلکو غوږو ته ورسېده، ورسره سم یې د زړونو مسخرولو ته متې راونغښتلې او دغه کار ته یې رسېده‌ګي پیل کړه.

د بابا علیه الرحمه شعر ورو ورو د خلکو، ښځو او نارینه‌وو غږونو ته ورسېده او هر چا ورته لبیک ووایه. نه یوازې د رحمان بابا شعر په خپل وخت و زمان، بلکې کرا وروسته وختونو کې د خلکو او وختونو او فرهنګی ډلو او بالاخره غونډېو او مشاعرو ته لار پرانیستله، چې د ده کلام او شعر لاهوتي شو او د ټولو پښتنو او مشاعرو سرلیک او سرخط وټاکل شو.

له یوې خوا د عبدالرحمان بابا لاهوتي کلام او خداده شاعري او له بلې خوا د نوموړي قلندرانه، صوفی وزمه، مسلمان او مومن شخصیت د دې لامل شو چې ورو ورو عبدالرحمان بابا د زړونو د کورونو دروازې وټکوي او د چا خبره نقل میدان شي.

د بابا شعر او شاعري د کور، کلي، قوم، خپل ښار او هېواد له پولو غاړه دباندې وویسته او د شهوت وزرونه یې ورپول او په زغرده او اوچته پروازونه یې پیل کړل.

د بابا شعر سراسري مقبولیت ومونده او د یو جلا سبک او مکتب  خاوند شو، چې دغه سبک او مکتب نه یوزې په لسګونو، سلګونو، زرګونو، لکونو او میلونونو پښتنو کورنیو او بهرنیو وړو، زلمیانو، ښځمنو، ځوانانو، پخو او بوډاګانو دغه لارې وپاللې، بلکې د یوې سترې اجتماعي حماسې[1] او سراسري شتمنۍ لامل شو.

د رحمان بابا شعر د موضوع د کیفیت له مخې ستر ټولنیز، سیمه‌ییز او نړیوال شهرت او هویت وموند او تر اوسه

---

[1]- سبک،

مکتب.

حماسه.

پورې ټولنيز موقف او مقام لري او دغه قوار په سرلوړۍ پالي. د ده په شعر کې تلپاتې ټولنيز مضمون ورمې انګازې کوي او ګڼ خلک يې د دردونو د علاج لپاره ورځ تر بلې ارزښتونه زياتېږي.

# ۷ – د رحمان بابا په شاعرۍ کې تصوفي افکار

«رحمان بابا» د دوست محمد کامل مومند یو مستقل اثر دی چې په بابا یې لیکلي دی. په دغه کتاب حمزه شینواری هم تقریظ لیکلي په دغه کتاب کې رحمان بابا اودهغه عهد، دکلام عام جاج، تصوف، دعشق اومحبت شاعر، ښکلی خواږه نصیحتونه، مقامیت اوقومیت، زمیمه، کاتبیات راغلي دی.

**۷ – ۱ تصوف:**

درحمان باباپه نظر دتصوف لوی مقصد دخدای معرفت دي، هغه خپله دعرفان له مقام نه خبر دي ځکه دمعرفت رموز پیژني اووایې:

چې داهسی معرفت یې پی پیرزوکړ

پررحمان باندی معنت دپاک مولادي

× × ×

چې دی خدای له معرفته خبرنه وي

هغه واړه که بیداردی هم اوده دی

× × ×

معرفت دخدای ښرگنددی په هرڅه کې

سترگې وخوره چې ښوگ هومره نظرنه کا

درحمان په نظرددین اودینداري اوتصوف اصلي پیغام توحید دي لکه چې وایې:

په دویې کی به ورنشی ترتوحیده

ښوضمیر دی خالی نشی له اشراکه

رحمان بابا دخپلی مجاهدی، ریاضت په ذریعه دقرابت مرحلی ترسره کړی دی لکه:

ستاپه یادکې رحمان هسی رنگ مشغول دي

چې په زړه کې هيڅ غم دوصال نشته

نفسي خواهشات په لغته وهل دسلوک اوتصوف په مهمونکتوکې ضايگی

راشه واچوه دنفس وخولی ته خاوره

ځودی نه ده خوله دگورپه خاوروډکه

رحمان بابادتصوف په لارکې دمينی سجده داسې يادوی:

چاچی سردی په سجده ويارته ايښی

دوباره دی له سجوده قيام نه کا

رضا تسليم دتصوف په مقامونوکې ډير مهم دی

ځان جهان سپارلی بويه ووهغه ته

چې يې حکم جاری شوی په هرچادی

**رحمان اوشکرانه:**

رحمان بابا دخدای دوه لوی نعمتونه داسی ستايې

يوخوداچې يې په شکل د آدم کړم

دويم داچې محمدمی رهنمادی

رحمان دسلوک دلاری سفرمقاماتوکې دمريدلپاره دپيرموجوديت لازم بولی لکه چې وايې:

بی ريباره رسيده ويارته گران دی

دلته بويه چې پيداکاندی رهبرځوک

په خوله هريوسړي اسم دپيراخلی

باری څه پکارنوغته دپيرنه کا

**رحمان اوداولياووپيروي:**

هغه څوک چې پیروی داولیاکا

دایې واړه په معناکې ولایت دي

**رحمان اودرویشی:**

هربهارلره خزان په جهان شته دی

خزان نه لری بهار ددرویشانو

کله سوال والا هغوته دطنزپه ژبه وایې:

چې ټوک په طلب ګرځی خدایې هیر دی

فقیری داهسی چیری ده فقیره

**ب- رحمان بابا اوعشق:**

عشق درحمان بابا دشاعري مهمه موضوع ده دهغه په نظر داجهان له عشقه پیداشوي دی لکه چې وایې:

داجهان خدای له عشقه پیداکړي

دجملوومخلوقاتو پلاردی دا

عشق یاحقیقی عشق رحمان بابا ته د (لاهوت) مقام ښوولي دی لاندې بیت دی:

زه دیارمینی په یارپسی شیداکړم

که څوک ماګڼی زه نه یم واړه دی دی

رحمان په دې نظروو چې که دیارپه غم کې څوک قلندر نشي نودعاشقي نوم پری مه ږدي

هومره نوم دعاشقيورباندی مه ږده

چې دیارپه غم کې نشي قلندر څوک

× × ×

که طلب دنورچانوری مرتبی وی

ماګداپه استانه دخپل جانان کړه

**صوفی عبدالرحمن بابا په عشق حقیقی کې دمجازی حسن داشاروکنایو، استعارو اوتشبیهاتو استعمال کوي لکه:**

پس له مرګه به یې له تاقربان کړم

که صورت می خدای پیداکړپه مهشربیا

دحسن مطلق په ستاینه کې څه ښه وایې:

دصورت له عیبه هسی پاکیزه دی

لکه ذات دویښته نشته دی په ها

× × ×

چې می ووستاښکلی مخ ته دی کتلی

بل یو مخ ته ندی بیاکتلی ما

هرویښته یې دعشق عکاسی کوي لکه:

یوویښته می دصورت بی عشقه ندي

څوکیدارپه هرنفس دخپل کاروان یم

دعشق مجذوب په خندا اورته وردانګی

په خندا خندا ځان اچوی بل اورته

خدای چې څوک کړی په جزبه دعشق مجزوب

رحمان بی له عشقه بل هنرنه پیژنی

بی له عشقه می عیب که می هنردی

ماغوځ کړي دی له ځانه بل پیوند

دعشق په مقابل کې دعقل مزل لنډوی

دمجازپه معشوقوکې وفانشته

ماهزارځله وکښلي دی دافال

**رحمان بابا داخلاقی تعلیماتومعلم دي:**

ښاغلي پروفیسورمحمدافضل رضاء دخپلی سریزی په اتم مخ کې وایې

((هسی خودرحمان بابا دکلام زیاته برخه داخلاقی تعلیماتو هینداره ده چې دخپل تعسیرله مخې په اوریدونکواولوستونکوډیراثرکوي))...

ځوځوبیلگی به یې دلته راواخلو:

**عبادت؛** په تافرض عبادت دخپل ښښتن دی = نه دبکری خزانی ملک وهشم

**نیک عمل؛** کردگلوکړه چې سیمه دی گلزارشي = ازغی مه کره په پښوکې به دی خارشي

**بل ته نیت بدول؛** کوهي مه کینه دبل سړي په لارکې = چیری ستابه دکوهي په غاړه لاشي

**دوخت قدر؛** دوباره دی راتله نشته په دنیا = نن دی واردی که دوغ کړی که رښتیا

**تیروخت؛** تیرساعت په مثال مړی دلهد دی = مړی چا دی ژوندی کړی په ژړا

**انسان اودولت؛** آدمیت څه په دولت نه دی رحمانه = بت که جوړکړی دسروزروانسان نشه

**ریا؛** په ظاهرلباس غلط دسړی مشه = منځ یې گوره چې چاغزی دی که متاک

**قناعت؛** خدایه! گنج دقناعت حمان ته ورکړی = چې بی ملکه بی هشمته دولتمند وی

**سخاوت؛** خزانه په سخاوت سره زیاتیږی = له کوهی چې اوبه وکاږی بسیارشي

**انسان قدر؛** لکه ځان هسی وبل وته نظرکړه = لکه ستادی هسی ځان دی دهرچا

**تقوا؛** باړتری وجارباسه هله زراعت کړه = تقوادارشه هله تمه دجنت کړه

**ددنیاکاروبار؛** دطفلانوپه څیرواړه خاک بازی کا = هچه کاندې کاروباردی دنیا

**خاکساري؛** ژوندی ځان په ځمکه خښ کړه لکه تخم = که لویې غواړی دخاورو په مقام شه

دغسی په سلگونو نور موارد درحمان بابا په کلام کې ډیرموندلي شوچې دټولوراخیستل دلته ډیرسخت کاردي که له ډیروخبرو راتیرشونودرحمان باباکلام  دمقبولیت اعجازته به تم شو.

**درحمان باباداشاعري دمقبولتیاڅومهم ټکی:**

**۱-** رحمان باباخدای ولی وو دزده له اخلاصه یې دالاندی سوال تری کړی وو چې :

الهی د خپل حبیب له برکته

داساده انشا رنگینه درحمان کړی

چې کشور دافغانانومعترکړی

دهربیت مسره می زلفی دخوبان کړی

څکه یې نوشاعری رنگینه شوه

**۲-** درحمان بابا کلام بی شمیره لفظی اومعنوی خوبي شته. دهغه په دیوان کې دصوفیه وو لپاره صوفیانه رموزته ، په حجره کی ناستو عاموخلکولپاره زړه راښکونکی خبی شته، په ممبر ناستو عالمانودپاره وضع اونصیحت ښکلی ملغلری شته، په پتیوکې یوی کوونکوزمینداردپاره اثرناک موادشته، په پوهنتونونو، مکتبونو دسبق مواد موندل کیږی ، دفلسفیانولپاره ژورفلسفی مضامین شته، دعشق حقیقی، عشق مجازی، دنیا آخرت، نیک عمل اوگڼواخلاقی تعلیماتوخلاصه دهغه په کتاب کې شته، غرض پښتنوکې ښځی دی که سړي، عامیان دی که عالمان دټولو لپاره دپوهی اوطبعی مطابق مواد دده په دیوان کې شته څکه دهغه کلام په هره طبقه کې مقبول دی بیادټولونه لویه خبره داده چې رحمان باباداشاعري په میدان کې دچاتقلیدنه دی کړي ځانته یې خپله خوندوره داسې لار راویستلی چې دهرچاخوښه ده.

چې دانورشاعران کاندی هغه نه کا

رحمان کړی نوی نوی اجتهاد

**۳-** درحمان بابا په عالمگیر شهرت کې دهغه دجزباتوصداقت لوی لاس لري هغه چې هرڅه ویلی دی نودزړه آواز یې معلومیږی دهغه هره وینا داخلاص وینادہ. داخلاص وینا دیوه زړه نه بل زړه ته نیغ په نیغه رسی

درحمان کلام په داسبب شیرین دی

چې یې هرکلام کلام دي داخلاص

هغه دخوږو زړو زګرويوشاعري ته مجبورکړي دی دامطلب په شعرکې څه ښه بيانوي

دادستوردي چې له درده زګروی خيږی

ګڼه څه وو درحمان له شاعريه

**۴-** درحمن په کلام کې بی پناه سوز، انتهايي جزب اودرد دی داسې معلوميږی چې دجذب په حالت کې په بی پناه سوزکې دهغه د دردمن زړه عالم دقلم خولی ته راځی دغه سوز دخپلو لوستونکو او اوريدونکوپه زړه کی هم پيداکوي پدی سوز کې دمينی خوند دی ځکه چې دادمينی دردونه پيداکوي لکه:

درحمن سوزان شعرته حيران يم

چې اوربل شوی نه دی په ديوان

**۵-** عام پښتانه هغه دخدای ولی ګڼی دغه وجه ده چې دهغه هره خبره په غوږونو اوری اوعقيدت ورسه څرګندوي **رحمن بابا عالمګير مقبوليت کې دهغه دفقيی اوصوفيانومثام هم لوی لاس دی دپښتو ژبی دغه عالمګی په خپله وايې:**

پادشاهی دفقيرانو په دعاشی

زه رحمن ځکه پادشاه شوم چې ګداشوم

**٦-** خپله رحمن بابا هم خپلی شاعری ته اعجاز وايې دغه اعجاز هغه ته پښتنوشاعرانوکې امتيازی مقام وربښلی

چې منکرپری اعتراض کولی نشي

دادی شعردی رحمانه که اعجاز

**۷-** چيرته چی ددنيادبی ثباتی خبره کيږی هلته داخرت غم خلکوته وريادوی پر بی عمله عالمانو طنز کوي اوداخلاقی تعليماتو درس ورکوی اوهغوی په داوول سره غندی

هم نغمی کاندی هم رقص کاندی هم خاندی

درحمن په شعرترکې دبګرام

**۸-** درحمن باباعالمگیر مقبولیت کې دهغه درېښتنی یعنی حقیقی مینی هم دخل شته دغه حقیقی مین دهغه په کلام کې داسی تاثی پیداکړی چې دهرچاورته پام کیږی، دحقیقی مینی داواز اثردده په شعرکې کوکی پیداکوي

ستادحسن دتعریف له برکته

درحمن دشعرکوکی په عالم دی

۹- **رحمن بابا** یو لوی دینی عالم اوذاهد وو. هغه چې څه داخلاقی تعلیماتو په لړ کې ویلی دی دادقرآن اوحدیث په رڼاکې دی ځکه نو پښتانه ورته عامنا اوصدقنا وایی

داچې زه یې درته وایمه که خدای کا

په آیت اوپه حدیث کې به څرګندوی

**۱۰-** رحمن بابا په خپل کلام کې استعاری ، تشبیهات، اونور ادبي نزاکتونه ډیر راوړي دی خوسړي ورباندې اسانه بوهیږی لکه

مخ دیار شمس اوقمر دری واړه یو دی

قدیی سروو سنوبر دری واړه یو دی

**۱۱-** رحمن بابا په ساده ټکه کو اخلاقی تعلیمات بیان کړی

ته چې بل په کاڼو ولی هسی پوشه

چې به داکاڼی دتاپه لور ګذارشي

**۱۲-** درحمن بابا په شعر کې عالمګیر شهرت دی اودادهغه له ساده ګي، خوږ والی اوډیروښیګنو نتیجه ده چې سړی په اسانه ورباندې پوهیږی لکه

راحت ندی بی زحمته چاموندلی

غم ښادی ده ددی در خور او ورور

علت لاړشی دسړی نه عادت نه زی

خدای دی نه کاندی په بدوچاوعادت څوک

دمکی په بزرګی کې هیڅ شک نشته

ولی خربه حاجی نشی په طواف

که څوک تله دانصاف په لاس کې درکړی

خپل ټټو اودبل آس به برابرکړی

درحمن بابا په شعرکې سنایی، بدایع، دده لیکل شوی کتابونه دده دکلام مشهوری ترجمی، مشهوری چاپی نسخی اونورګڼ مطالب په پریمانه توګه پیداکولی شو

درحمن بابا ادبی شخصیت: (درحمن بابا ادبی کلیات اوډنه سریزه اولغت پانګه) دسرمحقق داکترسید محی الدین هاشمی لیکنه په کتاب کې په ډیرو مطالبو بحث شوی چې ځینی یې دلته په لنډه توکه را اخلو

**لومړی: درحمن بابا شاعری:**

وایې چې رحمن بابا له کوچنی والی ددینی علومودزده کړی سره مینه وال وودڅورلسو پنځلسو کالو وو چې په شعریې پیل وکړ دده په اشعارو کې دینی، اخلاقي اوټولنیزو مسلوترڅنګ دځینو پخوانیو شاعرانو لکه میرزاخان انصاري، دولت لوانی، خوشحال خان خټک، صنایع زغنوی، حافظ شیرازی اونوروشاعرانودده په شاعري اثرغورځولي دی.

**دویم درحمن بابا ادبي مکتب:**

دی په شعر اوشاعري کې یوځانګړی تصوفی اوعرفاني اوادبي سبک څښتن وو چې له هغه راورسته یې ډیر پلویان وموندل چې دوخت په تیریدویو ادبي مکتب بڼه غوره کړه چې اوس هغه زومونږ په ادبي څیړنوکې درحمن بابا تصوفي، عرفاني اوادبي مکتب په نوم یادیږی.

دپښتو ادب په منځني دوره کې دده دمکتب نویالی پلویان یونس خیبری، معظ الله مومند، اخوندګدا، میانعیم متیزی، عبدالعظیم رانیزی، عبدالرحیم هوتک، مطیع الله پیرخیل اونور ښودل شوی.

دغه راز داکتر سیدمحی الدین هاشمی دده دمکتب ځانکړنی په لاندې ډول ښیې:

۱- دده دادبی مکتب پلویان زیادتره داخلاقواونصایحودبیان خواته ډیره پاملرنه کوي.

۲- دتصوف اوعرفان پیچلی مصلی په ساده ، روانه، خوږه اورنگینه ژبه بیانوي.

۳- دفارسی اوعربی ژبو کلمات، اصطلاحات، تشبیهات زیاداستعمالوي.

۴- دده په شعر ددینی مکتب اوسبک اغیزی نه لیدل کیږی.

۵- دده دشعرله ودی سره نووشاعرانودیوانونه بابرکړل.

٦- دده مکتب پلویان په ساده ژبه انځورونه، خیالونه اولوړ ادبي معیارونه په شعرکې استعمالوي.

۷- دده مکتب پلویان واقعیتونوته پاملرنه کوي اودخیال پلویتوب اوطابیعت پکې ډیر کم دي.

۸- دده مکتب پلویان په فارسی اونوروژبوهم ساعري کړي.

باید ووایوچې ډاکترسرمحقق هاشمی رحمن باباد‌خپلومعاصرینوله نظره هم بیان کړي دی لکه

**۳- رحمن بابا دخپلومعاصروشاعرانوله نظره:**

اشرف خان هجری

خوږ زبان په زمانی شکری لونی

هغه واف چې مستقریې پیښوردی

درحمن په ویل ځای دلقب نشته

چې ماشعرمنظورکړمعتبردی

مصری خان گگیاني:

شعردفارسی وینم شیرین لکه شکره

شعردپښتوکړترفارسی حمید رحمن لذیذ

معظ الله خان مومند:

دتمامی پښتون خواه له شاعرانو

معظ الله عبدالرحمن دی منتخب

پیرمحمد کاکړ:

جوړپه شعرکې رحمن غیب لسان دی

په داخیرنشته هرگزدانسان شعر

شمس الدین کاکړ:

وبه نه رسی په شعرله رحمانه

که څوک کوي هوس افغان دشعر

یونس خیبری:

په لذت شعربه څوگ وایې یونسه

چې په مرگ ځینی خاموش عبدالرحمن شو

نجیب سربندي:

دشعراووسرحلقه عبدالرحمن دی

زه نجیب دده دشعردامنگیریم

بیدل اشنغري:

چې مشهوریې په پښتوژبه دیوان دی

شعراووکې هغه عبدالرحمن دي

بازمحمد بنگښ:

بازخان هیڅ سیالی دشعرله چانکړه

دی تابع دشاعري له رحمن راغي

میرزاخنان بارکزی:

بل رحمن سربندی دپیښور دی

په پښتو یې غزل به دی یوتربله

عبدالعظیم رانیزی:

دمومند عبدالرحمن صاحب په مثل

هسی خوږ زبان زماولی دریغه دیغه

رحمت داوی:

هرڅوک شعرکه هم لاف دشاعری کا

زه قربان ترشیرین شعردمهمند

عبدالله پوپلزی:

د رحمن له شعربوی دمعجزی زی

مرید ژرکاندی له پیره برابر

**۴- هنري ارزښتونه اوادبي ځانګړني:**

داکترهاشمی دشعرلپاره لوړتخیل ، ښایسته خبری، ساده ګی، فصاحت مهم ګڼي چې دلته یې راوړل دومره مهم ندي

**د داکتر هاشمی له نظره عبدالرحمن بابا عرفاني اوتصوفي شخصیت:**

سره لدی چې استادسرمحقق داکترهاشمي عرفان اوتصوف ډیر ښه بحثونه کړي خومونږپه نیغه توکه درحمن بابا په اشعاروکې دعرفان اوتصوف څرکونه ګورو تصوفي اوعرفاني ځانګړنی بیانوو.

درحمن بابادشاعری زیاته برخه دعرفان اوتصوف  مفاهیم اومسایل دی رحمن بابا په پښتو ادب کې دځانګړی عرفاني اوتصوفی مکتب خاوند وو له ادبي اوتاریخی څیړنوڅخه یې معلومیږی چې رحمان بابا لومړی دینی علوم په خپل کلی اوشاو خواسیموکې لوستی اوبیاپه ځواني کوهات ته تللی هلته یې دلوړودینی اوادبي علومو دزده کړی ترڅنګ دهغه وخت دنومیالی عارف صوفي اوروهاني شخصیت حاجی بهادر کواټی رح څخه طریقه اولاس نیوی کړي اوبیرته خپلی سیمی پیښورته ورستون شوي ، دخپل کلی پرځای په هزارخانه کې استوګنه غوره کړي

اودژوندترپایه دغلته په عبادت، رياضت اودخلگوپه روحاني لاربنونه دژوند شپې اوورځې تیرې کړې دي نوموړی درحمن بابا دشخصيت په برخه کې دځينوپياوړوځيرونکونظرياتولنډيزرااخلی چې مونږ به هم ورته تم شو.

دپښتون خوا پياوړی څيړونکی اوکره کتونکی اروابناددوست محمد کامل په خپل اثر (رحمن بابا) دتصوف په هکله ليکي: (( رحمن باباډگردوصوفيانوددی خبرې منونکي اوطبليغونکي وو اودی حقيقت ته رسيدلي وو چې په ځان قدم ايښودل دنفسی خواهشاتو پيريښودل دی اودرسول الله ص مکمله پيروي کول ضروری اولازمي دي. ټول صوفيان عبادت، رياضيت، مجاهده اونيکی کول اوله بدو ځان ساتل ، دنفسانی خواهشاتو ترکول اوخپله خوښه دمحبوب په خوښه کې ورکول (فناکول) دعشق تقاضا اولازمه گڼي .

رحمن بابا په تصوف کې دغی خبرې ته توجه کړي حمن ديوصوفی په حيث دشعرپه جامه کې تصوف وړاندې کوي اوپه پښتو ژبه دغه له حسن اوجمال سره وړاندې کوي.

اروابنادپوهاند عبدالحی حبیب په ۱۳۲۰ کال په پښتانه شعراکې وليکل درحمن بابا اشعار ډيرساده، سليس اوروان دی  اوداشعارومضامين يې عموما عشقي، اخلاقي، ديني اواجتماعي دي اودتصوف لويه برخه لري سره لدې چې په تصوف کې ډوب شاعر دي په شعرکې دانسانانودمعاشرت اواجتماعی ژوند لوړ نکات شته داخلاقو تهذيب اونوی پيروزوينی دس ورکوي اودپښتو دملی شواوناتو اوفطری جزباتواومخصوصادتاثيراتو بيان په ښه ډول کوي اوکلام يې له فصاحت اوبلاغت څخه ډک دی.

اروابناد حمزه شينواری درحمن بابادتصوفی اوعفانی کاملی عقيدی په اړه ليکی

(رحمن بابادخپلی کاملی عقيدی يوداسې آزاد اوخوشحاله ژوندته رسولی وو چې دانسان مادی زهنيتونه هغه تصور نشي کولي

لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم

که بهار راباندی راسی که خزان

ددی آزادی نه چې کوم خوشحالی اواطمينان پيداکيږی اوهغه هم له رحمان بابا واوری

دکاملی عقيدی له برکته

ددونهی په غاړه ناست شاه جهان يم

اروابناد مولانا عبدالقادر ليکی:

رحمن بابا صاحب دل وله خبر نه تیروتی وو دحل نظرپه ټولی کې ورګډوو دمجاز نه دحقیقت میدان ته اوښتي وو یعنی دفنانه بقاته ورتیرشوي وو اودی له فنا، بقا، خبر، نظر، استغراق اوټولو منزلونوڅخه باخبره وه.

پروفیسورداکتر اعظم اعظم لیکی دهغه په شعرکې دانساني ژوند اوچاپیریال غمونه اودردونه شته خودی دغو غمونوته ملحم اوپټی پیداکوي هغه ژوند ته دیوبی عمله اوتارک دنیاداهدپه سترګه ندی کتلي بلکی دیوباعمله صوفی په نظریې دنیاته دانساني ژوند ننداره مخکی کړي.

درحمن بابا په برخه کې نظریات ډیر دی خومنږبه یې دلته ځینی بیتونه چې په عرفان اوتصوف پورې اړه لري راواخلو:

په دویې کې به ورنشی ترتوحیده

څوضمیردی خالی نشی له اشراکه

× × ×

وااسمان ته لاس دعقل نه رسیږی

داخوعشق دی چې په عرش کورسی قدم ږدی

× × ×

که په ځان باندی قدم کیږدی رحمانه

نوفلکه به دی لاندی ترقدم شی

× × ×

چې مطلب اومدعادسړي خدای شی

ناست ولاړه یې همه واړه عبادت شي

× × ×

بی له خدای هرچی دی همه فانی دی

که لذت دی که زینت دی په دادنیا

×　　×　　×

یونفس دخدای په یادو ولاتردی

نه د درست جهان دولت په دادنیا

×　　×　　×

چې داهسی معرفت یې پری پیرزوکړ

پر رحمن باندی منت دپاک مولا دی

×　　×　　×

څوترمنځه ورانه نه کړی دتن پوله

وبه نه رسی ترخدایه تر رسوله

×　　×　　×

ومعرفت دخدای څګند دی په هرڅه کی

سترګی وخوره چې داهومره نظرنه کا[1]

لنډه داچې داکترهاشمی درحمن بابا په کلیاتو په ډیرو موضوعاتوډیی ښی تبصری کړي چې زمونږپه مقاله پورې اړوندمطالب موتری راواخیستل

[1]- هاشمی سید محی الدین ۱۳۹۳ ، درحمن بابا کلیات، پیښور، قصه خانی بازار، میهن خپرندویه ټولنه.

## ۷ – ۲ رحمان بابا اوتصوف:

ښاغلي ارواښاد دوست محمد کامل په خپل اثر (رحمان بابا دکتاب په ۱۵۴ مخ کې په دغه عنوان پوره پوه بحث کړي دی چې ځینې مهم ټکی یې دلته راوړم.

زماپه خیال درحمان بابا حیثیت دصوفي دعزمت راز په خوږي اوله خوږي ډکی شاعري کې دخدای اودهغه دمخلوق سره دبی انتهامینی اومحبت په اظهارکې دي اودا (خدای اودهغه مخلوق سره محبت) دتصوف داسې اصول دي چې مذهب سره په مکمل مطابقت کې دی اود ډیری پاکیزه گی اوعزمت له کبله یې په حقه اومغبولیت موندلي دی. که چیری مونږ درحمان بابا په کلام کې داسې اشعارپیداکړو چې په هغوکې دتصوف دڅیری دځینودعلمي اونظری اړخونوجلوی اوپلوشي هم شته نومونږگوروچې دغه اړخونه کوم دی اوله ټولولومبي به په دې سلسله کې درحمان بابا په کلام کې دوحدت الوجود اووحدت الشهود دعقیدولټون دی؛ چې مونږ به دلته ځینې نمونې راواخلو:

(۱)

په دویې که به ورنه شی ترتوحیده

که پیشواکړی مهترخزر مهتر الیاس

(۲)

چې داهسی لوی میلمه ته کورته بیایې

اول غولي پاکیزه کړه له خاشاکه

(۳)

په دویې که به ورنه شی ترتوحیده

څوضمیردی خالی نشي له اشراکه

(۴)

دعاشق خاطرله غیره پاکیزه وی

ددریاب په مخ کې نوی نجاست

(۵)

هرچې دی سیواله خدایه

واړه وګڼه نابود

(٦)

هسی نه چې واحدی یې ده له عجزه

په واحد وجود بسیاردي رب زما

(۷)

دازمادیارجلوه ده چې لیده شي

لکه لمرپه صومعه په صومنات

(۸)

چې مې ستادجمال عکس دي لیدلي په خپل روح کې

په دادآینی په ځیرهیران دي زما روح

(۹)

رحمان حسن دیاروینم په پرده کې

نه پټیږی نوردحسن په فانوس

ړومبی شپږشعرونه په وحدت الوجود پورې اړه لري اودری نور په وحدت الشهود.

ښاغلی امیر حمزه شینواری په ۱۹۵۲ کال (دحمان بابا تصوف) په ۵۲ مخ کې لیکي (چې رحمان بابا هم دوحدت الوجود قایل ښکاري اوددې نظریې اظهار په جزباتی اواعتقادي رنګ کې نه بلکې په استدلالی ترڅ کې کوي لکه چې وایې:

هسی نه چې واحدی یې ده له عجزه

په واحد ووجود بسیار دی رب زما

× × ×

شریک نه لری په خپله پادشاهي کې

بی شریکه شهریار دی رب زما

× × ×

له نیستیه یې دهستی صورت پیداکړ

هسی رنگ پوردگاردی رب زما

دوحدت الوجودعقیده یووجدانی کیفیت دی اودغه کیفیت درحمان بابا په شعرونوکې داسې څرګندیږی:

چې حاصله ددلبریگانه گی شی

ددویې خبری نه کاندي مشتاق

هسی محوه وی دعشق په می ناب کې

چې خبرنه وي په وصل په فراق

که ظاهرپه صورت وي په معنانه وي

که کښلي دلالفظ وی اوراق

داسې نظریات دخوشحال خان په افکاروکې هم پیداکولای شو لکه چې وایې:

څوک په لوری دکعبی زی په هی هی

څوک دوری لره چلیږی په جی جی

عاشقان یې صدهزار یومعشوقه

په هرلوری ورپسی دی په پی پی

زه خوشحال چې دوحدت په میومست شوم

وایم داچې کـــــاوس کله وو کی کی

درحمان بابا وروستی بیتونه دحقیقی محبوب په هستي شاهدی ورکوي دغه خیال رحمان بابا په شعرکې داسې بیانوي:

معرفت دخدای څرګند دی په هرڅه کې

سترګی وخره چې داهومره نظیرنه کا

خوشحال خان لاندې بیت هم د ډېرتفکر وړدی اوپه حقیقت کې دتغزل اوتفکر، محبت اوحکمت دخزانودولت یې رااخیستی دی اونغاړلی دی اوپه یوبیت کې وایې:

په هرڅه کې ننداره دهغه مخ کړم

چې له ډېری پیدایې یې ناپدید شه...

اودرحمان بابا داساده له حکمته اوموعزته ډک روح روح پرور اوایمان افروز شعرونه هم ولولي:

نه یې څوک په سترګووینی نه لیدی شی

اوبی چونه بی چګونه نمایان دی

که څوګ وایژ لیده نشی لیده نشی

اوکه وایې وهرچاوته عیان دی

منزه دی له جملووجحتونو

اوبیاهرجحت په ده باندې ودان دي

پاس مضمون په حقیقت کې دقرآن شریف تعلیم دي دفقیه وو هم پکې اختلاف نشته.

په هرحال درحمان بابا دبحث لاندې دااشعاردتصوف اصلي اوحقیقی رنګ لري چې خصوصیت یې دکیف اوانتهایې محویت په عالم خدای پاک سره عشق اومحبت اودهغه اظهارکول دی.

## ۷ – ۲ – ۱ رحمان بابا او د صوفیت مسلک

یادونه: دغه مقاله د ارواښاد لکه کتاب " علمي فکر" ۲۰۰۳م کال ۲۲۰ـ ۳۲مخونه پورې خپره شوې مقاله، چې

د رحمان بابا تصوفي نظريو ته يې خاصه پاملرنه کړې ده او دا يې څرګنده کړې چې د تصوف له کومې ظريفې سره تړاونه لري دلته راوړم.

" حضرت رحمان بابا په ادبي حلقو کې د يو صوفي شاعر په نامه يادېږي، خو زما د مطالعې تر مخه د رحمان بابا متعلق هېڅ يو ليک تر نظره داسې نه دی تېر شوي، چې حضرت رحمان بابا د صوفيت د مسلک سره تړون لرلو، ځکه چې صوفيا او کرا هم د صوفيت په مختلفو مسلکونه کې تقسيم دی او بل دا خبره هم قابل غوره ده چې رحمان بابا لومړي صوفي شاعر ويلي دي او په کوم بنيادی دي صوفي ثابت کړی دی، دا داسې سوالونه دي چې انسان فکر او سوچ کولو مجبوروي او صوفيت د پراخې او ژورې فلسفې په رڼا کې د حضرت رحمان بابا د کلام د څېړلو ذمه واري ور په غاړه کوي له دې نه اګاهو چې د رحمان بابا د کلام جاک واخيستی شي، نو پّ کار ده چې د تصوف په برخه کې هم مختصر ذکر وشي.

الله تعالی چې څه په ځمکه او آسمانونو کې پيدا کړي دي نو دغه ټول د انسان لپاره دي، چې انسان په خپل ژوند کې د ژوندانه لپاره فائيده واخلي خو د انسان د ژوند مقصد او مدعا داده چې دی به د الله تعالی د ښودل شويو اصولو مطابق عبادت، رياضيت کوي، چې قرب الي يې نصيب شي تصوف د عبادت، رياضت له پاره خپل اصول مقرر کړي دي، چې هغه به د يوه مرشد، راهبر په ذريعه په مخصوص انداز کې د هغه د هداياتو مطابق کولای شي؛ خو علمای کرام ددې په ضد خپل دلايل پيش کوي، د سوچ و ږخبره خو د اده چې د دواړو ډلې د خپلې عقيدو او خيالاتو تر مخه د قران کريم او حديث نبوي ص په رڼا کې اظهار کوي چې په دواړو ډلو کې ډېرې لوړې او قابل اخترام هستۍ شاملې دي.

د تصوف دا موضوع ډېره حساسه ځکه ده چې اسلامي نړۍ کې يې د يو مسلک مقام موندلي دي نو په دې سلسله کې په کار دی چې د قرانکريم او حديث نوبي ص د ارشاداتو په رڼا کې وڅېړلی شي او دا جوته شي چې د تصوف توري د کوم ځای نه اخذ شوي دي او ددې په هکله د محققينو او صوفيايي کرامو څه رايي ده، دا خبره په ليکونو کې راغلې ده چې تر دې وخته پورې په دې لا هېڅوک نه دي متفق شوي، چې دې تورې اصل ماخذ څه دي، هر څوک يې خپله خپله تشريح د خپلو معلوماتو او پوهې په مناسب کوي يعنې وايي چې دا لفظ د يوناني ژبې دي، چې علقمندۍ او هوښيارتيا ته وايي او ورسره زياتوي چې دا د فلسفي يو توري دي. څوک وايي چې صوفي" صفا" نه اخيستی شوی دی، يعنې داسې انسان چې په پاکيزګۍ قائل وي، بله تشريح يې داسې شوې ده چې صوفي لفظ د اهل " صفه" نه مشق دی چې په عربي دونکا چې ته وايي يعنې هغه دونکاچه چې د مسجد نبوي ص سره خواکې وه او رسول کريم ص په برې خپل ملګرو سره ناست وو او د دين اسلام تعليم به يې ورکولو او اردو قاموس صوفي هغه چاته وايي چې د وړۍ غټې جامې اغوندي، اوس دا خبره

ځېرل غواړي چې صوفيايي کرام په خپله څه تشريح کوي.

حضرت ذوالنون مصري رحمة الله عليه وايي:" صوفي هغه چاته وايي چې هغه هر څه پرېښودي وي او صرف الله تعالی يې اخيستی وي".

۲ـ حضرت ابوبکر جريري رح صوفي هغه هغه ته وايي چې په هغه کې اخلاق حسنه وي او له هر قسمه خرابۍ نه پاک وي.

۳ـ د حسن بن منصور حلاج رح په نزد صوفي هغه مخلوق دی چې هغه څوک نه خوښوي او نه هغه څوک خوښ کړي.

۴ـ حضرت ابوالحسن نوري رح فرمايي چې تصوف رسوماتو او د علومو نوم دی بلکې دا د اخلاقو نوم دی.

۵ـ په حضرت معروف کرخي رح وايي چې د تصوف معنی د حقايقو حاصلول او د مخلوق نه يکسر روګرداني ده ددې ذکر شويي تعريفونه به تاسو ته اندازه شوې وي چې هر صوفي يې تعريف د خپلو افکارو په رڼا کې کړی دی.

د صوفيت په هکله د محققنو او متشرمينو رايي هم مختلف دي اسلامي تصوف يعنې حضرت يې د عسايت نه متاسر ګڼي او بعضې يې د بدهمنت نه دون کريمه په خيال اسلامي تصوف د عسيايت نه مستعار دی او دليل يې د پيش کړی دی چې عيسايي راهب او د مسلمان صوفي کړه وړه کې ډېر مماثلث دی د نکلسون رايي داده چې د مسلمانانو صوفيانو د مراقبې او تسبيح استعمال د بدمت نه دزه کړی دی او د فنا نظريه يې د هندو فلسفې نه اخذ کړې ده.

د فنا فلسفه او د هندومت د " نراوانا ـ نروان" نظر يې په خپلو کې سره تړلې ښکاري پّ کار ده چې له دې سره تاريخي شواهد هم په نظر کې وساتلی شي.

تاريخ دانان وايي چې د تصوف ابتداء د يونان نه شوې ده او ددې سر خپل او مخکښ بې افلاطون ښوولی دی او خبره په مخښې بيايي چې د فلسفه عقل پسندي او ددې پر ضد باطنيت يعنې د دواړو نظر يو ابتدايي په يوه زمانه کې د يونان څخه شوې ده؛ د عقليت پسندي سر خپل د يما قريطس او ايبقورس ښي او د باطنيت آغاز د فيثاغورث سره تړي. ددې دواړو فلاسفرانو نه وروسته افلاطون دا دواړه فلسفې په ځپلو کې مربوط کوي او د نو افلاطونيت فلسفه ترې جوړېږي.

په اسلامي نړۍ کې چې د ټولو نه اول د صوفي نوم د کوم انسان نومول شوي دی د هغه نوم ابوهاشم عثمان

(رح) بن شریک وو او دوی د (رملې) سره نږدې په کال (۱۴۰هـ) کې ړومبۍ خانقا هم جوړه کړې وه، حضرت ابوهاشم (رح) په اصل کې د کوفې اوسېدونکی وو، دی په کال (۱٦۰هـ) کې چې (۷۷۷) م کال سره سمون خوري له دې فاني نړۍ څخه رحلت کړی دی.

له هغه پس په اسلامي نړۍ کې صوفیت او خانقائیت باقاعده رواج وموند، تصوف درې نبیادي نظریې لري:

۱ـ حلول

۲ـ وحدت الوجود

۳ـ وحدت الشهود

د حلول د نظریې سر خېل حسین بن منصور حلاج دی، چې د اناالحق نعره په وښکلو پرې د ټولو نه لومړی فقهي عالم ابن داود اصفهاني د کفر فتوی لګولې وه. هر کله چې ابو منصور د دوی له فتوا څخه خبر شو؛ نو له ملکه لاړ، خو د دوی شاګرد ابن بشریي ګرفتار کړ او اته کاله مسلسل د بغداد په جیلخانو کې بندي وو او له خوشي کېدو نه وروسته ابن منصور د خپل مشن جاري ساتلو په وجه بیا په کال (۹۲۲ع) کې ورته عباسي خلیفه المقتدر باالله په بغداد کې پانسې ورکړه او دغسې د حلول نظریه زیاته خوره نه شوه.

د حلول د نظریا صول داوو چې د تحلیق کائنات نه اګاهو خدای په خپل ذات کې پټ وو، هغه چې خپل ځان ظاهرول وغوښتل؛ نو آدم علیه السلام یې پیدا کړ او دغسې خدای لاهوت او آدم ع ناسوت کې حلول شو، خدای او انسان یو شو،

د حلول له نظریې څخه وروسته د وحدت الوجود نظریه دینا ته راغله، دغه نظریه حضرت شیخ اکبر محی الدین رح بن عربي وړاندې کړې ده چې په عامو لفظونو کې یې تشریح داسې کېږي.

په کائناتو کې هېڅ یو څیز خپل وجود نه لري، څه چې یې نظر کې راځي دغه ټول خدای دی یعنې خدای هر څېژ دی او هر څیز خدای دی د دوی ددې نظریې ته پّ فارسي ژبه کې همه اوست او پښتو کې ( ټول دی دی) وایي.

حضرت شیخ البر محی الدین (رح) بن عربي د (۱۱٦۵هـ) کال د جولالی په (۲۸) نېټه په قرسیه کې پیدا شوی وو او د عرب مشهورې طی قبیلې سره یې تعلق درلود، نوموړی په (۱۱۷۳هـ) کې اشبیلیه ته لاړ چې هغه مهال هغه ځای د علم او ادب مرکز وو، هغه تر دیرشو کلونو پورې د علم حصول کې مشغول و، د علم له حصول څخه وروسته بیت المقدس، مکه مغظمی، بغداد، لرې مشرق ایشیایي کوچک کې وګرځېدو او له هغه را وروسته یې

په دمشق کې سکوت اختیار کړ او هماغلته بیا په (۱۲۴۰هـ) کال کې وفات شو.

د وحدت الوجود له نظریې وروسته د وحدت الشهود نظریه حضرت شیخ علاوالدین صمداني (رح) چې په (۷۳٦هـ) کې وفاتش وی دی وضع کړې ده او بیا په هندو پاک کې ورته مجدد الف شاني امام رباني حضرت شیخ احمد سرهندي ( رح) رواج ورکړی دی، دوی په (۱۵۲۴هـ) کې په سرهند کې پیدا شوی دی او د ۱٦٦۴هـ) د ډسمبر په لسمه وفات شوی دی ددې نظریې په برخه کې یې ډېر رسالې لیکلي دي چې د " همه اوست پر ځای یې د همه از اوست " نظریه یا دا چې کائینات خو پّ خپله خدای نه دي خو ظل[1] یعنې سیوری یې دی.

د تاریخ څخه ثابته ده چې په هندو پاک کې د ټولونه اول صوفي دیوان چلولی (رح) مشایخ تېر شوی دی چې په هندومت نه مسلمان شوي دي او د راچپوتو د ډهوډي قوم سره یې تعلق درلود په کال (۳۱۳هجري ق) کې یې له دې دنیا رحلت کړی دی. د ابوهاشم او ابراهیم بن ادهم وو، په باقاعده ډول په هندوپاک کې له دوی نه د تصوف سلسله شروع شوې ده.

په دویم دور کې د کشف المحجوب مصنف حضرت شیخ علي بن عثمان هجویري دلته تشریف وړی دی او د تصوف دا سلسله جاري ساتلې ده، دوی کشف المحجوب کتاب د تصوف په آخري لسکو کتابونو کې شمېرل کېږي په هندوپاک کې د تصوف سلسله یو ډېرو برخو کې ویستلې شوې ده چې په کې نقشبندیه، چشتیه او قادریه سلسلې ډېرې مشهورې دي.

نقشبندیه سلسله د حضرت خواجه باقي باالله مجددالف ثاني او د هغه د لمسي حضرت شیخ عبدالاحد سرهندي المعروف په شاګل سره تعلق لري.

چشتیه سلسله د خواجه معین الدین چشتي حضرت حسن سنجري او د حضرت سلیم چشتي سره علاقه لري.

قادریه طریقه حضرت شاه نعمت الله قادري او حضرت مخدوم ګیلاني رایج کړې ده دغسې نظامیه د حضرت نظام الدین اولیاء سره مسنوبه ده

صابریه د حضرت مخدوم علاالدین صابر سره...

شطاریه د حضرت محمد غوث ګوالباري سره....

---

[1]- ظمل، سیوري ته وایي.

سهروديه د حضرت بهاوالدين زکريا ملتاني سره منسوب ده له پورته بحث نه به تاسو ته جوته شوې وي چې تصوف په څومره ډول او برخو تبقسيم شوی دی او هره ډله يا سلسله خپل ځانته اصول لري يوه له بلې سره مطابقت نه لري که د صوفيت په نظريو د قران کريم په رڼا کې غور وکړی شي نو په خپله به ظاهره شي چې د قرآن له  تعليماتو سره تر کومه حده سمون خوري.

الله تعلی واحد اولا شريک دی هغه د کل کائينات خالق، مالک او حاکم دی او نور هر څه دهغه مخلوق او محکوم دی؛ په قرانکريم کې راغلي دي له ما في السموات والارض ژباړه: څه چې په آسمان او ځّکه کې دي د الله ج دی بل ځای قران کې راغلي دي، واليه ميراث السموات والارض. ژباړه: ځمکې او آسمانونه مالک دی.

له يو طرف ته الله ج هر څه خالق او مالک دی له يو بل طرف ته چې ځمکه  او او آسمانونه کې دی هغه ټول يې د انسان تابع گرځولي دي.

الم تران الله سخرلکم ما فی السموات و مافی الارض و سمع عليکم نعمة ظاهره وباطنة.

ژباړه: ولې تاسو ته دا خبره معلومه نه ده چې الله تول خبرونه ستاسو تابع گرځولی دی څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، هغه تاسو ته خپل پټ او ښ:اره نعمتونه درکړي دي د رحمان بابا د کلام له مطالعې نه دا ثابتېږي چې هغه د سنت الجماعت د عقيدې سره تړو درلود.

په قران کريم پوه او ښه عالم انسان و، دلته د هغوی د کتاب د حمد نه يو څو شعرونه د نمونې په توگه رانقل کولی شم:

هم صانع دی د جمله د مصنوعانو

هم سامع د هر گفتار دی رب زما

هر نعمير چې د دنيا او عقبی دی

د همه واړو معمار دی رب زما

شريک نه لري په خپله پآدشاهی کې

بې شريکه شهريار دی رب زما

ددې شعرونو څخه جوتېږي چې د رحمان بابا عقيده، مسلک د اسلامي تعليماتو او نظريې عين مطابق وو او د تصوف د يوې ډلې سره تعلق نه ښکاره وي په دې برخه کې دا شعر هم قابل غور دی.

بې له حدایه هر چې دي واړه فاني دي

که لذت دی، که زینت  په دا دنیا

مخکې لیکلي شوي دي چې نه یم پوه چې په لومړي وار رحمان بابا ته چا د صوفي شاعر نسبت ورکړی دی د هغوی د افکارو او تعلیماتو څخه خو دا خبره څرګندېږي چې هغه صوفي شاعر نه، بلکې متقي شاعر وو او متقي شاعر ورته ویل پکار هم دي ځکه چې دا لفظ قراني هم دی او د اسلامي نظري مطابق هم قرانکریم د متقي په هکله په وضاحت سره بیان کوي.

" ذلک الکتاب الریب فیه هدی المتقین، الذین یو منون بما انزل الیک و ما انزل من قبلیک و بالاخبره هم یوقنون، اولیک علی هدمن ربهم و اولیک هم المفلحون. ژباړه: دا هغاه کتاب دی چې شک نشته په دې کې، هدای کوونکي دی متقیانو ته، متقیان هغه څوک دي، چې یقین ساتي په غیب باندې او قائموي، صلوة لره او کوم مال چې موږ دوی ته ورکړی دی، څه برخه له هغه باندې کوم \چې موږ تاته نازل کړي دي، اې رسوله او کوم چې له تا څخه مخک ېنازل دی او په ورځ د آخر باندې یقین ساتي، پس دغه خلک د هدایت دي له طرفه د رب خپل ته او فلاج موندونکی دي.

په دې آیت کریمه کې پوره وضاحت وشو چې متقي څه دي؟ او څوک دی او د متقي او د متقي له پاره څه کول په کار دي، که چېرې پّ لفظ تقوی غور وشي، نو دې یو لفظ د ټول قران د احکامو، عباداتو او کائیناتو احاطه کړې ده او د دنیا ټولو اوسېدونکو ته دا دا خبره کوي په سوره بقره کې راځي.

یاایها لناس عبدواربکم الذیی خلقکم والذین من قبلکم لعلکم تتقون.[1] سوره بقره ژباړه: اې خلکو تابعداري کوی د خپل رب، د هغه ذات چې تاسو یې پیدا کړې یاست او هغه خلک یې هم پیدا کړي دي کو مچې له تاسې نه مخکې وو، ښاپېري چې تاسو خپل ځان د خپل رب له سرا نه بچ کړی( یعنې د الله تعلی د ښودل شویو احکامو تابعداري وکړئ)

کله چې موږ د پښتو ادب مطالعه کوو؛ نو په هغه کې هم موږ ته د صوفي او صوفیت په باب خبرې مخې ته راځي خو دغه خبرې لا تر اوسه په تنقیدي او تحقیقي نظریه نه دي څېړل شوي چې اخر د پښتو ادب دا صوفیت له کومه ځایه راغلی دی؟ خوښ چې چا څه ویلي دي موږ یې تقلید شروع کړی دی له ډېرو متقدمینو څخه علاوه حضرت رحمان بابا نن په نړۍ کې په صوفي شاعر دی او څوک چې قلم پورته کوي نور رحمان بابا ته صوفي شاعر وایي.

---

[1]- قرآن کریم: سوره بقره

دې کې شک نشته چې حضرت رحمان بابا يو نيک انسان او ستر عالم دين تېر شوی دی او د دوی په کلام کې د اسلامي تعليماتو تر مخه نيکي لوري ته بلنې دي، دوی د ژوند يو اړخ هم نه پرېښودلی چې پّ هغه کې يې څه ويلي نه وي، خو د خانقائيت آثاريي په شعرونو کې نه بريښي او د عيسی د مسلکي صوفيت له ژونده مبراښکاري البته دې قران کريم د تعليماتو پّ رڼا کې يو متقي شاعر دی او متقي شاعر په دې دليل ورته ويل په کار دی چې دا د قران ښودلی شوی لفظ دی چې معنا يې پرهيزګاري ده او د قرانکريم ټول احکام او قوانين هم له دې لفظ نه چورلي.

بل پياوړي د کوزې پښتخوا ليکوال خېړونکي استاد ژورناليست او د لوړ نامه خاوند چې د رحمان بابا په برخه کې زه مقاله اميل درې مياشتې مجلې، ۲۰۱۴م کال څخه راخلم، هغه د پروفيسور اباسين يوسفزي دی.

نوموړی د بابا په برخه کې ډېرې ډېرې او کوټې خېړنې له دې مخکې په مختلفو رسينو، مجلو، کتابونو، مقالو او کړی خو موږ دده يوه مقاله د اميل مجالې څخه را اخلو او دا مقاله " د رحمان بابا غزل يو تا ثر تر سر ليک لاندې ده؛ راوړم چې پوره پوره له قوت او معنويت څخه ډکه ده.

**۷ – ۲- ۲رحمان بابا وجودي صوفي و که شهودي؟**

لکه څنګه چې کامل صاحب داړو د لفظونو اختلاف کښلی دی او بيا ورسره حمزه اختلاف څرګند کړی دی او په دې درې واړو کې ډاکټر راج ولی شاه خټک خپله رايه ښکاره کړې ده او د دوو مشهورو اوراښاد نظريو او د هغې د خانقاوو او مبليغينو ( شيخ اکبر محی الدين الغربي او حضرت مجدد الف ثاني په سندونو او حوالو يېپه ډېره ښه طريقه بحث کړی دی او واضع کړی يې ده چې رحمان بابا خپله شاعرۍ کې د تصوف د کومې لارې لاروی دی؛ نو هغه لار د داسې دوراهۍ نه شروع کېږي چې په وحدت الوجود ختمېږي او بله په وحدت الشهود؛ خو زه وايم چې رحمان بابا عقلي صوفي و چې په دې چې هغه دا ټولې ننداري په غړېدلو سترګو کړې دي نه په پټو سترګو که څه هم ده دا خبره کړې ده چې:

گنج د دُورو ځار نشته د عاشق تر ځاځکي اوښکو

نه خروار عقل نه د عشق يوه دانه

نو دا شاعرانه خيال هم کېدای شي چې هماغه رنګ عاشقانو شاعرانو د شعق له په عقل ترجيع ورکړ پده د يادولو وړ ده چې دا بيت د رحمان بابا د هماغه غزل دی چې د مطلعې نه تر دوو مقطو پورې يې په کې داسې رندانه خيالات پيش کړې دي:

ډېر عمر مې تېر کړېې هوده په زمانه

نور دې زما سروي او ترکو استانه

هېڅ مې حاصل نه شوه، په شیخۍ او تقوی کې

پس له دې مې وار دی، هر چې شي په میخانه

شیخ او شیخۍ ورد و وظیفه او ذکر فکر

زه او ساقي جام و باده چنگ و ترانه

زه و زاهدانو تر حیران یم و ماته

دیوانه به ده میخند ده به دیوانه

شیخ د یار له لاسه په مرۍ د عاشقانو

هسې لذت که لکه د میو پیمانه

خدای لره به ورشم په سود ادیار له مخه

بل مقصد مې نشته په کعبه په بت خانه

زه له دېرې مینې په تش بوی د یار شیدا شوم

تل د لحدو ختو لړ اوبه وي بهانه

زهدکا زاهد که د یوه جنت د پاره

سر ښندلی نشي په وربل د جانانه

گوره د منصور ه سې په دار نشي رحمانه

مه کړه دا د عشق خبرې ډېرې مستانه

بله نښانه د عاشقۍ نشته رحمانه

بې نام و نښانه شه که یې غواړې نښانه

که څه هم پورتنیو بیتونو کې داسې څه خبره نشته چې له هغو دې مور دې نتیجې ته ورسېږو چجې دا هر څه رحمان بابا په هماغه حالت کې وئیلي دي چې منصور پرې په دار شوی و واو دا بیت د مقطع، خویي ښخي زما

د خیال او رایې مرسته کوي چې:

عقل د رحمان یې په جفا سره مسلوب[1] کړ

مه کړه مه کړه مه کړه هسې بده یارانه

په دې لړ کې کوم معشوق ده چې د رحمان بابا عقل یې سلب کړی دی او هغه یې په دې نصیحت کولو مجبور کړی دی چې څوک دې دا رنګي بده یارانه نه کوي؛ خو آخر کې به زه هم دواړو ته ووایم چې د خوشحال خان د خپل پوره هوش او حواس سره د سر سترګو سره دا وینا کوله چې:

په هر لوري نو بهار دی غوړولی

سترګې و خوړد چې به دا ننداره نه کا

نو رحمان بابا هم د خپل پوره عقل سره دا وینا کړې ده چې:

معرفت د خدای څرګند دی په هر څه کې

سترګې وخوره چې څوک هومره نظر نه کا

+++

[1]- مسلوب

**۷ – ۲ - ۳ رحمان بابا عقلي صوفي:**

د رحمان بابا د درانه شخصیت دومره ګڼ اړخونه دي چې له هغو ځینې د هغه تجربه، مشاهده، تأثر او د ژوندانه په شرحه، توضع او تفسیر کې یو خاص نوع تنوع او رنګارنګي پیدا شوې ده چې اکثره یې خپل لوستونکي په حسرت کې اچولي دي هغه د حسن پرستار دي او مجازي او تصوفي کیفیتونو ځینې خط او مسرت اخیستو پورې لیاقت او استعداد لري د خوشحاۍ دا لټون د هغه ذهن روښانوي؛ خو د زوال پذر ښایست لیدو سره د لا زواله ښایست په لور په داسې انداز ګریز کوي چې مشاهده کې یې ډېرو سطحو سره انتها یې ژور تیا هم موندلې شی.

هغه یو عقلي صوفي دی او مذهب سره ژور علاقه لري، د هغه ایمان مظبوط دی او له تاسو سره هېڅ کار نه لري، خو د خپل ذات او شخصیت د فنا کولو قائل نه دی؛ ځکه چې د هغه په نزد سترګه ور د کامل انسان د ښکلي نامي سزا وار دی او هغه د رسمونو رواجونو قائل هم نه دی، اګر که سما جي یا مذهبي امورو سره تعلق لري، هغه د کائنات په تصور کې د تحسیر له پړاوه تېرېږي او د فهم و فراست په منزل قدم ایښودل خپل حق ګڼي تر څو چې بې شانه د ژوندانه څخه تراخه نه وي موجود د هغه له کلامه داسې بریښي چې د ژوند د ډېرو غمونو او ستونزو سره مخ شوی دی او دې سلسله کې یې ښې ډېرې تجربې شوې دي او ځکه ورته داسې محسوسېږي چې غم د انسان بنیادي تاثر دی او غمونه د هغه ذاتي دي که د عام ولس اجتماعي یا په افاقي حدودو محدود کړي د هغه د طنز په وړاندې له ماتې سره مجبورېږي او دهغه همت او حوصله نشي پایمالولی.

د رحمان بابا انځورګري د هغه په تمام شاعرۍ کې یو خاص مقام لري د هغه استعماري که اول اول عجیبه غوندې محسوسېږي، خو ورو ورو په کې حُسن، رنګیني، عنابي، ندرت او تخیلي خلاقیت پیدا کېږي؛ خکه چې هغه خپله شاعرۍ کې ډېر ډېء صنعتونه هم را ځای کړي دي او نویو مضامینو ته یې لاره اواره کړې ده هغه دخ پلو خیالاتو او د ژوند د تجربو اظهار نه حرف په ډېرو زړه راښکونکو الفاظو او واضع انداز کوي، بلکې داسې بریښي چې د هغه دور او تهذب په کې پوره په اب و تاب جلوه ګر دی.

د رحمان بابا په فکر د وحدت الوجود نظر یې ته جوت اهمیت حاصل دی او ددې عقیدې بنیاد دادی چې دا کائنات نه غیر ځان له وجود نه لري وجود صرف یو دی، دا موجود چې کله تشخصاتو او تعیناتو په صروت کې جلوه ګري کوي نو د ممکناتو اقسام او مدارج زیږوي، د حقیقي وجود او کائناتو تر منځه د ذات او صفات نسبت دی؛ چونګه صفات عین ذات دی ددې لپاره کائنات د حق تعالی نه په فرق نه دي، اصلي حقیقت هماغه اګائی ده چې د موجوداتو او کسرت ساتنه په کې پټه ده، موجودات د وجود مطابق سوري دي، د وحدت الوجود او

وحدت الشهود تر منځ فرق اصلي نه دی، بلکې محض فرعي دی، اخري تجربه کې دواړه يو دي او د فطري غورځنګ او حباب حقيقت له دې سېوا بل څه نه دی چې صرف وجود د بحر خارجي ظهر دی.

که مې اصل د حياتو د اوبو دی

بيا خو دا چې د اوبو په سر حباب يم

د حيات ابتدأ او انتها د خدای ج په ذات کې کېږي؛ ځکه نو د مادي ژوند په يقين که شک نشته، د مخلوق تصور چونګی د خدای په تخليق تصوير کې موجود او مضمر دی، ځکه نو هسې بذات معنا نه لري، حيات په واقع کې د ورومبی سرچينې څخه د بېلتانه دويمه نامه ده او دې هستی زموږ د مطلق وجود تر ميانه فاصله پيدا کړې ده.

د رحمان بابا په زړه او ذهن کې د وحدت الوجود نظريه دومره قوي او صحيح ده چې ځينې وخت د مشاهدې او کشف او الهام په ضوروت هم شک کوي، وحدت کې پوخ يقين، ايمان دو علم د عالم او معلوم تر منځه قوتونه ختموي هر کله چې د هر چيز حقيقت يو دی او ټول څيزونه د يوه ذات مظهر دی نو بيا عقل فکر پوهه او عرفان د حق په مختلفو منزلوونو کې څنګه يقين ولري، د هماغه سالک لپاره چې فنافي الذات شي، د معرفت د لارې مدارج او مراتب څه لوی اهميت نه لري، د عالم جروت نه د عالم لاهوت لاره د حسرت له ورشو تېرېږي او دلته د مراح حسرت او استغراق عالم د ذوق د عرفان غمازي کوي:

و هر چاته چې يې وايم حيرانېږم

څه به وايم د رحمان له حيرانی

د وحدت الوجود د عقيدې اصل روح او اخري عاقبت د نفس تزکيه او د باطن تصفيه ده، رحمان بابا دا لاره خپل عملي ژوند کې نه و خپله کړې؛ نو بيا دا عقيده د هغه په ذهن کې څنګه جوړه شوه؟ آيا دا محض د روايت پرستی نتنجه وه؟ ددې سوالونو حرف او طرف دا ځواب کېدای شي که [برې داسې و نو بيا د هغو ساده انشاء دومره رنګينه نه وه او د هغه په شاعرانه اظهار کې به دومره زور او رابنکون نه وو.

په دوی کې به ورنه شي تر توحيده

څو ضمير دې خالي نشي له اشرکه

دا هم واړه حجاب دي چې ليده شي

نور د حسن بالاتر دی له افلاکه

د بل مهم سبب دادی چې ددې فلسفې منونکو او ددې عقیدې لروکو په نزد خدای ج تور یا حُسن دی او ځکه یې ادراک هم د محسوساتو په دنیا کې لیدلی شید افلاطوني نظریې په موجب انساني روح د عظیم روح پر شعر دی. د عظیم روح ته چې کله منظور شوه چې خپل صورت مشاهده کړي؛ نو کائینات وجود کې راغله او د ما سیوا اظهار وشه ده حُسن مطلق خود بیني لره کائینات یوه په لاس کې ورکوي ددې لپاره عالم مبدا حسن دی او حسن د اظهار غوښتنه کوي؛ ځکه نو دنیا له علامه د وجود په پرده ځنګېدلل هم لاندې وو.

د رحمان بابا زړه او دماغ چونګه د حُسن له احساسه سرشار وو او هغه د کائینات د تخلیق د جواز لپاهر د یوه ما بعدالطبعاتی بنیاد په لټون کې و او دا خبره قیاس ته نږدې ده چې د حقیقت داسې نظریه چې د کائینات د نرګارنګیو او ګڼ شمېر مطاهرو توحید ازلي حسن سینګار د دایمي جذبې په رڼا کې وکړي، هغه لره ډېر زړه راښکون لري.

نور د شمعې په فانوس کله پټېږي

تا چې وا غوستې د خیال جامې نرۍ

نور د شعمې په فانوس کله پټېږي

عشق د عقل په پرده کې نمایان دی

په دې کې شک نشته چې رحمان بابا د وحدت الوجود د فلسفیانه حقایقو د لټون کامیابه هڅه کړې وي لکه چې د دیوان ډېری برخې د اشعارونه یې څرګنده ده خو دې سلسله کې چې هغه څومره وینا هم کړې ده هغه د یوې نه یوې زوایې نه په انسان او انانې ژوند باندې د پوهې په شعو رکې ضرور معاونیت کوي ځکه چې د هغه په نزد انسان عظیم او عظیمت یې مسلم دی، دا دنیا ژوند او کل کائینات د انسان دی او د یوه انسان لپاره دی، که انسان نه وي نو ددې هر څه هېڅ حیثیت نشته او که هر څه موړ ته د انسان نه بېل ګورو؛ نو حقیقت باقي نه پاتې کېږي، د رحمان بابا تصوف د انسان او انسانیت د ذهني او روحاني تهذیب د پاره د عمل یوه لاره ده هغه په دې تهذیب ایمان لري او انساني ارتقاع کې د هغه په نزد دېر زیات اهمیت دی.

واړه د خپل ځان په نظر ګوره که دانایي

اې عبدالرحمانه جهان درست عبدالرحمان دی

د رحمان بابا د شاعرۍ بنیادي موضوع، انسان د هغه جهالت دی، هغه د ژوند حقیقتونو ته د یوه صوفي په

سترگو گوري او د يوه مجاهد له زړه يې محسوسوي د هغه د تصوف بنياد عشق رسول دي چې د انسانيت او مجهوليت برعکس د فعاليت او مجاهدۍ درس ورکوي او همدا سبب دی چې د هغه په ټوله شاعرۍ کې د ژوند او غوښتنو نه يو مثال هم نشي موندلی، گويا گويا د تصوف او شعر څخه با قاعده يوه مجاهده جوړه کړې وه.[1]

**توحيد:**

د رحمان بابا ايمان دی؛ خو دا توحيد د خدای ج په ذات پورې محدود نه دی او دې سلسله کې د وحدت الوجود ټول اړخونه پيش کوي، ولې توحيد يې فقط مابعدالطبعاني نه وي بلکې انسان د ځينو قيلا او حدودو پابند کول دي چې ددې حدونو پّ قيددو کې هم انسان د هسې مهذب کېدای شي، دا خيال در حمان بابا په شاعرۍ کې ډېر څرگند دی او په اظهار کې يې يو متفکرانه انداز او فلسفيانه آهنگ دی خو د رحمان بابا لويې په دې کې ده چې خپل خيالات او د ژوند څخه بېل کړي نه دي؛ ځکه چې فکر يې ما ورايي نه دی نوعيت يې انساني دی او هغه د انساني ژوند انفرادي او اجتماعي دواړو خواوو سره تعلق لري او همدا وجه ده چې د رحمان بابا په ديوان کې د ا نساني نفسياتو ترجمانی سره سره له اجتماعي نقطه نظره او د ژوند او ټولنې معاملات نماينده گې جوړوي. که د رحمان بابا د زمانې ټوليز ژوند معاملات ډېر په واضحو الفاظو نه دي بيان کړي( او ځينې ځايونو کې له وضاحت سره بيان چې د هېڅ ابهام گنجايش په کې نه محسوسېږي) او د اظهار پيرايه کې يې ډېر زيات د مزيت انسانيت او اثاريت څخه کار اخيستی دی؛ خو کوم شنونکي چې لږ غوندې هم معاشي او معاشرتي شعور لري او د غزل د مزاج نه لږ غوندې واقعيت هم لري هغه يې په ديوان کې د اجتماعي مسايلو او معاملاتو ښه طرحه او اندازه لگولی شي، ظاره ده چې رحمان بابا د غزل په مخصوصو پردو، اشارو او کنايو يو شان چې د معنويت د روح کوم اصلي جوهر دی؛ هغه جوت ليده شي.

رحمان بابا د ژوند شاعر دی چې د مرگ په تمانچه د خولې د ماتېدو او دنيا د بې ثباتۍ جزه کوي نو داسې بريښي چې هغه د ژوند نه بېخي مايوسه دی خو هغه چې خپل چاپيريال انتهای مايوس کونکو حالاتو گوري نو هم د حالاتو نه خاپونه کېږي بلکې اولس دې ته لمسوي او هڅوي چې له نويو حالاتو سره مطابقت پيدا کړي او دا هر څه پرې د ژوند د قدرونو خيال کوي او په دې هر څه انسان مجبور وي، دلته هم د هغه په شاعرۍ کې يو بډېر دروند او قوي تفکر معلومېږي چې د خيال نوعيت يې د انسان او دايمي قدرونو ترجمان دی او هم دې کې د رحمان بابا عظمت او انفراديت دی.

" د رحمان بابا عظمت او انفراديت هر ځای خپل شان او رنگ قائم ساتي دهغه تخيل هر ځای آسمان وي او

---

[1]- رحمان پوهنه

دهغه بیا هر ځان سمندر وي او د رحمان د فن کمال دادی چې هغه د فن سمندر، اسمان پسې چېرته هم ټوپونه نه وهي. د هغه د تخیل آسمان د هغه د بیان سمندر ته په خپله راکوزېږي او ددې نتیجه کې چې کوم شعر جوړ شي په هغه باندې د عام او خاص دواړو زړونه سیرابېږي".

دا هم څه پټه پناه خبره نه ده چې رحمان بابا د اخلاقیاتو د یو مبلغ په توګه څرګندېږي او د هغه د انسانیت د رفعتونو شاعر دی خو په ظاهره خپل وړوکی غونډې دیوان کې هغه څه نه دي ویلي او کومه نغمه ده چې د ژوندانه د سازونو په پردو په ریا کارو شیخانو، زاهدانو او پیرانو ټکونه، د صوفیانو او سالکانو مسلکونه، د کج روفلک، ستمونه او له هغه ځینې شکوې، شکایتونه د خپلې شاعرۍ د احساس برترۍ رفعتونه، مې، میخانه، ساقي، خمونه او د پیمانو دروند،د ژ،ند او مرګ شوخ او زیږ ریښتنی رنګونه او د ژوند د قسما قسم تماشو نندارې، زنګونه او دا هر څه که د هغه د دروند شاعرۍ خاصیتونه وو او هر څو که دا لامې ګودرې، نوروشاعرانو هم کچ کړي او معلوماتي کړي وي؛ خو رحمان بابا هم پّ غړېدلو او خلاصو سترګو را تېر شوی دی او په دغه لاره کې که هغه له هر څومره یا ما له مظامین او موضوعات هم په لاس ورغلي دي ولې دغه لاس د پوه داسې درویش، ملنګ او قلندر لاسونه وو، چې خاورې یې هم زرکولې شوې او خپل فن په قدرت یې زړکړې هم دي.

چې یې زړ کړه زیړخار زما د خاورو

عاشقي نه وه په باب زما کیمیا شوه

ددې مستندې او کوټلې وینا سره چې:

دا هنر نه دی چې خاورې څو سره زر کا

چې زر خاورې کا رحمانه هنر دادی

د رحمان بابا شاعرۍ له نورو موضوعاتو سربیره، یوه په زړه پورې موضوع د حُسن و عشق هم ده چې د روماني شاعرۍ په روایت کې یې په نویو شکلونو او رنګونو کې د خپل مین زړه او پاک مینه ناک ذهن په زوره ډېره ښایسته او رنګینه شاعري کړې ده، هغه شان تنوع، جدیت، طرازي او نکته افریني په کې په نظر راخي څنګه چې یې د دیوان د نورو موضوعاتو خصوصیات دي مثلاً سادګي مضمون آفریني او تصوف د رحمان بابا خپل غزل کې درواېتي عاشق، مجنون نه تره مرواناي پورې او د روایتي معشوق، لیلي نه تر شمعې پورې، د خپل شعر مزاج مطابق راوړي دي او په معاینو کې یې د خپل شعر د مزاج مطابق راوړي دي او په معاینو کې یې د خپل فلسفیانه فکر او صوفیانه نقطه نظر له رویه نیرنګۍ پیدا کړې دي او که د عشق نوي نوي عمارتونه یې بنیاد کړی دی؛ نو خپل غزل ته یې هم د میرزاخان انصاري او خوشحال خان پّ روایت کې مقبولیت او دوام ورکړی

دی، بلکې د هغه غزل که مسلسل دی او که غیر مسلسل په هر لحاظ د هر دواړو نه پاک، صاف، سپېڅلی او منزه دی؛ ځکه چې ددغو دواړو کلاسیک شعر او په نسبت د رحمان بابا په کلام کې زیات وسعت، شدت، فصاحت، او بلاغت دی؛ خو دا فرق د درچې دی او د خپلې مخصوصې لهجې دی، د کیفیت نه، دلته موږ د حُسن او عشق داسې وینو لکه روح او وجود چې یو شوي وي او دا روښانه حقیقت دی ، چېر ته چې حسن وي هلته به عشق وي او چېرته چې عشق وي هلته به حسن تر سترګو کېږي.

حسن واړه د عاشق په عشق موقوف دی

معشوقه که فرشته وي که پېری

دا دستور دی چې له درده زګروي څېژي

ګنه څه وو د رحمانه له شاعری

درد او زګروی که څو لازم او ملزوم دي؛ خو ددې یګانګی با وجود هم حُسن او عشق کې څه نا څه فرق ضرور محسوسېږي، حسن یو خارجي حقیقت دی، یو داسې څېز دی چې موږ یې د دهن په بېل او مستقل وجود کې لرو او عشق ددې خارجي حقیقت سره زموږ د ذهن تعلق دی چې عموماً د یوه خواهش په رنګ کې پیدا کېږي او له عشقه زموږ د شخصیت انکاس کېږي.

زما عار نه لرم په عشق کې له پیغوره

بې پروا یم د مستی په څېر له اوره

ږدي په خوله د سمندر مهر په مومو

څو چې ما منع کوي د عشق له شوره

لکه ته چې خدای هر ګوره ښایسته کړې

زه یې هم هسې بې خیره کړم هر ګوره

عاشقي سړی مجنون کا اې رحمانه

ګنه څوک به هوښیاری وځي له کوره

ددغه پوتنیو بیتونو کې د داخلي کرب؟ سره سره د خاجري درد محسوسولو هم ادراک او شور موجود دی چې

رحمان بابا پ٫ې خپل بې درکه درک معلوم کړی او بیا موندلی دی او دغه ادراک د محبوب او جانان وصال دی چې رحمان بابا ته د درو او مرجانو د ګنج نه به هېڅ صورت کم نه ښکاري:

چې وصال د خپل جانان مې دی موندلی

ګنج د درو د مرجان مې دی موندلی

دا خبره خو سر ته رسېدلی ده چې د رحمان بابا د عشق او محبت شاعري زيات سره د عشق حقيقي د ائينې روښانتيا ده او د محترم دوست محمدخان کامل مومند او اروابناد ميرحمزه شينواري څخه تر ډاکټر راولي شاه خټک پورې هاغه ټول محقيقين، ناقدين او شاعران، اديبان چې په رحمن بابا يې د خپلو زرينو خيالاتو اظهار پّ څه نا څه طريقه د کتاب يا مقالې او مضمون په صورت کې کړي دي هغوی په دې خبره يوه خوله دي چې د رحمان بابا تصوفي افکارو کې د الله تعالی رسول الله او د الله تعالی د مخلوق سره ميه درې داسې لوی او روښانه حقيقتونه دي چې انکار ترې په هېڅ صورت هم ممکن نه دی او رحمان بابا دا هر څه د خپل ويښ ذهن او بيدار احساس و خواص پيش کړي دي.

کامل صاحب د خپل کتاب " رحمان بابا" د تصوف په باب ليکلي دي چې:" زما په خيال د رحمان بابا په حيثيت د صوفي د عظمت راز په خوږې او له خوږه ډکي شاعرۍ کې د خدای او د هغه د مخلوق سره د بې انتها مينې او محبت

سره د بې انتها مينې او محبت په اظهار کې دی او دا د خدای او دهغه مخلوق سره محبت او تصوف داسې اصول دی چې مذهب سره د مکمل او د دېرې پاکيزګۍ او عظمت له امله يې په حقه سره عام مقبوليت موندلی دی؛ اګر که د مخلصانه نظر او تحقيق او تدقيق او د حقيقت په لټوه کې د زيار او کړاو له رويه خو په ضرور نور صوفيانه نظريات او عقايد هم د احترام قابل ګڼلی شي، خو هغه کسان چې ورسره اتفاق نه لري دا د حق له نقطې نظره هېڅکله د عظمت سبب او عزت مستحق نه ګڼي.

موږ که د کامل صاحب په دغه پورتنۍ وينا سوچ وکړو؛ نو دې نتيجې ته به ورسېږو چې د رحمان بابا په وينا کې د بلکې په مجازي وينا( شاعرۍ کې هم د شعور او خود اګاهۍ آسمانونه اوچتېږي په دې لړ کې موږ د خپل دورد عملي صوفي چې د طريقت دا مراحلونه هم را تېر شوي دي، امپرالمتغيرلين اميرحمزه شينواري دا خبره م پلو پورې غوټه کولای شو چې د رحمان بابا په باره کې خپل نظر داسې وړاندې کړی دی:

"موږ که د رحمان بابا له شاعرۍ څخه هغه برخه وباسو، کومه چې له تصوف سره تعلق لري؛ نو د رحمان بابا د کلام به ذکات به هم لاسته رانشي. د هغه د کلام نږدې نږدې ټول د تصوفي افکارو هنداره ده او د يو نقاد او

مبصر لپاره ددې سېوا بله لاره نشته، چې د هغه په دې اړخ د زياتې نه زياته رڼا غورزي"[1]

نه جې هوا يې خبرې يې کړي دي او چا د گوته نيولې يا لمن نيولو هڅه يې نه ده کړې او الله ورته داسې ډېر لوړ مقام او لويه مرتبه ورکړې ده ( اگر چې دا ناممکنه هم نه ده او د ځای په درې د څه کمی هم نشته) خو د رحمان بابا ددغه قسمه شاعری د گڼو گڼو مثالونو څخه دا خبره سرته رسېدلی شي چې د هغه د پيرو مرش يا شيخ ضرور وو چې تر لاس نيوي ( بيعت يې کړی دی زه دلته د رحمان بابا هغه شعرونه پش کوم او بيا د کامل صاحب د کتاب نه ويه د سند په طور را اخلم؛ دده شعر په لاندې ډول دی:

هم پيد اخلم، هم پند وايم و هر چاته

زه د ځينو يم مريد د ځينو پير يم

چې سبا رامانوي پند د پيرانو

ولي نن د پير طلب نه کړي بې پيره

بې ريباره رسېدل و يار ته گران دي

په کوښه مهربانو رهبر بويه

په هر کار چې د صاحب د زړه رضا شي

په بنده که ناروا وي هم روا شي

محترم کامل صاحب خپل کتاب ( رحمان بابا) کې د تصوف کې مرشد تر عنوانه ليکلی دی:

" لکه چې د هر علم او فن د زړه کړی لپاره استاد، د هغې د علم و فن، د ما هر ضرورت وي او دغسې د تصوف د علم او د سلوک د مُنازلو د طی کولو او دهغو د مجاهدانو لپاره هم چې په دې لاره کې لازمي دي د يو کامل سړی ضروروت دی چې د تصوف په صطلاح کې ورته شيخ، پير او مرشد والي او سالک باندې لازم دي چې په هر قدم او هر گام او په هر مرحله کې د هغه د حکم تعميل او دهغه هداياتو عمل کوي"

د استاد کال پّ دې لړ کې د خواجه حافظ او ميرزاخان انصاري ځينې بيتونه راخلي چې زه به يې د ميزا بيت راواخلم:

---

[1]- ماخذ: ح، ط: مخونه

هسې بې بها حاصل د ياره

د کامل د پښتني تکي د طالب سر شه

دلته د خواجه حافظ او انصاري يادابښت د کامل صاحب له کتاب څخه واخيستل شي؟؟؟

همېشه دې زما سر او ستا قدم وي

تر هغه ساعته پورې څو مې دم وي

**۷ – ۳ رحمان بابا او عشق:**

دلته به دهغه له اشعاروداسې نمونی وړاندې کړو چې دمعنا اودبيان داندازله رويه تصوف اودصوفيانه شاعري رواياتو سره سم وي:

(۱)

ځودی عشق په ميخانه يې داخل نه کړم

پوخته نه دی دغه عقل خام زما

(۲)

په مستانوکې دعقل ښبتن غل دي

که په نورو خلکوخاص يې دلته عام شه

(۳)

پوخته کله دی چې لاف دپخته گی کا

پوخته گان دی په دی خم کې خام دستا

(۴)

عشق عاشق لره يوهسی پيراستاد دی

څوگ به نه وی بل داهسی پيراستاد

(۵)

دغه واړه کرامت دعاشقي دی

چې څوګ غوث کاندی څوک قطب څوک اوتاد

(٦)

ګنج دعقل ځارشه دعاشق ترڅاڅکی اوښکی

نه خروار دعقل نه دعشق یوه دانه

(٧)

هغه زړه چې خدای روښان کاجام دجم شي

په داجام کې ورښکاره تمام عالم شي

(٨)

لاس دعقل وآسمان ته نه رسیږی

داخوعشق دی چې فعرش کورسی قدم ږدی

(٩)

چې په یوقدم ترعرشه پورې رسی

مالیدلی دی رفتار ددرویشانو

(١٠)

که له ځمکی ووآسمان ته خاته ګران دی

داسفرپه یوه ګام دی داخلاص

(١١)

چې خبرکامخلصان له علم غیبه

داهمه واړه الهام دي داخلاص

(۱۲)

چې خبرکامخلصان له علم غیبه

داهمه واړه الهام دی داخلاص

(۱۳)

که نورخلک قدمونه ږدی په ځمکه

مادی ایښي په آسمان قدم دزړه

(۱۴)

قدته دی څوک نشی رسیدي له بلندیه

ولی چې معراج ووته خاته دپیغمردی

(۱۵)

که په ځآن باندی قدم کیږدی رحمانه

نوفلک به دی دلاندې ترقدم شی

(۱٦)

داهمه واړه حجاب دی چې لیده شي

نوردحسن والاتر دي له ادراکه

(۱۷)

رحمان حسن دیاروینم په پرده کې

نه پټیږی نوردشمعی په فانوس

(۱۸)

داحجاب چې نورعالم یې حجاب بولی

دازمادیارترمیانه حجاب نه دی

لنډه داچې رحمان بابا دعشق اندازله ښکلا ډک دی هغه دیومسلمان اوخومن په توګه وایې چې:

(۱)

یونفس دخدای په یاد اولاتردی

نه ددرست جهان دولت په دادنیا

(۲)

که نعمت دی په طاعت اوعبادت دی

ګنه نشته بل نعمت په دادنیا

(۳)

که یوځله سردخدای دپاره ټیټ کړی

په قیامت به سربلندشي

(۴)

ای رحمانه که څه کاردی خوددین دی

نورکارونه بی وفادی بی اساس

(۵)

حیوانات هم په تسبیح دحق مشغول دی

ته انسان یې له حیوانه بدترمشه

درحمان بابا کلام هره برخه له ښکلاډکه ده وایې چې:

مراد له زهده معرفت دی

نه ترځان وژل عقربه (عقرب د ورورپه معنی)

پروفیسور محمد افضل رضا درحمن بابا مکمل دیوان ۲۰۰۰ کال پیښور محلی جنګی

**پروفیسورحاجی محمد افضل رضا**

درحمان بابا په دیوان مکمله سیزه لیکلی چې ځینی مهم ټکی به یې دلته راواخلواودده له نظره به درحمان باباصوفی توب په کوتوکړو:

**سریزه:**

**درحمان بابا دژوندمختصر حالات**

افضل رضا دپټی خزانی په قول لیکی چې رحمان باباپه (۱۰۴۲ هـ ق) دپیښورپه شابهادر کلی کې عبدالرستارمومندکره زیږیدلی وو. خپل کلی کې له ابتدایي تعلیم نه پس دهغه زماني دلوی مذهبی عالم مولانامحمدیوسف نه دتصوف ، دفقی اواصول کتابونه ولوستل اووبیاکوهات ته لاړ اوهلته یې نور علوم زده کړل. ولی خپل عشقیه مزاج نورځه ته پری نښود ډیرژریې دخدای په مینه ددنیاله چارونه ځان څنګ ته کړاودعشق په رموزیې په پښتو بیانول شروع کړل.»

**یادونه:**

افضل رضا لیکی زمونږددغه سترشاعردپیداکیدو دتاریخ اووفات په برخه کې اختلافات دی داسترصوفی شاعر تر (۱۱۲۸هـ ق ) پوری ژوندی وو مزاریې دپیښور په هزارخانه کې دي په مزاریې هرکال درنی مشاعری کیږی.

ښاغلی قلندر مومندپه خپل تحقیق کې درحمان بابا پیداکیدل اوکال (۱۰۸۱) بولی اوپه (۱۱٦۳) کې د (۸۲) کلوپه عمردنوموړی وفات ښیې.

ښاغلی سید تقویم الحق دبابادپیدایش کال (۱۰٦۴) ښوولي اودی دحمان پوهنی په حواله ویلی.

ښاغلي استادحبیبی په خپل کتاب پښتانه شعرا اول ټوک (۱۳۸) مخ کې لیکلی ((دمعلوموشوورواېتونواودرحمان بابا دکلام نه دااندازه لګیږی چې رحمان بابا (۱۰۵۰) تر (۱۱۲۰) پورې وو.

پروفیسورافضل رضا درحمان بابا په شاعري مختلفواړخونوته اشاره کوي چې زه به یې دلته مختصری برخې راواخلم:

## ۷ – ۴ د رحمان بابا د کلام او پیغام ځینې پټ اړخونه

و هر چاته په خپل شکل ځرګندېږم

آئينې غوندې بې رويه او بې ريا يم

د رحمان بابا د تحقيق په لړ کې تر اوسه پورې د هغه په تصوف، حُسن و عشق مجازي او حقيقي مينې، ملنګي، درويشۍ اخلاقياتو، پند او نصيحت د ژوند او مرګ په فلسفه، اسلوب، ديوان دور په سيالي حالاتو او نورو موضوعاتو باندې ډېرې زياتې خبرې وشوې، په دې ونجه دلته د رحمان بابا د کلام او پيغام[1] او د فکرو فن ځينې داسې اړخونه څرګدونې وشوې چې تر اوسه چا ورته توه نه دې کړې.[2]

دغه شان دا هر پواړ چې د بابا د شعر د اخليت او جارجيبت مظهر دی، د بېلې بېلې تحقيقي مقالې موضوع ګرځېدلی شي، د رحمان بابا د مطالعې په آوان کې د په کلام کې د ساقي نامې ځينې نمونې هم پّ ګوتو راځي؛ په ايراني شاعرۍ کې ساقي نامه يو جدا صنف دی خو په پښتو ادب کې په لومړي ځل ساقي نامه د نهمې صدۍ هجري مشهور شاعر زرغون خان نور زي وئيلې ده دا يو ملمکه ساقي نامه ده په دې برخه کې محمد نواز صابر يوه مقاله ليکلې ده.

" د پښتو تر ټولو لومړی ساقي نامه په نهمه صدۍ کې شاعر زرغون خان نوروزي ويلې ده، زرغون خان د پښتو ژبې شاعر و او او په خپل کتاب غرغښت نامه کې يې دا مثنوي رانقل کړې ده، د پټې خزانې د مؤلف ددغه کتاب په حواله په خپل کتاب کې محفوظ کړه، د زرغون خان نوروزي د ذکر شوې ساقي نامې شعرونه دادي:

ساقي پاڅه پياله  راکړه

مرور يار را پخلا کړه

اوبه تويې په لمبو کړه

اور مې مړی په ډې اوبو کړه

سرلی شوغونچه ګل کا

زلفې تاوې د سنبل کا

دا روايت لا تر اوسه پښتو ادب کې موجود دی، د غزل او رباعي څخه علاوه ساقي نامه په مثنوي طالب کې هم موندلی شو، چې د حُسن و عشق او رومان کيسې په کې بيانولی شي. د استانګو شاعرانو په خپلو مثنويانو کې

---

[1]- زرغون خان نوروزی ـ مثنوي ـ ساقي نامه ، درويستي ـ پنده ـ فلسفه ـ اسلوب ـ حُسن و عشق ـ پيغام.
[2]- راز، مسلم، ۲۰۰۵م، رحمان پوهنه( دريېم ټوک) پېښور: خيبربازار وحدت پرنټر.

د سین د منظر بدلولو په وخت کې ساقي نامه وئیلې ده.

دا شان موږ دا موضوع او صنف د خوشحال خان او رحمان بابا په رندانه شاعرۍ کې هم وینو، لکه چې معلومه ده رحمان بابا یو باعمله او صاحب حال صوفي وو، هغه د فارسي او عربي دروایتي او هندي تصوف نه بې نیازه و، هر څوکه هغه مستقله ساقي نامه نه ده وئیلي خو په خپلو غزلو کې ددې ځینې نمونې وړاندې کړې دي ځکه هغه نه خو مثنوي لیکلي ده او نه داستان گویي کړې ده دلته دا خبره هم ده چې بې هوشۍ او بې خودۍ په ځای هوش او خودي[1] زېږوي، د فارسي ژبې مشهورو د رحمان بابا اشعار هم د هغې آئینه دار دی ددې غزل یې چې د ساقي نامې یو د ښکلې نمونه وړاندې کوي یو څو شعرونه په دې ډول دي:

ساقي پورته شه د میو جام یتار کړه

عمر هېڅ معطلي نه لري تلوار کړه

کم غم خوار غواړي په غم او په اندوه کې

سینه ډکه د شر او اختیار کړه

موسیقي هم چې د ساقي نامې یو مهم جز دی خینې صوفیانو د مسلک یوه مهمه برخه ده رحمان بابا هم په موسیقۍ مین دی.

رحمان بابا ساقي نامه ددې مطالعې نه شروع کېږي.

د ساقي په لاس کې د میو ناب دی

مطرب اېښی په زاو باندې رباب[2] دی

د رحمان بابا د کلام بل مهم اړخ " خودکلامي" ځان ته مخاطبه یا ځان سره خبرې کول دي چې انگریزي ورته (solio – qug) وایي د تمثیل یا ډارمې یوه مهمه اصطلاح ده او یو داسې راماني تکنیک دی چې ځینې وخت یو کردار د کیس وړاندې بوتللو لپاره طریقه ده، دا شان د تمثیل او ډارمې په تتبع کې شاعرانو او لیکوالانو هم د اسلوب دا تکنیک خپل کړی دی دا حقیقت دی چې د رحمان بابا د اخلاقیاتو، پندو او نصحیت ددیني او شرعي مسائلو د اظهار د پاره د اسلوب دا طرز ډېر مؤثره دی؛ ځکه چې اخلاقیات یوه خوشکه موضوع ده پندو

---

[1]- سنبل - پخلا - تاوي - پټه خزانه مؤلف - روایت - می - عرفان او معرفت مي - هوش - خودي
[2]- موسیقي - مطرب - رباب

نصحیت او واعظ اکثر په خلکو بد لګي خو دې طرز دې موضوع ته ډېر خوند او رنګ وربښلی دی لکه رحمان بابا چې وایي:

اې رحمانه اول ته نصحیت واخله

دغه پسه بیا ویل ته نصیحت کړ

او دلته د اورنګزیب عالمګیر په قصیده کې خبل ځان ته داسې مخاطب کېږي:

دا خو ته یې زما نفسه

چې دی زه کړم کوروکر

هغه تور وېښته دې څه شو

چې هم مشک و هم عنبر

تر پنجاو پنجه تېر شوې

ته لا ځان بولې پسر

د خود کلامی دا طرز او اسلوب ډېر ځله د رحمان بابا د غزل په مقطعو کې ډېر زیات موندل کېږي لکه:

دواړه نه کېږي رحمانه

یا به یار شي یا بېزار

+++

چې منکر پرې اعتراض کولای نشي

دا د شعر دی رحمانه که اعجاز

چې د مرګ خواري په خوله لري رحمانه

لا پخوا تر دغه دمه ولې نه مرم

++++

راشه عاشقي مه کړه رحمانه او که نه وي

تل به په اورناست یې که پادشاه یې د جهان

+++

اې رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه

دغه ښه به په صتف د ګل اندام شه

د رحمان بابا بل مهم اړخ چې ما د خپل بحث لپاره غوره کړی دی هغه دده روماني شاعري ده.

یورپ کې د روماني شاعرۍ (romanticism) با قاعده آغاز نولسمه پېړۍ کې شوی او دهغه روماني تحریک نه شوي دی چې سر خپل یې د انګریزي ادب عظیم شاعران ( ویلیم ورډ زوریټ او کالرج وو) هر څوکه د سپاړلسمې او اووه لسمې عیسوي صدۍ په شاعرۍ کې هم ددغه آثار په هغه شعوري توګه محسوسېدلی شي خو بل پلو پښتو ادب کې د روماني شاعرې کړه وړه وړاندې په نظر راځي د خوشحال خان او رحمان بابا شارعي د دا ډول شاعرۍ خلانه مثال دی لکه چې څرګنده ده د رحمان بابا د شعر لمن ډېره پراخه ده ځکه یې دې کې د روماني شاعرۍ بې شمېره توکي په ډېر هنرمندۍ او کاریګرۍ ځای کړي دي اخلاقیات، تصوف، حقیقت نګاري، فطرت نګاري، حروف عشق او افاقیت د شعري محاسبو استعمال، د خپل ماحول، خواشه او معاشرې عکاسي، د شعر سادګي، رواني روماني او فطرت نګاري او خوږوالي او داسې نور لکه چې معلومه ده دې واړو د رحمان شاعرۍ ته یو ډېر پوخ او شوخ روحاني رنګ ورکړی دی.

اخلاقیت دروماني شاعري یو مهم توکی دی او زموږ د اسلامي معاشرې یو مهم ضرورت او خاصیت دی، د رحمان الله د اخلاقي تعلیم په لړ کې ډاکټر اقبال نیسم خټک لیکلي:

" د هغه د خلاقیاتو شاعر دی، د هغه شاعري د بشردوستۍ شاعري ده د هغه د شاعري خورې ورې پرزې که یوې بلې پسې به ترتیب ولګولې شي، نو یوې ښکلې اسلامي معاشرې ته تشکیل ورکوي په داسې معاشره کې به حرف هغه فرد ته د اوسېدو حق حاصل وي چې د سپېڅلو اخلاقو خاوند وي، د رحمان بابا دا مشهور شعر به دې لړکې د وړاندې کولو جوګه دی:

نیک کردار دی، نیک عمل هم نیک خویونه

هم جنت دی، هم راحت په دا دنیا

تصوف د روحاني شاعرۍ یو بل مهم توکی او رحمان بابا شاعرۍ روح دی، شعریعت او طریقت دواړه په یو بل اډانه دي، حقیقت دی چې د رحمان بابا شخصیت د اسلامي تصوف علمي نمونه ده او دهغه صوفیانه اشعار

ددې يو جوت ثبوت دی؛ لکه:

ښکته بدر راښکاره شو پورته لمر

کښته پورته واړه مخ دی د دلبر

چې پايان يې هېڅ سړی موندلی نه وي

معرفت يې هسې بحر بې پايان دی

انسان همېشه د خپلو مختلفو خواسو په ذريعه د دنيا د مادي او فطري ځېزونو نه خوند اخلي احساس او ادراک يې کوي، د فطرت پرست هروماني شاعران عموماً د فطرت د مختلفو مظاهرو لکه ګلونو، ونو، بوټو او ميوونه د اخواس څخه د شترګو غږونو، پزې، خولې او لاس په ذريعه خوند اخلي، د رحمان بابا شعر هم ددې صفت او نصيحت آئينه  دار دی لکه:

سره ګلونه د چمن رانه سور اور شي

چې قدم بې ياره کېږدم په يو شان کې

زه د يارو مخې ته ګورم يارو و ماته

چې داخل په تماشا شوم تماشا شوم

يو ساقي بل يار، دريېيم مطرب يو ځای شو

زړه مې له ګوګله په شتاب راځخه يوړو

د رحمان بابا روماني شاعري يو لوی صفت د مقاميت سره سره آدميت هم دی پوهان وايي چې د روماني شاعرۍ يو لوی صفت داهم چې دې کې کتل تر تله د پاتې کېدو جوهر او صلاحيت وي چې د وخت تېرېدو سره نور هم ځلنده او روڼ شي.

د رحمان بابا طنزيه شاعري هم دده د کلام او پيغام يو جوت اړخ دی د هغه د صوفيانه مکتب او مسلک يو مهم خاصيت د ديني شرعي او لوسي ادارو په هغه مشرانو طنز دی، چې خپل منصب او مسلک يې د حرض، لالح او دولت ذريعه ګرځولې ده او دا شان د خپلو عظيمو مذهبي او معاشرتي ادارو تقدس او حرمت يې د پښتو لاندې کړی دی.

هغه چې په ځېله معاشره کې یا د معاشرې په مختلفو وګړو کې څه کمزوري او خامي لیدلي دي هغه یې بې ،برې او ترهې په ډاګه کړې دي که پّ دې هلکه د هغه مخې ته هر څوک راغلي دي، که هغه د پاچا دی که ګدا، امیر دی، که غریب، عالم دی، که جاهل، ملا دی، که معلم، چې دا شان د هغوی اصلاح وشي، نور ترې عبرت واخلي او په دې ډول د بدو او غلطو لارو چارو مخه ونیولی شي، دا رحمان بابا د یو عظیم معلوم اخلاقي څېز د اخلاقي تعلیم یوه برخه ده دا شان د هغه په طنز کې د کرکې او نفرت په ځای د خلاص، صداقت، همدردۍ او مینې خواږه ګډ دي، هغه د انسان د کردار تمیر کول اغواړي، انسان د غفلت له خوبه پاڅول غواړي، د هغه انسان ته د انسانیت نمونه جوړول غواړي، ددې طنز ابتدأ هم له ځانه کوي:

چې ویل ته نصیحت کا ځان ته هېر وي

نور څوک نه دي هغه ته عبدالرحمان یې

+++

هله به سړی شي چې دې نوم عبدالرحمان شي

اوس سړی پد پښi څه یې که دې لوستی زیرو زور دی

د رحمان بابا په خپله معاشره کې چې د ټول ډېر بد اېسي، هغه بې عمله ریاکاره غرضي، په کردار او ګفتار کې تضاد لرونکي زاهدان، ملایان او شیخان دي، لکه چې وایي:

رنګ ریزان دې اول خپله ږیرې رنګ کا

بیا هغه دي و رحمان ته پند

د ریا له زاهدۍ زما توبه ده

چې یې کاندي څوک په رسم و په عادات

علمیت د بې عمله عالمانو

لکه ګنج د کتابونو په خره بار شه

افضل رضا د رحمان بابا د طنز په شاعرۍ په لړ کې وایي:

" د پښتو ژبې د عالمګیر د طنز نه د مغلو عالمګیر هم ځان نه شو ژغورلای بې تاجه پاچا رحمان بابا چې له خپل ځان سره د جهان پّ هر بنده کې د کردار څه کمی هم محسوس کړی دی؛ نو په چارې ورباندې طنز

کړې دی، هغه د مغل پاچا اورنګزیب په هکله د هغه په مرثیه کې د صاف ګو انسان په څېر د هغه د کردار ساتنې سره سره د هغه په کمزوریو طنز کړې دی؛ لکه:

اورنګ زیب هم یو فقیر و

چې ټوپۍ یې وه په سر

و پوپۍ وته یې شاکړه

چې قادر شه په افسر

خوی یې هومره فقري وه

چې چه نه وو میسر

چې فلک یې یاري وکړه

نو دې ملک کړ مسخر

ګوره څه چارې به وکړي

په عیال د خپل پدر

وار په وار یې تر تېغ تېر کړل

د خورم تمام ټبر

یو ټبر د خورم څه وو؟

ډېر عالم یې کړو ډېر

تمامي جهان یې ونغړد

چې یې لاس و باندې بر

په فریب فریب یې خپل کړل

بیچاپور او بهاسنګر

رحمان بابا چې په خپل کلام کې شرعي او اخلاقي نظام وضع کړی دی، دا ډېر زیات مؤثر دی، ده چې د

اخلاقياتو کوم امداد د شريعيت د نهې عن المنکر په رڼا کې مور ته وړاندې کړی دی، که دا په صحيحه توګه خپل کړای شو، نو د يوې ښکلې او سپېڅلې اسلامي معاشرې او د يو اوچت اسلامي نظام د تشکيل او تنظيم د پاره به لاره هواره شي، دلته د رحمان بابا د هر اړخيز کلام پّ رڼا کې ځينې مهم اړخونه رابرسيره شول په حقيقت کې د هغه د کلام د شاعرۍ نور ډېر داسې اړخونه هم شته چې د پوهان د پاره د بحث وړ کېدای شي، بايد د رحمان بابا د فکر و شخصيت په برخه کې نورې پلټنې هم وشي.

د رحمان شعر به ولې نادر نه وي

چې شنأ کاندې د تا غوندې نادري[1]

**۷ – ۵ د رحمان بابا په کلام کې د انسانيت ابلاغ**

د قران پاک په رڼا کې په دې ځمکه دوه اساسي مخلوقات راغلی دي چې د عقل او شعور خاوندان دي او په خپله اداره او د خپل محدود اختيار په دايره کې ښه او بد کارونه کولای شي، پّ دې يو مخلوق جن دی او بل انسان، د جن دور[2] تېر شوی دی او دا روان دور د انسان دی، انسانيت د انسان اسم صفت دی او په دې کې د انسان هغه اعلی اقدار راځي چې د قدرت له خوا انسان ته ورکړی شوي دي، انسان پرې مشرف دی اوددې ځمکې نور مخلوق ترې محروم دی، دې کائيناتو کې د انسان ذکر ټولونه اول هغه وخت راغلو چې خالق کائيناتو د فرشتو ته وفرمايل:" او چې و فرمايل ستا رب فرښته ته، چې زه په دې خمکه خليفه پيدا کول غواړم، فرښتو عرض وکړ، چې آيا تاسو په خمکه يو داسې مخلوق پيدا کول غواړئ چې هغه به په ځمکه فساد خوروي او وينه به تويوي او موږ تسبيح وايو، ستا تعريف کوو او پاتې تالره ده"[3]

انسانيت د اسلام اسم صفت دی او په دې کې د انسان هغه ټول اعلی اقدار او کردار راځي چې د قدرت له څو انسانانو ته ورکړل شوي وي.

الله تعالی و فرمايل: "ماته هغه څه معلوم دي چې تاسو پرې خبر نه ياست" له دې وروسته د کائيناتو رب د آدم تخليق وکړ او په دې ډول ږومی انسان وجود راغل. د انسان تخليق په هکله خالق جنيات فرمايي:" په تحقيق موږ انسان پيدا کړلو له ډېر ښه جوړښت سره، بيا هغه وګرځاوه موږ د لاندې نه لاندې درجې ته، سېوا له هغه خلکو چې ايمان يې راوړی او ښه اعمالو سره يې ژوند تېر کړ؛ نو د هغوی لپاره نه ختمېدونکي اجر دی".

---

[1]- داورخان داور؛ ۲۵ ـ ۳۴)

[2]- عقل ا و شعور ـ جن ـ دور

[3]- داور، داورخان، ۲۰۰۵م، رحمان پوهنه، پېښور، وحدت پرنټر

دې آیایت مباکر نه موږ ته د انسان د تخلیق مقصد هم ښ:اره شو او د انسان هغه اعلی اقتدار هم زموږ مخې ته راغلل چې د انسانیت په نوم یادېږي په دې کې اول اېمانا دی او ورپسې نیک اعمال دي، اېډان په توحید او رسالت  او په هر هغه څیز چې د رب العزت له خوا پّ هغو د اېمان راوړلو حکم دی. نیک اعمال د رب کائینات د احکامو تعمیل ته وايي، په دې کې عبارت هم راځي او معاملات هم یعنې حقوق الله او حقوق العباد دواړه پوره کول ، حقوق العباد هم د الله د حقوقو یوه برخه ده، ځکه چې دا هم د الله د حکم تعمیل دی دلته که موږ لږ تفصیل ته لاړ شو، نو عبادت، خدمت، سخاوت، شچاعت، غیرت، مینه، ایثار، اخلاق، خاکساري، حیا، وفارداري، دمظلوم مرسته، د ظلم مخنیوی، تر خپله وسه له بل سره مرسته او د بل حاجت روائي، د ځمکې د مخ نه د شر ورکول، ساد ختمول، او د یمنې زولنې او دانصاف د فضاء جوړول دا ټول د انسان هغه اعلی اقدار دی چې د انسانیت په نوم یادېږي او دا ژوند پرې ښکلا مومي.

خو نن موږ گورو چې دا ځمکه د شر او فساد نه ډکه ده، د کفر او شرک رواج په کې زیات دي، حقدار ته خپل حق نه رسي، د مظلوم ژړا د ظالمانو د خندا په شور کې اورېدلی نه شي، د ماشومانو د ښایسته مخونونه  خندا شکرېږي، د حیاتور سپین پښو لاندې کېږي یو خ وا ته د زردارو ماڼې او محلونه نور هم اوچتېږي او بل خواته د غریبانو جونگړې تورې هم راغونډېږي، دا انصاف اوچت درونو ته د مظلوم رسېدل گران دی انسان د حرص په خونړیو پنجو کې گیر دي، قتلونه دي، ډاکې دي، عزت او غیرت په ښکاره خرڅېږي، د مینې ورورولي او اخلاص هغه یخ سیوری د خود غرضۍ په دې سور لمر کې ډېر کم په نظر نه راځي او دا هر څه د انسان له لاسه کېږي او د اسن له لاسه د دنیا دا ښایسته مخ بدرنگ لیدلی شي، خو دا انسان هغه کردار دی چې قرآن ورته د " اسفل سافلین" وایي او د بدترین عذاب جزیې ورکړې دي.

دلته د ضمیر خاوندان دا سول کولای شي چې د دهشت په دې تیارو کې د انسانیت هغه اعلی اقدار چېرته دی او انسان چې ماخذ یې انس دی د خپل فطرت نه ولې هغه باغي شوی دی نو هغهوی ته زما ځواب دا دی چې انسان په مجموعي توگه د خپل فطرت یاغي نه دی، نن هم زموږ دې معاشره کې د انسانیت بې مشېره مثالونه مخې ته راځي زموږ اسلامي اقتدار زموږ پښتني کلچر زموږ کورنۍ ژوند زموږ کلیوال ماحول او زموږ معاشرې اکثرینې کردار نن هم د انسانیت د عالي اقدار او امانت دار دی؛ خو نن مزا دا موضوع نه ده چې تاسو ته داسې مثالونه وړاندې کړم او خپله خبره پرې ثبوت ته ورسوو. نن زما موضوع ده د رحمان بابا د کلام کې انسان ابلاغ اوس زه خپل موضوع ته راگرځم او ټولو نه اول د حقوق الله په لړ کې د بابا د کلام جایزه تاسو ته وړاندې کوم.

په توحید اېمان، د خالق کائینات په مخلوق د ټولو نه لوی حق دی، بابا د خالق وحدانیت داسې بیا کړی دی:

گوره هسې گردګار دی رب زما

چې صاحب د کل اختیار دی رب زما

شریک نه لري په خپله پادشاهۍ کې

بې شریکه شهریار دی رب زما

هسې نه چې واحدي یې ده له عجزه

په واحد وجود بسیار دی رب زما

حاجت نه لري د هېچا و یارۍ ته

له هغو سره چې یار دی رب زم

هېڅ تغیر او تبدیل نه لري رحمانه

تل ترتله بر قرار دی رب زما

توحید نه پس د رسالت مقام دی، د بني کریم په ذات او اطاعت یقین د ایمان لازمي برخه ده، رحمان بابا دا حقیقت په خپل یوه شعر کې داسې را غونډ کړی دی او دنیا ته یې داخبره په ډاګه کړې ده؛ چې:

که رڼا ده پیروي د محمده

ګڼه نشته په جهان بله رڼا

کل جهان د محمد په روی پیدا شو

محمد دی د تمام جهان آبا

نور هاله د محمد و پیدا شوی

چې نه عرش و، نه کرسي وه نه سما

د معبود برحق د عبادت ذکر یې داسې کړی دی:

یو نفس د خدای په یاد واولي تر دی

نه د درست جهان دولت په دا دنیا

که نعمت دی؛ خو طاعت او عبادت دی

ګڼه نشته بل نعمت په دا دنیا

د انسان حُسن دادی چې خپل خپل ژوند هم د رب کائینات دین ته حواله کړي او نوره دنیا او نوره دنیاا هم د اسلام په سپېڅلو اوصولو روښانه کړي، دا کار د رحمان بابا په نظر کې دومره مهم دی چې نور ټول کارونه ورته بې بنیاده ښکاري او وایي چې:

اې رحمانه که څه کار دی خو ددین دی

نور کارونهه بې وفا دي بې اساس

او بل ځای یې مضمون داسې بیان کړی دی:

که محنت او مشققت دی نو د دین دی

نور کارونه بې وفا دي بې اساس

دا یو لوی او ښه مضمون دی او په دې لړ کې د بابا کلام ډېر زیات دی خو زه د اختصار په نامه خپله خبره رالنډوم او حقوق العباد ته راځم او د ټولو نه وړاندې د مینې ذکر کول غواړم، عشق چې د مینې انتهایې مقام دی، د بابا په کلام کې ډېر اهمیت لري؛ د عشق په هکله بابا وایي:

تر عشق غوره بل هېڅ کار په جهان نشته

تر همه کارونو غوره کار دی دا

بل ځای کې دعشق اهمیت داسې ښکاره کوي:

و اسمان ته لاس د عقل نه رسېږي

دا خو عشق دی چې پر عرش کې یې قدم ږدي

خو د خدای پاک سره مینه هله کېدای شي چې یو انسان بل انسان له ځان کمتر ونه ګڼي او څنګه له مخلوق چې د ځان لپاره راحت خوښوي او هېڅ ډول رحمت یې په ځان نه پیرزو کېږي، دغه حق هم بل ته ورکړی او بل ته هم د ځان په رنګ وګوري، دا خبره بابا داسې کړې ده:

لکه ځان هسې و بل و ته نظر کړه

لکه ستا دی هسې ځان دی د هرچا

او بل ځای کې یې دا مضمون داسې بیان کړی دی:

واړه د خپل ځان په نظر گوره که دانایي

اې عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمان دی

د خدای له مخلوق سره د مینې تقاضا داده چې انسان هغه کار نه ځای وساتي چې بل ته پرې ضرر رسېږي دا قانون فطرت دی، چې یو انسان بر تا حق بل ته ضرر رسول غواړي، هغه ضرر اکثر د هغه خپله جولۍ کې راپریوځي. رحمان بابا په ډېره خوږه ژبه انسان د فطرت ددې قانون ښخه جزکړی دی او د بل له آزاره یې منع کړی دی فرمايي:

کر د گلو کړه چې سیمه دې گزار شي

اغزي مه کره د په پښو کې به دې خار شي

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه

چې همدا غشي پبه ستا په لور گذار شي

کوهي مه کېنه د بل سړي په لار کې

چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

او دلته یې د وحدت آدم خومره ښکلی تصور وړاندې کړی دی، وایي:

آدام زاد په معنا واړه یو صورت دی

هر چې بل آزاروي هغه آزار شي

خو د مینې تقاضا یوازې دا نه ده چې انسان د بل انسان له آزاررولو ښخه ځان وساتي له دې حخه زیاته مهمه خبره داده چې انسان د بل انسان له خدمت کول خپل عادت وگرځوي او د بل لپاره اثار جذبه خپل زړه کې پیدا کړي ځکه چې خدمت او ایثار د انسانیت ښکلا ده او هم دې سره یو بنده د انساني عظمت او چت مقام ته رسي، د خدمت په هکله د رحمان بابا دا شعر د سروزو په اوبو د لیکلو قابل دی لکه چې وایي:

هغه زړه به له طوفانه په امان وي

چې کښتې غونډې د خلکو باربردار وي

او په دې شعر کې د بابا د ایثار څومره ښکلی مثال وړاندې کړی دی:

که د ونې په څېر ګل او میوه غواړې

ځان په لمر کړه سایه بان د هر خاکسار شه

رحمان بابا د انسان ته دا سبق هم ورکړی دی چې د هغه د خدمت که څوک مینه و نه کړي، یا یې مخالفت وکړي؛ نو هم هغه ته پکار دي چې نه ترې خفه شي او نه د خدمت څخه لاس واخلي؛ داسې نظر لري:

که بل بد کاندي ته ښه وکړه مه رنځېږه

هر یو نخل چې میوه  لري سنګسار شي

سره له دې چې دا کار آسان نه دی او بابا خپله دا مشکل په  ګوته کړی دی لکه چې وایي:

که مشکل دی خو د زړونو رغول دي

آسان کار دی سود او زیات ددې دنیا

بیاهم د بابا په نظر کې د بل زړه ساتل ډېر اهمیت لري او هغه نه غواړي چې د چا زړه ته آزار ورسي. د بابا په نظر کې د انسان د زړه مقام څومره اوچت دی، دا خبره له دې شعر څخه څرګندېږي او وایي:

د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لویه

چې اباد کړي څوک ویران حرم د زړه

ښه اخلاق او انسانیت یو ډېر لوی او مهم حق دی، په ښه اخلاق انسان له هرې بدې خوا نه محفوظ ساتل کېږي بابا دا خبره داسې کړې ده:

په خوی له بدخواهانو بې پروا یم

په نرمۍ کله اوبه د اور سزا یم

سخاوت هم د انسان په اعلی اقدارو کې ډېر اوچت مقام لري، سخي انسان الله ج هم خوښوي او بنده هم. د رحمان بابا خپل کلام کې د سخاوت مقام داسې ستایلی دی:

که یو دانه د وړي په لاس ورکړې

هم هغه به دې توښه شي د عقبی

که یو څاڅکی اوبه تږي لره ور وړې

د دوږخ او ستا تر منځ به شي دریا

د سخاوت په هکله بابا یو بل حقیقت هم په ګوته کړی دی او دا حقیقت د فکر جوګه ده، د بابا وینا ده چې:

خزانه په سخاوت سره زیاتیږي

د کوهی اوبه چې وباسي بسیار شي

کریمانو سود موندلی په زیان کې

لکه ساخ د ونې وتراشي باردار شي

**حرص:** د انسان په ژوند کې حرص یو ډېر خطرناک څیز دی، په دې کې د انسان د حلال او حرام طنیز دی، د بل حق ورته حق نه ښکاري او دولت راغونډول دهغه مرام وګرځوي، د حرص مقابله کې قناعت یو داسې څیز دی چې د انسن د قدر و قېمت پرې زیاتیږي دا یو داسې څادر دی چې انسان د ا نسانیت جام ښه بهرولو ته نه پرېږدي، رحمان بابا انسان ته د قناعت مقام داسې ښکاره کړی دی:

په نظر د هغو خاورې سره زرکېږي

هر چې نه لري نظر وسیم زر ته

په دې لړ کې بابا خپل مثال وړاندې کوي او وایي:

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی

پټ د درست جهان پادشاه ظاهر ګدا یم

هم په دې ډول خاکساري هم د کبر مقابله کې د انسان اوچت او ښکاره وصف دی او رحمان بابا هم د انسان ته درس ورکړی دی لکه چې وایي:

خاکساري د خاکسارانو مرتبه ده

که زړوکی یې خیرن وي زړه یې سپین دی

او په دې شعر کې چې بابا د خاکسارۍ نوم مقام په ګوته کړي هغه د بې ټوپې انسانیت لپاره د فکر وړ دي بابا وايي:

که په ځان باندې قدم کېږدي رحمانه

آسمانونه به دې لاندې تر قدم شي

که زه دلته د رحمان بابا هغه ټول کلام راغونډ کړم چې بابا په کې انسان ته انسانیت درس ورکړی دی؛ نو دا به موضوع اوږده شي زه خپله خبره راغونډه وم او دلته د رحمان بابا یو داسې شعر ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوم.

په هغه کې د بابا پیغام ټول عکس لیدل کېږي، بابا د انسان ته دا حقیقت په ګوته کوي چې دې دنیا ته د انسان راتګ بې مقصده نه دی دلته د انسان د یو اصول او د یوې قاعدې پابند دی او د ژوند په یو ه برخه کې هم هغه ته ددې دائره نه د بهروتلو اجازت نشته که ددې دایرې نه څوک بهر ووځي؛ نو هغه د خپل هلاکت ذمه وار هغه په خپله دی بابا په صفا وینا او ښکاره ټکو انسان ته وايي:

دلته دم او قدم دواړه په حساب دي

پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه

بل دا چې بابا وايي چې په انسان کې انسانیت هم شته او د حیوانیت خوی هم، که انسان خپل ټول ژوند د انسانیت په دایره کې تېر کړي نو انسان دی او که د انسانیت له دایرې بهر شي نو حیوان دی لکه:

په ادم کې د حیوان خویونه هم شته

بیا یې هله آدم بوله چې آدم شي[١]

**۷ – ٦ د رحمان بابا ژور فن او عالمګیر پیغام**

شاعر انسانیت حضرت عبدالرحمان مومند د پښتونخوا په افق باندې داسې یو روښانه او برښناکه ستوری دی چې ننه پورې یې ثاني نه دی پیدا شوی، رحمان بابا د خپل وخت ټولو کې قابل، لایق او فصیح اللسان شاعر وو، خپلې خاورې سره یې هېڅکله خپل تعلق نه و پرېکړی؛ د ولس د زړه دردونو دوا، مجذوبانو همسا، د نالوستو رهنما، او د لوستو پیشوا وو، په لږ موده کې ې د خپل اعجازي کلام په برکت د شهرت درز او د عظمت زوږ نه

[١]- طایزی، قمرزمان، قمر ـ ۲۰۰۵م کال، رحمان پوهنه، پېښور، یونیورستي، خیبر بازیک انجنسي ۳۹ ـ ۴۹

صرف پښتونخوا، بلکې په هند، سند، کشمیر، کابل، بخارا او نورو هېوادونو کې لکه د ځنګل د اور په شان خور شو، بیا څومره چې موده تېرېدله نو د خپل وخت دې غمي د نړۍ هېوادونه ځان ته راجلب کړل.

داسې خیال کېده چې څرمره چې انسان د ترقۍ معراج ته رسېږي، دومره به دده تعلیمات کمی مومي، ولې موږ ګورو چې چېرته قدیمه اشتراکي ټولنه وي او که غلامدا را نه ټولنه، که جاګیر داره ټولنه وي او که جدید سرمایه داری ټولنه د رحمان بابا تعلیمات په دې ټولو ټولنو کې یو شان اثر او نفوذ کړی دی.

که ولس ذهنونو ته جلا بخښي او د ظلم، خبر او نا انصافۍ او ټولنیزو ناخواریو په تحریک کې د ولس فکري ترجمانۍ کې د دیوار مشال کار کوي او د بابا بل لوړ عظمت دادی چې منکر، زاهد، عابد، صالح او ژوند نورو طبقو سره تړلي ټولو انسانانو ته دده کلام اپیل ( اعلان) کوي.

د بابا شاعرۍ د ا نګازو خپرېدو ډېر وجوهات ښودل شوي دي خو دده د کلام لویه خاصه داده چې د خپل وخت دا فصح اللسان شاعري د شعر د آوازونو نه اګاه دی او د شاعرۍ داضافونه خبر وو/دی په پښتو کې پیدا وو یعنې یو داسې قوم کې آن تر ننه پورې یې دده شاعري مطالعه نه کړه شوای، دده په کلام کې چې کوم اصفات پکار ولی شوای، د هغه مثال د عربي او فاسي، اوردو او پښتو شاعرانو په کلام په نظر کې وو، او همدغه وجه ده چې د شرق شاعرانو ورته ګوته په غاښ دي یو داسې سیمه چې ننهم ورکې د ژوند ټول یا بشتر ضرورتونه مسیر نه دی، هلته داسې یوه هستي پیدا کېږي چې په مطالعه کې خپل نظر نه لري او ساده ولی، رنګیني په زور په نړۍ حکومت کوي.

که څوک وایي چې رحمان بابا خو صوفي و؛ نو تصوف خو نور شاعرانو هم کارولی دی که څوک وایي چې جمالیاتي وو، نو جمالیات خو عبدالحمید بابا مومند او کاظم خان شیدا هم په ډېر دلنشین انداز کې بیان کړي دي، که څوک وایي چې شاعري یې رواني ده یعنې روانه ده؛ نو دا رواني خو د پښتو نورو شاعرانو په کلامونو کې هم شته، بیا داسې څه خبره ده چې رحمان بابا یې د نورو نه ممتاز او منفرد ګرځولی دی؟

خینې عالمان وایيچې دده په شاعرۍ کې داسې څه خو شته؛ چې نورو کې نشته او په دې کې شته او په دې باندې ډېر مقالې لیکل شوې دي خو تر ننهه پورې شته طلب دی؛ خو د رحمان بابا یو خادم پروفیسور (ر) ط ځان ددې ډېر ښه توصیح کوي او د مثال په ډول یو شعر وړاندې کوي، کوم چې پیغمبر ص ته منسوب دی:

حسن یوسف، دم عیسی، یدبیضا داری

آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

که شاعري په نظر کې ونیسو، ویلای شو چې نورو شاعرانو کې صرف یو یو وصف موجود دی یعنې روښاني شاعرانو کې تصوف، حمیدمومند او کاظم خان شیدا جمالیات او خوشحال خان له قوم سره مینه ولې د رحمان بابا وصف دادی چې دده په اعجاز ي کلام کې دا ټول اوصاف په ډېر ښه تناسب سره په داسې انداز کې موجود دي چې د یو بل ښکلا، ځلا او بربښنا سېوا کړي او په مجموعي لحاظ سره دده فن ته دوام ورکوي دا ټولې خو فني خبرې شوې، ایا دده کلام کې پیغام شته او کنه؟

خبره داده چې که دده پّ کلاام کې پیغام نه وي؛ نو بیا به یې د ښښتو نالوستي او نیم لوستي ټولې طبقې څنګه د خپل اثر او نفوذ لاندې راوستلی او که په پیغام کې نه وو؛ نو پښتو به ولې تاقجو کې د قرآن پاک سره د رحمان بابا دیوان اېښی.

بابا د خپل وخت یو متحرک او فعاله انسان و، په امروزه مسائلو یې ژرو نظر ساتلو، د کله هم د انسانیت د خیر ښېګڼې پلوی و، د د ظلم او استبداد بخت مخالف و، او که مظلوم د بل قوهم هم و د هغه پلوي یې کوله.

د دینا په سود و زیان د خون خرابۍ سخت مخالف او د امن، یوالي، ورورولۍ، اخوت، مینې او ښه ګاونډېتوب په لور روان رواه ویله خبره چې هغه د نورو نه ممتاز کوي، داسې ده چې اکثر خلک د خپل پروګرام پیش کولو په لړ کې د سودا بازۍ نه کار اخلي او په خپل اصول او موقف ټینګ نه پاتې کېږي. ولې د وحدت په نشې مست دا ملنګ د خپلو اصولو خپرولو په دوران کې لږ لغزش څخه هم کار نه اخلي او هېڅ قسمه سودا بازي نه کوي.

په کامل او بشپړې دیانتدارۍ سره خپل پاک او سپېڅلي پروګرام مخ په وړاندې بوتلو او خپل ژوند مقصد یې وګرځاوه انسان سره مینه کول او د انسانیت پّ لاره یون کول او پّ دې اصولو باندې هېڅ قسم سازوباز نه کول هغه اعلی او ارفع اقدار دی چې انسان د شهرت په بام خېژوي.

د بابا تعلیماتد خپلې خاورې نه الهام اخلي، د خپل سرزمین اوبو یې اوبه خور کېږي، د ګردوپیش حالات په نظر کې ساتي او د ژوند د معایلونه صرف پیش بیني کوي، بلکې د هغه د پیش بندۍ او وسایل هم په ګوته کوي او چې کله د خپل مقصد میوه په لاس راوړي؛ نو بیا کله هم انسانیت ددې میوې پّ خوند باندې آراسته کول یې لوی مقصد دی. د ظلم خلاف آواز اوچتولو کې د خپل پردې هېڅ پروان نه کوی؛ خو که ظلم مقامي سړي سره کېږي یا که غیر مقامي سره دا ظلم عام سړی کوي، یا د وخت پادشاه یې کوي، دلته د چا نه هم وېره نه کوي، بلکې امن د قیام لپاره، هر وخت متحرک او فعال ښکاري.

تصوف یې ځانقایي نه دی، بلکې د روښاني شاعرانو په شان د ژوند اړوند مسایلو کې ډوب د هغې لارې چارې لټول یې موخه ده چې په چمن کې د مقابلې او مزاحمت نه کار اخلي او په لار کې د پېښ شویو هېڅ قسمه

روکاټونو پړاونه کوي. د خپل دور د ټولنیزو مسائلو تصویر ډېر په زړه پورې انداز کې وړاندې کوي او دهغه خلکو سخت مخالفت کوي چې د خبلو ګټو لپاره د انصاف لمن پرېښودلو نه هم اجتناب نه کوي، ممکن که دا کس عام وګړي وي او که د وخت یو ملا.... بابا حق ته رجوع کوي او د خلکو لپاره د زړه سکون ګرځي. نن د تکنالوژۍ په دوره کې دده تعلیمات لا زیات شهرت مومي او دغه وجه ده چې بابا د خپل عضر نه پس د نولسمې پېړۍ تر آخره پورې که څه هم کم او زیات اتیا کسه شاعرانو پیروکار، په زرګونه مجذوبان مریدان په زرګونه رکنان فدایان او په لکونو خلک دلدار دی.

چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي

د ادې مشعر دی رحمانه که اعجاز

الهي د خپل حبیب له برکته

دا ساده انشاء رنګینه د رحمان کړې[1]

## ۷ – ۷ د عبدالرحمان بابا د شعر اروایي حالت ته یوه کتنه

شعر: د انساني افکارو، امیالو، عادتونو، پوهنو، غوښتنو او...

عاطفي اغېزمن تخلیلي اکر حالت دی چې روحي اروایي توامندي زیاتوي، ښکلا خوښوونې او پنځونې

د پنځوي او ډېر ځله انساني له اروایي پلوه اعتدال، نرم خویي، توافق او مدنیت پسندۍ ته هڅوي او دا ښيي چې انسانان یو بل ته اړ او احتیاج دي. (غر که هر څومره لوړ دی، په سر لار لري. (۱)

او له بلې خوا (ګردن نرمه شمشیر نه مجایره) څومره په زړه پورې مضمون لري.

څوره چې انسن په اجتماعي کې د ټولنې له طبعیت سره سم کار کوي، خلکو ته نږدې او غوره وي. د چا خبره (په یوه مخ پخول) یا په یوازې سر ډنګول مناسب کار نه دی، سړی له خلکو لرې کوي.

که یو چا سره مو خدای په کره ډېر بد هم کړی وي، چې پټه غاړه ورشو او ورته و دربېرو، نو هغه کس زموږ له بدو شعربېري او لار راکوي، ځکه نو عبدالرحمان بابا وایي:

---

[1]- ډاکټر میاسهیل انشاء ٦ ـ ٦۴

تیغ د اوسپنې محتاج د نرم آب دی

قرب و حلم یو پله سل دي زيات تر زور

د حضرت عبدالرحمن بابا شعر (کلام) د ګڼې او ګورې ونې د ګلانو میوه او پاڼو په څېر ښایسته رنګونه، خوندونه او ښکلاوې لري.

د شعر د اروايي حالت څېړنه یون څه ستونزو کار دی، دا ځکه چې په شعر کې د اراوپوهنې انګېزو لټول موږ ته دا فکر راکوي چې موږ لومړی اروپوهنه تعریف او تشريح کړو او بیا د هغه شخص رواني حالت وپلټو او له هغه وروسته یې په کلام کې د سایکالوجیکي نظریې او افکارو مطالعه او تر تحقیق لاندې ونیسو.

تر کوم ځایه چې د حضرت عبدالرحمن بابا د شعر په (اراوپوهنه) پورې اړه لري، هغه دا ده چې نوموړی زموږ همعصر نه دی، لازمه ده د هغه اروابښاد اراوپوهنه سایکالوجي د نوموړی له کلامه معلومه کړو:

تیغ د اوسپنې محتاج د نرم آب دی

قرب، حلم یو په سل دی زيات تر زوره

له لویي، له سرکښۍ یه مې توبه ده

خدای څوک مه کړه په آسمان په څېر نسکوره...

زموږ په دود (عُرف) کې راځي: که غر لوړ ید په سر لار لري

په فارسي ادب او فولکلور کې هم راځي: (ګردن نرمه شمشیر نمی بُره (برد)

عبدالرحمن بابا (شیان یا توکي د ستر اجتماعي مضمون په سپړلو کې وسیله ګرځوي او د ژوند اصلي مفهوم موږ ته په حکیمانه توګه تشريح کوي، له همدې امله د اروايي حالت جاج هم اخیستلای شو، وګورئ:

تیغ د اوسپنې محتاج د نرم آب دی

قرب و حلیم یو په سل دی زيات تر زوره

شاعر (تیغ) د انسان له کلک طبعیت سره تشبه کوي، یا داسې چې د اوسپنې تیغ بیا هم د دې لپاره چې قوت او قاب یې پیدا کړی وي، نرمو اوبو ته احتیاج لري او قرب و حیلم تر زور سل واره بیا وړي او کارنده رول لري.

وایي چې هر څوک دنیا د خپل دید له عینکو یا ساحې ګوري. دې ته نږدې اوزبیکي منل دي (هرکله بر خیال)

يعنې هر سر شور لري، دغه ثور د هغه انسان په الفاظو او اعمال منسجم کېږي او د شخصيت او هويت لامل يې گرځي د شخصيت د تبارز يوه بستره وسيله د انسان کلام دی، يا په بله وينا د صورت او سيرت د شخصيت د بقا تضمين کوي. د پخوانو اشخاصو د شخصيت درجه د هغه له ويناوو او افکارو معلومو او همدا د انسان د روح لويه برخه جوړوي.

د نورو پخوانو وتلو مفکرينو، هنرمندانو، دين دوستو نظروالو، عارفانو او شاعرانو په څېر د عبدالرحمن بابا د اروايي حالت اندازه د نوموړی له الفاظو يا کلام (شعر) څخه ښه معلومولای شو.

کلام يې د شخصيت[1] روښانه هنداره ده، په دغه هنداره کې نه يوازې عبدالرحمن، بلکې هر ثوک (الله پالنه، دين دوستي، د خدای له پيغمبر او عادي مخلوق سره مينه، پوهه زحمت کشي، حلاله روزي پيدا کول او کمائی کول، پند نصيحت نظري او عملي عرفان)

څه ناڅه تصوف، اخلاق، ښه کول له بدو پرهيز.

په ځان ويسايي، تواضع، د غريب او مظلوم څېره دغسې په سلگونو ټولنيز دردونه او اجتماعي روا اميالونو شنو تشريح، آن د طبعيت انځور يعنې سترگې آسمان ته د باران په لور نيول او نور موضوعگانې وينو، چې يې اروايي غوښتنې، کردار او د سلوک اندازه لگولای شو، لکه:

له لويې، له سرکشۍ مې توبه ده.

خدای څوک کړه د آسمان په څېر نسکور

شاعر آسمان سره له دې چې لوړ او اوچت هم دی، زموږ په سر قرار لري، خو بيا هم لوړوالی د الله ج لپاره زيبنده دی او اسمانم يې نسکور کړی دی.

خدای زده څه بسودا به پېښه په بازار شي

د بازار خبرې نشي په خپل کور

د عاشق سزاوار توکي د عاشق د کاميابۍ لامل گڼل، لکه:

دا همه واړه عاشق لره پيدا شول

که تهمت، که ملامت دی، که پېغور

[1]- په ټولنه کې د انسان منظم سلکو ته شخصيت وايي.

متل په شعر کې د یوه ستر انساني آرمان په توګه استعمالوي، په دې معنا چې انسان د زیار او زحمت کشۍ لپاره هڅوي او د دې ترڅنګ وايي که زحمت کشي ډېره ډېره سخته هم ده او که د غم مثال هم ولري، د مهارولو لپاره يې زيار، هڅه او کوښښ پکار دی.

سعيه بويه له انسانه

چارې خدای سازوي جانانه

يا:

د مور او پلار بې کچې مينه له اولاد سره ښيي:

رحمان هسې په خپل يار پسې غوځ غوځ يم

لکه غوځ په خپل الاودي پلار و مور

يو ژور احساس د اولاد لپاره د مور و پلار ښيي او روحي حالت دې ته عياروي، چې د اولاد ډېر سخت دی، خو بيا هم د انسان مقاومت د ټولنيزو پېښو پر وړاندې ښيي.

په ارواييي حالت پورې اړونديږي او دغه شخصيت د انسان د منظم سلوک او کردار نتيجه (يعنې دا چې شخصيت د اسنان د منظم سلوک او کردار په نتيجه کې رامنځته کېږي) (۲: ۱۳۸)

دغه کردار په کړنه (عمل) او کلام خبرو کې څرګندېږي.

کلام د شخصيت (انسان) د ټولنيز هويت څرګندوونه کوي.

د پروفيسور افضل رضا په وينا د عبدالرحمن بابا شخصيت د هغه د کلام (شعر) په ايينه کې ليدلای شو،

لکه: ((د کليم شخصيت ښکاري = د کلام په آينه کې..))

د عبدالرحمن بابا د زړه آينه (بې رويه، بې ريا ده، هغه د هر چا په وړاندې دی، ځوک يې د دې ضرورت نه محسوسوي، چې د زيړون او مرګون نېټې يې ولټوي، هغه مړ نه دی ژوندی دی، بې علمه يې شعرونه د ملتونو په توګه وايي...)) (۳: ۹۵)

همدارنګه نعيم شاه نعيم نظر لري: (( د رحمان بابا د شاعرۍ عموميت د رحمن بابا خپل شخصيت داسې پټ کړی دی، لکه د لمر د شغلو شاته، چې نفر نه ښکاري، خو که څوک د دې مقبوليت سوب لټوي، نو هغه به د

دې څېړنې جواب هم د رحمان بابا ديوان کې ومومي. (۴: ۸۴)

سياست پوهان خپل شخصيت د سياسي پوهې، نظريو او افکارو د وړاندې کولو او ايرايه کولو له لارې ثابتوي، همدارنګه سوداګر يې د مال و منال په لاسته راوړلو او دغه راز ليکوال يې د ليکوالۍ او ډول ډول مضمونونو د ليکلو او اجتماعي ته د وړاندې کولو او همدارنګه د شاعر شخصيت او اروايي حالت د هغه د شعر په کرښو کې مفهوم معنا او بڼه ځلوي، په دې معنا چې شاعر په خپل شعر کې ټولنيز مضامين د رمزونو، سمبولونو، خيالاتو، تصوراتو، عاطفي غوښو او مفهومونو له لارې وړاندې کوي، کوم چې د ده په ارواپوهنه پورې اړه لري.

د حضرت عبدالرحمن بابا سيکالوجي د ده د الفاظو او کلام د آيينې په سکرين وګورو چې څنګه يې د فکري او اروايي حالت په حکم د کلام (شعر) له لارې وړاندې کېږي او موږ ته د انسان د سوچه انساني پرتم او هويت خلونه کوي. بايد ووايو د رحمن بابا د کلام نفسياتي مطالعه ډېره په زړه پورې ده. حنيف خليل د کوزې پښتونخوا تکړه ليکوال په دې نظر و، چې: ((رحمن بابا نه يوازې د انسان د خارجي کردار تجزيه کړې ده، دغه شان يې د انسان داخلي احساسات روحاني او وجداني عوامل هم په بين السطور کې ښوولي دي، اول يې په کائيناتو کې د موجوده تخليقاتوا په حواله مجموعي خبره کړې دي... د نړۍ د مخ انسان يې لومړی په دوو برخو وېشلی دی... لکه:

۱ – له طاعته، له ګناهه

۲ – ځناورو نور څه نه زده

۳ – څه خبر وي ځناور

۴ – يا يې خوب وي يا څر

که لږ غافل شي، نو د دای له معرفته نه خبرېږي:

چې خدای له معرفته خبر نه شوم

معلومېږي ې يا يوم يم يا دواب يم

که صورت مې د سړي دی زه يې څه کړم

په معنا کې د چارپايو په حساب يم

له پورته نظر د رحمان بابا فکر و روان د معرفتي مينې پر مدار څرخېږي.

د شعر له هغه څه الهام اخلي چې د انسان د طبيعت فطرت یې پر سرې پیروزینه کوي، د الهام داخلي او څه ناڅه د بهرني لاملونه دي، چې د هنر او بیا شعر د د پنځېدو لامل ګرځي.

د حضرت عبدالرحمن با شعر هم د هغه د طبیعت الهام ی کوم چې روان او سیکالوجي یې پر دې باندې پیرزوینه کوي.

امریکایي لیکوال دیل کارنګي وایي: ((انساني طبعیت دوکتور روانشناسی او د انسان د شخصیت ځلونه کوي، هویت یې ټاکې او په ټولنه کې یې د کرکتر تثبیت کوي، زموږ روان زموږ د شخصیت ضامن دي او زموږ په اعمالو (کردار) او نظریو کې انعکاس مومي.)) (٦٠ : ٢٦٤)

د رحمن بابا د روان شخصیت ډېر ځله مو د نوموړي په نظریو (شعر) کې مومو، نوموړی د یو مومن په توګه خدای یادوي او د الله ج اصلي هویت په یو ډېر لوړ هنري او ادبي انداز کې داسې ځلوي:

ګوره هسې کردګار دی رب زما

چې صاحب د کل اختیار دی رب زما

همګي بزګوران چې څوک یې وایي

تر همه‌وو بزرګوار دی رب زما

نه یې هېڅ حاجت په چا پورې موقوف دی

نه د هېچا منت بار دی رب زما

له نیستۍ د هستۍ صورت پیدا کړو

هسې رنګ پروردګار دی رب زما

هم ضایع دی د جمله وو مصنوعاتو

هم سامع د هر ګفتار دی رب زما

چې یې هېچرې نه مثل نه مثال شته

د هغو عطرو عطار دی رب زما

شریک نه لري په خپلې پادشاهۍ کې

بې شریکه شهریار دی رب زما

حاجت نه لري د هېچا و یارۍ ته

له هغو سره چې یار دی رب زما

څه جاجت دی، چې و بل خوا ته یې غواړم

په خپل کور کې همکنار دی رب زما

هیڅ تغییر او تبدیل نه لري رحمانه

تل تر تله بر قرار دی رب زما

د خدای ج له پیغمبر ص سره مینه کوي او اصلي هویت یې د کلام په څپو کې د یو ربښتینې استازي په توګه څرګندوي:

که صورت د محمد نه وای پیدا

پیدا کړې به خدای نه وای دا دنیا

کل جهان د محمد په روی پیدا شو

محمد دی د تما جهان ابا

نبوت په محمد باندې تمام شو

نشته پس له محمده انبیا

که رڼا ده پیروي د محمد ده

ګنه نشته په جهان بله رڼا

محمد د بېچاره‌وو چارګر دی

محمد دی هر دردمن لره دوا

زه رحمان د محمد د در خاکروب یم

که مې ته کا خدای له دې در جدا

مولانا عبدالقادر د رحمن بابا د کلام د اغېزمنتوب په برخکه ي ليکي: ((رحمان بابا د هر چا د زړه خبرې په خپلو خوږو الفاظو کې کوي، د ه آواز د هر چا غوږونه ته رسي، ښځې او نر هر څوک بې ساخته د ده د ساده الفاظو سره غورځنګ خوري، د ده توري د هر چا زړه ته پرېوزي.)) (۷: ط)

نتيجه:

لنډه دا چې د عبدالرحمان بابا کلام ولې دومره خوږ، پر دره، پر رنګه، له واقعيتونو سره مل، ټول سوز درد در او عالمګير دی چې د هر لوستونکي او اورېدونکي د زړه مهلم دی، عالمان هم د دې قايل ی او زاهدان هم، مستانه هم په دې نشته کېږي او ملنګان هم په دې هو حق چيغې پورته کوي او د قلندرانو خو د چا خبره د غاړې تعويظ هم دی، غرض دا دچې ديوانه او فرزانه دواړه رحمان ته رجوع کوي.

د يادولو وړ ده، چې رحمن يو فطري فنکار شاعر و، چې هر ډول مطالب يې په کلام کې شته.

چې دا ټول د نوموړي د اروايي حالت ښوونه کوي.

جميز آلن په خپل کتاب (رمز موفقيت) کې وايي، د هر چا فطرت د هغه د روان او تفکر ترجمان دی، دغه ترجماني د نوموړي انسان په اعمالو يا اميالو کې ځان ښکاره کوي او د عملي ژوند برخه يې ګرځي)) (۸: ۱۷۷)م

رحمن دنيا په لغته وهلې، دنيا يې سعادت هم ګڼلې خو قناعت يې ورسره ضروري ګڼلی دی، ضديت ګټې، دنيا په مشروط ډول ښه بولي، لکه:

ښه ده، ښه ده دا دنيا

چې توښه ده د عقبا

مذمت د دنيا مه کړه

واوره پندکا دا وينا

د دنيا په بازار کېږي

د هغه جهان سودا

په دنيا کې ډېر حکمت دی

جفا غندي وفاداري، مينتوب، ښه يار، عاشقي په مينه له سره تېرېدل په يار پسې ژړا، عالمانو، د دنيا خوښي او غم د خلکو په غم غمجنېدل د دنيا بې وفايي د عشاقو بې وفايي او بې پروايي، قسمت او نصيب د معشوقې زيبائي حسن، خاموشي، پند، نصيحت، زهد، عرفان، تصوف، د عاشقانو همت، توکل، عاشقي، ساقي شوخ چشمان...

په لنډه توگه د رحمان بابا د غزل ژبه عام طور سره ډېره صفا، ساده، روانه او سپېڅلي ده، چې د ده جذبات ترې ښکاري او د دغو جذباتو پاکيزه‌گي د ه د طبعيت او روان صفايي را په گوته کوي.

د خداى ښښلي دوست محمد کامل په وينا: ((د رحمان بابا کلام له عجيبه کيفيته ډک دی، که هر څو د يار د حسن ننداره کوي کلام يې ترې مينه‌ناک بهره مومي او دا د ده د طبعيت زيبايي ده. د ه د کلام خوږوالی د ده لپاره دی، چې کلام يې له عاشقانه درده ډک دی.

مرتبه که ستا د عشق يې ور څرگنده

ملائيک به واړه وايي چې بشر وي...)) (۹: ۱۳۸)

د حسن اختتام لپاره به د حضرت عبدالرحمان بابا خروار خروار اعجاز آميزه، سحرگه او ښايسته گلاب گلاب کلام نه موتې مرغلرې را واخلو، چې د نومورې د نيت او اروايي حالت بيان کوي:

چې مدام د بل و عيب و ته نظر کړې

خدای له خپله عيبه ولې نا خبر کړې

که يوه جودانه عيب وينې په بل کې

هغه يو دانه عيب به يې لوی لکه غر کړې

که دې خپله گناه لويه لکه غر وي

په حيله حيله به غرد مچ وزر کړې

که څوک تله د انصاف په لاس کې درکا

خپل ټټو او د بل آس به برابر کړې

تو لعنت دې په دا هسې منصفۍ شه

چې له حقه و باطل و ته گذر کړې

خدای و تا ته ملائکو مقام درکړو

ته دا خپل صورت په خپله گاو خر کړې

په نعمت یې شکرانه نشې کولی

چې زحمت درباندې درشي شعر و شر کړې

که دې یو ویښته د ځان د پاسه کوږ شي

ځان هغه ساعت له خدایه مرور کړې

د ځوانۍ عمر دې تېر کړ په غفلت کې

پیه پیرۍ کې به څه زیرمې د محشر کړې

په پیرۍ کې د ځوانۍ چارې نه شي

ته په ورځ د عاشورا به څه اختر کړې

لکه بیخ د زړې ونې چینجی وخوري

په دا تېر عمر به څه اشخ و شمر کړې

دغه باغ به دې خلاص نشي له خزانه

که چا پیرو ورځنې سد د سکندر کړې

و بد خواه ته څوک نیک نصیحت ته کا

رحمان ستا په غم شریک دی که با ورکړی (۱۰: ۱٦۰، ۱٦۱)

راحت بې زحمته نه دی چاموندلی

غم، ښادي دي، د دې د هر خورو ورو

رحمان هسې په خپل یار پسې غوځ غوځ یم

لکه غوځ په خپل اولاد وي پلار و مور

که دې طمع د مخلوق له دره پرې کړه

پادشاهي دې مبارک شه که ګدا یې

چې مدام د بل و غیبو ته نظر کړې

ځان له خپله عیبه ولې بې خبر کړې (رحمان بابا)

قناعت هسې دولت و حمید ورکړ (عید)

چې په سوال اوږدوي لاس چا ته حمیده

ښه یې وړې لاس تر زنې بینوا

کتابونه


١ – اعتماد به نفس = ساموئل اسمایلز

٢ – راز کامیابي مردان بزرگ = مهر دان مهرین

٣ – مردانیکه دنیا را عوص کرده اند = ایگون لارسون

۴ – اراده مظهر شخصیت = عباس آرام

۵ – ارواپوهنه = دوکتور فیض محمد ځلاند

٦ – مفهوم سلامت روانی = سیامک خدا جمی

٧ – روانشاسی دوستي = دوکتور محمد علي فرهناد

٨ – اساسات روان شناسي شخصیت (حالت رواني)

٩ – باور لرونکی ګټوونکی وي ع بصیر بلوچ

١٠ – پیروزی افکار موفق = ګیل لیندن فیلدل

١١ = اروايي روغتيا = هانري – صالح محمد صاحل

١٢ – روانشناسي عمومي – دری کتاب – سراج الدين

١٣ – د روان عمومي مطالعه – يدالله همايون فر

١۴ – رواني طب، د شخصيت اټکل = دوکتور محمد آصف برنا آصفي

١۵ – قدرت اداره = ايرج مهربان

١٦ – ځکه شخصيت جوړېږي = داکتر د بليودابر

١٧ – روانشناسي شخصيت – دوکتور محمد تقی فراهاني

نه غواړي چا ته ضرر ورسوي او يا وکړي، همدا يې د پر شخصيت باندې د طبعيت فوکس دی چې دې ته اخلاقي خو ظريفانه شاعرۍ هم ويلای شو.

د رحمان بابا شعر او روان اصلاحي ځانګړنې لري، پوهه او نظر يې د خلکو په خدمت کې دی، د رمز او حکمت په ژبه اجتماعي غوټې پرانزي، نيغ په نيغه څوک نه ملامتوي، بلکې ملامتي په شيطان او تقدير ور اچوي، مګر بيا په مشروط ډول شاهانو ته د ملامتۍ ګوته نيغوي، لکه:

په عيسی او په دجال کې ګناه نشته

دا مکرونه دي د نفس او د شيطان

عزيزان يې خپله ووژل په خپله

دا همه واړه تقدير دی د سبحان

هسې نه چې دا يې وکړه نور نه کړي

چې يې زړه شي هغه کاندي پادشاهان

رحمان بابا دين دار دی

دنيا دار د دنيا کار کا زه د دين

خوانين زما په ملک دي خوشه چين

# ۸ – د رحمان بابا د شاعرۍ فورمونه

په دې سرلیک کې بیا پر هغو فورمونو خبرې شوې دي او څېړل شوي دي چې رحمان بابا پکې خپل فکر وړاندې کړی او په مټ يې ټول عالم ته رسولی دی.

د رحمان بابا د شعر قالبونه هر چا ته څرګند دي.

د کلاسیکې شاعرۍ فورمونه تر ډېره ډېره بریده موږ ته معلوم دي چې کوم وو، هغه قصیده، غزل، مثلث، مخمس، او مسبع وو، خو تر ټولو مهم يې د رحمان بابا علیه رحمه د شعر فورم غزل او بولله ده. د چا خبره د ده قصیدې د فارسي قصیدو ته نه پاتې کېږي؛ زما په نظر دا بوللې دي چې ده پکې طبع آزمایي کړې ده. د ده له ذوق سره برابر فورم غزل دی.

تر کومه ځایه چې ما ته معلومه ده، د رحمان بابا په ټول دېوان کې د پروفیسو محمدافضل رضا له یادونې سره سم ټولټال څلور زره او یو سله و شپږ څلوېښت شعرونه دي. درې زره او څلور څلوېښت يې غزلې دي، پینځه پنځوس مسرې والا يې مخمس، اته نوي مسرو والا يې مسبع دي.

ډاکټر محی الدین هاشمي بیا وایي چې د ده په دېوان کې څلور زره او یو بیتونه دي، چې درې سوه او شپېته يې غزلونه دي. یو مخمس دی، یوه مسبع ده، یو څلوېښت قصیدې دي.

محترم استاد سرمحقق زلمی هېوادمل وایي چې د رحمان بابا د شعر دفترونه د څلور زرو په شاوخوا کې بیتونه لري، چې د کابل په دویم چاپ کې يې څلورزره او دوه سوه او شلو ته رسېدلي او د پښتو ټولنې «دېوان رحمان بابا» از خود رحمان بابا باشد، زیرا شماری از غزلیات و بیت‌ها که در این دیوان گرد آمده مطابق اساسات متن‌شناسی کمبودی دارد. تعداد ابیات دېوان رحمان بابا چهار هزار بیت تخمین شده که استاد کامل هم همین‌را می‌گوید. استاد هېوادمل می‌افزاید: این دیوان شامل غزلیات، قصاید و غزلیات قصیده‌گونه، مخمس و مسبع است.

خو زما د پلټنې له مخې یوه رباعي ده، څوارلس مسبع، یوولس مخمسه دي، درې زره او شپږ اتیا غزلونه دي.

# ۹ – د رحمان بابا په اړه شوې څېړنې

د رحمان بابا په اړه په ډېرو کتابونو کې لیکنې راغلې دي او هم په جلا ډول مقالې لیکل شوې دي. د دکتورا ډیزرټېشنونه، د ماسټرۍ تېزسونه، د لېسانس مونوګرافونه او نور اکاډمیک او ذوقي کتابونه او رسالې وربانديې لیکل شوې دي.

د يادولو وړ ده چې د رحمان‌بابا په برخه کې له وختونو راپه‌دېخوا څېړنيز سيمينارونه کېږي او شوي دي. په ۱۳۶۹لمريز کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د عبدالرحمن بابا د دوه سوه او اتيايم تلين په مناسبت يو سيمينار جوړ کړ چې بيا وروسته د دغه سيمينار د مقالو مجموعه «د عبدالرحمن بابا مومند ياد» په نامه ښاغلي استاد هېوادمل ترې د مقالو ټولګه جوړه کړه، چې په دې ټولګه کې د مختلفو علمي ځايونو پيغامونه او د مختلفو ليکوالو مقالې خوندي دي. د دغو مقالو په برخه کې په خپله زلمي هېوادمل د عبدالرحمن بابا مومند په ژوند ليک يوه ډېره غنيمت ليکنه کړې چې ډېره غني راټولونه ده. ښاغلي هېوادمل «سخن چند پيرامون زندگي‌نامه عبدالرحمن بابا مومند» تر سرليک لاندې د ده په برخه کې لرغوني باګرام ته داسې اشاره کوي:

«قديمی‌ترين تذکره ايکه پيرامون عبدالرحمن بابا به ما معلومات نسبی مهم، بسنده و ارزشمند عرضه می‌دارد، همانا تذکرةالشعراء محمدهوتک است، به نام (پټه خزانه). اين تذکره بين سالهای ۱۱۴۱، ۱۱۴۲ هـ ق نوشته شده»... پټه خزانه د رحمان بابا په برخه کې ډېر معلومات زموږ په لاس کې راکوي، د زلمي هېوادمل په وينا په دغه تذکره کې د رحمان‌بابا د وفات کال هندسي عدد۱۱۱۷ هـ ق راغلی دی، چې غلط دی، ځکه د ۱۱۲۳ هـ ق کال ځينې پېښې د ده په دېوان کې راغلې دي. د رحمان‌بابا د وفات کال زموږ درانه استاد اروابناد اکاډيمېسن عبدالشکور رشاد حل کړی دی او هغه يې د يونس خيبری له مرثيې څخه چې د رحمان بابا په وخت کې ويل شوې ده. رحمان بابا په ۱۱۲۸کال وفات شوی. دغه غلطي په پټه خزانه کې د هندي اعدادو له مخې رامنځته شوې او د تذکرې دکتابت په کار کې د کاتب عجله وه. بايد ووايو چې هغه سهوالقلم و، نه سهوالفکر. ښاغلی استاد هېوادمل د پټې خزانې همدا يوه اشتباه ښيي او نور نو د رحمان‌بابا په برخه کې د پټې خزانې قول پوره حسابوي. پټه خزانه د اول ځل لپاره په ۱۳۱۴هـ ق کال خپره شوه. موږ په دغه برخه کې له دوه ډوله ليکنو سره مخامخ کېږو: يو د پټې خزانې له نشرېدو د مخه او بل ترې راوروسته.

هغه تذکرې، څېړنيز آثارو او ادبي تاريخونه چې د رحمان‌بابا په برخه کې ليکل شوي، په لاندې ډول دي:

۱- تاريخچه سبک‌های اشعار پښتو؛

۲ – پښتانه شعرا، لومړی ټوک؛

۳ – تذکرة الشعراء،

۳ – د پښتو ادبياتو تاريخ،

۴- پښتونستان،

۵ – ادبي جوهر،

٦ – ادبي سوغات،

۷ – اټک کی اسپار،

۸ – ادبيات سرحد،

۹ – د پښتانه شعرا تخليص،

۱۰ – پښتو شاعري،

۱۱- پينځه ورونړه، د فضل‌احمد غازي،

۱۲ – پشتو زبان اور ادب پر ايک نظر،

۱۳ – پشتو ادب کی تاريخ،

۱۴ – تاريخ ادبيات مسلمان پاکستان و هند،

۱۵ – روهی ادب،

١٦ – پښتو غزل،

۱۷ – ادبي څېړنې،

۱۸ – تاليق کليد افغانی،

۱۹ – د ګلشن روه مقدمه،

۲۰ – سرحد مشاهیر،

باید ووایو چې د ادبیاتو تاریخ، درسي کتابونو، د مکتب په کتابونو کې هم د رحمان‌باب په اړه معلومات راغلي دي. کولای شو په دغه برخه کې د پروفیسو عبدالمجید لیکنې، د مولانا عبدالقادر لیکنې، د ۱۲۹۲ د مرحوم بېنوا لیکنه، د حبیب‌الله رفیع، سیدرسول رسا، مجاوراحمد زیار، مولانا عبدالقادر، دوست‌محمد کامل مومند (رحمان بابا) ، عقاب خټک او نورو ډېرو لیکنې یادولی شو.

د پروفیسو محمداعظم اعظم «رحمان بابا د ولس شاعر»، د پروفیسور افضل رضا «د رحمان بابا طنزیه شاعری»، د داورخان، محمداصف صمیم لیکنې، د رحمان ادبي جرگه، عارف رحمان، په تېره څه کم یوه پېړۍ کې ډېر شمېر آثار په دې برخه کې لیکل شوې دي. ختیځپېژندونکو هم ډېر کتابونه لیکلي دي، چې د دغو ټولو راوړل دلته ډېر سخت کاردی.

په پښتونخوا کې لومړنی سړی دوست‌محمدخان کامل مومند دی چې د «رحمان بابا» تر نامه لاندې کتاب یې وړباندې کښلی دی. همدغسې قلندر مومند، سیدافضل رضا، عبدالحلیم اثر سالازي، ډاکتر راج‌ولي شاه خټک او نورو کار کړی دی.

په افغانستان کې ما ته رامعلوم وروستی کار د سیدمحی الدین هاشمي دی چې د رحمان بابا کلیات یې ترتیب کړی دی او په پښتونخوا کې شهاب عزیزالله خان دی چې «د رحمان بابا په شاعرۍ کې د قران‌کریم اثرات» کتاب یې لیکلی دی.

لنډه دا چې د رحمان بابا له دېوان څخه څرگندېږي چې له فارسي او عربي سره یې هم آشنایي درلوده. ځینې وایي چې رحمان بابا صوفي شاعر و او صوفیانه اشعار یې ویلي دي، خو د مولانا د او سنایي په څېر صوفي نه و، یوازې عبدالحلیم اثر وایي چې له «کبرویه طریقې» سره یې بیعت کړی و. نور که چا ویلي چې رحمان بابا متصوف شاعر و، نو د ده په کلام باندې یې ډېر باور کړی.

دغه راز یو بل سند زما لاسته راغلی چې هغه د استاد ډاکتر سیدمحی الدین هاشمی له خوا برابر شوی کتاب دی چې ده پکې داسې لیکلي:

«رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ ق کال د پېښور ښار په جنوبي اړخ بهادر کلي کې پیدا شو، د عبدالستار زوی و، له ملامحمدیوسف یوسفزي څخه یې زده‌کړې وکړې. **او دغه راز زیاتوي: د رحمان‌بابا په باب له ادبي او**

**تاريخي څېړنو څخه څرګندېږي چې لومړني علوم يې په خپل کلي او شاوخوا سيمو کې لوستي او بيا په ځوانۍ کوهاټ ته تللی او هلته يې د لوړو ديني علومو د زده‌کړې ترڅنګ د نوميالي صوفي ، عارف او روحاني شخصيت حاجي بهادر کوهاټي څخه طريقه او لاسنوی کړی، بېرته خپلې سيمې پېښور ته راغلی، د خپل کلي پر ځای يې په هزارخانه کې هستوګنه کړې او د ژوند تر پايه يې دلته شپې او ورځې سبا کولې.**» خو استاد محی‌الدين د ده د طريقې نوم نه اخلي!؟

## ۹ – ۱ حضرت عبدالرحمان بابا د پوهانو له نظره

دا موضوع خو ما مخکې بحث پرې وکړ، خو چا چې ورباندې تحقیقي او تنقیدي کتابونه لیکلي دي یو شمېر یې په لاندې ډول دي:

۱ـ رحمان بابا تاریخي علمي او ادبي جاج، دوست محمد کامل

۲ـ رحمان بابا، شاعر انسانیت ( اورد) میرعبدالحد

۳ـ رحمان بابا، ژوند تعلیمات او شاعري ـ داروخان دواد

۴ـ عارف رحمان ـ فهم دل راهی.

۵ـ د رحمان بابا اعجاز ـ حنیف خلیل

٦ ـ د رحمان بابا نومنبود ـ محمد آصف صمیم

۷ ـ د مظلوم رحمان ـ حافظ شریف احمد افغاني.

۸ ـ رحماني خم ـ حبیب الله رفیع

۹ ـ الله کاعاشق، ولي کامل ( اردو) حافظ شریف افغاني.

۱۰ ـ زمزمه رحمان ـ شیرافضل خان، پریکوټي ـ ۱۱، رحمان بابا دولس شاعر، محمد اعظم اعظم

## ۹ – ۲ د حضرت عبدالرحمان بابا په برخه کې د افغانستان د ځینو لیکوالو مقالې او نظرونه

خدای بښلی **شمس الاراستاد پوهاند، علامه عبدالحی حبیبي** د لیکنې لړه او خوږه برخه د ( عبدالرحمان بابا) په برخه کې راوړو:" رحمان بابا په شاعرۍ په فن کې د مستقل مکتب خاوند دی او لوی معلم هم دی ولې په خپل سبک او شعري اوازمانو او اشعارو، تشبهاتو او نورو ادیبانو نزاکتونو او روان او ساده ډول ځان ته اجتهاد خاوند دی، رحمان بابا په ځپل شعر کې د ښښو د فطري جذباتو او ملي احساساتو په ساده او روانو او خوږو الفاظو داسې ښه ترجماني کړي ده، چې هر څوک د خپل ذوق مطابق په هر ځای او موقع کې استفاده ترې اخیستی شي".

۲ـ خدای بښلی **لوی استاد د صدیق الله رښتین** د رحمان بابا په برخه کې لنډ پیغام کې راټولوم، رحمان بابا د پښتو شعر او ادب هغه خلانده ستوری، چې د لر او برپښتونخوا په آسمان کې یو شان ځلېږي، دده د خوږ نوم یاد ده، لومړي شاعرۍ او احترام دده دروحاني او ملکوتي غږ د ټولو پښتو په زړونو کې یو ړنګ موجود دی، دده روح د پښتونخوا په ټولو ځمکه به د هر یو اوچت غره په څوکه په هر محفل او ټولي کې په الوتو او څرګندو دي، ټول پښتانه دي د پښتنو شاعري پیشو او اوبو ستر ادیب او مقتدا ګڼي.

۳ـ د پښتو ادب ځلورم ستوري **ګل پاچا الفت رحمت الله علیه** دا نظر جمال دلته راوړم، د خټکو دوره لاهسې په قوت کې وه، د خوشحال خان شاعري په هم هغه پوخوالی دده په زامنو او لمسو کې ځان ښکاره کوي چې ناڅاپه د مومند په کورنۍ کې د شعر او ادب دوه پاخه استادان او امامان پیدا کېږي، چې یو رحمان بابا او بل ماشوموال عبدالحمید دی، د دوی شعر او شاعري له پخوا وخته بل راز ایستی او هر یو د پښتو شعر ته نوی رنګ ورکوي، دا رنګونه د ښښتو او ستوپري رنګین او ښایسته کړي یعنې څوک د یوه او څوک د بل شاګردي کویو دا دوه نومړي او پاخه شاعران په ټولو پښتو کې یو عام شهرت لري او لرې او نږدې پښتانه ورته په درنه سترګه ګوري.

د رحمان بابا د اشعارو یو لوی صفت دادی چې هر چا له خپل ذوق سره سم مطالب لري او هر چا د تنهایي ملګري وي، په پښتنو کې به ډېر داسې کم کور وي چې د رحمان بابا دیوان هلته نه وي.[1]

### ۹ – ۲ – ۱ د حضرت عبدالرحمان بابا په برخه کې د کاندید اکاډیمسن اروانښاد استاد سرمحقق محمد صدیقي روهي نظر(مقاله)

---

[1]- د رحمان بابا مطالعه ۱۵۰ ـ ۲۱۷

د " ادبي تحليلونه کتاب، ليکوال صديق روهي په (۱۷٦) مخ کې به د استاد روهي ( روح الله) د مقالې ډېره برخه چې نايابه به نظر دی را واخلو.

**د رحمان بابا پيغام**

د عبدالرحمان سړبني په پښتنو کې ډېر لوی شاعر تېر شوي دي او عام و خاص د ډېرې مينې او ارادت له کبله د ( رحمان بابا) په نامه يا دوي داسې ښکاري چې ده ته به د (بابا) لقب د هغه په ژوند او ياد مړينې په څو لومړينو کلونو کې ورکړ شوي وي.[1]

(پټه خزانه) چې د رحمان بابا له مړيني(۱۳) کاله وروسته ليکل شوې ده، دده پّ باره کې داسې ليکي" عبدالرحمان با يو عالم رباني او عابد سړی و او ډېر شعرونه يې د خدای تعالی ج په محبت کې وويل او په پښتنو کې به د رحمان بابا مشهور شو".

د (پټې خزانه) له يوه روايت څخه داسې نتيجه لاس ته راځي چې رحمان بابا لا ژوندی و چې خلکو دده په ديوان فالونه کتل، حاجي ميرويس خان له گرگين سره سره د جگړې په ارتباط دوه ځله د رحمان بابا په ديوان فالونه کتلي دي.

خدای ښنلي روهي صاحب د رحمان بابا په عالمگير شهرت او محبوبيت رڼا اچوي دی وايي:...په دې برخه کې زموږ ځوابونه پر حدس بناء شوي دي د پښتون ولس په ذهن کې د رحمان بابا د يوه داسې روحاني شخصيت پّ توگه تصور شوی دی چې هغه له دينوي چارو لاس اخيستی دی او تل به په يوه گوښه ځای کې د خدای په عبادت د شعرونو په جوړولو لگيا وو.

ددغه تصوير په جوړولو کې په خپله رحمان بابا شعرونه هم مرسته کوي لکه چې وايي:

څوک دي را کاندي قسم په گردگار

که درهم لرم په کور کې يا دينار

هم پّ دا چې نه له ځايه چېرته خوځم

نه د هېڅ يوه مخلوق يم منت بار

آب خور لکه اسيا په ځای رارسي

[1]- خليل محمد حنيف، د رحمان بابا مطالعه، نوی کورس. ۲۰۱٦م. پېښور، يوينورستي. د رحمان بابا پيغام ۱۷٦( ۱۸٦

په ځپل کور کې مې سکون دی هم رفتار

لکه پورته بيتونه دا معلومېږي چې د رحمان بابا د هېڅ يوه مخلوق منب بار نه و طبعاً د خلکو په فکر کې دا يوه معماوه چې دی نه چا ته د سوال لاس ورغځوي او نه غالب گومان دادی رحمان بابا به په لږ خوراک به پّ لږ خوراک او ساده پوښاک قناعت کاوه او زيات وخت به يې په لوږه او فاقه کې تېراوه په دې باره کې بابا وايي:

ټوک روټۍ يوه شړۍ درلره بس ده

نو همه واړه اسراف دی مسلم

که خوراکه غرض قوت ولا کمبوت دی

نه چې غوښې، غوړې، وريجې يا غنم

د روايتونو له مخې بابا د ملک عزيزخان ورور و، څو هغه خان و خو رحمان بابا د ملنگۍ ژوند غوره کړی و او له درويشۍ سره مينه درلوده پښتانه دغو درويشانو ته چې د ريا زهد او طفيلي ژوند نه کويو په درنه سترگه گوري او رښتني ملنگان او د کرامت خاوندان يې گڼي.

په دې کې شک نشته چې د رحمان بابا د محبوبيت يوه وجه دده د روحانيت فقيرانه ژوند، درويشانه استغنا او صوفيانه سلوک او تر دې مهمه وجه يې هغه بيغام دی چې په خوږه، روانه، سپېڅلې او زړه وړونکې ژبه يې خلکو ته وړاندې کړی دی.

د رحمان بابا شعر يو کتاربس دی چې د عمونو بار سپکوي زړونه تصفيه کوي رنځېدلو او کړېدلو ولسونو ته تسلي ورکوي او په زخمونو يې مهلم ږدي، رحمان بابا يو فقر ځپلي ولس زړه ته د خپل بيغام په واسطه لاره پيدا کوي، ددغه پيغام اصلي جوهر مينه او محبت دی، عشق او محبت نه يوازې د انسان د نجات وسيله ده بلکې د جهان تکوين او لومړی محرک هم دی:

دا جهان دی خدای له عشقه پيدا کړی

د جمله وو مخلوقات پلار دی دا

او دغه عشق له انسان سره د خدای عشق دی له چا سره چې د لولاک تاج يې ور په سر کړی دی، په کرمنايي ناز او د خليفه په لقب يې وياړلی دی، د رحمان بابا د ژوند فلسفه په انترو پوستريزم ثابته شوې ده دغه فلسفه انسان مرکز وروستی گڼي، په دې اساس د انسان مثل اعلی د خلقت د کمال تر ټولو يو مظهر دی په لومړي سر

کې لاهوتي مینه به  انسان کې تبلور مومي او بیا انساني مینه د لاهوتي مینې سر چینې ته ورگرځي:

هغه څه پوښتنې له هجره له وصاله

چې په خپله هم محب شي هم محبوب

نو هغه فلسفه چې په عشق بنا شوې وي، په هغه کې د قومینت عقید، خس او طبقې پوښتنه نه طرحه کېږي، د رحمان بابا د قومیت پر ځای د لانترویيزم ته رجوع کوي.

بله له عشقه که مې عیب که مې هنر دی

ما غوځ کړی دی له ځانه بل پیوند

زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه

زه  عاشق نه داودزی یم نه مهمند

د عشق په لوړه مرتبه کې د عقیدې او مذهب اختلاف په حساب کې نه نیول کېږي او د حضرت مولینا جلال الدین بلخي خبره، په دغه مقام کې موسی او فرعون سره پخلا کېږي:

عاشقان دې سپین رخسار د تورو زلفو

څه پروا لري د کفر و د اسلام

دا څلور واړه مذهبه سره یو دي

ما او تا په کې پیدا کې اختلاف

د همه واړو ملکونو څښتن خدای دی

که دوزخ دی که جنت دی که اعراف

شهیدان نه دي همه خون فروشان دي

چې خولې ته خو بهانه کا معاف

د رحمان بابا د بشردوستۍ دغه وروستۍ مفکوره عبدالقادرخان خټک په ډېر ښه شان سره او د بل توپیر له منځه ځي:

واړه د خپل ځان په نظر ګوره که دانا يې

اې عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمان دی

بل ځای وايي:

که سينه د نام او ننګ دې شي تر څنګه

د هر چا په کجروۍ به خپل ځيګر خوري

په دېر ترتيب رحمان بابا د ګمرهانو او کجروانو په وړاندې د دښمنۍ او کسات پر ځای هغو يته د زړه سوی او ترحم په نظر ګوري، په دغه ډول تفکر کې تشدد انتقام، نفرت او کينه کنجايش نه لري بلکې د هغو پر ځای د تشويقي، تربيتي، تهذيب او تصفيي له ميتود څخه کار اخلي او په دې توګه په انسان کې حيواني عادات له منځه وړي:

په آدم کې د حيوان خويونه هم شته

بيا هاله يې آدم بوله چې آدم شي

هماغسې چې رحمان بابا بل انسان سره د دښمنۍ نه کوي دبل چا دښمنۍ پروا هم نه لري:

د دښمن په دښمنۍ مې خندا کېږي

لکه شمع د مقراض له خصومته

دغه ډول اخلاق تر زياتې اندازې دتصوف او عرفان له ملک سره اړه لري خو زما په نظر د رحمان بابا شعر کې سيستماتيک عرفاني مشرب نه ليدل کېږي، کېدای شي په اصل کې متصوف او لکه خلک چې وايي مجذوب هم و، خو که پّ بابا ندې دهغه د شعر له مخې قضاوت وکړو نو رحمان بابا په ع مده توګه يو رياست شاعر وو، ښايي ده به د افغانانو د برداشت او زغم په اندازه خبرې کړي وي، رحمان بابا يقيني ډول دی وه اجتماعي مصلح په توګه د خپل قوم د معنوياتو روزلو ته متوجه و؛ لکه چې وايي:

چې کشور د افغانانو معطر کړي

دا هر بيت مصرع مې زلفې د خوبان کړي

رحمان بابا د تصوفي اوبهارو د څرګندولو په بخره کې کافي اندازه له احتياطه کار اخلي :

گوره منصور هسې په دار نشي رحمانه

مه کړه دا د عشق خبره رندانه

دی په دغه کاره کې په احتیاط سره مخکې ځي؛ خو کله یو نیم بیت کې خبرو صراحت ته باسي؛ لکه:

هېڅ مې مه پوښته له فرضو له واجبو

په هغو چې عاشقي کړه خدای واجبه

د استاد روهي په خبره دا پورته بیت د عرفان له نظره ډېر تفصیل غواړي بایزید روښان په خیرالبیان کې دغه موضوع پّ وضاحت سره بیان کړې ده د روښان په نظر چې انسان د نفس د تزکیې او د زړه تصفي په اثر د سلوک مقامونه طی کړي او د وحت ماقم ته ورسي نو له ده دعبادت ساقط شي؛ ځکه چې عبادت چاته کوي!؟

د رحمان بابا په باره کې یو داسې روایت هم شته چې هغه په وخت کې انزوا غوره کړې وه او جذب یا سکر په حالت کې تر لمونځونو پاتې شوی وو، هغه و چې ملایانو پرې د تکفیر حکم ور کړ ځینو دوستانو چې دغه وضع ولیده رحمان بابا یې مجبور کړ چې دا انزوا حالت پرېږدي او د لمانځه د اداکولو لپاره جومات ته لاړ شي.

د رحمان بابا شعرونو کې د وحدت الوجود او وحدت الشهود سرحدونه هم په ځرګند ډول ځان نه ښکاره کوي دا لاندې بیتونه وګورئ:

چې مې ستا د جمال عکس دی لیدلی په خپل ځان کې

هم پّ دا د آئینې په څېر حیران دی زما ورح

که وي هم به تا څخه وي که خدای ج کاندي

نه ده بله خواته تللی زما روح

+++++

هېح په سترګو نه وینم دا خپل صورت چې کوم دی

ډوب تر هسې حه او انوار یم ستا د مخ

اوس ته وایه چې په څه رنګه دې وستایم

زه خو ستا په مینه ولاړم له شعوره

++++

پورته بدر راښکاره شو کښته لمر

ښکته پورته واړه مخ دی د دلبر

دغه پورتني بیتونه د عوامو په نظر د مجازي عشق جزي دي او خواص یې د قریني له مخې معلومېږي چې ددغو مجازي خبرو تر شاه نورې استعارې شته د رحمان بابا په شعر کې د سوز او ګذار او شور او جذبې څخه معلومېږي چې د هغه عشق رحماني او کلام یې الهامي دی:

د رحمان و سوزان شعر ته حیران یم

چې یې اور بل شوی نه دی په دیوان

د رحمان بابا شعر د بشریت د وجدان آواز دی، هغه لطیف خوند، ښکلا او درد چې د رحمان بابا په شعر کې نغښتي دی او هغه سوز وجد به چې دده په بې تکلیفه بیان کې لیدل کېږي د پښتو ژبې د نورو اشعارو کې سازی نه لري او له همدې امله رحمان باباته لسان الغیب هم ویلی شي، د رحمان بابا پیغام هماغه د عارفانو او صوفیانو پیغام دی یا په بله وینا دده پیغام د عصر روح دی چې د پښتو شعر په کالبوت کې د پښتني سایکلوجۍ او کرکټر په کالبوت کې اچول شوی دی.

ښایي د لوستونکي او یا اورېدونکو په خیال کې دا پوښتنه وګرځي چې پښتون خو اصل کې تورزن او په دینوي چارو مین سړی دی په داسې حال کې چې رحمان بابا ددې په چارو مین سړی دی رحمان بابا ددې په خلاف د ترک دنیا، ګوشه نشي، او صلح کل خبرې کوي او د قدرت خاوندان تر درویشانو او صوفیانو صدقه کوي.

دا خبره تر یوې اندازې درسته ده؛ خو مخکې چې اشاره ورته و شوه د رحمان بابا شعر د ځورېدلي او خوار او پریشان ولس لپاره د تسئلي او تسکین وسیله ده، پښتانه دنړۍ د ډېرو قومونو په کتار کې راځي او اکثر خلک یې چې خواري او شخصیت ژوند تېروي رحمان بابا د اکثرو پښتنو ژوند په دې توګه تصویر کړی دی:

هر چې کښت یې په باران او په سېلاب دی

د هغو عمر به واړه په عذاب وي

هغه ملک چې په کې سیند او رودخانه وي

دهقانان به یې همه خانه خراب وي

د آسمان ته به يې سترگې ويلي ختلې

د باران له انتظاره به يې ځواب وي
همېشه له خدايه خواست د اوبو كاندي

كه يي چېرې خواست په عمر د مستجاب وي

لكه تل يې چې په زور د اوبو غور دی

هومره غور يې نه دی چنگ نه په باب دی

كه همه عمر باران وربانديې اوري

لا گرمي يې په صورت كې د افتاب دی

د اوبو له ډېرې ډېرې قيمتۍ نه

لرگي لوښي مردار په منجلاب وي

فرق د پاكو دناپاكو اوبو نه كړي

كه اوبه يې گډې وډې په پشاب وي
د اوبو په غلا چې ورشي نه چا روزي

كه ساكن د خانقا او د محراب وي

تر ډېره وخته زمور د ټولنې روشنفكران داسې فكر كاوه چې اخلاقي د سياسي سيتسم په بدليدتو سره او د رحمان بابا د خيرو صوفيانه نصحيتونه د چا پّ درد نه خوري؛ خو اوس دا ثابته شوه چې اخلاقي روزنه د هر عر او هر ډول سياسي او ټولنيز نظام د پاره حتمي او لازمي ده د سياسي نظام په بدليدو سره اخلاق او فرهنگ په اتوماتيک ډول تغير نه كوي، د بشردوستۍ د نفس تزكيه، له شخص اعراضونه په څنگ كې دل او د انسانيت د پاره قرباني وركول د انسان هميشنۍ وظيفه ده، پخوا له دې چې انسان پر نورو غلبه وكړي، لومړی بايد په خپل نفس او شخصي اعراضو غلبه وكړي.[1]

**۹ – ۲ – ۲ كانديد اكاډميسن پوهاند استاد محمد رحيم الهام (د رحمان بابا په شعر كې تخيل او**

---

[1]- روهي، صديق، كانديد اكاډميسن ۲۰۱۴م، ادبي تحليلونه، بلوجستان كويټه، پښتو اكاډمي.

**تصویر)**

خیراله ماندرز په خپله یوه رساله کې لیکي:

" شعر عاطیفي تجربه ده"

"کلمې؛ واقعې تفکر یا احساس دی، چې د تخیل په مرسته په مناسبو شاعرانه تصویرو بدلېږي او ښکلي او منسجمه ژبه بیانېږي"

دا خبره، چې د شعر اصلي رکن د خیال صورتونه دي پرته له " افلاطون" څخه شعر یوازې وچ تقلید او محاکات ګڼې نورو ټولو کره کتونکو منلې ده.

سامویل جان سن د ملتن په ژوند لیک کې وایي:" شعر د استدلال مرستې ته د تخیل رابلل دي، د خوښۍ او ښکلا سره د ګډولو لپاره" ویلیم هزلت لیکلي:" شعر د خیالونو او جذباتو ژبه ده".

لی هنت وایي:" شعر د داسې جذبې بیانولي دي، چې له رښتیا ښکلا او اغیزې څخه راپاریږي او ددغې جذبې مفاهیم د تخیل او توهم په واسطه را ټولېږي او بیانېږي.

کېدای شي چې د مفکرانه کره کتونکو او شاعرانو له ګڼ شمېر اثارو څخه ډېر داسې تعریفونه د شعر لپاره را غونډ او نقل کړو، چې د شعر په خیالي جنبه باندې یې تاکید کړی وي، خو که څه هم تخیل د ټولو کره کتونکو په تائید د شعر هسې محتوا تشکیلوي او د خیال د صورتونو تعبیر او تعریف په بېلا بېلو صورتونو کېږي.

سیوان بارئت او هغه ماګري وایي:" تخیل اوس اوس غالباً د ادبي اثر حسي محتوا ویل کېږي، دیرش، څلویښت کاله ړومبی تخیل لوستونکی په ذهن کې د تصویرونو ایجادونکي ګڼل کېده، د تخیل تعبیر داسې هم شوې ده:" د الفاظو استعماله د هغو په غیر حقیقي معناوو دي".

ادواردبلوم او د هغه ملګري داسې وایي:" په شعر کې مفاهیم او عواطف نه یوازې د بسیطو کلمو په واسطه بلکې د کلمو د داسې ترکیبونو په واسطه هم بینانېږي چې په ذهن کې د حسي صورت د ایجادولو د پاره انتخابېږي.

خیال د خاصي او مشخص نماینده ژبې یو ډول استعمال ته وایي چې ذهن نخسې احساس کوم نمائنده ژوندی کوي.

که څه هم ستا رانه خیال زیاتره په بصیري حسن پورې اړه لري خو کېدای شي له ټولو خواصو سره حتی د انسان احساس له قول ظرفیت سره تړلې وي". چاکوب کورګ لیکلي:" څرنګه چې شعر د اسنان د بیان عادي قدرت پیاوړي کوي نو په څرګنده توکه ددې کار درسته رسېدو لپاره لارې چارې هم نشته، د بیان د قدرت د

پیاوړي کولو مهمه لار داسې تر تلې دي چې په دقت سره کېږي او د خیال صورتونه ورته وایي".

نوموړي د خیال لپاره دوه برخې لازمي ګڼي، یو موضوع چې د پاملرنې اصلي محوروي او بل داسې یو عصر چې د موضوع د کوم کیفیت د څرګندولو لپاره بیانېږي، مزوړ د ادب څېړنې له خپلو اصطلاحاتو سره سم ګواکې د بیان قدرت په داسې طریقو پیاوړي کېږي تشبه او استعاره مقایسي طریقې او حجاز او کنایه اتحادي طریقه بولي، خو د ایجاد په خپل مشهور کتاب " د ادبي کره کتنې اصول" کې د تخیل تقسیر په شپږو بېلو بېلو ډولونو کوي چې خلص یې دلته راوړ.

۱ـ د خیال د واضحو صورتونو په تېره بیا د خیال د بصري صورتونو ایجادولو ته تخیل وایي.

۲ـ استعاري مجاز او کنایي یعنې په غیر حقیقي معناوو د کلمو استعمال ته تخیل ویل کېږي، د خیال خاوندان هغه خلکو ته ویل کېږي چې نامعمول شانته تشبهات او استعاري راوړي؛ خو ښایي د ژبې دغه ډول اغښتونه هم تخیلي وي او هم غیر تخیلي او دا ځکه چې دغه ډول رغښتونه هم تخیلي وي او هم غیر تخیلي او دا ځکه چې تشبه او استعاره په وینا بېلا بېلي دندي لري استعاره کله توصیغي او کله تصویري لري او داسې رابطې لپاره راځي، چې که استعاره په علمي ونیا یا په نثر کې پکارېږي او کارولو یې په عاطفي ژبه باید شعر کې درناوی، د استعارې دغه طرز داسې وي چې وینا کوونکي خپل درک او نظر د خپلې موضوع یا د مخاطب په باره کې د استعارې په توګه بیانوي خو استعاره نوري وظیفې هم لري. کله کله استعاره د یو داسې فوق العاده وسیلې کار کوي چې تبت او نامربوط شیان او عناصر د هغې ارتباط له امله وي استعاره په مبالغوي وزمه تکراري طریقه ده چې د هغې په واسطه ډېر بېلابېل مراد د تجربې په رغښت کې سره ترکیبېږي، د مرادو دغه بېل ډولونه په خپله څه ارزښت نه لري.

۳ـ د تخیل اصطلاح په محدوده معنی کله کله د نورو خلکو ذهني حالت په تېره بیا د عاطفي حالت د بیانولو لپاره استعمالېږي لکه دا چې کومه ډارمه لیکونکي هغه کره کتونکي ته چې ګومان کوي دا لیکوال د ډرامې محوقانان غیر عادي سلوک لري او وایي:" ته له کاپي تخیل څخه یې، دا ډول تخیل صرف د خبرو اترو او مفاهیمي لپاره استعمالېږي او د تخیل له ارزښتناکو مفاهیمو سره نه مربوطېږي.

۴ـ د تخیل تعریف متبکرتوب یعنې دا داسې اجزاوو سره مربوطول دي چې په هادي توګه ارتباط و نه لري ددې تعبیر په اساس اډیسن د برښنا مخترح د خیال خاوند ګڼل کېږي که څه هم په دې تغبیر کې د ارزښت مفهوم شته؛ خو بیا هم ډېر مبهم او پراخ دی.

۵ـ تخیل د شیانو داسې مناسب ارتباط ته ویل کېږي، چې په عادي توګه نامربوط ګڼل کېږي، دې ته علمي

تخيل ويل کېږي.

٦ـ دتخيل يو بل تعبير چې په ادبي کره کتنه کې د څېړنې موضوع ده.

ايجاد در له ک وله يخ څخه را اخلي او له يخ وايي:" هغه ترکيبوونکي او سحر اميزه قوه چې موږ ورته په خپل مفهوم تخيل وايو" تخيل له اثارو او څيزونوس ره د نويتوب او براه توب احساس دی تر عاطفي نه لا زورور او تر عادي تنظيم نه لا منظم دی په ډېره اوچته شوبه وينبں سکون او د خپل ځان دايمي پېژندنه له ليوالتيا نه سوځنده احساس دی، دکو لريچ پّ دې تعريف کې د خيال د صورتونو د تشکيل لپاهر دغه لاندې اته خصوصيتونه ليدل کېږي:

۱ـ د متضادو کيفيتونو توازن موندل.

۲ـ د متظادو کيفتونو سره پخلا کېدل.

۳ـ د متضادو کيفيتونو د توپير څرگندېدل.

۴ـ له اشنا او عادي شيانو سره د نويتوب احساس راپارېدل.

۵ـ د ژورې عاطفې څرگندونه.

٦ـ وينبں قضاوت

۷ـ ځان پېژندنه

۸ـ له ليوالتيا نه ډک سوځند احساس

که رحمان بابا شعر په پاسينو معيارونو سره وتلل شي د خيال صورتونه دغه ټول ډولونه په کې موندلای شو، د رحمان بابا په زياترو بيتونو حتی د يوه غزل په ډېرو بيتونو کې د خيال د صورتونو بېلابېل ډولونه په ډېره خوندور ساده او طبيعي شانته ژبه څرگندوي، که د رحمان بابا شعر په مقايسوي، توگه نه، بلکې په منفرده توگه په نظر کې وينسو، په اکثرو مواردو کې زموږ په اذهانو کې اشتبا معمولي او عادي شيانو او کوايخو سره د نويوالي احساس را ژوندی کوي؛ زما په نظر د رحمان بابا د شعر ډېره خاصه مميزه داده چې دايم له متضادو او متناقضو شيانو او امورو څخه داسې ترکيبونه جوړوي چې د لوستونکو په ذهنونو کې په ډېر قوت سره مگر په ډېره طبيعي بڼه ښکلي فکري سيزونه تشکيلوي؛ رحمان بابا وايي:

دنيا دار که مستغني په سيم و زر دی

هنر مندو لره لره گنج د خپل هنر دی

په دېښکلی بیت کې له څو متناسبو او متضادو مفاهمو څخه یو متوازن مفهوم تشکیل شوی دی، په دې توگه چې دینا داری استغنا سیم زر او گنچ مفاهیم سره متناسب دي، د بیان طرز او د "که" د کلمې استعمال د لوستونکي په ذهن کې د دینادارۍ مفهوم د هنرمندۍ له مفهوم سره او دسیم و زر مفهوم د هنر له مفهوم سره د نامتناسبو او تقریباً متضادو مفاههیمو په بنه القا کوي؛ خو په ډېر هنرمندانه ډول دوه کلمې متضاد مفاهیم په سیم و زر باندې د دنیا دار استضا او په هنر بندې د هنرمند د گنج والاتوب سره متوازن او انډول کوي؛ خو څرنگه چې په لومړۍ مرۍ کې له دنیادار سره ټول ذکر شوي مفاهیم داستغنا سیم و زر سره مربوط او متناسب دي؛ مگر پّ دویم مسرې کې د هند او گنج مفاهیم سره نامتناسب او نامربوط دي او بل ته په تشبیه کولو سره موبوط کړی شوي دي؛ نو داسې خیال یې تشکیل کړی دی چې د بیان د قدرت په پیاوړیتوب له امله د هنرمند مرتبه د دنیا له تر مرتبې اوچته ښودل شوې ده؛ راځی دا بل بیت ته ځېر شو:

که په گنج د شاهۍ فخر شهریار کا

عاشقان یې د دلبرو په رخسار کا

د شاهۍ گنج د فخر کولو او د شهریار مفاهیمو په خپل منځ کې او د عاشقانو او دلبرو د رخسار مفاهیم په خپل منځ کې سره متناسب دي، دلته هم د بیان طرز او که د "که" د کلمې استعمال د لوستونکي په ذهن کې لومړۍ د شاهۍ د گنج مفهوم د دلبرو رخسار له مفهوم سره د شهریار او د عاشق د مفاهیمو د ضدیت په اعتبار په نامناسبه توگه القا کوي او ضمناً د عاشق او د دلبرو رخسار ارتباط د شهریار او د گنج له ارتباط سره متوازي او انډول کوي او دغه متضادو او نامربوطو مفاهیمو له ترکیبولو څخه یو ښکلی خیال تشکیولي، عاشق شهریا د دلبرو د رخسار گنج دی، که شهریار د پادشاهۍ په گنج فخر کوي؛ خو عاشقانو بیا هم د خپلو دلبرو په رخسار او ښایسته ویاړي.

ما یوازې دوه مثاله چې سره مشابهت هم لري، په اټکلي توگه دلته راوړل زما مطلب له دې لړې څېړنې څخه دادی چې که د رحمان بابا په شعر کې دمفاهیمو ارتباط په تېره بیا د متضادو متضادو مفاهیمو ترکیبونو ته خیر شو او دده هغه ښکلي خیالونه چې په دې توگه یې جوړوي؛ در کوو، د هغه له اشعارونه خوند اخیستلای شو او د هغه د شاعرۍ اوچت مقام ته(احترام) او درناوی په سترگو گورو.

د رحمان د خیال د صورتونو ځینې نورې نمونې دادي او هغه دمتضادو کیفیتونو سره پخلا کول دي:

علام د استغا یې شوه څرگنده

هغه څوک چې تېر تر ځان او تر جهان شو

د متضادو واقعيتونو د توپير څرګندول:

د جنت له حورو تېر شه که يار غواړې

خدای دې نقد د چا نه کاندې نسيا

يو مفهوم د هغه پرخند بدلول:

زه يې تا هسې ګومان کړم چې سفال دی

که نسکور مې په لبانو جام جم وي

څوک چې کوم د استاد شونډو په خوله واخلي

که يې زهر وي، په خوله که هم عسل شي

له اشنا او عادي شيانو سره نويتوب دا حساس راپارول:

ما يې خيال لره ابلق د سترګو زين کړ

قدم نه دی په رکاب زما د سترګو

يو مفهوم ته د هغه ضد مفهوم وربښل:

چې ګذر يې په دا ګرمو اوښکو نشي

مګر کاږې دي حباب زما د سترګو

ويښ قضاوت:

حرام خور د منځبثو په حساب دی

که په تورې يا په تيغ وي مېړنی[1]

**۹ – ۲ – ۳ اکاډميسن پوهاند دوکتور عبدالاحمد جاوېد (رحمان بابا نخبه سخنور زبان پښتو)**

---

[1]- الهام، محمد رحيم، ۱۳٦۹کال، د عبدالرحمان بابا مومند ياد، ۲۸۱تلين، کابل، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبياتو پوهنځي : ۸۳ـ۹۲

یکی از سخن طرازان معانی و ستازه گان قد اول زمان پر حلاوت و صلایت زیان پشتو، زحمان بابا شعر شرین کام و سخنور عالیمقام سده دوازدهم هجري قمری است.

این شاعر آزاده و صوفی منش باطبع و قاد و ذهن روشنی خود با نازک خیالی ها، مضمون اندیشی ها، باریک بینیها، نکته بردازی ها و تصویر سازی های هنرمندانه، ماهرانه و شاعرانه خود، چنان اشعار رنگین و نمکین سروده که به جرأت میتوانم آنرا در ردیف جواهر نظم و شرق و غرب هنر مانند لاکی آبدارو گرا نماید ارج و قدر نهاد، با سیرو مرور دو دفتر شعرش به نکات و دیقایقی بر میخوریم که هر یک به جای خود دلجسپ و در خور اعتنا و توجه است.

در بیان حال این شاعر پاک نهاد و روشن ضمیر آورده اند که  د سلسله اهل تصوف و مسلکی بوده و د معانی آن طایفه را در اشکار خود پرور ده است، درست که بعضی کلمات صوفیانه برجسته و گریخته در اشعار او په جسم مي خور و در بعضی ابیاتش اثار تنها به اصول تصوف رفته   است و حتی گاهی در مکادی کلامش مفاهیم و افکار عارفانه و حالات اتسفراق مستجلی است، اما در اینکه شاعر ما پیرو طریقه خاص بوده باشد قابل تاهل است میتوان گفت که شاعر وارسته و درویش نمای مایشتر جانت زهدو تقواو را داشت و به سنن و آیین  آداب و ارکان این سخن پابند بوده است اگر سخن به طریق و مشرب صوفیان گفته و یا معانی عارفانه را بیان داشت ناشی از همین کمال زهدو ورع بود، بی آنکه گامزن این طریق وزیزه خوار این خوان باشد به آن معانی پر درخته و مانند شعرای غیر متصوف آن مقولات را بکار بسته است. به این ترتیب سخنان رحمان بابا در بیان مبانی خلاق شرح قابع زهد و تقوا تکیه، تهذیب نفس به موعظه ها و اندازهای سعدی و غزلهای راهدانه عطار تشبیه است، تا دیوانه مستانه پر لتاطم مولانا و کلام تغرو پر مغز سنایی که سرایا رنگ پند آمیزو انداز گون دارد بسیار غنی جانداد و شعور انگیز است این یکی از مختصات بارزگلام اوست.

دیگر از صفا تیکه شعر او بدان ممتاز است سلاست و روانی کلام است میتواند آنرا به صتف سهل ممتنع خوند یعنی کلامیکه یعنی کلم که در ظاهر امر آسان می نماید مثل آن دشوار تران گفت، بصارت دیگر سخن که در عین سلاست و فصاحت آسان و سهل ا ست، خصلای روانی و سادگی شیوایی و شرینی صتف با برجسته شعر بابا است، کیفیت بیان گاهاي به حدی نرم و طبیعی است که گویی محاوره کرده و محبت داشت است، نغامه خوش وزحه دلکش که رحمان بابا با آن انس داشت در روشنی و ظرافیت کلام و حسن تاثیر گذاشته و نرا زیبا و دلکش ساخته است.

در شعر او الفاظ و کلمات و الفاظ نه  تنها به سهولت و روانی معانی را به ذهن مرسند بلکی از تالیف او اجتماعی وو زنی و آهنگی پدید پدیدمی آورد که مانند یک پارچه موسیقی گوش نواز و دلپزیر است.

چنانچه یاد کردیم، موسیقی در تالیف احساسات او تاسیره داشت چون اعلب غزلها یا موسیقی و آواز خوانده می شده کلام اورا الطیف و ظریف تر ساخته است.

این موسیقی کلام مضمون و معنی شعر را که مظهر صور ذهنی و احوال دورنی شاعر است، روستبر، گویا تر انتقال براشرمیدهد.

شاعر ما به الفاظ متجانب و هماننند، مانند ضلع و صلاح رفع و دفع، امن امان و مثال آن توجه داشته بنخویکه گاهی این الفاظ موازنه و مماثله يې مین دو مطرح پدید آورده است.

رحمان بابا در انتخاب الفاظ و تغبیرات دری دست باز و دره سلیم داشته و آنچه را که لازم متناسب لازم پنداشته؛ برگزیده است و با این قند پارسی بر شرینی و چاشنی کلام خود افزده، که زبان شعر او را میتوان محلی خواند در زمانیکه رحمان بابا شعر سروده مفردات و ترکیبات و تغیرات عربی فارسی به همان سطح در حدی که گویا در محاوره میان مردم رایج بوده، دیده میشود.

ام در موقع تنظیم، وران و قافیه خاصه رعایت حروف الفبا در آخرابیات شاعر را ناگزیر نیازمندان ساخته که کلمات دوراز ذهن و حتی نا مطبوع را پرگزیده و به کار برده و در نتیجه سخن تا به حد رسیدی که از ساده گی طبیعی بیرون آمده و به نکات و در شورای کشده است، گذشته ازین مورد استثنا يې که یاد کردیم دیگر کلام او ساده نرم، طبیعی و تخیل آمیز است.

این سلاست روانی، شیرایی و رسامي از مجزات و سلیقه شعری اوست. یکی از صفات و مختفات شعری او انیست که اگر شعر رحمان بابا از یکطرف ارتعاش تارهای دل اوست از طرف دیگر از اعماق قلب، روح و ذهن منشاء وریشه گرفته و در واقع ترجمان احساسات و عواطف و احوال درونی مردم است، ازین جهت با ذوق و طیع، مزاج و روحیه مرد مناسب بوده و سازگاری تمام داشته که بیا نگرنیازهای آن و مایه شلی مسمندان بوده گویی یک رابطه روحانی بین او و مردم بر قرار بوده نظیر اشعار بهایی جان و ملنگ جان در پشتو وولی طواف و فقري در زبان دری اهمیت یکی از دلایل مجبوبیت شهرت رحمان بابا که سخنش بر زبانها جاری شده و بردل نشته است، فکر میکنم که او یگانه شاعری است که با اشعارش تمثیل می جوبیند و در موارد مفتضی اپیاتش را بر میخوانند.

دیگر از ممیزات شعری رحمان بابا انیست که در اشعار او اثارات تاریخی و گوشه های از فرهنگ عامیانه دبده می شود، در دیوان افسانی يې ماندهاا، عقاب و سیمرغ اتاره شده تناوع پچیزهای مختلف بویژه روی نگو که علامت آن خوش است در دیوان او منعکس است اعتقاد به تقاضا و سرنوشت محتوم نیز گاهی بصراحت بیان

شده و گاهی این نجوه فکر از خلاه سخنان از بر می آید، در ضمن آن اشعار از دیو و پری واژدها از موجودایت جای ماوراالطبیعت یاد شده مشردات اخلاعات و سوابق و سوابق ذهنی و بارز روشنی در اسعلوس منعکس است، در سرودن اشعار غنایظ حجوری دسبت توانا داره جریان را بصورت زیبا و دلکش حکایت کرده است.

تشبهات، تعبیرات، مضمون آفرینی ها و نکته ها اندیشی های او بسیار جالب و بدیع است، شاعر برای بیان صورت های ذهنحا و حالات افسانی خود به تشبه رومی آورد و باقوت تخیل، خود تشبهات بدیع و لطیف می آفریند دربار لهای او عشق پر شوری عارفان دیده نمی شود ام انچه راکه این شاعر فن جمال در معنی سور و جریان ساز ماسامان سرود از زیبا یی خاص بر خوردارد است که او را بلبل لقب نهاده اند، دوری از روی دریا، ناچیز و حقیر ثمردن جهان و ترک تعلیمات آموجب شکسب و سر افگندگی شود و از روش مطالب اشعار اوست باوجود د آفتادگی و درویشی اشعارفروان در تفاقر دارد.

رحمان بابا گاه گاه مثل ساتر را در شعر بصورت ارسال المثل تغمین کرده و به آن سخن را آرایش اده و دلنشین تر ساخته است.

بعضی تعیرات که حاکی از معنای تمام است از لحاظ ابجاز و نحوبیان به شبه مثل با کلم کوتاهی مانقد است زمانی ازین تعبرات معنایی خاص مفهوم می شود که به ظاهر الحاظ ارتباط ندارد، ذکر عراش الشعر عرب و عجم در اشعار او فراوان دیده می شود کلمات متون را بدون تنوین قافیه کرده است.

اثرپذيري او از شعر و ادب فارسی کلامش راعقی ترو زیبا تر ساخته است، مفردات فراوانی از زبان دری را بکار بده است کاهی الفاظ حجور و فریب فارسی را بکار برده مانند به سکال کوتوال نیا و نگا بر آن زیانی صورت سخن لفظی آمورده مانند بتر به جای بدتر الفاظ بصورت ازواج و اباع در شعر او بچشم می خورد.

ترکیبات نظیر سینه جاک زیر و رده ثاخوان سخدان جد اشعار او فراوان است، صفات، تسبها و اضاخانی از قبیل جام جم، کعبه خلیل، گل تصویر می تاب و دراج در دیوان جسته جسته آمده است، اصطلاحات، کنایات، شبیه مثل و مثل سایر فارسی در اشعارش به ملاحظه مرید، چون آوردن نمونه ها و شواهد برای ارتباط ادعا موجب نظر بیل و بال خاطر نمونه ها و شواهد برای ارتباط ادعا موجب سخاوت و بال خاطر استادان محردوم می شود الذا اروليراد انها حرف نظر شد فقط به دوسه نمونه آن بنده می کنیم.

در سردون این بیت که در مقام تفاضر گفته:

په غزل کې مې دوه بيته انتخاب دی

د رحمان تمام غزل دی انتخاب

گویا نظر به این بیت حافظ داشت:

شعر حافظ همه بیت الغزل معرفت است

آفرین بر نفس دلکش و لطف سخنش

این بیت او

که صورت يې پيدا شوی آخرين دی

په معنی کې اولين دی تر هر چا

ناظر بر این مصرع است به صورت اخر به معنی مقدم این بیت:

د طفلانو په څیرو اړه خاکبازی کا

هر چی کاندی کاروبار ددې دنیا

یاد آور این تصعر نظامی است

دلاتاکی درین کارخ مجازی

کنی مانند طنطلان خاک بازی

از ذکر مثالهای دیگر حرف نظر کرده به این بیت رحمان بابا که شعر حافظ از لحاظ معنی قرین است کلام خود را خاتمه می بخشم.

په روانو اوبو ورشه عمر گوره

ډېر دي هومره اثارت په دا دنیا

حافظ گفته:

بنشین بر لسجوی و گذر عمر ببین

کاین اسارت زجهان گذران مارابس[1]

**۹ - ۲ – ۴ - سخنی چند پیرامون زندگی نامه عبدالرحمان مومند**

عبدالرحمان مومند از نخبه سخوران زبان پشتو است که نسبت به هر شاعر دیگر قدم زبان پشتو طی قرون متمادی مورد احترام و علاقمندی بشتر زبان و مردان پشتو زبانان بوده است.

افزون از دانشوران، دانشمندان، سخنوران و اشخاص مشهور در حلقات دینی و فرهنگی پشنونخوا و افغانستان مدم عوام این دیار نیز مانام و سروده های مهر آمیز عبدالرحمان مومند آشنا هستند. و عوام که از گنجیدز، پر بار ادب پشتو اطلاح ندانند، تنها و تنها عبدالرحمان مومند سر حلقه شاعران پشتو به حساب میاورند.

طوریکه محمدنور شاعری سواد (متوفی ۱۳۲۹ش) گفتند بود:

"به باب د افغانیدکی سر حلقه تیر شو رحمان"

شافرد های دفتر تعبیر عبدالرحمان مومند بدگونه ضرت المثل زبان رد اکثر مردم است سخنوران پشتوزبان همزمان او و یا بعدتر از وی از رحمان بابا به نیکویی یاد که ن اند، چنانچه وی را مدصفات سطان الشعر( وافهه، بابل، سرهفد شنرا بریسان غیب توصیف نموده اند و یاد ریبوز خاور ستاس گفته ود جایکد زبان پشتو گویندگانی دارد در آنجا اشعار شاعر محبوب رحمان بابا نیز رابع است و شنیده می شود.

در انیجا سوال نزد خوانننده ایجا دخواهد شد که شاعری با چنین مقبولی و شهرت چه ضرورتی به شناسایی دارد. با تاسف نابیست گون تا کنون تصویر درستی از زندگی نامه وی سیما ادبی و هندی او کشیده شده است، هر چند که در باره وی فراوان بنشند اند اکنون نیز درباره وی مینویسند وی نمیتوان هر یک ازین بنشند ها ائیند تمام نمای زیست نامه و بررسی ویژه گیهای سخنوری وی دانست، اما از مطالعه تمام این آثار میتوان نمیرفی از زندگی وی را پیشکش حلقات فرهنگی کرد.

من در این بنشند نخست نظر اجمای برکار که دهایی درباز رحمان بابا خواهم داشت، پس از آن گفتنی های پیرامون زندگی امد وی سپس یاد  کردی از مکتب ادبی وی همچینان باز شناسی اثار رحمان بابا بحث خواهم نمود.
شناسایی اخذ و اثار بنشند شده درباره رحمان بابا چنانچه در آغاز ین گفقار این نشند گفته آمد درباره  رحمان

[1]- جاوید، عبدالحمید: ۱۳٦۹ هـ ل، رحمان بابا نخبه سخنور زاان پشتو(مقاله) کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي.

بابا نسبت به هر شاعر دیگر زیان، پیشو در داخل کشور و خارج از کشور و مناطق پشتونخواه بشتر نسبت شده است.

قدیمترین تذکهر ایکر پیرامون عبدالرحمان بابا به  معلومات بصورت نسبی مهم، بسنده و ارزشمند فرضه میدارد، همان تذکره الشعرای محمدهوتک است بنام ( پټه خزانه) تذکه بین سالهای ( ۱۱۴۱ ـ ۱۱۴۲) نبست شده است پټه خزانه درباره زیست نامه رحمان بابا معلومات مفید و ارزنده یی را بدست ما میگندارد. نکته قابل گفتنی که درین تذکره سال وفات رحمان بابا و فردوسی (۱۱۱۷هـ ق) بیامده است، (۱) که غلط ی نماید.

زیر بعضی از وقایع سال ۱۱۲۳ ه ق در دیوان وی بازتاب یافته است معضله سال وفات رحمان بابا را استاد دانشمند ما اکاډمیسن عبدالشکور رشاد حل فرموده اند وی اساس مرشد ایکد یونس خیری درتنای رحمان بابا سروده است دریافت که رحمان بابا درسال ۱۲۸۰ هـ ق) وفات یافته است، و این غلطی در پټه خزانه در افراد هنسی رخ داده است که ناشی از عجله کاتب در کتابت تذکهر خواهد بود و آنرا سهودالقلم باید دانست نه سهوالقکر جز از همین یک اشتبا نسبت های دیگر پټه  خزانه درباره رحمان بابا مهمترین نسبته ما در زمینه شمرده میشود و ما میتوان بر آن حساب کنم.

چون تذکره الشهدای پټه خزانه بار اول در سال ۱۳۱۲ هـ ق شتد شده از همین صحت قبل از نثر این تذکره و تذکره های دیگر بشنو نیز درباره وی یاد کرده های دیده میشود.

و ما در زمینه باد و نوع بنسته ماروبرو میشویم یکی نسبت های قبل از منشر پټه خزانه اند و دیگر پس از نشر اید.

تذکزه آثار ریروهستی و قارینهای ادبی ایکرپیرامون رحمان بابا نست ها دارند عبارت اند از تاریخچه سبکهای اشعار پشتو ام پشتناند شعرا جذ اول (۵) تذکرة الشعرا (٦) ادبي سوغات د پشتو ادب تاریخ (۷) پشتونستان (۸) ادبي جوهر  (۹) ادبی سوغات (۱۰) ټک کی اسپار (۱۱) ادبیات سرحد (۱۲) تخلص پښتانه شعرا (۱۳) پشتو شاعري (۱۴) پنځه ورورنه او فضل احمد غازي (۱۵) پښتو زیان او ادب پریک نظر (١٦) پښتو ادب تاریخ کې (۱۷) تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستا و هند (۱۸) روهي ادب تاریخ (۱۹) پښتو غزل (۲۰) ادبي څېړنې (۲۱) تعلیق کالید افغاني (۲۲) مقدمه گلشن روه (۲۳) مشاهر سرحد در مکاتب پیرامون زسیت نامه وویژه گیهای سخنوری رحمان بابا یاد کردها و تشبه های و افر آمده است که بر شمردن همه آن اینجاب مفصلات را می کند من درین بخش تنها سه اشرا نام می برم!

ـ د پښتو ادبیاتو تاریخ اثر درسی است برای شاگردان صنف چهارم پوهنځی ادبیات از استاد ربنتین که دوباره

به چاپ رسده است (۲۴)

ـ د پښتو ادبیاتو تاریخ درېیم صنف لپاره کتاب درسی برای شاگردان پوهنځی ادبیات از علامه حبیبی (۲۵) هم چنان اثر درسی دیگری نام د (پښتو ادبیات تاریخ ) از پوهنوال دوکتور زیور این اثر نیز برای شاگردان پوهنځی ادبیات تهیه شده است(٢٦)

همینگونه در مقدمه های چا بهای گو ناف گون دیوان رحمان بابا نیز نسبت های از پژو هشگران دیده می شود میتوان درین جمله از نوشته های مرحوم پروفیسور عبدالمجید ( ۱۸۷۲ ـ ۱۹۴۷ م) مرحوم مولانا عبدالقادر(۱۱۰۰ ـ ۱۹٦۹م) مرحوم استاد عبدالروف بینوا ( ۱۲۹۲ ـ ۱۳٦۳ع) دانشمند حبیب الله رفیع، سیدرسول رسا و پوهان دکتور مجاور احمد زیار یاد کرد که نسب پروفیسور عبدالمجید در آغازین برگهای یکی از چاپهای لاهور دیوان رحمان بابا مقدمه مولانا عبدالقادر در آغازین برگهای دیوان چاپ اداره اشاعت سرحد پشاور و چاپ اکاډمي پشتو پشاور مقدمه استاد بینوا در چاپ پشتو ټولنه، همینگونهه از دانشمند رفیع در چاپ دوم پشتو ټولنه از سید رسول رسا در مقدمه نسخه هیوز چاپ یونیورستی بک ایجنسی، مجاور احمد زیار در مقدمه چاپ کمیته دولتی طبع و نشر بیامده است.

افزون از پژوهش های یاد شده پیراموز زندگی آثار و افکار رحمان بابا کتب و رسایل مستقلی نیز درباره وی نسبت شده ا ست که در صددد این چنین اثار و رسایل استاد گرانمایه ادب شناس مرحوم کامل مومند ( ۱۸۱۵ ـ ۱۹۸۱م) قرار دارد.

مرحوم استاد کامل کتاب مغتنمی را بنام رحمان بابا تالیف کرد و رساله دیگری را در جواب رساله دانشمند مرحوم خټک ( ۱۹۱۰ ـ ۱۹۵۸م) نست که در یک شماره مجله لا ( ۸۴صفحه) به نشر رسیده (۲۷) و سومین کار عمده استاد کامل همانا مقدمه رساله گوهه یې بوده که برای کلیات رحمان بابا نسبته بودند.

محترم قلندر مومند بنابر این دلایلی از چاپ آن در مقدمه خود داری کرده است (۲۸) پس از استاد کامل مرحوم عقاب خټک در جواب اوړلین کتاب استاد کامل پیرامون رحمان بابا کتابیرا درباره برداشته تحریر آورد و به سال (۱۹۵۹ م) در پشاور چاپ کرد(۲۹) میرعبدالصمد خان کتابیرا بنام ( شاعر انسانیت رحمان بابا به زیان اردو تحریر و چاپ کرد ).

مرحوم اثر مقدمه ای بدان نگاشته، کتاب کوچکی بنام رحمان بابا، از سوی محکمه نشر و ریاست قبایل به چاپ رسد و در پشاور نشر شده است مؤلف این کتاب معلوم نیست دو رساله مستقل دیگر نیز درباره رحمان بابا بداشته تحریر آمده است یکی از این رساله از پروفیسور محمد اعظم است بنام رحمان بابا د ( ولس شاعر) این

رساله در پشاور به چاپ رسده است.

رساله دیگر از پروفیسور محمد افضل رضا است، بنام در رحمان بابا ( ظنز په شاعرۍ کې) این رساله در سال (۱۹۸۳م) در پشاور به چاپ رسیده است کتاب دیگر که درباره رحمان بابا به من رسیده همان کتابیست ضم از پروفیسور داروخان در قید (۴٦۵) صفحه که به سال (۱۹۸۳م) در پشاور به چاپ رسیده است، کتاب دیگری مربوط رحمان شناسی کتابیست از دانشمند جوان ما آصف صمیمکه وی فهرست تشریحی اعلام دیوان رحمان بابا را در آن تشرح نموده است این کتاب نیز در پشاور چاپ شده است.

نام مکمل کتاب آصف صمیم (د رحمان بابا دیوان نومښود) است و سال چاپ آن ۱۹٦۸م از سوی رحمان ( د ادبي جرگه) کتاب دیگری که درباره رحمان بابا تحریر و چاپ شده است کتابیست بنام ( عارف رحمان بابا) این کتاب (۹) بخش دارد و در زیان اردو مؤلف آن فهم دل راهی است در (۱۳۰) صفحه و آنرا درباره مقالات پیرامون رحمان بابا باسیت گفته که طی پنجا شصت سال اخیر در شماری از نشریه های موقوت صوبه سرحدی شما مغربی و کویته و نشرات پاکستان و افغانستان و سایر کشور ها درحدو هزار مقاله و نوشته های رساله گونه درباره وی سروده هایش به چاپ رسیده است، که نمیتوانم همه این ها در پنجا بر شمرد.

افزون از اثار یاد شده خاور شناسان تیز طی قرون نزده و بیستم درباره رحمان بابا به پژوهش پرداخته اند و به ترجمه اثار وی دست یازیده که خاورشناسان که درباره رحمان بابا یاداشت ها گفته و نشوته ها به نشر سپرده اند چند تن آن عبارت اندازه موئث ستوارت الخستون ( ۱۷۷۹ ـ ۱۸۸۹م) در کتاب د کابل سلطنت بیان (۳۱) د پروفیسور ډورن ( ۱۸۰۵ ـ ۱۸۸۱ع) در مقالات شان متشر در بولتن امپریال اکاډمی روسیه و مقدمه خریتوماتی (۳۲) هانری جارج راورټي ( ۱۸۲۵ ـ ۱۹۰٦ع) در مقدمه امیر پشتو (۳۳) و سلکشن فرام دی پویتری اف دی ( یا دری سیوز در مقدمه کلید افغانی ۳۵) جمیزډار مسټیټر (۱۸۴۹ ـ ۱۸۹۴ع) در مقدمه هارو بهار (۳٦) تریور چیچلي پلاون در خواستنی ترجمه کلید افغانی (۳۷) پروفیسورجمیرډار مسټیټر پلو مات در فهرست نسخ خطی پشتو برټش مزویم (۳۸) بلوشه د فهرست نسخه خطی کتابخانه ملی پاریس (۳۹) دکټر میکنزی در فهرست نسخ خطی پشتوی بریتانیا (۴۰) گیرس و گیراسیورا در کتاب دافغانستان بیان (۴۱) و هم چنان گیرس در میرړنی ولس ادبیات جوانز و لدمن در مقدمه منتخب دیوان رحمان بابا (۴۳) ولادیمیرو اسلو و بج کوشیف در فهرست نسخ خطی پشتو لینگراد (۴۵) سراو لف گیرو در کتاب معرفش پتانها (۴۴) و دگیران...
بر علاوه پروهشهای خاور شناسان عبدالرحمان بابا مومند در دایرة المعارف های را ایکاو پیدی های معروف کشور ما، کشورهای منطقه و کشورهای نقاط دگیر جهان نیز معرفی شده است که چنین معرفی های رحمان بابا را صبغه بین المللی می بخشد.

در انسایکلو پیدیایی بزرگ کشور وی و هم چنان دو انسایکلو پډیانی تاجیک و دیگر جمهوری های آسایی میانه نیز رحمان بابا معرفی شده است هم چنان از پنجاه سال به این سو در مراکز پژوهشی و آمغرشی بزرگ کشور و منطقه ما و مراکز خاورشناسی جهان درباره رحمان بابا رساله های علمی برای درجه ماستری و دوکتور و مونوگرافها نیز تهیه شده است که یاد کرد هم آن گپ را به دراز می کشاند.

درباره ارزش چنین پروهش ها باید گفته که به تنهایی یکی ازین پژوهشها نمیتوان سیمای رحمان بابا را به مال می شناساند و ویژه گیهای هنرش را بازتاب دهد ام ایازدهم شماری ازین  آثار در مطالعه زندگی و هنر رحمان بابا با ارزش و پرار رج به نظر می آید بر علاوه نشته های پژوهشی و تحلیلی با ارزش و بیش ها نبشه های کم ارزش نیز در آثار یاد شده به نظر می خورد که میتوان مورد داوری ادب شناسان واقع شود و ضرورتی در مطالعه رحمان بابا آن احساس شود آثار عمده که با در نظرداشت بعضی کاستی های ناچیز در مطالعه رحمان بابا با ارزش به نظر می اید، عبارت اند از:

سه کتاب و رساله استاد کامل مومند

ـ نبشته محمد هوتک در پټه خزانه

ـ نبشته های لوی استاد مرحوم علامه عبدالحی حبیبی در آثار گوناگون

ـ نبشته استاد رشاد در مقدمه گلشن روه

ـ نبشته دانشمند بریښ در مقدمه دیوان رحمان بابا چاپ دوم کابل

ـ نبشته های محمد اعظم و پروفیسور طایر

**اندر باره زیست نامه رحمان بابا**

عبدلرحمان بابا فرزند عبدالستار از عشیره ابراهیم خېل طافه دویزی قبیله مومند بوده(۴٦) سالزاد ویرا محمد هوتک در پټه خزانه (۱۹۴۲ هـ ق) قلمداد کرده است زادگاه وی در بهادر کلی قصه یې از توابع پشاور است که در فاصله چهار میلی سمت جنوب شهر پشاور موفقیت دارد.

اما رحمان بابا بنابر یادکردهای خاورشناسانی چون راورټي د دیگران پس از مدتی از زادگاهش به منطقه هزارخانی از معنافات پشاور مسکن گزید و در آنجا به سر می برد.

رحمان بابا در همان دبار به سال ۱۱۱۸هـ ق) بمرد و در مقبره هزارخانی به خالک سپرده شده، مدفنش مرجع

خاص و عام است همه ساله مشاعره بهاری از سوی شاعران مناطق پښتونخوا و گاهی هم از طرف انجمن های ادبی آن دبار بر مزارش برگذار میگردد.

برم قدر رحمان بابا در سال ۱۹۵۱ع) تعویذ مرمری از سوی پشتو ټولنه افغانستان گذاشته شده بنابر یاد کردهای محمدهوتک در پټه خزانه وی از ملا محمد یوسف یوسفزایی آموخت به منظور کسب دانش به منطقه کوهاټ رفته و به دیار هندوستان نیز سفرهای داشته است عبدالحلیم اثر در یک نبشته اش اضافه می کند در سال (۱۰٦۱هـق) مولانا محمد یوسف اخوند به منطقه شیرکوټ کوهاټ تشریف اورد در سال بعد در آخیر سال ـ۱۰٦۲هـ ق) عبدالرحمان مومند نزدش به س به بشرکوټ رفت و تا سالی(۱۳٦٦هـ ق) با وی بود، هم اثر کور از معلومات عبدالرحمان دیگر مشاهر ادبی و صوفیه نیز سخن ها بنگوید اما به گفته های خود سندی ن همی آورد. لذا چنین گفته های به سند قابل فتوای تحواهد بود از مطاله دیوان عبدالرحمان مومد بر می آید که یو د علوم متداول عصر معلومات ماست، با دادب پارسی و عربی نیز آشنا بود و در سرایش شعر پشتو چنان استعداد داشت که سروده های سحر نگیزش تا و خانه های نهایت درو از اوچ فراوان دار خواهد بود.

شماری از نوسیندگان و پژوهش گران به این باور اند که رحمان بابا شاعر صوفی بود و اشعار صوفیانه نیز سروده است؛ اما برخی از پژوهشگران راعقیده بر آنشت که وی صوفی چون مولانا و سنایی نبود درباره طریقه تصوفی وی نیز معلومات بد سترس عاله قرار ندارد ولی عبدالحلیم اثر می نوسید که وی به طریقه او په گرایده بود اما گفتارش سند ندارد.

**شیوه سخنوری و پیروان رحمان بابا**

رحمان بابا سخنبردار چهره دست و پر آواز در زیان پشتو چنان شوه سخنوری را به خود گردیده است که بنا بره پژوهش های ادبیات شناسان کشور ما و پژگي های دارد که متعلق ب هخود او انتقار اوست و درد پژوهش های ادبی ما بنام سبک رحمان بابا شهرت یافته است ویژوگیهای این سبک را چنان میتواند شمرد:

۱ـ ابهام و پیچیده گي درین روش سخنوری را ندارد.

۲ـ تصویر و طرز بیان آن خیلی ساده است

۳ـ الفاظ و پاییزه و نشته را انتخاب می کند.

سبک رحمان بابا بشتر واقعیت گرا است و به خیال گرایی مکتبر می پردازد.

۴ـ مسایل عشق و محبت اخلاق و عرفان درین سبک، بشتر بازتاب یافته است.

۵ـ غزلیات، مخمسات، قصاید و اقسام دیگر شعرهایت زیبا درین سبک سروده شده است.

٦ـ سبک سخنوری رحمان  بابا در زمانش و پس از آن بشتر مورد توجه پژوهشگران مناطق پشتونخوا قرار گرفته و ده ها سخنوری درین جا و انجا از شیوه سخنوری وی پیروی کرد، همه این سبک های که تاریخ سبک رحمان است، بطور کل آنرا مکتب ادبی رحمن بابا متوان نام گذاری کرد، یونس خیبری عبدالرحیم هوتک، اخوندگدا، عبدالعظیم، میانعیم، حاجی جمعه، عبدالنبی، مطیع الله، معزالله مومند، عبدالغفار هوتک و چند تن دیگر... بازشناسی آثار: تال حال تنها دیوان شعر رحمان بابا به ما رسیده است این دیوان در دو دفتر تهیه شده است هر دفتر آن در تقریباً همه دسترس ها مردف گردیده آمده است در مود تدوین دیوان رحمان بابا در زمان حیانش اختلافاتی نزد محقیقین وجود دارد، اما شهادت های داخلی یدوان رحمان بابا می رساند که وی در حیاتش یدوان شعرش را ترتیب داشته بود چنانچه خودش گفته است.

زه رحمان به خپل اشعار شکر گذار یم

چې دا هسې رنگ دیوان می دی موندلی

دفتر های رحمان بابا چهار هزار بیت اگر که در چاپ دوم کابل (۲۲۰) بیت شمار شده است اما پژهشگران متن شناسی باورمند نیستند که تمام سروده های گرد آمده در چاپ دوم پشتو ټولنه ( دیوان رحمان بابا) که خود رحمان بابا شد، زیرا شماری از غزلیات و بیتهای که درین چاپ گرد آمده اند مطابق به اساسات متن شناسی کمبودها و کاستی ها دارد که نمیتوان را از رحمان بابا شمرد، به همین سبب است که من تعداد ادبیات دیوان رحمان بابا را در حدود چهار هزار تضمین کردم.

رحمان بابا شناسی معروف استاد مومند نیز در کتابش بناد رحمان بابا گفته است که در دیوان رحمان بابا اشعار جعلی و اشعار شاعران دیگر نیز را یافته است.

این دیوان شامل غزلیات، قصاید و غزلیات قصیده گونه مخمس و مسمع است از نگاه مضمون دیوان رحمان بابا بازتاب دهنده مقابل عشق و محبت ، مسایل اخلاقی و بعضا عرفانی است گاه هنگامی احوال جامعه خود رانیز از نظر دور نداشته است بلکې درباره مسایل اجتماعی نیز گفته ها و بادکردهای دراد هم چنان میتوان بازتاب بعضی وقایع تاریخی ورگه های از دور اجتماعی را درین سراغ کرد.

در شناسی دیوان رحمان بابا میتوان نکات آتی را مد نظر داشت.

الف ـ سنح خالی دیوان رحمان بابا ، نسخ خطی دیوان رحمان بابا نهایت زیاد یافت می شود، درکتابخانه های

افغاستان مناطق پښتونخوا دیده شده است کتابخانه های هرست نسخ آن چاپ وم سترس عامه قرار گرفته است به اساس مطبوعات فهارس چاپ شده در کتابخانه های زیرین نسخ خطی بابا را میتوان باین تعداد دریافت.

- کتابخانه های بریتانیا(۹) نسخه دسنویس
- کتابخانه های هندوستان ـ۱۱) نسخه
- کتابخانه انستیتوب خاورشناسی لینگراد(۴) نسخه
- آرشیف ملی افغانستان (۱۱) نسخه
- کتابخانه ملی پاریس (۳) نسخه

افزون بر نسخ یاد شده در کابل کتابخانه های اکادمی علوم پوهنتون کابل، استاد رشاد دانشمند، بریتش موزیم محلی و شش نسخه محلی آن د کتابخانه نگارنده نگاهداری می شود، همچنان در کتابخانه اکادمی پشتوی پشاور موزیم پشاور، کتابخانه پوهنتون پشاور، اسلامیه کالج پشاور، کتابخانه پروفیسور سیال کاکړ و سایرکتابخانه های در کویته و پشاور و دیگر کتابخانه های جهان موجود است، قدیمترین نسخه تا حال معلوم آن همان است که در سال (۱۱۴۵هـ ق) نبشته شده و درکتابخانه استاد رشاد نگهداری می شود.

**ب ـ نسخ چاپی دیوان رحمان بابا:**

اگر چه شماری از پژوهشگران و عبدالرحمان مومند شناسان قدیمیترین چاپ دیوان رحمان بابا را همان چاپ میداند که به همت مولوی احمد ( ۱۲٦۱ ـ ۱۳۰۰هـق) برای دری هیوز تحیه شده بود و به سال ( ۱۲۹۴ هـ ق ۱۸۷۷ع) در لاهور به چاپ رسیده است، مؤلف نامعلوم رساله رحمان بابا و پروفیسور داروخان نیز در کتاب رحمان بابا همین چاپ را نخستین چاپ دیوان رحمان بابا داشته اند، اما به آنها معلوم نبود که دیوان رحمان بابا (۲۱) سال قیل او چاپ به سال (۱٦۷۳م) در مطبعه مر تضایی پشاور نیز په چاپ رسده است که دفتر اول آن (۱۲۷) صفحه و دفتر دوم آن ۷٦) صفحه است.

باید یاد آور شد که دیوان رحمان بابا پیش از هر کتاب به دیگر پشتو در مطالعه هنده پاکستان، مناطق پښتونخوا، افغانستان و اروپا چاپ شده است، امن در حدود(۵۰) چاپ آنرا دیده ام اما چاپهای متقع آن هما ناچاپهای هیوز و مولوی احمد بار اول د لاهور در (۱۸۷۷ع) و بار دوم در پیشاور ( ۱۹۷۷ع) همرا با مقدمه ښاغلی سید رسول رسا، چاپ اکاډمي پشتوی پشاور چاپ اداره ساعت سرحد همرا با مقدمه مرحوم مولانا عبدالقادر، نسخه استاد بېنوا چاپ سال (۱۳۲۸هـ ش) نسخه چاپی پښتو ټولنه به کوشش دانشمند غروال و

دیگران همار با مقدمه دانشمند استاد رفیع و کلیات رحمان بابا به کوشش مرحومو بر حسین مومند، مرحوم استاد کامل مومند و دانشمند قلندر مومند، این کلیات از علمی ترین و زیبا ترین نسخ منقع دیوان رحمان بابا است که به سال (۱۹۸۴ع) در پشاور به چاپ رسیده است اما باست گفته که آخرین چاپ دیوان رحمان بابا همان نسخته است که به سال ( ۱۹۸۷ع) از سوی اکاډمي پشتوی پشاور زیور چاپ شده است.

**ج منتخبات و دیوان رحمان بابا**

زمانیکه سخن از منتخبات دیوان رحمان بابا په میان می آمد، ما در کتب ادبی پشتو و دو نوع منتخبات روبرو می شویم یکی منتخبات خطی و دیگری چای.

از کتب گرفته شه است که ما همه یی آنرا دین نبشته کوتاه بر ثمر ده نمیتوانیم من چند مجموعه منتخب خطی عمده را نام میگرم که در آن غزلیات رحمان و سروده های رحمان بابا را گزیده ند.

۱ـ چمن بی نظیر: ترتیب کرده مولوی احمد، مخطوطه برتش موزیم(؟)

۲ـ چمن بې عدیل، گلشن بې تمثیل تدوین آنرا مرحوم انځرگل کاکا خېل به فر جام رسانده است مخطوطه اکاډمی پشتوی پشاور(٦١)

۳ـ بیاض میاحسب گل، ترتیب شده از سوی مرحوم حسیب گل کاکا خېل مخطوطه سناالدین کاکاخېل.

بیانات افغانی که یک نسخته قدیم آن کتابت سال (۱۱۴۲ هـ ق) در کتابخانه دانشمند رفیع محفوظ بود.

۴ـ بیاض ملا شایسته خان، بیک نسخه این بیاط نیر در کتابخانه دانشمند رفیع وجود داشته.

اما انتخابات چاپی آن از همه اولتر به سال ( ۱۳۴۵ع) دویتر زبورگ بکوشش دوکتور برنهار دورن در خریتوماتی چاپ شد(٦٢) بار دوم در سال ( ۱۸۴۷ ع) در خرسیتوماتی بزرگ همان درون در پترزبورگ به چاپ رسد( ٦٣) بار سوم به کوشش روانی در گلشن روه به سال ( ۱۸٦۰ع) در لندن چاپ شد (٦۴) بارچهارم به سال ( ۱۸۷۲ع) مشترهیوز در کلید افغانی (٦٦) به سال (۱۸۹۸ با پنجم در بهارستان افغانه (٦٦) با سال (۱۸۹۸ع) و بارششم در نشکرستان افغانی (٦۷) به سال (۱۹۵۰ع) به کوشش قاضی میراحمدشاه رضوانی به چاپ رسید.

هم چنان در برگهای چمن فیروزی نیز منتخبی از سروده های رحمان بابا به چاپ رسید است( ٦٨) در مجموعه های بهار گلشن و جشن نوروزی و بهار نوروی نیز اشعار رحمان بابا به چاپ رسیده است.

**د ـ نگاهی به تراجم و سروده هایی رحمان بابا:**

بررسی و معرفی همه یی تراجم رحمان بابا ایجاب نگارش رساله جداگانه يې را می کند اشعار رحمان بابا به بسیاری از زبانهای منطقه و زبانهای عمده گتی بر گردانی شده است که از آنجمله میتواند چندین ترجمه گن و عمده آنرا یاد آورشد.

اشعار رحمان بابا قبل از همه بزیبان فرهنگی ترجمه شده است منشی موهن لال صد سال و اندی پیش به ترجمه غزلی از رحمان بابا است بازدید و آنرا به سال (۱۸۲۴ع) در اوز نامچه سفر پنجاب و افغانستان خود ته چاپ رساند (٦٩) پس از آن میجرلیچ انگلیش در پایان گرامر خود (۷۰) و همین گویه واگهن در فرمامین بخشهای گرام ربشنوی خود به ترجمه بعض از سروده های رحمان بابا همت گماشته (۷۰) میجر راورټي در گرام خو د تگ بحثهایی رحمان بابا را و در شلکشن، منتخبات رحمان بابا د گلن روه را بزمان فرهنگی برگردانی کرد، و تریور پیچلی پلاون منتخب دیوان رحمان بابا چاپ شده در لکید افغانی را یزبان فرهنگی بزگردانی نمود.

صدو سی و پنج سال قبل ترجمه اردوی دیوان مکمل رحمان بابا به سال (۱۲۷۴) به چاپ رسد، این ترجمه رامنشی واحد علی خان به فرجام رسانده است.

دیوان مکمل رحمان بابا توسط استاد حمزه شینواری را همرای بامتن پشتو اکادمی پشوی پشاور در سال (۱۹۱۴ع) چاپ و نژ کرد غزلهای غزلهای و دیگر سروده های رحمان بابا بزبان اردو ترجمه شده است که نمونه های آن در آثار تذکره و تاریخ ادبی پشتو بزبان اردو آمده است. و یکی از آن خیابان پآک است، آثار دیگر اردو که ترجمه اشعار رحمان بابا را نیز با خود دارد در بخشهای گذشته عادی کرده ام در حدود سی و پنج سال پیش متم کامل دیوان رحمان بابا بزبان پارسی نیز برگردانی شد اگر چه من خود متن ترجمه قدیم اردو بیامده، اشکار می شود که از ترجمه اردو ترجمه پارسی دیوان رحمان بابا تهیه شده بود بعد از قدیمترین ترجمه منظوم پارسی یک غزل رحمان بابا مسافر مروت در حدود صد سال پیش تهیه کرده است ترجمه های دیگر پاریسی اشعار رحمان بابا نیز موجود است چون ترجمه های واجد و استاد حبیبی افزون بر آن غزلیات و سروده های رحمان بابا بزبان هندکو و زبانهای فرانسوی اتیالوی، رسوی از یکی بلوچی و دیگر زبانها نیز ترجمه شده که بحث بر آن درین مختصر نمی گنجد.

و اما درباره ترجمه های عربی سروده های رحمان بابا گفته که چند بیت رحمان بابا در کتاب لغت لبشنو (۷۹)

و چندین غزل و ادبیات ویرا را دکتر سعید افغانی نیز به زبان عربی برگردانی کرده است.[1]

**۹ – ۲ – ۵ پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار (د رحمان بابا لیکلار)**

که د جولې او منځپانګې ( فورم او محتوا) په هر اړخیزه توګه په پام کې ونیسو، نو د شعر په برخه کې دا لومړی خو که له ژبې پرته بل څه کېدای نه شي، هغه هم له دروګونو اړخونو څخه:

۱ـ د متریک یا شعري جوړښت له پلوه.

۲ـ د هنري انځور له پلوه

۳ـ د منځپانګي د څرګندولو له خوا؛ له متریک پلوه، دا معنا چې د پښتو شعر جوړښت له سپلابونو نیکی کوښي سره سم د دوو غوړو ژبینو توګونو( څپې، خج) پر بنست ولاړ دی، د هنري انځور پایه لنډ ډول له هنري پلوه دا مانا چي هر هنري انځور، سمبول یا اسطوره خپله جوله له ټاکلو ژبنیو توکونو ( ویښونو کړنو...) څخه اخلي او له ه مدې لیکنې موږ دغه اړوندې ته ژب، ښکلاییز دیالیسک وایو، په همدې هنري اړخ پورې تړلی تخنیکي او ډلیز( عاطفي) توکونو هم در واخله، او په پآی کې ددغې ګردې ژبنۍ جولې په وړاندې بیا منځپانګه ټیکاو لري.

مانا دا چې د منځپانګې څرګندولو او ربنتیاینه نیغ پر نیغه پر ژبې اړه لري تر دې چې دغه اړوندې بې سره یو ژبه اندیزدیالکتیک رامنځته کوي.

په دې توګه که موږ د غواړو د رحمان بابا د شعر ژبنۍ جوله پایه لنډ ډول (لیکلار) تر څېړنې، سپړنې او شننې لاندې ونیسو، نو په کار ده دغه درې واړه ټولنیز" ژبې" اړخونه مې په پام کې ولرو، دلته ګورو لکه څنګه چې په ډاګه ده د رحمان بابا ټولنیز شعر غونډې یو څپز، خنجیز بنسټ ټینګ ولاړ دی، هغه هم له ډېر رنګارنګۍ د څپوله پلوه یې زیاتره شعرونه یووسلس څبز او دولس څپیز دی.

او د خجیز انډول له پلوه نژدې ټول یې په درېیمه خجنه ښېل مومي، په لومړۍ خجنه څپه ښایي له اته لسو شعرونه تېرې ونه کړي او په درېیمه او څلورمه خجنه خو ښېخي کومه ښېلګه نه لري.

په ژب ښکلاییزه پرخه کې دا هم ټولو ته جوته ده چې د رحمان بابا شعر دومره پیچلتیا نه لري او دا چې تصویر او تخیل یې دومره پیچلي نه دی؛ نو ښکاره ده چې اړوند ژبنی استرونه ژوبیتونه، ګړنی، غونډلی...) یې هم ساده، بې ابهامه او ډېرو ته د پوهندنې وړ دی او په ډې لاسوند دومره ولاړیشن او پراختیا نه لري، دا چې له

---

[1]- هېوادمل، زلمی، ۱۳٦۹، د عبدالرحمان مومند با( د رحمان بابا د دوه سوه ا تیایم تلین په مناسبت د مقالو مجموعه) کابل: کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، سخن چند پیرامون زندګي نامه: ۹۴ ـ ۱۱۴.

منځپانګې را په بله وینا له اند (آیدیا) سره د ژبې اړوند یې بیا په ځانګړې ډول یو ژب، اندیز ډیالتیک جوړوي او د رحمان بابا دشعر په برخه کې دا دویمه " منځپانګیزه" یا " اندیزه" خورا ډېر رنګارنګي او واریشن نه لري، نو ځکه یې ژبه له دې پوله هم له نورو نومړو شاعرانو لکه خوشحال خان او حمید په پرتله ډېره لنډه تنګه او یو ډوله ده په غوره توګه یې له مینې، تصوف او مذهب د محتوا اسکالووي( موضوعګانې) تېرې نه کوي.

اندود او نړۍ لید بې له توکیزې ( مادي) نړۍ سره کار نه لري او د لوی استاد حبیبي خبرو " له مادي کثافاتو څخه لرې کېږي" ورمونه او ورو مسندونه یې چې د بلنې " اپیل" او پیغام زیاتره برخه جوړوي، پر هماغه اخلاقي آرونو او ارزښتونو ولاړ دی، چې دده له اسلامي ګروهي او انګیروالي ( ایډیالیزم) څخه سرچینه اخلي، له ټاکلي او نو میرلي ( مشخص) منځپانګې سره سمه چې کومه نوموپنوهنه ( ترمیولوژي) کاروي؛ تر ډېر کچې پورې تر عربې او پارسي اغیز لاندې ده او ډېر ژبني انډولونه یې له اړوندو جاجونو ( مضهومونه) سره یو ځای را پور کړي دي، د پًارسي پر وییینو له بې خبر ته کارونې یې داسې بریښي چې ته به وایي ګرد سره ورته پورینونه اوسي، نو که له دې پلوه له خوشحال او حمید سره پرتله شي، دا پایله ( نتیجه) به لاس ته راشي چې ګوندې رحمان بابا د خپلې ژبې رنګارنګي لپاره ددغو دوو پر خلاف د پښتو د ګړدودي خپلو روایتونو پر ځای له پارسي هغو څخه ډېره ګټه اخیسې ده مګر له دې ټولو خبرو سره سره کوم ادبي ژبني، آر او معیار چې په کلاسیک سپرکی دود وو، رحمان بابا پوره پوره په پام کې نیولی او کارولی دی، ژبه یې روانه ساده وګړنې او خوږه ده چې پر پوره وییونو یې نه یوازې ښخونده کړې نه ده بلکې لا مې " شیروشکر" کړې ده؛ که یو خواته وایي:

خواننده د نانوسیو صحیفو دی

داننده د هر اسرار دی رب زما

یا هم:

ښلتانه په زړه زهیر کړم بې حساب

یو سبب وکړي یا سبب الا سبابه

یا هم:

یا د باد په مخ کې خاورې دي دا ت ورې

یاد اور پّ م خ کې واړهد وچ وانښه دي

یا هم:

دا نیمگړی سړی ننګ چې په خپل نام کا

ته خو خدای یې چې په هېڅ نه یې نیمګړی

دادې دلته به په لنډ ډول د رحمان بابا د لیکل ببلابېل اړخونه تر څېړنې شننې لاندې ونیسو.

**غږ پوهېز ( فونولوژیک) اړخ:**

په دغه برخه کې غواړو د نورو پیلیو لیکلیو تاریخي متنو غوندې د پښتو شعر د سیلابوتونیک تووتال او بیا د قافیې او ردیف په مرسته یو لړ ښېلتاوي او ځانګړتیاوې په ګوته ګړو که څنګه چې ټولو ته جوته ده هر شاعر له اړتیا سره سم ډېر ژبني آرونه او د پسیلونو نه تر پښو لاندې کوي او رحمان بابا هم ا ړ نه ده کړې؛ لکه:

" هرګور" د " هرګوره" پر ځای:

که د عشق لاره اغزنه ده هرګور

د  عاشق په پښو ځپلی دی د اور

(خلقه) یې د (خلک) پر ځای درې څپز او بیا یو ګړیز ښځینه کارولی دی څه شو که خاموش یم ستا د عشق له آه سرده ستا زما له میخې خلقه ولاړ ه خبر دی

( ځیله) او (ویله) زیاتره هم قافیه او دوه څپیزه دود لري؛ مګر رحمان بابا لومړی دا درې څپیز کارولې چې اول خج یې هم پر (ب) راوستې دی.

( قیاس) یې هم همداسې قیاس کړی او یو څیز یې کارولی دی:

که څوک قیاس زما د ډېرو اوښکو وکا

هسې ګرځم لکه خس و پاس په در یازه

همداسې سول هم در واخله؛ لکه:

نه ځواب و چاته کاندي

نه یې غاوړ د چا په سوال شي

دوکتور مجاور احمد زیار د رحمان بابا یو څپیز، دوه څپیز شعر په برخه کې هم ذکر کړی دی؛ لکه:

رسولی یې تر مراده هېڅوک نه دی

همه واړه هسې پاتې شو نامراد

دوکتور زیار په دې نظر دی چې پارسي لغتونه کې کم څېپز راوړي دي لکه د ( آملا) په لاندې بیت کې:

همېشه د خپلو اوښکو له سېلابه

سر گردان تر فلکه تر اسیاره

دې زیاتوي چې د خپلو شعرونو ردیف او قافیه د عربي په څېر راوړې پوهاند دوکتور استاد مجاور احمد زیار د رحمان بابا د لیکلارې گړپوهنیزې ځانگړتیاوې هم په پرتلیزه خوړا داسې نشظر لري چې د رحمان بابا د لیکلاو وگړپوهنیزې ځانگړتیاوې هم په پرتلیزه ډول دومره رنگارنگۍ او پیچلتیا نه لري د اوسنۍ ادبي معیاري پښتو پورنگي په کې ډېره ځلېږي او د خوشحال خان یا حمید غوندې بېلابېل گړدودي خیلونه ( دارینتونه) او خپل اسي قیاسي جوړونې نه کاروي د لومړی نارینه وگړي پایله لکه د اوسینو او پخوانیو ششاعرانو له اړتیا سره سم لړو ډېره پّ وازه څپه هم راوړی لکه بیا مومنده ( بیاموند) ولیده( ولیده) تر څنگه کړمه د کړم تر څنگه او داسې نور لکه په دې وروسته بېلگو کې:

چې له ډېر حیا نه گوري و چاته

غوځ د کړم غوځ کړم دې ستا ډېر حیازه

ځمکه بیا موند له له خلکو کرام شمع

په ژیړ رنگ په پښتو اوښکو به ما بیاموند

++++

لکه تښتې وحشیان له مردمانو

هسې وتښتېده خواب زما د سترگو

++++

چې دې اسم د زنځیر د زلفو کېښود

معطر ده کړ دماغ دیوالقار نور

دوکتور مجارو احمد زیار د رحمان بابا له خوا د سربلونو استعمال ته اشاره کوي" د نن سبا غونډې د ( پر) او (په) سر بل سره کله اوښتې پیر ستمالوي او کله یې نه لیکي؛ لکه:

په دغه لارې به ورشي خدای رسول ته

که پر غره پر سمه ګرځم باک مې نشته

یا هم:

مرزی تل ګرځي په لوړې پر ژورې

همدارنګه دا اخیار هر چیزې لکه یوګړی په اوښتې بڼه راوړي یو نیم نور نوم ( جنس اسم) هم قافیې اړتیا سره سم پّ اوښتې چاپېریال کې نا اوښتې کاروي؛ لکه:

د یار ډې غمخوارۍ یم عاجز کړی

رحمان ځکه په خوردن د شراب خوښ یم

داکټر زیار د بابا په لومړی شعر نور نظر هم وړاندې کړي:

" د رحمان بابا دلته هم دنګه پښتو ګړنو تر ځنګه له دري هغو څخه هم کار اخیستی دی لکه د جوفروش ګندم نمایی دم وهل ( دم زدن) انګشت نما...نګه پښتو کړنې؛ لکه:

پر تورو سپین مې لاړ وي دا څوک دی

که ته نه یې په مخ سپینه په زړه توره

استاد دوکتور زیار د رحمان بابا ژبنینو آر نومونه، صفتونه، فعلونه، سربلونه، اوستربلونه، د ژبې ړنګه والي، ښایست او خورا ډېرو ډېرو خواوو باندې هر اړخیزه رڼا اچولې ده چې د یوه پاخه او پیاوړي ګرامر لیکونکي څېړونکي او پوهاند له علمي شخصیت سره ښایي.[1]

یادونه: باید ووایم چې د عبدالرحمان بابا مومند یاد اثر چې د کابل پوهنتو د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا د بابا د (۲۸۰) تلین په مناسبت په (۱۳٦۹هـ ل) کال کې را ټول شوي دي د (۷) پیغامونو (۲۱) تحقیقي مقالو

---

[1]- زیار، مجار احمد، ۱۳٦۹، د رحمان بابا لیکلار، د عبدالرحمان بابا مومند یاد، کابل: کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي: ۱۷۸ ـ ۱۹۲

مجموعه ده چې د درانه استاد سر محقق زلمي هېوادمل له خوا يې د چاپ توفيق تر لاسه کړی دی ما له مجموعې څخه ځينې ځېړنيزې مقالې د اقتباس او ځينې نورې په تحقيقي او تحليلي توګه راوړې دي.

**۹ – ۲ – ٦ د عبدالرحمان بابا څخه د استاد دوکتور سيد محی الدين هاشمی نظر**

د عبدالرحمان بابا رحمت الله ژوند ټولنيز، ادبي او عرفاني شخصيت استاد دوکتور سر محقيق سر محی الدين هاشمی تر پورته سر ليک لاندې لومړی د حضرت عبدالرحمان بابا د ادبي او عرفانی شخصيت په برخه کې په هر اړخيزه توګه غږېدلی دی.

لومړی د بابا ( لنډه پېژندنه) راوړې، ټولنيز شخصيت او مقبوليت، د رحمان بابا ادبي شخصيت، لومړی د رحمان بابا شاعري، د رحمان بابا ( ادبي مکتب، د رحمان بابا د خپلو معاصرو شاعرانو له نظر لکه: اشرف خان هجري، مصری خان ګګياني، معزالله خان مومند، پيرمحمد کاکړ، شمس الدين کاکړ، يونس خيبري، نجيب سربنديو بيدل هشنغري، بازمحمد بنګښ، ميرزاحنان بارکزی، عبدالعظيم رانيزی، رحمت داوی، عبدالله پوپلزی، هنري ارزښتونه او ادبي ځانګړنې لوړ تخيل چنبري زړه راښکون ساده ګي يا رواني فصاحت بلاغت عرفاني او تصوفي شخصيت او عرفان تصوف د اشعارو منځپانګه او..برخو کې پوره پوره عالمانه هر اړخيزه او له مزې او معلوماتو ډکه سريزه او ليکنه کړې ده چې ځينې برخې يې اقتباس او ځينې نورو برخو ته تحليلي او څېړنزه کتنه وکړو.

دوکتور محی الدين هاشمی د بابا د زوکړې په برخه کې نظر لري چې (۱۰۴۲هـ ق) کال د پېښور ښار پّ جنوبي اړخ کې پروت بهادر کلي کې سترګې نړۍ ته پرانيستې دي، پلار يې عبدالستار نوميده، د موند د قبلي ته منسوب و، وايي چې رحمان بابا له ډېر شهرت سره سره د ژوند حالات يې تياره کې دي پټه خزانه د محمدهوتک اثر يې د زيږېدو کال (۱۰۴۲هـ ق) بولي. د فقهې کتابونو او تصوف زده کړه يې له ملا محمد يوسف يوسف زی څخه کړې ده او بيا د لوړ زده کړو لپاره کوهاټ ته تللی دی تل به په رياضت او عبادت بوخت و د بابا د ټولنيز شخصيت او مقبوليت په برخه کې استاد ډاکټر هاشمي ليکي:" په زياترو ادبي څېړنو کې د فوکلوري رواياتو په استناد، رحمان بابا يو صوفي ملنګ، تارک دنيا، له خلکو او ټولنيزو ژوند ن ه داسې ګوښه شوی انسان بلل شوی چې د هېڅ ډول خپلوۍ او اجتماعۍ اړيکو ساتلو ته بې پاملرنه نه درلوده؛ خو چې کله يې پّ غور او دقت ددېدوان پاڼې را واړوو، د پورتنيو روايتونو او ادعاګانو پر خلاف پّ کې داسې څرګند شهادتونه مومو چې د نوموړي د خپلو ډېرې نږدې رشتې او اړيکې د خپلوانو او دوستانو په رنځ کې دردمندي او خواخوږي، راشه درشه، ټولنيزو چارو او کسبونو په باب پوه، معلومات او پنځه تجربه او د ژوند نور مسايل ورڅخه په ښه توګه څرګندېږي؛ د بېلګې په توګه:

" د د خپلوانو پّ دردمنۍ له زوی، ورو او غزيزانو سره اړيکې خپله بې وسي او د مال دولت ښګڼه او په ژوند کې

ورته اړتیا یې د شعرونو په لاندې بیتونو کې ډېر ښه ښودل شوي دي:

په هر کور کې نرځوران راته پراته دي

لاس مې نه رسي د هیچا په دوا

++++

که مې ورور که مې عزیز که مې فرزند دی

هر یو غواړي خپله خپله مدعا

++++

د دنیا خبرې واړده په دنیا شي

ما به څه کا څوک چې نه لرم دنیا

++++

ښه ده ښه ده دا دنیا

چې توښه ده د عقبا

په دینا کې بدي نشته

که بدي نه وي له تا

او داسې نور.....[1]

دغه دوکتور محی الدین هاشمی د رحمان بابا د ادبی شخصیت په برخ کې لاندې لاسوندونه اشاره کوي:

**لومړی ـ د رحمان بابا شاعري:**

" وايي چې رحمان بابا علیه الرحمه د دیني علومو د زده کړې په بهیر کې له کوچنیتوب څخه د لوړ ادبي ذوق او پیاوړي استعداد خاوند وو، د څلوارلس او پنځلسو کلونو څخه یې د شعر ویل پیل کړي و، بیا پّ ډېې لږ کې د استادۍ پورې رسېدلی و او د یو ځانګړي ادبي مکتب او لار څښتن شوی دی.

[1]- هاشمي کلیات پنځم

په اشعارو کې د بېلابېلو ديني اخلاقي او ټولنيزو وسايلو تر څنګ د ځينو پخوانيو شاعرانو لکه ميرزاخان انصاري، دولت لوانی، خوشحال خان خټک، سنايي غزنوي، حافظ شيرازي، او نورو د نومونړي يادونه او د هغوی د شاعرۍ او ادبي پوړ ښودنې څخه دا څرګندېږي چې د پښتو او دري ادب د ژورې مطالعې يې لرله او خپل ادبي ذوق يې د زړه په مينه پاللی دی.

**دويم ـ د رحمان بابا ادبي حکمت**

رحمان بابا په شعر او شاعرۍ کې د يو ځانګړې تصوفيو عرفاني ادبي سبک څښتن و چې د هغه په مهال او را وروسته د پيړيو پّ پور پوکي يې ډېر پلويان موندل او د وخت په تېرېدويي ديو ادبي مکتب بڼه خپله کړه، چې اوس هغه زموږ پّ ادبي څېړنو کې د رحمان بابا تصوفي عرفاني ادبي مکتب پّ نوم يادېږي.

ښاغلي هاشمي زياتوي د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې ددې مکتب نوميالی پلويان هم درلودل؛ لکه يونس خيبري، معزالله مومند، اخوند ګدا، ميانعيم، متنزی، عبدالعظيم رانيزی، عبدالرحيم هوتک، مطيع الله پير خېل او نور دی.

همدارنګه د رحمان بابا د مکتوب مشخصيات داسې په ګوته کوي:

۱ـ ددې ادبي مکتوب پلويان زياتره د اخلاقو او نصايحو د بيان خواته ډېره پاملرنه کوي.

۲ـ د تصوف او عرفان ډېرې پېچلې مسالې په ساده روانه، خوږه رنګينه ژبه بيانول ددې ادبي مکتب ستره ځانګړنه ده.

۳ـ د فارسي عربي ژبو کلمې، اصطلاحات، تشبهات او استعارات په پراخه پيمانه پښتو شاعرۍ ته راننوتي دي.

۴ـ د پښتو شعر و ده موندلی او ډېرو شاعرانو د خپلو اشعارو ديوانونه ترتيب کړي دي.

۵ـ په دې ادبي مکتب کې د پښتنی چاپيريال خپل رنګونه په ځليدو دي او د هندي سبک اغېزې وربانديې ډېر نه ليدل کېږي.

٦ـ ددې ادبي مکتب پلويانو، شاعرانو، په ځينو اشعارو کې د هنر او شاعرانو خيالون، نرۍ خپلې ځانګړې لري، انځورونه او خيالونه يې ساده مګر ډېر ښکلي او په زړه پورې له لوړ ادبي معيارونه برخمن دي.

۷ـ ددې ادبي مکتب پلويان واقعيتونو ډېره پاملرنه کوي او د خيال پلويتوب او تابعيت په کې ډېر کم دی.

۸ـ دې مکتب پلويانو له پښتو ژبې سربېره په پارسي او هندي ژبو هم شاعري کړې ده.

سر محقیق هاشمي د رحمان بابا کلام په ګڼو خواوو رڼا اچوي او رحمان بابا د هغه د همعصره شاعرانو له آنده هم راپېژني؛ لکه لاندې ډول:

اشرف خان هجري د بابا په برخه کې لنډ بیان داسې راغلی دی:

خوږ زبان په زمانې شکرې لوني

هغه واف چې مستقر یې پېښور دی

د رحمان په ویل ځای د نقد نشته

چې یې ما شعر منظور کړ معتبر دی

اشرف خان هجري چې کله د حضرت عبدالرحمان بابا د شعر د ښېګڼو او هنریت بیان وکړ، نو له هماغه ورځې حخه د اشرف خان د پلار خوشحال خان سخته دښمني ورسره پیدا شوه او تر څو اشرف خان مړ کېده، خوشحال خان و نه باشي دغه بحث خوږ مخکې په ډېر وضاحت سره راوړی دی، مصري خان ګګیاني د بابا په برخه کې کلام فزوني کوي:

شعر د فارسي وینم شرین لکه شکره

شعر د پښتو کړ تر فارسي د حمید رحمان

معزالله خان مومند د رحمان بابا شعر منتخب او د ګوتو په شمار بولي وایي:

د تمامي پښنخوا له شاعرانو

معزالله عبدالرحمان دی منتخب

پیرمحمد کاکړ یې الهامي شاعر بولي او وایي د رحمان بابا د شعر ژبه له غیبو ده لکه:

جوړ به شعر د رحمان غیب اللسان دی

په دا څیر نشته هرګز د انسان شعر

باید ووایو ډېرو نورو شاعرانو هم استاد هاشمي په ګوته کړی  چې رحمان بابا یې ستایلی دی:

لنډه دا چې استاد هاشمي د بابا د شعر مهم توکي چې د هنري ارزښتونه دي داسې راپېژني، لوړ تخیل لري، خبرې یې زړه راښکونی دي، ساده ګي او رواني په کې ډېر ده، دده په شعر کې د فصاحت و بلاغت په طبیعي

توګه سر را اچتوي او له دې وروسته د بابا د عرفاني او تصوف شخصيت عرفان، تصوف، عشق، محبت په باره کې خورا پوره د فشاني کړې ده او د تصوف او عرفاني پورې نمونې يې راوړې يو دوه يې راخلم:

په دوی کې به ورنشي تر توحيده

څو ضمير دې خالي نشي که اثر کا

چې دا هسې معرفت يې پر پيرزو کړ

په رحمان باندې منت د پاک مولا دی

معرفت د خدای ځرګند دی په هر څه کې

سترګې و خوړه چې دا هرمره نظر نه کا

او د دې لپاره چې په پشتو ژبه ښه پوهېده، نو درس او تدريس لپاره روس ته ور بلل شوی و.

اول يې په خارتوف او بيا وروسته يې په سينت پيرز بورګ کې د پښتو تدريس چارې په غاړه واخيستې، نظم او نثر ته يې يو ټکس بوک هم جوړ کړی و.

په ۱۸۵٦م کال د رحمان بابا ديوان په اردو چاپ شو، خو لږ شمېر پوهان ترې خبر وو.

ميجر راوټي ډېر مشهور مستشرق تېر شوی دی او د پښتو ژبې او ادب په باره کې يې ګڼ شمېر کتابونه چاپ کړي دي، خو موږ ولې د رحمان بابا په مناسبت د دوو کتابونو ذکر وکړو؟

ډاکتر خالد خان په دغه برخه کې داسې نظر لري:

په کال ۱۸٦۰م اتلس شپېتم کال ميجر راوټي د پښتو ژبې خپل مشهور انتخاب د ګلشن روه په نوم شايع کړو چې نظم و نثر دواړه پکې شامل دي او د رحمان بابا ۴٦ غزلې پکې راغلې دي.

ګلشن روه، هم يو ټيکس بک و، چې د انګرېزانو لپاره تيار شوی و.

د دغې نه پنځه کاله پس په اتلس سوه پنځه شپېتم ۱۸٦۵م کال ميجر راوټي يوه لويه ادبي کارنامه سر انجام کړه او د نهو پښتو شاعرانو د کلام انګرېزي ترجمه يې Poetry of the afghans selections from the په نامه شايع کړه. به دغې کې د رحمان بابا د ۳۲ دوه ډېر شوي غزلونه انګرېزي ترجمه شامله ده او د هغه د ژوند مختصر حال او په شاعرۍ يې مختصره تبصره هم کړې ده. د راوټي دا ترجمه لفظي ده، خو بيا يې هم ځای په

ځای د انګرېزي د قافيې خيال ساتلی دی. د کتاب په سر کې يې به تصوف باندې يو طويل مضمون هم شامل کړی، (رحمان بابا او مستشرقين ۲۱ – ۲۰)

د راورټي دا کتاب ډېر ښکلی و او په پېښور کې ځکه له مدې امله لږ پيدا کېده.

له هغه وروسته په (۱۸۷۲م) اتلس دوه اويا کال يو بل مستشرق «پادري هيوز» د پښتو نظم و نثر خپل مشهور انتخاب د «کليد افغاني» په نوم خپور کړ چې د عبدالرحمان عليه الرحمه (۳۴) غزلې پکې شاملې وې او د کار د انګرېزانو لپاره شوي وو، ځکه تر دې دمخه د هغه د اهميت په باب انګرېز پلاوړن غزلونو انګرېزي ترجمه کړې وه او له هغه را وروسته يې د دغو غزلونو ژباړه هم ترسره کړه.

ما ته معلومه شوه، چې پادري هيوز له رحمان بابا سره ځانګړې مينه درلودله، ځکه يې د تنګي د مولوي احمد په مرسته د رحمان بابا د بېلابېلو قلمي نسخو څخه يوه معتبره نسخه تېره کړه او په لاهور کې يې په ۱۸۷۰ کې چاپ کړه.

د پلاوړن د انګرېزي ترجمې او د پادري هيوز له خوا رحمان بابا د ديوان د اشاعت نه پس دا معلومه نه ده، چې چاپه هغه باندې په انګرېزۍ کې کار وکړه، البته دلته زموږ خپله محقيقنو په اردو کې د رحمان بابا شعر ترجمې کړې وي او دغه رنګه په نورو ژبو هم شوي دي.[۱]

[۱]- خان، خالد، ۲۰۱٦م. رحمان پوهنه. (دريېم جلد) پېښور: رحماني ادبي جرګه.

# ۱۰ – د بابا د کلام مشهورې ژباړې

نگاهي به ترجمه اشعار رحمان بزبان اردو.

دغه مقاله ارواښاد استاد پوهاند میرحسین شاه په پارسي لیکلې ده، زه که خبر وي، ډېرې برخې به یې په پښتو ژبه یو څېړنیز نظر پرې واچوم او څه ناڅه برخې به یې د اقتباس په ډول هو به هو په پارسي ژبه راواخلم.

د عبدالرحمان بابا آثار عالمگیر خصوصیات لري، د ده له آثارو څخه د پوره مینې په خاطر د نړۍ ډېرو لیکوالو او پوهانو په گڼو تېره په خپلو ژبو ترجمه کړې ده، د هغو له جملې مستشقرقینو پادري هیوز، پلاوډن او مستر راورټي او... مختلف کتابونه او ټیکس بووکونه، غزلونه او د هغو مفهومونه او مضمونونه ترجمه کړي دي.

ارواښاد د استاد اکاډیمسن میرحسین شاه، چې یو د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی مقدر، فهیم او پوه استاد هم و، د دغو ترجمو په برخه کې داسې نظر لري:

(د اگر در تاریخ ادبیات پښتونخوا هم، استاداني را برگزنیم که صاحب سبک و مسلک و ابتکاراندو از مرحله تقلید گذشته اند، بدون تر دید، یکی از آنان.

عبدالرحمان بن عبدالستار است که من بابا نجیب او را به بابا ملت ساختند و بین مردم به رحمان بابا شهوت یافت" (میرحسین شاه، ۲۷)

د (بابا) له وفات څو کاله وړاندې میرویس خان هوتکي، چې هغه ته ډېر ارادت درلوده... د صفویانو د دولت پر ضد د رحمان بابا په دیوان وفا وکوت او هغه یې دغه شعرونه موندل:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله گویا یم

خاموشي زما تېرى کا تر غوغا زما

کښت د عشق په تود ځمکه آسان چېرې؟

سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما...

خوله مودو وروسته بیا میرویس خان بابا د عبدالرحمان بابا له دیوان سره مشهوره وکړه او هغه ورته د قال په ژبه

داسې وويل حضرت:

چې آسمان يې مخ پټ کړی په سحاب و

خدای و ماته ښکاره پر هغه سحر بيا

چې رقيب را نه ترلی په زنځيرو

خپل جيب را باندې پراسنت هغه وييا

د حضرت رحمان بابا اشعار خو په مختلفو وختونو کې بېلابېلو ژبو ته مختلفو خلکو يو او بل منظور کړی دی، خو د دې ټولو کار نتيجه، په خلکو د رحمان بابا گرانښت و. دغه گرانښت نوموړی په عاليقامه غزل په مضمون کې پروت و.

اروانباد د کانديد اکاديمسن استاد مير حسين شاه چې هغه مهال د ادبياتو او فلالوژي پوهنځي رييس و، د بابا له شعر سره د خلکو د مينې درلودلو انگېزه او د هغه ژباړنه داسې بيانوي:

(رحمان بابا د زمان فرمان وايي د امپراتور بزرگ گورگاني هند شهاب الدين شاه جهان (۱۰۳۷ – ۱۰٦۸) و محی الدين اورنگ زيب عالمگير اول (۱۰٦۸ – ۱۱۱۸) زندگی داشت، و در آن وصت قسمتي از اراضی افغانستان اراضی پشتون نشين ماخذ و کندهار جز امپراطوري گرگاني بود و هنديان آفروز مانند امروز پشتونها در مجاورت يگديگر زندگی داشتند و جريانات فکری يکی بر ديگری تا ثير داشت.

د آراشکوه فرزند عديبم النظير  شاه‌جهان در زمان حيات رحمان بابا آن نيروی راکه جامعه برای وصول به مقام برتر لازم دارد، در تصوف می يافت و چون در عشق تصوف هندو فروميرفت آن آنرا يا تصوف اسلامی يکی ميديد. داراشکوه ميدانست که تصوف هادی و رهنمای مسلمين هندوستان بود و دانيا نيروی ارتقاء جامعه هندو و همان طوريکه فلسفه غزالی و تعليمات معين الدين چشتی عامل ارتقای صوفيان مسلمان شد، سنگر و نوع موجب روشين فورختگی خاطر مصوفين هندو بوده است.

بنا بر آن آيا بهترين اقدام اين نبود که اين دو فلسفه با يک  ديگر مخروج گرديده سيانی روحاني واحدی برای فرهنگ معنوی هند شوند، يا پايه وساس مشترکی را سبانی روحانی واحدی برای فرهنگ معنوی هند شودؤ يا په واسالس مشترکی را تسکين دهند.

در چنين روزگاری رحمان بابا در شمال غرب اين امپراتوری عاليترين  تصورات صوفيان اسلامی اسلامی را با زبانی ساه در اشعار روان بيان ميداشتا:

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کی

د جمله‌وو مخلوقاتو پلار دی دا

تر عشق واړه کار بل په جان نشته

تر همه کارتونو واړو کار دی دا

بل بلبل په د گل نوم اخیستی نه و

که جز وای چې گل نه دی خار دی دا

د مجنون صورت په زړه کې ای رحمانه

ستا په عشق کې خوار زار دی دا (حسین: ۳۰)

دا ثابته خبره وه چې هغه وخت هندوانو افغانانوو، بیا پښتنو ته ډېر قدر ورکاوه او درنښت یې کاوه آن ادبیانو، شاعرانو، هنرمندانو او ټولو ته یې احترام درلد او لا تر اسوه خان صاحب ورته وایي، آن اسلام یې د عربو یا افغانانو ښېگڼه باله او همدوی یې په ساتنه کې مسوول او لوړ کسان بلل، علامه اقبال هم دغه په خپل کلام راوړی دی.

فطرت که مقاصد کې کو تاهی نگهبانی

یا بنده بیی صحرایی یا مرد کوهسانی

دغه راز در پیام شرق اخبار کی د آلمانی شاعر په شعر وزمه کې راغلی او در افغانستان ټولواک امیر امان الله ته یې اهدا کړی دید.

ملت آواره کوه و دمن

درگ او خون شیران موج زن

زیرک و روئین تن و روشن جبین

چشم او چون جره بازان تیر بین

د استاد میر حسین شاه په وینا رحمان بابا هم له همدغه خلکو را پاڅېدلی و.

چې هېڅ منکر ترې منکرېدای نشي او نه خو هغه له پام غورځولای شي. د ده اثار خوږه، پسته، نرمه ژبه او عالي تلپاتې مضمون لري او د چا خبره په پښتو ژبه مطلب بيانوي، خو وجه د اشتراک له امله عالمي شوی دی. د ده ترجمې په ډېرو ژبو شوي دي خو زه به يې څه ناڅه دلته راوړم.

د اريايي هند په ژبو کې يوه ډله د (الهدا) په نامه يادېږي او لويديځه ده، البته دغه ژبې په غربي سيمو کې وربانديې خبرې کېږي. د دغو له ډلې د هندکو ژبه وه چې په شرقي خوا يعنې پښتنو چې د سندرو د غربي خوا کې موقعيت لري، ويل کېږي.

له هزاره ځمکو تر ديره اسماعيل خان د سندو جهيلم رود يې ويل کېږي.

له مطالعو داسې ښکاري چې هندکو ژبه له پنچابي سره ډېر نږدې ده له همدې امله هندکو او پنجابي يوه گڼي او ځينې يې د پنجابي ژبو يوه لهجه گڼي.

هغه کسان چې په هندوکو ژبه خبرې کوي پنځه سوه زرو ته رسېږي. پښتانه هغه خلک چې په هندکو ژبه خبرې کوي، هنکپان (هندکيان) ويلې شي.

له پورته يادونو څخه زما مطلب دا دی چې په هندکو ژبه د عبدالرحمان بابا څو غزلونه ترجمه شوي دي.

په اردو ژبه ژباړه:

داسې ښکاري چې په اردو ژبه د رحمان بابا ټول ديوان ت رجمه شوی وي، خو مخکې له دې چې ټول ديوان وژباړل شي، نو د بابا ديوان خينې برخې ترجمه شوې او خپرې شوې، ځينې نور کتابونه هم په اردو ژبه ژباړل شوي وو، لکه د سرحداتو ادبيات، پښتو شاعري، اټک کې اسيار، پښتو زبان اور ادب سپرايک نظر، پښتو ادب تاريخ، خو د ديوان مکمل ژباړه ښه د ده چې ووايو اروانښاد استاد حمزه شينواري له لوري ترسره شو او په ۱۹۵۵ کال کې پښتو اکادمي د پېښور پوهنتون کې اساس کېښودل شو.

له دې را وروسته په ۱۹۵۸م کال کې دغې اکادمی پرېکړه ووکړه، چې د پښتو ژبې د ستر شاعر حضرت عبدالرحمان بابا ديوان دی په اردو ژبه وژباړل شي او دغه کار يې حمزه شينواري ته ور وسپاره، د دې لپاره چې ابو المراد حمزه شينواري خپله د پښتو ژبې شاعر دی، نو دغه کار يې به ډېر ښه ډول ترسره کړ. دغه ژباړه ډېره روانه، فصيحه او له پښتو ژبې سره نږدې وه، په دغه ترجمه کې د ژبې روانوالی، مترافات، اصلاحات، بيگانه کلمو نه شتون او نور ټول خيالي نزاکتونه او ښکلي وو په نظر کې نيول شوي وو.

لنډه دا چې د اردو ژبې ترجمه د استاد مير حسين شاه په وينا حمزه شينواري په ډېره موافقانه ډول کړې وه او

ډېر پې برلاسي وي.

دلته به د رحمان بابا د ديوان ځينې بيتونه چې استاد حمزه اردو ژبې ته ژباړلی دي.

راواخلم پښتو:

گوره هسې کردگار دی رب زما

چې صاحب د کل اخيتار دی رب زما

همگي بزگواران چې څوک يط وايي

تر همه وو بزرگوار ی رب زما

نه يې هېڅ حاجت په چا باندې موقوف دی

نه د هېچا منت بار دی رب زما

د دغو بيتونو ترجمه د حمزه داسې کړې ده:

اردو:

ديکه هی کردگار ميرارب

صاحب اختيار هی ميرارب

نام سستی هی جن بزگون کی

سب سی والاتبار ميرارب

کس پر موقوف اسکی حاجت همی

کس کامنت گرا ميرارب

يا دا بل:

پښتو

که صورت د محمد نه وای پيدا

پیدا کړې به خدای نه وه دا دنیا

کل جهان د محمد په روی پیدا شو

محمد دی د تمام جهان آبا

اردو:

نه هوتی محمد کی صورت جو پیدا

تو دنیا کو الله پیدا کرتا

بی عام محمد کی خاطر نبی هین

محمد هی سب عالمون کیک هی اب

او یا د یار د فراق او هجران کی داسې وایي:

پښتو:

د هجران له ډېره غمو ولې نه مرم

له دې هسې رنګ ماتمه ولې نه مرم

اردو:

او دغه راز په نورو ژبو انګلیسي او روسي او... کې هم شوي دي.

# پایله

که د رحمان بابا د کلام باریکیو او ټولو ګڼو او ګورو اړخونو، زاویو، نزاکتونو، ښکلاوو او په یوه تعبیر هنري اعجاز ته تم شو او بیا بیا پکې ځیرنه وکړو، نو د خدای بلا آثار به پکې ومومو. دا ځکه چې پر دوی (رحمان بابا) او ده ته ورته نورو پښتو، دري، اردو، انګرېزي، عربي، روسي او ګڼو ژبو شاعرانو او لیکوالو الله جل جلاله د چا خبره له بالاځایه پېرزوینه کړې ده. پر دوی یې د داسې پاخه کلام لورېینه کړې چې نه‌یوازې خپل عصر، بلکې راتلونکو عصرونو خلکو او ټولنو ته یې ډېر څه پرېښي دي.

د حضرت عبدالرحمن بابا کلام چې کله مطالعه کوو، نو د شعر او بیا په کل کې د هنر په مزیت، سنګینی، درنښت او ګڼو ملحوظاتو باندې مو سر خلاصېږي. رحمان بابا په خپل وخت، راوروسته پېړیو او زما د وخت له خلکو سره د دوی په ژبه خبرې کوي او د چا خبره د هر چا په مخ د ګلونو دروازې پرانیزي. رحمان په عشق مین، په یار مین او په خلکو مین دی، ځکه نو وایي:

اې رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه

پس له هغه په صفت د ګل‌اندام شه

د ده کلام لکه متل، په غونډو او د قبرونو پر سر هم ویل شوی دی، چې ښه مثالونه یې دا دي:

چې پیدا شي، همګي واړه فنا شي

اې رحمانه دا دنیا ده، دا یې کار

په غونډو کې:

هر سړی تر خپل مطلبه پورې یار دی

ما د خدای لپاره یار لیدلی نه دی

یا:

آدم زاد په معنا واړه یو صورت دی

هر چې بل آزاروي هغه آزار شي

لنډه دا، چې د حضرت عبدالرحمن بابا د کلام څېړنه انحصار نه مني. هر څوک کولای شي، چې هر وخت هغه له خپل اند سره سم تعبیر کړي او ځان او ټولنې ته ترې څه واخلي. ما هم په دغه څېړنه کې پر یوې نوې برخې کار کړی، چې پکې دا څېړل شوې ده چې ایا رحمان بابا یو متصوف شاعر دی، که نوموړی د ټولنیزو افکارو خاوند دی؟ په ټوله کې زه په دې باور یم چې رحمان بابا مجذوب او مسلکي صوفي نه دی، یعنې په ښکاره ډول د ده لاسنیونه له کوم پیر څخه د روښانیانو په ډول نه ترسترګو کېږي، خو عبدالحلیم اثر او سیف‌الرحمن مسود په ښکاره ډول دی د ... کبرویه او روښانیه طریقو پیرو ګڼلی دی. مګرزما نظر دا دی چې رحمان بابا یو هوښیار، له دینه باخبره او په خدای مین مومن او یو عقلي صوفي، اوعارف دی؛ او دودیزه صوفي‌ګري یې کړې ده. خو په سر کې یې د تصوف زده‌کړې له ملامحمدیوسف څخه کړې دي، اوس نو نشو ویلای چې ملامحمدیوسف د کومې طریقې خاوند و او که یې یوازې په دې برخه کې تدریس کاوه، لکه اوس چې موږ ډېر شمېر استادان، څېړونکي، په عرفان، تصوف او دینداری کې تدریسونه کوو، مګر ډېر مو د کومې رسمي طریقې خاوندان او پیروان نه یو. د ده د کلام ډېره برخه دیني، عرفاني، تصوفي او په الهي عشق پورې اړوند باور دی:

ستا د حسن د تعریف له برکته

د رحمان د شعر کوکې په عالم دي

که د رحمان بابا د شعر منځپانګه په یوه اټکلي فیصدۍ ووېشو، نو وبه وایم، چې رحمان بابا د ډېرو په نظر عارف او متصوف دی، مګر ډېر معقولیت دا خبره لري چې دی یو مورالېست، بشردوست، مومن او ټولنپېژندونکی شاعر دی. که د ده د کلام ټولې بېلګې یا ټول بیتونه یو یو راواخلې او تر فکري لابراتوار لاندې یې ونیسې، نو وبه وایې چې په سلو کې یې دېرش عرفان او معرفت، څلوېښت ټولنیزو برخو او دېرش فیصده نور دنیایي ارزښتونو او نورو وړو لارښوونو ته وقف شوی دی.

که لږ ذره نور هم دقیق شو، دلته به څو نور عمده نظرونه هم راواخلو:

**دوست محمد کامل مومند** لیکي:

د رحمان بابا صوفیانه شاعري د روښانیانو د شاعرۍ یوه لویه او قیمتي اضافه ده او حتی له هغو څخه لس چنده نور شهرت لري.

**محمداعظم ا عظم:**

د رحمان بابا شاعري لوی او جوت خصوصیت د هغه د خیالاتو بې‌ساختګي او د هغه د بیان سادګي ده.

**سیف‌الرحمن مسود:**

رحمان بابا یو صوفي سړی دی. کله چې د توحید په مقام ودرېږي نو بیا نسبتونه او علایق نه وي، لکه چې وايي:

زه عاشق یم سر و کار مې دی له عشقه نه خلیل، نه داودزی یم، نه مومند

وايي غوریاخېل د پیر روښان خاص مریدان وو، **اسحاق** په غوریاخېلو کې باسواده و، هغه د پیر روښان مرید و او سلسله راوغځېده. رحمان له پیر روښان سره دوه ارتباطه درلودل، یو د طریقې په حساب او بل دا چې کېدای شي د روښان د طریقې پیرو وي.

**مولانا عبدالمجید افغاني:** د رحمان شاعري معمولي، حیواني شاعري نه ده، یا د جذباتو اظهار نه دی، د باغ ګلونه پکې صرف نه ستایل کېږي، بلکې د ده دېوان د خوږو زړونو ټوټې دي.

**د پیر روښان د طریقي بنیاد پر یوه قدسي حدیث باندې اېښودل شوی دی:** (له حرامو پرهېز، لږ خوراک، لږه وینا، لږ خوب، له غافلانو ګوښه اوسېدل، دایمي یاد)

رحمان بابا هم په دېوان کې په دې ا ساس اووه خویونه بیان کړي دي:

۱) له حرامو پرهېز:

په محنت په مشقت ملا ماته ښه ده نه حرامه همیانۍ د چا تر ملا

۲) لږ خوراک:

کم خوراک سړی نږدې فرشتو ته هر سړی چې بسیارخور شي بسیار خوار شي

۳) لږه وینا:

د سکوت په تېغ چې ژبه بریده شي لا قلم غوندې په قال کې ده، ویده شي

ستا د حسن په صفت کې رحمان ګونګ شو له ادبه

۴) لږ خوب:

چې په سترګو کې یې خار وي څه به خوب کا چې په زړه یې غم د یار وي څه به خوب کا

دیدار نه دی چا په پټو سترګو کړی چې مطلب د چا دیدار وي څه به خوب کا

۵) له غافلانو ګوښه اوسېدل:

دېو و دد که په خوا درشي لا بهتر دی　　خدای دې بد سړی در نه‌ولي په خوا

٦) ذکر دایم:

زه یو دم دا ستا له غمه بې‌غم نه یم　　بې‌غم ستا له ذکره فکره یو دم نه یم

٧) باور:

هر زیارت لره چې ځم مراد مې ته یې　　زه ظاهر د بت‌خانې د حرم نه یم

ستا د در په تورو خاور باندې خوښ یم　　بې‌تا خوښ په تماشه د حرم نه یم

## د پیر روښان په طریقه اته مقامونه:

شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت.

رحمان بابا په خپل کلام کې د مقاماتو ذکر کوي او وایي چې:

زه رحمان له هسې خلکو پناه غواړم　　هر چې لافه کړي خلاف د مقامات

**سیف الرحمن مسعود وایي**: کوم مقامات چې رحمان بابا ښایي، همدا د روښان مقامات دي. په روښانیه طریقه کې د شریعت مقام: په پینځو بناو عمل کول: لکه کلمه، لمونځ ، روژه، زکات او حج، نهې عمل نه کول. رحمان بابا وایي:

دنیا نه ده هغه دین دی چې له نهې وي سپوا　　و طاعت و ته ولاړ وي همېشه تړلې ملا

له حرامو یې پرهېز وي　　هم مشغول په پنج بنا

**د طریقت مقام**: د پیغمبرانو په گفتار عمل دی، د زړه او روح په احکامو چلېدل دي. رحمان بابا:

که محنت که مشقت دی خو د دین دی　　پکار نه دی بل محنت په دا دنیا

نفس شیطان سړی و کفر ته وباسي　　رحم و فهم په ځان وکړه کافر مه شه

**د حقیقت مقام**: د پیغمرانو د حال مقام دی، خفي ذکر دی. رحمان بابا وایي:

هسې یاد یې همېشه مدام زما　　چې اوراد یې په هر صبح و شام زما

**د معرفت مقام**: الله په وحدانیت سره پېژني، حاضر یې گڼي. رحمان بابا وایي:

شریک نه لري په خپله پادشاهۍ کې          بې‌شریکه شهریار دی رب زما

**د قربت مقام**: آوازونو ته دقیق شي. رحمان بابا وایي:

هر آشنا د حق ثناء کا     په نغمه لکه داود

که بېدار یې خود به واورې          په هر لوري دا سرود

**د وصلت مقام**: له مرگ مخکې ځان په مرگ حسابول. رحمان بابا وایي:

څو ترمنځه ورکه نه کړې د تن پوله‌وبه‌نه‌رسې تر خدایه تر رسوله

**د وحدت مقام**: له شرکه به ځان ساتې. رحمان بابا وایي:

همدمي د دوو همدمو هسې بویه  چې د دواړو همدمي په یوه دم وي

**د سکونت مقام**: د مسکینۍ مقام دی، رحمان بابا وایي:

ولایت دی خدای هغو لره ورکړی   چې یې وکړ سکونت په دا دنیا

که څوک مرد دی خو هغه دی په دنیا کې  هر چې نه لري حاجت په دا دنیا

***

رضا وسپاره قضا ته ځان فارغ که   او که نور څه نه وای ځان به خوار کړې

نوري نوې موندنې او ډېرې څېړنې ما کړې دي او لا په دغه برخه کې اړتیا ده چې وشي، خو تر ډېره بریده چې ما ته پته ولگېده، که رحمان بابا د کلام له رویه عارف او متصوف حسابوو، نو بیا پکې شک نه پیدا کېږي، مگر که د خط له مخې (چیزې که در خط است) وایو،نو ویلای شو چې دی یو بشردوست شاعر و چې ډېر له اخلاقي پلوه د روزگارد ښېگڼو ژورتیا یې په کلام کې لیدل کېږي. حتی د انتقاد په وخت کې هم د بدۍ نظر او ژبه نه لري او ټولو ته لکه آیینه په بې‌رویه او بې‌ریا ډول نظریات وړاندې کوي. نصیحت کوي او نه یې کوي، مگر داسې لاره غوره کوي او خلکو ته خپل کلام په داسې یوه انداز کې وایي چې هر څومره بې‌لارې سړی هم وي، د ده کلام له ده سره منې او د چا خبره دی د الله ج پاک لوی ولي و، ځکه یې د خبرو تایید په هره برخه کې د پوره پاملرنې او ارزښت وړ دی. له همدې امله خدای پاک ده ته دراز عمر هم ورکړی و چې ډېر خلک ترې ثمر واخلي. دی د خپل عمر په برخه کې وایي:

دراز عمر مې حاصل شو له راستیه‌لکه سروه مدام سبز و تازه پایم

بېشکه، که دی جسماً اوس زموږ په منځ کې نشته، خو د عاشقی د بازار ښکلاوې یې د تل لپاره زموږ په مخ کې ځلولې، چې هرڅوک وکولای شي د ده له کلامه پوره پوره خوند واخلي.

زه هیله‌من یم چې دا څېړنه شایقینو ته د منلو وړ گرځېدلې وي.

# مناقشه

دغه کار تر ما د مخه ډېرو پیاوړیو استادانو، لیکوالو، څېړونکو، کتاب‌لیکونکو... او ذوقیانو کړی دی او حتی ویلای شم چې د ده کلام چې هر چا ته رسېدلی، نو یې خپله طبعه‌ازمایي پرې کړې ده.

ما هم که په پرتلیز ډول نه و، نو د یوې نوې موندنې او پلټنې په توګه تحقیق کړی دی او نوي مطالب مې مخته راوړي دي، چې زما له نظره بیا به هم په رحمان بابا له ما وروسته ډېر ډېر کارونه وشي او بیا به هم نوي اړخونه له نویو زاویو څخه لیکوال، شاعران، څېړونکي او ... څرګند کړي.

# وړاندیزونه

ځومره چې د رحمان بابا په کلام کې لاسوهنه کوې او کلام یې رااړوې، تا ته نوي نوي بابونه راسپړي؛ زما په اند د رحمان‌بابا دېوان او کلام د لوی او ناپایه سمندر هغه تل ته پاتې کېږي چې د مرغلرو موندل یې د غواصانو کار دی، کېدای شي چې له له ما وروسته نور هم په دې برخه کې کار وکړي، دقیق کارونه دې وکړي او خلکو ته دې د پراخو حوصلو څښتن ځوانان نوي نوي بابونه راوسپړي. له دې سره دا وایم چې په افغانستان کې پوهنتونونه او د علومو اکاډمي باید بیا د تېرو شاعرانو، لیکوالو، او په تېره د رحمان‌بابا د آثارو سپړنې وکړي او علمي مرکزونه دې ورته جوړ کړي. غوږي دې ورته وګوماري چې خلکو ته د تل لپاره د (فکرموندنې نظریاتي مشالونه) وځلوي او هم دې د ژباړې مرکزونه جوړ شي چې د دغسې شاعرانو کلامونه په منثوره او منظومه توګه د نړۍ مختلفو ژبو ته ورزیات شي.

# ماخذونه


۱. اثر ، عبدالحلیم سالارزی، ۱۳۷۰ ل ، پښتو ادب ، پېښور : اداره اشاعت سرحد، قصه خواني

۲. احسان ، پروفیسور محسن ، ۲۰۰۰ م ، پښتون لسان الغیب ، پېښور: پښتو اکیډمي .

۳. ارمان ، شهاب عزیز الرحمن ، ۲۰۱۴ م ، امیل ( مجله ) ، پېښور : پښتو ادبي ټولنه .

٤. اعظم ، محمد اعظم ، ؟ . رحمان بابا د ولس شاعر ، پېښور : اسلامیه کالج .

٥. افغاني ، شریف احمد حنیفي ، ۱۰۴۲ ، ۱۱۱۸ .

٦. انصاري ، داکتر قاسم ، ۱۳۸۲ ل ، مباني عرفان او تصوف ، ایران ، تهران : کتابخانه ملي ایران

۷. آلن، حمیز، ۱۳ رمز موفقیت

۸. بابا، عبدالرحمن، ۱۹٦۳، دیوان، پېښور، پېښور: پېښور، یونیورسټي پښتو اکاډمي.

۹. باجوړی ، دوکتور بریالی ، ۱۳ ل ، د پښتو ادبیاتو تاریخ ، کابل : سمون خپرندویه ټولنه

۱۰. ترخوي ، شیرشاه ، ۲۰۰۰، رحمان او قران ، پېښور : وحدت خپرندویه ټولنه .

۱۱. ترکزی ، عیاز الله ، ۲۰۱۹ م ، ، پېښور : هزارخاني .

۱۲. جاوید ، عبدالاحمد ، ۱۳٦۹ ل ، د عبدالرحمان بابا مومند یاد ( رحمان بابا نخبه سخنور زبان پشتو) ، مقاله

۱۳. حبیبي ، پوهاند عبدالحی ، ۱۳٦۹ ل ، د عبدالرحمان بابا مومند یاد ( خوشحالا او دولتا) ( مقاله )

۱٤. حبیبي ، پوهاند عبدالحی ، ۱۳۸۴ ل ، ۲۰۰۵ م ، د پښتو ادبیاتو تاریخ ( لومړی او دویم ټوکونه ) ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه .

۱٥. حبیبي ، پوهاند عبدالحی ، ۱۳۸۷ل او ۲۰۰۸ م ، د پښتو ادب لنډ تاریخ ( د پوهنتون د دویم ، دریم او څلورمو ټولګیو لپاره ) ، کندهار .

۱٦. حسین شاه ، پوهاند میر ، ۱۳٦۹ل ، د عبدالرحمان بابا مومند یاد ( د رحمان بابا دوه سوه اتیا یم تلین ) ۱۳۲۸ ــ ۱۴۰۸ هـ ق : نګاه به ترجمه اشعار رحمان به زبان اردو( مقاله )، کابل : کابل پوهنتون ، ادبیاتو پوهنځی

۱۷. خلیل ، حنیف ، ۲۰۱۹ م ، د رحمان بابا مطالعه ، پښتو اکیډمي:پېښور یونیورسټي .

۱۸. خلیل، حیف، په ۲۰۰ م رحمن پوهنه (درېیم جلد) پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي، خیبر بازار.

۱۹. د رحمان بابا دیوان ، ۱۳٥٦ ل ، کابل : پښتو ټولنه ، د پښتوټولنې کالج ، پرلپسې نمر ( ۲۲٥ )

۲۰. د رحمان بابا مومند یاد، ۱۳٦۹ل ، ( د رحمان بابا دوه سوه اتیا یم تلین په مناسبت د مقالو مجموعه ) ، کابل : کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی.

۲۱. راز ، سلیم ، ۲۰۱۳ م ، رحمان بابا ( یوه فکري مقاله ) ، پېښور ، یونیورسټي .

۲۲. رحمان پوهنه ، ۱۳۹۴ ل : رحمان ادبي جرګه ،پېښور (۹۳، ۹۴ ، ۹۵ ) ګڼې ، ( د مقالو ټولګه ) .

۲۳. رسا ، سید رسول ( کال یې نه دی معلوم ؟ ) ، د رحمان بابا دیوان ، پخوانی چاپ ، پېښور : خیبر بازار .
حسرت ، پروفسیور، داکتر محمد زبیر، ۲۰۱۳ م ، د رحمان بابا فکري مکتب ، پېښور: پښتونخوا مطالعتي مرکز.

۲٤. رښتین، پوهاند صدیق الله ، ۱۳۳٦ ل ، د پښتو ادبیاتو تاریخ ، دویم چاپ ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه .

۲۵. رضا، پرفیسور افضل ، ۲۰۰۰ م ، دیوان عبدالرحمان بابا . پېښور : محله جنګی ، ارت پبلیشر.

۲٦. رضا، پروفیسور افضل، رحمن پوهنه، پېښور مجله جنګي، بابو حیدرود، رحمن ادبي جرګه.

۲۷. رفیع ، حبیب الله ، ۱۳۸۸ل ، رحماني خم ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه .

۲۸. روهي ، محمد صدیق ، ۲۰۱٦ م ، ادبي تحلیلونه، بلوچستان : پښتو اکیډمي

۲۹. زیار ، دوکتور مجاور احمد ، ۱۳٦۹ ، د عبدالرحمان بابا مومند یاد ( د عبدالرحمان بابا لیکلار ) مقاله .

۳۰. زیور ، پوهاند زیورالدین ، ۱۳۸۲ ل ، د پښتو ادبیاتو تاریخ ( منځنی دوره ) ، کابل : دانش خپرندویه ټولنه .

۳۱. سعیدي ، داکتر ګل بابا، ۱۳۸۴ ل ، فرهنګ اصطلاحات عرفاني ابن عربي . ایران : تهران ، خیابان انقلاب

۳۲. شینواری، سرمحقق جنتي، ۱۳٦۹ ل ، د رحمان بابا مومند یاد( د پښتو نومیالی شاعر رحمان بابا د شوروي محقیقنو په نظر کې ( مقاله )

۳۳. صمیم ، محمد آصف ، ۱۳۹۵ ل ، د رحمان بابا د دیوان نومښود ، جلال اباد : مومند خپرندویه ټولنه .

۳٤. عبدالقادر، مولانا، ۱۳٦۸. دیوان (سریزه) پاکسان، لاهور ښار.

۳۵. غزنوي ، عبدالباقي هیله مند ، ۱۳۸٦ ل ، عرفان رحمان بابا ، کابل : افغانستان نشراتي مرکز .

۳٦. قرانکریم، تورات، الاسر ۸۵ آیت.

۳۷. کارنګي، دیلږ ۱۳ آیین زنده‌ګي.

۳۸. ګیلاني ، اسد . ۲۰۱٦ م ، رحمان بابا ریو ریو، پېښور: قصه خوانی .

۳۹. مسعود ، سیف الرحمن ، ۱۹۹۸ل ، پیر روښان او روښاني انقلاب ، پېښور : یونیورسټي ، خیبر بازار.

٤٠. مومند ، دوست محمد کامل ، ۱۹۵۸ م ، رحمان بابا ، پېښور: اداره اشاعت سرحد .

٤١. مومند ، کامل دوست محمد خان ، ۱۳۸۴ل ، رحمان بابا ( د نویو زیاتونو سره تاریخي ، علمي او ادبي جاج ) ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه .

٤٢. مومند، دوست محمد، ۱۳۸۴، رحمن بابا، پیښور، دانش خپرندویه ټولنه.

٤٣. نعیم، نعیم شاه، ۱۳۹۳، رحمن پوهنه، پېښور: مجله، جنګي، بابو حیدر روډ، رحمن ادبي جرګه.

٤٤. هاشمي ، داکتر سید محی الدین ، ۱۳۸۰ ل ، کلیات :( سبا خپرندویه ټولنه ) ، پېښور ، حیات اباد ، څلورم چاپ.

٤٥. هاشمي ، سرمحقق ډاکتر محی الدین ، ۱۳۹۳ ل ، د رحمان بابا کلیات ( اوډنه ، سریزه او وېپانګه ) ، پېښور : قصه خاني ، میهن خپرندویه ټولنه .

٤٦. الهام ، محمد رحیم ، ١٣٦٩ م ، د عبدالرحمان بابا مومند یاد ( د رحمان بابا په شعر کې تخیل او تصویر) .

٤٧. همداني، مشفق: ۱۳۸۳، روانشاسي برای همه (۱۲ چاپ) ایران تهران، انتشارات صنعتي علیشاه چاپ مروي.

٤٨. هیوادمل ، زلمی ، ١٣٦٩ م ، د عبدالرحمان بابا مومند یاد( سخن چند پیرامون زنده ګی نامه عبدالرحمان مومند ) مقاله .

٤٩. یون ، محمد اسماعیل ، ۱۳۹۴ ل ، کتاب الشعر ، کابل : د افغانستان ملي تحریک ، فرهنګي څانګه .

# لغتونه اواصطلاحات

۱- انځور(   ) تصویر، عکس، څیره (   ) ، رسم، کښیده، نقش، نښان، نمونه، علامه (زاهد پښتو – پښتو سیند، ۴۰ مخ)

په شعر کې انځور؛ (دشاعر اوطبیعت ترمنځ خیالي اوعاطفي غوټې دی.)

؛لکه: په سوروڵاسوراته شراب راکوي

لکه شراب راته شراب راکوي

۲- احساس (   ) نر.م . پوهیدل، حسول، احساسول، څه خبره زړه ته لویدل. زاهد،پښتو، پښتو قاموس، ۹ مخ)

یااحساس- مص (ع) (۱) حس کول، پیداکول، درکول، موندل. (فرهنګ فارسی عمید. ۸۹ مخ)

۳- انتقاد (نقد) کره کتنه، کره کول، سره کول، ګوت نیونه

۴- انتقاد (   )نر.م. کره کتنه. ګوت نیونه، دکوم مطلب یاشعردعیب ښکاره کول.

۵- اسطوره:

اسطوره (   ) هغه کلمه ده، چې په فرهنګي ژبوکې په دوه بڼو (قصه) ا (تاریخ) لیدل کیږي. داسطورې په برخه کې دوه ډوله فکر کیږي:

٦- ځینې یې افسانه اودورغ اونورېې حقیقت اوتاریخ ګڼي.

کله اسطوره ، دلرغونوحلکوهماغه منسوخ مذهبونه دي، چې نن خلک په خوداګاه ډول هغوی ته پاملرنه نه کوي.

۷- ادب: (   ) – ( نر.م)عزت، خاطره؛ تمیز، تذهیب، علم، پوهه، زده کړه، حیا، پرده؛ ترتیب، پالنه اوجمع یې ادبیات   لیکلی آثار، لیکني آثار؛ دلیکل شویواوچاپ شویوآثارمجموعه.

۸- الهام: (   ) نر.م په زړه کې نوې غیبي اندیښنه پیداکیدل، اوپه زړه کې اچول دي.

۹- انشأ: مص. (ع) (!) پیلول، رامنځته کول، له ځانه څه ویل. اوپه اصطلاح کېدادب له فنونویوفن دی، خصوصي یارسمي لیکونه فرمانونه وربانديې لیکل کیږي. په پخواکې هغه چاچې دغه کارپه غاړه درلود؛ منشی بلل کېده اوهغه به په ادبي علوموکې پوهه درلوده. داسلام دخلفأووپه دوره کې دانشأیارسالودیوان دوزارتخاني معنادرلوده.

۱۰- املا: مص. (ع) (!) ډکول، یوڅه لیکل چې بل یې ولیکي اوهغه مطلب چې معلم یاځپل خبرې په درست ډول ویل او لیکل دي.

۱۱- ارامي ليک: کانسونانټي ليک دی، چې په (يهودی، سورياليست (ماني)، ايراني اوعربي) خطونه دي ، چې عربي خط له ارامي نه په مستقيمه توګه نه دی پيداشوی (نبطی) خط موجودو.

۱۲- ابداع: ( ) ښځ. م.- نوې ايستنه ، نوښت، نوچار، ابتکار.

۱۳- اشتهار: ( ) نر.م. اعلان- ډنډوره- خپرونه، شهرت ورکونه ، څرګندونه، اوڅارونه، مشهورونه.

۱۴- ادبي ټوټه: ( ): ادبي ټوټې ته ((ادبي پارچه)) هم وايي. لنډ هنري نثردی، چې ټول اجتماعي پېښې په هنري ټوټوکې رانغاړي. په دې ژانرکې په ځانګړی ډول شاعرانه انګېرنې (خيالات، احساسات) عواطف اودليکوونکي ذهني فکري انځورپکښې خوږه ژبه اومناسبو ښکلوترکيبونوکې څرګنديږي.

۱۵- اعجاز: ( ) نر.م. فوق العاده کارکول، معجزه ښوول ښه والی.

۱٦- ايجاز: لنډول، لنډون، هغه موضوع چې په لنډ اوکره ډول وويل شي.

۱۷- استفسار: ( ) نر.م. څرګندونه، غوښتنه ، توضيح غوښتنه، پوښتنه، سوال.

۱۸- اسلوب: ( ) نر.م. ميتود، طريقه، لار، طرز.

۱۹- اقليدس:

۲۰- انټرنيت : نام شبکه ئی است که درآن ميليونها کمپيوټر ازسراسر جهان درآن وصل شده اند.

= وايبر: يک برنامه جديد وروبه گسترش برای مبايل های هوشمند (سمارت) است. ومحصول شرکت وايبر جديد است. درسال ۲۰۱۰ برای اولين بار آيفون بکار رفت.

= سايت: به مکان درانترنت گفته می شودکه يک ويازيادصفحات دربردارد.

= سکايپ: تماس تليفونی برقرارمی کند؛ وتوسط نيکلاس سويدنی وجانوس نرس دنمارکی ايجادشد. انتشارابتدائی اگست ۲۰۰۳م.

ايډيټ: سمون، تنظيم، جوړول ( )، اصطلاح کول اوايډيشن (چاپ، طبع، انتشار، قسمت (سريال)

۲۱- استعاره: ( ) ښځ .م.ا) سوالی، په پورنی توګه اخيستل ۲- يوه کليمه داصلي معناووپرځای دنورومعناوو (کنايه اومجاز) باندې استعمالوي. مستعار ( - نر.م ا) هغه څه چې په امانت اخيستل شوي وي ۲- بدل ، غيراصلي، پردی. مستعارمنه.

- مستعارله- داستعارې له ارکانودی. استعاره (په لغت کې ديوشي امانت غوښتل اوپه اصطلاح کې هغه مجازدی، چې علاقه يېتشبه وي.) اومستعارله چې په تشبه کې مومشبه به باله.

۲۲- ادبي سفر- (دادبي يونليک: دګزارش يوډول دی، چې دهغی په کالب کې دهغېليدنې- کتنې دهغوسيمواوځايونودحالاتوپه اړه، چې سفر يې ورته کړی دی؟ تشريح کوي اودهغوځايونودخلکودودونو، مذهبی،

عنعنوي. ملي ژبو، تاريخوودانيو... علمي اوفرهنگي مرکزونه، آب وهوا، جغرافيائي موقعيت او... په باب معلومات ورکوي.

۲۳- آهنگ: ا (هـ) (     ) آهنج، قصد، عزم، عزيمت، ارداه، روش (چلند)، دآوازياغږپه معنا، لحن، غږ اودآواز وزن يادآوازموزوني.

۲۴- انجمن ترقي پسند:

- ادبيات: (       - نر.ج.ا) ليکلي آثار. ليکنې آثار، دليکل شويواوچاپ شويوآثارمجموعه. ټول ليکل ليکل شوي آثار په اوله معناادبيات بلل کېږي، خوپه وييمه يامحدوده معنا (هتري ادبيات) دټولنيزشعور انعکاس دی دهنر دمختلفو ډولونه حکاکي، کجسمه جوړونه، خطاطی، رسامي...

۲۵- اشاري ضميرونه (نغتونومنځري): هغه دی، چې اشخاصواوڅيزونوته اشاره کوي اودنوم پرځای هم استعماليږي. (لنډ، لرې اولالرې ويشل کېږي. لنډ: دغه، دغه، دغو

لرې: هغه، هغه، هغو

لالرې: هوغه، هوغه، هوغو

**ب- بلاغت: دخبروارزونه:**

ديوناني ژبې کلمه ده، دخطيب اووينايه معنا هم راغلی ده. ددې فن موخه په ټولنه کې دلوړې وينايه واسطه داوريدونکوهيجاني کولو اوياهم اقناع کول دي.

عربي مصدر يي (بلاغته) اوپه لغت کې دفيح والی، دخبرورساوالي په معنا هم ده، بلاغت په دوو برخو ويشل کيږي. يودمتکلم ياويناوال بلاغت دی، چې په سمه اورساتوګه اوريدونکی اغيزمنوي.دوييم؛ بلاغت هغه کلام يا وينااده چې داوريدونکودحال غوښتنی اوامکان سره مطابقت کوي. داروانبادالفت په وينا: (بلاغت دلفظ اومعناترمنځه تناسب ته وايي.)

- ب- بابليان: له آسورنه راپاڅيدلی خلک . مطلب ترپخواني يونيانيان.

بابل- ا- (ب) هغه ونې چې دايران جنوب اويانورې نرۍ په ګرموسيمو کې شنې کيږي دګرمۍ اووچکالۍ په مقابل کې مقاومت لري.

- ب- بالزاک: (      )دفرانسی دنولسمې پيړۍ دوروستيو ريالست ليکوال دی، چې (انساني کميدی) يې مشهوراثردی. پرريالېزم يې ډير ليکل کړی اوسوسباليزم دده له رياليزمه اغيزمن دی له ناپليون بناپارت سره يې انډيوالی وه.

- بلاغت: دلفظ اومعناترمنځ تناسب ته وايي؛ هغه څوک بليغ دی چې دغه تناسب وساتي.

- بديع: په دې علم سره دويناغيرواجب ښکلا اودتحسين نښې اوقسمونه پېژندل کېږي.

یاپه بل عبارت؛ بدیع هغه پوهه ده، چې دکلام دښایست اوپه نوي طرز دويناطریقې وربانې معلومېږي. دغه دوه ډوله دی: معنوي ضایع، لفظي ضایع لغتا دنوی په معنادی.

- بحث- جدل؛ خبرې؛ اترې؛ له مقابل لورې شره په یوه موضوع خبرې کول.

- بروشور- اعلان، تخته، هغه تخته چې ورځیني یادواونې یادښتونه وربانديې لیکل کېږي.

- بند: په قطعه ډول شعرکې وي؛ قطعه مطلع نه لرې دموضوع له پوله له هرځایه پیل کېږی. دقطعه ایزشعرله څلورونیمو بیتو وروسته (بند) شروع کېږی؛ لکه:

داحساس دوزخ کې اوسم

په ارمان دیوجنت کې

مساوات دې برملاشي

شي انسان دې په عزت کې

بند:

په څوډېرشوې ددنیا پریشانه غمه

په هرزړه دې سیاهي پرې ویسته محکمه

دهجران دلمبوتاوله خلکو وخوت

دریغه دریغه دسهار سره شبنمه (خوشحال ختټک)

یا: ترکیب بند ترجع بند اونوردشعرډولونه دی.

بدیع: نوی، تازه. بدیع د (ب) په زور اود (د) په زیر دعربوپه لغت کې خالق، پیداکوونکی، عجیبه، نادر، نوی اودښتن تعالی یوه صفت ته ویل کیږی

اې دکل جهان منیعه

اې دهرآسمان بدیعه

- بدیعي اولفظي صنایع: دادبي فنونو موضوع ده. بدیعی صنایع (منعوی اولفظی) باندې وشل کېږي، معنوی لکه (طباق) اودهغه ډولونه ، مراعات النظیر، لف ونشراو ډولونه، عکس اوتبدیل، الهام یاتوریه حسن تعلیل، رجوع، جمع، تفرق، تقسیم، تنسیق الصفات، عارفانه تجاهل، مراحعه، یاسوال وځواب، مراعات الطلب، مدعاالمثل، ارسال المثل، کسی یالغز، تلمیح، محتمل الضدین، تشخیص اوانطاق، اقتباس، الدم بمایشه المدح، المدح بمایشه الذم، زشت وزیبا حسن مطلع، حسن نقطع، مبالغه، مقابله، الهام تضاد. تدبیح، الهام تناسب براعت الاستهلال، نکرارحسن، جمع اوتفریق التفات.

۲- لفظي: هغه دی، چې په شعریانترکې له لفظ سره کار لري؛ لکه: (تجنیس اوډولونه، قلب، ترصیح، دتجنیس سره ترصیح، سجع ډولونه ، المربع، توشح، لاندسنۍ (تحتانیه)، پاسنۍ (فوقانیه) منقوطه، غیر منقوطه، لزوم مالایلزم، المشجر، ردالمطلع ذوالقوافي، تظمین اوډولونه، مهما،

- بغداد: یوپخوانی فرهنگي، علمي اوعرفاني عربي هیوړادونو یومرکزو؛ اوس، اوس دعراق مرکز دی.

- بلبلیان: ؟

**پ:**

-؟ پرسوناژ: کارکوونکی، دغه کلمه فرانسوي ده، هم مفرداوجمع ده؛ په داستان کې دعادي کارکوونکوپه معنادی، چې هرپرسوژ دداستان په یوه مشخصه برخه کې خپل رول لوبوي.

- باندې (بالایش) ( له پ مخکې راځي.)

- پوښتنو منځري (استفهامی ضمیرونه): چې دیوې پوښتنې لپاره پکارېږي اود (تخصص، زمان، ځای...) څرنګوالی (کیفیت) اوڅومره والی (کمیت) ښیي اودحالت له مخې اوړي؛ لکه:

څوک (چا)، کوم (کومه)، کله، چېرې، څنګه، څو، څومه، څومنه، (څومره)، ولی؟

؟- پښتو الفبی دپیرروښان له نظره: عربي،پنجابي ،پارسي ترځنګ یې دپښتو خاصوتوروته تصویري بڼه ورکړه.

**ت:**

؟- تمرکز:

؟- تفکر:

- تخیل: خیال، دحقیقت سیوری، دنخیل فکر، محل، مواد اوچاپیریال مادي وي، خوخپله حقیقت نه وي. دالفت په وینا (د) ابتکارتومنه ده)، څومره چې دی لیکوال یاشاعر تخیل قوی وي، هومره یې دابتکارقوه زیباته وی.

دهمدغه قوت په مرسته سړی هغه څه په خپل تصورکې راوستل اومجسمولای شي، چې په سترګویې نه وي لیدلی، په غوږو یې نه وي اوریدلی اوکله چې له تخیل سره عقل ملګری شي نوداسې ادبي آثار ترینه پاتي شي، چې زمانه یې نشي محوه کولای. دشعراوادب دنیا یوه خیالی دنیاده اوپه خیال ودانه ده.

- تحقیق: عربي کلمه ده؛- [ع] (ت- ق) دیوکاراصل ته رسیدل، پلټنه، بیالټون، رښتبا، محقق کول اود (حق) له کلمې اخیستل شوی دی.

- تخلیق: مص [ع] (ت.ل) ښه بوی، خوشبویه کول، خلقول، نوی رامنځته کول اوپه ادبیاتو کې دیواثرنوی رامنځته کول دی.

- تحقیقی نثر: هغه نثر چې په شواهدواومثالونوولاړوي، خیال پکې نه وي، تحقیقی نثر له علمي کتابونواومقالونثرته هم وایې. هغه نثرچې دیوشی رښتیاینه په مقالونواوشواهدوپکې ښوول شوې وي.

- تراجدی یاتراژیدي:- ا. [ف] (   ) له غمه ډکه ننداره، قصیده یاغمناکه نمایش. دهغې جدی پیښې ننداره چې انسان غمجن کړي. فاجعه، بدمرغي.دکمیدي هنر یوډول هم دی.

- ترکیب:- مص [ع] (ت.ک) یوشی په بل شي کینول، سوزول، سره یوځای کول، سره ګډول، ترکیبول. دوه کلمې سره یوځای کول. دوه خپلواکې کلمې ګډیدل؛ لکه: پوهه + تون= پوهنتون.

- تمثیل: مص [ت]- (م- ت) ښوونه ، ننداره، دننداری ښوول، پیښې اوکله تقلیدهم دی.

- تیزس-          چې تز- ا. [فر]          هم ورته وایي. مبحث رساله، دبحث وړموضوع. داثبات لپاره دخبرواترو وړموضوع هغه موضوع، چې یوڅوک یې دثبات لپاره دلایل وړاندې کړې کوي. ددفاع وړموضوع هم ورته وایي.

- ترسل: - مص[ع] (ت، ر- س) رساله لیکل، نامه یالیک لیکل، نامه نګاری.

- تصنیف: دتصانیف جمع ده. تصانیف- [ع] (ت- ن٩ ردیف بندی ډله، ډله کوا، صنفبندي. په ډلوویشل.


- تألیف:- مص. [ع] (ت أ ل) دوستی کول، الفت ورکول، سره نږدې کول، راټولول اوسره نښلول. دهغه کتاب لیکل چې مطلوبه یې له نورو کتابونو اقتباس شوي وي. دتصنیف خلاف.

- تجلی:- مص. [ع] (ت- ج- ل) روښانه کیدل، دمخه کیدل، ښکاره ، روښنایي. په عارفانه اصطلاح کې دکشف هغه نور چې دالله تعالی له خوا دعارف زړه ورباندې روښانه کېږي، خو دسولک له مراحلووروسته فنافی الله مقام ته رسیږی- لکه دطورپرغره دالله ج دنور لګیدل چې موسی (ع) مدهوش شو. دکتاب پوښ. عبدالرحمن باباوایي:

هغه زړه چې خدای روښان کاجام حم شي
په دازړه کې ورښکاره تمام عالم شي.

**ټ:**

= ټپه: دلنډۍ سندریز حالت دی. ټپه ، ټپ (دریدلو، ساه بندیدلوته وایي. ټپه دیوې نیمګړې اوبلې پوره مصرې نه جوړه وي. ړومبۍ مصراع (یې نیمګړی وي اودویمه یې پوره وي. دټپې ویلو په وخت کې آواز په ټپه دریږي.




(دلومړۍ مصراع) لکه: چېرته لندن چېرته هلمند دی= بې ننګي زورشوه پرنګیان هلمندته ځینه

**ج:**

=جنس: یونوم له درې اړخونوګردانیږي: (جنس (نوری)، عدد (ګڼه)، حالت (اکر).

جنس چې یونوم مذکر دی یامؤنث. لومړی، دویم اودریېیم شخص.

- جریده= اوونیزه هغه اخبار چې په اونۍ کې یوواردارړوندې اداري له لوري خپريږي.

؟= جمله:

**چ:**

؟= چاربیته:

**ح:**

= حکمي متعدي افعال: هغه ډله افعال دی، چې هیڅ نه تصریفیږی، یاپه بله وینا: په حال زمانه کې لکه دلازمي فصل په څیراوپه تېره (ماضي) زمانه کې نه ګردانیږی؛ مثال په ډول :

اسپ وششنل= اسپې وششنل

ماوژړل     موږ وژړل

تاوژړل     تاسو وژړل

ده وژړل     دوی وژړل

دې وژړل     دوی وژړل

= حکایت: (      ) نر.م (ح. حکایتونه) کیسه.

نکل، داستان ، سرگذشت. دکیسې عینې ډول دی، چې په لنډ ادبي ډول وړاندې کیږي.

حکایت یوعیني کیسه ده ،له پند ډک مظمون لري.

= حدیث:- ا. ص. [ع] (خ د) نوی، تازه تازه شی، حداث: احدثأجمع دخبروپه معنی ، خبر احادیث اوحدثان یي جمع. دحدیث علم، هغه علم، اخبار اوافعال چې له پیغمبر (ص) څخه نقل شوي وي. حدیث حسن. (( ح. ثح، س)) غوره حدیث، نبوي. هغه حدیث چې دپیغمبر (ص) له خولې پاتې وی. حدیث نیکو متواتر، قدسی او...

= حماسه: د (ح) په زور؛ په لغت کې دزړورتیا اوشجاعت ته وایي اوادبي ډولونوترټولومهم اوپخوانی ډول دی. حماسه په لومړسی سرکې دانسان په ذهن کې دپهلوانی، جگړې اوځمکنیونې امرزموږ په ذهن کې تداعي کېوي، خوپه هغه کې دهرملت حماسه دهغه ملت بیانونکې ده، چې دهغه ملت دسرلوړۍ اوخپلواکۍ ویاړونه پکې نغښتی وي.

حماسه لکه فولکلورغوندې (سینه په سینه) او (خوله) له یوه نسله بل ته لیږدی.

- حضرت علی کرم الله:

= حقیقي اومحازي:

حقیقي: (هغه څه چې رښتني اودرست وي.) ، حقیقت رینښتیا صحیح اوسلامت. حقیقي- ص- ن- [ع] (خ ق ق ی) حقیقت ته منسوب، اصلي اوواقعې رښتیا اودرست، دمجازمقابل.

- مجازي: (هغه څه چې سیوری دحقیقت وي، درست اوعلمي نه وي.)

خودمجازاوحقیقت رابطه شته ؛ مگرمستقسمه نه ده. لکه: مینه چې له مجازه شروع کېږی اوحقیقت ته رسوي اودغه کارپه عرفان کې ممکن دی.

**خ:**

= خسوف:- مص. [ع] (خ س) فرورفتن، برزمين فرورفتن وناپديدشدن ونيز به معنى گرفتن ماه، له نظر پټيدل دمياشتى. په هغوشپوکې دمياشتې ليدل چې له نظره پټه شي اودغه حالت کې ځمکه دلمراومياشتې په منځ کې راځي اولمرسپوږمۍ ته نه رسيږي. په پشتوکې (سپوږمۍ نيونه) يامهتاب گرفتگي) وايي.

- خسوف- [ع] (خ س) له اويوډکه څاه؛ هغه کوهى چې په جغل زاره او شگلندځمکه کې شکول کيږي اوبيانه وچيږي.

= خطابه:- ص [ع] (خ ط- ب) څوک مخاطب شي، څوک چې دښځو اونرولپاره په ويناکولوکې مبالغه وکي. اوخطابت، خطابه، حطبه ويل نوروته خبرې کول.

= خدائي خدمتگار:

**د:**

- داستان:- ا. (س) ((پهـ، )) افسانه، سرگذشت، ځايسينه قصه، حکايت کول، قصه ويل، افسانه ويل، نامتو يامشهوريدل، قصه سرايي. په معاصرادب کې داستان اوداستان ليکنه د (هنري ادبياتو) يومشهور ډول دى. زموږ دډيروليکوالوپه آندداستان دشکل له پلوه ترکيبې لوى، ناول اورومان کوچنى دى.

په پشتو ادب کې داستانونه دوه ډوله دى؛ يوفولکلوريک اوبل معاصرياتحريري ادب کې. معاصرداستان کيسه، پلاټ، کرکتنه، مکالمې، منظر نگارى، دبيان طريقه، پيغام اومقصد اوپاى لري.

= دور: ددور خبره په ديوانى شعرونوکې مطرح کيږي. دلومړۍ نيم بيتي له پيله بيا ددويم نيم بيتي تر پايه يودورجوړوي. دزور په شروع، داووپه حرکت اود (ر) په سکون....

دور- ص (د) ((پهـ )) فاصله، زمان؛ هغه څه چې زموږ لاس کې نشته دور- مص [ع] (د) تريوشى گردراگردزيدل، عصر وزمان.

= دبيري: ددبير (منشى) له کلمې اخيستل شوى دى. دبير- ا.ص. ( دب) ((پهـ )) نويسنده، منشى، هغه څوک، چې په دبيرستان کې شاگردانوته درس ورکړي. دبيرفلک، دبيرآسمان هم ورته ويل شوى. دعطارد له ستورى کنايه ده. دبيري، ليکوالي، منشى گرى. دمنشى يا دبير کار، کسب اوعمل.

= دولتي اوشخصي ژورناليزم: ژورناليست- ا.[فر]                ، ورځپاڼه ليکووونکی، روزنامه نگار. اوژورناليزم؛ هغه مسلک چې له ورځپاڼو، اوونيزولیکنو، تصويری اوغير تصويري رسنيوسره کارلري. دولتي ژورناليزم ددولت په چوکاټ کې اوشخصي ژورناليزم دافرادو اواشخاصوترلاربښوونې لاندې دروزنامه نگارۍ او... مسلک تعقيبوي.

= دستارنامه: دپښتو ژبې دنامتوادیب اوشاعر خوشحال خان خټک اثر دی. خوشحال خټک خپل دغه اثرپه (۱۰۷٦ هـ ق) کال تأليف کړی دی، چې لومړی ځل په (۱۹۵۲م) کال دمحمد عبدالشکور په زیارخپره شوه اودويم ځل په (۱۳۴۵ ه، ش) کال دپښتو ټولنې له خوا چاپ اوخپره شوې ده. دخوشحال خان په دې اثرکې شل هنرونه اوشل حصلتونه بیاند کړی دی. او ديومشرځانګړنې يې پکې ښوولې ده، په دې اثرکې د (ښوونې اېروزنې يوه عظيمه فلسفه وړاندې شوی ده، اودمشرۍ انځوريې کاږلی دی. نوموړی وايي:

چې دستار تړي هزار دي

ددستار سړي په شماردی

**ذ:**

= ذوق: داروابښادالفت په وينا (ذوق دادب په اصطلاح کې هغه قوه ده، چې دلطف اوښکلا ادراک کوي اودهنر خاوندان ورته ډاراړدي...

دفن اوصنعت خاوندان ددغه قوت په مرسته په خپلو هنري آثاروکې ښایست اوښکليتوب پيداکوي اوډير ښه هنر هماغه دی، چې له سليم ذوق څخه پکې کاراخيستل شوی وي.

= ذهن: دغه فکري زيرمې ته ( ذکاهم وايي. دانسان هغه استعداد دی، چې دعلومو اومعانيوادراک کوي.

ديوليکوال دغه برخه هم بايد نيمګړې نه وي اوپه دغه وسيله يې له علومو اومعارف څخه برخه موندلې وي.

دغه راز معنوی قوتونه اواستعدادونه که په يوه ليکوال موجودوي اوښه کارترينه واخلي، دهغه ليک اوانشاپه انساني افکرو اواحساساتو ډير اثر کوي اوديوه ملت په زړه اودماغ حاکميت پيداکوي.

**ر:**

= رؤس: په شعر کې منځپانګه؛ هغه څه چې دشعرمحتوا جوړوي. رؤس هغه طرز تفکر ته وايي، چې دشعر اډياته قوت وربښي آن دفکر ډول ته هم ويل شوي.

= رپوټ: (      ) نر.م.و.گ. راپور. په ژورنالیزم اوادبیاتو ځانګړی ځای لري. ادبي رپوټ، ژورنالیستیکی رپوټ. په دولتي او امنیتي برخو کې هم دغه کلمه کارول کېږي.

= رومان: (      ) دلاتیني ژبې د (      ) کلیمي له ریښې څخه مشتق شوی اوفرانسوي کلمه ده. خیالی کیسه ؛ دمینی اومحبت  کړ کیچن داستان دی؛ په اصطلاح کې دمنشورکیسه ییز (داستاني) ادب یوځانګړی ژانر (ډول) دی.

اکسفورددانګلیسي فرهنګ کې ورته ( نثري کیسه چې نسبتا اوږده وي یارومان هغه اوږده کیسه ده، چې خیال پکې له واقعیت سره ګډون موندلی وي.

=ریتوریکا: دغه کلمه په لرغوني یونان اوروم کې دخطابی داصولوپه معنا ده، خوچې کله عربوترجمه کړه (ریطوریقا) یې وبلله، چې معنایې خطابه اودخطابې اوښوخبرو کولو اصول دی، کوم، چې نوروته وړاندې کېږي.

**ز:**

= زلیخا اودرلیخا قصه: دزلیخا اویوسف کیسه دقرآنکریم له ښو برجسته کیسو څخه ده. زلیخا دمصر دعزیز پوتیفار میرمن وه، چې له کلنو وروسته په خپل یوه عبراني غلام حضرت یوسف مینه شوه اودامینه دجنون ترپولې وروسیده اوپه پای کې دامینه جاویداني شوه، بعنې زلیخا دمحازي مینې له لارې حقیقي مینې اوآن حقیقت ته ورسیده.

**ژ:**

= ژانر: ا. [فر]       ، ګون ، ګونه (ډول )، سبک. اسلوب، جوله (شکل). اودنقاشۍ (انځورګرۍ) په اصطلاح کې، هغه  انځورچې نه شخصي تمثال وي، نه لرلید (دورنما)، بلکې موضوع یې دورځیني (روزمره) ژوندعادي مطالب اوصحنې وي.

= ژبه: ا. (ژ ب)       : دغوښې یوه متحرکه ټوټه، چې دانسان او حیوان په ژبه کې وي اوپه هغه باندې دشیانو مزه څکي. دخوړو په ژولو اوتېرولوکې مرسته کوي اوانسان دهغه په وسیله خبرې کولای شي. دلهجې اوخبرودطرزپه معناهم ده.

ژبپوهان وایي: ژبه اجتماعي ښکارنده (پدیده) ده، چې اکتسابی لوری (جنبه( لري یاژبه په واقعیت کې یوه ټولنیزه اکتسابي اوثقافتي پدیده ده، نه عضوي، فطري اوطبیعي.

**س:**

= سبک: - مص- [ع] (س ب) داوسپنې ویلې کول اوپه کالب کې اچول دي. ویلې شوې اوسپنه په کالب کې تویول . په ښه ډول کلمې سره یوځای کول. په ادبي اصطلاح کې ( هغه ځانګړې لاره، چې شاعریالیکوال یې دخپلو مطالبواوافکارو داظهارولولپاره غوره کوي. سبک کې دیوه اثر محتوا اوشکل دواړه راتلای شي. سبک لارهم ده. دیوفون په وینا: (سبک سړی دی.) په ادبي برخه کې درې سبکونه لکه (خراساني، عذاقي اوهندي) دیادونې وړدي.

= سیمینار: ؛ ، موضوع وړاندې کول هغه ډله ایز فعالیت،چې دیوې یاډیروموضوعاتو دتوضیح لپاره رامنځته کېږي.

=

**ښ:**

= ښکلا: : ښځ.م. (ج. ښکلاوې) ښایست، حسن، ډول ، جمال.

**ش:**

= شیره: : ص. نر.م.ج.ا، نابالغه، هلک عصاره، جرس؛ دمیوې اوبه . په ژورنالیزم کې دخبري موادو مهمه برخه .

= شکل: جوله، ظاهر خوا. یوادبي اثرله دوو برخو جوړیږي؛ (ظاهری (شکلی) اومعنایي.)

**ص:**

- صرف؛ عربي کبمه ده. ګردان ته وایي. دګرامر ګړپوهې، (موفولوژي برخې پورې اړوندیږي. صرف (ګردان) دنوم عدداوحالت.

صراحت: په انشأ کې دبحث وړدی. صراحت دادی، چې په انشأ کې د (تألیف اوترکیب) ضعف نه وي اوالفاظ له معقودي معناګانوسره تناسب ولري.

دصراحت اووضاحت فرق دادی، چې هرمرجع واضیح وي، مګرهرواضح صریح نه وي.

وضاحت: په لیک اووینا کې دابهام نشتوالی ته وایي.

**ط:**

= طنز:- مص- [ع] [ط – ن] افسوس کردن، ریشخندوهل، ملنډې وهل، نازکول، پیغور، ګوټ ځنډونه، نازوکرشمه.

طنز؛ اوس اوس دادب یوډول دی، خومعین شکل نه دی؛ طنز منظوم اومنثور دي. دیوفکر اوپیغام انتقالونکي وي.

ع:

= عنوان:- ا. [ع] (ع یاع ن) دکتاب معرفی نامه دکتاب یالیکنې سرلیک هغه څه چې دپاکټ یالیک په شاکې لیکل کېږي نشاني، آدرس. پیل؛ هغه هیډلین چې دکتاب هویت ټاکي.

= عبدالروف بینوا:؟

= علم، جمع علوم؛ علم دشیانو، انسانانو اوطبیعت په برخه کې پوهې ته وایې علوم په دوو برخو ویشل کېږي: (طبیعي اواجتماعي علوم.)

= عربي:- ص. ن. [ع] (ع ر ب ی) منسوب به عرب، ازقوم عرب، تازی، زبان تازي. هغه تازي ژبه چې اوس ټول عربي هیوادونه ورباندې خبرې کوي؛ دقرآن (الهي کلام) ژبه ده، ټول مسلمانان یې دقرآن اوپیغمبر (ص) په توګه درناوي کوي. ټول مسلمانان له قاعدې بغدادي نه دژبې دتعلیمي زده کړې لپاره پیل کوي.

=عبري خط:- ص- ن [ع] (ع- ر-ئ) عبراني، یهودی، لغت یهود عبري خط له عبراني اویهودی خز څخه عبارت و.

= عدد: جمع اعداد؛ دحساب پیل اودوام څخه عبارت ده؛ لکه: ۱۰، ۲، ۳، ۴، ۵، ٦...؛ په عربي کې له راسته خواپیل کېږي اوترلایتناهي پورې رسیږي.

په ګرامرکې یونوم له درې اړخونو (جنس (مذکر- مؤنث) عدد (مفرد، جمع) اوحالت له مخې ګردانیږي.

= عبارت: (          ) نر.م (ج. عبارتونه) بیانونه، شرح کونګ، دالفاظوترکیب، وګ. پراګراف. انشأ.

چې بشپړه حمله نه وي، خو مفهوم اداکړي؛ لکه:

= عرفاني سندره: عرفان (پیژندنه)، عارف. پوه هوښیار؛ عارفانه سندره هغه سندره اوسندرې چې دالله پیژندنې په برخه کې وي. لکه په پښتو ژبه کې دبیټ نیکه (۳۵۰هـ ق) عرفاني سندره:

لویه خدایه لویه خدایه          ستاپه مینه، په هرځایه

غرولاړدی درناوی کې      ټوله ژوي په زاری کې

دلته دغرولمنې      زموږ کېږدې دي پکې پلنې

داوګړي ډیرکړی خدایه

لویه خدایه، لویه خدایه....

= عارفانه تفکر: چې دهرڅه په برخه کې دشناخت داصل په حکم فکرکوي؛ په هرڅه کې (کیفیتونه) ته متوجه ګېدل، هرڅه ته په حیرت اوفکر کې کېدل او له هغه نه شناخت حاصلول.

- عاطفه: (      ) ښځ.م. (ج. عاطفې)، دعاطف مؤنث؛ مهربانه ، مهرباني، زړه سوی، دخپلوۍ اوقرابت مهر.

**غ:**

= غړپوهه یافنولوژي(      ) دګرامر هغه برخه ده، چې یوازې ارزښتناک غږونه (فونیمونه) ترڅېړنې لاندې نیسي....

دژبپوهنې دغه برخه یوه نوې اوتازه موضوع ده، چې دشلمې پیړۍ په پیل کې په دغه برخه کې نوې علمي څیړنې اومطالعات وشول.

= غونډله پوهه: جمله پوهنه. دګرامر درېیمه اوعمده برخه ده.

**ف:**

= فیسبوک :      (ف- ی)، مخ صفه، په انټرنیټ کې یواجتماعی صفحه یامخ دی، چې مختلف خلک بیلابیل نظریات سره شریکوی، البته دشیر (شریکول، درد دل، اوچت- ګپ شپ) له لارې. ددغې صفحی پیداکوونکی مارک زیکربرک      په (۱۹۸۴- په (۱۴) مې رامنځته کړه.

= فیساغورث:؟

فنیقیان:؟

= فن: (  ) نر.م. (ج. فنون) صنعت، دټکنیکو، وړتیاواوقاعدو مجموعه؛ هنر؛ آرټ؛ طریقه، چلند، ډول نوع.

= فنون: جمع دفن؛ هغه کمال چې دتمرین له لارې ترسره کېږي. فن اوفنون دمهارتونو اوورتیاووله لارې پیداکېږي.

= فعل:        : دويناديوعمده جزپه توگه په يوه زمانه کې دکارپه کولواويادیوې پېښې پريښېدودلالت کوي. ياپه بله وينا فعل هغه کلمې ته وايي، چې په يوه زمانه کې ديوه کار اوپېښې کيده ښيي؛ لکه: احمدخط ليکي. احمدبه کورته لاړشي.

- فولکلور:        : فولکلوريافولکلورانگليسي کلمه ده، چې دلومړي ځل لپاره په ۱۸۴۶ م کال په يوانگريزي متن امبروزميرتن کې             وکاروله. اوبيانوروهيوادوته لارپرانسته.

**ق:**

= قيدونه: قيد، جمع يې قيدونه.

قيدهغه ژبنی عنصر اوياقيدونه هغه ژبني عناصردي، چې ديوه فعل دپېښېدنې څرنگوالی ښيي. داڅرنگوالی دفعل دپېښيدلوځای يامهال ټاکي. ټينگار اوداسې نورې ځانگړتياوې ښکاره کوي. په پښتو کې قيدونه په دوه ډوله دی: (اصلي ياگردانيدونکي، غير اصلي يانه گردانيدونکي).

=قابوسنامه:؟

= قافيه: دوپشته، چټ، شاه، پس گردن؛ ديوشي يابيت آخري توری ته قافيه وايي. عربي کلمه ده، په لغت کې وروسته ته وايي، په اصطلاح کې هغه علم دی، چې ددورونوله وروستيو هم آهنگيو څخه بحث کوی. لکه:

لرم اوس هغه سترگې چې جهان پرې وگورم

دځمکې ژورتل اوکهکشان پرې وگورم

انسان يم، دانسان په غم خپه په خوښۍ خوښ يم

نظرهمدومره بس دی چې انسان پرې وگورم

ترهغه مې دې سترگې غړيدلې وي په ژوند

چې يووار عالی دور دافغان پرې وگورم

(جهان، شان، انسان او افغان ) دقافيې کلمې دي.

= قدس الله:؟

**ک:**

= کمپیوټر:په (۱۹) پیړۍ کې چارلس بابیج دبریتانیا دکامبرج پوهنتون استاد یوماشین ډیزاین کړاوکیدای شی هغه ته اولین کمپیوټروایو difference- engine په نوم یادیده.

خوالکترونیکی کمپیوټر: (        ) یادیده اوپه ۱۹۴۶- امریکا ویپ.

= کلاسیک: ص. [فر] ((        )) پخوانیو خلکو له قواعدو سره سم مسجد اومدرسې درس. هغه لومړنی ادبي سبک، چې په اروپاکې پیداشواودیونان اوروم دادبیاتو په پښتو ( تقلید یې پیل کړ، چې همدغوته یې کلاسیک ادبیات ویل. دلیکلو دلیکنې یااثرسبک چې دنورو نسلونو لپاره سرلاری وي.

= کلمه: (      ) ښځ.م. (ج، کلیمې) کلمه . خبره، معنالرونکی لفظ، ویي مورفیم، ددویازیوګړونومجموعه. کلمه طیبه.

کلیمه؛ یورواني واحد چې مستقله معنالري. یوه کلمه کېدای شي دوه مورفیمونه وي کلمه په (ساده اوترکیبې) ویشل کېږي؛ لکه:

پوهه- پوهنتون.

= کلتوري بقأ: کلتوردیوناني ژبې له (       ) ځمکه، شاړه ځمکه، دځمکې جوړول، کرل، اوڅارنې) ته وایې دیوهیواد ټوله مادي اومعنوي شتمنۍ ساتنه په کلتوری بقأ (پایښت) کې راځي.

= کسوف: - مص. [ع] (ک) خسوف اوکسوف دجغرافیې اصطلاحات دي. کسوف دلمر نیول (آفتاب ګرفتګي). دلمردتیکلی تیاره کېدل، هغه وخت چې میاشت دځمکي اولمرترمنځ راشي اونه پریږدي، چې دلمر وړاندګې ځمکې ته ورسیږي، که ټول لمر ونیول شی کلی کسوف اوکه یوه برخه یې ونیول شي (لږیاجزی کسوف) ورته ویل کېږی.

= کالم:- ا.ص. (ل) کالمه، بیوه (کنډه)، هغه ښځه چېمیړه یې مړوي هغه ښځه چې له مېړه یې طلاق اخیستلی وي.

کالم ته په پښتو ژبه کې بریچی (ستون) وایې. اواوس دلیکنې یوډول دی.

=

= کنایه: (      ) .م. (ج. کنایې) کنایت، دبیان دعلم یوه برخه یاخو: که متکلم یوه معناپه داسې لفظونوکې ذکرکړي، چې دمطلوبې معنالپاره یې وضعي معنا ددلیل حیثیت ولري.

= کمپوز: په موسیقۍ کې دغزل لپاره آهنگ اوطرز جوړول اوپه کمپیوټر کې دمتن لیکلو اوآن جوړولو ته وایي.

**گ:**

= گزارش:- ا. مص. (گ. و. ز) لیدنه (نگا) لیکنه کول ، پریوه موضوع رپوټ جوړول. اوس اوس دژورنالیزم یواصل دی. گزارش په دوه ډوله دی: ( په احتماعي پیښواوادبي پیښوگزارش. گزارشگر هغه څوک چې پریوه موضوع رپوټ برابروي.

= گړپوهه، یاگړپوهنه: ( ) یاصرف یاگردان دگرامرهغه برخه ده، چې په هغه کې دیوې ژبې ټاکلې مورفیمونه، دهغوی جوړښت، ترکیب، گردان اودهغوی ډولونه ترڅیړنې لاندې نیول کېږي.

= گړمورفیم، یاگړونه، دمورفولوژۍ اساسي برخه ده. مورفیم یاگړهغه کوچنی ژبنی مانیزواحددی، که تجزیه شي، خپله معنا له لاسه ورکوي اودتجزې قابلیت له لاسه ورکوي. یاداچې (مورفیم) یونه تجزیه کېدونکی معنالرونکی واحد دی.)

= گرافیم: ؛ (آواز) لیکل شوې بڼې ته وایې، یاپه بله وینا هغه دلیدو وړرسم دی، چې دیوه آواز ښکارندویي کوي.

**ل:**

= لمن؛ درل، م ن)- دامن، لمنهؤ لمنې- دکمیس یوه برخه لمن راچاپیرول، احاطه، تصرف. لمن نیول، سوال کول. لمن نغاړل ځان راټولول. قناعت کول.

= لفظي ښکلا: شکلی خوارانغاړي- لفظي صنایع. یابله وینا چې په الفاظوکې ښکلا موحوده وي. په خبروکې دویونوپیاوړتیا.

= لنډه کیسه: حکایه، حکایت؛ هغه کیسه چې دشکل له پلوه لنډ وي. کیسه په لنډه، منځنۍ اواوږده ویشل کېږي. لنډه کیسه هغه ده، چې دژوند یوه موضوع رانغاړي.

= لطافت: ل- ط. کمزوری. ښایسته، نرم، نرموالی هغه کلام ، چې دلفظ له پلوه نرم اوپوستوالی ولري.

= لنډۍ: دپښتو ژبې یوډول شعر دی. لنډۍ شعر توجه داسې ده، چې لنډۍ یوډول ماردی، تیز زهر لري اولنډۍ پښتو خوندورشعر هم دی. دماردزهروتیزوالی اودشعر خوږوالی اولطافت څخه یې معنارا پورته کېږي. دواړه اغیزمن دی. خولنډۍ شعر هغه دی چې غیر موزون اوغیر مقفی وي.

لنډۍ: زه دی په ګوته مین نه یم = دسورچارګل رنړادی روغ لیونی کړمه

ماته پنځه ګوتې دسروکړه = په دواړو لاسه به دې پښې چاپې کومه

ګوتې، بنګړي ددنیادود دی = زه دنیستیه یاره نه غواړم دودونه

په سینه یو لالی ځائیږی = زه لونګین اولالی دواړه ځایومه

بیګاه مې خوب لیدوعالمه = دآشنا بریت مې دنتکۍ تاوشوي وینه

خلک چارګل خونړی بولي = مادنتکۍ په ډنده ډیروژلی دینه

والئ دغوړ امیل دغاړې = پیزوان دپوزې راته کړي اشارتونه

لید: ، لومړی، اوله برخه، سترګی دخبرواوله برخه. په کابل پوهنتون کې دلومړی ځل لپاره دهغه پوهنتون درئیس له خوایوتحقیقی مرکز نن پرانستل شو. مسجع نثر: سجعه لرونکی، متکلف اوغیر منثور نثر. دنثر هغه ډول ، چې غږته وایي. کوکوکو= کوکوکو. دخیرالبیان نثر.

**م:**

= مفهوم: - (م.ف) فهم. جاج. دکلمې په معناپورې اړوند مطالب یامفهوم دجملې ټولنیزمفهوم رانغاړي.

= مثنوي:دشعریومهم ډول دی ،چې هره مصراع یې ځانته جلاقافیه لري؛لکه

:توره شپه ده توره خونه == شین خالۍ نده معلومـــــه

توره شپه به خدای رڼا کړي =شین خالۍ به خدای پیداکړي

= متن: - ا- [ع] (م) شاه، لوړه برخه، دیوشی دننه، دځمکې لوړه برخه دکتاب دصفحې دننه، دحاشې مقابل لوری، متان اومتن یې جمع ده. یاپه بله وینادیوې موضوع څېړل دمتن اصلي موضوع جوړوي.

= معرفت: - مص. [ع] معرفة (م.م.ف) دیوشي پیژندل، علم اوپوهه معرفة الاحشاء باطن پیژندنه، معرفة العروق، رګ پېژندنه، معرفة العضلات. مایچه پېژندنه. معرفة المفاصل. بندپېژندنه، معرفا النفس، اراوپوهنه، پسیکولوژی. معرفة الادب، ادب پېژندنه اوپه تصوف کې معرفت دکشف اوشهودله لارې دځان پېژندنه معرفت به دې حاصل شي که دې ځانته شولې زیر.

= مقید مورفیمونه: تړلی اوبانډ (      ) هم ورته وايي. په پښتو ژبه کې موفیمونه په دوه ډوله دی: (يوتړلی، بل آزاد). اوتړلی (ساختماني نښي لکه: ( سربلونه اوستربلونه، دربط نښې، دعط نښې، دغږونونښې) تاړی (وندونه) (صرفي مختاړي، کلمه جوړونکی، صرفی وروستاړی.

= مقاله:- مص. [ع] ((مقاله)) (م.ل) خبرې کول ((خبرې، وینا)) قول؛ دکتاب يوه برخه یافصل. يومطلب چې تريومعين عنوان لاندې ليکل کېږي. جمع يې مقالې عربي کلمه ده. ياپه بله ويناېوه تحقيقي مقاله ځوبرخې لري؛ لکه: عنوان، مقدمه متن څېړنه، پايله اوماخذونه. مقالې ډېر ډولونه لري.

= محاسن: (م- ح- س) نيکي، نيکويي، ښېګڼې. په شعر اوهنري نثرکې دهغه ملګري محاکات (ښکلاوې) لکه: آهنګ، وزن انځورونه، ترکيبونه، تخيل او...

- متل:- [م- ت- ل) په تول برابر، په په تله يا ميزان برابره وينا، متل ، جمع يې متلونه . دپښتوشفاهي ادب يوه مهمه برخه ده. دولسي ادب خورادرنه خزانه ده، چې ولسي تفکر په ډيرښه ډول ورکې انعکاس کوي. متل دولسي پوهې له نه وچيدونکی سرچينې منبع الهام اخلی اوتل بهانده حالت لري. وايې چې : (بې وطنه واوسه ، خوبې متله نه) متل پوهه ده. (مېړه مړه، خومېړانه يې نه. توره سره ښه ده، خونه دورور وينو.)

= مقوله: (م- ق) قول، عهد، لنډه وينا، غوره خبره اووينا. هغه قول چې وف پکې وي صنم

مشبه به، چې بل شی ورته شوی وی

= ماهيت: تومنه، منځپانګه؛ هغه پانګه چې ايډياديواثروړاندې کوي.

= مصراع = مسره. خومقوله درستې ښې اولنډې خبرې ته هم وايې.

= مشبه، مشبه به: مشبه؛ ديوه شي شباهت له بل شي سره . يايوشی بل شی ته ورته کيدل ؛ لکه: مخ دې لکه ګل صنم = زلفې دی بلبل

هم ورته وايي. دوه سره هم وزنه نيم بيتی يوه مصراع جوړوي. عربي کلمه ده، په شعروشاعري کې کارول کيږي.

= مضمون: (          ) دتدريس موضوع. په شاعری کې دفکرشتون ته وايي. مضمون دتيزس په موضوع پورې اړونديږي.

= مقدمه: (م] [ق] مقدم، مخکې، وړاندې، مخکې شوي، مقدم ګڼل ديوشی پيل ، سريزه (           ) دادبي مقالې پيل. مقدمه له دمعرفت، پېژندنې، ماهيت اوهدفونه) څخه عبارت ده؛ يادمتن لنډيز ته هم وايي.

= متروکې خبرې: مړې خبرې؛ هغه وينا يا ويناوې چې اوس اوس داستعمال وړنه وي. لکه: دلرغونې دورې لغات ايواد، لتاړ، بريمن او....

= موضوع: ببره (فرضيه) دتحقيقی لپاره دفريضې ليکنی ښه اونوم ته وايي. دخبرواتروټاکنې ته وايي.

= محاوره: خبرې- اترې. هغه ډيالوګ چې مخامخ وي. ديوې آنې موضوع دحل لپاره دخبرو تبادله.

= مافی الضمير: اندروني قوت، داخلي توانمندی. په ادبي اثرکې دليکنې لپاره ارادي توان؛هغه توان چې په ښه ډول وي.

= مرادف: هغه الفاظ چې همرديفه وی اوپه يولړکې راشي.

= مصدر : - [ع] (م) جمع يې مصادر